﴿... كِتَابُ الصّيدِ وَالذّبَائِحِ ...﴾

ضروري پام لرنه : (۱) دصَيد معنْي ده بنكار كول.كه و سُپِي يا بَاز ته بنكار وَربنُوَلَئ وي او بِسمِ الله پر ووايي بيايې يَلَه كړي او د بنكار د حلالولو قُدرَت يې نَه وي پيدا كړئ دهغه څخه مخكي بنكار مَړ سي بيا هم حلال دئ.يا په بِسمِ الله سره غَشَئ تَس كړي او بنكار مَړ سي بيا هم حلال دئ.دليل يې په دې آيت كي دئ. يَسئَلُونَکَ مَاذَا اُحِلّ لَهُم قُل اُحِلّ لَكُمُ الطّيّبَاتُ وَمَا عَلّمتُم مّنَ الجَوَارِحِ مُكَلّبِينَ تُعَلّمُونَهُنّ مِمّا عَلّمَكُمُ اللهُ فَكُلُوا مِمّا اَمسَكنَ عَلَيكُم وَاذكُرُوا اسمَ اللهِ عَلَيهِ (الف) (آيت ۴ سورة المائدة ۵) په دې آيت كي دئ چي و سُپِي ته بنكار وَرازدَه كړئ.بيا بِسمِ الله ووايئ او دغه بنكاري سُپَئ پر بنكار وَريَلَه كړئ نو هغه چي ستاسو لپاره هر شَئ وَنِيسِي يعني مَړ يې كړي لېكن دهغه څخه په خپله هيڅ شَئ وَنَه خُوړي نو بيا دغه بنكار ستاسو لپاره حلال دئ (۲) او په حديث كي دئ سَمِعتُ عَدِيّ بنِ حَاتَمٍ ﷺ قَالَ سَألتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ عَنِ المِعرَاضِ فَقَالَ اِذَا اَصَبتَ بِحَدّهِ فَكُل فَاِذَا اَصَابَ بِعَرضِهِ فَقَتَلٌ فَاِنّهُ وَقِيذٌ فَلاَ تَأكُل. فَقُلتُ اَرسِلُ كَلبِي؟ قَالَ اِذَا اَرسَلتَ كَلبَکَ وَسَمّيتَ فَكُل. قُلتُ فَان اَكَلَ؟ قَالَ فَلاَ تَأكُل فَاِنّهُ لَم يُمسِک عَلَيکَ اِنّمَا اَمسَکَ عَلْي نَفسِهِ. قُلتُ اُرسِلُ كَلبِي فَاَجِدُ مَعَهُ كَلبًا آخَرَ؟ قَالَ لاَ تَأكُل فَاِنّکَ اِنّمَا سَمّيتَ عَلْي كَلبِکَ وَلَم تُسَمّ عَلْي الآخَرَ (ب)

حاشيه : (الف) خلګ پوښتنه كوي چي د دُوئي لپاره كوم شَئ حلال دئ؟ تَه ورته وفرمايه چي ستا لپاره حلال دي پاک شِيَان او كوم چي تاسو وربنولي وي وځِيرَوُنكو حيوانانو ته.و دُوئي ته وَر وَښَايَئ كوم چي الله تاسو ته دَربنُوَلِي دي.نو وخُورَئ كوم چي ستاسو لپاره نِيوَلَئ دئ او پر حيوان د الله نوم وَايَاست.يعني وحيوانانو ته بنكار وَر اِزدَه كړئ.چي هغه بنكار وكړي او ستاسو لپاره يې پريږدي او چي پر بنكاري حيوان يې بِسمِ الله ويلي وي نو هغه بنكار خُوَرَلاَئي سئ (ب) مَا دحضور ﷺ څخه د غَشِي په اړه پوښتنه وكړه وفرمايل چي كه په تېرَه خوا لګېدلئ وُ نو بنكار خُورَئ او كه بغيره تېرِه خُوا لګېدلئ وي نو او مَړ وي نو هغه قَيذ دئ يعني په ډَب سره مَړ دئ.نوځكه هغه مَه خورئ. مَا پوښتنه وكړه چي خپل سُپَئ بنكار ته شَرَم! وفرمايل كه خپل سُپَئ وَاستَاوَئ او بِسمِ الله دي وويل نو خُورَه يې.مَا پوښتنه وكړه كه كه سُپَئ خُپلي وَخُوړي نو بيا؟ وفرمايل مَه خُورَه ځكه چي ستا لپاره بنكاره نَه دئ كړئ ده خپله ځان لره بنكاره كړئ دئ.مَا پُوښتنه وكړه چي خپل سُپَئ اَستَوَم او نور سُپَان دهغه سره يَوځَائ سي نو بيا څَه وكړم؟ وفرمايل مَه خورَه ځكه چي پر خپل سُپِي دي بِسمِ الله ويلي ده او د بَل پر سُپِي دي بِسمِ الله نَه ده ويلي .

[۲۵۸۰](۱) يَجُوزُ اَلاِصطِيَادُ بِالكَلبِ المُعَلّمِ وَالفَهدِ وَالبَازِيّ وَسَائِرِ الجَوَارِحِ المُعَلّمَةِ .

﴿... كِتَابُ الصّيدِ وَالذّبَائِحِ ...﴾

(بخاري شريف.باب صيدالمعراض ص۸۲۳نمبر۵۴۷۶/كتاب الذبائح والصّيد/مسلم شريف.باب الصيد بالكلاب المعلّمة والرّمي ص۱۴۵نمبر۱۹۲۹/ ۴۹۷۴) ددې حديث څخه د بنكار بُنيَادِي او مُهِمّي ټولي مسئلي بنكاره كيږي .

[۲۵۸۰](۱) جائزدئ بنكار كول په بنكاري سُپِي.پرانګ.بَاز او په هغه ټولو څيرَوُنكو حيوانانو سره چي بنكار وربنوَل سوئ وي .

تشريح :سُپَئ وي.پرانګ وي.بَاز وي يا دغه رنګه بَل څيرونکئ حَيوَان وي خو ودغه حيوانانو ته دهغه پر خپله خپله طريقه ښکار کول وَرښُوَل سوئ وي او دمَالِک فَرمَان بَردَارَه وي نو په دغوحيوانانو سره ښکار کول جائز دئ .

وجه : په تېر سوي آيت کي دئ وَمَا عَلَّمتُم مِّنَ الجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنّ (آيت ۴سورة المائدة ٥) ددې آيت څخه معلوم سوچي کوم حيوانان څيرونکي وي که چيري وهغه ته ښکار وَرښُوَلَئ وي نو بيا په هغه سره ښکار کول جائز دئ.په دي کي سُپَئ. پرانګ.بَاز او د کومو حيوانانو چي غُوَښِي نَه خوړل کيږي هغه ټوله راغلو.په دغه ټولو سره ښکار کول جائز دئ .

دښکار تفصيل دادئ چي ښکار په دُرُو طريقو سره کيږي (١) د څِيرَوُنکُو حيوانانو په ذريعه لکه سُپَئ.پرانګ.ددغه رنګه حيوانانو په ذريعه د ښکار کولو لپاره دړ شرطونه دي.اَوّل شرط دا چي سُپي ته به ښکار وَرازدَه کړئ وي. وسُپي ته دښکار ورښوولو طريقه داده چي سُپَئ دړ واره ښکار وَنِيسِي او دهغه پُوست.غُوَښِي.او هَډُوکِي يا بَل شَئ وَنَه خورِي بلکه دمَالِک لپاره پريږدي.نودغه سُپَئ دشريعت په نَظَر کي مُعَلّم (يعني ښکاري) سُپَئ دئ.ښکاروَرازدَه سوئ دئ.دهرډَوَل څِيرَوُنکُو حيوانانودښکار دتعليم او اِزدَکړِي دغه طريقه ده. او دُوم شرط دادئ چي د سُپي د يَلَه کولو پر محال يې بِسمِ الله ويلې وي. او دريم شرط دادئ چي دغه څيرونکئ حيوان د ښکارکولو وروسته ددغه ښکار څخه خُوَرَاک وَنَه کړي.په دغه صورت کي چي حيوان ښکار وکړي او دحلالېدو څخه مخکي ښکار مَړ سي نو دغه ښکار حلال دئ.او که ښکار سوئ حيوان ژُوَندَئ ونيسي او دحلالېدو موقع وي بيا هم ښکاري دغه ښکار سوئ حيوان حلال نَه کړئ نو بيا دغه ښکار حرام دئ.او که چيري د ذَبحِ(حلالېدو)موقع نَه وي او ښکار مَړ سو نو بيا دغه ښکار حلال دئ.که چيري دغه ښکاري حيوان د ښکار کولو وروسته ددغه حيوان څخه خُوَرَاک وکړي نو بيا د مَالِک لپاره دغه ښکار حلال نَه دئ.او په يوه رِوَايَت کي دا راغلي دي چي د ښکار په بَدَن کې يَوځائ زخمي کړئ هم وي چي د ذَبحِ اِضطِرَارِي په درجه کي سو او داسي نَه سو لکه چي تر غَارَه ونيسي او دَبَاؤ يې کې او په دغه طرز او طريقه يې مَړکړِي .

دښکار کولو دُوَمه طريقه داده چي په مَرغَه مثلاً بَاز يا د بَل مَرغَه په ذريعه سره ښکار ونيسي.په دي کي دړ شرطونه دي.يو دا چي ومَرغَه ته ښکار وَرښُوَلَئ وي.ومَرغَه ته دښکار د ښُوَلُو طريقه داده چي کوم وخت يې پريږدي نو مَرغَه په ښکار پسي وُلاَړسي او چي کوم وخت يې مَنع کړي مرغه دښکار څخه منع سي.چي دړ واره دغه رنګه عَمَل په وکړي نو بيا مَرغَه دشريعت په نظر کي مُعَلّم دئ.د سُپي په شان دښکار څخه دخُوَرَاک کولو او نَه کولو باندي ددې دَار او مَدَار نَه دئ.دهغه وجه داده چي مَرغَه مُتَوَحّش حيوان دئ نو چي کوم وخت يې رَاوَبُولِي او

دئ بَار بَار او په څو ګړَتّ سره راسي او خپل فِطرِي عَادَتِ تَوَحّش پريږدي نو دغه د دده د مُعَلّم وَالِي علامت دئ.او سُپَئ پَالَل کېدونکئ حيوان دئ سُپَئ د اِنسَان شَا او خُوَا ته ګرزي رَاګرزي.البته سُپَئ چي بنکار ونيسي نو د خُوږَلُو کوشش کوي نو که چيري سُپَئ دغه خپل فِطرِي عَادَت پريږدي او دمَالِک لپاره دري واره وَنَه

[٢٥٨١](٢) وَتَعلِيمُ الكَلبِ اَن يَترُکَ الاَكلَ ثَلْثَ مَرّاتٍ وَتَعلِيمُ البَازِيّ اَن يَرجِعَ اِذَا دَعَوتَهُ .

خوري نو دا دده د مُعَلّم وَالِي(يعني د بنکار د اِزدَه کړي)علامت دئ.او دُوَم شرط دادئ.چي د پربښوُلُو پر محال(وخت)بِسمِ الله ووايي.اُوس که چيري سُپَئ د بنکار څخه خوراک وکړي نوهم دمَالِک لپاره حلال دئ.البته چي بنکار دده لاَس ته رَاسِي او دُومرَه موقع وي چي حلال يې کړي خو بيا هم ده حلال نَه کړئ نو بيا دمَالِک لپاره حلال نَه دئ.او که چيري دومره موقع نَه وي چي حلال يې کړي او بنکار مَړ سو بيا هم حلال دئ.او ديوه رِوَايَت مطابق دريم شرط دادئ چي پر يوځاى باندې زخمي کړئ هم وي ځکه چي په آيت کي وَمَاعَلّمتُم مِّنَ الجَوَارِحِ الفاظ راغلي دي.او دجَوَارِح معنْي ده چي زَخمِي کونکئ وي .

او دبنکار کولو دريمه طريقه داده چي دغَشِي يا تُوپَک(تُوپَک)په ذريعه بنکار وکړي.په دې سره د بنکارو کولو لپاره دري شرطونه دي.يَوخو دا چي بِسمِ الله ووايي او غَشَئ تَس کړي.او دُوَم دا چي دغَشِي هغه حِصّه پر بنکار لګېدلې وي کوم چي دَار لري(يعني هغه تېزه خُوَا يې پربنکار مُښَتې وي).که چيري هغه پَخَه خوا پر بنکار ولګيږي او بنکار مَړ سي نو بيا بنکار حلال نَه دئ.ځکه چي دا مَوقُوذَه سوه چي په آيت کې حرام کړې ده.او دريم شرط دادئ چي دبنکار هسي يوه حِصّه(ځاى)زخمي سوئ هم وي.ددې تِولو دلائل وروسته رَارَوَان دي .

لغت : مُعَلّمٌ : چي وَربنُوَل سوئ وي. اَلجَوَارِحُ : دجَارِحَةٌ څخه مُشتَق دئ زَخمِي کونکئ. اَلفَهدُ : پرانګ. بَازِيّ : يَودَوَل مرغَه دئ چي خلګ بنکار پکوي .

[٢٥٨١](٢) او دسُپِي اِزدَکړَه داده چي دري واره خُوږَل پريږدي او دبَازِي تعليم دادئ چي ببرته راسي که چيري ته رَاوَبُولِي .

تشريح : مخته تېرسوچي د سُپِي اِزدَکړَه داده چي دري واره سُپَئ بنکار وکړي او دري سره وار يې نَه وَخُورِي .

وجه : (١) سُپَئ دبنکار کولو وروسته هغه خُورِي که دخپل فِطرَت څخه برخلاف وَنَه خُورِي نو دئ ګواکه مُعَلّم سوئ دئ (٢) په اَثَرکي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ اِذَا اَكَلَ الكَلبُ مِنَ الصّيدِفَلَيسَ بِمُعَلّمٍ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ماقالوا في الكلب يأكل من صيده؟ ج٤ص٢٣٨نمبر١٩٥٦٥/مصنّف عبدالرزاق.بأن الجارح يأكل ج٤ص٤٧٣نمبر٨٥١٢) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي کوم سُپَئ چي دبنکار څخه خُوَرَاک وکړي هغه سُپَئ مُعَلّم نَه دئ.او داقيد چي

درې وارَ يې نَه وخوري دا قيديې په دې وجه لګولئ دئ چې ښَه تجربه يې سي.ځکه چې دا اِمکان سته چې يو دوه واره يې اِتِّفَاقِي نَه وِي خُوَرَلئ. دمَرغَه او دبَاز مُعَلِّم والي دادئ چې کوم وخت يې رَاوَبُولِي نو فَوراً واپس راسي .

وجه : (۱) ددې وجه داده چې بَاز او مرغه مُتَوَحِّش حيوانان دي.چې په رَابَلَلُو راسي نو ګواکه دُوئي مُعَلِّم سو او اِزدَکړِي کړِې ده (۲) په اَثَرکي دئ عَن حَمّادٍ قَالَ اِذَا اِنتَفَ الطّيرُ اَو اَکَلَ فَکُل فَاِنّمَا تَعلِيمُهُ اَن يّرجِعَ اِلَيکَ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۳ البازيّ يأكل من صَيدِهِ ج۴ص۲۴۵نمبر۱۹۶۴۴) په يوه بَل روايت کي راغلي دي عَن عَامِرٍ وَالحَکَمِ قَالاَ اِذَا اَرسَلتَ صَقرَکَ اَو بَازَکَ ثُمّ دَعَوتَهُ فَاَتَاکَ فَذَاکَ عِلمُهُ فَاِن اَرسَلتَ عَلْي صَيدٍ فَاَکَلَ فَکُل (ج) (مصنّف ابن ابي شيبة۱۳ البازِيّ يأكل من صَيدِهِ ج۴ص۲۴۵ نمبر۱۹۶۴۷) ددې اَثَرڅخه دُوِې خَبَرِي معلومِ سوې.يوه دا چې د بَاز او مَرغَه مُعَلِّم وَالئ دادئ چې کوم وخت يې رَاوَبُولې نو هغه ببِرته تاته راسي.او دُوَمَه خبره دامعلوم سوه چې دښکار خوراک کول او نَه کول د مَرغَه د تَعلِيم مِعيَار نَه دئ.لِهْذَاکه چيري مَرغَه د ښکار څخه خوراک وکړي بيا هم ښکار حلال دئ. نوځکه خُوَرَل او نَه خُوَرَل دتعليم او اِزدَکړِي مِعيَار نَه دئ .

حاشيه : (الف) حضرت ابن عباس فرمايي که سُپِي دښکار څخه خوراک وکړئ نو مُعَلِّم (ښکاري سُپَئ) نَه دئ (ب) حضرت حمّاد وفرمايل که مرغه وَزَر ځيني وَکښَئ يايي ښکار وخوړئ بيايي هم خُورَئ. ځکه چې دده اِزدَکړه داده چې تاته ببِرته وَاپَس راسي (ج) حضرت عامر او حکم وفرمايل که خپل سَرَاښګئ يَلَه کړئ يايي بَاز يَلَه کړئ بيا هغه رَاوَبُولې او تالره راسي نو دا دده اِزدَکړه ده(مُعَلِّم والئ دئ).دهغه وروسته که تا پر ښکار باندي وَرِيَلَه کړئ او ښکار يې وخوړئ نو تَئ يې وَخُورَه .

[۲۵۸۲](۳) فَاِذَا اَرسَلَ کَلبَهُ المُعَلِّمُ اَو بَازِيّهُ اَو صَقرَهُ عَلْي صَيدٍ وَذَکَرَ اِسمَ اللهِ تَعَالْي عَلَيهِ عِندَ اِرسَالِهِ فَاَخَذَ الصّيدَ وَجَرَحَهُ فَمَاتَ حَلّ اَکلُهُ .

[۲۵۸۲](۳) خپل تعليم يافته سُپَئ يا بَاز يا سراښکئ يې پر ښکار وَرِيَلَه کړئ.د پرېښوُلُو پر محال مَالِک پر هغه بِسمِ الله وويل.اُوس هغه ښکار ونيوي او هغه يې زَخمِي کړئ او ښکار مَړ سو نو دهغه خُوَرَل حلال دئ .

تشريح : تعليم يافته سُپَئ يا بَاز.يا سَرَاښَګئ يې پر ښکاروَرِيَلَه کړئ.دپرېښولوپر وخت مَالِک پرهغه بِسمِ الله وويل.اُوس سُپِي يا بَاز ښکار ونيوئ او ځله څيرې کړئ البته دهغه څخه سُپِي هيڅ وَنَه خُوَرَل اوښکار مَړ سو نو که څَه هم هغه نَه وي ذَبح(حلال)کړئ بيا هم دهغه خُوَرَاک حلال دئ .

وجه : (۱) د آيت په رُونَا کي سُپَئ مُعَلِّم دئ.پرهغه يې بِسمِ الله ويلې ده او پرښکار مَخ باندې يَلَه کړئ دئ نوځکه دده څِيرَل په خپله د ذَبحِ اِضطِرَارِي په درجه کي دئ. نوځکه په دغونه اَندَزَه ذَبح دحلالوالي لپاره کفايت کوي (۲) په دې مسئله کي درې

خَبَرِي دي.مُعَلّم حيوان به پر وَرِيَلَه کړئ وي.په بِسمِ الله سره به وَرِيَلَه کړئ وي او بنکار ځله څِيرِي کړي او دهغه څيرلو لکبله بنکار مَړ سي. ددي دُرُو خبرو دليل په دې آيت کي موجود دئ يَسئَلُونَکَ مَاذَ اُحِلّ لَهُم قُل اُحِلّ لَکُمُ الطّيّبَاتُ وَمَا عَلّمتُم مّنَ الجَوَارِحِ مُکَلّبِينَ تُعَلّمُونَهُنّ مِمّا عَلّمَکُمُ اللهُ فَکُلُوا مِمّا اَمسَکنَ عَلَيکُم وَاذکُرُوا اسمَ اللهِ عَلَيهِ (الف) (آيت ۴ سورة المائدة ۵) په دې آيت کي دتُعَلّمُونَهُنّ څخه دسُپِي مُعَلّم وَالَئ معلوم سو.او د جَوَارِحُ څخه څِيرَل او دبنکار زَخمِي کول معلوم

حاشيه : (الف) خلک پوښتنه کوي چي د دُوئي لپاره کوم شَئ حلال دئ؟ ته ورته وفرمايه چي سنا لپاره حلال دي پاک شِيَان او کوم چي تاسو ورښولي وي وځِيرَوُنکو حيوانانو ته.و دُوئي ته وَر وَښَايَئ کوم چي الله تاسو ته دَرښُوَلِي دي.نو وخُورَئ کوم چي ستاسو لپاره نِيوَلَئ دئ او پر حيوان د الله نوم وَايَاست .

[۲۵۸۳](۴) فَاِن اَکَلَ مِنهُ الکَلبُ اَوِ الفَهدُلَم يُؤکَلُ وَاِن اَکَلَ مِنهُ البَازِيّ اُکِلَ .

سو.او د اُذکُرُاسمَ اللهِ عَلَيهِ څخه پر هغه باندي بِسمِ الله ويل معلوم سو (۳) په حديث کي هم ددي ثبوت سته عَن اَبِي ثَعلبَةَ الخُشَنِيّ ... وَمَاصَدَدتّ بِقَوسِکَ فَذَکَرتَ اِسمَ اللهِ فَکُل وَمَاصَدَتّ بِکَلبِکَ المُعَلّمِ فَذَکَرتَ اِسمَ اللهِ فَکُل وَمَاصَدَتّ بِکَلبِکَ غَيرَمُعَلّمٍ فَاَدرَکّتَ ذَکَاتَهُ فَکُل (الف) (بخاري شريف.باب صيدالقوس ص۸۲۳ نمبر۵۴۷۸/مسلم شريف.باب الصّيدبالکلاب المعلّمة والرّمي ص۱۴۵نمبر۱۹۲۹) ددې حديث څخه معلوم سوچي حيوان يا مَرغَه مُعَلّم وي او چي کوم وخت يې پربنکار وَربنکَارِي هغه وخت بِسمِ الله پر ووايي. او د څيرلو دليل دا حديث کېدلائي سي. عَن عَدِيّ بِنِ حَاتَمٍ قَالَ سَألتُ رَسُولَ اللهﷺعَنِ المِعرَاضِ فَقَالَ اِذَا اَصَبتَ بِحَدّهِ فَکُل فَاِذَا اَصَابَ بِعَرضِهِ فَقَتلٌ فَاِنّهُ وَقِيذٌ فَلاَ تَأکُل (ب) (بخاري شريف.باب صيدالمعراض ص۸۲۳ نمبر۵۴۷۶) په دې حديث کي دئ چي د غَشِي تِيرَه خُوَا پر وَمُښلِي نو حلال دئ او که چيري دغَشِي د لَرگِي(يعني پَخَه)خوا پر وَمُښلِي نو حلال نَه دئ.پر دغه قياس که چيري بَاز او سُپَئ يې زخمي کړي بيا هم حلال دئ.او که چيري زخمي نَه کړي نو بيا دَاوَل سو لکه تر غَارَه چې ونيسي او خَفَه يې کړي نوځکه حلال نَه دئ .

[۲۵۸۳](۴) که چيري ددې بنکار څخه سُپَئ يا پرانګ خوراک وکړي نو نَه به خُورِي.اوکه چيري ددې څخه بَاز خوراک وکړي نو خُوَرَل کيږي به .

وجه : (۱) مخته په آيت کي مِمّا اَمسَکنَ عَلَيکُم راغلئ دئ ددې څخه معلوم سوچي سُپَئ او څِيرَوُنګئ حيوان چي ستاسو لپاره بنکار ونيسي او نَه وَخُورِي نو ستاسو

حاشيه : (الف) ابي ثعلبه خشني فرمايي ... که په خپل غَشِي سره بنکار وکړې او بِسمِ الله ووايې او بنکار وکړې نو خُورَه يې.او که په خپل مُعَلّم سُپِي سره بنکار وکړې او حلال يې کړې نو وَخُورَه او که حلال نَه کړې نو مَه خُورَه (ب) مَا دحضورﷺڅخه دغَشِي په اړه پوښتنه وکړه.حضوروفرمايل که په تِيرَه خوا سره ولګيږي نو وَخُورَه او که د پَسَاره خوا ولګيږي او قتل يې کړي نوهغه وَقِيذ د ئ مَه خُورَه .

[۲۵۸۴](۵) وَاِن اَدرَکَ المُرسِلُ الصّیدَ حَیًّا وَجَبَ عَلَیهِ اَن یُذَکِّیَهُ اِن تَرَکَ تَذکِیَتَهُ حَتّٰي مَاتَ لَم یُؤکَل .

لپاره حلال دئ.او که وَخُورِي نو ستاسو لپاره حلال نَه دئ (۲) په حدیث کي دئ عَن عَدِيّ بِنِ حَاتَمٍ قَالَ قُلتُ یَارَسُولَ اللهِ! اِنّي اَرسِلُ کَلبِي وَاُسَمّي فَقَالَ النّبِيّﷺ اِذَا اَرسَلتَ کَلبَکَ وَسَمّیتَ فَاَخَذَ فَقَتَلَ فَاَکَلَ فَلاتَاکُل فَاِنّمَا اَمسَکَ عَلٰي نَفسِهِ (الف) (بخاري شریف.باب اذا وجدمع الصیدکلباً آخرص۸۲۴نمبر۵۴۸۶/مسلم شریف.باب الصید بالکلاب المعلّمة والرّمي ص۱۴۵نمبر۱۹۲۹/ ۴۹۷۳) ددي حدیث څخه معلوم سوچي سُپَئ او ځیرونکئ حیوان دښکار څخه څَه خوراک وکړي نوهغه ښکار حلال نَه دئ .

پام لرنه : دسُپي څخه مراد ټول ښکاري حیوانان دي .

او چي بَاز یې وخوري حلال دئ دهغه دلیل دا اَثَردئ. عَن جَابِرٍ وَعَنِ الشّعَبِيّ قَالاَ کُل مِن صَیدِالبَازِيّ وَاِن اَکَلَ (ب) (مصنّف ابن ابي شیبة ۱۳ البازي یأکل من صیده ج۴ ص ۲۴۵ نمبر۱۹۶۴۳/مصنّف عبدالرزاق.باب الجارح یأکل ج۴ص۴۷۳نمبر۸۵۱۴) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي بَاز او بَل مَرغَه دښکار څخه خوراک وکړي بیاهم هغه ښکار حلال دئ .

پام لرنه : د بَازځخه مراد ټول ښکاري مَرغَان دي .

[۲۵۸۴](۵) که پرېښونکي سړي ښکار ژُوَندَئ وموندئ نوپر ده واجب دئ چي هغه حلال کړي.که دهغه حلالېدل پرېښول تر دې چي مړ سو نو نَه به خُورِي .

تشریح : سُپي یا بَاز یا غَشَئ تَسَوُنکِي سړي ښکار ژُوَندَئ وموندئ نو باید چي فَوراً یې ذَبح(حلال)کړي بیا ښکار حلالیږي.لېکن چي سُستِي وکړي او حلال یې کړي او ښکار مَړ سو نو اُوس حلال نَه دئ .

حاشیه : (الف) حضرت عدي فرمایي مَا وویل ای دخدائ رسول! زه خپل سُپَئ یَلَه کوم او پر هغه بِسمِ الله وایم؟ حضوروفرمایل که خپل سُپَئ یَلَه کړي او بِسمِ الله ووایي او ده ښکار ونیوئ او مَړ یي کړئ او وَخُوَارَئ نو مَه خُورَه ځکه چي ده خپل ځان لره ښکار کړئ دئ (ب) حضرت شعبي وفرمایل چي بَاز ښکار کړئ وي دهغه څخه خوراک کوئ که څَه هم ده دهغه څخه خوراک کړئ وي .

[۲۵۸۵](۶) وَ اِن خَنَقَهُ الکَلبُ وَلَم یَجرِحهُ لَم یُؤکَلُ .

وجه : (۱) چي دسُپي دځِیرَلُو یا دبَاز دځِیرَلُو یا د غَشِي د لګېدلو په وجه ښکار زخمي سي او مَړ سي نو دایې ذَبحِ اِضطِرَارِي ګڼلې ده اوحلال یې ګرزولې ده.لېکن دا حِلّت تر هغه وخته پوري دئ چي پر اَصل ذَبح باندي قَادِر نَه وي.لېکن دلته خو ښکار ژُوَندَئ موندلئ دئ او پر اَصل ذَبح باندي قُدرَت لري بیایې هم په اصلي شرعي ذَبح سره حلال نَه کړئ او مَړ سو نو حلال نَه دئ (۲) په آیت کي دئ وَمَا اَکَلَ السّبُعُ اِلاّ مَا ذَکّیتُم (الف) (آیت ۳سورة المائدة۵) په دې آیت کي دئ چي ځِیرَوُنکَئ حیوان یې ځیري کړي نو د ذَبحِ کولو وروسته حلال دئ (۳) په حدیث کي هم دې ته اِشَارَه سوې ده عَن عَدِيّ بِنِ حَاتَمٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ اِذَا اَرسَلتَ کَلبَکَ فَاذکُرِاسمَ اللهِ فَاِن اَمسَکَ

عَلَيکَ فَادرَکتَهُ حَيًّا فَاذبَحهُ وَاِن اَدرَکتَهُ قَدقُتِلَ وَلَم يَأکُل مِنهُ فَکُلهُ (ب) مسلم شريف.باب الصّيدبالکلاب المعلّمة ص۱۴۵نمبر۱۹۲۹/ ۴۹۸۱) (۴) عَن قَتَادَةَ قَالَ اِن اَخَذَ کَلبَکَ صَيداً فَانتَزَعتَهُ مِنهُ وَهُوَ حَيٌّ فَمَاتَ فِي يَدَکِ قَبلَ اَن تُذَکِّيَهُ فَلاَ تَأکُلهُ (ج) (مصنّف عبدالرزاق.باب صيدالجارح وهل ترسل کلاب الصيدعلٰي الجيف،ج۴ص۴۷۲نمبر۸۵۰۵/مصنّف ابن ابي شيبة ۸ الرّجل يأخذالصّيدوبه رمق ماقالوا في ذالک وماجاء فيه؟ ج۴ص۲۴۴نمبر۱۹۶۲۵) ددې اَثَر څخه معلوم سوچې په حيوان کې رَمُق(لَږ ژوَند)پاته وي او ذَبح کړې نَه وي نو حلا نَه دئ .

[۲۵۸۵](۶) که سُپِي ښکارترغارَه خَفَه کړئ اونَه کړئ زخمي نونَه به خُوَرَل کيږي .

تشريح : سُپِي ښکار ونيوئ او دُومره کښېکښئ چې ښکار مَړ سو لېکن پريوه ځائ يې هم نَه دئ زخمي کړئ او نَه وِينَه وتلې ده نو دابښکار حلال نَه دئ .

حاشيه : (الف) چې څه څِيرَوُنکو حيوانانو وخواړئ هغه مَه خورئ مګر هغه کوم چې تاسو حلال کړئ (ب) حضرت عدي فرمايي چې مَاتَه حضورﷺ وفرمايل که خپل سُپَئ يَلَه کړې او بِسمِ الله ووايي.نوکه چيري ستا لپاره ونيوئ او ژُوَندَئ مو وموندئ نو هغه حلال کړئ او که تَا درانګه وموندئ چې قَتل سوئ دئ او ښکاري حيوان دهغه څخه خوراک نَه دئ کړئ نوهغه وَخُورَئ (ج) حضرت قتاده وفرمايل که ستا سُپِي ښکار ونيوئ او تَا دهغه څخه وَاخَستَئ او ښکار ژُوَندَئ دئ او د حلالولو څخه مخکې ستا په لاس کې مَړ سو نوهغه مَه خوره .

[۲۵۸۶](۷) وَ اِن شَارَکَهُ کَلبٌ غَيرُمُعَلَّمٍ اَو کَلبُ مَجُوسِيٍ اَو کَلبٌ لَم يُذکَر اِسمُ اللهِ تَعَالٰي عَلَيهِ لَم يُؤکَل .

وجه : (۱) دذَبحِ اِضطِرَارِي لپاره ضروري دئ چې دبَدَن هسي يوه ځائ څخه وِينَه وَوزِي.دلته خو ديوه ځائ څخه وِينَه نَه ده وتلې نوځکه د آيت مطابق دا مُنخَنِقَه او مَوقُوذَه ده.يعني تر غَارَه نيولې يايې ډبر کښېکښلې او مَيدَه کړې ده چې حرام ده. آيت دا دئ حُرِّمَت عَلَيکُمُ المَيتَةُ وَالدَّمُ وَلَحمُ الخِنزِيرِ وَمَا اُهِلَّ لِغَيرِاللهِ بِهِ وَالمُنخَنِقَةُ وَالمَوقُوذَةُ وَالمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا اَکَلَ السَّبُعُ اِلاَّ مَاذَکَّيتُم وَمَا ذُبِحَ عَلَي النَّصُبِ (الف) (آيت۳ سورة المائدة ۵) په دې آيت کې هغه حيوان کوم چې تر غَارَه نيولئ وي او هغه چې کښېکښلې وي او مَيدَه کړې وي حرام ګرزولئ دئ.او سُپِي کښېکښلئ دئ ختم کړې دئ نوځکه حرام سو (۲) د وَمَا عَلَّمتُم مِّنَ الجَوَارِحِ (آيت۴ سورة المائدة ۵) څخه هم معلوم سوچې ځله څيرې کړي بيا حلال دئ که نَه نو حلال نَه دئ.ځکه چې په دي کې د جَوَارِحٌ لفظ راغلئ دئ چې معنٰي يې ده څيرل .

فائده : د امام ابوحنيفه څخه بَل روايت دادئ چې نَه کړي زخمي بيا هم ښکار حلال دئ .

[۲۵۸۶](۷) که دده د سُپِي سره غَيرِمُعَلَّم سُپَي يا دمجوسي سُپَئ يا دا دِوَل سُپَي چې پر هغه بِسمِ الله نَه ده ويل سوې شريک سو نو نَه به خُوَرَل کيږي .

وجه : په حديث کې دئ چې غَيرِمُعَلَّم يا دا دِوَل سُپَئ چې پر هغه بِسمِ الله نَه وي ويل سوې په دې ښکار کې ورسره شريک سي نو دغه ښکار مَه خورئ.ځکه چې څه معلوم دئ چې کوم سُپِي قتل کړئ دئ؟ په حديث کې دئ سَمِعتُ عَدِيّ بِنِ حَاتَمٍ...

حاشيه : (الف) پرتاسو حرام سوي دي مَرسوئ.وِينَه.د خنزير غُوَښَه او کوم چي د الله څخه علاوه دبَل پر نوم حلال سوئ وي.تر غَارِه نيولئ وي وَژَلَئ وي.په لَرگِي يي وَهَلَئ وي.د لُوَر ځائ څخه رَايَلَه کړئ وي وَژَلَئ يي وي.په ښکر يي وَهَلَئ وي او چي څِيرَوُنکُو حيوانانو خُوَرَلَئ وي مګر هغه چي تاسو يي ذَبح کړئ او چي دبُتَانُو پر نوم حلال سوئ وي هغه ټول حرام دي .

[۲۵۸۷](۸) وَ اِذَا رَمْيِ الرّجُلُ سَهمًا اِلْي صَيدٍ فَسَمّي اللهَ تَعَالْي عِندَالرّمي اُكِلَ مَا اَصَابَهُ اِذَا جَرَحَهُ السّهمُ فَمَاتَ وَاِن اَدرَكَهُ حَيًّا ذَكّاهُ وَ اِن تَرَکَ تَذكِيَتَهُ لَم يُؤكَل .

قُلتُ اُرسِلُ كَلبِي فَاَجِدُ مَعَهُ كَلبًا آخَرَ ؟ قَالَ لاَتَأ كُل فَاِنّکَ اِنّمَا سَمّيتَ عَلْي كَلبِکَ وَلَم تُسَمّ عَلْي الآخَرَ (الف) (بخاري شريف.باب صيدالمعراض ص۸۲۳نمبر۵۴۷۶/ مسلم شريف.باب الصيدبالكلاب المعلّمة والرّمي ص۱۴۵نمبر۱۹۲۹/ ۴۹۷۴) ددې حديث څخه معلوم سو چي بَل سُپَئ ورسره شريک سي نو مَه خورئ. د مجوسي او نصراني سُپَئ بغيره د بِسمِ الله دئ.که نصراني پر هغه باندي بسم الله ووايي هم دهغه اِعتِبَار نسته نوځکه چي دُوئي پکښي شريک سي هم نَه به خوري .

[۲۵۸۷](۸) که سړي پر ښکار غَشَئ وَرتَس کړئ او دغَشِي د تَسَوُلُو پر وخت يې بِسمِ الله وويل نو پر چاچي ولګېدئ هغه به خوړل کيږي که غَشَئ هغه زخمي کړي او مَړ سي.او ښکار يې ژُوَندَئ وموندئ نوهغه دي حلال کړي.که چيري حلالېدل پريږدي نو نَه به خوړل کيږي .

تشريح : مخته د غَشِي په ذريعه دښکار کولو دړې شرطونه بيان کړي وُ.اَوّل شرط خو دا چي په بِسمِ الله سره غَشَئ تَس کړئ وي.که بغيره بسم الله غَشَئ تَس کړئ نوښکار حلال نَه دئ. دوم شرط دادئ چي ښکار زخمي سوئ وي چي ذَبحِ اِضطِرَارِي ثابته سي.چي کښېکښلئ وي مُښَلَئ وي مَړ وي هغه حلال نَه دئ. او دريم شرط دادئ چي لاَس ته تر رَارَسېدو مخکي مَړ وي.که ژُوَندَئ دده لاَس ته راغلئ نو بيابه حَتمًا ذَبح کوي.که ذَبح نَه کړئ او مَړ سو نو حلال نَه دئ .

وجه : (۱) په حديث کي دئ عَن عَدِيّ بِنِ حَاتَمٍ ... قُلتُ اِنّا نَرمِي بِالمِعرَاضِ؟ قَالَ

حاشيه : (الف) مَاپوښتنه وکړه چي خپل سُپَئ پر ښکار وَرېَلَه کوم دهغه سره بَل سُپَئ هم يوځائ سي څَه وکړه؟ حضورﷺ وفرمايل مَه خوره ځکه چي پر خپل سُپِي دي بِسمِ الله ويلې ده پرهغه بَل سُپِي نَه .

[۲۵۸۸](۹) وَاِذَا وَقَعَ السّهمُ بِالصّيدِ فَتَحَامَلَ حَتّي غَابَ عَنهُ وَلَم يَزَل فِي طَلَبِهِ حَتّي اَصَابَهُ مَيتًا اُكِلَ فَاِن قَعَدَ عَن طَلَبِهِ ثُمّ اَصَابَهُ مَيتًا لَم يُؤكَل .

كُل مَاخَرَقَ وَمَا اَصَابَ بِعَرَضِهِ فَلاَ تَأ كُل (الف) (بخاري شريف.باب مااصاب المعراض بعرضه ص۸۲۳نمبر۵۴۷۷/مسلم شريف.باب الصيدبالكلاب المعلّمة والرّمي ص۱۴۵نمبر۱۹۲۹) ددې حديث څخه

معلوم سوچي غَشَئ يې زخمي کړي نو خوړلائي يې سي او چي زخمي يې نَه کړي نو اُوس خو ذَبحِ اِضطِرَاري هم نَه راغله نو ځکه نَه دې خوري ... او دا چي بِسمِ الله دي ووايي غَشَئ دي تَس کړي دهغه دليل دا حديث دئ عَن اَبِي ثَعلَبَةَ الخُشَنِيِّ ... وَمَا صَدَتّ بِقَوسِکَ فَذَکَرتَ اِسمَ اللهِ فَکُل (ب) (بخاري شريف.باب صيد القوس ص۸۲۳نمبر۵۴۷۸/ مسلم شريف.باب الصيدبالکلاب المعلّمة والرّمي ص۱۴۵نمبر۴۹۸۲/۱۹۲۹) ددې حديث څخه معلوم سوچي دغَشِي د تَسَوُلُو پر وخت دي بِسمِ الله ووايي (۲) آيت هم تېرسوئ دئ فَکُلُوا مِمّا اَمسَکنَ عَلَيکُم وَاذکُرِاسمَ اللهِ عَلَيهِ (آيت۴ سورة المائدة ۵) ددې آيت څخه هم معلوم سوچي غَشَئ تَسَوِي هغه دي بِسمِ الله ووايي.اوچي زُوَندَئ په لاَس وَرسِي نو ذَبح دې کړي بياحلال دئ.ددې دليل دا حديث دئ عَن عَدِيِّ بِنِ حَاتَمٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهﷺ اِذَا اَرسَلتَ کَلبَکَ فَاذکُرِاسمَ اللهِ فَاِن اَمسَکَ عَلَيکَ فَادرَکتَهُ حَيًّا فَاذبَحهُ (ج) (مسلم شريف.باب الصّيدبالکلاب المعلّمة ص۱۴۵نمبر۱۹۲۹/ ۴۹۸۱/ مصنّف عبدالرزاق.باب صيدالجارح الخ ج۴ص۴۷۲نمبر۸۵۰۵) ددې حديث څخه معلوم سوچي زُوَندَئ يې وموندي نو هغه دي ذَبح کړي بيا حلال دئ .

[۲۵۸۸](۹) که پر بنکار غَشَئ ولګېدئ هغه يې بَردَاشت کړئ دبنکار څخه وُرَک سو او دئ دهغه په پَلَتَنَه کي وُ تر دې چي هغه يې مَړ وموندئ نو خُوَړَل کيږي به.او که دپَلَتَنِي څخه کښېنَستَئ بيايې هغه مَړَ پَيدَا کړئ نو نَه به خُوَړَل کيږي .

حاشيه : (الف) دحضرت عدي څخه نقل سوئ دئ ... مَا وويل غَشَئ غُوَرزَوَم؟ وفرمايل که زخمي نو يې وَخُورَه او که په پَسَارَه پر ولګيږي(پَخَه خُوَا)نومَه خوره (ب) حضرت ابوثعلبه فرمايي ... چي بِسم الله ووايي په خپل غَشِي بنکار وکړي نو وَخُورَه (ج) حضرت عدي فرمايي چي مَاتَه حضورﷺ وفرمايل که خپل سُپَئ يَلَه کړي او بِسمِ الله ووايي.نوکه چيري ستا لپاره ونيوئ او زُوَندَئ مو وموندئ نو هغه حلال کړئ بيايي وَخُورَئ .

تشريح : بنکار يې په غَشِي وَوِشتَئ بنکار هغه غَشَئ بَردَاشت کړئ او مَيدَان يې کړل او د بنکاري دسُتُرګُوڅخه غَائِب سو اُوس دئ مُسَلسَل دهغه په تَلاَش کي وُ او بنکار يې په داسي حال کي وموندئ چي مَړ وُ نو دا بنکار خُوَړَلائي سي.او که چيري ده د بنکار طَلَب پرېښوئ بيايي بنکار وموندئ چي هغه مَړ وُ نو نَه سي خُوَړَلاَئي .

وجه : په حديث کي دئ عَن عَدِيِّ بِنِ حَاتَمٍ عَنِ النّبِيِّﷺ قَالَ ... وَ اِن رَمَيتَ الصّيدَ فَوَجَدتّهُ بَعدَ يَومٍ اَو يَومَينِ لَيسَ بِهِ اِلاّ اَثَرُ سَهمِکَ فَکُل وَ اِن وَقَعَ فِي المَاءِ فَلا تَأکُل (الف) (بخاري شريف.باب الصّيد اذا غاب عنه يومين اوثلاثة ص۸۲۴نمبر۵۴۸۴/مسلم شريف.باب الصيدبالکلاب المعلّمة والرّمي ص۱۴۵نمبر۱۹۲۹/ ۴۹۸۱) ددې حديث څخه معلوم سوچي ,,ستا د غَشِي,, څخه مراد دادئ چي ستا دا يقين وي چي دا بنکار په اُوبُو نَه دئ مَړ نو که دوې وُرځِي وروسته مَړ وموندل سي نو هم يې خوړلائي سي خو په دې شرط چي بَدبُوئي يې نَه وي کړئ. ځکه چي په بَل حديث کي دئ عَن اَبِي ثَعلَبَةَ عَنِ النّبِيِّﷺقَالَ اِذَا رَمَيتَ بِسَهمِکَ فَغَابَ عَنکَ فَاَدرَکتَهُ فَکُلهُ مَالَم يَنتَن (ب) (مسلم شريف.باب اذا غاب عنه الصّيدثمّ وجده ص۱۴۵نمبر۱۹۳۱)... او چي مسلسل يې طلب کوي وموندي چي مَړ دئ نو خوړلائي سي او چي طلب يې پرېږدي بيايي وموندي نو نَه دې خُورِي دهغه دوړو دليل دا حديث دئ عَن عَدِيِّ اَنّهُ قَالَ لِلنّبِيِّﷺ يَرمِي الصّيدَ فَيَفتَقِرُ اَثَرُهُ اليَومَينِ وَالثّلاَثَةَ

ثُمّ يَجِدُهُ مَيتًا وَفِيهِ سَهمُهُ قَالَ يَأ كُل اِن شَاءَ (ج) (بخاري شريف.باب الصيداذا غاب عنه يومين او ثلاثة ص۸۲۴نمبر۵۴۸۵/ ابوداؤدشريف.باب في الصّيد ص۳۷نمبر۲۸۵۳/ سنن للبيهقي.باب الارسال علٰي الصّيديَتَوَارْي عنه ثمّ تجده مقتولاً ج۹ص۴۰۵

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل ... كه په غَشِي وَولي او بنكار دُوي يا دري ورځي وروسته وموندي او ستا د غَشِي څخه علاوه دبَل هيڅ شِي اَثَر پر هغه نَه وي نو هغه وَخُورَه.او كه بنكار په اُوبُو كي يَلَه سو نو مَه خُورَه (ب) حضورﷺ وفرمايل كه تا په غَشِي وَوِشتَئ او دئ ستا څخه غَائِب سو بيا تَا هغه وموندئ نو كه چيرى بَدبُودَارَه سوئ نَه وي نو وَخُورَه (ج) حضرت عدي دحضورﷺ څخه پوښتنه وكړه په غَشِي بنكار وَوَلَم بيا دُوي دَري ورځي دهغه په طلب كي يَم بيا هغه مَړ وموندم او په هغه كي د غَشِي اَثَر وي.حضورﷺ وفرمايل كه دي خُوَښَه سي وَخُورَه .

[۲۵۸۹](۱۰) وَ اِن رَمْي صَيداً فَوَقَعَ فِي المَاءِ لَم يُؤكَل [۲۵۹۰](۱۱) وَ كَذَالِكَ اِن وَقَعَ عَلْي سَطحٍ اَو جَبَلٍ ثُمّ تَرَدّْي مِنهُ اِلْي الاَرضِ لَم يُؤكَل .

نمبر۱۸۹۰۶) ددي حديث څخه معلوم سو چي طلب يې كوي نو حلال دئ او كي طلب او يَلَتِنَه پريښوله نو حلال نَه دئ ځكه چي كېدلائي سي چي دده د غَشِي څخه دي نَه وي مَړ بلكه دا بنكار په بَلَه وجه مَړ وي نو ځكه جواز نَه لرى .

لغت : فَتَحَامَلَ : دحملٌ څخه مُشتَق دئ بَردَاشتَوَل .

[۲۵۸۹](۱۰) كه بنكار په غَشِي وَوِشتَئ او هغه په اُوبُو كي يَلَه سو نو نَه به خُوَرِل كيږي .

وجه : (۱) ځكه چي قَوِي اِمكان سته چي په غَشِي دي نَه وي مَړ بلكه دا بنكار دي د اُوبُو څخه مَړ وي نوځكه حلال نَه دئ (۲) په حديث كي په څو كَرَتّه تېرسوئ دئ عَن عَدِيّ بِنِ حَاتَمٍ قَالَ سَألتُ رَسُولَ اللهِﷺ عَنِ الصّيدِقَالَ اِذَا رَمَيتَ بِسَهمِكَ فَاذكُرِاسمَ اللهِ فَاِن وَجَدّتَهُ قَدقُتِلَ فَكُل اِلاّ اَن تَجِدَهُ قَدوَقَعَ فِي المَاءِ فَاِنّكَ لاَتَدرِي اَلمَاءُ قَتَلَهُ اَو سَهمُكَ ؟ (الف) (مسلم شريف.باب الصّيدبالكلاب المعلّمة والرّمي ص۱۴۵ نمبر۱۹۲۹/ ۴۹۸۲/ بخاري شريف.باب الصّيداذا غاب عنه يومين او ثلاثة ص۸۲۴نمبر۵۴۸۴/ ابوداؤدشريف.باب في الصّيدص۳۷نمبر۲۸۵۰) ددي حديث څخه معلوم سوچي بنكار په اُوبُو كي يَلَه سوئ وي دهغه ځائ څخه مَړ رَاوَيَاستَئ نو نَه دي خُورِي ځكه چي څه معلومه ده چي په اُوبُو دي مَړ وي په غَشِي دي نَه وى مَړ .

[۲۵۹۰](۱۱) دغه رنګه كه پر چَت يا پر غَره يَلَه سو او دهغه ځائ څخه رَاوَغَرِږدئ پر مځكه رَايَلَه سو نو بنكار حلال نَه دئ .

حاشيه : (الف) حضرت عدي فرمائي مَا دحضورﷺ څخه دبنكار په اړه پوښتنه وكړه چي كه خپل غَشَئ تَس كړم او بِسمِ الله پر وَوَايَم.كه چيري هغه مَړ وموندي نو وَخُورَه مگر كه چيري په اُوبُو كي يَلَه سوئ وُ. ځكه چي تاته نَه دئ معلوم چي اُوبُو وَژَلَئ دئ يا ستا غَشِي ؟

[۲۵۹۱](۱۲) وَ اِن وَقَعَ عَلْي الاَرضِ اِبتِدَاءً اُكِلَ [۲۵۹۲](۱۳) وَمَا اَصَابَ المِعرَاضُ بِعَرضِهِ لَم يُؤكَل وَ اِن جَرَحَهُ يُؤكَلُ .

تشريح : بنكار يې وَوِشتَئ دهغه په نتيجه كي بنكار پر غَرَه ياپر چَت رَايَلَه سو او دهغه ځائ څخه بيا رَاوَبنَكبِدَئ پر مځكه رَايَلَه سو نو بنكار حلال نَه دئ .
وجه : (۱) دا معلوم نَه ده چي په غَشِي مَړ دئ كه دچَت يا د غَرَه څخه د رَايَلَه كېدو په وجه مَړ دئ.كه دچَت يا غَرَه څخه د بنُوَيَدُو په وجه مَړ وي نو بيا حلال نَه دئ. په آيت كي دئ وَالمُنخَنِقَةُ وَالمَوقُوذَةُ وَالمُتَرَدِّيَةُ (آيت۳ سورة المائدة ۵) او دلته خو د غَشِي او د بنُوَيَدُو تر مينځ شُبهَه پيدا سو نو ځكه حلال نَه دئ (۲) په اَثَر كي دئ قَالَ عَبدُاللهِ اِذَا رَمْي اَحَدُكُم صَيداً فَتَرَدَّي مِن جَبَلٍ فَمَاتَ فَلاَ تَأكُلُوا فَاِنِّي اَخَافُ اَن يَكُونَ التَّرَدِّي قَتَلَهُ (الف) (سنن للبيهقي.باب الصّيديرمي فيقع علْي جبل يتردَّي منه او يقع في الماء ج۹ص۴۱۶نمبر۱۸۹۴۲/مصنّف ابن ابي شيبة ۱۷ اذارمْي صيداً فوقع في الماء ج۴ص۲۴۸ نمبر۱۹۶۸۴/مصنّف عبدالرزاق.نمبر۸۴۶۲) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دغَرَه څخه رَايَلَه سوئ وي نو حلال نَه دئ .
[۲۵۹۱](۱۲) او كه په اِبتِدَاء كي پر مځكه يَلَه سو نو خُوَرَل كيږي به .
تشريح : پر بنكار چي غَشَئ وَمُوبنتَئ نو سَم دَستِي پر مځكه رَايَلَه سو اومَړ سو بيا هسي په يوه طريقه د هَوَا(بَاد) يا په بَلَه ذريعه پر غَرَه يا پر چَت وَمُوبنتَئ نو خُوَرَل كيږي.دلته كه څَه هم شك سته چي په غَشِي دي نَه وي مَړ بلكه په دې وجه دي مَړ وي چي پر مځكه يَلَه سو.لېكن بنكار خو آخِركَار هسي هم پر مځكه يَلَه كيږي نوځكه دلته دا شَك اِعتِبَار نَه لري او بنكار حلال دئ .
[۲۵۹۲](۱۳) كه ولګېدل دغَشِي يَڅَه خُوَا نو نَه خُوَرَل كيږي.او كه زخمي كړئ خورل كيږي .

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله فرمايي چي كه څوك وَوِينِي چي د غَرَه څخه رَايَلَه شو او مَړ شو نو مَه خُورَئ ځكه چي زُومَا دا خيال دئ چي د بنُوَيَدُلُو لكېله به مَړ وي .

[۲۵۹۳](۱۴) وَلاَيُؤكَلُ مَا اَصَابَهُ البَندُوقِيّةُ اِذَا مَاتَ مِنهَا .

تشريح : دغَشِي تِيرَه خُوَا پر بنكار نَه ده لګېدلي بلكه هغه د لَرګِي(تختې)خُوَا پر لګېدلې ده او بنكار ګواكه د لَرګِي د دَبَاؤ(جَټكې)څخه مَړ شو نونَه خُوَرَل كيږي .
وجه : (۱) بنكار نَه دئ زخمي شوئ لِهٰذَا ذَبحِ اِضطِرَارِي هم نَه ده ثابته شوې.د آيت په رَنَا كي دا **مَوقُوذَةٌ** ده يعني چي سره كښېكښلې وي او وَژلې وي نو ځكه دا حلال نَه ده. آيت دادئ حُرِّمَت عَلَيكُمُ المَيتَةُ وَالدَّمُ وَلَحمُ الخِنزِيرِ وَمَا اُهِلَّ لِغَيرِ اللهِ بِهِ وَالمُنخَنِقَةُ وَالمَوقُوذَةُ وَالمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا اَكَلَ السَّبُعُ اِلاَّ مَا ذَكَّيتُم وَمَا ذُبِحَ عَلْي النَّصُبِ (الف) (آيت ۳ سورة المائدة:۵) په دې آيت كي مَوقُوذَة يعني چي په كښېكښلو سره وَژَلې وي هغه

يې حرام کړي ده (۲) په حديث کې په څو کرتّه صراحةً تېرشوي دي عَن عَدِيّ بنِ حَاتَمٍ قَالَ سَألتُ رَسُولَ اللهِﷺعَنِ المِعرَاضِ فَقَالَ اِذَا اَصَبتَ بِحَدِّهِ فَكُل فَاِذَا اَصَابَ بِعَرضِهِ فَقَتلٌ فَاِنّهُ وَقِيذٌ فَلاَ تَأكُل (ب) (بخاري شريف.باب صيدالمعراض ص۸۲۳ نمبر۵۴۷۶) ددې حديث څخه معلوم شو چې که دغَشِي د پُسَارَه(پَخَه)خوا پر وَمُښتَه نو بيا هغه ښکار نَه خوړل کيږي.ځکه چې دا وَقِيذ شو يعني په دَبَاؤ او کښېکښلو سره مَړ دئ.او هغه د څُوکِي يعني تېره خُوَا پر ولګيږي نو خوړل کيږي.ځکه چې دا ذَبحِ اِضطِرَارِي ده.او په تېر شوي حديث کې ددې ثبوت سته. اِذَا اَصَبتَ بِحَدِّهِ فَكُل

[۲۵۹۳](۱۴) نَه خُوَړَل کيږي کوم چې غُلَيل ګَتَئ پر مُښَتَئ وي که هغه ددې څخه مَړ شي .

حاشيه : (الف) پرتاسو حرام سوي دي مَړسوئ.وېښَه.د خنزير غُوښه او کوم چې د الله څخه علاوه دبل پر نوم حلال سوئ وي.تر غَارَه نيولئ وي وَژَلَئ وي.په لَرګِي يې وَهَلَئ وي.د لُوَړ ځائ څخه رَايَلَه کړئ وي وَژَلَئ يې وي.په ښکر يې وَهَلَئ وي او چې خِيرَوُنکُو حيوانانو خُوَرَلَئ وي مګر هغه چې تاسو يې ذَبح کړئ او چې دبُتَانُو پر نوم حلال سوئ وي هغه ټول حرام دي(ب) مَا دحضورﷺڅخه دغَشِي په اړه پوښتنه وکړه.حضور وفرمايل که په تِيرَه خوا سره ولګيږي نو وَخُورَه او که د پَسَاره خوا ولګيږي او قتل يې کړي نوهغه وَقِيذ د ئ مَه خُورَه .

تشريح : په تېره زمانه کې ګُول ګُول دخَټُو څخه ګُولَئ جوړولې او په غُلُول(غُلَيل) يې بيا هغه ګولئ تَسَوَلي او ښکار يې په کاوئ.نوځکه هغه دخَټُو ګولئ ښکار نَه زخمي کاوئ بلکه د مَوقُوذَة يو شِکل وُ يعني غُوَښِي او هَډُوکي به مَيدَه شول او ښکار به مَړ شو.نو په دې صورت کي د ذَبحِ اِضطِرَارِي شکل نَه شو لِهْذَا دا ښکار حلال نَه دئ .

وجه : په اَثَرکي راغلي دي عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّهُ كَانَ يَقُولُ فِي المَقتُولَةِ بِالبَندُقِيّةِ تِلكَ المَوقُوذَةُ (الف) (بخاري شريف.باب صيدالمعراض ص:۸۲۳،نمبر۵۴۷۶/ سنن للبيهقي.باب الصيديرمي بحجراو بَندوقِيّة ج ۹،ص:۴۱۷ نمبر۱۸۹۴۶/ مصنّف ابن ابي شيبة ۲۱ في البندوقِيّة والحجر يرمي به فيقتل ماقالوا في ذالک،ج۴،ص:۲۵۲،نمبر۱۹۷۲۴) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې د غُلَيل(غُلُول)په ګټي وِشتَل شوئ ښکار مَوقُوذَة دئ نوځکه حرام دئ.په بخاري شريف کي ددې ثبوت سته ځکه چې هلته د ,,خَذَف,, لفظ استعمال شوئ دئ چې د غُلَيل معنْي ورکوي.حديث دادئ عَن عَبدِاللهِ بنِ مُغَفّلٍ اَنّهُ رَأي رَجُلاً يَخذِفُ فَقَالَ لَهُ لاَتَخذَف فَاِنّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهْي عَنِ الخَذفِ اَو كَانَ يُكرِهُ الخَذفَ وَقَالَ اِنّهُ لاَيُصَادُ بِهِ صَيدٌ وَلاَيَنكَاءُ بِهِ عَدُوٌ وَلٰكِنّهَا قَد تَكسِرُ السِّنّ وَتَفقَاءُ العَينُ (ب) (بخاري شريف.باب الخذف والبندوقيّة ص:۸۲۳ نمبر۵۴۷۹) ددې حديث د اِشَارې څخه معلوم شو چې په ګولئ ښکار نَه سي کېدلائي يعني په ګولئ شوئ ښکار حلال نَه دئ .

پام لرنه : که چيري په نَن زمان کي د تُوپَک(توپک.کلاشِنکوف.کالاکوف. کرينکوف)ګولئ نُوکدَارَه(تېز)وي چې ښکار په زخمي کېدلائي سي لکه څه رنګه چې غَشَئ ښکار زخمي کوي نو بيا په دا دَوَل ګولئ ښکار کول حلال دئ.ځکه چې دا مَوقُوذة نَه دئ د ذَبحِ اِضطِرَارِي په درجه کئ دئ .

حاشيه : (الف) حضرت ابن عمر فرمايي چي دغُلبل مقتول(وَژَلَئ)داسي دئ لكه مَيدَه كړئ وَژَلَئ (ب) حضرت عبدالله بن مُغَفَّل فرمايي چي يو سړئ يي وليدئ چي خَذَف(تُوكړي)غُورزَوَل نو ده ته وويل چي تُوګړي مَه غورزوه ځكه چي حضورد تُوګرُو د غورزولو څخه منع كړي ده،يايي دارنګه وفرمايل چي تُوګړي غورزول يي نَاخُوَښوَل.بيايي وفرمايل چي په دي سره بنكار هم نَه كيږي او نَه دُښمَن په مغلوب كيږي لېكن غَابِن ماتوي او سَتَرګي باسي .

[۲۵۹۴](۱۵) وَ اِذَا رَمْي صَيداً فَقَطَعَ عُضواً مِنهُ أُكِلَ الصّيدُ وَلَم يُؤكَلِ العُضوُ [۲۵۹۵](۱۶) وَ اِذَا قَطَعَهُ اَثلاَثًا وَالاَكثَرُ مِمّا يَلِيَ العِجزَ أُكِلَ الجَمِيعُ وَاِن كَانَ الاَكثَرُ مِمّا يَلِيَ الرّأسُ أُكِلَ الاَكثَرُ .

اصول : هره هغه ګولئ.ډبره.لَرګئ.وَسپِينَه چي تېز څُوک لري او شَئ زخمي كوي چي په هغه يي وَولِي زخمي يي كړي نو حلال دئ.او كه چيري نَه سي زخمي كولائي بلكه غُوَښَه مَيدَه مَيدَه كړي نو بيا حلال نَه دئ .

[۲۵۹۴](۱۵) كه بنكار په غَشِي وَوِشتَئ او دهغه څخه يَو اَندَام پرېكړئ نو بنكار به خوړل كيږي او اَندَام به نَه خوري .

تشريح : بنكار يي په داسي شان په غَشِي وَوِشتَئ چي مثلاً دهغه پُښَه پرې شوه او دبنكار څخه بېله(جلا)شوه نو حيوان يعني دغه بنكار حلال دئ او عُضويعني اَندَام مثلاً دغه پرې سوې پُښَه اُوس حلال نَه ده .

وجه : په حديث كي دئ عَن اَبِي وَاقِدِ اللّيثِيّ قَالَ قَدِمَ النّبِيّ ﷺ اَلمَدِينَةَ وَهُم يَجِبّونَ اَسنِمَةَ الإبِلِ وَيَقطَعُونَ اِليَاتَ الغَنَمِ فَقَالَ مَا قُطِعَ مِنَ البَهِيمَةِ وَهِيَ حَيّةٌ فَهُوَ مَيتَةٌ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء ماقطع من الحيّ فهومَيّتٌ،ص:۲۷۳نمبر۱۴۸۰/ ابوداؤدشريف.باب اذا قطع من الصّيدقِطعَة ج۲،ص:۳۸نمبر۲۸۵۸) ددې حديث څخه معلوم سوچي د ژُوَندِي حيوان يو اَندَام پري كړي نو هغه اَندَام حلال نَه دئ.دغه رنګه كه چيري په غَشِي وَوِشتَئ او د بنكار پُښَه پرې شوه او ځيني جلال(بېله)شوه او بنكار مَړ شو نوپُښَه نَه ده حلالَ البته دا پاته بنكار حلال دئ .

[۲۵۹۵](۱۶) او كه بنكار اَثلاَثًا پرې كړئ او ډبره خُوَا يې د كُونَاتِي سره مُبنَتي ده نوټول به خوړل كيږي او كه ډبره خُوَا دسَر سره مُبنَتي وه نو ډبره خُوَابه خوړل كيږي .

حاشيه : (الف) حضورمدينه ته راغلئ خلګو به د وُښ بُوک پرې كاوئ او د ميږي لم به پرې كاوئ نوحضور وفرمايل د ژُوَندِي حيوان چي كوم اَندَام پرېكړل سي هغه د مَړي په درجه كي دئ يعني خُوَرَل يي حرام دئ .

تشريح : بنكار يې په غَشِي دوې ټكړې كئ په دا دَوَل چي يوه حِصّه ډبره او بَلَه حِصّه لَرې ده.مثلاً يَو طرف ته يوه حِصّه او بَل طرف ته دُوې حِصّي.يعني دبنكار د مَخ او شَا پُښې نَه دي پرې شوي بلكه ټوله بدن يې دُوې ټكړې شو.اُوس دلته اُصُول دادئ چي سَر د بَدَن سره لګېدلئ دئ او چي سَر پري سي ذَبحِ راځي.او چي د بَدَن څخه سَر جلا سي نو سَر هم حلال دئ او بَدَن هم حلال دئ.نو ځكه كه چيري د

كُوَنَاتِي وخوا ته څېرمَه دُوې حِصّې بَدَن وُ او د سَر وخوا ته څېرمَه يوه حِصّه بَدَن وُ نو د سُرِين(يعني كُوَنَاتِي)خُوَا هم حلال ده او د سَر خُوَا هم حلال ده .

وجه : (١) ګواكه سَر يې ذَبحَ(حلال)كړئ دئ.او په دا ډَوَل يې ذَبح كړئ چې د سَر سره د بَدَن څَه حِصّه هم پرې شوې ده او بَدَن د سَرځخه جلا وي نو سَر او بَدَن دواړه حلال دي دغه ډَوَل دلته هم كُوَنَاتِئ او سَر دواړه حلال دي (٢) په اَثَركي ددې ثبوت سته اَخبَرَنَا الثّورِيّ قَالَ اِن قَطَعَ الفَخذَينِ فَاَبَانَهُمَا لَم يُؤكَلِ الفَخِذَينِ وَ اُكِلَ مَا فِيهِ الرّأسُ فَاِن كَانَ مَعَ الفَخِذَينِ مَايَكُونُ اَقَلّ مِن نِصفِ الوَحشِ لَم يَأكُلهُ وَ اُكِلَ مَا يَلِيَ الرّأسُ فَاِن اِستَوْي النِّصفَانِ اُكِلَهُمَا جَمِيعًا وَكُل مَازَادَ مِن قِبَلِ الرّأسِ وَهُوَ قَولُ اَبِي حَنِيفَةَ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب الصيديقطع بعضه ج٤ص٤٦٣نمبر٨٤٧١) په دې حديث كې ټوله تفصيل راغلئ دئ چې كه د سُرِين(يعني كُونَاتِي)وخُوَا ته زياتَه حصّه وي نو سَر او سُرِين دواړه خوړل كيږي.كه د سَر خوا زياته او د سُرِين خوا ګمَه وي نو د سَر خوايې حلال ده او د سُرِين خوايې حلال نَه ده (٣) په يوه بَل اَثَري راغلي دي عَن عَلِيٍّ قَالَ يَدَعُ مَا اَبَانَ وَيَأكُلُ مَابَقِيَ فَاِن جَزّ لَهُ جَزلاً فَلْيَأكُل (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٨في الرّجل يضرب الصيدفَيُبِينُ منه العُضوج٤ص٢٤٩نمبر١٩٦٩٥/مصنّف عبدالرزاق.باب الصيديقطع

حاشيه : (الف) حضرت ثوري وفرمايل كه دحيوان څخه دواړه وُرَنُونَه پرې كړل او جلا يې كړل نو وُرَنُونَه به نَه خوړل كيږي.او سَر چې په كومه خُوَا دئ هغه خوا به خوړل كيږي.نو كه چيري د وُرُون سره د وَحشِي د نِيمَئ څخه ګم حِصّه وي نو وُرُون دي نَه خوري او چې د سَر سره مُوښَتې حِصّه ده هغه به خوړل كيږي.كه چيري دواړه نِيمَئ نِيمَئ سره برابر وي نو دواړې حِصّې به خوړل كيږي او د سَر خوا ته زياته وي نو خُورَه يې.دغه د امام ابوحنيفه قول دئ (ب) دحضرت علي څخه نقل سوئ دئ چې څَه د حيوان څخه بېل(جلا)سي هغه دي پرېږدي او پاته حِصّه دي وَخُورِي.كه چيري برابر برابر دوې ټكړې كړئ نو وَدې خُورِي .

بعضه ج٤ص٤٦٣نمبر٨٤٧٠) په دې اَثَركي د جَزَلَهُ جَزلاً مطلب دادئ چې بښكار دوې نِيمَئ نِيمَئ حِصّې سي نو دواړې حلال دي.لِهْذَا كه د سُرِين(كُوَنَاتِي)خوا زياته سي نو هغه حِصّه به په طريقه اَولْي سره خوړل كيږي.او د سَرحِصّه به په دې وجه خوړل كيږي چې هغه خوا ذَبحَ شوې ده .

او كه د سَر خوا ته تر نِيمَئ زياته حِصّه پرې سي او د سُرِين(كُوَنَاتِي)خواته تر نِيمَئ ګمَه حِصّه پاته سي نو دا به داسي ګڼل كيږي لكه د ژُوَندِي حيوان څخه چې يَو اَندَام پرې سي او جلا سي.او مخته په حديث كي تېر شو چې كه د ژُوَندِي حيوان څخه يَو اَندَام پرې سي نو هغه حلال نَه دئ دغه رنګه دا د سُرِين(كُوَنَاتِي)خوا هم حلال نَه ده .

وجه : په تېرشوي اَثَركي دحضرت ثوري دا قول تېرشو فَاِن كَانَ مَعَ الفَخِذَينِ مَايَكُونُ اَقَلّ مِن نِصفِ الوَحشِ لَم يَأ كُلهُ وَ اُكِلَ مَا يَلِيَ الرّأسَ (الف) (مصنّف عبدالرزاق. نمبر٨٤٧١) په دې اَثَركي دئ چې كه د سُرِين خوا ته ګم او د سَر خواته زيات وُ نو دغه د سُرِين(كُوَنَاتِي)خوا حلال نَه ده او دسَر خوا يې حلال ده .

فائده : امام شافعي فرمايي كه د ښكار يو اَندَام په دا دَوَل پري شو چي ښكار ژُوَندَئ دئ او دهغه د مَخ يا د شَا پُښې يا د كُوَنَاتِي خوا جلا شوه او پرې شوه نو هغه به د تېرشوي حديث لكبله نَه خوړل كيږي.لېكن كه دښكار د مَخ يا د شَا پُښې پرې شوې او سَم دَستِي په هغه ګړي ښكار هم مَړ شو او پر مځكه رايَلَه شو نو ښكار هم حلال دئ او هغه د مَخ يا د شَا پرې شوي پُښې يې هم حلال دي .

وجه : (١) په تېرحديث كي دئ چي كه د ژُوَندِي ښكار څخه يو اَندَام پرې كړئ نو هغه اَندَام حرام دئ. مَاقُطِعَ مِنَ البَهِيمَةِ وَهِيَ حَيّةٌ فَهِيَ مَيتَةٌ (ب) (ابوداؤدشريف،نمبر٢٨٥٨) او دا خو د ژُوَندِي څخه نَه ده جلا شوې بلكه د مُردَه ښكار

حاشيه : (الف) كه چيري د وُرُون سره د وَحشِي د نِيمَئ څخه ګم حِصّه وي نو وُرُون دي نَه خوري او چي د سَر سره مُوښَتي حِصّه ده هغه به خوړل كيږي (ب) حضور ﷺ وفرمايل د ژُوَندِي حيوان چي كوم اَندَام پرېكړل سي هغه د مَړي په درجه كي دئ يعني خُوَرَل يې حرام دئ .

[٢٥٩٦](١٧) وَلاَيُؤكَلُ صَيدُ المَجُوسِيِّ وَالمُرتَدِ وَالوَثَنِيِّ .

څخه دمَخ او شَا پُښې يا سُرِين(كُوَنَاتِئ)جلا شوي دي.نوځكه د مَخ.د شَا پُښې او سُرِين به هم خوړل كيږي (٢) په اَثَركي ددې ثبوت شته عَنِ الحَسَنِ فِي رَجُلٍ ضَرَبَ صَيداً فَاَبَانَ مِنهُ يَداً اَو رِجلاً وَهُوَ حَيّ ثُمّ مَاتَ قَالَ يَأ كُلُهُ وَلاَيَأ كُلُ مَا اَبَانَ مِنهُ اِلاّ اَن يَضرِبَهُ فَيَقطَعَهُ فَيَمُوتُ مِن سَاعَتِهِ فَاِذَا كَانَ ذَالِكَ فَلَيَأ كُل كُلّهُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٨ في الرّجل يضرب الصيدفيُبين منه العضوُص٢٥٠نمبر١٩٦٩٨) په دې اَثَركي دئ چي په يوه وخت ښكار مَړ وي نو دواړې حِصّي حلال دي.او دجَزَلَهُ جَزلاً هم دغه مطلب دئ .

لغت : اَلعَجزُ : سُرِين.كُوَنَاتِئ. بَلِي : سره ملاؤ وي.سره ګډ وي.يو ځاى وي .

[٢٥٩٦](١٧) او نَه به خوړل كيږي دمجوسي او دمُرتَد او دبُت پرست ښكار .

تشريح : مجوسي يا مُرتَد يا بُت پرست دخپل سُپي په ذريعه يا په غَشِي ښكار وكړئ او دمسلمان د ذَبحِ كولو څخه مخكي هغه مَړ شونوهغه ښكار حلال نَه دئ .

وجه : (١) دغه خلګ مسلمانان هم نَه دي او اَهلِ كِتَاب هم نَه دي نو لكه څَه رنګه چي ددې خلګو ذَبِيحَه حلال نَه ده دغه رنګه د دُوئ ښكار هم حلال نَه دئ (٢) په حديث كي دئ چي دښكار كولو پر محال او په آيت كي راغلي دي چي د ذَبح كولوپر محال بِسمِ الله وَلوَلِي نو بيا حلال دئ.او دغه كسان خو پر بِسمِ الله باندي اِعتِقَاد هم نَه لري نو ځكه كه چيري دُوئ بِسمِ الله وَلوَلِي هم ددُوئ لُوَستَل كوم خاص اِعتِبَار نَه لري نوځكه ښكار حلال نَه دئ.په آيت كي دئ وَلاَ تَأ كُلُوا مِمّا لَم يُذكَر اِسمُ اللهِ عَلَيهِ وَ اِنّهُ لَفِسقٌ (ب) (آيت ١٢١ سورة الانعام ٦) ددې آيت څخه معلوم

حاشيه : (الف) حضرت حسن وفرمايل چاچي ښكار په غَشِي وَوِشتَئ دهغه څخه لاَس يا پُښې بيلي شوې په داسي حال كي چي ښكار ژُوَندَئ دئ بيا ښكار مَړ شو وفرمايل چې هغه دي وَخُوري او كوم اَندَام چي بِيل شوئ دئ هغه دي نَه خوري مګر كه چيري ښكار په غَشِي وَولِي او اَندَام يې پري شي او په هغه وخت ښكار هم مَړ شي،كه چيري دغه رنګه وي نو تولَه دي وخوري.يعني چي اَندَام يې پري شي په هغه ګړي ښكار شوئ حيوان هم

مَړ شي نو عُضوَ(يعني پرې شوئ اَندَام) او دغه حَيوان دواړه دي وخوري (ب) پر کوم چې بِسمِ الله نَه وي لُوستَلي هغه حيوان مَه خورئ ځکه چې دا فِسق دئ.

[۲۵۹۷](۱۸) وَمَن رَمْي صَيداً فَاَصَابَهُ وَلَم يُثْخِنهُ وَلَم يُخرِجهُ مِن حِيّزِ الاِمتِنَاعِ فَرَمَاهُ آخَرُ فَقَتَلَهُ فَهُوَ لِلثّانِي وَيُؤكَلُ .

شو چې که بِسمِ الله نَه وي لُوستَلي هغه مَه خورئ.او دښکار حديث خو په څو کرته مخکې تېر شوئ دئ نوځکه ددې خلګو ښکار حلال نَه دئ (۳) په اَثَرکي دئ عَن جَابِرٍ قَالَ نَهْي ذَبِيحَةَ المَجُوسِيّ وَصَيدَكَلبِهِ وَطَائِرِهِ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في صيدالمجوسيّ ج۹ ص۴۱۱نمبر۱۸۹۲۶/ مصنّف ابن ابي شيبة ۷ في صيدكلب المشرک والمجوسي واليهوديّ والنّصرانِيّ ج۴ ص۲۴۲نمبر۱۹۶۰۹) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې دمجوسي او دده په تَبعِ کي د مُرتَد او بُت پرَست ښکار حلال نَه دئ .

[۲۵۹۷](۱۸) يوچا ښکار په غَشِي وَوِشتَئ او پر هغه وَمُوښتَئ لېکن هغه يې بې قَابُو نه کړئ نَه يې هغه دخپل ځان د ساتني څخه وَيَاستَئ بيا بَل چا هغه ښکار په غَشِي وَوِشتَئ او هغه يې قتل کړئ نو ښکار به ددې دُوَم وي او خوړل کيږي به .

تشريح : يوه سړي ښکار په غَشِي وَوِشتَئ هغه پر وَمُوښتَئ لېکن خو بيا هم ښکار وَتَښتېدئ بې قابو نَه سو لکه څَه رنګه چې يو صحيح او سَالِم ښکار ځغلي نو ځکه دا د عام ښکار په شان دئ او مخکنئ ښکار نَه دئ.اُوس چې بَل دوم سړي په غَشِي وَوِشتَئ او مړ يې کړئ نو ښکار ددې دوم سړي دئ.او دې دوم سړي خو بِسمِ الله لُوستَلې ده او قتل کړئ دئ نوځکه دا ښکار حلال دئ .

وجه : (۱) د اَوّل سړي د وِشتَلُو څخه ښکار رُوغ رَمَټ پاته شو.بې قابو شوئ نَه دئ نوځکه دا دهغه اَوّل وِشتُونکي سړي نَه دئ.ځکه چې ښکار دهغه چا مِلکِيّت ګرزي کوم چاچې ښکار بې قابو کړئ وي چې اُوس يې په آساني سره نِيوَلاَئي سي.او دې دُوَم سړي ګواکه صِحّتمَند ښکار په غَشِي وَژَلَئ دئ نوځکه دا ښکار د دې دُوَم سړي دئ.او دښکار په دَورَان کي مَړ دئ نوځکه حلال دئ (۲) دا چې دا ښکار دې

حاشيه : (الف) حضرت جابر فرمايي منع کړې ده دمجوسي د ذَبِيحې څخه او دهغه د سُپې دښکار څخه او دهغه د مَرغَه دښکار کړي حيوان څخه .

[۲۵۹۸](۱۹) وَاِن كَانَ الاَوّلُ اَثخَنَهُ فَرَمَاهُ الثّانِيّ فَقَتَلَهُ فَهُوَ لِلاَوّلِ وَلَم يُؤكَل .

دوم سړي وِشتَلَئ دئ دليل يې دا حديث دئ. عَن اَبِيهَا اِسمَر اِبنِ مَضرَس قَالَ اَتَيتُ النّبِيّ فَبَايَعتُهُ قَالَ مَن سَبَقَ اِلْي مَا لَم يَسبِقهُ اِلَيهِ مُسلِمٌ فَهُوَ لَهُ (الف) (ابوداؤدشريف. باب في اقطاع الارضين ص۷۸نمبر۳۰۷۱) دا حديث که څَه هم د غَيرآباد او وَچې وَلکي مځکي په اړه راغلئ دئ لېکن د عام جُملې څخه اِستِدلاَل کېدلائي سي چې دعام مسلمانانو لپاره

چي کوم شَئ مُبَاح وي هغه چي هر څوک واخلي دهغه مِلکِيّت ګرزي.نوځکه هر څوک چي ښکار وَولِي ښ قابو يې کړي دهغه مِلکِيّت ګرزي .
[۲۵۹۸](۱۹) که چيرې مخکني سړي ښ قابو کړئ وي بيا دُوَم سړي وَوِشتَئ اومَړ يې کړئ نو ښکار به د اَوّلنِي سړي وي لېکن نَه خُوَرَل کيږي .
تشريح : اَوّلِنِي سړي ښکار دومره وَوِشتَئ چي ښ قابو شو او دځغستا قَابِل نَه شو پاته.نوځکه په حقيقت کي دا ښکار دده شو.وروسته بَل دُوَم سړي په غَشِي ووشتئ او مَړ يې کړئ نو ددې دُوَم سړي نَه دئ ځکه چي اَوّلَنِي سړي ښ قابو کړئ دئ او ښکار دهغه ګرزېدلئ دئ .
وجه : حيث مخته تېرشوئ دئ .
او خوړل کيږي په دې وجه نَه.چي ښکار ژُوَندَئ دده لاَس ته راغلئ وُ.نو ده ته په کار وُ چي ذَبح(حلال)کړئ وائ بيايې خوړلئ وائ لېکن د ذَبحِ حقيقي پر ځائ يې په غَشِي هلاک کړئ نوځکه حلال نَه دئ .
وجه : (۱) حديث مخته تېرشوئ دئ عَن عَدِيّ بِنِ حَاتَمٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ اِذَا اَرسَلتَ کَلبَکَ فَاذکُرِاسمَ اللهِ فَاِن اَمسَکَ عَلَيکَ فَادرَکتَهُ حَيًّا فَاذبَحهُ (ب) (مسلم

حاشيه : (الف) زه حضورﷺ ته راغلم او دده سره مِي بَيعَت وکړئ،حضورﷺ وفرمايل کوم شِي ته چي بَل مسلمان نَه وي مخته شوئ څوک چي مخته شي هغه واخلي نو هغه دهغه دئ (ب) حضرت عدي فرمايي چي مَاتَه حضورﷺ وفرمايل که خپل سُپَئ پر ښکار وَرِيَلَه کړي او بِسمِ الله ووايي.نوکه چيرې ستا لپاره ونيوئ او ژُوَندَئ مو وموندئ نو هغه حلال کړه .

[۲۵۹۹](۲۰)وَالثّانِي ضَامِنٌ لِقِيمَتِهِ لِلاَوّلِ غَيرَمَانَقَصَتهُ جَرَاحَتُهُ [۲۶۰۰](۲۱)وَيَجُوزُاِصطِيَادُمَايُؤکَلُ لَحمُهُ مِنَ الحَيوَانِ وَمَالاَيُؤکَلُ

شريف.باب الصّيدبالکلاب المعلّمة ص۱۴۵نمبر۱۹۲۹/ ۴۹۸۱) (۲) او په اَثَر کي دئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِذَا اَخَذتَ الصّيدَ وَبِهِ رَمَقٌ فَمَاتَ فِي يَدِکَ فَلاَ تَأ کُلهُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۸ الرّجل يأخذالصيدوبه رمقٌ ج۴ص۲۴۳نمبر۱۹۶۲۵) ددې حديث او اَثَرڅخه معلوم شو چي په هغه ښکار کي لَږ څَه رَمَق(لَږڅه ژُوَند)پاته وُ نوځکه ده ته په کار وُ چي ذَبح کړئ وائ لېکن قتل يې کړئ ځکه حلال نَه دئ .
[۲۵۹۹](۲۰) او دُوَم سړئ به د اَوّل لپاره ضَامِن وي علاوه دهغه څخه کوم چي نُقصَان يې کړئ دئ دده زخمي کولو .
تشريح : ښکار په مُکَمّله توګه د اَوّل سړي مِلکِيّت ګرزېدلئ دئ لِهْذَا که چيرې دې دُوَه سړي ښکار هلاک کړئ نو پر ده لازم دئ چي اَوّل سړي ته تَاوَان اداء کړي.البته دا ښکار هغه اَوّل سړي زخمي کړئ دئ نو دې ته به ګورو چي د زخمي کولو وروسته د ښکار قيمت څو پاته شوئ دئ؟ بَس هغه قيمت به لازم شي.مثلاً که چيرې دا حيوان صحيح او سَالِم وائ نو قيمت يې لَس دِرهَم و او د زخمي کېدو

وروسته دهغه قيمت څلور دِرهَم پاته شو نو پر دې دُوَم سړي به څلور دِرهَم لازم شي. ځکه چې هغه اَوّل سړي په خپله زخمي کړئ او دښکار قيمت يې ګم کړئ .
اصول : دا مسئله پر اُصُول مُتَفَرّع ده چې ښکار د اَوّلنِي سړي مِلکِيّت ګرزېدلئ دئ. او دوم اُصُول دادئ چې دُوَم سړي چې په څونه اندازه ضائع کړئ دئ په هغونه اندازه تَاوَان لازميږي زيات نَه لازميږي .
[۲۶۰۰](۲۱) او ښکار کول جائز دئ دهغه حيوان چې غُوَښَه يې خُوړَل کيږي.او دهغه چې غُوَښَه يې نَه خوړل کيږي .

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل که ښکار په داسي حال کي ونيسي چې دده د ژُوَند څَه رَمَق پاته وي او ستا په لاَس کي مَړ شي نو هغه مَه خورئ .
تشريح : دکومو حيوانانو چې غُوَښِي خوړل کيږي دهغه ښکار هم کولائي شي او د کومو حيوانانو چې غُوَښِي نَه خوړل کيږي دهغه ښکار هم کولائي شي .
وجه : (۱) په آيت کي دئ وَ اِذَا حَلَلتُم فَاصطَادُوا (الف) (آيت ۲ سورة المائده: ۵) په دې آيت کي د ښکار کولو حُکم عام دئ هغه حيوانانو ته هم کوم چې غُوَښې خوړل کيږي او هغه حيوانان هم پکښې شامل دي کوم چې غُوَښې نَه خوړل کيږي.نوځکه د دواړو ښکار کول حلال دئ (۲) ښکار صرف د غُوَښِي د خوړلو لپاره نَه کيږي بلکه د پُوست.ببښتَان(وِببښتَان) او هَډُوکُو لپاره هم ښکار کيږي نوځکه د غَيرِمَأکُولُ اللّحم ښکار هم حلال دئ. هيڅ مَمَانَعَت يې نسته .
لغت : اِصطَادَ : دصَيدٌ څخه مُشتَق دئ.دلته د اِفتِعَال د باب څخه راغلئ دئ. معنْي يې ده ښکار کول .

حاشيه : (الف) چي کوم وخت تاسو حلال شئ نو بنکار کولائي شئ .

[۲۶۰۱](۲۲) وَذَبِيحَةُ المُسلِمِ وَالكِتَابِيِّ حَلاَلٌ .

﴿... بَابُ الذَّبِيحَةِ ... ﴾

[۲۶۰۱](۲۲) د مسلمان او كِتَابِي ذبيحه حلال ده .

تشريح : مسلمان چي بِسمِ الله ووايي او ذَبح کړي نو حيوان حلال دئ دغه رنګه اَهلِ كِتَاب يعني يهودي او نصراني چې بِسمِ الله ووايي او ذَبح کړي نوذبيحه يې حلال ده .

وجه : (۱) په آيت کي دئ اَلَيومَ اُحِلّ لَكُم الطَّيِّبَاتُ وَطَعَامُ الَّذِينَ اُوتُوا الكِتَابَ حِلّ لَكُم وَطَعَامُكُم حِلّ لَهُم (الف) (آيت ۵ سورة المائدة: ۵) په دې آيت کي دئ چي کومو خلګو ته چي کتاب وركول شوئ دئ يعني يهود او نصاري د دُوئ ډُوډَئ چي مُراد ځيني ذَبِيحَه ده ستاسو لپاره حلال ده (۲) عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ طَعَامُهُم ذَبَائِحُهُم (ب) (بخاري شريف.باب ذبائح اهل الكتاب وشحومهامن اهل العرب وغيرهم ص۸۲۸نمبر۵۵۰۸/ سنن للبيهقي.باب ماجاء في طعام اهل الكتاب ج۹ ص۴۷۴نمبر۱۹۱۵۲) ددې اَثَرځخه معلوم شو چي په آيت کي د اَهلِ كتاب د طَعَام ځخه مراد د دُوئ ذَبِيحَه ده .

پام لرنه : د يُورَپ عيسايان په عمومي توګه دَهرِيَان دي او د ذَبح کولو پر وخت بِسمِ الله نَه ووايي کوم چي د مسلمان لپاره هم ضروري ده نوځکه د دُوئ د ذبيحې ځخه اِحتِيَاط ضروري دئ .

وجه : (۱) په اَثَرکي دئ وَقَالَ الزّهرِيِّ لاَ بَأسَ بِذَبِيحَةِ نَصَارْي العَرَبِ وَاِن سَمِعتَهُ يُسَمّيْ لِغَيرِ اللهِ فَلاَتَأكُل (ج) (بخاري شريف.باب ذبائح اهل الكتاب وشحومها من اهل الحرب وغيرهم ص۸۲۸نمبر۵۵۰۸) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي د الله ځخه د علاوه بَل چا نوم

حاشيه : (الف) نَن ستاسو لپاره پاک شيان حلال کړل شوي دي او د اَهلِ كِتَاب ذبيحه هم حلا شوي ده او ستاسو ذَبِيحَه د دُوئ لپاره حلال ده (ب) او حضرت ابن عبّاس فرمايي چي په آيت کي د طَعَامٌ ځخه مراد د اَهلِ كِتَاب ذبيحه ده (ج) حضرت زهري وفرمايل د عربُ د نَصَارْي د ذبيحې په خوړلو کي کوم حرج نشته.او که چيري تاسو وَاوْرَئ چي د الله ځخه علاوه د بَل چا نوم د حلابدو پر وخت اَخلِي نو مَه خورئ .

[۲۶۰۲](۲۳) وَ لاَ تُؤكَلُ ذَبِيحَةُ المُرتَدّ وَ المَجُوسِيِّ وَ الوَثَنِيِّ وَ المُحرِمِ .

واخلي نو مَه خورئ او ددې ځخه دا هم معلوم شو چي که بِسمِ الله نَه ووايي نو حلال نَه دئ.او د يُورَپ عيسايان بِسمِ الله نَه ووايي نوځکه د دُوئ ذبيحه هم حلال نَه ده (۲) په اَثَر کي دئ اَنّ عُمَرَ بنِ الخَطّابِ قَالَ مَانَصَارِي العَرَبِ بِاَهلِ الكِتَابِ وَمَا تَحِلّ لَنَا ذَبَائِحُهُم وَمَا اَنَا بِتَارِكِهِم حَتّي يُسلِمُوا اَو اَضرِبَ اَعنَاقَهُم (الف) (سنن للبيهقي.باب ذبائح نصاري العرب ج۹ ص۴۷۸نمبر۱۹۱۶۹) چي د عَرَبُ نصاري د اَصحَابَانُ په وخت کي هم اَهلِ كِتَاب نَه وُ نو د نَن زمانې د يُورَپ عيسايان ځَه رنګه مسلمانان شول؟ .

[۲۶۰۲](۲۳) دمُرتَد.مجوسي.بُت پرست او دمُحرِم ذبيحه نَه خوړل کيږي .

تشريح : دا خلګ مسلمانان هم نَه دي او نَه اَهلِ كِتَاب دي بلكه كافران دي نوځكه د دُوئ ذبيحه حلال نَه ده .
وجه : (١) دا خلګ نَه د بِسمِ الله د وَينَا عقيده لري او نَه د دُوئ د لُوستَلُو اِعتِبَار شته. او بِسمِ الله لُوَستَل ضروري ده.لِهْذَا حلال نَه ده (٢) په يوه مُرسَل حديث كي دئ عَنِ الحَسَنِ بِنِ مُحَمّدٍ بِنِ الحَنِيفَةَ قَالَ كَتَبَ رَسُولُ اللهِ اِلْي مَجُوسِ هَجرٍ يَعرِضُ عَلَيهِمُ الإسلاَمَ فَمَن اَسلَمَ قُبِلَ مِنهُ وَمَن اَبْي ضُرِبَت عَلَيهِمُ الجِزيَةَ عَلْي اَن لاَتُؤكَلُ ذَبِيحَةً وَلاَتُنكَحَ لَهُم اِمرَأةً (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاءفي ذبيحة المجوسي ج٩ص٤٧٨نمبر١٩١٧١/ دارقطني.كتاب الاشربة ج٤ ص١٩٧نمبر٤٧٥٥) ددې اَثَرځخه معلوم شو چي د مجوسي ذبيحه جواز نَه لري. او قياس پر دغه د مُرتَداو بُت پرست ذبيحه هم نَه ده حلالَ .

حاشيه : (الف) حضرت عمر وفرمايل د عَرَبُ نَصَارْي اَهلِ كِتَاب نه دي او د دُوئ ذبيحه حلال نَه ده او زه هغه نَه سم پرېښولائي يا دي اِسلاَم راوړي ياد دُوئ غَارِي(سرونه)پرېكوم (ب) حضور ﷺ د هَجر د مجوس په اړه وليكل چي پر دُوئ به اِسلاَم وړاندي كيږي.كوم چي د دُوئ څخه اِسلاَم راوړي هغه به قبليږي او چي كوم څوک اِنكار وكړي پر هغه به جِزيَه مُقَرّره كيږي په دې شرط چي د دُوئ ذبيحه به نَه خوړل كيږي او نَه به د دُوئ دښځو سره نكاح كيږي .
او دمُحرِم لپاره بنكار نِيوَل جواز نَه لري نوځكه دده ذبيحه هم جواز نَه لري .
وجه : په آيت كي دئ حُرِّمَ عَلَيكُم صَيدُ البَرِّ مَادُمتُم حُرُمًا (آيت ٩٦ سورة المائدة ٥). په بل آيت كي دئ يَا اَيّهَا الّذِينَ آمَنُوا لاَتَقتُلُوا الصّيدَ وَاَنتُم حُرُمٌ (الف) (آيت ٩٥ سورة المائدة ٥) ددې دواړو آيتو څخه معلوم شوچي مُحرم ته نَه دئ په كار چي بنكار وكړي ځكه چي پر ده باندي بنكار كول حرام دئ.اونَه به د بنكار كونكو مرسته كوي .
وجه : دحضرت ابوقتاده وُرِد حديث تېرشوئ دئ چي مُحرِم اِنسانانو دده مرسته وَنَه كړه. دحديث تِكړه داده عَن عَبدِاللهِ بِنِ اَبِي قَتَادَةَ ..... وَاستَعَنتُ بِهِم فَاَبَو اَن يُعِينُونِي (ب) (بخاري شريف.باب اذا صاد الحلال فاَهدْي للمحرم الصّيداكله ص:٢٤٥نمبر١٨٢١) ددې حديث څخه معلوم شوچي مُحرِم دي دښكار كونكي مرسته هم نَه كوي ..... او دا چي د مُحرِم كړئ بنكار حلال نَه دئ دهغه دليل دا اَثَر دئ سَألتُ الثّورِيّ عَنِ المُحرِمِ يَذبَحُ صَيداً هَل يَحِلّ اَكلُهُ لِغَيرِهِ؟ فَقَالَ اَخبَرَنِي لَيثٌ عَن عَطَاءَ اَنّهُ قَالَ لاَيَحِلّ اَكلُهُ لاَحَدٍ (ج) (مصنّف عبدالرزاق.باب الصيد وذبيحة التّربّص به ج٤ص٤٣٩نمبر٨٣٦١) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي دمُحرِم ذبح(حلال)كړئ بنكار د هيڅ يو چالپاره حلال نَه دئ .
فائده : اِمَامِ شافعي فرمايي چي دمُحرِم لپاره كه څَه هم بنكار كول حلال نَه دئ لېكن كه بنكار ذَبح كړئ د نورو لپاره هغه بنكار حلال دئ.هغه يې خوړلائي سي .
وجه : (١) مُحرِم مسلمان دئ نوځكه دده ذَبح كول جائز دئ (٢) په اَثَر كي دئ وَاَخبَرَنِي اَشعَثُ عَنِ الحَكَمِ بِنِ عُتَيبَةَ اَنّهُ قَالَ لاَبَأسَ بِاَكلِهِ (د) (مصنّف عبدالرزاق.باب الصيدوذبيحه والتربّص به ج٤ص٤٣٩نمبر٨٣٦١) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي دمُحرِم ذبيحه بَل څوک خوړلائي سي .

حاشيه : (الف) پر تاسو دخُشګئ (وَچي)بنکار حرام کړل شوئ دئ ترڅو چي تاسو مُحرِم ياست. په بَل آيت کي دئ. ائ مؤمنانو! بنکار مَه قتلوئ چي تاسو مُحرِمَان ياست (ب) حضرت ابوقتاده فرمايي... مَا دبنکار کولو لپاره د اصحَابَانُ ځخه مرسته طلب کړل.نو هغوئي دمرستي ځخه اِنکار وکړئ (ج) دحضرت ثوري ځخه دمُحرِم په اړه پوښتنه وشوه چي آيا هغه بنکار حلالولائي شي(ذَبح کولائي شي) او آيا د نورو لپاره ددە ذَبِيحَه حلال ده؟ وفرمايل مَاتَه حضرت لَيث خبر راکړئ دئ چي دهغه خوړل دهيڅ يو چا لپاره حلال نَه دئ (د) حضرت حکم بن عُتَيبه وفرمايل چي مُحرِم بنکار ذبح کړي نو د نورو لپاره په خوړلو کي کوم حرج نشته .

[۲۶۰۳](۲۴) وَ اِن تَرَکَ الذّابِحُ التّسمِيَةَ عَمَداً فَالذّبِيحَةُ مَيتَةٌ لاَتُؤکَلُ وَ اِن تَرَکَهَا نَاسِيًا اُکِلَ .

[۲۶۰۳](۲۴) که ذبح کونکي په قَصداً بِسمِ الله پرېښول نو ذبيحه مُردَه ده نَه به خوړل کيږي او که په هېره سره پرېښول نو خوړل کيږي به .

وجه : (۱) په آيت کي دئ که بِسمِ الله نَه وه لُوَستَلي نو مَه خورئ. وَلاَ تَأ کُلُوا مِمّا لَم يُذکَر اِسمُ اللهِ عَلَيهِ وَاِنّهُ لَفِسقٌ (الف) (آيت ۱۲۱ سورة الانعام:۶) (۲) د بنکار په بيان کي دا حديث مخته تېرشوئ دئ سَمِعتُ عَدِيّ بِنِ حَاتَمٍ ... قَالَ لاَتَأکُل فَاِنّکَ اِنّمَا سَمّيتَ عَلْي کَلبِکَ وَلَم تُسَمّ عَلْي الآخَرِ (ب) (بخاري شريف.باب صيدالمعراض ص:۸۲۳ نمبر۵۴۷۶) ددې حديث ځخه معلوم شوچي که بِسمِ الله ويلې وي نو خُوري دې او که نَه وي ويلې نَه دې خوري .

او دا چي په هېره سره بِسمِ الله پاته شوې وي نو خُوري دې .دهغه دليل دا حديث دئ (۱) : عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ النّبِيّ قَالَ اَلمُسلِمُ يَکفِيهِ اِسمُهُ فَاِن نَسِيَ اَن يُسَمّي حِينَ يَذبَحُ فَلْيُسَمّ وَلْيَذکُر اِسمَ اللهِ ثُمّ لِيَأکُل (ج) (دارقطني.کتاب الاشربة ج۴ ص:۱۹۸ نمبر۴۷۶۲) دغه دَوَل مفهوم په بخاري شريف کي د عبدالله بن عبّاس (رضي الله عنه) دقول هم دئ وَقَالَ اِبنُ عَبّاسٍ (رضي الله عنه) مَن نَسِيَ فَلاَبَأسَ (د) (بخاري شريف.باب التسمية علْي الذبيحة ومن ترک مُتَعَمّداً ص:۸۲۶نمبر۵۴۹۸/ سنن للبيهقي.باب من ترک التسمية وهومِمّن تحل ذبيحته ج:۹ ص:۴۰۱نمبر۱۸۸۹۰) ددې حديث ځخه معلوم شوچي په هېره سره بِسمِ الله پاته شي نوحلال دئ خوړلائي شي (۲) دحضرت عائشې حديث دئ.عَن عَائِشَةَ(رضي الله عنها)

حاشيه : (الف) ترڅو چي پر حيوان بِسمِ الله نه وي وَيُل شوې مَه خورئ حُکه چي دا فِسق دئ (ب) دحضرت عدي بن حاتم ځخه دا وَينَا اورېدل شوې ده... حضور(ﷺ) وفرمايل مَه خوره حُکه چي پر خپل سُپي دي بِسمِ الله ويلې ده اود بَل پر سُپي دي بِسمِ الله نَه ده ويلې (ج) حضور(ﷺ) وفرمايل مسلمان ته د الله نوم کِفَايَت کوي که چيري د ذَبح پر وخت بِسمِ الله هېره شوه نو بِسمِ الله دي ووايي او ودې خوري جائز دئ (د) حضرت ابن عبّاس (رضي الله عنه) وفرمايل دچاچي د ذَبح پر وخت بِسمِ الله هېره شوه نو هيڅ د حرج خبره نَه ده .

[۲۶۰۴](۲۵) وَالذّبحُ بَينَ الحَلقِ وَاللّبّةِ .

قَالَت اِنّ قَومًا قَالُوا لِلنّبِيّ (ﷺ) اِنّ قَومًا يَأ تُونَنَا بِلَحمٍ لاَنَدرِي اَذَکَرَ اِسمَ اللهِ عَلَيهِ اَم لاَ؟ فَقَالَ سَمّوا عَلَيهِ اَنتُم وَکُلُوهُ (الف) (بخاري شريف.باب ذبيحة الاعراب ونحوهم ص:۸۲۸ نمبر۵۵۰۷)

ددې حديث څخه هم معلوم شوچې که چيرې معلوم نَه وي چې بِسمِ الله يې ويلې ده که نَه ده ويلې؟ بيا هم حلال دئ .

فائده : اِمَامِ شافعي فرمايي چې په هېره سره پرېږدي يايې په قَصداً پرېږدي په دې شرط چې مسلمان وي يا اَهلِ کتاب وي په دواړو صورتو کې خوړلائي .

وجه : دده دليل دا حديث دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ (ﷺ) قَالَ اِذَا ذَبَحَ المُسلِمُ فَلَم يَذكُر اِسمَ اللهِ فَلياَ كُل فَاِنّ المُسلِمَ فِيهِ اِسمًا مِن اَسمَاءِ اللهِ (ب) (دارقطني.كتاب الاشربة وغيرها ج۴ ص:۱۹۸نمبر۴۷۶۰/ سنن للبيهقي.باب من ترک التسمية وهو مِمّن تحِلّ ذبيحته ج۹ ص:۴۰۱نمبر۱۸۸۹۱) ددې حديث څخه معلوم شوچې مسلمان په قصداً بِسمِ الله پرېږدي هم هغه ذبيحه حلال ده ځکه چې دده په زړه کې د الله نوم موجود دئ .

اِمَامِ مَالِک (ﷺ) فرمايي چې که په هېره سره هم بِسمِ الله پرېږدي نو ذبيحه يې حلال نَه ده .

وجه : دئ فرمايي چې آيت وَلاَتَأكُلُوا مِمّا لَم يُذكَراِسمُ اللهِ عَلَيهِ عام دئ چې په هيڅ ډَوَل دې بغيره بِسمِ الله نَه خوري که په هېره پاته شي که په قَصداً پاته شي .

[۲۶۰۴](۲۵) ذَبح د حَلَق او سِينې(ځيګره)تر مينځ وي .

تشريح : د ذَبحِ طريقه داده چې دحَلَق(سُتُونِي)او سِينې(ځيګره)تر مينځ چې کوم هَډُوکَئ دئ دهغه په مَابَين(مينځ)کې دې چَارَه تېره کړي .

وجه :په اَثَرکي دئعَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ اَلذّكَاةُ فِي الحَلقِ وَاللّبّةِ (ج) (مصنّف عبدالرزاق

حاشيه : (الف) حضرت عائشې دحضور(ﷺ) څخه پوښتنه وکړه چې څه خلک مَاتَه غُوَښَه راوړي.مَاتَه نه دئ معلوم چې پر دې يې بِسمِ الله ويلې ده که نَه؟ حضور وفرمايل پرهغه بِسمِ الله ووايه او وَخُورَه (ب) حضرت ابن عبّاس وفرمايل که مسلمان ذبح کړي ده او بِسمِ الله يې نَه ده ويلې نو ودې خوري ځکه چې د مسلمان په زړه کې د الله نوم وي (ج) دحضرت ابن عبّاس څخه نقل شوئ دئ چې ذَبح د حَلق او لَبّه تر مينځ وي .

[۲۶۰۵](۲۶) وَالعُرُوقُ الّتِي تُقطَعُ فِي الذّكَاةِ اَربَعَةٌ اَلحُلقُومُ وَالمَرئ وَالوَدجَانُ فَاِن قَطَعَهَا حَلّ الاَكلُ .

.باب مايقطع من الذبيحة ج۴ ص:۴۹۵نمبر۸۶۱۵/ مصنّف ابن ابي شيبة ۳۲ من قال اذا انهر الدّم فكُل ماسنا او عظمًا ج۴ ص:۲۶۰نمبر۱۹۸۲۲) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې دحَلَق او لَبّه په مابين کې دې ذَبح کړي .

لغت : لَبّةٌ : د سينې(ځيګره)جَګ او لُوړ هَډُوکَئ .

[۲۶۰۵](۲۶) هغه رګونه کوم چې په ذَبح کې پرېکيږي هغه څلور دي حُلقُوم.مَرِئ او دوه شَه رګونه.که چيرې دغه پرېکړل نو خوړل يې حلال دئ .

تشريح : اصل او قاعده خو داده چې وِينَه تولَه دبَدَن څخه وَوزِي.او تولَه وِينَه هغه وخت وُزِي چې کله دغه تولَه رګونه پرې شي.نوځکه دحُلقُوم.مَرِئ او د دُوشِه رَګُونَه په پرېکولو سره ذَبح ثابتيږي .

وجه : د ټولي وِينِي د وتلو دليل دا حديث دئ. عَن رَافِعِ بنِ خَدِيجٍ قَالَ قَالَ النّبِيّ(ﷺ) كُل يَعنِي مَا اَنهَرَ الدّمُ اِلاّ السِّنّ وَالظّفرُ (الف) (بخاري شريف.باب لايذكّي بالسّن والعظم والظفر ص۸۲۷نمبر۵۵۰۶/ ابوداؤدشريف.باب الذبيحة بالمروة ص۳۳نمبر۲۸۲۱) ددې حديث څخه معلوم شوچي هره هغه طريقه چي وِينَه په بنَه انداز وَبَاسِي په هغه طريقه سره ذَبِيحَه حلال ګرزي .

د رګونو د پرېکولو دليل دا اَثَردئ. قَالَ اِبنُ جُرَيجٍ عَن عَطَاءَ ... وَالذّبحُ قَطعُ الأَوداَجِ، او په بل روايت کي راغلي دي عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَلذّكَاةُ فِي الحَلقِ وَاللّبّةِ (ب) (بخاري شريف.باب النحر والذبح ص۲۲۸نمبر۵۵۱۰/ سنن للبيهقي.باب الذكاة بما انهر الدّم وفري الأوداَجِ،ج۹ص:۴۷۳نمبر ۱۹۱۵۱) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي دذَبحِ لپاره اَودَاج (رګونه)

حاشيه : (الف) حضور(ﷺ) وفرمايل کوم شَئ چي وِينَه وَبَيَوِي په هغه ذَبح شوئ خُورَه ما سوائ د غَابِن او نُوک په دي چي ذَبح شوئ وي هغه مَه خوره (ب) دحضرت عطاء() څخه نقل شوئ دئ ... ذبح اَودَاجُ رګونه پرېکول دئ. په بَل روايت کي دئ ذَبح دحلق او لَبّه تر مينځ وي .

[۲۶۰۶][(۲۷) وَ اِن قُطِعَ اَكثَرُهَا فَكَذَالِكَ عِندَاَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالاَ لاَبُدّ مِن قَطعِ الحُلقُومِ وَالمَرِئ وَ اَحَدُ الوَدجَينِ .

بايد پرى شي او پر حَلَق دي چَارَه تېره کړي نو ددې څخه دا معلوم شوچي حُلقُوم دي پري کړي او چي حُلقُوم پرېکړي نو مَرِئ به هم پرېکړي بيا حلال دئ .

لغت : حُلقُومٌ : د خُوَرَاک نَالَئ. اَلمَرِيّ : د سَا نَالَئ. وَدجَانِ : شِه رَګ.بنَارَګ.هغه رګ چي د زړه وِينَه دِمَاغ ته رسوي.چي کله هغه پري شي نو ټوله وِينَه وُزِي .

[۲۶۰۶][(۲۷) او که اکثره پرې کړل نو دغه ډَوَل جائز دئ د امام ابوحنيفه په نېز او صاحبين وفرمايل چي ضروري دئ د حُلقُوم،مَرِئ او شِه رَګ څخه د يوه پرېکېدل .

تشريح : امام ابوحنيفه فرمايي چي په څلورو کي اَکثَرَه يعني هسي درې رګونه پري شي نو ذبيحه حلال ده .

وجه : اَکثَرَه د کُل په حُکم کي دئ.نوځکه په څلورو کي درې اَکثَرَه دي لِهْذَا دغه کِفَايَت کوي .

فائده : صاحبين فرمايي چي حُلقُوم او مَرِئ به دواړه پرېکوي او د دُوشِه رګونو څخه به يوه پرېکوي چي د شِه رَګ څخه ټوله وِينَه ووزي.او دهر يوه رَګ يو يو ضرور پري شي .

وجه : په حديث کي دئ چي وَدجَان پرېکړئ نوځکه د وَدجَان يعني شِه رګ څخه يو پرېکول ضرروي دئ. عَن رَافِعِ بنِ خَدِيجٍ قَالَ سَألتُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) عَنِ الذّبِيحَةِ بِاللّيطِ فَقَالَ كُل مَا اَفرِي الأَوداَجَ اِلاّ سِنّ اَو ظَفرٌ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۳۲ من قال اذ انهرالدّم فكُل ماخلاسنا او عظمًا ج۴ ص: ۲۵۹ نمبر۱۹۸۰۳) د حضرت ابن عمر قول دئ. اَنّ اِبنَ عُمَرَ (رضي الله عنه) نَهْي عَنِ النّخَعِ يَقُولُ يُقطَعُ مَا دُونَ العَظمِ ثُمّ يَدَعُ حَتّي يَمُوتَ (ب)

حاشيه : (الف) ما دحضور(ﷺ) څخه د بَانس دلَرګي په چَخَلَه د ذَبح پوښتنه وکړه نو وفرمايل هر هغه شئ چي اَودَاج رګونه پرېکړي په هغه جائزدئ ماسوائ د غَابِن او د نُوک(نُک) (ب) حضرت ابن عمر د نَخع څخه منع وکړه يعني وحرام مغز ته د چَارِي د رسولو څخه منع وکړه.فرمايي چي هَډُوکي ته د رسېدولوڅخه مخکي مخکي دي پرېکړي بيادي پريږدي تر هغه وخته چي مړ شي .

[۲۶۰۷](۲۸) وَيَجُوزُ الذّبحُ بِاللّيطَةِ وَالمُرُوّةِ وَبِكُلِّ شَيءٍ اِنهَرَ الدّمَ اِلاّ السِّنّ القَائِمَ وَالظّفرَ القَائِمَ .

(بخاري شريف.باب النّحر والذّبح ص۸۲۸نمبر۵۵۱۰) ددي حديث او اَثَرڅخه معلوم شوچي تر هَډُوکي پوري دي پريکړي او پرېدي اِږدِي. او چي تر هَډُوکي پوري پرېکړي نو مَړئ،حُلقُوم او شِه رَګ ټوله به پري شي.او د اَودَاجُ پرېکول په دي وجه ضروري دئ چي په حديث کي پر هر ځائ د اَودَاج د پرېکولو تاکيد شوئ دئ .

[۲۶۰۷](۲۸) او جائز دئ ذبح کول د بَانس په ټُکړه او په تېز ډبره سره او په هر هغه شِي سره چي وِينَه وَبَيَوِي مَاسوائ د غَابِن او نُوک کوم چي مُبنَتِي وي .

تشريح : د بَانس ټکړه چي نَرَئ او تېز نوک لري يا تېز ډبره وي يا هر هغه شَئ چي تېز څوکَ لري چي رَګُونَه پرېکړي او وِينَه وَبَيَوِي. البته په تَالُو(خُولَه)کي لګېدلي غابنونه او پر ګوتو موښتي نُوګانُ سره ذَبح کول جواز نَه لري .

وجه : د بَانس په ټکړه او تېز نوک لرونکي ډبره سره ذَبح کول جائزده دليل يې دا حديث دئ. عَن رَافِعِ بِنِ خَدِيجٍ قَالَ اَتَيتُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) فَقُلتُ يَارَسُولَ اللهِ! اِنّا نَلقَي العَدُوّ غَداً مَدْي أ فَنَذبَحُ بِالمِروَةِ وَشِقةَ العَصَا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَرِن اَو اَعجِل مَا اَنهَرَ الدّمَ وَذَكَرَ اِسمَ اللهِ عَلَيهِ فَكُلُوا مَالَم يَكُن سِنّ وَظُفرٌ وَسَأحَدّثُكُم عَن ذَالِکَ اَمّا السِّنّ فَعَظمٌ وَاَمّا الظّفرُ فَمَدي الحَبشَةِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب الذبيحة بالمروةص۳۳نمبر۲۸۲۱/بخاري شريف.باب ماانهرالدّم من القصب والمروة والحديدص۸۲۷نمبر۵۵۰۳/ نسائي شريف.اباحة الذبح بالقودص:۶۱۱ نمبر۴۴۹۶) ددي حديث څخه هم معلوم شوچي هسي يو شَئ چي تېز څوکه لري وِينَه وَبَيَوِي په هغه سره ذبح کول جائز ده. ځکه چي د کُلّ مَا اَنهَرَ الدّمَ څخه هرهغه شئ مراد دئ چي وِينَه وَبَيَوِي. او دا هم معلوم شوچي

حاشيه : (الف) زه حضور ته راغلم او پوښتنه مي وکړه يارسول الله! مورږ سَبَا د دُښمَن سره مقابله کوو او زمورږ سره وُرِدَه چاړه نسته نو آيا مورږ ددبري په ټکړه او د لَرګِي په چَخَلَه ذبح کولائي سو؟ حضور وفرمايل په سختي سره پرېکوه او ژَر کوه.هر هغه شَئ چي وِينَه وَبَيَوِي او بِسمِ الله پر هغه وويل شي نو خُورَه يې په دي شرط چي غَابِن او نُوک(نُک)نه وي.او تاته بيانوم بهر حال غَابِن خو هَډُوګئ دئ او نُوک(نُک)خو د حَبَشَانُو چاړه ده .

[۲۶۰۸](۲۹) وَيَستَحِبّ اَن يُحَدّ الذّابِحُ شَفرَتَهُ .

د بَانس ټکړه او په تېزڅوکه لرونکي ډبره سره ذبح کول جائز ده. او دا هم معلوم شو چي لګېدلئ او مُوښتَئ غَابِن او نُوک سره ذبح کول جواز نَه لري.ځکه چي غَابِن مُبنتَئ وي يا نُوک مُبنتَئ وي نو ددي شکل او صورت دمُنخَنِقَه شو.ځکه چي د مُبنَتوَالِي لکبله به دئ په غَابِن کښېکاږي او په نُوک به هم کښېکاږي چي دهغه په

وجه مرګ واقع شوئ دئ.لِهٰذَا جواز نَه لري. لېکن که نُوک او غَاښ د بَدَن څخه بېل شوئ وي او تېزَ څوکه لري نو په دې سره ذَبح کيږي. په دې صورت کي په حديث کي د اَلسِّنُ او ظُفُرٌ څخه مراد اَلسِّنّ القَائِمُ وَالظّفُرُ القَائِمُ دئ او دحديث انداز هم دغه بنَاپِي .

فائده : د اِمَامِ محمّد يو روايت دئ چي په تېرشوي حديث کې مُطلقًا د غَاښ او نُوک په ذريعه د ذَبح کولو څخه منع کړې ده نوځکه په بېل(جلا)شوي غَاښ او نُوک دې هم نَه ذبح کوي .

لغت : لِيطَةٌ : د بَانس تېکړه.دبانس تېزَ چخَلَه. اَلمَروَةُ : هغه ډبره چي تېزڅوک لري. اَنهَرَ : وِينَه وَبَيَوِي. اَلسِّنّ القَائِمُ : لګېدلئ غَاښ. اَلظّفرُ : نُوک(نُک) .

[۲۶۰۸](۲۹) او مُستَحَب دئ چي ذبح کونکئ خپله چَاړه تېزَ کړي .

وجه : (۱) چي حيوان ته بغير ضرورت تکليف نَه وي (۲) په حديث کي ددې تاکيد راغلئ دئ. عَن شَدّادِ بنِ اَوسٍ قَالَ ثِنتَانِ حَفِظتُهُمَا عَن رَسُولِ اللهِ (ﷺ) قَالَ اِنّ اللهَ کَتَبَ الإحسَانَ عَلٰي کُلِّ شَيءٍ فَاِذَا قَتَلتُم فَاَحسِنُوا القَتلَةَ وَاِذَا ذَبَحتُم فَاَحسِنُوا الذّبحَ وَلِيَحُدّ اَحَدُکُم شَفرَتَهُ فَلِيُرِح ذَبِيحَتَهُ (الف) (مسلم شريف.باب الامربالاحسان الذبح والقتل وتحديدالشفرة ص:۱۵۲نمبر۱۹۵۵/ابوداؤدشريف.باب في النّهي ان تصبرالبهائم والرّفق بالذبيحة ص۳۳ نمبر۲۸۱۴) ددې حديث څخه معلوم شوچي چاړه بنَه تېز(تېره) وَل مستحب دئ .

حاشيه : (الف) دحضور (ﷺ) څخه نقل شوئ دئ چي الله پر هر شي باندي اِحسَان فرض کړئ دئ.نوچي قتل کوئ په بنَه انداز قتل کوئ او چي ذبح کوئ په بنَه انداز ذبح کوئ اوخپله چاړه تېز کړئ او ذبيحه بنَه سره کئ .

[۲۶۰۹](۳۰) وَمَن بَلَغَ بِالسِّکِّينِ اَلنّخَاعَ اَو قَطَعَ الرّأسَ کُرِهَ لَهُ ذَالِکَ وَتُؤکلُ ذَبِيحَتَهُ .

لغت : يُحَدّ : تېزوَل. شَفرَةٌ : وُړدَه چاړه .

[۲۶۰۹](۳۰) يوچا تر حرام مغز پوري چاړه ورسول يايې سَر ځيني پرېکړئ نو دده لپاره دا مکروه دئ او دده ذبيحه به خورل کيږي .

تشريح : په غَاړَه کي چي کوم هَډُوکئ دئ دهغه په مينځ کي پَنډ پَنډ رګونه دي و دې ته حرام مَغز ويل کيږي.په ذبح کي تر هَډُوکي پوري چَاړَه رسول پکار ده په دې سره ذَبح مُکَمّله کيږي تر دې زيات تکليف بايد وَرنَه شي لېکن که يوچا دننه هَډُوکِي يعني حرام مَغز ته چاړه ورسول يايې پوره غَاړَه ځيني پرېکړل نو دا دَوَل کول مکروه دئ. البته دا دَوَل کولوڅخه حُلقُوم،مَرِئ او وَدجَان ټوله پرې شول نوځکه ذبيحه حلال ده .

وجه : (۱) اَخبَرَنِي نَافِعٌ اَنّ عُمَرَ (ﷺ) نَهٰي عَنِ النّخَعِ يَقُولُ يُقطَعُ مَادُونَ العَظمِ ثُمّ يَدَعُ حَتّٰي يَمُوتَ (الف) (بخاري شريف.باب النّحروالذبح ص۸۲۸نمبر۵۵۱۰) (۲) عَن اِبنِ عَبّاسٍ (ﷺ)

نَهْي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) عَنِ الذَّبِيحَةِ اَن تَفرُسَ قَبلَ اَن تَمُوتَ (ب) (سنن للبيهقي.باب كراهية النخع والفرس ج۹،ص: ۴۷۰ نمبر۱۹۱۳۶) ددې حديث څخه معلوم شوچې حرام مَغز پرېکول يا تر هغه ځايَه پوري چاړه رسول مکروه دئ ..... لېکن که دادول وکړل نو ذبيحه حلال ده .

وجه : وَقَالَ اِبنُ عُمَرَ وَ اِبنُ عَبّاسٍ وَ اَنَسٍ اِذَا قَطَعَ الرّأسَ فَلاَبَأسَ (ج) (بخاري شريف. باب النحروالذبح ص۸۲۸نمبر۵۵۱۰/ مصنّف عبدالرزاق.باب سنّة الذبح ج۴ص: ۴۹۰نمبر۸۵۹۳) ددې اَثَر

حاشيه : (الف) حضرت ابن عمر منع کول دنخع يعني ترحرام مَغز پوري د چاړې تر رسولو څخه.فرمايل به د هَډُوکِي څخه مخکي مخکي پوري دې پرېکړي بيادې پرېږدي ترهغه وخته چې مړ شي (ب) حضور (ﷺ) د دادوَل ذبيحه څخه منع وکړه چې د مړکېدو څخه مخکي مخکي ځيري کړي (ج) ابن عبّاس.ابن عمر او انس فرمايي چې که سَر پرېکړي نو هيڅ دحرج خبره نَه ده .

[۲۶۱۰](۳۱) وَ اِن ذَبَحَ الشّاةَ مِن قَفَاهَا فَاِن بَقِيَت حَيّةٌ حَتّي قَطَعَ العُرُوقَ جَازَ وَ يُكرَهُ وَ اِن مَاتَت قَبلَ قَطعِ العُرُوقِ لَم تُؤكَلُ .

څخه معلوم شوچې سَر پري شي يا تر نُخَاع پوري چاړه ورسيږي.نو ذبيحه حلال ده هيڅ دحرج خبره نَه ده .

لغت : اَلنّخَاعُ : حرام مغز چې د غَاړې د هَډُوکِي په مينځ کې وي. سِكِّينٌ : چاړه .

[۲۶۱۰](۳۱) که بُوزه د خَټِي لخوا ذبح کړل که چيري ژُوَندئ وه چې رګونه يې پرېکړل نو جائز دئ او مکروه دئ.اوکه د رګو د پرېکولو څخه مخکي مړه شوه نو نَه به خوړل کيږي .

تشريح : په کار خو دا وُ چې د بُوزې پر غَاړَه يې چاړه تېره کړې وائ او حلال کړې وائ لېکن د خَټِي لخوا يې چاړه پر تېره کړه او دغَاړې هډوکئ پرې شو او حرام مَغز پرې شو،نو که چيري د بُوزې د مړکېدو څخه مخکي مخکي دا پاته څلور رګونه حُلقُو،مَرِي،او وَدجَان هم پرې شول نو بُوزَه حلال ده.او که د رګو د پرېکېدوڅخه مخکي مخکي بُوزَه مړه شوه نو ذَبحِ اختِيَاري نه وشوه لِهٰذَا حيوان حرام دئ .

وجه : عَنِ الشّعَبِيّ اَنّهُ سُئِلَ عَن دِيكٍ ذُبِحَ مِن قِبَلِ قَفَاةٍ فَقَالَ اِن شِئتَ فَكُل (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب سنّة الذبح ج۴ص۴۹۰نمبر۸۵۹۲) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې دخَټِي لخوا يې حلال کړي او ټوله رګونه يې پرې شي نوخوړل کيږي.او که دپاته رګونو د پرېکېدوڅخه مخکي مړه شوه نو حلال نَه ده په دې اَثَرکي و دې ته اِشَارَه شوې ده عَن اَبِي نَجِيحٍ قَالَ مَن ذَبَحَ بَعِيراً مِن فَلفِهِ مُتَعَمّداً لَم يُؤكَل وَاِن ذَبَحَ شَاةً مِن فَصّهَا مُتَعَمّداً يَعنِي اَلفَصّ مُتَعَمّداً لَم تُؤكَل (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب سنّة الذبح ج۴ص۴۹۱ نمبر۸۵۹۸)

حاشيه : (الف) د حضرت شعبي څخه پوښتنه وشوه چې چَرګ د خَټِي لخوا څخه حلال کړي نوخَه رنګه شو؟ وفرمايل که مِي خُوښَه شي وخورئ (ب) ابو نجيح وفرمايل که يوچا وُښ د خَټِي لخوا حلال کړئ په قصداً نو نَه دې خوري او که بُوزَه په قصداً دشَا(خَټِي) يعني د فَص لخوا ذبح کړه نو نَه دې خوري .

[۲۶۱۱](۳۲) وَمَا اِستَأ نَسَ مِنَ الصّيدِ فَذَكَاتُهُ اَلذّبحُ وَمَاتَوَحّشَ مِنَ النّعَمِ فَذَكَاتُهُ اَلعُقرُ وَالجَرحُ .

[۲۶۱۱](۳۲) بښکار چې آموخته شي دهغه ذَکَاة ذبح ده اوکوم آموخته حيوان چې وَحشِي جوړ شي دهغه ذَکَاة نېزه وَهَل او زخمي کول دئ .
تشريح : فِطرَةً حيوان بښکاري حيوان وُ مثلاً وَسَې يا دهغې په شان بَل حيوان لېکن هغه د کورني حيوانانو په شان په کور کي وسېدل شروع کړل آموخته اوعادت شو نو اُوس په دي کي ذَبحِ اِضطِرَارِي نَه صحيح کيږي چې مثلاً په غَشِي يې وَولِي او پر هر ځائ چې وموښلي حلال دي وګرزي. بلکه د آموخته حيوانانو په شان دې پر حُلقُوم چاړه ورتېره کړي څلور سره رګونه دې وَرپرې کړي او ذبح کړي نو بيا حلال دئ.ددې بَرخِلاَف که آموخته حيوان وَتُوړېدئ او نَه نِيوَل کيږي او دنِيوَلُو او اِختِيَارِي ذبح کولو هيڅ يو صورت يې نَه وُ يا حيوان په ځاه کي يَلَه شو اوس زُوَندَئ نه شي رَاخَتَلاَئي نو هغه دي په نېزه يا په غَشِي وَولِي زخمي دې کړي.او چې د بَدَن په هسي يوه ځائ کې وَمُوښلِي حلال ګرزي.اُوس دښکار په شان شو او ذَبحِ اِضطِرَارِي دده لپاره کِفَايَت کوي .
وجه : (۱) چې بښکار لاَس ته راشي بيا هم اِختِيَارِي ذبح ضروري ده ځکه چې دا د آموخته حيوان په شان شو نو په طريقه اَولْي سره ذَبحِ اِختِيَارِي ضروري ده (۲) په حديث کي تېرشوي دي عَن عَدِيّ بِنِ حَاتَمٍ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِذَا اَرسَلتَ کَلبَکَ فَاذکُرِاسمَ اللهِ فَاِن اَمسَکَ عَلَيکَ فَاَدرَکتَهُ حَيّاً فَاذبَحهُ (الف) (مسلم شريف.باب الصيدبالکلاب المعلّمة والرّمي ص:۱۴۵نمبر۱۹۲۹/ ۴۹۸۱) ددې حديث څخه معلوم شوچي بښکار زُوَندئ لاَس ته راشي نو هغه بيا په اِختِيَارِي ذبح کول ضروري دئ .
او دا چې آموخته حيوان وَتُورِيږي په غَشِي سره زخمي کړي بيا هم حلال دئ .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل چې خپل سُپَئ وَريَلَه کړې نوبِسمِ الله ووايه.که ستا لپاره ونيسي او هغه زُوَندَئ وموندې نو هغه ذَبح(حلال)کړه .

[۲۶۱۲](۳۳) وَالمُستَحَبّ فِي الإبِلِ اَلنّحرُ وَاِن ذَبَحَهَا جَازَ وَيُکرَهُ

وجه : په حديث کي دئ چې په جنګ کي وُښ وَتُوړېدَئ نو يوه صحابي په نېزه وَوَاهَئ هلاک يې کړئ نوحضور وفرمايل چې هر وخت وَتُوړيږي دغه دَوَل کوه په هغه سره به حلال شي. حديث دادئ عَن رَافِعَ بِنِ خَدِيجٍ قَالَ کُنّا مَعَ النّبِيّ (ﷺ) فِي سَفَرٍ فَنَدّ بَعِيرٌ مِنَ الإبِلِ قَالَ فَرَمَاهُ رَجُلٌ بِسَهمٍ فَحَسبَهُ قَالَ ثُمّ قَالَ اِنّ لَهَا اَوَابِدُ کَاَوَابِدِ الوَحشِ فَمَا غَلَبَکُم مِنهَا فَاصنَعُوا بِهِ هٰکَذَا (الف) (بخاري شريف.باب اذا نَدّبعِيرٌلقومٍ فرماهُ بعضهم بسهمٍ فقتله فاراد اصلاحهم فهوجائز ص:۸۳۱نمبر۵۵۴۴/ ابوداؤدشريف.باب الذبيحة بالمروة ص:۳۳نمبر۲۸۲۱) ددې

حديث څخه معلوم شوچي آموخته حيوان وَتُورېږي بِسمِ الله ووايي په غشي يې وَوِلي او د بَدَن دهسي يوې حِصّې څخه وِينَه وَوزِي نو حلال ګرزي .
اصول : دا مسئله پر اُصُول متفرّع ده چي دمجبورئ پر وخت ذَبحِ اِضطِرَارِي کفايت کوي .
لغت : اَلعُقرُ : زخمي کول .
[۲۶۱۲](۳۳) په وُښ کي نَحر کول مُستَحَب دئ او که هغه ذَبح کړئ نو جائز دئ او مکروه دئ .
وجه : (۱) په آيت کي و دې ته اِشَارَه شوې ده. فَصَلِّ لِرَبِّکَ وَانحَر (ب) (آيت ۲ سورة الکوثر ۱۰۸) په دې آيت کي و نَحَر کولو ته اِشَارَه شوې ده (۲) په حَجّةُ الوَدَاعِ کي حضور (ﷺ) د ډُرُوشُپِتَه (۶۳) وُښَانُو نَحر وکړئ. د وُرد حديث ټکړه داده ثُمّ اِنصَرَفَ اِلَي المَنحَرِ فَنَحَرَ ثَلاَثًا وَسِتّينَ بِيَدِهِ (ج) (مسلم شريف.باب حجة النبيّ ص: ۳۹۴

حاشيه : (الف) مورِ دحضور (ﷺ) سره په يوه سفر کي موجود وُ.يو وُښ وَتُورېدَئ فرمايي چي يوه سړي هغه په غَشِي وَوشتَئ او مَړ يې کړئ. بيا حضور (ﷺ) وفرمايل د وَحشِي حيوانانو په شَان وُښ هم تُورېږي نو دهغوئي څخه چي کوم تاسو مَغلُوب کړي يعني نَه نِيوَل کيږي نودهغه سره دغه دَوَل معامله کوئ يعني په غَشِي يې وَلَئ او چي ذَبح کړئ نو حلال به شي (ب) دخپل رَب لپاره لمونځ کوه او ذَبح کوه (ج) بيا حضور (ﷺ) د نَحر کولو ځائ ته تشريف يوړئ او په خپل لاَس يې دُرُوشُپِتَه (۶۳) وُښَان نَحَر کړل .

[۲۶۱۳](۳۴) وَالمُستَحَبّ فِي البَقَرِ وَالغَنَمِ اَلذّبحُ فَاِن نَحَرَهُمَا جَازَ وَيُکرَهُ .

نمبر۱۲۱۸/ ابوداؤدشريف.باب صفة حجة النبيّ ص: ۲۶۹نمبر۱۹۰۵/ بخاري شريف.باب من نحرهديه بيده ص: ۲۳۱نمبر۱۷۱۲) ددې حديث څخه معلوم شوچي د وُښ نَحَر کول اَفضَل دئ.د نَحر صورت دادئ چي د سِينې د هَډُوکِي څخه لُوړ دې په نيزه وَوَهِي غَارَه دې وَرځِيرِي کړي دې ته نَحر ويل کيږي.لپکن که چيري ذَبح کړئ بيا هم حلال دئ .
وجه : عَنِ الزّهرِي وَقَتَادَةَ قَالاَ اَلاِبِلُ وَالبَقَرُ اِن شِئتَ ذَبَحتَ وَاِن شِئتَ نَحَرتَ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب الذبح افضل اَمِ النّحر ج۴ ص: ۴۸۸نمبر۵۸۸۲) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي وُښ او غُوَا که خوښه شي ذبح دې کړي او که خوښه شي نَحر دې کړي په دواړو سره حلال ګرزي .
لغت : اَلنّحرُ : د سينې تر هَډُوکُو لوړ په چاړه وَهَل او رګونه پرېکول .
[۲۶۱۳](۳۴) په غُوَا او بُوزَه کي مُستَحَب ذبح کول دئ.که چيري دغه دواړې نَحَر کړې نو جائز دئ لپکن مکروه دئ .
وجه : (۱) په آيت کي ودې ته اِشارَه شوې ده فَذَبَحُوهَا وَمَاکَادُوا يَفعَلُونَ (ب) (آيت ۷۱ سورة البقرة ۲) په دې آيت کي د غُوَا په اړه راغلي دي چي هغه يې ذَبح کړه ددې څخه معلوم شوچي غُوَا او دهغې په شان نورو حيوانانو کي ذَبح کول مُستَحَب دئ (۲) په حديث کي دئ. عَن جَابِرَبنِ عَبدِاللهِ قَالَ کُنّا نَتَمَتّعُ فِي عَهدِ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) نَذبَحُ البَقَرَةَ

عَن سَبعَةٍ نَشتَرِكُ فِيهَا (ج) (ابوداؤدشريف.باب البقروالجزور عن كم يجزي ص: ٣٢نمبر: ٢٨٠٧) ددې حديث څخه معلوم شوچې غُوَا دي ذَبح کړي.او دبُوزې د ذَبح کولو دليل دا حديث دئ. عَن جَابِرَ بنِ عَبدِاللهِ قَالَ شَهِدتُ مَعَ رَسُولِ

حاشيه : (الف) حضرت زهري او قتاده وفرمايل وُښ او غُوَا که دي خُوښَه شي ذبح کړه او که دي خُوښَه شي نَحَر يې کړه (ب) نو غُوَايې ذبح کړه حالانکه دُوئي کونکي نَه وُ (ج) حضرت جابر فرمايي مونږ د حضور (ﷺ) په زمانه کي تَمَتّع کاوئ. نو غُوَا مي د اُوُ(٧) کسانو لخوا څخه ذبح کوله.مونږ ټول په هغه کي شريکان وُ .

[٢٦١٤](٣٥) وَمَن نَحَرَ نَاقَةً اَو ذَبَحَ بَقَرَةً اَو شَاةً فَوَجَدَ فِي بَطنِهَا جَنِينًا مَيِّتًا لَم يُؤكَل اَشعَرَ اَو لَم يُشعِر .

اللهِ (ﷺ) اَلاَضحْي فِي المُصَلّي فَلَمّا قَضْي خُطبَتَهُ نَزَلَ مِن مَنبَرِهِ وَاَتْي بِكَبَشٍ فَذَبَحَهُ رَسُولُ اللهِ بِيَدِهِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في الشّاة يضَحّي بِهَا عن جماعة ص:٣٢ نمبر:٢٨١٠/ نسائي شريف.ذبح الرّجُلِ اضحيته بيده ص:٦١٣نمبر:٤٤٢٣) ددې حديث څخه معلوم شوچې بُوزَه دي ذبح کړي. او که نَحر وکړئ نو جائز دئ دهغه دليل تېرشوئ اَثَر دئ. اِن شِئتَ ذَبَحتَ وَاِن شِئتَ نَحَرتَ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.نمبر٥٨٨٢) (٣) په يوه حديث کي راغلي دي. سَمِعتُ عَائِشَةَ تَقُولُ ... قَالَت فَدَخَلَ عَلَينَا يَومَ النّحرِ بِلَحمِ بَقَرٍ فَقُلتُ مَا هٰذَا؟ قَالَ نَحَرَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) عَن اَزوَاجِهِ (ج) (بخاري شريف.باب ذبح الرّجُلِ البقرعن نسائه من غيراَمرِهِنّ ص:٢٣١نمبر:١٧٠٩) په دې حديث کي د غُوَا د نَحَر کولو تَذکره شوې ده. ددې مطلب دا شو چې غُوَا نَحَر کړي نوهم حلال ګرزي .

[٢٦١٤](٣٥) يوچا وُښَه نَحَر کړه يايې غُوَا يا بُوزَه ذبح کړه او دهغې په نَس کې مَړ بَچئ وموندئ نو نَه به خوري که ببښتان پر راغلي وي که نَه وي راغلي .

تشريح : وُښَه يې ذَبح کړه او دهغې د نَس څخه مَړ جونګئ(بَچئ) رَاوَوَاتَئ يايې غُوَا ذبح کړه يايې بُوزَه ذبح کړه او دهغې دنَس څخه مړ بَچئ(سُخوَندَر يا مَرغُونَئ)راوواتئ دا بَچئ دومره غَټ شوئ وُ چې پر بَدَن يې ببښتان راغلي وُ بيا هم دغه بَچئ به نَه خوري .

وجه : (١) دا بَچئ که څَه هم د مُور سره مُتّصِل دئ لېکن دده بَدَن بالکل ببل او جلا دئ. دمُور د ذبح کولو څخه د بَچي ذبح نَه راځي.که هغه ژُوَندئ راوتلئ وائ نو

حاشيه : (الف) حضرت جابر بن عبدالله فرمايي چې زه دحضور (ﷺ) سره د لُوئي اَختَر پر موقع عيدګاه ته حاضر شوم.چې خُطبه يې پوره کړه نو دمنبر څخه رَاشَوَه شو او پُسه ته راغلئ او حضور (ﷺ) په خپل لاَس مبارک هغه ذَبح کړئ (ب) که ستا خوښه شي نو ذبح کړه او که دي خوښه شي نو نَحَر يې که (ج) حضرت عائشه فرمايي ... په لُوئي اختر راغلئ مَاتَه غُوښَه راوړه. مَا پوښتنه وکړه دا چِش دئ؟ وفرمايل چې حضور (ﷺ) دخپلو بِي بِي ګانو لطرف څخه غُوَا نَحَر کړې ده .

مُستَقِل به ذبح کولائي او چې مَړ راوواتئ نو دا د سَا د بندبدو په وجه مَړ دئ د مور د ذَبح کولو په وجه نَه دئ مَړ.نو حُکه دا به نَه خوري (٢) په اَثَرکي ددې ثبوت شته. عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ لاَتَکُونُ زَکَوْ ةُ نَفسٍ زَکَوْ ةُ نَفسَينِ يَعنِي اَنّ الجَنِينَ اِذَا ذُبِحَت اُمّهُ لَم يُؤكَلُ حَتّي يُدرِکَ زَکَوْ تَهُ (الف) (كتاب الآثار لامام محمّد.باب زكوة الجنين والعقيقة ص١٧٨نمبر٨٠٨)

ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي د مُور په ذبح کولو سره بَچۍ نَه ذبح کيږي که پر بَدَن بېښتان رَاشَنَه شوي وي که نَه وي شَنَه شوي .
فائده : امامِ شافعي او صاحبين فرمايي چي دمُور په ذبح کولو سره بَچۍ ذبح کيږي نوځکه بَچۍ به هم خوړل کيږي.او په يوه روايت کي دۍ چي که دبَچي بېښتان رَاشَنَه شوي وي او مُکَمّل بچۍ ځيني جوړ شوۍ وي نو بيا خوړل کيږي .
وجه : په حديث کي دۍ عَن جَابِرَ بِنِ عَبدِاللهِ عَن رَسُولِ اللهِ (ﷺ) قَالَ زكَوْ ةُ الجَنِينِ زَكَوْ ةُ اُمِّهِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب ماجاء في زكوة الجنين ص۳۴نمبر۲۸۲۸/ ترمذي شريف.باب ماجاء في زكوة الجنين ص۲۷۲نمبر۱۴۷۶) ددې حديث څخه معلوم شوچي دمُور د ذبح کولوڅخه بَچۍ هم ذبح کيږي او حلال ګرزي... او دا چي بېښتان يې رَاشَنَه شوي وي بيا حلال دۍ دهغه دليل دا اَثَر دۍ. عَنِ الزّهرِيِّ قَالَ فِي الجَنِينِ اِذَا اَشعَرَ اَو وَبَرَ فَذَكُوتُهُ ذَكُو ةُ اُمّهِ (ج) (مصنّف عبدالرزاق.باب الجنين ج۴،ص: ۵۰۰ نمبر۸۶۴۰/ موطاامام مالک،باب زكوة مافي بطن الذبيحة ص۴۹۰) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي که بېښتان رَاشَنَه شوي وُ خوړل کيږي او که بېښتان نَه وُ شَنَه شوي نو نَه خوړل کيږي .
لغت : جَنِينٌ : د مُور دنَس بچۍ. وَبرٌ : د وُښ بېښتان .

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل د يوه نَفس په ذبح کولو سره د دۇُ نَفسُو ذبح نَه راځي يعني چي د بَچي مُور ذبح کړي نو د نَس د بَچي غُوَښَه به نَه خورۍ تر څو چي په خپله هغه بَچۍ يې نَه وي ذبح کړۍ (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل د مُور د ذبح کولو څخه په خپله د نَس بچۍ هم ذبح کيږي (ج) د نَس د بچي په لړ کي حضرت زهري وفرمايل که بېښتان پر راغلي وي نو د مُور په ذبح کېدو سره بچۍ هم ذبح کيږي .

[۲۶۱۵](۳۶) وَلاَيَجُوزُ اَكلُ ذِيناَبٍ مِنَ السّبَاعِ وَلاَ كُلّ ذِي مَخلَبٍ مِنَ الطّيرِ .

[۲۶۱۵](۳۶) او نَه دۍ جائز د دَارَوَرُو حيوانانو خوړل او نَه دهغه مَرغَانُ خوړ کوم چي مَنګُولِي لري .
تشريح : کوم حيوانان چي څيرونکي دي دهغوئي په خُولَه کي وُږدَه وُږدَه غاښونه وي چي دُوې څوکي لري چي په هغه سره دۍ نور شيان ځله څيري وهغه ته ذِي نَاب حيوان ويل کيږي دهغه خوړل حلال نَه دۍ.او کوم مَرغَه چي تېز او تېره نُوکَان او تېره مَښُوکي لري په هغه سره شَيۍ نيسي او مَرغَان ځله څيري هغه ته ذِي مِخلَب مرغان ويل کيږي. خلاصه دا چي شَۍ ځله څيري او خوري يې د هغه حيوانان او د هغه مَرغَان خوراک ناجائز دۍ حلال نَه دۍ .
وجه : (۱) دغه حيوانانو کي دَرِندَګِي شته شَۍ ځله څيري بيايې خوري که چيري انسان هم د دغه رنګه حيوانانو خوړل شروع کړي نو اِمکان شته چي په اِنسان کي

دي دغه عادتونه راشي نو ځکه د دُوئي خوړل يې حرام کړي دي (۲) په حديث کي دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ (رضي الله عنه) قَالَ نَهٰي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) عَن كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَعَن كُلِّ ذِي مِخلَبٍ مِّنَ الطَّيرِ (الف) (مسلم شريف.باب تحريم اَكلِ كُلِّ ذِي نَابٍ من السباع وكلّ ذي مخلب من الطيرص۱۴۷نمبر۱۹۳۴/ ابوداؤدشريف.باب ماجاء في اكل السباع ص۱۷۷ نمبر۳۸۰۳/ بخاري شريف.باب اَكلِ ذِي نابٍ من السباع ص۸۳۰نمبر۵۵۳۰) ددې حديث څخه معلوم شوچي ځله څيرونکي دَارَوَر حيوانان او هغه مَرغَان چي په مَنګُولُو شَئ نيسي خوري يې دهغه خوړل جواز نَه لري .

لغت : نَابٌ : دَارَ. اَلسِّبَاعُ : څيرونکي حيوانان.درندګان. مِخلَبٌ : پَنجَه.مَنګوَلَه. هغه مرغان چي په منګولو شَئ نيسي خوري يې .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) يې د خوړلو څخه منع کړې ده هرڅيرونکئ خوراک کونکي چي نُوک دَار غَابِ لري دهغه حيوان دخوړلو څخه او د هر هغه مَرغَه دخوړلو څخه منع کړې ده چي په مَنګُولُو سره شَئ نيسي .

[۲۶۱۶](۳۷) وَلاَبَأسَ بِاَكلِ غُرَابِ الزّرعِ .

[۲۶۱۶](۳۷) هيڅ دحرج خبره نَه ده دګَبنت د کارګه په خوړلو کي .

تشريح : کارګان پر درې قِسم دي او په اُردُو ژبه کي و درو سره وُ ته ګَوّا (کارګه.کارغه)ويل کيږي. (۱) يو هغه کارګه چي تېزَ او تېره مښوکه لري.او پېچَل شوې وي.په تُور رنګه کي لَږ څَه سُپينوَالَئ هم پکښي وي.دا ډېر وُښيَار مرغه دئ.دا زمونږ د کورو څخه د چرګِي چيچَئ هم ځغلوي او ځله څيري يې کړي او خوري يې. دا ګَارګَه د تېرشوي حديث عَن اِبنِ عَبّاسٍ (رضي الله عنه) قَالَ نَهٰي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) عَن كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَعَن كُلِّ ذِي مِخلَبٍ مِّنَ الطَّيرِ (الف) (مسلم شريف.نمبر۱۹۳۴/ ابوداؤدشريف.نمبر۳۸۰۳/) په وجه حرام دئ.ځکه چي دا څيرونکئ مرغه دئ. اوهغه بَل کارګه بالکُل تُور دئ.دئ د هغه اَوّل کارګه په شان ډېر وُښيَار هم نَه دئ او نَه دئ ښکار کولائ شي.ودې ته مونږ(دهندوستان په رِيَاسَت بِهَارکي) ,, ډَر ګَوّا ,, يعني ډَر کارګه وايو.دئ هر وخت په اَنبَار او خُوشَايُو کي ګرزي په مَښُوکه يې ځله شَنِي او په هغه کي دَانَه يعني خُورَاک ګوري.دا دمُردَار شوي حيوان غُوَښَه هم خوري.نوځکه دا هم حرام دئ .

وجه : (۱) عَن اِبرَاهِيمَ اَنّهُ كَرِهَ مِنَ الطّيرِكُلّ شَئٍ يَأكُلُ المَيتَةَ (ب) (مصنّف عبدالرزاق باب الغراب والحداة ج۴ص۵۱۹نمبر۸۷۰۳/ مصنّف ابن ابي شيبة ۳۷ ماينهي عن اكله من الطيور والسباع ج۴ص۲۶۳نمبر۱۹۸۶۵) ددې اَثَرڅخه معلوم شو چي کوم مُردَار خوري هغه حرام دئ (۲) چي وُښ ګندګي خوري دهغه خوړل هم صحيح نَه دئ که چيري کارګه ګندګي خوري نو دهغه خوړل په طريقه اَولْي سره صحيح نَه دئ.په حديث کي دئ. عَن اِبنِ عُمَرَ (رضي الله عنه) قَالَ نَهٰي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) عَن اَكلِ الجُلاّلَةِ وَ اَلبَانِهَا (ج) (ابوداؤدشريف.

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) يې د خوړلو څخه منع کړې ده هرڅيرونکئ خوراک کونکي چي نُوک دَار غَابِ لري دهغه حيوان دخوړلو څخه او د هر هغه مَرغَه دخوړلو څخه منع کړې ده چي په مَنګُولُو سره شَئ نيسي (ب)

دحضرت ابراهيم څخه نقل شوئ دئ هر هغه مَرغَه چې مُردَار خوري دهغه خوړل يې مکروه ګانئ (ج) حضور منع وکړه دهغه وُښ د غُوَښُو دخوړلو څخه چې پَاخَانَه(غُوَل) خوري او دهغه دشيدو دچيښلو څخه .
باب النهي عن اكل الجلالة والبانهاج۲ص: ۱۷۵نمبر۳۷۸۵) ډَرکارګه ګندګي خوري او د مُردَار شوو حيوانانو غُوَښِي هم خوري نوځکه دا هم حلال نَه دئ .
دريم قسم کارګه مَا په انګلينډ کي ليدلئ دئ هغه بالکل تَک تُور دئ.د عام مرغانو په شان د انسان څخه تيښتي اوپه کښت کي دَانَه خوري او چِنجَان مِنجَان خوري دا په هر مُلک کي په بېلا بېل نوم سره يادېږي.لېکن دغه غُرَابُ الزّع دکښت کارګه دئ.دا نَه مُردَار خوري او نَه په ګندګي کي خوله اَچَوِي ځکه دا حلال دئ .
وجه : (۱) دا کارګه ذِي مِخلَب نه دئ (۲) په اَثَر کي راغلي دي. عَن اِبنِ طَاؤسَ عَن اَبِيهِ كُرِهَ مِنَ الطّيرِ مَايَأ كُلُ الجِيفَ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب الغراب والحداة ج۴ص۵۱۹ نمبر۷۸۰۲) ددې اَثَرڅخه معلو شوچي که مُردَار يا ګندګي خوري نو هغه مکروه دئ. اودا کارګه مُردَار شوئ يا ګندګي نَه خوري بلکه په کَښتُونُو کي دَانَه جَات خوري نوځکه حلال دئ. د مصنّف هم دغه مراد دئ.په هندوستان کي چې کوم عام خلګ کارګه ورته وايي چې ډېرهوشيار هم دئ اود کورو څخه د چرګي چيچَان هم ځغلوي او چې پر لُوښُو کښيني نو ګندګي وکي بيا ځغلي.او ډُوډَئ يا دغه رنګه بَل شَئ پورته کړي ځغلي دغه کارګه په هيڅ صورت کي نَه دئ حلال دا خو ذِي مِخلَب مرغه دئ.او ددې په اړه حضور (ﷺ) فرمايلي چې دا فَاسِق دئ که په حرم شريف کي وي هم دا قتل کوئ.حديث دا دئ. عَن عَائِشَةَ (رضي الله عنها) اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ خَمسٌ مِّنَ الدّوَابّ كُلّهُنّ فَاسِقٌ يُقتَلنَ فِي الحَرَمِ اَلغُرَابُ وَاالحَدَاةُ وَالكَلبُ العَقُورُ وَالعَقرَبُ وَالفَارَةُ (ب) (مسلم شريف.باب ماينذب للمحرم قتله من الدّواب في الأهل والحرم.ص:۳۸۱نمبر۱۱۹۸/ ۲۸۶۷) په دې حديث کې و کارګه ته فَاسِق ويلي دي او په حرم کې هم ددې قَتل جائز کړئ دئ نوځکه دا حرام دئ .

حاشيه : (الف) حضرت طاؤس ناخوښه ګانئ هر هغه مَرغَه چې مُردَار خوري (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل پنځه حيوانان فاسقان دي په حرم شريف کي هم بايد قتل کړل شي.کارګه.سرابنکئ.لېونئ سُپَئ.لَړَم او موږک .

[۲۶۱۷](۳۸) وَلاَيُؤكَلُ الاَبقَعُ الّذِي يَأ كُلُ الجِيفَ [۲۶۱۸](۳۹) وَيُكرَهُ اَكلُ الضّبُعِ وَالضّبِّ وَالحَشَرَاتِ كُلِّهَا .

[۲۶۱۷](۳۸) او نَه به خوړل کيږي اَبقَع کارګه چې مُردَار خوري .
تشريح : اَبقَع کارګه هغه کارګه دئ کوم چې په اَوّل نمبر کي بيان شو.دا په رنګه تُور وي لېکن وسُپين وَالِي ته څَه مَائِل وي.او د غَارِي سره نژدې لږ څَه سُپين وَالَئ بنکاره بريښي.او مُردَار خوري بلکه د چرګِي چيچَان هم ځغله وي .

وجه : دلائل يې مخته په مسئله نمبر ۳۷ کي تېرشوي دي.ډَر کارګه هم په دي کي شامِل دئ. ودې ته ډَر کارګه(يعني ډَارَن کارګه)په دې وجه وايي چي د هغه بَل هوښيار کارګه په نِسبَت دئ زيات بېريرِي(وېريرِي) .
لغت : اَبقَعُ : گَمَرَئ. اَلجِيفُ : مُردار. بَدبُودَار .
[۲۶۱۸](۳۹) او مکروه دئ د کُوږ او سَمسَارې او ټوله حشراتُ الأرض خوړل .
تشريح : کُوږ او سَمسَارَه د حشراتُ الأرض څخه دي او هغه حيوانان دي چي په خپله غُوَښَه خوري.دُوئ نُوکدَارَه غاښونه هم لري نو ځکه د احنافُ په نېز د دُوئ خوړل تحريمي دئ.په حديثُو کي دواړې خبري راغلي دي نوځکه بالکلّيه حرام کړې نَه دي بلکه مکروه يې وګرزول .
وجه : د کُوږ ..... دمکروه والي دليل دا حديث دئ. عَن اَخِيهِ خُزَيمَةَ بِنِ جَزءٍ قَالَ سَألتُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) عَن اَكلِ الضّبُعِ؟ قَالَ وَيَأكُلُ الضّبُعَ اَحَدٌ؟ (ج) (ترمذي شريف.باب ماجاء في اكل الضبع ج۲ص: ۱ نمبر۱۷۹۲/ ابن ماجه شريف.باب الضبع ص: ۴۷۰نمبر۳۲۳۷) حضور (ﷺ) په تَعَجّب سره پوښتنه وکړه چي کُوږ هم څوک خوړلائي سي؟ نولدې وجه دا به حرام وي .
فائده : د امام شافعي په نېز کُوږ حلال ده .

حاشيه : (ج) مَا دحضور څخه د کُوږ په اړه پوښتنه وکړه.حضور وفرمايل کُوږ هم څوک خوړلائي شي ؟
وجه : دده دليل دا حديث دئ. عَن جَابِرَ بِنِ عَبدِاللهِ قَالَ سَألتُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) عَنِ الضّبُعِ فَقَالَ هُوَ صَيدٌ وَيُجعَلُ فِيهِ كَبَشٌ اِذَا صَادَهُ المُحرِمُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في اكل الضبع ص۱۷۷نمبر۳۸۰۱) په ترمذي شريف کي دا ډول عبارت دئ. قُلتُ لِجَابِرَ اَلضّبُعُ صَيدٌ هِيَ؟ قَالَ نَعَم قَالَ قُلتُ اَكلُهَا؟ قَالَ نَعَم قَالَ قُلتُ اَقَالَهُ رَسُولُ اللهِ (ﷺ)؟ قَالَ نَعَم (ب) (ترمذي شريف.باب ماجاء في اكل الضبع ج۲ص۱نمبر۱۷۹۱) ددې حديث څخه معلوم شوچي کُوږخوړل حرام دئ .
او ضَبّ (سَمسَارَه) خوړل هم د احناف په نېز مکروه ده دليل يې دا حديث دئ. سَمِعتُ اِبنَ عُمَرَ يَقُولُ قَالَ النّبِيّ (ﷺ) اَلضّبّ لَستُ آكِلُهُ وَلاَ اُحَرّمُهُ (ج) او ددغه باب په بَل روايت کي راغلي دي. فَقَالُوا هُوَ ضَبّ يَارَسُولَ اللهِ! فَرَفَعَ يَدَهُ فَقُلتُ اَحَرَامٌ هُوَ يَارَسُولَ اللهِ؟ فَقَالَ لاَ وَلٰكِن لَم يَكُن بِاَرضِ قَومِي فَاَجِدُنِي اُعَافِهِ قَالَ خَالِدٌ فَاجتَرَرتُهُ فَاَكَلتُهُ وَرَسُولُ اللهِ (ﷺ) يَنظُرُ (د) (بخاري شريف.باب الضب ص۸۳۱ نمبر۵۵۳۶/ مسلم شريف.باب اباحة الضبّ ص۱۵۰نمبر۱۹۴۳/ ۱۹۴۵) ددې حديث څخه معلوم شوچي حضور(ﷺ) د سَمسَارې غُوَښَه نه ده خوړلي ځکه چي دا نَاوَړَه شئ وُ لِهٰذَا مکروه ده ... په يوه بل حديث کي راغلي دي. عَن عَبدِالرّحمٰنَ بِنِ شِبلٍ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) نَهٰي عَن اَكلِ لَحمِ الضّبّ (ه) (ابوداؤدشريف.باب في اكل الضبّ ص۱۷۶ نمبر۳۷۹۶) ددې حديث څخه معلوم شوچي د سَمسَارې غُوَښَه حلال نَه ده .

فائده : د امامِ شافعي په نبز حلال ده .

حاشيه : (الف) مَا دحضور څخه دګورِ په اړه پوښتنه وکړه. وفرمايل دا ښکار دئ او دهغه په بَدَل کي پُسَه لازميږي که مُحرِم دهغه ښکار وکړي (ب) مَا دحضرت جابر څخه د ګورِ په اړه پوښتنه وکړه چي آيا دا ښکار دئ؟ وفرمايل هو! مَا پوښتنه وکړه څوک هغه خوړلائي شي؟ وفرمايل هو! مَا پوښتنه وکړه آيا حضور دا فرمايلي دي؟ وفرمايل هو! (ج) حضور وفرمايل سَمسَارَه نَه خورم او نَه هغه حرام ګرزوم (د) خلګو وويل دا سَمسَارَه ده يَارَسُولَ اللهِ! نوحضور د دُوَئ څخه لأس پورته کړئ. مَا پوښتنه ځيني وکړه آيا دا حرام ده يا رسول الله؟ وفرمايل نَه.لېکن زوما د قوم په مځکه کي نَه موندل کيږي(يعني زمونږ پر خُوَا نشته)نوځکه زَه ددې څخه کَرَاهَت محسوسوم يعني په مَکّه مُکَرّمَه کي نشته. حضرت خالد فرمايي چي مَا خپله خوا ته رَاکَش کړه او په خورک يې شروع شوم او حضور راته کتل (ه) حضور د سَمسَارِ د خوړلو څخه منع وکړه .

وجه : (۱) په تېر شوي حديث کي حضرت خالد دسَمسَارِ غُوَښَه خوړلي ده او حضور نَه کړئ منع.ددې څخه معلوم شوچي دا حلال دئ (۲) په يوه بل حديث کي په دې دَوَل دئ. فَنَادَت اِمرَأَةٌ مِن نِّسَآءِ النَّبِيِّ (ﷺ) اَنَّهُ لَحمُ ضَبٍّ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) كُلُوا فَاِنَّهُ حَلاَلٌ وَلٰكِن لَيسَ مِن طَعَامِي (الف) (مسلم شريف.باب اباحة الضبّ ص۱۵۰ نمبر۱۹۴۴) ددې حديث څخه معلوم شوچي د سَمسَارِ غُوَښَه حلال ده .

حشرات الارض مکروه دي .

وجه : (۱) په آيت کي دئ. وَيَحِلّ لَهُمُ الطَّيِّبٰتُ وَيُحَرِّمُ عَلَيهِمُ الخَبَائِثُ (آيت۱۵۷ سورة الاعراف ۷) په دې آيت کي دئ چي خبيث شِيَان حرام شوي دي او حشرات الارض خبيث شِيَان دي نوځکه خوړل يې حرام دي (۲) قَالَ كُنتُ عِندَ اِبنِ عُمَرَ فَسُئِلَ عَن اَكلِ القُنفُذِ فَتَلاَ قُل لاَ اَجِدُ فِيمَا اُوحِيَ اِلَيَّ مُحَرّمًا (آيت ۱۴۵ سورة الانعام۶) قَالَ قَالَ شَيخٌ عِندَهُ سَمِعتُ اَبَاهُرَيرَةَ يَقُولُ ذُكِرَ عِندَ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) فَقَالَ خَبِيثَةٌ مِّنَ الخَبَائِثِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في اكل حشرات الارض ص۱۷۶نمبر۳۷۹۹/سنن للبيهقي.باب ماروي في القنفذوحشرات الارض ج۹ص۵۴۷نمبر۱۹۴۳۱) ددې حديث څخه معلوم شوچي قُنفُذ يعني ځنګلي مُوږَک خوړل صحيح نَه دئ او هغه د حشرات الارض څخه دئ نوځکه دحشرات الارض خوړل هم جواز نَه لري (۳) سَمسَارَه هم دحشرات الارض څخه ده هغه يې په تېرشوي حديث کي مکروه بلکه حرام کړي دي.نو قياس پر دغه نور حشرات الارض هم حرام دي .

لغت : اَلضّبُعُ : ګورِ. اَلضّبّ : سَمسَارَه. حَشَرَاتُ الاَرض : هغه حيوانان چي پر مځکه ځکيږي لکه مُوږَک.کِيشَو.مَار.لَړَم او ددې په شان نور .

حاشيه : (الف) د حضور د پِي پِي ګانو خه يوې بَرَغ وکړئ چي دا د سَمسَارِ غُوَښَه ده نو حضور وفرمايل تاسو سې وخورئ دا حلالَ ده لېکن دا زُومَا د خوراک نَه ده (ب) زَه د عبدالله بن عمر سره موجود وم نو د مُوږَک د خوړلو په اړه يې پوښتنه وکړه نو هغه دا آيت ولوستئ قُل لاَ اَجِدُ الخ ..... حضرت ابوهريره وفرمايل دحضور (ﷺ) په مخکي د مُوږَک تذکره راغله نو حضور (ﷺ) وفرمايل د خبيثانو څخه يو خبيث دئ .

[۲۶۱۹](۴۰) وَلاَيَجُوزُ اَكلُ لَحمِ الحُمُرِ الاَهلِيّةِ وَالبِغَالِ [۲۶۲۰](۴۱) وَيُكرَهُ اَكلُ لَحمِ الفَرَسِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي .

[۲۶۱۹](۴۰) او جواز نَه لري د کورنيو خرو خورک او د ګڅَرَانُو خورک .
تشريح : يو ځنګلي خَر وي دهغه خوړل جائزدئ بَل بيا کُورَنَئ خَر (اَهلِي خر) وي دهغه خوړل حرام دئ.او د خَرَه او آس د نژدېکت څخه چي کوم بَڅَئ پيدا کيږي هغه ته ګڅَر وايي هغه هم حرام دئ .
وجه : (۱) عَن اِبنِ عُمَرَ نَهٰي النّبِيّ (ﷺ) عَن لُحُومِ الحُمُرِ الاَهلِيّةِ يَومَ خَيبَرَ (الف) (بخاري شريف.باب لحوم الحمرالانسِيّة ص۸۹۲نمبر۵۵۲۱/مسلم شريف.باب تحريم اکل لحم حمرالإنسِيّة ص۱۴۹نمبر۱۹۳۶) ددې حديث څخه معلوم شوچي د کورنيو خرو غوښي حلالِ نَه دي.په ابتداء اسلام کي جائز وې.د خَيبَر د غزا پر وخت حرام شوې. اودګڅَر غوښي حرام دي دهغه دليل دا حديث دئ. عَن خَالِدِ بنِ الوَلِيدِ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) نَهٰي عَن اَكلِ لُحُومِ الخَيلِ وَالبِغَالِ وَالحَمِيرِ وَكُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ (ب) (نسائي شريف.باب تحريم اکل لحوم الخيل ص۶۰۲نمبر۴۳۳۷/ابن ماجه شريف.باب لحوم البغال ص۴۶۴نمبر۳۱۹۸) ددې حديث څخه معلوم شوچي دګڅَر غوښه حلال نَه ده (۲) ګڅَر د خره څخه پيدا شوئ دئ چي خَر حلال نَه دئ نو ګڅَر به څَه ډَول حلال شي.
[۲۶۲۰](۴۱) مکروه ده د آس غُوَښَه خوړل د امام ابوحنيفه په نېز .
تشريح : د آس غُوَښَه حلال ده البتّه مکروه ده .
وجه : (۱) آس د جهاد په دَورَان کي په کاريږي که چيري دده د خوړلو عام اِجَازَت ورکول شي نو په جهاد کي به نُقصَان راشي نو ځکه مکروه يې ګڼلئ دئ (۲) مخته په حديث کي تېرشوي دي عَن خَالِدِ بنِ وَلِيدٍ اَنّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) يَقُولُ

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) د اَهلِي(کورني)خَرَه د غوښي څخه د خَيبَر په وُرَځ منع وکړه (ب) حضور (ﷺ) د آس.ګڅَر او د خَرَه د غوښي د خوړلو څخه منع وکړه او ځيرونکي دَارِوَر غاښو والا حيوان د خوړلو څخه منع وکړه .

[۲۶۲۱](۴۲) وَلاَبَأسَ بِاَكلِ الاَرنَبِ .

لاَيَحِلّ اَكلُ لُحُومِ الخَيلِ وَالبِغَالِ وَالحَمِيرِ (الف) (نسائي شريف.باب تحريم اکل لحوم الخيل ص۶۰۲نمبر۴۳۳۶/ابن ماجه شريف.باب لحوم البغال ص۴۶۴نمبر۳۱۹۸) ددې حديث څخه معلوم شوچي آس خوړ حرام دئ .
فائده : امامِ شافعي او صاحبين فرمايي چي آس خوړل حلال دئ .
وجه : (۱) په حديث کي دئ. عَن جَابِرَ بنِ عَبدِاللهِ قَالَ نَهٰي النّبِيّ (ﷺ) يَومَ خَيبَرَ عَن لُحُومِ الحُمُرِ وَرَخّصَ فِي لُحُومِ الخَيلِ (ب) (بخاري شريف.باب لحوم الخيل ص۸۲۹ نمبر۵۵۲۰/مسلم شريف.باب اباحة اکل لحوم الخيل ص۱۵۰نمبر۱۹۴۱) ددې په يوه بل روايت کي دا

الفاظ هم راغلي دي. سُمِعَ جَابِرُ بِنِ عَبدِاللهِ يَقُولُ اَكَلنَا زَمَنَ خَيبَرَ الخَيلَ وَحُمُرَ الوَحشَ (ج) (مسلم شريف.نمبر ۱۹۴۱/ ۵۰۲۳/ بخاري شريف.نمبر ۵۵۱۹) ددې حديث څخه معلوم شوچې د آس غُوَښې خوړل حلال دي .

[۲۶۲۱](۴۲) هيڅ حرج نشته د سُوئ په خوړلو کي .

وجه : (۱) سُوئ دَاډَوَل حيوان دئ چې نَه غوښې خوري او نَه ګندګي خوري.دَاډَوَل حيوان دئ چې وَاښَه خوري نوځکه دا حلال دئ (۲) په حديث کي راغلي دي. عَن اَنَسٍ قَالَ اَنفَجنَا اَرنَبًا وَنَحنُ بِمَرِّ الظّهرَانَ فَسَعْي القَومُ فَلَغِبُوا فَاَخَذتُهَا فَجِئتُ بِهَا اِلْي اَبِي طَلحَةَ فَذَبَحَهَا فَبَعَثَ بِوَرِكَيهَا اَو قَالَ بِفَخِذَيهَا اِلْي النّبِيِّ (ﷺ) فَقَبِلَهَا (د) (بخاري شريف.باب الرنب ص۸۳۰نمبر۵۵۳۵/مسلم شريف.باب اِبَاحَةِ الاَرنَبِ ص۱۵۲نمبر۱۹۵۳) ددې حديث څخه معلوم شو چې خَرګوش(سُوئ)حلال دئ .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) فرمايي چې حلال نَه دئ د آس.خَرَه او ګَيَر د غوښو خوراک (ب) د خَيبَر په ورځ حضور (ﷺ) منع وکړه د خَرَه د غوښې د خوړلو څخه او رُخصَت(اِجَازَت) يې ورکړئ د آس د غوښو د خوړلو (ج) حضرت جابر فرمايي چې موږ د خَيبَر په ورځ د آس او د وَحشِي خره غوښې وخوړلې (د) حضرت انس فرمايي چې موږ په مَرّالظّهرَان کي سُوئ وَځغَلاَوَئ او خلګو هم مَنډَه وکړه او هغه يې ستړئ کئ.مَا هغه ونيوئ او ابوطلحه ته مي رَاوړَئ او هغه ذَبح کړئ. بيايي دهغه وُرُن حضور (ﷺ) ته وَاستَاوَئ نو حضور (ﷺ) هغه قبول کړئ .

[۲۶۲۲](۴۳) وَ اِذَا ذُبِحَ مَالاَيُؤكَلُ لَحمُهُ طَهُرَ جِلدُهُ وَلَحمُهُ اِلاّ الآدَمِيّ وَالخِنزِيرِ فَاِنّ الذّكَاةَ لاَتَعمَلُ فِيهَا .

[۲۶۲۲](۴۳) که دَا دَوَل حيوان ذَبح کړي چې غُوښې يې نَه خوړل کيږي نو پاک ګرزي دهغه پُوست او غوښه مَاسِوَا د اِنسَان او د خنزير چې په هغه کي ذَبح هيڅ اَثَر نه کوي .

تشريح : مثلاً پشِي.ګِيدَړ او د دُوئ په شان نور کوم چې غوښې يې حلال نَه دي که چيري دغه رنګه حيوانان په شرعي طريقه سره ذَبح کړي نو د دُوئ غوښه نَه حلاليږي او نَه د خوړلو قَابِل ګرزي البته غُوَښَه او پُوست پاک ګرزي. پر پُوست (يعني چمړه)باندي په دغه حالت کي لمونځ کولائي شي او چې دغه غُوَښَه يې په جِيب کي موجود وي نو لمونځ اداء کولائي شي .

وجه : (۱) په اَصل کي بَيَدُونکې وِينَه ناپاک ده.د ذَبح کولو په وجه بَيَدُونکې وِينَه وَوَتَل نوځکه پُوست او غُوَښَه پاک شول که څَه هم حلال نَه وي (۲) د مُردَار شوي حيوان و پُوست ته چې دَبَاغَت ورکړل شي هغه پاک ګرزي ځکه چې د دَبَاغَت په وجه وِينَه او نور نَاپَاک رُطُوبَتُونَه وزي.دغه رنګه د ذَبح په وجه وِينَه وَوَتَل نو پُوست او غُوَښَه پاک شول.په حديث کي راغلي دي. اَنّ عَبدَاللهِ بِنِ عَبّاسٍ (رضي الله عنه) اَخبَرَهُ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) مَرّ بِشَاةٍ مَيتَةٍ فَقَالَ هَلاّ اِستَمتَعتُم بِاِهَابِهَا؟ قَالُوا اِنّهَا مَيتَةٌ قَالَ اِنّهَا حَرَامٌ اَكلُهَا (الف) (بخاري شريف.باب جلودالميتة ص۸۳۰نمبر ۵۵۳۱) او په ترمذي شريف کي راغلي

دي. سَمِعتُ اِبنَ عَبّاسٍ يَقُولُ مَاتَت شَاةٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لاَهلِهَا اَلاّ نَزَعتُم جِلدَهَا ثُمّ دَبَغتُمُوهُ فَاستَمتَعتُم بِهِ (ب) (ترمذي شريف.باب

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) د مُردَارِ شوي بُوزِي مخته تېر شو نوحضور (ﷺ) وفرمايل تاسو ددې د ګڅه چمړي(څَرمَنِي)څخه فائده نَه اَخلئ؟ خلګو وويل دا خو مَړه شوې ده.حضور (ﷺ) وفرمايل ددې خوړل حرام دي يعني چمړه يې نَه ده حرام (ب) حضرت ابن عبّاس به فرمايل چې يوه بُوزَه مَړه شوه نو حضور (ﷺ) وفرمايل ددې چمړه وَلِي نه څيني بَاسَئ؟ بيا هغې ته دَبَاغَت ورکئ بيا تاسو ددې څخه فائده واخلئ .

[۲۶۲۳](۴۴) وَلاَيُؤكَلُ مِن حَيوَانِ المَآءِ اِلاّ السّمَکُ .

ماجاء في جلود الميّت اذا دبغت ص۳۰۳نمبر۱۷۲۷) ددې حديث څخه معلوم شو چې د مُردَار شوي حيوان و پُوست ته دَبَاغَت ورکړي نو هغه پاک ګرزي قياس پر دغه چې غَيرِمَأكُولُ اللّحم ذَبح کړي نو دهغه چمړه هم پاکَ ګرزي.ځکه چې وِينَه او نَاپَاک رُطُوبتُونَه د ذَبح کولو په وجه وَوَتَل .

فائده : امامِ شافعي فرمايي چې غَيرِمَأكُولُ اللّحم ذبح کړي نو پُوست يې نَه پاکيږي تر څو چې هغه ته دَبَاغَت نَه وي ورکړئ.لکه څَه رنګه چې په تېرشوي حديث کي دئ چې د مُردَار شوي و پُوست ته دَبَاغَت ورکړئ نو پاک شو .

البته خنزير ذبح کړي يا دهغه وپُوست ته دَبَاغَت ورکړي هغه په هيڅ حال کي نَه حلاليږي ځکه چې هغه نَجَسُ العَين دئ.اِلاّ اَن يَكُونَ مَيتَةً اَو دَمًا مَسفُوحًا اَو لَحمَ خِنزِيرٍ فَاِنّهُ رِجسٌ اَو فِسقًا (الف) (آيت ۱۴۵سورة الانعام ۶) چې نَجَسُ العَين دئ نو که چيري دَبَاغَت ورکړي بيا هم نَه پاکيږي .

او انسان مُحتَرَم او مُکَرّم دئ نو دئ په ذبح کولو سره هم نَه پاکيږي ددې لپاره چې خلګ دده خوړل او استعمالول شروع نَه کړي. وَلَقَد كَرّمنَا بَنِي آدَمَ (آيت ۷۰ سورة الاسراء ۱۷) اِنسان پاک خو دئ لېکن د ذبح کولو په صورت کې په دې وجه پاک نَه ګڼي چې بيا خلګ دده پُوست استعمال نَه کړي او دا به دده تَوهِين وي .

[۲۶۲۳](۴۴) او د اُبُو د حيوانانو څخه به نَه خوړل کيږي ماسوايَه د مَاهِي .

تشريح : د امامِ ابوحنيفه په نېز د سمندر په حيوانانو کي صرف مَاهَئ حلال دئ دا نور ټوله حرام دي .

وجه : (۱) په حديث کي دئ. عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اُحِلّت لَنَا مَيتَتَانِ اَلحُوتُ وَالجَرَادُ (ب) (ابن ماجه شريف.باب صيدالحيتان والجرادص۴۶۷ نمبر۳۲۱۸

حاشيه : (الف) مګر دا چې مُردَار شوئ وي يا بَيَدُونکي وِينَه وي يا دخِنزِير غوښه وي نَاپَاک دئ يا فِسق دئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل زُومَا لپاره حلال کړل شوي دي دوه مَړه مَاهَئ او مَلَخ .

/ دارقطني.كتاب الاشربة ج۴ص۱۸۴نمبر۴۶۸۷) ددې حديث څخه معلوم شوچې صرف او يواځي مَاهَئ حلال دئ (۲) په حديث کي ددې منع راغلې ده چې چُونګُوَښَه په دَوَاپي کي وَاچَوِي. او سره ددې چې چُوَنګُوَښَه د دَرياَب حيوان دئ.ددې څخه معلوم شوچې د مَاهِي څخه علاوه نور سَمَندَرِي حيوانان ټوله حرام دي.حديث دادئ. عَن عَبدِالرّحمٰنَ

بِنِ عُثْمَانَ اَنّ طَبِيبًا سَأَلَ النّبِيّ (ﷺ) عَن ضِفدَعٍ يَجعَلُهَا فِي دَوَاءٍ فَنَهَاهُ النّبِيّ (ﷺ) عَن قَتلِهَا (الف) (ابوداؤدشريف.باب في الادوية المكروهة ص۱۸۴نمبر۳۸۷۱) په دې حديث کې د چُونګُوَښي د قتل او وژلو څخه منع کړې ده او په دَوَايِي کې اَچَوَل هم منع کړي دي ددې څخه معلوم شوچي دا حلال نَه ده دغه رنګه دسَمَندَر نور حيوانان هم حلال نَه دي .

فائده : د امامِ شافعي په نېز د سَمَندَر ټوله حيوانان حلال دي .

وجه : (۱) په آيت کي دئ اُحِلّ لَكُم صَيدُ البَحرِ وَطَعَامُهُ مَتَاعًا لَكُم وَلِلسّيّارَةِ (ب) (آيت ۹۶سورة المائدة ۵) په دې آيت کي د سَمَندَر د ټولو حيوانان بنکار حلال کړئ دئ ددې څخه معلوم شوچي د سَمَندَر ټوله حيوانان حلال دي (۲) په حديث کي دئ سُمِعَ اَبُوهَرَيرَةَ يَقُولُ ..... فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) هُوَ الطّهُورُ مَاؤهُ وَالحِلّ مَيتَتُهُ (ج) (ابوداؤدشريف.باب الوضوء بماء البحرص۱۳نمبر۸۳/ ترمذي شريف.باب ماجاء في ماء البحر انّه طهورص۲۱نمبر۶۹) په دې حديث کې د سَمَنَدر ټوله مَړَه شوي حيوانان حلال کړي دي ددې مطلب دا شو چي سَمَندَرِي حيوان مَړ شي او ذَبح کړې هم نَه وي بيا هم ټوله حلال دي. په بعضو رواياتو کي دئ چي د سَمَندَر سُپَئ او خنزير حرام دئ حُکه چي دا د خُشکئ دا نَجَسُ العَين دئ لِهْذَا د سمندر دا هم حلال نَه دي.په دارقطني کي دا ډَوَل الفاظ دي عَن جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مَا مِن دَابّةٍ فِي البَحرِ اِلاّ قَد

حاشيه : (الف) يوه طبيب دحضور (ﷺ) څخه د چُونګُوَښي په اړه پوښتنه وکړه چې دا په دَوَايِي کي وَاچُو؟ نو حضور (ﷺ) دهغه د قَتل(وَژلُو) څخه منع وکړه (ب) ستاسو لپاره د سمندر(دَرياَب)بنکار حلال کړل شوئ دئ او د هغه خوړل ستاسو لپاره د فائدې شَئ دئ او د مسافرو لپاره (ج) حضور وفرمايل د سَمَندَر اُوبَه پاکِ دي او دهغه مَړئ يعني مَاهَئ حلال دئ .

[۲۶۲۴](۴۵) وَيُكرَهُ اَكلُ الطّافِي مِنهُ [۲۶۲۵](۴۶) وَلاَبَأسَ بِاَكلِ الجَرِيثِ وَالمَارمَاهِي .

ذَكَاهَا اللهُ لِبَنِي آدَمَ (الف) (دارقطني.كتاب الاشربة ج۴ص۱۸۰نمبر۴۶۶۶) .

[۲۶۲۴](۴۵) او مکروه دئ دهغه مَاهِي خوړل چې پر اُوبُو لوړ تېر شي .

تشريح : چې په قُدرَتِي توګه سره مَاهَئ مړ شي و د اُوبُو پر سَر تېرشي يعني رَوَان وي هغه ته طَافِي مَاهَئ وايي دهغه خوړل مکروه دئ .

وجه : (۱) په عمومي توګه هغه مَاهَئ د اُوبُو پر سَر تېريږي کوم چې پَرسېدَلَئ وي او بُوئ يې کړئ وي نوځکه د دَاوَل ماهي خوړل يې مکروه ګڼلئ دئ (۲) عَن جَابِرَ بِنِ عَبدِاللهِ عَنِ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ كُلُوا مَاحَسَرَ عَنهُ البَحرُ وَمَا اَلقَاهُ وَمَا وَجَتّمُوهُ مَيتًا اَو طَافِيًا فَوقَ المَاءِ فَلاَ تَأكُلُوهُ (ب) (دارقطني.كتاب الاشربة ج۴ص۱۸۰نمبر۴۶۶۸/ سنن للبيهقي.باب من كره اكل الطافي ج۹ص۴۲۸نمبر۱۸۹۹۰) ددې حديث څخه معلوم شوچي کوم مَاهَئ چې مَړ شي او د اُوبُو پر سَر لوړ تېريږي هغه بايد وَنَه خوري .

پام لرنه : کوم مَاهَئ چي تازه تازه مړ وي يا ديوي حادثې په نتيجه کي مَړ وي هغه خوړلائي شي ځکه چي دا تر اُوس ګړئ يه وُړُوست شوئ نَه دئ. په دغه الفاظو ,,كُلُوا مَاحَسَرَ عَنهُ البَحرُ وَمَا اَلقَاهُ ,, سره ودغه ته اشاره شوې ده .
لغت : اَلطّافِيُ : هغه مَاهَئ چي په اُوبُوکي مَړ وي او پر اُوبُو سَرېږَه روان وي .
[۲۶۲۵](۴۶) او د جريث او مَارمَاهِي په خوړلو کي کوم حرج نشته .
تشريح : جَرِيث يومخصوص دَوَل ماهئ دئ چي د عام مَاهِيَانُو څخه ببل او جلا دئ دئ په شکل وصورت کي د مَارمَاهِي څخه جلا دئ او د مَار په شان وُړد دئ.دغه

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل په سَمَندَر کي هيڅ يَو حيوان نشته مګر الله تعالّي هغه د بَنِي آدم لپاره ګواکه که ذَبح کړئ دئ يعني حلال دئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل سَمَندَر چي کوم ماهئ پرېږ دي يا هغه دَبَانِدِي رَاوَغُورزَوِي هغه وَخُورَئ.او کوم چي تاسو مَړ شوئ ومونږئ يا پر اُوبُو تېرېږئ هغه مَه خورئ .

[۲۶۲۶](۴۷) وَيَجُوزُ اَكلُ الجَرَادِ وَلاَ ذَكَاةَ لَهُ .

ډول مَارمَاهِي ماهئ هم د مَار په شان وُړد دئ لېکن هغه مَاهَئ دئ نوځکه دهغه په خوړلوکي کوم حرج نشته .
لغت : اَلجَرِيثُ : په پښتو ژبه کي کوم خاص نوم نَه لري. اَلمَارمَاهِي : فارسي لفظ دئ. د مَار په شان مَاهَئ چي په هِندُوستَان کي بَام مَاهَئ ورته ويل کيږي .
[۲۶۲۶](۴۷) جائز دئ مَلَخ خوړل او په دي کي د ذَبح ضرورت نشته .
وجه : مَلَخ حلال دئ دليل يې دا حديث دئ. سَمِعتُ اِبنَ اَبِي اَوفٰي قَالَ غَزَونَا مَعَ النّبِيِّ (ﷺ) سَبعَ غَزَوَاتٍ اَو سِتّا كُنّا نَأ كُلُ مَعَهُ الجَرَادَ (الف) (بخاري شريف.باب اكل الجراد ص۸۲۶نمبر۵۴۹۵/مسلم شريف.باب اباحة الجراد ص۱۵۲نمبر۱۹۵۲) ددې حديث څخه معلوم شوچي مَلَخ حلال دئ. دا چي دمَلَخ د حلالولو ضرورت نشته دهغه دليل دا حديث دئ چي مخته هم تېرشوئ دئ. عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اُحِلّت لَنَا مَيتَتَانِ اَلحُوتُ وَالجَرَادُ (ب) (ابن ماجه شريف.باب صيدالحيتان والجراد ص۴۶۷نمبر۳۲۱۸/دارقطني.كتاب الاشربة ج۴ص۱۸۴نمبر۴۶۸۷) په دې حديث کي دئ چي مَړ شوئ حلال دئ يعني د مَلَخ د ذَبح کولو ضرورت نشته کوم چي مَړ شوئ وي هغه هم د مَاهِي په شان حلال دئ .
لغت : اَلجَرَادُ : مَلَخ. لاَذَكوٰةَ لَهُ : ددې د حلالولو ضرورت نشته .

حاشيه : (الف) ابن ابي اوفٰي فرمايي چي موږ د حضور (ﷺ) سره اُوَه يا شُپږ غزواې وکړې.موږ به دحضور (ﷺ) سره مَلَخ خواړئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل زمونږ لپاره دوه مړه حلال کړل شوي دي.مَاهَئ او مَلَخ.يعني د ذَبح کېدلو بغيره هم حلال دي .

﴿... كِتَابُ الأُضحِيَةِ ...﴾

[٢٦٢٧](١) اَلاَضحِيَةُ وَاجِبَةٌ عَلْي كُلِّ حُرٍّ مُسلِمٍ مُقِيمٍ مُوسِرٍ فِي يَومِ الاَضحْي .

﴿... كِتَابُ الأُضحِيَةِ ...﴾

ضروري پام لرنه : کوم حيوان چي د اُضحيي(اَختَرِي) په نِيّت د ذِي الحجّة په لَسَم.يوولَسم يا دُولَسَم تاريخ ذبح يعني حلال کړي هغه ته اُضحِيَه ويل کيږي.د قُربانئ دليل په دې آيت کي دئ. فَصَلِّ لِرَبِّکَ وَاَنحَر (الف) (آيت٢سورة الکوثر١٠٨) په دې آيت کې د نَحَر کولو حکم کړئ دئ چي و قُربانئ ته اِشَارَه ده. او په حديث کي دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولُ اللهِ قَالَ مَن کَانَ لَهُ سَعَةٌ وَلَم يُضَحّ فَلاَيَقرَبَنّ مُصَلاّنَا (ب) (ابن ماجه شريف.باب الاضاحي واجبة هي اَم لا؟ ص٤٥٥نمبر٣١٢٣/دارقطني.کتاب الاشربة ج٤ ص١٨٥نمبر٤٦٩٨) په دې حديث کي دئ چي کوم څوک چي دقُربَانَئ(اَختَرِي)کولو قُدرَت لري او بيا هم قرباني ونَه کړي نو هغه دي زمونږ عِيدگاه ته نَه راځي ددې څخه د وُجُوب ثبوت وشو .

[٢٦٢٧](١) قرباني واجب ده پر هر آزاد.مسلمان.مُقِيم او چي د قُربانئ په ورځ مَالدَارَه وي پر هغه چا باندي .

تشريح : چي اِنسَان آزاد وي.مسلمان وي او مُقِيم وي مسافر نَه وي او دقُربانئ په ورځو کي مَالدَار هم وي نو پر هغه قُرباني واجب ده .

وجه : (١) د هر يوه وجه . دا چي آزاد او مسلمان به وي دهغه دليل په څو کرته تېرشوئ دئ چي مسلمان وي نو بيابه عبادت پر واجب وي.قُرباني هم يو عبادت

حاشيه : (الف) دخپل رَب لپاره لمونځ اداء کړه او نَحَر وکړه (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل کوم څوک چي وَس او طاقت لري او قُرباني وَنَه کړي نو زمونږ عيدگاه ته دي نَه راځي .

دئ نوځکه پر کافر قرباني نشته.او دغُلام سره خپل مَال نشته نوهغه به قرباني څه دول کوي؟ او دمُقِيم والي شرط په دې وجه دئ چي ومسافِر ته په قربانئ کولو کي هغه آسانتيا نشته کوم چي ومُقِيم ته حاصل ده.لېکن که چيري مسافِر قرباني وکړه نو قرباني يې اداء کيږي.حضور (ﷺ) په سَفَر کي قرباني کړې ده. عَن ثَوبَانَ قَالَ ضَحّي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) ثُمّ قَالَ يَا ثَوبَانُ اَصلِح لَنَا لَحمَ هٰذِهِ الشّاةَ قَالَ فَمَازَالَت اَطعِمُهُ مِنهَا حَتّي قَدِمنَا المَدِينَةَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في المسافِريضحّي ص٣٣نمبر٢٨١٦/بخاري شريف.باب من ذبح اضحية غيره ص٨٣٤نمبر٥٥٥٩) ددې حديث څخه معلوم شوچي مُسَافِر قرباني کولائي شي البته پر ده وَاجِب نه ده. دا چي مَالدَار وي بيا پر هغه قرباني واجب ده دليل يې دا دئ چي که چيري غريب وي نو قرباني به لکومي خوا کوي؟ دئ خو په خپله مُحتَاج

دئ.د مالدارئ څخه مراد دادئ چې دئ د قربانئ په ورځو کې د زکوة د نِصَاب مَالِک وي (۲) مخته حديث تېرشو عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) قَالَ مَن كَانَ لَهُ سَعَةٌ وَلَم يُضَحِّ فَلاَيَقرَبَنّ مُصَلاّنَا (ابن ماجه شريف.نمبر۳۱۲۳) په دې حديث کې دئ چې ګنجائش وي نو قرباني واجب ده که نَه نو بيا واجب نَه ده.دا چې قرباني واجب ده سُنّت نَه ده دهغه دليل هم هغه تېرشوئ حديث دئ. ځکه چې حضور (ﷺ) وفرمايل که د ګنجائش سره سره دئ قرباني وَنَه کړي نو هغه دي زُومَا وعيدګاه ته نَه راځي.دغه دَوَل وَعِيد د واجب پر پرېښولو باندي وي .

فائده : د امام ابويوسف او امامِ شافعي په نېز سُنّت ده .

وجه : په حديث کې دئ سَألتُ اِبنَ عُمَرَ عَنِ الضّحَايَا اَوَاجِبَةٌ هِيَ؟ قَالَ ضَحّي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) وَالمُسلِمُونَ مِن بَعدِهِ جَرَت بِهِ السّنّةُ (ب) (ابن ماجه شريف.باب الاضاحي

حاشيه : (الف) حضرت ثوبان وفرمايل حضور (ﷺ) قرباني وکړه بيايي وفرمايل ای ثوبان تَه زمورِ لپاره دا بُوزَه برابره که.فرمايي چې ترهغه وخته مَا په حضور (ﷺ) غُوَښې خورلې تر څو چې مورِ مدينې ته راغلو (ب) ما د حضرت ابن عمر څخه پوښتنه وکړه آيا قرباني واجب ده؟ وفرمايل چې حضور او دهغه وروسته مسلمانانو قرباني کړې ده او دا سُنّت جاري دئ .

[۲۶۲۸](۲) يَذبَحُ عَن نَفسِهِ وَعَن وَلَدِهِ الصّغِيرِ [۲۶۲۹](۳) وَيَذبَحُ عَن كُلِّ وَاحِدٍ مِّنهُم شَاةً اَو يَذبَحُ بَدَنَةً اَو بَقَرَةً عَن سَبعَةٍ .

واجبة هي اَم لا؟ ص۴۵۵نمبر۳۱۲۴) ددې حديث څخه معلوم شوچې قُربَانِي يعني اَختَرَئ سُنّت دئ .

[۲۶۲۸](۲) قُربَانِي دي وکړي لخپل ځان څخه او دخپل کِشنِي اَولاَد لخوا .

تشريح : د کِشنِي اَولاَد سره په دومره اندازه مَال موجود وي چې هغه په صَاحِبِ نِصَاب ګرزي نو هغه خو په خپله قُربَانِي نَه شي کولائي ځکه چې هغه خو مَرفُوعُ القَلَم دي نو د دُوئ د مَال څخه به د دُوئ پُلاَر قرباني کوي .

وجه : (۱) حضور (ﷺ) د اَهلِ بَيتِ لخوا څخه قرباني کړې ده ځکه چې حضور ذِمّه دار وُ. دغه دَوَل پُلاَر د کِشنِي اولاد ذِمّه دَاره دئ.نو لدې وجه پُلاَر به د دُوئ لجانب څخه قرباني کوي (۲) په حديث کې دئ. عَن عَائِشَةَ (ؓ) اَنّ النّبِيّ دَخَلَ عَلَيهَا ... فَلَمّا كُنّا بِمِنْي اُتِيتُ بِلَحمِ بَقَرٍ فَقُلتُ مَا هٰذَا؟ قَالُوا ضَحّي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) عَن اَزوَاجِهِ بِالبَقَرِ (الف) (بخاري شريف.باب الاضحية للمسافر والنِّساء ص۸۳۲ نمبر۵۵۴۸/ابن ماجه شريف.باب اضاحي رسول الله ﷺ ص۴۵۵نمبر۳۱۲۲) په دې حديث کې دئ چې حضور (ﷺ) د خپل اَهلِ بَيت لخوا قرباني کړې ده.قياس پر دغه د خپل اَولاَد لخوا هم قرباني کولائ شی .

فائده : يو بَل روايت دادئ چې بَچَئ(کِشنَي) مرفوع القلم دئ نوځکه که څَه هم مالداره وي لېکن دهغه لخوا څخه پر پُلاَر باندي قرباني واجب نَه ده او نَه په خپله پر بَچِي باندي قرباني واجب ده .

[۲۶۲۹](۳) ذبح دې کړي د دُوئ څخه هر يَو يوه بُوزَه يا دي ذبح کړي وُښ يا غُوَا د اُوُ انسانانو لخوا .

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمايي چي حضور زُومَا خوا ته تشريف رَاوړَئ... چي په مِنْي کي وُ د غُوَا غُوَښَه ماته راکړه. مَا پوښتنه وکړه دا چِش دئ؟ خلګو وويل حضور دخپلو پِي پِي ګانو لخوا غُوَا قرباني کړي ده .

تشريح : يوه بُوزَه د يوه اِنسَان لخوا کفايت کوي د دُوُ انسانانو لخوا څخه کفايت نَه کوي.او وُښ يا غُوَا د اُوُ کسانو لخوا کِفَايَت کوي تر دې زيات کسان شرکت نَه شي پکښي کولائي.البته تر اُوُ کسانو کَم يعني شُپَږ.پِنځَه. څلور هم شرکت پکښي کولائي شي .

وجه : په بُوزه کي د ګډون او شرکت په اړه کوم حديث نشته.که چيري په بُوزَه کي شرکت مُمکِن وائي نو په حديث کي به دهغه تَذکِرَه راغلې وائ.البته دا کېدلائي شي چي د يوه اِنسَان لخوا د نَفل په حَيث يوه بُوزَه قرباني شي او دهغې بُوزې ثواب و ګَنْ شمېر کسانو ته وَبَخښي. عَن اَنَسٍ (ﷺ) قَالَ ضَحَّي النّبِيّ (ﷺ) بِکَبشَينِ اَملَحَينِ فَرَأيتُهُ وَاضِعًا قَدَمَهُ عَلْي صَفَاحِهِمَا يُسَمِّي وَيُکَبِّرُ فَذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ (الف) (بخاري شريف.باب من ذبح الاضاحي بيده ص۸۳۴نمبر۵۵۵۸/مسلم شريف.باب استحباب استحسان الضحية الخ ص۱۵۵نمبر۱۹۶۶) په دې حديث کي حضور (ﷺ) د خپل جانب څخه دُوې بوزې ذبح کړي دي ددې څخه معلوم شوچي بُوزه صرف د يوه اِنسَان لخوا ذبح کېدلائي شي. لکه څَه رنګه چي په ترمذي شريف کي راغلي دي. وَقَالَ بَعضُ اَهلِ العِلمِ لاَتَجزِيُ الشّاةُ اِلاّ عَن نَفسٍ وَاحِدَةٍ وَهُوَ قَولُ عَبدِاللهِ بِنِ المُبَارَکِ وَغَيرِهِم مِن اَهلِ العِلمِ (ب) (ترمذي شريف.باب ماجاء انّ الشّاةَ الواحدة تجزي عن اهل البيت ص۲۷۶ نمبر۱۵۰۵) ... دا چي يوه بُوزَه ذبح کړي او په ثواب کې دِپر اِنسَانَان سره شريکان شي دهغه دليل دا حديث دئ. عَن عَائِشَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) اَمَرَ بِکَبشٍ اَقرَنَ ... وَقَالَ بِسمِ اللهِ اَللّهُمّ تَقَبّل مِن مُحَمّدٍ وَ آلِ مُحَمّدٍ وَمِن اُمّةِ مُحَمّدٍ ثُمّ ضَحّي بِهِ (ج) (ابوداؤدشريف.باب مايستحبّ من الضحاياص۳۰نمبر۲۷۹۲) په دې حديث کې يوه بُوزَه ذبح کړي ده او دهغې ثواب يې ومُحمّد.آلِ مُحَمّد او اُمّتِ مُحَمّد ته رسولئ دئ.ددې

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) دوه کَمَړي مُبَرَه قرباني کړل.مَا وليدئ چي خپل قَدَم(پُښَه) يې دهغوئي پر مَخ کښېښوئ.بِسم الله يې وَلُوستَل.تکبيريې ووايئ او دواړه يې په خپله لاَس ذَبح کړل (ب) بَعضُو علماء ويلي دي بُوزَه صرف ديوه اِنسَان لخوا کِفَايَت کوي.دا د عبدالله بن مبارک او نورو علماء قول دئ (ج) حضور حکم وکړئ د بنَګرَوَر پُسَه ... او وويل بِسمِ اللهِ تَقَبّل مِن مُحَمّدٍ وَ آلِ مُحَمّدٍ و اُمّةِ مُحَمّدٍ. بيا حضور قرباني وکړه .

[۲۶۳۰](۴) وَ لَيسَ عَلْي الفَقِيرِ وَ المُسَافِرِ اُضحِيَةٌ .

څخه دا معلوم شوچي يَو حيوان دخپل ځان لخوا ذَبح کړي او دهغه ثواب و ګَن شمېر کسانو ته ورسوي دا جائز دئ.او اِنشَاءَ اللهُ و هر يوه ته به پوره پوره ثواب ملاؤ شي(ورسيږي) .

دا چي په غُوَا او وُښ کي اُوَه (۷) کسان شرکت يعني ګډون کولائي شي دهغه دليل دا حديث دئ .
وجه : عَن جَابِرَ بِنِ عَبدِاللهِ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ اَلبَقَرَةُ عَن سَبعَةٍ وَالجُزُورُ عَن سَبعَةٍ (الف) (ابوداؤدشريف.باب البقرة والجزور عن کم يجزي؟ ص۳۲نمبر۲۸۰۸/ترمذي شريف. باب ماجاء في الاشتراک في الاضحية ص۲۷۶نمبر۱۵۰۲) ددې حديث څخه معلوم شوچي په وُښ کي اوپه غُوَا کي اُوَه (۷) کسان شريک کېدلائي شي .
فائده : امامِ شافعي فرمايي په يوه کُور کي که چيري دُولَس (۱۲) کسان وي نو د ټولو لخوا يَو حيوان هم کِفَايَت کوي.البته يَو حيوان د دُوُ کورو لخوا څخه کِفَايَت نَه کوي. دده په نبز پر يوه کُور يو حيوان ذبح کول لازم دئ که هر څونه کسان وي .
وجه : په حديث کي دئ. قَالَ اَنبَأ نَا مَخنَفُ بِنِ سَلِيمٍ قَالَ وَنَحنُ وُقُوفٌ مَعَ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) بِعَرَفَاتٍ قَالَ قَالَ يَا اَيّهَا النّاسُ اِنّ عَلْي كُلّ اَهلِ بَيتٍ فِي كُلّ عَامٍ اُضحِيَةً وَعَتِيرَةً (ب) (ابوداؤدشريف.باب ماجاء في ايجاب الاضاحي ص۳۰نمبر۲۷۸۸/ترمذي شريف.باب ماجاء انّ الشاة الواحدة يجزي عن اهل البيت ص۲۷۶نمبر۱۵۰۵) ددې حديث څخه معلوم شوچي يو حيوان د ټوله کُور لخوا څخه کِفَايَت کوي.خدائ دي وکړي چي په کُور کي هر څونه کَسَان وي .
[۲۶۳۰](۴) پر فَقِير او مُسَافِر قرباني نشته .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل غُوَا د اُوُ کسانو لخوا او وُښ د اُوُ کسانو لخوا (ب) مخنف بن سليم وفرمايل مورِ دحضور (ﷺ) سره په عَرَفَات کي مُقِيم وُ.حضور (ﷺ) وفرمايل ائ خلګو پر کورنيانو هر کال د اُضحيه حيوان لازم دئ او عَتِيرَه لازم ده .

[۲۶۳۱](۵) وَ وَقتُ الأُضحِيَةِ يَدخُلُ بِطُلُوعِ الفَجرِ مِن يَومِ النّحرِ اِلاّ اَنّهُ لاَيَجُوزُ لاَهلِ الاَمصَارِ اَلذّبحُ حَتّي يُصَلّيَ الاِمَامُ صَلاَةَ العِيدِ فَاَمّا اَهلُ السّوَادِ فَيُذبِحُونَ بَعدَ طُلُوعِ الفَجرِ .

وجه : (۱) مخته حديث تېرشوئ دئ چي کوم څوک چي کُنجَائِش لري يعني صَاحِبِ نِصَاب وي پر هغه چا قرباني واجب ده لِهٰذَا پر فَقِير قرباني نشته.فقير خو هيڅ شَئ نَه لري هغه به څَه رنګه قرباني کوي؟ (۲) په حديث کي دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ (رضي الله عنه) اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ مَن كَانَ لَهُ سَعَةٌ وَلَم يُضَحّ فَلاَ يَقرَبَنّ مُصَلاّنَا (الف) (ابن ماجه شريف.باب الاضاحي واجبة هِيَ اَم لاَ؟ ص۴۵۵نمبر۳۱۲۳) ددې حديث څخه معلوم شوچي کُنجَائِش (يعني وَس) لري پرهغه اِنسَان قرباني کول واجب ده .
پام لرنه : پر فقير قرباني واجب نَه ده لېکن که چيري فقير قرباني وکړي نو قرباني اداء کيږي .
(۳) او پر مسافر په دې وجه قرباني واجب نَه ده چي عمومًا د ده سره مَال نَه وي. چي د ئ دقرباني حيوان ځان ته ګوري او بيايي ذبح کوي نو په دي کي ده ته تکليف دئ (۴) چي د رمضان فرض روژه دده څخه ساقط ده.جمعه.عيدالفِطر. عيدالاضحْي

ځيني ساقط شوي دي نو قياس پر دغه قرباني به هم ځيني ساقط شي (۵) په اَثَر کي راغلي دي. عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ رَخّصَ لِلحَاجِّ وَالمُسَافِرِ فِي اَن لاُيَضَحِّيَ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب الصحاياج۴ص۳۸۲نمبر۸۱۴۲) .

[۲۶۳۱](۵) د قربانئ وخت د لَسَم تاريخ د سَهَار د طُلُوع د وخته څخه داخليږي مګر دا چي د بنَارِيَانُ لپاره ذَبح جواز نَه لري تر څو چي اِمَام د اَختَر لمونځ نَه وي اداء کړئ.پاته سو دصَحرَا خلګ هغه دسَهَاردطُلُوع د وخته څخه ذَبح کولائي شي .

حاشيه : (الف) حضور وفرمايل څوک چي گُنجَائِش لري او قرباني وَنَه کړي نو هغه دي زمونږ عِيدگاه ته نِژدي نَه رَاځِي (ب) حضرت ابراهيم وفرمايل رُخصَت يي ورکړئ دئ وحَاجِيَانُواومُسَافِرُو ته چي دُوئي قرباني وَنَه کړي .

[۲۶۳۲](۶) وَهِيَ جَائِزَةٌ ثَلْثَةَ اَيّامٍ يَومَ النّحرِ وَ يَومَانِ بَعدَهُ .

تشريح : د قربانئ وخت د ذِي الحَجّه د لَسَم تاريخ د صُبحِ صَادِق د طُلُوع سره سَم شروع کيږي.البته په بنَار کي د اَختَر لمونځ کيږي نو ځکه چي اِمَام د اَختَر لمونځ نَه وي اداء کړئ تر هغه وخته پوري قرباني جواز نَه لري. که چيري په دغه وخت کي قرباني وکړه نو هغه د عام غُوَښُو په شان غُوَښِي دي.دُوبَارَه به قرباني کوي.او په صَحرَا کي د عِيد(اَختَر)لمونځ واجب نَه دئ نو ځکه هلته د صُبحِ صَادِق څخه وروسته سَم دستي قرباني کولائي شي .

وجه : عَن اَنَسٍ عَنِ النّبِيِّ (ﷺ) قَالَ مَن ذَبَحَ قَبلَ الصّلاَةِ فَلْيُعِد (الف) (بخاري شريف.باب من ذبح قبل الصلاة اعاد ص۸۳۴نمبر۵۵۶۱/مسلم شريف.باب وقتهاص۱۵۳نمبر۱۹۶۰) ددې حديث څخه معلوم شوچي په بنَار کي د اَختَرلمونځ اداء کيږي نو ځکه قرباني به د اَختَر دلمانځه وروسته کوي.او په صَحرَا کي د اَختَر لمونځ نَه اداء کيږي نو ځکه د صُبحِ صادِق وروسته قرباني کولائي شي.ځکه چي ورځ د صُبحِ صَادِق څخه وروسته شروع کيږي .

وجه : په اَثَر کي راغلي دي. وَقَد رَخّصَ قَومٌ مِن اَهلِ العِلمِ لاَهلِ القُرْي فِي الذّبحِ اِذَا طَلَعَ الفَجرُ وَهُوَ قَولُ اِبنُ مُبَارَکٍ (ب)(ترمذي شريف.باب ماجاء في الذبح بعدالصلاة ص۲۷۷نمبر۱۵۰۸) ددې اَثَرڅخه معلوم شو چي د صَحرَا خلګ د صُبحِ صَادِق وروسته قرباني کولائي شي .

لغت : اَهلُ السّوَادِ : د سَوَادٌ معنْي ده ټُور. د زَرَاعَت او ګَښت په وجه صَحرَا دليري ځايَه څخه ټُوره بنکاره کيږي نو ځکه د صَحرَا وخلګو ته اَهلُ السّوَاد ويل کيږي .

[۲۶۳۲](۶) قرباني جائز ده دري ورځي.په لَسَم تاريخ او دهغه وروسته دُوې ورځي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل کوم چاچي د لمانځه څخه مخکي قرباني کړې ده هغه دي دوباره قرباني وکړي (ب) دَاهلِ عِلم څخه بعضو رُخصَت ورکړئ دئ و کَلِيوَالُو ته چي دُوئي دي ذَبح وکړي چي څه رنګه سَهَار طُلُوع شي.دغه د عبدالله بن مُبَارَک قول دئ .

[۲۶۳۳](۷) وَلاَيُضَحِّي بِالعَميَاءِ وَالعَورَاءِ وَالعَرجَاءِ الَّتِي لاَتَمشِي اِلَي المنسَكِ وَلاَالعَجفَاءِ .

تشريح: قرباني په لَسَم.يُوُلَسَم اودُوُلَسَم تاريخ جائزده دهغه وروسته جوازنَه لري.
وجه : په اَثَر کي راغلي دئ. اَنّ عَبدَاللهِ بِنِ عُمَرَ کَانَ يَقُولُ اَلاَضحْي يَومَانِ بَعدَ يَومِ الاَضحْي (الف) (سنن للبيهقي.باب من قال الاضحْي يوم النّحرويومين بعده ج۹ص۵۵۰ نمبر۱۹۲۵۴ /مؤطا امام مالک.باب ذکر ايّام الاضحْي ص۴۹۷) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي د لَسَم تاريخ وروسته دُوې وُرَځِي نور هم قرباني کولائي شي .
فائده : امامِ شافعي فرمايي چي تر دِيَارلَسَم تاريخ پوري اَيّامِ تَشرِيق دي نوځکه تر دِيَارلَسَم تاريخ پوري قرباني کولائي شي .
وجه : (۱) په حديث کي ددې ثبوت شته. عَن جُبَيرِ بِنِ مُطعِمٍ عَنِ النّبِيِّ (ﷺ) قَالَ کُلّ عَرَفَاتٍ مَوقَفٌ وَاِرفَعُوا عَن بَطنِ عُرنَةَ وَکُلّ مُزدَلِفَةٍ مَوقَفٌ وَاِرفَعُوا عَن مُحَسّر وَکُلّ فِجَاجِ مِنْي مَنحَرٌ وَکُلّ اَيّامِ التّشرِيقِ ذَبحٌ (ب) (سنن للبيهقي.باب من قال الاضحْي جائزيوم النّحروايّام مِنْي کُلّهَا لاَنّهَا ايّام نُسُکٍ ج۹ص۴۹۷نمبر۱۹۲۳۹) ددې حديث څخه معلوم شوچي د اَيّامُ التّشرِيق په تولو ورځو کي ذبح کولائي شي. او اَيّامُ التّشرِيق تر دِيَارلَسَم تاريخ پوري دي نو ځکه تر دِيَارلَسَم تاريخ پوري ذبح کولائي شي. که څه هم اَفضَل اَوّلَه ورځ ده (۲) عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ اَلاَضحْي ثَلاَثَةَ اَيّامٍ بَعدَ يَومِ النّحرِ (ج) (سنن للبيهقي.باب من قال الاضحْي جائزيوم النّحروايّام مِنْي کلّهَا لانّها ايام نُسُکٍ ج۹ص۴۹۹نمبر۱۹۲۴۷) په دې اَثَر کي تر دِيَارلَسَم تاريخ پوري د قُربَانئ کولو گُنجَائِش موجود دئ .
[۲۶۳۳](۷) قرباني دي نَه کوي د رَاندَه.هغه چي په يوه سترګه وي.او دَادَوَل گُوَډ چي د حلالِبدو تر ځايَه پوري نعه شي تلائي نَه دي دَنګر .

حاشيه : (الف) عبدالله بن عمر فرمايي د قربانئ د ورځي وروسته دوې ورځي دقربانئ دي.يعني يوولسم او دُوُلَسَم (ب) حضور وفرمايل دعَرَفَات تولَه حِصّه د قيام ځائ دئ لِيکن يَو دبَطنِ عُرنَه ځخه ليري وَسبرَئ. مُزدَلِفَه تولَه دقيام ځائ ده لِيکن دبَطنِ مُحَسّرځخه ليري وَسبرئ.او دمِنْي تولي شَلي دنَحَر ځائ دئ.اَيَامِ تَشريق تولي د ذبح کولو وَخت دئ (ج) حضرت ابن عبّاس فرمايي دقربانئ دري ورځي دي د لَسَم تاريخ وروسته .
تشريح : چي حيوان په دواړو سترګو ړوند وي يا په يوه سترګه ړُوند وي دهغه قرباني جواز نَه لري. يا داسي گُوَډ گُوَډ جِي چي تر مَذبَح خانې پوري نَه شي تلائي. يا ډېر زيات دَنګر وي نو ددې حيوانانو قرباني نَه صحيح کيږي .
وجه : په دې مسئله کي اُصُول دادئ چي د خدائ په حضور کي هَديَه وُړَاندِي کوي نو بايد دَادَوَل ناقص نَه وي چي خلګ يې هم نَه خُوښَوِي.نوځکه بايد بنَه حيوان دخدائ په حضور کي وُړَاندِي کړي. دُوَم اصول دادئ چي تر نِيمَئ زيات صحيح وي يعني دوې دريمي حِصّې يې صحيح وي نو هغه حيوان صحيح حيوان شمېرل کيږي. او که په دُرُوحِصّو کي د دُوُ حِصّوځخه کَم (لَږ) صحيح وي او تر يوې حِصّې زيات خراب وي نو هغه حيوان صحيح نَه دئ او نَه د قُربَانئ قابل دئ. په دغه اَثَر کي ددې

ثبوت موجود دئ. قَالَ قَتَادَةُ وَسَألتُ سَعِيدَبنِ مُسَيّبٍ عَنِ العَضبِ قَالَ اَلنّصفُ فَمَا فَوقَهُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب يكره من الضحايا ص۳۱نمبر۲۸۰۶/سنن للبيهقي.باب ماورد النهي عن التضحية به ج۹ص۴۶۲نمبر۱۹۱۰۴) په دې اَثَر کې تر نِيمَئ زيات پرېشوي ته نُقص ويلئ دئ. نوځکه د اِحتِيَاط په توګه چې دُوې حِصّې يې صحيح وي هغه ته صحيح ويلي دي چې د لِلاَکثَرِ حُکمُ الکُلّ پر قاعده عمل راشي .

فائده : د تېر اَثَر په وجه دصاحبينُ دا قول دئ چې تر نِيمَئ زيات صحيح وي نو کِفَايَت کوي .

او د تېر شوو نقص او عَيب دَارَه حيوانانو قرباني جواز نَه لري.دهغه دليل دا حديث دئ. سَألتُ بَرّالبَرّاء بِنِ عَاذِبٍ مَا لاَ يَجُوزُ فِي الاَضَاحِي فَقَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) فَقَالَ اَربَعٌ لاَتَجُوزُ فِي الاَضَاحِي اَلعَورَاءُ بَيّنٌ عَورُهَا وَالمَرِيضَةُ بَيّنٌ مَرَضُهَا وَالعَرجَاءُ بَيّنٌ ظِلعُهَا وَالکَسِيرُ اَلّتِي لاَ تَنقِّي (ب) (ابوداؤدشريف.باب مايكره من الضحايا

حاشيه : (الف) د سعيد بن مسيّب څخه چې ښکر يې مَات وي دهغه په اړه پوښتنه وشوه وفرمايل چې نِيمَئ يا تر هغه زيات مَات شوئ وي نو دا نُقص دئ (ب) وفرمايل زُمُوږ په مينځ کې حضور (ﷺ) وَلاَرسو. او وفرمايل څلور نُقصَ په قرباني کې جواز نَه لري.صَفَا په يوه سترګه.ښکاره ناجوړه.ښکاره کُوَډ او دومره ډنګر چې مَاغزَه يې هم نَه رَاوَزِي .

[۲۶۳۴](۸) وَلاَتَجزِئُ مَقطُوعَةُ الأُذُنِ وَالذّنَبِ وَلاَ الّتِي ذَهَبَ اَکثَرُ أُذُنِهَا اَو ذَنَبِهَا وَاِن بَقِيَ الاَکثَرُ مِنَ الأُذُنِ وَالذّنَبِ جَازَ .

ص۳۱نمبر۲۸۰۲/ترمذي شريف.باب مالايجوز من الاضاحي ص۲۷۵نمبر۱۴۹۷) ددې حديث څخه معلوم شوچې په يوه سترګه وي هغه جواز نَه لري نو کوم چې په دواړو سترګو ړُوند وي هغه خو په طريقه اَولْي سره جواز نَه لري. دغه رنګه کُوَډ جواز نَه لري او چې ډېر کمزورئ(ډنګر)وي او ډېر ناجوړه وي هغه هم جواز نَه لري .

لغت : اَلعَمِيَاءُ:ړُوند.اَلعَورَاءُ: په يوه سترګه وي.اَلعَرجَاءُ:کُوَډ.اَلعَجفَاءُ:ډَنګرکمزورئ .

[۲۶۳۴](۸) او جواز نَه لري چې غُوَږ يې پرېشوئ وي او لَکَئ يې پرېشوې وي او نَه هغه چې د غُوَږ يا لَکَئ زياته حِصّه يې پرېشوې وي.او که ډېره حِصّه غُوَږ او لَکَئ پاته وي نو جائز ده .

تشريح : دا مسئله پر تېرشوي اُصُول متفرّع ده.چې پوره غُوَږ يا پوره لَکئ يې پرېشوې وي نو جواز نَه لري. او که تر نِيمَئ زيات غُوَږ يې پرېشوئ وي يا تر نِيمَئ زياته لَکَئ يې پرېشوې وي نو جواز نَه لري. او که تر نِيمَئ کَم غُوَږ پرېشوئ وي يا تر نِيمَئ لَکَئ پرېشوې وي نو جائز ده .

وجه : په حديث کې دئ. قَالَ اَتَيتُ عُتبَةَ بِنِ عَبدَالسّلَمِيّ فَقُلتُ ... اِنّمَا نَهْي رَسُولُ اللهِ عَنِ المُصفَرَةِ وَالمُستَأصَلَةِ وَالبَخقَاءَ وَالمُشِيعَةَ وَالکَسرَاءَ. فَالمُصفَرَةُ اَلّتِي تَستَأصِلُ أُذُنُهَا حَتّي يَبدُوَ

سِمَاخُهَا. وَالمُستَأصِلَةُ اَلّتِي اِستَؤصَلَ قَرنُهَا مِن اَصلِهِ. وَالبَخقَاءُ اَلّتِي تَبخِقُ عَينُهَا. وَالمُشِيعَةُ اَلّتِي لاَتَتّبِعُ الغَنَمَ عَجفَاءُ وَضَعفَاءُ وَالكَسرَاءُ اَلكَسِيرَةُ (الف)

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) منع وکړه دهغه څخه چې پوره غُوَږ يې پرېشوئ وي.بنکر يې پوره د بِيخ څخه ختلئ وي.دهغه څخه چې سترګه وَتَلې وي.د ډَنګر والي په وجه په (نورو) حيوانانو پسې نَه شي تلائي.او ډېر زيات کمزوري وي. د هر لفظ تفصيل په دَاوَل دئ. مُصفَرَةٌ: چې غُوَږ يې پوره پرېشوئ وي تر دې چې دِمَاغ يې بنکاره کيږي.اَلمُستَأصَلَةُ: چې بنکر يې دبِيخ څخه خَتَلَئ وي. اَلبَخقَاءُ: چې سترګه وَتَلې وي. اَلمَشِيعَة: د کمزورئ په وجه په نورو بُوزُو پسې نَه شي تلائي. اَلكَسرَاءُ: چې دومره کمزورئ وي چې په هَډُوکِي کې مَاغزَه نَه وي ګواکه پرې شوي وي .

[۲۶۳۵](۹) وَ يَجُوزُ اَن يُضَحِّيَ بِالجَمّاءِ وَ الخَصِيِّ وَ الجَربَاءِ وَ الثّولاَءِ .

(ابوداؤدشريف.باب مايكره من الضحايا ص۳۱نمبر۲۸۰۳) ددې حديث څخه معلوم شوچې غُوَږ يې پرېشوئ وي دومره چې دِمَاغ يې بنکاره کيږي يا بنګر يې بِالکُل د بِيخ څخه ختلئ وي نو جواز نَه لري يا په يوه سترګه وي نو هم جواز نَه لري .

او چې تر نِيمَئ زيات غُوَږ يا تر نِيمَئ زياته لَګئ يې پرېشوې وي نو جواز نَه لري دهغه دليل دا حديث دئ. عَن عَلِيٍّ قَالَ اَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَن نَستَشرِفَ العَينَ وَالأُذُنَ وَلاَ نُضَحِّيَ بِعَورَاءَ وَلاَ مُقَابِلَةً وَلاَ مُدَابِرَةً وَلاَ خَرقَاءَ وَلاَ شَرقَاءَ قَالَ زُهَيرٌ فَقُلتُ لاَبِي اِسحَاقَ اَذَكَرَ عَضبَاءَ؟ قَالَ لاَ. قُلتُ فَمَا المُقَابِلَةُ؟ قَالَ يُقطَعُ طَرَفُ الأُذُنِ. فَقُلتُ مَا المُدَابّرَةُ؟ قَالَ يُقطَعُ مِن مُؤخّرِ الأُذُنِ. فَقُلتُ فَمَا الشّرقَاءُ؟ قَالَ تَشُقّ الأُذُنُ. فَقُلتُ فَمَا الخَرقَاءُ؟ قَالَ تَخرقُ اُذُنُهَا لِلسِّمَةِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب مايكره من الضحايا ص۳۱نمبر۲۸۰۳/ ۲۸۰۴/ترمذي شريف.باب مايكره من الضحاياص۲۷۵نمبر۱۴۹۸) ددې حديث څخه معلوم شوچې غُوَږ يې پرېشوئ وي هغه جواز نَه لري.او د پرېکېدو په اړه دحضرت سعيدځخه رِوَايَت دئ چې تر نِيمَئ زيات وي نو جواز نَه لري.اَثَر دا دئ. قُلتُ يَعنِي لِسَعِيدَبنِ المُسَيّبَ مَا اَلاَعضَبُ؟ قَالَ اَلنِّصفُ فَمَا فَوقَهُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب مايكره من الضحايا ص۳۱نمبر۲۸۰۶/ سنن للبيهقي.نمبر۱۹۱۰۴)

[۲۶۳۵](۹) او جائز دئ چې قرباني وکړي د بِې بنکره حيوان او دخَصِي او د خَارَشِي او د لِيوَنِي .

حاشيه : (الف) حضرت علي فرمايي چې ماته رسول الله حُکم وکړئ چې موږ يې په غَور وګورو سترګه.غُوَږ او ذبح نَه کړو هغه چې په يوه سترګه وي او چې غُوَږ يې پرېشوئ وي اونَه هغه چې دشَالخوايې غُوَږپرېشوئ وي. يايې غُوَږځيري شوئ وي.حضرت زُهَير دابواسحاق څخه پوښتنه وکړه چې بنکر يې پرېشوئ وي دهغه تَذکِرَه يې وکړه؟وويل نَه!مَاپوښتنه وکړه مُقَابِلَه کومه ه؟وفرمايل چې دغُوکِ لخوايې غُوَږپرېشوئ وي.مَا پوښتنه وکړه مُدَابِرَه کومه ده؟ وفرمايل دشَالخواغُوَږيې پرېشوئ وي.مَاپوښتنه وکړه شَرقَاءکومه ده؟وفرمايل چې غُوَږ يې غُيري شوئ وي.مَاپوښتنه وکړه خَرقَاءکومه ده؟وفرمايل چې دعلامت لپاره غُوَږځيري شوي وي(ب) مَا د سعيد بن مسيّب څخه پوښتنه وکړه اَعضَب کومه ده؟وفرمايل چې نِيمَی ياترډې زيات بنکر يې مَات شوئ وي .

[۲۶۳۶](۱۰) وَالأُضحِيةُ مِنَ الإِبِلِ وَالبَقَرِ وَالغَنَمِ .

تشريح : حيوان چي د غُوَښي په اِعتِبَار صحيح او جُوړ وي لېکن د اَصل (يعني د پَيدَائِش)څخه ښکَر نَه وي. داسي نَه چي ښکَر يې دَرلُودَل بيا تر نِيمَئ زيات مَات شول نو د دَاډَوَل حيوان قرباني جائز ده.ځکه چي دا عَيب نَه دئ.د ډېرو حيوانانو اَصلاً يعني دَسَره ښَکَر نَه وي.بې ښکر پيداشوي وي.دغه رنګه دخَصِي حيوان قرباني هم جائز ده.او هغه حيوان چي دخَارِش مرض په پُوري وي لېکن ښَه چَاغ او تَندُرَست وي دهغه قرباني هم جائز ده. ځکه چي لَږ څَه خارش چَندَانِ عيب نَه دئ. دغه رنګه که حيوان لِږَنَئ وي لېکن دغُوَښي په لحاظ ټيک ټاک (روغ جُوړ) وي نو د هغه قرباني هم جائز ده .

وجه : دا دَاډَوَل عيب نَه دئ چي قرباني دي جواز پيدا نَه کړي.دخَصِي د جواز دليل دا حديث دئ. عَن جَابِرَبنِ عَبدِاللهِ قَالَ ذَبَحَ النّبِيّ (ﷺ) يَومَ الذّبحِ كَبشَينِ اَقرَنَينِ اَملَحَينِ مَجنَّينِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب مايستحبّ من الضحايا ص۳۰نمبر۲۷۹۵/ابن ماجه شريف.باب اضاحي رسول الله ﷺ ص۴۵۵نمبر۳۱۲۲) ددې حديث څخه معلوم شوچي خَصِي کړئ حيوان په قرباني کي جائز دئ بلکه دهغه غُوَښَه تر مِندَه ښَه وي نو ځکه نُور هم بِهتَر دئ .

پام لرنه : که چيري ډېر زيات پَاګَل(لېونئ)وي چي خپل خُوَرَاک هم نَه شي کولائي نو دهغه قرباني جواز نَه لري.دغه رنګه که چيري دومره زيات خَارِش پر لګېدلئ وُ چي دحيوان په غُوَښَه کي دَنَنَه رسېدلئ وُ نو دهغه قرباني جواز نَه لري .

لغت : اَلجَمّاءُ : چي پَيدَائِشِي ښکر نَه لري يعني کَلَئ يا کَلې. اَلجَربَاءُ : خَارِشِي. اَلثّولاءُ : لَږ څَه پاګَل يعني لِږَنَئ وي .

[۲۶۳۶](۱۰) قرباني د وُښ وي او دغُوَا وي او دبُوزې وي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) د ذبح په ورځ قرباني وکړه د دُوُ ښکرو والا کَمَرِي خَصِي حيوان .

[۲۶۳۷](۱۱) وَيَجزِئُ مِن ذَالِکَ كُلِّهِ اَلثّنِيّ فَصَاعِداً اِلاّ الضّأنَ فَاِنّ الجَذَعَ مِنهُ يَجزِئُ .

تشريح : په حديثو کي ددغه حيوانانو د قربانئ تَذکِرَه تېره شوې ده. د ګَامِيښِي قرباني هم کيږي او هغه به هم پر دغه باندي قياس وي.البته کوم حيوان چي پر کُور نَه رُوزَل کيږي مثلاً وَسَئ يې وَرُوزَل نو دهغې قرباني نَه صحيح کيږي .

[۲۶۳۷](۱۱) په دې ټولو حيوانانو کي ثَنِي کفايت کوي يا تر دې زياتَ ماسوائ د مِيږِي چي په هغه کي جَذع هم کِفَايَت کوي .

تشريح : د غُوَا او ګاميښي پر دُوَم کال د شِيدُو غابنونه ماتيږي(وَزِي) نَوِي غابنونه يې رَاځِي.او د بُوزې دا په يوه کال کي او د وُښ دا په پِنځَه کالَ کي نَوِي غابنونه رَاځِي. چي نَوِي غابنونه يې رَاشِي نو هغه حيوان ته مُسِنّه ويل کيږي. چي مُسِنّه نه وي البته ومُسِنّه ته نژدي وي هغه حيوان يعني وُښ ته جَذعٌ ويل کيږي. په ټولو

حيوانانو كي مُسِنّه ضروري ده البته په بُوزَه کي د جَذع قرباني هم جائز ده خو په دې شرط چې دومره چَاغ او تِکړه وي چې په مُسِنّه حيوانانو کې يَلَه کې نو داسي ښکاره کيږي لکه مُسِنّه .

وجه : (١) عَنِ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لاَتَذبَحُوا اِلاّ مُسِنّةً اِلاّ اَن يَعسِرَ عَلَيكُم فَتَذبَحُوا جَذعَةً مِّنَ الضّأنِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب مايجوز في الضحايامن السِّن ص٣٠نمبر٢٧٩٧/مسلم شريف.باب سِنّ الاضحية ص١٥٥نمبر١٩٦٣) په دې حديث کي دئ چې دمُسِنّه څخه علاوه د بَل شِي قرباني مَه کوئ.که چيري هغه په طاقت کي نَه وي نو بيا د مِيږِي جِذعَه هم کِفَايَت کوي (٢) د نُورو حيوانانو جِذعَه کِفَايَت نه کوي دهغه دليل ددې حديث تِکړه ده. عَنِ البَرَاءَ قَالَ خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) ... فَقَالَ اِنّ عِندِي عِنَاقًا جِذعَةً وَهِيَ خَيرٌ مِّن شَاةِ لَحمٍ فَهَل تَجزِئُ عَنِّي قَالَ نَعَم وَلَن تَجزِئُ

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل مَه ذبح کوئ مَاسِوايَه دمُسِنّي څخه مګر که چيري تاسو تَنګدَست واست نو د مِيږِي جِذعَه ذبح کړئ .

[٢٦٣٨](١٢) وَيَأ كُلُ مِن لَحمِ الأُضحِيَةِ وَيُطعِمُ الاَغنِيَا ءَ وَالفُقَرَاءَ وَيَدّخِرُ .

عَن اَحَدٍ بَعدَکَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب مايجوزمن الضحايا من السِّن ص٣٠نمبر٢٨٠٠/مسلم شريف.باب وقتهاص١٥٣نمبر١٩٦٠/ ٥٠٧٣) په دې حديث کې و صحابي ته فرمايلي دي چې صرف او يوائي ستا لپاره د بُوزې جِذعَه کِفَايَت کوي دهغه وروسته د هيڅ چا لپاره د بُوزې يا د بَل حيوان جَذعَه جواز نَه لري ما سِوَائ د مِيږِي .

لغت : اَلثّنِيّ : چې دُوَه غاښونه لري.د ثَنِيّ ترجمه ده دُوَه. فَصَاعِداً : يا ددې څخه زِيَات. اَلضّأنُ : مِيږَه .

[٢٦٣٨](١٢) خُورِي به د قربانئ غُوَښَه او په مالدارانو اوغريبانو به خُورِي او ذَخِيرَه کولائي هم شي .

تشريح : د قربانئ وروسته چې کومه غُوَښَه ده هغه په خپله هم خورِلائي شي که خَه هم دئ په خپله مَالدَارَه وي. او په نورو مَالدَارَانُو يې هم خورِلائي شي او په فَقِيرَانُو يې هم خورِلائي شي. او تر دې ورځې يې زيات هم اِيښُوَلاَئي(ذَخِيرَه کولائي) شي .

وجه : (١) په آيت کي دئ چې دقرباني غُوَښَه او دنَفلِي هَدي غوښه په خپله هم وَخُورَئ او په فَقِيرَانُو يې هم وخورئ. آيت دادئ. وَيَذكُروا اِسمَ اللهِ فِي اَيّامٍ مَعلُومَاتٍ عَلٰي مَا رَزَقَهُمُ مّن بَهِيمَةِ الاَنعَامِ فَكُلُوا مِنهَا وَ اَطعِمُوا البَائِسَ الفَقِير (ب) (آيت ٢٨سورة الحج٢٢) په دې آيت کې حکم کړئ دئ چې په خپله هم وخورئ او په فقيرانو يې هم وَخُوَرَوَئ نوځکه دقربانئ غُوَښَه په خپله هم خورِلائي شي که خَه

حاشيه : (الف) حضرت براء فرمايي چي حضور (ﷺ) مورِ ته خُطبَه ولوستل ... صحابي وفرمايل زُومَا سره جَذعَه مېږه شته چي د بُوزي تر غُوَښَه ښَه ده نو آيا دا به كِفَايَت وكړي؟ حضور (ﷺ) وفرمايل هُو! لېكن ستا څخه وروسته د هيڅ چالپاره كِفَايَت نَه كوي (ب) د الله نوم يادوئ په معلومو ورځو كي پر دې خبره چي و دُوئي ته دحيوانانو څخه رُوزي وركړي وده.نوځكه ددغه څخه خورک كوئ او په فقيرانو يې وَخُوَرَوئ .

[٢٦٣٩](١٣) وَيُستَحَبّ لَهُ اَن لاَيَنقُصَ الصّدَقَةَ مِنَ الثّلُثِ .

هم په خپله مَالدَارَه وي. چې په خپله دئ د مَالدَارَئ په حالت كي هم خوړلائي شي نو په نورو مَالدَارَانُو يې هم خُوَرَوَلاَئي شي او په فَقِيرَانُو د خُوَرَوُلُو حكم خو هسي هم راغلئ دئ (٢) په حديث كي دئ چې په اِبتِدَاءِ اسلام كې تر دُرُو ورځو زيات د غُوَښُو د اِيښُوُلُو او ذَخِيرَه كولوڅخه منع وكړه اُوس هغه تَنكِي ليري شوې ده نوځكه ډيري ورځي غُوَښَه اِرذَئ. ځكه خو حضرت ثوبان تر هغه وخته پوري د قربانئ غُوَښَه خوړله تر څو چې مدينې منوّرې ته رَارَسېدَئ او په حضور (ﷺ) يې هم خُوَرَوَلَه.حديث دادئ. عَن سَلَمَةَ بنِ الاَكوَعِ قَالَ قَالَ النّبِيّ (ﷺ) ... كُلُوا وَاَطعِمُوا وَ اَدّخِرُوا فَاِنّ ذَالِكَ العَامَ كَانَ بِالنّاسِ جُهدٌ فَاَرَدّتُ اَن تُعِينُوا فِيهَا (الف) (بخاري شريف.باب مايوكل من لحوم الاضاحي ومايَتَزَوّدُ منهاص٨٣٥نمبر٥٥٦٩/مسلم شريف.باب بيان ماكان من النهي عن لحوم الاضاحي بعدثلاث في اَوّل الاسلام وبيان نَسخِه واباحته الّي مثْي شاء ص١٥٧ نمبر ١٩٧١) ددې حديث څخه معلوم شوچې په خپله غُوَښَه سره جمع كولائي شي او دځان سره اِيښُوَلاَئي شي او په خپله يې هم خوړلائي شي او په مَالدَار او فَقِير باندې هم خوروَلائي شي .

لغت : يَدّخِرُ : سره جمع دې كړي كښېدې اِرذِي.ذَخِيرَه دې كړي .

[٢٦٣٩](١٣) او مُستحَب دادئ چې صَدَقَه تر دريمه حِصّه كَمَه نَه كړي .

تشريح : په تېرشوي حديث كې درې مَصرَف وَښُوَل.اَوّل دا چې په خپله دې وخوري. دُوَم دا چې ذَخِيرَه دې كړي. دريم دا چې په فقيرانو دې وَخُوَرَوِي.ددې څخه معلوم شو چې يوه دريمه حِصّه پر فقيرانو صَدَقَه كړي نو دا ښَه خبره ده. او په آيت كي هم دغه دَوَل تقسيم راغلئ دئ. فَاِذَا وَجَبَت جُنُوبُهَا فَكُلُوا مِنهَا وَاَطعِمُوا القَانِعَ وَالمُعتَرّ (ب) (آيت ٣٦سورة الحج ٢٢) په دې آيت كي يَو مَصرَف دادئ چې په

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل وَخُورَئ او وَخُوَرَوَئ او جمع كړئ ځكه چې تېرشوي كال پر خلكو فَقر او غُربَت وُ نو مَا وَغُوَښتَل چې دخلكو مرسته وكړم (ب) چې كوم وخت هغه پر اَرَخ يَلَه شو يعني ذبح شو نو دهغه څخه خُورَئ او په خَادِم او غريب يې وَخُوَرَوَئ .

[٢٦٤٠](١٤) وَيَتَصَدّقُ بِجِلدِهَا اَو يَعمَلُ مِنهُ آ لَةً تُستَعمَلُ فِي البَيتِ .

خپله يې وَخُورَئ. دُوَم مَصرَف دادئ چې په قَانِع يعني سوال كونكي يې وَخُوَرَوَئ. او دريم مَصرَف دادئ چې مُعتَرّ يعني زيارت كونكي ملاقاتيان او رِشتَه دَارَان ته وركړئ.ددې څخه اِشَارَةً دا معلوميږي چې يوه حِصّه دي په خپله وخوري.او دومه حِصّه دي زيارت كونكي او رِشتَه دَارَان.عزيزانُ ته وركړي.او دريمه حِصّه دي و

سوال کونکو ته ورکړي.ددې څخه هم دا معلوم شوچي صَدَقَه دي تر دریمه حِصّه نَه کموي .

[۲۶۴۰](۱۴) او دقربانئ پُوست دي صَدَقَه کړي یادې د پُوست څخه یو شَئ جوړ کړي چي په کُور کي اِستِعمَال شي .

تشریح : په حدیث کي دئ چي وقَصّاب ته دي د اُجرَت په حَیث د قربانئ غُوَښَه نَه ورکوي. ددې څخه دا معلوم شوچي دقُربَانَئ غُوَښَه یا پُوست یا هَډُوکِي خرڅولائي نَه شي.او که چیري خرڅ کړل نو دهغه قیمت به صَدَقَه کوي.البته په خپله یې خُوَرَلاَئي شي.او چي غُوَښِي یې په خپله خوړلائي شي نو پُوست یې هم په خپله اِستِعمَالَوَلاَئي شي ځکه چي پُوست خو هم دغُوَښِي حِصّه ده .

وجه : پُوست دې صَدَقَه کړي د اُجرَت په توګه دې نَه ورکوي دهغه دلیل دا حدیث دئ. اَنّ عَلِیًّا اَخبَرَهُ اَنّ النّبِیّ (ﷺ) اَمَرَهُ اَن یَقُومَ عَلٰی بُدَنِهِ کُلِّهَا وَاَن یُقَسِّمَ بُدَنَهُ کُلَّهَا لُحُومَهَا وَجُلُودَهَا وَجِلاَلَهَا وَلاَیُعطٰی فِي جَزَارَتِهَا شَیئًا (الف) (بخاري شریف.باب یتصدّق بجلودالهدي ص۲۳۲نمبر۱۷۱۷/مسلم شریف.باب الصدقة بلحوم الهدایا وجلودها وجلالها وان لایعطي الجزار منهاشیئًا ص۴۲۳نمبر۱۳۱۷) ددې حدیث څخه معلوم شوچي پُوست دې

حاشیه : (الف) حضور (ﷺ) وحضرت علي ته حکم ورکړئ چي دحضور (ﷺ) د ُوښَانُو نِګرَانِي وکړي او ټوله وُښ دي تقسیم کړي.دهغه غُوَښِي.دهغه پُوست.دهغه خَل. او دغُوَښُو د پرېکولو په بدله کي دي ددې شیانو څخه یو شَئ نَه ورکوي .

[۲۶۴۱](۱۵) وَالاَفضَلُ اَن یَذبَحَ اُضحِیَتَهُ بِیَدِهِ اِن کَانَ یُحسِنُ الذّبحَ .

صَدَقَه کړي.او چي غُوَښِي یې خوړلائي شي نو پُوست یې هم په کُور کي په خپل استعمال کي رَاوړَلاَئي شي .

[۲۶۴۱](۱۵) اَفضَل دادئ چي قرباني په خپل لاَس ذَبح کړي که بنَه ذَبح کولائي شوه .

تشریح : که په خپله په بنَه توګه ذبح کولائي شوه نوخپله قرباني دي په خپله ذبح کړي .

وجه : (۱) په حدیث کي دئ چي حضور خپله قرباني په خپله ذَبح کړه. عَن اَنَسٍ قَالَ ضَحّٰي النّبِیّ (ﷺ) بِکَبشَینِ اَملَحَینِ فَرَأیتُهُ وَاضِعًا قَدَمَهُ عَلٰی صَفَاحِهِمَا یُسَمّي وَیُکَبّرُ فَذَبَحَهُمَا بِیَدِهِ (الف) (بخاري شریف.باب من ذبح الاضاحي بیده ص۸۳۴نمبر۵۵۵۸/ مسلم شریف.باب استحباب استحسان الضحیة وذبحهامباشرة بلاتوکیلٍ والتسمیة والتکبیرص۱۵۵نمبر ۱۹۶۶) ددې حدیث څخه معلوم شوچي په خپل لاَس دې ذَبح کړي (۲) حضرت ابوموسٰي و خپلو لُونُو ته په خپله د ذَبح کولو تَرغِیب ورکاوئ. عَن اَبِي مُوسٰي الاَشعَرِیّ اَنّهُ کَانَ یَأمُرُ بَنَاتِهِ اَن یَذبَحنَ مَسَائِکَهُنّ بِاَیدِیهِنّ. او په یوه بَل رِوَایَت کي راغلي دي. عَن عِمرَانَ بِنِ حُسَینٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) یَافَاطِمَةُ قُومِي فَاشهَدِي اُضحِیَتَکَ فَاِنّهُ یُغفَرُ لَکَ بِاَوّلِ قَطرَةٍ تَقطُرُ مِن دَمِهَا کُلّ ذَنبٍ عَمَلتِیهِ (ب) (سنن للبیهقي.باب مایستحبّ للمرء من اَن یتولّي ذبح مسکه او یشهد

ج۹ص۴۷۶نمبر۱۹۱۶۲/ مصنّف عبدالرزاق.باب اهل الضحاياوالهدي وهل يذبح المحرم ج۴ص۳۸۸نمبر۸۱۶۸) ددې حديث

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) دُوَه کمري پُسُونَه قرباني کړل.مَا وليدئ چې خپل قَدَم يې دهغه پر مَخ اِيښَئ وُ.بيايې بِسمِ الله ولُوسټل او دتَکبِير د ويلو سره يې په خپل لاَس دواړه ذبح کړل (ب) حضرت ابوموسْي اشعري وخپلو لُوټُو ته حکم کاوئ چې د دُوئي ښځي دې په خپلو لاَسُو ذبح کوي.په يوه بَل روايت کي دئ چې حضور(ﷺ) وفرمايل ائ فاطمه! وَلاَړَه شَه خپلي قربانئ ته ګوره ځکه چې د وِينې د اَوّل څاڅکي سره ستا هغه ګناهونه معافيږي کوم چې تَا کړي دي .

[۲۶۴۲](۱۶) وَيُکرَهُ اَن يَذبَحَهَا الکِتَابِيّ .

ځخه معلوم شوچي په خپله دې ذَبح کړي يا دي د ذبح پر وخت حاضر او موجود وي چې ګناهونه يې معاف شي .

[۲۶۴۲](۱۶) مکروه دئ چې کِتَابِي هغه ذَبح کړي .

تشريح : د يهود او نصارْي لپاره دقرباني حيوان ذبح کول مکروه دئ خو بيا هم که چيري ذبح کړئ نو حلال ګرزي .

وجه : (۱) چې پر اَهلِ کِتَاب د سره قرباني نشته نو دهغوئي قرباني کول هم مکروه ده ځکه چې قرباني خو عِبَادَت دئ (۲) په اَثَر کي راغلي دي چې د عَرَبُ نَصَارْي عِيسَائِيَان نه دئ.چې د صحابه کرامو په زمانه کي د عربُ نصارْي عيسائيان نَه دي او نَه دهغوئي ذَبِيحَه حلال ده نو زمونږ د زمانې د يُورَپ دَهرِيَان بيا څَه رنګه اَهلِ کِتَاب دي؟ او د دُوئي ذبيحه څَه رنګه حلال شول؟ (۳) اَثَر دا دئ. اَنّ عُمَرَ بنِ الخَطّابِ قَالَ مَانَصَارْي العَرَبِ بِاَهلِ کِتَابٍ وَمَا تَحِلّ لَنَا ذَبَائِحُهُم وَمَا اَنَا بِتَارِکِهِم حَتّي يُسلِمُوا اَو اَضرِبَ اَعنَاقَهُم (الف) (سنن للبيهقي.باب ذبائح نصارْي العرب ج۹ص۴۷۸ نمبر۱۹۱۶۹) او په يوه بَل روايت کي دئ. عَن عَلِيٍّ اَنّهُ قَالَ لاَتَأ کُلُوا ذَبَائِحَ نَصَارْي بَنِي تَغلَبٍ فَاِنّهُم لَم يَستَمسِکُوا مِن دِينِهِم اِلاّ بِشُربِ الخَمرِ (ب) (سنن للبيهقي.باب ذبائح نصارْي العرب ج۹ص۴۷۸نمبر۱۹۱۷۰) په دې اَثَرکي هم دئ چې د عربُ د عيسائيانو دِين صرف شَرَاب چيښل پاته شوئ دئ.نوځکه د دُوئي ذَبِيحَه مکروه بلکه ناجائز ده (۴) په اَثَر کي دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّهُ کَرِهَ اَن يَذبَحَ نَسِيکَةَ المُسلِمِ اَليَهُودِيّ وَالنّصرَانِيّ (ج) (سنن للبيهقي.باب النسيکة يذبحهاغيرمالکهاج۹ص۴۷۸نمبر۱۹۱۶۷) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي اَهلِ کِتَاب کومه قرباني کړې وي هغه مکروه ده .

حاشيه : (الف) حضرت عمر وفرمايل دعربُ نصارْي اَهلِ کِتَاب نه دي. د دُوئي ذبيحې حلالِ نَه دي.او زه دُوئي نَه پرېږدم تر هغه وخته چې اِسلاَم قبول کړي يا د دُوئي سَرُونَه پرېکړم (ب) حضرت علي وفرمايل دبني تَغلَب دنصارْي ذبيحه مَه خورئ.ځکه چې دِين يې د شَرَابُ چيښلو بغيره بَل څَه نَه دئ نِيوَلَئ(پرې اِيښَئ) (ج) حضرت ابن عَبّاس نَاخُوښَه ګانئ چې د مسلمان حيوان يهودي يا نَصرَانِي ذبح کړي .

[۲۶۴۳](۱۷) وَ اِذَا غَلَطَ رَجُلاَنِ فَذَبَحَ کُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا اُضحِيَةَ الآخَرِ اَجزَأ عَنهُمَا وَلاَ ضَمَانَ عَلَيهِمَا .

[۲۶۴۳](۱۷) که دُوُ کسانو غلطي وکړه او هر یوه دهغه بَل قرباني ذبح کړه نو د دُوَارُو لخوا کِفَایَت کوي او پر دواړو ضَمَان نشته .
تشریح : د دُوُ کسانو حیوانان وُ دواړو په غلطي سره دخپل حیوان د ذَبح کولو پر ځائ دهغه بَل حیوان ذَبح کړئ نو د دواړو قرباني اداء کیږي او پر یوه هم دهغه بَل ضَمَان نَه لازمیږي .
وجه : (۱) دواړو د قربانئ لپاره حیوان اَخَستَئ دئ نوځکه د دواړو دقربانئ نِیّت دئ او چي دُوُلَسَم تاریخ تیر شي بیا قرباني نَه شي کیدلائي نوځکه د دواړو د زړه دغه تَمَنّا ده چي په وخت کي دَنَنَه څوک زُومَا قرباني وکړي نو اِشَارَةً ګواکه د دواړو لخوا د قربانئ کولو اِجَازَت شوئ دئ نوځکه د دواړو قرباني به صحیح شي. او ضَمَان په دې وجه نَه لازمیږي چي هر یوه دغه حیوان په هغه خپل ځائ کي مَصرَف کړئ اوخرچ کړئ (۲) په حدیث کي دئ چي حضور (ﷺ) د اَزوَاجِ مُطَهّرَاتُ د اِجَازَت بغیره دهغوئي قرباني وکړه او قرباني صحیح شوه او اداء شوه. دحدیث تکړه داده. عَن عَائِشَةَ قَالَت ... وَضَحَّي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) عَن نِسَائِهِ بِالبَقَرَةِ (الف) (بخاري شریف.باب من ذبح ضحیّة غیره ص۸۳۴نمبر۵۵۵۹/مسلم شریف.باب جواز الاشتراک في الهدي وجزاء البدنة والبقرة کل واحدمنهماعن سبعة ص۴۲۴نمبر۱۳۱۹/ابوداؤدشریف.باب في هدي البقرص ... نمبر۱۷۵۱) ددې حدیث څخه معلوم شوچي د اِشَارې په حَیث دقرباني کولو اِجَازَت وي او هغه بَل د اِجَازَت ورکولو د صَرَاحَت بغیره قرباني وکړه نو هم کِفَایَت کوي .
اصول : دا مسئله پر اُصُول متفرّع ده چي د اِشَارې او کِنَایې په حَیث اِجَازَت وي نو دا دَوَل اجازت هم په بعضو ځایو کي کِفَایَت کوي .
لغت : اَجزَأ : کِفَایَت کوي .

حاشیه : (الف) حضور (ﷺ) دخپلو اَزوَاجُ مُطَهّرَاتُ لخوا څخه د غُوا قرباني وکړه .

﴿... کِتَابُ الاَیمَانِ ...﴾

[۲۶۴۴](۱) اَلاَیمَانُ عَلٰي ثَلٰثَةِ اَضرُبٍ یَمِینُ غَمُوسٍ وَیَمِینُ مُنعَقِدَةٍ وَیَمِینُ لَغوٍ .

﴿... کِتَابُ الاَیمَانِ ...﴾
ضروري پام لرنه : اَیمَانٌ دیَمِینٌ جمع ده قَسَم خوړل.د قَسَم دري قِسمُونَه دي (۱) یمین غموس (۲) یمین منعقدة (۳) یمین لغو. د درو سره تفصیل مخته راروان دئ. دیمین ثبوت په دې آیت کي دئ. لاَیُؤاخِذُکُمُ اللهُ بِاللّغوِ فِي اَیمَانِکُم وَلٰکِن یُؤاخِذُکُم بِمَاعَقّدتّمُ الاَیمَانَ فَکَفّارَتُهُ اِطعَامُ عَشَرَةِ مَسَاکِینَ مِن اَوسَطِ مَاتُطعِمُونَ اَهلِیکُم اَو کِسوَتُهُم اَو تَحرِیرُ رَقَبَةٍ فَمَن لَم یَجِد فَصِیَامُ ثَلاَثَةِ اَیّامٍ ذَالِکَ کَفّارَةُ اَیمَانِکُم اِذَا حَلَفتُم (الف) (آیت۸۹سورة المائدة۵) په دې آیت کي یمین لَغو او یمین مُنعَقِدَه ذکر شوي دي او دا هم معلوم شوچي دیمین مُنعَقِدَه کَفّاره پر درې قِسم ده. او د یمین غموس آیت دادئ. وَلاَتَتّخِذُوا اَیمَانَکُم دَخَلاً بَینَکُم فَتَزِلّ قَدَمٌ بَعدَ ثُبُوتِهَا (ب)

(آیت۹۴سورة النحل۱۶) په بَل آیت کي راغلي دي. اِنّ الّذِينَ يَشتَرُونَ بِعَهدِاللهِ وَ اَيمَانِهِم ثَمَنًا قَلِيلاً اُولٰئِکَ لاَخَلاَقَ لَهُم فِي الآخِرَةِ (ج) (آیت۷۷سورة آل عمران۳) په دې آیت کي هم دیمین غموس تذکره ده .

پام لرنه : په دې باب کي ډیري مسئلي پر عَادَاتُ.مُحَاوَرَاتُ او پر اُصُولُ متفرّع دي.نوځکه دلته به حدیثونه او آثَار نَه ملاؤیږي.نوځکه مورِ د عَادَاتُ.مُحَاوَرَاتُ او د اُصُول پر بیانولو باندي اِکتِفَاء کړې ده .

[۲۶۴۴](۱) قَسَم پر درې قِسم دئ.یمین غموس او یمین منعقده او یمین لغو .

حاشیه : (الف) الله ستاسو مُؤاخَذَه نه کوي په لَغوقَسَم کي لېکن ستاسو مؤاخذه کوي په هغه قَسَم کي چې تاسو یې غُوَټَه ترِلي ده.دهغه کَفّارَه لس مسکینانو ته ډُوډَئ خورل ده دَرمِیَانَه ډوډئ کوم چې تاسویې په خپل کُور خوروئ یا دهغه کپړې یا غُلاَم آزادول ده.څوک چې دا نَه وموندي هغه دي درې ورځې روژې ونیسي دا ستاسو دقَسَم کَفّارَه ده چې کله تاسو قَسَم وخورئ (ب) خپل قسمونه سُپَر مَه جوړوئ چې دقَسَم د مضبوط کولو وروسته ستاسو قَدَم وَښَکِیږِي (ج) کوم خلک چې د الله عَهد او دهغه قَسَمُونَه دلَږقیمت په بدله کي رَانِیسِي په آخرت کي دهغوئي هیڅ حِصّه نشته .

تشریح : د غموس معنْي ده ډُوبِدَل.چې د دُروَاغُ قسم وخوري هغه سړي خپل ځان په دُروَاغُ کي ډُوب کړئ نوځکه دې ته یَمِینِ غَمُوس وایي.په تېر آیت کي دهغه تَذکِرَه راغلي وه او په دې حدیث کي هم دهغه تَذکِرَه سته. عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَ عَنِ النّبِيِّ (ﷺ) قَالَ اَلکَبَائِرُ اَلإشرَاکُ بِاللهِ وَعُقُوقُ الوَالِدَینِ وَقَتلُ النّفسِ وَالیَمِینُ الغَمُوسِ (الف) (بخاري شریف.باب الیمین الغموس ص۹۸۷نمبر۶۶۷۵) په یوه بَل حدیث کي دَاوَل الفاظ راغلي دي. عَن عَبدِاللهِ عَنِ النّبِيِّ (ﷺ) قَالَ مَن حَلَفَ عَلٰي یَمِینٍ صَبرٍ یُقطَعُ بِهَا مَالَ اِمرَأٍ مُسلِمٍ لَقِيَ اللهَ وَهُوَ عَلَیهِ غَضبَانٌ فَاَنزَلَ اللهُ تَصدِیقَهُ اِنّ الّذِینَ یَشتَرُونَ بِعَهدِاللهِ وَاَیمَانِهِم ثَمَنًا قَلِیلاً (ب) (آیت ۷۷سورة آل عمران۳/بخاري شریف.نمبر۶۶۷۶) په دې آیت او حدیث کي د یَمِین غَمُوس تذکره شوې ده. او یَمِینِ مُنعَقِدَه دې ته وایي چې د آېندَه او رَاتُلُونکي په اړه قَسَم واخلي چې زَه به دَا رنګه کوم نو په دې سره قَسَم وخواړئ یوه خَبَرَه یې مُنعَقَد کړه.که چیرې بیا هغه کار وَنَه کړئ نو پر ده کَفّارَه لازم ده.یا دي غُلاَم یعني مَرَیَئ آزاد کړي یا دي لَس مسکینانو ته ډُوډَئ ورکړي یا دي و لَس مسکینانو ته دَرمِیَانَه کپړې ورکړي یا دي درې روژې ونیسي .

وجه : (۱) په تېرشوي آیت کي ددې تَذکِرَه شته (۲) په حدیث کي دئ. عَن اَبِي بُردَةَ عَن اَبِیهِ قَالَ اَتَیتُ النّبيّ (ﷺ) فِي رَهطٍ مِّنَ الاَشعَرِیّینَ ... وَاِنّي وَاللهِ اِن شَاءَ اللهُ لاَاَحلِفُ عَلٰي یَمِینٍ فَاَرٰي غَیرَهَا خَیراً مِّنهَا اِلاّ کَفّرتُ عَن یَمِینِي وَاَتَیتُ الّذِي هُوَ خَیرٌ اَو اَتَیتُ الّذِي هُوَخَیرٌ وَکَفّرتُ عَن یَمِینِي (ج) (بخاري شریف.باب قول الله تعالٰي

حاشیه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمایل کبیره ګناهونه دالله سره شریک جوړول دئ.د مُور او پُلاَرنافرماني ده. نَفس قتل کول دئ او د دُروَاغُ قسم خوړل دئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمایل کوم چاچې دُرُوغجَن قسم وخواړئ چې دهغه په ذریعه دمسلمان سړي یا دخپل وُرُور مَال تر لاَسَ کړي نو د الله سره به په داسي حالت کي ملاقات وکړي چې هغه به پر ده باندي غُصّه وي.ددې دتَصدِیق لپاره دا آیت را نَازل شو. کوم خلک چې د الله عَهد او دهغه قَسَمُونَه د لَږ قیمت په بَدلَه کي رَانِیسِي الخ (ج) حضرت ابوبرده فرمایي چې زَه د اَشعَرِیّینُ په جماعت کي حضور (ﷺ) ته

راغلم ... حضور وفرمايل قَسَم په خداۍ زَه چې قَسَم اخلم او دهغه په خِلاَف کې خَير ووينم نو يقيناً دخپل قَسَم کفّاره وركوم او هغه گَوَم گُوم چې خَير دۍ او دخپل قَسَم کفّاره وركوم .

[۲۶۴۵](۲) فَيَمِينُ الغَمُوسِ هِيَ الحَلفُ عَلْي اَمرٍ مَاضٍ يَتَعَمّدُ الكِذبَ فِيهِ .

لايواخذكم الله باللّغوفي ايمانكم ص۹۸۰نمبر۶۶۲۳/مسلم شريف.باب ندب من حلف يميناًفرٲي غيرها خيراًمنهاج۲ص۴۶نمبر۱۶۴۹) ددې حديث څخه معلوم شوچي كه يَمِينِ مُنعَقِدَه وي نو دهغه په مَاتَوُلُو سره كَفّارَه لازميږي. او يمين لغو دادۍ چې پر يوه تېرشوي كار باندي قَسَم واخلي چې دادول كار شوئ دۍ او دده يقين وي چې دغه دول شوئ دۍ لېكن په حقيقت كې هغه دول نَه وُ شوئ نو دې ته يمين لغو وايي پر دې يمين كَفّارَه نشته .

وجه : (۱) په تېرآيت كې ددې تَذكِرَه راغلې ده. لاَيُؤاخِذُكُمُ اللهُ بِاللّغوِ فِي اَيمَانِكُم وَلْكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا عَقّدتُمُ الاَيمَانَ (الف) (آيت۸۹سورة المائدة ۵) (۲) په اَثَركې دۍ. سَمِعتُ الشّعَبِيّ يَقُولُ اَلبِرّ وَالإثمُ مَاحَلَفَ عَلْي عِلمِهِ وَهُوَ يَرْي اَنّهُ كَذَالِكَ لَيسَ فِيهِ اِثمٌ وَلَيسَ عَلَيهِ كَفّارَةٌ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب اللغو وماهو؟ ج۸ص۴۷۵نمبر۱۵۹۵۷) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي په يمين لغو كې كَفّارَه نشته .

[۲۶۴۵](۲) نو يمينِ غموس دادۍ.هغه قَسَم خورل دۍ پر تېره شوې خبره په قَصداً درواغ ويل .

تشريح : ده ته معلوم دۍ چې دا خبره دادول نَه ده بيا هم په قصداً درواغ ووايي او ووايي چې دا دول ده دې ته يمينِ غموس وايي .

وجه : (۱) په اَثَر كې دۍ. قَالَ اِثمُ يَمِينِ الغَمُوسِ قَالَ قُلتُ لِعَامِرَ مَا اَليَمِينُ الغَمُوسِ؟ قَالَ اَلّذِي يَقتَطِعُ مَالَ اِمرَئٍ مُسلِمٍ بِيَمِينِهِ وَهُوَ فِيهَا كَاذِبٌ (ج) (سنن

حاشيه : (الف) ستاسو په لغو قَسَم كې الله تاسو نَه نيسي لېكن تاسو نِيسِي چې دقَسَم غُوتَه وترِي (ب) حضرت شعبي فرمايي چې دنيكۍ او گناه مَدَار پر دې خبره دۍ چې دخپلو مَعلُومَات مطابق قَسَم وخوري د ده دا خيال دۍ چې دغه دَوَل دۍ نو په دې كې گناه نشته او په دې كې كَفّارَه هم نشته.يعني دخپلو معلوماتُ مطابق يې قَسَم وخواړۍ نو گناه هم نشته او كَفّارَه هم نشته (ج) بيا يمينِ غموس. مَا دحضرت عامرځخه پوښتنه وكړه يمينِ غموس څِش دۍ؟ وفرمايل چې د يوه سړي مَال په درواغجَن قَسَم سره تر لاَسَ كړي .

[۲۶۴۶](۳) فَهٰذِهِ اليَمِينُ يَأثِمُ بِهَا صَاحِبُهَا وَلاَ كَفّارَةَ فِيهَا اِلاّ التّوبَةُ وَالاِستِغفَارُ .

للبيهقي.باب ماجاء في اليمين الغموس ج۱۰ص۶۲نمبر۱۹۸۶۸) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي په درواغُ د چا مَال واخلي دې ته يمين غموس وايي (۲) او په يوه بَل اَثَر كې دۍ. عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اَلاَيمَانُ اَربَعٌ يَمِينَانِ يُكَفّرَانِ وَ يَمِينَانِ لاَيُكَفّرَانِ. قَولُ الرّجُلِ وَاللهِ مَافَعَلتُ وَاللهِ لَقَد فَعَلتُ لَيسَ فِي شَئٍ مِنهُ كَفّارَةٌ اِن كَانَ تَعَمّدَ شَيئًا فَهُوَ كِذبٌ وَاِن كَانَ يَرْي اَنّهُ كَمَا قَالَ فَهُوَ لَغوٌ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في يمين الغموس ج۱۰ص۶۷ نمبر۱۹۸۸۲) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي ورته معلوم

وي چي دا ډَوَل نه دي شوي يايې دادَوَل نَه دي کړي پر هغه باندي چي قَسَم وخوري دې ته يمين غموس وايي .

[۲۶۴۶](۳) نو ددې قَسَم څخه به ګناهګار وي ددې کونکئ او په دي کي کَفّارَه نشته ماسوائ د توبه او اِستِغفَار څخه .

تشريح : په يمين غموس کي کَفّارَه نشته صرف توبه او استغفار شته .

وجه : (۱) په تبر اَثَر کي راغلي وُ چي په يمين غموس کي کَفّارَه نشته. عَن اِبرَاهِيمَ ... وَاللهِ لَقَد فَعَلتُ لَيسَ فِي شَيءٍ مِّنهُ كَفّارَةٌ اِن كَانَ تَعَمّدَ شَيئًا فَهُوَ كِذبٌ (سنن للبيهقي.نمبر۱۹۸۸۲) (۲) په اَثَر کي دئ. قَالَ اِبنُ مَسعُودٍ كُنّا نَعُدّ مِنَ الذّنبِ الّذِي لاَكَفّارَةَ لَهُ اَليَمِينُ الغَمُوسُ فَقِيلَ مَا اَليَمِينُ الغَمُوسُ؟ قَالَ اِقتِطَاعُ الرّجُلِ مَالَ اَخِيهِ بِاليَمِنِ الكَاذِبَةِ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في اليمين الغموس ج۱۰ص۶۷نمبر۱۹۸۸۳ /مستدرک حاکم.کتاب الايمان والنذورج۴ص۳۲۹نمبر۷۸۰۹) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي په يمين غموس کي کَفّارَه نشته .

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل د قَسَم څلور صورتونه دي.په دُو قسمو کي کَفّارَه لازميږي او په دُو قسمو کي کَفّارَه نه لازميږي.سږئ دادول ووايي قسم په خدائ مَا داسي نَه دي کړي يا قَسَم په خدئ دَادَوَل مي کړي دي نو په دې صورتو کي کَفّارَه نشته که په قصداً وويل نو دُروَاغ دي او که دغه ډَوَل خيال وُ لکه کوم چي ده ويلي دي نو دا قَسَم لغوَ دئ (ب) حضرت عبدالله بن مسعود وفرمايل موږ ګناه ګڼل په کوم کي چي کَفّارَه نشته يمينِ غموس.پوښتنه وشوه يمينِ غموس څش دئ؟ وفرمايل چي په دُروَاغجَن قسم د وُرُور مَال واخلي .

[۲۶۴۷](۴) وَاليَمِينُ المُنعَقِدَةُ هِيَ اَن يَحلِفَ عَلْي الاَمرِ المُستَقبِلِ اَن يَفعَلَهُ اَو لاَيَفعَلَهُ .

فائده : امامِ شافعي فرمايي چي په يمين غموس کي هم کَفّارَه شته .

وجه : دده دليل ددې حديث اِشَارَه ده. عَن اَبِي بُردَةَ عَن اَبِيهِ ... وَ اِنّي وَاللهِ اِنشَاءَ اللهُ لاَ اَحلِفُ عَلْي يَمِينٍ فَاَرْي غَيرَهَا خَيراً مّنهَا اِلاّ كَفّرتُ عَن يَمِينِي وَ اَتَيتُ الّذِي هُوَ خَيرٌ (الف) (بخاري شريف.باب قول الله تعالْي لايواخذكم الله باللغو ص۹۸۰نمبر۶۶۲۳/مسلم شريف. باب ندب من حلف يمينًافرْي غيرهاخيراًمنهاص۴۶نمبر۱۶۴۹) په دې حديث کي دئ چي پر يوه شِي باندي قَسَم وخورم او بيا وَوِينَم چي هغه بنَه شَئ نَه دئ نو کَفّارَه اداء کړم دهغه خلاف وکړم او دُروَاغ هم بنَه کار نَه دئ نو ځکه دهغه خِلاَف به کار کوي او کَفّارَه به لازميږي .

لغت : يَأثِمُ : ګناهګار به وي .

[۲۶۴۷](۴) او يمينِ مُنعَقِدَه دادئ چي پر راتلونکي معامله باندي قَسَم واخلي چي دا به کوي يا به نَه کوي .

تشريح : مثلاً قَسَم واخلي چي قَسَم په خدائ زَه ضرور دَعوَت کوم يا قَسَم په خدائ زَه هيڅ کله دَعوَت نَه کوم.دغه رنګه په راتلونکي وخت کي د يوه کار د کولو يا نَه کولو په اړه قَسَم واخلي دې ته يَمِينِ مُنعَقَدَه وايي .

وجه : حضور (ﷺ) د سُوَارلَئ لپاره د وُښ ورکولوپه اړه قَسَم واخستئ. عَن اَبِي بُردَةَ قَالَ اَتَيتُ النّبِيّ (ﷺ) فِي رَهطٍ مِّنَ الاَشعَرِيّينَ اَستَحمِلُهُ فَقَالَ وَاللهِ لاَ اَحمِلُكُم وَمَا عِندِي مَا اَحمِلُكُم عَلَيهِ (ب) (بخاري شريف.باب قول الله تعالٰي لايواخذكم الله

حاشيه : (الف) دحضرت ابوبرده څخه روايت دئ ... حضور (ﷺ) وفرمايل زه اِنشاء الله دَاذَوَل قسم واخلم چي دهغه په خِلاَف کي خَير وَوِينَم نودخپل قسم کَفّارَه ورکوم او هغه کَوَم کُوم چي خَير پکښي وي (ب) حضرت ابوبرده فرمايي چي زه دحضور (ﷺ) خدمت ته د اَشعَرِيّينُ په جماعت کي راغلم د سُوَارلَئ لپاره مِي وُښ غُوَښتَئ نوحضور وفرمايل قَسَم په خدائ زَه تاته وُښ نَه سَم درکولائي. زُومَا سره د وَرکولو لپاره وُښ نشته .

[۲۶۴۸](۵) فَاِذَا حَنَثَ فِي ذَالِکَ لَزِمَتهُ الکَفّارَةُ [۲۶۴۹](۶) وَ يَمِينُ اللّغوِهُوَان يَحلِفَ عَلٰي اَمرٍمَاضٍ وَهُوَيَظُنّ اَنّهُ کَمَا قَالَ وَالاَمرُ بِخِلاَفِهِ فَهٰذِهِ اليَمِينُ نَرجُوا اَن لاَيُوَاخِذَاللهُ تَعَالٰي بِهَا صَاحِبَهَا .

باللّغوص۹۸۰نمبر۶۶۲۳/مسلم شريف.باب ندب من حلف يمينًافرٰي غيرهاخيرامنهاص۴۶نمبر۱۶۴۹) په دې حديث کي حضور (ﷺ) پر وُښ دنَه سپَرَوُلُو قسم اَخَستَئ دئ. په راتلونکي کي د يوه کار د نَه کولو قسم يې اَخَستئ دئ نو ځکه دې ته يَمِينِ مُنعَقِدَه وايي .

[۲۶۴۸](۵) بيا چي کله په دي کي حَانِث شي نو پر ده به کَفّارَه لازم شي .

وجه : (۱) مخته آيت تېرشوئ دئ په هغه کي دئ چي حَانِث ګرزي يعني چي هغه کار وَنَه کړي نو کَفّارَه پر لازميږي.لاَيُوَاخِذُكُمُ اللهُ بِاللّغوِ فِي اَيمَانِكُم وَلٰكِن يُوَاخِذُكُم بِّمَا عَقّدتُمُ الاَيمَانَ فَكَفّارَتُهُ اِطعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِن اَوسَطِ مَا تُطعِمُونَ اَهلِيكُم اَو كِسوَتُهُم اَو تَحرِيرُ رَقَبَةٍ فَمَن لَم يَجِد فَصِيَامُ ثَلاَثَةِ اَيّامٍ ذَالِکَ كَفّارَةُ اَيمَانِكُم اِذَا حَلَفتُم (الف) (آيت۸۹سورة المائدة۵) په دې آيت کي دئ چي که په يمين منعقده کي حانث شي نو کَفّارَه پر لازميږي بيايې په آيت کي دکَفّارې تفصيل بيان کړئ دئ (۲) حديث هم تېرشوئ دئ لاَ اَحلِفُ عَلٰي يَمِينٍ فَاَرٰي غَيرَهَا خَيراً مِّنهَا اِلاّ كَفّرتُ عَن يَمِينِي وَ اَتَيتُ الّذِي هُوَ خَيرٌ (ب) (بخاري شريف. نمبر۶۶۲۳/مسلم شريف. نمبر۱۶۴۹) په دې حديث دئ چي کوم وخت حَانِث شَم نو کَفّارَه اداء کوم .

[۲۶۴۹](۶) او يمين لغو دادئ چي پر تېر شوو خبرو قَسَم واخلي او دا ګمان يې وي چي دغه دَوَل دئ لکه څه رنګه چي ده ويلي دي حالانکه معامله ددې څخه بَرخِلاَف وي.دا قَسَم دئ. موږ اُميد لرو چي الله به دقَسَم والا مواخذه نَه وکړي .

حاشيه : (الف) ستاسو په لغو قَسَم کي الله تاسو نَه نيسي لٰېکن تاسو نِيسِي چي دقَسَم غُوتَه وتړي.نو دهغه کَفّارَه و لَس مسکينانو ته درميانه ډُوډَئ خورول ده کوم چې تاسو په خپل اَهل خوروئ يا وهغوئي ته کپړې اَغُوستَل دي يا غُلاَم آزادول دئ.څوک چي دا ونه موندي نو دري ورځي روژي نيول دي دا ستاسو دقَسَم کفّاره ده چي کوم وخت تاسو قَسَم وخورئ (ب) چي پر يوه خبره قَسَم وخورم بيا دهغه په خِلاَف کي خَير وَوِينَم نو دخپل قَسَم کفّاره ورکوم او هغه کَوَم کُوم چي خَير دئ .

[۲۶۵۰](۷) وَالقَاصِدُ فِي اليَمِينِ وَالمُكرَهِ وَالنّاسِيُ سَوَاءٌ .

تشريح : د تيري شوي خبري په اړه د قَسَم خوړونکي اِنسَان دا ګمان وي چې خبره دغه رنګه ده پر دغه يې قَسَم واخستئ حالانکه معامله ددې څخه بَرخِلاَف وه نو دا يَمِينِ لَغوَ دئ.په دې کې دا اُمِيد شته چې الله تعالٰي به مواخذه وَنَه کړي .

وجه : آيت دئ. لاَيُؤَاخِذُكُمُ اللهُ بِاللّغوِ فِي اَيمَانِكُم (الف) (آيت٨٩سورة المائدة٥) په دې آيت کې دئ چې الله تعالٰي په يمينِ لَغوَ کې مواخذه نَه کوي .

د يَمِينِ لَغوَ دتفصيل لپاره دا اَثَر دئ. سَمِعتُ الشّعَبِيّ يَقُولُ اَلبِرّ وَالإِثمُ مَاحَلَفَ عَلٰي عِلمِهِ وَهُوَ يَرْي اَنّهُ كَذَالِكَ لَيسَ فِيهِ اِثمٌ وَلَيسَ عَلَيهِ كَفّارَةٌ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب اللغو وماهو؟ج٨ص٤٧٥نمبر١٥٩٥٧/سنن للبيهقي.باب ماجاء في اليمين الغموس ج١٠ ص٦٧نمبر١٩٨٨٢) په دې اَثَرکې دئ چې څه رنګه سَرګَند شو په هغه دَوَل دده ګمان وي او قَسَم واخلي نو دې ته يمين لغو وايي. او بَل روايت دادئ چې هسي په بې پَروَاهِي کې قَسَم واخلي دې ته يمينِ لَغو وايي ددې دليل دا حديث دئ. قَالَت عَائِشَةُ (ؓ) اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ هُوَ كَلاَمُ الرّجُلِ فِي بَيتِهِ كَلاّ وَاللهِ وَبَلٰي وَاللهِ (ج) (ابوداؤدشريف.باب لغواليمين ص١١٤نمبر٣٣٢٥/بخاري شريف.باب لايواخذكم الله باللغوفي ايمانكم ص٩٨٠نمبر٦٦٦٣) ددې حديث څخه معلوم شوچې بغيره د يوې اِرَادې لاَ وَاللهِ او بَلٰي وَاللهِ ويل يمينِ لَغو دئ .

[٢٦٥٠](٧) قَسَم په قصداً وخوري.په زُور او زَبَردَستِي يې وخوري او په هېره وخوري سره برابر دئ .

تشريح : په خپل اِختِيَار سره په قصداً قَسَم وخواړئ نو دهغه په مَاتَوُلُو سره هم

حاشيه : (الف) الله تعالٰي ستاسو پر لَغوَ قَسَم باندي مواخذه نَه کوي (ب) دنبکئ او ګناه دارومدار چې دخپلو معلوماتُ لمخه دئ قَسَم وخوري او دا خيال يې وي چې دغه رنګه دئ نو په دې کې ګناه نشته او نَه پر ده کَفّارَه شته (ج) حضور (ﷺ) وفرمايل لغو قسم دادئ چې سړئ په خپل کُور کې لاَ وَاللهِ او بَلٰي وَاللهِ ووايي .

کَفّاره لازميږي.او که بَل چا په زُورَه او زَبَردَستِي سره قَسَم ورکړئ نو دهغه په مَاتَوُلُو سره هم کَفّارَه لازميږي.او که په هېره سره قَسَم وخواړئ نو دهغه په مَاتَوُلُو سره هم کَفّارَه لازميږي .

وجه : (١) په اَثَر کې راغلي دي. عَن عُمَرَ قَالَ اَربَعٌ جَائِزَةٌ فِي كُلّ حَالٍ اَلعِتقُ وَالطّلاَقُ وَالنِّكَاحُ وَالنّذَرُ. او په يوه بَل روايت کې دئ. عَنِ الضّحّاكِ قَالَ سَمِعتُهُ يَقُولُ ثَلاَثٌ لاَيُلعَبُ بِهِنّ اَلطّلاَقُ وَالنِّكَاحُ وَالنّذَرُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٠٢من قال ليس في الطلاق والعتاق لعبٌ وقال هوله لازمٌ ج٤ص١١٩نمبر١٨٣٩٧/ ١٨٣٩٨) ددې دواړو اَثَرُو څخه معلوم شوچې نَذَر يعني قَسَم او يمين کې مَذَاق هم حقيقت دئ نوځکه که په هېره يا د بَل په زَبَردَستِي سره قَسَم واخستئ نو هم قَسَم لازميږي (٢) دطلاق.نِکاح او رَجعَت په اړه خو باقاعده په حديث کې راغلي دي. عَن اَبِي هُرَيرَةَ (ؓ) اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ ثَلاَثٌ جِدّهُنّ جِدٌ وَهَزلُهُنّ جِدٌ اَلنِّكَاحُ وَالطّلاَقُ وَالرّجعَةُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في الطلاق علٰي الهزل ص٣٠٥نمبر٢١٩٤/ترمذي شريف.باب ماجاء في الجد والهزل في الطلاق ص٢٢٥نمبر١١٨٤) ددې

حديث څخه معلوم شوچي په نکاح.طلاق او رَجعَت کي مَذَاق او ګَپَه وکړي هم هغه حقيقت دئ.دغه رنګه که په مَذَاق يا په هېره سره قَسَم واخستئ بيا هم قَسَم واقع کيږي .

او چي په زَبَردَستِي او جَبراً قسم ورکړي هغه هم واقع کيږي دليل يې دا اَثَر دئ. عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ هُوَ جَائِزٌ اِنّمَا هُوَ شَئٌ اِفتَدْي بِهِ نَفسَهُ (ج) (مصنّف ابن ابي شيبة ۴۸ من قالَ طلاق المكره جائز ج۴ص۸۵نمبر۱۸۰۳۵/مصنّف عبدالرزاق.باب طلاق المكره ج ۶ ص۴۱۰ نمبر۱۱۴۱۹/ ۱۱۴۲۰) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي په زُورَه قسم په وخوري هغه هم وَاقِع کيږي .

حاشيه : (الف) د حضرت ضحَاک څخه نقل شوئ دئ.دهغه څخه دا وَيناَ اورېدل شوې ده. په درو خبرو کي مَذَاق نشته هغه حقيقت دي. طلاق.نکاح او نَذَر يعني قَسَم (ب) د دُرُو خبرو حقيقت هم حقيقت دئ او مَذَاق يې هم حقيقت دئ يعني واقع کيږي نکاح.طلاق او رَجعَت (ج) حضرت ابراهيم وفرمايل په زَبَردَستِي کي هم جواز پيدا کوي ګواکه ده د ځان په بَدلَه کي فِديَه ورکړه .

[۲۶۵۱](۸) وَمَن فَعَلَ المَحلُوفَ عَلَيهِ مُكرَهًا اَو نَاسِيًا فَهُوَ سَوَاءٌ .

فائده : د امامِ شافعي په نېز چي په زَبَردَستِي قسم ورکړي هغه نَه واقع کيږي .
وجه : (۱) په حديث کې دئ عَن اَبِي ذَرٍّ الغِفَارِي قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِنّ اللهَ تَجَاوَزَ لِي عَن اُمّتِي اَلخَطَاءَ وَالنِّسيَانَ وَمَا اِستَكرَهُوا عَلَيهِ. په يوه بَل روايت کي دئ. حَدّثَنِي عَائِشَةُ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ لاَطَلاَقَ وَلاَعِتَاقَ فِي اَغلاَقٍ (الف) (ابن ماجه شريف.باب طلاق المكره والنّاسي ص۲۹۳نمبر۲۰۴۳/ ۲۰۴۶/ سنن للبيهقي.باب ماجاء في طلاق المكره ج۷ص۵۸۵نمبر۱۵۰۹۷) ددې حديث څخه معلوم شوچي په زوره قَسَم ورکړئ وي يا يې په زوره طلاق په واقع کړئ وي هغه هيڅ اِعتِبَار نَه لري او نَه واقع کيږي. دتېرشوي حديث څخه دا هم معلوم شوچي که په هېره سره طلاق ورکړئ وي هغه طلاق نَه واقع کيږي نو پر دغه قياس که په هېره سره قَسَم خوړلئ وي هغه هم هيڅ اِعتِبَار نَه لري (۲) آيت هم دئ. وَلَيسَ عَلَيكُم جُنَاحٌ فِيمَا اَخطَئتُم بِهِ (ب) (آيت۵سورة الاحزاب۳۳) ددې آيت څخه هم معلوم شو چي که په هېره سره قَسَم واخستئ نو هغه اِعتِبَار نَه لري. البته کوم قَسَم چې په قَصداً اخستئ دئ او کوم قَسَم چې په هېره سره اخستئ دئ ددې تر مينځ فرق کول مُشکِل کار دئ .
[۲۶۵۱](۸) يو چا په زَبَردَستِي سره محلوفٌ عَلَيه وکړئ يايې په هېره سره وکړئ نو دواړه سره برابر دئ .
تشريح : د کومي خبري د نَه کولو چې قَسَم اخستئ وُ دهغه پر کولو يې زَبَردَستِي پر وکړه دئ مجبوره سو هغه کار يې وکړئ نو بيا هم د قَسَم کَفّاره لازم ده.دغه رنګه په هېره سره هغه کار وکړئ چي د نَه کولو قَسَم يې کړئ وُ نو هم کَفّارَه لازميږي .
وجه : په مسئله نمبر۷ کي تېرشوي دي چي په هېره سره يا په زَبَردَستِي سره قَسَم وکړي هغه مُعتَبَردئ. نو قِيَاس پر دغه باندي چي په هېره سره يا په زَبَردَستِي سره

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل په زَبَردَستِي نَه طلاق واقع كيږي او نَه آزادي واقع كيږي (ب) كوم كار چې په غلطي سره وكړي په هغه كې پر تا باندې كوم حرج نشته .

[۲۶۵۲](۹) وَاليَمِينُ بِاللهِ تَعَالٰي اَو بِاِسمٍ مِن اَسمَائِهِ كَالرّحمٰنِ وَالرّحِيمِ اَو بِصِفَةٍ مِن صِفَاتِ ذَاتِهِ كَعِزّةِ اللهِ وَجَلاَلِهِ وَكِبرِيَائِهِ .

مَحلُوفٌ عَلَيهِ كار وكړي نو هم كَفّاره لازميږي .
فائده : دلته هم د امامِ شافعي په نېز دادئ چې په هېره سره يا يې په زُور او زَبَردَستِي سره كار په وكړئ نو پر هغه كَفّارَه نَه لازميږي .
وجه : لوړ (تېرشوئ)حديث او اَثَر ددې دليل دئ .
لغت : مَحلُوفٌ عَلَيهِ : پركومه خبره چې قَسَم اخستئ وي هغه ته مَحلُوفٌ عَلَيهِ وايي .

﴿...دقسَم خوړلو طريقې... ﴾

[۲۶۵۲](۹) قَسَم د الله په لفظ يا دهغه په نورونومونو سره هسې په يوه نُوم سره وي لكه رَحمٰن.رَحِيم.يا دهغه په يوه ذَاتِي صِفَت سره وي.لكه دالله په عِزّت.يا دده په جَلاَل.يا دده په كِبرِيَائِي قَسَم .
تشريح : كه قَسَم خوري نو د الله په لفظ سره دې وخوري يا د الله نَه نِيوِي(۹۹) نومونه دي په هغوئي كې دي هسې په يوه سره قَسَم وخوري.يا دې د الله په يوه ذَاتِي صِفَت سره وخوري مثلاً دارنګه دي ووايي د الله په عِزّت سره دي زُومَا قسم وي.دده دجَلاَل قسم يا دده دكِبرَيَائِي قسم نو دا دَوَل به قسم مُنعَقَد شي .
وجه : (۱) په حديث كې ددې ثبوت سته.په حديث كې دئ. عَن عَائِشَةَ عَنِ النّبِيّ (ﷺ) اَنّهُ قَالَ يَا اُمّةَ مُحَمّدٍ وَاللهِ لَو تَعلَمُونَ مَا اَعلَمُ لَبَكَيتُم كَثِيراً وَلَضَحِكتُم قَلِيلاً (الف) (بخاري شريف.باب كيف كانت يمين النبي (ﷺ) ص۹۸۰نمبر۶۶۳۱/مسلم شريف.باب ندب من حلف يمينًافرْي غيرهاخيراًمنهاص۴۶نمبر۱۶۴۹) په دې حديث كې هم د وَاللهِ لَو تَعلَمُونَ مَااَعلَمُ عبارت راغلئ دئ.چې په دي كې د الله د ذَات قسم خوړلئ دئ .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل ائ اُمّتِ محمّد! قَسَم په خدائ كه چيري تاسو ته هم معلوم شي كوم چې ماته معلوم دي نو تاسو به زيات ژاړئ او لږ به خاندئ .

[۲۶۵۳](۱۰) اِلاّ قَولُهُ وَعِلمُ اللهِ فَاِنّهُ لاَيَكُونُ يَمِينًا .

د الله په صِفَت سره دقسم خوړلو دليل دا حديث دئ. (۲) عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ كَانَت يَمِينُ النّبِيّ (ﷺ) لاَ وَمُقَلِّبَ القُلُوبُ (الف) (بخاري شريف.باب كيف كانت يمين النّبيّ (ﷺ) ص۹۸۰نمبر۶۶۲۸/ابوداؤدشريف.باب ماجاء في يمين النّبيّ ج۲ص۱۰۸نمبر۳۲۶۳) په دې حديث كې د الله صِفَت مُقَلِّبُ القُلُوب دئ په هغه سره قَسَم خوړلئ دئ (۳) حضرت ايّوب (ؑ) د الله قَسَم د الله په عِزّت سره خوړلئ دئ. دحديث تكړه داده. عَن اَبِي هُرَيرَةَ (ﷺ) عَنِ النّبِيّ (ﷺ) ... فَنَادَاهُ رُبّهُ يَا اَيّوبُ اَلَم اَكُن اَغنَيتُكَ عَمّا تَرٰي؟ قَالَ بَلٰي وَعِزّتُكَ وَلٰكِن لاَ

غِنْي بِي عَن بَرَكَتِکَ (ب) (بخاري شريف.باب من اغتسل عُريانًاوحده في خلوة ص۴۲نمبر۲۷۹/کتاب الغسل) په دې حديث کې د وَعِزّتُکَ لفظ په ذريعه د الله د عِزّت قَسَم اخستئ دئ... دا چې د الله په نورو نومونو يې قَسَم اخستئ وي دهغه دليل دا حديث دئ. عَن اَبِي ذَرٍّ قَالَ اِنتَهَيتُ اِلَيهِ يَقُولُ فِي ظِلِّ الکَعبَةِ هُمُ الآخَرُونَ وَرَبِّ الکَعبَةِ (ج) (بخاري شريف.باب کيف کانت يمين النّبِيّ(ﷺ) ص۹۸۰ نمبر۶۶۳۸) په دې حديث کې وَ رَبِّ الکَعبَةِ د الله صِفَاتِي نوم دئ چې په هغه سره قَسَم اخستئ دئ.ددې څخه دا معلوم شوچې د الله په صِفَاتِي نومونو سره هم قَسَم اخستلائي شي .

[۲۶۵۳](۱۰) مګر ديوچا دا قول عِلمُ الله سره قَسَم نَه اخستل کيږي .

تشريح : چې څوک دالله په عِلم سره قَسَم واخلي نوپه دې سره قَسَم نَه مُنعَقَدکيږي .

وجه : دلته عِلم ووايي او مَعلُوم ځينې مراد اَخلِي.او معلوم شئ د الله ذَاتِي صِفَت نَه دئ نو ځکه چې عِلمُ اللهِ ووايي په دې سره قَسَم نَه مُنعَقَد کيږي.او په حديث کې

حاشيه : (الف) دحضور (ﷺ) قَسَم دَادِوَل وُ لاَ وَمُقَلِّبَ القُلُوبُ (ب) دحضور (ﷺ) څخه نَقل شوئ دئ ... دحضرت ايّوب رَب آواز وکړئ ائ ايّوب! کوم شَئ چې مَا درکړئ دئ هغه تَه نَه يې بِې نِيَاز کړئ؟ وفرمايل ستا په عِزّت قَسَم وَلِي نَه؟ لېکن ستا د برکتو څخه بِې نِيَاز نَه يَم (ج) حضرت ابوذر وفرمايل زه حضور ته راغلم. حضور د کعبې په سَايَه کې موجود وُ دا يې فرمايل د کعبې په رَب دي زُومَا قَسَم وي دُوئي په نُقصَان کې دي .

[۲۶۵۴](۱۱) وَ اِن حَلَفَ بِصِفَةٍ مِّن صِفَاتِ الفِعلِ کَغَضَبِ اللهِ وَ سَخَطِ اللهِ لَم يَکُن حَالِفًا [۲۶۵۵](۱۲) وَ مَن حَلَفَ بِغَيرِ اللهِ عَزّ وَجَلّ لَم يَکُن حَالِفًا کَالنّبِيِّ عَلَيهِ السّلاَمُ وَالقُرآنِ وَالکَعبَةِ .

دئ چې دالله په نوم سره قَسَم واخلي يا د الله په صِفَتِ ذَاتِي سره قَسَم واخلي نو بيا قَسَم مُنعَقَد کيږي.حديث دادئ. عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) اَدرَکَ عُمَرَبنِ الخَطّابَ وَهُوَ يَسِيرُ فِي رَکبٍ يَحلِفُ بِاَبِيهِ فَقَالَ اَلاَ اِنّ اللهَ يَنهَاکُم اَن تَحلِفُوا بِآبَائِکُم مَن کَانَ حَالِفًا فَلْيَحلِف بِاللهِ اَو لِيَصمُتَ (الف) (بخاري شريف.باب لاتحلفوا بآبائکم ص۹۸۳ نمبر۶۶۴۶/مسلم شريف.باب النهي عن الحلف بغيرالله تعالٰي ص۴۶نمبر۱۶۴۶/ ۴۲۵۷) ددې حديث څخه معلوم شوچې د الله په لفظ سره دي قَسَم واخلي يا دي پَټَه خوله شي.ځکه چې په بَل لفظ يا بل شي سره قَسَم واخلي هغه قَسَم نَه مُنعَقَد کيږي .

[۲۶۵۴](۱۱) که په يوه فِعلِي صِفَت سره قَسَم واخستئ لکه غَضَبُ اللهِ يا سَخَطُ اللهِ نو قَسَم خورونکئ نَه دئ .

وجه : (۱) هغه صِفتُونَه کوم چې دالله ذَاتِي صِفَتُونَه نه وي بلکه فِعلِي او وَقتِي صِفَتُونَه وي چې دهغه په ذريعه سره قَسَم واخلي نو قَسَم نَه مُنعَقَد کيږي.لکه د الله غَضَب يا سَخَطُ اللهِ.مَثَلاً ووايي بِغَضَبِ اللهِ. بِسَخَطِ اللهِ اَفعَلُ کَذَا نو په دې سره قَسَم نَه مُنعَقَد کيږي (۲) مخته حديث هم تېرشوئ دئ .

[۲۶۵۵](۱۲) یوچا دالله څخه علاوه په بَل چا سره قَسَم واخستئ نو قَسَم خوړونکئ نَه دئ.لکه دنبي (ﷺ) قَسَم.په قُرآن سره قسم په کعبه سره قسم .
تشریح : چي د لفظ الله پر ځائ څوک ووایي په نَبِي (ﷺ) قَسَم.په قُرآن قَسَم یا په کَعبَه قَسَم نو په دې سره قَسَم نَه مُنعَقَد کیږي .

حاشیه : (الف) حضور حضرت عمر وموندئ چي هغه په قَافِلَه کي روان وُ او دېُلاَر قسم یې خُوَارِئ نو حضور وفرمایل وَاوُره! الله تَا منع کوي ددې څخه چي د پُلاَر قسم وَاخلي.څوک چي قَسَم اخلي نو په الله سره دي قَسَم واخلي یا دي پَتَه خوله شي .

[۲۶۵۶](۱۳) وَالحَلفُ بِحُرُوفِ القَسَمِ وَحُرُوفُ القَسَمِ ثَلْثَةٌ اَلوَاوُ کَقَولِهِ وَاللهِ وَالبَاءُ کَقَولِهِ بِاللهِ وَالتّاءُ کَقَولِهِ تَاللهِ .

وجه : (۱) مخته حدیث تېر سو. مَن کَانَ حَالِفًا فَلیَحلِف بِاللهِ اَو لِیَصمُت (الف) (بخاري شریف.نمبر۶۶۴۶/مسلم شریف.نمبر۱۶۴۶) ددې څخه معلوم شوچي د الله څخه علاوه دبَل شِي قَسَم واخلي نو هغه قَسَم نَه مُنعَقَدکیږي (۲) دا چي په کعبه سره دي قَسَم نَه خوري ددې په اړه بَاضَابِطَه حدیث راغلئ دئ. سَمِعَ اِبنُ عُمَرَ رَجُلاً یَحلِفُ لاَ وَالکَعبَةَ فَقَالَ لَهُ اِبنُ عُمَرَ اِنّي سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) یَقُولُ مَن حَلَفَ بِغَیرِاللهِ فَقَد اَشرَکَ (ب) (ابوداؤدشریف.باب کراهیة الحلف بالآباء ص۱۰۷نمبر۳۲۵۱/ترمذي شریف.باب ماجاء فِي اَنّ مَن حلف بغیرالله فقداشرک ص۲۷۹نمبر۱۵۳۵) په دې حدیث کي دئ چي یوه صحابي دکعبې قَسَم خواړئ نو حضرت عبدالله بن عمر ورته وفرمایل چي په کعبه سره قَسَم مَه خوره. که دي د الله څخه علاوه د بَل شِي قَسَم واخستئ نو شرک دي وکړئ.نو قیاس پر دغه باندي که چیري دنَبِي او دقُرآن قَسَم واخلي نو هغه قَسَم هم نَه مُنعَقَد کیږي .
وجه : په اَثَرکي دئ. اَخبَرَنَا مَعمَرُ عَن قَتَادَةَ قَالَ یُکرَهُ اَن یَحلِفَ اِنسَانٌ بِعِتقٍ اَو طَلاَقٍ وَاَن یَحلِفَ اِلاّ بِاللهِ وَکَرِهَ اَن یَحلِفَ بِالمُصحَفِ (ج) (مصنّف عبدالرزاق.باب الأیمَان ولایحلف الاّبالله ج۸ص۴۶۹نمبر۱۵۹۳۲) په دې اَثَر کې په قُرآنِ کریم سره سَوګَند(قَسَم) خوړل مکروه ګڼلئ دئ .
[۲۶۵۶](۱۳) قَسَم د قَسَم په حُرُوفُ سره کیږي او دقَسَم درې حُرُوف دي وَاؤ لکه وَاللهِ او بَا لکه بِاللهِ او تَا لکه تَاللهِ .

حاشیه : (الف) څوک چي قَسَم اخلي هغه دي په الله سره قَسَم واخلي یا دي پَتَه خول شي (ب) حضرت ابن عمر وَاوُرېدَئ چي یوه سړي دَادِوَل قسم خواړئ وَالکَعبَةَ نوحضرت ابن عمروفرمایل مَادحضور(ﷺ)څخه دا وَیِنَا اورېدلي ده کوم چاچي د الله څخه علاوه قَسَم واخستئ نو ګواکه شِرک یې وکړئ (ج) حضرت قتاده به نَاخُوَښنَه ګانئ چي اِنسَان دعِتق یا د طلاق قَسَم واخلي.او صرف د الله قَسَم دي اَخلِي.او دقُرآن قَسم یې نَاخُوَښنَه کړئ .

[۲۶۵۷](۱۴) وَقَدتُضمَرُ الحُرُوفُ فَيَكُونُ حَالِفًا كَقَولِهِ اَللهُ لاَ اَفعَلُ كَذَا
[۲۶۵۸](۱۵) وَقَالَ اَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ اِذَا قَالَ وَحَقّ اللهِ فَلَيسَ بِحَالِفٍ .

تشريح : چي په عربي ژبه کي د لفظِ الله څخه مخکي وَاؤ يا بَا يا تَا راوړي نو بيا قَسَم مُنعَقَد کيږي .
وجه : (۱) په حديث کي ددې ثبوت سته. قَالَ اَبُوبَكرٍ عِندَالنّبِيّ (ﷺ) لاَ هَا اللهُ اِذَا يُقَالُ وَاللهِ.وَبِاللهِ وَتَاللهِ (الف) (بخاري شريف.باب كيف كان يمين النّبيّ (ﷺ) ص۹۸۰نمبر ۶۶۲۸) په دې اَثَر کي د وَاللهِ.بِاللهِ او تَاللهِ د دُرُو سره حروفُ ثبوت سته (۲) عَن عَائِشَةَ ... يَا اُمّةَ مُحَمّدٍ وَاللهِ لَو تَعلَمُونَ (ب) (بخاري شريف.نمبر۶۶۳۱) کي د وَاؤ ثبوت سوئ دئ. او په تَا سره دقَسَم خوړلو ثبوت په په دې آيت کي دئ. وَتَا اللهِ لاَكِيدَنّ اَصنَامَكُم بَعدَ اَن تُوَلّوا مُدبِرِينَ (آيت ۵۷سورة الانبياء۲۱) په دې آيت کې په تَا سره قَسَم اخستئ دئ .
[۲۶۵۷](۱۴) کله دقَسَم حروف پَټ وي نو بيا هم قَسَم خوړونکئ دئ لکه اَللهِ لاَ اَفعَلُ كَذَا قَسَم په خدائ زَه دَادَوَل نَه کوم .
تشريح : کله نا کله داسي هم کيږي چي د قَسَم حروف په اَلفَاظُو کي نَه ښکاره کوي بلکه پَټ وي لېکن هغه د ظَاهِر يعني ښکاره معنْي ورکوي او قَسَم مُنعَقَد کيږي.لکه اَللهِ لاَ اَفعَلُ كَذَا کي د لفظِ الله څخه مخکي وَاؤ محذوف دئ اَصل عبارت دادول دئ وَاللهِ لاَ اَفعَلُ كَذَا. او په دې سره به قَسَم مُنعَقَد شي .
[۲۶۵۸](۱۵) امام ابوحنيفه وفرمايل چي وَحَقّ الله ووايي نوقَسَم خوړنکئ نَه دئ.
تشريح : امام ابوحنيفه فرمايي چي د حَق څخه اِطَاعَت مراد دئ او اِطَاعَت د الله

حاشيه : (الف) حضرت ابوبكر دحضور (ﷺ) سره وويل لاَ.هَا اللهُ اِذَا ويل کيږي وَاللهِ.بِاللهِ او تَاللهِ (ب) ای دمُحَمّد اُمّته! قَسَم په خدائ تاسو پُوسَئ .

[۲۶۵۹](۱۶) وَ اِذَا قَالَ اُقسِمُ اَو اُقسِمُ بِاللهِ اَو اَحلِفُ اَو اَحلِفُ بِاللهِ اَو اَشهَدُ اَو اَشهَدُ بِاللهِ فَهُوَ حَالِفٌ .

صِفَت نَه دئ نوځکه که چيري په دغه لفظ سره قَسَم وَاخلِي نو قَسَم نَه مُنعَقَد کيږي .
فائده : امام ابويوسف فرمايي چي حَق د الله صِفَت دئ او مخته تېرشوي دي چي د الله په صِفَتِ ذَاتِي سره قَسَم اَخَستَلاَئِي سي.نوځکه په دې سره قَسَم مُنعَقَدکيږي .
[۲۶۵۹](۱۶) که وويل زَه قسم خورم يا په خدائ قسم خورم يا حَلَف خورم يا په الله سره حَلَف خورم يا ګواه جوړم يا خدائ ګواه جوړوم نو دا قَسَم اَخَستُونکئ دئ .
تشريح : دلته د قَسَم اَخَستُلو درې لفظونه دي. اُقسِمُ.اَحلِفُ او اَشهَدُ. ددې درو سره لفظو سره د الله لفظ نَه وَمُښلَوِي. صرف اُقسِمُ.اَحلِفُ او اَشهَدُ ووايي بياهم قسم

مُنعَقَدكيږي.او چې ددې الفاظو سره د اَلله لفظ ولګوي مثلاً أُقسِمُ بِاللهِ يا اَحلِفُ بِاللهِ يا اَشهَدُ بِاللهِ ووايي نو بيا خو په طريقه اَولْي سره قَسَم مُنعَقَد كيږي.ځكه چې قَسَم په صراحت سره راغلئ .

جه : (١) صرف په أُقسِمُ سره قسم مُنعَقَدكيږي دهغه دليل دا حديث دئ. كَانَ اَبُوهُرَيرَةَ يَحدِثُ اَنّ رَجُلاً اَتْي رَسُولَ اللهِ (ﷺ) فَقَالَ اِنّي اَرْي اللّيلَةَ فَذَكَرَ رُؤيَا فَعَبّرَهَا اَبُوبَكرُ فَقَالَ النّبِيّ (ﷺ) اَصَبتَ بَعضًا وَ اَخطَأتَ بَعضًا فَقَالَ اَقسَمتُ عَلَيكَ يَا رَسُولَ اللهِ! بِاَبِي اَنتَ لِتُحَدِّثَنِي مَا الّذِي اَخطَأتُ فَقَالَ لَهُ النّبِيّ (ﷺ) لاَتَقسِم (الف) (ابوداؤدشريف.باب في القسم هل يكون يمينًاص١٠٩نمبر٣٢٦٨/ابن ماجه شريف.باب تعبير الرؤيا ص٥٦١نمبر٣٩١٨) په دې حديث كې اَقسَمتُ عَلَيكَ ويلي دي لفظِ الله يې نَه دئ ورسره مُبنلَوَلَئ او ددې څخه قَسَم ثابت سوئ دئ او حضور (ﷺ) ورته وفرمايل

حاشيه : (الف) حضرت ابوهريرة (ﷺ) فرمايي چې يَو سړئ حضور (ﷺ) ته راغلئ او وويل چې مَا دشپې خوب وليدئ.بيايې خوب بيان كړئ.نو ابوبكر دهغه خوب تعبير وركړئ نو حضور وفرمايل څه تعبير دي صحيح وركړئ دئ او څه دي غلط وركړئ دئ. نو حضرت ابوبكر وفرمايل زَه تاته قَسَم دركوم يَارَسُولَ الله! زُومَ مُور او پُلاَر دي پر تَا فِدَاء وي. وفرمايه مَا كومه غلطي كړې ده؟ حضور (ﷺ) وفرمايل قَسَم مَه خوره .

قَسَم مَه اخله ... او دا چې حَلَف هم دقَسَم په معنْي دئ دا خو عَام دئ.په حديث كې هم راغلي دي. عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) اَدرَكَ عُمَرَبِنِ الخَطّابِ وَهُوَ يَسِيرُ فِي رَكبٍ يَحلِفُ بِاَبِيهِ فَقَالَ اَلاَ اِنّ اللهَ يَنهَاكُم اَن تَحلِفُوا بِآ بَائِكُم مَن كَانَ حَالِفًا فَلْيَحلِف بِاللهِ اَو لِيَصمُت (الف) (بخاري شريف.باب لاتحلفوا بآبائكم ص٩٨٣نمبر٦٦٤٦) په دې حديث كې په څو كَرَتّه د حَلَف لفظ د قَسَم په معنْي اِستِعمَال سوئ دئ.نو ځكه كه څوک د اَلله لفظ نَه ورسره وَمُبنلَوِي صرف اَحلِفُ ووايي نو هم قسم منعقد كيږي ... او اَشهَدُ د يَمِين په معنْي دئ ثبوت يې په دې آيت كې دئ. اِذَا جَا ءَكَ المُنَافِقُونَ قَالُوا نَشهَدُ اِنّكَ لَرَسُولُ اللهِ وَاللهُ يَعلَمُ اِنّكَ لَرَسُولُهُ وَاللهُ يَشهَدُ اِنّ المُنَافِقِينَ لَكَاذِبُونَ اِتّخَذُوا اَيمَانَهُم جُنّةً فَصَدّوا عَن سَبِيلِ اللهِ (ب) (آيت١ سورة المنافقون٦٣) په دې آيت كې دُوې خبرې دي. يوه خبره خو دا چې په نَشهَدُ سره يې قسم اخستئ دئ او د هغه سره د الله لفظ نَه دئ مُبنلَوَلَئ.ددې څخه معلوم شوچې د الله لفظ نَه ورسره ومُبنلَوِي هم د اَشهَدُ په لفظ سره قَسَم مُنعَقَد كيږي ... دا چې د نَشهَدُ څخه شهادت مراد نَه دئ بلكه قَسَم ځيني مراد دئ دهغه په اړه رَارَوَان آيت بنُوَنَه كوي. د اِتّخَذُوا اَيمَانَهُم جُنّةً څخه معلوم شو چې د نَشهَدُ څخه قَسَم مراد دئ.په دغه وجه خو الله تعالْي دې جُملې ته اَيمَانَهُم فرمايلي دي (٢) په اَثَركي راغلي دي. قَالَ اِبرَاهِيمُ وَكَانَ اَصحَابُنَا يَنهَونَا وَنَحنُ غِلمَانٌ اَن نَحلِفَ بِالشّهَادَةِ وَالعَهدِ (ج) (بخاري شريف.باب اذا قال اشهدبالله اوشهدّت بالله ص٩٨٥ نمبر٦٦٥٨) په دې اَثَركي دئ چې شَهَادَت او عَهد دقَسَم لفظونه دي په وجه خو مَنعَ كوله چې په دې لفظو سره قَسَم مَه خورئ .

حاشيه : (الف) حضور حضرت عمر وموندئ چې هغه په قَافِلَه كي روان وُ او دپُلاَر قسم يې خُوَارِئ نو حضور وفرمايل وَاوُره! الله تَا منع كوي ددې څخه چې د پُلاَر قسم وَاخلي.څوک چې قَسَم اخلي نو په الله سره دي قَسَم

واخلي يا دي پَتَّه خوله شي (ب) چي کوم وخت تَا لره منافقين راشي نو قسمونه خوري دا وَيناَ کوي چي تَه د الله رسول يي. لېکن الله ګواهي ورکوي چي منافقين دُروَاغ وايي. دُوئي دخپلو قسمو څخه سُپَر جوړ کړئ دئ حُکه خو دُوئي د الله د لاَرِي څخه منع کړل شوي دي (ج) حضرت ابراهيم وفرمايل چي کوم وخت موږ کِشنِي بَچَان وُ نو زموږ مَشرَانُو موږ مَنع کولو چي موږ د شَهَادَت يا دعَهد په لفظ سره قَسَم واخلو .

[۲۶۶۰](۱۷) وَکَذَالِکَ قَولُهُ وَعَهدُ اللهِ وَمِيثَاقُهُ فَهُوَ يَمِينٌ عَلَىّ نَذرُ اللهِ اَو نَذرُاللهِ .

[۲۶۶۰](۱۷) دغه رنګه دا ويل عَهدُالله.مِيثَاقُ الله.پر مَا نَذَر دئ يا د الله نَذَر نو په دې سره قَسَم مُنعَقَد کيږي .

تشريح : دادول ووايي د الله سره عَهد کوم وَايَم چي دا فُلاَنَئ کار به کوم نو په دې سره قَسَم مُنعَقَد کيږي.يا د الله سره مِيثَاق کوم دا خبره کوم چي فُلاَنَئ کار به کوم نو په دې سره هم قَسَم مُنعَقَد کيږي .

جه : (۱) عَهد دقَسَم په معنْي دئ په دې آيت کي ودې ته اِشَارَه سوې ده. وَ اَوفُوا بِعَهدِاللهِ اِذَا عْهَدّتُم وَلاَتَنقُضُوا الأَيمَانَ بَعدَ تَوکِيدِهَا (الف) (آيت۹۱سورة النّحل۱۶) په دې آيت کي دئ چي د الله عَهد پوره کوئ لکه څه رنګه چي تاسو قَسَم پوره کوئ نوځکه په عَهدسره قَسَم مُنعَقَدکيږي.په دې آيت کې د الله وَعَهد ته وَلاَتَنقُضُوا الأيمَانَ ويلي دي ددې څخه معلوم شوچي عَهد دقَسَم په معنْي دئ په دغه وجه خو و عَهد ته اَيمَان يعني قَسَم وويل. او په بَل آيت کي عَهد دمِيثَاق په معنْي راغلئ دئ او دمِيثَاق لپاره هم هغه تَاکِيد کړئ دئ کوم چي د عَهد دپوره کولو لپاره کړئ دئ. ددې څخه معلوم شوچي عَهد او مِيثَاق يَو شَئ دي لِهْذَا که وويل چي د الله په مِيثَاق سره وَايَم چي فُلاَنَئ کار به کوم نو په دې سره هم قَسَم منعقدکيږي. آيت دادئ. وَالّذِينَ يُوفُونَ بِعَهدِاللهِ وَلاَيَنقُضُونَ المِيثَاقَ (ب) (آيت۲۰سورة الرّعد۱۳) په دې آيت کې عَهد او مِيثَاق دواړه په يَوَه معنْي کي اِستِعمَال کړي دي (۲) په اَثَرکي دئ. عَن اِبنِ طَاؤسَ عَن اَبِيهِ فِي الرّجُلِ يَقُولُ عَلْي عَهدِاللهِ وَمِيثَاقِهِ اَو عَلْي عَهدِاللهِ قَالَ يَمِينٌ يُکَفّرُهَا (ج) (مصنّف عبدالرزاق.باب من حلف علْي مِلّة غيرالاسلام ج۸ص۴۸۱نمبر۱۵۹۷۹)

حاشيه : (الف) د الله عَهدپوره کوئ چي کله عَهدوکړئ او قسمونه د مضبوط کولو وروسته مَه مَاتَوئ (ب) هغه کَسَان چي د الله عَهد پوره کوي او دمضبوط کولو وروسته نَه مَاتَوِي (ج) حضرت طاؤس فرمايي چي څوک عَلَىّ عَهدُاللهِ وَمِيثَاقُهُ يا عَلَيّ عَهدُاللهِ ووايي نو په دې سره قَسَم مُنعَقَدکيږي. ددې به کَفّاره ورکوي .

په دې اَثَرکي عَهد او مِيثَاق دواړه ديَمِين په معنْي دي .

که دادول وويل چي دغه کار کول پر مَابَاندي نَذَر دئ يا دغه کار کول د الله نَذَر دئ نو دا هم قَسَم ګرزي .

جه:(۱) په حديث کي دئ چي که نَذَر کښېښوئ اوپوره يې نَه کړئ نودهغه کَفّاره به هم د يَمِين کَفّارَه ورکوي. عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ مَن نَذَرَ نَذراً لَم يُسَمّهِ فَکَفّارَتُهُ کَفّارَةُ يَمِينٍ وَمَن نَذَرَ نَذراً فِي مَعصِيَةٍ فَکَفّارَتُهُ کَفّارَةُ يَمِينٍ وَمَن نَذَرَ نَذراً لاَيُطِيقُهُ فَکَفّارَتُهُ کَفّارَةُ يَمِينٍ وَمَن نَذَرَ نَذراً اَطَاقَهُ فَلْيَفِ بِهِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب من نذرنذراً لايطيقه ص۱۱۶نمبر۳۳۲۲/ابن

ماجه شريف.باب من نذر نذراً لم يسمّه ص۳۰۵نمبر۲۱۲۸) ددې حديث څخه معلوم شوچې که نَذَر پوره نَه کړئ نو دهغه کَفّارَه د يمين کَفّارَه ده نوځکه نَذَر هم دقَسَم په معنْي دئ (۲) په بَل حديث کې دئ. عَن عَقبَةَ بِنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) كَفّارَةُ النّذرِ كَفّارَةُ اليَمِينِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب من نذر نذراً لم يسمّه ص۱۱۴نمبر۳۳۲۳/ترمذي شريف.باب ماجاء في كفّارة النّذر اذا لم يسمّ ص۲۷۹نمبر۱۵۲۸) ددې حديث څخه هم معلوم شوچې دنَذَر کَفّاره د قَسَم کَفّاره ده نو ځکه د عَلَيّ نَذَرٌ څخه هم قَسَم واقع کيږي (۳) يَو اَثَر دئ په هغه کې ددې ټولو اَقوَالُو حل موجود دئ. عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ أُقسِمُ.وَ أُقسِمُ بِاللهِ.وَ أُشهِدُ.وَ أُشهِدُ بِاللهِ. وَ اَحلِفُ.وَ اَحلِفُ بِاللهِ.وَعَلَيّ عَهدُاللهِ.وَعَلَيّ ذِمّةُ اللهِ.وَعَلَيّ نَذرٌ.وَعَلَيّ نَذرُاللهِ.وَهُوَ يَهُودِيّ.وَهُوَنَصرَانِيّ.وَهُوَ مَجُوسِيّ.وَهُوَ بَرِئٌ مِنَ الإِسلاَمِ.كُلّ هٰذَا يَمِينٌ يُكَفّرُهَا اِذَا حَنَثَ قَالَ مُحَمّدٌ وَبِهٰذَا كُلّهُ نَأخُذُ (ج) (كتاب الآثار لامام محمّد ص۱۵۷نمبر۷۰۹/مصنّف عبدالرزاق.باب من حلف علٰي مِلّة غيرالاسلام ج۸ص۴۸۰نمبر۱۵۹۷۳) .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل څوک چې دادول نَذَر کښيږدي چې معلوم کړي نَه وي نودهغه کَفّارَه د يمين کَفّاره ده.څوک چې د ګناه نَذَر کښيږدي نودهغه کَفّارَه ديمين کَفّارَه ده.څوک چې دادول نَذَر کښيږدي چې دهغه طاقت نَه لري نودهغه کَفّارَه ديمين کَفّارَه ده.او څوک چې دادول نَذَر کښيږدي چې دهغه طاقت لري نو هغه دي پوره کړي (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل د نَذَر کفّاره دقَسَم کَفّاره ده (ج) حضرت ابراهيم وفرمايل: زَه قسم خورم.زه په الله سره قسم خورم.زه ګواهي ورکوم.زه په الله سره ګواهي ورکوم.زه حَلَف پورته کوم.زه په الله سره حَلَف پورته کوم.پر مَا د الله عَهد دئ.پر مَا د الله ذِمّه ده.پر مَا نَذَر دئ.پر مَا د الله نَذَر دئ.که زَه دادول وکړم نو زَه يهودي يم يا نَصرَنِي يم يا مجوسي يم يا که چيري دادول وکړم نو د اِسلاَم څخه بَرِي يم په دې ټولو صورتو کې قَسَم مُنعَقَد کيږي.که چيري حَانِث سي نو ددې کَفّارَه دي اداء کړي.امامِ محمّد وفرمايل پر دغه ټوله باندي زمور عَمَل دئ .

[۲۶۶۱](۱۸) وَ اِن قَالَ اِن فَعَلتُ كَذَا فَاَنَا يَهُودِيّ اَو نَصرَانِيّ اَو مَجُوسِيّ اَو مُشرِكٌ اَو كَافِرٌ كَانَ يَمِينًا .

[۲۶۶۱](۱۸) چې ووايي که مَا دادول وکړل نو زَه يهودي يَم يا نَصرَانِي يَم يا مجوسي يَم يا مُشرِک يَم يا کافِر يَم نو په دې سره قَسَم واقع کيږي .

تشريح : چې ووايي که مَا دادول وکړل نو زَه يهودي يَم نو په دې دَوَل جُملَه سره قَسَم واقع کيږي.بيا که چيري دغه دَوَل وکړل نو کَفّارَه پر لازميږي .

وجه : (۱) په تبر اثَرکي راغلي وُ. چې که وَهُوَ يَهُودِيّ وَهُوَ نَصرَنِيّ وويل نو کَفّارَه پر لازم ده (۲) په حديث کې دئ. عَن ثَابِتِ بِنِ الضّحّاكِ قَالَ قَالَ النّبِيّ (ﷺ) مَن حَلَفَ بِمِلّةِ غَيرِ مِلّةِ الإِسلاَمِ كَاذِبًا فَهُوَ كَمَا قَالَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب ماجاء في الحلف بالبرائة وبمِلّة غيرالاسلام ص۱۰۸نمبر۳۲۵۷) ددې حديث څخه معلوم شوچې که د بَل مَذهب سَوګند(قسم)وخواړئ نو که چيري هغه دَوَل وکړل نو هغه رنګه به شِي لکه څَه رنګه چې ده ويلي دي نو ځکه دا دقَسَم په معنْي دئ (۳) په اَثَرکي راغلي دي. عَن خَارِجَةَ بِنِ زَيدِ بِنِ ثَابِتٍ عَن اَبِيهِ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) عَنِ الرّجُلِ يَقُولُ هُوَ يَهُودِيّ اَو نَصرَانِيّ اَو بَرِئٌ مِنَ الإِسلاَمِ فِي اليَمِينِ يَحلِفُ عَلَيهِ فَيَحنِثُ قَالَ كَفّارَةُ يَمِينٍ (ب) (سنن للبيهقي.باب من حلف بغيرالله ثم حنث اوحلف بالبراءة من الاسلام الخ ج۱۰ص۵۴نمبر۱۹۸۳۸) په دې اَثَرکي دئ چې ديهودي والي(يهودى کيدو)قسم وَاخلِي نو قسم مُنعَقَدکيږي.کافر او مُشرک هم پر دغه قياس که يعني که

چيري دا ډول وويل چي که مَا فُلاَنَئ کار وَنَه کړئ نو زَه به مُشرِک يا کافِر يَم (اَلعَيَاذُ بِاللهِ) نو په دې وَينَا سره هم قَسَم منعقد کيږي.او دهغه کار د نَه کولو په صورت کي د قَسَم کَفّارَه لازميږي.لېکن دغه وَينَا کونکئ حقيقةً يهودي.نَصرَانِي.مُشرِک يا کافِر نَه ګرزي.

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل که دمِلّتِ اِسلاَم څخه علاوه قَسَم واخلي نو هغه دَادَوَل دئ لکه څَه رنګه چي ده ويلي دي يعني د مِلّتِ اِسلاَم څخه به خارج سي (ب) د يوه سړي په اړه دحضور (ﷺ) څخه پوښتنه وشوه هغه وايي چي که مَا دَادَوَل وکړل نو يهودي يَم يا نَصرَانِي يَم يا دئ د اِسلاَم څخه بَري دئ نو په دې ټولو کي قَسَم دئ او د حَانِث کېدو په صورت کي ديمين کَفّارَه لازميږي .

[٢٦٦٢](١٩) وَاِن قَالَ فَعَلَيّ غَضَبُ اللهِ اَو سَخَطُهُ فَلَيسَ بِحَالِفٍ [٢٦٦٣](٢٠) وَكَذَالِکَ اِن قَالَ اِن فَعَلتُ كَذَا فَاَنَا زَانٍ اَو شَارِبُ خَمرٍ اَو آكِلُ رِبواً فَلَيسَ بِحَالِفٍ .

حُکه چي دا خو هغه وخت وي چي څوک د اِسلاَم څخه انکار وکړي .

[٢٦٦٢](١٩) که وويل پر مَا د الله غَضَب دئ يا دهغه غُصّه ده نو حَالِف نَه دئ .

تشريح : دا دَوَل وَينَا يې وکړه چي که مَا فُلاَنَئ کار وَنَه کړئ نو پر مَا دي د الله غَضَب وي. يا د الله خَبنَم وي نو په دې سره قَسَم نه مُنعَقَدکيږي .

وجه : (١) د الله غَضَب صِفَتِ فِعلِي دئ صِفَتِ ذَاتِي نَه دئ نوحُکه په دې سره قَسَم نَه منعقدکيږي (٢) دا جُملَه پر خپل حَان باندي بَددُعَاء ده.د الله په ذَات يا په صِفَتِ ذَاتِي سره قسم خوړل نَه دئ نوحُکه په دې سره قَسَم نَه منعقد کيږي (٣) مخته حديث تېر شوئ دئ چي يا خو دي د الله په ذَات سره قسم واخلي يا دي پَتَه خوله شي. مَن كَانَ حَالِفًا فَلْيَحلِف بِاللهِ اَو لِيَصمُتَ (الف) (بخاري شريف.نمبر٦٦٤٦/مسلم شريف.نمبر١٦٤٦) په دې حديث کي دئ چي يا خو په الله سره قَسَم واخله يا پَتَه خُولَه شه. او دغه لوړه تېره شوې جُملَه خو بَددُعَاء ده دا د الله په ذَات يا دهغه په صِفَتِ ذَاتِي سره قَسَم خوړل نَه دئ نوحُکه په دې سره قَسَم نَه منعقد کيږي (٤) په اَثَرکي دئ. عَطَاء وَطَاؤسٌ وَمَجَاهِدٌ فِي الرّجُلِ يَقُولُ عَلَيّ غَضَبُ اللهِ قَالُوا لَيسَ عَلَيهِ كَفّارَةٌ هُوَ اَشَدّ مِن ذَالِکَ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ٩٥ من قال علَيّ غضب الله ج٣ص١١٤نمبر١٢٦١٥) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي په عَلَيّ غَضَبُ اللهِ سره قَسَم نه مُنعَقَدکيږي .

[٢٦٦٣](٢٠) دغه ډول که چيري وويل چي که مَا دَادَوَل وکړل نو زَه زِنَا کار يَم يا شَرَابِي يَم يا خِنزِير خوړونکئ يَم نو قَسَم خوړونکئ نَه دئ .

حاشيه : (الف) څوک چي قَسَم خوري نو د الله قَسَم دي وَخُورِ يا دي پَتَه خوله سي (ب) حضرت عطاء. حضرت طاؤس اوحضرت مجاهد وفرمايل چي يَو سړئ ووايي پر مَا دي د الله غَضَب وي.دې حضراتُ وفرمايل پر ده باندي کَفّارَه نشته حُکه چي دا تر قَسَم هم غټَه خبره ده .

[۲۶۶۴](۲۱) وَكَفّارَةُ اليَمِينِ عِتقُ رَقَبَةٍ يَجزِئُ فِيهَا مَا يَجزِئُ فِي الظِّهَارِ .

وجه : دغه ټولي جُملې نَه د الله په ذَات سره او نَه د الله په صِفَتِ ذَاتِي سره قَسَم خوړل دئ بلکه دا خو صرف وخپل ځان ته يوه بَددُعَاء کول ده نوځکه په دې سره هم قَسَم نَه مُنعَقَد کيږي .
اصول : أُصُول دادئ چې د الله په ذَات سره قَسَم وي يا دهغه په صِفَتِ ذَاتِي سره قَسَم وي يا پر دَادَوَل جمله مُعَلّق وي چې دهغه څخه دکُفر صُدُور وي لکه يهودي يا نَصرَانِي کېدل نو په دې سره بيا قَسَم مُنعَقَد کيږي.او که چيرې دا نَه وي بيا قَسَم نَه مُنعَقَد کيږي .

﴿...د کَفّارې بيان... ﴾

[۲۶۶۴](۲۱) دقَسَم کَفّارَه يو غُلَام آزادول دئ.په دي کي هغه غُلَام کِفَايَت کوي کوم چې په ظِهَار کي کِفَايَت کوي.
تشريح : د ظِهَار په کَفّارَه کي مسلمان غُلَام.کافِر.نَر.بنځه.کِشنَئ او لُوئي دغه ټولو غُلَامَانُ سره کَفّارَه اداء کيږي.دقَتل د کَفّارې په شان په دي کي مُؤمِن وَالَئ شرط نَه دئ.دغه رنګه دقَسَم په کَفّارَه کي هم مسلمان.کافِر.نَر.بنځه.کِشنَئ.لُوئي هرډول غُلَام کِفَايَت کوي.البته رُوند يا په دواړو لاسُو يا په دواړو پُښُو کُوَړ کِفَايَت نه کوي.يعني دا ډول نُقصَان چې دهغه په وجه د اِنسَانِيّت مَنفَعَت بالکل ختم سوئ وي نو دغه ډَوَل غلام کِفَايَت نَه کوي.ددې ټولو دلائل په کتابُ الظهار(ثميري جلدسوم مسئله نمبر[۲۰۳۶](۱۵) او [۲۰۳۷](۱۶) ص۲۵۵/۲۵۶/ اَبُوالحُسَين قُطب عفي عنه وعن والديه.فَعَلَيکَ بِتَصفِيحِ الاَورَاقِ) کي تېرشوي دي.دقَسَم دکَفّارې دليل دا آيت دئ. لاَيُؤَاخِذُكُمُ اللهُ بِاللّغوِ فِي اَيمَانِكُم وَلٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِّمَا عَقَّدتُمُ الاَيمَانَ فَكَفّارَتُهُ اِطعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِن اَوسَطِ مَا تُطعِمُونَ اَهلِيكُم اَوكِسوَتُهُم اَو تَحرِيرُ رَقَبَةٍ فَمَن لَم يَجِد فَصِيَامُ ثَلاَثَةِ اَيّامٍ ذَالِکَ كَفّارَةُ اَيمَانِكُم اِذَا حَلَفتُم

[۲۶۶۵](۲۲) وَاِن شَاءَ كَسَا عَشرَةَ مَسَاكِينَ كُلّ وَاحِدٍ ثَوبًا فَمَا زَادَ وَ اَدنَاهُ مَا يَجُوزُ فِيهِ الصّلاَةُ [۲۶۶۶](۲۳) وَاِن شَاءَ اَطعَمَ عَشرَةَ مَسَاكِينَ كَالاِطعَامِ فِي كَفّارَةِ الظِّهَارِ .

(الف) (آيت۸۹سورة المائدة۵) په دې آيت کي غُلَام آزادول يا لَس مسکينانو ته ډُوډَئ خورل يا لَس مسکينانوته کپړې اَغُوستَل که دا نَه وي نودرُو روژونيولوتَذکِرَه راغلې ده .
[۲۶۶۵](۲۲) او که خوښه وي نو په لَس مسکينانو دي کپړې واغوندي.هر يوه ته يوه کپړه يا ددې څخه زياته.او اَدنْي کپړه داده چې لمونځ په کښې جائز وي .

تشريح : كه چيري غُلاَم نَه آزادوي نو لَس مسكينانو ته كپړي وَروَاغُوندِي.هر يوه ته دي يوه كپړه وركړي او كه چيري تر دې زياته وركړي نو كوم حرج نَه لري.هغه يوه كپړه بايد دُومرَه غټَه وي چي د نَر لمونځ په هغه كپړه كي ادآء سي.يعني د مَلاَ(شَا)څخه تر ځنګنو پوري پُسُورَ بايد ولري .

وجه : (١) ځكه چي ضروري دئ د نَر لپاره چي د نُه(نُوم)څخه ونيسي بيا تر ځنګنو پوري بَدَن يې پَټ وي.او چي دلمانځه لپاره دومره كپړه كِفَايَت كوي نو په كَفّارَه كي هم په دغونه اَندَازَه كپړه كِفَايَت كوي (٢) په اَثَركي ددې ثبوت سته. عَن اَبِي مُوسْي الاَشعَرِيّ اَنّهُ حَلَفَ فَاَعطْي عَشَرةَ مَسَاكِينَ عَشرَةَ اَثوَابٍ لِكُلّ مِسكِينٍ ثَوبًا مَقعَدِ هِجرٍ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماتجزي من الكِسوَة فِي الكَفّارة ج١٠ص٩٧نمبر١٩٩٨١/ مصنّف عبدالرزاق. ج٨ص٥١٠ نمبر١٦٠٨٥) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي يوه كپړه وركول هم كِفَايَت كوي .

[٢٦٦٦](٢٣) كه خوښه سي لَس مسكينانو ته دي دُوډَئ وَخُوَرَوِي د كَفّارَه ظِهَار د دُوډَئ خورولو په شان .

حاشيه : (الف) ستاسو په لغو قَسَم كي الله تاسو نَه نيسي لېكن تاسو نِيسِي چي دقَسَم غُوټَه وتړي.نو دهغه كَفّارَه و لَس مسكينانو ته درميانه دُوډَئ خورول ده كوم چي تاسو په خپل اَهل خوروئ يا وهغوئي ته كپړې اَغُوستَل دي يا غُلاَم آزادول دئ.څوک چي دا ونه موندي نو دري ورځي روژې نيول دي دا ستاسو دقَسَم كفّاره ده چي كوم وخت تاسو قَسَم وخورئ (ب) حضرت ابوموسْي قَسَم واخستئ.نو لَس مسكينانو ته لَس كپړې وركړې هر مسكين ته يوه كپړه چي تر پُښُو پورې تَړلې وي .

تشريح : لكه څه رنګه چي په كَفّارَه ظِهَار كي دُوډَئ خورل كِفَايَت كوي دغه رنګه دقَسَم په كَفّارَه كي هم لَس مسكينانو ته دُوډَئ خورول كِفَايَت كوي .

وجه : آيت مخته تېرشوئ دئ. اِطعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِن اَوسَطِ مَاتُطعِمُونَ اَهلِيكُم (الف) (آيت٨٩سورة المائدة ٥) .

د امام ابوحنيفه په نېز يَو صورت دا هم دئ چي و هر مسكين ته د خوړلو لپاره نِيم كاسَه غَنَم يا يوه كَاسَه خُورمَا يا يوه كَاسَه وُربُشِي وركړي .

وجه : (١) په حديث كي دئ. قَالَ اِبنُ العَلاّء البَيَاضِي ... فَاَطعِم وَسَقًا مِّن تَمَرٍ بَينَ سِتّينَ مِسكِينًا (ب) (ابوداؤدشريف.باب في الظّهَارص٣٠٨نمبر٢٢١٣/سنن للبيهقي.باب لايجزي ان يطعم اَقَلّ من سِتّين مسكينًاكُلّ مسكينٍ مُدّاً من طعام جلدة. ج٧ص٦٤١نمبر١٥٢٨١) په دې حديث كي دئ چي وشُپېتو مسكينانو ته يَو وَسَق خُورمَا وركړه اويَو وَسَق شُپېتَه صَاع دئ ددې مطلب داسو چي ويوه مسكين ته يَوَه صَاع خُورمَا وركړه. او مخته دا تېرشوي دي چي په هغه زَمَان كي يَوَه صَاع خُورمَا د نِيمَئ صَاع غَنَمُ سره برابره وه نوځكه دقَسَم په كَفّارَه كي دي هم و يوه مسكين ته نِيمَئ صَاع غَنَم وركړي يا يَوَه صاع خُورمَا يا يوه صَاع وُربُشِي اداء كړئ (٢) په اَثَركي دئ. عَن عَلِيّ قَالَ صَاعٌ مِّن شَعِيرٍ اَو نِصفُ صَاعٍ مِن قَمحٍ (ج) (مصنّف عبدالرزاق.باب اطعام عشرة مساكين اوكسوتهم ج٨ص٥٠٨نمبر١٦٠٧٧) ددې اَثَرڅخه هم معلوم شوچي د يوه مسكين كَفّارَه نِيمَئ صَاع غَنَم دي (٣) په حديث كي دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ كَفّرَ رَسُولُ اللهِ بِصَاعٍ مِّن تَمَرٍ وَ اَمَرَ النّاسَ بِذَالِكَ فَمَن لَم

يَجِد فَنِصفُ صَاعٍ مِّن بُرٍّ (د) (ابن ماجه شريف.باب گم يطعم فِي كفّارة يمين ص٣٠٣نمبر٢١١٢) ددې حديث څخه معلوم شوچي په كَفّارَه كي دي نِيمَئ صَاع غَنَم اداء كړي .

حاشيه : (الف) په لَس مسكينانو دي دُوډَئ وخوروي دَرمِيَانَه دُوډَئ كوم چي په خپل اَهل خوروي (ب) ابن علاء بياضي فرمايي ... حضور (ﷺ) وفرمايل يَو وَسَق خورما و شُپيتُو مسكينانو ته وخوروه (ج) حضرت علي فرمايي چي يوه صَاع وُربُشِي يا نِيمَئ صَاع غَنَم (د) حضرت ابن عبّاس وفرمايل حضور (ﷺ) كَفّاره اداء كړه يَوَه صاع خُورمَا او خلكو ته هم ددغه حُكم وركړئ او څوک چي نَه وموندي نو نِيمَئ صَاغ غَنَم .

فائده : امامِ شافعي فرمايي چي ديوه مسكين كَفّارَه يَو مُد غَنَم دي .

وجه : (١) په حديث كي دئ. عَن اَوسٍ اَخِي عَبَادَةَ بِنِ الصّامِتِ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) اَعطَاهُ خَمسَةَ عَشَرَ صَاعًا مِّن شَعِيرٍ اِطعَامُ سِتّينَ مِسكِينًا (الف) (ابوداؤدشريف.باب في الظهارص٣٠٨نمبر٢٢١٨/ترمذي شريف.باب ماجاء في كفّارة الظّهارص٢٢٧نمبر١٢٠٠) ددې حديث څخه معلوم شوچي وشُپيتُو مسكينانو ته دي پِنځلَس صَاع وركړي.او صَاع څلور مُد وي.نوځكه يوه مسكين ته دي يَو مُد وركړي (٢) په اَثَركي راغلي دي. عَن عطَاءَ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ لِكُلِّ مِسكِينٍ مُدّ مُدٌّ (ب) (سنن للبيهقي.باب الاطعام في كفّارة اليمين ج١٠ص٩٥نمبر١٩٩٧٤/مصنّف عبدالرزاق.باب اطعام عشرة مساكين اوكسوتهم ج ٨ ص٥٠٦نمبر١٦٠٧١) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي كَفّارَه دي وهر مسكين ته يَو يَو مُد وركړي. دا بايد تاسو ته معلوم وي چي يوه صَاع څلور مُد وي نو ځكه دا اَثَر د تبرشوي حديث لپاره تائيد دئ .

يا دي سَهَار او مَابنَام ډوډئ په وخوروي .

وجه : (١) په اَثَركي دئ. اَخبَرَنِي اِبنُ طَاؤسٍ عَن اَبِيهِ اَنّهُ كَانَ يَقُولُ اِطعَامُ يَومٍ لَيسَ أُكلَةٌ وَلٰكِن يَومًا مِن اَوسَطٍ مَايُطعِمُ اَهلَهُ لِكُلِّ مِسكِينٍ (ج) (مصنّف عبدالرزاق. باب اطعام عشرة مساكين اوكسوتهم ج٨ص٥٠٩نمبر١٦٠٨٣) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي پوره مُكَمّلَه ورځ دې په وَخُوَرَوِي.ددې مطلب دا دئ چي سَهَار او مَابنَام دواړه وخته دي لَس مسكينانو ته دُوډَئ وخوروي.ځكه چي په دې اَثَركي دئ وَلٰكِن يَومًا مِن اَوسَطٍ يعني پوره وُرَځ دي اَوسَط دُوډَئ په وَخُوَرَوِي او پوره ورځ سَهَار او مَابنَام دواړه وخته دُوډَئ خُوَرَوُلُو ته وايي (٢) په اَثَركي دئ. عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِذَا اَرَدّتَ اَن تُطعِمَ فِي كَفّارَةِ اليَمِينِ فَغَدَاءٌ وَعَشَاءٌ (د) (كتاب الآثار لامام محمّد.باب الأيمَان والكفّاراتِ فيهاص١٥٧نمبر٧١١) .

حاشيه : (الف) حضرت اوس ته حضور پنځلس صَاع وُربُشِي وركړي د شُپيتُو مسكينانو ته د دُوډَئ خورولو لپاره (ب) حضرت ابن عبّاس فرمايي هر مسكين ته دي يَو يَو مُد وركړي (ج) حضرت طاؤس فرمايل چي د يوې ورځې دُوډَئ يوه لُقمَه(ګوله)خُوَرَوَل نَه ده لېكن پوره يوه ورځ دُوډَئ خورول ده و هره مسكين ته دَرمِيَانَه دُوډَئ كوم چي تاسو په خپل اَهل خُوَرَوَئ (د) حضرت ابراهيم وفرمايل كه تاسو د يَمِين په كَفّارَه كي خورول غُوَارِئ نو سَهَار او مَابنَام دُوډَئ خورول ده .

[٢٦٦٧](٢٤) فَاِن لَم يَقدِر عَلٰي اَحَدِ هٰذِهِ الاَشيَاءِ الثّلٰثَةِ صَامَ ثَلٰثَةَ اَيّامٍ مُتَتَابِعَاتٍ .

[۲۶۶۷](۲۴) که چیري ددې دُرُو څخه پر یوه هم قُدرَت نَه لري نو درې وُرَځِي دي پرلپسې روژې ونیسي .
تشریح :/ وجه : (۱) د یوه غُلاَم د آزادولو یا د دُوډَئ خورولو یا دکپړو اَغُوستَلُو قُدرَت نَه لري نو بیا دي درې ورځي رُوژې ونیسي ددې دلیل په خپله په دې آیت کي دئ. فَمَن لَم یَجِدفَصِیَامُ ثَلاَثَةِ اَیّامٍ (آیت۸۹سورة المائدة۵) چي کوم څوک دغه اَوّلَنِي درې شیان وَنَه موندي نو هغه دي درې رُوژې ونیسي ... او دا چي پرلپسې روژې دي ونیسي دهغه دلیل دادئ چي دحضرت عبدالله بن مسعود په قِرأت کي فَصِیَامُ ثَلاَثَةِ اَیّامٍ مُتَتَابِعَاتٍ راغلئ دئ.یعني پرلپسې روژې دي ونیسي. اَنّ اِبنَ مَسعُودٍ کَانَ یَقرَأ فَصِیَامُ ثَلاَثَةِ اَیّامٍ مُتَتَابِعَاتٍ (الف) (سنن للبیهقي.باب التتابع في صوم الکفّارة ج۱۰ص۱۰۴ نمبر۲۰۰۱۲/مصنّف عبدالرزاق.باب صیام ثلاثة ایّام وتقدیم التّکفیر ج۸ص۵۱۳نمبر۱۶۱۰۲) (۲) په یوه بَل اَثَر کي راغلي دي. عَن اِبنِ عَبّاسٍ فِي آیَةِ کَفّارَةِ الیَمِینِ قَالَ هُوَ بِالخِیَارِ فِي هٰٓؤُلآءِ الثّلٰثِ الأُوَلِ فَاِن لَم یَجِدشَیئًا مِّن ذَالِکَ فَصِیَامُ ثَلاَثَةِ اَیّامٍ مُتَتَابِعَاتٍ (ب) (سنن للبیهقي.باب التخییربین الاطعام والکسوة والعتق فمن لم یجدفصیام ثلاثة ایّام ج۱۰ص۱۰۲ نمبر۲۰۰۰۶) ددې اَثَرڅخه هم معلوم شوچي پرلپسې دي روژې ونیسي .
فائده : امامِ شافعي فرمایي چي که پرلپسې روژې نیسي که مُتَفَرِّق روژې نیسي د دواړو اختِیَار ورته حاصل دئ .
وجه : (۱) د قرآن په آیت کي د پرلپسې قَید نسته (۲) په اَثَرکي دئ. عَنِ الحَسَنِ اَنّهُ کَانَ لاَیَرْي بَأسًا اَن یُفَرِّقَ بَینَ الثّلاَثَةِ الاَیّامِ فِي کَفّارَةِ الیَمِینِ (ج) (سنن للبیهقي.

حاشیه:(الف)حضرت ابن مسعود به لُوستَئ پرلپسې درې روژې (ب) حضرت ابن عبّاس دکَفّارَه یَمِین په اړه فرمایي په دُرُو اَوّلَنیُو کي د کَفّارې ورکولو اِختِیَار سته او که د دې دُرُو څخه یَو هم وَنَه موندئ نو پرلپسې درې روژې نِیوَل دي (ج) حضرت حسن فرمایي هیڅ دحرج خبره نَه ده چي په درو سره ورځو کي جلا جلا روژې ونیسي .

[۲۶۶۸](۲۵) فَاِن قَدّمَ الکَفّارَةَ عَلْي الحِنثِ لَم یُجزِهِ .

باب التخییربین الاطعام والکسوة والعتق فمن لم یجدوصیام ثلاثة ایّام ج۱۰ص۱۰۳نمبر۲۰۰۰۷) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي په تَفرِیق(یعني جلاجلا)سره هم رُوژې نیولائي سي .
[۲۶۶۸](۲۵) که چیري کَفّارَه پر حانث کېدو مُقَدّم کړه نوجواز نَه لري .
تشریح : چي اَوّل دقَسَم خِلاَف کار وکړي ځان حَانِث کړي بیا کَفّارَه ورکړي نو کَفّارَه اداء کیږي.او که اَوّل کَفّارَه اداء کړه بیایي هغه کار وکړئ او حَانِث شو نو هغه اَوّلَه کفّاره کِفَایَت نَه کوي دُوبَارَه به اداء کوي .
وجه : (۱) د امام ابوحنیفه په نیز دکَفّارې سبب حَانِث کېدل دئ.قَسَم خوړل دکَفّارې سبب نَه دئ نوځکه تر څو چي حَانِث شوئ نَه وي تر هغه وخته کَفّارَه نَه لازمیږي.لِهٰذَا که دحَانِث کېدو څخه مخکي کَفّارَه اداء کړه هغه صَدَقَه شوه کَفّارَه بالکل نَه شوه.نوځکه د حَانِث کېدو وروسته به دوباره کَفّارَه اداء کوي (۲) په حدیث کي دئ چي اَوّل به حَانِث شوئ وي بیا به کَفّارَه اداء کوي. عَن اَبِي هُرَیرَةَ قَالَ قَالَ

رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مَن حَلَفَ عَلْي يَمِينٍ فَرأي غَيرَهَا خَيراً مِّنهَا فَلْيَأتِ الّذِي هُوَ خَيرٌ وَلْيُكَفِّرَ عَن يَمِينِهِ (الف) (مسلم شريف.باب ندب من حلف يمينًافرْي غيرهاخيراُ منهاان يأتي الّذي هوخيرويكفّرعن يمينه ص۴۶نمبر۱۶۵۰/ ۴۲۷۳/بخاري شريف.باب قول الله تعالْي لايواخذكم الله باللغوفي اَيمَانِكم ص۹۸۰نمبر۶۶۲۱/ترمذي شريف.باب ماجاء فيمن حلف علْي يمين فرْي غيرهاخيراًمنها ص۲۷۹نمبر۱۵۲۹) په دې حديث کي اَوّل حانث شوئ دئ وروسته دکفّارې د اداء کولو حُکم دئ.نوځکه اَوّل بايدحانث شي بيادي کَفّارَه اداء کړي .

فائده : امام شافعي فرمايي که دقَسَم خوړلو وروسته کَفّاره اداء کړه وروسته حَانِث سو بيا هم دغه کَفّارَه ددغه قَسَم لپاره کِفَايَت کوي.او دوباره دکفّارې د اداء کولو ضرورت نشته .

وجه : (۱) دئ فرمايي چي دکفّارې اصل سبب قَسَم دئ.حَانِث کېدل خو د شرط د

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل يو چا قَسَم واخستئ او دهغه خِلاَف يې بنَه وليدئ نو هغه دي وکړي کوم چي خَير (بنَه) دئ او دخپل قَسَم کَفّارَه دي ورکړي .

[۲۶۶۹](۲۶) وَمَن حَلَفَ عَلْي مَعصِيَةٍ مِثلُ اَن لاَيُصَلِّيَ اَو لاَيُكَلِّمَ اَبَاهُ اَو لَيَقتُلَنّ فُلاَ نًا فَيَنبَغِي اَن يَحنِثَ نَفسَهُ وَيُكَفِّرَ عَن يَمِينِهِ .

موجودېدو لپاره دئ نوځکه دقَسَم خوړلو وروسته که کَفّارَه اداء کړه نو کَفّارَه به اداء شي (۲) په حديث کي هم ددې ثبوت سته. عَن اَبِي مُوسْي الاَشعَرِيّ قَالَ اَتَيتُ النّبِيّ (ﷺ) فِي رَهطٍ مِّنَ الاَشعَرِيّينَ نَستَحمِلُهُ ... وَاللهِ اِن شَاءَ اللهُ لاَاَحلِفُ عَلْي يَمِينٍ ثُمّ اَرْي خَيراً مِّنهَا اِلاّ كَفّرتُ عَن يَمِينِي وَاَتَيتُ الّذِي هُوَ خَيرٌ (الف) (مسلم شريف.باب ندب من حلف يمينًافرْي غيرهاخيراًمنهاص۴۶نمبر۱۶۴۹/ترمذي شريف.باب ماجاء في الكفّارة قبل الحنث ص۲۷۹نمبر۱۵۳۰) په دې حديث کي دئ چي کَفّارَه يې اَوّل اداء کړه او هغه کار کُوم چي قَسَم پر خوړلئ وُ هغه يې وروسته وکئ.ددې ځخه معلوم شو چي دحَانِث کېدو ځخه مخکي کَفّارَه اداء کړي نو اداء کيږي .

[۲۶۶۹](۲۶) يوچا پر ګناه باندي قَسَم وخواړئ مثلاً دا چي لمونځ به نَه کوي يا دخپل پُلاَر سره به خبري نَه کوي يا به فُلاَنَئ ضرور قتل کوي نو په کار دئ چي په خپله حَانِث شي او دقَسَم کَفّاره ورکړي .

تشريح : يوچا دګناه پر خبره قَسَم واخستئ نو بنَه خبره داده چي هغه کار وَنَه کړي او ځان حَانِث کړي او کَفّارَه اداء کړي .

وجه : (۱) په حديث کي د دغه تعليم راغلئ دئ. عَن اَبِي بُردَةَ عَن اَبِيهِ قَالَ اَتَيتُ النّبِيّ (ﷺ) فِي رَهطٍ ... وَاِنّي وَاللهِ اِن شَاءَ اللهُ لاَاَحلِفُ عَلْي يَمِينٍ فَاَرْي غَيرَهَا خَيراً مِّنهَا اِلاّ كَفّرتُ عَن يَمِينِي وَاَتَيتُ الّذِي هُوَ خَيرٌ اَو اَتَيتُ الّذِي هُوَ خَيرٌ وَكَفّرتُ عَن يَمِينِي (الف)

حاشيه : (الف) حضرت ابوموسْي فرمايي چي زَه د اَشعَرِيّيينُ په جماعت کي دسُوارلَئ لپاره د وُښ د غُوښتَنِي په مَقصَد حضور (ﷺ) ته راغلم ... حضور وفرمايل قَسَم په خدائ اِن شَاءَ الله. پر شِي قَسَم نَه اَخلَم بيا دهغه په خِلاَف

کي خَير وَوِينَم مګر دخپل قَسَم کَفّاره اداء کوم او هغه کَوَم چي خَير وي (ب) حضرت ابوبرده دخپل پُلار څخه نقل کوي فرمايي چي زَه د اشعريينُ په جماعت کي حضور (ﷺ) ته راغلم ... زَه قَسَم په خدائ اِنشَاءَ الله.قَسَم نَه خورم بيا دهغه څخه علاوه ښَه ګڼم مګر زَه دخپل قَسَم کَفّارَه اداء کوم چي خَير دئ.يايي دا دَوَل وفرمايل. هغه کَوَم چي خَيردئ بيا دخپل قَسَم کَفّارَه اداء کوم .

[۲۶۷۰](۲۷) وَ اِذَا حَلَفَ الكَافِرُ ثُمّ حَنِثَ فِي حَالِ الكُفرِ اَو بَعدَ اِسلاَمِهِ فَلاَحِنثَ عَلَيهِ .

(بخاري شريف.باب قول الله تعالٰي لايواخذكم الله باللّغوفي ايمانكم ص۹۸۰ نمبر۶۶۲۳/مسلم شريف.باب ندب من حلف يمينًافرْي غيرهاخيراً منهاان يأتي الّذي هوخيرويكفّرعن يمينه ص۴۶نمبر۱۶۴۹) په دې حديث کي دئ چي قَسَم مِي پر اَخَستَئ وي که چيري دهغه څخه خِلاَف خبره کي خَير وَوِينَم او هغه ښَه وګڼم نو زَه هغه کوم او دقَسَم کَفّارَه اداء کوم (۲) هسي هم د ګناه کار نَه دئ کول په کار.ښَه دادئ چي هغه کار پريږدي او کَفّارَه اداء کړي .

[۲۶۷۰](۲۷) که کافِر قَسَم واخستئ بيا د کُفر په حالت کي حَانِث شو يا د اِسلاَم څخه وروسته حَانِث شو نو پر ده کَفّارَه نسته .

وجه : (۱) د کافِر قَسَم هيڅ اِعتِبَار نَه لري ځکه چي قَسَم خو دالله په نُوم سره مُنعَقَد کيږي يا د الله په صِفَتِ ذَاتِي سره مُنعَقَدکيږي او کافِر نَه خو الله مَنِي او نَه د الله صِفَاتِ ذَاتِي مَنِي.او نَه دهغه تَعظِيم کوي نوځکه که کافِر دالله نوم واخلي هم قَسَم يي نَه مُنعَقَدکيږي.او چي قَسَم مُنعَقَد نَه شي نو که دکُفر په حالت کي حَانِث شي که د اِسلاَم په حالت کي حَانِث شي کَفّارَه نَه لازميږي (۲) په حديث کي ددې ثبوت سته.

عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) ... مَن كَانَ حَالِفًا فَلْيَحلِف بِاللهِ اَو لِيَصمُتَ (الف)

(بخاري شريف.باب لاتحلفوا بآبائكم ص۹۸۳نمبر۶۶۴۶/مسلم شريف.باب النهي عن الحلف بغيرالله تعالٰي ص۴۶نمبر۱۶۴۶/ ۴۲۵۷) په دې حديث کي دئ چي په الله سره دي قَسَم واخلي يا دي پَتَه خوله شي او کافِر پر الله تعالٰي باندي يقين نَه لري نوځکه په دې سره قَسَم نَه منعقد کيږي (۳) کَفّارَه خو عبادت ده نو پر کافِر باندي به عِبَادَت څَه رنګه لازم کړو؟ لِهٰذَا پر کافِر کَفّارَه نه لازميږي .

حاشيه : (الف) حضور وفرمايل څوک چي قَسَم واخلي نو د الله قَسَم دي واخلي يا دي پَتَه خوله سي .

[۲۶۷۱](۲۸) وَمَن حَرّمَ عَلٰي نَفسِهِ شَيئًا مِّمّا يَملِكُهُ لَم يَصِر مُحَرّمًا وَعَلَيهِ اِنِ اِستَبَاحَهُ كَفّارَةُ يَمِينٍ .

[۲۶۷۱](۲۸) يو چا پر خپل ځان خپل مَملُوګه شئ حرام کړئ نو هغه يقيني حرام نَه ګرزي.او که پر خپل ځان مباح کړئ نو کَفّارَه لازميږي .

تشريح : كوم شِيَان چي د اِنسَان لپاره حلال دي او په خپله دده په مِلکِيّت کي وي که چيري دغه شِيَان پرخپل ځان حرام کړي نو دغه شِيَان په حقيقت کي خو حرام نَه ګرزي البته که چيري دغه شِيَان اِستِعمَال کړل نو دقَسَم کَفّارَه پر لازم ده .

وجه : (١) حضور (ﷺ) د خپلي بِي بِي د وَينَا (پيغور) لکبله شِهد(شَات) پرخپل ځان حرام کړي وُ نو الله تعالٰي تَنبِيه ورته وکړه او هغه يې قَسَم وګرزاوئ او کَفّارَه هم پر لازم شوه. آيت دادئ يَا اَيّهَا النّبِيّ لِمَ تُحَرّمُ مَا اَحَلّ اللهُ لَکَ تَبتَغِي مَرضَاةَ اَزوَاجِکَ وَاللهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ قَدفَرضَ اللهُ لَکُم تَحِلّةَ اَيمَانِکُم وَاللهُ مَولٰکُم وَهُوَ العَلِيمُ الحَکِيمُ (الف) (آيت ١/ ٢سورة التحريم ٦٦) په دې آيت کې حلال شَئ حرام کړئ دئ نو دې ته الله تعالٰي قَسَم ويلي دي.ددې څخه معلوم شوچي حلال شَئ حرام ګرزول قَسَم دئ.او دهغه د اِستِعمَال په صورت کي کَفّارَه لازم ده (٢) په حديث کي ددې تَذکِرَه شته. اَنّ اِبنَ عَبّاسٍ قَالَ فِي الحَرَامِ يُکفَرُ وَقَالَ اِبنُ عَبّاسٍ لَقَدکَانَ لَکُم فِي رَسُولِ اللهِ اُسوَةٌ حَسَنَةٌ (ب) (بخاري شريف.باب يااَيّهاالنبيّ لِمَ تحرّمُ مااحلّ الله لَکَ ص٧٢٩نمبر٤٩١١/کتاب التفسير.سورة التحريم /مسلم شريف.باب وجوب الکفّارة علٰي من حرّم امرأته ولم ينوالطلاق ص٤٧٨نمبر١٤٧٣) په دې حديث کي حضرت ابن عبّاس فرمايلي دي چي حلال شَئ حرام کړي نو دا قَسَم دئ دهغه کَفّارَه لازميږي .

حاشيه : (الف) اى نبي وَلِي حرام کوې هغه کوم چي الله تعالٰي ستا لپاره حلال کړي دي د بِي بِي ګانو د مَرضَئ د پَلَټَوُلُو لپاره؟ الله معاف کونکئ دئ.الله فرض کړئ دئ ستا لپاره د قَسَم خلاسول.الله ستا مَولٰي دئ هغه خَبَردَارَه دحِکمَت والا دئ (ب) حضرت ابن عبّاس وفرمايل په حرام ګرزولو کي به کَفّارَه ورکوي.او حضرت ابن عبّاس وفرمايل ستاسو لپاره په رسول الله کي اُسوَه حَسَنَه سته .

[٢٦٧٢](٢٩) وَاِن قَالَ کُلّ حَلاَلٍ عَلَيّ حَرَامٌ فَهُوَ عَلٰي الطّعَامِ وَالشّرَابِ اِلاّ اَن يَنوِيَ غَيرَ ذَالِکَ .

دا چي هغه شَئ په حقيقت کي حرام نَه ګرزي دهغه دليل دا اَثَر دئ. اَنّ اَبَابَکرٍ وَعُمَرَ وَاِبنَ مَسعُودٍ قَالُوا مَن قَالَ لِامرَأتِهِ هِيَ عَلَيّ حَرَامٌ فَلَيسَت عَلَيهِ بِحَرَامٍ وَعَلَيهِ کَفّارَةُ يَمِينٍ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ٦٩ من قال الحرام يَمِينٌ وليست بطلاقٍ ج٤ص١٠٠نمبر١٨١٩٤) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي هغه شَئ په حقيقت کي حرام نَه ګرزي البته که اِستِعمَال کړئ نو دقَسَم کَفّارَه به اداء کوي .

[٢٦٧٢](٢٩) که وويل چي هر حلال شَئ پر مَا باندي حرام دئ نو دا به د خوراک او چيښَاک پر شِيَانو باندي حَمَل وي مګر که چيري ددې څخه دعِلاَوَه نِيّت وکړئ .

تشريح : ددې جُملي په وَينَا سره بايد خپله بِي بِي او دغه رنګه نور شيان هم حرام شوي واى لٰيکن مُتَبَادِر او په عام مُحَاوَرَه کي د خورلو او چيښلو شيان ځيني مراد وي نوځکه مَينَه(بِي بِي)نَه پر حراميږي بلکه چي د خوراک او چيښَاک شيان استعمال کړي نو کَفّارَه پر لازميږي مګر هغه شِيَان هم حرام نَه دي .

وجه : په اَثَرکي دئ.سَألتُ الشّعَبِيّ عَن رَجُلٍ قَالَ كُلّ حِلٍّ عَلَيّ حَرَامٌ قَالَ لاَيُوجِبُ طَلاَقًا وَلاَيُحَرّمُ حَلاَلاً يُكفَرُ عَن يَمِينِهِ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ٧٠ ماقالوا فيه اذا قال كُلّ حِلٍّ علَيّ حرام ج۴ص۱۰۰نمبر۱۸۱۹۹/مصنّف عبدالرّزاق.باب الحرام ج۶ص۴۰۲نمبر۱۱۳۷۴)ددې اَثَرخخه معلوم شو چې مَينَه ته طلاق نَه واقع کيږي نوځکه د كُلّ حِلٍّ عَلَيّ حَرَامٌ څخه مَينَه مراد نَه ده بلکه چې د خورلو او چيښلو شَئ اِستِعمَال کړي نو کَفّارَه پر لازميږي ..... يو رِوَايَت دا هم دئ چې په كُلّ حِلٍّ عَلَيّ حَرَامٌ کي مَينَه هم داخله ده.نو ځکه مَينَه ته هم يَو طَلاَقِ بَائِن واقع کيږي .

حاشيه : (الف) حضرت ابوبکر.حضرت عمر اوحضرت عبدالله بن مسعود وفرمايل څوک چې وخپله مَينَه ته ووايي چې دا پر مَا حرام ده نو هغه پر ده نَه حرامږي لېکن پر ده د يَمِين کَفّارَه لازم ده (ب) مَا دحضرت شعبي څخه پوښتنه وکړه چې څوک ووايي هر حلال پر مَا حرام دئ؟ وفرمايل مَينَه ته طلاق نَه واقع کيږي او نَه حلال شِيَان حرام ګرزي البته د قَسَم کَفّارَه دي اداء کړي .

[۲۶۷۳](۳۰) وَمَن نَذَرَ نَذراً مُطلَقًا فَعَلَيهِ الوَفَاءُ بِهِ وَاِن عَلّقَ نَذرَهُ بِشَرطٍ فَوُجِدَ الشّرطُ فَعَلَيهِ الوَفَاءُ بِنَفسِ النّذرِ .

وجه : ددې دليل دا اَثَر دئ. عَن عَلِيٍّ فِي الرّجُلِ يَقُولُ لِامرَأتِهِ كُلّ حِلٍّ عَلَيّ فَهُوَحَرَامٌ قَالَ تُحرَمُ عَلَيهِ اِمرَأ تُهُ وَلاَتَحِلّ لَهُ حَتّي تَنكِحَ زَوجًا غَيرَهُ وَيُكفَرُ عَن يَمِينِهِ مِن مَالِهِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ٧٠ ماقالوا فيه اذا قال كُل حِلٍّ علَيّ حرام ج۴ص۱۰۱نمبر۱۸۲۰۳/ مصنّف عبدالرزاق.باب الحرام ج۶ص۴۰۳نمبر۱۱۳۷۹) ددې اَثَرخخه معلوم شوچې مَينَه ته هم طلاق واقع کيږي .

[۲۶۷۳](۳۰) چاچې مُطلَق نَذَر وَمَانَئ نو پر هغه پُورَه کول دئ.اوکه خپل نَذَر پر شرط مُعَلّق کړئ اوشرط موجودسونو پر ده د نَفسِ نَذَر په وجه پوره کول دئ .

تشريح : د نَذَر د مَنَلُو دوه صورتونه دي. يو مُطلَق نَذَر مثلاً دا چې د حَج کولو نَذَر کوم نو دا پوره کول په کار دئ.او که نَذَر پوره نَه کړئ نود يَمِين کَفّارَه لازم ده .

وجه : (۱) په آيت کي دئ چې نَذَر پوره کوئ. ثُمّ لِيَقضُوا تَفَثَهُم وَاليُوفُوا نُذُورَهُم (ب) (آيت۲۹سورة الحج۲۲) په دې آيت کي دئ چې نَذَر پوره کوئ (۲) په حديث کي دئ. عَن عَائِشَةَ عَنِ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ مَن نَذَرَ اَن يُطِيعِ اللهَ فَلْيُطِعهُ وَمَن نَذَرَ اَن يَعصِيَهُ فَلاَ يَعصِهِ (ج) (بخاري شريف.باب النّذرفي الطاعة ص۹۹۰نمبر۶۶۹۶) (۳) په يوه بَل آيت کي دئ. وَمَا اَنفَقتُم مِن نَفَقَةٍ اَو نَذَرتُم مِن نَذرٍ فَاِنّ اللهَ يَعلَمُهُ (د) (آيت۲۷۰سورة البقرة۲) په دې حديث او آيت کي هم دئ چې نَذَر پوره کوئ ..... او که چيري نَذَر پر يَو شرط مُعَلّق کړئ مثلاً که په اِمتِحَان کي کامياب سوم نو حَج کوم او هغه شرط موجود سو مثلاً په هغه اِمتِحَان کي کامياب سونوده ته په کار دئ چې حَج وکړي .

حاشيه : (الف) دحضرت علي څخه نقل شوئ دئ چې يو سړئ وخپله مَينَه ته ووايي چې هر هغه شَئ کوم چې پر مَا حلال دئ هغه حرام.وفرمايل ددې څخه دده پې پې پر ده باندي حرام ګرزي او دده لپاره نَه حلاليږي تر هغه وخته چې بَل وَادَه وکړي يعني حَلاَلَه وکړي او دخپل مَال څخه دي د قَسَم کَفّارَه ورکړي (ب) بيا دي خِيرې ختم کړي او خپل نَذَر دي پوره کړي (ج) څوک چې د الله داِطَاعَت نَذَر وَمَنِي نوده ته په کار دئ چې اِطَاعَت وکړي او څوک چې د نَافَرمَانَئ نَذَر وَمَنِي نو ده ته نافرمانِي نَه ده کول په کار (د) تاسو چې څَه مَصرَف کړئ يا نَذَر وَمَنَئ نو الله ته هغه معلوم دئ .

[۲۶۷۴](۳۱) وَرُوِيَ اَنّ اَبَاحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ رَجَعَ عَن ذَالِکَ وَقَالَ اِذَا قَالَ اِن فَعَلتُ کَذَا فَعَلَيّ حَجّةٌ اَو صَومُ سَنَةٍ اَو صَدَقَةُ مَا اَملِکُهُ اَجزَأ هُ مِن ذَالِکَ کَفّارَةُ يَمِينٍ وَهُوَ قَولُ مُحَمّدٍ رَحِمَهُ اللهُ .

وجه : (۱) د شرط دموجودېدو وروسته دادول وسو چې مُطلقًا نَذَر يې وَمَانَئ د نَذَر د مَنَلُو په وجه د آيت او حديث په رُونا کې بايد نَذَر پوره کړي نو که چيرې پر شرط مُعَلّق کړئ او شرط موجود سي نو دمُطلَق نَذَر په شان دې پوره کړي.او که نَذَر پوره کړئ مثلاً حَج يې وکړئ نو کَافِي دئ او که حَج وَنَه کړئ نو بيا دي دقَسَم کَفّارَه ورکړي (۲) په حديث کې دئ چې پر شرط مُعَلّق نَذَر يې وَمَانَئ نو دهغه د پوره کولو حُکم دئ. يَا اَبَا عَبدَالرّحمٰنَ (عبدالله بن عمر) اَنّ اِبنِي کَانَ بِاَرضِ فَارَسٍ فِيمَن کَانَ عِندَعُمَرَبنِ عُبَيدِاللهِ وَاِنّهُ وَقَعَ بِالبَصرَةِ طَاعُونٌ شَدِيدٌ فَلَمّا بَلَغَ ذَالِکَ نَذَرتُ اِن اَللهُ جَاءَ بِاِبنِي اَن اَمشِي اِلَي الکَعبَةِ فَجَاءَ مَرِيضًا فَمَاتَ فَمَا تَرَي؟ فَقَالَ اِبنُ عُمَرَ اَوَلَم تَنهَو عَنِ النّذَرِ اِنّ رسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اَلنّذَرُ لاَيَقدِمُ شَيئًا وَلاَيُؤخّرُهُ فَانّمَا يَستَخرِجُ مِنَ البَخِيلِ اَوفِ بِنَذرِکَ (الف) (مستدرک حاکم.باب کتاب النّذرج۴ ص۳۳۸نمبر۷۸۳۷) په دې اَثَر کې په دې شرط سره نَذَر مَنَلَئ دئ چې که هَلَک کُور ته راغلئ نو زَه بَيتُ الله ته زَم. په دې صورت کې هَلَک کُور ته راغلئ نو د نَذَر د پوره کولو حکم وشو.

[۲۶۷۴](۳۱) روايت شوئ دئ چې امام ابوحنيفه ددې قَول څخه رُجُوع کړې ده او فرمايلي دي که چيرې وويل که ما دَادَوَل وکړل نو پر مَا حَج دئ يا د يوه کَال روژه ده يا دکوم شِي چې زَه مَالِک يَم دهغه صَدَقَه کول دئ نو ددې ټولو خبرو په بَدلَه کې د يَمِين کَفّارَه کفايت کوي او دغه د امامِ مُحَمّد قول دئ .

حاشيه : (الف) دعبدالله بن عمر څخه پوښتنه وکړه چې زُومَا زُوئ په فَارَس کې وُ دهغه خلګوسره کوم چې دعمربن عبيدالله سره وُ.نوپه بَصرَه کې دېرسخت طاعون خُورشو.چې دا خَبَر راورسېدئ نو مَا نَذَر وَمَانَئ چې که زُومَ زُوئ کُور ته راغلئ نو زَه به پر يُښُو بَيتُ الله ته زَم.هَلَک نَاجُوړَه راغلئ او وَفَات شو نو تَه کومه فَتوْي راکوي؟ حضرت ابن عمر وفرمايل آيا د نَذَر څخه مَنعَ نَه وه کړې؟ حضور وفرمايل نَذَر يوشَئ نه مخته کولائي شي او نَه مُؤخّر کولائي شي.صرف دبخيل څخه د مَال د رَايَستَلُو يوه ذريعه ده.خَه خپل نَذَر پوره که .

[۲۶۷۵](۳۲) وَمَن حَلَفَ لاَيَدخُلُ بَيتًا فَدَخَلَ الکَعبَةَ اَوِ المَسجِدَ اَوِ البِيعَةَ اَوِ الکَنِيسَةَ لَم يَحنَث .

تشريح : د امام ابوحنيفه اِبتِدَائِي قول دا وُ چې پر شرط يې مُعَلّق کړي بيا هم په خپله دشرط مَنَلُو په وجه بايد شرط پوره کړي.وروسته دا وفرمايل چې که پر شرط مُعَلّق کړئ مثلاً دايې وويل که زَه په امتحان کې کامياب شوم نو پر مَا حج دئ.يا ديوه کَال روژه ده يا چې څومره مَال زُومَا سره سته هغه ټوله صَدَقَه کوم او دئ په امتحان کې کامياب شو او شرط موجود شونو ده ته دواړه اِختِيَار حاصل دي يا دي حج وکړي او نَذَر دي پوره کړي يا دي د يَمِين کَفّارَه اداء کړي .

وجه : ددې قول وجه داده چې په حديث کې دئ که نَذَر پوره نَه کړئ نو دیَمِین کَفّارَه اداء کوئ.دحديث تِکړه داده عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ ... وَمَن نَذَرَ نَذراً لاَيُطِيقُهُ فَكَفّارَتُهُ كَفّارَةُ يَمِينٍ وَمَن نَذَرَ نَذراً اَطَاقَهُ فَلْيَفِ بِهِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب من نذرنذراًلايطيقه ص۱۱۶نمبر۳۳۲۲/ابن ماجه شريف.باب من نذرنذراً ولَم يسمّه ص۳۰۵نمبر۲۱۲۸) په دې حديث کې دئ چې که نَذَر نَه سئ پوره کولائي نو کَفّارَه يَمِين اداء کړئ.نوځکه د امام ابوحنيفه او امام محمّدپه نيز کَفّارَه يَمِين هم اداء کولائي شي .

[۲۶۷۵](۳۲) که يوچا قَسَم واخستئ چې کَمرَه ته به داخل نَه شي بيا کعبَه ته يا مسجِد ته يا کَلِيسَا يا کِرجَا ته داخل شو نو نَه حانث کيږي .

وجه : بَيت هغه کمره(خُونَه.کُوټَه) ته ويل کيږي چې شُپَه پکښې تيروي.او مسجِد.کَعبَه.د عيسائيانُو عِبَادَت خانه چې کَلِيسَا ورته ويل کيږي يا د يَهُودِيَانُو عبادت خانه چې کِرجَا ورته ويل کيږي د شُپې د تيرولو ځايونه نَه دي. بلکه د

حاشيه : (الف) او ځوک چې دادِول نَذَر کښيږدي چې دهغه طاقت نَه لري نودهغه کَفّاره دَيمين کَفّاره ده.او ځوک چې دادِول نَذَر کښيږدي چې دهغه طاقت لري نو هغه دي پوره کړي .

[۲۶۷۶](۳۳) وَمَن حَلَفَ اَن لاَ يَتَكَلَّمَ فَقَرَأَ القُرآنَ فِي الصّلاَةِ لَم يَحنَث .

عِبَادَت لپاره دي نوځکه دکوم شِي چې قَسَم اخستئ دئ هغه موجود نَه شو لِهْذَا نَه حانث کيږي.په دغه وجه که چيري نَر په کَمرَه(خُونَه)کي اعتِکَاف وکړي نو اِعتِکَاف يې نَه صحيح کيږي او په مسجِدکي صحيح کيږي ځکه چې کمره او مسجِد جلا جلا ځايونه دي .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چې دکوم شِي چې قَسَم واخستئ که هغه موجود نَه شو نو نَه حانث کيږي .

لغت : اَلبِيعَةُ : دعيسائيَانُو عبادت ګاه.چې کَلِيسَا هم ورته وايي. اَلکَنِيسَةُ : ديهوديانُو عبادت ګاه.چې کِرجَا هم ورته وايي .

[۲۶۷۶](۳۳) يوچا قَسَم واخستئ چې خَبَرِي نَه کوم. بيايې په لمانځه کې قُرآن ولوستئ نو نَه حانث کيږي .

وجه : (۱) په لمانځه کې قرآن لُوَستَل خبري نَه دي.بلکه قِرَأت دئ.نوځکه په لمانځه کې دقرآن لوستلو څخه نَه حانث کيږي (۲) په حديث کې دئ چې په لمانځه کې خَبَرِي وکړي نو لمونځ فاسديږي او دقرآن په لوستلو سره لمونځ صحيح کيږي. په حديث کې دئ. عَن مُعَاوِيَةَ بنِ الحَكَمِ السّلَمِيّ ... قَالَ اِنّ هٰذِهِ الصّلاَةَ لاَيُصلِحُ فِيهَا شَئٌ مِّن كَلاَمِ النّاسِ اِنّمَا هُوَ التّسبِيحُ وَالتّكبِيرُ وَقِرَاءَةُ القُرآنِ (الف) (مسلم شريف.باب تحريم الكلام في الصلاة ونسخ ماكان من اِبَاحَتِهِ ص۲۰۳نمبر۵۳۷/ابوداؤدشريف.باب تشميت العاطس في الصّلاة ص۱۴۱نمبر۹۳۰) په

دې حديث کې د کَلاَمُ النّاس څخه منع کړې ده او د قِرَاءَةِ قُرآن اِجَازَت يې ورکړئ دئ.ددې څخه معلوم شو چې د قِرَاءَةِ قُرآن څخه نَه حانث کيږي (۳) په آيت کې هم دغه فرق ذکرشوئ دئ. قَالَ رَبِّ اِجعَل لِي آيَةً قَالَ

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل دا لمونځ د خلګو د خبرو (کلام) صَلاَحِيّت نَه لري په دې کې خو تَسبِيح.تَکبِير او د قُرآن قِرَاءَت دئ .

آيَتُکَ اَن لاَتُکَلِّمَ النّاسَ ثَلاَثَةَ اَيّامٍ اِلاّ رَمزاً وَ اَذکُر رَبّکَ کَثِيراً وَسَبِّح بِالعَشِيّ وَالاِبکَارِ (الف) (آيت ۴۱سورة آل عمران ۳) په دې آيت کې د خلګو سره د خَبرُو کولو څخه منع کړې ده لېکن دتَسبِيح او ذِکر کولو اِجَازَت يې ورکړئ دئ ددې څخه معلوم شوچې د خلګو سره خَبَرِي کول بېل شَئ دئ او د قُرآن قِراءت.تَسبِيح او ذِکر بېل شَئ دئ .

فائده : د امامِ شافعي په نېز د تَسبِيح.ذِکر او دقُرآن د قِراءت څخه هم حانث کيږي .

وجه : (۱) دئ فرمايي چې په قُرآن او حديث کې و تَسبِيح.ذِکر او د قُرآن وتلاوت تولو ته کَلاَم (خَبَرِي)ويل شوي دي. وَقَالَ النّبِيّ (ﷺ) اَفضَلُ الکَلاَمِ اَربَعٌ سُبحَانَ اللهِ وَالحَمدُ لِلّهِ وَلاَاِلٰهَ اِلاّ اللهُ وَاللهُ اَکبَرُ. وَقَالَ اَبُوسُفيَانُ کَتَبَ النّبِيّ (ﷺ) اِلٰي هِرَقلَ فَقَالُوا کَلِمَةٌ سَوَاءٌ بَينَنَا وَبَينَکُم (ب) (آيت۶۴سورة آل عمران۳/بخاري شريف.باب ۶۶۸۱) په دې حديثو کې و تسبيح او لاَاِلٰهَ اِلاّ اللهُ ته کَلِمَه ويلي دي نوځکه که چيرې قَسَم واخستئ چې خَبَرَه نَه کوم او قِراءت يې وکړئ يايي تَسبِيح وويلي نو حانث کيږي (۲) په حديث کې دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) کَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَي اللِّسَانِ ثَقِيلَتَانِ فِي المِيزَانِ حَبِيبَتَانِ اِلَي الرّحمٰنِ سُبحَانَ اللهِ وَبِحَمدِهِ سُبحَانَ اللهِ العَظِيمِ (ج) (بخاري شريف.باب اذا قال والله لااتکلّم اليوم فصلّي اوقرأ او سبّح او کَبّر اوحَمِدَ او هَلّلَ فهوعلٰي نيّته ص۹۹۸نمبر۶۶۸۱/ ۶۶۸۲/مسلم شريف.باب فضل التهليل والتسبيح والدعاءج۲ص۳۴۴نمبر۲۶۹۴) په دې حديث کې هم وسُبحَانَ الله ته کلمه ويلي دي. ددې حديثو په وجه د اَحنَافُ دُويَم روايت دادئ چې که د لمانځه څخه د بَاندِي ذِکر.تَسبِيح.تهليل وکړي نو حانث کيږي .

حاشيه : (الف) ای زُومَا رَبّه! زُومَا لپاره يوه نَخښَه وَتَاکَه(مُقَرّره که).وفرمايل ستا نَخښه داده چې تَه به خَبَرَه نَه شې کولائي دخلګو سره دري وُرَځِي مکّر په اِشَارَه سره او دخپل رَبّ په دِېرَښت سره ذِکر کوه او سَهَار و مَابَنَام تسبيح وايه (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل اَفضَل کلامونه څلور دي. سُبحَانَ الله.اَلحَمدُلله.لاَاِلٰهَ اِلاّ الله او اَللهُ اَکبَر. حضرت سُفيان فرمايي چې حضور (ﷺ) و هِرَقل ته وليکل راسَه دا دَوَل کلمې ته چې زمونږ او ستاسو تر مينځ برابره وي (ج) حضور (ﷺ) وفرمايل دوي کلمې پر ژَبَه سُپکِي دي او په ميزان کې درنې دي او رَحمٰن ته محبوبِ دي يوه ده سُبحَانَ اللهِ وَبِحَمدِهِ او دويمه ده سُبحَانَ اللهِ العَظِيمُ.

[۲۶۷۷](۳۴) وَمَن حَلَفَ لاَيَلبِسُ هٰذَا الثّوبَ وَهُوَ لاَبِسُهُ فَنَزَعَهُ فِي الحَالِ لَم يَحنَث وَکَذَالِکَ اِذَا حَلَفَ لاَيَرکَبُ هٰذِهِ الدّابّةَ وَهُوَ رَاکِبُهَا فَنَزَلَ فِي الحَالِ لَم يَحنَث وَاِن لَبِسَهُ سَاعَةً حَنَثَ .

[۲۶۷۷](۳۴) يوچا قَسَم واخستئ چي دغه کيړه به نَه وَاغُوندِي حالانکه هغه يې اَغُوَستې وه.بيايې هغه په هغه وخت وَکښَل نو نَه حانث کيږي.دغه رنګه که قَسَم واخستئ چي پرداحيوان به سُپُورنَه شي حالانکه دئ پرهغه سُپُورُوُبيادئ ځيني شَوَه سو نو نَه حانث کيږي.او که تر څَه وخته پوري پر هغه حال پاته شو نو حانِث کيږي .

تشريح : قَسَم يې واخستئ چي دا کيړه نَه اَغُوندَم لېکن ده په هغه وخت هم دغه کيړه اَغُوَستې وه.نوکه چيري په هغه ګړي کيړه وَکښَل نو نَه حانث کيږي.او که چيري څَه وخت هغه کيړه پر خپل بَدَن پرېښولَه بيايې وَکښَل نوحانث کيږي.دغه رنګه که قَسَم واخستئ چي پر دغه حيوان به سُپُور نَه شي حالانکه په دغه وخت دئ پر دغه سُوَارلَئ باندي سُپُور وُ نو که چيري په دغه وخت ځيني رَاشَوَه سو نو نَه حانث کيږي.او که چيري څَه وخت پر دغه سُوَارلَئ دغه رنګه سُپُور پاته شو نو بيا حانث کيږي .

وجه : (۱) دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي قَسَم پر خپل ځائ پاته شي دهغه لپاره به دُومرَه وخت او مُوقَع ده ته ورکول کيږي چي په هغه کي دئ دقَسَم مُطَابِق کار وکړي او دحانِث کېدو څخه ځان وَسَاتِي.هسي خو هم خلګ په غُصّه او خَښَم کي قَسَم واخلي او سَم دَستِي دهغه مطابق عَمَل شروع کوي نو دې ته دقَسَم خِلاَف نَه ويل کيږي.البته! که څَه وخت تېرشي او دئ وَدَرِيږي نو دا به ويل کيږي چي ده دقَسَم مطابق عمل وَنَه کړئ او دهغه په وجه به دئ حَانِث شي (۲) په حديث کي حُکم دئ چي قَسَم اخستونکي ته بايد د بَرِي کېدو موقع ورکول شي. عَنِ البَرَاءِ قَالَ اَمَرَنَا النّبِيّ (ﷺ) بِاِبرَاءِ المُقسِمِ (الف) (بخاري شريف.باب قول الله تعالٰي واقسموا بالله جَهد

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) د قَسَم خوړونکي د قَسَم د پوره کولو حُکم وکړئ .

[۲۶۷۸](۳۵) وَمَن حَلَفَ لاَيَدخُلُ هٰذِهِ الدّارَ وَهُوَ فِيهَا لَم يَحنَث بِالقُعُودِ حَتّٰي يَخرُجَ ثُمّ يَدخُلَ [۲۶۷۹](۳۶) وَمَن حَلَفَ لاَيَدخُلُ دَاراً فَدَخَلَ دَاراً خَرَابًا لَم يَحنَث .

اَيمَانِهِم ص۹۸۴نمبر۶۶۵۴/مسلم شريف.باب تحريم استعمال اناء الذّهب والفِضّة علٰي الرّجَالِ والنّساء الخ ص۱۸۷نمبر۲۰۶۶) په دې حديث کي دئ چي قَسَم اخستونکي ته حَتّٰي الإمکَان د بَرِي کېدو موقع ورکړئ نوځکه ده ته به د فَوراً رَاشَوَه کېدو او دکيږو د کښلو موقع ورکول کيږي او په دومره وخت کي نَه حانث کيږي .

[۲۶۷۸](۳۵) يوچا قَسَم واخستئ چي په دې کُور کي نَه داخليږي او دئ په دغه کُورکي موجودوُنوپه کښېنَستلُونه حانث کيږي ترهغوچي وَوزِي او بيا داخل شي .

وجه : په دې قَسَم کي لفظ دَاخِل استعمال کړئ دئ او د دَاخِل مطلب دادئ چي د دَبَاندِي څخه دَنَنَه دَاخِل شي.دلته د دباندي څخه دَنَنَه نه دئ دَاخِل شوئ بلکه دَنَنَه دَنَنَه ناست پاته سو نوځکه دقَسَم څخه خِلاَف يې نَه دي کړي لِهٰذَا نَه حانث کيږي .

[۲۶۷۹](۳۶) یوچا قَسَم واخستئ چي دَار(کُور)ته به دَاخِل نه شي بیا وَیرَانَه ته دَاخِل شو نو نَه حانث کیږي .
تشریح : دَار هغه ځائ ته ویل کیږي چي په هغه کي خَلُور دېوالونه وي او چَت وي او لَږ تر لَږه د وُسپدلو قَابِل وي لېکن که دېوالونه نَړېدَلِي وي او ځائ وِیرَان(خرابَه) شوئ وي. نو اُوس چي چَت یې نَه وي نو بیا دغه دَار(کُور)د وُسپدُلُو قابل نَه سو پاته لِهْذَا دَار نَه دئ نوځکه اُوس کي په دي کي څوک دَاخِل شي نو نَه حانث کیږي .
اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي پر کوم لفظ یې قَسَم اخستئ وي که دهغه لفظ څخه ښِل او جلا وکړل نو نه حانث کیږي.ځکه چي د تېرشوي حدیث اِبرَاءُ المُقسِم په وجه حَتّي الامکان کوشش کیږي چي قَسَم اخستونکئ حانث نَه شي .
لغت : خَرَابًا : وَیرَانَه.خرابه.نړېدلئ ځائ .
[۲۶۸۰](۳۷) وَمَن حَلَفَ لاَیَدخُلُ هٰذِهِ الدّارَ فَدَخَلَهَا بَعدَ مَا اِنهَدَمَت وَصَارَت صَحرَاءُ حَنَثَ [۲۶۸۱](۳۸) وَمَن حَلَفَ لاَیَدخُلُ هٰذَا البَیتَ فَدَخَلَ بَعدَ مَا اِنهَدَمَ لَم یَحنَث [۲۶۸۲](۳۹) وَمَن حَلَفَ اَن لاَیُکَلِّمَ زَوجَةَ فُلاَنٍ فَطَلَّقَهَا فُلاَنٌ ثُمّ کَلّمَهَا حَنَثَ .

[۲۶۸۰](۳۷) یوچا قَسَم واخستئ چي په دې کُور کي به دَاخِل نه شي.نوپه هغه کي د نَړېدلو او دصَحرَاء جوړېدلو وروسته دَاخِل شو نو حانث کیږي .
وجه : په اِشَاره سره وویل چي په دې کُور کي نو ددې څخه اُوس کُور مراد نَه شو پاته بلکه د کُور دغه مځکه ځیني مراد شوه.او چي کُور وَنَړیږي او دِیوَالُونَه یې ختم شي مځکه خو هغه مځکه ده نوځکه که چیري په دغه مځکه کي دَاخِل شي نو هم حانث کیږي .
لغت : اِنهَدَمَت : وَنَړېدئ. وَیرَانَه سو. صَحرَاءُ : وَیرَانَه. خَرَابَه .
[۲۶۸۱](۳۸) که قَسَم وخوړئ چي دې بَیت ته به دَاخِل نَه شي بیادنَړېدُو وروسته دَاخِل شو نو نَه حانث کیږي .
وجه : بَیت هغه کَمرَه(خُونَه) ته ویل کیږي چي شُپَه پکښي تېر وي او چي کوم وخت وَنَړیږي بیا په هغه کي شُپَه نَه شي تېرېدلائي نوځکه دقَسَم مطابِق دا اُوس بَیت نَه شو پاته.لِهْذَا که په دې کي دَاخِل شي نونَه حانث کیږي .
[۲۶۸۲](۳۹) یوچا قَسَم واخستئ چي د فُلاَنِي د مَینې سره به خَبَرِي نه کوي.بیا هغې ته فُلاَنِي سړي طلاق ورکړئ بیایې دهغې سره خَبَرِي وکړې نو حانث کیږي .
وجه : په مُحَاوَرَه کي هسي د نُوم په توګه د فُلاَنِي سړي مَینَه مثلاً استعمالیږي او دهغه څخه مقصد دهغې ښځي ذَات وي.نوځکه په قَسَم کي دهغې ښځي ذَات مُرَاد دئ

لِهٰذَا دطلاق ورکولو وروسته چي کوم وخت دا ښځه دفُلاَنِي سړي مَينَه پاته نَه شي نو بيا هم که چيري ددغي ښځي سره خَبَرِي وکړي نوحانث کيږي ځکه چي

[۲۶۸۳](۴۰) وَمَن حَلَفَ اَن لاَيُکَلِّمَ عَبدَ فُلاَنٍ اَو لاَيَدخُلَ دَارَ فُلاَنٍ فَبَاعَ فُلاَنٌ عَبدَهُ اَو دَارَهُ ثُمّ کَلّمَ العَبدَ اَو دَخَلَ الدّارَ لَم يَحنَث [۲۶۸۴](۴۱) وَ اِن حَلَفَ اَن لاَيُکَلِّمَ صَاحِبَ هٰذَا الطّيلسَانِ فَبَاعَهُ ثُمّ کَلّمَهُ حَنَثَ وَ کَذَالِکَ اِذَا حَلَفَ اَن لاَيَتَکَلّمَ هٰذَا الشّابّ فَکَلّمَهُ بَعدَ مَا صَارَ شَيخًا حَنَثَ .

ددغي ښځي د ذَات سره خَبَرِي وکړي .

[۲۶۸۳](۴۰) يوچا قَسَم واخستئ چي دفُلاَنِي دغُلاَم سره به خبري نه کوي يا به د فُلاَنِي کُور ته داخِل نه شي.بيا هغه فُلاَنِي غُلاَم خرڅ کړئ يايې خپل کُور خرڅ کړئ بيايې دغُلاَم سره خبري وکړي يا کُور ته داخِل شو نو نَه حانث کيږي .

وجه : دلته د فُلاَن د غُلاَم ځخه يا د فُلاَن د کُور ځخه صرف دهغه نُوم مقصود نَه دئ او نه دهغه ذَات مقصود دئ.بلکه دا چي دفُلاَنِي غُلاَم وي يا دفُلاَنِي کُور وي نو خَبَرِي نَه ورسره کوي. نو چي کوم وخت يې غُلاَم خرڅ کړئ يايې مکان خرڅ کړئ نو اُوس دده غُلاَم يا دده کُور پاته نَه شُو.نوځکه دده سره چي خبري وکړي يا دې کُور ته اُوس داخِل شي نو نَه حانث کيږي .

اصول : ذَات مراد نَه دئ بلکه دهغه سړي نِسبَت مراد دئ .

[۲۶۸۴](۴۱) که قَسَم واخستئ چي ددې پَټُو والا سره به خبري نَه کوم.هغه پَټُو خرڅ کړئ بيايې دهغه سره خبري وکړي نو حانث به شي.دغه رنګه که قَسَم واخستئ چي ددې ځوان سره به خبري نَه کوي.بيايې دده سره د بُوډَاوَالِي وروسته خبري ورسره وکړي نو حانث کيږي .

وجه : دلته د پَټُو والا ځخه دهغه سړي ذَات مراد دئ.دغه رنګه دځوان ځخه دهغه ذَات مراد دئ.لِهٰذَاکه پَټُوخرڅ کړئ بيايې دهغه سره خبري وکړي نو هم دهغه سړي دذَات سره خبري کړي دي نوځکه حانِث ګرزي.دغه رنګه ځوان بُوډَا(سُپين ژيرَئ)

[۲۶۸۵](۴۲) وَ اِن حَلَفَ اَن لاَيَأکُلَ لَحمَ هٰذَا الحَملَ فَصَارَ کَبشًا فَاَکَلَهُ حَنَثَ [۲۶۸۶](۴۳) وَ اِن حَلَفَ اَن لاَيَأکُلَ مِن هٰذِهِ النّخلَةِ فَهُوَ عَلٰي ثَمَرِهَا .

شونو اُوس هم ذَات هغه ذَات دئ نوځکه که د بُوډَاوَالِي وروسته خبري ورسره وکړي حانث کيږي.ځکه چي ذَات هغه ذَات پاته دئ .

[۲۶۸۵](۴۲) که قَسَم واخستئ چي ددې حَمَل غُوَښَه به نَه خوري.بيا هغه وُچکُل شو بيايي دهغه غُوَښَه وخوړل نو حانِث کيږي .
وجه : دلته هم د ددې حَمَل څخه مراد دهغه صِفَت نَه دئ بلکه دحَمَل ذَات مراد دئ لِهْذَا د وُچکُل جوړېدو وروسته هم که دهغه غُوَښِي وخوړلې حانِث کيږي.ځکه چي ذَات خو هغه ذَات پاته دئ .
اصول : دا به کتل کيږي چي قَسَم اخستونکي په کوم ځائ کي ذَات مراد اَخَستَئ دئ او په کوم ځائ کې صِفَت مراد اَخَستَئ دئ.په کوم ځائ کې چي ذَات مراد اَخَستَئ دئ هلته که چيري صِفَت زَائِل شي او ختم شي بيا هم که د ذَات سره خبري وکړي نو حانِث ګرزي.او په کوم ځائ کې چي صِفَت مراد اخستئ دئ هلته بيا تر کوم وخت پوري چي دغه صِفَت موجود پاته وي که خبري وکړي نو حَانِث ګرزي.او چي صِفَت زَائِل شي بيا خبري وکړي نو نَه حانِث کيږي .
[۲۶۸۶](۴۳) که قَسَم واخستئ چي ددې درختي څخه به خوراک نَه کوي نو قَسَم ددې درختي پر مِيوَه دئ .
تشريح : يعني که دغه درخته وَخُورِي نو نَه حانِث کيږي.البته ددې درختي د مېوې په خوړلو سره حَانِث ګرزي .
وجه : په عمومي توګه لفظِ,,درخته,,ووايي او دهغه څخه مراد دهغې درختي مېوه وي.ځکه چي درخته نَه خوړل کيږي.ددرختي مېوه خوړل کيږي نولفظ,,درخته,,يې
[۲۶۸۷](۴۴) وَ مَن حَلَفَ اَن لاَيَأ كُلَ مِن هٰذَ البُسرِ فَصَارَ رُطَبًا فَاَكَلَهُ لَم يَحنَث [۲۶۸۸](۴۵) وَ اِن حَلَفَ لاَيَأ كُلُ بُسراً فَاَكَلَ رُطَبًا لَم يَحنَث [۲۶۸۹](۴۶) وَ اِن حَلَفَ اَن لاَ يَأ كُلَ رُطَبًا فَاَكَلَ بُسراً مُذَنَّبًا حَنَثَ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي .

ويلئ دئ او مېوه ځيني مراد ده.لِهْذَا ددمېوې په خوړلو حانث کيږي .
[۲۶۸۷](۴۴) که قَسَم واخستئ چي دا کَچَه خورما نَه خورم بياهغه پَخَه شوه بيايي هغه وخوړل نو نَه حانِث کيږي .
وجه : دلته دخُورمَا پر ذَات قَسَم نَه دئ اَخَستَل شوئ بلکه دهغې پر صِفَت ,,کَچّه وَالِي,, باندي قَسَم اخستل شوئ دئ.ځکه چي بعضو کسانو ته کَچّه خُورمَا ښه خوند نَه ورکوي نو ځکه که نِيم پُختَه خورما وخوړله نو حانِث کيږي.د پَخوَالِي وروسته که وخوړل نو نَه حانِث کيږي .
لغت : اَلبُسرُ : کَچّه خُورمَا.نِيم پُختَه. رُطَبٌ : پَخَه خُورمَا .
[۲۶۸۸](۴۵) که قَسَم وخوړئ چي کَچّه خُورمَا نَه خوري بيايي پَخَه خُورمَا وخوړل نو نَه حانِث کيږي .

وجه : دلته هم دقَسَم خوړلو څخه د خُورمَا ذَات مراد نَه دئ.بلکه نِيم پُختَه صفت ځيني مراد دئ نوځکه چي صِفَت يې بَدَل شي پَخَه شي نو ددې په خوړلو سره نَه حانِث کيږي .

[۲۶۸۹](۴۶) که قَسَم واخستئ چي پَخَه خُورمَا به نَه خوري.بيايې د شَا(لَګئ) لخوا څخه پَخشَوې خُورمَا وخوړل نو د امام ابوحنيفه په نېز به حانث شي .

تشريح : رُطَبٌ و پَخَه خُورمَا ته ويل کيږي.او مُذَنّبٌ.د ذَنَبٌ څخه مُشتق دئ لَګئ.دلته هغه خُورمَا ځيني مراد ده چي دلَګئ لخوا څخه پَخېدَل شروع شوې وي نو په دې خُورمَا کي د لَګئ لخوا څخه د پَخِېدَلُو اَثَر شته لِهْذَا چي دايې وويل چي

[۲۶۹۰](۴۷) وَمَن حَلَفَ اَن لاَيَأكُلَ لَحمًا فَاَكَلَ لَحمَ السّمَكِ لَم يَحنَث [۲۶۹۱](۴۸) وَلَو حَلَفَ اَن لاَيَشرِبَ مِن دَجلَةَ فَشَرِبَ مِنهَابِاِنَاءٍلَم يَحنَث حَتّٰي يَكرَعَ مِنهَا كَرعًاعِندَاَبِي حَنِيفَةَ.

پَخَه خُورمَا به نَه خورم نو د مُذَنّب په خوړلو سره به حانِث شي .

فائده : صاحبين فرمايي چي رُطَبٌ هغه خُورمَا ته ويل کيږي چي پوره پَخشَوې وي. او مُذَنّب هغه خُورمَا ته وايي چي صرف د لَګئ لخوا څخه پَخشَوې وي نوځکه د دواړو په صِفَت کي فرق دئ لِهْذَا که د رُطَب قسم واخستئ نو د مُذَنّب په خوړلو سره نَه حانِث کيږي .

لغت : مُذَنّبٌ : د ذَنَبٌ څخه مُشتَق دئ.د لَګئ لخوا پَخشَوې خُورمَا .

[۲۶۹۰](۴۷) يوچا قَسَم واخستئ چي غُوَښَه به نَه خوري بيايې دمَاهِي غُوَښَه وخوړل نو نَه حانِث کيږي .

وجه : (۱) مَاهَئ خو دغُوَښې څخه بالکُل يو جلا شَئ دئ.نوځکه که قَسَم واخستئ چي غُوَښَه به نَه خوري.بيايې مَاهَئ وخواړئ نو نَه حانِث کيږي (۲) په دغه وجه خو غُوَښَه د ذَبح کېدو بغيره خوړل نَه حلاليږي او مَاهَئ چي ذَبح نَه کړي هم دهغه خُوَړَل حلال دئ.ددې څخه معلوم شو چي مَاهَئ جلا شَئ دئ او غُوَښَه جلا شئ ده .

قياس داده چي حانِث شي ځکه چي په قُرآنِ کريم کي مَاهِي ته لَحمِ طَرِي ويلي دي. وَمِن كُلٍّ تَأ كُلُونَ لَحمًا طَرِيًّا (الف) (آيت۱۲سورة فاطر۳۵) په دې آيت کي و مَاهِي ته لَحمِ طَرِي ويلي دي.لېکن مخته په تېرشوې مسئله کي دقَسَم دَارومَدَار پر عام مُحاورَه بِنَاء دئ .

[۲۶۹۱](۴۸) که قَسَم واخستئ چي د دَجلَه څخه به نَه چيښِي بيايې دهغه څخه د لُوښِي په ذريعه وچيښل نو نَه حانِث کيږي ترهغه وخته چي په هغه کي خُولَه واچوي او وچيښي .

حاشيه : (الف) د هر يوه سَمَندَر څخه تاسو لَحمِ طَرِي.طَرِي(تَازَه)غُوَښَه خورئ .

[۲۶۹۲](۴۹) وَمَن حَلَفَ اَن لاَيَشرِبَ مِن مَاءِ دَجلَةٍ فَشَرِبَ مِنهَا بِاِنَاءٍ حَنَثَ [۲۶۹۳](۵۰) وَمَن حَلَفَ اَن لاَيَأ كُلَ مِن هٰذِهِ الحِنطَةِ فَاَ كَلَ مِن خُبزِهَا لَم يَحنَث .

تشريح : يوچا قَسَم واخستئ چې د دَجلَه نِهر(کارېز)څخه به نَه چېښي نو دهغه طريقه داده چې په نِهر(کارېز)کي خُولَه واچوي او وَچېښي او دغه يې حقيقي او اَصلِي معنْي ده. د صَحرَاء شُپَنِيَان په کارېز کي خُولَه اَچَوِي او اُوبَه چېښي. د هغوئي سره لُوښَئ د کومي خوا وي؟ نو ځکه په خُولَه سره چېښل ځيني مراد دئ او په دغه سره حانِث کيږي.که چيري په لُوښِي کي اُوبَه واخستې او وَچېښلې په هغه نَه حانِث کيږي .
فائده : د صاحبينُ په نېز که په لُوښِي کي د دَجلې څخه اُوبَه رَاوَاخَستې وچېښلې په هغه هم حانِث کيږي .
وجه : دُوئي فرمائي چې د بنَار خلګ او دصَحرَاء غَټ خلګ د کارېز څخه په خُولَه اُوبَه نه چېښي بلکه د لُوښِي په ذريعه يې چېښي.نوځکه دغه ځيني مراد دئ.لِهْذَا که په لُوښِي کي اُوبَه واخستې او وچېښې نو حانِث کيږي .
اصول : امام ابوحنيفه حقيقي معنْي اَخَستې ده اوصاحبينُومُحَاوَرِي معنْي اَخَستې ده .
لغت : گَرعٌ : چې خُولَه پر کښيږدي اُوبَه وَچېښي .
[۲۶۹۲](۴۹) که قَسَم واخستئ چې د دَجلې اُوبَه به نَه چېښي بيايې دهغه څخه د لُوښِي په ذريعه وچېښلې نوحانِث کيږي .
وجه : چې دايې وويل چې د دَجلې اُوبَه نَه چېښي نوکه په خُولَه سره وچېښي بياهم هغه د دَجلې اُوبَه دي او که د دَجلې څخه په لُوښِي کي اُوبَه واخلي هم هغه د دَجلې اُوبَه دي. نو ځکه حانِث کيږي .
[۲۶۹۳](۵۰) يوچاقَسَم واخستئ چې ددغه غَنَم څخه به خوراک نَه کوي بيايې دهغه ډُودَئ وخوړل نو نَه حانِث کيږي .
[۲۶۹۴](۵۱) وَ لَو حَلَفَ اَن لاَيَأ كُل مِن هٰذِهِ الدّقِيقِ فَاَ كَلَ مِن خُبزِهِ حَنَثَ وَلَو اِستَفّهُ كَمَا هُوَ لَم يَحنَث [۲۶۹۵](۵۲) وَاِن حَلَفَ اَن لاَيُكَلِّمَ فُلاَنًا فَكَلّمَهُ وَهُوَ بِحَيثُ يَسمَعُ اِلاّ اَنّهُ نَائِمٌ حَنَثَ .

وجه : عام دصَحرَاء خلګ غَنَم هم وَتِيږي بيايې خوري يې.نوځکه حقيقي او اَصلي معنْي يې غَنَم خوړل دي.لِهْذَا که غَنَم وخوړل نو حانِث به شي.چې غَنَم مَيدَه کړي او ډُودَئ ځيني جوړه کړي او وَخُورِي نو نَه حانِث کيږي .
فائده : صاحبين فرمايي چې په عام توګه خلګ د غَنَمُو څخه ډُودَئ جوړوي او خوري يې نو ځکه د مُحَاوَرې په حَيث به ډُودَئ ځيني مراد وي.نوځکه د ډُودَئ په خوړلو سره به حَانِث شي.دغَنَمُو په خوړلو سره نَه حانِث کيږي .

[۲۶۹۴](۵۱) که قَسَم واخستئ چي دغه وَړَه نه خوري.بيايې دهغه ډُوډَئ وخوړل نو حانِث به شي.او که وَړَه کَپَه کړل نو نَه حانِث کيږي .
وجه : په عام توګه خلګ وَړَه(وُړَه)نَه کَپَه کوي بلکه د وَړُو څخه ډُوډَئ جوړوي او بيايې خوري.نوځکه دلته بِالاِتِّفَاق د وُړُو څخه دهغه ډُوډَئ مراد ده.لِهْذَا که د وَړُو ډُوډَئ وخوړل خو حانِث به شي.او که وَړَه وخوړل نو نَه حانِث کيږي ځکه چي په عام توګه دهغه کَپَه کول مراد نَه وي .
لغت : اِستَفّ : وَړَه(وُړَه) کَپَه کول .
[۲۶۹۵](۵۲) که قَسَم وخواړئ چي د فُلاَنِي سره به خبره نَه کوم بيايې دهغه سره دَاډَوَل خبره وکړه چي هغه يې اَورِي لېکن هغه وِيدَه(بِيدَه)وُ نو حانِث کيږي .
تشريح : دلته دخبري مطلب دئ مُخَاطَب کول که هغه مخامخ څوک واؤري که نَه واؤري.دلته قَسَم اَخَستُونکي ويلي وُ چي دفُلاَنِي سره به خبري نَه کوم يعني هغه نَه مُخَاطَب کوم او فُلاَنَئ يې مخاطب کړئ لِهْذَا حانِث به شي.دا بيا جلا خبره ده چي هغه فُلاَنَئ بِيدَه دئ د بِيدېدو لکبله په هغه خبره پُوه نَه سو .
[۲۶۹۶](۵۳) وَ اِن حَلَفَ اَن لاَيُکَلِّمَهُ اِلاَ بِاِذنِهِ فَاَذِنَ لَهُ وَلَم يَعلَم بِالاِذنِ حَتّٰي کَلَّمَهُ حَنَثَ .

[۲۶۹۶](۵۳) که قسم واخستئ چي دفُلاَنِي سره خبره نَه کوم مګر دهغه په اِجَازَت سره. بيا هغه و ده ته اِجَازَت ورکړئ مګر دئ په اِجَازَت ورکولو خَبَر نَه شو تردې چي ده دهغه سره خبري وکړې نو حانِث ګرزي .
تشريح : قَسَم يې واخستئ چي د فُلاَنِي سره دهغه د اِجَازَت بغيره خبري نَه کوم. هغه فُلاَنِي سړي ده ته د خبرو کولو اِجَازَت ورکړئ مګر قَسَم اَخَستُونکِي ته ددې اِجَازَت ملاؤېدواِطّلاَع نَه وه. په دغه دَورَان کې دده سره خبري وکړې نوحانِث ګرزي .
وجه : دلته د اِجَازَت ورکولو مطلب دادئ چي قَسَم اخستونکي ته د اِجَازَت ورکولو مُکَمّل عِلم حاصل شي چي فُلاَنِي مَا ته اِجازَت کړې دئ.صرف دُومرَه اندازه کِفَايَت نَه کوي چي هغه اِجَازَت ورکړئ وي او ده يعني قَسَم اخستونکي ته دهغه اِجَازَت ملاؤېدو يقيني عِلم نَه وي.دلته خو و قَسَم اخستونکي ته د اِجَازَت ملاؤېدو يقيني عِلم نَه دئ شوئ نوځکه دئ به دخبرو په کولو سره حانِث شي .
فائده : امام ابويوسف ؒ فرمايي چي نَه حانِث کيږي .
وجه : دئ فرمايي چي د اِجَازَت مطلب دادئ چي فُلاَنَئ اجازَت ورکړي. و قَسَم اَخستُونکي ته دهغه عِلم وي که نَه وي.او فُلاَنِي خو د خبرو اِجَازَت ورکړئ نو ځکه دئ به حانِث شي .
اصول : د اِجَازَت په اړه د امام ابوحنيفه ؒ مَسلَک دادئ چي و کوم چاته چې اِجَازَت ورکړئ دئ وهغه ته هم د اِجَازَت ملاؤېدو عِلم حاصل شي. او د امام ابويوسف ؒ په

نېز د اِجَازَت ورکونکي صرف اِجَازَت ورکول کِفَايَت کوي که څه هم ومُخَاطَب ته دهغه خَبَر او اِطّلاَع نه وي .

[۲۶۹۷](۵۴) وَ اِذَا اِستَحلَفَ الوَالِيُ رَجُلاً لِيُعلَمَهُ بِكُلِّ دَاعِرٍ دَخَلَ البَلَدَ فَهُوَ عَلْي حَالِ وِلاَيَتِهِ خَاصّةً [۲۶۹۸](۵۵) وَ مَن حَلَفَ اَن لاَيَرکَبَ دَابّةَ فُلاَنٍ فَرَکِبَ دَابّةَ عَبدِهِ المَاذُونِ لَم يَحنَث .

[۲۶۹۷](۵۴) که وَالِي د يوچا څخه قَسَم واخستئ چي مَا ته د هر هغه شرير خبر راکوه کوم چي بنَار ته دَاخِل شي نو دا قَسَم خاص دهغه حَاکِم تر وِلاَيَت پوري دئ .

تشريح : د يوه بنَار حَاکِم ديوه سړي څخه قَسَم واخستئ چي دې بنَار ته هر شَرَارَتِي اِنسَان داخل شي مَا ته به دهغه خَبَر راکوې نو دا خَبَر ورکول به ددې حَاکِم تر وِلاَيَت پوري مَحدُود وي.چي کوم وخت حَاکِم دخپلي دَندي څخه ليرې شي نو دا حَاکِم اُوس ديوه عام وَګړي په شان دئ.اُوس ده ته دشَرِير په اړه اِطّلاَع ورکول ضروري نَه ده.چي ده ته اِطّلاَع وَرنَه کړي نو قَسَم اخستونکئ نَه حانِث کيږي .

وجه : دلته د حَاکِم قَسَم ورکول دده د صِفَتِ حَاکِمِيّت سره خاص دئ.ځکه چي دئ حَاکِم وي نو بيا و شَرِير ته سزاء ورکولائي شي او چي حَاکِم نَه وي نو بيا و شَرِير ته سزاء نَه شي ورکولائي.نوځکه دا قَسَم به د صِفَتِ حَاکِمِيّت سره خاص وي .

لغت : دَاعِرٌ : شرير. فَسَادِي .

[۲۶۹۸](۵۵) يوچا قَسَم واخستئ چي د فُلاَنِي پر سُوَارلَئ به سُپُور نَه شي.بيا دهغه اِجَازَت ورکړي غُلاَم پر سُوارلَئ باندي سُپُور شو نو نَه حانِث کيږي .

وجه : و کوم غُلاَم ته چې د تِجَارَت اجازت ورکړئ دئ دهغه سُوَارلَئ د آقَا سُوَارلَئ ده که نَه ده ددې قَسَم دارومدار پر دغه باندي دئ.اُوس امام ابوحنيفه فرمايي چي په مُحَاوَرَه کي و دې ته د آقَا سُوارلَئ نَه ويل کيږي بلکه دهغه غُلاَم سُوَارلَئ ورته ويل کيږي کوم چي د تِجَارَت اجازت ورته ملاؤسوئ دئ نوځکه چي پر دغه سُوَارلَئ باندي سُپُور شي نو نَه حانِث کيږي .

فائده : صاحبين فرمايي دغه سُوَارلَئ حقيقةً کي دآقَاسُوَارلَئ ده.ځکه چي غُلاَم په خپله

[۲۶۹۹](۵۶) وَمَن حَلَفَ اَن لاَ يَدخُلَ هٰذِهِ الدّارَ فَوَقَفَ عَلْي سَطحِهَا اَو دَخَلَ دِهلِيزَهَا حَنَثَ وَ اِن وَقَفَ فِي طَاقِ البَابِ بِحَيثُ اِذَا اُغلِقَ البَابُ کَانَ خَارِجًا لَم يَحنَث [۲۷۰۰](۵۷) وَ مَن حَلَفَ اَن لاَيَأ کُلَ الشّوّاءَ فَهُوَ عَلْي اللّحمِ دُونَ البَاذَنجَانِ وَ الجَزرِ .

د آقَا دئ نو ګواکه دئ د آقَا پر سُوَارلَئ باندي سُپُور شوئ دئ لِهٰذَا نَه حانِث کيږي .

[٢٦٩٩](٥٦) يوچا قَسَم واخستئ چي دې کُور ته به دَاخِل نه شي بيا دهغه پر چَت وَدَربِدَئ يا دهغه چَوکَاټ ته دَاخِل شونو حانِث ګرزي.او که د دَروَازې په مِحرَاب کي ودربِدئ په دا دَوَل چي که دَروَازَه بنده کړل شي نو دئ د بَاندِي پاته شي نو بيا دئ نَه حانِث کيږي .

وجه : چَت په کُور کي دَنَنَه شمار دئ په دغه وجه خو که چيري مُعتَکِف د مسجد پر سَر(چَت)وخيژي نو اِعتِکَاف يې نَه فاسديږي ځکه چي چَت په مسجِدکي دَاخِل دئ.دغه نګه د کمرې(کُوټې)چي کوم صِحن دئ چي(په هندوستان صوبه) جهارکنډ کي اسارا ورته وايي دا په کمره او کُور کي دَاخِل دئ نوځکه که قَسَم اخستونکئ پر چَت وَدَربِدَئ يا دِهلِيز(چوکاټ)کي داخِل شو نو حانِث کيږي.ځکه چي دئ ګواکه کُور ته داخِل شوئ دئ .

مِحرَاب جوړشوئ وُ دهغه په مينځ کي دَروَازَه دا دَوَل جوړه شوې وه چي که بِالفَرض دروازه بَند کړل شي نو د مِحرَاب حِصّه د کُور څخه دَبَاندِي پاته شي.که چيري په دا دَوَل محراب کي وَردَاخِل شو نو نَه حانث کيږي.ځکه چي دئ کُور ته نَه دئ داخِل شوئ بلکه د کُور څخه دَبَاندِي پاته دئ.ځکه چي دَروَازَه بند کړي نو مِحرَاب دکُور څخه دَبَاندِي وُ .

لغت : دِهلِيز : د کمرې صِحن. طَاقٌ : مِحرَاب .

[٢٧٠٠](٥٧) يوچا قَسَم واخستئ چي کباب شوئ به نَه خوري نو دا به د غُوَښې پر کباب باندي حَمَل وي پر بَانجَنِ او زَړدَګه نَه دئ حَمَل .

[٢٧٠١](٥٨) وَمَن حَلَفَ اَن لاَيَأ كُلَ الطبّيخُ فَهُوَ عَلْي مَا يُطبَخُ مِنَ اللّحمِ [٢٧٠٢](٥٩) وَمَن حَلَفَ اَن لاَيَأ كُلَ الرّؤسَ فَيَمِينُهُ عَلْي مَا يُكبَسُ فِي التّنَانِيرِ وَيُبَاعُ فِي المِصرِ .

تشريح : په عَرَبُ کي چي د شَوّاء يعني کَبَاب(بُريَان)لفظ وويل شي نو کباب شوې غُوَښَه ځيني مراد وي.کباب شوي بَانجَنِ يا کباب شوي ګاجري(زَړدَکِي) مراد نَه وي.نوځکه د بُريَان شوو غُوَښُو په خوړلو سره به حانِث شي.د بُريَان شوو بَانجَنُو يا بُريَان شوو زَړدَکُ په خوړلو سره نَه حانِث کيږي.که څَه هم بُريَان شوي بَانجَنِ يا بُريَان شوي زَړدَکِي هم کباب دئ لېکن عَرَب و دي ته شَوّاء نَه وايي .

لغت : اَلشّوّاءُ : بُريَان شوئ.کباب شوئ. اَلجَزرُ : زَړدَکِي. ګاجري .

[٢٧٠١](٥٨) که قسم واخستئ چي پُوخ شوئ به نَه خوري نو دا پر پَخَه شوې غُوَښَه باندي حَمَل دئ .

تشريح : طَبِيخٌ و هر پَخ شوي شِي ته ويل کيږي.لېکن عَرَب وپَخَه غُوَښَه ته طِبّيخ وايي نوځکه دبَخشَوِي غُوَښې په خوړلو سره به حانِث شي.که د بَل پَخ شوي شِي سَالَن وخوري نو نَه حانِث کيږي .

لغت : اَلطّبّيخُ : د طَبخٌ څخه مُشتَق دئ پَخشوې غُوَښَه .

[۲۷۰۲](۵۹) يوچا قَسَم واخستئ چي سَر به نَه خُورِي نو دا قَسَم به پر هغه وي کوم چي په تَنُور کي پُوخشوئ وي او په بَازَار کي خرڅيږي .
تشريح : کوم حيوانان چي خُوَرَل کيږي دهغو ټولو و سَرُو ته سَر وايي.لېکن دلته به قَسَم پر هغه سَر باندي محمول وي چي په تَنُور کي پَخِيږي او په بنَار کي خرڅيږي. مثلاً غُوَا او د بُوزې سَر. د چرګِي او د يَلَئ سَر مراد نَه دئ ځکه چي دا نَه په بنَار کي خرڅيږي او نَه په تَنُور کي پخيږي.نوځکه د غُوَا او بُوزې سَر چي وخوري بيا حانِث کيږي .
[۲۷۰۳](۶۰) وَمَن حَلَفَ اَن لاَيَأ كُلَ الخُبزَ فَيَمِينُهُ عَلْي مَايَعتَادُ اَهلُ البَلَدِ اَكلُهُ خُبزاً [۲۷۰۴](۶۱) فَاِن اَكَلَ خُبزَ القَطَائِفِ اَو خُبزَ الأُرُزِّ بِالعِرَاقِ لَم يَحنَث .

اصول : ددې قَسَمُونُو دارومدار پر مُحَاوَرَاتُ دئ.په محاوره کي به کتل کيږي چي ددې لفظو څخه مُرَاد څِش دئ؟ که څَه هم ددې معنْي عام وي .
لغت : گَبَسٌ : په تَنُور کي اَچَوَل .
[۲۷۰۳](۶۰) يوچاقَسَم واخستئ چي ډُوډَئ به نَه خوري نو دده قَسَم به پر هغه شِي وي کوم چي دبنَار دخلګو دهغه شِي د ډُوډَئ خوړلو عادت وي .
تشريح : قَسَم يې واخستئ چي ډُوډَئ به نَه خوري نو دا به کتل کيږي چي ددې علاقې خلګ د کوم شِي د وَړُو څخه ډُوډَئ جوړوي او خوري يې.د غَنَمُو يا د وُرُجُو يا د جُوَارَيُو يا د وُربُشُو چي دهغه ډُوډَئ وخوري نو بيا به حانِث کيږي.اُوس که چيري په دې بنَار کي د غَنَمُو ډُوډَئ خوړل کېده او ده د وُربُشُو ډُوډَئ وخوړه نو نَه حانِث کيږي .
[۲۷۰۴](۶۱) که چيري د بَادَام ډُوډَئ وخوړل يا يې د وُرُجُو ډُوډَئ وخوړل په عِرَاق کي نو نَه حانِث کيږي .
وجه : د بَادَام ډُوډَئ خو بِالکُل نَه خوړل کيږي نو ځکه هغه خو نَه شي مرادېدلائي. دغه رنګه په عِرَاق کي خلګو د وُرُجُو ډُوډَئ نَه خوړله نوځکه هغه هم نَه شي مرادېدلائي بلکه د غَنَمُو ډُوډَئ به مراد وي اودهغې په خوړلوبه حانِث کيږي .
اصول : دا مسئله هم پر محاورات او عادات باندي محمول ده .
لغت : اَلقَطَائِفُ : د بادام په شَکل يو شَئ وي چي کله نا کله دهغه څخه ډُوډَئ جوړوي. اَلأُرُزّ : وُرَجِي .

[۲۷۰۵](۶۲) وَمَن حَلَفَ اَن لاَيَبِيعَ اَو لاَيَشتَرِي اَو لاَيُوَاجِرَ فَوَكَّلَ مَن فَعَلَ ذَالِکَ لَم يَحنَث [۲۷۰۶](۶۳) وَمَن حَلَفَ اَن لاَيَجلِسَ عَلَي الاَرضِ فَجَلَسَ عَلَي بَسَاطٍ اَو عَلَي حَصِيرٍ لَم يَحنَث .

[۲۷۰۵](۶۲) يوچا قَسَم واخستئ چي نَه به خرڅوي يا به نَه رَانِيسِي يا به په اُجرَت نَه وركوي.بيايي ځوک وَکِيل کړئ چي دا کارونه وکړي نو نَه حانِث کيږي .
تشريح : په خرڅولو.رَانِيوُلُو او اُجرَت وركولو کي ټوله ذِمّه دَارِي پر وَکِيل وي. هغه عَاقِد وي او خلک هغه خرڅونکئ.رَانِيوُنکئ او په اُجرَت وركونکئ ګڼي.په دغه وجه که چيري چا قَسَم واخستئ چي نَه به خرڅوم نَه به رَانِيسَم او نَه به په اُجرَت وركوم.او دا کارونه يې و وَکِيل ته سُپُرد کړل او وَکِيل وکړل نو قَسَم اخستونکئ نَه حانِث کيږي.ځکه چي ده وَاقِعَةً نَه خرڅ کړئ دئ او نَه يې په اُجرَت وركړئ دئ .
پام لرنه : په نِکاح کولو کي حانِث کيږي.ځکه چي په نکاح کي وَکِيل صرف مُعَبِّر او سَفِير وي.دده کار او دده عَقد ومُؤکِّل ته رَاجِع وي لِهْذَا که قَسَم واخستئ چي نِکَاح نَه کوم او وَکِيل دده نِکَاح وروکړه نو حانِث ګرزي .
لغت : يُوَاجِرُ : د اُجرَت څخه مُشتَق دئ په اُجرَت يعني مَزدُوري شَئ وركول .
[۲۷۰۶](۶۳) يوچا قَسَم واخستئ چي پر مځکه به نَه کښيِنِي بيا پر بِستَرَه يا چټَايِي باندي کښيِنَستَئ نو نَه حانِث کيږي .
وجه : خلک پيښُور او ذِلّت محسوسوي چي پر خَالِي مځکه کښيني نوځکه دده د قَسَم مطلب دادئ چي پر خَالِي مځکه نَه کښيِنم.نوکه چيري پر مځکه بِستَرَه يا چټَايِي واچوله او بيا پر هغه کښيِنَستَئ نو دئ پر خپل قَسَم باندي قائم پاته دئ لِهْذَا نَه حانِث کيږي .
لغت : بَسَاطٌ : بِستَرَه. حَصِيرٌ : چټَايِي .

[۲۷۰۷] (۶۴) وَمَن حَلَفَ اَن لاَيَجلِسَ عَلَي سَرِيرٍ فَجَلَسَ عَلَي سَرِيرٍ فَوقَهُ بَسَاطٌ حَنَثَ [۲۷۰۸](۶۵) وَ اِن جَعَلَ فَوقَهُ سَرِيرٌ آخَرَ فَجَلَسَ عَلَيهِ لَم يَحنَث [۲۷۰۹](۶۶) وَ اِن حَلَفَ اَن لاَيَنَامَ عَلَي فِرَاشٍ فَنَامَ عَلَيهِ وَفَوقَهُ قِرَامٌ حَنَثَ وَ اِن جَعَلَ فَوقَهُ فِرَاشًا آخَرَ فَنَامَ عَلَيهِ لَم يَحنَث .

[۲۷۰۷](۶۴) يوچا قَسَم واخستئ چي پر تَخت به نَه کښيِنِي بيا پر دَاوَل تَخت کښيِنَستَئ چي پر هغه بِستَرَه اَوَارَه وه نو حانِث ګرزي .

تشريح : چي پر تَخت بِستَرَه يا دَرَئ وغيره اَوَارَه وي پر هغه کښېنَستَل هم خلک د تَخت ناسته ګڼي.ځکه چي بِستَره د تَخت تَابِع وي لِهْذَا که قَسَم واخستئ چي پر تَخت به نَه کښېنِي بيا يې پر تَخت بِستَرَه اَوَارَه کړه پر کښېنَستَئ نو حانِث ګزري .
اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي د اَصل تابِع وي هغه اِعتِبَار نَه لري .
لغت : سَرِيرٌ : تَخت. چارپايي. ګټ .
[۲۷۰۸](۶۵) که پر تَخت بَل تخت کښېښوئ او پر هغه کښېښتئ نَه حانِث کيږي .
وجه : بَل تخت هم د اَوّل تخت په شَان اَصل دئ او قَسَم يې اخستئ وُ چي پر اَوّل تخت نَه کښېنَم او دئ اُوس پر بَل تخت کښېښتئ لِهْذَا نَه حانِث کيږي .
اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي کله دواړه اَصل وي نو يَو دهغه بَل تابِع نَه ګرزي .
[۲۷۰۹](۶۶) که قَسَم واخستئ چي پر بِستَرَه نَه پرېوزم بيا پر بِستَرَه پرېوَاتَئ په داسي حال کي چي پر هغه بِستَرَه پَتُو اَوَار وُ نو حانِث ګرزي.او که پر هغه باندي بَلَه بِستَرَه اَوَارَه کړه بيا پر هغه پرېواتئ نو نَه حانِث کيږي .
تشريح : قَسَم يې اخستئ وُ چي پر بِستَرَه به نَه پرېوزي بيايې پر هغه نَرَئ پَتُو واچاوئ او پر هغه بِستَرَه پرېواتئ نو حانِث کيږي .
[۲۷۱۰](۶۷) وَ مَن حَلَفَ بِيَمِينٍ وَ قَالَ اِنشَاءَ اللهُ مُتّصِلاً بِيَمِينِهِ فَلاَحِنثَ عَلَيهِ .

وجه : پر بِستَرَه دخوبصورتئ او بنَايَست لپاره نَرم پَتُو اَچَوَل کيږي چي د بِستَرې تابع وي او په مُحَاوَرَه کي دا پر هغه بِستَرَه بِيدِبدَل ګڼي لِهْذَا چي پر دغه بِستَرَه باندي پرېوزي کوم چې قَسَم اخستئ دئ نو حانِث ګرزي .
او که بَلَه بِستَرَه پر هغه باندي لُوَړَه واچول نو دا بِستَرَه دهغه بَلِي بِستَرې تابع نَه ګرزي ځکه چي دا هم د هغه اَوّلَنئ په شان اَصل بِستَرَه ده لِهْذَا چي پر دغه بِستَرَه کښيني نو دا پر هغه اَوّلَه بِستَرَه ناسته نَه ګڼل کيږي نوځکه حانِث ګرزي. اُصُول مخته تېرشوئ دئ .
لغت : فِرَاشٌ : بِستَرَه . قِرَامٌ : نَرَم پَتُو .

﴿...د اِستِثنَاءبيان...﴾

[۲۷۱۰](۶۷) يوچا قَسَم واخستئ او دقَسَم سره سَم دَستِي اِنشَاءَ الله ووايئ نو نَه حانِث کيږي .
تشريح : چي دقَسَم اخستلو سره سَم دَستِي يعني فَوراً اِنشَاءالله ووايي نو ددې مطلب داسو چي که د خدائ خُوَښَه سي نو دا کار کوم او د الله خُوَښَه نَه ده معلوم نوځکه دا قَسَم هم نَه مُنعَقَدکيږي.او چي قَسَم نَه شو مُنعَقَد نو که دغه کار وکړي که نَه وکړي دکَفّارې ورکولو هيڅ ضرورت نشته .

وجه : په حديث کي ددې ثبوت شته. عَن اِبنِ عُمَرَ يَبلُغُ بِهِ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ مَن حَلَفَ عَلٰي يَمِينٍ فَقَالَ اِنشَاءَاللهُ فَقَد اِستَثنٰي. او په يوه بَل رِوَايَت کي دئ. عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مَن حَلَفَ فَاستَثنٰي فَاِن شَاءَ رَجَعَ وَاِن شَاءَ تَرَکَ غَيرَ حَنثٍ (الف)

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل يوچاڼسَم واخستئ او اِنشَاءالله يې وويل نو اِستِثنَاء يې وکړه.په بَل روايت کي دئ حضور (ﷺ) وفرمايل څوک چې قَسَم واخلي او فَوراً اِنشَاءالله ووايي نوکه خُوښَه سي رُجُوع دي وکړي او که خُوښَه سي پرې دې اِردِي خو بيا هم نَه حانِث کيږي .

[۲۷۱۱](۶۸) وَ اِن حَلَفَ لَيَأتِيَنّهُ اِن اِستَطَاعَ فَهٰذَا عَلٰي اِستِطَاعَةِ الصِّحّةِ دُونَ القُدرَةِ .

(ابوداؤدشريف.باب الاستثناء في اليمين ص۱۰۸نمبر۳۲۶۱/ ۳۲۶۲/ترمذي شريف.باب ماجاء في الاستثناء في اليمين ص۲۸۰نمبر۱۵۳۱) ددې حديث خه معلوم شوچې که د قَسَم سره مُتّصِلاً اِنشَاء الله ووايي نو نَه حانِث کيږي يعني که هغه کار وَنَه کړي نو هم کوم حرج نشته .

پام لرنه : (۱) که خَه لږ وخت وروسته اِنشَاء الله ووايي نو قَسَم خو به اَوّل مُنعَقَد شوئ وي او وروسته اِنشَاء الله ووايي ګواکه هغه مُنعَقَدشوئ قَسَم ببرته مَاتَوي نوځکه دغه مُنفَصِل اِنشَاء الله کوم اِعتِبَار نَه لري.قَسَم به مُنعَقَد شي (۲) په اَثَرکي دئ. عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَ قَالَ کُلّ اِستِثنَاءٍ مَوصُولٍ فَلاَ حِنثَ عَلٰي صَاحِبِهِ وَاِن کَانَ غَيرَ مَوصُولٍ فَهُوَ حَانِثٌ (الف) (سنن للبيهقي.باب صلة الاستثناء باليمين ج۱۰ص۸۱ نمبر۱۹۹۲۶) په دې اَثَرکي دئ چې که مُتّصِل وُ نو نَه حانِث کيږي او که مُنفَصِل وي نو قَسَم مُنعَقَدکيږي .

[۲۷۱۱](۶۸) که قَسَم واخستئ چې ضرور به کوي که چيري وَس وچلېدئ نو دا د صِحّت پر اِستِطَاعَت باندي محمول دئ د قُدرَت پر اِستِطَاعَت باندي حمل نَه دئ .

تشريح : د اِستِطَاعَت دوه قِسمُونَه دي. يو د صِحّت اِستِطَاعَت او دُوَم د قُدرَت اِستِطَاعَت. د صِحّت اِستِطَاعَت دادئ چې سړئ جوړ وي او د بَاچَا يا دبَل چا لخوا کوم رُکَاوَټ نَه وي ودې ته اِستِطَاعَت صِحّت وايي. او د قُدرَت اِستِطَاعَت. دهغه مطلب دادئ چې هر ډَوَل حالات صحيح وي.بَدَن يې هم جُوړجَاړ وي.او دغه کار اَنجَام ته د رسولو څخه مخکي کوم ډَوَل حالات چې دي هغه ټوله په بَشپَړه توګه صحيح شوي وي او کار کول پېل کړي چې په نتيجه کې الله تعالٰي هغه کار ته

حاشيه:(الف) هره اِستِثنَاءچې مُتّصِلَ وي دهغه پرکونکي حَانِث کيدل نشته.اوکه مُتّصِل نَه وي نوحانِث ګرزي .

[۲۷۱۲](۶۹) وَ اِن حَلَفَ اَن لاَيُکَلِّمَ فُلاَنًا حِينًا اَو زَمَانًا اَوِالحِينَ اَوِ الزّمَانَ فَهُوَ عَلٰي سِتّةِ اَشهُرٍ .

وُجُود ورکړي دې ته اِستِطَاعَتِ قُدرَت وايي. اُوس په قَسَم کي که چيري څوک ووايي که اِستِطَاعَت وُ نو دا کار کوم نو ددې اِستِطَاعَت څخه هغه اَوّل اِستِطَاعَت يعني

اِستِطَاعَتِ صِحّت او د جُورِتِيَا اِستِطَاعَت مراد دئ اِستِطَاعَتِ قُدرَت نَه دئ ځيني مراد.لِهْذَا كه جُورِ وي او هغه كار وَنَه كړي نو حانِث ګرزي .

وجه : په آيت كي ودې ته اِشَارَه شوې ده.وَسَيَحلِفُونَ بِاللهِ لَواِستَطَعنَا لَخَرَجنَا مَعَكُم يُهلِكُونَ اَنفُسَهُم وَاللهُ يَعلَمُ اِنّهُم لَكَاذِبُونَ (الف) (آيت۴۲سورة التوبة ۹) په دې آيت كي مُنَافِقَان وايي چي كه اِستِطَاعَت موجود وائ نو موږ به ضرور جِهَاد ته وَتَلې وائ.حالانكه دُوئي بَدَنِي لحاظ سره جوړ وُ او د حكومت لخوا هم كوم رُكَاوَټ موجود نَه وُ بيا هم د قَسَم اخستلو باوجود وَنَه وَتَل نو الله تعالٰي دُوئي دُرُوغجَن كړل.ددې څخه معلوم شو چي د دُوئي سره د صِحّت اِستِطَاعَت موجود وُ او په قَسَم كي د اِستِطَاعَت څخه دغه مراد دئ.د قُدرَت والا اِستِطَاعَت مراد نَه دئ.

[۲۷۱۲](۶۹) كه قَسَم واخستئ چي د فُلاَنِي سره به تر يَو حِين يا زَمَانَه خبرى وَنَه كړي يا اَلحِين يا اَلزّمَان پوري خبري وَنَه كړي نو دا به پر شُپَږ مياشتي محمول وي .

تشريح : حِين او زَمَان نَكِرَه يا اَلحِين او اَلزّمَان مَعرِفَه د څلورو واړو اِطلاَق پر شُپَږ مياشتي كيږي.لِهْذَا كه يوچا قَسَم واخستئ چي د زَيد سره به تر يَوَه حِين پوري خبري نَه كوي نو كه په شُپَږ مياشتو كي دَنَنَه خبري وكړې حانِث كيږي.كه ددې څخه وروسته خبري وكړې نَه حانِث كيږي .

وجه : په اَثَركي دئ. سُمِعَ عَلِيًّا قَالَ اَلحِينُ سِتّةَ اَشهُرٍ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاء

حاشيه : (الف) منافقين به دخدائ قَسَم اَخلِي چي كه موږ طاقَت درلودائ نوموږ به ستاسو سره وَتَلِي وائ. دُوئي خپل ځانونه هَلاَک كوي او الله ته معلوم دئ چي منافقين دُروَاغ وايي (ب) حضرت علي وفرمايل چي حِينٌ شُپَږ مياشتي وي .

[۲۷۱۳](۷۰) وَكَذَالِكَ الدّهرُ عِندَ اَبِي يُوسُفَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰي [۲۷۱۴](۷۱) وَ لَو حَلَفَ اَن لاَيُكَلِّمَهُ اَيّامًا فَهُوَ عَلٰي ثَلٰثَةَ اَيّامٍ .

فيمن حلف ليقضِيَنّ حقّه الٰي حينٍ او الٰي زمانٍ الخ ج۱۰ص۱۰۵نمبر۲۰۰۱۶/مصنّف ابن ابي شيبة ۵۸ الرّجل يحلف ان لايكلّم الرّجل حينًا كَم يكون ذالک ج۳ص۱۰۰نمبر۱۲۴۶۹) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي حِين وسُپَږ مياشتو ته وايي كه مَعرِفَه وي كه نَكِرَه وي؟ قياس پر دغه د زَمَانٌ ترجمه به هم په شُپَږ مياشتو سره وي. په دې آيت كي دشُپَږ مياشتو اِشَارَه موجود ده. تُؤتِي اُكُلَهَا كُلّ حِينٍ بِاِذنِ رَبّهَا (آيت۲۵سورة ابراهيم۱۴) په دې آيت كي د كُلّ حِينٍ څخه د كُلاَنُ د وخت څخه ونيسي بيا د مِبوې تر پخېدو پوري مُدّه او وخت مراد دئ چي د خُورمَا لپاره شُپَږ مياشتي دئ .

پام لرنه : ددې څخه علاوه نور اَقوَال هم راغلي دي .

[۲۷۱۳](۷۰) دغه رنګه دَهرٌ لفظ د امام ابويوسف او امام محمّدپه نېز .

تشريح : صاحبين فرمايي كه قَسَم واخستئ چي يَو دَهر به د فُلاَنِي سره خبري نَه كوم نو ددې اِطلاَق پر شُپَږ مياشتي دئ.كه د دَهرٌ لفظ نِكَرَه ووايي او كه مَعرِفَه .

وجه : په مُحَاوَرَه کي دَهرٌ لفظ د حِينٌ او زَمَانٌ په شان اِستِعمَالِيږي او دحِينٌ ترجمه شُپَږ مياشتي ده نو د دَهرٌ ترجمه به هم شُپَږ مياشتي وي .
فائده : امام ابوحنيفه فرمايي چي د دَهرٌ يوه مُتَعَيّن معنْي نشته.نوځکه زَه تَوَقّف کوم نَه شُپَږمياشتي نَه تر دې لَږ .
[۲۷۱۴](۷۱) که قَسَم واخستئ چي دده سره به خبري نَه کوم خَّه وُرَځِي نو دا به پر دې وُرَځِي حَمَل وي .
تشريح : اَيّامٌ د يَومٌ جمع ده.او په عربي ژبه کي د جَمعِ اطلاق لَر تر لَږ پر دې باندي کيږي نوځکه که قَسَم واخستئ چي اَيّامٌ به خبري نَه کوي نو ددې مطلب دادئ چي

[۲۷۱۵](۷۲) وَ لَو حَلَف اَن لاَيُکَلِّمَهُ الاَيّامَ فَهُوَ عَلْي عَشرَةِ اَيّامٍ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي هُوَ عَلْي اَيّامِ الأُسبُوعِ [۲۷۱۶](۷۳) وَ لَو حَلَفَ اَن لاَيُکَلِّمَهُ الشّهُورَ فَهُوَ عَلْي عَشرَةِ اَشهُرٍ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي هُوَعَلْي اِثنَي عَشَرَ شَهراً .

تر درو وُرَځو پوري خبري نَه کوي.ددې وروسته که خبري وکړې نو نَه حانِث کيږي.دا تفصيل د اَيّامٌ د نَکِرَه په صورت کي دئ .
[۲۷۱۵](۷۲) که قَسَم واخستئ چي دده سره تر اَلاَيّامُ خبري نَه کوي نو د امام ابوحنيفه په نېز به دا پر لَس وُرَځِي حَمَل وي او صاحبينُ فرمايلي دي چي د هَفتې پر وُرَځو حمل دئ .
تشريح : اَلاَيّامُ معرفه ده نوځکه يوه مخصوص ورځ مراد ده.اُوس امام ابوحنيفه فرمايي چي په حساب کي د اَيّامٌ لفظ تر لَس پوري استعماليږي.خلګ دَاوَل وايي ثَلْثَةَ اَيّامٍ.اَربَعَةَ اَيّامٍ بيا تر عَشرَةَ اَيّامٍ پوري او د يَوُلَس وروسته د اَيّامٌ پر ځائ يَومٌ لفظ استعماليږي.ويل کيږي اَحَدَعَشَرَيَومًا.نو تر لَس پوري اَيّامٌ استعماليږي لِهْذَا که د عَدَد بغيره اَلاَيّامُ لفظ ووايئ نو تر لَس پوري مراد اَخلِي .
صاحبين فرمايي چي دهَفتې اُوَه ورځي مراد دي ځکه چي تر اُوَه ورځي پوري دجُمعې.هَفتې حِسَاب روان وي او اَتَمَه ورځ دوباره بيا جُمَعه راګرزي او د خلګو ذِهن هم دغه ته رَوَان دئ نوځکه دهَفتې اُوَه ورځي مراد دي .
[۲۷۱۶](۷۳) که قَسَم واخستئ چي دده سره به په مياشتو خبري نَه کوي نو د امام ابوحنيفه په نېز پر لَس مياشتي حَمَل دئ.او امام ابويوسف او امام محمّد وفرمايل هغه پر دُوُلَس مياشتي حَمَل دئ .

[٢٧١٧](٧٤) وَلَو حَلَفَ لاَيَفعَلُ كَذَا تَرَكَهُ اَبَداً [٢٧١٨](٧٥) وَاِن حَلَفَ لَيَفعَلَنّ كَذَا فَفَعَلَهُ مَرّةً وَاحِدَةً بَرّ فِي يَمِينِهِ .

تشريح : مثلاً يوچا د شَهر(مياشتي)لپاره دجمع لفظ استعمال کړئ او قَسَم يې واخستئ چي د زَيدسره به په مياشتو خبري نَه کوي نو د امام ابوحنيفه په نېز ددې مطلب دادئ چي تر لَس مياشتو پوري به خبري نَه کوي.که ددې څخه مخکي خبري وکړي نو حانِث ګرزي که ددې څخه وروسته خبري وکړي نو نَه حانِث کيږي .
وجه : د تيري شوي مسئلې په شان يې دلته هم شُهُورٌ دجمع صيغه استعمال کړې ده چي په حِسَاب او شمېره کي تر لَس پوري استعماليږي او د يَوُلَس وروسته بيا اَحَدَعَشَرَ شَهراً استعماليږي لِهْذَا شُهُورٌ چي دجمع لفظ يې استعمال کړئ دئ نو لَس مياشتي ځيني مُرَاد دي .
فائده : دصاحبينُ په نېز د ګال دُوُلَس مياشتي ځيني مراد دي .
وجه : خلګ و دغه ته شُهُورٌ وايي او د کَال وروسته دُوبَارَه بيا هغه مياشتي مُحَرّم. صَفَر.رَبِيعُ الاَوّل الخ شروع کيږي.نوځکه د شُهُورٌ څخه دګال دُوُلَس مياشتي مراد دي .
[٢٧١٧](٧٤) که قَسَم وکړئ چي دَادِوَل به نَه کوي نو دهمېش لپاره دې پرېږدي .
تشريح : چي دا قَسَم يې واخستئ چي دا کار به نَه کوي نو ددې مطلب دادئ چي هېڅ کله به نَه کوي لِهْذَا د همېش لپاره به هغه کار پرېږدي .
وجه : ځکه چي وَخت يې نَه دئ معلوم کړئ لِهْذَا د همېشه لپاره به منع وي.په ژُوَند کي که چيري يَو وار هم دغه کار وکړئ نو حانِث ګرزي .
[٢٧١٨](٧٥) که قَسَم واخستئ چي دَادِوَل به ضرور کوي بيايې هغه يَو وار وکړئ نو په خپل قَسَم کي به بَرِي شي .
تشريح : قَسَم يې واخستئ چي دا کار به ضرور کوي نو که چيري په ټوله ژُوَند کي يَو وار وکړئ نو قَسَم به پوره شي .
وجه : (١) په آيت کي دئ چي هر اِنسَان به جَهَنّم ته ضرور ځي که څه هم صرف د لِيدَلُو لپاره وي.آيت دادئ. وَاِن مِّنكُم اِلاّ وَارِدُهَا كَانَ عَلْي رَبِّکَ حَتمًا مَقضِيًّا (الف) (آيت٧١سورة مريم١٩) په دې آيت کي دئ چي هر اِنسَان به ضرور جَهَنّم ته ځِي.او په حديث کي دئ چي د کوم چاچي درې اَولاَدُونَه مړه شوي وي هغه به د تَحِلّةُ القَسَم يعني صرف د قَسَم د پوره کولو لپاره دلَږ څه وخت لپاره جَهَنّم ته ځي.ددې څخه معلوم شو چي که په ژُوَند کي صرف يو وار هغه کار وکړي نو قَسَم به پوره شي. عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ لاَيَمُوتُ لاَحَدٍمّنَ المُسلِمِينَ ثَلاَثَةٌ مِّنَ الوَلَدِ تَمَسّهُ النّارُ اِلاّ تَحِلّةَ القَسَمِ (ب) (بخاري شريف.باب قول الله تعالٰي واقسموا بالله جَهدَ اَيمَانِهِم ص نمبر٦٦٥٦) په دې حديث کي دئ چي د لَږ وخت لپاره د آيت د قَسَم د پوره کولو په خَاطِر به په جَهَنّم کي

داخلوي.ددې څخه معلوم شوچي که يَو وار وکړئ نو قَسَم يې پوره شو (۲) د يوه وُړد حديث يوه ټکړه ده په هغه کي دئ چي زَه کوم خبر ورکوم هغه کار کوم او لَږ تر لَږَه يو وار هغه کار کوم او دهغه په کولو سره قَسَم پوره کوم. كُنّا عِندَ اَبِي مُوسْي ... اِنّي وَاللهِ اِن شَاءَ اللهُ لاَاَحلِفُ عَلْي يَمِينٍ فَاَرْي غَيرَهَا خَيراً مِّنهَا اِلاّ اَتَيتُ الّذِي هُوَ خَيرٌ وَتَحَلّلْتُهَا (ج) (بخاري شريف.باب الكفّارة قبل الحِنث وبعده ص۹۹۴نمبر۶۷۲۱/مسلم شريف.باب ندب من حلف يمينًافرْي غيرهاخيراًمنهاص۴۶ نمبر۱۶۴۹/ ۴۲۶۵) په دې حديث کي دئ ,,تَحَلّلْتُهَا,, ددې مطلب دادئ چي لَږ تر لَږَه يو وار هغه کار کوم او قَسَم پوره کوم .

حاشيه : (الف) دتاسوڅخه به هريَو جهنّم ته راځي ستا د رَب يقيني فيصله شوي ده (ب) حضور(ﷺ) وفرمايل د يوه مسلمان دري بَچَان نَه وي مړه مګر وُور به هغه د قَسَم د پوره کولو لپاره مَس کوي (ج) زَه انشاء الله قَسَم اَخلَم بيا دهغه څخه علاوه بَنَه ګڼم نو هغه ګَوَم کُوم چي خَير وي او دکّفّارې په ورکولو سره هغه حلال ګرزوم يا يو وار هغه کوم .

[۲۷۱۹](۷۶) وَمَن حَلَفَ لاَتَخرُجُ اِمرَأ تُهُ اِلاّ بِاِذنِهِ فَاَذِنَ لَهَا مَرّةً وَاحِدَةً فَخَرَجَت وَرَجَعَت ثُمّ خَرَجَت مَرّةً اُخرْي بِغَيرِ اِذنِهِ حَنَثَ وَلاَ بُدّ مِنَ الاِذنِ فِي كُلّ خُرُوجٍ [۲۷۲۰](۷۷) وَ اِن قَالَ اِلاّ اَن آذَنَ لَكِ فَاَذِنَ لَهَا مَرّةً وَاحِدَةً فَخَرَجَت ثُمّ خَرَجَت بَعدَهَا بِغَيرِ اِذنِهِ لَم يَحنَث .

[۲۷۱۹](۷۶) يوچاقَسَم واخستئ چي دده مَينَه به نَه وُزِي مګر دده په اِجَازَت سره بيايې هغې ته يَو وار اِجَازَت ورکړئ.هغه وَوَتَه او بېرته راغله.بيا دُوَم وار دده د اِجَازَت بغيره وَوَتَه نو حَانِث ګرزي.او په هر وار وَتَلُو کي اِجَازَت ضرروي دئ .

تشريح : قَسَم اخستونکي دا وويل چي نَه به وُزِي مګر په اِجَازَت سره نو ددې مطلب داسوچي د هر وَار وَتَلُو لپاره به اِجَازَت اَخلِي.او دلته اَوّل وار اجازت اخستئ دئ نو ځکه په هغه وَتَلُو سره خو دئ حانث نَه ګرزي لېکن د دُوَم وار وَتَلُو لپاره اِجَازَت نَه دئ اَخستَئ نوځکه دُوَم به حَانِث شي .

اصول : په لاَتَخرُجُ اِمرَأتَهُ اِلاّ بِاِذنِهِ کي د نَفِي وروسته اِستِثنَاء راغلې ده نو ځکه د هر وَار وَتَلُو لپاره اِجَازَت ضروري دئ .

[۲۷۲۰](۷۷) او که چيري وويل مګر چي زَه اِجَازَت درکړم.بيايې هغې ته يَو وار اِجَازَت ورکړئ دا وَوَتَلَه دهغه وروسته بيا وَوَتَلَه دده د اِجَازَت بغيره نو نَه حَانِث کيږي .

وجه : په دې صورت کي ددې جُملې ,,مګر چي زَه اِجَازَت درکړم,, مطلب دادئ چي اَوّل وار اِجَازَت درکړم بيا هر وَار وَتَلاَئي سې يعني صرف اَوّل وار د اِجَازَت

ضرورت شته او هغه پوره شو نوځکه که دُوَم وار بغيره اِجَازَت وَوَتَلَه نَه حانِث کيږي او نَه ښځه ته طلاق واقع کيږي .
اصول : د,,اِلاّ اَن آذَنَ لَکِ,,مطلب دادئ چي اَوّل وار اِجَازَت درکړم بَس هغه کِفَايَت کوي.
[۲۷۲۱](۷۸) وَاِذَا حَلَفَ اَن لاَيَتَغَدّي فَالغَدَاءُ هُوَ الاَکلُ مِن طُلُوعِ الفَجرِ اِلَي الظّهرِ وَالعَشَاءُ مِن صَلاَةِ الظّهرِ اِلَي نِصفِ اللّيلِ وَالسّحُورُ مِن نِصفِ اللّيلِ اِلَي طُلُوعِ الفَجرِ [۲۷۲۲](۷۹) وَ اِن حَلَفَ لَيَقضِيَنّ دَينَهُ اِلَي قَرِيبٍ فَهُوَ عَلَي مَادُونَ الشّهرِ وَ اِن قَالَ اِلَي بَعِيدٍ فَهُوَ اَکثَرُ مِنَ الشّهرِ .

[۲۷۲۱](۷۸) که قَسَم واخستئ چي نَاشتَه به نَه کوي نو نَاشتَه هغه ډوډَئ ده د صُبحِ صَادِق څخه تر ماپښين پوري.او عَشَاء د ماپښين دلمانځه څخه تر نِيمَئ شُپې پوري.او سِحري د نِيمَئ شُپې څخه تر صُبحِ صَادِق پوري .
تشريح : په دې مسئله کي لغوي تحقيق دئ چي يَو څوک قَسَم واخلي چي نَاشتَه نَه کوم نو د کوم وخت څخه تر کوم وخت پوري په خُوږلُو سره حانِث کيږي؟ ددې تفصيل دادئ چي غَدَا يعني نَاشتَه د صُبحِ صَادِق څخه ونيسي د ماپښين تر وخته پوري خوږلو ته ويل کيږي.او عَشَاء يعني د مَابنَام ډوډَئ د ماپښين څخه ونيسي بيا د نِيمَئ شُپې پوري خوږلو ته ويل کيږي.او سِحري(پېشلمَئ)د نِيمَئ شُپې څخه د صُبحِ صَادِق پوري خوږلو ته ويل کيږي.که په دغه مينځ کي خورک وکړي نو حانِث ګرزي .
[۲۷۲۲](۷۹) او که قَسَم واخستئ چي په نِژدې وخت کي به قَرض اداء کوي نو دمياشتي څخه به کَم وي او که وويل چي په خَنډ نو د يوې مياشتي څخه به پر زيات حَمَل وي .
تشريح : په دې مسئله دکي دادئ چي د نِژدې وخت او د ليري وخت اِطلاَق پر څو وُرَخُو باندي کيږي؟ قَرِيب(نژدې)مياشته کي دَنَنَه وخت ته وايي او بَعِيد(ليري)و مياشته او دمياشتي څخه زيات وخت ته وايي.لِهْذَا که يوچا قَسَم واخستئ چي په
[۲۷۲۳](۸۰) وَمَن حَلَفَ لاَيَسکُنُ هٰذِهِ الدّارَ فَخَرَجَ مِنهَا بِنَفسِهِ وَتَرَکَ فِيهَااَهلَهُ وَمَتَاعَهُ حَنَثَ [۲۷۲۴](۸۱) وَمَن حَلَفَ لَيَصعَدَنّ السّمَاءَ اَو لَيَقلِبَنّ هٰذَا الحَجَرَ ذَهَبًا اِنعَقَدَت يَمِينُهُ وَحَنَثَ عَقِيبَهَا .

نِژدې وخت کي به قَرض اداء کوم نو دا به په يوه مياشته کي دَنَنَه اداء کوي.او که وويل چي په بَعِيد او په خَنډ به اداء کوم نو که پر يوه مياشته او ديوې مياشتي وروسته اداء کړئ بيا هم نَه حانِث کيږي .

[۲۷۲۳](۸۰) يوچاقَسَم واخستئ چي په دې کُور کي به نَه وَسِيرِي.بيا دهغه څخه په خپله وَوَاتَئ او خپل اَهل او سَامَان يې په هغه کي پرېښوئ نو حانِث ګرزي .
تشريح : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي په کُور کي د سَامَان موجود والئ او د کُورَنِيَانُ په دغه کُور کي وُسِيدَل دادِول دئ لکه اِنسَان يعني د کُور مَالِک چي په خپله په دغه کُور کي سَکُونَت اختيار کړئ وي.ځکه چي اِنسَان خو يواځي په کُور کي نَه وسيرِي بلکه دځان سره سَامَان او اَهل وعَيَال هم وَسَوِي.بلکه اِنسَان خو په عمومي توګه په بَازَار او کَښت کي وَسِيرِي.نوځکه په کُور کي خپل سَامَان اِيښُوَل يا اَهلُ وعَيَال پاته کول داسي دئ لکه په خپله چي په کُور کي وسيرِي.نوځکه چي په خپله په کُور کي پاته سي نو حانِث ګرزي .
[۲۷۲۴](۸۱) يوچا قَسَم واخستئ چي ضررو به آسمان ته خيرِي يا دغه دَبَرَه به ضررو د سُرُو زَرُو جوړوي نو قَسَم به مُنعَقَد شي او دقَسَم وروسته به حانِث شي .
تشريح : آسمان ته ختل اِمکَان خو لري ځکه چي فَرِشتي هره وُرَځ آسمان ته خيرِي. او حضور (ﷺ) د آسمان سَير(سَيل)کړئ او بېرته تشريف رَاوړَئ دئ.دغه رنګه په يوه کېميکل(خاص مَوَاد)سره دَبَرَه سره زَر ګرزول هم اِمکَان لري لېکن په عام حالاتُ کي آسمان ته ختل مُشکِل دئ.دغه رنګه د دَبَرِي څخه سره زَر جوړول هم مُشکِل کار دئ.لېکن اِمکَان لري نوځکه قَسَم به مُنعَقَد شي.البته آسمان ته ختل
[۲۷۲۵](۸۲) وَمَن حَلَفَ لَيَقضِيَنّ فُلاَنًا دَينَهُ اليَومَ فَقَضَاهُ ثُمّ وَجَدَ فُلاَنٌ بَعضَهُ زُيُوفًا اَو بَنَهرَجَةً اَو مُستَحَقّةً لَم يَحنَثِ الحَالِفُ .

مُشکِل دئ او د دِبري څخه سره زَر جوړول هم مُشکِل کار دئ نوځکه د قَسَم وروسته به فَوراً حانِث شي او کَفّارَه به اداء کوي .
اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي که چيري هغه دَوَل کول دِبر مُشکِل وي نو سَم دَستِي به حانِث شي .
لغت : صَعَدَ : خَتَل. لَيَقلِبَنّ : د قَلب څخه مُشتَق دئ بَدلَوَل.پر دا بَلَه خُوَا اړول. عَقبَ : فَوراً وروسته .
[۲۷۲۵](۸۲) يوچا قَسَم واخستئ چي فُلاَنِي ته به نَن ضرور قَرَض اداء کوم هغه يې اداء کړئ.فُلاَنِي بعض قَرض کُوتَه وموندئ.يايې بَنَهرَجَه وموندئ يايې مُستَحَق وموندئ نو قَسَم اَخَستُونکئ نَه حانِث کيرِي .
تشريح : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي د کوم شِي چي قَسَم اخستئ وي که چيري اَتيَا فِيصَد (80%) هغه شَئ وي نو نَه حانِث کيرِي.او که چيري اَتيَا فِيصَد (80%) بَل شَئ وي يعني مثلاً هغه صرف د نُوم تر حَدَه پوري دِرهَم دي په حقيقت کي دِرهَم نَه دي نو ددې په اداء کولو سره حانِث ګرزي.ځکه چي هغه شَئ يې نَه دئ اداء کړئ د کوم شي چې قَسَم اخستئ دئ.اُوس دمسئلې صورت دادئ. يو چا قَسَم

واخستئ چي نَن په وُرَځ کي به و فُلانِي ته ضرور قَرض ور اداء کوم.نو د قَسَم مطابق يي نَن قرض اداء کړئ لېکن په دې دَرَاهِمُ کي مِکس او کُټ موجود وُ چي په شَکل و صورت کي خو دَراهِم وُ لېکن بَيتُ المَال هغه نَه قبلول يا تَاجِر نَه اَخَستَل چي نَهرجَه دِرهَم ورته ويل کيږي.يا په دغه دِرهَم کي د بَل چا حَق موجود او بنکاره سو نو نَه حانِث کيږي .

وجه : ځکه چي که څَه هم کُوتَه دِرهَم اداء کړي دي لېکن اداء کړي خو دِرهَم دي. نو ځکه نَه حانِث کيږي .

[٢٧٢٦](٨٣) وَاِن وَجَدَهَا رَصَاصًااَوسَتُوقَةً حَنَثَ[٢٧٢٧](٨٤) وَمَن حَلَفَ لاَيَقبِضُ دَينَهُ دِرهَمًا دُونَ دِرهَمٍ فَقَبِضَ بَعضَهُ لَم يَحنَث حَتّٰي يَقبِضَ جَمِيعَهُ مُتَفَرِّقًا .

اصول : چي د دِرهَم جِنس موجود وي نو نَه حانِث کيږي .

لغت : زُيُوفٌ : کُوتَه سِکّه چي بَيتُ المَال يي نَه چَلوِي. بَنَهرَجَةٌ : کُوتَه سِکّه چي عام تاجران يي نَه اخلِي البته بَيتُ المَال يي اَخلِي .

[٢٧٢٦](٨٣) که دِرهَم ومونډل پِيتَل يايي سَتُوقَه ومونډل نو حانِث به شي .

تشريح : په قرض کې د پيتَلُو څخه جوړشوي دِرهَم ورکړل يايي دَادَوَل درهم وکړل چي د دنَنَه څخه پِيتَل وُ لېکن دَبَانديِ پر دواړو خواو د سُپِينُو زَرُو رنګ ورکړئ وُ چي د دُرُو طَاقُ والا سَتُوقَه دِرهَم ورته وايي نو په دې سره هم حانِث کيږي .

وجه : دِرهَم ټوله د سُپِينُو زَرُو څخه جوړ وي دلته خو د پِيتَلُوڅخه جوړ دِرهَم ورکړئ دئ نو دا خو دِرهَم نَه دئ.او ده قَسَم اخستئ وُ چي دِرهَم درکوم او دِرهَم يي نَه دئ ورکړئ نو ځکه حانِث کيږي.دغه رنګه سَتُوقَه دِرهَم بالکُلِّيّه دِرهَم نه دئ هغه هم د پِيتَلُو دئ صرف د سُپِينُو زَرُو رنګ يي ورکړئ دئ نو چي دِرهَم يي وَر نَه کړئ لِهٰذَا حانِث به شي .

لغت : رَصَاصٌ : پِيتَل. سَتُوقَةٌ : دري طَاقَه دِرهَم .

[٢٧٢٧](٨٤) يوچا قَسَم واخستئ چي خپل قرض به په يوه يوه دِرهَم نَه اَخلِي بيا يي پر بعضوقبضه وکړه نونَه حانِث کيږي ترهغه وخته چي ټوله په لَږ لَږ قبضه کړي .

تشريح : قَسَم يي اخستئ وُ چي خپله قرضه به په لَږ لَږ نَه وصولوي.بيايي لَږ قرضه وصول کړه قبضه يي پر وکړه نو فَوراً به د حانِث کېدو حُکم نَه پر لکيږي تر هغه وخته چي خپله ټوله قرضه يي په لَږ لَږ نَه وي وصول کړي.چي کوم وخت يي خپله ټوله قرضه په لَږ لَږ وصول کړه نو هغه وخت به د حانِث کېدو حُکم پر لګيږي .

[٢٧٢٨](٨٥) وَاِن قَبَضَ دَينَهُ فِي وَزنَينِ لَم يَتَشَاغَلَ بَينَهُمَا اِلاّ بِعَمَلِ الوَزنِ لَم يَحنَث وَلَيسَ ذَالِکَ بِتَفرِيقٍ .

وجه : دا اِمکان لري چي کوم لَږ چي اَخَستې ده هغه بېرته و مَقرُوض ته وَاپَس کړي او بيا خپله ټوله قرضه بېرته په يَو وار وصول کړي.نوځکه اُوس فَوراً به د حانِث کېدو فَيصَلَه نَه کيږي.که چيرې دا پاته نور قرضه په لَږ لَږ وصول کړه نو بيا خو ده خپله ټوله قرضه په لَږ لَږ وصول کړه لِهْذَا د حانِث کېدو فَيصَلَه به اُوس کيږي .

[۲۷۲۸](۸۵) او که خپله قرضه وصول کړه په دُوَه واره وَزَن کولو سره او د دواړو وَزَن په مينځ کې د وَزَن بغيره په بَل کار کې نَه دئ مَشغُول سوئ نو نَه حانِث کيږي.او دغه جَلاَ جَلاَ اخستل نَه دئ .

تشريح : مثلاً پنځه سوه کېلو غَنَم وُ. اُوس دا خو په يَوَه وار نَه سي وَزَن کولائي. دُومرَه غټ ترازو به د کوم ځايَه ځخه رَاوړي؟ نوځکه په څو واره يې وَزَن کړل او بيايې غَنَم واخستل او د وَزَن کولو په دَورَان کې په بَل کار کې نَه دئ مشغول سوئ بلکه دغه د وَزَن په کار کې بُخت وُ. نو دغه جَلاَ جَلاَ وَزَن کولو ته مُتَفَرِّق او بِېلاَ بِېل وصولي نَه ويل کيږي او نَه په دې سره حانِث کيږي .

وجه : ځکه چي دا خو مجبوري ده.او په مُحَاوَرَه کې دې ته مُتَفَرِّق او بېلا بِېلَ وصولي نَه وايي.په مُحَاوَرَه کې مُتَفَرِّق وصولي دې ته ويل کيږي چي يَو وار يې لَږ څَه وَزَن وکې هغه واخلي بيا مَجلِس بدل کړي په بَل دُوَم مَجلِس کې بيا لَږ څَه وَزَن وکړي او وُصُول يې کړي هغه وخت دغه مُتَفَرِّق او بِېلا بِېل شمارل کيږي .

اصول : دمجبورئ په وجه په يوه مجلس کې دُوَه واره وَزَن کول جَلاَ جَلاَ وصولول نَه دئ.دا يَو وار وصولول دئ .

[۲۷۲۹](۸۶) وَمَن حَلَفَ لَيَأتِيَنّ البَصرَةَ فَلَم يَأتِهَا حَتّٰي مَاتَ حَنَثَ فِي آخِرِ جُزءٍ مِن اَجزَاءِ حَيَاتِهِ .

[۲۷۲۹](۸۶) يوچا قَسَم واخستئ چي ضرور به بَصري ته ځي.دئ هلته نَه وُلاړئ تر دې چي وَفَات شو نو د ژُوَند په آخري وخت کې به دئ حانِث شي .

وجه : (۱) ځکه چي په ټوله ژُوَند کې دا اُمِيد کېدلائي شي چي دئ به يَو وخت لا بَصرَه ته وُلاړ شي.البته د مرګ پر وخت دا اَندَازَه وشوه چي دقَسَم مطابق دئ بَصرې ته نَه وُلاړَئ (۲) په حديث کې دې ته اِشَارَه شوې ده چي حضور (ﷺ) وفرمايل چي مورِ د بَيتُ الله طواف کو لېکن د صُلحِ حُدَيبِيّه پر وخت بېرته وَاپَس راغلئ نو حضرت عمر (رضي الله عنه) پوښتنه وکړه آيا تَا نَه فرمايل چي مورِ به د بَيتُ الله طواف کو؟ دهغه په جواب کې حضور (ﷺ) وفرمايل دا خو مَا نَه دي ويلي چي په دې کَال کې به طواف کو.ددې مطلب دا شو چي که په ژُوَند کې هر وخت طواف وکو هغه کِفَايَت کوي. د

حديث ټکړه داده. عَنِ المِسوَرِ بنِ مَخرَمَةَ وَمَروَانَ قَالاَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) زَمَنَ الحُدَيبِيّةَ ... قُلتُ اَوَلَيسَ كُنتَ تَحَدّثتَنَا اَنّا سَنَأتِي البَيتَ فَنَطُوفُ بِهِ؟ قَالَ بَلْي! فَاَخبَرتُکَ اَنّا نَأتِي العَامَ؟ قَالَ قُلتُ لاَ! قَالَ فَاِنّکَ اٰتِيهِ وَمَطُوفٌ بِهِ (الف) (بخاري شريف.باب الشروط في الجهادوالمصالحة مع اهل الحرب وكتابة الشروط ص٣٧٧نمبر ٢٧٣١/ ٢٧٣٢/ كتاب الشروط) په دې حديث کي دئ چي په ژُوَند کي هسي يَو وخت طواف کولائي سی.دغه مطلب دئ زُومَا ددې وَيناچي تاسوبه دبَيتُ الله طواف کوئ. ددې حديث څخه معلوم شو چي د ژُوَند په آخري وخت کي به معلوم شي چي اُوس نو دئ خپل قَسَم نَه شي پوره کولائي نو ځکه په دغه وخت به دئ حانِث ګرزي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) د حُدَيبّي په زمانه کي د مدينې څخه رَاوَوَاتَئ ... حضرت عمر (رضي الله عنه) فرمايي مَا پوښتنه ځيني وکړه آيا تَا نَه فرمايل چي اِنشَاء الله مورِ به بَيتُ الله ته خُو؟ حضور وفرمايل وَلِي نَه؟ لېکن آيا دا مِي درته ويلي وُ چي په دغه کال به خُو؟ مَا وويل نَه! حضور (ﷺ) وفرمايل تاسو به بَيتُ الله خَئ او طواف به هم کوئ .

﴿... کِتَابُ الدّعوْي ...﴾

﴿... کِتَابُ الدّعوْي ...﴾

ضروري پام لرنه : په کتاب الدّعوْي کي څلور خبري دي.اَوّله خبره دا چي دعوْي به څَه رنګه کوي؟ او د کومې دعوې کوم مطلب دئ؟ دومه خبره دا چي پر کومو خلګو ګواه پېشول لازم دئ؟ او څَه رنګه ګواه به پېشوي؟ دريمه خبره دا چي که چيري ګواه نَه وي نو پر کومو خلګو قَسَم اخستل لازم دئ؟ او قَسَم به څَه ډَوَل ورکوي؟ څلورمه خبره دا چي فيصله به څَه رنګه کوي؟ هسي دفيصلې کولو دري مِعيَار دي. (١) ګواه (٢) که چيري ګواه نَه وي نو قَسَم ورکول (٣) که چيري په دې سره هم معامله نَه حَل کېدل نو بيابه علاماتُ ته کتل کيږي د علاماتُ د لاَرِي به دا معلوموي چي دغه شَئ بايد د کوم چا وي. ددې ټولو د ثبوت لپاره دا حديث دئ. ثُمّ اِنّ الاَشعَثَ اِبنَ قَيسٍ خَرَجَ اِلَينَا فَقَالَ مَا يُحِدّثُكُم اَبُوعَبدِالرّحمٰنَ؟ قَالَ فَحَدّثنَاهُ قَالَ فَقَالَ صَدَقَ لَفِيّ نَزَلَت كَانَت بَينِي وَبَينَ رَجُلٍ خُصُومَةٌ فِي بِئرٍ فَاَختَصَمنَا اِلَي رَسُولِ اللهِ (ﷺ) فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) شَاهِدَاکَ اَو يَمِينُهُ قُلتُ اِنّهُ اِذَا يَحلِفُ وَلاَيُبَالِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مَن حَلَفَ عَلٰي يَمِينٍ يَستَحِقّ بِهَا مَالاً وَهُوَ فِيهَا فَاجِرٌ لَقِيَ اللهَ وَهُوَ عَلَيهِ غَضبَانٌ ثُمّ اَنزَلَ اللهُ تَصدِيقَ ذَالِکَ ثُمّ قَرَأَ هٰذِهِ الآيَةَ اِنّ الّذِينَ يَشتَرُونَ بِعَهدِ اللهِ وَاَيمَانِهِم ثَمَنًا قَلِيلاً اُولٰئِکَ لاَخَلاَقَ لَهُم فِي الآخِرَةِ وَلاَيُكَلّمُهُمُ اللهُ (آيت ١٧٧سورة آلِ عمران٣) (الف) (بخاري شريف.باب اذا اختلف الرّاهن والمرتهن ونحوه فالبيّنة علٰي المدّعي واليمين علٰي المدّعٰي عَلَيهِ

حاشيه : (الف) حضرت اَشعَث بن قيس مورِ ته راغلئ او وفرمايل تاسو ته عبدالرّحمٰن څَه بيان کوي؟ مَا د خبري ذِکر ورته وکړئ نو وفرمايل رَشتِيَا وايي زُومَا په اړه دا آيت نَازل شو. زُومَا او ديوه بَل سړي تر مينځ د خَاه په اړه جګړه(خصومت) وُ مورِ حضور (ﷺ) ته وُلاړُو نو حضور (ﷺ) وفرمايل ستا به دُوَه ګواهان وي يا دده څخه قَسَم واخله.مَا ورته وويل هغه خو به قَسَم واخلي او هيڅ پَروَاه به هم وَنَه کړي.حضور (ﷺ) وفرمايل څوک چي قَسَم واخلي او د يوه مَال مُستَحِق شي او هغه په قَسَم اخستلو کي دُرُوغجَن وي نو د الله تعالٰي سره به په داسي

حالت کي مُلاقَات وکړي چې هغه به پر ده باندي په خَبَنَم وي.بيا ددې د تصديق لپاره دا آيت نازل شو.بيايې دا آيت ولوستئ.هغه خلګ چې د الله تعالٰي عَهد او دهغه قَسَمُونَه په لَږ قيمت سره رَانِيسِي د هغوئي لپاره په آخرت کي هيڅ يوه حِصّه نشته او دهغوئي سره الله تعالٰي خَبَرَه نه کوي .

[۲۷۳۰](۱) اَلمُدّعِي مَن لاَ يُجبَرُ عَلْي الخُصُومَةِ اِذَا تَرَکَهَا وَالمُدّعْي عَلَيهِ مَن يُجبَرُ عَلْي الخُصُومَةِ .

ص۳۴۲نمبر۲۵۱۵/۲۵۱۶/ ابوداؤدشريف . باب الرّجُلُ يحلف علٰي عِلمِهِ فيماغاب عنه ص۱۵۴نمبر۳۶۲۳) په دې حديث کي دئ چې خَه رنګه به دعوْي کوي.دا ذِکر هم راغلئ دئ چې پر مُدّعِي ګواه لازم دئ او پر مُدّعْي عَلَيه باندي قَسَم دئ.او دا ذِکر هم راغلئ دئ چې فيصله به خَه رنګه کوي .

پام لرنه : په کتاب الدّعوْي کي هم د مُدّعِي او مُدّعْي عَلَيه مُتَعَيّن کول کله نا کله په قَرَائِنُ سره يا په مُحَاوَرَاتُ سره کيږي.نوځکه د دغه دَوَل مسئلو لپاره حديث يا آثَار نَه موندل کيږي.په هغه ځائ کي بيا مورِ اُصُول او مُحَاوَرَه ورِاندي کړې ده .

[۲۷۳۰](۱) مُدّعِي هغه دئ چې پر خصومت يې نَه شي مجبور کولائي که چيري هغه پريږدي.او مُدّعْي عَلَيهِ هغه دئ چې پر خصومت يې مجبوره کولائي شي .

تشريح : د مُدّعِي او مُدّعْي عَلَيهِ ګَنِ شمېر تعريفونه شوي دي دهغوئي څخه يَو تعريف دادئ چې مُدّعِي هغه ته وايي چې د بَل چا څخه مَال اَخستَل غواړي. نو ځکه دئ پر خصومت باندي نَه شي څوک مجبوره کولائي دده که خُوَښنَه شي خصومت دي وکړي مَال دي وَاخلِي او که خُوَښنَه شي خصومت دي پريږدي. او مُدّعْي عَلَيهِ هغه ته وايي چې په قبضه کې مَال وي نوځکه هغه پر خصومت او جګړه باندي مجبوره کېدلائي شي.که هغه خصومت نَه کول غواړي هم هغه دي پر خصومت باندي مجبوره کړي ځکه چې مَال دده په قبضه کي دئ .

وجه : په دې حديث کي تفصيل راغلئ دئ. عَن عَلقَمَةَ بِنِ وَائِلَ بِنِ حُجرِ الحَضرَمِيّ عَن اَبِيهِ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ مِّن حَضرَ مَوتَ وَرَجُلٌ مِّن کِندَةَ اِلٰي رَسُولِ اللهِ (ﷺ) فَقَالَ الحَضرَمِيّ يَا رَسُولَ اللهِ اِنّ هٰذَا غَلَبَنِي عَلٰي اَرضٍ کَانَت لاَبِي فَقَالَ الکِندِيّ هِيَ اَرضِي فِي يَدِي اَزرَعُهَا لَيسَ لَهُ فِيهَاحَقّ فَقَالَ النّبِيّ(ﷺ) لِلحَضرَمِيّ

[۲۷۳۱](۲) وَلاَتُقبَلُ الدّعوْي حَتّٰي يَذکُرَ شَيئًا مَعلُومًا فِي جِنسِهِ وَقَدرِهِ .

اَلَکَ بَيّنَةٌ؟ قَالَ لاَ! قَالَ فَلَکَ يَمِينُهُ. قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ اِنّهُ فَاجِرٌ لَيسَ يُبَالِي مَا حَلَفَ لَيسَ يَتَوَرّعُ مِن شَئٍ فَقَالَ لَيسَ لَکَ مِنهُ اِلاّ ذَالِکَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب الرّجُلُ يحلف علٰي عِلمِهِ فيماغاب عنه ص۱۵۴نمبر۳۶۲۳/ترمذي شريف.باب ماجاء في انّ البَيّنَة علٰي المُدّعي واليمين علٰي المدّعٰي عَلَيهِ ص۲۴۹نمبر۱۳۴۰) په دې حديث کي حضرت حضرمي مُدّعِي دئ هغه جګړه يعني خُصُومَت کوي او دحضور (ﷺ) په مخکي دَعوَه ورِاندي کوي او که خُوَښنَه شي دعوه

پربښولائي شي.او کِنډِي مُدّعْي عَلَيهِ دئ مځکه دهغه په قبضه کي ده که چيري دئ وغواړي چي خُصُومَت پريږدي نو نَه شي پربښولائي .
لغت : اَلخُصُومَةُ : په مقدّمه کي چي کوم د دواړوخواو څخه جګړه کوي دې ته خُصُومَت وايي .
[۲۷۳۱](۲) دعوه قبول نَه ده تر هغه وخته چي معلوم شَئ ذِکر کړي د جِنس په اِعتِبَار او د مِقدَار په اِعتِبَار .
تشريح : په مقدّمه کي تر هغه وخته دَعوَه نَه قبليږي تر څو چي دهغه شِي جنس يې نَه وي بيان کړئ مثلاً چي هغه غُوَا ده يا ګاميښه ده او که چيري عَدَدِي يا کَيلِي يعني د پيمَانې شَئ وي نو بيابه دهغه مِقدَار بيان کوي چي څو کيلو دئ؟ چي دَعوَه واضح او بنکاره شي او هغه شَئ مُتَعَيّن شي .
وجه : په تېر شوي حديث کي دا اَلفَاظ راغلي وُ قَالَ الحَضرَمِيّ يَا رَسُولَ اللهِ اِنّ هٰذَا

حاشيه : (الف) د حضرموت سړئ او دکِندَه يوسړئ حضور (ﷺ) ته راغلل. حضرمي وويل يارسول الله! ده زُومَا پر مځکه قبضه کړې ده چي زُومَا د پُلاَر وه. نو کِنډِي وويل دا زُومَا مځکه ده زُومَا په قبضه کي ده.زَه په دي کي ګَښت کوم په دي کي دهيڅ چا حَق نشته.نو حضور (ﷺ) دحضرمي څخه پوښتنه وکړه آيا ستا سره ګواه شته؟ هغه وويل نَه! حضور (ﷺ) وفرمايل بيا نو ستا لپاره بَيِّنَه شته؟ هغه وويل يا رسول الله! هغه فَاسِق سړئ دئ هغه ددې پَروَاه نه کوي هغه د قَسَم څخه پرهېز نَه کوي. حضور (ﷺ) وفرمايل ستا لپاره د يَيّنې څخه علاوه بَل حق نشته .

[۲۷۳۲](۳) فَاِن کَانَ عَينًا فِي يَدِ المُدّعْي عَلَيهِ کُلِّفَ اِحضَارَهَا لِيُشِيرَ اِلَيهَا بِالدّعْوِي وَاِن لَم تَکُن حَاضِرَةً ذَکَرَ قِيمَتَهَا [۲۷۳۳](۴) وَاِن اِدّعْي عِقَاراً حَدّدَهُ وَذَکَرَ اَنّهُ فِي يَدِ المُدّعْي عَلَيهِ وَاَنّهُ يُطَالِبَهُ بِهِ .

غَلَبَنِي عَلْي اَرضٍ کَانَت لاَبِي (الف) (ابوداؤدشريف.نمبر۳۶۲۳/ترمذي شريف. نمبر۱۳۴۰) په دې حديث کي دئ چي زُومَا د پُلاَر مځکه وه پر هغه باندي کِنډِي قبضه کړې ده. د مځکي وضاحت يې وکړئ او د هغې تَعَارُف يې وکړئ او جِنس يې هم بيان کړئ چي هغه مځکه ده کوم چې زَه دعوې‌داره يَم. ددې څخه دا معلوم شو چي دشِي جِنس او مِقدَار بيانول ضروري دئ .
[۲۷۳۲](۳) بيا که چيري هغه شَئ بِعَينِه د مُدّعْي عَلَيهِ په قبضه کي وُ نو هغه به مجبوره کوي چي حاضر يې کړي چي د دَعوې پر وخت وهغه ته اِشَارَه وکړل شي او که حاضر نَه وي نو دهغه قيمت دي بيان کړي .
تشريح : که چيري هغه شَئ بِعَينِهِ موجود وي نو ده ته به ويل کيږي چي دغه شَئ د قَضَاء مجلس ته حاضر که چي د دَعوې پر وخت وهغه ته اِشَارَه وکړي او که چيري نَه شي حاضرولائي نوبيا دي د شِي قيمت بيان کړي .
وجه : د دعوې يا ګواهئ پر وخت چي و هغه شِي ته اِشَارَه وکړي نو هغه شَئ مُتَعَيّن ګرزي نو ځکه ده ته به ويل کيږي چي شَئ حاضر که.او که نَه شي حاضرولائي نو د

هغه قيمت دي بيان کړي.ځکه چې دقيمت په بيانولوسره هم شَئ څه نَه څه(مِن وَجهٍ) مُتَعَيّن ګرزي .
[۲۷۳۳](۴) که دمځکي دعوه وکړه نو دهغې حدود دي بيان کړي او دا ذِکر دي هم وکړي چې د مُدّعْي عَلَيهِ په قبضه کي ده او دئ دهغې مطالبه کوي .

حاشيه : (الف) يارسول الله! ده زُومَا پر مځکه قبضه کړې ده چې زُومَا د پُلاَر وه .

[۲۷۳۴](۵) وَ اِن کَانَ حَقًّا فِي الذِّمّةِ ذَکَرَ اَنّهُ يُطَالَبُهُ بِهِ .

تشريح : مځکه خو د قضاء مَجلِس ته نَه شي حاضرولائي نو د هغې حُدُودِ اَربَعَه دي بيان کړي چې ددې مځکي په مَشرِق.مَغرِب.جُنُوب او شِمَال کي کوم کوم خلګ دي؟ په دې نَن زمانه کي دي دا هم بيان کړي چې دمځکي ګاټه نمبر او خَسرَه نمبر چِش دئ؟ چې مځکه معلوم شي.او که مَنقُولِي جائداد وي يا غَيرِمَنقُولِي دا دي هم بيان کړي چې دا د مُدّعْي عَلَيهِ په قبضه کي ده.ځکه چې که د مُدّعْي عَلَيهِ په قبضه کي نَه وي بلکه د مُدّعِْي په قبضه کي وي نو بيا د دَعوې کولو څه ضرورت دئ؟ او دا دي هم ووايي چې زَه دغه مځکه يا مَنقُولِي جائداد ببرته اَخَستَل غواړم. ځکه چې که چيرې دئ ببرته اَخَستَل نَه غواړي نو د دعوې او مُقَدّمي کولو څه حاصل دئ؟ .
وجه : په تېرحديث کي دا وُ چې دا مځکه زُومَا د پُلاَر ده نو ددې څخه ددې مځکي حُدُودِ اَربَعَه معلوم شو.او د فَقَالَ الحَضرَمِيّ يَا رَسُولَ اللهِ اِنّ هٰذَا غَلَبَنِي عَلٰي اَرضٍ ګَانَت لاَبِي (الف) څخه دده ببرته اَخَستَل او مطالبه کول هم معلوم شو .
[۲۷۳۴](۵) او که دده پر ذِمّه حَق وي نو هغه دي بيان کړي چې دئ دهغه مطالبه کوي .
تشريح : مثلاً دعوه دا وه چې د زَيد پر ذِمّه زُومَا شَل دِرهَم قرض دئ نو قرض کېدل دا پر ذِمّه حق ثابتېدل شو.نو په دې صورت کي دي هم د دَعوې سره دا ذِکر کړي چې زَه د دغه قرض مطالبه کوم چې دا معلوم شي چې په ده باندي صرف د حَق اِقرَار نَه کوي بلکه دهغه مطالبه هم کوي .
اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چې دعوه د مُتَعَرّف او مُتَعَيّن شي وي د مجهول او نَا معلوم شي مطالبه نَه وي .

حاشيه : (الف) نو حضرمي وويل يارسول الله! ده زُومَا پر مځکه قبضه کړې ده چې زُومَا د پُلاَر وه .

[۲۷۳۵](۶) فَاِذَا صَحّتِ الدّعْوٰي سَئَلَ القَاضِيُ المُدّعْي عَلَيهِ عَنهَا فَاِن اِعتَرَفَ قَضْي عَلَيهِ بِهَا [۲۷۳۶](۷) وَاِن اَنکَرَ سَئَلَ المُدّعِيَ الَبَيّنَةَ فَاِن اَحضَرَهَا قَضْي بِهَا .

[۲۷۳۵](۶) چې کوم وخت دعوه صحیح شي نو قاضي دي د مُدّعْي عَلَیهِ څخه دهغې په اړه پوښتنه وکړي.که ده اِقرَار وکړئ نو پر ده به دهغه فیصله کیږي .
تشریح : د مُدّعِي د دعوه کولو وروسته دي قاضي د مُدّعْي عَلَیهِ څخه پوښتنه وکړي چې آیا واقعي د مُدّعِي دعوه صحیح ده؟ که چیري هغه اِعتِرَاف وکړئ چې واقعي دمُدّعِي زُومَا پر ذِمّه حَق شته نو قاضي به دهغه فیصله وکړي.اُوس د ګواه یا د قَسَم ضرورت نشته .
وجه : (۱) چې مُدّعْي عَلَیهِ اقرار وکړئ نو بیا د ګواه یا د مُدّعْي عَلَیهِ د قَسَم ضرورت نَه شو پاته (۲) په اَثَر کي راغلي دي. عَن اِبنِ سِیرِینَ قَالَ اِعتَرَفَ رَجُلٌ عِندَ شُرَیحٍ بِاَمرٍ ثُمّ اَنکَرَهُ فَقَضْي عَلَیهِ بِاِعتِرَافِهِ فَقَالَ اَتَقضِي عَلَيّ بِغَیرِ بَیّنَةٍ؟ فَقَالَ شَهِدَ عَلَیکَ اِبنُ اُختِ خَالِکَ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب الاعتراف عندالقاضي ج ۸ ص۳۰۳ نمبر۱۵۳۰۱) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي د مُدّعْي عَلَیهِ په اِعتِرَاف یعني اِقرَار کولوسره به فیصله کیږي .
[۲۷۳۶](۷) او که اِنکار وکړي نو د مُدّعِي څخه دي بَیّنه طلب کړي.که چیري هغه حاضره کړه نو فیصله دي وکړي دهغه مطابق .
تشریح : قاضي دمُدّعْي عَلَیهِ څخه د مُدّعِي د دَعوې په اړه پوښتنه وکړه مُدّعْي عَلَیهِ انکاروکړئ نودمُدّعِي څخه به پرخپله دَعوَه باندي ګواه طلب کیږي.که چیري

حاشیه : (الف) حضرت ابن سیرین فرمایي چې یوه سړي دحضرت شریح په حضور کي اِقرَار وکړئ بیایې اِنکَار وکړئ نو پر ده یې دده د اِعتِرَاف کولو په وجه فیصله وکړه. هغه سړي وویل تَه پر مَا باندي بغیره د ګواه فیصله کوې؟ حضرت شریح وفرمایل ستا د مَامَا د خُور زُوئ ستا په خِلاَف ګواهي ورکړې ده. یعني اَوّل تَا په خپله اِعتِرَاف کړې دئ .

[۲۷۳۷](۸) وَ اِن عَجَزَ عَن ذَالِکَ وَطَلَبَ یَمِینَ خَصمِهِ اِستَحلَفَهُ عَلَیهَا .

د دَعوې د ثبوت لپاره دُوَه ګواهان پیش کړل نو د مُدّعِي د دَعوې مطابق به فیصله کیږي .
وجه : (۱) په آیت کي دئ. وَاستَشهِدُوا شَهِیدَینِ مِن رِّجَالِکُم فَاِن لَم یَکُونَا رَجُلَینِ فَرَجُلٌ وَاِمرَتَانِ مِمّن تَرضَونَ مِنَ الشّهَدَاءِ اَن تَضِلّ اِحدَاهُمَا فَتُذَکِّرَ اِحدَاهُمَاالأُخرٰي (الف) (آیت۲۸۲سورة البقرة۲) په دې آیت کي دئ چې دُوَه نران دي ګواهان جوړکړي یا دي یَو نر او دُوې ښځي ګواهان کړي (۲) په حدیث کي تېرشوي دي فَقَالَ النّبِيّ (ﷺ) لِلحَضرَمِيّ اَلَکَ بَیّنَةٌ؟ قَالَ لاَ (ب) (ترمذي شریف.باب ماجاء في اَنّ البیّنة علٰي المدّعي والیمین علٰي المدّعٰي علیه ص۲۴۹نمبر۱۳۴۰/ابوداؤدشریف.باب الرّجل یحلف علٰي عِلمِه فیماغاب عنه ص۱۵۴نمبر۳۶۲۳) په دې حدیث کي حضور(ﷺ) د حضرت حضرمي څخه ګواه طلب کړئ دئ.ددې مطلب دادئ چې که چیري ګواهان پیش کړي وائي نو حضور(ﷺ) به فیصله کړي وه (۳) په یوه بَل حدیث کي راغلي دي. عَن اِبنِ عَبّاسٍ (رضی الله عنه) اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَضٰي بِیَمِینٍ

وَشَاهِدٍ (ج) (ابوداؤدشريف.باب القضاء باليمين والشّاهدص۱۵۲نمبر۳۶۰۸/ترمذي شريف.باب ماجاء في اليمين مع الشّاهدص۲۴۹نمبر۱۳۴۳) په دې حديث کې پر يوه ګواه او په خپله د مُدّعِي پر ګواهي باندې فيصله صادره کړې ده نو که چيري دُوَه ګواهان وي بيا خو به په طريقه اَولْي سره قاضي د ګواهئ وروسته فيصله کوي .

[۲۷۳۷](۸) که دبَيّنې د حاضرولو څخه عاجز شو او دخپل مَدِّمُقَابِل د قَسَم طلب يې وکړئ نو پر هغه به قَسَم اَخلِي .

حاشيه : (الف) ستاسو د نَرَانُو څخه دوه کسان ګواهان وګرزوئ.که چيري دوه نَرَانَ موجود نَه وي نو يَو نَر او دوې ښځې.دکومو ګواهانو څخه چې تاسو راضي ياست.دوې ښځې په دې وجه دي چې که يوه ته ياد نَه شي پاته نو هغه بَلّه دي ورپه ياد کړي (ب) حضور (ﷺ) د حضرت حضرمي څخه پوښتنه وکړه ستا سره ګواه شته؟ وفرمايل نَه! (ج) حضور (ﷺ) ديوه قَسَم او يوې ګواهئ په ذريعه فيصله وکړه .

[۲۷۳۸](۹) وَاِن قَالَ لِي بَيّنَةٌ حَاضِرَةٌ وَطَلَبَ اليَمِينَ لَم يُستَحلَف عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي .

تشريح : ومُدّعِي ته د ګواه د پيښولو وَينَا وکړه مُدّعِي پر هغه باندي د ګواه د پيښولو څخه عاجز شو او ګواه يې پيش نَه کړئ نو مُدّعِي ته به ويل کيږي چې اُوس تَه پر دې باندي د مُدّعْي عَلَيهِ څخه قَسَم اَخَستَلَائي شې. که چيري مُدّعِي وغواړي چې د مُدّعْي عَلَيهِ څخه قَسَم واخلي نو دمُدّعْي عَلَيهِ څخه به قَسَم اَخَستَل کيږي.که قَسَم واخستئ نو د مُدّعْي عَلَيهِ د وَينَا مطابق به فيصله کيږي .

وجه : په حديث کې تپرشوي دي چې حضور (ﷺ) د حضرت حضرمي څخه پوښتنه وکړه چې ستا سره ګواه شته؟ هغه وفرمايل نَه! بيا حضور (ﷺ) وفرمايل چې اُوس تَاتَه د کِندِي څخه د قَسَم اخستلو حق شته. فَقَالَ النّبِيّ (ﷺ) لِلحَضرَمِيّ اَلَکَ بَيّنَةٌ؟ قَالَ لاَ! قَالَ فَلَکَ يَمِينُهُ. قَالَ يَارَسُولَ اللهِ اِنّهُ فَاجِرٌ لَيسَ يُبَالِي مَاحَلَفَ لَيسَ يَتَوَرّعُ مِن شَئٍ فَقَالَ لَيسَ لَکَ مِنهُ اِلاَ ذَالِکَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب الرّجل يحلف علٰي عِلمِهِ فيماغاب عنه ص۱۵۴نمبر۳۶۲۳/ترمذي شريف.باب ماجاء في اَنّ البيّنَة علٰي المُدّعِي واليمين علٰي المُدّعْي عَلَيهِ ص۲۴۹نمبر۱۳۴۰) په دې حديث کې دئ چې ستا سره بَيّنَه نشته نو تَاتَه حق شته چې د کِندِي څخه قَسَم واخلي .

لغت : خَصَمٌ : مُدِّمُقَابِل.د مُقَدّمي دويم فريق .

[۲۷۳۸](۹) که مُدّعِي وويل زُومَا بَيّنَه حاضر ده خو بيا هم د قَسَم مطالبه وکړي نو د امام ابوحنيفه په نيز به قَسَم نَه ورکول کيږي .

تشريح : مُدّعِي وايي چې زُومَا ګواه په بنار کې موجود دئ زه کولائي سم چې هغه پيش کړم لېکن بيايې هم ګواه پيش نَه کړئ بلکه غُوَاړي چې دمُدّعْي عَلَيهِ څخه

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) دحضرمي څخه پوښتنه وکړه آيا ستا سره ګواه شته؟ هغه وويل نَه! حضور (ﷺ) وفرمايل بيا نو ستا لپاره دده قَسَم دئ. هغه وويل يا رسول الله! هغه فَاسِق سړئ دئ هغه ددې پَروَاه نه کوي هغه د هيڅ شي څخه پرهيز نَه کوي. حضور (ﷺ) وفرمايل ستا لپاره د قَسَم څخه علاوه بَل حق نشته .

قَسَم واخلي فيصله وکړي نو امام ابوحنيفه(ﷺ) فرمايي چي دارنګه نَه شي کولائي. چي دده سره ګواه موجود دي نو اُوس مُدّعْي عَلَيهِ ته قَسَم نَه شي ورکولائي. ګواهي به ورکوي بيابه فيصله کوي .

وجه : (۱) ځکه چي مُدّعِي هغه وخت و مُدّعْي عَلَيهِ ته دقَسَم ورکولو حق لري چي کله د مُدّعِي سره ګواه نَه وي.يا ګواه وي لېکن دومره ليري وي چي دهغه په پېشولو کي دِير زيات مُشکِلاَت وي نو بيا ومُدّعْي عَلَيهِ ته قَسَم ورکولائي شي.او دلته خو ګواه نَژدې موجود دئ (۲) په حديث کي دئ چي کوم وخت ګواه نَه وي نوبيا قَسَم ورکولائي شي.د حضرت حضرمي (ﷺ) په حديث کي حضور (ﷺ) پوښتنه کړې ده چي آيا ستا سره ګواه شته؟ هغو وفرمايل نَه! دهغه وروسته بيا حضور (ﷺ) وفرمايل چي اُوس نو د کِندي څخه قَسَم اخستلائي شي.دحديث ټکړه داده. قَالَ عَلقَمَةَ بِنِ وَائِلَ بِنِ حُجرِ الحَضرَمِيّ عَن اَبِيهِ ... فَقَالَ النّبِيّ (ﷺ) لِلحَضرَمِيّ اَلَکَ بَيّنَةٌ؟ قَالَ لاَ! قَالَ فَلَکَ يَمِينُهُ (الف) (ابوداؤدشريف.نمبر۳۶۲۳/ترمذي شريف.نمبر۱۳۴۰) په دې حديث کي فرمايلي دي چي ګواه نشته دهغه وروسته حضور (ﷺ) وفرمايل چي تاته حق شته چي دده څخه قَسَم واخلي.لِهْذَا تر کوم وخته چي د ګواه د پېشولو موقع وي نو دمُدّعْي عَلَيهِ څخه قَسَم نَه شي اخستلائي .

فائده : صاحبين فرمايي که ګواه موجود وی او دئ هغه نَه پېشوي بلکه غُوَارِي چي دمُدّعْي عَلَيهِ څخه قَسَم واخلي نو کولائي شي.و ده ته دغه دواړه اِختِيَارَات شته .

وجه : دوئي فرمايي چي ديوه بَل حديث څخه ددې ګُنجَائِش ښکاره کيږي.دحديث ټکړه داده. ثُمّ اِنّ الاَشعَثَ بِنِ قَيسٍ خَرَجَ اِلَينَا فَقَالَ مَايُحَدّثُکُم اَبُوعَبدِالرّحمٰنَ ... فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) شَاهِدَاکَ اَو يَمِينُهُ (ب) (بخاري شريف.باب اذا اختلف الرّاهن

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) دحضرمي څخه پوښتنه وکړه آيا ستا سره ګواه شته؟ هغه وويل نَه! حضور (ﷺ) وفرمايل بيا نو ستا لپاره دده قَسَم دئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل ستا لپاره به دوه ګواهان وي يا به دده قَسَم وي .

[۲۷۳۹](۱۰) وَلاَتَرِدُ اليَمِينُ عَلٰي المُدّعِي .

والمرتهن ونحوه فالبيّنةُ علٰي المدّعِي واليمين علٰي المدّعٰي عَلَيهِ ص۳۴۲نمبر۲۵۱۶/مسلم شريف.باب وعيدمن اقتطع حق مسلم بيمين فاجرة بالنّار ص۸۰نمبر۱۳۸/ ۳۵۶) په دې حديث کي دواړه اختيارات ورکړي دي يا به ستا دوه ګواهان وي يا به دده قَسَم وي. په دې دواړو کي د يوه اِختِيَار شته نو ځکه چي ګواه موجود وي هم دمُدّعْي عَلَيهِ څخه قَسَم اخستلائي شي .

[۲۷۳۹](۱۰) او قَسَم نَه واردِيږي پر مُدّعِي باندي .

تشريح : ددې مسئلې دوه صورتونه دي.يو خو دا چي دمُدّعِي سره يَوګواه موجود وي.اُوس د دُويَم ګواه په بَدَل کي قَسَم واخلي نو د امام ابوحنيفه په نېز دا دَوَل نَه شي کولائي.يا دي دُوَه ګواهان رَاوَلِي يا دي د مُدّعْي عَلَيهِ څخه قَسَم واخلي .

وجه : (۱) په حديث کي تَقسِيم شوئ دئ چي مُدّعِي به صرف ګواه پيشوي که هغه نَه وي نو بيا پر مُدّعْي عَلَيهِ باندي قَسَم دئ.نوځکه پر مُدّعِي باندي قَسَم نشته. حديث دادئ. عَن عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ اَنّ النّبِيّ قَالَ فِي خُطبَتِهِ اَلبَيّنَةُ عَلَي المُدّعِي وَاليَمِينُ عَلَي المُدّعْي عَلَيهِ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في انّ البيّنَةَ علَي المدعي واليمين علَي المدّعْي عليه ص۲۴۹نمبر۱۳۴۱/دارقطني.كتاب الحدود والدّيات ج۳ص۸۸نمبر۳۱۶۶) په دې حديث کي تقسيم کړئ دئ چي پر مُدّعِي باندي بَيّنَه ده او پر مُدّعْي عَلَيهِ باندي قَسَم دئ (۲) په بَل حديث کي راغلي دي. عَن اِبنِ عَبّاسٍ (رضي الله عنه) اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَضَي بِاليَمِينِ عَلَي المُدّعْي عَلَيهِ (ب) (مسلم شريف. باب اليمين علَي المدّعْي عليه ص۷۴نمبر۱۷۱۱/ ۴۴۷۱/ابوداؤدشريف.باب اليمين علَي المدّعْي عليه ص۱۵۳نمبر۳۶۱۹) ددې حديث څخه معلوم شوچي د رسول الله (ﷺ) فيصله ده چي قَسَم به صرف پر مُدّعْي عَلَيهِ باندي وي.نوځکه پر مُدّعِي باندي قَسَم نشته .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) په خپله خُطبَه کي وفرمايل ګواه پر مُدّعِي دئ او قَسَم پر مُدّعْي عَلَيهِ باندي دئ (ب) حضور (ﷺ) دقَسَم فيصله وکړه پر مُدّعْي عَلَيهِ باندي .

فائده : امام شافعي فرمايي چي که د مُدّعِي سره صرف يَو ګواه موجود وي نو دبَل ګواه په بَدَل کي به مُدّعِي قَسَم اخلي او دا قَسَم به د دُويَم ګواه په درجه کي شي چي دهغه پر بُنيَاد به قاضي د مُدّعِي په حَق کي فيصله کوي .

وجه : دده دليل دا حديث دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ (رضي الله عنه) اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَضْي بِيَمِينٍ وَشَاهِدٍ (الف) (ابوداؤدشريف.باب القضاء باليمين والشاهدص۱۵۲نمبر۳۶۰۸/ترمذي شريف.باب ماجاء في اليمين مع الشاهدص۲۴۹نمبر۱۳۴۳) ددې حديث څخه معلوم شو چي که د يوه ګواه سره مُدّعِي قَسَم واخلي نو هم فيصله کولائي شي .

دُويَم صورت دادئ چي دمُدّعِي سره دُوَه ګواهان وي او ګواهان يې پيش هم کړل نو آيا ددې سره سره دي هم مُدّعِي قَسَم واخلي چي دغه شَئ زُومَا دئ؟ د امام ابوحنيفه(رح) په نېز مُدّعِي ته اُوس د قَسَم اخستلو ضرورت نشته.اُوس خو ده ته صرف ګواه پيشول وُ چي هغه ده پيش کړي دي .

وجه : تېرشوي حديثونه دده دليلونه دي .

فائده : امام شافعي(رح) فرمايي چي که قاضي وغواړي نو د اِطمِينَان لپاره د ګواه د پيشولو وروسته دي هم و مُدّعِي ته قَسَم ورکړي .

وجه : دده دليل دا اَثَر دئ. اَنّ عَلِيًّا كَانَ يَرَي الحَلفَ مَعَ البَيّنَةِ. او په يوه بَل روايت کي راغلي دي. عَن اِبنِ سِيرِينَ اَنّ رَجُلاً اِدّعْي قَبلَ رَجُلٍ حَقًّا وَ اَقَامَ عَلَيهِ البَيّنَةَ فَاستَحلَفَهُ شُرَيحٌ فَكَاَ نّهُ يَأبْي اليَمِينَ فَقَالَ شُرَيحٌ بِئسَ مَا تَثنِي عَلَي شُهُودِكِ (ب) (سنن للبيهقي.باب من رأي الحَلفَ مع البيّنَة ج۱۰ص۴۴۱نمبر۲۱۲۴۸/ ۲۱۲۴۹) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي دمُدّعِي د بَيّنې باوجود که چيري وغواړي چي دهغه څخه قَسَم واخلي نو کولائي شي .

حاشيه:(الف)حضور(ﷺ)ديوه قَسَم اويوې ګواهئ په ذريعه فيصله وکړه(ب)حضرت عَلِي دګواه سره دمُدّعِي قَسَم اخستل هم ضروري ګانئ.په يوه بَل روايت کي راغلي دي. د حضرت ابن سيرين څخه نقل شوئ دئ چې يوه سړي پر بَل سړي باندي دخپل حَق دعوه وکړه او هغه ګواه پيش کړئ.بيا حضرت شريح وغوښتل چې وهغه ته قَسَم هم ورکړي نو هغو اِنکَار وکړئ نو حضرت شريح وفرمايل د خپلو ګواهانو غلط تعريف کوې .

[۲۷۴۰](۱۱) وَلاَتُقبَلُ بَيِّنَةُ صَاحِبُ اليَدِ فِي المِلکِ المُطلَقِ .

[۲۷۴۰](۱۱) نَه قبليږي د قَابِض بَيِّنَه په مِلکِ مُطلَق کي .

تشريح : دلته دريې اِصطِلاَحَاتِ دي بايد اَوّل په هغه ځانونه پوه کړئ. ۱:ذِي اليَدِ : د کوم چا چې په قبضه کي د دَعوې شَئ وي هغه ته ذِي اليَد ويل کيږي.دده څخه د شِي د اَخَستَلُو مطالبه کيږي ځکه ده ته مُدّعِي عَلَيهِ وايي. ۲ : خَارِج : د کوم چاپه قبضه کي چې د دَعوې شَئ نَه وي هغه ته خَارِج وايي.دغه څوک خو د شِي د اَخَستَلُو مطالبه کوي نو ځکه دئ مُدّعِي هم دئ. ۳ : مِلکِ مُطلَق : يوڅوک دعوه وکړي چې دا شَئ زُومَا مِلکِيّت دئ.لېکن دا بيان وَنَه کړي چې دغه شَئ په کومه وجه زُومَا مِلکِيّت ګرزېدلئ دئ؟ خريدار(يعني ديوچاڅخه رانيولئ)دئ يايې هِبَه کړئ دئ يا دده په ځُور کي پيدا شوئ دئ؟ په کومه وجه چې دئ مَالِک ګرزېدلئ دئ هغه وجه او سَبَب يې بيان نَه کړي نو دې ته مِلکِ مُطلَق وايي.او چې د مَالِک جوړېدلو سَبَب يې بيان کړي نو دې ته بيا مِلکِ مُقَيّد وايي .

د مسئلې صورت دادئ چې خَارِج او ذِي اليَد دواړه دا دعوه کوي چې دغه شَئ زُومَا دئ او په کومه وجه زُومَا دئ دا سَبَب يې نَه بيانوي.بلکه مُطلقًا دمِلکِيّت دعوه کوي. بيا دواړه خپل خپل ګواهان پېشوي نو د امام ابوحنيفه په نېز به د خَارِج بَيِّنَه تسليم کيږي او دهغه مطابق به فيصله کيږي .

وجه : (۱) د شِي دمِلکِيّت سبب نَه بيانوي نوځکه دا معلوم نَه شو چې د دغه مخصوص يَوه سړي دئ.لِهٰذَا اُوس دَارومَدَار صرف پر بَيِّنَه شو (۲) مخته دا حديث تېرشوئ دئ چې دمُدّعِي يعني دخَارِج بَيِّنَه مُعتَبَرَه ده.ځکه چې پر ذِي اليَد يعني مُدّعْي عَلَيهِ باندي خو قَسَم دئ پر هغه بَيِّنَه نشته. د حضرت حضرمي په حديث کي حضرت حضرمي او کِندِي دواړو دمځکي دعوه کړې وه او دا چې مځکه څَه ډَوَل دده ده؟ دغه سبب يې نَه وُ بيان کړئ يعني د مِلکِ مُطلَق دعوه يې کړې وه نو حضور (ﷺ) دحضرت حضرمي يعني دخَارِج بَيِّنَه مُعتَبَرَه وګرزوله او د ذِي اليَد يعني د کِندِي دعوې ته اِعتِبَار ورنَه کړئ بلکه پر هغه يې قَسَم لازم کړئ.دحديث ټکړه داده. فَقَالَ النّبِيّ (ﷺ) لِلحَضرَمِيّ اَلَکَ بَيِّنَةٌ؟ قَالَ لاَ! قَالَ فَلَکَ يَمِينُهُ. په يوه بَل روايت کي راغلي دي. اَنّ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ فِي خُطبَتِهِ اَلبَيِّنَةُ عَلَي المُدّعِي وَاليَمِينُ عَلَي المُدّعْي عَلَيهِ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في انّ البَيِّنَةَ علي المُدّعِي واليمين علي المُدعْي عَلَيهِ ص۲۴۹نمبر۱۳۴۰/ ۱۳۴۱/ابوداؤدشريف.باب الرجل يحلف علي عِلمِهِ فيماغاب عنه ص۱۵۴نمبر۳۶۲۳) په دې حديث کي د حضرت حضرمي چې خَارِج هم دئ او مُدّعِي هم دئ دهغه بَيِّنَه يې مُعتبَرَه ګرزولې

ده او حضرت کِندِي چي ذِي اليَد دئ دده په قبضه کي مځکه هم ده او مُدّعْي عَلَيهِ دئ دهغه بَيّنَه ته اعتبار نَه دئ ورکړئ بلکه پر ده يي قَسَم لازم کړئ دئ.نوځکه زمور په نبز په مِلکِ مُطلَق کي د خَارِج و بَيّنَه او ګواه ته ترجيح ورکول کيږي .

فائده : امام شافعي (ؒ) فرمايي چي د ذِي اليَد يعني د قَابِض او مُدّعْي عَلَيهِ و بَيّنَه ته به ترجيح ورکول کيږي .

وجه : (۱) دده په قبضه کي شَئ موجود دئ نو قَبضَه د قُوّت دليل دئ.ځکه چي ګواهان خو د دواړو سره موجود دي او دا چي قَبضَه هم لري دا يَوقِسم زيات قُوّت دئ نوځکه د ذِي اليَد وبَيّنَه ته به ترجيح ورکوي.او دهغه د بَيّنې مطابق به شَئ د ذِي اليَد وي (۲) په حديث کي دئ. عَن جَابِرِبنِ عَبدِاللهِ اَنّ رَجُلَينِ تَدَاعَيَا بِدَابّةٍ فَاَقَامَ کُلّ وَاحِدٍمّنهُمَا اَلبَيّنَةَ اَنّهَا دَابّتُهُ فَقَضٰي بِهَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لِلّذِي هِيَ فِي يَدِهِ (ب) (سنن للبيهقي.باب المتداعِيَين يتنازعان شيئًافي يَداحدهماويقيم کُلّ واحدمّنهماعلٰي ذالک

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وحضرت حضرمي ته وفرمايل آيا ستا سره ګواه شته؟ وويل نَه! حضور (ﷺ) وفرمايل بيا خو ستا لپاره دده قَسَم دئ.په يوه بَل روايت کي راغلي دي حضور (ﷺ) په خُطبَه کي وفرمايل ګواه پر مُدّعِي او قَسَم پر مُدّعْي عَلَيهِ باندي لازم دئ (ب) حضرت جابر وفرمايل چي دُوُ کسانو د يوې وُښې په اَړه خپل خصومت حضور (ﷺ) ته رَاوړَئ.نو دواړو وويل دغه وُښَه دده په کُور کي پيدا شوې ده او ګواه يي پيش کړئ نو حضور (ﷺ) دهغه په حق کي فيصله وکړه د کوم چا په قبضه کي چي وَه .

[۲۷۴۱](۱۲) وَاِذَا نَکَلَ المُدّعْي عَلَيهِ عَنِ اليَمِينِ قَضٰي عَلَيهِ بِالنّکُولِ وَاَلزَمَهُ مَا اِدّعْي عَلَيهِ .

بيّنةًج۱۰ص۴۳۳نمبر۲۱۲۲۳) په دې حديث کي دئ چي دواړو دَعوَه وکړه او دمِلکِ مُطلَق دعوه يي وکړه او بَيّنَه يي هم پيش کړه نو حضور (ﷺ) د قبضې والا په حَق کي فيصله وکړه .

او که چيري د مِلکِ مُقَيّد دعوه وکړي مثلاً دواړه ووايي چي دغه وُښَه زُ ومَا ملکِيّت ده ځکه چي دا زُومَا په کُور کي پيدا شوې ده نو په دې صورت کي به بِالاِتّفَاق د ذِي اليَد و بَيّنَه ته ترجيح ورکول کيږي .

وجه : (۱) په حديث کي دئ عَن جَابِرَ اَنّ رَجُلَينِ اِختَصَمَا اِلَي النّبِيّ (ﷺ) فِي نَاقَةٍ فَقَالَ کُلّ وَاحِدٍ مّنهُمَا نُتِجَت هٰذِهِ النّاقَةُ عِندِي وَاَقَامَ بَيّنَةً فَقَضٰي بِهَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لِلّذِي هِيَ فِي يَدِهِ (الف) (سنن للبيهقي.باب باب المتداعيين يتنازعان شيئًافي يد احدهماويقيم کُلّ واحدمنهماعلٰي ذالک بَيّنَةً ج۱۰ص۴۳۳نمبر۲۱۲۲۴) په دې حديث کي دئ چي د مِلکِيّت د دعوې سره سره يي دا هم وويل چي دا وُښَه زُومَا په کُور کي پيدا شوې ده نوځکه دا زُومَا مِلکِيّت ده نو لدې وجه دا د مِلکِ مُقَيّد دعوه شوه.او په دي کي حضور (ﷺ) د ذِي اليَد په حق کي فيصله کړې ده (۲) هسي هم چي د مَالِک جوړېدو سَبَب يې بيان کړئ نو دا يقين شو چي

دغه شَئ دده دئ او بَيّنَه يې هم پېش کړه او قبضه هم دده ده نوځکه ددې دُرُو علاماتُ په وجه د قَابِض په حق کې فيصله وکړه .

[۲۷۴۱](۱۲) که مُدّعْي عَلَيهِ دقَسَم څخه اِنکَار وکړي نو پر ده به فيصله کيږي دده د اِنکَار په وجه او پر ده دي هغه شَئ لازم کړي کوم چې پر دَعوَه شوې وه .

حاشيه : (الف) حضرت جابر وفرمايل چې دُوُ کسانو د يوې وُښې په اَرَه خپل خصومت حضور (ﷺ) ته رَاوړَئ.نو دواړو وويل دغه وُښَه دده په کُور کې پيدا شوې ده او گواه يې پېش کړئ نو حضور (ﷺ) دهغه په حق کې فيصله وکړه د کوم چا په قبضه کې چې وَه .

تشريح : د مُدّعِي سره گواه نَه وُ نوځکه ده و مُدّعْي عَلَيهِ ته وويل چې ته قَسَم واخله لېکن مُدّعْي عَلَيهِ هم د قَسَم اخستلو څخه اِنکَار وکړئ نو ددې اِنکَار وروسته به قاضي فيصله کوي چې دغه شَئ د مُدّعِي دئ.اُوس به دُويَم وار بيا و مُدّعِي ته قَسَم نَه ورکول کيږي .

وجه : (۱) مخکې حديث تېرشوئ دئ چې ومُدّعِي ته قَسَم نَه شي ورکولائي.پر مُدّعِي خوگواه لازم دئ قَسَم نه دئ لازم.نوځکه دده څخه قَسَم نَه شي اخستلائي. او مُدّعْي عَلَيهِ د قَسَم اخستلو څخه اِنکَار وکړئ نو دا اِنکَار دُوَه مطلبونه لري. اَوّل مطلب خو دادئ چې دغه شَئ خو زُومَا دئ لېکن زَه نَه غُوَارَم چې د الله په بَابَرَکَت نوم سره قَسَم واخلم.چلو زَه دغه شئ و مُدّعِي ته ورکوم. و دَاډَوَل کونکي انسان ته بَاذِل وايي.يعني پر مُدّعِي باندې خپل شَئ مَصرَف کړئ. او دُويَم مطلب دادئ چې په بَاطِن او په اِشَارَه سره زَه دا اِقرَار کوم چې دغه شَئ په حقيقت کې د مُدّعِي دئ په دغه وجه خو زَه قَسَم نه اَخلَم. خو په هر صورت کې مُدّعْي عَلَيهِ ددې خبري اِظهَار وکړئ چې دغه شَئ زَه و مُدّعِي ته ورکوم په دغه وجه خو د قَسَم څخه اِنکَار وکړئ لِهْذَا د مُدّعِي په حَق کې به فيصله کوي (۲) په حديث کې ددې ثبوت شته. عَن عَمرِو بِنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ عَنِ النّبِيِّ (ﷺ) قَالَ اِذَا اِدّعَتِ المَرأ ةُ طَلاَقَ زَوجِهَا فَجَاءت عَلْي ذَالِکَ بِشَاهِدِ عَدلٍ اُستُحلِفَ زَوجُهَا فَاِن حَلَفَ بَطَلَت شَهَادَةُ الشّاهِدِ وَاِن نَکَلَ فَنُکُولُهُ بِمَنزِلَةِ شَاهِدٍ آخَرَ وَجَازَ طَلاَقُهُ (الف) (ابن ماجه شريف.باب الرّجُلُ يجحدالطلاق ص۲۹۲نمبر۲۰۳۸/دارقطني.کتاب الوکالة ج۴ص۹۶نمبر۴۲۹۵) په دې حديث کې دئ چې دقَسَم څخه اِنکَار کول د دُويَم گواه په درجه کې دئ او په دغه سره به فيصله کيږي .

فائده : امامِ شافعي () فرمايي چې مُدّعْي عَلَيهِ د قَسَم څخه اِنکَار وکړي نو فَورًا به

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل که بنځه د مېړه دطلاق دعوه وکړي او پرهغه طلاق يوعَادِل گواه رَاوړي نو ددې و مېړه ته به قَسَم ورکول کيږي.که چيرې هغه قَسَم واخستئ نو دگواه گواهي به بَاطِلَ شي او که اِنکَار وکړئ نو دده اِنکار د بَل(دُويَم)گواه په درجه کې دئ او پر بنځه به طلاق جواز پيدا کړي .

[۲۷۴۲](۱۳) وَيَنبَغِي لِلقَاضِي اَن يَقُولَ لَهُ اِنّي اَعرِضُ عَلَيکَ اليَمِينَ ثَلْثاً فَاِن حَلَفتَ وَاِلاّ قَضَيتُ عَلَيکَ بِمَا اِدّعَاهُ .

فيصله نَه كوي بلكه مُدّعِي ته به قَسَم وركوي.هغه به قَسَم اَخلِي چي دا شَئ زُومَا دئ نو بيابه دمُدّعِي په حق کي ددغه شِي فيصله کيږي .
وجه : (۱) په اَثَرکي راغلي دي چي مُدّعِي بَيِّنَه پيش کړي بياهم و مُدّعِي ته به قَسَم وركول کيږي دهغه وروسته به فيصله کيږي. چي کوم وخت ګواه پيش کړي بيا ومُدّعِي ته قَسَم وركول کيږي او دَلتَه خو مُدّعْي عَلَيهِ دقَسَم څخه اِنکَار کړئ دئ نواُوس خو نُوره زياته شُبهَه پيدا شوه نو حُکه قياس پر دغه دَلتَه به په دَرَجَه اَولْي سره ومُدّعِي ته قَسَم وركول کيږي چي مُکَمّل وضاحت وشي چي دغه شَئ دمُدّعِي دئ (۲) اَثَر دادئ. اَنّ عَلِيًّا کَانَ يَرْي الحَلفَ مَعَ البَيِّنَةَ (الف) (سنن للبيهقي.باب من رأي الحلف مع البيّنَةَ ج۱۰ص۴۴۱نمبر۲۱۲۴۸) ددې اَثَر په رُونَا کي پر مُدّعِي قَسَم لازم دئ .
لغت : اَلنّکُولُ : دقَسَم اخستلو څخه انکار کول .
[۲۷۴۲](۱۳) دقاضي لپاره مناسب دئ چي ده ته ووايي چي زَه درې واره پر تَا باندي قَسَم وُړَاندِي کوم.که چيري تَا قَسَم واخستئ خو صحيح ده که نَه نو بيا ستا په خِلاَف کي فيصله کوم دهغه مطابق ګَوَم کُوم چې مُدّعِي دعوه کوي .
تشريح : چي يَو وار قاضي پر مُدّعْي عَلَيهِ باندي قَسَم پيش کړي او هغه دقَسَم اخستلو څخه اِنکَار وکړي نو قاضي ته دا ګُنجَائِش سته چي قاضي دمُدّعْي عَلَيهِ په خِلاَف فيصله وکړي.حُکه چي په تېرشوو حديثو کي دا اِشَارَه شوې ده چي يَو وار اِنکَار وکړي نو هم قاضي فيصله کولائي شي.لېکن معامله دمُدّعْي عَلَيهِ په مخکي نشته او اِمکَان شته چي هغه په قانون خَبَر نه وي لِهْذَا بنَه خبره داده چي اَوّل يې قاضي خبر کړي چي زَه درې واره پر تَا باندي قَسَم وُړَاندِي کوم.که چيري تَا

حاشيه : (الف) حضرت عَلِي د ګواه سره سره دمُدّعِي قَسَم هم ضروري ګانئ .

[۲۷۴۳](۱۴) وَاِذَا کَرّرَ العَرضَ ثَلاَثَ مَرّاتٍ قَضْي عَلَيهِ بِالنّکُولِ [۲۷۴۴](۱۵) وَاِن کَانَتِ الدّعوْي نِکَاحًا لَم يُستَحلَفِ المُنکِرُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي .

قَسَم واخستئ نو ستا په حَق کي فيصله ګَوَم حُکه چي دمُدّعِي سره ګواه نشته.او که چيري تَا درې واره د قَسَم اخستلو څخه دِدَه (اِنکَار) وکړئ نو بيا سَتا په خِلاَف فيصله ګَوَم.کُوم چې مُدّعِي دَعوَه لري .
وجه : دا اِمکَان شته چي مُدّعْي عَلَيهِ ته د قانون په اَړَه معلومات نَه وي چي د قَسَم څخه د اِنکَار وروسته زُومَا په خِلاَف فيصله کېدلائي شي. نوحُکه اَوّل دي لا وده ته ووايي چي درې واره قَسَم درته وُړَاندِي کوم.او د قَسَم څخه د اِنکَار وروسته سَتَا په خِلاَف فيصله ګَوَم.او دغه درې واره د اِحتِيَاط په توګه دئ که نَه يَو وار دي قَسَم ورته پيش کړي که هغه اِنکَار وکړئ نو قاضي ته د فيصلې کولو ګُنجَائِش موجود دئ .

[۲۷۴۳](۱۴) چې درې واره مُکَرّر قَسَم وُړاندي کړئ نوفيصله به کوي دده په خِلاَف د اِنکَار کولو په وجه .
تشريح : قَاضِي درې واره پر مُدّعْي عَلَيهِ باندي قَسَم وُړَاندِي کړئ.مُدّعْي عَلَيهِ درې سره واره د قَسَم اخستلو څخه اِنکَار وکړئ نو قاضي به اُوس دده په خِلاَف فيصله کوي. تفصيل يې مخته تېرشوئ دئ .
[۲۷۴۴](۱۵) که دَعوَه د نکاح وي نو د امام ابوحنيفه❨❩ په نېز دمُنکِرڅخه قَسَم نَه اَخستَل کيږي .
تشريح : مثلاً مېړه پر ښځه دَعوَه وکړي چې سَتَا سره زُومَا نکاح شوې ده او د مېړه سره پردغه خپله دَعوَه باندي بَيّنَه نَه وي او ښځه د نکاح اِنکَار کوي نوښځه ته به قَسَم نَه ورکوي چې نکاح شوې ده که نَه ده شوې؟ بلکه بغيره دقَسَم به نکاح ثابت
[۲۷۴۵](۱۶) وَلاَيُستَحلَفُ فِي النِّکَاحِ وَالرّجعَةِ وَالفَيئِ فِي الإِيلاَءِ وَالرِّقِّ وَالاِستِيلاَدِ وَالنّسَبِ وَالوَلاَءِ وَالحُدُودِ وَاللِّعَانِ وَقَالاَ يُستَحلَفُ فِي ذَالِکَ کُلِّهِ اِلاّ فِي الحُدُودِ وَاللِّعَانِ .

شي. او د صاحبين په نېز وښځه ته قَسَم ورکول کيږي.که ښځي قَسَم واخستئ چې نکاح نَه ده شوې نو بيا نکاح نَه ده شوې.او که دقَسَم څخه اِنکَار وکړئ نو دا د اِقرَار په درجه کي دئ او نکاح به ثابت کړي .
وجه : ددې نَه (۹) مسئلو دليل مخته راروان دئ .
[۲۷۴۵](۱۶) او قَسَم نَه اخستل کيږي په (۱) نکاح کې (۲) رَجعَت کې (۳) د اِيلاَء څخه په رُجُوع کولو کې (۴) په مَرَيتُوب کې (۵) اُمِّ وَلَد کولو کې (۶) نَسَب کې (۷) وَلاَء کې (۸) حُدُودُ کې (۹) او په لِعَان کې. او صاحبين❨❩ فرمايي چې په دې ټولو کې به قَسَم ځيني اَخستَل کيږي مَاسِوايَه د حُدُود او لِعَان څخه .
تشريح : دغه نَه (۹) مسئلې پر دُوُ اصولو متفرّع دي.يَو اُصُول د امام اَعظَم دئ او دُويَم اُصُول د صاحبينُ او اَيمّه ثَلاَثَه وُ دئ .
اصول : چې کوم وخت ومُدّعْي عَلَيهِ ته قَسَم ورکوي په هغه وخت دقَسَم اخستلو څخه اِنکَار وکړي نومخته تېرشوي دي چې اِنکَار دُوَه مطلب لري.يَو بَذَل چې د امام ابوحنيفه❨❩ مَسلَک دئ.او دُويَم اِقرَار چې د صاحبينُ مسلک دئ.او پر دغه باندي دغه نَه (۹) مسئلې مُتَفَرّع دي. بَذَل: ددې مطلب دادئ چې مُدّعْي عَلَيهِ وايي چې دغه شَئ خو زُومَا دئ لېکن دخدائ د نوم دتَعظِيم په خَاطِر زَه قَسَم نَه خورم.نوځکه دغه شَئ تَاتَه درکوم.په دي کې زُومَا شَئ وُلاَړ شي نو هيڅ دحرج خبره نَه ده .
وجه : (۱) په دې اَثَر کې د بَذَل دليل موجود دئ. وَقَد کَانَت هُذَيلُ خَلَعُوا خَلِيعًا لَهُم فِي الجَاهِلِيّةِ ... فَقَالَ (عُمَرﷺ) يُقسِمُ خَمسُونَ مِن هُذَيلٍ مَاخَلَعُوا قَالَ فَاَقسَمَ مِنهُم تِسعَةٌ

وَاَربَعُونَ رَجُلاً وَقَدِمَ رَجُلٌ مِّنهُم مِنَ الشّامِ فَسَأَ لُوهُ اَن يُقسِمَ فَاَفتَدْي يَمِينَهُ مِنهُم بِاَلفِ دِرهَمٍ فَاَدخَلُوا مَكَانَهُ رَجُلاً آخَرَ فَدَفَعَهُ اِلْي اَخِي المَقتُولِ (الف) (بخاري شريف.باب القسامة ص۱۰۱۸نمبر۶۸۹۹) په دې اَثَرکي حضرت عمر فرمايلي دي چې عَاق يې کړي يعني د قَوم څخه وَبَاسِي نو دېنځوسُ کسانو څخه دي قَسَم واخلي.د نَه څلوېښت کسانو څخه قَسَم واخستئ.بيا يَو سړئ د شَام څخه راغلئ هغه ته وويل چې قَسَم واخله هغه قَسَم نَه واخستئ او دقَسَم نَه اخستلو په فِديَه کي زَر دِرهَم ورکړل بَس ودغه ته بَذَل وايي.يعني شئ خو زُومَا دئ لېکن چلو تَاتَه درکوم او زَه قَسَم نَه خورم (۲) په يوه بَل اَثَرکي راغلي دي. سُئِلَ الزّهرِيّ عَنِ الرّجُلِ يَقَعُ عَلَيهِ اليَمِينُ فَيُرِيدُ اَن يَفتَدِيَ يَمِينَهُ قَالَ قَدكَانَ يَفعَلُ قَد اِفتَدْي عَبِيدُالسِّهَامِ فِي اَمَارَةِ مَروَانَ وَ اَصحَابُ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) بِالمَدِينَةِ كَثِيرٌ اِفتَدْي يَمِينَهُ بِعَشرَةِ آلاَفٍ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب من يجب عليه التّكفير ج۸ص۵۰۲نمبر۱۶۰۵۴/ دارقطني.كتاب في الاضحية والاحكام ج۴ص۱۵۸نمبر۴۵۵۰) په دې اَثَر کي تَذکِرَه ده چې د رسول الله (ﷺ) اَصحَابَانُ د قَسَم په بَدلَه کي لَس زَرَه دِرهَم (۱۰۰۰۰) فِديَه ورکول. ددې څخه معلوم شوچې دقَسَم څخه انکار کول بَذَل دئ او فِديَه ده .

فائده : صاحبين او اَيمّه ثَلاَثَه فرمايي چې د قَسَم اخستلو څخه انکار کول اِقرَار دئ.ګواکه په پَتّه خوله دا اِقرَار کوي چې دغه شَئ خو په حقيقت کي سَتَا دئ ځکه

حاشيه : (الف) قبيله هذيل د جاهليّت په زمانه کي عَاق کړئ وُ ... حضرت عمر وفرمايل د قبيله هُذَيل پِنځوس کسان دي قَسَم واخلي چې عَاق يې نَه دئ کړئ.فرمايي چې دهغوئي څخه نَه څلوېښت(۴۹)کسانو قَسَم واخستئ چې عَاق کړې نَه دئ. او دهغه قبيلې يَو سړئ د مُلکِ شَام څخه راغلئ هغه ته وويل چې قَسَم واخله نو هغه دخپل قَسَم په بَدلَه کي زَر دِرهَم فِديَه ورکړل نو ددغه په ځاۍ کي بَل سړئ داخل کړئ او هغه يې دمَقتُول و وُرُور ته حواله کړئ (پام لرنه : د عَاق معنْي ده چې د قبيلي څخه اِيستَلَئ وُ) (ب) دحضرت زُهرِي څخه پوښتنه وشوه چې پر يوه سړي قَسَم راغلئ هغه دقَسَم په بَدلَه کي فِديَه ورکول غُوَارِي؟ وفرمايل دا رنګه کولائي شي. د مَروَان د اَمَارَت په وخت کي د غُلاَم دحِصّي فِديَه ورکړه او هغه وخت په مدينه مُنَوّره کي اَصحَابِ رَسُول (ﷺ) په ګڼ شمېر تعداد کي موجود وُ(يعني هيڅ يوه هم پر فِديَه ورکولو اِعتِرَاض وَنَه کړئ) دخپل قَسَم په بَدلَه کي لَس زَرَه فِديَه ورکړه .

خو زَه قَسَم نَه اَخلَم.او چې ستا دئ نو قاضي دې وتاته درکړي .

وجه : په حديث کي ودې ته اِشَارَه شوې ده. عَن عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ عَنِ النّبِيِّ (ﷺ) قَالَ اِذَا اِدّعَتِ المَرأ ةُ طَلاَقَ زَوجِهَا فَجَاءت عَلْي ذَالِكَ بِشَاهِدِ عَدلٍ اُستُحلِفَ زَوجُهَا فَاِن حَلَفَ بَطَلَت شَهَادَةُ الشّاهِدِ وَاِن نَكَلَ فَنُكُولُهُ بِمَنزِلَةِ شَاهِدٍ آخَرَ وَجَازَ طَلاَقُهُ (الف) (ابن ماجه شريف.باب الرّجُلُ يجحدالطلاق ص۲۹۲نمبر۲۰۳۸/ دارقطني.كتاب الوكالة ج۴ص۹۶نمبر۴۲۹۵) په دې حديث کي دئ چې دمُدّعْي عَلَيهِ د قَسَم څخه انکار کول د اِقرَار په درجه کي دئ او د دُويَمِي ګواهئ په درجه کي دئ. چې دغه دواړه اُصُول مخته کښېږدې نو ددې نَه (۹) مسئلو حَل په دې دَوَل دئ .

[۱] نکاح : د نکاح صورت دادئ چې مثلاً مېړه دَعوَه وکړي چې د فُلاَنَئ بنځي سره زُومَا وَادَه شوئ دئ او بنځه دهغه اِنکَار کوي. او دمېړه سره بَيّنَه نشته.اُوس دي بنځه ته قَسَم ورکړي.که دقَسَم څخه اِنکَار وکړئ نو د امام ابوحنيفه() په نېز د اِنکَار

مطلب دادئ چي نکاح خو نَه ده شوې لېکن چلو تَه زُومَا شرمګاه اِستِعمَال کړه.او په شَرعِي لحاظ دادول نَه شي کولائي چي بغيره نکاح خپل ځان د بَذَل په توګه دده په اِستِعمَال کي ورکړي.نوځکه وښځه ته به قَسَم نَه ورکوي بلکه چي بَيِّنَه نشته نو نکاح به نَه ثابتوي .

فائده : د صاحبين په نېز دقَسَم څخه د اِنکَار مطلب دادئ چي زَه اِقرَار کوم چي دمېړه خَبَرَه صحيح ده او نکاح شوې ده.او چي اِقرَار يي وکړئ چي نکاح شوې ده نوخپل ځان به د اِستِعمَال لپاره هم ومېړه ته په حواله کوي.نوځکه دصاحبين په نېزومُدّعْي عَلَيهَا ته به قَسَم ورکوي .

[۲] رَجعَت : د رَجعَت صورت دادئ چي مېړه ومَينَه ته طَلاَقِ رَجعِي ورکړئ دئ.چي عِدّت تېرشو نومېړه دَعوَه کوي چي مَا په عِدّت کي دَنَنَه رُجُوع کړې وه.اوښځه

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل که ښځه د خپل مېړه دطلاق دَعوَه وکړي او پر هغه باندي يَو عَادِل ګواه پېش کړي نو دمېړه څخه به قَسَم اخستل کيږي.که چيري مېړه قَسَم واخستئ نو دګواه ګواهي به بَاطِل شي.او که اِنکَار وکړئ نو دده اِنکَار به د دُويَم ګواه په درجه کي شي او طلاق به جواز پيدا کړي .

اِنکَار کوي چي رُجُوع دي نَه ده کړې.دمېړه سره بَيِّنَه نشته.اُوس د امام صاحب (ؒ) په نېز ښځه ته به قَسَم نَه ورکول کيږي بلکه بغير قَسَم به فيصله کيږي چي په عِدّت کي دَنَنَه رَجعَت نه دئ شوئ .

وجه : که چيري قَسَم ورکړل شي اوښځه دقَسَم اخستلو څخه اِنکَار وکړي نوددې مطلب دادئ چي رَجعَت خو نَه دئ شوئ او نَه زَه سَتَا مَينَه يَم.لېکن چلو د بَذَل په حيث تَه مَا اِستِعمَال وه.او چي رَجعَت نَه وي نو دبَذَل په توګه او دفِديې په توګه خپل ځان په اِستِعمَال کي نَه شي ورکولائي.نوځکه قَسَم به هم نَه ځيني اَخلِي .

پام لرنه : که دبَدَن پر ځاي مَال وائ نو بيا د بَذَل په توګه هغه په اِستِعمَال کي ورکول جائز دئ نوځکه هَلتَه به قَسَم ورکوي .

فائده : دصاحبينُ (ؒ) په نېز دقَسَم څخه د اِنکَار کولومطلب دادئ چي زَه دحَال په ژَبَه دا اِقرَار کوم چي مېړه خو په عِدّت کي رُجُوع کړې وه او زَه دده مَينَه يَم.نوځکه د صاحبينُ په نېز به په رَجعَت کي دښځي څخه قَسَم اخستل کيږي .

پام لرنه : که په عِدّت کي دَنَنَه مېړه وويل چي مَا رُجُوع کړې ده او ښځي اِنکَار وکړئ نوکه څَه هم مخکي رَجعَت نَه وي شوئ خو اُوس به د مېړه ددغه وَينَا څخه رَجعَت ثابت شي .

[۳] په اِيلاَء کي فَئ : مېړه ومَينَه ته وويل چي زَه تر څلورو مياشتو پوري تَاتَه نَه درنِژدې کيږم ودغه ته اِيلاَءوايي.اُوس کي چيري په څلور مياشتي کي دَنَنَه مَينَه ته نَه شو وَرنِژدې نومَينَه ته به طَلاَقِ بَائِن واقع شي او نِکَاح به ختم شي.څلور مياشتي کي دَنَنَه و مَينَه ته نَه نِژدې کېدو ته فَئ وايي.د عِدّت د تېرېدو وروسته مېړه وايي چي مَا

په څلور مياشتو کي دَنَنَه فَئ کړئ دئ.مَينَه ددې څخه اِنکَار کوي.دمېړه سره بَيّنَه نشته نو و مَينَه ته به په دې اَړَه قَسَم نَه ورکول کيږي.ځکه چې د قَسَم څخه اِنکَار به نو بَذَل وي.يعني زَه ستا مَينَه خو نَه يَم ځکه چې په څلور مياشتو کي دَنَنَه تَا فَئ نَه ده کړې.لېکن چلو خپل ځان وتَاتَه په اِستِعمَال کي درکوم.او د نکاح بغيره خپل ځان په اِستِعمَال کي نَه شي ورکولائي نوځکه د اَحنَاف په نېز پر بنځه قَسَم نه لازميږي .

فائده : دصاحبين (ر) په نېز دقَسَم څخه د اِنکَار مطلب اِقرَار دئ.يعني دحَال په ژبه بنځه دااِقرَارکوي چې واقعي په څلورمياشتي کي دَنَنَه فَئ شوې ده اوزَه ستاپې پې يَم نوځکه دده په نېز د اِيلاَء په فَئ کي قَسَم شته .

پام لرنه : که په څلور مياشتو کي دَنَنَه مېړه ووايي چې مَا فَئ کړې ده نو اَوّل خو فَئ نَه ده شوې اُوس دده په وَينَا سره فَئ وشوه .

اصول : دامسئلې پر دې اُصُول متفَرّع دي چې نکاح بَرقَرَار نَه وي نو هسي خپل ځان نَه شي حواله کولائي.بَدَن خو مَال نَه دئ چې بَذَل يې کړي .

[۴] اَلرّق : دغلام کېدو يا جوړېدو دَعوَه. يو سړئ مَجهُولُ الحَال دئ.دهغه په اړه يو بَل څوک وايي چې دا زُومَا غلام دئ او دغه مَجهُولُ الحَال سړئ ددې څخه اِنکَار کوي.د دَعوَه کونکي سره بَيّنَه نشته.اُوس وغُلاَم ته قَسَم ورکړي او هغه د قَسَم څخه اِنکَاروکړي نو د امام ابوحنيفه (ر) په نېز ددې مطلب دادئ چې زَه ستا غُلاَم خو نَه يَم لېکن چلو زَه هسي ستا په غُلاَمِيّت کي ځان شَامِلَوَم.لېکن هيڅ يَوځوک هم خپل ځان غُلاَم نَه شي جوړولائي.بَدَن خو مَال نَه دئ چې بَذَل يې وکړي.نوځکه د امام ابوحنيفه (ر) په نېز وغُلاَم ته قَسَم نَه شي ورکولائي .

فائده : دصاحبين (ر) په نېز د قَسَم څخه د اِنکَارمطلب به داوي چې دحَال په ژبه زَه اِقرَار کوم چې زَه دده غُلاَم يَم او چې دمخکي څخه غُلام يَم دغه اِقرَار کولائي شي .

[۵] اَلاِستِيلاَد : د اِستِيلاَد صورت دادئ چې مېړه ووايي چې دا زُومَا زُوئ دئ ځکه چې دا مِې سَتَاځخه پَيدَاکړئ دئ.او بنځه اِنکَار وکړي.دمېړه سره بَيّنَه نَه وي. اُوس بنځه ته قَسَم ورکړي او هغه دقَسَم څخه اِنکَار وکړي نو د امام ابوحنيفه (ر) په نېز به بَذَل کيږي يعني دغه بَچَئ او زُوئ خو سَتَا نَه دئ لېکن چلونَسَب يې سَتَاځخه ثابتوم.او دنَسَب دثابتولو مسئله دَادَوَل نه ده چې بَچَئ هم دده نَه وي او نَسَب يې دده څخه ثابت شي.نوځکه دبنځي څخه د اِستِيلاَد په لَړ کي به قَسَم نَه ځيني اَخَستَل کيږي .

فائده : د صاحبين (ر) په نېز به ددې مطلب دا وي چې زَه د حَال په ژَبَه دا اِقرَار کوم چې بَچَئ خو سَتَا دئ.چې بَچَئ په حقيقت کي دمېړه وي نو بيا دهغه څخه د نَسَب په ثابتولو کي کوم حرج نشته .

[۶] اَلنّسَب : يوسړئ دَعوَه وکړي چې دغه سړئ دده زُوئ دئ او زَه دده پُلاَر يَم.او هغه ددې څخه اِنکَار کوي او د دَعوَه کونکي سره ګواه نَه وي نو دې سړي ته به قَسَم نَه ورکوي.ځکه چې دقَسَم څخه د اِنکَار مطلب دادئ چې زَه خو سَتَا زُوئ نَه يَم لېکن

چلو زَه اُوس سَتَا زُوئ جوړيږم. دا چي زُوئ يې نَه وي او د بَذَل په توګه خپل نَسَب ثابت کړي دا جواز نَه لري.په حديث کې منع راغلې ده.نوځکه د نَسَب په سِلسَلَه کي به هَلَک ته قَسَم نَه ورکوي .

فائده : دصاحبين په نېز دقَسَم څخه د اِنګار مطلب دادئ چي په پَټَه خُولَه دا اِقرَار کوي چي په حقيقت کي زَه سَتَا زُوئ يَم نوځکه دهَلَک څخه قَسَم اخستلائي شي .

[۷] اَلوَلاَء : چي آزاد شوئ غُلاَم مَړ شي او دهغه څوک وَارِث نَه وي نو دده مَال وهغه آقَا (مولٰي) ته ملاؤيږي کوم چي دئ يې آزاد کړئ دئ ودغه مَال ته وَلاَء وايي.دلته د وَلاَء صورت دادئ چي يَو سړئ پر بَل سړي دعوه وکړي چي دا زُومَا آزاد کړئ غُلاَم دئ او دده وَلاَء به مَاتَه ملاؤيږي.هغه ددې څخه اِنګار کوي چي زَه دده آزاد کړئ غُلاَم نَه يَم او نَه زُومَا وَلاَء ده ته ملاؤيږي.د دَعوَه کونکي سره بَيِّنَه نشته.اُوس دي مُدّعْي عَلَيهِ ته قَسَم ورکړي او هغه دقَسَم اخستلوڅخه اِنګار وکړي نو ددې مطلب دادئ چي زَه خو سَتَا آزاد کړئ غُلاَم نَه يَم لېکن چلو اُوس جوړيږم. نو دشريعت په رَنَا (رُونَا) کي دَادِوَل نَه شي کولائي ځکه چي خپل آزاد نَفس غُلاَم ګرزول جواز نَه لري.لِهْذَا ومُدّعْي عَلَيهِ ته د وَلاَء قَسَم هم نَه شي ورکولائي .

فائده : د صاحبين ❨❩ په نېز دقَسَم څخه د اِنکار مطلب دادئ چي زَه د حَال په ژَبَه دا اِقرَار کوم چي زَه دده آزاد کړئ غُلاَم يَم او زُومَا وَلاَء بايد ده ته ملاؤ شي.او چي په حقيقت کي آزاد کړئ غُلاَم وي نو هغه ته قَسَم ورکولائي شي .

[۸] اَلحُدُود : يَو سړئ پر بَل سړي دَعوَه وکړي چي زُومَا پر تَا باندي د حَدِّقَذَف پُور پاته دئ.هغه بَل سړئ اِنګار کوي او د دَعوَه کونکي سره هيڅ دَوَل بَيِّنَه نشته نو مُدّعْي عَلَيهِ ته به قَسَم نَه ورکول کيږي.ځکه چي د قَسَم څخه اِنګار وکړئ نو ددې مطلب به داوي چي پَر مَا باندي سَتَا حَدِّقَذَف خو نشته لېکن چلو اَتيَا کوړې مِي وَوَهَه. دَادِوَل نَه شي کولائي (۱) ځکه چي بَدَن دَاسِي شَئ نَه دئ چي د بَذَل په حَيث يي د کُورُو وَهَلُو او دحَدّ د لګولو لپاره وُړَاندِي کړي (۲) بَلَه وجه داده چي په حَدِّقَذَف کي د حَد شائبه موجود ده او حُدُود خودشُبهې څخه هم ساقطيږي.نوځکه دقَسَم څخه د اِنګار وروسته هم حَد ساقطيږي .

فائده : صاحبين ❨❩ فرمايي چي دقَسَم څخه د اِنګار مطلب دادئ چي د حَال په ژَبَه دا اِقرَار کوم چي پر مَا باندي حَدِّقَذَف شته.او د حَال په ژَبَه په اِقرَار کولو کي د عَدَمِ اِقرَار شُبهَه موجود ده(لأنّهُ لَيسَ بِإقرَارٍ صَرِيحٍ وَالحُدُود يَثبُتُ بِالصّرَاحَةِ فَقَط. اَبُوالحُسَين قُطب عفي عنه وعن والديه) او په شُبهَه سره حَد ساقطيږي .

[۹] لِعَان : ددې صورت دادئ چي ښځه پر خپل مېړه باندي دَعوَه کوي چي تَا پر مَا باندي د زِنَا تُهمَت لګولئ دئ او پر تَا باندي لِعَان لازم دئ.او مېړه ددې څخه اِنګار کوي.دښځي سره بَيِّنَه نشته نودمېړه څخه به قَسَم نَه اخستل کيږي .

وجه : (۱) ځکه چې دقَسَم ځخه اِنکَار وکړي نو ددې مطلب داسو چې لِعَان خو نشته لېکن چلو زَه لِعَان کوم او دَا ډَوَل نَه شي کولائي (۲) بَل دا چې لِعَان د نَر لخوا ځخه د حَد په درجه کي دئ او حَد په شُبهَه سره ساقطیږي نوځکه لِعَان به هم ساقط شي. نوځکه دمېړه ځخه به قَسَم نَه اخستل کیږي.دا مسئله هم بِالاِتِّفَاق ده .

[۲۷۴۶](۱۷) وَ اِذَا اِدّعْي اِثنَانِ عَينًا فِي يَدِ آخَرَ وَكُلّ وَاحِدٍمِّنهُمَا يَزعَمُ اَنّهَا لَهُ وَ اَقَامَا اَلبَيّنَةَ قُضِيَ بِهَا بَينَهُمَا .

[۲۷۴۶](۱۷) که دُوُ کسانو په یوه خاص شِي کي دَعوَه وکړه چې د بَل په لاَس کي وي.هر یَو دا ګمان کوي چې دده دئ او دواړو بَيّنَه قائمه کړه نو د دواړو تر مینځ به فیصله کیږي .

تشریح : یَو شَئ د بَل دریم سړي په لاَس(قبضه)کي دئ او دُوَه کسان دهغه دَعوَه کوي او دواړو دُوَه دُوَه ګواهان پېش کړل نو د دواړو لپاره به د هغه شِي دنِیمَئ نِیمَئ حِصّې فیصله کیږي .

وجه : (۱) چې د دواړو سره بَيّنَه شته او شَئ دیوه په قبضه کي هم نشته نو بیا خو د ترجیح هیڅ یوه وجه نشته نوځکه دا شَئ به نِیمَئ نِیمَئ د دواړو وي (۲) په حدیث کي دغه ډَوَل فیصله راغلې ده. عَن اَبِي مُوسْي الاَشعَرِيّ ... اَنّ رَجُلَينِ اِدّعَيَا بَعِيراً عَلْي عَهدِ النّبِيّ (ﷺ) فَبَعَثَ كُلّ وَاحِدٍ مّنهُمَا شَاهِدَينِ فَقَسّمَهُ النّبِيّ (ﷺ) بَينَهُمَانِصفَينِ (الف) (ابوداؤدشریف.باب الرجلین یدعیان شیئا ولیس بینهما بیّنة ص ۱۵۳ نمبر۳۶۱۵) په دې حدیث کي حضور (ﷺ) دنِیمَئ نِیمَئ وُښ فیصله کړې ده.نوځکه د دواړو لپاره به نِیمَئ نِیمَئ حِصّه وي .

پام لرنه : که د دواړو په قبضه کي وي نوبیابه هم د دواړولپاره نِیمَئ نِیمَئ فیصله کیږي.او که د یَوَه په قبضه کي وي نو د خَارِج بَيّنَه مُعتَبَرَه ده مخته تېرشوئ دئ .

حاشیه:(الف) د حضور (ﷺ) په زمَانه کي دُوُ کسانو د یوه وُښ په اړه دعوَه وکړه.بیا هر یَوَه دُوَه دُوَه ګواهان رَاوَاستَوَل(پېش کړل) نو حضور (ﷺ) وُښ نِیمَئ نِیمَئ تقسیم کړئ .

[۲۷۴۷](۱۸) وَ اِن اِدّعْي كُلّ وَاحِدٍ مّنهُمَا نِكَاحَ اِمرَأةٍ وَ اَقَامَا اَلبَيّنَةَ لَم يُقضَ بِوَاحِدَةٍ مّنَ البَيّنَتَينِ وَيُرجَعُ اِلْي تَصدِيقِ المَرأةِ لاَحَدِهِمَا [۲۷۴۸](۱۹) وَ اِن اِدّعْي اِثنَانِ كُلّ وَاحِدٍ مّنهُمَا اَنّهُ اِشتَرْي مِنهُ هٰذَا

العَبدَ وَ اَقَامَا اَلبَيّنَةَ فَكُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا بِالخِيَارِ اِن شَاءَ اَخَذَ نِصفَ العَبدِ بِنِصفِ الثّمَنِ وَ اِن شَاءَ تَرَکَ .

[۲۷۴۷](۱۸) او که هر يوه د ښځي د نِکَاح دَعوَه وکړه او دواړو بَيّنَه قائم کړه نو ديوه پر بَيّنَه به فيصله نَه کيږي دښځي و تَصدِيق ته به رُجُوع کيږي د دواړو څخه دهسي يَوَه لپاره .
تشريح : يَوَه ښځه د دُوُ کسانو مَينَه نَه سي کېدلائي که چيري دواړو بَيّنَه قائم کړه نو و دواړوته نِيمَئ نِيمَئ مَينَه نَه شي ملاؤېدلائي.او دترجيح هيڅ يَوعلامت نشته. نوځکه اُوس به دښځي څخه پوښتنه کيږي چي تَه ديَو چَا مَينَه يې؟هغه چي دکوم چا تَصدِيق وکړي دهغه مَينَه به وګرزي .
وجه : د مېړه او مَيني دقبلولوڅخه نکاح صحيح کيږي نوځکه د دُوئي و تَصدِيق ته به رُجوع کيږي.البته که چيري ديوه بَيّنَه دا ثابتوي چي دده وَادَه مخکي ددې ښځي سره شوئ وُ اودبَل بَيّنَه دا ثابتوي چي دده وَادَه وروسته ددې ښځي سره شوئ وُ نو دهغه اَوّل مَينَه به وګرزي.ځکه چي په هغه وخت کي دبَل ګواه ددې شِي لپاره مُزَاحِم نَه وُ .
[۲۷۴۸](۱۹) که دَعوَه وکړه دُوُ کسانوچي د دُوئي څخه هر يوه دفُلاَنِي څخه دا غُلاَم اَخَستَئ دئ او دواړو بَيّنَه قائم کړه نو د دواړو څخه هر يوه ته اِختِيَار دئ که خُوَښَه سي نِيم غُلاَم دي په نِيم قيمت واخلي او که خُوَښَه سي پرې دې اِرِدِي .
تشريح : مثلاً زَيد او عُمر دواړه وايي چي خَالِد غُلاَم يې د سَاجِد بائع څخه رَانِيوَلئ
[۲۷۴۹](۲۰) فَاِن قَضْي القَاضِي بِهِ بَينَهُمَا فَقَالَ اَحَدُهُمَا لاَ اَختَارُ لَم يَکُن لِلآخَرِ اَن يَأخُذَ جَمِيعَهُ .

دئ.او دواړو بَيّنَه پيش کړل او دواړو دمُقَدّم او مُؤخّر تاريخ بَيّنَه هم نَه ده پيش کړې بلکه د دواړو تاريخ هم يَو دئ.نو چي کله د يوه بَيّنَه هم ترجيح نَه لري نو دا فيصله به کيږي چي نِيمَئ نِيمَئ غُلاَم دواړو رَانِيوَلَئ دئ او پر دواړو باندي نِيمَئ نِيمَئ قيمت لازم دئ.اُوس که خُوَښَه سي نِيمَئ قيمت دي ورکړي نِيمَئ غُلاَم دي رانيسي او که خُوَښَه سي پرې دې اِرِدِي .
وجه : مخته حديث تېرشوئ دئ چي کله د دواړو بَيّنَه سره برابره برابره وي او دترجيح هيڅ يَو علامت نَه وي نو و دواړو ته به نِيمَئ نِيمَئ ورکوي. عَن اَبِي مُوسْي الاَشعَرِيّ ... اَنّ رَجُلَينِ اِدّعَيَا بَعِيراً عَلْي عَهدِ النّبِيّ (ﷺ) فَبَعَثَ کُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا شَاهِدَينِ فَقَسّمَهُ النّبِيّ (ﷺ) بَينَهُمَانِصفَينِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب الرجلين يدعيان شيئا وليس بينهما بيّنة ص ۱۵۳ نمبر۳۶۱۵) په دې حديث کې و دواړو ته نِيمَئ نِيمَئ ورکړئ دسئ .

[۲۷۴۹](۲۰) چې کوم وخت قاضي د دواړو ترمینځ دهغه شي فیصله وکړه نو د دُوئي څخه یوه وویل چې زَه نَه اَخلَم نو د دُویَم لپاره جواز نشته چې ټوله واخلي .
تشریح : قاضي د دواړو لپاره د نِیمَئ نِیمَئ غُلاَم فیصله وکړه.اُوس یَو فریق وایي چې زَه نِیمَئ غُلاَم نَه اَخلَم نو دُویَم فریق ته دا حق نشته چې ټوله غُلاَم واخلي.البته که چیرې په نوې بَیعَ سره دا پاته نِیمَئ غُلاَم د بائع څخه رانیوئ نو بیا ټوله غُلاَم اَخَستَلاَئي شي .
وجه : چې د دُویَم فریق په حَق کي د نِیمَئ غُلاَم فیصله شوې ده نو دده لپاره د نِیمَئ

حاشیه:(الف) د حضور (ﷺ) په زَمَانَه کي دُو کسانو د یوه وُښ په اړه دَعوَه وکړه.بیا هر یَوَه دُوَه دُوَه ګواهان رَاوَاستَوَل(پیش کړل) نو حضور (ﷺ) وُښ نِیمَئ نِیمَئ تقسیم کړئ .

[۲۷۵۰](۲۱) وَ اِن ذَکَرَ کُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا تَارِیخًا فَهُوَ لِلاَوّلِ
[۲۷۵۱](۲۲) وَ اِن لَم یَذکُر تَارِیخًا وَ مَعَ اَحَدِهِمَا قَبضٌ فَهُوَ اَولٰي بِهِ .

غُلاَم بَیعَ شوې ده د ټوله (پوره) غُلاَم بَیع نَه ده شوې.لِهٰذَا پوره غُلاَم نَه شي اخستلائي.د دغه پاته نِیمَئ حِصّې لپاره به د سَر څخه نوې بَیع کوي .
اصول : د قاضي فیصله چې د غُلاَم د څومره حِصّې په حَق کي شوې وي د غُلاَم د هغونه حِصّي بَیعَ صحیح کیږي .
[۲۷۵۰](۲۱) که د دواړو فریق څخه هر یوه تاریخ ذِکر کړئ نو هغه به و مُقَدّم تاریخ والا ته ملاؤیږي .
تشریح : دواړو فریقینُ پر غُلاَم باندي دَعوَه وکړه چې مَا د فُلاَنِي څخه پوره غُلاَم رانیولئ دئ.او دواړو ګواهان پیش کړل او تاریخ یې هم ذِکر کړئ نو د کوم چاچي تاریخ مُقَدّم وي غُلاَم به هغه ته ملاؤیږي .
وجه : (۱) په کوم مُقَدّم تاریخ چې یوه فریق د رَانِیوُلُو دَعوَه وکړه په هغه تاریخ کي بَل فریق مُزَاحِم نشته نو ځکه دهغه بَیعَ صحیح شوه او غُلاَم دهغه مِلکِیّت شو. اُوس د دُویَم بیع نَه صحیح کیږي (۲) په حدیث کي ددې ثبوت شته. عَن سَمُرَةَ بِنِ جُندُبٍ عَنِ النّبِيِّ (ﷺ) قَالَ اِذَا بِیعَ البَیعُ مِن رَجُلَینِ فَالبَیعُ لِلاَوّلِ (الف) (ابن ماجه شریف.باب اشتراط الخلاص ص۳۳۵نمبر۲۳۴۴ کتاب الاحکام) په دې حدیث کي دئ چې پر کوم چاچې اَوّل او مخکي خرڅ کړئ بَیعَ دهغه سره وشوه.نوځکه د کوم چاچي تاریخ مُقَدّم وُ بیع دهغه سره صحیح شوه.لِهٰذَا اُوس د دُویَم سره نَه صحیح کیږي .
[۲۷۵۱](۲۲) او که دواړو تاریخ بیان نَه کړئ او د دُوئي څخه دیوه قبضه وي نو هغه اَولٰي دئ .

حاشیه:(الف) حضور (ﷺ) وفرمایل که پر دُوُو کسانو شَئ خرڅ کړئ نو بَیعَ د اَوّلَنِي لپاره وشوه .

[۲۷۵۲](۲۳) وَ اِن اِدّعْي اَحَدُهُمَا شِرَاءً وَ الآخَرُ هِبَةً وَقَبضًا وَاَقَامَا اَلبَيّنَةَ وَلاَتَارِيخَ مَعَهُمَا فَالشِّرَاءُ اَولْي مِنَ الآخَرِ .

وجه : (۱) كه تاريخ ذِكر كړئ وائ نو بيا خو به تاريخ ته كتل كېدلائي چي د كوم يَوَه تاريخ مُقَدّم دئ دهغه په حق كي به د غُلاَم فيصله شوې وائ لېكن يَوَه هم تاريخ نَه دئ ذِكر كړئ.البته ديوه فريق پر غُلاَم باندي قبضه هم شته نو قبضه ددې خبري علامت دئ چي دغه فريق مخكي او مُقَدّم رانيولئ دئ ځكه خو دده قبضه راغلي ده.او دده سره بَيعَ تَام شوې ده ځكه خو غُلاَم دده په قبضه كي دئ.لِهْذَا دغُلاَم قبضه به دده وي (۲) په حديث كي ددې ثبوت شته. عَن جَابِرِبنِ عَبدِاللهِ اَنّ رَجُلَينِ تَدَاعَيَا بِدَابّةٍ فَاَقَامَ كُلّ وَاحِدٍمّنهُمَا اَلبَيّنَةَ اَنّهَا دَابّتُهُ فَقَضْي بِهَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لِلّذِي هِيَ فِي يَدِهِ (الف) (سنن للبيهقي.باب المتداعِيَين يتنازعان شيئًافي يَداحدهماويقيم كُلّ واحدمّنهماعلْي ذالک بيّنةً ج۱۰ص۴۳۳نمبر۲۱۲۲۳) په دې حديث كي دئ چي د كوم چا چي قبضه وه وهغه ته مِن وَجهٍ ترجيح حاصله وه نوځكه خو حضور (ﷺ) د حيوان فيصله دهغه په حَق كي وكړه .

[۲۷۵۲](۲۳) كه يوه د رَانِيوُلُو دعوه وكړه اوبَل دهِبَه او دواړو قبضه وكړه او دواړو بَيّنَه قائم كړه او د دواړو سره تاريخ نشته نو رَانِيوَل اَولْي دئ تر هغه بَل .

تشريح : دُوَه كسان دَعوَه كوي چي دفُلاَنِي څخه وُصُول كړئ دئ لېكن يَو سړئ دَعوَه كوي چي دفُلاَنِي څخه رَانِيوَلَئ دئ او دُويَم سړئ دَعوَه كوي چي فُلاَنِي مَاتَه په هِبَه كي راكړئ دئ.او دواړو قبضه هم كړې ده.او پر خپله خپله دَعوَه يي بَيّنَه پېش كړل.لېكن د يوه سره هم د رَانِيوُلُو او هِبَه كولو تاريخ نشته چي كوم يوه اَوّل رَانِيوَلَئ دئ او كوم يَوه ته وروسته هِبَه شوئ دئ؟ نو په داسي صورت كي و شِرَاء

حاشيه:(الف) حضرت جابر وفرمايل چي دُوُ كسانو د يوې وُښي په اَرَه خپل خصومت حضور (ﷺ) ته رَاوړَئ.نو دواړو وويل دغه وُښَه دده په كُور كي پيدا شوې ده او گواه يي پېش كړئ نو حضور (ﷺ) دهغه په حق كي فيصله وكړه د كوم چا په قبضه كي چي وَه .

[۲۷۵۳](۲۴) وَ اِن اِدّعْي اَحَدُهُمَا الشِّرَاءَ وَ اِدّعَت اِمرَأةٌ اَنّهُ تَزَوّجَهَا عَلَيهِ فَهُمَا سَوَاءٌ .

يعني رَانِيوُلُو ته ترجيح حاصل ده او مَال به دهغه چاوي كوم چاچي رَانِيوَلَئ دئ چاته چي هِبَه شوئ دئ دهغه نَه دئ .

وجه : رَانِيوَل يعني شِرَاء د هِبَه څخه مضبوط او قَوِي تَر دئ.ځكه چي په رَانِيوُلُو كي د دواړو خُوَاوُ څخه مَال موجود دئ او په هِبَه كي ديوې خُوَا څخه مَال دئ او اِحسَان دئ او دبَل طرف څخه مَال نشته.نوځكه رَانِيوَل زيات مضبوط او قَوِي دئ.لِهْذَا دهغه چابه وي كوم چاچي رَانِيوَلَئ دئ .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چې رَانِيوَل تر هِبَه زيات قَوِي دئ .
[۲۷۵۳](۲۴) که د دواړو څخه يَوَه د رَانِيوُلُو دَعوَه وکړه او بښي دَعوَه وکړه چې پر دغه باندي ده زُومَا سره وَادَه کړئ دئ نو دا به د دواړو تر مينځ برابر وي .
تشريح : مثلاً يوه دَعوَه وکړه چې فُلاَنِي پر مَا باندي غُلاَم خرڅ کړئ دئ او بښه دَعوَه کوي چې ده خو زُومَا سره وَادَه کړئ دئ دمَهر په بَدلَه کې غُلاَم مَاتَه راکړئ دئ.نو د دواړو درجه سره برابره ده او غُلاَم به د دواړو تر مينځ نِيمَئ نِيمَئ وي .
وجه : رَانِيوَل او مَهر دواړه د قُوّت په درجه کي سره برابر دي.ځکه چې په رَانِيوُلُو کي په دواړو خُوَاوُ کي مَال دئ او په مَهر کي يوه خُوَا ته مَال دئ او دُويَم طرف ته بُضعَه ده چې هغه هم ګواکه مَال دئ لِهْذَا که بَل عَلاَمَت نَه وي نو دواړه سره برابر دي .
اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چې رَانِيوَل او مَهر دواړه په درجه کي سره برابر دي .
فائده : امامِ محمّد فرمايي چې رَانِيوَل تر مَهر ډېر ښَه دئ.ځکه چې په رَانِيوُلُو کي غُلاَم متعيّن کول ضروري وي او په مَهر کي که چيري دبَل چا غُلاَم متعيّن کړي او
[۲۷۵۴](۲۵) وَ اِن اِدّعْي اَحَدُهُمَا رَهنًا وَ قَبضًا وَ الآخَرُ هِبَةً وَقَبضًا فَالرّهنُ اَولْي [۲۷۵۵](۲۶) وَاِن اَقَامَ الخَارِجَانِ البَيّنَةَ عَلْي المِلکِ وَالتّارِيخِ فَصَاحِبُ التّارِيخِ الاَقدَمِ اَولْي .

بيا دهغه قيمت اداء کړي نو هم کار چليږي.نوځکه کوم چې د رَانِيوُلُو دعوه کړې وي هغه ته به غُلاَم ورکوي او کوم چاچې د مَهر دَعوَه کړې وي هغه ته به د غُلاَم قيمت ورکوي .
اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چې رَانِيوَل او مَهر دواړه په درجه کي سره برابر دي .
[۲۷۵۴](۲۵) که يوه دَعوَه وکړه د رِهن او دقبضې او بَل د هِبې او دقبضې نو رِهن اَولْي دئ .
تشريح : د رِهن په بَدلَه کي د مُرتَهِن قرض وي نوځکه هغه دبَدلې شئ سو او دهبې په بَدلَه کي هيڅ شَئ نَه وي نوځکه هغه تر رِهن کمزورئ سو لِهْذَا که يوه د رِهن دَعوَه وکړه او دُويَم دهبې دعوه وکړه او هيڅ يو علامت نَه وي نو دغُلاَم فيصله به د رِهن والا په حَق کي کيږي .
اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چې په کوم ځائ کي چې د دواړو خُوَاوُ څخه بَدلَه وي هغه زيات قوي دئ او په کوم ځائ کي چې د يوې خُوَا څخه مَال وي او دهغه په بَدلَه کي هيڅ شَئ نَه وي نو هغه کمزورئ دئ .

[۲۷۵۵](۲۶) که دُوُ خارِجُ پر مِلکِیّت او تاریخ باندي بَیّنَه قائم کړه نو مُقَدّم تاریخ والا زیات ېهتَر دئ .

تشریح : شَئ د بَل دَرَیَم سړي په لاَس(قبضه)کي وُ ددې دُواړُو په لاَس کي نَه وُ نوځکه دې دواړو ته خَارِج ویل کیږي.دې دواړو دَعوَه وکړه چي دا شَئ زُومَا مِلکِیّت دئ او دواړو تاریخ هم بیان کړئ نو د کوم چا تاریخ چي مُقَدّم وي د شِي

[۲۷۵۶](۲۷) وَ اِن اِدّعَیَا الشِّرَاءَ مِن وَاحِدٍ وَ اَقَامَا اَلبَیّنَةَ عَلْي تَارِیخَینِ فَالاَوّلُ اَولْي .

فیصله به د هغه په حَق کي کیږي .

وجه : (۱) د کوم چا تاریخ چي مُقَدّم وي مثلاً یَو وایي چي د رُوژې د میاشتي په اَوّل تاریخ زَه ددې شِي مَالِک شوئ یَم او دُویَم وایي چي د رُوژې د میاشتي په اُوَم تاریخ زَه ددې شِي مَالِک شوئ یَم.نو یقیني خبره ده چي د رُوژې دمیاشتي د اَوّل تاریخ والا مِلکِیّت لُومړئ (مخکي) دئ او چي کله دده مِلکِیّت راغلئ نو دهغه دُویَم مِلکِیّت نَه شي ثابتېدلائي نو ځکه دهغه اَوّلَنِي په حق کي به فیصله کیږي (۲) په حدیث کي ودې ته اِشَارَه شوې ده.عَن سَمُرَةَ بِنِ جُندُبٍ عَنِ النّبِیّ (ﷺ) قَالَ اِذَا بِیعَ البَیعُ مِن رَجُلَینِ فَالبَیعُ لِلاَوّلِ (الف) (ابن ماجه شریف.باب من اشترط الخلاص ص۳۳۵نمبر۲۳۴۴) په دې حدیث کي دئ چي کوم چا مخکي بَیعَ کړې وي شَئ دهغه دئ.قیاس پر دغه قاعده دکوم چا تَارِیخ چي مخکي وي شَئ به دهغه وي .

[۲۷۵۶](۲۷) که دواړو د یوه سړي څخه د رَانِیوُلُو دعوه وکړه او دواړو پر دُوُ تاریخُ باندي بَیّنَه قائم کړه نو هغه اَولْي دئ چي تاریخ یي مُقَدّم وي .

تشریح : په تېره مسئله کي مُطلَقًا دمِلکِیّت عوه وه نوځکه په دې مسئله کې د رَانِیوُلُو د لاَرِي د مِلکِیّت دعوه وکړه او دواړو دُوَه تاریخونه وَښُودَل نو دکوم چاچي تاریخ مُقَدّم وي شَئ به دهغه وي .

وجه : (۱) کوم چاچي اَوّل د رَانِیوُلُو ثبوت وُړَاندِي کړئ شَئ دهغه مِلکِیّت وګرزېدئ وروسته رَانِیوُنکئ سړئ به اُوس چِش رانیسي؟نوځکه د اَوّل لپاره به د رَانِیوُلُو فیصله کیږي (۲) حدیث په مسئله نمبر۲۶ کي تېرشوئ دئ فَالبَیعُ لِلاَوّلِ (ابن ماجه شریف.نمبر۲۳۴۴) (۳) یو بَل حدیث دئ عَن اَسمَرَ بِنِ مَضرَسَ عَنِ النّبِیّ(ﷺ)

حاشیه:(الف) حضور (ﷺ) وفرمایل که پر دُوُو کسانو شَئ خرڅ کړئ نو بَیعَ د اَوّلَنِي لپاره وشوه .

[۲۷۵۷](۲۸) وَ اِن قَامَ کُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا بَیّنَةً عَلْي الشِّرَاءِ مِنَ الآخَرِ وَ ذَ کَرَا تَارِیخًا فَهُمَا سَوَاءٌ .

مَن سَبَقَ اِلٰي مَا لَم يَسبِقهُ اِلَيهِ مُسلِمٌ فَهُوَ لَهُ يُرِيدُ بِهِ اَحيَاءَ المَوَاتِ (الف) (سنن للبيهقي.باب القاضي يقدم النّاس الأوّل فَالأوّل الخ ج١٠ص٢٣٥نمبر٢٠٤٨٤) .

[٢٧٥٧](٢٨) كه د دواړو څخه هر يوه پر رَانِيوُلُو بَيّنَه قائم کړه دبَل چاڅخه او دواړو تاريخ بيان کړئ نو دواړه سره برابر دي .

تشريح : دُوُ کسانو د رَانِيوُلُو دعوه وکړه او هر يوه وويل چي مَا د بَل چا څخه رَانِيوَلَئ دئ.مثلاً زَيد وويل چي مَا دا غُلاَم دخَالِد څخه رَانِيوَلَئ دئ او عُمَر وايي چي مَا دا غُلاَم د مَاجِد څخه رَانِيوَلَئ دئ او دواړو يَو تاريخ بيان کړئ نو د دواړو درجه سره برابره ده .

وجه : (١) چي زَيد وايي د خَالِد څخه مِي رانيولئ دئ او عُمَر وايي چي دمَاجِد څخه مِي رانيولئ دئ نو دواړو په يوه وخت کي دخپل خپل بَائِع لپاره مِلکِيّت ثابت کړئ او بَل هيڅ دَوَل علامت نشته چي يوه طرف ته ترجيح ورکول شي نوځکه دواړه په درجه کي سره برابر شو او د دواړو لپاره به د نِيمَئ نِيمَئ غُلاَم فيصله کيږي د نِيمَئ نِيمَئ قيمت په بَدلَه کي.او دواړو ته به اختيار وي که خُوښَه شي نو نِيمَئ غُلاَم دي د نِيمَئ قيمت په بَدلَه کي واخلي او که خُوښَه شي پرې دې اِږدِي (٢) حديث تېرشوئ دئ. عَن اَبِي مُوسٰي الأَشعَرِيّ ... اَنّ رَجُلَينِ اِدّعَيَا بَعِيراً عَلٰي عَهدِ النّبِيّ (ﷺ) فَبَعَثَ كُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا شَاهِدَينِ فَقَسّمَهُ النّبِيّ (ﷺ) بَينَهُمَانِصفَينِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب الرجلين يدعيان شيئا وليس بينهما بيّنة ص ١٥٣ نمبر٣٦١٥) ددې حديث

حاشيه:(الف) دحضور (ﷺ) څخه نَقَل شوئ دئ چي يَوه سړي هغه شَئ واخستئ چي هغه ته د بَل مسلمان لاَس نَه دئ رسېدلئ نو هغه شئ دهغه چا ګرزي.ددې څخه مراد اخستئ دئ چي شَړَه مځکه آبادَوَل.يعني څوک چي شَړَه مځکه آباد کړي هغه دده مِلکِيّت ګرزي (ب) د حضور (ﷺ) په زَمَانَه کي دُوُ کسانو د يوه وُښ په اړه دَعوَه وکړه.بيا هر يَوَه دُوَه دُوَه ګواهان رَاوَاستَوَل(پېش کړل) نو حضور (ﷺ) وُښ نِيمَئ نِيمَئ تقسيم کړئ .

[٢٧٥٨](٢٩) وَ اِن اَقَامَ الخَارِجُ اَلبَيّنَةَ عَلٰي مِلکٍ مُؤرّخٍ وَ اَقَامَ صَاحِبُ اليَدِ اَلبَيّنَةَ عَلٰي مِلکٍ اَقدَمَ تَارِيخًا كَانَ اَولٰي .

څخه معلوم شوچي د ترجيح هيڅ علامت نَه وي نو بيابه دواړو ته نيمَئ نيمَئ ملاوُيږي .

[٢٧٥٨](٢٩) که خَارِج بَيّنَه قائم کړه پر مُؤرّخ مِلکِيّت باندي او دقبضې والا بَيّنَه قائم کړه پر مِلکِيّت باندي چي د تاريخ په لحاظ مُقَدّم دئ نو دغه به اَولٰي وي .

تشريح :/ وجه : (١) د کوم چا په قبضه کي چي شَئ نَه وُ چي خَارِج ورته ويل کيږي هغه پر دې باندي بَيّنَه قائم کړه چي دا دده مِلکِيّت دئ او دَاوَل تاريخ يې بيان کړئ چي وروسته د مِلکِيّت ثبوت ګرزي.او د کوم چا په قبضه کي چي شَئ موجود وُ چي ذِي اليَد ورته ويل کيږي هغه پر خپل مِلکِيّت باندي د دَاوَل تاريخ بَيّنَه پېش کړه چي هغه تاريخ ددې څخه مخکي دئ نو په داسي صورت کي به د ذِي اليَد او دقبضې والا

بَيِّنَه ته ترجيح حاصلَ وي.هسي خو هم دئ ذِي اليَد او دقبضې والا دئ نو دئ مُدّعْي عَلَيهِ دئ.نوځکه پر ده باندي قَسَم اخستل لازم دئ بايد دده بَيِّنَه ته اِعتِبَار ورنَه شي.د خَارِج بَيِّنَه بايد مُعتَبَره شي ځکه چي هغه مُدّعِي دئ.لېکن ددې عَام قاعدې څخه علاوه په دې مسئله کي دا نُکتَه شته چي دقبضې وَالا تاريخ مُقَدّم دئ نوځکه ډېر اِمکَان شته چي دده مِلکِيّت مخکي راغلئ وي.او چي کله دده د مِلکِيّت پر وَخت دبَل چا مِلکِيّت مُزَاحِم نَه دئ نو د هغه چا ګواهي ته به ترجيح حاصل وي د چاچي تاريخ مُقَدّم وي او دهغه لپاره به دهغه شِي فيصله کيږي (۲) مخته دا حديث تېرشوئ دئ عَن سَمُرَةَ بِنِ جُندُبٍ عَنِ النّبِيِّ (ﷺ) قَالَ اِذَا بِيعَ البَيعُ مِن رَجُلَينِ فَالبَيعُ لِلاَوّلِ (الف) (ابن ماجه شريف. نمبر۲۳۴۴) (۳) يو بَل حديث هم دئ چي که دهيڅ چا مِلکِيّت نَه وي يا مِلکِيّت وي لېکن د يَو چا لاَس هغه ځائ ته

حاشيه:(الف) حضور (ﷺ) وفرمايل که پر دُوُو کسانو شَئ خرڅ کړئ نو بَيعَ د اَوّلَنِي لپاره ده .

مخکي ورسېدئ نو هغه شَئ دهغه چا مِلکِيّت ګرزي.دَلتَه د دې دُويَم سړي لاَس وروسته رسېدلئ دئ او د اَوّل سړي لاَس مخکي رسېدلئ دئ نو ځکه د اَوّلَنِي تاريخ والا بَيِّنَه به قَابِلِ قَبُول وي.حديث دادئ. عَن اَسمَرَ بِنِ مَضرَسَ عَنِ النّبِيِّ(ﷺ) مَن سَبَقَ اِلَي مَا لَم يَسبِقهُ اِلَيهِ مُسلِمٌ فَهُوَ لَهُ يُرِيدُ بِهِ اَحيَاءَ المَوَاتِ (الف) (سنن للبيهقي.باب القاضي يقدم النّاس الأوّل فَالأوّل الخ ج۱۰ص۲۳۵نمبر۲۰۴۸۴) په دې حديث کي دئ چي دکوم چا مِلکِيّت چي مخکي راغلئ فيصله به دهغه لپاره کيږي (۴) يَوَه نُکتَه دا هم ده چي که بِالفَرض دمِلکِيّت يو بَل وَاضِح او بښکار علامت موجود وي نو قاضي بَايَد هغه علامت ته هم وګوري او دهغه د لاَرِي څخه د اَصل مَالِک لپاره فيصله وکړي.په يوه حديث کي دغه شَئ په نَبتَه شوئ(په ګُوَتَه شوئ)دئ. فَبَعَثَ حُذَيفَةَ يَقضِي بَينَهُم فَقَضْي لِلّذِينَ يَلِيهِم القَمطَ فَلَمّا رَجَعَ اِلَي النّبِيِّ (ﷺ) اَخبَرَهُ فَقَالَ اَصَبتَ وَاَحسَنتَ (ب) (ابن ماجه شريف.باب الرّجلاَنِ يدعيان في خص ص۳۳۵نمبر۲۳۴۳) په دې حديث کي حضرت حُذَيفَه دهغه سړي په حق کي د کُودَئ فيصله کړې ده د چا چي د وُښ قَطَار هلته تَرَلَئ وُ.چي د وُښَانُ قَطَار يې نِژدې تَرَلَئ وي نو دا ددې خبري دليل دئ چي دغه کُودَئ نو هم دده ده.دغه رنګه چي تاريخ يې مُقَدّم وي نو دا هم ددې خبري علامت دئ چي دده مِلکِيّت لُومرَئ او اَوّل ثابت شوئ دئ.نوځکه که دئ مُدّعْي عَلَيهِ دئ خو ددې بَاوُجُود به دده وګواه ته ترجيح حاصل وي .

اصول : دکوم چا په حَق کي چي عَلاَمَتِ رَاجِحَه وي نو دهغه و ګواه ته به ترجيح ورکول کيږي .

حاشيه:(الف) دحضور (ﷺ) څخه نَقَل شوئ دئ چي يَوه سړي هغه شَئ واخستئ چي هغه ته د بَل مسلمان لاَس نَه دئ رسېدلئ نو هغه شئ دهغه چا ګرزي.ددې څخه مراد اخستئ دئ چي شَرَه مځکه آبادَوَل.يعني څوک چي شَرَه مځکه آباد کړي هغه دده مِلکِيّت ګرزي (ب) يوه قوم د کُودَئ جګړه دحضور (ﷺ) خِدمَت ته رَاوړَه نوحضرت حُذَيفَه يې د دُوئي ترمينځ د فيصلې لپاره وَاستَاوَئ.نو فيصله يې وکړه دهغه چا لپاره چي د کُودَئ سره يې

مُتّصِل(نِژدې)د وُښانُ قطار موجود وُ.نوچې کله حضور (ﷺ) ته وَاپَس راغلئ او هغه ته خَبَر ورکړئ نوحضور (ﷺ) وفرمایل صحیح کار دئ کړئ دئ.سَم کار دي کړئ دئ .

[۲۷۵۹](۳۰) وَ اِن اَقَامَ الخَارِجُ وَ صَاحِبُ اليَدِ كُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا بَيِّنَةً بِالنِّتَاجِ فَصَاحِبُ اليَدِ اَولٰي .

[۲۷۵۹](۳۰) که غَيرِقَابِض او قَابِض څخه هر يوه بَيِّنَه قائم کړه پر پَيدَائِش باندي نو قَابِض زِيَات بِهتَر دئ .

تشريح : مثلاً پر غُلاَم ديوه سړي قبضه وه او دبَل سړي قبضه نَه وه.دواړو پر دې خبره بَيِّنَه پيش کړل چې دا غُلاَم زُومَا په کُور کي پيدا شوئ دئ نو د کوم چاچي قبضه وي دهغه وګواه ته به ترجيح حاصل وي .

وجه : (۱) دَلتَه هم د قبضې والا مُدّعْي عَلَيهِ دئ او دکوم چاچي قبضه نشته هغه مُدّعِي دئ نو بَايَد د مُدّعِي ګواه وَمَنَل شي.ځکه چې دقبضې والا مُدّعْي عَلَيهِ دئ لِهٰذَا دده ګواه بَايَد وَنَه مَنَل شي.پر ده خو قَسَم لازميږي.لېکن دَلتَه يَو بَل علامت موجود دئ هغه دا چې غُلاَم دده په کُور کي پيدا شوئ دئ لِهٰذَا په دغه وجه به د قَابِض وګواه ته ترجيح ورکول کيږي (۲) په حديث کي دئ. عَن جَابِرَ اَنّ رَجُلَينِ اِختَصَمَا اِلَي النّبِيِّ (ﷺ) فِي نَاقَةٍ فَقَالَ كُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا نُتِجَت هٰذِهِ النّاقَةُ عِندِي وَاَقَامَ بَيِّنَةً فَقَضٰي بِهَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لِلّذِي هِيَ فِي يَدِهِ (الف) (سنن للبيهقي.باب باب المتداعيين يتنازعان شيئًافي يد احدهما ج۱۰ص۴۳۳نمبر۲۱۲۲۴) په دې حديث کي د وُښي د پيدائش دَعوَه ده نو دکوم چا چې قبضه وه حضور (ﷺ) دهغه په حَق کي فيصله وکړه .

لغت : اَلنِّتَاجُ : پيداکېدل .

حاشيه : (الف) حضرت جابر وفرمايل چې دُو کسانو د يوې وُښې په اَړه خپل خصومت حضور (ﷺ) ته رَاوړَئ.نو دواړو وويل دغه وُښَه دده په کُور کي پيدا شوې ده او ګواه يې پيش کړئ نو حضور (ﷺ) دهغه په حق کي فيصله وکړه د کوم چا په قبضه کي چې وَه .

[۲۷۶۰](۳۱) وَ كَذَالِكَ النّسجُ فِي الثِّيَابِ اَلّتِي لاَتُنسَجُ اِلاّ مَرّةً وَاحِدَةً وَكَذَالِكَ كُلّ سَبَبٍ فِي المِلكِ لاَيَتَكَرّرُ [۲۷۶۱](۳۲) وَ اِن اَقَامَ الخَارِجُ بَيِّنَةً عَلٰي المِلكِ المُطلَقِ وَصَاحِبُ اليَدِ بَيِّنَةً عَلٰي الشِّرَاءِ مِنهُ كَانَ صَاحِبُ اليَدِ اَولٰي .

[۲۷۶۰](۳۱) دغه رنګه په کپړو کي جوړېدل دئ چې نَه جوړيږي مګر يَو وار.او دغه رنګه په مِلکِيّت کي هر هغه سبب چې نَه مُکَرّر کيږي .

تشريح : لكه څه رنګه چې يَوحيوان صرف يَو وار پيدا کيږي.اُوس که ددې دَعوَه وکړي نو د ذِي اليَد ګواه ته اِعتِبَار دئ دغه رنګه د دَاوَل سبب دَعوَه وکړي چې هغه صرف يَو وار کېدلائي سي مثلاً کېږه صرف يَو وار وَودَل کيږي.اُوس دکېږي والا دَعوَه وکړي چې دا کېږه زُومَا ده ځکه چې دا مَا وَودَلي ده او پر دغه باندي بَيِّنَه قائم کړي نو دقَابِض ګواه ته به ترجيح ورکول کيږي او دکوم چا په قبضه کي چې نَه ده دهغه ګواه قَابِل د ترجيح نَه دئ .

وجه : (١) وَودَل او بيا دده په قبضه کي کېدل ددې خبري رَاجِح علامت دئ چې دئ دکېږې اَوّل(اُولمړئ)مَالِک دئ.حالانکه دئ مُدّعْي عَلَيهِ دئ.پر ده خو قَسَم لازميږي ګواه نَه لازميږي.خو بيا هم دده وګواه ته ترجيح حاصل ده (٢) حديث په مسئله نمبر ٣٠ کي تېرشوئ دئ .

لغت : اَلنّسجُ : کېږه وَودَل .

[٢٧٦١](٣٢) که غَيرِقَابِض پر مُطلَق مِلکِيّت باندي بَيّنَه قائم کړه او قَابِض دهغه څخه پر رَانِيوُلُو باندي بَيّنَه قائم کړه نو قَابِض اَولْي دئ .

تشريح : د چا په قبضه کي چې غُلاَم نه وُ چې خَارِج ورته ويل کيږي هغه بَيّنَه قائم کړه چې دا غُلاَم زُومَا دئ لېکن زَه په کومه وجه مَالِک ګرزېدلئ يَم رَانِيوَل يا هِبَه؟ دغه وجه بيان نَه کړه. و دې ته دمِلکِ مُطلَق دعوه ويل کيږي.او دکوم چا چې قبضه

[٢٧٦٢](٣٣) وَ اِن اَقَامَ کُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا اَلبَيّنَةَ عَلَي الشِّرَاءِ مِنَ الآخَرِ وَ لاَ تَارِيخَ مَعَهُمَا تَهَاتَرَ البَيّنَتَانِ .

وه يعني صَاحِبُ اليَد هغه يې دا وجه هم بيان کړه چې زَه په کومه وجه مَالِک ګرزېدلئ يَم يعني مَا دغَير قَابِض څخه دغه شَئ رَانِيوَلَئ دئ.و دې دَعوَه ته دمِلکِ مُقَيّد دعوه ويل کيږي.نو دا خو دمِلکِ مُقَيّد دعوه ده نو ځکه دده بَيّنَه ته به ترجيح حاصل وي.او ترتيب به دَاوَل ګڼل کيږي چې اَوّل د مِلکِ مُطلَق والا مِلکِيّت وُ وروسته قَابِض دهغه څخه رَانِيوَئ دئ.په دغه وجه خو دده قبضه ده.ددې ترتيب مطابق به دصاحب اليد په حق کي ددې شِي فيصله کيږي .

وجه : مخته حديث تېرشوئ دئ عَن جَابِرَ اَنّ رَجُلَينِ اِختَصَمَا اِلْي النّبِيّ (ﷺ) فِي نَاقَةٍ فَقَالَ کُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا نُتِجَت هٰذِهِ النّاقَةُ عِندِي وَاَقَامَ بَيّنَةً فَقَضْي بِهَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لِلّذِي هِيَ فِي يَدِهِ (الف) (سنن للبيهقي.باب باب المتداعيين يتنازعان شيئًا في يد احدهما ج١٠ص٤٣٣نمبر٢١٢٢٤) په دې حديث کي نُتِجَت هٰذِهِ النّاقَةُ عِندِي دمِلکِ مُقَيّددليل دئ او عَلاَمتِ رَاجِحَه دئ ددې په وجه به د مِلکِ مُقَيّد وګواه ته ترجيح حاصل وي .

[٢٧٦٢](٣٣) او که هر يوه دهغه بَل څخه پر رَانِيوُلُو باندي بَيّنَه قائم کړه او د دُوئي دواړو سره تاريخ نشته نو دواړې بَيّنې به ساقط شي .

تشريح : د يوه په قبضه کي غُلاَم دئ او دهغه بَل په قبضه کي نشته.اُوس يوه بَيِّنَه قائم کړه چي مَا دا غُلاَم دمَاحِد څخه رَانِيوَلَئ دئ او هغه دُويَم بَيِّنَه قائم کړه چي مَا دخَالِد څخه رَانِيوَلَئ دئ.دا چي کوم يَوَه اَوّل رَانِيوَلَئ دئ او کوه يَوَه وروسته رَانِيوَلَئ دئ؟ دا تاريخ يې معلوم نَه دئ نو د دواړو بَيِّنې به ساقط شي او غُلاَم چي د کوم چاپه قبضه کي دئ دهغه په قبضه کي به پاته وي .

حاشيه : (الف) حضرت جابروفرمايل چي دُو کسانو ديوي وُښي په اَرَه خپل خصومت حضور (ﷺ) ته رَاوړَئ. نو دواړو وويل دغه وُښَه دده په کُور کي پيدا شوې ده او گواه يې پيش کړئ نو حضور (ﷺ) دهغه په حق کي فيصله وکړه د کوم چا په قبضه کي چي وَه .

[۲۷۶۳](۳۴) وَ اِن اَقَامَ اَحَدُ المُدّعِيَينِ شَاهِدَينِ وَ الآخَرُ اَربَعَةً فَهُمَا سَوَاءٌ .

وجه : دَلتَه دواړو د مِلکِ مُقَيّد دعوه کړې ده او د رَانِيوُلُو تاريخ ديوه سره هم نشته نوځکه د يوه سره هم عَلاَمَتِ رَاجِحَه نشته لِهْذَا د دواړو بَيّنې به ساقط شي .

فائده : اِمَامِ مُحمّد (ؒ) فرمايي چي دواړو د مِلکِ مُقَيّد دعوه کړې ده نوځکه د مِلکِ مُقَيّد دعوه بېکاره او بې معنْي ده.نو اُوس به داوي چي غَيرقَابِض مُدّعِي دئ او قَابِض مُدّعْي عَلَيهِ دئ لِهْذَا دمُدّعِي گواه به مَنَل کيږي دهغه په حَق کي به فيصله کيږي.او ترتيب به دَاوَل متعيّن کوو چي اَوّل ذِي اليَد دخپل بَائِع څخه رَانِيوَلَئ دئ بيا ذِي اليَد دخَارِج پر بائع باندي خرڅ کړئ بيا خَارِج يعني غَيرقَابِض دخپل بائع څخه هغه شَئ رَانِيوَئ لِهْذَا دغه شَئ به اُوس دغَيرقَابِض مِلکِيّت گرزي .

لغت : تَهَاتَرَت : ختم کېدل.ساقطېدل .

[۲۷۶۳](۳۴) که يوه مُدّعِي دُوَه گواهان قائم کړل او بَل مُدّعِي څلور گواهان قائم کړل نو د دواړو درجه سره برابره ده .

تشريح : دوه گواهان مُکمّل سو دهغه وروسته چي کوم گواهان زيات راغلو هغه صِرف د تائيد لپاره دي. د اَصلِيّت په لحاظ دغه کوم اِعتِبَار نَه لري. لِهْذَا که يوه مُدّعِي دُوَه گواهان پيش کړل او هغه بَل مُدّعِي څلور گواهان پيش کړل نو ددې دُو زائدُ گواهانُ په وجه په فيصله کي کوم فرق نَه رَاځِي.د طرفينُ د گواهانُ درجې سره برابري دي .

وجه : (۱) په اَثَر کي دئ. کَتَبَ عَبدُالرّحمْنُ بِنِ اُذَينَةَ اِلْي شُرَيحٍ فِي نَاسٍ مِّنَ الاَزدِ اِدّعُوا قِبَلَ نَاسٍ مِّن بَنِي اَسَدٍ قَالَ وَاِذَا غَدَا هْؤلاَءِ بَيّنَةً رَاحَ اُولْئِکَ بِاَکثَرَ مِنهُم قَالَ فَکَتَبَ اِلَيهِ لَيسَت مِنَ التّهَاتُرِ وَالتّکَاثُرِ فِي شَئٍ. اَلدّابّةُ لِمَن هِيَ فِي اَيدِيهِم اِذَا قَامُوا اَلبَيّنَةَ. او په يوه بَل روايت کي راغلي دي عَن عَلِيٍّ اَنّهُ لاَيُرَجّحُ بِکَثرَةِ العَدَدِ

[۲۷۶۴](۳۵) وَمَن اِدّعْي قِصَاصًا عَلْي غَيرِهِ فَجَحَدَ اُستُحلِفَ فَاِن نَکَلَ عَنِ اليَمِينِ فِيمَا دُونَ النّفسِ لَزِمَهُ القِصَاصُ وَ اِن نَکَلَ فِي النّفسِ حُبِسَ

حَتّٰي يُقِرّ اَو يَحلِفَ وَ قَالَ اَبُويُوسُفَ وَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰي يَلزِمُهُ الاَرشُ فِيهِمَا .

(الف) (سنن للبيهقي.باب من قال لايرجح في الشهود بكثرة العددج۱۰ص۴۳۴نمبر۲۱۲۲۷) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې د دُوُ ګواهانُ وروسته د عَدَد قِلّت او ګڼرَت هيڅ اعتبار نَه لري .
[۲۷۶۴](۳۵) يوچا پر بَل چا د قِصَاص دعوه وکړه.هغه انکار وکړئ نو قَسَم به ورکول کيږي.نو که چيري د نَفس څخه په علاوه کي دقَسَم څخه انکار وکړئ نو پر هغه قِصَاص لازم دئ.او که اِنکار وکړئ دنَفس په لَړ کي نو قَيد کوي به تر هغه وخته چې اِقرَار وکړي يا قَسَم واخلي.او صاحبين() فرمايي چې په دواړو صورتو کي دِيَت پر لازم دئ .
تشريح : يوه سړي پر بَل سړي دقِصَاص دعوه وکړه. د دَعوَه کونکي سره بَيِّنَه نشته نو دمُدّعْي عَلَيهِ څخه به قَسَم اخستل کيږي.که چيرى دقَسَم څخه انکار وکړئ نو بيابه کتل کيږي چې د نَفس د قِصَاص په اړه دَعوَه ده او که د اَعضَاء دقِصَاص په اړه دعوه ده؟ که چيري دنَفس څخه علاوه يعني د اَعضَاء دقصاص په اړه دعوه وه نو د امام ابوحنيفه() په نږ د اَعضَاء درجه د مَال درجه ده.نولکه څَه رنګه چې په مَال کي بَذَل کولائي شي يعني چې دقَسَم اخستلو څخه اِنکَار وکړي نو داسي به ګڼل کيږي

حاشيه : (الف) حضرت عبدالرّحمٰن بن اذينه د اَزد دخلګو په اړه وحضرت شريح ته وليکل چې د بني اَسد پر خلګو يې دعوه کړې وه.فرمايي چې کوم وخت دې خلګو بَيِّنَه پيش کړه نو هغو خلګو ددې څخه زياته بَيِّنَه پيش کړه.فرمايي چې قاضي شريح و دُوئي ته وليکل چې د دَعوې زياتوالئ اِعتِبَار نَه لري.حيوان دهغه دئ دکوم چا په قبضه کي چې دئ که هغه بَيِّنَه قائم کړه.په يوه بَل روَايَت کي راغلي دي.حضرت علي فرمايي چې د عَدَد په دِبرَښت سره به ترجيح نَه ورکول کيږي .
لکه چې دا مَال سَتَا خو نَه وي لېکن چلو زَه تَاتَه درکوم.دغه رنګه د اَعضَاء په باب به هم وي چې په اَعضَاء کي خو قصاص نشته لېکن چلو دقصاص لپاره دغه عُضوَ پرې کړه دا کولائي شي.لکه د آپرېشن په وخت کي چې د عُضوِ د پرېکېدو اِجَازَت ورکوي.دغه رنګه دقِصَاص لپاره د پرېکېدلو اِجَازَت ورکولائي شي او بَذَل کولائي شي. لِهٰذَا که مُدّعِي د قَسَم څخه انکار وکړئ نو ددې مطلب بَذَل دئ چې پر مَا خو قِصَاص نشته لېکن چلو زُومَا عُضو پرې کړه .
او که دقِصَاص دَعوَه دنَفس په اړه وي نو نَفس د مَال په درجه کي نَه دئ.په دي کي بَذَل نَه چليږي.هيڅ يَو څوک دا نَه شي ويلائي چې پر مَا خو قِصَاص نشته لېکن چلو زُومَا نَفس ختم کړه.يعني مَا قتل کړه.نوځکه دنَفس دقِصَاص په اړه کې قَسَم ورکړئ او هغه دقَسَم څخه انکار وکړئ نوفَوراً قصاص نَه لازميږي بلکه مُدّعْي عَلَيه به قَيد کوي چې يا خو دقِصَاص اِقرَار وکړي يا قَسَم واخلي چې پر مَا باندي قِصَاص نشته.ددې لپاره چې که اِقرَار وکړئ نو قصاص به لازم شي او که قَسَم واخستئ اِنکَار يې وکړئ نو قِصَاص به سَاقِط شي .

فائده : صاحبين ؒ فرمايي چي قِصَاص كه د عُضو وي كه دنَفس وي قِصَاص خو قِصَاص دئ.او قِصَاص په شُبهَه سره ساقطيږي.چي مُدّعْي عَلَيهِ دقَسَم څخه انكار وكړئ نو ددې مطلب داسو چي دحَال په ژَبَه دا اِقرَار كوم چي پر مَا باندي قصاص شته.او دحَال په ژَبَه په اِقرَار كولو كي شُبهَه شته چي زَه د قصاص اِقرَار كوم.او چي شُبهَه راغله نو نَه خو دنَفس قصاص ثابتيږي او نَه د عُضوِ قصاص ثابتيږي.البته د حَال په ژَبَه د مُدّعِي دخبري اِقرَار كړئ دئ نوځكه دنَفس يا دعُضو په بَدلَه كي به دِيَت لازم شي.او دِيَت خو مَال دئ نوځكه كه چيري په اِقرَار كي شُبهَه وي هم هغه لازميږي.ځكه چي مَال خو دشُبهې سره هم ثابتيږلائي شي .

اصول : د امام ابوحنيفه ؒ په نيز په بعضو ځايو كي عُضو هم دمَال په درجه كي ده. د صاحبين ؒ په نيز عُضو دمَال په درجه كي نَه ده .

[٢٧٦٥](٣٦) وَ اِذَا قَالَ المُدّعِي لِي بَيّنَةٌ حَاضِرَةٌ قِيلَ لِخَصمَهِ اَعطِهِ كَفِيلاً بِنَفسِكَ ثَلاَثَةَ اَيّامٍ فَاِن فَعَلَ وَ اِلاّ اُمِرَ بِمُلاَزَمَتِهِ اِلاّ اَن يَكُونَ غَرِيبًا عَلْي الطّرِيقِ فَيُلاَزِمَهُ مِقدَارَ مَجلِسِ القَاضِي .

لغت : اَلاَرشُ : دعُضوِ دِيَت.دعُضوپه بدله كي مَال.

[٢٧٦٥](٣٦) كه مُدّعِي وويل چي زُومَا بَيّنَه حاضر ده نو دده وخَصَم ته به ويل كيږي چي ده ته تر دُرُو ورځو پوري كَفِيل بِالنّفس وركړه.كه چيري دغه دَوَل وكړل خو بنَه خبره ده كه نَه نو به دده د نِګرَانَئ كولو حُكم وركول كيږي مګر كه چيري د لاَرِي مُسَافِر وُ نو دهغه نِګرَانِي به د مَجلِسِ قَضَاء په اَندَازَه كوي .

تشريح : اُصُول خو دادئ چي دمُدّعِي سره ګواه نَه وي نو مُدّعْي عَلَيهِ ته قَسَم وركړي او چي هغه قَسَم واخلي نو دهغه په حَق كي فيصله وكړي لېكن دَلتَه خو ګواه موجود دئ.لېكن په بنَار كي دئ نودهغه په رَاوَستَلُو او حاضرولوكي به تَأخِير كيږي.نوځكه صرف په دَعوَه سره به مُدّعْي عَلَيهِ مجبوره كوي چي كَفِيل بِالنّفس وركړه چي داسي نَه وي چي دګواه تر حاضرولو پوري مدعْي عليه وَنَه تَبتي.لِهْذَا تر دُرُو ورځو پوري دي كَفِيل بِالنّفس وركړي كه چيري بِالفَرض مُدّعْي عَلَيهِ يوځاى ته وُلاَړ شي نو كَفِيل دهغه طَلَب او يَلتَنَه وكړي او د قَضَاء مجلس ته حاضر كړي.د امام ابوحنيفه ؒ په نيز دري ورځي ددې مقصد لپاره دي چي يوه ورځ دګواه لپاره وُلاَړ شي او بَلَه ورځ ببرته وَاپَس راشي او دريم ورځ ګواه پيش كړي.نَن سَبَا خو په كَلُو كَلُو خلګ پر ضَمَانَت باندي پريږدي .

كه په حاضر او موجود خلګو كي هيڅ يَو څوک ددې لپاره تَيّار نَه وُ چي دمُدّعْي عَلَيهِ كَفِيل جوړشي نو مُدّعْي عَلَيهِ ته به ويل كيږي چي تَه يا سَتا اَمِين دي دمُدّعْي عَلَيهِ نِګرَانِي كوي او چي پر كومه خُوا هغه جُي هَلتَه تاسو هم دده نِګرَانِي كوئ.او كه

مُدّعْي عَلَيهِ مُسَافِر وي نو صرف دقَضَاء مجلس چي پِنځه شُپَږ ګنټې(ساعته)دَوَام لري تر هغه وخته پوري دي ګَفِيل بِالنّفس ځيني واخلي.او که ګَفِيل ملاؤ نَه شي نو مُدّعْي دې په خپله نِګرَانِي کوي.ځکه چي که ددې څخه زيات وخت دمُقَدّمې او د ګواه انتظار وکړي نو مُسَافِر ته به نُقصَان وي.نوځکه د قَضَاء تر مَجلِس پوري به ومُدّعِي ته مُهلَت ورکوي .

فائده : دصاحبين (؛) په نېز که مُدّعْي عَلَيهِ مُسَافِر وي يا مُقِيم وي په هر صورت کي به د قَضَا تر مَجلِس پوري ومُدّعي ته د ګواه رَاوَسټلُو مُهلَت ورکوي .

وجه : (١) دګَفِيل بِالنّفس دليل په کِتَابُ الکَفَالَة کي تېرشوئ دئ او هغه دادئ. سَمِعتُ اَبَا اُمَامَةَ قَالَ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) ... ثُمّ قَالَ اَلعَارِيَةُ مُوَدّاةٌ وَالمَنحَةُ مَردُودَةٌ وَالدّينُ مَقضْي وَالزّعِيمُ غَارِمٌ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في تضمين العارية ص١٤٥نمبر٣٥٦٥/ترمذي شريف.باب ماجاء في اَنّ العارية مُوَدّاةٌ ص٢٣٩نمبر١٢٦٥) په دې حديث کي د اَلزّعِيمُ غَارِمٌ څخه مراد دادئ چي ګَفِيل ذِمّه دَارَه دئ که دِانسَان دحاضرولو ګَفِيل وي که دمَال ورکولو ګَفِيل وي (٢) په بخاري شريف کي دګَفِيل بِالنّفس په اړه دا اَثَر راغلئ دئ. عَن مُحَمّدِ بِنِ حَمزَةَ بِنِ عَمرِو الاَسلَمِيّ عَن اَبِيهِ اَنّ عُمَرَ بَعَثَهُ مُصَدّقًا فَوَقَعَ رَجُلٌ عَلْي جَارِيَةِ اِمرَأتِهِ فَاَخَذَ حَمزَةُ مِنَ الرّجُلِ کَفلاَءَ حَتّي قَدِمَ عَلْي عُمَرَ وَکَانَ عُمَرُ قَد جَلَدَهُ مِائَةَ جَلدَةٍ فَصَدّقَهُم وَعَذّرَهُم بِالجَهَالَةِ وَقَالَ جَرِيرٌ وَالاَشعَثُ لِعَبدِاللهِ بِنِ مَسعُودٍ فِي المُرتَدِينَ اِستَتَبّهُم وَکَفّلَهُم فَتَابُوا وَکَفّلَهُم عَشَائِرَهُم.وَقَالَ حَمّادُ اِذَا تَکَفّلَ بِنَفسٍ فَمَاتَ فَلاَشَيئَ عَلَيهِ (ب) (بخاري شريف.باب

حاشيه:(الف) حضور (ﷺ) فرمايي چي ... بيايي وفرمايل عَارِيَةً اخستئ شَئ دي وَاپَس ورکړي.ورکړئ شَئ دي وَاپَس کړي.قَرَض دي اداء کړي او ګَفِيل ضَامِن دئ (ب) حضرت عمر دصَدَقې دوصولولو لپاره حضرت حمزه وَاستَاوَئ.يوه سړي دده د مَيني دمينځي سره جِمَاع وکړي نوحضرت حمزه دهغه سړي څخه ګَفِيل واخستئ تر هغه وخته چي حضرت عمر ته راغلل.حضرت عمر هغه سَل کُوړې وَاهَئ خو بيايي دهغه دتَصدِيق او جَهَالَت لکبله مَعذُور وګانئ.حضرت جرير او اَشعَث وعبدالله بن مسعود ته دمُرتَدَانُ په اړه وفرمايل په دُوئي تُوبَه وکاړه اوګَفِيل بِالنّفس ځيني واخله.نو مُرتَدّانُ توبه وکښل او دهغوئي د خاندان خلګو دهغوئي کَفَالَت وکړئ.حضرت حمّاد وفرمايل که کَفَالَت بِالنّفس ځيني اخستلئ وي او مَکفُولٌ لَهُ مَړ شي نو پر ګَفِيل هيڅ ذِمّه دَارِي نشته .

الکفالة في القرض والديون بالابدان وغيرهماص٣٠٥نمبر٢٢٩٠) په دې آثَارُ کي دګَفِيل بِالنّفس اخستلو تَذکِرَه شوې ده.ددې څخه دا معلوم شوچي د نَفس دحاضرولو ګَفِيل ځيني اخستلائي شي .

او دا چي په درو ورځو کي دَنَنَه دَنَنَه دي ګَفِيل بِالنّفس ورکړي دهغه دليل دا اَثَر دئ. (١) سَمِعتُ حَبِيبًا اَلّذِي کَانَ يَقدِمُ الخُصُومَ اِلْي شُرَيحٍ. قَالَ خَاصَمَ رَجُلٌ اِبنًا لِشُرَيحٍ اِلْي شُرَيحٍ کَفّلَ لَهُ بِرَجُلٍ عَلَيهِ دَينٌ فَحَبِسَهُ شُرَيحٌ فَلَمّا کَانَ اللّيلُ قَالَ اِذهَب اِلْي عَبدِاللهِ بِفِرَاشٍ وَطَعَامٍ وَکَانَ اِبنُهُ يُسَمّهُ عَبدَاللهِ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في الکفالة ببدن من عليه حَق ج٦ص١٢٨نمبر١١٤١٨) په دې اَثَر کي دئ چي د کَفَالَت لپاره يې تر شُپې(مَابنَام)پوري بَندِي کړئ.ددې څخه معلوم شوچي د مَجلِس قضاء وروسته پوري هم ګَفِيل اخستلائي

شي چي دهغه مُهلَت(وخت)د امام ابوحنيفه() په نبز دري ورځي دئ (۲) دبخاري شريف په تبرشوي اَثَرکي هم دا جُملَه راغلي وه. فَاَخَذَ حَمزَةُ مِنَ الرّجُلِ کَفلاَءَ حَتّي قَدِمَ عَلْي عُمَرَ ددي څخه معلوم شوچي تر دُومرَه وخته پوري کَفِيل بِالنّفس ځيني واخستئ تر څو چي حضرت عمر ته راغلئ.نو ددي څخه دا معلوم شوچي صرف د قضاء تر مجلس پوري به کَفِيل نَه جوړوي بلکه که ضرورت وُ نو ددي څخه تر زيات مُدي پوري هم دکَفِيل جوړولو مطالبه ځيني کولائي شي .

لغت : غَرِيبًا : نَاوَلَدَه. غَرِيبًا عَلْي الطّرِيقِ : نَاوَلَدَه چي د لاَرِي مُسَافِر وي.يُلاَزِمَهُ : دمُلاَزَمَت څخه مُشتَق دئ په پسي کبدل.په يوچا پسي لګبدل.

حاشيه:(الف) دحضرت حبيب څخه اَورېدَل شوي دي چي دمُقَدّمي والا يي د قاضي شريح په قضاء کي پېشوئ فرمايي چي يوه سړي د شريح د زُوئ جګړه و شريح ته وُرَاندي کړه.پر کوم سړي چي قرض وُ دهغه لپاره کَفَالَت اخستئ وُ نوحضرت شريح خپل زُوئ بَندِي کړئ.چي کله شُپَه سوه نو وويل چي عبدالله ته وَرشَئ د بِيدَبِدُلُو او خوراک لپاره.عبدالله د حضرت شريح د زُوئ نُوم وُ .

[۲۷۶۶](۳۷) وَ اِن قَالَ المُدّعْي عَلَيهِ هْذَا الشّيئُ اَودَعَنِيهِ فُلاَنٌ الغَائِبُ اَو رَهَنَهُ عِندِي اَو غَصَبتُهُ مِنهُ وَ اَقَامَ بَيّنَةً عَلْي ذَالِکَ فَلاَ خُصُومَةَ بَينَهُ وَبَينَ المُدّعِي .

[۲۷۶۶](۳۷) که مُدّعْي عَلَيهِ وويل دغه شَئ زُومَا سره فُلاَنِي اَمَانَت يَښئ دئ يا هغه دا شَئ زُومَا سره رِهن يَښَئ دئ يا مَا دغه دده څخه غَصَب کړئ دئ.او پر هغه يې بَيّنَه قائم کړه نو دده تر مينځ او دمُدّعِي تر مينځ خُصُومَة نَه پاته کيږي .

تشريح : په دي دُرُو واړه مسئلو کي مُدّعْي عَلَيهِ دا وَينَا نَه کوي چي دغه شَئ زُومَا مِلکِيّت دئ بلکه بَيّنَه يې قائم کړه چي دا شَئ دفُلاَنِي دئ زُومَا سره خو اَمَانَت يا رِهن پروت دئ نوځکه تَه فُلاَنِي ته وُلاړ شَه.چي کوم وخت هغه ووايي بيا يې زَه تَاتَه درکوم.نوځکه مُدّعْي عَلَيهِ خَصَم او جګړه کونکئ نَه شو پاته.البته پر دغه درو سره خبرو باندي بَه بَيّنَه قائموي او اَصل مَالِک به وَربښَايِي چي دغه شَئ مثلاً زَيد زُومَا سره اَمَانَت يَښَئ دئ.يا زَيد زُومَا سره رِهن يَښَئ دئ.يا د زَيد څخه مَا غَصَب کړئ دئ .

وجه : (۱) داسي نَه چي مُدّعْي عَلَيهِ خپل ځان خلاسوي او په دا وَجَه دئ خپل ځان دخَصَم جوړولو څخه سَاتِي(ژُغُورِي).نوځکه پر دغه خبرو به بَيّنَه هم قائموي.او اَصل مَالِک به هم وَربښَايِي چي فُلاَنَئ يې اَصل مَالِک دئ (۲) دحضرت حضرمي په حديث کي کِندِي دا وَينَا کړي وه چي دغه مځکه زُومَا ده په دغه وجه خو دئ مُدّعِي عَلَيهِ ګرزېدلئ وُ.دحديث عِبَارَت دادئ. فَقَالَ الکِندِيّ هِيَ اَرضِي فِي يَدِي اَزرَعُهَا لَيسَ

لَهُ فِيهَا حَقّ (الف) (ابوداؤدشريف.باب الرّجُلُ يحلف علٰي عِلمِهِ فيماغاب عنه ص۱۵۴ نمبر ۳۶۲۳) په دې حديث کي کِندِي دعوه کړې ده چې دا مځکه زُومَا ده دهغه وروسته دئ مُدّعْي عَلَيهِ او خَصَم ګرزدلئ وُ. او که دَادَوَل وَينَا کړې وائ چې دا شَئ زُومَا نَه

حاشيه:(الف) کِندِي وويل دا زُومَا مځکه ده زُومَا په قبضه کي ده.زَه ګرهَنَه کوم په دي کي دده حَق نشته .

[۲۷۶۷](۳۸) وَ اِن قَالَ اِبتَعتُهُ مِن فُلَانٍ الغَائِبِ فَهُوَ خَصمٌ [۲۷۶۸](۳۹) وَ اِن قَالَ المُدّعِي سُرِقَ مِنّي وَ اَقَامَ البَيّنَةَ وَ قَالَ صَاحِبُ اليَدِ اَودَعَنِيهِ فُلَانٌ وَ اَقَامَ البَيّنَةَ لَم تَندَفِعِ الخُصُومَةُ .

دئ بَل چا زُومَا سره اَمَانَت يَښَئ دئ نو بيا خو دئ خَصَم نَه سي جوړېدلائي .

[۲۷۶۷](۳۸) او که وويل چې دا مَا د فُلَانِي څخه رَانِيوَلَئ دئ نو دئ خَصَم دئ .

وجه : چې دا يې وويل چې دغه شَئ مَا دفُلَانِي څخه رَانِيوَلَئ دئ نو دا هم وايي چې دغه شَئ زُومَا مِلکِيّت دئ.او چې دمِلکِيّت دعوه کوي نو بيا خو دئ مُدّعْي عَلَيهِ او خَصَم ګرزي.اُوس به دمُقَدّمې ټوله ګاروَاپي دده خِلاَف چليږي.په تېرشوي حديث کي کِندِي دمِلکِيّت دعوه کړې وه نو هغه خَصَم ګرزېدلئ وُ او دمُقَدّمې ټوله عَمَل دده په خِلاَف شروع شوئ وُ .

[۲۷۶۸](۳۹) که مُدّعْي وويل چې زُومَا شَئ غَلاَ شوئ دئ او بَيّنَه يې قائم کړه.او قَابِض وويل چې زُومَا سره خو فُلَانِي اَمَانَت يَښَئ دئ او بَيّنَه يې قائم کړه نو خُصُومَت نَه ختميږي .

تشريح : مُدّعِي دَعوَه کوي چې زُومَا شَئ يې غَلاَ کړئ دئ او پر غَلا يې بَيّنَه قائم کړه.او د کوم چا په قبضه کي شَئ دئ هغه دَعوَه کوي چې زُومَا سره فُلَانِي امانت يَښَئ دئ او دا چې اَمَانَت يې يَښَئ دئ پر دغه خبره يې بَيّنَه هم قائم کړه نو دمُدّعْي عَلَيهِ څخه خُصُومَت نَه ختميږي .

وجه : دا قَوِي اِمکان شته چې دئ هم په غَلاَ کي ورسره شريک وي اواَمَانَت يَښُوُنکِي دا خيال کړئ وي چې دا شريک دئ په دغه سُوچ يې دده سره اَمَانَت يَښَئ وي نوځکه دئ به هم خَصَم وي.ځکه چې مُدّعِي دا نَه وايي چې ده نَه دئ غَلاَ کړئ بلکه هغه وايي چې يَوچَا غَلاَ کړئ دئ نو د حَال په ژَبَه دا وَاپي چې دئ هم په غَلاَ کي ورسره شريک دئ نوځکه دئ به خَصَم وي .

[۲۷۶۹](۴۰) وَ اِن قَالَ المُدّعِي اِبتَعتُهُ مِن فُلَانٍ وَ قَالَ صَاحِبُ اليَدِ اَودَعَنِيهِ فُلَانٌ ذَالِکَ سَقَطَتِ الخُصُومَةُ بِغَيرِ بَيّنَةٍ [۲۷۷۰] (۴۱) وَاليَمِينُ بِاللهِ تَعَالٰي دُونَ غَيرِهِ وَ يُؤکّدُ بِذِکرِ اَوصَافِهِ .

[۲۷۶۹](۴۰) که مُدّعِي وويل چي دا مَا دفُلاَنِي څخه رَانِيوَلَئ دئ او قَابِض وويل چي دغه زُومَا سره فُلاَنِي امانت يَبنَئ دئ نو بغيره بَيّنې خُصُومَت ساقطيږي .
تشريح : مُدّعِي وويل چي مَا دفُلاَنِي څخه دا شَئ رَانِيوَلَئ دئ نوځکه اُوس دغه شَئ زُومَا دئ.او دکوم چا په قبضه کي چي دغه شَئ دئ هغه وَاپِي چي وَاقِعِي دغه شَئ زُومَا نَه دئ د فُلاَنِي دئ.البته هغه زُومَا سره اَمَانَةً يَبنَئ دئ نوځکه هغه ووايي چي زَه وهغه ته وركوم. نو بغيره دبَيّنې به خُصُومَت ختم شي .
وجه : ځکه چې مُدّعْي عَلَيهِ ددي دَعوَه نَه کوي چي دغه شَئ زُومَا دئ بلکه هغه خو هم دغه وَاپِي چي دغه شَئ دفُلاَنِي دئ او مُدّعِي هم دغه وَاپِي چي دغه شَئ مخکي دفُلاَنِي وُ نوځکه هيڅ اِختِلاَف نَه شو پاته.البته وروسته د رَانِيوُلُو دَعوَه ده هغه به وروسته حَل شي .
[۲۷۷۰](۴۱) قَسَم به په الله سره وي دهغه څخه په عَلاَوَه به نَه وي.او تَاكِيد دې وكړي دهغه د اَوصَافُ په ذِكر كولو سره .
تشريح : په كِتَابُ الأَيمَان كي تېر شوي دي چي قَسَم دي صِرف په الله سره اَخلِي يا دي پَتَه خُولَه(چُپ)شي.حديث دادئ. عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) اَدرَکَ عُمَرَبِنِ الخَطّابَ وَهُوَ يَسِيرُ فِي رَكبٍ يَحلِفُ بِاَبِيهِ فَقَالَ اَلاَ اِنّ اللهَ يَنهَاكُم اَن تَحلِفُوا بِآبَائِكُم مَن كَانَ حَالِفًا فَلْيَحلِف بِاللهِ اَو لِيَصمُتَ (الف) (بخاري شريف.باب لاتحلفوا بآبائكم ص۹۸۳ نمبر۶۶۴۶/مسلم شريف.باب النهي عن الحلف بغيرالله تعالٰي ص۴۶نمبر۱۶۴۶

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) حضرت عمر وموندئ چي هغه په قَافِلَه كي روان وُ او دپُلاَر قسم يي خُوَارَئ نو حضور (ﷺ) وفرمايل وَاوُره! الله تَا منع كوي ددې څخه چي د پُلاَر قسم وَاخلي.ځوک چي قَسَم اخلي نو په الله سره دي قَسَم واخلي يا دي پَتَه خوله شي .

[۲۷۷۱](۴۲) وَ لاَيُستَحلَفُ بِالطّلاَقِ وَ لاَ بِالعِتَاقِ [۲۷۷۲](۴۳) وَ يُستَحلَفُ اليَهُودِيّ بِاللهِ الّذِي اَنزَلَ التّورَاةَ عَلْي مُوسْي عَلَيهِ السّلاَمُ وَالنّصرَانِيّ بِاللهِ الّذِي اَنزَلَ الاِنجِيلَ عَلْي عِيسْي عَلَيهِ السّلاَمُ وَالمَجُوسِيّ بِاللهِ الّذِي خَلَقَ النّارَ .

/ ۴۲۵۷) ددې حديث څخه معلوم شو چي په الله سره دي قَسَم واخلي په بَل چا سره دي قَسَم نَه اَخلِي.او دا چي صِفَات دې ذِكر كړي دهغه تائيد دي وكړي دهغه دليل دا دئ. عَنِ البَرَاءَ بِنِ عَازِبٍ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) دَعَا رَجُلاً مِن عُلَمَاءِ اليَهُودِ فَقَالَ اُنشِدُکَ بِالّذِي اَنزَلَ التّورَاةَ عَلْي مُوسْي (الف) (ابن ماجه شريف.باب بمايستحلف اهل الكتاب ص۳۳۳نمبر۲۳۲۷ /ابوداؤدشريف.باب الذّمّي كيف يستحلف؟ ص۱۵۴نمبر۳۶۲۴) په دې حديث كې په بِالّذِي اَنزَلَ التّورَاةَ عَلْي مُوسْي جمله سره صِفَات ذكر كړل د يَهُودُ د قَسَم تاكيد يې كړئ دئ .
پام لرنه : دا جائز دئ چي مخاطب ته كُوم شَئ د اَهمِيّت وَړ وي د الله هغه صِفَت ذِكر كړي په هغه سره دقَسَم تَاكِيد وكړي .

[۲۷۷۱](۴۲) قَسَم دي نَه اَخلِي د طَلاَق او د آزادولو .
تشريح : دَادِوَل قَسَم دي نَه وركوي چي كه مَا چيري دا كار وَنَه كړئ نو زُومَا بنځه طلاق يا زُومَا غُلاَم آزاد .
وجه : مخته حديث راغلئ دئ چي د الله څخه عَلاَوَه دي قَسَم نَه اَخلِي.يا دي په الله سره قَسَم وَاخلِي يادي پَتَه خُولَه شي.لِهْذَا دطَلاَق او عِتَاق قَسَم دي هم نَه وركوي .
[۲۷۷۲](۴۳) د يَهُودِي څخه دي قَسَم واخلي په هغه الله سره قَسَم چي پر حضرت موسْي (ؑ) يې تَورَاة نَازِل كړئ دئ.او عِيسَائِي ته په هغه الله سره قَسَم چي پر حضرت عيسْي عليه السلام يې اِنجِيل نازِل كړئ دئ.او مَجُوسِي ته په هغه الله سره قَسَم چي وُور يې پيدا كړئ .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) د يهود دعُلَمَاءُ څخه يَو سړئ رَاوَبَالَئ او ورته وفرمايل زَه ثَاتَه قَسَم دركوم په هغه ذَات سره چي تَورَاة يې پر حضرت موسْي (ؑ) باندي نَازِل كړئ دئ .

[۲۷۷۳](۴۴)وَلاَيُستَحلَفُونَ فِي بُيُوتِ عِبَادَتِهِم [۲۷۷۴](۴۵) وَلاَيَجِبُ تَغلِيظُ اليَمِينِ عَلْي المُسلِمِ بِزَمَانٍ وَلاَبِمَكَانٍ .

تشريح : كُوم څوک چي د كُوم شِي اِعتِقَاد لري د الله په هغه صِفَت سره قَسَم وركېدلائي شي.لكه يهودي چي دا اِعتِقَاد لري چي الله تعالْي پر حضرت موسْي● باندې توراة نازل كړئ دئ نوځكه ويهودي ته دي دَادِوَل قَسَم وركړي چي قَسَم په هغه الله چي پر حضرت موسْي عليه السلام باندې توراة نازل كړئ دئ .
وجه : (۱) مخكي حديث تېرشوئ دئ (۲) دُويَم حديث دادئ.عَن عِكرَمَةَ اَنّ النّبِيّ قَالَ لَهُ يَعنِي لِابنِ صُورِيَا اَنذكُرُكُم بِاللهِ الّذِي نَجّاكُم مِن آلِ فِرعَونَ وَ اَقطَعَكُمُ البَحرَ وَظَلّلَ عَلَيكُمُ الغَمَامَ وَاَنزَلَ عَلَيكُم المَنّ وَالسّلْوِي وَاَنزَلَ عَلَيكُم التّورَاةَ عَلْي مُوسْي اَتَجِدُونَ فِي كِتَابِكُم الرّجمَ؟قَالَ ذَكَرتَنِي بِعَظِيمٍ وَلاَيَسَعُنِي اَن اُكَذِّبَكَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب الذِّمّيّ كيف يستحلف؟ ص۱۵۴نمبر۳۶۲۶)په دې حديث كي دئ چي ويهودي ته څه دَوَل قسم وركړي قياس پر دغه بايد وعِيسَائِي او مَجُوسِي ته هم قَسَم وركړي.ځكه چي عيسائي دااِعتِقَاد لري چي اِنجِيل پر حضرت عيسْي عليه السلام نازل شوئ دئ.او مجوسِي د وُور عِبَادَت كوي .
[۲۷۷۳](۴۴) او دُوئي ته دي د دُوئي په عِبَادَت خانو كي قَسَم نَه وركوي .
تشريح : و يهودي ته دي ديهوديانو په عِبَادَت خَانَه كي وعيسائي ته دعيسائيانو په عبادت خانه كي او مجوسي ته دمجوسيانو په عبادت خانه كي قَسَم نَه وركوي .
وجه : وقاضي ته اِجَازَه نشته چي د دُوئي عبادت خانو ته وُلاَړ شي.نوځكه د دُوئي عبادت خانو ته به څه رنګه جُي او قَسَم به څه رنګه وركوي؟ .
[۲۷۷۴](۴۵) او ضرروي نَه ده قَسَم مضبوط كول پر مسلمان باندي په زَمَان او مَكَان سره .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وابن صوريا ته وفرمايل زَه ثَاتَه درپه يادوم دهغه الله چي تاسو ته دفِرعَون څخه نِجَات دركړئ او سَمَندَر يې چَاک كړئ او پر تاسو يې د وَرِيَجِي سَايَه وكړه او پر تاسو يې مَن او سَلْوِي نازلَ كړه

او ستاسو لپاره يې توراة پر حضرت موسٰي عليه السلام نَازِل کړئ.آيا تاسو په خپل کِتَاب کي د رَجم مسئله وِينَئ؟ ابن صوريا وويل تَا دُومرَه غَټ قَسَم راکړئ چې مَاتَه د دُروَاغُ ويلو موقع نَه شوه پاته .

تشريح : يَوخاص ځائ ته ېِوَل او هلته قَسَم ورکول يا په يوه خَاص وَخت کي مثلاً مَاځِيګَر وخت کي قَسَم ورکول چي په قَسَم کي تَغلِيظ رَاشِي دا ضرروي نَه دئ. البته که دَاډَوَل وکړي نو بنَه خبره ده .

وجه : قَسَم خو يې د الله په نوم سره ورکړئ نو اُوس مَسجِد يا د مَاځِيګَر وخت ضرروي نَه دئ.البته که چيري دَاډَوَل وکړي خو بنَه خبره ده.لکه څَه رنګه چي په حديث کي ددې تَغلِيظ تَذکِرَه موجود ده چي دحضور (ﷺ) مَنبَر ته رَاوَستَئ او هَلتَه قَسَم ورکړئ. سُمِعَ جَابِرُ بنِ عَبدِاللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مَن حَلَفَ بِيَمِينٍ آثِمَةٍ عِندَ مِنبَرِي هٰذَا فَلْيَتَبَوَّمَقعَدَهُ مِنَ النّارِ وَلَو عَلْي سِوَاكٍ اَخضَرَ (الف) (ابن ماجه شريف.باب اليمين عندمقاطع الحقوق ص٣٣٣نمبر٢٣٢٥/ابوداؤدشريف.باب ماجاء في تعظيم اليمين عندمنبرالنّبِيّ ج٢ص١٠٧نمبر٣٢٤٦) په دې حديث کي د عِندَمِنبَرِي څخه معلوم شوچي په مخصوص ځائ کي دي قَسَم ورکړي تَغلِيظ دي پکښي وکړي.او په زَمَانَه سره د تَغلِيظ کولو دليل په دې حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) ثَلاَثَةٌ لاَيُكَلِّمُهُمُ اللهُ يَومَ القِيَامَةِ رَجُلٌ مَنَعَ اِبنَ السّبِيلَ فَضلَ مَاءٍ عِندَهُ.وَ رَجُلٌ حَلَفَ عَلْي سَلعَةٍ بَعدَ العَصرِيَعنِي كَاذِبًا (ب) (ابوداؤد شريف.باب في منع الماء ص١٣٥نمبر٣٤٧٤ كتاب البيوع/ابن ماجه شريف.باب ماجاء في كراهية الايمان في الشراء والبيع ص٣١٦نمبر٢٢٠٧) په دې حديث کي دئ چي د مَاځِيګَر وروسته دي قَسَم واخلي ددې څخه معلوم شوچي په زَمَانَه او وخت سره هم په قَسَم کي تَغلِيظ کېدلائي شي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل څوک چي زُومَا ددې مِنبَر سره د ګناه قَسَم واخلي نو هغه دي خپل ځائ په اُور(وُور)کي جوړ کړي که څَه هم پر يوه نَود(ټُند)مِسوَاک باندي قَسَم اخستئ وي (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل د دُرُو کسانو سره به الله تعالٰي دقِيَامَت په وُرَحُ خبري ونَه کړي.کوم چا چي د مُسَافِر څخه زِيَاتِي اُوبَه منع کړي وي.کوم چاچي د مَاځِيګَر وروسته پر سَامَان باندي د دُروَاغُ قسم اخستئ وي .

[٢٧٧٥](٤٦) وَ مَن اِدّعْي اَنّهُ اِبتَاعَ مِن هٰذَا عَبدَهُ بِاَلفٍ فَجَحَدَهُ اُستُحلِفَ بِاللهِ مَابَينَكُمَا بَيعٌ قَائِمٌ فِيهِ وَ لاَيُستَحلَفُ بِاللهِ مَابِعتُ [٢٧٧٦](٤٧) وَ يُستَحلَفُ فِي الغَصبِ بِاللهِ مَايَستَحِقّ عَلَيکَ رَدّ هٰذَا العَينِ وَ لاَ رَدّ قِيمَتِهَا وَ لاَيُستَحلَفُ بِاللهِ مَا غَصَبتُ .

[۲۷۷۵](۴۶) يَوچا دعوه وکړه چي دده څخه دده غُلاَم رَانِيوَلَئ دئ په زَر.هغه اِنکَار وکړئ نو قَسَم به ورکول کيږي چي قَسَم په خُدَائ سَتَاسو دواړو تر مينځ اُوس بَيعَ قائم نَه ده.او دَاډَوَل به قَسَم نَه ورکوي چي قَسَم په خدائ مَا نَه دئ خرڅ کړئ .
تشريح : د امام ابوحنيفه() په نېز دا د قَسَم ورکولو اِحتِيَاطِي اَړَخ دئ چي مُشتَرِي دُوکَه ورنَه کړي او ځان ځيني خَلاَس نَه کړي او په تَورِيَه سره دي قَسَم نَه اَخلِي. نوځکه دَاډَوَل قَسَم به ورکوي چي قَسَم په خدائ اُوس ستاسو دُوَاړُو ترمينځ بَيع قائم نَه ده .
وجه : ځکه چي کېدلائي شي چي مخکي خرڅ کړئ وي لېکن بَيعَ ختم کړي وي يعني ببرته مَاتَه کړي وي نو دئ دا وَينَا کولائي شي چي مَا خو اُوس نَه دئ خرڅ کړئ مَا خو دِبر مخکي خرڅ کړئ وُ نوځکه دئ قَسَم اخستلائي شي چي اُوس مِي نَه دئ خرڅ کړئ.او چي دَاډَوَل قَسَم ورکړي چي اُوس هم بَيعَ قائم ده نو بيا تَورِيَه نَه شي کولائي او چي تَورِيَه وکړي قَسَم نَه شي اخستلائي.نوځکه هغه مُعَامَلاَت چي وروسته ختم کېدلائي شي په هغه کي به د گلاَم پر حَاصِل يعني خلاصه باندي قَسَم ورکول کيږي.دمعاملات پر کولو به قَسَم نَه ورکول کيږي .
[۲۷۷۶](۴۷) او قَسَم به ځيني اَخلِي په غَصَب کي قَسَم په خدائ پر تَا مُستَحِق نَه دئ ددغه شِي د وَاپَس اخستلو او نَه ددغه شِي دقيمت د وَاپَس اخستلو.او دَاډَوَل قسم به نَه ځيني اخستل کيږي چي قَسَم په خدائ مَا نَه دئ غَصَب کړئ .
تشريح : که دغَصَب کولوورسته ببرته ومَالِک ته وَاپَس کړئ وُ نو بيا خو داتَورَيَه

[۲۷۷۷](۴۸) وَ فِي النِّكَاحِ بِاللهِ مَا بَينَكُمَا نِكَاحٌ قَائِمٌ فِي الحَالِ وَفِي دَعوَةِ الطَّلاَقِ بِاللهِ مَاهِيَ بَائِنٌ مِنکَ السّاعةَ بِمَا ذَكَرتَ وَلاَيُستَحلَفُ بِاللهِ مَاطَلَّقَهَا .

کولائي شي چي اُوس مَا نَه دئ غَصَب کړئ.مخکي مِي کړئ وُ.او ددې تَورِيَه سره قَسَم اخستلائي شي.او ځان خلاسولائي شي نوځکه دَاډَوَل به قَسَم ورکوي چي اُوس پر مَا باندي ددې شِي وَاپَس کول لازم نَه دئ او نَه ددې شِي قيمت وَاپَس کول لازم دئ.يعني اُوس هم دغَصَب معامله قائم نَه ده.په دې صورت کي چي تَورِيَه وکړي قَسَم نه شي اخستلائي .
فائده : د امام ابويوسف() په نېز به پر معاملات باندي قَسَم ورکوي.يعني قَسَم په خدائ مَا بَيعَ نَه ده کړي.يا قَسَم په خدائ مَا غَصَب نَه دئ کړئ.يا قَسَم په خدائ مَا نکاح نَه ده کړي.يا قَسَم په خدائ مَا طلاق نَه دئ ورکړئ .
وجه : اَصل خو پر معاملات باندي قَسَم ورکيږي نوځکه تَورِيَه نَه شي کولائي .

[۲۷۷۷](۴۸) او په نکاح کي به قَسَم ورکوي چې قَسَم په خدائ ستاسو دواړو ترمینځ اُوس نکاح نشته.او د طلاق په دَعوَه کي قَسَم په خدائ اُوس دا ستا څخه بَائِنَه نَه ده کوم چې تَایې ذِکر وکړئ.دَاوَل به قَسَم نَه ورکوي قَسَم په خدائ دې ته طلاق نَه دئ ورکړئ .

تشریح : د نکاح دَعوَه یې وکړه.ښځه وایي چې نکاح شوې ده او نَر دنکاح څخه اِنکَار کوي.دښځي ګواه نشته.چې قَسَم ورکوي نو دَاوَل به قَسَم ورکوي چې اُوس ستاسو ترمینځ نکاح نَه ده قائم.دَاوَل قَسَم به نَه ورکوي چې مَا نکاح نَه ده کړې.دغه وَل د طلاق دَعوَه وه. ښځه وایي طلاق دي راکړئ دئ نَر دهغه څخه اِنکَار کوي.اُوس چې نَر ته قَسَم ورکوي نو دَاوَل به قَسَم ورکوي چې اُوس دغه ښځه ستا څخه بَائِنَه نَه ده.ځکه چې کېدلائي شي چې طلاق یې ورکړئ وي او

[۲۷۷۸](۴۹) وَ اِن کَانَت دَارٌ فِي یَدِ رَجُلٍ اِدّعَاهَا اِثنَانِ اَحَدُهُمَا جَمِیعَهَا وَالآخَرُ نِصفَهَا اَقَامَا البَیّنَةَ فَلِصَاحِبِ الجَمِیعِ ثَلاَثَةُ اَربَاعٍ وَلِصَاحِبِ النِّصفِ رُبعُهَا عِندَ اَبِي حَنِیفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي .

بیایې ببرته وَادَه ورسره کړئ وي یایې رُجُوع کړې وي نو دا تَورِیَه کولائي شي چې اُوس مِي طلاق نَه دئ ورکړئ او پر دغه باندي قَسَم اخستلائي شي.نوځکه دَاوَل قَسَم دي ورکړي چې زُومَا څخه بَائِنَه نَه ده.دَاوَل قَسَم دي نَه ورکوي چې مَا طلاق نَه دئ ورکړئ .

پام لرنه : که دعِتَاق معامله وه نو په هغه کي دیَو وار د آزادېدو وروسته ببرته نَه شي وَاپَس کولائي.هغه به همېشه آزاد وي.نوځکه په دي کي دَاوَل قَسَم اخستلائي شي چې مَا نَه دئ آزاد کړئ دا په دې وجه چې آزادي خو نَه ختمیږي. نوځکه په دي کي به هم د امام ابوحنیفه() په نېز پر معاملات قَسَم ورکوي .

[۲۷۷۸](۴۹) که یو مکان د یوه سړي په قبضه کي وي.پر هغه باندي دُوَه کسان دَعوَه وکړي.په دي کي یَو د پُورَه مکان او بَل دهغه دنِیمَئ مکان.او دواړه بَیّنَه قائم کړي نو د پوره دَعوَه کونکي لپاره دري حِصّې او دنِیمَئ لپاره به دهغه یَوَه څلورمه وي د امام ابوحنیفه() په نېز .

تشریح : یَو مکان دیوه سړي په قبضه کي دئ.نور دوه کسان پر دې مکان باندي دَعوَه کوي چې دا مکان زُومَا دئ.په دې دُوُ کي یَو وایي چې ټُولَه مکان زُومَا دئ او هغه بَل وایي چې نِیمَئ مکان زُومَا دئ.او هر یوه پر خپله خپله دَعوَه باندي بَیّنَه قائم کړه نو د امام ابوحنیفه() په نېز چې دټولَه مکان دَعوَه کوي هغه ته به دڅلور حِصّو څخه دري حِصّې یعني د سَل فِیصَدڅخه به پِنځه اَویَا(۷۵)فیصَد ملاؤیږي.او کوم

چاچي د نِيمَئ مکان دَعوَه کړي ده هغه ته به يَوَه څلورمه حِصّه يعني د سَل فِيصَد څخه به پِنځوِيشت (۲۵) حِصّې ملاؤيږي .

[۲۷۷۹](۵۰) وَ قَالاَ هِيَ بَينَهُمَا اَثلاَ ثًا .

وجه : کُوم چاچي دنِيمَئ دَعوَه کړي ده نو دا پاته نِيمَئ يې دپوره دَعوَه کونکي لپاره پرېښې ده نوځکه ده ته خو نِيمَئ بغيره جګړې او خصومت ته ملاؤشوئ دئ يعني د سَل څخه پِنځوس ورته ملاؤشو.او د مکان په کوم نِيمَئ حِصّه کي چي جګړه وه په هغه کي دواړو بَيّنَه قائم کړي ده نوځکه ددې نِيمَئ څخه و دواړو ته نِيمَئ نِيمَئ ورکړه.نو چي دنِيمَئ دَعوَه يې کړي ده هغه ته به ددې څخه يَوَه څلورمه حِصّه ملاؤيږي يعني په سَل کي پِنځويشت ملاؤيږي.او پاته څلورمه حِصّه چي د نِيمَئ حِصّې نِيمَئ ده هغه به وهغه ته ملاؤيږي کوم چي د پُورَه دعوه يې کړه ده.نو هغه ته به د څلور حِصّو څخه درې حِصّې ملاؤشي يعني په سَل فيصدکي به پِنځَه اَويَا(۷۵) حِصّه ملاؤ شي.او کوم چي د نِيمَئ دَعوَه يې کړه ده هغه ته به يوه څلورمه حِصّه ملاؤشي .

[۲۷۷۹](۵۰) او صاحبين وفرمايل دا به د دواړو ترمينځ دوې دريمي وي .

تشريح : صاحبين (رح) فرمايي چي د پوره مکان دَعوَه کوي هغه ته به د دُرُو حِصّو څخه دُوې حِصّې ملاؤيږي او چي دنِيمَئ دَعوَه کوي هغه ته به دمکان يَوَه دَرَيَمَه حِصّه ملاؤيږي.و دغه ته په مَتن کي اَثلاَث ويل شوي دي .

وجه : دُوئي فرمايي چي کوم چاچي د پوره مکان دَعوَه کړې ده هغه ګواکه د دِّبَل شِي دَعوَه کړې ده او کوم چاچي دنِيمَئ مکان دَعوَه کړې ده نو ده ګواکه دهغه بَل په مقابله کي د نِيمَئ شِي دَعوَه کړې ده.نوځکه چي د پوره دَعوَه يې کړې ده هغه ته به دُوې حِصّې ملاؤيږي او دفِيصَد په حِسَاب به ۶۶.۶۶ وي.او کوم چي د نِيمَئ دَعوَه کوي هغه ته به يوه حِصّه ملاؤيږي.چي دريمه حِصّه به وي.دفِيصَد په حساب به ۳۳.۳۳ وي .

لغت : اَثلاَثٌ : دُوې دريمي او هغه بَل ته يَوَه دريمه ملاؤشي نو دې ته اَثلاَث وايي .

[۲۷۸۰](۵۱) وَ لَو کَانَتِ الدّارُ فِي اَيدِيهِمَا سُلِّمَت لِصَاحِبِ الجَمِيعِ نِصفُهَا عَلْي وَجهِ القَضَاءِ وَ نِصفُهَا لاَ عَلْي وَجهِ القَضَاءِ .

[۲۷۸۰](۵۱) او که مکان د دواړو په لاَس کي وُ نوچي د پوره دَعوَه کوي هغه ته شَئ په حَوَالَه کوي دهغه نِيمَئ يې دفيصلې په توګه او نِيمَئ يې بغير فيصلې .

تشريح : پر يوه مکان د دواړو قبضه ده اوس د دې دُوُ څخه يَو وايي چي پوره مکان زُومَا دئ او پر هغه يې بَيّنَه قائم کړه او هغه بَل وايي چي ددې څخه نِيمَئ مکان زُومَا

دئ او پر هغه يې بَيّنَه قائم کړه نو دا پوره مکان به وهغه چا ته ورکوي چې د پوره دَعوَه کوي.نِيمَئ مکان خو به په دې وجه ده ته ملاؤيږي چې پر دغه نِيمَئ د بَل چا دَعوَه نشته هغه بَل خو دنِيمَئ دَعوَه کوي.نوځکه دا نِيمَئ خو به بغيره خُصُومَت ده ته ملاؤشو.او دا پاته بَل نِيمَئ مکان دهغه بَل دَعوَېدَار چې د نِيمَئ دَعوَه لري دهغه په قبضه کي دئ نوځکه هغه خو مُدّعْي عَلَيه شو.ځکه چې د کوم چا په قبضه کي شَئ وي هغه مُدّعْي عَلَيهِ وي.او چې د ټوله مکان دَعوَه لري هغه مُدّعِي شو.نوځکه دمُدّعِي دعوه مُعتَبَرَه ده.دمُدّعْي عَلَيهِ بَيّنَه قَابِلِ اِعتِبَار نَه ده ځکه چې پر هغه خو قَسَم لازميږي.لِهْذَا دمُدّعِي د بَيّنې په ذريعه سره به دا فيصله کيږي چې دا نِيمَئ به هم وهغه چاته ورکوي کوم چې د پُورَه دعوه کړې ده.نوځکه ټوله به وهغه چاته ملاؤيږي کوم چې د پوره دعوه کړې ده .

اصول : دلته دا اُصُول چلېدلئ دئ چې نِيمَئ د کُل دَعوېدَار په قبضه کي دئ او نِيمَئ دهغه چا په قبضه کي دئ چې دنِيمَئ دعوېدار دئ.دُويَم اصول دا چلېدلئ دئ چې پر کوم نِيمَئ چې دکُل دعوېدار قبضه ده دنِيمَئ دعوېدار سړي پر هغه دَعوَه نَه ده کړې.ځکه چې هغه خو نِيمَئ مکان غُوَارِي چې په خپله دده په قبضه کي دئ.نوځکه دا نِيمَئ خو وهغه ته ملاؤ شو کوم چې دکُل او پوره دعوه لري.او پر کوم نِيمَئ چې دنِيمَئ دعوېدار قبضه ده په هغه کي دئ مُدّعْي عَلَيهِ دئ او هغه بَل

[۲۷۸۱](۵۲) وَ اِذَا تَنَازَعَا فِي دَابّةٍ وَ اَقَامَ کُلّ وَاحِدٍمّنهُمَا بَيّنَةً اَنّهَا نَتَجَت عِندَهُ وَ ذَکَرَ تَارِيخًا وَ سِنّ الدّابّةِ يُوَافِقُ اَحَدَالتّارِيخَينِ فَهُوَ اَولٰي وَ اِن اُشکِلَ ذَالِکَ کَانَت بَينَهُمَا .

فريق مُدّعِي دئ نوځکه دمُدّعِي بَيّنَه به مَنَل کيږي دغه نِيمَئ به هم وهغه ته ورکوي کوم چې دکُل دَعوېدَار دئ د قَضَاء په توګه .

[۲۷۸۱](۵۲) که دُوُ کسانُ په يوه حيوان کي خُصُومَت سره وکړئ او هر يوه پر دې خبره بَيّنَه قائم کړه چې دغه دده سره پَيدَا شوئ دئ.او دواړو تاريخ بيان کړئ او دحيوان عُمَر په دي کي د يوه سره مُوَافِق وي نو هغه يې زيات بِهتَر دئ.او که چيري دا هم مُشکِل سي نو حيوان به د دواړو تر مينځ وي .

تشريح : دُوُ کسانُ د يوه حيوان په اړه دَعوَه وکړه چې دا زُومَا دئ او دايې هم وويل چې دا زُومَا په کُور کي پيدا شوئ دئ.او دواړو د پَيدَائِش تاريخ هم بيان کړئ او پر هغه يې بَيّنَه قائم کړه.مثلاً يوه وويل چې اُوَه کال مخکي پيداشوئ دئ او هغه بَل وايي چې لَس کال مخکي پيداشوئ دئ.اُوس د حيوان عُمَر لَس کال دئ نو دا به وهغه ته ملاؤيږي چې د لَس کال دَعوَه لري او دهغه دليل يې پېش کړئ وي .

وجه : (۱) دَلتَه دواړو بَيّنَه پيش کړي ده.دواړو د پَيدَائِش تاريخ بيان کړئ دئ نوځکه وهيڅ يوه ته ترجيح نَه شي ورکېدلائي البته د حيوان عُمَر چي دکوم چا د بيان کړي تاريخ سره مُوَافقَت لري دا دهغه لپاره عَلاَمَتِ رَاجِحَه دئ چي دئ رِشتِيَا وايي نوځکه دهغه په حَق کي به فيصله کيږي (۲) په حديث کي دئ چي حضرت حذيفه (ﷺ) د وُښ د تَرَلُو پر علامت باندي دکُودَئ فيصله دهغه په حق کي وکړه. دا حديث مخته هم تېر شوئ.حديث ملاحظه کړئ. عَن نِمرَانَ بِنِ جَارِيَةَ عَن اَبِيهِ اَنّ قَومًا اِختَصَمُوا اِلَي النّبِيّ (ﷺ) فِي خَصٍّ كَانَ بَينَهُم فَبَعَثَ حُذَيفَةَ يَقضِي بَينَهُم فَقَضٰي لِلّذِينَ يَلِيهِم القَمطَ فَلَمّا رَجَعَ اِلَي النّبِيّ (ﷺ) اَخبَرَهُ فَقَالَ اَصَبتَ وَاَحسَنتَ (الف) (ابن ماجه شريف.باب الرّجلاَنِ يدعيان في خص ص۳۳۵نمبر۲۳۴۳) په دې حديث کې پر عَلاَمَتِ رَاجِحَه باندي د کُودَئ فيصله کړې ده.دغه رنګه د حيوان عُمَر هم عَلاَمَتِ رَاجِحَه دئ چي دهغه عُمَر دکوم چا مُوَافقَت وکړي حيوان به دهغه وي .

او که چيري دحيوان عُمَر د يوه د تاريخ مُوَافقَت نَه کوي مثلاً دحيوان عُمَر اَتَه کال وي نَه اُوَه کال وي او نَه لَس کال وي نو دا بيا عَلاَمَتِ رَاجِحَه نَه دئ.او دواړو بَيّنَه پيش کړه او دواړو ګواهان حاضر کړل چي دا حيوان دده په کُور کي پيداشوئ دئ نوبيا به (۱) د دواړو لپاره د نِيمَئ نِيمَئ حيوان فيصله کيږي (۲) حديث مخکي تېرشوئ دئ. عَن اَبِي مُوسٰي الاَشعَرِيّ ... اَنّ رَجُلَينِ اِدّعَيَا بَعِيراً عَلٰي عَهدِ النّبِيّ (ﷺ) فَبَعَثَ كُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا شَاهِدَينِ فَقَسّمَهُ النّبِيّ (ﷺ) بَينَهُمَانِصفَينِ (ب) (ابوداؤدشريف .باب الرجلين يدعيان شيئا وليس بينهما بيّنة ص ۱۵۳ نمبر۳۶۱۵) په دې حديث کي دئ چي د دواړو ګواهان سره برابر وُ نو و دواړو ته نِيمَئ نِيمَئ ورکړئ (۳) په اَثَر کي راغلي دي. عَن عَبدِالرّحمٰنَ بِنِ اَبِي لَيلٰي قَالَ اِختَصَمَ رَجُلاَنِ اِلٰي اَبِي الدّردَاءِ فِي فَرَسٍ فَاَقَامَ كُلّ وَاحِدٍمّنهُمَا اَلبَيّنَةَ اَنّهُ اِنتَجّ عِندَهُ لَم يَبِعهُ وَلَم يَهِبهُ وَجَاءَ الآخَرُ بِمِثلِ ذَالِكَ فَقَالَ اَبُو الدّردَاءُ اِنّ اَحَدَكُمَا كَاذِبٌ فَقَسّمَهُ بَينَهُمَا نِصفَينِ (ج) (سنن للبيهقي.باب المتداعيين يتداعيان مالم يكن في يدواحدمنهماويقيم كلّ واحدمنهمابيّنَةً بِدَعوَاهُ ج۱۰ ص۴۳۹نمبر۲۱۲۴۲) په دې اَثَرکي خو دواړو دا دَعوَه کړې ده چي دا دده په کُور کي پيدا شوئ دئ او پر هغه يې بَيّنَه پيش کړې ده او حضرت ابودرداء د دواړو تر مينځ د نِيمَئ نِيمَئ فيصله کړې ده .

حاشيه : (الف) يوه قوم د کُودَئ جګړه دحضور (ﷺ) خِدمَت ته رَاوړَه نوحضرت حُذَيفَه يي د دُوئي ترمينځ د فيصلي لپاره وَاستَاوَئ.نو فيصله يي وکړه دهغه چا لپاره چي د کُودَئ سره يي مُتّصِل(نژدې)د وُښَانُ قطار موجود وُ.نوچي کله حضور (ﷺ) ته وَاپَس راغلئ او هغه ته خَبَر ورکړئ نوحضور (ﷺ) وفرمايل صحيح کار دئ کړئ دئ.سَم کار دي کړئ دئ (ب) د حضور (ﷺ) په زَمَانَه کي دُوُ کسانو د يوه وُښ په اړه دَعوَه وکړه.بيا هر يَوَه دُوَه دُوَه ګواهان رَاوَاستَوَل(پيش کړل) نو حضور (ﷺ) وُښ نِيمَئ نِيمَئ تقسيم کړئ (ج) دُوُ کسانُ د آس په اړه حضرت ابودرداء ته خُصُومَت راوړئ.بيا هر يوه بَيّنَه قائم کړه چي دده سره پَيدَاشوئ دئ.نَه يي هغه خرڅ کړئ دئ او نَه يي هِبَه کړئ دئ.او هغه دُويَم هم دغه دَوَل ګواه پيش کړئ نو حضرت ابودرداء وفرمايل د تاسو دواړو څخه يَو دروغجن دئ.او د دواړو تر مينځ يي نِيمَئ نِيمَئ تقسيم کړئ .

[۲۷۸۲](۵۳) وَ اِذَا تَنَازَعَانِ عَلْي دَابّةٍ اَحَدِهُمَا رَاكِبُهَا وَ الآخَرُ مُتَعَلِّقٌ بِلَجَامِهَا فَالرّاكِبُ اَولْي [۲۷۸۳](۵۴) وَ كَذَالِكَ اِذَا تَنَازَعَا بَعِيراً وَ عَلَيهِ حَملٌ لاَحَدِهِمَا وَ صَاحِبُ الحَملِ اَولْي وَ كَذَالِكَ اِذَا تَنَازَعَا قَمِيصًا اَحَدُهُمَا لاَبِسُهُ وَ الآخَرُ مُتَعَلِّقٌ بِكُمِّهِ فَاللاّبِسُ اَولْي .

لغت : نُتِجَت : پيدا شوه .
[۲۷۸۲](۵۳) كه دُوُ كسانُ خُصُومَت وكړئ د يوه حيوان په اړه.د دُوئي څخه يَو پر هغه سُپُور دئ او هغه بَل دهغه مَهَار نِيوَلَئ دئ نو سُپُور اَولْي دئ .
وجه : كُوم چي سُپُور دئ دهغه قبضه تر هغه سړي زياته ده كوم چې مَهَار نِيوَلَئ دئ.نوځكه عَلاَمَتِ رَاجِحَه دغه دئ چي حيوان د سُپُور سړي دئ لِهْذَا دده په حَق كي به فيصله كيږي .
پام لرنه : دا هغه وخت دئ چي هيڅ يَو علامت نَه وي .
اصول : دغه څو مسائلي پر دې اُصُول متفرّع دي چي د كُوم چا سره عَلاَمَتِ رَاجِحَه وي شَئ به دهغه سړي وي.او د عَلاَمَتِ رَاجِحَه دليل په ابن ماجه كي دحضرت حذيفه حديث تېرشوئ دئ (ابن ماجه شريف.نمبر۲۳۴۳) .
[۲۷۸۳](۵۴) دغه رنگه كه دُوَه كسان په يوه وُښ كي خُصُومَت سره وكړي.او پر هغه وُښ ديوه سړي پېټَئ پروت وي نو دپېټي والا اَولْي دئ.اودغه رنگه چي دُوَه كسان په يوه قَمِيص كي خُصُومَت سره وكړي.د دُوئي څخه يوه اَغُوَستَئ وي او هغه بَل يې نَستُونَئ(لَستُونَئ)نِيوَلَئ وي نو چي اَغُوَستَئ يې وي هغه اَولْي دئ .
وجه : دكُوم يَوَه پېټَئ چي پر وُښ پُرُوت دئ نو ښكاره خبره ده چي دده پېټئ پر پروت دئ دغه يې عَلاَمَتِ رَاجِحَه دئ چي وُښ دده دئ په دغه وجه خو ده خپل پېټَئ پر بَار كړئ دئ او هغه بَل نَه دئ پر بَار كړئ.نوځكه وُښ به د پېټي والا وي .
دغه رنگه كوم سړي چي قميص اَغُوَستَئ دئ عَلاَمَتِ رَاجِحَه دغه دئ چي قميص
[۲۷۸۴](۵۵) وَاِذَااِختَلَفَ المُتَبَايِعَانِ فِي البَيعِ فَادّعْي المُشتَرِي ثَمَنًا وَ اِدّعْي البَائِعُ اَكثَرَ مِنهُ اَو اِعتَرَفَ البَائِعُ بِقَدرٍ مِّنَ المَبِيعِ وَ اِدّعْي المُشتَرِي اَكثَرَ مِنهُ وَ اَقَامَ اَحَدُهُمَا اَلبَيّنَةَ قُضِيَ لَهُ بِهَا .

دده دئ.ځكه چي اَغُوَستَل ددې خبري علامت دئ چي قميص دده دئ كه نَه نو ده څَه رنگه اَغُوَستَئ؟ دهغه بَل نَه دئ ځكه خو هغه يې صرف نَستُونَئ(لَستُونَئ) نيولئ دئ .
اصول : چي دكوم چا سره عَلاَمَتِ رَاجِحَه وي شَئ به دهغه وي خو په دې شرط چي بَل دليل نَه وي .
لغت : حَملٌ : پېټَئ. كُمّ : نَستُونَئ.لَستُونَئ .

[۲۷۸۴](۵۵) بائع او مشتري په بَيعَ کي اختلاف وکړئ.نو مُشتَرِي ديوه ثَمَن دعوه وکړه او بائع دهغه څخه د زيات دعوه وکړه. يا بائع دمَبِيع ديوه مِقدَار اِعتِرَاف وکړئ او مُشتَرِي دهغه څخه د زيات دعوه کوي.او د دواړو څخه يَو بَيِّنَه قائم کړي نو دهغه لپاره به ددې شِي فيصله کيږي .

تشريح : دغه دواړې مسئلې پر دې اُصُول متفرّع دي چي دَلتَه بائع او مُشتَرِي دواړه مُدّعِي هم جوړېدلائي شي او دواړه مُدّعْي عَلَيهِ هم جوړېدلائي شي.چي دواړه مُدّعِي دي نو چي کوم يوه بَيِّنَه قائم کړه دهغه مطابق به فيصله کيږي او هغه بَل به مُدّعْي عَلَيهِ ګڼل کيږي.مثلاً مُشتَرِي دعوه کوي چي په لَس دِرهَم مي دغه بُوزَه رَانِيوَلَي ده لِهْذَا دا بُوزَه راکه. نومُشتَرِي مُدّعِي شو او بائع مُدّعْي عَلَيهِ شو.په دې صورت کي بايد دمُشتَرِي بَيِّنَه قبول شي او پر بائع باندي قَسَم لازم شي.لېکن بائع ددې څخه د زيات دعوه کوي مثلاً د دُوُلَس درهم دعوه کوي چي مَاتَه دُوُلَس درهم راکړه او بُوزَه واخله.په دې لِحَاظ سره بائع مُدّعِي شواو مُشتَرِي مدّعْي عليه شو. لِهْذَا د بائع بَيِّنَه بايد قبول شي.نو چي کُوم يَو بَيِّنَه پيش کړي هغه به مُدّعِي ګڼل

[۲۷۸۵](۵۶) فَاِن اَقَامَ کُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا اَلبَيِّنَةَ کَانَتِ اَلبَيِّنَةُ اَلمُثبِتَةُ لِلزِّيَادَةِ اَولٰي .

کيږي او دهغه ګواهي به قبليږي دهغه په حَق کي به فيصله کيږي .

په هغه بَلَه مسئله کي بائع د يوه مُتَعَيّن مِقدَار بيع دعوه کوي مثلاً بائع وايي چي په لَس درهم مي لَس کېلو غَنَم خرڅ کړي دي.نو لَس دِرهَم راکه او لَس کېلو غَنَم يُوسَه.نوپه دې اِعتِبَار سره بَائِع مُدّعِي شو او مُشتَرِي مُدّعْي عَلَيهِ شو لِهْذَا دبَائِع بَيِّنَه بايد قبول شي.او مُشتَرِي ددې څخه د زِيَاتِ مبيع دَعوَه لري مثلاً وايي چي په لَس دِرهَم دُوَلَس کېلو غَنَمُو خبره شوې وه.په دې اِعتِبَار بيا مُشتَرِي مُدّعي شو او بَائِع مُدّعْي عَلَيهِ شو نوځکه دمُشتَرِي بَيِّنَه بايد قبول شي .

وجه : په دې دواړو مسئلو کي دُوَارَه مُدّعِي او دُوَارَه مُدّعْي عَلَيهِ جوړېدلائي شي لِهْذَا چي هر يَو بَيِّنَه قائم کړي دهغه بَيِّنَه به قبليږي او دهغه په حَق کي به فيصله کيږي.حديث مخکي تېرشوئ دئ. عَن عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ اَنّ النّبِيّ(ﷺ) قَالَ فِي خُطبَتِهِ اَلبَيِّنَةُ عَلَي المُدّعِي وَاليَمِينُ عَلَي المُدّعْي عَلَيهِ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في اَنّ البيّنَةَ علَي المدّعي واليمين علَي المُدّعْي عليه ص۲۴۹نمبر۱۳۴۱) په دې حديث کي دئ چي پر مُدّعِي باندي ګواه او پر مُدّعْي عَلَيهِ باندي قَسَم دئ .

[۲۷۸۵](۵۶) که د دواړو څخه هر يوه بَيِّنَه قائم کړه نو چي زِيَاتُوب ثابتوي دهغه بَيِّنَه دِپره اَولٰي ده .

تشريح : په دې مسئلو کي خو دواړه مُدّعِي او دواړه مُدّعْي عَلَيهِ دي نوځکه دواړه بَيِّنَه قائمولائي شي.اُوس چي دواړو بَيِّنَه قائم کړه نو د کُوم يَوَه بَيِّنَه به اَولٰي وي؟ او

ترجيح به وركول كيږي؟ فرمايي چې د کُوم چا بَيِّنَه چې زِيَاتُوب ثابتوي هغه په اَصل کي د زِيَادَتِي مُدّعِي دئ او هغه دُويَم دهغه څخه اِنکَاري دئ نوځکه هغه مُنکِر

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) په خُطبَه کي وفرمايل گواه پر مُدّعِي دئ او قَسَم پر مُدّعٰي عَلَيهِ دئ .

[٢٧٨٦](٥٧) فَاِن لَم يَكُن لِكُلّ وَاحِدٍ مّنهُمَا بَيّنَةٌ قِيلَ لِلمُشتَرِي اِمّا اَن تَرضْي بِالثّمَنِ اَلّذِي اِدّعَاهُ البَائِعُ وَاِلاّ فَسَخنَا البَيعَ وَقِيلَ لِلبَائِعِ اِمّا اَن تُسَلّمَ مَا اِدّعَاهُ المُشتَرِي مِنَ المَبِيعِ وَاِلاّفَسَخنَا البَيعَ.

مُدّعْي عَلَيهِ دئ.لِهٰذَا چې زِيَاتُوب ثابتوي دهغه بَيّنَه به قبليږي او دهغه په حَق کي به فيصله کيږي.مثلاً په اَوّله مسئله کي بائع د زِيَات ثَمَن دعوه کوي نوځکه دهغه گواه به قَابِلِ قَبُول وي.او په دُويَمَه مسئله کي مُشتَرِي د زِيَاتِي مَبِيع دعوه لري نوځکه دهغه گواه به قَابِلِ قَبُول وي .

[٢٧٨٦](٥٧) که چيرې د دواړو څخه يَوَه هم بَيّنَه نَه درلوده نو مُشتَرِي ته به ويل کيږي چې يا په هغه قِيمَت راضي شَه کُوم چې بائع دَعوَه کوي که نَه نو مُوږ بيع فَسخ کو.او بائع ته به ويل کيږي چې يا هغه خبره تَسلِيم کړه کُوم چې مُشتَرِي دَعوَه کوي د مَبِيع څخه که نَه نو مُوږ بَيعَ فسخ کو .

تشريح : که د دواړو څخه د يَوَه سره هم بَيّنَه نَه وه.نوحَاکِم به په اَوّله مسئله کي ومُشتَرِي ته وايي چې يا خو چې بائع څومره رَقَم يادوي مثلاً د دُولَس دِرهَم دعوه کوي نو دُولَس دِرهَم تسليم کړه او بُوزَه واخله که نَه نو مُوږ بَيعَ فسخ کو .

وجه : (١) داوَينَابه ځکه ورته کوي چې اِمکَان شته چې دفَسخ دبيرې څخه مُشتَرِي خبره تَسلِيم کړي او بَيعَ برقراره وساتي.دغه رنګه په دُويَمَه مسئله کي به و بائع ته وايي. چې يا خو مُشتَرِي دڅومره مَبِيع دعوه کوي مثلاً په لَس دِرهَم د دُولَس کبلو غَنَم دعوه کوي دغه تَسلِيم که او بَيع برقراره وساته يا مُوږ بَيع فسخ کو (٢) دا ځکه چې امکان شته چې د بَيعِ دختم کېدو لَخَوف بائع دمُشتَرِي خبره تسليم کړي .

لغت : تُسَلّمَ : خبره وَمَنِي. تسليم يې کړي .

[٢٧٨٧](٥٨) فَاِن لَم يَتَرَاضَيَا اِستَحلَفَ الحَاكِمُ كُلّ وَاحِدٍ مّنهُمَا عَلٰي دَعوْي الآخَرِ وَيَبتَدِئُ بِيَمِينِ المُشتَرِي فَاِذَا حَلَفَا فَسَخَ القَاضِي البَيعَ بَينَهُمَا .

[۲۷۸۷](۵۸) که چیري دواړه رَاضِي نَه وي نوحَاکِم دي د دواړو څخه قَسَم واخلي دهغه بَل پر دَعوَه باندي او دمُشتَرِي دقَسَم څخه دې شروع کړي.که چیري دواړه قَسَم واخلي نو قاضي دي د دُوئي بَیعَ فسخ کړي .

وجه : (۱) دُوئي خو دواړه مُدّعْي عَلَیهِ هم دي او دمُدّعِي سره بَیّنَه نشته نوځکه دواړو ته به دهغه بَل فریق پر دَعوَه باندي قَسَم ورکیږي.چي دواړو ته قَسَم ورکړئ او د تَرجِیح هیڅ یوه وجه هم نشته او دا هم نَه شي کېدلائي چي د دواړو تر مینځ د نِیمَئ نِیمَئ فیصله وکړي لِهْذَا آخري صورت دادئ چي چي بَیعَ فسخ کړي (۲) په حدیث کي دئ چي که د دواړو سره بَیّنَه نَه وي نو دواړه دي قَسَم واخلي. عَن اَبِي هُرَیرَةَ اَنّ رَجُلَینِ اِختَصَمَا فِي مَتَاعٍ اِلَي النّبِيّ (ﷺ) لَیسَ لِوَاحِدٍ مِّنهُمَا بَیّنَةٌ فَقَالَ النّبِيّ (ﷺ) اِستَهَمَا عَلَي الیَمِینِ مَاکَانَ اَحِبَّاً ذَالِکَ اَو کَرهًا (الف) (ابوداؤدشریف.باب الرّجُلَینِ یدعیان شیئًا ولیس بینهما بَیّنَةٌ ص۱۵۳نمبر۳۶۱۶/ابن ماجه شریف.باب الرّجُلاَنِ یدعیان السّلعَة ولیس بینهمابینة ص۳۳۳نمبر۲۳۲۹) ددې حدیث څخه معلوم شوچي دواړه مُدّعِي او مُدّعْي عَلَیهِ وي او د دواړو سره بَیّنَه نَه وي نو دواړه دي قَسَم واخلي .

دمُشتَرِي څخه به په دې وجه قَسَم شروع کوي چي پر مُشتَرِي باندي اَوّل قیمت اداء کول ضروري دئ.او هغه یې نَه اداء کوي نوځکه دئ اَوّل مُنکِر دئ.او پر مُنکِر باندي قَسَم دئ نوځکه مُشتَرِی ته به اَوّل قَسَم ورکوي .

فائده : د امامِ شافعي (ؒ) رَأیَه داده چي څوک به اَوّل قَسَم اخلي ددې لپاره به قُرعَه

حاشیه : (الف) د یَوَه سامان په اړه دُو کسانُ دحضور (ﷺ) خدمت ته خُصُومَت رَاوړَئ. د دُوئي څخه یَوَه هم ګواه نَه دَرلُودَئ نوحضور (ﷺ) وفرمایل تاسو دواړه پر قَسَم باندي قُرعَه وَاچَوَئ(او دواړه قَسَمُونَه واخلئ) که مِي دغه خُوښَه وي که مِي نَه وي خُوښَه .

[۲۷۸۸](۵۹) فَاِن نَکَلَ اَحَدُهُمَا عَنِ الیَمِینِ لَزِمَهُ دَعوْي الآخَرِ .

اَندَازِي(یعني شپر.خَط.یا اَسک) کوي.د کُوم یوه پر نُوم چي قُرعَه رَاوَوزِي هغه دي اَوّل قَسَم واخلي .

وجه : د تېرحدیث ,,اِستَهَمَا عَلَي الیَمِینِ,, څخه هم و دې طرف ته اِشَارَه شوې ده چي د قَسَم په اړه به قُرعَه اَچَوِي(یعني اَسک به سره کوي) لِهْذَا د اَوّل قَسَم اخستلو لپاره به قُرعَه سره اَچَوِي .

[۲۷۸۸](۵۹) که د دواړو څخه یَوَه دقَسَم اخستلو څخه اِنکَار وکړئ نو پر ده باندي د هغه بَل دَعوَه لازم ده .

تشریح : و بَائِع او مُشتَرِي ته دقَسَم اخستلو لپاره وَوَیَل شو.نو د دواړو څخه یَوَه دقَسَم اخستلو څخه اِنکَار وکړئ نو ددې اِنکَار دُوَه مطلب دي.یَو خو دا چي زَه په پَتَه خُولَه دا اِقرَار کوم چي دخَصَم دعوه صحیح ده.او دُویَم مطلب یې دادئ چي د خَصَم دَعوَه خو صحیح نَه ده لېکن چَلُو زَه خپل شَئ ورکوم دَاوَل کول بِهتَر او بنَه کار دئ تر

دې چې د الله جَلّ جَلالُهُ په عَظِيم او غټ نوم سره قَسَم واخلي.خو په هر صورت کې قاضي به د مَدِّمُقَابِل د دَعوې مطابق فيصله کوي .
وجه : په حديث کې ددې ثبوت شته. عَن عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ عَنِ النّبِيِ (ﷺ) قَالَ اِذَا اِدّعَتِ المَرأ ةُ طَلاَقَ زَوجِهَا فَجَائَت عَلَي ذَالِکَ بِشَاهِدِعَدلٍ اُستُحلِفَ زَوجُهَا فَاِن حَلَفَ بَطَلَت شَهَادَةُ الشّاهِدِ وَاِن نَکَلَ فَنُکُولُهُ بِمَنزِلَةِ شَاهِدٍ آخَرَ وَجَازَ طَلاَقُهُ (الف) (ابن ماجه شريف.باب الرّجُلُ يجحدالطلاق ص۲۹۲نمبر۲۰۳۸/ دارقطني. کتاب الوکالة ج۴ص۹۶نمبر۴۲۹۵) په دې حديث کې دئ چې دقَسَم څخه اِنکَار کول د دُويَم گواه په درجه کې دئ.او په دغه سره به دمُدّعِي د دَعوې مطابق فيصله کيږي .

حاشيه : (الف) د حضور (ﷺ) څخه نَقل شوئ دئ چې که بښځه د مېړه دطلاق دَعوَه وکړي بيا پر هغه باندې يَو عَادِل گواه رَاوَلِي نو ددې د مېړه څخه به قَسَم اخستل کيږي.که چيرې قَسَم واخستئ نو دگواه گواهي به بَاطِل شي. او که اِنکَار وکړئ نو ددې اِنکَار د دُويَم گواه په درجه کې دئ او طلاق به جواز پَيدَا کړي .

[۲۷۸۹](۶۰) وَ اِن اِختَلَفَا فِي الاَجَلِ اَو فِي شَرطِ الخِيَارِ اَو فِي اِستِيفَاءِ بَعضِ الثّمَنِ فَلاَ تَحَا لُفَ بَينَهُمَا وَالقَولُ قَولُ مَن يُنکِرُ الخِيَارَ وَ الاَجَلَ مَعَ يَمِينِهِ .

[۲۷۸۹](۶۰) که دواړو اِختِلاَف وکړئ په مُدّت کې يا په خِيَارِ شَرط کې يا په بَعض قيمت وصولولو کې نو د دواړو څخه به قَسَم نَه اخستل کيږي.دهغه خبره به مَنَل کيږي سره دقَسَم چې د خِيَارِ شَرط او مُدّت انکار کوي .
تشريح : بائع او مُشتَرِي دواړو په مُدّت کې اِختِلاَف وکړئ.مثلاً بائع وايي چې دا مُقَرّر شوئ وُ چې په يَوَه هَفتَه کې به قيمت راکوې او مُشتَرِي وايي چې په دُوُ هَفتُو کې د وَرکولو وَعدَه شوې وه.دَلتَه دقيمت په گمبُوت او زِيَاتُوب کې اِختِلاَف نشته پر هغه خو دواړه سره مُتّفِق دي البته قيمت به څَه وخت ورکوي؟ په دي کې اِختِلاَف دئ نو دا اِختِلاَف په اَصل عَقد کې نَه دئ بلکه دا د ليري يَوصِفَت دئ په هغه کې اِختِلاَف دئ ځکه چې که نَقَد قيمت ورکړي نو بيا خو دمُدّت د مُتَعَيّن کولو هيڅ ضرورت نشته.نوځکه په دي کې دواړه مُدّعِي او دواړه مُدّعٰي عَلَيهِ نَه دي بلکه گُوم يَوَه چې مُدّت او وَخت اخستئ دئ صِرف او يَوَاځِي هغه مُدّعِي دئ او مَدِّمُقَابِل مُدّعٰي عَلَيهِ دئ او هغه مُنکِر دئ.او دمُدّعِي سره گواه نشته نو و دواړو ته به قَسَم نَه ورکوي بلکه صِرف د مُنکِر خبره به سره دقَسَم مَنَل کيږي.دغه رنګه خِيَارِشَرط د اَصل عَقدڅخه نَه دئ ځکه چې دخِيارِشَرط بغيره بَيعَ مُنعَقَدکيږي.او دغه صورت حال دئ په هغه صورت کې چې د بَعض ثَمَن په وصولولو کې اِختِلاَف راشي چې هغه هم په اَصل عَقد کې اِختِلاَف نَه دئ.ځکه چې اَصل خو دادئ چې پُورَه قيمت ورکړي.نوځکه کوم چاچې خِيَارِشَرط اخستئ وي هغه مُدّعِي دئ او دهغه بَل مُدّعٰي عَلَيهِ دئ او مُنکِر

دئ.نوځکه پر دواړو قَسَم نشته بلکه که دمُدّعِي سره ګواه نَه وي نو دمُنکِر خبره به سره دقَسَم منل کيږي .

[۲۷۹۰](۶۱) وَ اِن هَلَکَ المَبِيعُ ثُمّ اِختَلَفَا فِي الثّمَنِ لَم يَتَحَالَفَا عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَ اَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي وَ القَولُ قَولُ المُشتَرِي فِي الثّمَنِ وَ قَالَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي يَتَحَالَفَانِ وَيُفسَخُ البَيعُ عَلْي قِيمَةِ الهَالِکِ .

کوم څوک چي پر نِيمَئ ثَمَن باندي دقبضې دَعوَه لري هغه مُدّعِي دئ او کُوم څوک چي ددې څخه اِنکَار کوي هغه مُدّعْي عَلَيهِ دئ او مُنکِر دئ.لِهْذَا که دمُدّعِي سره ګواه نَه وُ نو دمُنکِر خبره به سره دقَسَم منل کيږي .

اصول : دغه مسئلې پر دې اُصُول متفرّع دي چي دواړه مُدّعِي او دواړه مُدّعْي عَلَيهِ نَه سي جوړېلائي بلکه يَو مُدّعِي او هغه بَل مُدّعْي عَلَيهِ وي نو بيا پر دواړو قَسَم نَه لازميږي.بلکه چي دمُدّعِي سره ګواه نَه وي نو د مُدّعْي عَلَيهِ خبره به سره دقَسَم منل کيږي.حديث مخته تېرشوئ دئ. کَتَبَ اِلْي اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَضْي بِاليَمِينِ عَلْي المُدّعْي عَلَيهِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب اليمين علْي المدعْي عليه ص۱۵۳ نمبر۳۶۱۹/ترمذي شريف.باب ماجاء في انّ البيّنَةعلْي المُدّعِي واليمين علْي المدّعْي عَلَيهِ ص۲۴۹ نمبر۱۳۴۲) په دې حديث کي دئ چي پر مُدّعْي عَلَيهِ باندي دقَسَم فيصله کړي ده .

لغت : اَلاَجَلُ : مُدّت.وخت. اِستِيفَاءٌ : د وَفْي څخه مُشتَق دئ وصولول. تَحَالَفَ : د بابِ مُفاعَلَه څخه دئ د دواړو اَطرَافُ څخه قَسَم اخستل .

[۲۷۹۰](۶۱) که مَبِيع هلاک شو بيا دواړو په ثَمَن کي اِختِلاَف وکئ نو د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف په نېز به قَسَم نَه ورکوي.او په ثَمَن کي به دمُشتَرِي خبره مَنَل کيږي.او امام محمّد وفرمايل چي دواړه به قَسَمُونَه خوري او بَيعَ به د هَلاَک شوي پر قيمت باندي فَسخ شي .

تشريح : مُشتَرِي پر مَبِيع باندي قبضه وکړه او دده په قبضه کي هَلاَکَ شوه د هغه

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) پر مُدّعْي عَلَيهِ باندي دقَسَم فيصله وکړه .

وروسته په ثَمَن کي اِختِلاَف پيدا شو مثلاً بائع وايي چي د بُوزې قيمت دُوُلَس دِرهَم وُ او مُشتَرِي وايي چي لَس دِرهَم وُ نو د شيخينُ(رح) په نېز چي ګواه نَه وي و بائع او مُشتَرِي دواړو ته به قَسَم نَه ورکوي.بلکه صِرف و مُشتَرِي ته به قَسَم ورکوي چي څومره قيمت هغه يَادَوِي په هغه کي به دده خبره مَنَل کيږي .

وجه : مُشتَرِي چي کُوم وخت پر مَبِيع باندي قبضه وکړه نو دئ اُوس دمَبِيع په باب کي مُدّعِي نَه شو پاته اُوس خو دئ صِرف په ثَمَن کي مُدّعِي دئ او مُشتَرِي دهغه مُنکِر دئ.او چي کله صرف د يوه جانب څخه مُدّعِي وي نو و دواړو ته قَسَم نَه

وركول كيږي.بلكه چې دمُدّعِي سره ګواه نَه په هغه صورت کي صِرف ومُدّعْي عَلَيهِ مُنكِر ته قَسَم وركول كيږي.نوځكه دَلتَه به هم صِرف ومُشتَرِي ته قَسَم وركول كيږي كه هغه قَسَم واخستئ نو دهغه پر خبره به فيصله كيږي .
اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چې پر مَبِيع قبضه رَاشِي دهغه وروسته صِرف بائع مُدّعِي شو او صِرف مُشتَرِي مُنكِر شو .
فائده : امام محمّد() فرمايي چې دهَلاَک شوي مَبِيع قيمت به اُوس اَصل مَنُو او موجود به ګڼو.نو په دې صورت کي دواړو مُدّعِي او دواړه مُدّعْي عَلَيهِ جوړېدلائي شي.او اِختِلاَف خو د ثَمَن په مِقدَار کي دئ نوځكه په اَصل عَقدكي اِختِلاَف راغلئ.لِهْذَا د دواړو څخه دي قَسَم واخستل شي او بَيعَ دي فَسخ كړي او مُشتَرِي ته دي وويل شي چې تَه دمَبِيع د بَازَار قيمت و بائع ته وَاپَس وركه.نو ګواكه بَيعَ يې فَسخ كړه اَصل مَبِيع يې بېرته وَاپَس كړه .
اصول : دا مسلک پر هغه اُصُول دئ چې د مَبِيع بَازَارِي قيمت اَصل موجود مَبِيع وګڼل شي او دبَيعِ دفَسخ كولو پر مَحَال دغه قيمت و بَائِع ته وَاپَس كړي .

[۲۷۹۱](۶۲) وَاِن هَلَکَ اَحَدُ العَبدَينِ ثُمّ اِختَلَفَا فِي الثّمَنِ لَم يَتَحَالَفَا عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي اِلاّ اَن يَرضْي البَائِعُ اَن يَترُکَ حِصّةَ الهَالِکِ .

[۲۷۹۱](۶۲) كه د دُوُ غلامانُ څخه يَو هَلاَک شو بيا دواړو په قيمت كي اِختِلاَف وكړئ نو د امام ابوحنيفه() په نېز به دواړه قَسَم نَه خُورِي مګر كه چيري بائع رَاضِي شِي د هَلاَک شوي دحِصّې پر پرېښولو باندي .
تشريح : بائع دُوَه غُلاَمَان خرڅ كړي وُ.مُشتَرِي پر هغه قبضه وكړه بيا يَو غُلاَم هَلاَک شو. دهغه وروسته دهغه په قيمت كي اِختِلاَف پيدا شو. بائع وايي چې دواړه غُلاَمَان مِي په دُوَه زَرَه خرڅ كړي وُ او مُشتَرِي وايي چې په زَر دي رَابَاندِي خرڅ كړي وُ نو امام ابوحنيفه() فرمايي چې و دواړو ته به قَسَم نَه وركوي بلكه صِرف ومُشتَرِي ته به قَسَمُونَه وركوي.ځكه چې مُشتَرِي د ثَمَن د زِيَاتُوب مُنكِر دئ.البته كُوم غُلاَم چې هَلاَک شوئ دئ بائع دي دهغه دحِصّې قيمت پرېږدي او بَايَد داډَوَل محسوس شي چې كُوم غُلاَم ژُوَندَئ دئ صِرف هغه مَبِيع دئ.هَلاَک شوئ غُلاَم ګواكه مَبِيع نَه دئ بيابه نو پر دغه موجود غُلاَم باندي و دواړو ته قَسَمُونَه وركول كيږي .

وجه : چي و دواړو ته قَسَم ورکړي نو بَيعَ فسخ کول مَقصَد دئ او بَيعَ په موجود غُلاَم کي فسخ کيږي که په هَلاَک شوي غُلاَم کي هم فَسخ کړو بيا خو به هغه غُلاَم ببرته وَاپَس ورکوي.هَلاَک شوئ غُلاَم به ببرته وَاپَس څه رنګه ورکوي؟ دَلتَه دا صورت کېدلائي شي چي هَلاَک شوئ غُلاَم بائع بِالکُلِّيّه هبر کړي او صرف موجود غُلاَم مبيع وګڼي نو په دې صورت کي دي و دواړو ته قَسَم ورکړي او بَيع دي فسخ کړي او موجود غُلاَم دي و بائع ته وَاپَس کړي .

[۲۷۹۲](۶۳) وَقَالَ اَ بُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي يَتَحَالَفَانِ وَيَفسُخُ البَيعُ فِي الحَيِّ وَقِيمَةِ الهَالِکِ [۲۷۹۳](۶۴) وَهُوَ قَولُ مُحَمّدٌ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي [۲۷۹۴](۶۵) وَ اِذَا اِختَلَفَ الزّوجَانِ فِي المَهرِ فَادّعْي الزّوجُ اَنّهُ تَزَوّجَهَا بِاَلفٍ وَقَالَت تَزَوّجتَنِي بِاَلفَينِ فَاَيّهُمَا اَقَامَ البَيّنَةَ قُبِلَت بَيّنَتُهُ .

[۲۷۹۲](۶۳) امام ابويوسف فرمايي چي دواړه دي قسمونه واخلي او په ژُوَندِي غُلاَم کي او دهَلاَک شوي په قيمت کي به بَيع فسخ شي .
تشريح : د امام ابويوسف () قاعده داده چي کُوم ژُوَندَئ دئ هغه بَيع خو موجود ده په هغه کي بائع او مُشتَرِي دواړه مُدّعِي او دواړه مُدّعْي عَلَيهِ جوړېدلائي شي.په دي کي به و دواړو ته قَسَمُونَه ورکول کيږي او بَيعَ به فسخ کوي.چي کُوم غُلاَم موجود دئ هغه دي ببرته وَاپَس کړي او کُوم چي هَلاَک شوئ دئ دهغه قيمت دي وَاپَس کړي .
اصول : دامام ابويوسف () په نېزېه موجودغُلاَم کي دواړه مُدّعِي اودواړه مُدّعْي عَلَيهِ جوړېدلائي شي.نوځکه د دواړو څخه قَسَمُونَه هم اخستل کېدائي شي او ددې ژُوَندِي په تَبعَ کي د هَلاَک شوي په قيمت کي هم قَسَمُونَه اَخستَل کيږي .
[۲۷۹۳](۶۴) او دغه د امامِ محمّد () قول دئ .
تشريح : د امامِ مُحمّد په نېز چي پُورَه او مکمّل مبيع هَلاَک شي بيا هم د دواړو څخه قَسَم اَخستَل کيږي.نو چي کله نِيمَئ مبيع هلاک شي يعني د دُوُ څخه يَو غُلاَم هَلاَک شي نو په طريقَه اَولْي سره به د دواړو څخه قَسَم اخستل کيږي .
[۲۷۹۴](۶۵) که مېړه او مَينې په مَهر کي اِختِلاَف سره وکړئ.مېړه دَعوَه وکړه چي ددې سره مِي وَادَه کړئ دئ پر زَر باندي او مَينې وويل چي تَا زُومَا سره وَادَه کړئ دئ پر دُوَه زره.نو چي کُوم يوه بَيّنَه قائم کړه دهغه بَيّنَه به قبليږي .
[۲۷۹۵](۶۶) وَ اِن اَقَامَا اَلبَيّنَةَ فَالبَيّنَةُ بَيّنَةُ المَرأةِ .

تشريح :/ وجه : دا مسئله هم پر هغه اُصُول متفرّع ده چي مَينَه او مېړه دواړه مُدّعِي هم جوړېدلائي شي او مُدّعْي عَلَيهِ هم جوړېدلائي شي.ځکه چي دمَبِيع او ثَمَن په شان دَلتَه هم بُضعَه مبيع او مَهر ثمن دئ.او په اَصل عَقد کي اِختِلاَف راغلئ دئ.چي ښځه

دَعوَه کوي چې د دُوُ زَرَو په بَدلَه کي وَادَه شوئ وُ نو ښځه مُدّعِيَه ده او مېړه مُدّعٰي عَلَيهِ او مُنکِر دئ.او مېړه په زَر رُوپِيَه مثلاً د بُضعَه اخستلو دَعوَه کوي نو په دې صورت کي مېړه مُدّعِي دئ او ښځه مُنکِر ده.نوځکه چې د مېړه سره ګواه نَه وي بايد پر مَينَه باندې قَسَم لازم شوئ وائ نوځکه دَلتَه هم د بَيعِ او شِرَاء په شان دواړه مُدّعِي او دواړه مُدّعٰي عَلَيهِ دي.لِهٰذَا که چيرې هسي يَوَه دليل او ګواه پيش کړئ نو دهغه ګواه به مَنَل کيږي او دهغه مطابق به فيصله کيږي. مثلاً ښځه پر دُوَه زره باندي بَيّنَه قائم کړي نو د دُوُ زرو مَهر فيصله به کيږي.او مېړه پر زَر روپيه مَهر باندي ګواه پيش کړي نو د زَر روپيه فيصله به کيږي .

[۲۷۹۵](۶۶) او که دواړو بَيّنَه قائم کړه نو دښځي بَيّنَه مُعتَبَرَه ده .

وجه : ښځه د زيات مَهر مطالبه کوي نوځکه دا حقيقةً مُدّعِيَه ده او مېړه دهغه څخه انکار کوي.نوځکه مېړه مُنکِر دئ.چې دواړو بَيّنَه قائم کړه نوچې کُوم اَصل دئ دهغه بَيّنَه قَابِلِ اِعتِبَار ده .

په هَدَايَه کې دئ چې دښځي بَيّنَه هغه وخت قَابِلِ اِعتِبَار ده چې مَهرِمِثل دهغه څخه کَم(لَږ)وي کُوم چې ښځه دَعوَه کوي.نو بيا دښځي بَيّنَه قَابِلِ اِعتِبَار ده ځکه چې هغه په بَيّنَه سره يَو غَيرِظَاهِر(پَټ شَئ)ثابتوي .

[۲۷۹۶](۶۷) وَ اِن لَم تَکُن لَهُمَا بَيّنَةٌ تَحَالَفَا عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي وَ لَم يُفسَخِ النِّکَاحُ وَلٰکِن يُحَکَّمُ بِمَهرِ المِثلِ فَاِن کَانَ مِثلُ مَا اِعتَرَفَ بِهِ الزّوجُ اَو اَقَلّ قَضٰي بِمَا قَالَ الزّوجُ وَ اِن کَانَ مِثلُ مَا اِدّعَتهُ المَرأ ةُ اَو اَکثَرَ قَضٰي بِمَا اِدّعَتهُ المَرأ ةُ وَ اِن کَانَ مَهرُ المِثلِ اَکثَرَ مِمّا اِعتَرَفَ بِهِ الزّوجُ وَ اَقَلّ مِمّا اِدّعَتهُ قَضٰي لَهَا بِمَهرِ المِثلِ .

[۲۷۹۶](۶۷) او که د دواړو سره بَيّنَه نَه وي نو د امام ابوحنيفه(ؒ) په نيز به دواړه قَسَمُونَه اخلي او نِکَاح نَه فسخ کيږي.لېکن فيصله به د مَهرِمِثل په ذريعه سره کيږي.که چيرې مَهرِمِثل دُومرَه وي څومره چې مېړه اِقرَار کوي يا دهغه څخه کَم وي نو به فيصله کيږي د دُومرَه څومره چې مېړه وايي.او که دُومرَه وي څومره چې ښځي دَعوَه کړې ده يا دهغه څخه زيات وي نو به د دُومر ه فيصله کيږي څومره چې ښځه دَعوَه کوي.او که مَهرِمِثل دهغه څخه زيات وي څومره چې مېړه اِقرَار کوي او دهغه څخه کَم وي څومره چې ښځي دَعوَه کړې ده نو دښځي لپاره به دمَهرِمِثل فيصله کيږي .

تشريح : او كه د دواړو سره بَيّنه نَه وي نو دُوئي خو دواړه مُدّعِي اودواړه مُدّعٰي عَلَيهِ دي او ګواه نشته نو د امام ابوحنيفه په نېز به دواړه قَسَمُونَه اخلي.ځکه چې د قَسَم ځخه انکار کول په پَټَه خُولَه دهغه بَل فريق دخبري اِقرَار کول دئ.يا بَذَل کول دئ او په مَال کي بَذَل جائز دئ.او که دواړه قَسَمُونَه واخلي نو نِکَاح نَه فسخ کيږي. ځکه چې که مَهر نَه وي هم نِکَاح جائز ده او مَهرِمِثل لازميږي.او بَيعَ خو ددې ځخه بَرخِلاَف ده په بَيعَ کي که چيري ثَمَن ختم شي نو بَيع فَسخ کيږي.په نِکَاح کي نِکَاح نَه ختميږي البته مُتَعَيّن مَهر ختميږي .

چې دواړه قَسَم واخلي نو مُتَعَيّن مَهر ساقط شو اُوس مَهرِمِثل عَلاَمَتِ رَاجِحَه دئ.

هغه چې د کُوم چا مُوَافَقَت وکړي پر هغه به فيصله کيږي.او که چيري د يَوَه مُوَافَقَت نَه کوي نو بيا به پر مَهرِمِثل فيصله کيږي .

مثلاً مَهرِمِثل دُومرَه دئ ځومره چې مېړه يَادَوِي يا دهغه ځخه کَم(لَږ)دئ مثلاً مېړه وايي چې پر زَر رُوپِيَه مَهر باندي وَادَه شوئ وُ او مَهرِمِثل زَر يا د زَر ځخه کم دئ نو د زَر رُوپِيَه فيصله به کيږي .

وجه : (١) ځکه چې مَهرِمِثل عَلاَمَتِ رَاجِحَه دمېړه مُوَافَقَت کوي (٢) دحضرت حذيفه په حديث کي د کُوم چا وُښ چې نِژدې تَرَلَئ وُ د کُودَئ فيصله يې دهغه په حَق کي وکړه (ابن ماجه شريف.نمبر٢٣٤٣) (٣) زَر رُوپِيَه خو مېړه په خپله يادوي نو دهغه فيصله به وَلِي نَه کوي؟ .

او که چيري مَهرِمِثل دښځي د دَعوې موافقت کوي مثلاً ښځه د دُوُ زَرَو دعوه کوي او مَهرِمِثل دُوَه زَرَه يا دهغه ځخه زِيَات دئ نو دښځي د وَينَا مطابق به د دُوُ زَرُو فيصله کيږي .

وجه : ځکه چې عَلاَمَتِ رَاجِحَه دښځي مُوَافَقَت کوي .

او که چيري عَلاَمَتِ رَاجِحَه يعني مَهرِمِثل نَه دمېړه موافقت کوي او نَه دمَينې مثلاً مَهرِمِثل د زَر ځخه زِيَات او د دُوُ زَرُو ځخه کَم وي نو دمَهرِمِثل فيصله به کيږي .

وجه : چې مَهر مُتَعَيّن نَه وي نو بيا خو اَصل مَهر مَهرِمِثل دئ.نوځکه د دواړو د قَسَم اخستلو په وجه مَهر مُتَعَيّن نَه شو پاته نو د مَهرِمِثل فيصله به کيږي .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چې مَهر مُتَعَيّن نَه وي نو بيا مَهرِمِثل اَصل مَهر دئ نوځکه يا به د مَهرِمِثل فيصله کيږي يا به دهغه فيصله کيږي کُوم چې ومَهرِمِثل ته نِژدې وي يعني مَهرِمِثل چې د کُوم رَقَم موافقت کوي هغه فيصله به کيږي.مخته حديث تېرشوئ دئ چې ګواه او بَل شئ نَه وي نو په عَلاَمَتِ رَاجِحَه به فيصله کيږي .(ابن ماجه شريف.نمبر٢٣٤٣)

[۲۷۹۷](۶۸) وَ اِذَا اِختَلَفَا فِي الاِجَارَةِ قَبلَ اِستِيفَاءِ المَعقُودِ عَلَيهِ تَحَالَفَا وَ تَرَادّا .

[۲۷۹۷](۶۸) که دواړه په اِجَارَه کي اِختِلاَف سره وکړي د مَعقُودٌ عَلَيهِ د وصولولو څخه مخکي نو دواړه دي قَسَمُونَه واخلي او اِجَارَه دي ختم کړي .
تشريح : د بَيع په شان په اُجرَت کي هم اَجِير او مُستَأجِر يعني مَزدُور او هغه چي په اُجرَت يي نِيوَلَئ دئ هغه دواړه مُدّعِي او دواړه مُدّعٰي عَلَيهِ جوړېدلائي شي .
وجه : ځکه چي په اُجرَت کي د يوې خُوا څخه مُنَافِع دي چي د مَبِيع په درجه کي دي او بَل طرف ته اُجرَت دئ چي دثَمَن په درجه کي دئ. دا چي اَجِير مُدّعِي وي او مُستَأجِر مُدّعٰي عَلَيهِ وي دهغه صورت به داوي چي.مثلاً اَجِير يعني مَزدُور وايي چي مثلاً يَوَه مياشته مِي په لَس دِرهَم کار کړئ دئ نو دئ مُدّعِي شو او مُستَأجِر اِنکَار کوي نو دئ مُنکِر او مُدّعٰي عَلَيهِ شو.اُوس مُستَأجِر دعوه کوي چي دا خبره شوې وه چي يَوَه مياشته به کار کوم په پِنځه دِرهَم نو مُستَأجِر مُدّعِي شو او مَزدُور مُنکِر او مُدّعٰي عَلَيهِ شو په دغه ډَوَل دواړه مُدّعِي او دواړه مُدّعٰي عَلَيهِ شول .
اُوس مَنَافِع يعني مَعقُودٌ عَلَيهِ نَه دي حاصِل شوي او مَزدُور تر اُوسَ کار نَه دئ کړئ دهغه څخه مخکي د دُوئي دواړو تر مينځ اِختِلاَف راغلئ او د دواړو سره ګواه نشته نو دواړه به قَسَم اَخلِي او اِجَارَه به ختم کيږي.لکه څَه رنګه چي د دواړو د قَسَم څخه وروسته بَيعَ ختم کېدله.او که چيري هسي يَوَه دقَسَم اخستلو څخه انکار وکړئ نو دهغه بَل خبره به لازم شي .
لغت : اِستِيفَاءٌ : د ,,وَفْي,, څخه مُشتَق دئ وصولول. اَلمَعقُودٌ عَلَيهِ : پر کُوم شِي چي عَقد شوئ دئ.دَلتَه ددې څخه مُرَاد هغه نَفع او ګټه ده چي مَعَامَلَه پر شوې ده. اَجِيرٌ : هغه مَزدُور چي پر اُجرَت او مَزدُورِي يي يَبنَئ دئ. مُستَأجِرٌ : کُوم چاچي پر اُجرَت نِيوَلَئ دئ او پَيسې يې ورکړي دي .

[۲۷۹۸](۶۹) وَ اِن اِختَلَفَا بَعدَ الاِستِيفَاءِ لَم يَتَحَالَفَا وَكَانَ القَولُ قَولُ المُستَأجِرِ [۲۷۹۹](۷۰) وَ اِن اِختَلَفَا بَعدَ الاِستِيفَاءِ بَعضَ المَعقُودِ عَلَيهِ تَحَالَفَا وَفُسِخَ العَقدُ فِيمَا بَقِيَ وَكَانَ القَولُ فِي المَاضِيّ قَولَ المُستَأجِرِ مَعَ يَمِينِهِ .

[۲۷۹۸](۶۹) او که د منافِع د وصولولو وروسته اِختِلاَف پيدا شو نو دواړه به قَسَمونَه نه اَخلِي او دمُستَأجِر خبره به سره دقَسَم مَنَل کيږي .
وجه : دواړه به په دې وجه قَسَم نَه اَخلِي چي نَفعَ وصول کړه او نَفع خو عَرض ده نوځکه هغه هَلاَک هم شوه.نو لکه څَه رنګه چي مَبِيع وصول کړي او هَلاَک شي نو

بيا د مَبِيع وَاپَس کول نَامُمکِن دئ.او دواړو ته قَسَم ورکول او بَيعَ ختم کول مُشکِل دئ هغه کار خو وشو.دغه رنګه نَفعَ د وصولولو وروسته او دهغې د مَعدُوم کېدلو وروسته دهغه ختم کول نَامُمکِن دئ نوځکه دواړو ته به قَسَم نَه ورکول کيږي بلکه دَلتَه اَجِير د زِيَات ثَمَن دعوه لري او مُستَأجِر دهغه څخه اِنګار کوي او د اَجِير سره ګواه نشته نوځکه دمُستَأجِر خبره به سره دقَسَم منل کيږي .

[۲۷۹۹](۷۰) او که دواړو د بَعض مَعقُودٌ عَلَيهِ د وصولولو وروسته اِختِلاَف وکړئ نو دواړه به قَسَمُونَه اخلي او په بَاقِي کي به عَقد فسخ کيږي او د مَاضِي په اړه به دمُستَأجِر قول سره دقَسَم مُعتَبَر وي .

تشريح : مَزدُور لَږ څَه کار کړئ وُ او لَږ څَه کار پاته وُ مثلاً خبره د يوې مياشتي شوې وه ددې څخه پِنځلَس وُرَځِي مَزدُورِي کړې وه او پِنځلَس وُرَځِي لاَ پاته وې چې د اَجِير او مُستَأجِر ترمينځ اِختِلاَف راغلئ نو پِنځلَس وُرَځِي چې کُوم پاته دي دهغه په اړه به دواړه قَسَم اخلي.ځکه چې مَعقُودٌ عَلَيهِ لاَ تر اُوسَ پاته دئ نوځکه په دي کي به دُوئي ته قَسَم ورکول کيږي هغه به فَسخ کوي.او څومره کار چې کړئ دئ هغه خو وُصُول شوئ دئ او مَعدُوم شوئ هم دئ نوځکه په هغه کي به و دواړو ته

[۲۸۰۰](۷۱) وَ اِذَا اِختَلَفَ المَولْي وَالمَکَاتَبُ فِي مَالِ الکِتَابَةِ لَم يَتَحَالَفَا عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ ﷺ وَ قَالاَيَتَحَالَفَانِ وَ تُفسَخُ الکِتَابَةُ .

قَسَم نَه ورکوي.بلکه مُستَأجِر مُنکِر او مُدّعْي عَلَيهِ دئ.چې دمُدّعِي سره ګواه نَه وي نو پر مُدّعْي عَلَيهِ باندي قَسَم لازميږي.که هغه قَسَم واخستئ نو دهغه پر خبره به فيصله کيږي .

[۲۸۰۰](۷۱) که آقَا او مُکَاتَب په مَالِ کِتَابَت کي اختلاف سره وکړئ نو د امام ابوحنيفه(ر) په نېز به دواړه قَسَمُونَه نَه اَخلِي او صاحبين فرمايي چې دواړه به قَسَمُونَه اخلي او کِتَابَت به فسخ شي .

تشريح : د مُکاتَب او دده دخپل آقَا تر مينځ په مَالِ کِتَابَت کي اختلاف راغلئ.مثلاً آقَا وايي چې د زَر رُوپِيَه مَالِ کِتَابَت په بَدلَه کي مِي مُکَاتَب کړئ يې او مُکَاتَب دهغه څخه اِنکار کوي او وايي چې د پِنځَه سوه رُوپِيَه په بَدلَه کي دي مُکَاتَب کړئ يَم.نو د امام ابوحنيفه(ر) په نېز به دواړه قَسَمُونَه نَه اخلي بلکه که چيرې د آقَا سره ګواه نَه وي نو پر مُدّعْي يعني مُکَاتَب باندي به قَسَم لازم وي که هغه قَسَم واخستئ نو دده پر خبره به فيصله کيږي .

وجه : (۱) دئ فرمايي چې مُکاتَب غُلاَم دئ نو ځکه دده مَال د آقَا مَال دئ نوځکه عَقد نَه لازميږي چې دئ به قَسَم اَخلِي (۲) که چيرې مُکاتَب عَاجِز شي نو کِتَابَت به ختم شي ددې څخه معلوم شو چې د کِتَابَت مُعَامَلَه لازم نَه ده نوځکه دواړه مُدّعِي او دواړه مُدّعْي عَلَيهِ نَه سي جوړېدلائي.آقَا د زِيَات رَقَم مطالبه کوي او مُکَاتَب دهغه څخه

انکار کوي لِهٰذَا که چيري د آقَا سره ګواه نَه وُ نو د مُکاتَب خبره به سره دقَسَم مَنَل کيږي .
وجه : آقَا مُدّعِي دئ او مُکاتَب مُنکِر دئ .
فائده : صاحبين (ﷺ) فرمايي چې دواړه به قَسَمُونَه اخلي او کِتَابَت به فسخ کيږي .

[۲۸۰۱](۷۲) وَ اِذَا اِختَلَفَ الزّوجَانِ فِي مَتَاعِ البَيتِ فَمَا يُصلِحُ لِلرّجُلِ فَهُوَ لِلرِّجَالِ وَ مَا يُصلِحُ لِلنِّسَاءِ فَهُوَ لِلمَرأةِ وَ مَا يُصلِحُ لَهُمَا فَهُوَ لِلرّجُلِ .

وجه : دُوئي فرمايي چې کِتَابَت هم د بَيعِ په شان عَقد او يوه معامله ده.په دي کي يَو طرف ته آزادګي ده او بَل طرف ته مَالِ کِتَابَت دئ.او اِختِلاَف د کِتَابَت په مِقدَار کي دئ نوځکه دثَمَن په شان په اَصل عَقد کي اِختِلاَف راغلئ نوځکه دواړه مُدّعِي او دواړه مُدّعٰي عَلَيهِ جوړېدلائي شي.اوچي دواړه مُدّعِي او دواړه مُدّعٰي عَلَيهِ جوړ شول بيا چې کَلَه ګواه نَه وي نو به دواړه قَسَمُونَه اخلي.چې کُوم وخت دواړه قسمونه واخلي نو کِتَابَت به فسخ کړل شي .
اصول : د صاحبين (ﷺ) اُصُول دادئ چې کِتَابَت هم د بَيعِ په شان عَقد او يوه معامله ده نوځکه دواړه به قَسَمُونَه اخلي .
[۲۸۰۱](۷۲) که مېړه او مَيني د کُور په سامان کي اِختِلاَف سره وکړئ نو چې کُوم د نَر قابِل وي هغه د نَرَانُ لپاره دئ او چې کُوم دښځو قَابِل وي هغه دښځي لپاره دئ.او چې کُوم د دواړو قَابِل وي هغه د نَر لپاره دئ .
تشريح : د کُور په سَامَان کي د مېړه او مَيني تر مينځ اِختِلاَف راغلئ او ګواه يا قَرِينَه هيڅ شَئ نشته نو فيصله به دَادِوَل کيږي چې کُوم لِبَاس يا کُوم شِيَان چې صِرف نَرَان استعمالوي لکه عَمَامَه.د نَر پَرتُګ.قَمِيص.هغه به د نَر لپاره وي.او کُوم شِيَان چې صرف ښځي(زَنَانِې)استعمالوي مثلاً زِيوَر.زَنَانَه پَرتُګ او قميص هغه به دښځی لپاره وي.او کُوم سَامَان چې د دواړو په استعمال کي رَاتَلاَئي شي لکه ټيلي فُون.ګَادِئ.او دغه دِوَل نور شيان نو هغه به د نَر په حِصّه کي شمار وي .
وجه : (۱) کُور(مکان) د مېړه دئ نوځکه ښکاره خو دغه دئ چې دا سَامَان به هم د مېړه وي (۲) دا چې کُور د مېړه دئ دا عَلاَمَتِ رَاجِحَه دئ چې دا پاته سَامَان به هم د

[۲۸۰۲](۷۳) فَاِن مَاتَ اَحَدُهُمَا وَ اِختَلَفَ وَرَثَتُهُ مَعَ الآخَرَ فَمَا يُصلِحُ لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ فَهُوَ لِلبَاقِي مِنهُمَا .

مېړه وي.دا هغه وخت دئ چې بَلَه هيڅ يوه قرينه نَه وي او نَه ګواه وي چې سَامَان دښځي دئ (۳) په اَثَر کي ددې ثبوت شته. عَنِ الحَکَمِ قَالَ اِذَا مَاتَ الرّجُلُ وَتَرَکَ مَتَاعًا مِن مَتَاعِ البَيتِ فَمَا کَانَ لِلرّجُلِ فَلاَ يَکُونُ لِلمَرأةِ وَمَا يَکُونُ لِلمَرأةِ لاَيَکُونُ لِلرّجُلِ هُوَ

لِلمَرأةِ وَمَا يَكُونُ لِلرّجَالِ وَالنِّسَاءِ فَهُوَ لِلرّجُلِ اِلاّ اَن تُقِيمَ المَرأةُ البَيّنَةَ اَنّهُ لَهَا (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۲۴۶ في الرّجل يطلق او يموت وفي منزله متاع ج۴ص۱۸۸نمبر۱۹۱۳۴) په دې اَثَرکي دئ چي کُوم سَامَان د نَر لاَئِق وي هغه دنَر دئ او کُوم چي دښځي لاَئِق وي هغه دښځي دئ او چي کُوم د دواړو لاَئِق وي هغه سَامَان به هم د نَر وي .

[۲۸۰۲](۷۳) که د دواړو څخه يَو وَفَات شو او دهغه وَارِثَانُ اختلاف وکئ دهغه بَل سره نو چي کُوم د نَرَانُ او زَنَانُ قَابِل وي هغه به د پاته اِنسَانَانُ لپاره وي .

تشريح : مثلاً مړه وَفَات شو او مَينَه زُوَندَئ ده.اُوس د نَر يعني مړه وَارِثَانُ د ښځي سره د کُور په سَامَان کي اختلاف وکړئ نو چي کُوم د نَر لاَئِق دئ هغه به د نَر و وَارِثَانُ ته ملاؤ شي او کُوم سَامَان چي دښځي لاَئِق دئ هغه سَامَان به وښځه ته ملاؤ شي او کُوم چي د دواړو لاَئِق دئ او ګواه يا قَرِينَه رَاجِحَه هم نشته نو هغه به وښځه ته ملاؤيږي .

وجه : (۱) کُوم چي مَړ شو دهغه قبضه ختم شوه دده دښځي بَل څوک مُعَارِض نَه شو پاته.هغه شِيَان ټوله دمَينې په قَبضه کي راغلل نوځکه هغه به و ښځه ته ملاؤيږي (۲) په اَثَر کي دئ. عَن حَمّادٍ اَنّهُ سُئِلَ عَن مَتَاعِ البَيتِ فَقَالَ ثِيَابُ المَرأةِ لِلمَرأةِ وَثِيَابُ الرّجُلُ لِلرّجُلِ وَمَا تَشَاجَرَا فَلَم يَكُن لِهٰذَا وَلاَ لِهٰذَا وَهُوَ لِلّذِي فِي يَدِهِ

حاشيه : (الف) حضرت حکم وفرمايل که سړئ مَړ شو او دکُور سَامَان يې پرېښوئ نوچي کُوم سَامَان د نَر وي هغه به دښځي لپاره نَه وي.او کُوم چي دښځي لپاره وي هغه به دنَر نَه وي.او کُوم چي دنَر او ښځي دواړو لپاره وي نو هغه به دنَر لپاره وي مګر که چيري ښځي بَيّنَه قائم کړه چي هغه ددې دئ .

[۲۸۰۳](۷۴) وَ قَالَ اَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي يُدفَعُ اِلٰي المَرأةِ مَا يُجهَزُ بِهِ مِثلُهَا وَالبَاقِي لِلزّوجِ .

(الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۲۲۶ في الرّجل يطلق اويموت وفي منزله متاع ج۴ص۱۸۸نمبر۱۹۱۳۱) په دې اَثَرکي دئ چي کُوم شَئ د کُوم چا په قبضه کي وي هغه شَئ دهغه دئ.او چي مړه مَړ شو نو هغه شِيَان دمَينې په قبضه کي دي نوځکه هغه به دمَينې وي .

[۲۸۰۳](۷۴) او امام ابويوسف(ره) وفرمايل چي ومَينَه ته به دَاوَل شِيَان ورکول کيږي کُوم چي په وَادَه کي ورکول کيږي او دا پاته به دمړه وي .

تشريح : دئ فرمايي چي عَلاَمَتِ رَاجِحَه دادئ چي د وَادَه سَامَان به دې د پُلاَر دکُور څخه رَاوَړئ وي او دښځي به وي نوځکه هغه شِيَان کُوم چي په وَادَه کي ورکول کيږي هغه شِيَان دي ټوله وښځه ته ورکړي او کُومِي کيږي چي دښځي لاَئِق او مناسب دي هغه دي هم ورکړي.او کُوم سَامَان چي پر هغه باندي ګواه او قرينه نَه وي هغه به د مړه وي که خَه هم مړه مَړ وي (وَفَات شوئ وي) .

وجه : (۱) د مړه مَکَان دئ نوښکاره خبره دغه ده چي سَامَان به هم دده وي (۲) مخته اَثَر تړشوئ دئ. عَنِ الحَكَمِ قَالَ اِذَا مَاتَ الرّجُلُ وَتَرَكَ مَتَاعًا مِن مَتَاعِ البَيتِ فَمَا

كَانَ لِلرّجُلِ فَلاَ يَكُونُ لِلمَرأةِ وَمَا يَكُونُ لِلمَرأةِ لاَيَكُونُ لِلرّجُلِ هُوَ لِلمَرأةِ وَمَا يَكُونُ لِلرّجَالِ وَالنِّسَاءِ فَهُوَ لِلرّجُلِ اِلاّ اَن تُقِيمَ المَرأةُ البَيّنَةَ اَنّهُ لَهَا (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ٢٤٦ في الرّجل يطلق او يموت وفي منزله متاع ج٤ص١٨٨نمبر١٩١٣٤) په دې اَثَرکي دئ چي بَقِيّه(پاته)سَامَان به د مېړه يا دهغه د وَرِثَانُ لپاره وي .

حاشيه : (الف) دحضرت حمّاد څخه د کُور د سامان په اړه پوښتنه وکړه.وفرمايل دښځي کېړه دښځي لپاره ده او د نَر کېړه د نَر لپاره ده او په کُوم کي چي دواړه اِختِلاَف وکي هغه نَه د هغه لپاره ده نَه د هغې لپاره ده.هغه چي د کُوم چا په قبضه کي ده دهغه ده (ب) حضرت حکم وفرمايل که سړئ مَړ شو او دکُور سَامَان يي پرېښوئ نوچي کُوم سَامَان د نَر وي هغه به دښځي لپاره نَه وي.او کُوم چي دښځي لپاره وي هغه به دنَر نَه وي.او کُوم چي دنَر او ښځي دواړو لپاره وي نو هغه به دنَر لپاره وي مګر که چيري ښځي بَيّنَه قائم کړه چي هغه ددې دئ .

[٢٨٠٤](٧٥) وَ اِذَا بَاعَ الرّجُلُ جَارِيَةً فَجَائَت بِوَلَدٍ فَادّعَاهُ البَائِعُ فَاِن جَائَت بِهِ لاَقَلّ مِن سِتّةِ اَشهُرٍ مِن يَومٍ بَاعَهَا فَهُوَ اِبنُ البَائِعِ وَاُمّهُ اُمّ وَلَدٍ لَهُ وَيُفسَخُ البَيعُ وَيُرَدّ الثّمَنُ .

[٢٨٠٤](٧٥) که سړي مِنځه خرڅ کړه.هغې بَچئ وَزېږَاوَئ بيا بائع دهغه دَعوَه وکړه.نو که چيري د شُپَږ مياشتو څخه په کَم وخت کي رَاوَږَئ وي د ددې دخرڅېدو د وُرَځِي څخه نو هغه د بَائِع زُوئ دئ.او دده مُور به د بَائِع اُمّ وَلَدَه وي او بيع به فسخ شي او قيمت به وَاپَس کوي .

تشريح : سړي خپله مينځه خرڅه کړه.هغې مينځي د خرڅېدلو وروسته په شُپَږ مياشتي کي دَنَنَه بَچئ وَزېږَاوَئ.اُوس بائع دعوه وکړه چي دا بَچئ زُومَا دئ نو دا بَچئ به دبَائِع وي او دبَچِي مُور به دبَائِع اُمّ وَلَدَه شي او چي کُومَه بيع کړې وه هغه به ختم شي او بائع به ومُشتَرِي ته ثَمَن وَاپَس کوي .

وجه : بَچئ لَږ تر لَږ شُپَږ مياشتي دمُور په نَس کي پاته کېدلائي شي.ځکه چي د حَمَل لَږ تر لَږ مُدّت هم دغه شُپَږ مياشتي دئ.اُوس چي په شُپَږ مياشتي کې دَنَنَه بچئ وزېږاوئ نو ددې مطلب دادئ چي کُوم وخت بائع خرڅه کړه هغه وخت د مينځي په نَس کي بَچئ موجود وُ.او وروسته دهغه دَعوَه هم کوي چي دغه بَچئ زُومَا دئ.او چي بَچئ دده شو نو دبَچِي مُور به دده اُمّ وَلَدَه شي او اُمّ وَلَدَه خرڅول جواز نَه لري نوځکه بيع به فسخ شي او قيمت به وَاپَس وركوي.لَږ تر لَږمُدّتِ حَمل شُپَږ مياشتي دئ دهغه دليل دا اَثَر دئ. اَنّ عُمَرَ اُتِيَ بِامرَاَةٍ قَد وَلَدَت لِستّةِ اَشهُرٍ فَهَمّ بِرَجمِهَا فَبَلَغَ ذَالِکَ عَلِيًّا فَقَالَ لَيسَ عَلَيهَا رَجمٌ فَبَلَغَ ذَالِکَ عُمَرَ فَاَرسَلَ اِلَيهِ فَسأَلَهُ فَقَالَ وَالوَالِدَاتُ يُرضِعنَ اَولاَدَهُنّ حَولَينِ كَامِلَينِ لِمَن اَرَادَ اَن يُتِمّ الرّضَاعَةَ (آيت ٢٣٣سورة البقرة ٢) وَحَملُهُ وَفِصَالُهُ ثَلاَثُونَ شَهراً (آيت١٥سورة الاحقاف ٤٦) فَستّةُ اَشهُرٍ حَملُهُ حَولَينِ تَمَامٌ لاَحَدّ عَلَيهَا اَو قَالَ لاَرَجمَ عَلَيهَا قَالَ فَخَلّي عَنهَا ثُمّ وَلَدَت

[٢٨٠٥](٧٦) وَاِن اِدّعَاهُ المُشتَرِي مَعَ دَعوَةِالبَائِعِ اَوبَعدَهَا فَدَعوَةُ البَائِعِ اَولْي [٢٨٠٦](٧٧) وَاِن جَائَت بِهِ لاَكثَرَ مِن سِتّةِ اَشهُرٍ وَ لاَقَلّ مِن سَنَتَينِ لَم تُقبَل دَعوَةُ البَائِعِ فِيهِ اِلاّ اَن يُصَدّقَهُ المُشتَرِي

(الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في اَقَلّ الحَملِ ج٧ص٧٢٧نمبر١٥٥٤٨) ددې اَتَرخخه معلوم شوچي دحَمَل لَږ تر لَږ مُدَه شُپَږ مياشتي ده .
فائده : امامِ شافعي (ﷺ) فرمايي چي د بائع دَعوَه اِعتِبَار نَه لري ځکه چي خرڅول ددې خبري اِعتِرَاف دئ چي د خَرڅولو پر مَحَال ددې مينځي په نَس کي زُومَا څخه حَمَل نشته.نوځکه اُوس دَعوَه کول چي دا زُومَا حَمَل دئ بې معنْي خبره ده .
[٢٨٠٥](٧٦) که مُشتَرِي د بَچِي دَعوَه وکړه د بائع د دَعوې پر وخت يا د بائع د دَعوې وروسته نو د بائع دَعوَه اَولْي ده .
وجه : دبائع د دَعوې وروسته يادَعوې پر وخت مُشتَرِي هم دَعوَه وکړه چي دابَچَئ زُومَا دئ.بيابه هم د بائع و دَعوَه ته ترجيح ورکول کيږي.ځکه چي کُوم وخت حَمَل قَرَار ونيوئ دهغه وخت څخه دبائع دَعوَه مَنسُوب ده اودمُشتَرِي دَعوَه به درَانِيوُلُووروسته شَمَاروي ځکه چي هغه د رَانِيوُلُو وروسته د مينځي سره جِمَاع کولائي شي او دَلتَه په شُپَږ مياشتي کي دَنَنَه بَچَئ زېږولئ دئ نو اَندَازَه داده چي دشِرَاءمخکي حَمَل قرار نيولئ دئ لِهْذَا غَالِب گُمَان دغه دئ چي دا دبائع عُلُوق دئ لِهْذَا دده و دَعوَه ته به ترجيح ورکول کيږي .
[٢٨٠٦](٧٧) او که د شُپَږ مياشتو څخه په زِيَات او د دُوُ کَالُ څخه په کَم وخت کي بَچَئ وَزېږَاوئ نو د بائع دَعوَه به نَه قبليږي مګر که مُشتَرِي دهغه تَصدِيق وکړي .

حاشيه : (الف) حضرت عمر ته يوه ښځه رَاحَاضِرَه کړه چي هغې د وَادَه وروسته په شُپَږ مياشتي کي بَچَئ زېږولئ وُ.نو دهغي د رَجَم کولوارَادَه يي وکړه.دا خبروحضرت علي ته ورسېدئ هغه وفرمايل پردې رَجَم نشته.دحضرت علي دغه خبره و حضرت عمر ته ورسېده نو هغه يې رَاوَبَالَئ اوپُوښتنَه ځيني وکړهحضرت علي وفرمايل وَالِدَه دي خپل اَولاَد ته مُکَمّل دُوَه کاله شِيدي ورکوي څوک چي د رَضَاعَت مُدّت پوره کول غُوَارِي (آيت ٢٣٣سورة البقرة٢) او دحَمَل او دشِيدُو د ورکولو مَجمُوعِي مُدَه دېرش(٣٠)مياشتي ده(آيت٥سورة الاحقاف) نو شُپَږ مياشتي حَمَل شو او دُوَه کالَ د رَضَاعَت مُدَه شوه .لِهْذَا پر ښځه حَد نشته يايي وفرمايل رَجَم نشته.فرمايي چي هغه يې پرېښوه .

[٢٨٠٧](٧٨) وَاِن مَاتَ الوَلَدُ فَادّعَاهُ البَائِعُ وَقَد جَائَت بِهِ لاَقَلّ مِن سِتّةِ اَشهُرٍ لَم يَثبُتِ النّسَبُ فِي الوَلَدِ وَلاَ الاِستِيلاَدُ فِي الاُمِّ .

تشريح : د رَانِيوُلُو څخه شُپَږ مياشتي بَعد(وروسته)او د دُوُ کالُ څخه قَبل(مخکي مخکي)مينځي بَچَئ وزېږاوئ.اُوس دَعوَه کوي چي دا بَچَئ زُومَا دئ نو دبائع خبره به نَه مَنَل کيږي.البته که مُشتَرِي ددې تَصدِيق وکړي چي واقعةً بچَئ د بائع دئ نو بيا به د بائع خبره مَنَل کيږي او دبَچِي نَسَب به دبائع څخه ثَابِت شي .
وجه : چي د شُپَږ مياشتو وروسته پَيدَا شو نو ضروري نَه دئ چي دا بَچَئ دي د بائع د عُلُوق څخه پَيدَا شوئ وي.کېدلائي شي د رَانِيوُلُو وروسته دي مُشتَرِي ددې مينځي

سره وَطِي کړي وي او دهغه څخه بَچۍ پيدا شوئ وي.نو ځکه دا يقيني نَه ده چي دا بَچۍ دي د بائع وي.البته که مُشتَرِي ددې خَبَرِي تصديق وکړي چي دا بَچۍ د بائع دئ نو بيابه بَچۍ دبائع شمېرل کيږي.ځکه چي دمُشتَرِي د تصديق وروسته بَل مُعَارِض نَه شو پاته .

[۲۸۰۷](۷۸) او که بَچۍ مَړ شو بيا بائع دهغه بَچي دَعوَه وکړه حالانکه د شُپَږ مياشتو څخه په کَم وخت کي بَچۍ پيدا شوئ وُ خو بيا هم په بَچي کي نَسَب نَه ثابتيږي او نَه په مُور کي اُمِّ وَلَد ثابتيږي .

تشريح : د بَچي په ژُوَندِي کي بائع ددې دَعوَه وَنَه کړه چي دا زُومَا اَولاَد دئ.چي بَچۍ مَړ شودهغه وروسته ده دَعوَه وکړه چي دا بَچۍ زُومَا دئ نو د بائع څخه د بَچي نَسَب نَه ثابتيږي او نَه ددې بَچي مُور دده اُمِّ وَلَدَه ګرزي .

وجه : د بَچي نَسَب ثابتول يوه مجبوري ده ځکه چي که دهيڅ يوه چا څخه دبَچي نَسَب ثابت نَه شي نو بياخو به بَچۍ حَرَامِي وي او دا جائز نَه دئ لِهْذَا چي کُوم وخت بائع ددې دَعوَه وکړه چي دا زُومَا بَچۍ دئ سَم دَستِي به دبائع څخه نَسَب ثابت شي.اوچي بَچۍ دده شو نو مُور به په خپله په هغه دَم ګړي اُمِّ وَلَدَه شي.لېکن چي

[۲۸۰۸](۷۹) وَ اِن مَاتَ الأُمّ فَادّعَاهُ البَائِعُ وَقَد جَائَت بِهِ لاَقَلّ مِن سِتّةِ اَشهُرٍ يَثبُتُ النّسَبُ مِنهُ فِي الوَلَدِ وَ اَخَذَهُ البَائِعُ وَ يُرَدّ الثّمَنَ كُلّهُ فِي قَولِ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي وَقَالاَ يُرَدّ حِصّةَ الوَلَدِ وَلاَيُرَدّ حِصّةَ الأُمِّ .

بَچۍ مَړ شونو بيا د بَچي د نَسَب د ثابتولو کُوم خاص ضرورت نَه شو پاته.او چي دبَچي نَسَب ثابت نَه شو نو دده مُور هم اُمِّ وَلَدَه نَه ګرزي او د بَيعِ دختم کولو ضرورت هم نشته.ځکه چي بَيعَ يوخَاص او مُهِم عَقد دئ چي د ډيري مجبورئ بغيره نَه شي ختم کېدلائي.نوځکه د بائع د دَعوې کولو باوجود نَه د بَچي نَسَب ثابتيږي اونَه يې مُور اُمِّ وَلَدَه ګرزي او نَه بَيعَ ختميږي .

[۲۸۰۸](۷۹) که مُورمړه شوه بيابائع دَعوَه وکړه اوبَچۍ يې د شُپَږ مياشتو څخه په کَم وخت کي زېږَوَلَئ وُ نو نَسَب به ثابت شي د بائع څخه په بَچي کي او بائع به هغه اَخلِي او ومُشتَرِي ته به پُورَه قيمت وَاپَس ورکوي د امام ابوحنيفه (ر) په قول کي.او صاحبين (ر) فرمايي چي دبَچي حِصّه به وَاپَس کوي او دمُورحِصّه به نَه وَاپَس کوي .

تشريح : بَچۍ ژُوَندَئ وُ البته مُور يې وَفَات شوه.دهغه وروسته بائع دَعوَه وکړه چي دا بَچۍ زُومَا دئ. او دخرڅولو د وَخت څخه په شُپَږ مياشتي کي دَنَنَه دغه بَچۍ زېږولئ وُ.په دې صورت کي بَچۍ ژُوَندَئ دئ او دهغه نَسَب ثابتول ضروري دئ نوځکه نَسَب خو به د بائع څخه ثابت شي او بَچۍ به دبائع شي نوځکه بائع به دمُشتَرِي څخه بَچۍ ببرته وَاپَس اَخلِي او مُور به اُمِّ وَلَدَه شي او بيعَ به ختم شي.او بائع

چي څومره قيمت دمُشتَرِي څخه وصول کړئ دئ د امام ابوحنيفه په نېز هغه ټوله قيمت دي و مُشتَرِي ته بېرته وَاپَس کړي .
وجه : چي بَچِئ د بائع شو او مُور يې اُمِّ وَلَدَه شوه نو د شروع څخه بَيعَ نَه وه صحيح شوې نو ځکه دمُشتَرِي سره چي کُومَه اُمِّ وَلَدَه وه هغه اَمَانَةً وه هغه مَړَه شوه نو دهغې هيڅ قيمت نَه لازميږي نوځکه بائع دي پُورَه قيمت ومُشتَرِي ته وَاپَس ورکړي .
اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي اُمِّ وَلَدَه خرڅول جواز نَه لري نوځکه که چيري خرڅه هم کړه نو اُمِّ وَلَدَه به دمُشتَرِي سره د اَمَانَت په حَيث وي او دهَلاَکَت په صورت کي قيمت بِالکُل نَه کميږي .
فائده : صاحبين () فرمايي چي بائع دي صِرف دبَچِي حِصّه ومُشتَرِي ته وَاپَس کړي او بَچِئ دي ببرته ځيني واخلي.د مُور حِصّه دي ومُشتَرِي ته نَه وَاپَس کوي .
وجه : دئ فرمايي چي مُوريې په هرصورت مخکي خرڅه شوې وه او دمينځيتُوب په حالت کي خرڅه شوې وه.وروسته دا ښکاره شو چي دا اُمِّ وَلَدَه شوې ده نوځکه دَاوَل اُمِّ وَلَد اَمَانَةً د مُشتَرِي سره نَه شي پاته کېدلائي بلکه ضَمَانَةً به وي. يعني که چيري دا هَلاَک شوه نو دمُشتَرِي دا به هَلاَک شي.لِهْذَا چي دمُشتَرِي سره هَلاَک شوه نوچي څومره قيمت ددې په حِصّه کي راغلئ وُ هغه به دبائع څخه سَاقِط شي او بائع به هغه نَه وَاپَس کوي.بائع به صرف د بَچِي حِصّه ومُشتَرِي ته وَاپَس کوي .
اصول : دا مسئله پر اُصُول متفرّع ده چي دا اُمِّ وَلَد دمُشتَرِي سره د ضَمَانَت په حَيث ده د اَمَانَت په حَيث نَه ده .
[۲۸۰۹](۸۰) يَوچَا د غَبَرگُولِي بچانُ څخه د يوه د نَسَب دَعوَه وکړه نو د دواړو نَسَب به دده څخه ثابت شي .
تشريح : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي يَوَه بچي د مُور په رحم کي عُلُوق کړئ وي نو په شُپَږ مياشتي کي دَنَنَه دبَل دُويَم بَچِي حَمَل دبَل سړي د نُطفې څخه نَه شي کېدلائي.د يَوَه حمل دُوَه بچان به د يَوې نُطفې څخه وي.چي صُورَتِ حَال دادئ نوچي د يوې ښځي غَبَرگُولِي بچان پيدا شو ددې څخه د يوه بَچِي په اړه يَو سړئ دا دَعوَه کوي چي دا بَچِئ زُومَا دئ او ددغه بَچِي نَسَب هم دده څخه ثابت شو نو د دې دُويَم بَچِي نَسَب به هم په خپله ددغه پُلاَر څخه ثابت شي .
وجه : ځکه چي دگُوم چادنُطفې څخه چي بَچِئ پيدا شوئ دئ دهغه دنُطفې څخه دُويَم بچئ هم پيدا شوئ دئ.ځکه چي په غَبَرگُولِي کي د بَل چا نُطفَه نَه شي کېدلائي.لِهْذَا د دُويَم بَچِي نَسَب به هم ددغه پُلاَر څخه ثابت شي .
لغت : تَوأمّ : غَبَرگُولَئ بَچِئ .

B

اَبُوالحُسَين قُطب عفي عنه وعن والديه

﴿... كِتَابُ الشّهَادَات ...﴾

﴿... كِتَابُ الشّهَادَات ...﴾

ضروري پام لرنه : شَهَادَاتٌ د شَهَادَةٌ جمع ده.ګواهي وركول.ثبوت يې په دې آيتو كي دئ . وَاستَشهِدُوا شَهِيدَينِ مِن رِّجَالِكُم فَإِن لَم يَكُونَا رَجُلَينِ فَرَجُلٌ وَ اِمرَأتَانِ مِمّن تَرضَونَ مِنَ الشّهَدَاءِ اَن تَضِلّ اِحدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ اِحدَاهُمَا الأُخرْي (الف) (آيت٢٨٢سورة البقرة٢) په يوه بَل آيت كي دئ. لَولاَ جَاءُوا عَلَيهِ بِاَربَعَةِ شُهَدَاءَ فَاِذ لَم يَأ تُوا بِالشّهَدَاءِ فَاُلْئِکَ عِندَاللهِ هُمُ الكَاذِبُونَ (ب) (آيت١٣سورة النّور٢٤) او په بَل دَرَيَم آيت كي دئ. وَ اشهِدُوا ذَوَي عَدلٍ مّنكُم وَ اَقِيمُوا الشّهَادَةَ لِلّهِ ذَالِكُم يُوعَظُ بِهِ (ج) (آيت٢ سورة الطلاق٦٥) ددې آيتو څخه شَهَادَت ثابت شو .

د شَهَادَت شُپَږ قسمونه دي

(١) اَوّل د زِنَا ګواهي.دا تر ټولو اَعلْي ګواهي ده.ددې لپاره دځلورو نَرَانُ ګواهي شرط ده.ددې په ثابتولو كي دښځي ګواهي نَه چليږي.او ټول به عَادِلاَن وي .

(٢) دُويَم قِسم دنُورو حدود او قِصَاص ګواهي ده.ددې د ثابتولو لپاره دُوَه عَادِل نَرَان ضروري دي.په دي كي هم دښځو ګواهي نَه چليږي .

(۳) دریم د معاملاتُ ګواهي ده.ددې د اِثبَات لپاره باید دُوَه عَادِل نَرَان وي یا یَوعَادِل نَر او دُوې عَادِلِ ښځي.ددې د اِثبَات لپاره دښځي ګواهي هم قبوله ده اَلْبَتّه یَوَاځَي دښځو ګواهي نَه قبلیږي .
(۴) څلورم قِسم شَطرُ الشّهَادَة دئ.یعني یَوعَادِل نَر یا دُوَه مَستُورُالحَال نَرَان وي هغه هم قَابِلِ قبول دي.په ګواهي ورکولو کي اَصل دُوَه اجزاء دي.نمبر۱ عَادِل به وي او

حاشیه : (الف) ستاسو د دُوُ نرانو ګواهي واخلئ.که چیرې دوه نَرَان نَه وي نو یَو نَر او دوې ښځي چې تاسو په رَاضِي یاست د ګواهانُ څخه.دا ځکه چې که د یوه هیر شي نو یَو بَل ته دې وَرپه یَاد کړي (ب) وَلي پر هغه باندې څلور ګواهان نَه رَاوَستَل؟ که چیرې ګواهان نَه رَاوَستَل نو دُوئي د الله په نېز دُرُوغجَن دي (ج) ستاسو څخه د دُوُ عَادِلاَنُ ګواهي واخلئ او د الله لپاره ګواهي قائم کړئ.تاسو ته د دغه نصیحت کیږي .

[۲۸۱۰](۱) اَلشّهَادَةُ فَرضٌ تَلزِمُ الشّهُودَ وَلاَیَسَعُهُم کِتمَانُهَا اِذَا طَالَبَهُم المُدّعِي .

نمبر۲ نَر به وي.ودغه ته شَطر وایي.نوځکه چې یَوعَادِل وي یا دُوَه مَستُورُالحَالَ وي هغه هم کِفَایَت کوي. دا صورت په حقیقت کي ګواهي نَه ده بلکه خَبَر دئ.په دغه وجه دا دمعاملاتُ اود عَقد د اِثبَات لپاره کِفَایَت نَه کوي.لکه دا خَبَر وَرکول چې فُلاَنِي تَه دفُلاَنَئ معاملې لپاره وَکِیل جوړ کړئ یې.یایې وَکِیل مَعزُول کړئ.په دي کي د یَوَه عَادِل یا د دُوُ مَستُورُ الحَال اِنسَانَانُ خَبَر کَافِي دئ .
(۵) پنځم قِسم د خَبَر دئ.په دي کي دکِشنِي او مینځي خَبَر هم کِفَایَت کوي. مثلاً کِشنِي بَچَئ خپل اُستَاد لره ډوډَئ راوړي او دا خَبَر یې ورکړي چې دا زُومَا مُور ستا لپاره هَدیَه رَا اَستَوَلي ده نو اُستَاد ته د دَغَه ډوډَئ خوړل جائز دئ.یا مینځه خَبَر ورکړي چې زُومَا آقَا(مَولْي) ستا لپاره هَدیَه رَا اَستَوَلي ده.نو د کُوم چا لپاره چې هَدیَه رَا اَستَوَلي ده هغه ته جواز شته چې دغه وَخُورِي.نو په دغه لَږ ډېر شِي کي دمینځي او د کِشنِي بَچِي خَبَر ورکول هم قَابِلِ قبول دئ .
(۶) شُپَږَم قِسم چې په کُوم ځائ کي نَر نَه شي مُطّلِع کېدلائي.لکه وِلاَدَت او دغه رنګه نُور ځایونه. هَلتَه صرف دښځي ګواهي قبوله ده.ځکه چې مجبوري ده .
[۲۸۱۰](۱) ګواهي ورکول فرض ده.پر ګواهانُ لازم ده.د پټولو ګنجائش یې نشته که مُدّعِي د دُوئي څخه ددې مطالبه وکړي .
تشریح : ددې ګواهانُ څخه علاوه بَل ګواه نشته او مُدّعِي د ګواهانُ څخه د ګواهي ورکولو مطالبه کوي نو پر دې ګواهانُ باندې ګواهي ورکول فرض ده.په عَام حالاتُ کي د ګواهئ د پټولو اِجَازَت نشته .
وجه : (۱) بَل ګواه نشته.نو که چیرې دئ هم ګواهي وَرنَه کړي نو دمُدّعِي حَق به ضائع شي.نوځکه ده ته دخپل حَق د رسولو لپاره ګواهي ورکول فرض ده (۲) په

[۲۸۱۱](۲) وَالشّهَادَةُ فِي الحُدُودِ يُخَيّرُ فِيهَا الشّاهِدُ بَينَ السِّترِ وَالإِظهَارِ وَالسِّترُ اَفضَلُ .

آیت کي ددې تَرغِیب راغلئ دئ. وَلاَ يَأبَ الشّهَدَاءُ اِذَا مَا دُعُوا (آیت۲۸۲سورة البقرة۲) وَلاَتَكتُمُوا الشّهَادَةَ وَمَن يَكتُمهَا فَاِنّهُ آثِمٌ قَلبُهُ (الف) (آیت۲۸۳سورة البقرة۲) په دې دواړو آیتو کي دئ چې مُدّعِي يې رَاوَغُوَارِي(طلب يې کړي)نو ګواه بايد دګواهي ورکولو څخه ډډه(اِنکَار)وَنَه کړي.او دا هم دئ چې ګواهي دي نَه پټوي.که ګواهي پټَه کړه ګناه ګار دئ.په حديث کې ترغيب راغلئ دئ. عَن زَيدِبنِ خَالِدِ الجُهَنِيّ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ اَلاَ اُخبِرُكُم بِخَيرِ الشّهَدَاءِ؟ اَلّذِي يَأتِي بِشَهَادَتِهِ قَبلَ اَن يَسأَ لَهَا (ب) (مسلم شريف.باب بيان خيرالشهود ج۲ص۷۷نمبر۱۷۱۹/ابوداؤدشريف.باب في الشهادة ج۲ ص۱۵۰نمبر۳۵۹۶) .

پام لرنه : دا صورتِ حال په معاملاتُ کي دئ.البته په حدود او قصاص کي د ګواهئ ورکولو او ګواهئ پَتَوُلُو اختيار ورته حاصل دئ .

[۲۸۱۱](۲) او د حدود په ګواهئ کي و ګواه ته اِختِيَار دئ دپټولو او ښکاره کولو تر مينځ.او پټول يې بِهتَر دئ .

تشريح : چې په حُدُود کي ګواهي ورکړي نو د اِنسَان ځان(نفس)دمَنخَه(بَين) ځي يا يَو اَندَام يې د مَنخَه(بَين)ځي نوځکه ددې د رِعَايَت په وجه و ګواه ته دواړه اِختِيَارَات حاصل دي.که خُوښَه شي ګواهي دي پټَه کړي او که خُوښَه شي ګواهي دي ورکړي.لېکن ګواهي پَتَوَل ډېر ښَه کار دئ .

وجه : (۱) چې د اِنسَان نَفس ضائع نَه شي (۲) په حديث کي و دې ته اِشَارَه شوې ده.حضرت مَاعِز چې د رَجَم ډَبَرِي وخوړلې نو مَنډَه کړه نو حضور (ﷺ) و حضرت عبدالله بن اَنَس ته وفرمايل چې کُوم وخت ده مَنډَه کړه نو تاسو وَلِي نَه پرېښوئ؟

حاشيه : (الف) چې ګواهان رَاوَبَلَل شي نو هغه دي اِنکَار نَه کوي. (په بَل آيت کي دئ) ګواهي مَه پَتَوئ او کُوم څوک چې ګواهي پَتَوي دهغه زَړَه ګناه ګار دئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل تاسو تَه بِهتَرين ګواه نَه دَروَښَايَم؟ چې د ګواهئ د غُوَښتَلُو څخه مخکې ګواهي ورکړي هغه بِهتَرين ګواه دئ .

[۲۸۱۲](۳) اِلاّ اَنّهُ يَجِبُ اَن يُشهَدَ بِالمَالِ فِي السّرَقَةِ فَيَقُولَ اَخَذَ المَالَ وَلاَيَقُولَ سَرَقَ .

شايد ده توبَه کړي وائي او الله ﷻ دده توبَه قبوله کړي وائي؟. دحديث ټکړه داده حَدّثَنِي يَزِيدُ بِنِ نُعَيمِ بِنِ هَزَالٍ عَن اَبِيهِ ... ثُمّ اَتَي النّبِيّ (ﷺ) فَذَكَرَ لَهُ ذَالِکَ فَقَالَ هَلاّ تَرَكتُمُوهُ لَعَلّهُ اَن يّتُوبَ فَيَتُوبَ اللهُ عَلَيهِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب رجم ماعزبن مالک ج۲ص۲۶۰نمبر۴۴۱۹) د ابوداؤدشريف يَو بَل روايت دئ. وَقَالَ لِهَزَالٍ لَو سَتَرتَهُ بِثَوبِکَ كَانَ خَيراً لَکَ (ب) (ابوداؤدشريف.باب الستّرعلَي اهل الحدود ص۲۵۳نمبر۴۳۷۷) (۳) غَلَه چې کُوم وخت د غَلاَ اِقرَار وکئ نوحضور (ﷺ) هغه دخپلي خبري څخه د اَرَوُلُو لپاره وفرمايل. زه گُمَان نَه کوم

چي تَا به غَلاَ کړي وي چي دده لاَس نَه شي پرې.حديث دادئ. عَن اَبِي اُمَيّةَ المَخزُومِيّ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) اُتِيَ بِلِصٍّ اِعتَرَفَ اِعتِرَافًا وَلَم يُوجَد مَعَهُ مَتَاعٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مَا اَخَالُکَ سَرَقتَ؟ قَالَ بَلْي (ج) (نسائي شريف.باب تلقين السارق ص۲۷۲نمبر۴۸۸۱/ابوداؤدشريف.باب في التلقين في الحدص۲۵۴ نمبر۴۳۸۰) ددې حديث څخه معلوم شوچي که د حَد اِعتِرَاف وکړي هم هغه دده اِعتِرَاف رَدّوَل په کار دئ.معلوم شوچي ګواهي نَه ورکول بِهتَر دئ .

لغت : اَلسِّترُ : پَټَوَل .

[۲۸۱۲](۳) مګر دا چي په غَلاَ کي د مَال ګواهي ورکول واجب ده.نو ځکه دا دي وايي چي مَال يې اخستئ دئ دادي نَه وايي چي غَلاَ کړې دئ .

تشريح : په غَلاَ کي دوه حيثِيّتونَه دي.يَوخو په غَلاَ کي د لاَس د پرېکېدو حَد دئ

حاشيه : (الف) بيا هغه حضور (ﷺ) ته راغلئ او دحضرت مَاعِز دتَبتبِدو تَذکِرَه يي وکړه نو حضور (ﷺ) وفرمايل هغه مُو وَلِي نَه پرېښوئ؟ شايد ده توبه کړې وائ او الله دده توبه قبوله کړې وائ (ب) حضور (ﷺ) وحضرت هَزَال ته وفرمايل کَاش تَا په خپله کپړه پَټ کړئ وائ نو سَتَا لپاره به بِهتَر وائ (ج) حضور (ﷺ) ته يَو غَل رَاحَاضِر کړئ.هغه د غَلاَ اِقرَار وکئ او دهغه سره سَامَان موجود نَه وُ.نو حضور (ﷺ) وفرمايل زُومَا خيال نَه دئ چي تَا غَلاَ کړې ده.هغه وويل وَلِي نَه؟ .

[۲۸۱۳](۴) وَالشّهَادَةُ عَلْي مَرَاتِبَ مِنهَا اَلشّهَادَةُ فِي الزّنَا يُعتَبَرُ فِيهَا اَربَعَةٌ مِّن الرّجَالِ وَلاَتُقبَلُ فِيهَا شَهَادَةُ النِّسَاءِ .

او دُويَم مَالِک ته د مَال د وَاپَس کولو حَق چي دحقوق العباد څخه دئ.نوځکه د دواړو رِعَايَت دي وکړي دَادِوَل ګواهي دي ورکړي چي لاَس هم پرې نَه شي او مَالِک ته هم خپل مَال وَاپَس ورسيږي.نوځکه دهغه صورت دادئ چي دَادِوَل وَينَا دي نَه کوي چي مَال يې غَلاَ کړئ دئ بلکه دَادِوَل ګواهي دي ورکړي چي د فُلاَنِي مال يې اخستئ دئ .

وجه : چي مَال و خپل مَالِک ته ملاؤشي او لاَس يې هم پرې نَه شي .

[۲۸۱۳](۴) د ګواهئ څو مَرتبې دي.دهغه څخه يوه د زِنَاء ګواهي ده.په دي کي د څلورو نَرَانُ ګواهي مُعتَبَرَه ده او نَه قبليږي په دي کي دښځي ګواهي .

تشريح : مخته تېرشوي دي چي د ګواهئ شُپَږ مرتبې يعني قِسمُونَه دي.په هغه کي اَعلْي قِسم د زِنَاء ګواهي ده چي په هغه کي د څلور عَادِل نَرَانُ ګواهي قبليږي. په دي کي دښځي ګواهي نَه قبليږي .

وجه : د څلور ګواهانُ دليل دا آيت دئ. وَالّتِي يَأتِينَ الفَاحِشَةَ مِن نِسَائِکُم فَاستَشهِدُوا عَلَيهِنّ اَربَعَةً مّنکُم فَاِن شَهِدُوا فَاَمسِکُوهُنّ فِي البُيُوتِ (الف) (آيت۱۵سورة النساء۴) په بَل آيت کي دئ. لَولاَ جَاءُوا عَلَيهِ بِاَربَعَةِ شُهَدَاءَ فَاِذ لَم يَأ تُوا بِالشّهَدَاءِ فَاُولْئِکَ عِندَ اللهِ هُمُ

الكَاذِبُونَ (ب) (آیت۱۳ سورة النور۲۴) په دې آیتو کي دئ چې د زِنَاء لپاره څلور ګواهان ضروري دي .
په حُدُود کي د ښځو ګواهي قَابِلِ قبول نَه ده دليل يې دا مُرسَل حديث دئ. عَنِ الزّهرِيّ قَالَ مَضَتِ السُنّةُ مِن رَسُولِ اللهِ (ﷺ) وَالخَلِيفَتَينِ مِن بَعدِهِ اَلاّ تَجُوزَ

حاشيه : (الف) چې ستاسو دښځو څخه يَوَه د زِنَاء اِرتِكَاب وكړي نو دخپلو څخه پر دې باندې څلور ګواهان رَاوَلَئ.چې هغه ګواهي وركړي نو په ګُورُو کي قَيد وساتئ (ب) وَلې پر هغه باندې څلور ګواهان نَه رَاوَستَل؟ که چيري هغه ګواه نَه رَاوَستَل نو دُوئي د الله په نېز دُرُوغجَن دي .

[۲۸۱۴](۵) وَمِنهَا اَلشّهَادَةُ بِبَقِيّةِ الحُدُودِ وَالقِصَاصِ تُقبَلُ فِيهَا شَهَادَةُ رَجُلَينِ وَلاَ تُقبَلُ فِيهَا شَهَادَةُ النِّسَاءِ .

شَهَادَةُ النِّسَاءِ فِي الحُدُودِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۰۹ في شهادة النساء في الحدود ج ۵ ص۵۲۸نمبر۲۸۷۰۵/مصنّف عبدالرزاق.باب هَل تجوزشهادة النساء مع الرّجَالِ في الحدود وغيره؟ ج ۸ ص۳۳۰نمبر۱۵۴۱۲/ سنن للبيهقي.باب شهادة في الطلاق والرّجعة ومافي معناهمامن النكاح والقصاص والحدود ج۱۰ص۲۵۰نمبر۲۰۵۲۸) ددې مُرسَل حديث او اَثَر څخه معلوم شوچې په حُدُودُ کي دښځو ګواهي نَه قبليږي .
[۲۸۱۴](۵) دهغه څخه بَل شهادت دئ په نورو حُدُود او قصاص کي چې په هغه کي د دُوُ نَرَانُ ګواهي قبليږي او په هغه کي دښځو ګواهي نَه قبليږي .
تشريح : په زِنَاء کي خو دڅلورو نَرَانُ ګواهي ضروري ده.دښځو ګواهي نَه قبليږي.او په نوروحدود او قصاص کي هم دښځو ګواهي نَه قبليږي.صرف د نَرَانُ ګواهي قَابِلِ قَبُولَ ده .
وجه : (۱) د حدود په اړه خو مخته مُرسَل حديث تېر شو.قصاص هم هغه دَرَجَه لري.نوځکه په قصاص کي هم دښځي ګواهي نَه قبليږي (۲) په اَثَر کي هم ددې ثبوت راغلئ دئ. اَنّ عَلِيّ بِنِ اَبِي طَالِبَ قَالَ لاَتَجُوزُ شَهَادَةُ النِّسَاءِ فِي الطّلاَقِ وَالنِّكَاحِ وَالحُدُودِ وَالدِّمَاءِ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.هل تجوزشهادة النّساء مع الرّجَالِ في الحدود وغيره؟ ج۸ص۳۲۹نمبر۱۵۴۰۵/مصنّف ابن ابي شيبة ۱۰۹ في شهادة النساء في الحدود ج۵ ص۵۲۸ نمبر۲۸۷۱۱) په دې اَثَر کي د ,,دِمَاء,, څخه قصاص مُرَاد دئ.ددې څخه معلوم شوچې په قِصَاص کي هم دښځو ګواهي نَه قبليږي (۳) په آيت کي د ښځي په اړه حُكم شوئ دئ چې يَوَه دې وهغه بَلَه ته وَرپه يَاد کړي ددې څخه معلوميږي چې په

حاشيه : (الف) حضرت زُهرِي وفرمايل چې دحضور (ﷺ) او دهغه وروسته د دُوُ خليفه ګانُ د وخت څخه دا سُنّت جاري دئ چې په حدود کي دښځو ګواهي نَه قبليږي (ب) حضرت علي وفرمايل چې په طلاق.نكاح. حدود او قصاص کي دښځو ګواهي نَه قبليږي .

[۲۸۱۵](۶) وَمَا سِوْي ذَالِکَ مِنَ الحُقُوقِ تُقبَلُ فِيهَا شَهَادَةُ رَجُلَينِ اَو رَجُلٌ وَ اِمرَأ تَينِ سَوَاءٌ کَانَ الحَقّ مَالاً اَو غَيرُ مَالٍ مِثلُ النِّکَاحِ وَالطّلاَقِ وَالوَکَالَةِ وَالوَصِيّةِ .

بنځو کي نِسيَان(هېره)پېره ده.او حدود و قصاص په شُبهَه سره ساقطيږي.په دې وجه هم په حدود او قصاص کي دښځو ګواهي نَه قبليږي .

[۲۸۱۵](۶) او چې ددې څخه عَلاَوَه کوم حقوق دي نو په هغه کي به قبليږي د دُوُ نَرَانُ ګواهي يا د يَوَه نَر او دُوُ بنځو ګواهي.که هغه حَق مَال وي که غَيرِمَال وي.مثلاً نکاح.طلاق.وَکَالَت.وَصِيّت .

تشريح : د حدود او قصاص څخه علاوه چې څومره حقوق دي که هغه حقوق مَالِي وي که غَيرِمَالِي وي په هغه ټولو کي د نَر سره دښځو ګواهي هم قَابِلِ قَبُول ده.مثلاً معاملات.بَيعَ ده.شِرَاء ده.نکاح.طلاق.وَکَالَت او وَصِيّت دئ په دې ټولو کي دښځو ګواهي هم قَابِلِ قَبُولَ ده .

وجه : (۱) په آيت کي ددې ثبوت شته. وَاستَشهِدُوا شَهِيدَينِ مِن رِّجَالِکُم فَاِن لَم يَکُونَا رَجُلَينِ فَرَجُلٌ وَ اِمرَأ تَانِ مِمّن تَرضَونَ مِنَ الشّهَدَاءِ اَن تَضِلّ اِحدَاهُمَا فَتُذَکّرَ اِحدَاهُمَا الأُخرْي (الف) (آيت۲۸۲سورة البقرة۲) په دې آيت کي دئ چې که دُوَه نَرَان نَه وي نو د يَوَه نَر او دُوُ بنځو ګواهي قَابِلِ قَبُول ده.دا آيت خو د معاملات په لَږ کي دئ نوځکه په ټولو معاملاتُ کي به دښځو ګواهي قَابِلِ قَبُول وي (۲) په اَثَرکي دئ. اَنّ عُمَرَ بنِ الخَطّابِ اَجَازَ شَهَادَةَ رَجُلٍ وَاحِدٍ مَعَ نِسَاءٍ فِي نِکَاحٍ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب هَل تجوزشهادة النِّساء نع الرّجَالِ في الحدود وغيره؟ ج۸ص۳۳۱نمبر۱۵۴۱۶/مصنّف ابن ابي شيبة ۲۹۷ في شهادة النساء في العتق والدّين والطلاق ج۴ص۵۱۷نمبر ۲۲۶۸۱/دارقطني.کتاب

حاشيه : (الف) ستاسو د دُوُ نرانو ګواهي واخلئ.که چيري دوه نَرَان نَه وي نو يَو نَر او دوې بنځي چې تاسو په رَاضِي ياست د ګواهانُ څخه.دا ځکه چې که د يوه هير شي نو يَو بَل ته دې وَرپه يَاد کړي (ب) حضرت عمر دښځو سره د يَوَه نَر ګواهي په نکاح کي جائز کړه .

[۲۸۱۶](۷) وَتُقبَلُ فِي الوِلاَدَةِ وَالبَکَارَةِ وَالعُيُوبِ بِالنِّسَاءِ فِي مَوضِعٍ لاَيَطّلِعُ عَلَيهِ الرّجَالُ شَهَادَةُ اِمرَأةٍ وَاحِدَةٍ .

الاقضية والاحکام ج۴ص۱۴۹نمبر۴۵۱۳) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي په طلاق.نکاح او دغه رنګه نورو ځايو کي هم دښځو ګواهي قَابِلِ قَبُول ده .

فائده : امامِ شافعي(ؒ) فرمايي چې په مَال او دمَال په تَوَابِعُ کي دښځو ګواهي قبوله ده.په نکاح.طلاق او دغه رنګه نور ځايو کي نَه ده قبوله .

وجه : مخته اَثَر تېرشوئ دئ. اَنّ عَلِيّ بنِ اَبِي طَالِبَ قَالَ لاَتَجُوزُ شَهَادَةُ النِّسَاءِ فِي الطّلاَقِ وَالنِّکَاحِ وَالحُدُودِ وَالدِّمَاءِ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.هل تجوزشهادة النّساء مع الرّجَالِ في

الحدود وغيره؟ ج٨ص٣٢٩نمبر١٥٤٠٥/مصنّف ابن ابي شيبة ١٠٩ في شهادة النساء في الحدود ج٥ ص٥٢٨ نمبر٢٨٧١١/سنن للبيهقي.باب الشهادة في الطلاق والرّجعة ومافي معناهمامن النكاح والقصاص والحدود ج١٠ص٢٥٠نمبر٢٠٥٢٨) ددې اَثَر څخه معلوم شوچي دښځي ګواهي په طلاق او نکاح کي هم نَه قبلیږي.نوځکه دُوئي صرف په دَين کي ګواهي ورکولائي شي .

[٢٨١٦](٧) په وِلاَدَت او بَاکِرَه والي او دښځو دهغه ځايو په عَيبُونُو کي چي پر هغه باندي نَر نَه شي مُطّلِع کېدلائي هلته به د يوې ښځي ګواهي قبلیږي .

تشريح : د بَچِي د پَيدَائِش پر وخت نَر دخپلي مَينې او مينځي څخه علاوه بَلَه ښځه نَه شي لېدلائي.دغه رنګه ښځه بَاکِرَه ده که نَه ده. هغه نَه شي کتلائي.نوځکه په کُوم ځائي کي چي نَر نَه شي کتلائي په هغه ځائي کي صِرف دښځو ګواهي هم قَابِلِ قَبُولَ ده.دغه رنګه د شرمګاه په نَارُوغِي(مَرَض)کي کُوم چي نَر يې نَه شی لېدلائي دهغه په اړه د يوې ښځي ګواهي هم کِفَايَت کوي.او پر هغه به فيصله کيږي .

وجه : (١) په حديث کي دئ چي ديوې دَايې ګواهي مَقبُولَ ده. عَن حُذَيفَةَ اَنّ

حاشيه : (الف) حضرت علي وفرمايل چي په طلاق.نکاح. حدود او قصاص کي دښځو ګواهي نَه قبلیږي .

رَسُولَ اللهِ (ﷺ) اَجَازَ شَهَادَةَ القَابِلَةِ (الف) (دارقطني.كتاب الاقضية والاحكام ج٤ص١٤٩ نمبر٤٥١١/سنن للبيهقي.باب ماجاء في عددهن(اي عددالنساء)ج١٠ص٢٥٤نمبر٢٠٥٤٢) ددې حديث څخه معلوم شوچي د دَايې ګواهي مقبول ده (٢) په حديث کي دئ چي مينځي د شِيدُو ورکولو ګواهي ورکړه نو دهغه ګواهي په وجه نکاح ختم کړه. حَدّثَنِي عَقبَةُ بِنِ الحَارِثِ اَو سَمِعتُهُ مِنهُ اَنّهُ تَزَوّجَ اُمّ يَحْيي بِنتِ اَبِي اَهَابٍ قَالَ فَجَائَت اَمَةٌ سَودَاءُ فَقَالَت قَد اَرضَعتُكُمَا فَذَكَرتُ ذَالِکَ لِلنّبِيّ (ﷺ) فَاَعرَضَ عَنّي قَالَ فَتَنَحّيتُ فَذَكَرتُ ذَالِکَ لَهُ قَالَ وَكَيفَ وَقَد زَعَمَت اَنّهَا اَرضَعتُكُمَا؟ فَنَهَاهُ عَنهَا (ب) (بخاري شريف.باب شهادة الإمَاء والعبيدص٣٦٣نمبر٢٦٥٩/ابوداؤدشريف.باب الشهادة علَي الرّضَاع ج٢ص١٥١نمبر٣٦٠٣) په دې حديث کې صِرف د يوې مينځي په ګواهي سره د نکاح د ختم کېدو حُکم کړئ دئ ځکه چي د شيدو او تِي پر ورکول باندي چي نَر نَه شي مُطّلِع کېدلائي نو هَلتَه د يوې ښځي ګواهي قَابِلِ قَبُولَ ده (٣) په اَثَر کي دئ. عَنِ الشّعَبِيّ قَالُوا تَجُوزُ شَهَادَةُ اِمرَأَةٍ وَاحِدَةٍ فِيمَا لاَ يَطّلِعُ عَلَيهِ الرّجَالُ (ج) (مصنّف ابن ابي شيبة ٨٢ ماتجوز فيه الشهادة النساء ج٤ص٣٣٥نمبر٢٠٧٠٥/مصنّف عبدالرزاق.باب شهادة المرأة في الرضاع والنِّفَاس ج٨ص٣٣٣نمبر١٥٤٢٣) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي په کوم ځائي کي چي نَر نَه شي مُطّلِع کېدلائي هَلتَه صرف د يوې ښځي ګواهي قَابِلِ قَبُولَ ده .

فائده : امامِ شافعي() فرمايي چي په دې معاملاتُ کي هم د څلورو ښځوګواهي ضرروي ده .

وجه : (١) په معاملاتُ کي د دُوُ نَرَانُ ګواهي ضروري ده.او په ګواهي کي د يَوَه نَر

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) د دَاپي و گواهي ته اِجَازَت ورکړئ يعني هغه يې قبوله کړه (ب) دعُقبَه بن حارث څخه اَورېدَل شوي دي چې هغه د اُمِّ يَحْيٰ بنت ابي اَهَاب سره وَادَه وکړئ.فرمايي چې يوه په رنګ ثُورَه مينځه راغله او وويل چې مَا و تاسو دواړو ته شَهِيدِي درکړي دي.مَا و حضور (ﷺ) ته ددې تَذکِرَه وکړه نوحضور (ﷺ) زُومَا څخه اِعرَاض وکړئ.زَه هغه بَل اَرَخ ته ورغلم بيامي ددې تَذکِرَه ورته وکړه نوحضور(ﷺ) وفرمايل څَه رنګه به وي؟ هغه مينځه گُمَان کوي چې تاسو دواړو ته شهيدي درکړي دي؟ بيا حضور(ﷺ) دهغه ښځي څخه منع گړئ (ج) دحضرت شعبي() څخه ورايت دئ چې خلګ فرمايي چې ديوې ښځي گواهي په هغه ځائ کي قبول ده چيري چې نَر نَه شي مُطّلِع کېدلائي .

[۲۸۱۷](۸) وَلاَبُدّ فِي ذَالِکَ کُلِّهِ مِنَ العَدَالَةِ وَلَفظِ الشّهَادَةِ فَاِن لَم يَذکُرِ الشّاهِدُ لَفظَةَ الشّهَادَةِ وَقَالَ اَعلَمُ اَو اَتَيَقّنُ لَم تُقبَل شَهَادَتُهُ .

لپاره دُوې ښځي وي نوځکه چې د دُوُ نَرَانُ لپاره څلور ښځي وي نو بيايي گواهي قَابِلِ قَبُولَ ده (۲) په اَثَر کي ددې ثبوت شته. عَن عَطَاءَ بنِ اَبِي رَبَاحٍ قَالَ لاَيَجُوزُ اِلاّ اَربَعُ نِسوَةٍ فِي الإستِهلاَلِ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في عَدَدِهِنّ ج۱۰ص۲۵۴ نمبر۲۰۵۴۱/مصنّف عبدالرزاق.باب شهادة المرأة في الرضاع والنِّفَاس ج۸ص۳۳۲نمبر۱۵۴۲۱/مصنّف ابن ابي شيبة ۸۲ ماتجوز فيه شهادة النساء ج۴ص۳۳۵نمبر۲۰۷۰۶) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي په وِلاَدَت او دغه رنګه نورو ځايُو کي هم د څلورو ښځو گواهي ضروري ده .

[۲۸۱۷](۸) او ضروري دئ په دې ټولو کي عَدَل او د شَهَادَت لفظ.که چيري گواه د شَهَادَت لفظ ذِکر نَه کړئ او وويل چې مَاتَه معلوم دئ يا زُومَا يقين دئ نو دده گواهي به نَه قبلوي .

تشريح : د گواهي ورکولو لپاره دُوې خبري ضرروي دي. يَوَه دا چې گواه عَادِل وي او دُويَمَه خبره دا چې د گواهئ ورکولو پر وخت د اَشهَدُ لفظ ووايي.که چيري د اَشهَدُ پر ځائ داسي ووايي چې مَاتَه معلوم دئ يا زُومَا يقين دئ نو دده گواهي به نَه قلبيږي .

وجه : (۱) په آيت کي تاکيد شوئ دئ چې گواه به عَادِل وي.آيت دادئ. وَ اَشهِدُوا ذَوَي عَدلٍ مِّنکُم وَ اَقِيمُوا الشّهَادَةَ لِلّهِ ذَالِکُم يُوعَظُ بِهِ (ب) (آيت ۲سورة الطلاق۶۵) په بَل آيت کي دئ. يَا اَيّهَا الّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَينِکُم اِذَا حَضَرَ اَحَدَکُمُ المَوتُ حِينَ الوَصِيّة اِثنَانِ ذَوَا عَدلٍ مِّنکُم (ج) (آيت ۱۰۶سورة المائدة۵) ددې دواړو آيتوڅخه معلوم شو

حاشيه : (الف) حضرت عطاء() فرمايي چې په وِلاَدَت کي دڅلورو ښځو بغيره گواهي جواز نَه لري (ب) د تاسو څخه يعني د مسلمانانو څخه د عَادِل سړي گواهي واخلئ.او د الله لپاره گواهي قائموئ.تاسو ته د دغه نصيحت کيږي (ج) ائ مومنانو! ستاسو تر مينځ گواهي داده چې د تاسو څخه هسي يَوَه ته مَرګ راشي د وَصِيّت پر وخت دي د تاسو څخه دُوَه عَادِل کسان وي.يعني د وَصِيّت پر وخت د دُوُ عَادِل کسانُ گواهي اَخلَئ .

[۲۸۱۸](۹) وَقَالَ اَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي يَقتَصِرُ الحَاکِمُ عَلٰي ظَاهِرِ عَدَالَةِ المُسلِمِ اِلاّ فِي الحُدُودِ وَالقِصَاصِ فَاِنّهُ يَسئَلُ عَنِ الشّهُودِ وَ اِن طَعَنَ الخَصمُ فِيهِم يَسأَلُ عَنهُم .

چې گواه به عَادِلاَن وي .

د شَهَادَت لفظ په دې وجه ضروري دئ (۱) چې په دي کي يوڅه تاکيد شته.نوځکه ګواه دي دګواهي پر وخت دشَهَادَت لفظ استعمال کړي (۲) دګواهي په تولوآيتوکي د شَهَادَت لفظ استعمال شوئ دئ نوپه دې وجه هم بايد د شَهَادَت لفظ وي.ددې لپاره دُوَه آيتونه مخته تېرشوي دي.وَاستَشهِدُوا شَهِيدَينِ مِن رِّجَالِكُم. په دغه آيت کي دئ وَاَشهِدُوا اِذَا تَبَايَعتُم (آيت ۲۸۲سورة البقرة۲) ددې آيتو څخه معلوم شوچي د ګواهي پر وخت دي د شَهَادَت لفظ استعمال کړي.لِهٰذَا که د اَعلَمُ يا د اَتَيَقّنُ لفظ استعمال کړئ نو ګواهي يې نَه قبليږي.عَادِل څَه ته وايي دهغه تفصيل مخته راروان دئ .

[۲۸۱۸](۹) او امام ابوحنيفه(ؒ) فرمايي حَاكِم به اِكتِفَاء کوي دمسلمان پر ظاهري عَدَالَت باندي مګر په حدود او قصاص کي.ځکه چې په حدود کي به د ګواهانُ په باب تَفتِيش کوي.او که مُدّعْي عَلَيهِ پر ګواهانُ باندي طَعن وکئ نو دهغه په اړه به تفتيش کوي .

تشريح : د امام ابوحنيفه(ؒ) رأيه داده چې د حُدُود او قِصَاص څخه علاوه په نُورو معاملاتُ کي د ګواهانُ د تَعدِيل په لَړ کي به زِيَات تفتيش او پَلټَنَه نَه کوي.بلکه که بنکاره او په ظاهري توګه عَادِلاَن بنکاره کيږي نو بَس پر دغه به اِكتِفَاء کوي او فيصله به کوي.البته که مُدّعْي عَلَيهِ د ګواهانُ پر عَدَالَت باندي طَعن وکړي نو بيابه د ګواهانُ تَفتِيش کيږي.البته دحدود اوقصاص دګواهانُ به پُورَه پَلټَنَه کيږي. او په بنکاره او په پَټَه به د دُوئي د عَدَالَت تفتيش او پَلټَنَه کيږي داسي نَه چې د مُجرِم نَفس ضائع نَه شي يا دهغه اَندَام ضائع نَه شي .

وجه : (۱) دئ فرمايي چې مسلمان په بنکاره توګه عَادِل وي تر هغه وخته چې پر هغه چا طَعن نَه وي کړئ.نوځکه پر ظَاهِرِي عدالت به اِكتِفَاء کيږي (۲) په حديث کي دئ.عَن عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَلمُسلِمُونَ عَدُولٌ بَعضُهُم عَلٰي بَعضٍ اِلاّ مَحدُوداً فِي فَرِيّةٍ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۷۴ من قال لاتجوز شهادته اذا تاب ج۴ص۳۳۰نمبر۲۰۶۵۰/دارقطني.كتاب عمرالْي ابي موسْي اشعري ج۴ص۱۳۲ نمبر۴۴۲۵) ددې حديث څخه معلوم شوچي مسلمان عَادِل دئ مګر په حَدِّقَذَف کي.نوځکه پر ظَاهِرِي عَدَالَت به اِكتِفَاء کيږي.البته که مُدّعْي عَلَيهِ طَعن پر وکړي نو تَفتِيش او پَلټَنَه به کيږي .

په حدود او قصاص کي به د ګواهانُ تَفتِيش کوي دهغه وجه (۱) داده چې نَفس ضائع نَه شي (۲) حضور (ﷺ) دحضرت مَاعِز څخه دده د عَدَالَت په اړه تحقيق کړئ دئ.دحديث تېکړه داده. اَنّ اَبَاهُرَيرَةَ ... دَعَاهُ النّبِيّ (ﷺ) فَقَالَ اَبِكَ جُنُونٌ؟ قَالَ لاَ يَا رَسُولَ اللهِ! فَقَالَ اَحصَنتَ؟ قَالَ نَعَم يَا رَسُولَ اللهُ! قَالَ اِذهَبُوا فَارجُمُوهُ (ب) (بخاري شريف.باب سوال الامام المقرهَل احصنت؟ص۱۰۰۸نمبر۶۸۲۵/ابوداؤدشريف.باب رجم ماعزبن مالک ص۲۶۰نمبر۴۴۳) ددې حديث څخه معلوم شوچي حضور (ﷺ) په حُدُودُ کي د ګواهانُ د عَدل په اړه تَفتِيش کړئ دئ (۳) په يوه حديث کي راغلي دي چې حضور د حضرت مَاعِز دقوم څخه هم دده په اړه پوښتنه وکړه. عَن اِبنِ عَبّاسٍ ... فَاَعرَضَ عَنهُ فَسَأَ لَهُ

قَومَهُ أَمَجنُونٌ هُوَ؟ قَالُوا لَيسَ بِهِ بَأسٌ (ج) (ابوداؤدشريف.باب رجم ماعزبن مالک ص۲۶۰نمبر۴۴۲۱) په دې حديث کې دحضرت ماعِز په اړه دده دخپل قَوم څخه هم پوښتنه کړې ده.ددې څخه معلوم شو چې په حدود او قصاص کې به سِرّاً او عَلاَنِيَةً (يعني ښکاره او پټ) د ګواهانُ تَزکِيَه کيږي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل مسلمان بعض پر بعضُ باندې عَادِلاَن دي مګر د زِنَاء په ټُهمَت کې ګُوم چا ته چې حَد لګېدلئ وي هغه عَادِل نَه دئ (ب) حضور (ﷺ) حضرت مَاعِز رَاوَبَالَئ او پوښتنه ځيني وکړه آيا تَه مجنون (لېونئ) يې؟ وفرمايل نَه د الله رسولَ! بيايې پوښتنه ځيني وکړه آيا تَه مُحصِن يې؟ وويل هُو د خدائ رسولَ! حضور (ﷺ) وفرمايل وُلاَسَئ دئ رَجَم کړئ (ج) حضور (ﷺ) د حضرت ماعِز څخه اِعرَاض وکړئ بيايې دده د قوم څخه پوښتنه وکړه آيا دئ لېونئ دئ؟ خلګو وويل په ده کې دَاوَل خبره نشته .

[۲۸۱۹](۱۰) وَ قَالَ اَ بُويُوسُفَ وَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰي لاَ بُدّ اَن يَسأَلَ عَنهُم فِي السِّرّ وَالعَلاَنِيَةِ .

[۲۸۱۹](۱۰) امام ابويوسف او امام محمّد فرمايي ضروري دئ چې د ګواهانُ په اړه سِرّاً او عَلاَنِيَةً تفتيش وکړي .

تشريح : د صاحبين (رح) رَأيَه داده چې په عَام معاملات کې هم بايد سِرّاً او عَلاَنِيَةً د ګواهانُ په اړه تفتيش وکړي چې عَادِلاَن دي که نَه .

وجه : (۱) دُوئي فرمايي چې په معاملاتُ کې د ګواهانُ عَدل شرط دئ.وخت او زَمَانَه هم داسي ده چې پَلتَنَه وَنَه شي نو د چا عَدَالَت معلومول ډېر مُشکِل دئ نوځکه تَفتيش دي وکړي (۲) حضور (ﷺ) د حضرت عائشې په اړه هم تفتيش کړئ وُ.د وُرد حديثِ اِفک ټکړه داده. عَن عَائِشَةَ زَوجِ النّبِيّ (ﷺ) حِينَ قَالَ لَهَا اَهلُ الاِفکِ ... فَقَالَ يَازَينَبُ مَاعَلِمتِ مَا رَأيتِ؟ فَقَالَت يَا رَسُولَ اللهِ! اَللهُ اَحمِي سَمعِي وَبَصَرِي. وَاللهِ مَا عَلِمتُ عَلَيهَا اِلاّ خَيراً (الف) (بخاري شريف.باب تعديل النِّساءِ بعضهنّ بعضًاص۳۶۳نمبر۲۶۶۱) (۳) په اَثَر کې راغلي دي. وَقَالَ اَ بُوجَمِيلَةَ وَجَدّتُ مَنبُوذاً فَلَمّا رَأنِي عُمَرُ قَالَ عَسْي الغَوِيرُ اَ بُوسًا کَاَنّهُ يَتّهِمُنِي. قَالَ عَرِيفِي.اِنّهُ رَجُلٌ صَالِحٌ قَالَ کَذَالِکَ.اِذهَب وَعَلَينَا نَفقَتُهُ (ب) (بخاري شريف.باب اذا ذَکّي رَجُلٌ رَجُلاً کفاه ص۳۶۶ نمبر۲۶۶۲) په دې حديث او اَثَر کې په عام معاملات کې تَزکِيَه او تَفتيش کړئ دئ. نوځکه په عام معاملاتُ کې دي هم د ګواهانُ تفتيش وکړي .

پام لرنه : صَاحِبِ هِدَايَه فرمايي چې د امام ابوحنيفه (رح) په زمانه کې خلګ نېکان

حاشيه : (الف) پر حضرت عائشه چې تُهمَت لګونکوتُهمَت ولګاوئ ... حضور (ﷺ) پوښتنه وکړه زَينَب ستا څه رَأيَه ده؟ وفرمايل ائ دخدائ رسولَ! د خپلو غَوَږُو او سُتُرګو حفاظت کوم.ددې په اړه د خَير څخه عَلاَوَه بَل شَئ نَه وينَم (ب) ابوجميله فرمايي چې مَا يَو تَس کړئ بَچَئ ومونديَ.چې حضرت عمر زَه ولېدم نو وفرمايل داسي ښکاريږي لکه غُوَير چې مسکين شوئ وي.ګواکه ده زَه مُتهَم کولم.نو زُومَا سردار وويل چې دئ ښَه سړئ دئ.ددې په جواب کې حضرت عمر وفرمايل چې دغه دَوَل ده.وَلاړ شَه دده نَفَقَه زُومَا پر ذِمّه ده .

[۲۸۲۰](۱۱) وَمَا يَتَحَمّلُهُ الشّاهِدُ عَلْي ضَربَينِ اَحَدُهُمَا مَا يَثبُتُ حُكمُهُ بِنَفسِهِ مِثلُ البَيعِ وَالإقرَارِ وَالغَصبِ وَالقَتلِ وَحُكمِ الحَاكِمِ فَإذَا سِمِعَ ذَالِکَ الشّاهِدُ اَو رَأ هُ وَسَعَهُ اَن يُشهِدَ بِهِ وَ اِن لَم يُشهِد عَلَيهِ وَيَقُولُ اَشهَدُ اَنّهُ بَاعَ وَلاَ يَقُولُ اَشهَدَنِي .

او صَالِحَان وُ نو په عام معاملاتُ کي د ګواهانُ د تزکيه ضرورت نَه وُ.او دصاحبين په زمانه کي خلګ يو څَه غَيرِ ذِمّه دَار شول نوځکه د تَزکِيَه ضرورت محسوس شو. او په نَن زمان کي د صاحبين پر قول فَتوْي ده .

[۲۸۲۰](۱۱) ګواه چي د ګُومِي ګواهئ تَحَمّل کوي دهغه دُوَه قسمونه دي.دهغه څخه يَوَه هغه ده چي په خپله ثابتيږي.لکه اَخستَل.رَانِيوَل.اِقرَار.غَصَب.قَتل. دحَاکِم فيصله.نو ګواه چي شِيَان وَاوْرِي يا هغه وَوِينِي نو ده ته ګُنجَائِش سته چي دهغه ګواهي ورکړي.که څَه هم پر هغه باندي ګواه نَه وي جوړ کړئ.او داسي دي ووايي چي زَه ګواهي وَرکَوَم چي ده خرڅ کړئ دئ.داسي دي نَه وايي چي زَه يې ګواه جوړ کړئ يَم .

تشريح : د ګواه جوړېدلو دُوې طريقې وي.يَوَه خو دا چي يَو ګواه پر خپله ګواهي باندي ګواه ونيسي او ووايي چي زَه خو د قَاضِي مَجلَس ته نَه شَم تلائي اُوس تَه وُلاَړ شه زُومَا ګواهي پيش که.و دي ته شَهَادَة عَلْي الشّهَادَة وايي. دُويَم صورت دادئ چي ګواه خو يې نَه دئ نيولئ لېکن يَو کار دده تر مخه کېدئ نو دئ په خپله بغيره اراده ګواه شو.اُوس ده ته دا ګنجائش شته چي ددې خبري ګواهي ورکړي.اُوس دئ اَصل ګواه جوړ شو.مثلاً يَوچا شَئ خرڅاوئ ده وليدئ نو دئ ګواهي ورکولائي شي چي فُلاَنِي فُلاَنَئ شَئ پر فُلاَنِي خرڅ کړئ دئ. زَه ددې ګواهي ورکوم.البته دا وَينَا دي نَه کوي چي زَه يې ګواه جوړ کړئ يَم.ځکه چي دئ خو وَاقِعَةً هيڅ چا ګواه نَه دئ جوړ کړئ بلکه په خپله ګواه جوړ شو .

[۲۸۲۱](۱۲) وَ مِنهُ مَالاَيَثبُتُ حُكمُهُ بِنَفسِهِ مِثلُ الشّهَادَةِ عَلْي الشّهَادَةِ فَإذَا سَمِعَ شَاهِداً يُشهِدُ بِشَئٍ لَم يَجزِ لَهُ اَن يُشهِدَ عَلْي شَهَادَتِهِ اِلاّ اَن يُشهِدَهُ وَكَذَالِکَ لَو سَمِعَهُ يُشهِدُ الشّاهِدُ عَلْي شَهَادَتِهِ لَم يَسَعَ لِلسّامِعِ اَن يُشهِدَ عَلْي ذَالِکَ .

وجه : (۱) په آيت کي و دي ته اِشَارَه شوې ده وَلاَيَملِکُ الّذِينَ يَدعُونَ مِن دُونِهِ الشّفَاعَةِ اِلاّ مَن شَهِدَ بِالحَقّ وَهُم يَعلَمُونَ (الف) (آيت ۸۶سورة الزخرف۴۳) په دې آيت کي دئ چي حَق ويني او ورته معلوم وي نو هغه د شَفَاعَت مَالِک دئ (۲) په يوه حديث کي دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ ذُكِرَ عِندَ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) اَلرّجُلُ يُشهِدُ بِشَهَادَةٍ فَقَالَ اَمَا اَنتَ

يَا اِبنَ عَبّاسٍ فَلاَ تَشهَد اِلاّ عَلْي اَمرٍ يَضِئُ لَکَ کَضِيَاءِ هٰذِهِ الشّمسِ وَ اَومْي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) بِيَدِهِ اِلْي الشّمسِ (ب) (سنن للبيهقي.باب التحفّظ في الشهادة والعلم بهاج۱۰ص۲۶۳نمبر۲۰۵۷۹) ددې حديث څخه معلوم شوچي خبره د لُمَر په شام ښکاره او رُوښنَان شي نو بيا ګواهي ورکولائي شي .

[۲۸۲۱](۱۲) دهغوئي څخه يوه هغه ګواهي ده چي دهغه حُکم په خپله نَه ثابتيږي.مثلاً پر ګواهي باندي ګواهي ورکول.نو که يَوَه شَاهِد ګواهي ورکول بَل هغه ګواهي وَاوړېده نو ده ته جواز نشته چي دده د ګواهئ ګواهي ورکړي مګر هغه وخت چي دئ ګواه جوړ کړي.دغه دَوَل که وَاوړېدَل چي دېَوچَا پر ګواهي باندي ګواه جوړوي نو و اَورېدُونکِي ته ګنجائش نشته چي پرهغه باندي ګواهي ورکړي .

تشريح : د يَوَه ګواه پر ګواهي باندي د ګواه جوړېدو لپاره ضروري دئ چي اَصل

حاشيه : (الف) څوک چي د الله څخه علاوه بَل څوک بُولِي هغه دشَفَاعَت لاَئِق نَه دئ.مګر هغه چي دحَق ګواهي ورکړي او ورته معلوم وي (ب) د حضور (ﷺ) په مخکي ديوه سړي تَذکِرَه وشوه چي هغه ګواهي ورکوي.نوحضور (ﷺ) وفرمايل ائ اِبن عَبّاس! تَه پر يوه معامله باندي تر هغه وخته ګواهي مَه ورکوه تر څو چي ددې لُمَر د رُونَا په شان نَه وي واضح شوي.او حضور (ﷺ) په خپل لاَس و لُمَر ته اِشَارَه وکړه .

[۲۸۲۲](۱۳) وَلاَيَحِلّ لِلشّاهِدِ اِذَا رَأي خَطّهُ اَن يُشهِدَ اِلاّ اَن يَذکُرَ الشّهَادَةَ .

ګواه فَرع ګواه پر خپله ګواهي باندي ګواه جوړ کړي.نوبيا دده ګواهي د قاضي مجلِس ته مُنتَقِل کولائي شي.ددې بغيره نَه شي مُنتَقِل کولائي.لِهٰذَا که بَل څوک ګواه جوړاوئ ده صِرف واوړېدل نو و سَامِع(اَورېدونکي)ته ګنجائش نشته چي دقاضي په مجلس کي ګواهي ورکړي.يايې بَل څوک وليدئ چي هغه ګواهي ورکوي نو دغه لِيدُونکي اِنسَان ته جواز نشته چي دئ ددغه ګواهي دقاضي مجلس ته مُنتَقِل کړي تر هغه وخته چي اَصل ګواه دغه فَرع ګواه باقاعده د خپلي ګواهئ ګواه جوړ نَه کړي .

وجه : (۱)ګواکه فَرع ګواه د اَصل ګواه وَکِيل دئ.او چي مُؤکِّل نَه وي وکيل کړئ ترهغه وخته نَه شي وکيل جوړېدلائي نوځکه د اَصل ګواه بغيره فَرع ګواه ګواه نَه شي جوړېدلائي (۲) په اَثَر کي ددې ثبوت شته. عَن شُرَيحٍ قَالَ تَجُوزُ شَهَادَةُ الرّجُلِ عَلْي الرّجُلِ فِي الحُقُوقِ. وَيَقُولُ شُرَيحٌ لِلشّاهِدِ قُل اَشهَدَنِي ذُو عَدلٍ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب شهادة الرّجُلِ علْي الرّجُلِ ج۸ص۳۳۸نمبر۱۵۴۴۷) په دې اَثَرکي دئ چي دَاوَل ووايه چي عَادِل سړي زَه ګواه جوړ کړئ يَم.ددې څخه معلوم شوچي ګواه يې جوړ کړي نو بيا ګواه ګرزي .

[۲۸۲۲](۱۳) او د ګواه لپاره حلال نَه دئ چي دئ خپل خَط وَوِينِي دا چي دئ ګواهي ورکړي مګر که چيري ده ته ګواهي يَاد وي .

تشريح : يوه سړي خپل خَط وليدئ په هغه کي ګواهي ليکلې وه لېکن د ګواهئ پُوره واقعه و ده ته يَاد نَه وي نو چي صِرف خَط وَوِينِي ګواهي ورکول جواز نَه لري. البته که چيري پُورَه واقعه وده ته په يَاد ورغله نو بيا ګواهي ورکولائي شي .

حاشيه : (الف) حضرت شريح فرمايي چي د يوه سړي پر ګواهي باندي ګواهي ورکول جائز ده په حقوق کي.په دغه وجه حضرت شريح به و ګواهانُ ته ويل.وَوَايَه عَادِه زَه ګواه جوړ کړئ يَم .

[٢٨٢٣](١٤) وَلاَ تُقبَلُ شَهَادَةُ الاَعمْي .

وجه : (١) يَوخَط د بَل خَط په شان کېدلائي شي.کېدلائي شي چي دا خَط بَل چا ليکلئ وي او دده دا خيال وي چي دا خَط زُومَا دئ.نوځکه چي ګواهي او هغه پُورَه واقعه وَرپه يَاد شوې نَه وي صِرف د خَط په ليدلو سره دي ګواهي نه ورکوي (٢) په اَثَر کي دئ قَالَ سَألتُ الشّعَبِيّ قُلتُ يُشهِدُنِي الرّجُلُ عَلْي الرّجُلِ بِالشّهَادَةِ فَأُتِيَ بِكِتَابٍ يُشبِهُ كِتَابِي وَخَاتَمٌ يُشبِهُ خَاتَمِي وَلاَ اَذكُرُ فَقَالَ الشّعَبِيّ لاَتَشهَد حَتّْي تَذَكّرَ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب الشاهديعرف كتابه ولايذكره ج٨ص٣٥٤نمبر١٥٥١٧/سنن للبيهقي.باب وجوه العِلم بالشهادة ج١٠ ص٢٦٦نمبر٢٠٥٨٨) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي تر کُومه وخته پوري چي وَاقِعَه نَه وي ورته ياد شوې تر هغه وخته پوري دي صرف دخَط په ليدو سره ګواهي نَه ورکوي .

[٢٨٢٣](١٤) او د رَاندَه ګواهي به نَه قبلوي .

تشريح : شَهَادَت د شَاهِدٌ څخه مُشتَق دئ يعني په سُتُرګو ليدل او ګواهي ورکول. نوځکه په کُومُو خبرو کي چي په لېدلو او کَتلُو سره ګواهي ورکيږي په هغه ځايو کي د نَابِينَا(رَاندَه)ګواهي نَه قبليږي.البته په کُومُو خبرو کي چي صِرف په اَورېدُلُو سره ګواهي ورکيږي په هغه خبرو کي د امام ابويوسف رَأيَه داده چي د نَابِينَا(رَاندَه)ګواهي مقبولَ ده .

وجه : (١) په اَثَرکي دئ. حَدّثَنَا اَلاَسوَدُ بِنِ قَيسِ العَنَزِيّ سَمِعَ قَومَهُ يَقُولُونَ. اَنّ عَلِيًّا رَدّ شَهَادَةَ اَعمْي فِي سَرَقَةٍ لَم يَجزِهَا (ب) (سنن للبيهقي.باب وجوه العِلم بالشهادة ج١٠

حاشيه : (الف) مَا دحضرت شعبي څخه پُوښتَنه وکړه يَو سړئ د بَل سړي پر ګواهي باندي ګواه جوړوي.نو دئ يَو خَط رَاوړي چي هغه زُومَا د خَط سره مُشَابِه دئ.او مُهر رَاوړي چي زُومَا دمُهر سره مُشَابِه دئ.او مَاتَه ياد نَه وي چي دا زُومَا ليکلئ خَط دئ نو حضرت شعبي وفرمايل ګواهي مَه ورکوه تر څو چي درته يَاد شوې نَه وي (ب) حضرت اَسوَد دخپل قوم دا وَينَا اَورېدلي ده چي د يوې غَلاَ په لړ کي حضرت علي د يوه نَابِينَا ګواهي رَد کړه. هغې ته جواز وَر نَه کړئ .

[٢٨٢٤](١٥) وَلاَ المَملُوكِ .

ص٢٦٦نمبر٢٠٥٨٦/مصنّف عبدالرزاق.باب شهادة الاعمْي ج٨ص٣٢٤نمبر١٥٣٨٠) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي د نَابِينَا ګواهي نَه ده مقبول (٢) په حديث کي دئ چي د لُمَر په شان رُوښَان شي بيا ګواهي ورکړئ او نَابِينَا خو شَئ نَه شي لېدلائي نوځکه دده په مخکي شَئ د لُمَر په شان نَه شي رُوښَانَ کېدلائي.نوځکه هغه ګواهي هم نَه شي ورکولائي.حديث

دادئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ ذُكِرَ عِندَ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) اَلرّجُلُ يُشهِدُ بِشَهَادَةٍ فَقَالَ: اَمّا اَنتَ يَا اِبنَ عَبّاسٍ! فَلاَ تَشهَد اِلاّ عَلْي اَمرٍ يُضِئُ لَکَ کَضِيَاءِ هٰذِهِ الشّمسِ وَ أومْي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) بِيَدِهِ اِلْي الشّمسِ (الف) (سنن للبيهقي.باب التحفّظ في الشهادة والعلم بها ج١٠ ص٢٦٣نمبر٢٠٥٧٩) او د نَابِينَا په مخکي خو د لُمَر د رُونَا په شان شَئ نَه واضح کيږي نوځکه هغه ګواهي نَه شي ورکولائي .

فائده : امامِ شافعي (ؒ) فرمايي چي د ګواه دشِي د لِيدُلُو پر وخت بايد يَو لِيدُونکَئ څوک موجود وي که خَه هم د ګواهئ ورکولو پر وخت نَابِينَا وي نو هم ګواهي يې مَقبُولَ ده. وَقَالَ الشّعَبِيّ تَجُوزُ شَهَادَتُهُ اِذَا کَانَ عَاقِلاً. وَقَالَ الزّهرِيّ اَرَأيتَ اِبنَ عَبّاسٍ لَو شَهِدَ عَلْي شَهَادَةٍ اَکُنتَ تَرُدّهُ؟ (ب) (بخاري شريف.باب شهادة الاعمْي ونکاحه وامرُهُ وإنکَاحُهُ ومبايعته وقبوله في التاذين وغيره ومايعرف بالاصوات ص٣٦٣نمبر٢٦٥٥/مصنّف عبدالرزاق. باب شهادة الاعمْي ج٨ص٣٢٣نمبر١٥٣٧٦) ددې اَثَرخخه معلوم شوچي د نَابِينَا ګواهي جائز ده .

[٢٨٢٤](١٥) د مَملُوک ګواهي نَه قبليږي .

وجه : په اَثَر کي دئ. فَقَالَ وَاللهُ عَزّوَجَلّ يَقُولُ وَ اِستَشهِدُوا شَهِيدَينِ مِن رّجَالِکُم (آيت ٢٨٢سورة البقرة٢) اَفَتَجُوزُ شَهَادَةُ العَبِيدِ فَبَيّنَ مُجَاهِدٌ اَنّ مُطلَقَ الخِطَابِ يَتَنَاوَلُ الاَحرَارَ. په بَل روايت کي راغلي دي.عَن عَلِيّ وَالحَسَنِ وَالنّخَعِيّ وَالزّهرِيّ

حاشيه : (الف) دحضور(ﷺ)په مخکي ديوه سړي تَذکِرَه وشوه چي هغه ګواهي ورکوي.نوحضور(ﷺ) وفرمايل ائ اِبن عَبّاس ګواهي مَه ورکوه ترهغه وخته چي معامله درُوبنَانَ لُمَړيه شان بنکاره شي.اوحضور (ﷺ) په خپل لاس و لُمَر ته اِشَارَه وکړه (ب) حضرت شعبي (ؒ) وفرمايل د نَابِينَا ګواهي جائز ده که چيري عَقَلمَند وي.حضرت زُهرِي (ؒ) وفرمايل سَتَا خَه رَأيَه ده که اِبنِ عَبّاس ګواهي ورکړي نو آيا تَه به هغه رَدّکړي ؟ .

[٢٨٢٥](١٦) وَلاَ المَحدُودُ فِي قَذَفٍ وَ اِن تَابَ .

وَمُجَاهِدَ وَعَطَاءَ لاَتَجُوزُ شَهَادَةُ العَبِيدِ (الف) (سنن للبيهقي.باب من رَدّشهادة العبيدومن قبلها ج١٠ص٢٧٢نمبر٢٠٦٠٨/مصنّف عبدالرزاق.باب شهادة العبديعتق والنّصرَانِيّ يُسلِمُ والصّبِيّ يَبلُغُ ج٨ص٣٤٦نمبر١٥٤٨٦) ددې اَثَرخخه معلوم شوچي د غُلاَم او مينځي ګواهي نَه ده مقبولَ .

فائده : د بعضُ آثَارُ څخه معلوميږي چي دغُلاَم ګواهي مقبول ده .

وجه : په اَثَر کي دئ. وَقَالَ اَنَسُ شَهَادَةُ العَبدِ جَائِزَةٌ اِذَا کَانَ عَدلاً. وَ اَجَازَ شُرَيحٌ وَ زَرَارَةُ اِبنُ اَبِي اَوفْي وَقَالَ اِبنُ سِيرِينَ شَهَادَتُهُ جَائِزَةٌ اِلاّ العَبدُ لِسَيّدِهِ (ب) (بخاري شريف.باب شهادة الاماء والعبيدص٣٦٣نمبر٢٦٥٩) ددې اَثَر څخه معلوم شوچي د مَملُوک ګواهي جائز ده .

[٢٨٢٥](١٦) او چي په تُهمَت کي حَد ورته لګيدلئ وي دهغه ګواهي نَه قبليږي که خَه هم تُوبَه کړې وي .

تشريح : يَوَه سړي پر يَوَه بنځه د زِنَاءتُهمَت ولګاوئ او ګواه يي پيش نَه کړئ چي په نتيجه کې پر دغه سړي باندي حَدّقَذَف ولګيدئ.اُوس که دئ توبَه وکړي هم دده ګواهي نَه قبليږي .

وجه : (۱) په آیت کي دئ چي په هیڅ وخت یي ګواهي نَه قبلیږي. وَالَّذِينَ يَرمُونَ المُحصَنَاتِ ثُمّ لَم يَأ تُوا بِأَربَعَةِ شُهَدَاءَفَاجلِدُوهُم ثَمَانِينَ جَلدَةً وَلاَتَقبَلُوالَهُم شَهَادَةً اَبَداًوَ أُولٰئِکَ هُمُ الفَاسِقُونَ ۞اِلاَّالَّذِينَ تَابُوامِن بَعدِذَالِکَ وَاَصلَحُوافَاِنّ اللهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ۞ (ج)

حاشیه : (الف) د خدائ پاک قول چي ستاسو د نَرَانُو ګواهي اَخلَئ نو پُوښتَنَه ځيني وکړه آياد غُلاَم ګواهي جائز ده؟ نوحضرت مجاهد بيان وکړئ چي په قُرآن کي مُطلَق خِطَاب و آزاد ته شَامِل دئ يعني د غُلاَم ګواهي جائز نَه ده.په بَل روايت کي دئ.حضرت علي.حضرت حسن.حضرت نخعي.حضرت زُهري.حضرت مجاهد او حضرت عطاء دغُلاَم ګواهي جائز نَه ګڼل (ب) حضرت ابن سيرين فرمايي چي دغُلاَم ګواهي جائز ده مګر غُلاَم که دخپل آقَا لپاره ګواهي ورکړي نو جواز نَه لري (ج) کُوم څوک چي پر پاکُ ښځو تُهمَت لګوي بيا ځلور ګواهان نَه رَاوَلِي نو هغه اَتيَا(۸۰)کوړي وَوَهَئ.او هیڅ وخت د دُوئي ګواهي مَه قبلوئ هغه خلک فَاسِقَان دي. مګر هغه چي ددي وروسته توبَه وکړي او اِصلاَح وکړي نو الله تعالٰي معاف کونکئ دئ .

(آيت۴/ ۵سورة النّور۲۴) په دې آيت کي دئ چي د مَحدُودفِي القَذف ګواهي په هیڅ وخت مَه قبلوئ (۲) په حديث کي دئ. عَن عَائِشَةَ قَالَت: قَالَ رَسُولُ اللهِ لاَتَجُوزُ شَهَادَةُ خَائِنٍ وَلاَخَائِنَةٍ وَلاَمَجلُودٍ حَدّاً وَلاَمَجلُودَةٍ وَلاَ ذِي غِمرٍ لاَخِنَةٍ (الف) (ترمذي شريف. باب ماجاء فيمن لاتجوز شهادته ج۲ص۵۵نمبر۲۲۹۸/سنن للبيهقي.باب من قال لاتقبل شهادته ج۱۰ ص۲۶۱ نمبر۲۰۵۶۸) ددې حديث څخه معلوم شوچي حَد پر لګېدلئ وي دهغه ګواهي نَه قبلیږي.اوچي توبَه وکړي يعني خپل ځان په دغه تُهمَت لګولوکي دُرُوغجَن کړي بيا هم دده ګواهي نَه قبلیږي دهغه دليل دا اَثَر دئ. اَنبَأ يُونُسُ عَنِ الحَسَنِ قَالا: لاَتُقبَلُ شَهَادَتُهُ اَبَداً وَتَوبَتُهُ فِيمَا بَينَهُ وَبَينَ رَبِّهِ (ب) (سنن للبيهقي.باب من قال لاتقبل شهادته ج ۱۰ ص۳۶۲نمبر۲۰۵۷۴/مصنّف ابن ابي شيبة ۷۴ من قال لاتجوز شهادته اذا تَابَ ج۴ ص۳۳۰نمبر۲۶۰۵۱) ددې اَثَر څخه معلوم شوچي د توبَه کولو وروسته هم دده ګواهي نَه قبلیږي .

فائده : امامِ شافعي() فرمايي چي قَاذِف توبه وکړي يعني دَادَوَل ووايي چي مَا پر فُلاَنَئ ښځه د زِنَاء غلط تُهمَت لګولئ وُنو اُوس به دده ګواهي قبلیږي .

وجه : (۱) په مَذکُورَه آيت اِلاّ الّذِينَ تَابُوا مِن بَعدِ ذَالِکَ وَاَصلَحُوا فَاِنّ اللهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ (آيت ۵سورة النّور۲۴) کي دئ چي که توبَه وکاړي نو الله تعالٰي به معاف کړي.يعني دګواهئ قَابِل به شي (۲) په بخاري شريف کي مخته بيا دَادَوَل الفاظ راغلي دي. وَجَلَدَ عُمَرُ اَبَابَکرَةَ وَشِبلَ بنِ مَعبَدَ وَنَافِعًا بِقَذفِ المُغِيرَةِ ثُمّ اِستَتَابَهُم وَقَالَ مَن تَابَ قُبِلَت شَهَادَتُهُ. وَاَجَازَ عَبدُاللهِ بنِ عُتبَةَ وَعُمَرُبنِ عَبدِالعَزِيزِ ... وَقَالَ الشّعبِيّ وَقَتَادَةُ اِذَا اَکذَبَ نَفسَهُ جُلِّدَ وَقُبِلَت شَهَادَتُهُ (ج) (بخاري شريف.باب شهادة القاذف والسّارق

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل د خِيَانَت کونکي نَر او خِيَانَت کونکي ښځي ګواهي جواز نَه لري.او نَه چي حَد پر لګېدلئ وي هغه نَر او نَه چي حَدپر لګېدلئ وي هغه ښځه او نَه د حَسَد کونکي ګواهي جائز ده (ب) حضرت حسن وفرمايل دمِحدُود ګواهي هیڅ وخت قبوله نَه ده او دهغه توبَه دده د رَب سره ده (ج) حضرت عمر و ابوبکره.شِبل بن معبد.او نافِع ته پر مغيره باندي د تُهمَت په وجه حَد ولګاوئ بيايي و دُوئي ته د توبي لپاره وويل او وفرمايل څوک چي توبَه وکړي دهغه ګواهي به قبوله شي.او عبدالله بن عُتبَه او عمربن عبدالعزيز دهغه د ګواهئ اِجَازَت ورکړئ.حضرت شعبي وفرمايل که چيري خپل ځان دُرُوغجَن کړي او حَد پر جاري شي نو دده ګواهي به قَابِلِ قَبُولَ شي .

[۲۸۲۶](۱۷) وَلاَشَهَادَةُ الوَالِدِ لِوَلَدِهِ وَوَلَدِ وَلَدِهِ وَلاَشَهَادَةُ الوَلَدِ لاَبَوَيهِ وَ اَجدَادِهِ .

والزّانِي ص۳۶۱نمبر۲۶۴۸/سنن للبيهقي.باب شهادة القاذف ج۱۰ص۲۵۶نمبر۱۲۰۵۴۵/مصنّف عبدالرّزاق. باب شهادة القاذف ج۸ص۳۶۲نمبر۱۵۵۴۶) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي د ټوبَه کولو وروسته به دده ګواهي قبلیږي .

[۲۸۲۶](۱۷) او نَه د پُلاَر ګواهي دخپل زُوئ لپاره او نَه دخپل لُمَسِي لپاره.او نَه د بَچي ګواهي دخپل مُور او پُلاَر لپاره او نَه دخپل نِیګَه لپاره .

تشریح : د وَالِد او وَالِدې ګواهي دخپل زُوئ او خپل لُمَسِي لپاره نَه قبلیږي.دغه رنګه هَلَک یا اِنجِلَئ دخپل مُور او پُلاَر لپاره یا دخپل نِیګَه او اَنَا لپاره ګواهي ورکړي نو هغه هم نَه قبلیږي .

وجه : (۱) که هَلَک دخپل پُلاَر. نِیګَه لپاره ګواهي ورکړي.یا پُلاَر.نِیګَه دخپل زُوئ یا دلُمَسِي لپاره ګواهي ورکړي نو په دې ګواهي کي دا تُهمَت موجود دئ چي دُوئي به ددې رِشتَه په وجه رِعَایَت کړئ وي نوځکه ددې خلګو ګواهي قَابِلِ قَبُولَ نَه ده (۲) په حدیث کي دئ. عَن عَائِشَةَ قَالَت قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لاَتَجُوزُ شَهَادَةُ خَائِنٍ ... وَلاَالقَانِعُ اَهلِ البَیتِ لَهُم وَلاَظَنِینٍ فِي وَلاَءٍ وَلاَ قَرَابَةٍ. قَالَ الفَزَارِيّ اَلقَانِعُ اَلتّابِعُ (الف) (ترمذي شریف.باب ماجاء فیمن لاتجوزشهادته ج۲ص۵۵نمبر۲۲۹۸) په دې حدیث کي دئ چي د اَهلِ قَرَابَت ګواهي نَه قبلیږي.او ددې مَذکُورَه خلګو په خپل مینځ کي قَرَابَت شته نوځکه د دُوئي ګواهي نَه قبلیږي. بیا په حدیث کي دا جُملَه هم راغلې ده چي د کُور قَانِع یعني د کُورنِیَانُ چي اِنسَان یې کَفَالَت کوي دهغوئي ګواهي هم نَه قبلیږي.او پُلاَر خو د زُوئ کَفَالَت کوي.دغه رنګه په کمزوري کي زُوئ د پُلاَر کَفَالَت کوي نو ځکه د دُوئ ګواهي هم نَه قبلیږي (۳) په اَثَر کي دئ.

حاشیه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمایل دخِیَانَت کونکي ګواهي جواز نَه لري ... نَه د کُور دغُلاَم ګواهي.او نَه چي په وَلاَء کي شریک وي.او نَه د قَرِیبَانُ.حضرت فزاري وفرمایل دقَانِع څخه مراد نوکر او تَابِع دئ .

[۲۸۲۷](۱۸) وَلاَ تُقبَلُ شَهَادَةُ اِحدْي الزّوجَینِ لِلآخَرِ .

عَن اِبرَاهِیمَ قَالَ اَربَعَةٌ لاَتَجُوزُ شَهَادَتُهُم اَلوَالِدُ لِوَلَدِهِ.وَالوَلَدُ لِوَالِدِهِ.وَالمَرأةُ لِزَوجِهَا.وَالزّوجُ لِامرَأتِهِ.وَالعَبدُلِسَیّدِهِ.وَالسّیّدُ لِعَبدِهِ.وَالشّرِیکُ لِشَرِیکِهِ فِي الشّيءِ اِذَاکَانَ بَینَهُمَا.وَاَمّا فِي مَاسِوْي ذَالِکَ فَشَهَادَتُهُ جَائِزَةٌ (الف) (مصنّف عبدالرزاق. باب شهادة الآخ لأخِیهِ والابنُ لأبِیهِ والزّوجُ لامرَأتِهِ.ج۸ص۳۴۴نمبر۱۵۴۷۶/مصنّف ابن ابي شیبة ۴۲۵ في شهادة الولد لوالده.ج۴ص۵۳۲نمبر۲۲۸۵۱) ددې اَثَرڅخه هم ددې تائید بنکاره کیږي چي د پُلاَر ګواهي د زُوئ لپاره او د زُوئ ګواهي د پُلاَر.نِیګَه لپاره مَقبُولَ نَه ده .

[۲۸۲۷](۱۸) او نَه به قبلیږي د مېړه او مَیني ګواهي دیَو بَل لپاره .

تشريح : مَينَه دمېړه لپاره ګواهي ورکړي يا مېړه دمَينې لپاره ګواهي ورکړي دا ګواهي نَه قبلېږي .
وجه : (۱) دَلتَه هم تَعَلّق موجود دئ نو دا شُبهَه کېدلائي شي چي په حِمَايَت کي دې ګواهي ورکړې وي نوځکه نَه قبلېږي (۲) مخته د تِرمِذِي شريف حديث تيرشو.په هغه کي وُ ,,وَلاَ قَرَابَةٍ,, چي دخاص قريب ګواهي نَه قبلېږي.نوپه دې وجه هم نَه قبلېږي (۳) او دا اَثَر هم تېرشوئ دئ.وَالمَرأةُ لِزَوجِهَا وَالزّوجِ لِامرَأتِهِ (مصنّف عبدالرزاق.نمبر۱۵۴۷۶/مصنّف ابن ابي شيبة.نمبر ۲۸۵۱)
فائده : امامِ شافعي() فرمايي چي مَينَه د مېړه لپاره او مېړه دمَيني لپاره ګواهي ورکولائي شي .
وجه : (۱) ځکه چي په حقيقت کي دواړه د نَسَب په لحاظ بِېل بِېل دي.او کُومَه نَفَقَه چي مېړه اداء کوي هغه د جِمَاع مَزدُورِي ده نوځکه ګواهي ورکولائي شي (۲)

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم() وفرمايل د ځلورو کسانُ ګواهي جواز نه لري.د وَالِد ګواهي دخپل اولاد لپاره.او دبَچِي ګواهي دخپل پُلار لپاره.دښځي ګواهي دخپل مېړه لپاره.اودمېړه ګواهي دخپلي مَيني لپاره.او د غُلاَم ګواهي دخپل آقَا لپاره.او د آقَا ګواهي دخپل غُلاَم لپاره.او د شريک ګواهي دخپل شريک لپاره په کُوم مَال کي چي دواړه شريکان وي.بهر حال ددې څخه عَلاَوَه دهغو ګواهي بيا جائز ده .

[۲۸۲۸](۱۹) وَلاَشَهَادَةُ المَولْي لِعَبدِهِ وَلاَ لِمُکَاتَبِهِ .

په اَثَرکي ددې ثبوت شته.سَمِعتُ شُرَيحًا اَجَازَ لِامرَأةٍ شَهَادَةَ اَبِيهَا وَزَوجِهَا. فَقَالَ لَهُ الرّجُلُ اِنّهُ اَ بُوهَا وَ زَوجُهَا. فَقَالَ لَهُ شُرَيحٌ فَمَن شَهِدَ لِلمَرأةِ اِلاّ اَ بُوهَا وَزَوجُهَا (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب شهادة الاخ لاخيه والابنُ لابيه والزّوجُ لامرأتِه ج۸ص۳۴۴نمبر۱۵۴۷۳/مصنّف ابن ابي شيبة ۴۲۵ في شهادة الولد لوالده ج۴ص۵۳۲نمبر۲۲۸۵۴) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي مېړه او مَينَه يو د بَل لپاره ګواهي ورکولائي شي .
[۲۸۲۸](۱۹) او د آقَا ګواهي دخپل غُلاَم لپاره او دخپل مُکَاتَب لپاره نَه قبلېږي .
وجه : (۱) دَلتَه هم آقَا دخپل غُلاَم کَفَالَت کوي او مُکَاتَب هم تر اُوسَ لا د غُلاَم په درجه کي دئ نو دئ ګواکه قَانِعٌ لاَهلِ البَيتِ شو.نوځکه دده ګواهي مقبول نَه ده (۲) په حديث کي دئ. عَن عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدّهِ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) رَدّشَهَادَةَ الخَائِنِ وَالخَائِنَةِ وَذِي الغِمرِ عَلْي اَخِيهِ وَرَدّ شَهَادَةَ القَانِعِ لاَهلِ البَيتِ وَ اَجَازَ لِغَيرِهِم (ب) (ابوداؤدشريف.باب من تُرَدّشهادته ص۱۵۱ نمبر۳۶۰۰/ترمذي شريف. باب ماجاء فيمن لاتجوزشهادته ص۵۵نمبر۲۲۹۸) په دې حديث کي دئ چي د کُوم چا کَفَالَت کوي دهغه ګواهي نَه ده مقبولَ.او د غُلاَم او مُکَاتَب کِفَالَت خو آقَا په خپله کوي نوځکه دهغه ګواهي نَه قبلېږي (۳) په اَثَر کي راغلي دي. وَقَالَ اِبنُ سِيرِينَ شَهَادَتُهُ جَائِزَةٌ اِلاّ العَبدُ لِسَيّدِهِ (ج) (بخاري شريف.باب شهادة الإمَاء والعَبِيدِص ۳۶۳ نمبر ۲۶۵۹) (۴) مخته هم اَثَر تېرشوئ دئ. اَربَعَةٌ

لاَتَجُوزُ شَهَادَتُهُم ... وَالعَبدُ لِسَيِّدِهِ وَالسَّيِّدُ لِعَبدِهِ (د) (مصنّف عبدالرزاق.نمبر١٥٤٧٦/ مصنّف ابن ابي شيبة.نمبر٢٢٨٥١) ددې اَثَر څخه معلوم شو

حاشيه : (الف) حضرت شريح دښځي لپاره دهغې دپُلاَر او دمېړه ګواهي جائز کړه.نو يوه سړي وويل دا خو ددې پُلاَر او مېړه دئ.حضرت شريح وفرمايل دښځي لپاره به څوک ګواهي ورکوي مَاسِوَايي ددې دپُلاَر او مېړه څخه؟ (ب) حضور (ﷺ) د خِيَانَت کونکي نَر او خِيَانَت کونکي ښځي ګواهي رَدّ کړه.او د وُرُور سره د حَسَد کونکي ګواهي.او رَدّ يې کړه دنُوګر ګواهي او ددې څخه عَلاَوه ته اجازت ورکړئ (ج) حضرت ابن سيرين فرمايي چې ګواهي جائز ده مګر د غُلاَم ده د آقَا لپاره جواز نَه لري (د) د څلورو اِنسَانَانُ ګواهي جواز نَه لري ... د غُلاَم ده دخپل آقَا لپاره او د آقَا ده دخپل غُلاَم لپاره .

[٢٨٢٩](٢٠) وَلاَشَهَادَةُ الشّرِيكِ لِشَرِيكِهِ فِيمَا هُوَ مِن شِركَتِهِمَا.

شوچې غُلاَم د آقَا لپاره او آقَا د غُلاَم لپاره ګواهي نَه شي ورکولائي (٥) هسي خو هم د غُلاَم مَال د آقَا مَال وي نوګواکه د خپل مَال لپاره ګواهي ورکوي نوپه دې وجه هم جواز نَه لري.او مکاتب دغُلاَم په درجه کي دئ (١) نوځکه دده ګواهي هم نَه قبليږي (٢) په اَثَرکي دئ. قَالَ اِبرَاهِيمُ اِذَا كَانَ يَسعْي فَهُوَ بِمَنزِلَةِ العَبدِ يَقُولُ لاَتَجُوزُ شَهَادَتُهُ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب شهادة المكاتب وَالذِّمّي يسعْي ج٨ص٣٤٥ نمبر١٥٤٧٨/ ١٥٤٧٩) .

[٢٨٢٩](٢٠) او نَه د شريک ګواهي د شريک لپاره دشرګت په شي کي .

تشريح : په ګومه معامله کي چې دواړه شرګت سره لري په هغه معامله کي د يوه شريک ګواهي دهغه بَل شريک په حق کي نَه قبليږي .

وجه : (١) دَلتَه هم تُهمَت شته چې دخپل مَال لپاره په رِعَايَت سره ګواهي ورکوي (٢) حديث مخته تېرشوئ دئ. عَن عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) رَدّشَهَادَةَ الخَائِنِ وَالخَائِنَةِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب من تُرَدّشهادته ج٢ ص١٥١ نمبر٣٦٠٠/ترمذي شريف. باب ماجاء فيمن لاتجوزشهادته ص٥٥نمبر٢٢٩٨) په دې حديث کي دئ چې دخَائِن نَر او دخَائِنې ښځي ګواهي نَه قبليږي.او د شريک په اړه هم دا شُبهَه کېدلائي شي چې ده به په ګواهي کي خِيَانَت کړئ وي.نوځکه دده ګواهي په هغه مَال کي نَه قبليږي په کُوم مَال کي چې دئ شريک دئ.بَاقِي په نُورو معاملاتُ کي د خپل شريک په اړه دئ ګواهي ورکولائي شي (٣) اَثَر هم تېرشوئ دئ. عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اَربَعَةٌ لاَتَجُوزُ شَهَادَتُهُم ... وَالشّرِيكُ لِشَرِيكِهِ فِي الشّئِ اِذَاكَانَ بَينَهُمَا.وَاَمّا فِي مَاسِوْي ذَالِکَ فَشَهَادَتُهُ جَائِزَةٌ (ج) (مصنّف عبدالرزاق. باب شهادة الاَخِ لاَخِيهِ والاِبنُ لاَبِيهِ والزّوجُ لِامرَأتِهِ.ج٨ص٣٤٤نمبر١٥٤٧٦/ مصنّف

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل که غُلاَم سِعَايَت کوي نو هغه هم د غُلاَم په شان دئ دهغه ګواهي جواز نَه لري (ب) حضور د خَائِن ګواهي او دخائني ښځي ګواهي رَدّ کړه (ج) حضرت ابراهيم() وفرمايل د څلورو کسانُ ګواهي جواز نَه لري ... د شريک ګواهي دخپل شريک لپاره په کُوم مَال کي چې دواړه شريکان وي.بهر حال ددې څخه عَلاَوَه دهغو ګواهي بيا جائز ده .

[٢٨٣٠](٢١) وَتُقبَلُ شَهَادَةُ الرّجُلِ لاَخِيهِ وَعَمّهِ [٢٨٣١](٢٢) وَلاَتُقبَلُ شَهَادَةُ مُخَنّثٍ وَلاَ نَائِحَةٍ وَلاَ مُغنِيَةٍ وَلاَ مُدمِنِ الشّربِ عَلْي اللّهوِ وَلاَ مَن يَلعَبُ بِالطّيُورِ .

ابن ابي شيبة ۴۲۵ في شهادة الولد لوالده.ج۴ ص۵۳۲نمبر۲۲۸۵۱) په دې اَثَر کي دئ چي د شريک ګواهي د خپل شريک لپاره د شِرکَت په مَال کي جواز نَه لري .
اصول : په دې ټولو ګواهيو کي دا اُصُول دئ چي په کُوم ځائ کي د رِعَايَت يا د خِيَانَت کولو شُبهَه وي په هغه ځائ کي ګواهي نَه قبلِيږي .
[۲۸۳۰](۲۱) او د اِنسَان ګواهي د خپل وُرُور لپاره او د اَکَا لپاره قبلِيږي .
وجه : (۱) د وُرُور او اَکَا کَفَالَت د وُرُور او وُرَارَه پر ذِمّه نَه دئ ځکه چي د دواړو اَستُوګَنَه بېلا بېلَ ده.نوځکه قَانِعُ اَهلِ البَيت نَه شول.لِهْذَا د دُوئي ګواهي نَه قبلِيږي (۲) په اَثَرکي راغلي دي. اَنّ شُرَيحًا کَانَ يُجِيزُ شَهَادَةَ الاَخِ لاَخِيهِ اِذَا کَانَ عَدلاً (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في شهادة الاخ لاخيه ج۱۰ص۳۴۱نمبر۲۰۸۶۷/مصنّف عبدالرزاق. باب شهادة الاخ لاخيه والابن لابيه والزّوج لامرأته ج۸ص۳۴۳نمبر۱۵۴۶۶/مصنّف ابن ابي شيبة ۲۲۵ في شهادة الاخ لاخيه ج۴ص۴۳۳نمبر۲۱۷۸۷) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي د وُرُور ګواهي د وُرُور لپاره جائز ده او اَکَا خو ددې څخه زيات ليري دئ نوځکه دهغه لپاره هم ګواهي ورکول جائز ده .
[۲۸۳۱](۲۲) او د مُخَنّث ګواهي نَه قبلِيږي او نَه دهغې چي زَرَا کوي.او نَه د غَزَلچِي.او نَه هغه چي د لَهوولَعَب په توګه همېشه شراب چيښي.او نَه د ګورَتربَاز.
تشريح : مُخَنّث هغه سړي ته وايي چي کُوم نَر دښځي په شان حرکتونه کوي.که چيرې په دغونه اَندَازَه وي نو دهغه ګواهي مَقبُول ده.لېکن که چيرې په خپل ځان لِوَاطَت کوي نوبيا دهغه مُخَنّث ګواهي نَه قبلِيږي.ځکه چي ددغه ګُنَاه په وجه دئ

حاشيه : (الف) حضرت شريح به جائز ګڼل د وُرُور ګواهي د وُرُور لپاره په دې شَرط چي عَادِل وي .
فَاسِق شو.او د آيت په رُوښَا(رَښَا)کي د فَاسِق ګواهي نَه قبلِيږي .
وجه : (۱) په آيت کي دئ وَاَشهِدُوا ذَوَي عَدلٍ مِّنکُم وَاَقِيمُوا الشّهَادَةَ لِلّهِ (آيت۲سورة الطلاق۶۵) ددې آيت څخه معلوم شوچي د عَادِل سړي ګواهي مَقبُولَ ده دفَاسِق ګواهي نَه ده مَقبُولَ.نوځکه کُوم خلک چي د مُسَلسَل ګناه په وجه فَاسِقَان شوي دي او اُوس هم ددغه ګناه عَادِي دي دهغه ګناهونو څخه توبه نَه وي کښلې نودهغوئي ګواهي نَه ده مقبولَ (۲) په يَوَه بَل آيت کي راغلي دي. يَا اَيّهَا الّذِينَ آمَنُوا اِن جَائَکُم فَاسِقٌ بِنَبَاٍ فَتَبَيّنُوا اَن تُصِيبُوا قَومًا بِجَهَالَةٍ فَتُصبِحُوا عَلْي مَافَعَلتُم نَادِمِينَ (الف) (آيت۶سورة حجرات۴۹) په دې آيت کي دئ چي فَاسِق تاسو ته يَو خَبَر راوړي نو پر هغه خَبَر يقين مَه کوئ.دهغه په اړه پوره تَفتِيش او تَحقِيق کوئ ځکه چي فَاسِق دُروَاغ ويلائي شي.نوځکه دده ګواهي هم مَقبُولَ نَه ده (۳) د عَادِل تعريف دادئ. قُلتُ لِاِبرَاهِيمَ مَا اَلعَدلُ مِنَ المُسلِمِينَ؟ قَالَ اَلّذِينَ لَم تُظهَرُ لَهُم رِيبَةٌ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب لايقبل منهم ولاجارالْي نفسه ولاظنين ج۸ص۳۱۹نمبر۲۵۳۶۱) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي کُوم څوک چي ګناه وکړي مَشکُوک وګرزي هغه عَادِل نَه شو پاته. يعني عَدَالَت يې ختم شو .

مُخَنّث ګناهګاره دئ دهغه دليل په دې حديث کي دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ لَعَنَ النّبِيّ (ﷺ) اَلمُخَنّثِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالمُتَرَجِّلاَتِ مِنَ النِّسَاءِ. وَقَالَ اَخرِجُوهُم مِن بُيُوتِكُم وَ اَخرِج فُلاَنًا وَاَخرَجَ عُمَرُ فُلاَنًا (ج) (بخاري شريف.باب في اَهلِ المَعَاصِي والمخنّثين ص۱۰۱۰نمبر۶۸۳۴) په دې حديث کې پر مُخَنّث باندي لَعنَت کړئ دئ او حُکم يې کړئ دئ چې دئ د ګورُو څخه وَبَاسَئ.نوځکه دده ګواهي به څه رنګه قبلوي؟ . او چې

حاشيه : (الف) ای مؤمنانو که تاسو ته يَوفَاسِق خَبَر راوړي نو دهغه وَضَاحَت طلب کړئ.ځکه چې په نَادَانِي کې د يَوقَوم سره په جنګ اَختَه نَه شَئ.بيا به پر خپلو ګُړو باندي پښېمَانَ ياست (ب) مَا دحضرت ابراهيم څخه پُوښتَنَه وکړه چې دمسلمان عَدل ګُوم دئ؟ وفرمايل د ګُوم چا په اړه چې شَک نَه وي ښکاره شوئ (ج) حضرت ابن عبّاس وفرمايل چې حضور (ﷺ) پر مُخَنّث باندي لَعنَت وکړئ او ګُومِي ښځي چې د نَر چَلُونَه کوي.او وفرمايل دغه دګورُو څخه وَبَاسَئ.او فُلاَنَئ يې وَيَاستَئ. او حضرت عمر فُلاَنَئ وياستئ .

لِوَاطَت کوي دهغه په وجه ګناهګار ګرزي دهغه دليل په دې حديث کي دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مَن وَجَدّتُمُوهُ يَعمَلُ عَمَلَ قَومَ لُوطٍ فَاقتُلُوا اَلفَاعِلَ وَالمَفعُولَ بِهِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب فيمن عَمِلَ عَمَلَ قومَ لُوطٍ ص۲۶۵نمبر۴۴۶۲/ ترمذي شريف.باب ماجاء في حَدِّاللُّوطِيّ ص۲۷۰نمبر۱۴۵۶) ددې حديث څخه معلوم شوچې لِوَاطَت کونکئ او هغه چې لِوَاطَت ورسره شوئ وي هغه دواړه دي قَتل کړي.ځکه چې دُوئي په ګُنَاهِ کَبِيرَه کي مُبتَلاَء دي.ځکه چې دُوئي فَاسِقَان شول او د دُوئي ګواهي نَه قبليږي .

پام لرنه : که چيري خپل ځان په نُورُو نَه وَطِي کوي.صِرف دښځو په شان تَګ او وَلاَړَه نَاستَه کوي نو دهغه ګواهي مقبول ده.ځکه چې هغه په ګُنَاهِ کَبِيرَه کي نَه دئ مُبتَلاَء.

نَائِحَه : چې دغَم او مصيبت په وجه فِطرِي ژړا وکړي نو په هغه سره عَدَالَت نَه ساقطيږي.دهغه ګواهي قبولَ ده دَلتَه د نَائِحَه څخه مراد هغه ښځي دي چې د پښَه په توګه ژَړَا کوي چې هيڅ غَم او مصيبت نَه وي.په کِرَايَه او اُجرَت باندي ژړا کوي.دغه دَوَل نَوحَه خُوَانِي ګناهِ کبيره ده.نوځکه د دُوئي عَدَالَت ساقط دئ.او ګواهي يې نَه قبليږي.د نَوحَه د حُرمَت دليل دادئ. عَن اَبِي سَعِيدِالخُدرِيّ قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَلنّائِحَةَ وَالمُستَمِعَةَ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في النّوح.ج۲ص۱۷۴ نمبر۳۱۲۸/مسلم شريف.باب التشديدفي النياحة ص۳۰۳نمبر۹۳۴) ددې حديث څخه معلوم شوچې نَوحَه ګناهِ کبيره ده نوځکه د نَوحَه کونکو ښځو ګواهي نَه قبليږي ترڅو چې ددې څخه توبَه نَه وي کښلې.

مُغنِيَةٌ : چې کله نَا کله غَزَل ووايي يا شِعر ووايي په دې سره عَدَالَت نَه ساقطيږي. دَلتَه د مُغنِيَه څخه مراد هغه ښځه ده چې غَزَلِي يې خپله پښه ګرزولې وي.او دنَاچ

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل څوک چې تاسو وموندئ چې د قَومِ لُوط عمل کوي نو هغه کونکئ او ګُوم چې وَرسَرَه شوي دي دواړه قَتل کړئ (ب) حضور (ﷺ) لَعنَت وکړئ پر نَوحَه کونکې ښځه باندي او هغه چې دغه اَوري .

او غَزَلُو دعوت او بَلَنَه وركوي.دهغې عَدَالَت ساقطيږي ځکه چې دغه ډَوَل غَزَلِي ګناه کبيره دي .

وجه : (۱) په آيت کې دئ وَمِنَ النّاسِ مَن يَشتَرِي لَهوَ الحَدِيثِ لِيُضِلّ عَن سَبِيلِ اللهِ بِغَيرِ عِلمٍ وَيَتّخِذَهَا هُزُواً أُولْئِکَ لَهُم عَذَابٌ مُهِينٌ (آيت۶سورة لقمان۳۱) ددې آيت په تفسير کې دحضرت عبدالله بن مسعود قول دئ. هُوَ وَاللهِ اَلغِنَاءُ (الف) (سنن للبيهقي.باب الرجُلُ يغنِي فيتخذالغناء صناعة يؤتي عليه ويأتي له ويكون منسوبًا اليه مشهوراً به معروفًا او المرأة ج۱۰ص۳۷۷نمبر۲۱۰۰۳) ددې آيت څخه معلوم شوچې غَزَلِي(بَدَلِي)حرام دي (۲) په حديث کې دئ. عَن عَبدِاللهِ بنِ مَسعُودٍقَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَلغِنَاءُ يُنبِتُ النِّفَاقَ فِي القَلبِ کَمَا يُنبِتُ المَاءُ البَقلَ (ب) (سنن للبيهقي.باب الرجُلُ يغنِي فيتخذالغناء صناعة يؤتي عليه ويأتي له الخ ج۱۰ص۳۷۷نمبر۲۱۰۰۳/ابوداؤدشريف.باب في كراهية الغناء ص... نمبر۴۹۲۷) (۳) په ترمذي شريف کې دئ.عَن جَابِرَبنِ عَبدِاللهِ قَالَ اَخَذَ النّبِيّ(ﷺ) بِيَدِ عَبدِالرّحمٰنَ بنِ عَوفٍ ... وَلٰكِن عَن صَوتَينِ اَحمَقَينِ فَاجِرَينِ صَوتٌ عِندَمُصِيبَةٍ خَمشُ وُجُوهٍ وَشَقّ جُيُوبٍ وَرِنّةُ شَيطَانٍ (ج) (ترمذي شريف.باب ماجاء في الرّخصة في البكاء علٰي المَيّتِ ص۱۹۵نمبر۱۰۰۵) په دې حديث کې د رِنّةُ الشّيطَان څخه مراد غَزَلِي ويل دي.نوځکه دا ګناهِ کبيره ده.څوک چې غَزَلِي خپله پيشه جوړه کړي دهغه ګواهي نَه قبليږي .

مُدمِنُ الشّربِ : چې شَرَاب چيښي او د توبَه کولو اراده يې نَه وي. وهغه ته مُدمِنُ الشّرب يعني په شرابُ کې مَست ويل کيږي.شراب چيښل ګناهِ کبيره ده دليل يې دا آيت دئ. (۱) اِنّمَا الخَمرُ وَالمَيسِرُ وَالاَنصَابُ وَالاَزلاَمُ رِجسٌ مِّن عَمَلِ الشّيطَانِ

حاشيه : (الف) دخلګو څخه بعض هغه دي چې د بَازَيُو شيان اَخلِي چې په نَاپُوهِي کې د الله د لاَرِي څخه خلک ګمراه کړي او دهغه څخه د مَذَاق(پَسخَن)شَئ جوړ کړي.دهغه لپاره دَردنَاکَ عذاب دئ.حضرت عبدالله بن مسعود ددې په تفسير کې فرمايي قَسَم په خدائ چې د لَهوَالحَدِيث څخه مراد غَزَلِي(بَدَلِي)دئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل غَزَلِي په زړه کې نِفَاق پيدا کو.لکه څَه رنګه چې اُوبَه سَبزِيَان (شِينګښتِي)پيدا کوي (ج) حضور (ﷺ) وفرمايل لېکن زَه د دُوُ فَاسِق اَحمَق آوازونو څخه منع کړل شوئ يَم (۱) د مصيبت په وخت کې آواز کول.پر مَخ وَهَل.لَمَن خِيرَل (۲) او شيطاني آوازونه .

فَاجتَنِبُوهُ لَعَلّکُم تُفلِحُونَ (الف) (آيت ۹۰سورة المائدة۵) په دې آيت کې شَرَاب چيښل حرام کړي دي (۲) په حديث کې دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ لاَيَزنِي الزّانِي حِينَ يَزنِي وَهُوَ مُؤمِنٌ وَلاَيَشرِبُ الخَمرَ حِينَ يَشرِبُ وَهُوَ مُؤمِنٌ (ب) (بخاري شريف.باب الزنا وشرب الخمرص۱۰۰۱نمبر۶۷۷۲) ددې حديث څخه معلوم شوچې د شَرَابُ چيښلو په وجه اِنسَان مُؤمِن نَه پاته کيږي.نوځکه دده ګواهي مَقبُولَ نَه ده .

وجه : په اَثَرکي دئ.عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ کُنتُ مَعَ عُمَرَبنِ الخَطّابِ فِي حَجّ ... فَاَمَرَ النّاسَ اَن يُجَالِسُوهُ وَيُوَاكِلُوهُ وَاِن تَابَ فَاَقبِلُوا شَهَادَتَهُ وَحَمَلَهُ وَ اَعطَاهُ مِأ تَي دِرهَمٍ فَاَخبَرَ عُمَرُ اَنّ شَهَادَتَهُ تَسقُطُ بِشُربِ الخَمرِ وَاِنّهُ اِذَا تَابَ حِينَئِذٍ تُقبَلُ شَهَادَتُهُ (ج) (سنن للبيهقي.بَابُ شهَادَةِ اَهلِ الاَشرِبَةِ ج۱۰ص۳۶۲نمبر۲۰۹۴۸) په دې اَثَرکي دئ چې د شَرَاب چيښلو څخه توبَه وکړي نو بيا دده ګواهي قَابِلِ قَبُولَ ده .

لاَمَن يَلعَبُ بِالطّيُورِ : و مَرغَانُ ته خبري او زدَکړه ورکول کوم خاص حرج نَه لري. ددې څخه عَدَالَت نَه ساقطيږي.دلته مراد دادئ چې د مَرغَانُ په ذريعه سره ګټمونه او مېڅُونَه اِرِدِي.نودا د خُمَار يَو قِسم دئ.او مخته په آيت کي تېرشوي دي چې خُمَار حرام دئ (١) يَا اَيّهَا اَلّذِينَ آمَنُوا اِنّمَا الخَمرُ وَالمَيسِرُ وَالاَنصَابُ وَالاَزلاَمُ رِجسٌ مِّن عَمَلِ الشّيطَانِ فَاجتَنِبُوهُ لَعَلّكُم تُفلِحُونَ (د) (آيت ٩٠سورة المائدة٥) په دې آيت کي د مَيسِر او اَزلاَم څخه خُمَار مراد دئ چې حرام دئ (٢) په حديث کي دئ. عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ اَنّ نَبِيّ اللهِ (ﷺ) نَهْي عَنِ الخَمرِ وَالمَيسِرِ وَالكُوبَةِ وَالغَبِيرَاءَ (ه)

حاشيه : (الف) شَرَاب.خُمَار.بُت او دقِسمَت(فَال)غَشَئ ناپاک دي دشيطان عمل دئ.ددې څخه پرهېز کوئ اُمِيد دئ چې تاسو به کامياب شئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل زَانِي د زِنَاء په وخت کي مؤمِن نَه پاتيږي او د شَرَابُ چيښلو پر وخت مُؤمِن نَه پاتيږي (ج) زَه دحضرت عمر سره په حَج کي موجود وَم ... خلګو ته حُکم ورکړئ چې د شَرَابِي سره نَاستَه کوئ.دهغه سره ډُوډَئ خورئ.که هغه توبَه وکړي نو دهغه ګواهي قبلوئ.هغه ته سُوارلَئ ورکړه او هغه ته دُوَه سوه دِرهَم ورکړل.حضرت عمر خَبَر ورکړئ چې د شَرَابُ دچيښلو په وجه دده ګواهي ساقطيږي.او که توبَه وکړي نو هغه وخت دده ګواهي مَقبُولَ ده (د) ائ مؤمنانُ! شَرَاب.خُمَار.بُت او دقِسمَت(فَال)غَشَئ ناپاک دي دشيطان عمل دئ.ددې څخه پرهېز کوئ اُمِيد دئ چې تاسو به کامياب شئ (ه) حضور (ﷺ) منع وکړه د شَرَابُ څخه او د خُمَار څخه او د شَطرَنج څخه او دچينَايِي شراب څخه .

[٢٨٣٢](٢٣) وَلاَ مَن يُغَنّي لِلنّاسِ وَلاَ مَن يَأتِي بَابًا مِنَ الكَبَائِرِ اَلّتِي يَتَعَلّقُ بِهَا الحَدّ وَلاَ مَن يَدخُلُ الحَمّامَ بِغَيرِ اِزَارٍ .

(ابوداؤدشريف.باب ماجاء في السّكرص١٦٢نمبر٣٦٨٥) په دې حديث کې اَلمَيسَر يعني خُمَار حرام کړئ دئ.نوځکه د مَرغَانُ په ذريعه چې کُوم څوک خُمَار کوي دهغه ګواهي نَه قبليږي .

اصول : دا مسئلې پر دې اُصُول متفرّع دي چې دمُسَلسَل ګناهِ کبيره په وجه عَدَالَت ساقط شوئ دئ.او د تېرشوي آيت په رُونَا(رَنَا)کي د غَيرِعَادِل ګواهي نَه قبليږي. نوځکه ددې خلګو ګواهي نَه قبليږي .

لغت : مُخَنّثٌ : دخُنثَي څخه مُشتَق دئ.هغه څوک چې دښځو په شان حرکتونه کوي.نَائِحَةٌ : چې په ژَړَا کي خپله سِينَه او ځيګر ټَکوِي. مُدمِنٌ : په شرابُ کي مَست. اَللّهوُ : بَازَئ .

[٢٨٣٢](٢٣) او نَه دهغه ګواهي چې خلګو ته غَزَلِي وايي.او نَه دهغه چې دَادَوَل کبيره ګناه وکړي چې دهغه سره حَد تعلّق لري.او نَه دهغه چې د لَنګ بغيره حَمّام ته داخليږي .

تشريح : چې دخلګو لپاره بَدَلِي وايي دهغه ګواهي هم نَه قبليږي .

وجه : (١) ځکه چې دا هم په ګناهِ کبيره کي مُبتَلاَء دئ.ددې دليل مخته تېرشوئ دئ (٢) دا حديث هم دئ. سَمِعتُ عَبدَاللهَ يَقُولُ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) يَقُولُ اِنّ الغِنَاءَ يُنبِتُ النِّفَاقَ فِي القَلبِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في الغناء ص٣٢٦نمبر٤٩٢٧) .

چي د داسي کبيره ګناه عَادِي وي چي پر هغه ګناه باندي حَد لازم وي.مثلاً غَلاَ. ډاګه.نو ددې څخه حَد لازميږي.نوځکه د غَلَه او ډاکُوګَانُ ګواهي نَه قبليږي .
وجه : ددې څخه عَدَالَت ساقطيږي.د آيت په رُونَا کي دغَيرِعَادِل ګواهي نَه قبليږي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل غِنَاء په زړه کي نِفَاق پيدا کوي .

[۲۸۳۳](۲۴) وَلاَ مَن يَأ كُلُ الرِّبَوا وَلاَ المُقَامِرُ بِالنّردِ وَالشّطرَنجِ .

لاَيَدخُلُ الحَمّامَ بِغَيرِ اِزَارٍ : که غُسل خَانَه بَند وي او يَوسړئ لَځ بَدَن غُسل وکړي نو ددې څخه عَدَالَت نَه ساقطيږي.لېکن (۱) که چيري دَاډَوَل غُسَل خَانَه وي چي ګَنِ شمېر کسان په يَو وَار پکښي لَمبيږي.لکه په اِنګلينډ کي چي سُوِيمِنګ پُول دئ چي حَمّام ورته وايي.په هغه کي بِالکُل لَځ بَدَن داخل شي نو اُوس خو بغيره سَتر د ټولو په مخکي دَاخِل شو.او د ټولو په مخکي سَتَر خلاسول حرام دئ نوځکه د ګناهِ کبيره په وجه عَدَالَت ساقط شو.دسَتَر دخلاسولو حُرمَت په دې آيت کي دئ. يٰبَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُم عِندَ كُلِّ مَسجِدٍ (الف) (آيت۳۱سورة الاعراف۷) په دې آيت کي دئ چي دلمانځه په وخت کي زِينَت اختياروئ يعني کپړې اَغُوندَئ (۲) په حديث کي دئ ثُمّ اَردَفَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) عَلِيًّا فَاَمَرَهُ اَن يُؤذِّنَ بِبَرَاءَةٍ. قَالَ اَ بُوهُرَيرَةَ فَاَذّنَ مَعَنَا عَلِيّ فِي اَهلِ مِنْي يَومَ النّحرِ.لاَيَحُجّ بَعدَ العَامِ مُشرِكٌ وَلاَيَطُوفُ بِالبَيتِ عُريَانٌ (ب) (بخاري شريف.باب مايسترمن العورة ص۵۳نمبر۳۶۹) په دې حديث کي د لَځ ګرزېدلو څخه منع کړې ده (۳) يَو بَل حديث هم دئ. عَن اَبِي سَعِيدِالخُدرِيّ اَنّهُ قَالَ نَهْي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) عَن اِشتِمَالِ الصّمّاءِ . وَ اَن يَحتَبْي الرّجُلُ فِي ثَوبٍ وَاحِدٍ لَيسَ عَلْي فَرجِهِ مِنهُ شَئٌ (ج) (بخاري شريف.باب مايسترمن العورة ص۵۳نمبر۳۶۷) په دې حديث کې هم دسَتَر د خلاسولو څخه منع کړې ده.نوځکه چي دعام خلګوپه مخکي سَتَر خلاسوي دهغه په وجه عَدَالَت ساقطيږي.او دده ګواهي نَه قبليږي .
[۲۸۳۳](۲۴) اونَه دهغه ګواهي چي سُود خوري اونَه هغه چي نَرد اوشَطرَنج کوي .

حاشيه : (الف) ائ اَولادِ اَدَم د لمانځه پر وخت زِينَت کوئ (ب) حضور (ﷺ) حضرت علي و خپل شَاته کښېنَاوَئ او ده ته حُکم وکړئ چي د بَرَائَت اعلان وکړي.حضرت ابوهريرة فرمايي چي حضرت علي زمونږ سره په اَهلِ مِنْي کي د ذِي الحَجّه په لسم تاريخ اعلان کاوئ چي د نَن وروسته دي هيڅ يومُشرِک حَج نَه کوئ.او نَه دي لَځ بَدَن دبَيتُ الله طواف کوي (ج) حضور (ﷺ) منع وکړه چي پَټُو پر ځان پر لپېچلئ واچوي.او يَوڅوک دَاډَوَل په کپړه کي ځان وَپېچِي چي دده پر شَرَمګاه باندي هيڅ شَئ نَه وي .
تشريح : کُوم څوک چي سُود خوري او په هغه کي مشهوره وي هغه فَاسِق شوئ دئ.نوځکه دهغه ګواهي نَه قبليږي .
وجه : په آيت کي دئ چي سُود خورل حرام دئ. اَلّذِينَ يَأ كُلُونَ الرّبَا لاَيَقُومُونَ اِلاّ كَمَا يَقُومُ الّذِي يَتَخَبّطُهُ الشّيطَانُ مِنَ المَسِّ ذَالِكَ بِاَنّهُم قَالُوا اِنّمَا البَيعُ مِثلُ الرّبَوا وَ اَحَلّ اللهُ

البَيعَ وَحَرّمَ الرِّبَوا (الف) (آيت٢٧٥سورة البقرة٢) په دې آيت کې سُود حرام کړئ دئ.نوځکه چې کُوم څوک سُود خوري دهغه ګواهي نَه قبلیږي .
وَلاَ المَقَامِرُ بِالنّردِ : نَرد يومخصوص بَازَئ دي.که په دې سره خُمَار وکړي نو حرام دئ.او دخُمَار کولو په وجه عَدَالَت ساقطیږي.ددې دليل مخته تېرشوئ دئ. اِنّمَا الخَمرُ وَالمَيسِرُ وَالاَنصَابُ وَالاَزلاَمُ رِجسٌ مِّن عَمَلِ الشّيطَانِ فَاجتَنِبُوهُ لَعَلّكُم تُفلِحُونَ (آيت ٩٠سورة المائدة٥) او که دخُمَار بغيره د نَرد بازئ وکړي هم جواز نَه لري.
وجه : په حديث کي دئ. عَن سُلَيمَانَ بِنِ بُرِيدَةَ عَن اَبِيهِ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ مَن لَعِبَ بِالنّردشِير فَكَاَنّمَا صَبَغَ يَدَهُ فِي لَحمِ خِنزِيرٍ وَدَمِهِ (ب) (مسلم شريف.باب تحريم اللّعب بالنّردشير ج٢ص٢٤٠نمبر٢٢٦٠/ابوداؤدشريف.باب في النهي عن اللّعب بالنّردص٣٢٧نمبر٤٩٣٩) په دې حديث کي دئ چې څوک دنَردشيربَازَئ وکړي ګُويَا خپل لاَس يې دخِنزِيرپه غُوَښُو او وِينُو و رنګاوئ.نوځکه چې څوک دغه بَازَئ کوي دهغه ګواهي نَه قبلیږي .
وَالشّطرَنجُ : دا هم يَوقِسم بَازَئ دي که چيري په دي کي خُمَار نَه کوي او دِينِي فَرَائِض او لمنځونه نَه ځيني پاتيږي نو بعضُ خلګو دغه مُبَاح کړئ دئ .
وجه : په اَثَرکي دئ. اَنبَأ الشّافَعِيّ قَالَ كَانَ مُحَمّدُ بِنِ سِيرِينَ وَ هِشَامُ بِنِ عُروَةَ

حاشيه : (الف) کُوم خلګ چې سُود خوري هغه به په قيامت نَه شي وَلاَړېدلائي مګر دَاوَل لکه شيطان چې مَخبُوطُ الحَوَاس کړئ وي.دا ځکه چې دُوئي وويل بَيعَ خو صِرف د سُود په شان ده.حالانکه الله تعالٰي بيع حلال کړې ده او سُود يې حرام کړئ دئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل څوک چې نَردشير بَازَئ وکړي نو ګواکه خپل لاَس د خِنزِير په غُوَښُو او دهغه په وِينُو کي رنګوي .

[٢٨٣٤](٢٥) وَلاَ مَن يَفعَلُ اَلاَفعَالَ المُستَخِفّةَ كَالبَولِ عَلْي الطّرِيقِ وَالاَكلِ عَلْي الطّرِيقِ .

يَلعَبَانِ بِالشّطرَنجِ اِستِدبَاراً (الف) (سنن للبيهقي.باب الاختلاف في اللّعب بالشطرنج ج١٠ ص٣٥٧نمبر٢٠٩٢٣) ددې اَثَرخخه معلوم شوچي شَطرَنج کول جائز دئ.ځکه چې په دې بَازَيُو کي دِمَاغ تَازَه کيږي خو په دې شرط چې لمونځ او دِينِي فَرَائِض پاته نَه شي او خُمَار نَه وي پکښې .
او که چيري په دې بَازَيُو کي دِير زيات مَشغُول وي او دِينِي فَرَائِض ځيني پاتيږي نو بيايې عَدَالَت ساقطيږي او ګواهي يې نَه قبلیږي .
وجه : په اَثَرکي و دې ته اِشَارَه شوې ده. عَن عَلِيٍّ اَنّهُ يَقُولُ اَلشّطرَنجُ هُوَ مَيسَرُ الاَعَاجِمِ (ب) په يوه بَل رِوَايَت کي دئ. عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّهُ سُئِلَ عَنِ الشّطرَنجِ فَقَالَ هُوَ شَرّ مِّنَ النّردِ (ج) (سنن للبيهقي.باب الاختلاف في اللّعب بالشطرنج ج١٠ص٣٥٨نمبر٢٠٩٢٨ / ٢٠٩٣٤) ددې اَثَارُ څخه معلوم شوچي شَطرَنج کول جواز نَه لري.نو بايد داسي وويل شي چې که چيري ددې په وجه دِينِي فَرَائِض پاته کيږي نو بيا ددې بَازَيُو په وجه عَدَالَت ساقطيږي او د فَاسِق والي په وجه ګواهي نَه قبلیږي .

[۲۸۳۴](۲۵) او نَه دهغه ګواهي چي حقير کارونه کوي لکه په لاَرَه کي بَولِي کول او په لاَره کي خُوَرَاک کول .
تشريح : کُوم څوک چي دحَقِيرُ کارو عَادَت لري هغه اِنسَان بيا په دُروَاغُ ويلو کي هم عَار او پيغُور نَه محسوسوي.نوځکه د دَاوَل اِنسَان ګواهي نَه قبليږي .
وجه : په حديث کي دئ.,,ظَنِين,, يعني چي په دِين کي مَتهَم وي دهغه سړي ګواهي نَه قبليږي. عَن عَائِشَةَ قَالَت قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لاَ تَجُوزُ شَهَادَةُ خَائِنٍ

حاشيه : (الف) حضرت امامِ شافعي() مورِ ته خبر راکړئ دئ چي مُحَمّدبن سيرين او هشام بن عُروَه کله نَاکله شطرنج کاوئ (ب) حضرت علي وفرمايل شطرنج د عجميانُ خُمَار دئ (ج) دحضرت ابن عمر څخه د شطرنج په اړه پُوښتَنَه وشوه نو وفرمايل هغه تر نَرَد هم زيات بَد دئ .

[۲۸۳۵](۲۶) وَلاَ تُقبَلُ شَهَادَةُ مَن يُظهِرُ سَبّ السّلَفِ .

وَلاَخَائِنَةٍ وَلاَمَجلُودٌ حَدّاً وَلاَ مَجلُودَةٍ وَلاَذِي غِمرٍ لاَحِنَةٍ وَلاَمُجَرّبُ شَهَادَةٍ وَلاَالقَانِعُ اَهلِ البَيتِ لَهُم وَلاَظَنِينٌ فِي وَلاَءٍ وَلاَقَرَابَةٍ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء فيمن لاتجوزشهادته ج۲ص۵۵نمبر۲۲۹۸) په دې حديث کي دئ وَلاَظَنِينٌ يعني دهغه چا ګواهي نَه قبليږي چي په دِين کي مَتهَم وي.او ددې تفسير په حديث کي دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مُنَادِيًا فِي السّوقِ اَنّهُ لاَتَجُوزُ شَهَادَةُ خَصمٍ وَلاَظَنِينٍ. قِيلَ وَمَا الظّنِينُ؟ قَالَ اَلمُتهَمُ فِي دِينِهِ. په بَل رِوَايَت کي دئ. وَلاَمُرِيبٍ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب لايقبل متهم ولاجار الٰي نفسه ولاظنين ج۸ص۳۲۰/ ۳۲۲نمبر۱۵۳۶۵/ ۱۵۳۷۱) په دې حديث کي دئ چي کُوم څوک په دِين کي مَتهَم وي دهغه ګواهي نَه قبليږي .
پام لرنه : په کُومَه معاشره کي چي په لاَرَه کي لَږ دِير خُوَرَاک کول مَعيُوب نَه وي نو په هغونه اَندَازَه خوړلو سره عَدَالَت نَه ساقطيږي .
[۲۸۳۵](۲۶) دهغه سړي ګواهي نَه قبليږي چي وسَلَفُ ته بنکنزا کوي .
تشريح :/ وجه : (۱) څوک چي و سَلَفِ صَالِحِينُ ته بَد رَد وَينَا کوي يا بنکنزاوي کوي هغه فَاسِق دئ نوځکه دهغه ګواهي نَه قبليږي (۲) څوک چي دسَلَفُ احترام نَه کوي هغه عُمُومًا په دُروَاغُ ويلو کي عَار نَه محسوسوي نوپه دې وجه هم دده ګواهي نَه قبليږي (۳) په حديث کي دئ. عَن عَبدِاللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) سِبَابُ المُسلِمُ فُسُوقٌ وَقِتَالُهُ کُفرٌ (ج) (بخاري شريف.باب ماينهٰي من السّباب واللّعن ص۸۹۳

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل د خِيَانَت کونکي نَر او خِيَانَت کونکي بنځي ګواهي قبول نَه ده.او نَه چي حَد پر لګېدلئ وي هغه نَر او نَه چي حَد پر لګېدئ وي هغه بنځه او نَه چي د وُرُور سره حَسَد ساتِي او نَه هغه چي د شَهَادَت مَشق يې کړئ وي او دکُور د نُورګر او نَه چي په دِين کي مَتهَم وي او نَه د قَرِيب (ب) حضور و بَازَار ته يَو اِعلاَن کونکئ وَاستَاوَئ چي دخَصَم ګواهي مقبول نَه ده او د ظَنِين.پُوښتَنَه وشوه ظَنِين څوک دئ؟ وفرمايل چي په دِين کي مَتهَم وي.په بَل روايت کي دئ. نَه د مُرِيب يعني چي په دِيندَارِي کي شَک وي (ج) حضور (ﷺ) وفرمايل ومسلمان ته بنکنزا کول فِسق دئ او دهغه سره قِتَال کول کُفر دئ .

[۲۸۳۶](۲۷) وَتُقبَلُ شَهَادَةُ اَهلِ الهَوَاءِ اِلاّ الخِطَابِيّةِ .

نمبر۶۰۴۴/مسلم شريف.باب بيان قول النّبيّ (ﷺ) سباب المسلم فسوق وقتاله كفرٌ ص۵۸نمبر۶۴ كتاب الايمان) په دې حديث کي دئ چې مسلمان ته ښکنزا کول فِسق دئ.نوځکه څوک چې و سَلَفِ صَالِحِين ته ښکنزا کوي هغه په طريقه اَولْي سره فِسق دئ لِهٰذَا دهغه ګواهي نَه قبليږي .

[۲۸۳۶](۲۷) او قبليږي به د اَهلِ هَوَا ګواهي مَاسِوَايِ د خِطَابِيَه .

تشريح : د اَهلِ هَوَا څخه هغه ټول جماعتونه مراد دي چې د اَهلِ سُنّت وَالجَمَاعة څخه علاوه دي.لکه شيعه.رَافِضِي.او دغه رنګه نور.چې هغه مسلمانان وي که څه هم دهغوئي عقيده د اَهلِ سُنّت وَالجَمَاعَة څخه علاوه وي.نود هغوئي ګواهي به د اَهلِ سُنّت وَالجَمَاعة په خلاف کي قبليږي .

وجه : عَن عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَلمُسلِمُونَ عَدُولٌ بَعضُهُم عَلْي بَعضٍ اِلاّ مَحدُوداً فِي فَرِيّةٍ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۷۴ من قال لاتجوز شهادته اذا تاب ج۴ص۳۳۰نمبر۲۰۶۵۰/دارقطني.كتاب عمرالْي ابي موسْي اشعري ج۴ص۱۳۲ نمبر۴۴۲۵) په دې حديث کي دئ چې مسلمانان ټوله عَادِلاَن دي نو که څه هم لَږ ډېر اِختِلاَف موجود وي خو بيا هم د رِشتِيَا ويلو کوشش کوي.لِهٰذَا د دُوئي ګواهي به قبليږي .

فائده : (۱) امامِ شافعي (ؒ) فرمايي چې د دُوئي ګواهي د اَهلِ سُنّت وَالجَمَاعَة په خِلاَف کي نَه قبليږي.دئ فرمايي چې د اَهلِ سُنّت وَالجَمَاعَة سره به حَسَد وي نو دهغوئي په خِلاَف کي دُرُوغجَنَه ګواهي ورکولائي شي لِهٰذَا د دُوئي ګواهي نَه قبليږي (۲) په حديث کي دئ چې ديوه سړي سره حَسَد وي نو دهغه ګواهي نَه قبليږي. عَن عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) رَدّشَهَادَةَ

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل مسلمان بعض پر بعضُ باندي عَادِلاَن دي مګر هغه چې د زِنَاء په تُهمَت کي حَد ورته لګېدلئ وي .

[۲۸۳۷](۲۸) وَتُقبَلُ شَهَادَةُ اَهلِ الذِّمّةِ بَعضُهُم عَلْي بَعضٍ وَاِن اِختَلَفَ مِلَلُهُم .

الخَائِنِ وَالخَائِنَةِ وَذِي الغِمرِ عَلْي اَخِيهِ ... وَقَالَ اَبُودَاوُدُ. اَلغِمرُ اَلحَقدُ وَالشّحنَاءُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب من تُرَدّ شهادته ص۱۵۱ نمبر۳۶۰۰/ترمذي شريف.باب ماجاء فيمن لاتجوز شهادته ص۵۵نمبر۲۲۹۸) په دې حديث کي دئ چې دغِمر والا يعني د کِينې والا ګواهي نَه قبليږي.او د نورو فرقو خلګ خو د اَهلِ سُنّت وَالجَمَاعة دخلګو سره حَسَد لري نو ځکه دهغوئي ګواهي نَه قبليږي .

اِلاّ الخِطَابِيّةِ: دا د رَوَافِضُ يوه غَالِي فِرقَه ده.دا فِرقَه واَبُوخَطّاب محمّدبن وَهَب الأَجدَع ته منسوب ډَلَه ده.د دُوئي عقيده داده چې د خپل مَذهَب څخه علاوه پر نُورو مَذهَبُو باندي دُروَاغ ويل جائز دي بلکه د مَذهَب دپَټَوُلُو يا دخوندي ساتلو لپاره دُروَاغ ويل وَاجِب

دي.نو چي د دُروَاغُ ويلو شُبهَه راغله لِهْذَا د دُوئي گواهي د نورو مَذهَبُو په خِلاَف نَه قبلېږي .
اَهلُ الهَوَاء : د خواهشات والا.دلته مراد د اَهلِ سُنّت وَالجَمَاعة څخه علاوه ډَلِي او فِرقې دي .
[۲۸۳۷](۲۸) د ذِمّيَانُ گواهي د بَعضُ د بَعضُ خلاف جائز ده که څه هم دُوئي په خپل مينځ کي سره مُختَلِف وي .
تشريح : يهودي يا نصراني چي په دَارُالإسلاَم کي ټيکس ورکوي او وَسِيږي هغوئي ته ذِمّيِ وايي دُوئي که يَو دبَل خِلاَف گواهي ورکړي نو جائز ده .
وجه : (۱) چي نَصرَانِي د نَصرَانِي خلاف گواهي ورکړي نو دواړه د يَوَه مَذهَب دي لِهْذَا جائز ده.او چي نَصرَانِي ديهودي خلاف گواهي ورکړي بيا هم جائز ده ځکه

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) رَدّ کړه د خِيَانَت کونکي نَر او خِيَانَت کونکي ښځي او چي د وُرُور سره حَسَد ساتي دهغه گواهي ... حضرت امام ابوداؤد ؒ وفرمايل د غِمر معنْي ده کِينَه يعني حَسَد .

[۲۸۳۸](۲۹) وَلاَتُقبَلُ شَهَادَةُ الحَربِيِّ عَلْي الذِّمّي .

چي دواړه ذِمّيَان دي.او گواکه په دې لِحَاظ چي دواړه غَيرمُسلِم دي نو دواړه ديَوَه مَذهَب شول (۲) په حديث کي دئ. عَن جَابِرَ بِنِ عَبدِاللهِ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) اَجَازَ شَهَادَةَ اَهلِ الكِتَابِ بَعضُهُم عَلْي بَعضٍ (الف) (ابن ماجه شريف.باب شهادة اهل الكتاب بعضهم علْي ص۳۴۰نمبر۲۳۷۴/مصنّف عبدالرّزاق.باب شهادة اَهلِ المِلَلِ بعضهم علْي بعض وشهادة المسلم عليهم ج۸ص۳۵۷نمبر۱۵۵۲۷) ددې حديث څخه معلوم شوچي هغه اَهلِ كِتَاب گُوم چي ذِمّي وي د بعضُ گواهي د بعضُ خلاف جائز ده .
فائده : امامِ شافعي ؒ او امامِ مَالِک ؒ فرمايي چي په ذِمّي کي هم د يوه مَذهَب د خلگو گواهي د بَل مَذهَب دخلگو په خلاف نَه قبلېږي .
وجه : (۱) مخته تېرشوي دي چي د گُوم چا ترمينځ چي حَسَد.کِينَه وي دهغوئي گواهي نَه قبلېږي.او ديهود و نَصَارْي تر مينځ دَائِمِي حَسَدموجود دئ نوځکه د يهودي گواهي د نَصرَانِي په خلاف او دنَصرَانِي گواهي د يهودي په خِلاَف نَه قبلېږي.د دُوئي تر مينځ د دُښمَنَئ دليل دا آيت دئ. فَاَغرَينَا بَينَهُمُ العَدَاوَةَ وَالبَغضَاءَ اِلْي يَومِ القِيَامَةِ (ب) (آيت۱۴سورة المائدة۵) په دې آيت کي دئ چي د دُوئي ترمينځ مورِ عَدَاوَت او دُښمَنِي اَچَوَلې ده.نوځکه د يَوَه مِلّت گواهي د بَل مِلّت لپاره مَقبُولَ نَه ده (۲) په حديث کي دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لاَيَتَوَارَثُ اَهلُ مِلّتَينِ شَئٌ وَلاَتَجُوزُ شَهَادَةُ مِلّةٍ عَلْي مِلّةِ مُحَمّدٍ فَاِنّهَا عَلْي غَيرِهِم (ج) (سنن للبيهقي.باب من رَدّشهادة اهل الذّمة ج۱۰ص۲۷۴نمبر۲۰۶۱۶ /مصنّف عبدالرّزاق.باب شهادة اَهلِ المِلَلِ بعضهم علْي بعضٍ وشهادة المسلم عليهم ج۸ص۳۵۶نمبر۱۵۵۲۵) ددې حديث څخه معلوم شوچي د يوه مَذهَب والا دي د بَل مَذهَب په خِلاَف گواهي نَه ورکوي .
[۲۸۳۸](۲۹) د حَربِي گواهي به د ذِمّي په خِلاَف نَه قبلېږي .

حاشيه : (الف) حضور جواز وركړئ د بعضُ اَهلِ كِتَاب گواهي پر بعضُ باندي (ب) موږ د دُوئي ترمينځ تر قيامت پوري دُښمَنِي او بُغض اَچَوَلئ دئ (ج) د دُو مِلّتُو والا يَود بَل هيڅ وَارِث نَه شي كېدلائي.او ديَوَه مِلّت گواهي پر بَل مِلّت جواز نَه لري مَاسِوَائ د مِلّتِ مُحَمّد ځكه چې هغه ددې څخه پر غَير باندي هم جائز ده .

[۲۸۳۹](۳۰) وَ اِن كَانَتِ الحَسَنَاتُ اَغلَبَ مِنَ السّيِّئَاتِ وَالرّجُلُ مِمّن يَجتَنِبُ الكَبَائِرَ قُبِلَت شَهَادَتُهُ وَ اِن اَلَمّ بِمَعصِيَةٍ .

تشريح :/وجه : (۱) د ذِمّي څخه مرادمُستَأمِن دئ يعني هغه حَربِي چې اَمَن طلب كړي او دَارُالإسلاَم ته راشي.يا دُويَم صورت دادئ چې ذِمّي د خپل يَو كار لپاره دَالحَرب ته وَلاَړ شي او هلته يَوَه خبره راغله اُوس حَربِي د ذِمّي خلاف گواهي وركوي نو دا گواهي نَه قبلېږي.ځكه چې حَربِي په درجه كي گم دئ او ذِمّي په دَارُالإسلاَم كي د وَسيلَه پر وجه اَعلْي دئ.نوځكه د حَربِي گواهي د ذِمّي خلاف نَه قبلېږي (۲) مخته حديث تېرشوئ دئ چې د يَوَه مِلّت گواهي د بَل مِلّت په خِلاَف نَه قبلېږي.نوځكه د ذِمّي او حَربِي په باب به پر دغه باندي عَمَل كېږي (۳) په اَثَر كي دئ.كَانَ شُرَيحًا يُجِيزُ شَهَادَةَ كُلِّ مِلّتِهَا وَلاَيُجِيزُ شَهَادَةَ اليَهُودِيِّ عَلْي النّصرَانِيِّ وَلاَ النّصرَانِيِّ عَلْي اليَهُودِيِّ اِلاّ المُسلِمِينَ فَاِنّهُ كَانَ يُجِيزُ شَهَادَتُهُم عَلْي المِلَلِ كُلِّهَا (الف) (سنن للبيهقي.باب من اجاز شهادة اهل الذِّمّة عَلْي الوصية فِي السّفرعِندعَدَمِ مَن شهدعليهامِنَ المسلمين ج۱۰ص۲۷۹نمبر۲۰۶۲۸/مصنّف عبدالرّزاق.باب شهادة اهل الملل بعضهم علْي بعض وشهادة المسلم عليهم ج۸ص۳۵۷نمبر۱۵۵۲۸) په دې اَثَركي دئ چې د يهودي گواهي د نَصرانِي خلاف او د نَصرَانِي گواهي د يهودي خلاف قَابِلِ قَبُولَ نَه ده.چې ددې دُو گواهي نَه قبلېږي نو قِيَاس پر دغه د حَربِي گواهي به هم د ذِمّي خلاف نَه قبلېږي .

[۲۸۳۹](۳۰) كه بنَه پر بَدُ باندي غَالِب وي او سړي د گېږَه گناهونوځخه پرهېز كاوئ نو دهغه گواهي به قبلېږي كه څَه هم صَغِيرَه گناهونه كوي .

تشريح : د يَوچابنَه اَعمَال غَالِب وي اوبَد اَعمَال يې لَږ وي او دگېږَه گناهونو څخه ځان سَاتِي نو كه څَه هم صَغِيرَه گناهونه كوي خو بيا هم دهغه گواهي به قبلېږي .

حاشيه : (الف) حضرت شريح د يوه مِلّت گواهي پر بَل مِلّت جائز گڼل او د يهودي گواهي يې پر نَصرَانِي او د نَصرَانِي گواهي يې پر يَهُودِي جائز نَه گڼل مگر د مسلمان گواهي.نو ده دمسلمان گواهي پر تولو مَذَاهِبُ باندي جائز گڼل .

وجه : د تولو صَغِيرَه گناهونو څخه پرهېز كول خو د اِنسَان لپاره ډېر مُشكِل كار دئ نو كه چيري دا قَيد ولگوي چې بِالكُل صَغِيرَه گناه نَه كوي نو بيا خو به د گواهَئ لپاره سَړئ ودرېږي.نوځكه دا ويل كېدلائي شي چې بنَه اَعمَال يې غَالِب وي او دگېږَه گناهونو څخه پرهېز كوي.د گواهئ وركولو لپاره بَس دغونه اَندَازَه كِفَايَت كوي.بلكه كه چيري گېږَه گناه وكړه لېكن وروسته دهغې څخه توبَه وكړه بيا هم به گواهي قبلېږي .

وجه : په اَثَر کي دئ. وَجَلَدَ عُمَرُ اَبَابَكرَةَ وَشِبلَ بنِ مَعبَدَ وَنَافِعًا بِقَذفِ المُغِيرَةِ ثُمّ اِستَتَابَهُم وَقَالَ مَن تَابَ قُبِلَت شَهَادَتُهُ ... وَقَالَ الشّعبِيّ وَقَتَادَةُ اِذَا اَكذَبَ نَفسَهُ جُلِّدَ وَقُبِلَت شَهَادَتُهُ (الف) (بخاري شريف.باب شهادة القاذف والسّارق والزّانِي.ص۳۶۱ نمبر۲۶۴۸) په دې اَثَر کي دئ چې کَبِيرَه ګناه وکړي او بيا توبَه وکړي نو دهغه ګواهي مَقبُولَ ده .

او دا چې په ظَاهِر بنَه اَعمَال کوي نو ګواهي يې مَقبُولَ ده دليل يې دا اَثَر دئ. سَمِعتُ عُمَرَ بنِ الخَطّابِ يَقُولُ اِنّ اُنَاسًا كَا نُوا يُوخَذُونَ بِالوَحيِ فِي عَهدِ رَسُولِ اللهِ(ﷺ) وَ اِنّ الوَحيَ قَد اِنقَطَعَ وَاِنّمَا نَأخُذُكُمُ الآنَ بِمَا ظَهَرَ لَنَا مِن اَعمَالِكُم. فَمَن اَظهَرَ لَنَا خَيراً اَمَنّاهُ وَقَرّبنَاهُ وَلَيسَ اِلَينَا مِن سَرِيرَتِهِ شَئٌ. اَللهُ يُحَاسِبُ فِي سَرِيرَتِهِ وَمَن اَظهَرَ لَنَا سُوءً لَم نَأمَنهُ وَلَم نُصَدّقهُ. وَ اِن قَالَ اِنّ سَرِيرَتَهُ حَسَنَةٌ (ب) (بخاري شريف.باب الشهداء والعدول.ص۳۵۰نمبر۲۶۴۱) په دې اَثَرکي حضرت عمر فرمايلي دي

حاشيه : (الف) حضرت عمر کُورِي وَوَهَل ابوبکره او شِبل بن مَعبَد او نَافِع. پر حضرت مُغِيرَه باندي د تُهمَت لګولو په وجه.بيايې و دُوئي ته د توبَه کولو حکم وکړئ او وفرمايل څوک چې توبَه وکړي دهغه ګواهي به قبليږي ... حضرت شعبي او قتاده وفرمايل که چيرې خپل ځان دُرُوغجَن کړي نو حَد به پر جاري کيږي او دده ګواهي به قَابِلِ قَبُولَ وي (ب) حضرت عمر فرمايي چې دحضور (ﷺ) په زمانه کي خلګ د وَحِي په ذريعه نِيوَل کېدل.او وَحِي مُنقَطِع شوې.او اُوس به مورِ تاسو د ظاهِرِي اَعمَالُ په ذريعه تِينګوُ.که د تاسو څخه څوک دخَير اِظهَار وکړي نو هغه ته به اَمَن ورکوُ.او هغه به نِژدې کوُ.او د اَندَرُونِي معاملاتُ ذِمّه دَارَه زه نَه يَم.د اَندَرُونِي معاملاتُ حساب به الله تعالٰي کوي.او څوک چې زمورِ په مخکي د بَدعَمَل اظهار کوي مورِ هغه ته اَمَن نَه ورکوُ.او نَه دهغه تَصدِيق کوُ. که څَه هم دده اَندَرُونِي معامله بنَه وي .

[۲۸۴۰](۳۱) وَتُقبَلُ شَهَادَةُ الاَقلَفِ وَالخَصِيّ وَ وَلَدِ الزّنَا وَشَهَادَةُ الخُنثٰي جَائِزَةٌ .

چې که په بنکاره بنَه اَعمَال لِيدَل کېدل نو پر هغه به اِعتِمَاد کوُ او هغه به قَرِيب کوُ. ددې څخه معلوم شوچې دهغه ګواهي مَقبُولَ ده .

لغت : اَلَمّ بِمَعصِيَةٍ : که ګناه وکړي.ددې څخه مراد د صَغِيرَه ګناه اِرتِکَاب دئ .

[۲۸۴۰](۳۱) او قبليږي د نَاسُنّتَه ګواهي او دخَصِي ګواهي او د وَلَدُالزّنَاء ګواهي او دخُنثٰي ګواهي هم جائز ده .

تشريح : د کُوم سړي چې خَتنَه نَه وي شوې يعني سُنّت شوئ نَه وي دهغه ګواهي مَقبُولَ ده .

وجه : حُکه چې د خَتنَه نه کولو په وجه عَدَالَت نَه دئ سَاقِط شوئ او نَه فَاسِق شوئ دئ.نوحُکه دده ګواهي به مَقبُولَ وي .

خَصِيٌ : د کُوم چاچې خُوَتِي اِيستَلِي وي هغه ته خَصِي وايي.دهغه ګواهي مَقبُولَ ده .

وجه : (۱) د خُوتُو د اِيستَلُو په وجه دده عَدَالَت نَه دئ سَاقِط شوئ نوحُکه دده ګواهي مَقبُولَ ده (۲) په اَثَرکي دئ. عَن اِبنِ سِيرِينَ اَنّ عُمَرَ اَجَازَ شَهَادَةَ عَلقَمَةَ اَلخَصِيّ عَلٰي اِبنِ مَظعُونٍ (الف) (ابن ماجه شريف.۵۶۳ في شهادة الخصيّ.ج۵ص۹ نمبر۲۳۲۰۹/سنن للبيهقي.باب من

وُجِدَمنهُ ريحُ شرابٍ او لقي سكران.ج۸ص۵۴۹نمبر۱۷۵۱۷) په دي اَثَرکي دئ چي عَلقَمَه چي خَصِي وُ دهغه د ګواهئ په ذريعه يې حَدِّشُرب جاري کړئ ددې څخه معلوم شوچي دخَصِي ګواهي مَقبُولَ ده .

وجه : (۱) ګناه خو دده دمُور او پُلاَر ده دغه هَلَک خو هيڅ ذَوَل ګناه نَه ده کړې.نوځکه دده عَدَالَت نَه ساقطيږي او دده ګواهي به مَقبُولَ وي (۲) اَنَسُ بِنِ مَالِکٍ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ اَلمُؤمِنُونَ شُهَدَاءُ اللهِ فِي الاَرضِ وَ رَوَينَا عَن عَطَاءَ وَ

حاشيه : (الف) حضرت عمر پر ابن مَظعون باندي د عَلقَمَه خَصِي ګواهي جائز کړه .

[۲۸۴۱](۳۲) وَ اِذَا وَافَقَتِ الشّهَادَةُ الدّعوْي قُبِلَت وَ اِن خَالَفَتهَا لَم تُقبَل .

الشّعَبِيّ اَنّهُمَا قَالاَ: تَجُوزُ شَهَادَةُ وَلَدِ الزّنَا (الف) (سنن للبيهقي.باب زهادة ولدالزنا ج۱۰ص۴۲۱نمبر۲۱۱۸) ددې اَثَر څخه معلوم شوچي د وَلَدُ الزّنَا ګواهي مَقبُولَ ده .

فائده : امامِ مالِک (ؒ) فرمايي چي د وَلَدُالزّنَا ګواهي مَقبُولَ نَه ده .

جه : دده دليل دا حديث دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) وَلَدُالزّنَا شَرّ الثّلاَثَةِ (ب) (مستدرک للحاکم.کتاب العِتق ج۲ص۲۳۳نمبر۲۸۵۳) په دې حديث کې و وَلَدُالزّنَا ته شَرِير يعني شَرَارَتِي ويل شوي دي نوځکه دده ګواهي نَه قبليږي .

شَهَادَةُ الخُنثٰي جَائِزَةٌ : چي نَه ښځه وي او نَه نَر وي بلکه د دواړو تر مينځ وي دهغه ګواهي مَقبُول ده .

جه : چي د نَر ګواهي مَقبُولَ ده او دښځي ګواهي مَقبُولَ ده نو چي ددې دُوَاړُو تر مينځ وي دهغه ګواهي به هم مَقبُولَ وي.البَتَه دا شُبهَه موجود ده چي دا دي ښځه وي نو ځکه په حُدُود او قِصَاص کي چي دده ګواهي قبول نَه کړي نو ښَه خبره ده .

[۲۸۴۱](۳۲) که شَهَادَت د دَعوې سره موافق وي نو قبلوي به او که ددې څخه مخالِف وي نَه به قبلوي .

تشريح : شَهَادَت د دَعوې د تَائِيد لپاره وي نو چي کُومَه دعوه د ګواهئ په ذريعه وي که چيري دهغې تَائِيد وي نو بيا خو به ګواهي قَابِلِ قَبُول وي که نَه نو رَدّوِي به. مثلاً مُدّعِي وايي چي زُومَاغُوَا يې غَلاَ کړې ده اوګواه ګواهي ورکوي چي دده ګامښنه غَلاَ شوې ده.نو اُوس دَعوَه يوه ده او د ګواه ګواهي بَلَه ده.نوځکه د ګواه ګواهي به رَدّوِي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل مؤمِن د الله ګواه دئ په مځکه کي.حضرت عطاء او حضرت شعبي وفرمايل چي د وَلَدُالزّنَا ګواهي جائز ده (ب) وَلَدُ الزّنَا د دُرُو بَد تَرِين دئ .

[۲۸۴۲](۳۳) وَيُعتَبَرُ اِتِّفَاقُ الشّاهِدَينِ فِي اللّفظِ وَالمَعنْي عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي فَاِن شَهِدَ اَحَدُهُمَا بِاَلفٍ وَالآخَرُ بِاَلفَينِ لَم تُقبَل شَهَادَتُهُمَا عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي تُقبَلُ بِاَلفٍ .

[۲۸۴۲](۳۳) اِعتِبَار به کيږي د دواړو ګواهانُ د اِتِّفَاق په لفظ او معنْي کي د امام ابوحنيفه ؒ په نېز.نو که چيري يَو ګواه ګواهي ورکړي د زَر او دُويَم ګواه د دُوُ زَرُو نو د دواړو ګواهي نَه قبليږي د امام ابوحنيفه ؒ په نېز.او صاحبينُ وفرمايل چي پر زَر باندي به قبليږي .

تشريح : يوه سړي دَعوَه وکړه چي زُومَا پر فُلاَنِي باندي دُوَه زَرَه دِرهَم دي.يوه ګواه ګواهي ورکړه چي زَر دِرهَم دي او دُويَم ګواه ګواهي ورکړه چي دُوَه زَرَه دِرهَم دي.نو د امام ابوحنيفه ؒ په نېز به د زَر دِرهَم فيصله هم نَه کيږي.بلکه د دواړو ګواهي به رَدّ شي .

وجه : زَر که څَه هم په دُوَه زَرَه کي داخِل دي نو دُويَم ګواه چي د دُوُ زَرُو ګواهي ورکړي ده. هغه مَعنًي ګواکه د زَر ګواهي هم ورکړي ده.نوځکه پر زَر باندي دُوَه ګواهان شول.لېکن لَفظًا زَر او دُوَه زَرَه بېل بېل لفظونه دي نو په ظاهري لفظو کي چي د ګواهانُ اِتِّفَاق نَه راغلئ لِهْذَا دواړه ګواهان به رَدّ شي.ځکه چي د امام ابوحنيفه ؒ اُصُول دادئ چي د مَعنْي سره سره په لفظو کي هم بَايَد دواړه ګواهان سره مُتّفِق وي .

فائده : د صاحبينُ ؒ په نېز به پر زَر باندي فيصله کيږي .

وجه : (۱) ځکه چي د لَفظ په اِعتِبَار دُوئي سره مُختَلِف دي لېکن د مَعنْي په اِعتِبَار دواړه ګواهان پر زَر باندي سره مُتّفِق دي.ځکه چي د دُوُ زَرُو په ګواهي کي زَر هم دَاخِل دي (۲) په اَثَر کي دئ. عَن شُرَيحٍ فِي شَاهِدَينِ يَختَلِفَانِ فَشَهِدَ اَحَدُهُمَا

[۲۸۴۳](۳۴) وَاِن شَهِدَ اَحَدُهُمَا بِاَلفٍ وَالآخَرُ بِاَلفٍ وَخَمسِ مِائَةٍ وَالمُدّعِي يَدّعِي اَلفًا وَخَمسَ مِائَةٍ قُبِلَت شَهَادَتُهُمَا بِاَلفٍ .

عَلْي عِشرِينَ وَالآخَرُ عَلْي عَشرَةٍ قَالَ يُؤخَذُ بِالعَشرَةِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة. ۸۳ في الشّاهدَين يختلفان ج۴ص۳۳۵نمبر۲۰۷۱۱/ ۲۰۷۱۳) په دې اَثَر کي عَشرَةٌ او عِشرِين د لفظ په اِعتِبَار سره مُتّفِق نَه دي.صرف د معنْي په اِعتِبَار سره مُتّفِق دي بيايې هم د لَس دِرهَم فيصله کړې ده .

[۲۸۴۳](۳۴) او که د دُوئي څخه يَوَه ګواهي ورکړه د زَر او هغه بَل د يَو زَرپِنځَه سَوَه او مُدّعِي دعوه کوي د يَوَه زَر پِنځَه سوه.نو د دواړو ګواهي به قبليږي پر زَر باندي .

تشريح : مُدّعِي دعوه وکړه چي زُومَا پر فُلاَنِي باندي پِنځلَس سوه دِرهَم دي.يوه ګواه پر دې باندي ګواهي ورکړه چي زَر دي او بَل ګواه ګواهي ورکړه چي يَو زَر پِنځَه سوه يعني پنځلَس سوه دي.نو پر زَر به فيصله کيږي .

وجه : د لفظ په اِعتِبَار دواړه ګواهان پر زَر باندي سره مُتّفِق دي.او هغه بَل ګواه جَلاَ او مُستَقِل د پِنځَه سوه ګواهي ورکوي.نوځکه د زَر فيصله به کيږي.ځکه چي دواړه ګواهان د معنْي او لفظ په اِعتِبَار پر زَر باندي سره مُتّفِق دي .

اصول : چي دواړه ګواهان د لفظ او معنْي په اعتِبَار سره مُتّفِق وي نو ګواهي مَقبُول ده.د صاحبينُ په نېز چي صرف د معنْي په اِعتِبَار دواړه ګواهان سره مُتّفِق وي بيا هم ګواهي قَابِلِ قَبُول ده .

حاشيه : (الف) حضر ت شريح(ؒ) وفرمايل چي دُوَه ګواهان اِختِلاَف وکړي. يَو ګواهي ورکړي د شَل او هغه بَل ګواهي ورکړي د لَس؟ وفرمايل چي د لَس والا ته به ورکول کيږي .

[۲۸۴۴](۳۵) وَ اِذَا شَهِدَا بِاَلفٍ وَ قَالَ اَحَدُهُمَا قَضَاهُ مِنهَا خَمسَ مِائَةٍ قُبِلَت شَهَادَتُهُمَا بِاَلفٍ وَ لَم يُسمَع قَولُهُ اَنّهُ قَضَاهُ مِنهَا خَمسَ مِائَةٍ اِلاّ اَن يُشهِدَ مَعَهُ الآخَرُ [۲۸۴۵](۳۶) وَ يَنبَغِي لِلشّاهِدِ اِذَا عَلِمَ ذَالِکَ اَن لاَيُشهِدَ بِاَلفٍ حَتّي يُقِرّ المُدّعِي اَنّهُ قَبَضَ خَمسَ مِائَةٍ .

[۲۸۴۴](۳۵) که دواړو ګواهانُ د زَر ګواهي ورکړه.او د دې دواړو څخه يَو وويل چي ددې څخه پِنځَه سوه اداء کړي دي نو د دواړو ګواهي به د زَر د قبليږي.او نَه به اَورېدَل کيږي دده خبره چي ددې څخه پنځه سوه اداء کړي دي.مګر که چيري دده سره بَل ګواهي ورکړي .

تشريح : دُو ګواهانُ ګواهي ورکړه چي د فُلاَنِي پر فُلاَنِي باندي زَر دِرهَم دي. وروسته د دُوئي څخه يَوَه دا ګواهي هم ورکړه چي دهغه زَر څخه پنځه سوه اداء کړي دي نو د زَر فيصله به کيږي او د پنځه سوه د ادائيګئ په اړه به فيصله نَه کوي. او نَه پنځه سوه دِرهَم کميږي .

وجه : (۱) پر زَر باندي دُوَه ګواهان دي.نوځکه د زَر فيصله به کيږي.او دهغه څخه د پنځه سوه پر اداء کولو باندي صِرف يَو ګواه موجود دئ.نوځکه د پنځه سوه د اداء کولوفيصله به نَه کيږي.البته که ددې ګواه سره بَل ګواه هم موجودشي نو اُوس خو دُوَه

ګواهان شول نوځکه اُوس به د پنځه سوه د اداء کولو فیصله کیږي (۲) په آیت کي دئ چي دُوَه ګواهان باید وي. وَ اِستَشهِدُوا شَهِیدَینِ مِن رِّجَالِکُم (آیت۲۸۲سورة البقرة۲) او دلته دوه ګواهان موجود نَه شول .

[۲۸۴۵](۳۶) او د ګواه لپاره مُنَاسِب دئ چي د ګواهئ د اداء کولو لپاره وَرشِي نو د زَر ګواهي دي نَه ورکوي ترهغه وخته چي مُدّعِي اِقرَار وکړي چي ده پر پنځه سوه باندي قبضه کړې ده .

[۲۸۴۶](۳۷) وَ اِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ اَنّ زَیداً قُتِلَ یَومُ النّحرِ بِمَکّةَ وَشَهِدَ آخَرَانِ اَنّهُ قُتِلَ یَومُ النّحرِ بِالکُوفَةِ وَاِجتَمَعُوا عِندَالحَاکِمِ لَم تُقبَلِ الشّهَادَتَینِ .

تشریح : د دُوُ ګواهانُ څخه یَوه ته معلوم وُ چي د زَر څخه پنځه سوه و مُدّعِي ته اداء کړي دي.لیکن صِرف د یَوَه ګواه د ګواهئ ورکولو څخه ددغه ادائیګئ خبره نَه چلیږي.نو په داسي صورت کي ده ته په کار دئ چي تر هغه وخت پر زَر باندي ګواهي وَر نَه کړي تر څو چې د خلکو په مخکي د پنځه سوه د وُصُولئ اِقرَار نَه وي کړئ.ددې لپاره چي مُدّعْي عَلَیهِ صرف پنځه سوه اداء کړي .

[۲۸۴۶](۳۷) که دُوُ کسانُ ګواهي ورکړه چي زَید د لُوئي اَختَر په وُرَځ په مَکّه کي قتل شوئ دئ او نُورُو دُوُکسانُ ګواهي ورکړه چي هغه د لُوئي اَختَر په وُرَځ په کُوفَه کي قَتل شوئ دئ.اوتوله دحَاکِم په مخکي جَمع شول نو دواړې ګواهئ نَه قبلیږي .

تشریح : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي د فیصلي څخه مخکي د ګواهانُ تر مینځ اِختِلاَف راشي نو د دواړو ګواهئ نَه قبلیږي.اُوس صُورَتِ مسئله دادئ چي دُوُ ګواهانُ ګواهي ورکړه چي د ذِي الحَجّه په لَسَم تاریخ په مَکّه مُکَرّمَه کي زَید قتل شوئ دئ. تر اُوسَ پر دغه باندي لا فَیصَلَه نَه وه شوې چي نُورُو دُوُ ګواهانُ ګواهي ورکړه چي د ذِي الحجّه په لَسَم تاریخ په کُوفَه کي زَید قتل شوئ دئ.اُوس دا چي یَو سړئ پر یَوَه تاریخ په دُوُ مختلفو ځایو کي قتل شي او دواړه ځایونه دُومرَه سره لیري وي چي په دواړو ځایو کي دده هَلتَه موجود کېدل نَامُمکِن وي. نوځکه دواړه قِسم ګواهان به مَردُود شي .

وجه : په اَثَر کي دئ. عَن اِبرَاهِیمَ فِي اَربَعَةٍ شَهِدُوا عَلْي اِمرَأمٍ بِالزّنَا ثُمّ اِختَلَفُوا فِي المَوضِعِ. فَقَالَ بَعضُهُم بِالکُوفَةِ وَ قَالَ بَعضُهُم بِالبَصرَةِ قَالَ یَدرَءُ عَنهُم جَمِیعًا

[۲۸۴۷](۳۸) فَاِن سَبَقَت اِحدْیهُمَا وَقَضْي بِهَا ثُمّ حَضَرَتِ الاُخرْي لَم تُقبَلِ الشّهَادَةُ .

(الف) (مصنّف عبدالرّزاق.باب شهادة اربعة علٰي امرأة بالزّنا واختلافهم في الموضع ج۷ص۳۳۴نمبر۱۳۳۸۰) په دې اَثَرکي دئ چې د ځائ د اِختِلاَف په وجه ګواهي رَدّ شوه .

[۲۸۴۷](۳۸) که چيري د دُوُ څخه د يوه ګواهي مخکي شوه او دهغې فيصله وشوه بيا هغه بَلَه ګواهي حاضره شوه نو ګواهي نَه قبلېږي .

تشريح : دُوُ کسانُ مخکي ګواهي ورکړه چې په مَکّه کي قتل شوئ دئ.او پر هغه فيصله وشوه.وروسته دوه ګواهان رَاغلَل او ګواهي يې ورکړه چې دغه په بَصرَه کي قتل کړئ دئ نو اُوس خو پر اَوّلَه ګواهي باندي فيصله شوې ده نوځکه د دُويَمِي ګواهئ په وجه به هغه اَوّلَه فيصله نَه ختمېږي .

وجه : (۱) اَوّلَه ګواهي ته ترجيح حاصل شوه چې پر هغه باندی فيصله وشوه نو ځکه د دُويَمِي ګواهئ په وجه به اَوّلَه ګواهي نَه ختمېږي (۲) په مُرسَل حديث کي راغلي دي. عَن اِبنِ المُسَيّبِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِذَا شَهِدَ الرّجُلُ بِشَهَادَتَينِ قُبِلَتِ الأُولٰي وَتُرِکَتِ الآخِرَةُ. وَ اُنزِلَ مَنزِلَةَ الغُلاَمِ (ب) (مصنّف عبدالرّزاق.باب الرّجُل يشهدبشهادة ثُمّ يشهدبخلافهاج۸ص۳۵۲نمبر۱۵۵۰۸) په دې مُرسَل حديث کي دئ چې يَو سړئ دُوَه واړه ګواهي ورکړي نو اَوّلَه ګواهي يې مَقبُولَ ده او دُويَمَه به رَد کيږي.او چې پر اَوّلَه ګواهي باندي فيصله شوې وي نو بيا خو به په طريقه اَولٰي سره هغه مَقبُول وي او دُويَمَه ګواهي به مَردُود وي (۳) په اَثَرکي دئ. عَنِ الثّورِيّ فِي الرّجُلِ اَشهَدَ عَلٰي شَهَادَتِهِ رَجُلاً فَقَضٰي القَاضِي بِشَهَادَتِهِ ثُمّ جَاءَ الشّاهِدُ اَلّذِي

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل څلور کسانو پر يوه سړي د زِنَاء ګواهي ورکړه.بيايې د ځائ په اړه اِختِلاَف سره وکړئ.بعضو وويل په کُوفَه کي زِنَاء کړې ده او بعضو وويل په بَصرَه کي زِنَاء کړې ده نو د تولو څخه به حَد ساقط شي(ب) حضور (ﷺ) وفرمايل که سړئ دُوَه رنګه ګواهي ورکړي نو اَوّلَه به قبلېږي او وروستنئ به پرېښول کيږي.او هغه به د کِشنِي د ګواهئ په درجه کي اِيښُوَل کيږي .

[۲۸۴۸](۳۹) وَلاَيَسمَعُ القَاضِي اَلشّهَادَةَ عَلٰي جَرحٍ وَلاَنَفيٍ وَلاَيَحکُمُ بِذَالِکَ اِلاّ اِستَحَقّ عَلَيهِ .

شَهِدَ عَلٰي شَهَادَتِهِ فَقَالَ لَم اُشهِد بِشَيءٍ قَالَ يَقُولُ اِذَا قَضٰي القَاضِي مَضٰي الحُکمُ (الف) (مصنّف عبدالرّزاق.باب الشاهديرجع عن شهادته او يُشهدثُم يجحدج۸ص۳۵۳نمبر۱۵۵۱۳) په دې حديث کي دئ چې پر اَوّلَه ګواهي باندي دقاضي فيصله شوې ده اُوس هغه په دې دُويَمَه ګواهي سره نَه شي رَدّوَلاَئي .

[۲۸۴۸](۳۹) او قاضي دي ګواهي نَه اَورِي د جَرح پر کېدلو او نَه کېدلو او نَه دي پر هغه باندي حُکم لګوي مګر هغه چې اِستِحقَاق يې ثَابِت شي .

تشريح : مُدّعِي د مُدّعِي عَلَيهِ د ګواه په اړه دَاوَل ګواهي ورکړي چې دا ګواهَان فَاسِقَان دي.او د فِسق وجه بيان نَه کړي چې د شراب چيښلو په وجه يا د غَلاَ کولو په

وجه فَاسِقَان شوي دي.نو دَاوَل جَرح ته دي قاضي کومه توجه نَه ورکوي.نَه دې نَفِي کوي او نَه دې اِثبَات کوي او نَه دي د فِسق دنَفِي او نَه دې د اِثبَات فيصله کوي .
وجه : (١) حديث مخته تېرشوئ دئ چې مسلمان بعض پر بعضُ باندي عَادِلاَن دي.
عَن عَمرو بِنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَلمُسلِمُونَ عُدُولٌ بَعضُهُم عَلَي بَعضٍ اِلاّ مَحدُوداً فِي فِريَةٍ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ٧٤ من قال لاتجوز شهادته اذا تاب ج٤ص٣٣٠نمبر٢٠٦٥٠/دارقطني.کتاب عمرالْي ابي موسْي اشعري ج٤ص١٣٢ نمبر٤٤٢٥) ددې حديث څخه معلوم شوچې په ښکاره بَادِيُ النّظَر کي ټوله مسلمانان عَادِلاَن دي.نوځکه صِرف دا وَينَا کول چې فُلاَنَئ فَاسِق دئ او دهغه

حاشيه : (الف) حضرت ثوري وفرمايل يوچا پر خپله گواهي باندې گواه وَنِيوَئ.قاضي دهغه پر گواهي باندي فيصله ورکړه.بيا هغه گواه راغلئ چې پر خپله گواهي باندې گواه نِيوَلئ وُ او وويل مَا هيڅ څوک گواه نَه دئ جوړ کړئ.فرمايل به چې کوم وخت قاضي فيصله ورکړه نو حُکم نَافِذ شو (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل مسلمان بعض پر بعضُ باندي عَادِلاَن دي مگر هغه چې په تُهمَت کي حَد پر جاري شوئ وي .

سَبَب او وجه نَه بنايي چې دحُقُوقُ الله يا دحُقُوقُ العِبَاد د ختم کولو په وجه فَاسِق دئ و دې ته به تَوَجّه نَه ورکول کيږي.او دمُدّعِي گواه به مَقبُول گڼل کيږي (٢) که چيري د اَسبَابُ د ښولو بغيره ووايي چې دا گواه فَاسِق دئ نو دا کېدلائي شي چې هغه دي د فِسق څخه توبَه کښلې وي او اُوس عَادِل شوئ وي او دگواهئ لپاره راغلئ وي.چې دهغه لکبله قاضي دده گواهي نَه شي رَدّوَلاَئي .
اِلاّ مَا اِستَحَقّ عَلَيهِ : ددې مطلب دادئ چې مُقَيّد جَرح وکړي نو قاضي به هغه جرح ته تَوَجّه ورکوي.مثلاً دا ووايي چې ده شَرَاب چيښلي دي او پر هغه باندي دحَد لگولو مطالبه وکړي او پر هغه باندي دُوَه گواهان رَاوَلِي چې دهغه په وجه د مُدّعِي پر گواهانُ باندي حَد جاري شي. د حقوق الله په ختم کولو کي حَد پر جاري شوئ دئ نو ځکه اُوس دئ فَاسِق شو. نوځکه د مُدّعِي ددې گواه گواهي مَقبُول نَه ده. په دې صورت کې د شَرَابُ چيښل سَبَب وښوئ د فِسق دَعوَه يې کړې ده چې مُقَيّد جرح ده نو ځکه قاضي به دې ته تَوجّه ورکوي او د گواهانُ د رَدّ فيصله به هم کوي. دغه جرح دقاضي لپاره قَابِلِ سَمَاعَت ده .
په حقوق العباد کې مُقَيّد جرح وکړه مثلاً : مُدّعْي عَلَيهِ دَعوَه وکړه چې مَا د مُدّعِي وگواه ته سَل دِرهَم ورکړي دي او پر دې خبره اِتّفَاق شوئ وُ چې دئ به زُومَا خِلاَف گواهي نَه ورکوي.دهغه باوجود يې گواهي ورکړه.نوځکه مَاتَه دي سَل دِرهَم بېرته وَاپَس کړي.او پر دغه دواړو خبرو باندي مُدّعْي عَلَيهِ گواهان پېش کړل.نودَلتَه خو د رَقَم د وَاپَس کولو مطالبه ده نو ځکه قاضي ته د گواهئ پر بُنيَاد باندي د رَقَم د وَاپَس کولو حَق حاصل دئ.او بيا خو به رِشوَت هم ثابت شي نو ځکه د مُدّعِي گواهان به د فَاسِق په زُمرَه کي شَامِل شي او دهغوئي گواهي به رَدّ شي. د رَقَم د وَاپَس کولو مطالبه دبَندَه لخوا شوې ده نوځکه دا په حقوق العباد کي د جَرحِ مُقَيّد مثال شو ... د

لغت : اِلاّ مَا اِستَحَقّ عَلَيهِ : مطلب دادئ چي دمُدّعِي پر ګواهانُ باندي د الله حقوق
[۲۸۴۹](۴۰) وَلاَيَجُوزُ لِلشّاهِدِ اَن يَشهَدَ بِشَيءٍ لَم يُعَايِنهُ اِلاّ النّسَبَ وَالمَوتَ وَالنِّكَاحَ وَالدّخُولَ وَوِلاَيَةَ فَاِنّهُ يَسَعُهُ اَن يُشهِدَ بِهٰذِهِ الاَشيَاءِ اِذَا اَخبَرَهُ بِهَا مَن يَثِق بِهِ .

ختم کول مثلاً زِنَا کول.شراب چیښل یا غَلاَ کول ثابت کړي.یا دبَندَه ګانُ د حقوقُ دَبَاؤبدَل(غَصَب کول)ثابت کړي نو قاضي به دغه جَرح اَورِي او دفِسق نَفِي یا دفِسق د اِثبَات فیصله به هم کوي .
[۲۸۴۹](۴۰) او ګواه ته جواز نشته چي د لیدلو بغیره ګواهي ورکړي مګر د نَسَب او د مَرګ او د نِکاح او د دُخُول او د قاضي د وِلاَیَت.ځکه چي و ده ته ګُنجَائِش شته چي ددې شِیَانُ په اړه ګواهي ورکړي که چیره ده ته د اِعتِمَاد څوک خَبَر ورکړي .
تشریح : مخته په آیت سره دا ثابِت شو چي اَصل قاعدعه خو دغه ده چي شَئ وَوِینِي او بیا دهغه د کېدلو ګواهي ورکړي.لېکن څه شِیَان دَادَوَل وي چي دهغه د کېدلو پر مَحَال یَو یا دُوَه کسان موجود وي او د ډیري مُدې او وخت وروسته دهغه ګواهئ ضرورت پېښ شي.نوځکه هغه ګواهان موجود نَه وي کُوم چې اَصل حقیقت لیدلئ وي.نوځکه د خلګو د اَورېدلو څخه او د عَلاَمَاتُ د لِیدَلُو په ذریعه یقین وکړي او دهغه ګواهي ورکړي دا هم جائز دئ.مثلاً نَسَب.د بَچي د پیدائش پر وخت یوه دَاېي او یَوَه دُوې ښځي موجود وي.بیا د ډېر وخت د تېرېدو وروسته د ګواهئ ضرروت پېښ شي چې فُلاَنَئ د فُلاَنِي زُوئ دئ.په داسي صورت کي ګواهانُ صِرف اَورِېدلي وي چي فُلاَنَئ د فُلاَنِي زُوئ دئ هغه د پَیدَاکېدُو پر وخت نَه وي لیدلئ خو بیا په اَورېدُلُو سره ګواهي ورکول جائز ده چي فُلاَنَئ د فُلاَنِي زُوئ دئ .
موت : د موت یعني مرګ پر وخت هم یَو یا دُوَه کسان موجودوي.بیا دخلګو څخه اَورِي او یقین کوي چي دفُلاَنِي اِنتِقَال شوئ دئ .بیا د ډېر وخت وروسته پر دغه اَورېدَلِي خبر باندي ګواهي ورکوي چي فُلاَنَئ وَفَات شوئ(مَړ)دئ.نوځکه د مَرګ د مُعَائنې(لِیدَلُو)بغیره صِرف په اَورېدَلُو سره هم ګواهي ورکول جائز ده .
نِکاح/ دخول : د قاضي د وِلاَیَت هم دغه حَال دئ چي دنِکاح پر وخت یَو دُوَه کسان موجود وي بیا مېړه او مَینَه وِینِي چي یَوځائ سره وَسِیرِي.نو ګواهي ورکوي چي دا مېړه او مَینَه دي.د دُخُول پر وخت خو هیڅ څوک نَه وي صِرف د قَرِیني څخه ګواهي ورکوي چي د مَینې سره دُخُول شوئ دئ.د قاضي د وِلاَیَت هم دغه حَال دئ چي د قاضي جوړولو پر وخت صِرف یَو دُوَه کسان موجود وي.بیایي خلګ وِینِي چي دا د قَضَاء پر مَجلِس(مَسنَد)ناست دئ او فیصلې کوي نوځکه خلګ ګواهي ورکوي چي دا قَاضِي دئ .

وجه : (۱) په حديث کي دئ چي حضور(ﷺ) په کِشنِيوَالِي دحضرت ثَوبِيّه شيدې رَودَلِي دي او وحضور (ﷺ) ته يَاد هم نَه وُ لېکن وروسته صرف د اَورېدَلُو څخه حضور وفرمايل چي مَاتَه او و اَبُوسَلمَه ته حضرت ثَوبِيّه شيدې رَاکړي دي. وَقَالَ النّبِيّ اَرضَعَتنِي وَ اَبَا سَلَمَةَ ثَوبِيّةٌ (الف) يَوبَل رِوَايَت هم دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ النّبِيّ (ﷺ) فِي بِنتِ حَمزَةَ لاَتَحِلّ لِي يَحرُمُ مِنَ الرّضَاعِ مَا يَحرُمُ مِنَ النّسَبِ. هِيَ اِبنَةُ اَخِي مِنَ الرّضَاعَةِ (ب) (بخاري شريف.باب الشهادة علٰي الأنسَاب والرّضاع المستفيض والموت القديم ص۳۶۰نمبر۲۶۴۴/ ۲۶۴۵) په دې حديث کي حضور (ﷺ) د رَضَاعَت خبر ورکړئ دئ.حضور (ﷺ) په کِشنِيوَالِي شيدې رَودَلِي وې او چي په خپله وحضور (ﷺ) ته به يقينًا ياد نَه وُ.نو صِرف په اَورېدَلُو سره خبر ورکړئ دئ چي حضرت حمزه زُومَا رضاعي وُرُور دئ.ددې څخه معلوم شوچي د دَاوَل خبرو ګواهي صِرف په اَورېدَلُو سره بغير دلِيدَلُو هم ورکولائي شي (۲) په اَثَرکي دئ. وَقَالَ الشّعَبِيّ اَو اِبنُ سِيرِينَ وَعَطَاءُ وَقَتَادَةُ اَلسّمعُ شَهَادَةٌ وَكَانَ الحَسَنُ يَقُولُ لَم يُشهِدُونِي عَلٰي شَئٍ

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل و مَا ته او ابوسلمه ته ثوبِيّه شيدې راکړي دي (ب) حضور (ﷺ) د حضرت حمزه د لُور په اړه وفرمايل هغه زُومَا لپاره حلال نَه ده.په رَضَاعَت سره هغه حراميږي کُوم چي په نَسَب سره حراميږي.دا زُومَا د رضاعي وُرُور لُور ده .

[۲۸۵۰](۴۱) وَالشّهَادَةُ عَلٰي الشّهَادَةِ جَائِزَةٌ فِي كُلِّ حَقٍّ لاَيَسقُطُ بِالشّبهَةِ وَلاَتُقبَلُ فِي الحُدُودِ وَالقِصَاصِ .

وَلٰكِن سَمِعتُ كَذَا وَ كَذَا (الف) (بخاري شريف.باب شهادة الخُنثٰي ص۳۵۹نمبر۲۶۳۸/مصنّف عبدالرّزاق.باب السمع شهادة وشهادة المتفْي ج۸ص۳۵۵نمبر۱۵۵۲۱) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي صِرف په اَورېدَلُو سره ددې خبرو ګواهي ورکولائي شي .

او چي د علاماتُ په لِيدَلُو سره ګواهي ورکړي دهغه دليل دا حديث دئ. سَألتُ اَنَسَ بنِ مَالِکٍ ... فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَبصِرُوهَا فَاِن جَائَت بِهِ اَبيَضَ سبِطًا قَضِئُ العَينَينِ فَهُوَ لِهِلاَلِ بنِ اُمَيّةَ وَاِن جَائَت بِهِ اَكحَلَ جُعدٌ اَحمَشُ السّاقَينِ فَهُوَ لِشَرِيکِ بنِ سَحمَاءَ. قَالَ فَاُنبِأتُ اَنّهَا جَائَت بِهِ اَكحَلَ جَعدٌحَمشُ السّاقَينِ (ب) (مسلم شريف.باب كتاب اللّعان ص ... نمبر۱۴۹۶) په دې حديث کي حضوردبَچِي عَلاَمت ښولئ دئ چي په رَنګ سُپين وي نودبِلاَل بن اُمَيّه دئ او که پَرلَپبِچَلِي ښښتان وي نو بيا د شريک بن سحماء بَچَئ دئ.په دې حديث کي د عَلاَمَت په ذريعه د بَچِي د نَسَب فيصله کړي ده ددې څخه معلوم شو چي په بعضُ ځايو کي په لِيدَلُو سره نَه بلکه د عَلاَمَاتُ په لِيدَلُو سره هم ګواهي ورکولائي شي .

اصول : د کُومُو خبرو په لِيدَلُو کي چي صِرف يَو يا دُوَه کسان موجوديږي او د دِيري زماني وروسته کله نَا کله د ګواهئ ضرورت پيښيږي په هغه ځايو کي صِرف په اَورېدَلُو سره ګواهي ورکول جائز ده.لکه نَسَب.مَرګ.نکاح.دُخُول.د قَاضِي وَلاَيَت او دغه رنګه نور ځايونه .

[۲۸۵۰](۴۱) پر ګواهي باندي ګواهي ورکول جائز ده په هر هغه حَق کي چي په شُبهَه سره نَه ساقطيږي.او نَه به قبليږي په حُدُود او قِصَاص کي .

حاشيه : (الف) حضرت عطاء او قتاده وفرمايل اَورِبدَل هم شَهَادَة دئ.او حضرت حسن به فرمايل زَه يي پر هيڅ شِي ګواه نَه يَم جورِکړئ لِيکن مَا دَامَوَل دَامَوَل اورِبدلي دي (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل هغه ته وَګُورَه که سُپين يَچَئ پيدا شو د خَرَابُ سُتُرګُو والا نو هغه د بِلاَل بِن اُمَيّه دئ.او که تُورسَتَرګئ وُ.نَرم پُنډَئ يي وي نو هغه د شريک بن سحمَاء دئ.وفرمايل زَه خبر شوئ يَم چي تُور سَتَرګئ او د نَرم پُنډَئ والا بَچَئ پيدا شو .

تشريح : چي اَصل ګواه د يَوِ مجبورئ لکبله بَل څوک پر خپله ګواهي باندي ګواه جورِکړي.نو دَا دَوَل په هغه حقوقُ کي جائزدئ چي په شُبهَه سره نَه ساقطيږي. په دغه وجه په حُدُود او قِصَاص کي شَهَادَة عَلْي الشّهَادة جواز نَه لري.ځکه چي هغه په شُبهَه سره ساقطيږي .

وجه : (۱) پر شَهَادَة باندي شَهَادَة جائز دئ دليل يي دا حديث دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) تَسمَعُونَ وَ يُسمَعُ مِنكُم وَ يُسمَعُ مِمّن يَسمَعُ مِنكُم (الف) (ابوداؤدشريف.باب فضل نشرالعلم ص۱۵۹نمبر۳۶۵۹) په دي حديث کي دئ چي کُوم څوک چي حديث وَاوُرِي هغه به و نُورُو ته بيانوي او نور خلګ به دهغه څخه اَورِي.چي په حديث کي يَو دبَل څخه سَمَاعَت کيږلائي شي نو په ګواهي کي هم کيږلائي شي (۲) ددي ضرورت هم شته ځکه چي په بعضُ حالاتُ کي اصل ګواه دُومرَه ناجوړه وي چي مَجلِسِ قَضَاء ته نَه شي تَلاَئي نو ځکه پر خپله ګواهي باندي د فَرع د ګواه جوړولو ضرورت پيښيږي .

په حُدُود او قِصَاص کي شَهَادَة عَلْي الشّهَادة مَقبُول نَه دئ دهغه وجه داده (۱) چي حُدُود او قِصَاص په شُبهَه سره ساقطيږي.او دفَرع په ګواهي کي شُبهَه موجود ده نوځکه پر شَهَادَة باندي شَهَادَة جواز نَه لري (۲) په اَثَرکي دئ. عَن مَسرُوقٍ وَشُرَيحٍ اَنّهُمَا قَالاَ لاَتَجُوزُ شَهَادَةٌ عَلْي شَهَادَةٍ فِي حَدٍّ وَلاَيُكَفّلُ فِي حَدٍّ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في الشهادة علْي الشهادة في حدودالله ج۱۰ص۴۲۳نمبر۲۱۱۸۶/مصنّف ابن ابي شيبة ۱۴۷ في الشهادة علْي الشهادة في حَدّج۵ص۵۴۸نمبر۲۸۹۰۱/مصنّف عبدالرّزاق.باب شهادة الرّجُلِ علْي الرّجُلِ ج۸ص۳۳۹نمبر۱۵۴۵۱) ددي اَثَرڅخه معلوم شوچي په حُدُود او قِصَاص کي شَهَادَة عَلْي الشّهَادَة جواز نَه لري .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل نَن وُرَځ يي تاسو اَورَئ او د تاسو څخه به خلګ اَورِي.او کُومو خلګو چي ستاسو څخه اَورِبدَلِي دي دهغوئي څخه به خلګ اَورِي (ب) حضرت مسروق او شريح وفرمايل په حَد کي نَه شهادة علْي الشّهادة جائز دئ او نَه کَفَالَت اخستل جائز دئ .

[۲۸۵۱](۴۲) وَيَجُوزُ شَهَادَةُ شَاهِدَينِ عَلْي شَهَادَةِ شَاهِدَينِ وَلاَتُقبَلُ شَهَادَةُ وَاحِدٍ عَلْي شَهَادَةِ وَاحِدٍ .

[۲۸۵۱](۴۲) جائز ده د دُوُ ګواهَانُ ګواهي ورکول د دُوُ ګواهَانُ پر ګواهي باندي.او نَه به قبلیږي د يَوَه ګواهي د يَوَه پر ګواهي باندي .
تشريح : د شَهَادَة عَلْي الشّهَادَة قاعده داده چي يَو اَصل ګواه دُوَه کسان ګواهان جوړ کړي او هغه بَل اَصل ګواه هم دُوَه کسان ګواهان جوړ کړي.نو دغه دَوَل فَرع ګواهان به څلور شي.لېکن دا اِمکان شته چي يَوَه اَصل ګواه چي کُوم دُوَه کسان فَرع ګواه جوړ کړي هغه بَل اَصل ګواه هم دغه دُوَه کسان خپل فَرع ګواهان جوړ کړي دي.کُوم چي هغه اَوّل اصل جوړ کړي دئ نو دَادَوَل فَرع ګواهان به هم دُوَه شي.د اَوّل اَصل ګواه هم دغه دُوَه ګواهان دي او د دُويَم اَصل ګواه هم دغه دُوَه ګواهان دي. البته دا جواز نَه لري چي يَو اَصل پر خپله ګواهي باندي يَو فَرع ګواه جوړ کړي .
وجه : (۱) په اَثَرکي دئ. عَن اِسمٰعِيلَ الاَزرَقِ عَنِ الشّعَبِيّ قَالاَ لاَتَجُوزُ شَهَادَةُ الشّاهِدِ عَلْي الشّاهِدِ حَتّٰي يَکُونَا اِثنَينِ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في عددشهودالفرع ج۱۰ص۴۲۴نمبر۲۱۱۹۱/مصنّف ابن ابي شيبة ۴۸۰ في شهادة الشاهِدعلْي الشّاهِد ج۴ ص۵۵۴ نمبر ۲۳۰۷۰/مصنّف عبدالرّزاق.باب شهادة الرّجُلِ علْي الرّجُلِ ج۸ص۳۳۹نمبر۱۵۴۵۰) ددې اَثَر څخه معلوم شوچي پر يَوَه اصل ګواه باندي دُوَه فرع ګواهان بايد وي (۲) د اَصل ګواهي مُنتَقِل کول ده نو ځکه د آيت وَ اِستَشهِدُوا شَهِيدَينِ مِن رّجَالِکُم (آيت۲۸۲سورة البقرة۲) په رُونَا کي بَايَد دُوَه ګواهان وي .
فائده : امامِ شافعي() د تېرشوي اَثَر په وجه فرمايي چي د هَر اَصل ګواه لپاره بَايَد دُوَه جَلا جَلا فَرع ګواهان وي.نو په دې اِعتِبَار سره د دُوُ اَصل ګواهانُ لپاره څلور جَلا جَلا فَرع ګواهان ضروري دي .

حاشيه : (الف) حضرت شعبي() وفرمايل شَهَادَة عَلْي الشّهَادَة جواز نَه لري تر څو چي ګواهان دُوَه شوي نَه وي .

[۲۸۵۲](۴۳) وَصِفَةُ الاِشهَادِ اَن يَقُولَ شَاهِدُ الاَصلِ لِشَاهِدِ الفَرعِ اِشهَد عَلْي شَهَادَتِي اَنّي اَشهَدُ اَنّ فُلاَنَ بنِ فُلاَنٍ اَقَرّ عِندِي بِکَذَا وَ اَشهَدَنِي عَلْي نَفسِهِ وَ اِن لَم يَقُل اَشهَدَنِي عَلْي نَفسِهِ جَازَ .

[۲۸۵۲](۴۳) دګواه جوړولوطريقه داده چي اَصل ګواه وفرع ګواه ته ووايي.زُومَا پرګواهي باندي ګواه شَه.زَه ګواهي ورکوم چي فُلاَن بنِ فُلاَن زُومَاپه مخکي د دُومرَه اِقرَار کړئ دئ او زَه پرخپل ذَات ګواه جوړ کړئ يَم.او که چيري اَشهَدَنِي عَلْي نَفسِهِ نَه وويل نو هم جائز دئ .
تشريح : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي اَصل ګواه تر څو پوري بَاضَابِطَه فَرع ګواه پرخپله ګواهي باندي ګواه نَه وي جوړکړئ نو تر هغه وخته پوري ګواه نَه شي جوړېدلائي.صِرف د ګواهئ ورکولو پر وخت د اَورېدَلُو څخه ګواه نَه جوړيږي. دمسئلې تشريح او وَضَاحَت دادئ.چي اَصل ګواه دي و فَرع ګواه ته بَاضَابِطَه ووايي

چي تَه زُومَا پر ګواهئ باندي ګواه شَه ددې خبري چي فُلاَنِي سړي د فُلاَنِي سړي لپاره د دُومرَه رُوپيَه اِقرَار زُومَا په مخکي کړئ دئ.او زَه يې پر اِقرَار باندي ګواه هم جوړ کړئ يَم.البته که چيري دا وَنَه وايي چي زَه يې پر خپل اِقرَار باندي ګواه هم جوړ کړئ يَم بيا هم فَرع ګواه جوړولائي شي .

وجه : په اَثَرکي دئ.عَن شُرَيحٍ قَالَ:تَجُوزُشَهَادَةُ الرّجُلِ عَلْي الرّجُلِ فِي الحُقُوقِ.وَ يَقُولُ شُرَيحٌ لِلشّاهِدِقُل اَشهَدَنِي ذُو عَدلٍ (الف) (مصنّف عبدالرّزاق.باب شهادة الرّجُلِ علْي الرّجُلِ ج۸ص۳۳۸ نمبر۱۵۴۴۷)په دې اَثَرکي دئ قُل اَشهَدَنِي ذُو عَدلٍ ددې څخه معلوم شوچي فَرع ګواه ګواهي ورکوي دابه وايي چي عَادِل زَه ګواه جوړ کړئ يَم.ددې څخه معلوم شوچي اَصل ګواه يې پر خپله ګواهي باندي بَاضَابِطَه ګواه جوړ کړي نو بيا فَرع ګواه جوړبدلائي شي .

حاشيه : (الف) حضرت شريح وفرمايل شَهَادَة عَلْي الشّهَادَة په حقوق کي جائز دئ.حضرت شريح به وګواه ته فرمايل ,,وَوَايَه زَه عَادِل سړي ګواه جوړ کړئ يَم,, .

[۲۸۵۳](۴۴) وَيَقُولُ شَاهِدُ الفَرعِ عِندَ الاَدَاءِ اَشهَدُ اَنّ فُلاَناً اَشهَدَنِي عَلْي شَهَادَتِهِ اَنّهُ يُشهِدُ اَنّ فُلاَناً اَقَرّ عِندَهُ بِكَذَا [۲۸۵۴] (۴۵) وَقَالَ لِي اِشهَد عَلْي شَهَادَتِي بِذَالِکَ فَاَ نَا اَشهَدُ بِذَالِکَ .

[۲۸۵۳](۴۴) فَرع ګواه به د اَدَاء کولو پر وخت وايي فُلاَنِي زَه پر خپله ګواهي باندي ګواه جوړ کړئ يَم.هغه ګواهي ورکوي چي فُلاَنِي دده په حضور کي د دُومرَه اِقرَار کړئ دئ .

تشريح : فَرع ګواه به د ګواهئ پر وخت دَاوَل نَه وايي چي زَه اَصل ګواه يَم بلکه بَاضَابِطَه به دا وَاِيي چي زَه فَرع ګواه يَم او اَصل ګواه پر خپله ګواهي باندي زَه ګواه جوړ کړئ يَم ددې خبري چي دده په مخکي فُلاَنِي د دُومرَه رَقَم اِقرَار کړئ دئ .

[۲۸۵۴](۴۵) او مَا ته وويل چي زُومَا پر دې ګواهئ باندي ګواه جوړ شَه.نوځکه زَه ددې خبري ګواهي ورکوم .

تشريح : فَرع ګواه به دقاضي په حضور کي وَاِيي چي مَاتَه اصل ګواه ويلي وُ چي زُومَا پر دې ګواهي باندي تَه ګواه شَه.نو زَه خو دده پر ګواهي باندي ګواه شوئ يَم لِهْذَا زَه دا ګواهي ورکوم .

وجه : (۱) مخته په اَثَر کي تېرشوي دي چي قاضي شريح به په فرع ګواه باندي دا اِقرَار کاوئ چي يَوَه عَادِل سړي زَه ګواه جوړ کړئ يَم. عَن شُرَيحٍ قَالَ ... قَالَ اَشهَدَنِي ذُوعَدلٍ (مصنّف عبدالرّزاق.باب شهادة الرّجُلِ علْي الرّجُلِ ج۸ص۳۳۸نمبر۱۵۴۴۷) په دې اَثَر کي دئ چي فَرع ګواه دا اِقرَار وکړي چي اَصل ګواه زَه ګواه جوړ کړئ يَم (۲) په اَثَر کي دئ. عَن حَسَنَ بِنِ صَالِحٍ قَالَ قُلتُ لِلجَعدِ بِنِ زَكوَانَ.شَهِدتّ شُرَيحًا يَقُولُ: اُجِيزُ شَهَادَةُ الشّاهِدِ عَلْي الشّاهِدِ اِذَا شَهِدَ عَلَيهِمَا (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة

حاشيه : (الف) مَا وجَعدبن زكوان ته وويل چي دحضرت شريح څخه مِي دا وَينَا اَورېدلي ده.شَهَادة عَلْي الشّهَادَة هغه وخت جائز دئ چي دغه دواړه گواهان پر هغه باندي گواهان جوړ کړي .

[۲۸۵۵](۴۶) وَلاَتُقبَلُ شَهَادَةُ شُهُودُ الفَرعِ اِلاّ اَن يَمُوتَ شُهُودُ الاَصلِ اَو يَغِيبُوا مَسِيرَةَ ثَلْثَةَ اَيّامٍ فَصَاعِداً اَو يَمرِضُوا مَرَضًا لاَيَستَطِيعُونَ مَعَهُ حُضُورَ مَجلِسَ الحَاكِمِ .

۴۸۰ في شهادة الشاهدعلْي الشاهدج۴ص۵۵۴نمبر۲۳۰۶۸) په دې اَثَرکي دئ چي گواه يې جوړ کړي نو بيا گواه گرزي .

[۲۸۵۵](۴۶) او نَه به قبليږي د فَرع گواهانُ گواهي مګر هغه وخت چي اَصل گواهان مَړه شي.يا د دُرُو وُرَخُو يا دهغه پر زِيَات مَسَافَت وُلاَړ شي يا دَاوَل ناجوړه شي چي دهغه په وجه د حَاكِم مجلس ته نَه شي حاضرېدلائي .

تشريح : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي د گواهئ لپاره اَصل گواه ضروري دئ.فَرع گواه خو به د مجبورئ په وجه رامينځ ته کيږي.نوځکه چي اَصل گواه مَړ شِي يا د دُرُو ورځو يا دهغه څخه پر زِيَات مَسَافَت باندي وُلاَړ شِي يا دَاوَل نَاجوړه شِي چي دقاضي مَجلِس ته حاضرېدل مُشكِل وي نو بيا فَرع گواه جوړېدل جائز دئ.او هغه گواهي وركولائي شي .

وجه : (۱) فَرع گواه د اَصل د مجبورئ وروسته دئ (۲) په اَثَر کي ددې ثبوت شته. عَن شُرَيحٍ اَنّهُ كَانَ لاَيُجِيزُ شَهَادَةَ الشّاهِدِ مَادَامَ حَيًّا وَلَو كَانَ بِاليَمِينِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۴۸۰ في شهادة الشاهدعلْي الشّاهدج۴ص۵۵۴نمبر۲۳۰۶۹) په دې اَثَرکي دئ چي اَصل گواه دَاوَل مجبوره شِي چي دهغه لكبله د قاضي مجلس ته حاضرېدل نَامُمكِن شِي نو هغه وخت د فَرع گواه گواهي قَابِلِ قَبُولَ ده .

حاشيه : (الف) حضرت شريح() شَهَادَة عَلْي الشّهَادَة جائز نَه گانئ ترڅو چي اَصل گواه ژُوَندَئ وي كه څَه هم فَرع گواه قَسَم واخلي او گواهي وركړي .

[۲۸۵۶](۴۷) فَاِن عَدّلَ شُهُودَ الاَصلِ شُهُودُ الفَرعِ جَازَ وَ اِن سَكَتُواعَن تَعدِيلِهِم جَازَ وَيَنظُرُالقَاضِي فِي حَالِهِم[۲۸۵۷](۴۸) وَ اِن اَنكَرَ شُهُودُ الاَصلِ اَلشّهَادَةَ لَم تُقبَل شَهَادَةُ شُهُودِ الفَرعِ .

[۲۸۵۶](۴۷) فَرع گواهانُ كه اَصل گواهان عَادِلاَن كړل جائزدئ.اوكه د دُوئي د تَعدِيل څخه پَټَه خُولَه شول جائز دئ.اُوس دي قاضي د دُوئي پرحَالاَتُ غَور وكړي .

تشريح : فَرع گواهان دقاضي په حضور کي داووايي چي کُوم چاچي مُوړ گواهان جوړ کړي يُو هغه عَادِل اِنسَانَان دي نو دُوئي دَاوَل کولائي شي.او که فَرع گواهان د دُوئي د تَزکيَه او تَعدِيل څخه پَتَه خُولَه شي نو دا هم صحيح دئ.په دې صورت کي د قاضي ذِمّه دَارِي ده چي د اَصل گواهانُ په اَړَه د حَالاَتُ تحقيق او تفتيش وکړي چي هغه خلک عَادِلاَن دي که نَه .

وجه : (۱) فَرع گواهان هم اِنسَانَان دي نوځکه دُوئي ته دبَل چا دتَعدِيل او تَزکيَه حق حاصل دئ.نوځکه دُوئي د اَصل گواهان تَعدِيل کولائي شي.او که وَغُوَارِي چي پَتَه خُولَه شي نو دا هم جائز دئ.که چيري هغه پَتَه خُولَه شي نو دقاضي ذِمّه دَارِي ده چي هغه د اَصل گواهان د حَالاَتُ تحقيق وکړي چي هغه عَادِلاَن دي که غَيرعَادِلاَن دي (۲) په اَثَرکي دئ چي حضرت شريح به وگواهانُ ته دگواهئ پر وخت دا هم ويل چي تَه دا اِقرَار وکه چي اَصل گواهَان عَادِلاَن دي.چي و قاضي صاحب ته د اَصل گواهان په اړه پُورَه اطمينان حاصل شي. اَثَر دادئ. وَيَقُولُ شُرَيحٌ لِلشّاهِدِ قُل اَشهَدَنِي ذُو عَدلٍ (الف) (مصنّف عبدالرّزاق.باب شهادة الرّجُلِ علٰي الرّجُلِ ج۸ص۳۳۸نمبر۱۵۴۴۷)

[۲۸۵۷](۴۸) که اَصل گواهانُ د گواهئ اِنکَار وکړئ نو دفَرع گواهان گواهي نَه قبليږي .

حاشيه : (الف) حضرت شريح به وگواه ته ويل چي.وَوَايَه عَادِل زَه گواه جوړ کړئ يَم .

[۲۸۵۸](۴۹) وَقَالَ اَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي فِي شَاهِدِالزّورِ اُشَهِّرُهُ فِي السّوقِ وَلا اُعَزِّرُهُ .

تشريح : اَصل گواهانُ وويل چي فَرع گواهان مَا نَه دي گواهان کړي نو گواه جوړول نَه شو موجود چي ضرروي دئ لِهْذَا دفَرع گواهان گواهي نَه قبليږي.

وجه : مخته په اَثَرکي تبرشوي دي. عَن حَسَنَ بنِ صَالِحٍ قَالَ قُلتُ لِلجَعدِ بنِ زَکوَانَ.شَهِدتّ شُرَيحًا يَقُولُ: اُجِيزُ شَهَادَةُ الشّاهِدِ عَلٰي الشّاهِدِ اِذَا شَهِدَ عَلَيهِمَا (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۴۸۰ في شهادة الشاهدعلٰي الشاهدج۴ص۵۵۴نمبر۲۳۰۶۸) په دې اَثَر کي دئ چي اَصل گواه پر خپله گواهي باندي فَرع گواه جوړ کړي نو بيا گواه گرزي که نَه نو گواه نَه گرزي.او دَلتَه خواَصل د گواه جوړولو څخه اِنکَار کړئ دئ نوځکه ددې فَرع گواهي به څَه رنگه قَابِلِ قَبُولَ وي؟

د عِبَارَت دُويَم مطلب دادئ چي اَصل گواه ددې خبري څخه اِنکَار وکړئ چي زَه ددې خبري گواه يَم.په دې صورت کي د اَصل گواهئ څخه اِنکَار وشو نوځکه د فرع گواه جوړولو هيڅ سوال نَه پيدا کيږي لِهْذَا فرع گواه به په خپله سَاقِط شي .

[۲۸۵۸](۴۹) امام ابوحنيفه د دُروَاغجَن گواه په اړه وفرمايل زَه په بنَار کي دهغه تَشهِير کوَم او هغه ته سَزَاء نَه وركوَم .

وجه : (۱) په آيت کي دئ چي د دُرُوغجَن ګواه څخه لیري وسپرئ نو دهغه صورت دغه کېدلائي شي چي دهغه په اړه په قَوم او بَازَار کي اِعلاَن او تَشهِير وشي چي خلګ دهغه څخه ځانونه وَسَاتِي.په آيت کي دئ. فَاجتَنِبُوا الرّجسَ مِنَ الأوثَانِ وَاِجتَنِبُوا قَولَ الزّورِ (ب) (آيت ۳۰ سورة الحج۲۲) په دې آيت کې د دُرُوغُ ګواهئ څخه د ليري کېدو تَاکِيد کړئ دئ (۲) په اَثَر کي دئ. عَنّ عُمَرَبنِ الخَطّابِ اَمَرَ بِشَاهِدِ

حاشيه : (الف) مَا وجَعدبن زكوان ته وويل چي دحضرت شريح څخه مِي دا وَينَا اَورېدلي ده.شَهَادة عَلْي الشّهَادَة هغه وخت جائز دئ چي دغه دواړه ګواهان يې پر هغه باندي بَاضَابِطَه ګواهان جوړ کړي وي (ب) د بُت پَرَستَئ څخه ځان ګورَئ او د دُرُوَاغُ د ګواهئ څخه ځان ګورَئ .

[۲۸۵۹](۵۰) وَقَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي نُوجِعُهُ ضَربًا وَنَحبِسُهُ .

الزّورِ اَن يُسخَمَ وَجهَهُ وَيُلقْي فِي عُنُقِهِ عَمَامَتَهُ وَيُطَافَ بِهِ فِي القَبَائِلِ وَيُقَالُ اَنّ هْذَا شَاهِدُالزّورِ فَلاَ تَقبَلُوا لَهُ شَهَادَةٌ (الف) (مصنّف عبدالرّزاق.باب عقوبة شاهدالزّور ج۸ص۳۲۷نمبر۱۵۳۹۴/مصنّف ابن ابي شيبة ۴۶۵ شاهدالزّور مايصنع به؟ ج۴ص۵۵۰نمبر۲۳۰۳۴) په دې اَثَرکي دئ چي د دُرُوغجَن ګواه تَشهِير يې کړئ دئ.نوځکه د امام ابوحنيفه (ؒ) په نېز به صِرف تَشهِير کيږي .

[۲۸۵۹](۵۰) او صاحبين فرمايي چي مُوږ ده ته تکليف ورکو او قَيد ورکو .

تشريح : صاحبين فرمايي چي دُرُوغجَن ګواه ته به تَعزِير او قَيد به هم ورکوي .

وجه : په اَثَرکي دئ. عَن مَكحُولٍ اَنّ عُمَرَ بِنِ الخَطّابِ ضَرَبَ شَاهِدَ الزّورِ اَربَعُونَ سَوطًا (ب) (مصنّف عبدالرّزاق.باب عقوبة شاهدالزّور ج۸ص۳۲۷نمبر۱۵۳۹۶/مصنّف ابن ابي شيبة ۴۶۵ شاهدالزّور مايصنع به؟ ج۴ص۵۵۱نمبر۲۳۰۴۰) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي دُرُوغجَن ګواه ته به تَعزِير ورکوي .

حاشيه : (الف) حضرت عمر د دُرُوغجَن ګواه په اړه حُکم ورکړئ چي دهغه مَخ وَرتُور کئ او دده په غَارَه کي دده لَنګوټَه(عَمَامَه)وَروَاچَوَئ او په قَومُو کي وَګرزَوَئ او دا ووايئ چي دا دُرُوغجَن ګواه دئ نوځکه دده ګواهي دي نَه قبلوي (ب) حضرت عمر دُرُوغجَن ګواه څلوېښت کُوړې وَوَاهَئ .

﴿... كِتَابُ الرّجُوع عَنِ الشّهَادَةِ ...﴾

[۲۸۶۰](۱) اِذَا رَجَعَ الشّهُودُ عَن شَهَادَتِهِم قَبلَ الحُكمِ بِهَا سَقَطَت شَهَادَتُهُم وَلاَ ضَمَانَ عَلَيهِم .

﴿... كِتَابُ الرّجُوع عَنِ الشّهَادَةِ ...﴾

ضروري پام لرنه : چې ګواهي ورکړي او ببرته دهغه څخه رُجُوع وکړي و دې ته رُجُوعٌ عَنِ الشّهَادَة ويل کيږي.ثبوت يې په دې حديث کې دئ. حَدّثَنِي عَبدُاللهِ بِنِ بُرِيدَةَ عَن اَبِيهِ قَالَ كُنّا اَصحَابُ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) نَتَحَدّثُ اَنّ الغَامِدِيّةَ وَمَاعِزَبنِ مَالِكٍ لَو رَجَعَا بَعدَ اِعتِرَافِهِمَا اَو قَالَ لَو لَم يَرجِعَا بَعدَ اِعتِرَافِهِمَا لَم يَطلُبهُمَا وَاِنّمَا رُجِمَهَا عِندَالرّابِعَةِ. په بَل رِوَايَت کې دئ. حَدّثَنِي يَزِيدُ بِنِ نُعَيمِ بِنِ هَزَالٍ عَن اَبِيهِ قَالَ كَانَ مَاعِزُ بِنِ مَالِكٍ يَتِيمًا ... ثُمّ اَتَي النّبِيّ (ﷺ) فَذَكَرَ لَهُ ذَالِكَ هَلاّ تَرَكتُمُوهُ لَعَلّهُ اَن يَتُوبَ فَيَتُوبُ اللهُ عَلَيهِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب رَجمِ ماعِزبن مالک ص ... نمبر۴۴۳۴/۴۴۱۹) په دې حديث کې دئ چې که حضرت ماعز د زِنَا د اِعتِرَاف وروسته رُجُوع کړې وائ نو حَد به نَه وائ پر جاري شوئ.ددې څخه د ګواهانُ رُجُوع کول ثابِتَه شوه .

پام لرنه : ددې بَاب اَكثَرَه مسئلې پر دې اُصُول متفرّع دي چې کُوم چا چې د هر چا څومره نُقصَان وکړئ هغه به په هغونه اَندَازَه ذِمّه دَار وي. په آيت او اَثَر سره ددې دلائل مخته رَارَوَان دي .

[۲۸۶۰](۱) که ګواه دخپلې ګواهئ څخه دفيصلې څخه مخکې رُجُوع وکړي نو دهغوئي شَهَادَت به سَاقِط شي او پر دُوئي باندي ضَمَان نَه لازميږي .

حاشيه : (الف) عبدالله بن بريده دخپل پُلاَرځخه نَقل کوي وفرمايل چې مورِ دحضور(ﷺ)د اَصحَابَانُ حضرت مَاعِز او حضرت غَامِدِيّه په اړه خبري کولې چې که چيري دُوئي د زِنَاء د اِعتِرَاف څخه رُجُوع کړي وائ يايې داسي وفرمايل چې د اِعتِرَاف وروسته دُوبَارَه بيا نَه وَائ راغلي نو دواړه به نَه وائ طَلَب کړي ځکه چې څلورم وار يې رَجَم کړل... په بَل روايت کې دئ بيا خلک حضور (ﷺ) ته راغلل او دحضرت مَاعِز تَذكِرَه يې وکړه نوحضور (ﷺ) وفرمايل دئ يې وَلِي نَه پرېښوئ؟ شَايَد ده توبَه کړې وائ الله تعالٰي به توبَه قبوله کړې وائ .

[۲۸۶۱](۲) فَاِن حَكَمَ بِشَهَادَتِهِم ثُمّ رَجَعُوا لَم يُفسَخِ الحُكمُ وَ وَجَبَ عَلَيهِم ضَمَانُ مَا اَتلَفُوهُ بِشَهَادَتِهِم .

وجه : (۱) مخته حديث تېرشوئ دئ. وَمَاعِزَبنِ مَالِكٍ لَو رَجَعَا بَعدَ اِعتِرَافِهِمَا ... لَم يَطلُبهُمَا (ابوداؤدشريف.نمبر۴۴۳۴) په دې حديث کې دئ چې د حَد اِقرَار کونکئ که چيري دفيصلې څخه وروسته هم رُجُوع وکړي نو دده پر ګواهي باندي هيڅ دَوَل فيصله نَه شي کېدلائي.ځکه چې دواړه شَهَادَتُونَه په خپل مينځ کې سره مُتَعَارِض شول.او په ګواهي سره دهيڅ چا کُوم نُقصَان نَه دئ شوئ نوځکه پر ده باندي هيڅ دَوَل ضَمَان نَه لازميږي (۲) په اَثَر کې دئ. سَألتُ الزّهرِيّ عَن رَجُلٍ شَهِدَ عِندَ الاِمَامِ فَاَثبَتَ الاِمَامُ شَهَادَتَهُ ثُمّ دَعْي لَهَا فَبَدّلَهَا اَتَجُوزُ شَهَادَتُهُ الأُولٰي اَوِ الآخِرَةُ ؟ قَالَ لاَشَهَادَةَ لَهُ فِي الأُولٰي

وَلاَ فِي الآخِرَةِ. قَالَ الشّيخُ وَهٰذَا فِي الرّجُوعِ قَبلَ اِمضَاءِ الحُكمِ بِالأُولٰي (الف) (سنن للبيهقي.باب الرّجوع عن الشهادة ج١٠ص٤٢٥نمبر٢١١٩٥) په دې اَثَر کي دئ چې که دفيصلې څخه مخکې رُجُوع وکړي نو اَوّلَه يا دُويَمَه هيڅ يوه ګواهي يې اِعتِبَار نَه لري .

[٢٨٦١](٢) که چيري د دُوئي په ګواهئ سره فيصله وکړه بيا هغو رُجُوع وکړه نو فيصله نَه فَسخ کيږي.او د دُوئي په شَهَادَت سره چې کُوم نُقصَان راغلئ دئ دهغه ضَمَان به پر دُوئي لاَزِم شي .

تشريح :ګواهانُ ګواهي ورکړه.دهغه په رَنّاکي قاضي فيصله وکړه وروسته ګواهانُ رُجُوع وکړه نو اُوس به فيصله نَه ختميږي.د دُوئي په ګواهئ سره چې څومره نُقصَان شوئ دئ دهغه ضَمَان به پر هغه ګواهانُ لاَزِم وي کُوم چې رُجُوع يې کړې ده .

حاشيه : (الف) مَا دحضرت زُهري څخه پُوښتَنه وکړه يَوسړئ و اِمَام ته ګواهي ورکړي او اِمَام دهغه ګواهي وليکي.بيا دُوبَارَه رَاوَبَلَل شِي نو ګواهي بَدَلَه کړي نو دده هغه اَوّلَه ګواهي به صحيح ګڼل کيږي که دُويَمَه؟ وفرمايل نَه به دده اَوّلَه ګواهي مَنَل کيږي نَه وروستنَئ.حضرت شيخ وفرمايل دا خبره پر اَوّلَه ګواهي د فيصلې د کېدو څخه مخکې ده چې ګواهي يې اِعتِبَار نَه لري .

[٢٨٦٢](٣) وَلاَيَصِحّ الرّجُوعُ اِلاّ بِحَضرَةِ الحَاكِمِ .

وجه : په اَثَر کي دئ. عَنِ الشّعَبِيّ اَنّ رَجُلَينِ شَهِدَا عِندَ عَلِيّ عَلٰي رَجُلٍ بِالسّرَقَةِ فَقَطَعَ عَلِيّ يَدَهُ ثُمّ جَاءَا بِآخَرَ فَقَالاَ هٰذَا هُوَ السّارِقُ لاَ اَلاَوّلُ. فَاَغرَمَ عَلِيّ اَلشّاهِدَينِ دِيَةَ يَدِالمَقطُوعِ الاَوّلِ وَقَالَ لَو اَعلَمُ اَنّكُمَا تَعَمّدتّمَا لَقَطَعتُ اَيدِيَكُمَا وَلَم يُقطَعِ الثّانِي (الف) په بَل رِوَايَت کي دئ. عَنِ الحَسَنِ قَالَ اِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ عَلٰي قَتلٍ ثُمّ قُتِلَ القَاتِلُ ثُمّ يَرجِعُ اَحَدُ الشّاهِدَينِ قُتِلَ (ب) (سنن للبيهقي.باب الرّجوع عن الشهادة ج١٠ص٤٢٤نمبر٢١١٩٢/ ٢١١٩٣/ مصنّف ابن ابي شيبة ٣٧٦ اَلشّاهدان يشهدان ثمّ يرجع احدهماج٤ ص٥٠٦ نمبر٢٢٥٥٥) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې په مَعَامَلاَتُ کي به فيصله نَه بَدلِيږي البته پر ګواهانُ به د نُقصَان ضَمَان لازِم شي.مخته د حضرت حَسَن په اَثَر کي دقَتل مطلب دادئ چې رُجُوع کونکئ ګواه قَتل شو .

فيصله چې وشي نو بيا نَه ختميږي دهغه دليل دا اَثَر دئ. عَنِ الثّورِيّ فِي رَجُلٍ اَشهَدَ عَلٰي شَهَادَتِهِ رَجُلاً فَقَضٰي القَاضِي بِشَهَادَتِهِ ثُمّ جَاءَ الشّاهِدُ اَلّذِي شَهِدَ عَلٰي شَهَادَتِهِ فَقَالَ لَم اَشهَد بِشَيءٍ قَالَ يَقُولُ اِذَا قَضٰي القَاضِي مَضٰي الحُكمُ (ج) (مصنّف عبدالرّزاق.باب الشاهديرجع عن شهادته او يُشهدثُم يجحدج٨ص٣٥٣نمبر١٥٥١٣/سنن للبيهقي.باب الرجوع عن الشهادة ج١٠ص٤٢٤نمبر٢١١٩٤) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې فيصله وَشِي بيا به نَه ختموي .

[٢٨٦٢](٣) رُجُوع نَه صحيح کيږي مګر دحَاکِم په مخکي .

حاشيه : (الف) حضرت شعبي وفرمايل چې دُو کسانُ دحضرت علي په مخکي پر يَوَه سړي باندي د غَلاَ ګواهي ورکړه.نوحضرت علي دهغه لاَس پرې کړئ بيا دُوبَارَه ګواهان رَاغلَل او وويل چې دغه دُويَم سړئ غَل دئ هغه اَوّل غَل نَه دئ.نوحضرت علي پر دواړو ګواهانُ باندي د مَقطُوع د لاَس دِيَت لازِم کړئ او وفرمايل چې که مَاتَه معلوم وائ چې تَاسُو په قَصداً دَاوَل کړي دي(يعني دُرُوغجَنَه ګواهي مُو ورکړي ده)نو مَا به ستاسو دواړو

لأسونه پرې کړي وائ.او دهغه بَل غَلَه لاس يې پرې نَه کړئ (ب) حضرت حسن وفرمايل که سړئ د چا دقَتل گواهي ورکړي چې دهغه په وجه قَاتِل قَتل شو بيا د دُوُ گواهانُ څخه يَوَه گواه رُجُوع وکړه نو رُجُوع کونکئ گواه به قتل کيږي (ج) حضرت ثوري وفرمايل يوچا پر خپله گواهي باندي گواه وَنِيوَئ.قاضي دهغه پر گواهي باندي فيصله ورکړه.بيا هغه اَصل گواه راغلئ او وويل مَا هيڅ څوک گواه نَه دئ جوړ کړئ.فرمايل به چې کُوم وخت قاضي فيصله ورکړي نو حُکم به نَافِذ شي .

[۲۸۶۳](۴) وَاِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ بِمَالٍ فَحَكَمَ الحَاكِمُ بِهِ ثُمّ رَجَعَا ضَمِنَا المَالَ لِلمَشهُودِ عَلَيهِ .

تشريح : چې د گواهئ څخه رُجُوع کول غُوَاړي که چيري دحَاکِم په مخکي رُجُوع وکړه نو دا به رُجُوع گڼل کيږي.که دعَوَامُ په مخکي رُجُوع وکړه نو هغه رُجُوع نَه گڼل کيږي .

وجه : (۱) د اَوّلِي گواهئ خِلاَف چې کُومَه فيصله کوي هغه به قاضي کوي نوپه دغه وجه چې دقاضي په مخکي رُجُوع وکړي هغه به رُجُوع گڼل کيږي (۲) په اَثَر کي ودې ته اِشَارَه شوې ده. عَنِ الشّعَبِيّ اَنّ رَجُلَينِ شَهِدَا عِندَ عَلِيّ عَلْي رَجُلٍ بِالسّرَقَةِ فَقَطَعَ عَلِيّ يَدَهُ ثُمّ جَاءَا بِآخَرَ فَقَالاَ هٰذَا هُوَ السّارِقُ لاَ اَلاَوّلُ (الف) (سنن للبيهقي.باب الرّجوع عن الشهادة ج۱۰ص۴۲۴نمبر۲۱۱۹۲) په دې اَثَر کي چې گواهان اَوّل حضرت علي ته راغلل او دُويَم گواهان د رُجُوع کولو لپاره هم حضرت علي ته راغلل.او حضرت علي قاضي وُ ددې څخه معلوم شوچې د رُجُوع کولو لپاره هم قاضي ته راشي نو بيا رُجُوع مَقبُول ده .

[۲۸۶۳](۴) که دُوُ گواهانُ د مَال گواهي ورکړه.نوحَاکِم دهغه فيصله وکړه بيا دواړو رُجُوع وکړه نو دواړه به دمَشهُودٌ عَلَيهِ دمَال ضَامِن وي .

تشريح : مخته تير شوچې دقاضي دفيصلې وروسته گواهان رُجُوع وکړي نو کُوم نُقصَان چې شوئ دئ گواهان به دهغه تَلاَفِي کوي.په دې مسئله کي دچاخِلاَف چې گواهي ورکړې ده دهغه نُقصَان يې کړئ دئ نوځکه دهغه دنُقصَان ضَامِن به وي .

وجه : (۱) په اَثَرکي راغلي دي. عَن اِبنِ شِبرِمَةَ فِي رَجُلَينِ شَهِدَا عَلْي رَجُلٍ بِحَقّ

حاشيه : (الف) حضرت شعبي وفرمايل چې دُوُ کسانُ دحضرت علي په مخکي پر يَوَه سړي باندي د غَلاَ گواهي ورکړه.نوحضرت علي دهغه لاَس پرې کړئ بيا دُوبَارَه گواهان رَاغلل او وويل چې دغه دُويَم سړئ غَل دئ هغه اَوّل غَل نَه دئ.

[۲۸۶۴](۵) وَ اِن رَجَعَ اَحَدُهُمَا ضَمِنَ النّصفَ .

فَاُخِذَا مِنهُ ثُمّ قَالاَ اِنّمَا شَهِدنَا عَلَيهِ بِزُورٍ يَغرِمَانِهِ فِي اَموَالِهِمَا (الف) (مصنّف عبدالرّزاق. باب الشاهديرجع عَن شهادته اويشهدثُمّ يجحدج۸ص۳۵۴نمبر۱۵۵۱۶/سنن للبيهقي.باب الرّجوع عن الشهادة ج۱۰ص۴۲۴نمبر۲۱۱۹۴) په دې اَثَرکي دئ چې گواهانُ کُوم نُقصَان و مَشهُودٌ عَلَيهِ ته رسولئ دئ هغه به اداء کوئ (۲) په دې آيت کي هم ددې قاعدې ثبوت شته چې د

کُوم چا چې څومره نُقصَان کړئ دئ هغونه ضمَان پر لازميږي. وَکَتَبنَا عَلَيهِم فِيهَا اَنّ النّفسَ بِالنّفسِ وَالعَينَ بِالعَينِ وَالاَنفَ بِالاَنفِ وَالأُذُنَ بِالأُذُنِ وَالسِّنّ بِالسِّنّ وَالجُرُوحَ قِصَاصٌ (ب) (آيت۴۵سورة المائدة۵) په دې آيت کي قَاتِل چې څومره نُقصَان کړئ دئ پر هغه باندې په هغونه اَندَازَه جُرمَانَه لازم کړې ده زِيَاتَه نَه .

[۲۸۶۴](۵) که د دواړو ګواهانُ څخه يَوَه رُجُوع وکړه نو د نِيمَئ ضَامِن به وي .

وجه : (۱) د دُوُ ګواهانُ د ګواهئ څخه نُقصَان شوئ دئ نوځکه پر يَوَه باندي به دهغه نُقصَان نِيمَئ لازم وي (۲) په اَثَرکي دئ. عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ عَلَي قَطعِ يَدٍ فَقَضَي القَاضِي بِذَالِکَ ثُمّ رَجَعَا عَن الشّهَادَةِ فَعَلَيهِمَا اَلدِّيَةُ وَاِن رَجَعَ اَحَدُهُمَا فَعَلَيهِ نِصفُ الدِّيَةِ وَبِهِ نَأخُذُ (ج) (ذكره محمّدفي الاصل كمافي المبسوط.اعلاءالسنن. باب الرّجوع عن الشهادة ج۱۰ص۲۹۷نمبر۵۰۴۳) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې يَو ګواه رُجُوع وکړي نو د نِيمَئ نُقصَان ذِمّه دَار دئ .

حاشيه : (الف) حضرت ابن شبرمه فرمايي چې دُوَه کسان د يوچا خِلاَف ګواهي ورکړي دېَوچا په حَق کي.او دهغه څخه وَاخَستَل شو بيايي وويل مُوږ پر ده باندي د دُروَاغُ ګواهي ورکړې ده نو پر دواړو به د دُوئي په مَال کي تَاوَان لازميږي (ب) موږ پر يهوديان باندي فرض کړئ دئ.نَفس د نَفس په بَدلَه کي او سَتَرګَه د سَتَرګِي په بَدلَه کي او پَزَه د پَزي په بَدلَه کي او غُوَږ د غُوَږ په بَدلَه کي او غَاښ به د غَاښ په بَدلَه کي پرې کيږي او د زَخمُونُو هم بَدلَه شته (ج) حضرت ابراهيم وفرمايل که دُوَه کسان د يوچا د لاَس د پرېکېدو ګواهي ورکړي او قاضي دهغه فيصله وکړي بيايي د ګواهئ څخه رُجُوع وکړه نو پر دې دواړو ګواهانُ باندي دِيَت لازميږي او که چيري يَو رُجُوع وکړه نو نِيمَئ دِيَت لازميږي او موږ دغه قَول اَخلُو .

[۲۸۶۵](۶) وَ اِن شَهِدَ بِالمَالِ ثَلْثَةٌ فَرَجَعَ اَحَدُهُم فَلاَضَمَانَ عَلَيهِ فَاِن رَجَعَ آخَرُ ضَمِنَ الرّاجِعَانِ نِصفَ المَالِ .

[۲۸۶۵](۶) که دُرُو ګواهانُ د مَال ګواهي ورکړه.بيا دهغوئي څخه يَوَه رُجُوع وکړه نو پر هغه باندي ضَمَان نشته.که چيري دُويَم هم رُجُوع وکړه نو دواړه رُجُوع کونکي به د نِيمَئ مَال ضَامِن وي .

تشريح : د مَال فيصله خو په دُوُ ګواهانُ سره کيږي لېکن دَلتَه دُرُو کَسَانُ ګواهي ورکړې ده يَو زِيَات دئ.د دُوُ څخه زيات ګواهان ګواهي ورکولائي شي لېکن دا کُوم خاص اِعتِبَار نَه لري.په اَثَرکي دئ. . کَتَبَ عَبدُالرّحمٰنُ بنِ اُذَينَةَ اِلَي شُرَيحٍ فِي نَاسٍ مِّنَ الاَزدِ اِدّعُوا قِبَلَ نَاسٍ مِّن بَنِي اَسَدٍ قَالَ وَاِذَا غَدَا هٰؤلاَءِ بَيّنَةً رَاحَ اُولٰئِکَ بِاَکثَرَ مِنهُم قَالَ فَکَتَبَ اِلَيهِ لَيسَت مِنَ التّهَاتُرِ وَالتّکَاثُرِ فِي شَيءٍ. اَلدّابّةُ لِمَن هِيَ فِي اَيدِيهِم اِذَا قَامُوا اَلبَيّنَةَ. او په يوه بَل روايت کي راغلي دي عَن حَنَشَ عَن عَلِيٍّ اَنّهُ لاَيُرَجّحُ بِکَثرَةِ العَدَدِ (الف) (سنن للبيهقي.باب من قال لايرجح في الشهود بكثرة العدد ج۱۰ ص۴۳۴نمبر۲۱۲۲۷) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې د فيصلې مَدَار د دُوُ څخه پر زِيَاتُ ګواهانُ باندي نَه دئ.ددې قاعدې

وروسته دمسئلې صورت دادئ چې دُرُو کسانُ د مَال ګواهي ورکړه بيا يَوَه ګواه دخپلې ګواهئ څخه رُجُوع وکړه نو پر هغه ضَمَان نَه لازميږي .
وجه : ځکه چې دفيصلې مَدَار پر دغه سړي يعني پر دغه ګواه باندي نَه وُ. وروسته چې بَل ګواه رُجُوع وکړه نو ګواکه نِيمَئ ګواهئ رُجُوع وکړه نو ځکه پر دُوئي

حاشيه : (الف) حضرت عبدالرّحمٰن بن اذينه د ازد دخلګو په اړه وحضرت شريح ته وليکل چې د بني اسد پر خلګو يې دعوه کړې وه.فرمايي چې کوم وخت دې خلګو بَيِّنَه پيش کړه نو هغو خلګو ددې څخه زياته بَيِّنَه پيش کړه.فرمايي چې قاضي شريح و دُوئي ته وليکل چې د دَعوې زياتوالئ اِعتِبَار نَه لري.حيوان دهغه دئ دکوم چا په قبضه کې چې دئ که هغه بَيِّنَه قائم کړه.په يوه بَل رِوَايَت کې راغلي دي.حضرت علي فرمايي چې د عَدَد په دِپرَښت سره به ترجيح نَه ورکول کيږي .

[۲۸۶۶](۷) وَ اِن شَهِدَ رَجُلٌ وَ اِمرَأ تَانِ فَرَجَعَت اِمرَأ ةٌ ضَمِنَت رُبعَ الحَقِّ [۲۸۶۷](۸) وَ اِن رَجَعَتَا ضَمِنَتَا نِصفَ الحَقِّ .

دواړو باندي نِيمَئ ضَمَان لازم دئ.مثلاً د شَل دِرهَم فيصله شوې وه نو پر رُجُوع کونکو دواړو ګواهانُ باندي لَس دِرهَم ضَمَان لازم دئ او دهر يوه په حِصّه کې به پِنځَه پِنځَه دِرهَم راشي .
اُصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چې دفيصلې مَدَار د دُوُ څخه پر زِيَاتُ ګواهَانُ نَه دئ .
[۲۸۶۶](۷) او که يَوَه نَر او دُوُښځو ګواهي ورکړه.بيا يوې ښځي رُجُوع وکړه نو د حَق د څلورمي حِصّې ضَامِنَه به وي .
وجه : په ګواهي کې دُوې ښځي د يَوَه نَر سره برابري دي نوځکه يَوَه نَر ګواکه نِيمَئ ګواهي ورکړې ده او دُوُ ښځو دا پَاتَه نيمئ ګواهي ورکړې ده.ددې څخه چې يَوَه ښځه رُجُوع وکړي نو ګواکه د ګواهئ د څلورمي حِصّې څخه رُجُوع وشوه نوځکه پر دغه ښځه به څلورمه حِصّه ضَمَان لازم شي .
[۲۸۶۷](۸) او که دواړو ښځو رُجُوع وکړه نو دنِيمَئ ضَمَان به لازم شي .
وجه : (۱) دُوې ښځي د نِيمَئ ګواهئ قَائِم مَقَام دي.لِهٰذَا که دواړو رُجُوع وکړه نو د تولَ نُقصَان د نِيمَئ ذِمّه دَار به وي (۲) اَثَر مخته تېرشوئ دئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ عَلٰي قَطعِ يَدٍ فَقَضٰي القَاضِي بِذَالِکَ ثُمّ رَجَعَا عَن الشّهَادَةِ فَعَلَيهِمَا اَلدِّيَةُ وَاِن رَجَعَ اَحَدُهُمَا فَعَلَيهِ نِصفُ الدِّيَةِ وَبِهِ نَأخُذُ (الف) (ذكره محمّدفي الاصل كمافي المبسوط.اعلاءالسنن. باب الرّجوع عن الشهادة ج۱۰ص۲۹۷نمبر۵۰۴۳) په دې اَثَرکي دئ چې نِيمَئ ګواه رجوع وکړي نو پر هغه باندي نِيمَئ ضَمَان لازم دئ .

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم نَخَعِي وفرمايل كه ډُوَه كسان د يوچا د لأس د پرېكېدو گواهي وركړي او قاضي دهغه فيصله وكړي بيايي دواړو د گواهئ څخه رُجُوع وكړه نو پر دې دواړو گواهانُ باندي دِيَت لازم دئ او كه چيري يَو رُجُوع وكړه نو پر هغه نِيمَئ دِيَت لازم دئ او مور دغه قَول اِختِيَار كړئ دئ .

[٢٨٦٨](٩) وَاِن شَهِدَرَجُلٌ وَعَشرُ نِسوَةٍ فَرَجَعَ ثَمَانُ نِسوَةٍ مِّنهُنّ فَلاَضمَانَ عَلَيهِنّ [٢٨٦٩](١٠) فَاِن رَجَعَت اُخرْي كَانَ عَلْي النِّسوَةِ رُبعُ الحَقّ [٢٨٧٠](١١) فَاِن رَجَعَ الرّجُلُ وَالنِّسَاءُ فَعَلْي الرّجُلِ سُدُسُ الحَقّ وَعَلْي النِّسَاءِ خَمسَةُ اَسدَاسِ الحَقّ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ ﷺ وَقَالاَ عَلْي الرّجُلِ اَلنِّصفُ وَعَلْي النِّسوَةِ اَلنِّصفُ.

[٢٨٦٨](٩) كه يَوَه نَر او لَس ښځو گواهي وركړه.بيا ددې څخه اَتَه ښځو رُجُوع وكړه نو پر دې ښځو ضَمَان نشته .

وجه : يَو نَر او دُوې ښځي لاَ تر اُوسَ پوري پاته دي چې پر دغه باندي دفيصلې مَدَار دئ.نوځكه پر دغه رُجُوع كونكو اَتَه ښځو باندي هيڅ شَئ نَه لازميږي .

[٢٨٦٩](١٠) كه چيري نَهَم ښځه هم رُجُوع وكړي نو پر ښځو دحَق څلورمه لازم ده .

تشريح : اَوّل چې اَتَه ښځو رُجُوع كړې وه نو پر هغوئي هيڅ شَئ لازم شوئ نَه وُ. اُوس نَهَم ښځي هم رُجُوع وكړه نو اُوس يَو نَر او يَوَه ښځه پاته شو. د يَوَه نَر نِيمَئ گواهي شوه او ديَوې ښځي گواهي د پُورَه گواهئ څلورمه حِصّه شوه نو مَجمُوعَه يې د يَوې گواهئ درې حِصّې شوې.او د نَه ښځو مجموعه گواهي د پُورې گواهئ گواكه يَوې څلورمي حِصّې څخه رُجُوع شوې ده.نوځكه پر دې ټولو ښځو به دضَمَان څلورمه حِصّه لازم وي .

اصول : مخته د اَثَرځخه دا ثابت شوي وُ چې كُوم پاته دي دهغه گواهي مُعتَبَرَه ده د دُوُ څخه عَلاَوَه چې كُوم گواهان رُجُوع وكړي هغه اِعتِبَار نَه لري .

[٢٨٧٠](١١) كه چيري نَر او ښځي ټوله رُجُوع وكړي نو پر نَر باندي دحَق شُپږمَه حِصّه لازم ده او پر ښځو باندي پِنځَه شُپَږيَان لازم دي د امام ابوحنيفه په نېز او صاحبين فرمايي چې پر نَر باندي نِيمَئ او پر ټولو ښځو باندي نِيمَئ .

[٢٨٧١](١٢) وَ اِن شَهِدَ شَاهِدَانِ عَلْي اِمرَأةٍ بِالنِّكَاحِ بِمِقدَارِ مَهرِمِثلِهَا اَو اَكثَرَ ثُمّ رَجَعَا فَلاَ ضَمَانَ عَلَيهِمَا .

تشريح : دُوې ښځي د يَوَه نَر قائم مقام دي نو په دې حِسَاب سره لَس ښځي د پِنځو نَرَانُ قائم مقام شوې او يَو خو نَر دئ نو گواكه شُپَږ نَرَانُ د مَال گواهي وركړې ده لِهْذَا چې ټولوښځو رُجُوع وكړه نو پر نَر به يَوَه شُپَږمَه حِصّه لازم شي.او پاتَه پِنځَه شُپَږمِي حِصّې به پر دا پاته لَس ښځو باندي لازم شي. مثلاً : د كُوم مَال گواهي چې

يَوَه نَر او لَس ښځو ورکړي ده دهغه قيمت اَتَه څلوېښت (۴۸) دِرهَم دي.اُوس د رُجُوع په صورت کي پر نَر باندي يَوَه شُپَږمَه حِصّه ۸=۶÷۴۸ اَتَه دِرهَم به لازم شي. او پر لَس ښځو به پِنځَه شُپږمِي حِصّې يعني څلوېښت (۴۰) دِرهَم به لازم شي.او د هري ښځي پر ذِمّه به څلور دِرهَم راشي .

وجه : نَر او ښځو ټولو په يَو وار ګواهي ورکړي ده نوځکه لَس ښځي پنځه نَرَان شول او يَو نَر دئ نو ګواکه شُپَږ نَرَانُ ګواهي ورکړي ده نوځکه پر نَر باندي به د يَوَه نَر حِصّه يعني شُپَږمَه حِصّه ضَمَان لازم شي او پر لَس ښځو باندي به د پِنځو نَرَان ضَمَان يعني پِنځه شُپَږ حِصّې ضَمَان لازم شي .

فائده : صاحبين فرمايي چي پر نَر باندي نِيمَئ ضَمَان لازميږي او دا نور پاته نِيمَئ ضَمَان پر ټولو ښځو لازميږي.په تېرشوي مثال کي د اَتَه څلوېښت (۴۸) دِرهَم نِيمَئ يعني څليرويشت دِرهَم به پر نَر لازم شي او دا پاته (۲۴) دِرهَم به پر لَس ښځو باندي لازم شي.او پر هره ښځه به دُوَه دِرهَم او څلوېښت (۴۰) پيسې لازم شي .

وجه : دُوئي فرمايي چي د نَر بغيره صِرف دښځو ګواهي مَقبُول نَه ده نو نَر ګواکه نِيمَئ ګواهي ورکړي ده او لَس ښځو په مجموعي توګه نِيمَئ ګواهي ورکړي ده نوځکه نِيمَئ ضَمَان به پر نَر او نِيمَئ ضَمَان به پر لَس ښځو لازم شي .

[۲۸۷۱](۱۲) که دُوُ ګواهانُ پر يَوَه ښځه د نکاح ګواهي ورکړه ددې د مَهرِمِثل په مِقدَار يا دهغه څخه پر زِيَات باندي بيا دواړو رُجُوع وکړه نو پردواړو ضَمَان نشته .

[۲۸۷۲](۱۳) وَ اِن شَهِدَا بِاَقَلّ مِن مَهرِ المِثلِ ثُمّ رَجَعَا لَم يُضمَنَا اَلنّقصَانَ .

وجه : د رُجُوع کولو وروسته ګواه د نُقصَان ضَامِن وي.دَلتَه مَهرِمِثل يا دهغه څخه زِيَات يې وښځه ته ورکړئ نوځکه د رُجُوع وروسته دښځي هيڅ نُقصَان نَه دئ شوئ وښځه ته خو دبُضعې په بَدلَه کي مَهرِمِثل ملاؤ شوکه څَه هم ددې بُضعَه وُلاَړَه لِهٰذَا ګواه به ضَامِن نَه وي .

اصول : چي د ګواه د ګواهئ په وجه نُقصَان شوئ وي نو د رُجُوع کولو په صورت کي دهغه نُقصَان لازميږي .او که نُقصَان نَه وي شوئ بلکه دمَشهُودٌ عَلَيهِ فائده شوې وي يا سره برابر برابر شوئ وي نو ګواه ضَامِن نَه دئ .

[۲۸۷۲](۱۳) که دواړه د مَهرِمِثل څخه د کَم(لَږ)ګواهي ورکړي بيا دواړه رُجُوع وکړي نو دنُقصَان ضَامِن نَه دي .

تشريح : دُوُ ګواهانُ پر يَوَه ښځه ګواهي ورکړه چي مثلاً په پِنځَه سوه نِکَاح شوې ده. او مَهرِمِثل زَر(۱۰۰۰) کلداري وُ بيا دواړو رُجُوع وکړه نو پر ګواهانُ باندي ضَمَان نَه لازميږي .

وجه : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چې د نکاح پر وخت بُضعَه قیمت لري او د طلاق پر وخت قیمت نَه لري.او دُویَم اصول دادئ چې څَه نه څَه مَهر مُتَعَیّن شي نو هغه مَهر اَصل دئ مَهرِمِثل اَصل نَه دئ. دَلتَه وښځه ته د بُضعَه په بَدلَه کي څَه نَه څَه ملاؤ شوئ دئ که څَه هم د مَهرِمِثل څخه کَم دئ.نوځکه ګواهانُ ددې هیڅ نُقصَان نَه دئ کړئ لِهْذَا پر دُوئي باندي ضَمَان نَه لازميږي .

اصول : (۱) مَهر چې هرڅونه مُتَعَیّن شي هغه کِفَایَت کوي خو په دې شرط چې د لَس دِرهَم څخه زِیَات وي (۲) بُضعَه دنکاح پر وخت مُتَقَوّم ده د فَسخ په صورت کي مُتَقَوّم نَه ده .

[۲۸۷۳](۱۴) وَکَذَالِکَ اِذَا شَهِدَا عَلْي رَجُلٍ بِتَزوِیجِ اِمرَأةٍ بِمِقدَارِ مَهرِ مِثلِهَا [۲۸۷۴](۱۵) فَاِن شَهِدَا بِاَکثَرَ مِن مَهرِ المِثلِ ثُمّ رَجَعَا ضَمِنَا الزِّیَادَةَ .

[۲۸۷۳](۱۴) دغه رنګه که ګواهي ورکړه پر نَر باندي د ښځي سره د نکاح کولو ددې د مَهرِمِثل په مِقدَار باندي .

تشریح : دښځي مَهرِمِثل مثلاً زَر کلداري دئ او دُو ګواهانُ پر نَر باندي ګواهي ورکړه چې د زَر کلدارو په بَدلَه کي د فُلاَنَئ ښځي سره نکاح کړې ده.مېړه د ښځي سره وَطِي وکړې بیا ګواهانُ رُجُوع وکړه نو پر ګواهانُ باندي هیڅ ضَمَان نشته .

وجه : دَلتَه مېړه زَر کلداري خو اداء کړي دي لېکن دهغه په بَدلَه کي و ده ته بُضعَه ملاؤشوې ده چې دهغه مَهرِمِثل زَرکلداري دئ.نوځکه دمېړه هیڅ نُقصَان نَه دئ شوئ لِهْذَا پر ګواهانُ باندي هیڅ دَوَل ضَمَان نَه لازميږي.پاته شوه دا مسئله چې په رَارَوَانَ مُدَه او وخت کي دئ وَنَه ثُوَانبِدَئ چې بُضعَه اِستِعمَال کړي نو دا کُوم اِعتِبَار نَه لري ځکه چې مَهر خو دهغه اَوّل وار وَطِي قیمت ګڼل کیږي.او د وروسته وَطِي په دغه کي تَدَاخُل راځي .

[۲۸۷۴](۱۵) او که دواړو د مَهرِمِثل څخه د زِیَاتُ ګواهي ورکړه بیایې رُجُوع وکړه نو د زِیَاتُوب ضَامِن به وي .

تشریح : مثلاً مَهرِمِثل زَر کلداري وُ او ګواهانُ ګواهي ورکړه چې په دُوُلَس سوه کلداري نکاح شوې وَه.مېړه دمَینې سره وَطِي وکړې بیا ګواهانُ رُجُوع وکړه نو د مَهرِمِثل څخه زِیَات چې کُوم دُوَه سَوَه کلداري دي دهغه به ضَامِن وي .

وجه : دبُضعې قیمت مَهرِمِثل یعني زَرکلداري وُ او ګواهانُ د دُوُلَس سَوَه ګواهي ورکړه.او وروسته رُجُوع هم وکړه نو ګواکه ګواهانُ دُوَه سوه نُقصَان ورکړئ نوځکه ګواهان به د دُوُسُوُ ضَامِن وي .

[۲۸۷۵](۱۶) وَ اِن شَهِدَا بِبَيعِ شَيءٍ بِمِثلِ القِيمَةِ اَو اَكثَرَ ثُمّ رَجَعَا لَم يَضمَنَا [۲۸۷۶](۱۷) وَاِن كَانَ بِاَقَلّ مِنَ القِيمَةِ ضَمِنَا النّقصَانَ .

اصول : گواه چي په څومره اَندَازَه نُقصَان ورکړي په هغونه اَندَازَه به ضَامِن وي. ددې لپاره اَثَرمخته تېرشوئ دئ (اعلاءالسنن.نمبر۵۰۴۳)

[۲۸۷۵](۱۶) که د يَوشِي د خرڅولو گواهي ورکړه په مِثل قيمت باندي يا دهغه څخه په زِيَات باندي بيايې رُجُوع وکړه نو ضَامِن نَه دي .

تشريح : مثلاً دشِي قيمت پِنځه دِرهَم وُ او دُوُ کسانُ گواهي ورکړه چي زَيد دغه شَئ په پِنځَه يا په شُپَږ دِرهَم خرڅ کړئ دئ.د مُشتَرِي د قبضې وروسته د گواهئ څخه رُجُوع وکړه نو پر گواهانُ باندي هيڅ ضَمَان نَه لازميږي .

وجه : چي د څومره قيمت شَئ وُ هغونه قيمت ده ته ورسېدئ يا دهغه څخه زِيَات ورته ورسېدئ نوځکه گواهانُ هيڅ نُقصَان نَه دئ کړئ لِهْذَا پر دُوئي ضَمَان نَشته .

[۲۸۷۶](۱۷) او که دقيمت څخه دگم گواهي ورکړه نو دواړه دنُقصَان ضَامِن دي .

تشريح :/ وجه : (۱) په تېر مثال کي د شِي قيمت پِنځَه دِرهَم وُ.گواهانُ گواهي ورکړه چي په څلور دِرهَم يې خرڅ کړئ دئ بيايې رُجُوع وکړه نو گواهانُ بَائِع ته يَو دِرهَم نُقصَان وَرَسَاوَئ نوځکه گواه به دنُقصَان ضَامِن وي (۲) اَثَرمخته تېرشوئ دئ. عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ عَلْي قَطعِ يَدٍ فَقَضْي القَاضِي بِذَالِکَ ثُمّ رَجَعَا عَن الشّهَادَةِ فَعَلَيهِمَا اَلدّيَةُ وَاِن رَجَعَ اَحَدُهُمَا فَعَلَيهِ نِصفُ الدّيَةِ وَبِهِ نَأخُذُ (الف) (ذكره محمّدفي الاصل كمافي المبسوط.اعلاءالسنن. باب الرّجوع عن الشهادة ج۱۰ص۲۹۷نمبر۵۰۴۳) په دې اَثَرکي دئ چي که دواړو گواهانُ رُجُوع وکړه د پُورَه دِيَت نُقصَان يې وَروَرَسَاوئ نو پُورَه دِيَت يې لازم کړئ دئ.او که يَوَه گواه رُجُوع وکړه د نِيمَئ دِيَت

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم نَخَعِي وفرمايل که دُوَه کسان د يوچا د لأس د پرېکېدو گواهي ورکړي او قاضي دهغه فيصله وکړي بيايي دواړو د گواهئ څخه رُجُوع وکړه نو پر دې دواړو گواهانُ باندي دِيَت لازم دئ او که چيري يَو رُجُوع وکړه نو پر هغه نِيمَئ دِيَت لازم دئ او مور دغه قَول اِختِيَار کړئ دئ .

[۲۸۷۷](۱۸) وَ اِن شَهِدَا عَلْي رَجُلٍ اَنّهُ طَلّقَ اِمرَأَ تَهُ قَبلَ الدّخُولِ بِهَا ثُمّ رَجَعَا ضَمِنَا نِصفَ المَهرِ [۲۸۷۸](۱۹) وَ اِن كَانَ بَعدَ الدّخُولِ لَم يَضمَنَا .

نُقصَان يې وَروَرَسَاوَئ نو پر هغه باندې نِيمَئ دِيَت لازم کړئ دئ.قياس پر دغه چي گواهان هر څومره نُقصَان ورسوي هغونه ضَمَان به پر ده باندي لازم وي.دهغه څخه زِيَات نَه (۲) دا قاعده ددې آيت څخه مُستَنبَط ده. وَكَتَبنَا عَلَيهِم فِيهَا اَنّ النّفسَ بِالنّفسِ وَالعَينَ بِالعَينِ وَالاَنفَ بِالاَنفِ وَالاُذُنَ بِالاُذُنِ وَالسِّنّ بِالسِّنّ وَالجُرُوحَ قِصَاصٌ

(الف) (آیت۴۵سورة المائدة۵) په دې آیت کي دئ چې قَاتِل څومره نُقصَان کړئ دئ پر ده باندي هغونه ضَمَان لازميږي دهغه څخه زِيَات نَه .
[۲۸۷۷](۱۸) که دُو کسانُ پر يَوَه سړي ګواهي ورکړه چې ده وخپله مَينَه ته د وَطِي څخه مخکي طلاق ورکړئ دئ بيا دواړو رُجُوع وکړه نو دواړه به د نِيمَئ مَهر ضَامِن وي .
وجه : که ګواهي ورکړه چې د دُخُول څخه مخکي طلاق ورکړئ دئ نو پر مېړه باندي به د بُضعې د وصولولو بغيره نِيمَئ مَهر لازم شوئ وي.نو ده په مُفت کي دغه رَقَم ورکړئ دئ او دغه نُقصَان د ګواهانُ په وجه شوئ دئ.وروسته ګواهانُ رُجُوع وکړه نو ځکه د نِيمَئ مَهر نُقصَان به پر ګواهانُ لازم وي .
[۲۸۷۸](۱۹) او که د دُخُول وروسته وي نو دواړه ضَامِن نَه دي .
تشريح : ګواهانُ ګواهي ورکړه چې د دُخُول وروسته مېړه طلاق ورکړئ دئ.چې دهغه په وجه مېړه پُورَه مَهر اداء کړئ.وروسته ګواهانُ رُجُوع وکړه نو پر ګواهانُ باندي هيڅ دِوَل ضَمَان نَه لازميږي .

حاشيه : (الف) مورِ پر يهوديان باندي فرض کړئ دئ.نَفس د نَفس په بَدلَه کي او سَتَرګَه د سَتَرګِي په بَدلَه کي او پِزَه د پِزِي په بَدلَه کي او غُوَږ د غُوَږ په بَدلَه کي او غَاښ به د غَاښ په بَدلَه کي پرې کيږي او د زَخمُونُو هم بَدلَه شته .

[۲۸۷۹](۲۰) وَ اِن شَهِدَا اَنّهُ اَعتَقَ عَبدَهُ ثُمّ رَجَعَا ضَمِنَا قِيمَتَهُ
[۲۸۸۰](۲۱) وَ اِن شَهِدَا بِقِصَاصٍ ثُمّ رَجَعَا بَعدَ القَتلِ ضَمِنَا الدّيَةَ وَلاَ يُقتَصّ مِنهُمَا .

وجه : د دُخُول وروسته د طلاق په وجه پُورَه مَهر ورکړئ لېکن ددې په بَدلَه کي مېړه بُضعَه وصول کړې ده.او مَهر خو د بُضعَه د وصولولو بَدلَه ده نو ګواهانُ د مېړه هيڅ نُقصَان نَه دئ کړئ لِهْذَا پر ګواهانُ هيڅ دِوَل ضَمَان نَه لازميږي .
[۲۸۷۹](۲۰) که دواړو ګواهي ورکړه چې خپل غُلاَم يې آزاد کړئ دئ بيا دواړو رُجُوع وکړه نو دواړه به د غُلاَم د قيمت ضَامِن وي .
تشريح : دُو ګواهانُ ګواهي ورکړه چې زَيد خپل غُلاَم آزاد کړئ دئ چې دهغه په وجه قاضي دهغه د آزادئ فيصله وکړه.وروسته دواړو ګواهانُ رُجُوع وکړه اُوس غُلاَم خو به آزاد وي البته دهغه قيمت به پر ګواهانُ لازم شي .
وجه : ځکه چې د ګواهانُ د ګواهئ په وجه بغيره د عِوَض او بَدَلې د زَيد غُلاَم آزاد شوئ دئ.او زَيد ته دهغه نُقصَان ورسېدئ نوځکه پر ګواهانُ به د غُلاَم قيمت لازم شي.اُصُول مخته تېرشوئ دئ .
[۲۸۸۰](۲۱) که دقِصَاص ګواهي ورکړه بيا د قَتل وروسته دواړو رُجُوع وکړه نو دواړه به د دِيَت ضَامِن وي.لېکن د دواړو څخه به قِصَاص نَه اَخَستَل کيږي .

وجه : (١) دِيَت خو به په دې وجه ځيني اَخلِي چې دده د ګواهئ په وجه قَتل کړئ دئ او وروسته د ګواهئ څخه رُجُوع وکړه.او په قِصَاص کې به د نَفس بَدلَه نَفس په دې وجه نَه اَخلِي چې ده خو بَرَاهِ رَاست قتل نَه دئ کړئ بلکه دقاضي په مخکې ګواهي ورکړه بيا قاضي قتل کړئ نوځکه دا قَتلِ عَمَد نَه شوبلکه دقَتلِ خَطَاء په درجه کې دئ.او په قَتلِ خَطَاء کې دِيَت لازميږي قِصَاص نَه لازميږي.نوځکه دَلتَه به هم دِيَت لازم شي قِصَاص نَه لازميږي.په آيت کې دئ. وَمَن قَتَلَ مُؤمِنًا خَطَأً

[٢٨٨١](٢٢) وَ اِذَا رَجَعَ شُهُودُ الفَرعِ ضَمِنُوا .

فَتَحرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ اِلٰي اَهلِهِ (الف) (آيت٩٢سورة النساء٤) په دې آيت کې دئ چې په قَتلِ خَطاء کې دِيَت لازميږي.نوځکه دَلتَه به هم دِيَت لازم شي (٢) اَثَرمخته تېرشوئ دئ. عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ عَلٰي قَطعِ يَدٍ فَقَضٰي القَاضِي بِذَالِکَ ثُمّ رَجَعَا عَن الشّهَادَةِ فَعَلَيهِمَا اَلدِّيَةُ وَاِن رَجَعَ اَحَدُهُمَا فَعَلَيهِ نِصفُ الدِّيَةِ وَبِهِ نَأخُذُ (ب) (ذكره محمّدفي الاصل كمافي المبسوط.اعلاءالسنن. باب الرّجوع عن الشهادة ج١٠ص٢٩٧نمبر٥٠٤٣) په دې اَثَرکې دئ چې د ګواهئ څخه رُجُوع وکړي نو دِيَت به ځيني اَخَستَل کيږي قِصَاص نَه .

فائده : د امامِ شافعي (ؒ) په نبز به قِصَاص ځيني اَخَستَل کيږي .

وجه : دده دليل دا اَثَر دئ. عَنِ الحَسَنِ قَالَ اِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ عَلٰي قَتلٍ ثُمّ قُتِلَ القَاتِلُ ثُمّ يَرجِعُ اَحَدُ الشّاهِدَينِ قُتِلَ (ج) (سنن للبيهقي.باب الرّجوع عن الشهادة ج١٠ص٤٢٤نمبر٢١١٩٢/ ٢١١٩٣) په دې اَثَرکې دئ چې دګواه په وجه قتل کړئ بيا هغه رُجُوع وکړه نو په خپله ګواه به قِصَاصًا قتل کيږي.نوځکه دَلتَه به هم دګواه څخه قِصَاص اَخَستَل کيږي .

[٢٨٨١](٢٢) که فَرع ګواه رُجُوع وکړي نو ضَامِن به وي .

تشريح : اَصل ګواهانُ فَرع ګواهان جوړ کړي وُ او هغوئي د قاضي په مَجلِس کې ګواهي ورکړي وه چې دهغه پر بُنيَاد فيصله شوې وه.اُوس هغو رُجُوع وکړه نو هغه به ضَامِن وي .

حاشيه : (الف) کُوم چَا چې په غلطي سره مؤمِن قتل کړئ نو مُؤمِن غُلاَم به آزادَوي او دِيَت به دهغه وَاَهل ته سُپُرد کوي (ب) حضرت ابراهيم نَخَعِي وفرمايل که دُوَه کسان د يوچا د لاَس د پرېکېدو ګواهي ورکړي او قاضي دهغه فيصله وکړي بيايي دواړو د ګواهئ څخه رُجُوع وکړه نو پر دې دواړو ګواهانُ باندي دِيَت لازم دئ او که چيري يَو رُجُوع وکړه نو پر هغه نِيمَئ دِيَت لازم دئ او مورِ دغه قَول اِختِيَار کړئ دئ . (ج) حضرت حسن وفرمايل که سړئ د چا دقَتل ګواهي ورکړي چې دهغه په وجه قَاتِل قَتل شو بيا د دُوُ ګواهانُ څخه يَوَه ګواه رُجُوع وکړه نو رُجُوع کونکئ ګواه به قتل کيږي .

[٢٨٨٢](٢٣) وَاِن رَجَعَ شُهُودُ الاَصلِ وَقَالُوا لَم نَشهَد شُهُودَ الفَرعِ عَلٰي شَهَادَتِنَا فَلاَ ضَمَانَ عَلَيهِم [٢٨٨٣](٢٤) وَ اِن قَالُوا اَشهَدنَاهُم وَغَلَطنَا ضَمِنُوا .

وجه : د قاضي په مجلِس کي فَرع ګواهي ورکړه او بُنيَاد يې د فَرع ګواهي ده او هغه اُوس رُجُوع کوي نوځکه دُوئي به ضَامِن وي.اَصل به ضَامِن نَه وي .
[۲۸۸۲](۲۳) او که اَصل ګواهانُ رُجُوع وکړه او دَاوَل يې وويل چي مَا پر خپله ګواهي باندي فَرع ګواه نَه دي جوړ کړي نو پر اَصل باندي ضَمَان نَه لازميږي .
تشريح : اَصل ګواه دَاوَل دخپلي ګواهئ څخه رُجُوع کوي چي مَا فَرع ګواه پرخپله ګواهي باندي نَه دئ ګواه کړئ.نو اَصل ګواه دنُقصَان ذِمّه دَار نَه دئ .
وجه : ده خپله د قاضي په مَجلِس کي ګواهي نَه ده ورکړې.نوځکه دِې اِمکان شته چي فَرع ګواه دي دُروَاغ وايي او بغيره د ګواه جوړېدو دې ګواهي ورکړې وي. نوځکه پر اَصل ګواه باندي ضَمَان نَه لازميږي.او پر فَرع باندي هم ضَمَان نَه لازميږي ځکه چي هغه خو د ګواهئ څخه رُجُوع نَه کوي.او قَضَاء هم نَه ختميږي ځکه چي قاضي فيصله وکړي هغه بيا ژَر نَه ختميږي .
[۲۸۸۳](۲۴) او که وويل چي موږ دئ ګواه جوړ کړئ وُ لېکن غلطي مُو کړې وه نو دُوئي به ضَامِن وي .
تشريح : که اَصل ګواهانُ دَاوَل وويل چي موږ فَرع ګواهان جوړ کړي وُ لېکن د ګواهئ په اَلفاظُو کي مُو غلطي کړې ده نو اَصل ګواهان به ضَامِن وي .
وجه : اَصل ګواهانُ په خپله اِقرَار وکړئ چي موږ غلطي کړې ده او فَرع ګواهانُ خو داَصل ګواهانُ خبره نَقل کړې ده نوځکه اَصل ګواهان به ضَامِن وي.او فَرع ګواهانُ خو رُجُوع نَه ده کړې نوځکه دُوئي ضَامِن نَه دي .
اصول : دغه مسائلي پر دغه اُصُول متفرّع دي چي هر چَا هرڅومره نُقصَان کړئ وي هغه به ضَامِن وي .
[۲۸۸۴](۲۵) وَ اِن قَالَ شُهُودُ الفَرعِ كَذَبَ شُهُودُ الاَصلِ اَوغَلَطُوا فِي شَهَادَتِهِم لَم يُلتَفَت اِلَي ذَالِکَ [۲۸۸۵](۲۶) وَ اِذَا شَهِدَ اَربَعَةٌ بِالزِّنَا وَشَاهِدَانِ بِالاِحصَانِ فَرَجَعَ شُهُودُ الاِحصَانِ لَم يَضمَنُوا .

[۲۸۸۴](۲۵) که فَرع ګواهانُ وويل چي اَصل ګواهَان دُروَاغ وايي يا دُوئي په ګواهئ نُوټولو کي غلطي کړې ده نو دې ته به تَوَجّه نَه کوي .
وجه : (۱) فَرع ګواهانُ په دا يقين سره د اَصل ګواهانُ ګواهئ دقاضي مَجلِس ته نَقل کړه چي دُوئي رِشتِيَا وايي.او دقاضي د فيصلې وروسته وايي چي اَصل ګواهان دُروَاغ وايي يايې په ګواهئ نُوټوُلو کي غلطي کړې ده نو د دُوئي په خبرو کي تَضَاد راغلئ.دقضاء څخه مخکې صحيح ګڼل او دقضاء وروسته غلط ګڼي نوځکه قاضي به د دُئي خبرو ته کُومَه توجّه نَه ورکوي (۲) دفيصلې وروسته فيصله نَه مَاتِيږي نو د دُوئي و خبرو ته چي تَوَجّه ورکړي کُومَه فائده لري؟ (۳) فَرع ګواهان رُجُوع نَه

کوي بلکه پر اَصل باندي اِلزَام لګوي چي پر هغه باندي هيڅ ګواه هم نشته نو په دې وجه هم د دُوئي و خبرو ته به خَاص تَوَجّه نَه ورکوي .
لغت : لَم يُلتَفَت : تَوَجّه به نَه ورکوي .
[۲۸۸۵](۲۶) که څلور کسانُ دزِنَاء ګواهي ورکړه او دُوُ کسانُ دِاحصَان ګواهي ورکړه بيا د اِحصَان ګواهانُ رُجُوع وکړه نو هغه ضَامِن نَه دي .
تشريح : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي د سَزَاء اصل مُوجَب او سَبَب زِنَاء کول ده او دهغه ګواهي ده.مُحصِن وَالَئ او دهغه ګواهي يې سَبَب نَه دئ.د مسئلې صورت دادئ چي څلور کسانُ ګواهي ورکړه چي فُلاَنِي زِنَاء کړې ده.او نورو دُوُ کسانُ ګواهي ورکړه چي دئ مُحصِن دئ.بيا د اِحصَان ګواهي ورکونکو خلګو رُجُوع وکړه نو هغه د دِيَت ضَامِن نَه دي .
وجه : د رَجَم مدار د زِنَاء پر ثبوت دئ او د زِنَاء ثبوت خو مخکي د څلورو ګواهانُ

[۲۸۸۶](۲۷) وَ اِذَا رَجَعَ المُزَكّونَ عَنِ التّزكِيَةِ ضَمِنُوا .

په ذريعه شوئ دئ.او هغوئي خو رُجُوع نَه ده کړې نوځکه پر دې خلګو د دِيَت ضَمَان نشته.البته دا خبره ضروري ده چي که د مُحصِنتُوب ګواهي نَه وائ ورکړې نو رَجَم کړې به نَه وائ بلکه کُوړې به وَهَلَئ وائ.د اِحصَان د ګواهئ ورکولو لکبله يې رَجَم کړئ.خو بيا هم پر دُوئي باندي دِيَت په دې وجه نَه لازميږي چي دُوئي صِرف يَوصِفَت بيان کړئ دئ چي دهغه په وجه سَزَاء بَدَلَه شوه که نَه اَصل سَزَاء خو د زِنَاء د ګواهئ ورکولو لکبله واقع شوې ده.او هغو خو رُجُوع نَه ده کړې نو ځکه د مُحصِن وَالِي ګواهي چي کُوموخلګو ورکړې ده پرهغوئي باندي دِيَت نَه لازميږي .
[۲۸۸۶](۲۷) که تَزكِيَه کونکي د تَزكِيَه څخه رُجُوع وکړي نو ضَامِن به وي .
تشريح : څلور ګواهانُ د زِنَاء ګواهي ورکړه.بيا قاضي د ګواهانُ د تحقيق کولو لپاره خلګ وَاستَوَل.هغوئي وويل چي ګواهان عَادِلاَن دي.د دُوئي د تَعدِيل د وَينَا په وجه قاضي د رَجَم فيصله وکړه.ځکه چي ګواهان عَادِلاَن نَه وي نو د رَجَم فيصله نَه شي کولائي.نو ګواکه د رَجَم بُنيَاد مِن وجهٍ پر تَزكِيَه کونکي باندي دئ.نوچي کوم وخت هغو رُجُوع وکړه نو پر دُوئي به دِيَت لازم شي .
وجه : د تَزكِيَه کونکو په وَينَا سره خو ګواهي قبليږي.نوګواکه تَزكِيَه کونکي په سَزَاء ورکولو کي شريکان شول.او بيا چي دُوئي رُجُوع وکړي نو پر دُوئي به ضَمَان لازميږي .
فائده : (۱) صاحبين ؒ فرمايي چي د تَزكِيَه کونکي حَيثِيّت خو د اِحصَان د ګواهئ ورکونکو په شان دئ.نو لکه څَه رنګه چي د اِحصَان ګواهي ورکړي پر هغوئي ضَمَان نشته دغه رنګه پر تَزكِيَه کونکو باندي هم ضَمَان نشته (۲) دُوئي فرمايي چي

د رَجم مَدَار پر گواهانُ باندي دئ پر تَزكِيَه كونكو باندي نَه دئ.هغه خو صِرف يَو صِفَت بيانونكي دي.نوځكه پر دُوئي باندي ضَمَان نشته .

[٢٨٨٧](٢٨) وَ اِذَا شَهِدِ شَاهِدَانِ بِاليَمِينِ وَ شَاهِدَانِ بِوُجُودِ الشّرطِ ثُمّ رَجَعُوا فَالضّمَانُ عَلْي شُهُودِ اليَمِينِ خَاصّةً .

[٢٨٨٧](٢٨) كه دُوُ گواهانُ د قَسَم اخستلو گواهي ورکړه.او نُور دُو د شَرط د موجودېدو گواهي ورکړه بياتولورُجُوع وکړه نوضَمَان صرف دقَسَم پرگواهان دئ .
تشريح : يَوچا قَسَم واخستئ چي كه زَه په امتحان كي پَاس شوم نو دَعوَت به كوم. اُوس په دي كي دُوې خبري دي.قَسَم اَخَستَل او په اِمتحان كي د پاسېدلو ثبوت يعني د شرط د موجودېدو ثبوت.د شرط پر موجودېدو باندي دُوُ گواهانُ گواهي ورکړه چي فُلاَنَئ سړئ په امتحان كي پَاس شو او دقَسَم پر اَخَستَلُو باندي دُوُ گواهانُ گواهي ورکړه چي فُلاَنِي سړي دَادَوَل قَسَم اَخَستَئ دئ.نو د ټولو درُجُوع په صورت كي به د قَسَم اَخَستَلُو گواهان د ضَمَان ذِمّه دَار وي .
وجه : د قَسَم د موجودېدو او د گڤّارې ورکولو اصل مَدار د قَسَم گواهان دي.د شرط د موجودېدو گواهان صِرف د صِفَت د بيانولو گواهان دي پر دُوئي باندې مَدَار نَه دئ.نوځكه د قَسَم اَخَستَلُو گواهان به ذِمّه دَار وي .

﴿... اَبُوالحُسَين قُطب عفي عنه وعن والديه... ﴾

﴿.... . قُطَب..... ﴾

﴿... كِتَابُ آدَابِ القَاضِي ...﴾
[٢٨٨٨](١) لاَتَصِحّ وِلاَيَةُ القَاضِي حَتّي يَجتَمِعَ فِي المُوَلّي شَرَائِطَ الشّهَادَةِ وَيَكُونَ مِن اَهلِ الاِجتِهَادِ .

ضروري پام لرنه : قاضي به څه رنګه وي؟هغه به څه رنګه فيصله کوي؟ و دې ته آدَاب قاضي وايي.د قضاء دثبوت لپاره دا آيت دئ. وَمَن لَم يَحكُم بِمَا اَنزَلَ اللهُ فَأُولٰئِکَ هُمُ الظّالِمُونَ (الف) (آيت۴۵سورة المائدة۵) په بَل آيت کي دئ. وَ دَاوُدَ وَسُلَيمَانَ اِذ يَحكُمَانِ فِي الحَرثِ اِذ نَفَشَت فِيهِ غَنَمُ القَومِ وَكُنّا لِحُكمِهِم شَاهِدِينَ فَفَهّمنَاهَا سُلَيمَانَ وَكُلاً آ تَينَا حُكمًا وَعِلمًا (ب) (آيت ۷۸/ ۷۹ سورة الانبياء ۲۱) په دې دواړو آيتو کي دفيصلي کولو ثبوت شته. په حديث کي دئ. عَن اُنَاسٍ مِن اَهلِ حِمصٍ مِن اَصحَابِ مَعَاذِبنِ جَبَلٍ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) لَمّا اَرَادَ اَن يَبعَثَ مَعَاذاً اِلَي اليَمَنِ قَالَ کَيفَ تَقضِي اِذَا عَرَضَ لَکَ قَضَاءٌ؟ قَالَ اَقضِي بِکِتَابِ اللهِ. قَالَ فَاِن لَم تَجِد فِي کِتَابِ اللهِ؟ قَالَ فَبِسُنّةِ رَسُولِ اللهِ. قَالَ فَاِن لَم تَجِدفي سُنّةِ رَسُولِ اللهِ وَلاَفِي کِتَابِ اللهِ؟ قَالَ اَجتَهِدُ بِرَأيِي وَلاَ آلُو. فَضَرَبَ رَسُولُ اللهِ صَدرَهُ فَقَالَ اَلحَمدُلِلّهِ الّذِي وَفّقَ رَسُولَ رَسُولِ اللهِ لِمَا يَرضٰي رَسُولُ اللهِ (ج) (ابوداؤدشريف.باب اجتهادالرّأي في القضاء ص۱۴۹نمبر۳۵۹۲/ترمذي شريف.باب ماجاءفي القاضي کيف يقضي؟ ص۲۴۷نمبر۱۳۲۷/نسائي شريف. باب الحکم باتّفاق اَهلِ العِلم ص۷۳۲نمبر۵۳۹۹) په دې حديث کي دقضاء ثبوت شته.او دا چي په کُوم ترتيب سره به اِستِدلاَل کوي ددې ثبوت هم شته .

[۲۸۸۸](۱) قاضي جوړول نَه صحيح کيږي ترهغه وخته چي جمع شي په قاضي کي دشَهَادَت شرطونه او هغه د اَهلِ اِجتِهَاد څخه وي .

حاشيه : (الف) چي د الله د نَازِل کړي احکاماتُ مطابق فيصله نَه کوي هغه ظَالِمَان دي (ب) حضرت داؤد او حضرت سليمان ﷺچي کله فيصله کوله دګبنت په اړه کله چي په هغه کي دقَوم بُوزي نَنَوَتَلي وي او مور د دُوئي فيصله ليدله.نو مور وحضرت سليمان ته فيصله وَروَښُوَلَه او دواړو ته مُو عِلم او حِکمَت ورکړئ وُ (ج) حضور چي دحضرت معاذ و يَمَن ته د اَستَوُلُو اِرَادَه وکړه نوپُوښتَنَه وکړه چي سَتَا مخته دقضاء (جاري ده)

تشريح : څوک چي قاضي جوړيږي په هغه کي به د اِجتِهَاد شرطونه موجود وي. مثلاً عَاقِل.بَالِغ.آزاد.مسلمان اوعَادِل وي.او دُومرَه عِلم ورسره وي چي په کومه مسئله کي يَوقَول نَه وي نو په هغه کي اِجتِهَاد کولائي شي.حَدّقَذف نَه وي ورته لګېدلئ .

وجه : (۱) قاضي به د شَاهِد په شَهَادَت سره فيصله کوي نو په خپله په قاضي کي هم بَايَد دشَاهِد صِفَتُونَه موجودوي (۲) په آيت کي دئ. فَجَزَاءُ مِثلُ مَاقَتَلَ مِنَ النّعَمِ يَحکُمُ بِهِ ذَوَا عَدلٍ مّنکُم (الف) (آيت۹۵سورة المائدة۵) په دې آيت کي دئ چي فيصله کونکئ بَايَد عَادِل وي (۳) په اَثَرکي دئ قَالَ عُمَرُ بِنِ عَبدَالعَزيز لاَيَنبَغِي اَن يَکُونَ قَاضِيًا حَتّي تَکُونَ فِيهِ خَمسٌ اَيّتُهُنّ اَخطَأ تَهُ کَانَت خَلَلاً. يَکُونَ عَالِمًا بِمَا کَانَ قَبلَهُ. مُستَشِيراً لاَهلِ العِلمِ.مُلغِيًا لِلرّثغِ يَعنِي اَلطّمعَ.حَلِيمًا عَنِ الخَصمِ. مُحتَمِلاً لِلاَئِمّةِ (ب) (مصنّف عبدالرّزاق.باب کيف ينبغي للقاضي اَن يکون؟ ج۸ص۲۹۸نمبر۱۵۲۸۶) په دې اَثَرکي دئ چي په قاضي کي به پِنځَه خبري موجود وي (۱) د شريعتونو عَالِم به وي (۲) داَهلِ عِلم سره مشوره کونکئ به وي (۳) د لاَلَچ څخه به ليري وي (۴) د خَصَم سره به د بُردبَارَئ معامله کونکئ وي (۵) د بَل چا مَلاَمَت به بَردَاشتَوِي.دَلتَه اَلاَئِمّةُ د لَومٌ جمع ده معنْي يي ده مَلاَمَت .

دا چي قاضي به د اَهلِ اِجتِهَاد څخه وي دهغه دليل (۱) دحضرت معاذ تبرشوئ حديث دئ.په هغه کي دئ چي په خپل فِکر او رَأيَه سره به اِجتِهَاد کَوَم.دې مطلب دادئ چي قاضي په خپله د اَهلِ اِجتِهَاد څخه وي نو بيا اِجتِهَاد کولائي شي.د حديث

حاشيه : (کذشته حاشيه جريان لري) معامله راشي نوځه رنګه فيصله به کوي؟ وفرمايل د الله په کِتَاب به فيصله کوم.پُوښتَنَه وکړه چي که د الله په کِتَاب کي نَه وه نوبيا؟وفرمايل د رسول الله په سُنّت به فيصله کوم.پوښتَنَه وکړه چي په سُنّتِ رَسُولُ الله اوکِتَابُ الله کي نَه وه نو بيا؟ وفرمايل په خپله رَأيَه به اِجتِهَادکوم او کَمِي نَه کوم.نو حضور (ﷺ) له دِيري خوشحالئ پر ځيګره وَوَاهَئ او وفرمايل. اَلحَمدُلِلّهِ! چي د رسول الله و قَاصِد ته د دَادَوَل خبرو توفيق ورکړئ چي رسول الله په راضي دئ (الف) کوم حيوان چې قتل کړئ دئ دهغه د حيوان په ذريعه برابر بَدلَه ده.دُوَه عَادِل کسان دي ددې فيصله وکړي (ب) عمر بن عبدالعزيز وفرمايل مُنَاسِب نَه دئ چي قاضي جور شي ترهغه وخته چي په ده کي پنځه صفتونه وي. دهسي يَوَه صِفَت نېستئ خَلَل دئ.يَو دا چي تيري شوي خبري به ورته معلوم وي.دُويَم د اَهلِ عِلم سره به مشوره کونکئ وي.دريم دا چي لالَچ به نَه وي.څلورم دا چي د مُخَالِف سره به بُردُبَار وي.او پنځم صِفَت دا چي مَلاَمَتيَا به برداشتوي .

تکړه داده. عَن اُنَاسٍ مِن اَهلِ حِمصٍ مِن اَصحَابِ مَعَاذِبنِ جَبَلٍ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) لَمّا اَرَادَ اَن يَبعَثَ مَعَاذاً اِلَي اليَمَنِ ... فَاِن لَم تَجِدفي سُنّةِ رَسُولِ اللهِ وَلاَفِي كِتَابِ اللهِ؟قَالَ اَجتَهِدُبِرَأيِي وَلاَ آلُوُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب اجتهادالرّأي في القضاء ص۱۴۹ نمبر۳۵۹۲/ترمذي شريف.باب ماجاءفي القاضي كيف يقضي؟ ص۲۴۷نمبر۱۳۲۷) په دې حديث کي دئ چي په خپله رَأيَه به اِجتِهَاد کوم او دا هغه وخت کېدلائي شي چي قاضي صاحبِ اِجتِهَاد وي (۲) په بَل حديث کي دئ. عَن عَمرِو بنِ العَاصِ اَنّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اِذَا حَكَمَ الحَاكِمُ فَاجتَهَدَ ثُمّ اَصَابَ فَلَهُ اَجرَانِ وَاِذَا حَكَمَ فَاجتَهَدَ ثُمّ اَخطَأفَلَهُ اَجرٌ (ب) (مسلم شريف.باب بيان اجرالحاكم اذا اجتهدفاصاب اواخطأ ص۷۶نمبر۱۷۱۶) په دې حديث کي دئ چي اِجتِهَاد وکړي او صحيح فيصله وکړي نو دُوَه اَجر ورته ملاؤيږي او چي غلطي وکړي نو يَو اَجر ورته ملاؤيږ ي.او اِجتِهَاد خو هغه وخت کولائي شي چي په قاضي کي د اِجتِهَاد صِفَت موجود وي .

فائده : علماء فرمايي چي د اِجتِهَا صِفَت پکښي وي خو ښَه خبره ده که نَه نو غَيرمُجتَهِد هم قاضي جوړولائي شي .

وجه : (۱) چي د نورو لپاره فيصله يا فَتوْي نَافِذ کړي او په خپله اِجتِهَاد ونَه کړي (۲) په حديث کي دئ چي حضرت علي نَوعُمَر(کِشنَئ)وُ او تر اُوسَ په ده کي د اِجتِهَاد صِفَت نَه وُ راغلئ خو بيا هم حضور دئ قاضي جوړ کړئ او يَمَن ته وَاستَاوئ. عَن عَلِيٍّ قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِلَي اليَمَنِ قَاضِيًا فَقُلتُ يَا رَسُولَ اللهِ (ﷺ) تُرسِلُنِي وَ اَنَا حَدِيثُ السِّنّ وَلاَعِلمَ لِي بِالقَضَاءِ فَقَالَ اِنّ اللهَ سَيَهدِي قَلبَكَ الخ (ج) (ابوداؤدشريف.باب كيف القضاء ص۱۴۸نمبر۳۵۸۲) په دې حديث کي حضرت علي نَوعُمر وُ او

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) چي دحضرت معاذ و يَمَن ته د اَستَوُلُو اِرَادَه وکړه نووفرمايل چي که په سُنّتِ رَسُولُ الله اوکِتَابُ الله کي نَه وه نو بيا؟ وفرمايل په خپله رَأيَه به اِجتِهَادکوم او کَمِي نَه کوم (ب) حضور وفرمايل چي حَاکِم دفيصلي پر وخت اِجتِهَاد وکړي بيا صحيح ته ورسيږي نو دده لپاره دُوَه اَجرُونَه دي.او که دفيصلي پر وخت اِجتِهَاد وکړي او غلطي وکړي نو دده لپاره يَو اَجر دئ (ج) حضرت علي فرمايي چي حضور زَه ديَمَن قاضي

جوړ کړم او وَايَستَوَلَم.مَا وويل ائ د خدائ رسول! تَه مَا اَستَوِي. حالانکه زَه نَوعُمر يَم.او په فيصله کولو هم نَه پُوهيږم.حضور (ﷺ) وفرمايل الله ستا د زَړَه رَهنَمايي کوي .

[۲۸۸۹](۲) وَ لاَ بَأسَ بِالدّخُولِ فِي القَضَاءِ لِمَن يَثِقُ بِنَفسِهِ اَنّهُ يُؤدِّي فَرضَهُ .

د اِجتِهَاد صِفَت هم نَه وُ پکښې خو بيايي هم قاضي جوړ کړئ.ددې څخه معلوم شوچي د اِجتِهَاد دصِفَت بغيره هم قاضي جوړولائي شي .

لغت : اَلمُوَلّي : د وَلِيّ څخه مُشتَق دئ و کُوم چاته چي قضاء سُپُرد کوي .

[۲۸۸۹](۲) او هيڅ حرج نشته په قضاء کي داخلېدل وهغه چاته چي اِعتِمَاد لري چي دئ خپل فَرض پُورَه کولائي شي .

تشريح : هغه څوک چي دا اِعتِمَاد لري چي زَه دقضاء د مَنصَب فَرَائِض پوره کولائي شَم نوهغه که په قضاء کي ځان دَاخِل کړي نو کُوم حرج نَه لري .

وجه : (۱) دا خو اَمربِالمَعرُوف دئ لِهٰذَا که اِعتِمَاد وي چي دا اداء کولائي شي نو څَه حرج نَه لري (۲) حضرت يوسف عليه السّلام چي وليدل که چيري زَه د سَلطَنَت اُمُور سَمبَال نَه کړم نو اُمّت به هَلاَکت شي نو په خپله د سَلطَنَت مطالبه وکړه. قَالَ اِجعَلنِي عَلٰي خَزَائِنِ الاَرضِ اِنّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ (الف) (آيت۵۵سورة يوسف۱۲) په دي کي حضرت يوسف عليه السّلام په خپله د سَلطَنَت مطالبه کړې ده لِهٰذَا که چيري اِعتِمَاد وي او د اُمّت د هَلاَکَت خَطرَه وي نو د قضاء د مَنصَب مطالبه کولائي شي (۳) قضاء يَوَه فريضه ده چي دهغه د اداء کولو لپاره و اَنبِيَاء ته حُکم ورکړئ دئ. نوځکه په دي کي شَامِلِبدَل کُوم حرج نَه لري. په آيت کي دئ. يَا دَاوُدُ اِنّا جَعَلنَاکَ خَلِيفَةً فِي الاَرضِ فَاحکُم بَينَ النّاسِ بِالحَقّ وَلاَتَتّبِعِ الهَوٰي فَيُضِلّکَ عَن سَبِيلِ اللهِ (ب) (آيت۲۶سورة ص۳۸). په بَل آيت کي دئ. اِنّا اَنزَلنَا اِلَيکَ الکِتَابَ بِالحَقّ لِتَحکُمَ بَينَ النّاسِ بِمَا اَرَاکَ اللهُ وَ لاَ تَکُن لِلخَائِنِينَ خَصِيمًا (ج)

حاشيه : (الف) حضرت يوسف وفرمايل مَا دمځکي دخزانې نِګرَان جوړ که زَه حِفَاظَت کونکئ يَم او په دغه فَن کي خبرداره هم يَم (ب) ائ داؤد! مَا په مځکه کي تَه خليفه جوړکړي نوځکه د خلګو ترمينځ په حَق سره فيصله کوه.او د خُوَاهِش اِتّبَاع مَه کوه داسي نَه چي د لاَرِي څخه چَپ شي (ج) مَا و تاته په حَق سره کتاب نَازِل کړئ دئ چي د خلګو تر مينځ فيصله وکړې په هغه عِلم سره کُوم چي الله وتَاتَه درکړئ دئ او دخِيَانَت کونکو لپاره جګړه کونکئ جوړ نَه شي .

[۲۸۹۰](۳) وَيُکرَهُ الدّخُولَ فِيهِ لِمَن يَخَافُ العِجزَ عَنهُ وَلاَيَأمَنُ عَلٰي نَفسِهِ الحِيفَ فِيهِ .

(آيت۱۰۵سورة النساء۴) په دې دواړوآيتوکي حضرت داؤدعليه السّلام اوحضرت محمّد (ﷺ) ته د صحيح فيصلې کولو حُکم کړئ دئ.او دا ښکاره خبره ده چي قضاء ته دَاخِل نَه شي ترهغه وخته دا صحيح حُکم نَه شي کېدلائي.ددې څخه معلوم شوچي قضاء ته داخلېدل کُوم حرج نَه لري خو په دې شرط چي پر ځان يې د حَق فيصلې کولو اِعتِمَاد وي. ځکه چي دا خو هم اِشَارَه ده چي د نَفس د خُوَاهِشَاتُ اِتّبَاع وکړي نو ګُمراه به شي .

لغت : يَثِقُ : چې اِعتِمَاد يې وي .
[۲۸۹۰](۳) او په دي کې دَاخِلېدَل مکروه دئ دهغه چا لپاره چې ددې څخه د عَاجِز کېدلو خَطرَه وي.او پر دې خبره اِطمِينَان نَه وي چې پر خپل ذَات باندي به په دي کې ظُلم ځيني وَشِي .
تشريح : چې څوک دا خطره وِينِي چې زَه به د صحيح فيصله کولو څخه عَاجِز شَم.او د فَرض د نَه اداء کولو لکبله اِمکَان شته چې زَه دي پر خپله ځان ظُلم وکړم نو د دَارَوَل سړي لپاره قاضي جوړېدل مکروه دئ .
وجه : (۱) په حديث کې دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَنِ النّبِيِّ (ﷺ) قَالَ مَن جُعِلَ قَاضِيًا بَينَ النّاسِ فَقَد ذُبِحَ بِغَيرِ سِكّيِنٍ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في طلب القضاء ص۱۴۷نمبر ۳۵۷۲/ترمذي شريف.باب ماجاء عَن رَسُولِ اللهِ (ﷺ) فِي القاضي ص۲۴۷نمبر۱۳۲۵) په دې حديث کې دئ چې قاضي يې جوړ کړئ نو داسي دئ لکه بغيره چاړې(چَاقُو)چې حَلاَل(ذَبح)کړئ.ددې څخه معلوم شوچې که عَاجِز وي نو د قضاء مَنصَب اَخَستَل بنَه کار نَه دئ (۲) په بَل حديث کې تصريح شوې ده.عَن اَبِي ذَرٍّ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ)

حاشيه : (الف) حضور(ﷺ)وفرمايل څوک چې دخلګوترمينځ قاضي جوړ کړل شو هغه بغيره چَاړې ذَبح شو .

[۲۸۹۱](۴) وَلاَيَنبَغِي اَن يَطلُبَ الوِلاَيَةَ وَلاَيَسأَ لَهَا .

قَالَ يَا اَبَاذَرّ! اِنِّي اَرَاکَ ضَعِيفًا وَ اِنِّي اُحِبّ لَکَ مَا اُحِبّ لِنَفسِي لاَتَأمُرَنّ عَلٰي اِثنَينِ وَلاَ تُوَلِّيَنّ مَالَ يَتِيمٍ (الف) (مسلم شريف.باب كراهة الامارة بغيرضرورة ج۲ص۱۲۱نمبر۱۸۲۶/ ابوداؤدشريف.باب ماجاء في الدّخول في الوصايا ص۴۰نمبر۲۸۶۸) په دې حديث کې دئ چې که سړئ د قضاء کولو څخه عَاجِز وي نو بيا دي دقضاء مَنصَب نَه اَخلِي (۳) په تېرشوي آيت کې هم دغه وُ چې که د نَفس د خُوَاهِشَاتُ اِتّبَاع وکړه نو ګمراه به شي.نوځکه که چيري د عَاجِزَئ خطره وي نو قضاء دي نَه اخلي چې ګمراه نَه شي .
[۲۸۹۱](۴) نَه د وِلاَيَت درخواست کول مُنَاسِب دئ او نَه دهغه غُوَښتَنَه .
تشريح : که چيري د قضاء د چَلَوُلُو لپاره بَل څوک موجود وي او دا چې دئ په خپله نَه وي د اُمّت د هَلاَکَت خطره نشته نو بيا ددې خُوَاهِش سَاتَل هم بنَه نَه دئ او دهغه غُوَښتَنَه هم بنَه کار نَه دئ .
وجه : (۱) که د يَوَه سړي غلط فيصله وشي نودهغه کناه به قاضي پر غَارَه(ذِمّه) ده. نوځکه بغيره کُوم ضرورت په دې مُصِيبَت کې ځان اَچَوَل بنَه کار نَه دئ (۲) په حديث کې دئ. حَدّثَنِي عَبدُالرّحمٰنُ بِنِ سَمُرَةَ قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) يَا عَبدَالرّحمٰنَ بِنِ سَمُرَةَ لاَتَسأَلِ الاَمَارَةَ فَاِن اُعطِيتَهَا عَن مَسئَلَةٍ وُکِّلتَ اِلَيهَا وَاِن اُعطِيتَهَا عَن غَيرِمَسئَلَةٍ اُعِنتَ عَلَيهَا (ب) (بخاري شريف.باب من سأل الامارة وُكِّلَ اِلَيهَاص ۱۰۵۸نمبر۷۱۴۷/مسلم شريف.باب النهي عن طلب الامارة والحرص عليها ج۲ص۱۲۰نمبر۱۶۵۲/ ۴۷۱۵) ددې حديث څخه معلوم شوچې اَمَارَة او قضاء غُوَښتَل په کار نَه دئ (۳) يو بَل حديث دئ. عَن اَبِي

مُوسْي قَالَ: دَخَلتُ عَلْي النّبِيّ (ﷺ) اَنَا وَ رَجُلاَنِ مِن بَنِي عَمّي.فَقَالَ اَحَدُالرّجُلَينِ:يَا رَسُولَ اللهِ! اُمِرنَا عَلْي بَعضِ مَا وَلاّکَ اللهُ عَزّوَجَلّ.وَقَالَ

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل ائ ابوذر! تَه كمزورئ ښكاره كيږي او زَه ستا لپاره هغه خُوښوَم كُوم چي د خان لپاره خُوښوَم. پر دُو كسانُ هم اَمِير مَه جوړيږه او د يَتِيم د مَال وَالِي مَه جوړيږه (ب) مَا تَه حضور (ﷺ) وفرمايل ائ عبدالرّحمٰن بن سمرة! اَمَارَت مَه غُوَارَه.كه چيري په غُوښتلُو سره تَاتَه دركړل شو نو تَه به وهغه ته سُپُرد شي. او كه بغيره غُوښتلُو دركړل شو نو پر هغه به سَتا سره مَدَد (مرسته) كيږي .

[۲۸۹۲](۵) وَ مَن قُلِّدَ فِي القَضَاءِ سُلِّمَ اِلَيهِ دِيوَانُ القَاضِي اَلّذِي كَانَ قَبلَهُ [۲۸۹۳](۶) وَيَنظُرُ فِي حَالِ المَحبُوسِينَ فَمَن اِعتَرَفَ مِنهُم بِحَقٍّ اَلزَمَهُ اِيّاهُ .

وَقَالَ الآخَرُ مِثلَ ذَالِکَ. فَقَالَ: اَنَا وَاللهِ لاَ نُوَلّي عَلْي هٰذَا العَمَلِ اَحَداً سَأَ لَهُ وَلاَ اَحَداً حَرَصَ عَلَيهِ (الف) (مسلم شريف.باب النهي عن طلب الامارة والحرص عليهاص۱۲۰نمبر۱۷۳۳/ ۴۷۱۷/ بخاري شريف.باب مايكره من الحرص علْي الامارة ص۱۰۵۸نمبر۷۱۴۹) ددې حديث څخه معلوم شوچي څوک قضاء وَغُوَارِي يا دهغه حِرص وكړي هغه ته بَايَد قضاء وَر نَه كړي .

[۲۸۹۲](۵) څوک چي قاضي جوړ كړل شو هغه ته دي د قاضي هغه رَجِستَر وركړي كُوم چي د مخكني قاضي سره موجود وُ .

تشريح : څوک چي قاضي جوړ شو هغه ته دي هغه رَجِستَر وركړي كُوم چي د مخكني قاضي سره وُ .

وجه : چي په رَجِستَر كي غَور وكړي او د صَاحِبِ حَق خپل حَق وركړي .

لغت : قُلِّدَ : د مجهول صيغه ده.د قاضيتُوب قَلاَدَه(غَارَه گَئ)دي وَرپه غَارَه كي. سُلِّمَ : سُپُرد دې كړي .

[۲۸۹۳](۶) او دقَيدِيَانُ پر حالاتُ دي غَور وكړي.نو دهغوئي څخه چي څوک دحَق اِعتِرَاف وكړي هغه دي پر هغه لاَزِم كړي .

تشريح : د قاضي جوړبدو وروسته دي د قَيدِيَانُ(بَندِيَانُ)د حالاتُ مُعَائِنَه وكړي. كُوم قَيدِي چي اِقرَار وكړي چي دفُلاَنِي پر مَا باندي حَق شته نو پرهغه قَيدِي دي هغه حَق لاَزِم كړي .

حاشيه : (الف) حضرت ابوموسْي اشعري فرمايي چي زَه او يَو بَل سړئ حضور (ﷺ) ته راغلو.نو د دواړو څخه يَوَه وويل يَارَسُولَ اللهِ! تَه چي الله تعالْي د كُوم شِي وَالِي جوړكړئ يي دهغه څخه پر بَعضُ باندي مَا اَمِير جوړ كه.او هغه بَل هم دغه رنګه وويل.نوحضور (ﷺ) وفرمايل قَسَم په خدائ هغه اَمِير نَه جوړوم چي په خُولَه يي غُوَارِي.او نَه دارنګه څوک چي ددې حِرص لري .

[۲۸۹۴](۷) وَ مَن اَنكَرَ لَم يُقبَل قَولَ المَعزُولِ عَلَيهِ اِلاّ بِبَيّنَةٍ .

وجه : چي قَيدِي په خپله اِعتِرَاف وكړئ چي پر ماباندي دفُلاَنِي حق دئ شته نو اُوس خو د گواهئ ضرورت هم پاته نَه شو دده اِقرَار كول كِفَايَت كوي.نوځكه پر ده به د

فُلاَنِي حق لازم كوي.په دې اَثَرکي دئ. عَن اِبنِ سِيرِينَ قَالَ اِعتَرَفَ رَجُلٌ عِندَشُرَيحٍ بِاَمرِهِ ثُمّ اَنكَرَهُ فَقَضْي عَلَيهِ بِاِعتِرَافِهِ (الف) (مصنّف عبدالرّزاق.باب الاعتراف عندالقاضي.ج٨ص٣٠٣نمبر ١٥٣٠١)

لغت : مَحبُوسٌ د,,حَبسٌ,, څخه مُشتَق دئ.چې قَيدِي کړې وي چې دهغه اِلزَامَاتُ تحقيق وکړي کُوم چې پر ده باندي لګېدلي دي .

[٢٨٩٤](٧) او که يَوچَا انکار وکړئ نو دمَعزُول قاضي قَول مُعتَبَرنَه دئ مګر دګواهئ سره .

تشريح : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چې قاضي دمعزولېدو وروسته دېَوعَام سړي حَيثِيّت لري اُوس دئ قاضي نَه شو پاته نولکه څَه رنګه چې دعَامو خلګو خبره د ګواهئ په ذريعه قبليږي دغه دَوَل دمَعزُول قاضي خبره به هم د ګواهئ په ذريعه قبليږي .

وجه : په اَثَرکي دئ چې قاضي کُوم وخت پرخپله عُهدَه قَائم پاته وي هم د يَوعَام سړي د شَهَادَت په شان دده شَهَادَت دئ نو د مَعزُولېدو وروسته خو په طريقَه اَولْي ديَوعَام سړي حَيثِيّت اِختِيَارَوي. په اَثَرکي دئ. قَالَ عُمَرُ لِعَبدِالرّحمْنَ بنِ عَوفٍ لَو رَأيتَ رَجُلاً عَلْي حَدِّ زِنَا اَو سَرَقَةٍ وَ اَنتَ اَمِيرٌ؟ فَقَالَ شَهَادَتُکَ شَهَادَةُ رَجُلٍ مّنَ المُسلِمِينَ قَالَ صَدَقتَ (ب) (بخاري شريف.باب الشهادة تكون عندالحاكم في ولاية القضاء ص١٠٦٢نمبر ٧١٧٠)

حاشيه : (الف) دحضرت شريح په حضور کي يوه سړي ديوې معاملي اِعتِرَاف وکړئ بيايي دهغه اِنکَار وکړئ نوحضرت شريح دهغه پر اِعتِرَاف فيصله وکړه (ب) حضرت عمر وحضرت عبدالرّحمْن بن عوف ته وفرمايل که يَوڅوک وَوِيني چې دحَد کار کوي مثلاً زِنَا يا غَلاَ او تَه اَمِير يي نو ستا ګواهي دعامُو مسلمانانُ دګواهئ په شان ده وفرمايل تَه صحيح وايي .

[٢٨٩٥](٨) فَاِن لَم تَقُمِ البَيّنَةُ لَم يُعَجّل بِتَخلِيَتِهِ حَتّي يُنَادِي عَلَيهِ وَيَستَظهَرَ فِي اَمرِهِ [٢٨٩٦](٩) وَيَنظُرُ فِي الوَدَائِعِ وَاِرتِفَاعِ الوُقُوفِ فَيَعمَلُ عَلْي حَسبِ مَاتَقُومُ بِهِ البَيّنَةُ اَو يَعتَرِفُ بِهِ مَن هُوَ فِي يَدِهِ .

[٢٨٩٥](٨) که چيري بَيّنَه قائم نَه وي نو دهغه په يَلَه کولوکي دي تَلوَار نَه کوي تر هغه وخته چې دده په اَرَه مُنَادِي وکړي او دده دمعاملي لپاره غَور وکړي .

تشريح : د يَوقَيدِي د جُرم په سَلسَلَه کي هيڅ يَوګواه قائم نَه شو نو دهغه په خُوشِي کولو(يَلَه کولو)کي دي تَلوَار نَه کوي.ځکه چې کېدلائي شي چې دده ګواه ډېر ليري وي.بلکه دهغه په اَرَه دي مُنَادِي(تَشهِير)وکړي او دده د معاملې د وَاضِح کېدو اِنتِظَار دي وکړي.د مُنَادِي کولو او د اِنتِظَار کولو وروسته که صُورَتِ حَال وَاضِح شي چې دئ بَرِي دئ نو خُوشِي دې کړي او که جُرم پر ثابت شي نو سَزَاء دي ورکړي .

وجه : مَعزُول قاضي يَوخوک قَيدِي کړئ دئ نو غَالِب گُمَان دغه دئ چي يَو وجه ضرور شته ځکه خو يې قَيدکړئ دئ.نوځکه په خُوشِي کولوکې دې تَلوَار نَه کوي .
لغت : تَخلِيَةٌ : پرېښول.يَلَه کول.خُوشِي کول.يَستَظهِرُ : د ظَهَر څخه مُشتَق دئ.د ښکاره کېدو اِنتِظَار کول .
[۲۸۹۶](۹) او غَوَر دي وکړي په اَمَانَتُو او دوَقف په آمَدَنُوکي او دهغه مطابق دي عَمَل وکړي چي بَيّنَه قائم شوې ده يا دګُوم چاپه قَبضَه کې دئ هغه اِقرَار وکړي .
تشريح : د نَوي قاضي يَوَه ذِمّه دَارِي دا هم ده چي د اَمَانَت په شِيَانُ کي غَور وکړي چي د چَا دي؟ چي دهر شِي په اړه بَيّنَه قائم شي د اَمَانَت مَال دي وهغه حَقدَار ته وَروَرَسَوِي.يا دګُوم چا په لاَس(قبضه)کي چې د اَمَانَت مَال موجود دئ هغه په خپله اِقرَاروکړي چي دا اَمَانَت دفُلاَنِي دئ نووهغه فُلاَنِي ته دي هغه اَمَانَت ورکړي
[۲۸۹۷](۱۰) وَلاَيُقبَلُ قَولُ المَعزُولِ اِلاّ اَن يَعتَرِفَ الّذِي هُوَ فِي يَدِهِ اَنّ المَعزُولَ سَلّمَهَا اِلَيهِ فَيُقبَلُ قَولُهُ فِيهَا [۲۸۹۸](۱۱) وَيَجلِسُ لِلحُكمِ جُلُوسًا ظَاهِراً فِي المَسجِدِ .

ورکړي.دغه رنګه د وَقف په آمَدَن کي دي غَور وکړي چي څومره آمَدَن رَارَوَان دئ؟ او په ګُوم ګُوم ځائ کي مَصرَف کيږي؟ په دې لَړ کي هم پر ګُومَه خبره چي بَيّنَه قائم شوه هغه دي پُورَه کړي.يا څوک چي اِقرَار وکړي چي دغه شَئ زُومَا په لاَس کي دئ او دفُلاَنِي دئ بيادي دهغه مطابق عَمَل وکړي .
وجه : د يَوفيصلې لپاره دُوَه صورتونه دي يا چي پرهغه باندي بَيّنَه قائم شي يا دقَبضې والا اِقرَار وکړي چي دا دفُلاَنِي دئ .
لغت : وَدَائِعُ : د وَدِيعَةٌ جمع ده.معنْي اَمَانَت. اِرتِفَاعٌ : آمَدَن.اِرتِفَاعٌ د رَفعٌ څخه مُشتَق دئ.پُورتَه کېدل.دَلتَه مراد آمَدَن دئ .
[۲۸۹۷](۱۰) د مَعزُول قَول به نَه قبلېږي مګر هغه وخت چي هغه اِعتِرَاف وکړي دچا په قبضه کي چي دئ چي مَعزُول قاضي و ده ته سُپُرد کړئ دئ.نو په دې اړه به د مَعزُول قاضي خبره مَنَل کيږي .
تشريح : مخته تېرشو چي مَعزُول قاضي دعَام سړي په شان دئ نوځکه دده خبره به تر هغه وخته نَه مَنَل کيږي تر څو چي دقبضې والا نَه وي ويلي چي مَعزُول قاضي دغه شَئ مَاتَه راکړئ وُ .
[۲۸۹۸](۱۱) او دفيصلې لپاره دي په عَامَ توګه په مسجِدکي کښېني .
تشريح : حَاکِم دي د فيصلې لپاره په مسجدکي پر داسي ښکاره ځائ کښېني چي و هر رَتُلُونکي ته معلوم شي چي دا قاضي صَاحِب ناست دئ.او هَلتَه هرڅوک په آساني سره رَتَلاَئي شي .

وجه : (۱) حضور (ﷺ) د زِنَاء فيصله په مسجدکي وکړه.ددې څخه معلوم شوچي دفيصلې لپاره په مسجد کي کښېنَستَلاَئي شي.حديث دادئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ: اَتْي رَجُلٌ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) وَهُوَ فِي المَسجِدِ فَنَادَاهُ فَقَالَ: يَارَسُولَ اللهِ! اِنِّي زَنَيتُ فَاَعرَضَ عَنهُ الخ (الف) (بخاري شريف.باب من حكم في المسجدالخ ص۱۰۶۲نمبر۷۱۶۷/مسلم شريف. باب من اعترف علٰي نفسه بالزّناص۶۶نمبر۱۶۹۲) (۲) يَوبَل حديث دئ.عَن سَهلٍ اَخِي بَنِي سَاعِدَةَ اَنّ رَجُلاً مِنَ الاَنصَارِ جَاءَ اِلٰي النّبِيِّ (ﷺ) فَقَالَ اَرَأيتَ رَجُلاً وَجَدَ مَعَ اِمرَأتِهِ رَجُلاً اَيَقتُلُهُ؟ فَتَلاَعَنَا فِي المَسجِدِ وَاَنَا شَاهِدٌ (ب) (بخاري شريف.باب من قضٰي ولاعن في المسجد ص ۱۰۶۲نمبر۷۱۶۶) ددې حديثو څخه معلوم شوچي په مسجدکي فيصله کولائي شي .

فائده : امامِ شافعي (ؒ) فرمايي چي په مسجدکي دي دفيصلې لپاره نَه کښېنې .

وجه : هَلتَه خو به دفيصلې لپاره مُشرِک هم رَاځِي چي نَجَس دئ هغه به په مسجد کي څَه رنګه داخليږي؟ حائِضَه او نُفَسَاء ښځي به دفيصلې لپاره رَاځِي چي په مسجدکي نَه شي داخلېدلائي.نوځکه په مسجدکي دي د فيصلې لپاره نَه کښېنِي. مورِ دا وايو چي حديث په دې اړه موجود دئ نوځکه کښېنَستَلاَئي شي البته د دَاوَل خلګو لپاره دي قاضي دمسجدڅخه دَبَاندِي رَاوَزِي .

او داسي ځائ دي کښېنِي چي هَلتَه هرڅوک په آسَانتِيَا سره دفيصلې لپاره رَسېدَلاَئِي شي.دهغه دليل دا حديث دئ. قَالَ عَمرُو بنِ مُرّةَ لِمُعَاوِيَةَ اَنّي سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) يَقُولُ: مَا مِن اِمَامٍ يَغلُقُ بَابَهُ دُونَ ذَوِي الحَاجَةِ وَالخلّةِ وَالمَسكَنَةِ اِلاّ اَغلَقَ اللهُ اَبوَابَ السّمَاءِ دُونَه خلّتِهِ وَحَاجَتِهِ وَمَسكَنَتِهِ (ج) (ترمذي شريف.باب ماجاء في امام الرّعيّة ص۲۴۸نمبر۱۳۳۲) ددې حديث څخه معلوم شوقاضي دي دفيصلې کونکو لپاره پر ښکاره ځائ کښېنِي چي په فيصله غُوَښتَلُو کي کُوم تکليف او رُکَاوَټ نَه وي .

حاشيه : (الف) يَوسړئ حضور ته راغلئ.حضور په مسجدکي تشريف دَرلُودئ.هغه زَّغ وکړئ وويل يَارَسُولَ الله! مَا زِنَاء کړې ده.نوحضور مَخ مُبَارَک ځيني وګرزاوئ (ب) د اَنصَارُ يَوسړئ حضور ته راغلئ او پُوښتَنَه وکړه چي يَوڅوک دخپلي مَيني سره بَل څوک وَوينِي نو هغه دي نَه قتلوي؟ بيا مړه او مَيني دواړو په مسجد کي لِعَان وکړئ او زَه هَلتَه موجود وَم (ج) حضور فرمايل چي يَو اِمَام پر ضَرُورَتمَند او مسکين باندي خپله دَروَازَه بَندَ کړي نو الله د آسمان دَروَازې ددې لپاره بَندَوِي او ددې ضرورت او مَسکَنَت نَه پُورَه کوي .

[۲۸۹۹](۱۲) وَلاَيَقبَلُ هَدِيّةً اِلاّ مِن ذِي رَحِمٍ مَحرَمٍ مِّنهُ اَو مِمّن جَرَت عَادَتُهُ قَبلَ القَضَاءِ بِمُهَادَاتِهِ .

[۲۸۹۹](۱۲) او هَديَه دي نَه قبلوي مګر د ذِي رَحِمِ مَحرَم څخه يا هغه چي دقاضي جوړېدو څخه مخکې دهَديَه ورکولو عَادَت وُ .

تشريح : په هَديَه کي د رِشوَت خطره هم موجود ده چي هَديَه ورکړي او په قاضي باندي غلط فيصله وکړي.نوځکه قاضي دي د ذِي رَحِمِ مَحرَم څخه هَديَه قبوله کړي يا هغه خلګ چي دقاضي جوړېدو څخه مخکې هَديَه ورکوله او عَادَت يې وُ چي قاضي

ته به هَديَه ورکوله نودهغوخلګوڅخه دي هَديَه قبوله کړي.او دا خِيَال دي هم سَاتِي چي دغه خلګ د رِشوَت په توګه ده ته هَديَه خو نَه ورکوي.که چيري دغه ډَوَل وي نو بيا دي د دُوئي هَديَه هم نَه قبلوي .

وجه : په حديث کي د دَاډَوَل هَديَه اخستلو څخه منع راغلي ده چي په هغه کي د رِشوَت شَائِبَه موجود وي. اَخبَرَنَا اَبُوحَمِيدِالسّاعِدِيّ قَالَ اِستَعمَلَ النّبِيّ (ﷺ) رَجُلاً مِن بَنِي اَسَدٍ يُقَالُ لَهُ اِبنُ الاَتِيبَةَ عَلٰي صَدَقَةٍ. فَلَمّا قَدِمَ قَالَ: هٰذَا لَكُم وَهٰذَا اُهدِيَ لِي فَقَامَ النّبِيّ (ﷺ) عَلَي المِنبَرِ ... ثُمّ قَالَ: مَابَالُ العَامِلِ نَبعَثُهُ فَيَأتِي فَيَقُولُ هٰذَا لَکَ وَهٰذَا لِي؟ فَهَلاّ جَلَسَ فِي بَيتِ اَبِيهِ وَاُمِّهِ فَيَنظُرَ فَيَهدِي لَهُ اَم لاَ؟ الخ (الف) (بخاري شريف.باب هدايا العُمّال.ص۱۰۶۴نمبر۷۱۷۴) ددې حديث څخه معلوم شوچي دعُمّالُ او قاضيانُ لپاره بې وخته هَديَه اخستل بنَه کار نَه دئ .

او دا چي هَديَه د رِشوَت په توګه واخلي حرام ده د هغه دليل دا حديث دئ. عَن

حاشيه : (الف) حضور د بَنِي اَسَد يَوسړئ پر صَدَقَه باندي عَامِل کړئ چي اِبنُ الاَتِيبَه نومېدئ.چي کله هغه بېرته راغلئ نو وويل دغه ستا (ﷺ) لپاره دئ اودايي مَاتَه هَديَه راکړي ده.نوحضور (ﷺ) پر مَنبَر ودرېدئ ... بيايي وفرمايل خلګ څَه کوي چي زَه هغه دصَدَقې لپاره اَستَوَم.چي کُوم وخت دُوئي راشي نو وايي دغه ستا لپاره دئ او دغه زُومَا لپاره دئ.دخپل پُلاَر او مُور په کُور کي وَلِي نَه کښېنَستَئ بيادي وګوري چي ده تَه څوک هَديَه ورکوي که نَه ورکوي؟ .

[۲۹۰۰](۱۳) وَلاَيَحضُرُ دَعوَةً اِلاّ اَن تَکُونَ عَامّةً .

عَبدِاللهِ بنِ عَمرٍو قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَلرّاشِي وَالمُرتَشِي (الف) (ابوداؤدشريف. باب في كراهية الرِّشوة.ص۱۴۸نمبر۳۵۸۰/ترمذي شريف.باب ماجاء في الرّاشي والمرتشي في الحكم ص۲۴۸نمبر۱۳۳۶) ددې حديث څخه معلوم شوچي رِشوَت اخستل حرام دئ .

چيري چي د رِشوَت خطره نَه وي هَلتَه هَديَه اخستلائي شي.دهغه دليل دا حديث دئ. عَن عَائِشَةَ اَنّ النّاسَ کَانُوا يَتَحَرّونَ بِهَدَايَاهُم يَومَ عَائِشَةَ يَبتَغُونَ بِهَا اَو يَبتَغُونَ بِذَالِکَ مَرضَاةَ رَسُولِ اللهِ (ب) (بخاري شريف.باب قبول الهدية ص۳۵۰ نمبر۲۵۷۴) د حديث څخه معلوم شوچي د خپلوانُ او هغه کُوم چي دمخکي څخه د هَديَه ورکولو عَادَت وُ دهغو هَديَه قبلولائي شي.ځکه چي حضور(ﷺ)به هَديَه قبلوله سره ددې چي حضورقاضي هم وُ .

لغت : مَهَادَاتٌ : د هَديَه څخه مُشتَق دئ.هَديَه ورکول .

[۲۹۰۰](۱۳) او په دَعوَت کي دي نَه حاضريږي مګر که چيري عَام وُ .

تشريح : چي په خصوصي توګه د قاضي لپاره د دَعوَت ډُوډَئ تَيّارَه کړې وي نو دا اِمکَان شته چي په دغه ډُوډَئ سره قاضي صاحب خپل ځان ته مَائِلَوِي.نوځکه مخصوص دَعوَت ته دي نَه ځِي.البته که د ټولو عَام دَعوَت وي او په هغه کي دقاضي صاحب دَعوَت هم وي نو بيا قاضي صاحب په هغه کي ګډون کولائي شي .

وجه : په حديث کي دئ. قَالَ البَرَاءُ بنِ عَازِبٍ اَمَرنَا النّبِيّ (ﷺ) بِسَبعٍ وَنَهَانَا عَن سَبعٍ اَمَرَنَا بِعِيَادَةِ المَرِيضِ وَاِتّبَاعِ الجَنَازَةِ وَتَشمِيتِ العَاطِس وَاِبرَارِ المُقسِمِ وَنَصرِالمَظلُومِ

وَاِفشَاءِ السّلاَمِ وَاِجَابَةِ الدّاعِي. په بَل حديث کي دئ. عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اِذَا اِدّعْي اَحَدُكُم اِلْي الوَلِيمَةِ فَلْيَأتِهَا (ج) (بخاري شريف

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) پر رِشوَت ورکونکي او رِشوَت اخستونکي لَعنَت کړئ دئ (ب) حضرت عائشه فرمايي چي خلګو دهَديَي ورکولو لپاره ددي د نَوبَت پَلَټَنَه کوله.په دغه سره دحضرت عائشه او دحضور (ﷺ) رَضَامَندِي مَقصَد وه (ج) حضور (ﷺ) مورِ ته د اُوُ(۷)خبرو حکم وکړئ او د اُوُ(۷)خبرو څخه منع کړو.مورِ ته د مريض دپُوښتَنِي حکم وکړئ او د جنازي و شَاتَه د تَلُلُو او د نُرِي دجواب ورکولو او دقَسَم پُورَه کولو او دمظلوم د مرستي کولو او د سَلام د عامولو او د دَعوَت قبلولو حکم يې راکړئ.په بَل حديث کي دئ چي حضور وفرمايل که څوک تَا وَلِيمَه ته وَغُوَارِي نو په هغه کي ګډُون په کار دئ .

[۲۹۰۱](۱۴) وَ يُشهِدُ الجَنَازَةَ وَ يَعُودُ المَرِيضَ [۲۹۰۲](۱۵) وَلاَيُضِيفُ اَحَدَ الخَصمَينِ دُونَ خَصمِهِ .

.باب حق اجابة الوليمة والدّعوة ومَن اَولَم سبعة ايّام ونحوه.ص۷۷۷نمبر۵۱۷۳/ ۵۱۷۵/مسلم شريف.باب مِن حقّ المسلم للمسلم رَدّالسّلام.ص۲۱۳نمبر۲۱۶۲) ددي حديث څخه معلوم شوچي په عَام دَعوَت مثلاً وَلِيمَه او دغه رنګه نُورو کي د قاضي صاحب شِرکَت کول جائز دئ .

[۲۹۰۱](۱۴) په جنازه کي دي حاضِريږي او د مريض عِيَادَت دي کوي .

تشريح : په جنازه کي شِرکَت او د مَرَيض په عِيَادَت کي د رِشوَت کومه خطره نشته بلکه اِنسَانِي حقوق دي او دحديث په رُونَا کي ضروري هم دي نوځکه قاضي به دغه کارونه تړله کوي .

وجه : مخته حديث تېرشوئ دئ. اَمَرَنَا بِعِيَادَةِ المَرِيضِ وَ اِتّبَاعِ الجَنَازَةِ (بخاري شريف. نمبر۵۱۷۵/مسلم شريف.نمبر۲۱۶۲)

[۲۹۰۲](۱۵) او نَه دي مِبلَمَستِيَا کوي دخَصمَينُ څخه يَوَاځِي د يوه .

تشريح : چي د قاضي په عَدَالَت کي د دُوُ کسانُ مُقَدّمَه چلېږي نو دهغوئي څخه د يوه دَعوَت وکړي او دهغه بَل دَعوَت وَنَه کړي دَاوَل دي نَه کوي.که دَعوَت کوي د دواړو دَعوَت دي وکړي .

وجه : (۱) چي و يوه طرف ته مَيلاَن وکړي نو دا شُبهَه کېدلائي شي چي په فيصله کي دي دده رِعَايَت وکړي.نوځکه ديوه دَعوَت کول ښَه کار نَه دي (۲) په حديث کي دئ. عَن اُمِّ سَلَمَةَ قَالَت قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مَن اُبتُلِيَ بِالقَضَاءِ فَلْيَعدِل بَينَهُم فِي لَحظِهِ وَاِشَارَتِهِ وَمَقعَدِهِ (الف) (دارقطني.كتاب في الاقضية والاحكام ج۴ص۱۳۱ نمبر۴۴۲۹/سنن للبيهقي.باب انصاف الخصمَين في المدخل عليه والاستماع منهماحجته وحسن الاقبال عليهما.ج۱۰ص۲۲۸نمبر۲۰۴۵۷) د دي حديث څخه معلوم شوچي د دواړو خَصمَينُ

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل څوک چي دخلګو تر مينځ په قضاء کولوکي مُبتَلاء شو نو د دُوئي دواړو ترمينځ دي په کتلو او و دُوئي ته په اِشَارَه کولو او د دُوئي په کښېنولو کي دي اِنصَاف وکړي .

[۲۹۰۳](۱۶) فَاِذَا حَضَرَا سَوِّي بَينَهُمَا فِي الجُلُوسِ وَالاِقبَالِ وَلاَيُسَارّ اَحَدَهُمَا وَلاَيُشِيرُ اِلَيهِ وَلاَيُلَقِّنُهُ حُجّةً .

ترمینځ په لَحظَه یعني کَتَلُو کي او اِشَارَه کولوکي او په کښېنولو کي دي برابري وکړي (۳) په حدیث کي دئ. عَن عَبدِاللهِ بنِ الزّبَيرِ قَالَ: قَضْي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَنّ الخَصمَينِ يَقعُدَانِ بَينَ يَدَيِ الحَكَمِ (الف) (ابوداؤدشریف.باب کیف یجلس بین یدي القاضي؟ص ... نمبر۳۵۸۸) په دې حدیث کي دئ چي دواړه خَصمَین دي برابر سره کښېنوي ددې څخه معلوم شوچي و یَوَه ته دي ترجیح نَه ورکوي (۴) په حدیث کي دئ. عَنِ الحَسَنِ قَالَ نَزَلَ عَلْي عَلِيّ رَجُلٌ وَهُوَ بِالكُوفَةِ ثُمّ قَدِمَ خَصمًا لَهُ فَقَالَ لَهُ عَلِيّ اَخَصمٌ اَنتَ؟ قَالَ نَعَم. قَالَ فَتَحَوّلَ فَاِنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) نَهَانَا اَن نُضِيفَ الخَصمَ اِلاّ وَخَصمُهُ مَعَهُ (ب) (سنن للبیهقي.باب لاینبغي للقاضي ان یضیف الخصم اِلاّ وخصمه معه ج۱۰ص۲۳۲نمبر۲۰۴۷۰) په دې حدیث کي صَفَا راغلي دي چي یَوَاخِي دیوه خَصَم دَعوَت دي نَه کوي .

[۲۹۰۳](۱۶) چي کوم وخت دواړه حاضر وي نو برابري دي وکړي په نَاستَه کي.په مُتَوَجّه کولو کي او دیوه سره دي پتي خبري نَه کوي او نَه دي وهغه ته اِشَارَه کوي.نَه دي دلیل وَرښَایِي .

تشریح : چي دواړه مُدّعِي او مُدّعٰي عَلَیهِ دي د قاضي په حضور کي حاضِرشي نو قاضي دي دَاوَل هیڅ یَوحرکت نَه کوي چي دهغه څخه محسوس شي چي قاضي و یوه ته دِبر مَیلاَن لري.نوځکه دواړه دي په برابر ځائ کي کښېنوي.او دواړوته دي برابره تَوَجّه ورکړي.د یوه سري دي پُس پُسَئ(پَتِي خبري)نَه کوي.ویوه مخصوص

حاشیه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمایل چي قاضي دي دواړه خَصَم خپل مخته کښېنوي (ب) حضرت علي ته یَو مِلمَه راغلئ.هغه وخت دئ په کُوفَه کي وُ.بیا دهغه خَصَم راغلئ نوحضرت علي دده څخه پُوښتَنَه وکړه آیا تَه خَصَم یي؟ وویل هُو! وفرمایل دده څخه لیري سَئ ځکه چي حضور (ﷺ) مونږ ددې خبري څخه منع کړي یُو چي دخَصَم مِلمَستِیَا وکړو.البته که دده سره خَصَم وي نو بیا صحیح دئ .

[۲۹۰۴](۱۷) فَاِذَا ثَبَتَ الحَقّ عِندَهُ وَطَلَبَ صَاحِبُ الحَقّ حَبسَ غَرِيمِهِ لَم يُعَجّل بِحَبسِهِ وَ اَمَرَهُ بِدَفعِ مَا عَلَيهِ فَاِن اِمتَنَعَ حَبَسَهُ فِي كُلّ دَينٍ لَزِمَهُ بَدَلاً عَن مَالٍ حَصَلَ فِي يَدِهِ كَثَمَنِ المَبِيعِ وَبَدَلِ القَرضِ .

ته دي اِشَارَه نَه کوي.او نَه دي ویوه ته د دځان ساتلو او بَچاؤبِدَلُو دلیل وَرښَایِي .

وجه : (۱) ځکه چي دَاوَل د اِنصَاف تقاضا نَه شي پُورَه کېدلائي (۲) مخته حدیث تېرشوئ دئ. عَن اُمّ سَلَمَةَ قَالَت قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مَن اُبتُلِيَ بِالقَضَاءِ فَليَعدِل بَينَهُم فِي لَحظِهِ وَاِشَارَتِهِ وَمَقعَدِهِ (الف) (دارقطني. نمبر۴۴۲۹/سنن للبیهقي. نمبر۲۰۴۵۷)

لغت : سَوُّي : برابري دي وکړي. لاَيَسَارُ : د سِرّ څخه مُشتَق دئ.پټي خبري کول. پُس پُسَئ سره کول. وَلاَيُلَقِّنُهُ : د تَلقِين څخه مُشتَق دئ.يَوشَئ وَربنُوَل.په دلائلُ پُوه کول .

[۲۹۰۴](۱۷) چي دده په نبز حَق ثابت شي او دحَق والا دقرض خواه د قَيدکولو مطالبه وکړي نودهغه په قَيدکولوکي دي تَلوَار نَه کوي.او ده ته دي دهغه د اداء کولو حُکم ورکړي کُوم چي پر ده باندي لازم دي.که چيري هغه د اداء کولوڅخه ډَډَه وکړه نو دئ دي د هر هغه قرض په بَدَل کي قَيد کړي چي په بَدلَه کې دده لاَس ته مَال راغلئ وي.مثلاً دمبيع ثَمَن او دقَرض بَدَل .

تشريح : د اِقرَار په ذريعه ثابت شو چي پر مُدّعْي عَلَيهِ باندي حَق لازم دئ.او مُدّعِي درخواست کوي چي فَوراً مُدّعْي عَلَيهِ قَيد کړه نو قاضي ته په کار دئ چي فَوراً هغه قَيدِي نَه کړي بلکه ده ته دي حُکم وکړي چي تَه دمُدّعِي حق اداء کړه.که چيري هغه اداء نَه کړي اوبيله عُذر تَال مَتُول کوي بيا قاضي ته اِختِيَارشته چي دئ قَيدي کړي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل څوک چي دخلګو تر مينځ په قضاء کولوکي مُبتَلاء شو نو د دُوئي دواړو ترمينځ دي په کتلو او و دُوئي ته په اِشَارَه کولو او د دُوئي په کښېنولو کي دي اِنصَاف وکړي .

وجه : قَيدکول د تَال مَتُول سزاء ده.اِقرَار کونکئ خو په خپله اِقرَار کوي چي دُومرَه شئ زُومَا پر ذِمّه لازم دئ.نو اِمکَان شته چي رَقَم(پيسې)يې دځان سره نَه وي رَاوړي نوځکه تر اُوسَه لا دده تَال مَتُول نَه دئ بنکاره شوئ.نوځکه اُوس دې نَه قيدکوي.دُومرَه مُهلَت دي ضرور ورکړي چي دئ کُور ته وُلاړ شي او هغه شَئ رَاوړي او مُدّعِي ته حَوَالَه کړي.چي تَال مَتُول يې بنکاره شي بيادې قَيدِي کړي. دلېل يې دا حديث دئ. عَن عَمرِ بنِ الشّرِيدِعَن اَبِيهِ عَن رَسُولِ اللهِ (ﷺ) قَالَ: لِي الوَاجِدُ يَحِلّ عِرضُهُ وَعُقُوبَتُهُ. قَالَ اِبنُ المُبَارَکِ يَحِلّ عِرضُهُ يَغلِظُ لَهُ وَعُقُوبَتُهُ يُحبَسُ لَهُ (الف) په بَل روايت کي راغلي دي. عَن بَهرِ بنِ حَکِيمٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدّهِ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) حَبَسَ رَجُلاً فِي تُهمَتِهِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب فِي الدَينِ هل يحبس به ج۲ص۱۵۵نمبر۳۶۲۸/۳۶۳۰/مسلم شريف.باب لصاحب الحَقّ مَقَالٌ ص۳۲۳نمبر۲۴۰۱.کتاب الاستقراض/النسائي شريف.باب مَطلُ الغَنِيّ ص۶۴۵نمبر۴۶۹۳) ددې حديث څخه معلوم شوچي تَال مَتُول وکړي نوهغه قَيد يعني بَندِي کولائي شي .

پام لرنه : چي د ګواهانُ په ذريعه حَق ثابت شي نو ددې مطلب دادئ چي د ډېره وخته مُدّعْي عَلَيهِ تَال مَتُول کاوئ.آخِر يې دګواه په ذريعه حَق ثابت کړئ لِهْذَا که چيري و غُوَاړي نو فَوراً يې حَبس کولائي شي .

حقوق پر دُوَه قِسم دي.يَو خو هغه چي دهغه په بَدلَه کي دمُدّعْي عَلَيهِ لاَس ته رَقَم يا بَل شَئ راغلئ وي لکه دبَيعِ دقيمت دَعوَه وي نو دمُدّعْي عَلَيهِ لاَس ته مَبِيع راغلې ده چي دهغه قيمت به اداء کوي يا مَهر چي په بَدلَه کې بُضعَه راغلې ده.يا دقرض مطالبه ده چې دمُدّعْي عَلَيهِ لاس ته د قرض رَقَم راغلئ دئ.په دې ټولو صورتو کي

دمُدّعِي لاس ته دمطالبې بَدَلَه راغلې ده بيا هم دئ دهغه عِوَض نَه وركوي.په داسي صورت كي كه مُدّعْي عَلَيهِ غريب وي يا مَالدَار وي هغه حَبس كولائي شي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل دكُوم چاسره چي مَال وي بيا هم تَال مَتُول كوي نو دهغه عِزّت او سَزَاء حلال ده. ابن المبارک() وفرمايل چي دده عِزّت حلال دئ ددې مطلب دادئ چي دده سره دي سَختِي وكړي او دده د سَزَاء مطلب دادئ چي دئ قَيد كړي (ب) حضور (ﷺ) په تُهمَت كي يَو سړئ قَيد كړئ .

[٢٩٠٥](١٨) اَو اِلتَزَمَهُ بِعَقدٍ كَالمَهرِ وَالكَفَالَةِ .

وجه : (١) دده لاَس ته بَدَل راتلل ددې خبري دليل دئ چي دئ عِوَض وركولائي شي خُكه خو ده مَبِيع رَانِيوَلې ده كه قرض اخستئ وي كه وَادَه كړئ وي (٢) مخته چي كُوم حديث تېرشوئ دئ. (لِي الوَاجِدُ يَحِلّ عِرضُهُ وَعُقُوبَتُهُ) په دي كې فرمايلي دي چي مَال لري دهغه د تَال مَتُول كولوسزاء داده چي دده عِزّت هم حلال دئ يعني هغه ته بَد رَد گَايَدَلاَئي شي او دهغه سزاء هم حلال ده يعني حَبس كولائي شي. ددې څخه معلوم شوچي كه مَال لري نو هغه قَيدكولائي شي.او كه اُوس فِي الفَور مَال نَه وي ورته ملاؤشوئ مثلاً د يَوچا لاَس يې پرېكړئ چي دهغه دِيَت به زَر دِرهَم وركوي نو دلاَس په بَدلَه كي وقَاطِع ته هم هيڅ يَوشَئ نَه د ئ ملاؤشوئ نو ده گواكه اُوس مَال نَه دئ مُوندَلَئ.نوځكه دئ به اُوس نَه قَيدكوي بلكه دتَحقِيق وروسته كه معلوم شي چي دده سره د دِيَت د اداء كولو لپاره مَال موجود دئ خو بيا هم تَال مَتُول كوي نو اُوس به حَبس كوي (٣) په اَثَركي راغلي دي. عَن جَابِرَ عَنِ الشّعَبِيّ قَالَ: اَلحَبسُ فِي الدّينِ حِيلَةٌ قَالَ وَقَالَ جَابِرُ كَانَ عَلِيّ يَحبِسُ فِي الدّينِ (الف) (مصنّف عبدالرّزاق.باب الحبس في الدّين ج٨ص٣٠٦نمبر١٥٣١٢) په دې اَثَركي دئ چي په دَين او قَرض كي به حَبس كاوئ. او په دغه كي هغه تولې صورتونه دَاخِل دي چي په هغه كي ومُدّعْي عَلَيهِ ته بَدلَه ملاؤشوې وي .

لغت : حَبَسَ : قَيد دې كړي.حَبس دې كړي. غَرِيمٌ : مَقرُوض.پُورَوړَئ .

[٢٩٠٥](١٨) يايي هغه دعَقد په ذريعه لازم كړئ وي لكه مَهر او كَفَالَه .

تشريح : وَادَه يې كړئ وي دهغه په وجه مَهر لازم شو.كه د مَهر په اداء كولو كي تَال مَتُول ښكاره شي او د گواه په ذريعه مَالدَارِي ثابت نَه شي خو بيايي هم حَبس كولائي شي .

وجه : (١) مَهر دبُضعَه بَدلَه ده.د مُدّعْي عَلَيهِ لاَس ته بُضعَه راغله چي په بَدلَه كي

حاشيه : (الف) حضرت علي په دَين كي قَيد كاوئ .

[٢٩٠٦](١٩) وَلاَ يُحبِسُهُ فِيمَا سِوْي ذَالِكَ اِذَا قَالَ اِنّي فَقِيرٌ اِلاّ اَن يُثبِتَ غَرِيمُهُ اَنّ لَهُ مَالٌ .

به دئ مَهرِمُعَجّل ورکوي او د نَه اداء کولو په صورت کي به دئ قَيد کوي (۲) پر نکاح باندي اِقدَام کول ددې خبري دليل دئ چي د مُدّعْي عَلَيهِ سره مَال موجود دئ. که د مَهرِمُعَجّل ورکولو اِستِطَاعَت هم نَه وائ نو د وَادَه کولو اِقدَام يې وَلِي وکړئ؟ لِهْذَا که په دي کي تَال مَتُول وکړي نو قَيدکوي به .
پام لرنه : مَهرِمُؤخّر چي وروسته د اداء کولو وَعدَه ده په هغه کي په خپله بښځي وَعدَه کړې ده چي زَه يې بيا وروسته اَخلَم نوځکه دهغه په اداء کولو کی به نَه حَبس کوي .
وجه : (۱) د کَفَالَه صورت دادئ چي يَو سړئ دبَل چا دقرض وَرکولوکَفِيل شي او مقروض قرض اداء نَه کړي نو پر کَفِيل باندي قرض اداء کول لازم شو.نو اُوس چي کَفِيل د کَفِيل جوړېدو اِقدَام وکړئ نو ددې مطلب دادئ چي دده سره مَال موجود دئ ځکه خويې دغه اِقدَام کړئ دئ.لِهْذَا د حَق د ثابتېدو وروسته دئ قَيد کولائي شي (۲) اُوس به کَفِيل اداء کوي وروسته بيا دکُوم چا چي دئ کَفِيل شوئ دئ دهغه څخه به وصولوي دا هم ددې خبري دليل دئ چي دده سره به مَال موجود وئ.نو ځکه دئ قَيدکولائي شي.دا مثال دهغه دئ چي دعَقد په ذريعه يې پر خپل ځان حَق لازم کړئ وي .
[۲۹۰۶](۱۹) او دئ دي ددې څخه عَلاَوَه په بَل شي کي نَه قيدکوي که دئ ووايي چي زَه فَقِير يَم.مګر که چيري قَرض خُوَاه ثابت کړي چي دده سره مَال موجود دئ .
تشريح : دَادَوَل حقوق چي په هغه کي دمُدّعْي عَلَيهِ لاَس ته دهغه بَدَل نَه وي راغلئ لکه دجِنَايَت دِيَت.مثلاً ديوچا لاَس يې پرېکړئ دهغه په بَدلَه کي زَر دِرهَم ورکوي نوپه دې صورت کي دمُجرِم لاَس ته هيڅ شَئ نَه دئ راغلئ صِرف دجُرم په وجه زَر
[۲۹۰۷](۲۰) وَيُحبِسُهُ شَهرَينِ اَوثَلْثَةً ثُمّ يَسأَلُ عَنهُ فَاِن لَم يُظهَر لَهُ مَالٌ خَلّي سَبِيلَهُ .

دِرهَم اداء کوي.په داسي صورت کي که مُدّعِي د ګواه په ذريعه ثابت کړي چي دده سره د دِيَت د اداء کولو لپاره مَال موجود دئ نو بيا خو به حَبس کوي.او که چيري دغه ثَابِت نَه کړو نو بيايې نَه شي قَيدکولائي .
وجه : (۱) دمُدّعْي عَلَيهِ لاَس ته په بَدَل کي مَال نَه دئ راغلئ نوځکه دليل نشته چي دئ مَالدَار دئ لِهْذَافِي الفَور به نَه قَيد کوي (۲) مخته دحضرت علي په اَثَرکي راغلي وُ او په حديث کي هم دغه اِشَارَه وه چي د دَين په بَدلَه کي به قَيد کاوئ ددې څخه عَلاَوَه به نَه قيد کاوئ ترهغه وختته چي مَالدَارِي به نَه وه بښکاره شوې. وَقَالَ جَابِرُ کَانَ عَلِيّ يُحبِسُ فِي الدّينِ (الف) (مصنّف عبدالرّزاق.باب الحبس في الدّين ج۸ص۳۰۶ نمبر۱۵۳۱۲) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي په دَين کي دې حَبس کوي.او تېرشوئ حديث. اَلوَاجِدُ يَحِلّ عِرضُهُ وَعُقُوبَتُهُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في الدّين هَل يحبس به؟ ج۲ص۱۵۵نمبر۳۶۲۸) ددې څخه معلوم شوچي څوک مَال ومونډي وهغه ته سَزَاء ورکول حلال ده يعني قَيدکولائې

شي.او ده خو تر اُوسَ مَال نَه دئ مُوندَلَئ نوځکه فِي الفَور دئ قَيد کول ښَه کار نَه دئ تر هغه وخته چي دګواه په ذريعه دده مَالدَارِي نَه وي ثابته شوې .
[۲۹۰۷](۲۰) دئ تر دُوُ يا دُرُو مياشتو پوري قَيدکولائي شي بيادي دده د مَال په اړه تحقيق وکړي.که چيري دده مَال ښکاره نَه شي نو دئ دي خُوشِي کړي .
تشريح : د قَيد مُدَه د حالاتُ او دهغه سړي دحال مطابق ده.البته که چيري اَندَازَه نَه وي نو دُوې يا درې مياشتي دې قَيدکړي.په دې عَرصَه کي دي دده دمَال په اړه تحقيق او پلټنه وکړي.که چيري دده سره مَال بَرآمَد نَه شي نو بيادې يَلَه کړي .

حاشيه : (الف) حضرت علي په دَين کي قَيد کاوئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل دګوم چاسره چي مَال وي بيا هم تَال مَتُول کوي نو دهغه عِزّت او سَزَاء حلال ده .

[۲۹۰۸](۲۱) وَلاَيَحُولُ بَينَهُ وَبَينَ غُرَمَائِهِ .

وجه : (۱) دمَال دتحقيق لپاره دئ حَبس کړئ وُ.او دمَال دتحقيق لپاره دُومرَه وُرِدَه مُدَه کِفَايَت کوي نوکه چيري په دُومرَه وُرِدَه مُدَه کي هم دده سره مَال موجود نَه شي او ښکاره نَه شي نو بيا دئ په قَيد کي سَاتَل ظُلم دئ لِهْذَا دئ دي خُوشِي کړي.او که ددې څخه مخکي ثابت شي چي دده سره مَال نشته نو ددې قَيدځخه مخکي دې هم يَلَه کړي (۲) په حديث کي دئ. عَن بَهزِ بنِ حَكِيمٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) حَبَسَ رَجُلاً فِي تُهمَةٍ ثُمّ خَلّي عَنهُ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في الحبس في التهمة ص۲۶۱نمبر۱۴۱۷/ابوداؤدشريف.باب في الدّين هَل يحبس به؟ ج۲ص۱۵۵نمبر۳۶۳۰/ ۳۶۳۱/ نسائي شريف.باب امتحان السّارق بالضّرب والحبس ص۶۷۲نمبر۴۸۸۰) ددې حديث څخه معلوم شوچي څو وُرَځِي دې قَيد کړي بيا دې آزاد کړي .
[۲۹۰۸](۲۱) او دده او دقَرض خُوَاهَانُ ترمينځ دي نَه حائليږي .
تشريح : مَقرُوض خو به دقَيدخَاني څخه بَاسِي(يَلَه کوي به). لېکن وقَرض خُوَاه ته به ويل کيږي چي په مَقرُوض پسي ولګيږه(يعني په پسې شَه)چي کُوم وخت ده پيسې پيدا کړې قَرض خُوَاه دي دهغه څخه خپل حَق وصول کړي.قاضي دي د مَقرُوض او قَرض خُوَاه تر مينځ رُکَاوَټ نَه جوړيږي .
وجه : په حديث کي دئ. اَخبَرَنَا هَرمَاسُ بنِ حَبِيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ قَالَ: اَتَيتُ النّبِيّ (ﷺ) بِغَرِيمٍ لِي فَقَالَ لِي اَلزِمهُ ثُمّ قَالَ لِي يَا اَخَا بَنِي تَمِيمٍ مَاتُرِيدُ اَن تَفعَلَ بِاَسِيرِكِ؟ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في الدّين هَل يحبس؟ ج۲ص۱۵۵نمبر۳۶۲۹) ددې حديث څخه معلوم شوچي قَرض خواه ته دي اِجَازَت ورکړي چي په مَقرُوض پسي شي .
لغت : غُرَمَاءُ : د غَرِيمٌ جمع ده قَرض خواه. يَحُولُ : حائل کېدل .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) په تُهمَت کي يَو سړئ قَيد کړئ بيايي هغه پرېښوئ (ب) مَا حضور (ﷺ) ته يَومَقرُوض رَاوَستَئ نو مَا تَه وفرمايل دئ وَنِيسَه.بيايي مَاتَه وويل اې دبني تميم وُرُورَه تَه په خپل قَيدِي خَه کوې ؟

[۲۹۰۹](۲۲) وَيُحبَسُ الرّجُلُ فِي نَفَقَةِ زَوجَتِهِ [۲۹۱۰](۲۳) وَلاَيُحبَسُ الوَالِدُ فِي دَينِ وَلَدِهِ اِلاّ اِذَا اِمتَنَعَ مِنَ الاِنفَاقِ عَلَيهِ .

[۲۹۰۹](۲۲) سړئ به دمَينې په نَفَقَه کي قَيد کيږي .
وجه : چې قاضي دمَيني نَفَقَه مُتَعَيّن کړې وي يا دمبړه او مَيني تر مينځ پر يَومِقدَار باندي صُلح شوې وي بيا هغه نَفَقَه اداء نَه کړي نو پر دې باندي به مبړه حَبس کوي. ځکه چې دقاضي دمُتَعَيّن کولو وروسته يا دصُلح کولو وروسته دغه نَفَقَه دمبړه پر ذِمّه دَين شو.او د دَين په اداء کولو کي چې تَال مَتُول وکړي نوحَبس کولائي شي .
پام لرنه : که قاضي نَه وي مُتَعَيّن کړې نو دُومرَه ژَر به نَه قَيد کوي .
[۲۹۱۰](۲۳) او وَالِد به د خپل اَولاَد په دَين کي نَه قيدکوي.مګر که پر ده باندي دخرچ کولو څخه مَنع شي .
تشريح : چې پر پُلاَر باندي د زُوئ.د لُور.د زُوئي زُوئي.د زُوئي لُور.د لُور زُوئي.د لُور لُور قرض وي نو دهغه په وجه به پُلاَر يا نِيګه يا اَنَا نَه قيد کوي .
وجه : (۱) ددې خلګو مَال د پُلاَر مَال دئ.مخکي تېرشوي دي. عَن عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدّهِ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ اِلَي النّبِيّﷺفَقَالَ اِنّ اَبِي اِجتَاحَ مَالِي فَقَالَ اَنتَ وَمَا لُکَ لاَبِيکَ.وَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺاِنّ اَولاَدَکُم مِن اَطيَبِ کَسبِکُم فَکُلُوا مِن اَموَالِکُم (الف) (ابن ماجه شريف.باب ماللرّجُلِ من مَالِ وَلَدِهِ ص۳۲۷نمبر۲۲۹۲) په دې حديث کي دئ چې د اَولاَد مال د مُور او پُلاَر دئ نوځکه ددې خلګو قرض چې پر مُور او پُلاَر يا پر نِيګه دئ هغه دقَرض پر ځائ اِحسَان دئ.نوځکه ددې قرضو په وجه به نَه قَيد کوي (۲) په آيت کي دئ چې د دُوئي سره د اِحسَان معامله کوئ اوقَيدکول دااِحسَان اواِحتِرَام خلاف دئ نوپه دې وجه به هم نَه قيدکوي.آيت دادئ.وَصَاحِبهُمَا فِي الدّنيَا مَعرُوفًا (آيت۱۵سورة لقمان۳۱) په دې آيت کي دئ چې ددې خلګو سره د اِحسَان معامله کوئ .

حاشيه : (الف) يَوسړئ حضورته راغلئ او وويل زُومَا پُلاَرتوله مَال اَخَستَل غُوَارِي نوحضوروفرمايل تَه او سَتَا مَال سَتا دپُلاَردي.حضوروفرمايل ستاسو اَولاَد ستاسو بِهتَرِين گټَه ده نوځکه ددې مَال څخه خُورَئ .

[۲۹۱۱](۲۴) وَ يَجُوزُ قَضَاءُ المَرأةِ فِي کُلّ شَيءٍ اِلاّ فِي الحُدُودِ وَالقِصَاصِ .

لېکن که چيري و اَولاَد ته د خُوَرَاک لپاره خَرچَه نَه ورکوي.او د اَولاَد دهَلاَکَت خطره وي نو وَالِد به قَيد کوي چې نَفَقَه ورکړي او اَولاَد هَلاَک نَه شي (۲) په آيت کي دئ چې د اَولاَد نَفَقَه واجِب ده. وَعَلَي المَولُودِ لَهُ رِزقُهُنّ وَکِسوَتُهُنّ بِالمَعرُوفِ (الف) (آيت۲۳۳سورة البقرة۲) په بَل آيت کي دئ.فَاِن اَرضَعنَ لَکُم فَاْ تُوهُنّ اُجُورَهُنّ وَأ تَمِرُوا بَينَکُم بِمَعرُوفٍ (آيت۶سورة الطلاق۶۵) ددې آيتو څخه معلوم شوچي پر پُلاَر باندي

د اَولاَد نَفَقَه واجِب ده نوځکه که چيري په نَفَقَه وركولو کي کُوتَاهِي وکړه نو قَيدکولائي شي .
[۲۹۱۱](۲۴) او جائز دئ د ښځي قَاضِي کېدل په هره معامله کي مَاسِوائ دحُدُود او قِصَاص .
تشريح : ښځه د هر شِي قاضي جوړېدلائي شي البته د حُدُود او قِصَاص قاضي نَه شي جوړېدلائي .
وجه : (۱) په حدود او قصاص کي دښځي گواهي مَقبُول نَه ده نو دهغه فيصله به خَه رنګه کوي (۲) په مُرسَل حديث کي دئ. عَنِ الزّهرِيِّ قَالَ مَضَتِ السُنّةُ مِن رَسُولِ اللهِ (ﷺ) وَالخَلِيفَتَينِ مِن بَعدِهِ اَلاّ تَجُوزَ شَهَادَةُ النِّسَاءِ فِي الحُدُودِ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۰۹ في شهادة النساء في الحدود ج ۵ ص۵۲۸نمبر۲۸۷۰۵/مصنّف عبدالرزاق.باب هَل تجوزشهادة النساء مع الرّجَالِ في الحدود وغيره؟ ج ۸ ص۳۳۰نمبر۱۵۴۱۲/ سنن للبيهقي.باب شهادة في الطلاق والرّجعة ومافي معناهمامن النكاح والقصاص والحدود ج۱۰ص۲۵۰نمبر۲۰۵۲۸) په دې حديث کي دئ چي په حدود او قصاص کي دښځي گواهي مَقبُول نَه ده نو بياددې

حاشيه : (الف) پر وَالِد داَولاَد رُوزي ده او کېږي دي په مُنَاسِب انداز سره (ب) حضرت زُهرِي وفرمايل چي دحضور (ﷺ) او دهغه وروسته د دُوُ خليفه ګانُ د وخت څخه دا سُنّت جاري دئ چي په حدود کي دښځو گواهي نَه قبليږي .

[۲۹۱۲](۲۵) وَ يُقبَلُ كِتَابُ القَاضِي اِلْي القَاضِي فِي الحُقُوقِ اِذَا شُهِدَ بِهِ عِندَهُ .

معاملې قاضي جوړېدل به خَه رنګه صحيح شي؟ ځکه چي قاضي خو دګواهانُ گواهي اَخلِي بيا فيصله کوي .

﴿... كِتَابُ القَاضِي اِلْي القَاضِي ...﴾

[۲۹۱۲](۲۵) د يوه قاضي خَط دبَل قاضي پر نُوم په حقوق کي مَقبُول دئ چي دخَط گواهي دده په مخکي ورکړي .
تشريح : د حدود او قصاص څخه علاوه چي څومره حقوق دي په هغه کي چي يَوقاضي بَل قاضي ته خَط وليکي او د مَکتُوب اِلَيهِ قاضي په مخکي گواهي ورکړي چي وَاقِعِي دا خَط دفُلاَنِي قاضي دئ نوهغه خَط مَقبُول دئ.او کُوم قاضي ته چې دا خَط ليکلئ دئ هغه ته اِختِيَار شته چي ددغه خَط مطابق عَمَل وکړي .
وجه : (۱) د كِتَابُ القَاضِي اِلْي القَاضِي دليل دا حديث دئ. اَنّ عَبدَاللهِ بِنِ سَهلٍ وَمَحِيصَةَ خَرَجَا اِلْي خَيبَرَ ... فَكَتَبَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِلَيهِم بِهِ فَكَتَبَ مَاقَتَلَنَاهُ (الف) (بخاري شريف.باب كتاب الحاكم الْي عُمّالِه والقاضي الْي اُمَنَائِهِ ص۱۰۶۷نمبر۷۱۹۲) په دې حديث کي حضور (ﷺ) دحضرت عبدالله بن سهل پر قَتل باندي ويهوديَانُ ته خَط وليکئ ددې څخه معلوم شوچي حَاکِم وخپلو عُمّالُو ته خَط ليکلائي شي (۲) په اَثَرکي دئ. وَقَدكَتَبَ عُمَرُ اِلْي

عَامِلِهِ فِي الحُدُودِ وَقَالَ اِبرَاهِيمُ كِتَابُ القَاضِي اِلَي القَاضِي جَائِزٌ اِذَا عَرَفَ الكِتَابَ وَالخَاتَمَ وَكَانَ الشّعَبِيّ يُجِيزُ الكِتَابَ المَختُومَ بِمَا فِيهِ مِنَ القَاضِي (ب) (بخاري شريف.باب الشهادة علٰي المختوم ومايجوز من ذالک ومايضيق عليه.وكتاب

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) و يهوديانُ ته خط وليکئ.نو هغوئي جَوَاب ورکړئ چي مورِ دئ نَه دئ قَتل کړئ (ب) حضرت عمر وخپل عَامِل ته د حدود په اړه وليکل.وفرمايل چي حضرت ابراهيم وفرمايل چي كتاب القاضي اٰلي القاضي جائز دئ که د خَط تحرير او مُهر پيژاندئ.حضرت شعبي دَادَوَل خطوط چي دقاضي لخوا څخه به مُهر پر لګېدلئ وُ جائز يې ګڼل .

[۲۹۱۳](۲۶) فَاِن شَهِدُوا عَلٰي خَصمٍ حَاضِرٍ حَكَمَ بِشَهَادَتِهِ وَكَتَبَ بِحُكمِهِ .

الحاكِم اٰلي عُمّالِه والقاضي اٰلي القاضي ص۱۰۶۰نمبر۷۱۶۲) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي که مَتكُوب اِلَيهِ قاضي د كَاتِب قاضي خط او مُهر پيژاندئ نو هغه جائز دئ او پر هغه عمَل کول جائز دئ .

چي مَتكُوب اِلَيهِ قاضي ته معلوم وي چي دا د كَاتِب قاضي خَط دئ يا د كَاتِب قاضي مُهر دئ يا د كَاتِب قاضي په اړه ګواهي ورکړي چي دا دفُلاَنِي خط دئ نو بيا دده لپاره عَمَل کول جائز دئ.(۱) ددې دليل تپرشوئ اَثَردئ. قَالَ اِبرَاهِيمُ كِتَابُ القَاضِي اِلَي القَاضِي جَائِزٌ اِذَا عَرَفَ الكِتَابَ وَالخَاتَمَ (الف) (۲) په حديث کي دئ عَن اَنَسِ بنِ مَالِكٍ قَالَ لَمّا اَرَادَ النّبِيّ (ﷺ) اَن يَكتُبَ اِلَي الرّومِ قَالُوا اِنّهُم لاَيَقرَؤنَ كِتَابًا اِلاّ مَختُومًا فَاتّخَذَ النّبِيّ (ﷺ) خَاتَمًا مِن فِضّةٍ كَاَنّي اَنظُرُ اِلَي وَبِيضِهِ وَنَقشُهُ مُحَمّدٌ رَسُولُ اللهِ (ب) (بخاري شريف.باب الشهادة علٰي الخط المختوم الخ ص۱۰۶۰نمبر۷۱۶۲) په دې حديث کي دئ چي مُهر دي جوړ کړي ځکه چي په مُهر سره مَكتُوب اِلَيهِ قاضي يې ځان ته معلومولائي شي دا خَط دفُلاَنِي قاضي دئ (۳) که په قرينَه سره يقين وَنَه شي چي دا دفُلاَنِي قاضي خَط دئ نو مَكتُوب اِلَيهِ قاضي به پر هغه څَه رنګه عَمَل کوي؟

[۲۹۱۳](۲۶) که چيري د مُدّعْي عَلَيهِ په حُضُورکي ګواهي ورکړه نو پر ګواهي دي حُكم وکړي او خپله فيصله دي هم وليکي .

تشريح : مُدّعْي عَلَيهِ دقاضي په مجلِس کي حاضردئ په داسي صورت کې ګواهئ ورکړه نو پر ګواهي دي حُكم ولګوي او قاضي دي خپله فيصله هم وليکي .

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم نخعي كتاب القاضي اٰلي القاضي جائزګانئ که دخَط تحرير او مُهر پيژني (ب) چي کله حضور (ﷺ) و اَهلِ رُوم ته دخَط ليکلو اراده وکړه نو خلګوويل چي هغه د مُهر بغيره خَط نَه لُوستِي.نوحضور (ﷺ) د سُپينُو زَرُو ګُتمَئ جوړه کړه دهغه بَربِښنَا(پَرَک.اوځلېدل والئ)اُوس هم زُومَا په سُتُرګوکي دئ او دهغې نَقش ,,مُحَمّدٌرَسُولُ اللهِ,, وُ .

[۲۹۱۴](۲۷) وَ اِن شَهِدُوا بِغَيرِ حَضرَةِ خَصمِهِ لَم يُحكَم وَكَتَبَ بِالشّهَادَةِ لِيَحكُمَ بِهَا المَكتُوبُ اِلَيهِ .

وجه : چي مُدّعْي عَلَيهِ غَائِب وي نو فيصله نَه شي كولائي.لِهْذَاكه مُدّعْي عَلَيهِ حاضِر وي نو فيصله به كوي.دهغه وروسته كه بَل ضرورت وي مثلاً د سَزَاء لپاره بَل قاضي ته اَستَوِي نو بيادي وَاستَوِي .

[۲۹۱۴](۲۷) او كه دمُدّعْي عَلَيهِ په غَيرِموجودگي كي گواهي وركړه نو فيصله دي نَه كوي بلكه گواهي دي وليكي چي مَكتُوب اِلَيهِ قاضي ددې فيصله وكړي .

تشريح : داسي صُورَت دئ چي گواهان د يوه قاضي په خِطّه كي دي او مُدّعْي عَلَيهِ دبَل قاضي په خِطّه كي دئ.او دواړه سره جمع كول مُشكِل دئ په داسي صُورَت كي دگُوم قاضي په حُضُور كي چي گواهان پيش سول هغه قاضي دي گواهي وليكي.لېكن فيصله دي نَه كوي ځكه چي مُدّعْي عَلَيهِ غَائِب وي نو فيصله كول جواز نَه لري.او دغه گواهي دي ومَكتُوب اِلَيهِ قاضي ته وَروَاستَوِي چي هغه فيصله وكړي او پر مُدّعْي عَلَيهِ باندې نَافِذ كړي .

وجه : (۱) پر غَائِب مُدّعْي عَلَيهِ باندي فيصله كول جواز نَه لري ددې وجه داده چي كېدلائي شي چي مُدّعْي عَلَيهِ دَاډَوَل خبره وكړي چي دده په خِلاَف فيصله نَه شي كېدلائي.نوځكه چي مُدّعْي عَلَيهِ يا دهغه وَكِيل حاضِر وي بيابه فيصله كوي (۲) په حديث كي دئ چي حضرت علي ته وفرمايل چي دمُدّعْي عَلَيهِ خبره اَورَه بيا فيصله كوه. عَن عَلِيٍّ قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِلْي اليَمَنِ قَاضِيًا ... فَقَالَ اِنّ اللهَ سَيَهدِي قَلبَکَ وَيُثبِتُ لِسَانَکَ فَاِذَا جَلَسَ بَينَ يَدَيکَ اَلخَصمَانِ فَلاَتَقضِيَنّ حَتّْي تَسمَعَ مِنَ الآخَرِ كَمَا سَمِعتَ مِنَ الاَوّلِ فَاِنّهُ اَحرْي اَن يَتَبَيّنَ لَکَ القَضَاءُ (الف)

حاشيه : (الف) حضرت علي فرمايي چي حضور زَه ديَمَن قاضي جوړ كړم او وَايَستَوَلَم ... الله به ستا د زَړَه رِهنَمَايي كوي او ستا ژَبَه به ثَابِت ولري.چي ستا مَخ ته دواړه خَصَم كښيني نو ترڅو چي دي د دُويَم فريق خبره نَه وي اَورېدَلي تر هغو فيصله مَه كوه.ځكه چي دا صورت زِيَات مُنَاسِب دئ چي ستا مخته قَضَاء وَاضِح شي .

[۲۹۱۵](۲۸) وَلاَيُقبَلُ الكِتَابُ اِلاّ بِشَهَادَةِ رَجُلَينِ اَو رَجُلٍ وَ اِمرَأَتَينِ .

(ابوداؤدشريف.باب كيف القضاء ص۱۴۸نمبر۳۵۸۲/ترمذي شريف.باب ماجاء في القاضي لايقضيَنّ بين الخصمين حتّْي يسمع كلاهما ص۲۴۸نمبر۱۳۳۱) په دې حديث كي دئ چي دهغه بَل دُويَم خبره وَاوْرَه بيا فيصله وكه او دا هغه وخت كېدلائي شي چي مُدّعْي عَلَيهِ يا دهغه وَكِيل حاضِر وي (۳) په اَثَركي راغلي دي. قَالَ سَمِعتُ شُرَيحًا يَقُولُ لاَيُقضْي عَلْي غَائِبٍ (الف) (مصنّف عبدالرّزاق.باب لايقضْي علْي غائب ج۸ص۳۰۴نمبر۱۵۳۰۶) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي پر غَائِب سړي دي فيصله نَه كوي.نوځكه صِرف شَهَادَت دي وليكي او بَل قاضي ته دې وَاستَوِي چي هغه فيصله پر وكړي .

فائده : امامِ بخاري() فرمايي كه دمُدّعْي عَلَيهِ حاضِرَوَل مُشكِل وي نو دغَائِب مُدّعْي عَلَيهِ په خِلاَف هم فيصله كولائي شي .

وجه : په حديث کي ددې ثبوت شته. عَن عَائِشَةَ اَنّ هِنداً قَالَت لِلنّبِيِّ (ﷺ) اِنّ اَبَا سُفيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ وَاَحتَاجُ اَن اٰ خُذَ مِن مَالِهِ.قَالَ (ﷺ) خُذِي مَايَكفِيكِ وَوَلَدُكِ بِالمَعرُوفِ (ب) (بخاري شريف.باب القضاء علٰي الغائب ص۱۹۶۴نمبر۷۱۸۰) په دې حديث کې حضرت سُفيَان حاضِر نَه وُ دهغه بَاوُجُود حضور (ﷺ) دده دمَال څخه دمُنَاسِب نَفَقَه اخستلو فيصله وکړه.ددې څخه معلوم شوچي قضاء علٰي الغائب جائز ده .

[۲۹۱۵](۲۸) او خَط دي نَه قبلوي مګر د دُوُ نَرَانُ يا د يَوَه نَر او دُوُښځو په ګواهي سره .

تشريح : چي د مَکتُوب اِلَيهِ قاضي په حضورکي دُوَه نران يايَونَراودُوې ښځي ګواهي ورکړي چي دادفُلاَنِي قاضي خَط دئ نوبيادي مَکتُوب اِلَيهِ قاضي دغه خَط قبول کړي .

حاشيه : (الف) حضرت شريح به فرمايل چي پر غَائِب فيصله مَه کوئ (ب) حضرت هِند وحضور (ﷺ) ته وفرمايل ابوسُفيان بَخِيل سړئ دئ.او مَاتَه ضرورت پيښيږي چي دده مَال وَاخلَم نو آيا زَه وَاخلَم؟ حضور (ﷺ) وفرمايل په مناسب طريقه دُومرَه اَخلَه چي ستا او ستا د اَولاد لپاره کِفَايَت وکي .

[۲۹۱۶](۲۹) وَ يَجِبُ اَن يَقرأ الکِتَابَ عَلَيهِم لِيَعرِفُوا مَافِيهِ ثُمّ يَختِمَهُ وَيُسَلّمَهُ اِلَيهِم .

وجه : (۱) دا خَط په اَصل کي د نَقلِ شَهَادَت په درجه کي دئ او مخته تېرشوي دي چي د نَقلِ شَهَادَت لپاره دُوَه ګواهان ضروري دي نوځکه دخَط لپاره هم د دُوُ نَرَانُ يا يَو نَر او دُوُ ښځو ګواهي ضروري ده (۲) په اَثَرکي دئ. وَاَوّلُ مَن سَألَ عَلٰي کِتَابِ القَاضِي اَلبَيّنَةَ اِبنُ اَبِي لَيلٰي وَسَوَارُ بِنِ عَبدِاللهِ (الف) (بخاري شريف.باب الشهادة علٰي الخَطِّ المَختُومِ الخ ص۱۰۶۰نمبر۷۱۶۲) په دې اَثَرکي دئ چي ابن ابي ليلٰي او سوار بن عبدالله پر کتاب القاضي الٰي القاضي باندي ګواه طلب کړئ (۳) او د ګواهئ پر نَقل کولو باندي دُوَه ګواهان په کار دي دهغه دليل دا اَثَردئ. عَن اِسمٰعِيلَ الاَزرَقِ عَنِ الشّعَبِيِّ قَالاَ لاَتَجُوزُ شَهَادَةُ الشّاهِدِ عَلٰي الشّاهِدِ حَتّٰي يَکُونَا اِثنَينِ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في عددشهودالفرع ج۱۰ص۴۲۴نمبر۲۱۱۹۱/مصنّف ابن ابي شيبة ۴۸۰ في شهادة الشاهِدعلٰي الشّاهِد ج۴ ص۵۵۴ نمبر ۲۳۰۷۰) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي دشهادة علٰي الشهادة لپاره دُوَه ګواهان ضروري دي.او کتاب القاضي الٰي القاضي هم يَوقِسم نَقلِ شَهَادَت دئ نوځکه پر دې خَط باندي هم دُوَه ګواهان ضروري دي (۴) د يَوَه تحرير د بَل د تحرير سره مُشَابِه وي نو ځکه بَايَد يقين حاصل شي چي دا دفُلانِي قاضي خَط دئ او اِشتِبَاه پاته نَه شي نو په دې وجه هم ګواهان ضرروي دي .

[۲۹۱۶](۲۹) او وَاجِب دئ چي د ګواهانُ په مخکي خَط وَلُولِي چي هغو ته معلوم شي چي په خَط کي چِش دئ؟ بيا دي پر هغه مُهر ولګوي او ګواهانُ ته دې وَرکړي .

تشريح : پر کَاتِب قاضي باندي لازم دئ چي خَط وُړي دهغه ګواهانُ په مخکي خَط وَلوَلِي چي دُوئي ته هم معلوم شي چي د خَط مَندَرَجَات څِش دئ؟ او دمَکتُوب اِلَيهِ قاضي په مخکي په ګواهي ورکولو کي آسَانِي وي.بيادي پر خَط مُهر ولګوي او

حاشيه : (الف) پر كتاب القاضي باندي تر تولومخكي ابن ابي ليلْي او سوار بن عبدالله بَيِّنَه طلب كړه (ب) حضرت شعبي() وفرمايل شَهَادَة عَلْي الشّهَادَة جواز نَه لري تر څو چي ګواهان دُوَه شوي نَه وي .

ګواهانُ ته دې حَوَالَه کړي چي مَکتُوب اِلَيه قاضي ته خَط ورکړي .

وجه : (١) د ګواهانُ په مخکي دې په دې وجه وَوَايِي چي دُوئي ته يَاد شي چي په خَط کي څَه مضمون ليکلئ دي؟ چي دمَکتُوب اِلَيهِ قاضي په مخکي ددې ګواهي ورکړي چي د خَط مضمون او ګواهي په يَوَه رنګ وي (٢) په اَثَرکي دئ. وَکَرِهَ الحَسَنُ وَ اَبُوقَلاَدَةَ اَن يُشهِدَ عَلْي وَصِيّةٍ حَتّي يَعلَمَ مَافِيهَا لاَنّهُ لاَيَدرِي لَعَلّ فِيهَا جَوراً (الف) (بخاري شريف.باب الشهادة علْي الخَطِّ المختوم الخ ص١٠٦٠نمبر٧١٦٢/سنن للبيهقي.باب الاحتياط في قراءة الكتاب والاشهاد عليه وختمه لئلاّ يزورعليه ج١٠ص٢١٩نمبر٢٠٤١٩) په دې اَثَر کي دئ چي تر څو چي معلوم شوئ نَه وي چي په خَط کي څِش دئ؟ ګواهي دي نَه ورکوي (٣) عَن اِبرَاهِيمَ فِي الرّجُلِ يَختِمُ عَلْي وَصِيّتِهِ وَقَالَ اِشهَدُوا عَلْي مَافِيهَا قَالَ لاَيَجُوزُ حَتّي يَقرَأهَا اَو تُقرَأ عَلَيهِ فَيَقِرّ بِمَا فِيهَا (ب) (سنن للبيهقي.باب الاحتياط في قراءة الكتاب والاشهاد عليه وختمه لئلاّيزورعليه ج١٠ص٢٢٠نمبر٢٠٤٢٠) ددې اَثَرخخه هم معلوم شوچي و ګواه ته بَايَدمعلوم وي چي په خَط کي څِش دئ؟ چي دُرُوغجَنَه ګواهي وَرنَه کړي .

او دا چي پر خَط دي مُهر ولګوي دهغه دليل مخته تبرشوئ دئ (١) عَن اَنَسِ بنِ مَالِکٍ قَالَ لَمّا اَرَادَ النّبِيّ (ﷺ) اَن يَکتُبَ اِلْي الرّومِ قَالُوا اِنّهُم لاَيَقرَؤنَ کِتَابًا اِلاّ مَختُومًا فَاتّخَذَ النّبِيّ (ﷺ) خَاتَمًا مِن فِضّةٍ کَاَنّي اَنظُرُ اِلْي وَبِيضِهِ وَنَقشُهُ مُحَمّدٌ رَسُولُ اللهِ (ج) (بخاري شريف.باب الشهادة علْي الخط المختوم الخ ص١٠٦٠نمبر٧١٦٢) په دې حديث کي دئ چي حضور (ﷺ) مُهر جوړ کړئ چي پر خَط باندي مُهر ولګوي (٢) د مُهر دلګېدو وروسته په خَط کي بَل څوک ګَمِي او زِيَاتُوب نَه شي کولائي نو په دې وجه هم بَايَد مُهر پر ولګوي .

حاشيه : (الف) حضرت حسن اوابوقلابه نَاخُوَښَه کړئ چي دبَل چا پر وَصِيّت باندي ګواهي ورکړي ترهغو چي ورته معلوم شي چي په دې خَط کي څِش دئ؟ حُکه چي کېدلائي شي چي په دي کي دي ظُلم وي (ب) حضرت ابراهيم وفرمايل چي سړئ پر خپل وَصِيّت باندي مُهر ولګوي.وفرمايل په دي کي څَه خبره ده.پر دغه ګواه جوړ که.وفرمايل جواز نَه لري تر هغه وخته چي هغه وَلولِي يا پر ده وَلُوستَل شي او څَه چي په هغه کي دئ ثَابِت يې کړي (ج) چي کله حضور (ﷺ) و اَهلِ رُوم ته دخَط ليکلو اراده وکړه نو خلګوويل چي هغه د مُهر بغيره خَط نَه لُوستِي.نوحضور (ﷺ) د سُپِينُو زَرُو ګُتمَئ جوړه کړه دهغه بَربِښنَا(پِرَک.اوځلېدل والئ)اُوس هم زُومَا په سُتُرګوکي دئ او دهغې نَقش ,,مُحَمّدٌرَسُولُ اللهِ,, وُ .

[٢٩١٧](٣٠) وَ اِذَا وَصَلَ اِلْي القَاضِي لَم يَقبَلهُ اِلاّ بِحَضرَةِ الخَصمِ [٢٩١٨)(٣١) فَاِذَا سَلّمَهُ الشّهُودُ اِلَيهِ نَظَرَ اِلْي خَتمِهِ فَاِذَا شَهِدُوا اَنّهُ

كِتَابُ فُلاَنِ القَاضِي سَلَّمَهُ اِلَينَافِي مَجلِسِ حُكمِهِ وَقَضَائِهِ وَقَرَأهُ عَلَينَا وَخَتَمَهُ فَتَحَهُ القَاضِي وَقَرَأ هُ عَلْي الخَصمِ وَ اَلزَمَهُ مَا فِيهِ .

[۲۹۱۷](۳۰) چي قاضي ته خَط وَرَسِيږي نو هغه دي نَه قبلوي مګر دمُدّعْي عَلَيهِ په مخکي .

تشريح : و مکتوب اليه قاضي ته د خَط رسېدو مطلب دادئ چي هغه پردغه خَط فيصله وکړي او پر مُدّعْي عَلَيهِ يې نَافِذ کړي.او نَافِذېدَل هغه وخت کېدلائي شي چي مُدّعْي عَلَيهِ حاضِروي.نوځکه دمُدّعْي عَلَيهِ په حضور کي دي خَط قبول کړي .

په حديث کي دئ چي حضور (ﷺ) وحضرت علي ته وفرمايل فَاِذَا جَلَسَ بَينَ يَدَيکَ اَلخَصمَانِ فَلاَتَقضِيَنّ حَتّْي تَسمَعَ مِنَ الآخَرِ کَمَا سَمِعتَ مِنَ الاَوّلِ فَاِنّهُ اَحرْي اَن يَتَبَيّنَ لَکَ القَضَاءُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب کيف القضاء ص۱۴۸نمبر۳۵۸۲) ددې حديث څخه معلوم شو چي مُدّعْي عَلَيهِ حاضِر وي نو بيابه دهغه په مخکي فيصله کوي .

[۲۹۱۸](۳۱) چي ګواهان قاضي ته خَط ورکړي نو دئ دي دهغه مهر وګوري.که چيري ګواهانُ ګواهي ورکړې وه چي دا دفُلاَنِي قاضي خَط دئ او په خپل مَجلِسِ قَضَاء کې و موږ ته سُپُرد کړئ او زموږ په مخکې ولوستئ قاضي دي هغه خَلاَس کړي او پر مُدّعْي عَلَيهِ دې ولوستي او چي څَه په هغه کي دي هغه دي پر مُدّعْي عَلَيهِ باندي لازم کړي .

تشريح : چي کوم وخت ګواهانُ و مَکتُوبٌ اِلَيهِ قاضي ته خَط سُپُرد کړئ نوقاضي دي

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وحضرت علي ته وفرمايل.چي ستا مَخ ته دواړه خَصَم کښيني نو ترڅو چي دي د دُويَم فريق خبره نَه وي اَورېدَلي تر هغو فيصله مَه کوه.ځکه چي دا صورت زيَات مُنَاسِب دئ چي ستا مخته قَضَاء وَاضِح شي .

[۲۹۱۹](۳۲) وَ لاَ يُقبَلُ کِتَابُ القَاضِي اِلْي القَاضِي فِي الحُدُودِ وَالقِصَاصِ .

اَوّل دهغه مُهر وګوري چي هغه صحيح دئ که نَه؟ ځکه چي که مُهر مَات شوئ وُ نو ددې مطلب دادئ چي خَط بَل چا خَلاَس کړئ دئ او په مضمون کې کَمِي او زِيَاتُوب کړئ دئ.نوځکه اَوّل دي مُهر وګوري چي هغه سَلاَمَت دئ که نَه؟ بيا دي ګواهان دا ګواهي ورکړي چي فُلاَنِي قاضي په خپل مَجلِسِ قَضَاء کي دا خَط ليکلئ دئ او مُوږ ته حَوَالَه کړئ دئ او زموږ په مخکي دا لُوَستَلئ دئ بيايي مُهر پر لګولئ دئ.د دُومرَه خبرو وروسته دي مَکتُوب اِلَيهِ قَاضي دغه خَط خلاس کړي او دمُدّعْي عَلَيهِ په مخکي دې وَلوَلِي او چي څَه په هغه کي ليکلي دي هغه دي پر مُدّعْي عَلَيهِ لاَزِم کړي .

دا ټول شرطونه ددې لپاره دي چې ددې خبرې اِطمِينَان شي چې دغه خَط دفُلاَنِي قاضي دئ.بياددې خَط مقصد دادئ چې پر مُدّعْي عَلَيهِ باندي هغه خبره لاَزِم کړي کوم چې په دغه خَط کي ليکل شوې ده.نوځکه مَکتُوب اِلَيهِ قاضي به دغه خبره پر مُدّعْي عَلَيهِ باندي لاَزِموي .

[۲۹۱۹](۳۲) دقاضي خَط به دبَل قاضي پر نوم په حدود اوقصاص کي نَه قبليږي .

وجه : (۱) په حدود او قصاص کي دادئ چې حَتُّي الإمکان به دا کوشش کوي چې سَاقِط يې کړي.او په کِتَابُ القَاضِي اِلْي القَاضِي خو نور زيات مضبوط کيږي نوځکه کِتَابُ القَاضِي اِلْي القَاضِي په حدود او قصاص کي مقبول نَه دئ.حديث دادئ. عَن عَائِشَةَ قَالَت قَالَ رَسُولُ اللهِ اِدرَءُوا الحُدُودَعَنِ المُسلِمِينَ مَا اِستَطَعتُم فَاِن کَانَ لَهُ مَخرَجٌ فَخَلّوا سَبِيلَهُ فَاِنّ الإمَامَ اَن يَخطَئَ فِي العَفوِ خَيرٌ مِّن اَن يَخطَئَ فِي العُقُوبَةِ (الف)

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل چې څومره اِمکَان ولري په هغونه اندازه دمسلمانانوځخه حَدَدفَعَ کړئ.که دهغه لپاره يَوَه لاَر وي نو لاَرَه رَاوَبَاسَئ.ځکه چې اِمَام په معافِي کي غلطي وکړي دا دِپرښَه دئ تر دې چې په سَزَاء کي غلطي وکړي .

[۲۹۲۰](۳۳) وَ لَيسَ لِلقَاضِي اَن يَستَخلِفَ عَلْي القَضَاءِ اِلاّ اَن يُفَوّضَ اِلَيهِ ذَالِکَ .

(ترمذي شريف.باب ماجاء في درءالحدودص۲۶۳نمبر۱۴۲۴/دارقطني.کتاب الحدود والدِّيَاتِ ج ۳ ص۶۸ نمبر۳۰۷۵) (۲) بَلَه خبره دا چې حدود او قصاص په شُبهَه سره ساقطيږي او په کتاب القاضي الْي القاضي کي شُبهَه وي نو په دې وجه هم په حدود او قصاص کي جواز نَه لري (۳) په اَثَرکي دئ. وَقَالَ بَعضُ النّاسِ کِتَابُ الحَاکِمِ جَائِزٌ اِلاّ فِي الحُدُودِ (الف) (بخاري شريف.باب الشهادة علْي الخَط المختوم الخ ص۱۶۰نمبر۷۱۶۲) ددې اَثَرځخه هم معلوم شوچې په حدود کي کِتَابُ القَاضِي اِلْي القَاضِي جواز نَه لري .

[۲۹۲۰](۳۳) قاضي حَق نَه لري چې پر قاضي باندي خليفه جوړ کړي مګر که چيري وده ته سُپُرد کړئ وُ .

تشريح : که قاضي وَغُوَارِي چې پر خپل ځائ بَل څوک قاضي وَدَرَوِي نو دا نَه شي کولائي.البته که اميرالمؤمنين و ده ته اِختِيَار ورکړئ وي چې دئ پر خپل ځائ بل څوک قاضي کړي.نو اُوس دا کولائي شي .

وجه : (۱) قاضي جوړول د اميرالمؤمنين کار دئ هغه به قاضي جوړوي.يا بَل څوک د اميرالمؤمنين په اِجَازَت سره قاضي جوړولائي شی (۲) لکه څه رنګه چې قاضي و بَل چا ته د حَد د جاري کولو حُکم ورکړي نو هغه حَد جاري کولائي شي دغه رنګه که اَمِير وقاضي ته د قاضي جوړولو اختيار ورکړي نو بيا هغه قاضي هم بَل څوک قاضي جوړولائي شي.د حَد دجاري کولوداِختِيَارحديث دادئ.عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَنِ النّبِيّ

(ﷺ) قَالَ: وَ اَغدِ يَا اَنِيسُ اِلَي اِمرَأةِ هٰذَا فَاِن اِعتَرَفَت فَارجِمهَا (ب) (بخاري شريف.باب الوكالة في الحدودص٣١١نمبر٢٣١٤) په دې حديث کې حضور (ﷺ) و

حاشيه : (الف) بعض حضراتُ وفرمايل دحَاكِم خَط جائز دئ مګر په حدود کې (ب) حضور(ﷺ) وفرمايل ائ انيس دې بښُي ته ورسه که دې د زِنَاء اقرار وکړئ نو دا رَجم کړه .

[٢٩٢١](٣٤) وَ اِذَا رُفِعَ اِلَي القَاضِي حُكمُ حَاكِمٍ اَمضَاهُ اِلاّ اَن يُخَالِفَ الكِتَابَ اَوِ السّنّةَ اَوِ الاِجمَاعَ اَو يَكُونَ قَولاً لاَدَلِيلَ عَلَيهِ .

حضرت انس ته د رَجم کولو اختيار ورکړئ نو هغه وَتُوَانِبدَئ چې رَجم وکړي .
لغت : يُفَوّضُ : سُپُرد دې کړي.حواله دې کړي .
[٢٩٢١](٣٤) که قاضي ته د يَوَه حاكِم حُكم رَاوړِي نو هغه دي نَافِذ کړي مګر که دقُرآن يا سُنّت يا اِجمَاع څخه مخالف وي يا قَول بغيره دليل وي .
تشريح : په دي کې دُوې مسئلې دي.يوه مسئله خو داده چې د اَوّلنِي قاضي فيصله دقُرآن.حديث يا اِجمَاع څخه خِلاَف نَه وي نو مکتوب اليه قاضي به هغه نَافِذوي.او دُويَمه مسئله داده چې دقُرآن.حديث او اِجمَاع څخه خِلاَف وي نو هغه فيصله دي رَدّ کړي .
وجه : (١) چې د شريعت سره موافق وي نو په رَدّوُلُو کې کومه فائده شته؟ ځکه چې اَوّل قاضي هم اِجتِهَاد کړئ دئ او دُويَم قاضي به هم اجتهاد کوي.او د اَوّل قاضي د اجتهاد سره فيصله هم شوې ده نوځکه هغه ختم کول بِنَه کار نَه دئ هغه دي نَافِذ کړي (٢) په اَثَرکي دئ. حَدّثَنَا عُبَيدُاللهِ بنِ مُحرزٍ حِئتُ بِكِتَابٍ مِّن مُوسْي بنِ اَنَسٍ قَاضِي البَصرَةِ وَ اَقَمتُ عِندَهُ اَلبَيّنَةَ اَنّ لِي عِندَ فُلاَنٍ كَذَا وَكَذَا وَهُوَ بِالكُوفَةِ وَجِئتُ بِهِ القَاسِمُ بنِ عَبدِالرّحمٰنَ فَاَجَازَهُ (الف) (بخاري شريف.باب الشهادة علْي الخَطِّ المختوم الخ ص١٠٦٠نمبر٧١٦٢) په دې اَثَرکي قاسم بن عبدالرّحمٰن د موسْي بن انس فيصله نَافِذکړي ده (٣) په اَثَرکي دئ. عَن اِبنِ سِيرِينَ قَالَ سَمِعتُ شُرَيحًا يَقُولُ اِنّي لاَ اَرُدّ قَضَاءَ كَانَ قَبلِي (ب) (مصنّف عبدالرّزاق.باب هل يردّقضاء القاضي؟ اويرجع عن قضائه ج٨ص٣٠٢ نمبر١٥٢٩٧) ددې

حاشيه : (الف) عبيدالله بن مُحرز وايي چې دبصره د قاضي موسْي بن اَنَس خَط مي رَاوړَئ زَه راغلم او دهغه سره مِي بَيّنَه قائم کړه چې دفُلاَنِي سره زُومَا دُومرَه دُومرَه دئ.او هغه سړئ په کوفه کې دئ. او دهغه خِط مِي رَاوړَئ قاسم بن عبدالرّحمٰن ته راغلم نو هغو دغه جائز کړئ (ب) حضرت شريح به فرمايل چې زَه د اَولَنَيُو خلکو فيصله نَه رَدّوَم .
څخه معلوم شوچې که دشريعت څخه خِلاَف نَه وي نو د مَاقَبل قاضي فيصله نَه ده رَدّوَل په کار .
او که دقُرآن.حديث يا اِجمَاع څخه خِلاَف وي نو هغه به رَدّوِي .

وجه : (۱) په حديث کي دئ.عَن عَائِشَةَ قَالَت قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مَن اَحدَثَ فِي اَمرِنَا هٰذَا مَالَيسَ فِيهِ فَهُوَ رَدّ (الف) (بخاري شريف.باب اذا اصطلحوا علٰي صُلح جَورٍ فالصّلح مَردُودٌ ص۳۷۱نمبر۲۶۹۷/ابوداؤدشريف.باب في لزوم السّنّةِ ج۲ص۲۸۴نمبر۴۶۰۶) ددې حديث څخه معلوم شوچي په شريعت کي نَه وي نو هغه مَردُود دئ (۲) په دغه باب کي ديوه صَحرَاپي سړي د زُوئ د زِنَاء واقعه ذِکر شوي ده.خلګو دهغه لپاره د رَجَم فيصله وکړه او حضور (ﷺ) هغه فيصله رَدّ کړه او وفرمايل سَتَا پر زُوئ باندي سَل کُوړي دي ځکه چي هغه مُحصِن نَه دئ (۳) په حديث کي دئ چي حضرت خالِد د قَبِيلَيانُ په سَلسَلَه کي دقَتل فيصله وکړه چي د شريعت څخه خِلاَف فيصله وه نو حضور (ﷺ) هغه رَدّ کړه او دهغه څخه بَرَاءَت ښکاره کړئ.د حديث ټکړه داده. عَن اِبنِ عُمَرَ بَعَثَ النّبِيّ (ﷺ) خَالِداً ... فَذَکَرنَا ذَالِکَ لِلنّبِيِّ (ﷺ) فَقَالَ اَللّٰهُمّ اِنِّي اَبرَأ اِلَيکَ مِمّا صَنَعَ خَالِدُ بنِ الوَلِيدِ مَرّتَينِ (ب) (بخاري شريف.باب اذا قضي الحاکم بِجَورٍ او خلاف اَهلِ العِلم فَهُوَ رَدّ ص۱۰۶۶نمبر۷۱۸۹) ددې حديث څخه هم معلوم شوچي د شريعت څخه خِلاَف فيصله وي نو هغه به رَدّوِي او نَه به نَافِذوِي (۴) په اَثَرکي ددې صَرَاحَت شوئ دئ. عَنِ الثّورِيّ اِذَا قَضْي القَاضِي بِخِلاَفِ کِتَابِ اللهِ اَو سُنّةِ نَبِيّ اللهِ اَو شَيئٍ مُجتَمَعٍ عَلَيهِ. فَاِنّ القَاضِي بَعدَهُ يَرُدّهُ. فَاِن کَانَ شَيئًا بِرَأيِ النّاسِ لَم يَرُدّهُ وَيَحمِلُ ذَالِکَ مَاتَحمِلُ (ج) (مصنّف عبدالرّزاق.باب هل يردّ قضاء القاضي او يرجع عن قضائه؟ ج ۸ ص۳۰۲ نمبر۱۵۲۹۸) ددې اَثَرڅخه هم معلوم شوچي که دشريعت څخه خِلاَف وُ نو رَدّوِي به .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل زُومَا په دې معامله کي چي کوم چا نوي خبره پَيدَا کړه هغه مَردُود ده (ب) حضور(ﷺ)حضرت خَالِد وَاستَاوَئ ... نو دحضور(ﷺ)په مخکي دحضرت خَالِد دقتل تَذکِرَه وکړه حضور وفرمايل ائ الله څه چي خَالِد کړي دي زَه دهغه څخه بَري يَم.دايي دُوَه واره وفرمايل (ج) که قاضي دکتاب الله خِلاَف فيصله وکړي يا دسُنّتِ رَسُول خِلاَف يا د اِجمَاع خِلاَف نو دهغه بَعد قاضي به دغه رَدّوِي.او که دخلګو په رَأيَه سره وي نو نَه به رَدّوِي بلکه چي ده څه وَيلي دي هغه به جاري سَاتِي.ځکه چي هغه دشريعت خِلاَف نَه ده .

[۲۹۲۲](۳۵) وَلاَ يَقضِي القَاضِي عَلٰي غَائِبٍ اِلاّ اَن يَحضُرَ مَن يَقُومُ مَقَامَهُ .

[۲۹۲۲](۳۵) قاضي دي پر غَائِب فيصله نَه کوي مګر که دهغه يَو قائم مقام موجود وي .

تشريح : مخته تَفصِيل تېرشوئ دئ چي مُدّعْي عَلَيهِ غائب وي نو پر هغه دي فيصله نَه کوي.البته! که دهغه بَل قائم مقام موجود وي.مثلاً دهغه وَکِيل موجود وي يا وَصِي موجود وي يا دَادَوَل سبب وي چي پر غَائِب هم لګيږي او پر حَاضِر هم لګيږي.يا په څوځو کَرَتّه د خبرېدو باوجود نَه حاضريږي.مثلاً ښځه پر خپل غَائِب مېړه باندي د نَفَقې دَعوَه کوي.او مېړه د ډېره وخته غَائِب وي او دښځي لپاره دنَفَقې هيڅ صورت نَه وي نو پر غَائِب باندي فيصله کېدلائي شي .

وجه : (۱) حديث مخکي تېرشوئ دئ. عَن عَلِيّ ... فَقَالَ اِنّ اللهَ سَيَهدِي قَلبَکَ وَيُثبِتُ لِسَانَکَ فَاِذَا جَلَسَ بَينَ يَدَيکَ اَلخَصمَانِ فَلاَتَقضِيَنّ حَتّٰي تَسمَعَ مِنَ الآخَرِ کَمَا سَمِعتَ مِنَ الاَوّلِ فَاِنّهُ اَحرٰي اَن يَتَبَيّنَ لَکَ القَضَاءُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب کيف القضاء ص۱۴۸نمبر۳۵۸۲) په دې

حديث کي دئ چي د مُدّعْي عَلَيهِ خبره هم وَاوْرَه بيا فيصله وکه.او دا هغه وخت کېدلائي شي چي مُدّعْي عَلَيهِ حاضِر وي يا دهغه قائم مقام حاضِر وي او خپله خبره وَاوْرَوِي (۲) سَمِعتُ شُرَيحًا يَقُولُ لاَيُقضْي عَلْي غَائِبٍ (ب) (مصنّف عبدالرّزاق.باب لايقضي علْي غائب ج۸ص۳۰۴نمبر۱۵۳۰۶) .

فائده : امامِ شافعي فرمايي چي مُدّعْي عَلَيهِ دمَجلِسِ قَضَاء څخه غَائِب وي يا دښَار څخه غَائِب وي يا په بښَار کي پَ ت شوئ وي نو پر غَائِب مُدّعْي عَلَيهِ باندي فيصله کېدلائي شي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وحضرت علي ته وفرمايل ... الله به ستا د زَرِه رِهنَمَايِي کوي او ستا ژَبَه به ثَابِت ولري.چي ستا مَخ ته دواړه فريق(خَصمَين)کښيني نو ترڅو چي دي د دُويَم فريق خبره نَه وي اَورېدَلي تر هغو فيصله مَه کوه.ځکه چي دا صورت زيَات مُنَاسِب دئ چي ستا مخته قَضَاء وَاضِح شي (ب) حضرت شريح به فرمايل چي پر غَائِب فيصله مَه کوئ.

[۲۹۲۳](۳۶) وَاِذَا حَكّمَ رَجُلاَنِ رَجُلاً بَينَهُمَا وَرَضِيَا بِحُكمِهِ جَازَ اِذَا كَانَ بِصِفَةِ الحَاكِمِ .

وجه : (۱) که داسي وَنَه کړي نو دمُدّعِي حَق به ضائع شي او مُدّعْي عَلَيهِ به خَامخَا تَال مَتُول کوي (۲) په حديث کي دئ. عَن عَائِشَةَ اَنّ هِنداً قَالَت لِلنّبِيّ (ﷺ) اِنّ اَبَا سُفيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ وَاَحتَاجُ اَن اٰ خُذَ مِن مَالِهِ.قَالَ (ﷺ) خُذِي مَايَكفِيكِ وَوَلَدُكِ بِالمَعرُوفِ (الف) (بخاري شريف.باب القضاء علْي الغائب ص۱۹۶۴نمبر۷۱۸۰/مسلم شريف.باب قضيّة هند ج۲ص۷۵نمبر۱۷۱۴) په دې حديث کي حضرت ابوسفيان حاضِر نَه وُ بيايې هم دده دمَال څخه دنَفَقې اخستلو فيصله وکړه.ددې څخه معلوم شوچي پر غَائِب فيصله کېدلائي شي .

﴿ ... د حَکَم او جَرګې جوړولو بيان ... ﴾

[۲۹۲۳](۳۶) که دُو ګسَانُ يَوسړئ مَشَر کړئ چي د دواړو تر مينځ فيصله وکړي او دواړه د ده پر فيصله رَاضِي شي نو جائز دئ په دې شَرط چي هغه دحَاکِم پر صِفَت وي .

تشريح : مُدّعِْي او مُدّعْي عَلَيهِ دواړو د قاضي پر ځائ بَل څوک په خپل مينځ کي حَکَم او فَيصَل جوړ کړي.او په حَکَم کي هغه صِفَات وي کُوم چي په قاضي کي موجود وي.مثلاً مسلمان دئ.آزاد دئ.عَاقِل دئ او بَالِغ دئ.مَحدُود فِي القَذَف نَه دئ او عَادِل دئ نو دَادَوَل سړئ حَکَم جوړول جائز دئ.او هغه چي کُومَه فيصله وکړي هغه مَنَل په کار ده .

وجه : په حديث کي دئ چي يَهُودُ دحضور (ﷺ) پر ځائ حضرت سَعدبن معاذ خپل

حاشيه : (الف) حضرت هِند وحضور (ﷺ) ته وفرمايل ابوسُفيان بَخِيل سړئ دئ.او مَاتَه ضرورت پيښيږي چې دده مَال وَاخلَم نو آيا زَه وَاخلَم؟ حضور (ﷺ) وفرمايل په مناسب طريقه دُومرَه اَخلَه چې ستا او ستا د اَولاد لپاره كِفَايَت وكي .

[۲۹۲۴](۳۷) وَلاَيَجُوزُ تَحكِيمُ الكَافِرِ وَالعَبدِ وَالذِّمِّي وَالمَحدُودِ فِي القَذَفِ وَالفَاسِقِ وَالصّبِيِّ .

حَكَم جوړ كړئ او هغه چې كُومَه فيصله وكړه هغه دواړو فريقَينُ تسليم كړه. د وُرِد حديث ټكړه داده. عَن عائشَةَ قَالَت اُصِيبَ سَعدٌ يَومَ الخَندَقِ ... فَاَشَارَ اِلْي بَنِي قُرَيظَةَ فَاَتَاهُم رَسُولَ اللهِ (ﷺ) فَنَزَلُوا عَلْي حُكمِهِ فَرَدّ الحُكمَ اِلْي سَعدٍ.قَالَ فَاِنِّي اَحكُمُ فِيهِم الخ (الف) (بخاري شريف.باب مرجع النّبِيّ (ﷺ) من الاحزاب ومخرجه الْي بني قريظة ومحاصرته اِيّاهُم.كتاب المغازي ص۵۹۰نمبر۴۱۲۲/مسلم شريف.باب جواز قتال من نقض العهد و جواز انزال اهل الحِصن علْي حُكم حَاكِمٍ عَدلٍ للحُكم ج۲ ص۹۵نمبر۱۷۶۸) ددې حديث څخه معلوم شوچې په خپل مينځ يَو حَكَم يعني مَشَر او بَا اِختِيَار جوړول جائز دئ .

البته د حَكَم جوړولو لپاره دُوَه شرطونه دي. يَو خو دا چې مُدّعِي او مُدّعْي عَلَيهِ دواړه يې حَكَم جوړكړي بيا فيصله كولائي شي.ځكه چې دا خو د اَمِير لخوا څخه قاضي نَه دئ چې پر دواړو دي د قضاء اِختِيَار وَلَړي.نو دا هغه وخت كېدلائي شي چې دواړه يې تَسلِيم كړي.او كه د دواړو څخه يَو هم تسليم نَه كړي نو حَكَم نَه شي جوړېدلائي. دُويَم شرط دادئ چې په حَكَم كي به د قاضي صِفَت موجود وي .

وجه : ځكه چې دئ خو به د ګواهانُ څخه ګواهي اَخلِي او فيصله به كوي نو چې په ګواهانُ كي كُوم صِفَتُونَه وي كَم از كَم(لَږ تر لَږَ) په حَكَم كي به هم هغه صِفَتُونَه موجود وي چې دئ فيصله وكړي .

[۲۹۲۴](۳۷) او جواز نَه لري كَافِر او مَرَيَئ او ذِمّي او چې تُهمَت پر لګېدلئ وي هغه او فَاسِق او كِشنَئ بَچَئ حَكَم جوړول .

تشريح : دغه شُپَږ قِسم خلګ حَكَم جوړول جواز نَه لري.ځكه چې په دې شُپَږ قِسم

حاشيه : (الف) پر حضرت سعد باندي په غَزوَه خَندَق كي غَشَئ وَمُبتَئ ... هغه و بنو قُريظه ته اِشَارَه وكړه. نو هغه خلګ حضور(ﷺ)ته راغلواودحضرت سعد پر فيصله يې اِتّفَاق وكړئ.حضرت سعدوفرمايل زَه دبنو قريظه لپاره د الله تعالْي فيصله كَوَم .

اِنسَانَانُ كي دقاضي صِفَت مُكَمّل وُجُود نَه لري.مثلاً د كافِر په اړه آيت دئ چې دئ پر مسلمان باندي اِختِيَار نَه لري .

وجه : (۱) آيت دادئ. وَلَن يَجعَلَ اللهُ لِلكَافِرِينَ عَلْي المُؤمِنِينَ سَبِيلاً (الف) (آيت۱۴۱سورة النساء ۴) (۲) په اَثَركي دئ چې دمسلمان خِلاَف د غَيرِمُسلِم شَهَادَت مقبول نَه دئ نو دهغه قَضَاء به څه رنګه مَقبُول وي؟ عَن ابراهيم عَن شُرَيحٍ قَالَ: لاَتَجُوزُ شَهَادَةُ اليَهُودِيِّ وَالنّصرَانِيِّ اِلاّ فِي سَفَرٍ. وَلاَتَجُوزُ اِلاّ عَلْي وَصِيّةٍ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۳۵۵ ماتجوز فيه شهادة اليهودي والنّصرانِيّ ج۴ص۴۹۵نمبر۲۲۴۳۹/مصنّف عبدالرّزاق.باب شهادة اهل الكفرعلْي اَهلِ

الإسلاَم ج۸ص۳۶۰نمبر۱۵۵۳۸) ددې اَثَرځخه معلوم شوچې ګواهي يې هم جواز نَه لري.ذِمّي هم په دغه(ګافِريعني غَيرِمُسلِم)کي دَاخِل دئ چې هغه حَکَم جوړول جواز نَه لري .

غُلاَم په دې وجه حَکَم نَه شي جوړولائي چې (۱) هغه پر خپل ځان باندي اِختِيَار نَه لري نو پر نورو به ده ته دفيصلې کولواِختِيَار څَه رنګه ملاؤشي؟ (۲) دئ خو ګواهي هم نَه شي ورکولائي نو فيصله به څَه رنګه کوي؟. په اَثَرکي دئ. عَن عَلِيٍّ وَ الحَسَنِ وَالنّخَعِيِّ وَالزّهرِيِّ وَمُجَاهِدَ وَعطَاءَ لاَتَجُوزُ شَهَادَةُ العَبدِ (ج) (سنن للبيهقي .باب من رَدّ شهادة العبيد ومن قبلها ج۱۰ص۲۷۲نمبر۲۰۶۰۸) په دې اَثَرکي دئ چې د غُلاَم ګواهي نَه صحيح کيږي.لِهْذَا که دئ حَکَم جوړ کړي دا هم نَه صحيح کيږي .

مَحدُود فِي القَذَف هم حَکَم نَه شي جوړولائي .

وجه : په آيت کي دئ. وَلاَتَقبَلُوا لَهُم شَهَادَةً اَبَداً وَ اُولْئِکَ هُمُ الفَاسِقُونَ (د) (آيت۴سورة النّور۲۴) چې دده ګواهي نَه قبليږي نو چې دبَل څخه ګواهي وَاخِلي پر هغه به فيصله څَه رنګه کوي؟ .

حاشيه : (الف) الله تعالٰي وکافر ته پر مُؤمِن باندي هيڅ حُجّت نَه دئ ورکړئ (ب) د يهودي او نَصرَانِي ګواهي جواز نَه لري مګر په سَفَرکي او جواز نَه لري مګر په وَصِيّت کي (ج) حضرت علي.حسن. نخعي. زُهري. مجاهد او عَطَاء وفرمايل چې دغُلاَم ګواهي جواز نَه لري (د) دحَدّقَذَف والا ګواهي هيڅ وخت مَه قبلوئ.هغه فَاسِقَان دي .

[۲۹۲۵](۳۸) وَ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ المُحَكِّمَينِ اَن يَرجِعَ مَا لَم يَحكُم عَلَيهِمَا .

فَاسِق حَکَم جوړول هم بنَه نَه دئ ځکه چې هغه عَادِل نَه دئ.البته که فَاسِق حَکَم کړئ نو دهغه فيصله نَافَذ ده .

وجه : حجّاج بن يوسف فَاسِق وُ خو بيا هم هغه حَکَم وُ او د هغه فيصلې نَافِذبدلې. لِهْذَا که فَاسِق قاضي يا حَکَم جوړ کړئ او هغه فيصله وکړه نو هغه به نَافِذ شي .

کِشنَئ بَچَئ او مَجنُون(لېونَئ)خو عَقل نَه لري هغه به څَه رنګه حَکَم جوړوي؟ د هغوئي خو ګواهي هم نَه صحيح کيږي.په اَثَرکي دئ. اَرسَلَ اِلَي اِبنِ عَبّاسٍ ... يَسئَلُهُ عَن شَهَادَةِ الصِّبيَانِ فَقَالَ: لاَ اَدرِي اَن تَجُوزَ شَهَادَتُهُم (الف) (مصنّف عبدالرّزاق.باب شهادة الصبيان ج۸ص۳۴۸نمبر۱۵۴۹۴) په دې اَثَرکي دئ چې د بَچِي ګواهي مَقبُول نَه ده نو حَکَم جوړول به څَه رنګه صحيح شي؟ .

[۲۹۲۵](۳۸) د حَکَم جوړونکو څخه هر يَوَه ته جواز شته چې رُجُوع وکړي تر څو چې پر دُوئي يې فيصله نَه وي کړې .

تشريح : کومو خلګو چې حَکَم جوړ کړئ وُ هغو ته دا اِختِيَار شته چې تر کوم وخته پُوري چې جَرګې يعني دغه حَکَم فيصله نَه وي کړې دهغه څخه مخکي مخکي

حَكَموَالَئ ببرته ځيني واخلي.كه هغوئي حَاكِمِيّت ببرته ځيني واخستي نو اُوس دئ حَكَم نَه پاتيږي.او نَه اُوس دده فيصله نَافِذِيږي .
وجه : چي دواړو حَكَم جوړ كړئ نو دئ حَكَم شو نوځكه چي دفيصلې څخه مخكي د حَكَم وَالِي څخه اِنكار وكړي نو دُوئي اِنكار كولائي شي.دا خو د اَمِيرُالمُؤمِنِين لخوا څخه حَكَم نَه وُ چي همېشه به حَكَم وي .

حاشيه : (الف) د حضرت ابن عبّاس څخه د كِشنِيَانُ د گواهئ په اړه پُوښتَنَه وكړه. وفرمايل زَه د دُوئي په گواهي كي جواز نَه وينَم .

[۲۹۲۶](۳۹) وَ اِذَا حَكَمَ عَلَيهِمَا لَزِمَهَا [۲۹۲۷](۴۰) وَ اِذَا رُفِعَ حُكمُهُ اِلَي القَاضِي فَوَافَقَ مَذهَبَهُ اَمضَاهُ وَ اِن خَالَفَهُ اَبطَلَهُ .

[۲۹۲۶](۳۹) او كه پر دواړو فيصله وكړه نو پر دواړو به لاَزِم شي .
تشريح : چي حَكَم فيصله وكړه نو اُوس پر دواړو لاَزِم دئ چي فيصله به تَسلِيمَوِي .
وجه : (۱) ځكه چي دواړو حَكَم تسليم كړئ وُ (۲) بنوقريظه حضرت سَعد حَكَم تسليم كړئ بيا چي هغه كومه فيصله وكړه هغه بنوقريظه تسليم كړه.د حديث تكړه داده. عَن عائشَةَ قَالَت اُصِيبَ سَعدٌ يَومَ الخَندَقِ ... فَاَتَاهُم رَسُولَ اللهِ (ﷺ) فَنَزَلُوا عَلَي حُكمِهِ فَرَدّ الحُكمَ اِلَي سَعدٍ.قَالَ فَاِنّي اَحكُمُ فِيهِم اَن تُقتَلَ المُقَاتِلَةُ وَ اَن تُسبِيَ النِّسَاءُ وَ الذّرِيّةُ وَاَن تُقسَمَ اَموَا لُهُم (الف) (بخاري شريف.باب مرجع النّبِيّ (ﷺ) من الاحزاب ومخرجه الٰي بني قريظة ومحاصرته اِيّاهُم.كتاب المغازي ص۵۹۰نمبر۴۱۲۲/مسلم شريف.باب جواز قتال من نقض العهد و جواز انزال اهل الحِصن علٰي حُكم حَاكِمٍ عَدلٍ للحُكم ج۲ص۹۵نمبر۱۷۶۸) په دې حديث كي دئ چي حضرت سعدبن معاذ چي كومه فيصله كړې وه يَهُودِيَانُ هغه تسليم كړه.ددې څخه معلوم شوچي حَكَم كومه فيصله وكړي نو دواړه فريقين به هغه مَنِي(تسليموي) (۳) په يوه حديث كي دئ.عَنِ الحَسَنِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مَن دُعِيَ اِلٰي حُكمِ حَاكِمٍ مِنَ الحُكّامِ فَلَم يُجِب فَهُوَ ظَالِمٌ. هٰذَا مُرسَلٌ (ب) (سنن للبيهقي.باب من دعي حكم حاكم ج۱۰ص۲۳۶نمبر۲۰۴۸۵) ددې مُرسَل حديث څخه معلوم شوچي فيصله وشي بيا هغه فيصله قبوله نَه كړي نو هغه سړئ ظَالِم دئ .
[۲۹۲۷](۴۰) كه دده فيصله قاضي ته رَاوړَل شي او هغه دده دمَذهَب مُوَافِق وي نو هغه به نَافِذوِي او كه دده دمَذهَب مخالِف وي نو هغه به بَاطِلَوِي .

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمايي چي پر حضرت سعد باندي په غَزوَه خَندَق كي غَشَئ وَمُبتَئ ... يهوديَان حضور (ﷺ) ته راغلل او دده پر حُكم مُتّفِق شو. بيايي دغه فيصله وحضرت سعد ته نَقل كړه.نو حضرت سعد وفرمايل زَه د يهوديَانُ په اړه فيصله كَوَم چي جنګ كونكي نَرَان به قَتلِيږي.او بنځي او كِشنِيَان به قَيدِيَان كيږي.او د دُوئي مَال به تقسيم كيږي (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل څوک چي د حَاكِم وفيصله ته رَاوَبَلَل شي او هغه يې قبوله نَه كړي نو هغه ظَالِم دئ. دا مُرسَل حديث دئ .

[۲۹۲۸](۴۱) وَلاَيَجُوزُ التّحكِيمُ فِي الحُدُودِ وَالقِصَاصِ .

تشريح : د جَرګې(حَکَم)فيصله يې د وَخت قاضي ته يُورَه.که چيري هغه فيصله دقاضي دمَذهَب او صوابديد مطابق وه نو قاضي دي هغه نَافِذ کړي.او که هغه دده د صَوَابدِيد مخالِف وي يا د شريعت مخالف وي نو هغه دي رَدّ کړي او خپله فيصله دي نَافِذ کړي .

وجه : (۱) دا خو بَاضَابِطَه قاضي نَه دئ نو حُکه دده په فيصله کي هغه قُوّت نشته.لِهْذَا د قاضي په اِختِيَار کي دا شته.البته که دده د مَذهَب موافِق وي نو بيا ددې فيصلې په ختمولو کي کُومَه فائده نشته لِهْذَا دغه فيصله دي نَافِذ کړي.او که دمَذهَب مخالِف وي نو هغه دي رَدّ کړي (۲) په اَثَرکي ددې ثبوت شته. عَنِ الثَّورِيِّ اِذَا قَضَي القَاضِي بِخِلاَفِ کِتَابِ اللهِ اَو سُنّةِ نَبِيِّ اللهِ اَو شَيئٍ مُجتَمَع عَلَيهِ. فَاِنّ القَاضِي بَعدَهُ يَرُدّهُ. فَاِن کَانَ شَيئًا بِرَأيِ النّاسِ لَم يَرُدّهُ وَيَحمِلُ ذَالِکَ مَاتَحمِلُ (اَلف) (مصنّف عبدالرّزاق.باب هل يردّ قضاء القاضي او يرجع عن قضائه؟ ج ۸ ص۳۰۲ نمبر۱۵۲۹۸) او په بَل اَثَر کي دئ سَمِعتُ شُرَيحًا يَقُولُ اِنّي لاَ اَرُدّ قَضَاءً کَانَ قَبلِي (ب) (مصنّف عبدالرّزاق.باب هل يردّقضاء القاضي او يرجع عن قضاءه ج۸ص۳۰۲نمبر۱۵۲۹۸/۱۵۲۹۷) په دې اَثَرکي دئ چي د شريعت مُوَافِق وي نَافِذ دې کړي او چي مخالِف وي نو رَدّ دې کړي.د حَکَم فيصله هم پر دغه قِيَاس ده .

[۲۹۲۸](۴۱) په حدود او قصاص کي حَکَم جوړول جائز نَه دئ .

وجه : (۱) د حدود او قصاص معامله ډېره اَهَمّه ده.دغه فيصلې صِرف د قاضي په عَدَالَت کي کيږي نوځکه په دي کي حَکَم جوړول جواز نَه لري (۲) په اَثَرکي دئ قَالَ سُفيَانُ اِذَا حَکّمَ رَجُلاَنِ حَکَمًا فَقَضْي بَينَهُمَا فَقَضَاءُهُ جَائِزٌ اِلاّ فِي الحُدُودِ (ج)

حاشيه : (الف) حضرت ثوري وفرمايل که قاضي دکتاب الله.دسُنّتِ رَسُول اواِجمَاع خِلاَف فيصله وکړه نو دهغه بَعد قاضي دي هغه رَدّکړي.او که خَه فيصله دخلکو په رَأيَه سره وي چي دشريعت خِلاَف نَه وي نو هغه دي نَه رَدّوي.او هغه دي پر خپل اَندَاز پرېږ دي (ب) حضرت شريح فرمايي چي زُومَا څخه مخکي فيصلې زَه نَه رَدّوَم (ج) حضرت سفيان وفرمايل که دُوُ فريقينُ څوک حَکَم جوړ کړئ او هغه د دُوئي دواړو تر مينځ فيصله وکړه نو دهغه فيصله جائز ده مګر په حدود کي دحَکَم فيصله جواز نَه لري .

[۲۹۲۹](۴۲) وَ اِن حَکّمَاهُ فِي دَمِ الخَطَأ فَقَضْي الحَاکِمُ عَلْي العَاقِلَةِ بِالدِّيَةِ لَم يَنفُذ حُکمُهُ [۲۹۳۰](۴۳) وَ يَجُوزُ اَن يَسمَعَ البَيّنَةَ وَيَقضِي بِالنّکُولِ .

(مصنّف عبدالرّزاق.باب هل يقضي الرّجل بين الرّجلين ولَم يُوَلّ؟وکيف ان فَعَلَ. ج۸ص۳۰۱نمبر۱۵۲۹۴) په دې اَثَرکي دئ چي په حدود او قصاص کي دي حَکَم نَه جوړوي.البته په معاملاتُ کي حَکَم جوړولائي شي .

[۲۹۲۹](۴۲) که دواړو حَکَم جوړ کړئ د قَتلِ خَطَاء په دَم کي. حَکَم پر عَاقِلَه باندي د دِيَت فيصله وکړه نو دده حُکم نَه نَافِذيږي .

تشريح : قَتلِ خَطَاء دقصاص د اَحکَامَاتُ څخه دئ.نوځکه په دي کي دقاضي فيصله چليږي.په دي کي بَايَد حَکَم جوړ نَه کړي.په دې صورت کې که خَه هم د دِيَت يعني

پر مُدّعْي عَلَيهِ باندې د مَال فيصله کړې ده. خو بيا هم دا د قِصَاص د اَحکَامَاتُ څخه دئ نوځکه د حَکَم حُکم نَه نَافِذِيږي .
وجه : مخته اَثَر تېرشوئ دئ. چې د حدود څخه په عَلاَوَه کي حَکَم جوړولائي شي. او قِصَاص هم په حدود کي دَاخِل دئ .
[۲۹۳۰](۴۳) د حَکَم لپاره جواز شته چې د ګواهانُ خبره وَاوړي او دقَسَم څخه په اِنکَار کولو سره هم فيصله وکړي .
تشريح : د فيصلې کولو دُوې طريقې دي.يَوَه خو دا چې د ګواهانُ ګواهي وَاوړي او پر هغه فيصله وکړي.دُويَم صورت دادئ چې دمُدّعِي سره ګواه نشته.اُوس دئ ومُدّعْي عَلَيهِ ته د قَسَم اخستلو وَينَا وکړي.هغه دقَسَم څخه اِنکَار وکړي نو حَکَم دي د مُدّعِي په حَق کي فيصله وکړي.لکه څَه رنګه چې وقاضي ته دواړه اِختِيَارَات حاصِل دي. و جِرګَه ته هم په دواړو طريقو سره دفيصلې کولو اِختِيَارَات حاصِل دي. او يَوَه بَلَه دريمه طريقه داده چې مُدّعْي عَليهِ د حَق اِقرَار وکړي بيا هم فيصله

[۲۹۳۱](۴۴) وَ حُکمُ الحَاکِمِ لاَبَوَيهِ وَ وَلَدِهِ وَ زَوجَتِهِ بَاطِلٌ .

کولائي شي. و جِرګَه ته دغه اِختِيَارَات هم حاصِل دي .
اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چې جَرګَه(حَکم)په ډيرو معاملاتُ کي د قاضي په شَان دئ .
لغت : اَلنّکُولُ : د قَسَم اخستلو څخه اِنکَار کولو ته نُکُول وايي .
[۲۹۳۱](۴۴) د حَاکِم فيصله دخپل مُور او پُلاَر لپاره او دخپل اَولاَد لپاره او دخپلي مَيني لپاره بَاطِل ده .
تشريح : حَاکِم که قاضي وي که حَکَم يعني فَيصَل يعني جَرګې والا وي دخپل وَالِدَين لپاره.دخپل اَولاَد لپاره يا دخپلي مَيني لپاره فيصله وکړي نوهغه بَاطِل ده. البته که ددوئي خِلاَف فيصله وکړي نو نَافِذِيږي .
وجه : (۱) دغه خلګ ډېر نِژدې رِشتَه دَارَان دي نوځکه دا شُبهَه کېدلائي شي چې د دُوئي رِعَايَت به کړئ وي او فيصله به کړې وي (۲) په اَثَرکي دئ چې حضرت عمر اميرالمؤمنين وُ په هغه زَمَانَه کي پر يَوبَل چا باندي دده حَق وُ نو په خپله فيصله وَنَه کړه بلکه حضرت زيدبن ثابت يې دفيصلې حَکَم جوړ کړئ.اَثَر دادئ. سَمِعتُ الشّعَبِيّ قَالَ: کَانَ بَينَ عُمَرَ وَ اَبِي خُصُومَةٌ فَقَالَ عُمَرُ اِجعَل بَينِي وَبَينَکَ رَجُلاً قَالَ فَجَعَلاَ بَينَهُمَا زَيدَ بنِ ثَابِتٍ قَالَ فَاَتَوهُ قَالَ فَقَالَ عُمَرُ اَتَينَاکَ لِتَحکُمَ بَينَنَا الخ (الف) (سنن للبيهقي.باب القاضي لايحکم لِنَفسِهِ ج۱۰ص۲۴۳نمبر۲۰۵۱۰) په دې اَثَرکي دئ چې قاضي دي دخپلي معاملې فيصله په خپله نَه کوي.ځکه چې تُهمَت پيدا کيږي. قياس پر دغه باندي دخپل نِژدې رِشتَه دَار فيصله دي هم نَه کوي ځکه چې د رِعَايَت کولو تُهمَت پيداکېدلائي شي (۳) ددې خلګو لپاره ګواهي ورکول هم جواز نَه لري

حاشيه : (الف) حضرت شعبي() فرمايي چي زُومَا د پُلاَر او دحضرت عمر ترمينځ يَوَه جګړه وه.نو حضرت عمر وفرمايل زُومَا او سَتَا ترمينځ به يَوحَکَم جوړ کړو. نو دواړو زَيدبن ثابت حَکَم جوړ کړئ.چي هغه راغلئ نوحضرت عمر وفرمايل مورِ تاسو ته راغلي يو چي ټَه زمورِ ترمينځ فيصله وکړي .

نو فيصله به څَه رنګه جائز شي؟ په اَثَرکي دئ. عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اَربَعَةٌ لاَتَجُوزُ شَهَادَتُهُم اَلوَالِدُ لِوَلَدِهِ.وَالوَلَدُ لِوَالِدِهِ.وَالمَرأةُ لِزَوجِهَا.وَالزّوجُ لِإمرَأتِهِ.وَالعَبدُ لِسَيّدِهِ.وَالسّيّدُ لِعَبدِهِ.وَالشّرِيکُ لِشَرِيکِهِ فِي الشّيءِ اِذَاکَانَ بَينَهُمَا.وَاَمّا فِي مَاسِوْي ذَالِکَ فَشَهَادَتُهُ جَائِزَةٌ (الف) (مصنّف عبدالرزاق. باب شهادة الآخ لأخِيهِ والإبنُ لأبِيهِ والزّوجُ لإمرَأتِهِ.ج٨ص٣٤٤نمبر١٥٤٧٦/مصنّف ابن ابي شيبة ٤٢٥ في شهادة الولد لوالده.ج٤ص٥٣٢ نمبر٢٢٨٥١) په دې اَثَرکي دئ چي د وَالِدَينُ.او بَچيَانُ او مَينې لپاره ګواهي ورکول جواز نَه لري نو د دُوئي په حَق کي به فيصله څَه رنګه کوي؟ .

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم() وفرمايل د څلورو کسانُ ګواهي جواز نَه لري.د وَالِد ګواهي دخپل اَولاَد لپاره.او دبَچي ګواهي دخپل پُلاَر لپاره.دښځي ګواهي دخپل مېړه لپاره.اودمېړه ګواهي دخپلي مَيني لپاره.او د غُلاَم ګواهي دخپل آقَا لپاره.او د آقَا ګواهي دخپل غُلاَم لپاره.او د شريک ګواهي دخپل شريک لپاره په ګُوم مَال کي چي دواړه شريکان وي.بهر حال ددې څخه عَلاَوَه دهغو ګواهي بيا جائز ده .

﴿... كِتَابُ القِسمَةِ ...﴾

[٢٩٣٢](١) يَنبَغِي لِلاِمَامِ اَن يَنصِبَ قَاسِمًامّن بَيتِ المَالِ لِيَقسِمَ بَينَ النّاسِ بِغَيرِ اُجرَةٍ .

ضروري پام لرنه : د يو مَال يا جائيداد و تقسيمولو ته قِسمَة وايي.ثبوت يې په دې آيت کې دئ. (١) وَ اِذَا حَضَرَالقِسمَةَ أُولُوا القُربٰي وَاليَتٰمٰي وَالمَسَاكِينُ فَارزُقُوهُم مِنُه وَقُولُوا لَهُم قَولاً مَعرُوفًا (الف) (آيت٨سورة النّساء٤) په دې آيت کي د تَقسِيم تَذكِرَه ده (٢) حضور(ﷺ)دخَيبَر مځکه په شُپږدبرش(٣٦)حِصّوکي تقسيم کړې وه.حديث دادئ. اَنّ رَسُولَ اللهِ لَمّا ظَهَرَ عَلٰي خَيبَرَ قَسّمَهَا عَلٰي سِتّةٍ وَثَلاَثِينَ سَهمًا جَمَعَ كُلّ سَهمٍ مِائَةَ سَهمٍ فَكَانَ لِرَسُولِ اللهِ(ﷺ)وَلِلمُسلِمِينَ اَلنِّصفُ مِن ذَالِكَ وَعَزَلَ النِّصفَ البَاقِي لِمَن نَزَلَ بِهِ مِنَ الوُفُودِ وَالأُمُورِ وَنَوَائِبِ النّاسِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب ماجاء في حكم ارض خيبرج٢ص٦٨نمبر ٣٠١٢) په دې حديث کي د خَيبَر دمځکي د تقسيم تَذكِرَه ده (٣) په بَل حديث کي دئ چې حضورمَالِ غَنِيمَت تقسيم کړئ.عَن عِبَايَةَ بِنِ رِفَاعَةَ بِنِ رَافِعَ بِنِ خَدِيجٍ عَن جَدِّهِ قَالَ كُنّا مَعَ النّبِيّ بِذِي الحُلَيفَةِ...ثُمّ قَسّمَ فَعَدّلَ عَشَرَةً مِّنَ الغَنَمِ بِبَعِيرٍ (ج) (بخاري شريف.باب قِسمَةِ الغنم ص٣٣٨نمبر٢٤٨٨) ددې حديث څخه معلوم شوچې مُشتَرَک مال تقسيمول جائز دئ .

پام لرنه : د كتاب القِسمَةَ ډيري مسئلې پر اُصُول متفرّع دي نوځکه دَلتَه حديث يا قَولِ صحَابِي کَم دئ .

[٢٩٣٢](١) د امام لپاره مناسِب دئ چې د تَقسِيم والا مُقَرّر کړي چې تنخواه يې دبَيتُ المَال څخه وي.چې دئ دخلګو تر مينځ بغيره اُجرَت تقسيم وکړي .

حاشيه : (الف) که دتقسيم پر وخت رِشتَه دَارَان او يَتِيمَان او مسکينان حاضروي نو هغوئي ته څَه رِزق ورکړئ او دُوئي ته مُنَاسِب خبره وکړئ (ب) حضور چې خَيبَر فتح کړئ نو هغه يې په شُپږدبرش(٣٦)حِصّوکي تقسيم کړئ.په هره حِصّه کي سَل سَل حِصّي وي.دحضور او مسلمانانُ لپاره نِيمَئ نِيمَئ وُ. او پاته نِيمَئ يې جَلاَ کړئ چې کُوم وَفدُونَه راځي دهغه لپاره.اودمسلمانانُ دمعاملاتُ لپاره اودخلګو د حَادِثَاتُ لپاره (ج) مورِ دحضور سره په ذُوالحُلَيفَه کي موجود وُ ... بيايې مَالِ غَنِيمَت تقسيم کړئ نو لَس بُوزي يې دبَوَه وُښ سره برابري کړې .

[٢٩٣٣](٢) فَاِن لَم يَفعَل نَصَبَ قَاسِمًا يُقسِمُ بِالأُجرَةِ .

تشريح : دخلګو مَالُونَه او وِرَاثَت تقسيمول هم ډېر مُهِم کار دئ.نوځکه امام دي دقاضي په شَان يَو قَاسِم هم مُقَرّر کړي.او لکه څَه رنګه چې دقاضي تنخواه دبَيتُ المَال څخه ورکيږي د قَاسِم تنخواه دي هم دبَيتُ المَال څخه مُقَرّر کړي چې هغه بغيره اُجرَت د خلګو مَالُونَه تقسيم کړي .

وجه : (١) په اَثَرکي راغلي دي.وَلَم يَرَ اِبنُ سِيرِينَ بِاَجرِ القَسّامِ بَأسًا. وَقَالَ اَلسّحتُ اَلرّشوَةُ فِي الحُكمِ وَكَانُوا يُعطُونَ عَلٰي الخَرصِ (الف) (بخاري شريف.باب مايعطي في الرّقِيةِ علٰي احياء العرب بفاتحة الكتاب.كتاب الاجارة ص٣٠٤نمبر٢٢٧٦/مصنّف عبدالرّزاق.باب الاجر علٰي تعليم الغِلمَان وقسمة الاموال ج٨ص١١٥نمبر١٤٥٣٥) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې په اُجرَت سره قَاسِم مُتَعَيّن کول جائز دئ (٢) مخته د ابوداؤدشريف حديث تېرشوئ دئ.په هغه کي وُ. وَعَزَلَ النِّصفُ البَاقِي لِمَن نَزَلَ بِهِ مِنَ الوُفُودِ وَالأُمُورِ وَنَوَائِبِ النّاسِ (ابوداؤدشريف.نمبر٣٠١٢) په دې حديث کي دئ چې دخَيبَر نِيمَئ حِصّه يې د نَوَائِبُ النّاس لپاره کښېښوه.او مَالُونَه تقسيمول يَو ډېر غَټ او مُهِمّ کار دئ او په نَوئِبُ النّاس کي داخِل دئ.نوځکه ددې لپاره هم اَجر مُقَرّر کولائي شي (٣) په اَثَر کي دئ.اَنّ عُمَرَ رَزَقَ شُرَيحًا وَسَلمَانَ بِنِ رَبِيعَةَ البَاهِلِيّ عَلٰي القَضَاءِ (ب) (مصنّف عبدالرّزاق.باب جعل

يؤخذعلي القضاء رزقٌ ج٨ص٢٩٧نمبر١٥٢٨٢) ددې اَثَر څخه هم معلوم شوچې دقاضي په شَان د قَاسِم لپاره هم رُوزي(تنخواه)مُقَرّره کېدلائي شي (۴) په اَثَرکي دئ. فَسَيَأْ كُلُ آلُ اَبِي بَكرٍ مِّن هٰذَا المَالِ وَ اِحتَرَفَ لِلمُسلِمِينَ مِنهُ (ج) (سنن للبيهقي.باب مايكره للقاضي من الشِّرَاء والبيع الخ ج١٠ص١٨٣نمبر٢٠٢٨٨) .

[۲۹۳۳](۲) او که دا نَه شي کولائي نو يَو تقسيم کونکئ دي مُقَرّر کړي چې په اُجرَت سره تقسيم وکړي .

حاشيه : (الف) و تقسيم کونکي ته په اُجرَت ورکولوکي اِبنِ سِيرِين هيڅ حرج نَه ګانئ...او فرمايل به.سُحت هغه رِشوَت دئ چې دفيصلي لپاره وي.د مېوې د اَندَازَې لپاره وَرګاوَئ (ب) حضرت عمر وحضرت شريح او سلمان بن ربيعه باهلي ته پر قضاء باندي وَظِيفَه ورکړه (ج) د ابوبکر آل به دمسلمان دهغه مَال څخه خُوَرَاک کوي او دمسلمان لپاره به کار کوي .

[۲۹۳۴](۳) وَيَجِبُ اَن يَكُونَ عَدلاً مَامُونًا عَالِمًا بِالقِسمَةِ .

تشريح : که چيري قاضي د بَيتُ المَال څخه په اُجرَت باندي قَاسِم مُقَرّر نَه کړئ نو بيا دي دَادِوَل قَاسِم مُقَرّرکړي چې د تقسيم کونکوڅخه اُجرَت واخلي او تقسيم وکړي .

وجه : که چيري لَږ ډېر مَال تقسيم کول وي نو هغه خو به مُفت تقسيم کړي لېکن که چيري په څو کَرَتّه د دغه کار ضرروت پېښ شي نو مُفت به نَه تقسيموي.نوځکه دتقسيم کونکو څخه دي اُجرَت واخلي او بنَه خَبَرَه داده چې مُنَاسِب اُجرَت واخلي. دا اُجرَت اخستلو دليل مخته تېرشوئ دئ (مصنّف عبدالرّزاق.نمبر١٥٢٨١)

[۲۹۳۴](۳) او ضروري دئ چې قَاسِم عَادِل وي.اَمِين وي او په تقسيم پُوهيږي .

وجه : (١) که چيري عَادِل نَه وي نو په تقسيم کولو کي به ظُلم ځيني وشي.نوځکه تقسيم کونکئ بَايَد عَادِل وي (٢) په آيت کي دئ. فَجَزَاءُ مِّثلُ مَاقَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحكُمُ بِهِ ذَوَا عَدلٍ مِّنكُم (الف) (آيت٩٥سورة المائدة ٥) په دې آيت کي دئ چې عَادِل سړئ دي فيصله وکړي نوځکه تقسيم کونکئ هم بَايَد عَادِل وي .

اَمِين به وي دهغه دليل دا آيت دئ. اِنّ خَيرَمَنِ اِستَأجَرتَ القَوِيّ الأمِينُ (ب) (آيت ٢٦سورة القصص ٢٨) په دې آيت کي اِشَارَه ده چې څوک د تقسيم لپاره په اُجرَت ونيسي هغه بَايَد اَمِين وي.که چيري اَمِين نَه وي نو هغه صحيح تقسيم نَه شي کولائي.او کېدلائي شي چې په مَال کي دي خِيَانَت وکړي .

او دا چې په تقسيم کولو پُوهيږي دا په دې وجه ضروري دئ چې (١) که د وِرَاثَت عِلم نَه وي ورسره يا د تقسيم کولو عِلم نَه وي ورسره نو تقسيم به څَه رنګه کوي؟ (٢) په اَثَرکي دئ. قَالَ عُمَرُ بنِ عَبدَالعَزِيزِ لاَيَنبَغِي اَن يَكُونَ قَاضِيًا حَتّٰي تَكُونَ فِيهِ خَمسٌ اَيّتُهُنّ اَخطَأَ تَهُ كَانَت خَلَلاً.يَكُونَ عَالِمًابِمَا كَانَ قَبلَهُ.مُستَشِيراً لاَهلِ العِلمِ.

حاشيه : (الف) چي څه ډَوَل حيوان يې ښکار کړئ دئ دهغه په شَان د خَانَه ګي حيوان فيصله به کيږي او دُوَه عَادِل کسان به ددي فيصله کوي (ب) ښَه سړئ چي تَه په اُجرَت ونيسي هغه دئ چي طَاقَتوَر او اَمِين وي .

[۲۹۳۵](۴) وَ لاَ يُجبَرُ القَاضِي النّاسَ عَلْي قَاسِمٍ وَاحِدٍ [۲۹۳۶] (۵) وَ لاَ يُترَکُ القُسَامُ يَشتَرِکُونَ .

مُلغِيًا لِلرّثغِ يَعنِي اَلطّمعَ. حَلِيمًا عَنِ الخَصمِ. مُحتَمِلاً لِلاَئِمّةِ (الف) (مصنّف عبدالرّزاق. باب کيف ينبغی للقاضي اَن يکون؟ ج۸ص۲۹۸نمبر۱۵۲۸۶) په دې اَثَر کي دئ چي په مَاقَبل او تېرشو خبرو باندي خَبَر وي نو بيابه قاضي جوړوي.قياس پر دغه چي د تَقسِيم عِلم ورسره موجود وي نوبيابه قَاسِم جوړوي .

[۲۹۳۵](۴) قاضي دي خلګ پر ىَوَه قَاسِم نَه مجبوره کوي .

وجه : (۱) که چيري کار ډېر وُ او قَاسِم يَوَاځِي يَو تَن وُ نو که چيري ټوله خلګ د يَوَه قَاسِم څخه کار او خِدمَت اخلي نو خلګو ته به دِقّت اومُشکِل وي.نو ځکه د يوه قَاسِم پر تقسيمولو دې نَه مجبوره کوي (۲) يَوقَاسِم به زِيَات اُجرَت طلب کړي چي د عَوَامُ النّاس لپاره به نُقصَان دِه وي نوځکه پر يَوَه قَاسِم دې نَه مجبوره کوي (۳) په اَثَر کي و دې ته اِشَارَه شوې ده. عَن مُوسْي بِنِ طَرِيفٍ عَن اَبِيهِ قَالَ مَرّ عَلِيٌّ بِرَجُلٍ يَحسِبُ بَينَ قَومٍ بِاَجرٍ فَقَالَ لَهُ عَلِيٌّ اِنّمَا تَأ کُلُ سُحتًا (ب) (مصنّف عبدالرّزاق.باب الاجر علْي تعليم الغِلمَانِ وقِسمَةِ الأمَوَالِ ج۸ص۱۱۵نمبر۱۴۵۳۷) چي خلګو به خپل خپل قَاسِم ته اُجرَت ورکاوئ او حِسَاب به په کاوئ او تقسيم به په کاوئ.ددې څخه معلوم شوچي يَو قَاسِم مُتَعَيّن کول ضرروي نَه دئ .

[۲۹۳۶](۵) قَاسِمَان دي په شِرکَت کي د کار کولو لپاره نَه پرېږدي .

تشريح : څلور پِنځَه قَاسِمَان خپله يَوَه کَمِپتَئ جوړ کړي او په شِرکَت سره کارونه کوي نو دغه کار ته دې نَه پرېږدي.بلکه هر قَاسِم دي په جَلاَ جَلاَ اُجرَت کار کوي .

حاشيه : (الف) حضرت عمر بن عبدالعزيز وفرمايل مُنَاسِب نَه دئ چي قاضي جوړ شي ترهغه وخته چي په ده کي پنځه صفتونه وي. دهسي يَوَه صِفَت نېستئ خَلَل دئ.يَو دا چي تيري شوي خبري به ورته معلوم وي.دُويَم د اَهلِ عِلم سره به مشوره کونکئ وي.دريم دا چي لاَلچ به نَه وي.څلورم دا چي د مُخَالِف سره به بُردُبَار وي.او پنځم صِفَت دا چي مَلاَمَتيَا به برداشتوي (ب) حضرت علي پر يَوَه سړي راغلئ.هغه په اُجرَت سره د خلګو ترمينځ حِسَاب کاوئ نو حضرت علي وفرمايل دغه سړئ سُود خُوړي .

[۲۹۳۷](۶) وَ اُجرَةُ القُسّامِ عَلْي عَدَدِ رُؤسِهِم عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي وَقَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي عَلْي قَدرِ الاَنصِبَاءِ .

وجه : چي هر يَو جَلاَ جَلاَ کار کوي نو يَو به دهغه بَل څخه د مُسَابَقي کوشش کوي او هر يَو به ځان ته کار پَيدَا کوي او په آسان او اَرزَان مزدوري به کار کوي او په دي کي به فائده و عَوَامُ النّاس ته رسيږي. او که چيري کمپتئ جوړ کړي کارونه اَخلِي نو يَو مُعلُوم رِبټ به وي او په زِيَات اُجرَت به کارونه اَخلِي.نو ځکه قاضي ته په کار

دئ چي دُوئي و کمښئ جوړولو ته نَه پرې اړدِي او په شِرکَت سره د کار کولو اِجَازَت وَرنَه کړي .
اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفَرّع ده چي هر هغه کار چي په هغه کي وَعَوَامُ النّاس ته ضَرَر وي قاضي دي دهغه څخه د خلکو د مَنعَ کولو کوشش کوي .
[۲۹۳۷](۶) او د قَاسِمَانُ اُجرَت د حِصّه دَارَانُ د تَعدَاد په اِعتِبَار سره دئ د امام ابوحنيفه په نېز او د حِصّي په اِعتِبَار سره دئ د صاحبينُ په نېز .
تشريح : امام صاحب فرمايي چي څومره خلک حِصّه دَارَه دي د قَاسِم اُجرَت به پر هر يَوَه برابر برابر وي که وهغه ته حِصّه زِيَاتَ ملاؤشي که کَمَه .
وجه : دئ فرمايي چي قَاسِم خو به د هر يَوَه حِسَاب کوي او د هر يَوَه حِصّه به د بَل دحِصّي څخه جَلاَ کوي.او په دي کي د هر يَوَه لپاره برابر برابر مِحنَت کيږي نوځکه پر ټولُو حِصّه دَارانُ به برابر برابر اُجرَت لازم وي.مثلاً زَيد وَفَات شو او د هغه وِرَاثَت د يَوې مَيني.ىَوَه زُوئ او يَوې لُور تر مينځ تقسيمول دئ او د قَاسِم اُجرَت دېرش دِرهَم دي نو پر هر يَوَه به لَس لَس دِرهَم لازم شي .
د صاحبين ؒ په نېز چي کُوم چاته څومره حِصّه ملاؤيږي په هغه حِسَاب سره به پر هغه باندي اُجرَت لازميږي.په تېر ذِکر شوي مثال کي و مَينَه ته د مېړه د ميراث څخه اَتَمّه حِصّه رسيږي نو د دېرش دِرهَم اَتَمّه حِصّه ۳۰ ÷۸ =۷۵.۳ (درې درهم
[۲۹۳۸](۷) وَ اِذَا حَضَرَ الشّرَكَاءُ عِندَ القَاضِي وَفِي اَيدِيهِم دَارٌ اَو ضَيعَةٌ وَ اِدّعُوا اَنّهُم وَرَثُوهَا عَن فُلاَنٍ لَم يُقَسِّمَهَا القَاضِي عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي حَتّي يُقِيمُوا اَلبَيّنَةَ عَلْي مَوتِهِ وَعَدَدِ وَرَثَتِهِ وَقَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي يُقَسِّمَهَا بِاِعتِرَافِهِم .

پنځه اَويَا پيسې اُجرَت پر مَينَه لازميږي) او د مَيني د وِرَاثَت اخستلو وروسته به و زُوئ ته د لُور ډَبَلَه حِصّه ملاؤيږي.نوځکه و زُوئ ته به د دېرش دِرهَم څخه ۷۵ .۱۷ (اُولَس دِرهَم پنځوس پيسې) او و لُور ته به يَوَه حِصّه ملاؤيږي لِهْذَا پر لُور به ۷۵.۸ (اَتَه دِرهَم پنځه اَويَا پيسې) اُجرَت لازميږي.په کَلکِيُولِيټر سره حِسَاب ورته وکړئ .
وجه : دئ فرمايي چي کُوم چاته چي څومره حِصّه ملاؤيږي په هغه اِعتِبَار سره به قَاسِم مِحنَت کوي لِهْذَا دحِصّي په اِعتِبَار سره به پر هغه باندي اُجرَت لازم وي .
لغت : اَنصِبَاءُ : د نَصِيبٌ جمع ده معنْي حِصّه .
[۲۹۳۸](۷) که شريکان قاضي ته حَاضِر شي او د دُوئي په قَبضَه کي مَکَان وي يا مځکه وي او دَعوَه وکړي چي موږ ددې وَارِثَان يُو د فُلاَنِي څخه.نو د امام ابوحنيفه په نېز به قاضي دغه نَه تقسيموي ترهغه وخته چي دده پر مَرګ او د وَارِثَانُ پر تَعدَاد

باندي بَيِّنَه قائم کړي.او صاحبين فرمايي چې د دُوئي پر اِعتِرَاف کولو دي دغه تقسيم کړي .
تشريح : څه کَسَان قاضي ته راغلل او وويل چې دا مځکه ده يا دغه مکان دئ دا د فُلاَنِی سړي وُ. اُوس هغه مَړ شو او مُورِ دهغه وَارِثَان يُو.دغه زُمُورِ تر مينځ تقسيم که نو امام ابوحنيفه(ؒ) فرمايي چې د قاضي لپاره تر هغه وخته پُورِي تقسيم کول جواز نَه لري تر څو چې د دغه فُلاَنِي سړي پر مرګ يعني وَفَات باندي بَيِّنَه قائم نَه کړي.او پر دې خبره دي هم بَيِّنَه قائم کړي چې خَاص مورِ يې وَارِثَان يُو زمورِ څخه [۲۹۳۹](۸) وَيُذكَرُ فِي كِتَابِ القِسمَةِ اَنّهَا قَسّمَهَا بِقَولِهِم .

علاوه بَل څوک يې وَارِث نَه دئ.چې پر دغه دواړو خبرو بَيِّنَه قائم کړي نو بيادي د دُوئي تر مينځ مکان يا مځکه تقسيم کړي .
وجه : (۱) مځکه په خپله محفوظ شَئ دئ.په ډېر وخت په مځکه کي کُوم خاص نُقصَان نَه راځي او مکان هم دغه رنګه دئ.نوځکه کَال يا شُپَږ مياشتي په دي کي تَأخِير کول کُوم حرج نَه لري.نوځکه بَيِّنَه دي قائم کړي پُورَه تحقيق دي وکړي (۲) تر څو چې مَال تقسيم شوئ نَه وي تر هغه وخته پُورِي دا د مَړِي شُمَارَل کيږي.نو تقسيم کول ګواکه د مَړِي خِلاَف فيصله کول ده.او د بَل چَا په خِلاَف فيصله کولو لپاره ګواهان ضروري دي.نو په دې وجه هم ګواهان قائم کول ضرروي دي چې دا خبره هم وَاضِح شي چې فُلاَنَئ مَړ دئ او دا هم بنکاره شي چې د دُوئي څخه علاوه يې بَل وَارِث نشته.که چيرې اُوس فَوراً تقسيم وکړي او وروسته بيا بَل وَارِث پيدا شي نو هغه کړې قَضَاء به بېرته ختموي لِهْذَا ګواه دي قائم کړي .
صاحبين فرمايي چې تقسيم دې کړي .
وجه : (۱) ځکه چې مسلمانان په بنکاره عَادِلاَن دي.په اَثَرکي دئ. كَتَبَ عُمَرُبنِ الخَطّابِ اِلْي اَبِي مُوسْي الأَشعَرِيّ ... اَلمُسلِمُونَ عُدُولٌ بَعضُهُم عَلْي بَعضٍ (الف) (دارقطني.باب کتاب عمرالْي ابي موسْي الاشعري ج۴ص۱۳۲ نمبر۴۴۲۵) چې مسلمان په ظاهره عَادِل دئ او دهغه په خِلاَف کي هيڅ يَوَه قَرِينَه نَشتَه نو چې هغه ووايي تقسيم يې که نو تقسيم کولائي شي.او که وروسته بَل وَارِث پيدا شي نو دُوبَارَه دي بيا صحيح تقسيم وکړي (۲) لکه څه رنګه چې مَنقُولِي جائداد بغيره بَيِّنَه قائمولو تقسيم کولائي شي .
[۲۹۳۹](۸) په کتاب القسمة کي ذِکر شو چې تقسيم دې کړي د دُوئي پر بيان .

حاشيه : (الف) حضرت عمر وحضرت ابوموسْي اشعري ته خَط وليکئ په هغه کې وليکل ... مسلمان بعض پر بعضُ باندي عَادِلاَن دي .

[۲۹۴۰](۹) وَاِن كَانَ المَالُ المُشتَرَكُ مِمّا سِوْي العِقَارِ وَاِدّعُوا اَنّهُ مِيرَاثٌ قَسّمَهُ فِي قَولِهِم جَمِيعًا [۲۹۴۱](۱۰) وَ اِن اِدّعُوا فِي العِقَارِ اَنّهُم اِشتَرَوهُ قَسّمَهُ بَينَهُم .

تشريح : په کتاب القاضي کي دا مسئله بيان شوې ده چې که چيري وَارِثَانُ په خپله دا اِقرَار وکړي چې زمونږ مُورِث مَړ شو او مونږ دهغه وَارِثَان يُو نو د دُوئي د اِقرَار په وجه به مځکه او مکان هم تقسيموي .

[۲۹۴۰](۹) او که دمځکي څخه علاوه مُشتَرَک مال وي او دُوئي دَعوَه وکړي چې د دُوئي مِيرَاث دئ نو د ټولو په قَول کي دادئ چې دا دي تقسيم کړي .

تشريح : مُشتَرَک مال دئ او دمځکي او مکان څخه علاوه مَال دئ.وَارِثان وايي چې دا مَال د فُلاَنِي مُورِث څخه مونږ ته ملاؤشوئ دئ او مونږ ددې وَارِثَان يُو نو که څه هم د مُورِث پر مَرګ او د وَارِثَانُ پر تعداد باندي بَيّنَه پيش نَه کړي خو بيا هم امام ابوحنيفه او صاحبينُ دري سره اِمَامَان فرمايي چې دا مَال دي تقسيم کړي .

وجه : دمځکي اومکان څخه علاوه چې کُوم منقولي جائداددئ هغه ژَر خرابيدائي شي نوځکه هغه دي ژَر تقسيم کړي چې هر وَارِث د خپلي خپلي حِصّې حِفَاظَت شروع کړي.او که وروسته بَل وَارِث پيدا شو نو بيابه صحيح تقسيم وکړي .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چې د منقولي جائداد دخرابيدو خطره ژَر ده نوځکه دحِفَاظَت په خَاطِر دې ژَر تقسيم کړي .

لغت : اَلعِقَارُ : مځکه .

[۲۹۴۱](۱۰) که دمځکي په اړه دَعوَه وکړي چې دا دُوئي اَخَستې ده نو د دُوئي ترمينځ دې تقسيم کړي .

تشريح : څَه کسان د قاضي په مخکي دَعوَه کوي چې دا مځکه ده. مونږ اخستې ده نو بغيره کُومي بَيّنې دې قاضي د دُوئي ترمينځ تقسيم کړي .

[۲۹۴۲](۱۱) وَ اِن اِدّعُوا اَلمِلکَ وَلَم يَذکُرُوا کَيفَ اِنتَقَلَ اِلَيهِم قَسّمَهُ بَينَهُم [۲۹۴۳](۱۲) وَاِذَا کَانَ کُلّ وَاحِدٍ مِّنَ الشّرَکَاءِ يَنتَفِعُ بِنَصِيبِهِ قُسِّمَ بِطَلَبِ اَحَدِهِم .

وجه : دَلتَه د مَړي په خِلاَف فيصله نَه ده او نَه د بَل وَارِث د پيدا کېدو خَطرَه شته.او دغه ښکاره کيږي چې دې خلګو اَخَستې ده لِهْذَا د دُوئي ترمينځ دې تقسيم کړي .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چې د بَل چا په خِلاَف فيصله نَه صَادِريږي نو بيا د نورو ګواهانُ ضرورت نشته .

[۲۹۴۲](۱۱) او که دمِلکِیّت دَعوَه وکړي او دا بیان وَنَه کړي چي و دُوئي ته په کومه طریقه سره مُنتَقِل شوې ده نو د دُوئي تر مینځ دې تقسیم کړي .
تشریح : څه کسان قاضي ته راشي او داسي ووایي چې دغه شَئ زُمُوږ په مِلکِیّت کي دئ دا تقسیم که.لېکن دا وَنَه وایي چې د دُوئي مِلکِیّت څه رنګه راغلئ دئ؟ د رَانِیوُلُو په وجه یا د وِرَاثَت په وجه. بیا هم قاضي ته دا اِختِیَار شته چې دغه شَئ د دُوئي ترمینځ تقسیم کړي .
وجه : (۱) چې د دُوئي په قبضه کي دئ نو ظاهِري قرینَه دغه ده چې د دُوئي مِلکِیّت دئ لِهْذَا تقسیمولائې شي (۲) په دي کي قَضَاء عَلْي الغَیر نشته نوځکه دګواهئ او دهغه د تَحقِیق چې په څه دَوَل د دُوئي مِلکِیّت ګرزېدلئ دئ؟ ددې ضرورت نشته. لِهْذَا تقسیم دې کړي .
[۲۹۴۳](۱۲) که د شریکانُ څخه هر یَو دخپلي حِصّې څخه فائده اخستلائي شي نو د دُوئي څخه د هسي یَوَه په طَلَب کولو سره به تقسیموي .
تشریح : مثلاً په شِرکَت کي دُوَه آسان دي.چې تقسیم یې کړي هر یَو دخپل خپل آس څخه فائده اخستلائي شي.په داسي صورت کي که هسي یَو شریک د تقسیم مطالبه وکړي نو تقسیم کوي به .
[۲۹۴۴](۱۳) وَ اِن کَانَ اَحَدُهُم یَنتَفِعُ وَالآخَرُ یَستَضِرّ لِقِلّةِ نَصِیبِهِ فَاِن طَلَبَ صَاحِبُ الکَثِیرِ قُسِّمَ وَاِن طَلَبَ صَاحِبُ القَلِیلِ لَم یُقَسّم .

وجه : د تقسیم کولو څخه د یَوَه نقصان نشته نوځکه تقسیم دې کړي .
[۲۹۴۴](۱۳) او که یَو فائده واخلي او هغه بَل نُقصَان واخلي د خپلي حِصّې د کَموَالِي په وجه.نوکه چیري د زِیَاتِي حِصّې والا طَلَب وکړي نو تقسیموي به.او که دکَمِي حِصّې والا یې طلب کړي نو نَه به تقسیموي .
تشریح : مثلاً د دُو کسان تر مینځ دریې غُوَایَان دي.د یَوَه حِصّه دَبَلَ ده چي هغه ته به دُوَه غُوَایَان ملاؤشي اوهَل په چلولائي شي(یعني مځکه په نَاوَې کولائي شي). او د هغه بَل یَوَه حِصّه ده وهغه ته به یَو غُوَیَئ ملاؤ شي او په یوه غُوَایَه سره هَل نَه شي چلولائي.نتیجه یې دا شوه چي د تقسیم وروسته غَټ حِصّه دَارَه دخپلي حِصّې څخه فائده اخستلائي شي او کُوم چي کِشنَې حِصّه لري هغه دخپلي حِصّې څخه کَمَاحَقّهُ فائده نَه شي اخستلائي. په داسي صورت کي که د غَټي حِصّې والا د تقسیم مطالبه وکړي نو تقسیمیږي به.او دکِشنَئ حِصّې والا که دتقسیم مطالبه وکړي نو نَه به تقسیمیږي .
وجه : د غَټي حِصّې والا چي د تقسیم مطالبه کوي نو دهغه مطلب دادئ چي تقسیم وکه.چي زَه دخپلي حِصّې څخه په آزاد توګه فائده وَاخلَم اوچي کُوم وخت زَه وَغُوَاړَم د خپلو دُو غُوَایُو په ذریعه هَل وچلوم یعني مځکه نَاوَې کړم.نَرم یې کړم. که څه هم د

هغه بَل شریک نُقصَان وي.ځکه چې مَا خو همېشه و بَل ته د فائدې رَسَوُلُو ذِمّه دَارِي نَه ده اخستې.نوځکه دده پر وَينَا به تقسمیږي .
او چې کله د لَږ حِصّې والا د تقسیم مطالبه کوي او دغَټې حِصّې والا خَامُوش دئ نو ددې مطلب دادئ چې زُومَا نُقصَان کیږي نو وَدِسِي زَه دخپلي فائدې په حَق کي

[۲۹۴۵](۱۴) وَ اِن کَانَ کُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا یَستَضِرّ لَم یُقَسِّمهَا اِلاّ بِتَرَاضِیهِمَا .

مُتَعَنِّت او مُتَشَدِّد یم .نوځکه دهغه د نُقصَان په خَاطِر قاضي دي دده په وَينَا تقسیم نَه ورکوي .
وجه : ځکه چې قاضي یې ددې لپاره مُقَرّر کړئ دئ چې څوک خپل نُقصَان کوي قاضي بَایَد هغه خپل نُقصَان ته پرې نَه اِږدِي.البته که چیري بَلَه فائده وي مثلاً خپله حِصّه په مُنَاسِب قیمت خرڅه کړي فائده اَخلِي نو بیادې قاضي تقسیم کړي .
اصول : دا مسئله پر دُوُ اصولو متفرّع ده (۱) یَوڅوک خپله فائده په نَظَر کي سَاتِي. که دهغه څخه وبَل چا ته نُقصَان رسیږي نو دهغه اِجَازَت شته البته په دې شَرط چې خامخا و بَل چا ته نُقصَان رَسَوَل یي مقصَد نَه وي (۲) او دُویَم اصول دادئ چې که یَوڅوک خپل نُقصَان کوي نو دقاضي ذِمّه دَارِي ده چې هغه دنُقصَان څخه وَسَاتِي.
ددې لپاره حدیث دادئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لاَضَرَرَ وَلاَ ضَرَارَ (الف) (ابن ماجه شریف.باب من بنْي في حقّه مایضرّبجاره ص۳۳۵نمبر۲۳۴۱/دارقطني.کتاب البیوع. ج۳ ص۶۴نمبر۳۰۶۰) ددې حدیث څخه معلوم شوچې نَه دي چَا ته نُقصَان رَسَوِي او نَه دي نُقصَان بَردَاشتَوِي .
لغت : یَستَضِرّ : د ضُرّ څخه مُشتَق دئ.نُقصَان بَردَاشتَوَل .

[۲۹۴۵](۱۴) او که د دواړو څخه هر یَوَه ته نُقصَان وي نو هغه دي نَه تقسیموي مګر د دواړو په رَضَامَندِي سره .
تشریح : یَو داسي شَئ دئ چې هغه تقسیم کړي نو دواړو ته نُقصَان رسیږي نو که چیري دواړه په رَاضِي وي بیادې تقسیم کړي.او که یَو حِصّه دَار ووایي او هغه بَل نَه وایي نو بیادې نَه تقسیموي.مثلاً یَوَه جِرَندَه د دُوُ کسانُ تر مینځ مُشتَرَک ده.

حاشیه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمایل مَه نُقصَان اَخلَئ مَه نُقصَان رَسَوَئ .

[۲۹۴۶](۱۵) وَ یُقَسّمُ العَرُوضُ اِذَا کَانَت مِن صِنفٍ وَاحِدٍ وَ لاَ یُقَسّمُ الحِنسَانِ بَعضُهَا فِي بَعضٍ اِلاّ بِتَرَاضِیهِمَا .

جِرَندَه که تقسیم کړي نو هیڅ یَو هم فائده نَه شي ځیني اخستلائي.د دواړو نُقصَان دئ.لِهٰذَا که چیري دواړه پر دغه نُقصَان باندي راضي وي نو بیادې تقسیم کړي .

وجه : (۱) دَلتَه د دواړو نُقصَان دئ نوځکه د دواړوپه رَضَامَنديِ سره به تقسيميږي.قاعده هغه ده لاَضرَرَ وَلاَضرَارَ (۲) په مُرسَل حديث کي دئ. عَن مُحَمّدٍ بنِ اَبِي بَکرٍ يَعنِي اِبنَ حَزمٍ عَن اَبِيهِ عَنِ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ لاَتَعضِيَةَ عَلَي اَهلِ المِيرَاثِ اِلاّ مَاحَمَلَ القِسمُ.يَقُولُ لاَيُبعِضُ عَلَي الوَارِثِ ... قَالَ اَبُوعُبَيدُ قَولُهُ لاَتَعضِيَةَ فِي مِيرَاثٍ يَعنِي اَن يَمُوتَ وَيَدَعَ شَيئًا اَن قُسِّمَ بَينَ وَرَثَتِهِ اِذَا اَرَادَ بَعضُهُمُ القِسمَةَ کَانَ فِي ذَالِکَ ضَرَرٌ عَلَيهِ اَو عَلَي بَعضِهِم يَقُولُ فَلاَيُقسَمُ وَالتَعضِيَةُ اَلتّفرِيقُ (الف) (سنن للبيهقي.باب مالايحتمل القسمة ج۱۰ص۲۲۵نمبر۲۰۴۴۶/ ۲۰۴۴۷) په دې مُرسَل حديث کي دئ چي که د تقسيم څخه نُقصَان وي نوبيادې د دواړو د رَضَامَندَئ بغيره نَه تقسيموي .

[۲۹۴۶](۱۵) سَامان دي تقسيم کړي که چيري يَورنګه وُ.او دُوَه جِنس دي نَه تقسيموي بعض په بعضُ کي مګر د دواړو په رَضَامَندَئ سره .

تشريح : که سَامَان ټوله يَو رنګه وي مثلاً څلوېښت کېلو غَنَم وي نو د دواړو د رَضَامَندَئ بغيره دې هم تقسيم کړي.او دواړو حِصّه دَارَانُ ته دي شَل شَل کېلو غَنَم ورکړي .

وجه : ټوله غَنَم دي او ټوله د يَوَه جِنس سَامَان دئ.او په غَنَمُو کي هيڅ فرق نشته.

حاشيه : (الف) حضور وفرمايل پر اَهلِ مِيرَاث تفريق نشته .البته کُوم چي په تقسيم کي وشي.حضرت ابوعبيدالله د لاَتَعضِيَةَ فِي مِيرَاثٍ مطلب دا بيانوي چي سړئ مَړ شي او څَه وِرَاثَت پريږدي.اُوس بعض وَارِثَان تقسيم غُوَارِي لېکن دتقسيم څخه د وَارِثَانُ نُقصَان کيږي او بعض وايي چي نَه دې تقسيموي نو بيا به نَه تقسيميږي.د تَعضِيَةٌ معنْي تقسيم کول .

[۲۹۴۷](۱۶) وَقَالَ اَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي لاَيُقَسّمُ الرّقِيقُ وَلاَ الجَوَاهِرُ وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي يُقَسّمُ الرّقِيقُ .

او په وَزَن کې و دواړو ته برابر برابر يعني شَل شَل کېلو ورکړل نوځکه هيڅ يوه ته نُقصَان نشته.لِهْذَا که چيري يَو رَاضِي نَه وي نو قاضي دي جَبراً تقسيم وکړي .

لېکن که سَامَان د دُوَه جِنس څخه وي مثلاً لَس کيړي دي اوڅلوېښت کېلو غَنَم دي. اُوس د دواړو د رَضَامَندَئ بغيره و يَو حِصّه دَار ته کيړي ورکړي او بَل حِصّه دَار ته څلوېښت کېلو غَنَم ورکړي دَادَوَل نَه شي کولائي.بلکه دَادَوَل کولائي شي چي پنځه کيړي و يوه ته او پنځه کيړي وبَل ته.دغه رنګه شَل کېلو غَنَم و يوه ته او شَل کېلو غَنَم دي و بَل ته ورکړي.البته که چيري دواړه سره رَاضِي وي نو بيا دَادَوَل کولائي شي چي و يوه ته لَس کيړي ورکړي اوهغه بَل ته څلوېښت کېلوغَنَم ورکړي .

وجه : و يوه حِصّه دَار ته کيړي ورکول او بَل حِصّه دَار ته غَنَم ورکول دغه ته جَلاَ کول او تَميز ورکول نَه وايي بلکه کيړي د غَنَمُو سره بَدلَوَل دي او ګواکه خرڅول دي.او د بَدلَوُلُو او خرڅولو لپاره د دواړو رَضَامَندِي ضروري ده.نوځکه دلته د دواړو رَضَامَندِي غُوَارِي .

اصول : په کُوم ځائ کي چي اِفرَاز او تَمِيز وي هلته د دواړو رَضَامَنديِ ضروري نَه ده صِرف د يوه پر مطالبه کولو به تقسيميږي.او په کُوم ځائ کي چي تَبدِيل وي هلته د دواړو رَضَامَندِي شَرط ده .

[۲۹۴۷](۱۶) امام ابوحنيفه فرمايي چي غُلاَم او جَوَاهِرَات دي نَه تقسيموي.امام ابويوسف او امام محمّد وفرمايل غُلاَم به تقسيموي .

تشريح : امام ابوحنيفه(ر) فرمايي دمثال په توګه که چيرې دُوَه غُلاَمَان وي نو د رَضَامَندَئ بغيره دي و دُوُ حِصّه دَارَانُ ته يَويَو غُلاَم په تقسيم نَه ورکوي .

وجه : دئ فرمايي چي دُوَه غُلاَمان که په ظَاهِرِي لحاظ يَو دِّوَل وي لِيکن دبَاطِنِي

[۲۹۴۸](۱۷) وَلاَيُقَسّمُ حَمّامٌ وَلاَبِئرٌ وَلاَ رَحْي اِلاّ اَن يَتَرَاضِيَ الشّرَكَاءُ .

ښُو صِفَاتُ په لحاظ ډېر فَرق سره لري.مثلاً يَو وُښيَار وي او بَل غَبِي وي.يو تعليم يافته وي بل جَاهِل وي نو د دغه صِفَاتُ په وجه به دډُوئي په قيمت کي د آسمان او مځکي فرق وي.نوځکه د دواړو د رَضَامَندَئ بغيره دي يَو يَو غُلاَم نَه تقسيموي. البته د دواړو قيمت دي ولګوي او تَوَافُق دې سره وکړي.جَوَاهِرَات هم دغه دِّوَل دي.ځکه چي دُوَه جَوَاهِرَات که په ظاهر کي سره يَو رنګه وي لِيکن بيا هم د بَاطِنِي اَوصَافُ په لحاظ د دُوئي تر مينځ ډېر غَټ فَرق رَاتَلاَئي شي.او د دواړو په قيمت کي ډېر زيات تَفَاوُت کېدلائي شي.نوځکه د حِصّه دَارَانُ د رَضَامَندَئ بغيره دي يَو يَو نَه سره تقسيموي.البته د ټولو قيمت دي ولګوي او تَوَافُق دي سره وکړي .

اصول : د امام اعظم(ر) په نېز په اِنسَان او جَوَاهِرَاتُ کي بَاطِنِي صِفَت مُعتَبَر دئ .

فائده : د امامِ صاحبين په نېز غُلاَمَان د حِصّه دَارَانُ د رَضَامَندَئ بغيره هم تقسيمولائي شي .

وجه : دُوئي فرمايي چي په ظَاهِرِي لحاظ دُوَه غُلاَم سره يَورَنګه وي دغه کِفَايَت کوي چي و دواړو ته يَو يَو غُلاَم ورکړل شي.بَاطِنِي ښَه صِفَات دي په خَاطِر کي نَه رَاؤړِي.او دهغه په وجه چي په قيمت کي کُوم تَفَاوُت او فرق رَاځِي هغه دي هم په خَاطِر کي نَه رَاؤړِي.لکه څَه رنګه چي دُوې بُوزِي وي و دواړو ته يَوَه يَوَه بُوزَه ورکول کيږي او د بُوزې و بَاطِنِي ښَه صِفَت ته نَه کَتَل کيږي .

اصول : د صاحبين په نېز اُصُول دادئ چي ظَاهِرِي موافقت کِفَايَت کوي بَاطِنِي ښَه وَالِي ته دي نَه ګوري که نَه نو تقسيم کول به ډېر مُشکِل شي .

[۲۹۴۸](۱۷) او نَه به تقسيميږي حَمّام او نَه څَاه او نَه جِرَندَه .

تشريح : دَادِّوَل شَئ چې يَو وي او دتقسيم وروسته دِيَوَه چا د اِستِعمَال قَابِل نَه پاته کيږي.لکه غُسل خَانَه.څَاه.جِرَندَه.دغه شِيَان که دُوَه ځايَه کړي نو بيا د اِستِفَادې

[۲۹۴۹](۱۸) وَ اِذَا حَضَرَ وَارِثَانِ عِندَ القَاضِي وَ اَقَامَا اَلبَيِّنَةَ عَلْي الوَفَاةِ وَعَدَدِ الوَرَثَةِ وَالدّارُ فِي اَيدِيهِم وَمَعَهُم وَارِثٌ غَائِبٌ قَسّمَهَا القَاضِي بِطَلَبِ الحَاضِرِينَ وَيَنصِبُ لِلغَائِبِ وَكِيلاً يَقبِضُ نَصِيبَهُ .

قَابِل نَه پاتيږي.نوځکه د شرِيکَانُ د رَضَامَندَئ بغيره دې نَه تقسيموي.البته يَو صُورَت يې دادئ چې ددې شيانُ قيمت ولګول شي او وَيَوَه شريک ته ورکړي او دهغه څخه نِيمَئ قيمت وصول کړي .

وجه : د قيمت لګولو دليل دا حديث دئ. عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ مَن اَعتَقَ شَرَكًا لَهُ فِي عَبدٍ فَكَانَ لَهُ مَالٌ يَبلُغُ ثَمَنَ العَبدِ قُوّمَ العَبدُ عَلَيهِ قِيمَةُ عَدلٍ فَأُعطِيَ شُرَكَا ئُهُ حِصَصُهُم وَعُتِقَ عَلَيهِ العَبدُ (الف) (بخاري شريف.باب اذا اعتق عبداً بين اثنين او امة بين الشركاء ص۳۴۲نمبر۲۵۲۲/مسلم شريف.باب من اعتق شركاء له في عبدٍ ص۴۹۱نمبر۱۵۰۱) په دې حديث کې دئ چې د غُلاَم به قيمت لګول کيږي او بيا به وِحصّه دَارَانُ ته قيمت ورکول کيږي.ددې څخه معلوم شو چې په کُوم ځائ کې چې پُورَه شَئ نَه شي تقسيمېدلائي هلته دي دشِي قيمت ولګوي او حِصّه دَارَانُ ته دې ورکړي او تَوَافُق دي پيدا کړي .

اصول : په کُوم ځائ کې چې د تقسيم په وجه نُقصَان کيږي هلته دي د دواړو د رَضَامَندَئ بغيره نَه تقسيموي .

لغت : حَمّامٌ : غُسل خَانَه. بِئرٌ : څاه. رَحْي : جِرَندَه.کُوم چې اُوبَه په رَاکَارِي .

[۲۹۴۹](۱۸) چې دُوَه وَارِثَان قاضي ته حاضِرشي او پر وَفَات باندي بَيّنَه قائم کړي او د وَارِثَانُ پر تَعدَاد باندي او مکان د دُوئي په قبضه کې وي او د دُوئي سره غَائِب وَارِث وي بيا دي هم قاضي د دُوئي پر طَلَب باندي تقسيم وکړي.او د غَائِب لپاره دي وَکِيل مُقَرّر کړي چې دده پر حِصّه قبضه وکړي .

حاشيه : (الف) حضور وفرمايل چې څوک مُشتَرَک غلام آزاد کړي او دده سره دُومرَه مال وي چې دغُلاَم قيمت ته رسيږي نو پر ده به د غُلاَم عَادِلانَه قيمت لګول کيږي.او دده وشريکان ته به د دُوئي حِصّې ورکول کيږي.او پر آزادونکي به پُورَه غُلاَم آزاد شي .

تشريح : دُوَه وَارِثَان قاضي ته حاضِر شي او دُوې خبري وکړي.يَوَه خو د مُورِث پر وَفَات باندي بَيّنَه قائم کړي چې واقعي هغه مَړ دئ.دُويَمَه خبره دا وکړي چې د وَارِثَانُ کُل تَعدَاد څونه دئ؟ پر هغه ګواه قائم کړي.او دريمه خبره داده چې کُور د مطالبه کونکو په قبضه کې وي.په دې صورت کې که وَارِث غَائِب وي هم قاضي دي مکان تقسيم کړي او کُوم وَارِث چې غَائِب دئ دهغه لپاره دي وَکِيل مُقَرّر کړي چې هغه دغَائِب پر حِصّه قبضه وکړي او هغه محفوظ کړي او چې کُوم وخت غَائِب راشي بيادې وهغه ته حَوَالَه کړي .

وجه : ددې څلورو صورتو وُجُوهَات دادي (۱) د تقسيم مطالبه کونکي دُوَه کسان دي په دې وجه وي چې هغه دُوَه به د دُوُ ګواهانُ په درجه کې شي او يقين به راشي چې

واقعي مُورِث وَفَات شوئ دئ.او د وَارِثَانُ تعداد دغونه دئ.او كه چيري مطالبه كونكئ يَو سړئ وي نو يقين نَه شي كېدلائي چي مُورِث وَفَات شوئ دئ.او وَارِثَان دغونه دي.ځكه چي د شَهَادَت تعداد يَو نَه وي بلكه دُوَه وي (٢) يَوَه نُكتَه دا هم ده چي يَو به دمُدّعِي او بَل به دمُدّعْي عَلَيهِ په درجه كي شي.مَيّت چي غَائِب دئ دهغه غَائِب په خِلاَف به فيصله نَه كيږي ځكه چي پر غَائِب باندي فيصله كول جواز نَه لري.نوځكه دُويَم سړئ به د حاضِر مُدّعْي عَلَيهِ په درجه كي شي .

چي مكان د مطالبه كونكو په قبضه كي وي نو بيابه تقسيميږي .

وجه : ددې وجه داده چي قبضه كېدل ددې خبري دليل دئ چي مُورِث مَړ دئ او دغه خلګ واقعي ددې مكان وَارِثَان دي.ځكه چي كه دغَائِب وَارِث قبضه وي نو بيا دا شُبهَه پيدا كېدلائي شي چي دا مكان د بَل چا دئ.دهغه په لَړ كي و قاضي ته غَلَطه لاَرَه بنَايِي او غُوَارِي چي دا مكان تقسيم كړي.لېكن مكان د مطالبه كونكو په قبضه كي دئ نوځكه قَرِينَه هم دغه ده چي مكان هم د دُوئي دمُورِث دئ .

د غَائِب لپاره دي وكيل مُتَعَيّن كړي .

وجه : (١) ددې وجه داده چي دا د غَائِب اَمَانَت دئ نو ځكه ددې حِفَاظَت كول او

[٢٩٥٠](١٩) وَاِن كَانُوا مُشتَرِيَينِ لَم يُقَسّم مَعَ غَيبَةِ اَحَدِهِم .

غَائِب ته رَسَوَل دقاضي ذِمّه دَارِي ده (٢) په آيت كي دئ. اِنّ اللهَ يَأمُرُكُم اَنّ تُؤدّوا الأَمَانَاتِ اِلْي اَهلِهَا وَ اِذَا حَكَمتُم بَينَ النّاسِ اَن تَحكُمُوا بِالعَدلِ اِنّ اللهَ نِعِمّا يَعِظُكُم بِهِ (الف) (آيت ٥٨ سورة النساء ٤) په دې آيت كي دئ چي اَمَانَت اِيښنُوُنكو ته خپل امانت وَرَسَوَئ.او دا هم چي صحيح فيصله كوئ.او دا امانت په هغه صورت كي رسيږي چي دغَائِب لپاره وكيل مُتَعَيّن كړي .

په دغه دَوَل فيصله كولواوتقسيم كولوكي د حاضرينُ فائده ده چي و دُوئي ته ژَر خپل حق ملاؤشو.اودغَائِب هم فائده ده چي دوكيل په ذريعه د ده حَق محفوظ شو.

اصول : دغه دري مسئلې پر دې اُصُول متفرّع دي چي په قرينه سره معلوم شي چي دغه خلګ رِشتِيَا وايي او مطالبه يې حَق ده نو مَال به تقسيميږي كه نَه نو نَه تقسيميږي .

[٢٩٥٠](١٩) او كه هغه رَانِيوُنكي وُ نو د هغوئي څخه د يَوَه په غَيرِحَاضِرِي كي به نَه تقسيميږي .

تشريح : مثلاً دُرُو كسانو په گډه يَومكان رَانِيوَئ.بيا دُوَه كسان قاضي ته رَاغلُو چي زمونږ ترمينځ دغه مكان تقسيم كه.او يَوخريدار غَائِب دئ نو قاضي دي مكان نَه تقسيموي .

وجه : (١) د وِرَاثَت په صورت كي خو مَال د مَيّت(يعني مَړي)وُ تر څو چي په تقسيم يې هر يوه ته نَه وي وركړئ.وَارِثِين دهغه په حِفَاظَت كي لاَپَروَاهِي كوي نوځكه هغه

ژَر تقسيمول ضروري دئ.او د رَانِيوَل شوي مَال د ضِيَاع فِكر خو و مُشتَرِي ته لاَحِق دئ نو ځكه دهغه مَال ژَر تقسيمول ضرروي نَه دئ تر چي غَائِب نَه وي راغلئ (٢) غَائِب خو خپل مَال لګولئ دئ.نوځكه دا اِمكَان شته چي تر دې دي

حاشيه : (الف) الله تعالٰي تاسو ته حُكم دركوي چي و اَمَانَت والا ته خپل اَمَانَت وروسوئ.او چي كله تاسو د خلګو ترمينځ فيصله وكئ نو په اِنصَاف سره فيصله كوئ.الله تعالٰي تاسو ته ښَه نصحيت كوي .

[٢٩٥١](٢٠) وَ اِن كَانَ العِقَارُ فِي يَدِ الوَارِثِ الغَائِبِ اَو شَئٌ مِّنهُ لَم يُقَسّم [٢٩٥٢](٢١) وَ اِن حَضَرَ وَارِثٌ وَاحِدٌ لَم يُقَسّم .

هم زِيَاتَه حِصّه لګولې وي او دغه حَاضِرين په دُوګه او چَم كي زِيَات اَخلي نوځكه د غَائِب د حاضرېدو وروسته معلوميږي چي دده حِصّه څومره ده؟ نوځكه دده د حاضرئ بغيره دې نَه تقسيموي (٣) دا نُكتَه هم پكښې ده چي مُورِث خو د دُنيَا څخه رُخصَت شوئ دئ نو وَارِث به دهغه لخوا څخه خَصَم وي نوځكه دا قضَاء علٰي الغَائِب نَه ده.او د رَانِيوُلُو په صورت كي غَائِب سړئ په دُنيَا كي موجود دئ نو ځكه دهغه پر ځائ بَل هيڅ څوک خَصَم نَه شي جوړېدلائي.نو كه چيري دهغه په غَيبُوبَت كي فيصله وكړي نو دا به قضَاء علٰي الغَائِب شي چي جواز نَه لري.نوځكه دلته كه چيري يَو سړئ هم غَائِب وي نو تقسيم نَه شي كېدلائي .

[٢٩٥١](٢٠) كه مځكه دغَائِب وَارِث په قبضه كي وي يا دهغه څَه حِصّه وي نو نَه به تقسيميږي .

وجه : (١) چي پُورَه مځكه يا دهغه څَه حِصّه دغَائِب وَارِث په قبضه كي وي نو دا قَرِينَه ده چي دغه مځكه د حَاضِر كسانُ نَه ده.كه چيري دُوئي وَارِثَان وائ يا د دُوئي مځكه وائ نو بَايَد د دُوئي په قبضه كي وائ.لېكن د دُوئي په قبضه كي نَه ده نوځكه تقسيميږي به هم نَه (٢) دُويَمَه نُكته داده چي كه تقيسم كړي نو دا به قضَاء علٰي الغَائِب شي چي جواز نَه لري. نو په دې وجه هم دا نَه تقسيميږي .

[٢٩٥٢](٢١) او كه يَو وَارِث حاضِر وي نو نَه به تقسيموي .

تشريح : مثلاً دري وَارِثَانُ وُ دهغو څخه صِرف يَو حاضِر شو او د تقسيم مطالبه يې وكړه نو مَال به نَه تقسيميږي .

وجه : (١) يَو سړئ د شَهَادَت تعداد نَه پُورَه كوي نوځكه دده خبره به نَه اَورِېدَل كيږي (٢) يَوَه وجه دا هم ده چي مُورِث خو نشته نو ځكه قاضي ته خو يَو مُدّعِي او

[٢٩٥٣](٢٢) وَ اِن كَانَت دُوَرٌ مُشتَرَكَةٌ فِي مِصرٍ وَاحِدٍ قُسِّمَت كُلّ دَارٍ عَلٰي حِدَتِهَا فِي قَولِ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي وَقَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰي اِن كَانَ الاَصلَحُ لَهُم قِسمَةَ بَعضِهَا فِي بَعضٍ قَسّمَهَا .

بَل مُدّعْي عَلَيهِ په کار دئ.که چيري دواړه موجود وائ نو يَو به مُدّعِي ګڼلئ وائ او هغه بَل به د مُورِث لخوا څخه وَکِيل فرض کړئ وائ او حَاضِر مُدّعْي عَلَيهِ به ګڼلئ وائ او فيصله به شوې وائ چي قضَاء علْي الغَائِب نَه شي.او دلته خو مطالبه کونکئ يَو دئ نوځکه دا خو به صِرف مُدّعِي ګڼلائي شي.لېکن مُدّعْي عَلَيهِ نَه دئ حاضِر نو ځکه نَه فيصله کېدلائي شي او نَه مَال تقسيم کېدلائي شي .

اصول : اُصُول مخته تېرشوئ دئ چي د رِشتِيَا ويلو قَرِينَه موجود وي او دقضاء د طريقې مطابق وي نو بيا تقسيميږي که نَه نو نَه تقسيميږي .

[۲۹۵۳](۲۲) که چيري په يَوَه بنَار کي څو کورونه مُشتَرک وي نو هر يَو به جَلاَ جَلاَ تقسيميږي د امام ابوحنيفه د قول مطابق. او صاحبين فرمايي چي که د بَعضُ په بَعضُ کي تقسيمول مناسب وي نو تقسيم دې کړي .

تشريح : مثلاً درې مکانونه دي. د يوه قيمت پنځلس زره دِرهَم دئ چي مسجد ته نژدې دئ.او د دُويَم قيمت لَس زره دِرهَم دئ چي دکَلِي په شَرق کي وَاقِع دئ.او دريم مکان په پنځه زره دِرهَم دئ چي دکَلِي څخه لَږ ليري دئ.البته درې سره مکانونه د کمرو او جُوړَښت په لحاظ تقريبًا سره بې فَرقَ دي.او حِصّه دَارَان درې دي.نو د امام ابوحنيفه() په نېز به مکانونه جَلاَ جَلا تقسيميږي يعني مسجد ته نژدې مکان کي به هم د درو سره شريکانُ حِصّه وي او په مَشرِقِي مکان کي به هم درې سره حِصّه دَارَه وي او کُوم چي د کَلِي څخه ليري دئ په هغه کي به هم د دُرُو سره حِصّه وي.او د دُرُو سره مکانو قيمت به لګول کيږي او تَوَافُق به سره کوي. مثلاً کُوم يَوَه ته چي دکَلِي څخه ليري والا مکان ملاؤ شي چي قيمت يې پنځه زره دِرهَم دئ هغه ته به د مکان څخه علاوه پنځه زره دِرهَم زِيَات ورکول کيږي. کُوم يَو چي مسجد ته نژدې مکان اَخلِي چي قيمت يې پنځلس زره دِرهَم

[۲۹۵۴](۲۳) وَ اِن کَانَت دَارٌ وَضَيعَةٌ اَو دَارٌ وَ حَانُوتٌ قُسِّمَ کُلّ وَاحِدَةٍ عَلْي حِدَتِهِ .

دئ هغه به پنځه زره دِرهَم هغه يَوَه ته ورکړي کُوم چي د کَلِي څخه ليري مکان په حِصّه واخلي چي تَوَافُق يې راشي.داسي به نَه کوي چي و دُرُو سره وُ ته يَو يَو مکان د ظاهِرِي برابرئ پر بُنيَاد ورکړي او تقسيم وکړي .

وجه : دئ فرمايي چي د مکان د مَحَلّ وُقُوع په لحاظ په قيمت کي فرق رَاځِي. مثلاًچي هَمسَايَه ګان يې بنَه حلک وي.مسجِدنژدي وي نودمکان قيمت زياتيږي. او که ددې څخه خِلاَف وي نو دمکان قيمت ګمِيږي.نوځکه د ظَاهِرِي برابرئ څخه علاوه و بَاطِنِي بنُو صِفَاتُ ته به هم کتل کيږي.او دهغه په اِعتِبَار به قيمت لګيږي .

اصول : د حضرت امام اعظم() په نېز به بَاطِنِي بنَه صِفَات هم په نَظَر کي سَاتَل کيږي. البته!که چيري درې سره حِصّه دَارَان په خپله رَضَامَندِي سره يَويَو مکان واخلي نو دَادَوَل هم تقسيم کېدلائي شي .

فائده : صاحبين فرمايي چي دغه دي د قاضي پر صَوَابدِيد پرېږدي.که دهغه لپاره دغه مُنَاسِب وي چي و دُرُو سره وُ ته يَو يَو مکان ورکړي او مَزِيد نور رَقَم ورنَه کړي نو قاضي ته دغه اِختِيَار هم حَاصِل دئ که څَه هم حِصّه دَارَان پر دې رَاضِي نَه وي.او دا اِختِيَار هم ورته حَاصِل دئ چي په هر مکان کي د دُرُو سره وُ حِصّه شَامِله کړي.بيا د هر مکان قيمت ولګوي او تَوَافُق سره ورکړي .

اصول : د صاحبينُ (رح) په نېز به ظَاهِرِي برابري په نَظَر کي سَاتَل کيږي و بَاطِنِي ښُو صِفَاتُ ته به زِيَات توجّه نَه ورکوي .

[۲۹۵۴](۲۳) که مکان او مځکه وي يا مکان او دُګَان وي نو هر يَوَه ته دي علْحيده علْحيده تقسيم ورکړي .

تشريح : مثلاً دُوَه حِصّه دَارَان وي په مَالِيّت کي يَومکان اومځکه وي.نوپه مکان کي دي هم ودواړوته حِصّه ورکړي اوپه مځکه کي دي هم ودواړو ته حِصّه ورکړي.

[۲۹۵۵](۲۴) وَ يَنبَغِي لِلقَاسِمِ اَن يُصَوِّرَ مَا يُقَسِّمَهُ وَ يُعَدِّلَهُ وَ يَذرَعَهُ وَ يُقَوِّمَ البِنَاءَ وَ يَفرُزَ كُلّ نَصِيبٍ عَنِ البَاقِي بِطَرِيقِهِ وَ شُربِهِ حَتّي لاَيَكُونَ لِنَصِيبِ بَعضِهِم بِنَصِيبِ الآخَرِ تَعَلّقٌ ثُمّ يَكتُبَ اَسَامِيَهُم وَيَجعَلَهَا قُرعَةً .

البته! که چيري يَو سړئ صِرف د مکان پر اَخَستلُو او بَل سړئ صِرف د مځکي پر اَخَستلُو راضي شِي نو بيا صحيح دئ .

وجه : مکان جَلاَ جِنس دئ او مځکه جلا جِنس ده او د دواړو په قيمت کي ډېر زِيَات فرق وي نوځکه بِالاِتِّفَاق به په مکان کي هم د دواړو حِصّه وي او په مځکه کي به هم د دواړو حِصّه وي.او دا ګواکه تَبدِيلي او رَانِيوَل دئ.نوځکه د دواړو قيمت به لګول کيږي او تَوَافُق به سره کيږي.مثلاً دمکان قيمت لَس زره دئ او دمځکي پنځه زره دئ.نو ګُوم چي مکان اَخلِي هغه به دُوه نِيم زره هغه چا ته ورکوي ګُوم چي مځکه اَخلِي.دغه حَال د مکان او دُکَان هم دئ چي دواړه جَلاَ جَلاَ جِنس دي. عَن عِبَايَةَ بنِ رِفَاعَةَ بنِ رَافِعِ بنِ خَدِيجٍ عَن جَدِّهِ قَالَ كُنّا مَعَ النّبِيِّ (ﷺ) بِذِي الحُلَيفَةَ ... ثُمّ قَسّمَ عَشرَةٌ مِّنَ الغَنَمِ بِبَعِيرٍ (الف) (بخاري شريف.باب قِسمَةِ الغَنَمِ ص۳۳۸نمبر۲۴۸۸) په دې حديث کي بُوزَه جلا جنس ده او وُښ جلا جنس دئ نوځکه لَس بُوزې يي د يوه وُښ سره برابري کړي.نو چي ګُوم چاته يَو وُښ ورکړئ دهغه سره د تَوَافُق لپاره هغه بَل ته لَس بُوزې ورکړي.دغه رنګه به د مکان او دُکَان حال هم وي .

[۲۹۵۵](۲۴) دتقسيم کونکي لپاره مُنَاسِب دئ چي ګُوم شِي تقسيم ورکوي دهغه نَقشَه دي جوړ کړي او برابر دې په نَاپ کړي او د عِمَارَت قيمت دي ولګوي.او د هر يَوَه حِصّه دي دده د لاَړي او نَالَئ سره دهغه نُور څخه جَلا کړي.چي ديوه دحِصّې د هغه بَل سره هيڅ تَعَلّق پاته نَه شي.بيادي دهغوئي نُومُونَه وليکي او دهغه قُرعَه دي جوړ کړي .

تشريح : ډېر شِيَان تقسيموي نو بَايَد چي په صحيح توګه تقسيم کړي. او که آسانتِيَا

حاشيه:(الف)مورِدحضورسره په ذي الحليفهكي وُ...بيايي تقسيم وكړئ اولَس بُوزي يي ديوه وُښ برابرِكړي.

[۲۹۵۶](۲۵) ثُمّ يُلَقّبُ نَصِيبًا بِالاَوّلِ وَالّذِي يَلِيهِ بِالثّانِي وَالّذِي يَلِيهِ بِالثّالِثِ وَعَلْي هَذَا ثُمّ يُخرِجُ القُرعَةَ فَمَن خَرَجَ اِسمُهُ اوّلاً فَلَهُ السّهمُ الاَوّلُ وَمَن خَرَجَ ثَانِيًا فَلَهُ السّهمُ الثّانِي .

پكښى وي نو بَايَد دا طريقه خپله كړي چي كُوم شِيَان تقسيموي اَوّل دهغوشِيَانُ نَقشَه جوړ كړي.كه مځكه وي نو بَايَد هغه نَاپ كړي او هره ټُكړَه دي برابر برابر نَاپ كړي.كه عِمَارَت وي نو دهغه قيمت دي ولګوي او مكان او مځكه د هر يَوَه حِصّه دي دهغه د لاَړي او نَالَئ سره سره جَلاَ جَلاَ كړي چي د كُور څخه په وَتَلُو كي يا مځكه ته په اُوبَه وركولو كي دهغه بَل سره هيڅ تَعَلّق نَه وي او وروسته اِختِلاَف موقع پيدانَه شي.بيادي د هري حِصّې نُوم وليكي او دهغه قُرعَه دي جوړ كړي چي په قُرعَه اَندَازِي كي آساني وي .

وجه : په حديث كي دئ چي حضور د خَيبَر مځكه په شُپُږدبرش (۳۶) حِصّو كي تقسيم كړې وه.حديث دادئ.اَنّ رَسُولَ اللهِ لَمّا ظَهَرَ عَلْي خَيبَرَ قَسّمَهَا عَلْي سِتّةٍ وَثَلاَثِينَ سَهمًا جَمَعَ كُلّ سَهمٍ مِائَةَ سَهمٍ الخ (الف) (ابوداؤدشريف.باب ماجاء في حكم ارض خيبرج۲ص۶۸نمبر ۳۰۱۲) په دې حديث كي دئ چي دخَيبَرمځكه شُپږ دبرش حِصّې كړې وه او د هري حِصّي سره سَل حِصّي وې چي ټوله مجموعه يي شُپږدبرش سوه (۳۶۰۰) حِصّي شوې.او ددې څخه نِيمَئ پر پنځلس سوه مجاهدينُ باندي تقسيم كړل دهغه څخه و پِيَادَه مجاهد ته يوه حِصّه او د آس والا مجاهد ته دُوې حِصّې وركړې.مجموعه يي اَتَلَس سوه (۱۸۰۰) حِصّې شوې.ددې څخه اِشَارَه ملاؤيږي چي دمځكي حِصّې به څه رنګه جوړوي؟ .

لغت : شَربٌ : چي اُوبُه پكښي څِي هغه نَالَئ. نَصِيبٌ : حِصّه .

[۲۹۵۶](۲۵) او د يوې حِصّې نُوم دي كښيږدي اَوّلَه او چي وهغه ته ورځرمه وي دُويَمَه او چي وهغه ته ورځرمه وي دَرَيَمَه دغه رنګه ليكه.بيا دي قُرعَه رَاوَبَاسِي.نو چي د كُوم يوه نُوم اَوّل رَاوَوزي دهغه لپاره اَوّلَه حِصّه او دكُوم يَوَه نُوم چي په دُويَم وار رَاوَوزي دهغه لپاره دُويَمَه حِصّه .

حاشيه:(الف) حضور چي خَيبَر فتح كړئ نو هغه يي په شُپږدبرش(۳۶)حِصّوكي تقسيم كړئ.په هره حِصّه كي سَل سَل حِصّې وې .

[۲۹۵۷](۲۶) وَ لاَ يَدخُلُ فِي القِسمَةِ اَلدّرَاهِمَ وَ الدّنَانِيرَ اِلاّ بِتَرَاضِيهِم .

تشريح : چي څومره حِصّې دي پر ټولو دي نمبر ولګوي يَو.دُوَه.دري.څلور دغه دَوَل.بيا دي قُرعَه رَاوَبَاسِي د كُوم يوه نُوم چي مخكي رَاوَوزي هغه ته دي اَوّلَه حِصّه وركړي.د كوم يوه نُوم چي په دُويَم وار كي راووزي هغه ته دي دُويَمَه حِصّه وركړي.د كوم يوه نُوم چي په دريم وار كي رَاوَوزِي هغه ته دي دريمه حِصّه وركړي دغه رنګه دي مخته رَوَان وي .

وجه : (۱) ددې بغیره هم کار چلېدلائې شي.لېکن دَاوَل دي په دې وجه وکړي چې حِصّه دَار دا وَنَه وايي چې قاضي دفُلاَنِي طرَفدَارِي کړې ده (۲) په حديث کي دئ چې حضور (ﷺ) دخپلو بِي بِي ګانو ترمينځ قُرعَه اچوله چې کُومَه يَوَه په سَفَر کي دځان سره بُوزِي؟ او چې د کُومي يوې نُوم رَاوَاتَئ هغه به دځان سره بِيوَلَه. عَن عَائِشَةَ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) کَانَ اِذَا سَافَرَ اَقرَعَ بَينَ نِسَائِهِ (الف) (ابن ماجه شريف.باب القضاء بالقرعة) په يوه بَل رِوَايَت کي دئ چې دغُلاَمَانُ تقسيم يې د قُرعې په ذريعه وکړئ. عَن عِمرَانَ بِنِ حُصَينٍ اَنّ رَجُلاً کَانَ لَهُ سِتّةُ مَملُوکِينِ لَيسَ لَهُ مَالٌ غَيرَهُم فَاَعتَقَهُم عِندَ مَوتِهِ فَجَزَاءَ هُم رَسُولُ اللهِ (ﷺ) فَاَعتَقَ اِثنَينِ وَ اَرَقّ اَربَعَةً (ب) (ابن ماجه شريف.باب القضاء بالقرعة ص۳۶نمبر۲۳۴۷/۲۳۴۵/ بخاري شريف.باب هل يقرع في القسمة والاستهام فيه ص۳۳۹نمبر۲۴۹۳) دحديث څخه معلوم شوچې د اِطمِينَانِ قَلب لپاره د قُرعَه په ذريعه نُوم رَا اِيستَلاَئي شي .

لغت : اَلسّهمُ : حِصّه .

[۲۹۵۷](۲۶) او په تقسيم کي نَه داخليږي دَرَاهِم او دِينَار مګر دحِصّه دَارَانُ په رضامندي سره .

حاشيه:(الف) حضور (ﷺ) چې به سَفَر کاوئ نو د بِي بِي ګانو ترمينځ به قُرعَه اچول (ب) حضرت عمران بن حصين فرمايي چې ديوه سړي شُپږ غُلاَمَان وُ او ددې څخه علاوه بَل مَال نَه وُ. ده د مرګ پر وخت دغه ټوله آزاد کړل نو حضور (ﷺ) ددې حِصّه وکړه او دُوَه يې آزاد کړل او څلور يې غُلاَمَان وَسَاتَل .

تشريح : مثلاً يَومکان دئ او لَس زَرَه دِرهَم دي او دُوَه حِصّه دَارَان دي.نو په مکان کي و دواړو ته نِيمَئ نِيمَئ حِصّه بايد ملاؤ شي او په دِرهَم کي هم نِيمَئ نِيمَئ يعني پنځه پنځه زَرَه بايد ملاؤ شي.لېکن چې و يوه حِصّه دَار ته په مکان کي تر نِيمَئ زياته حِصّه ورکړي او دهغه په بَدلَه کي وهغه دُويَم حِصّه دَار ته د پنځه زَرَه دِرهَم پر ځائ اُوَه زَرَه دِرهَم ورکړي چې دغه دُوَه زَرَه د مکان د زِيَاتُوب په بَدلَه کي شي نو دغه کار قاضي د دواړو د رضامندئ بغيره نَه شي کولائي.البته که دواړه پر دې راضي شي نو بيا صحيح دئ .

وجه : (۱) مکان جَلاَ جِنس دئ او دِرهَم دِينَار جلا جِنس دي.نو که دمکان د يوې حِصّې په بَدلَه کي دِرهَم ورکړي نو دا بَدلَه او رَانِيوَل دئ.تَمِيز او اِفرَاز نَه دئ.او دبَيعِ او تَبدِيل لپاره د دواړو رَضَامَندِي شرط ده.نوځکه دلته هم د دواړو رضامندي په کار ده (۲) دُويَمَه وجه داده چې بعض مکانونه ډېر زيات مُهِم وي دغه دَوَل مکان بيا نَه ملاؤيږي نو چې کُوم يوه ته د مکان زِيَاتَه حِصّه ورکول شي هغه به ډېر خُوشحَالَ وي او هغه بَل به اَفسُوس کوي.او په بعضُ وختو کي دِرهَم زيات مُهِم وي ځکه چې په هغه باندي فَوراً او سَم دَستِي څَه نَه څَه رَانِيوَلاَئي شي نو په داسي صورت کي چې کُوم يَوَه ته دِرهَم ملاؤ شي هغه به زيات خُوشحَالَ وي.نوپه دغه وجه په داسي صُورَتِ حَال کي د تَبدِيل لپاره د دواړو رضامندي ضروري ده.البتّه کي چيرې د مکان بَعض حِصّه دَاوَل وي چې هغه په دُو حِصّو کي نَه شي تقسيمولائي.مجبوراً به

و يوه ته زِيَاتَه حِصّه وركوي نو په دَاوَل مجبوري کي بيا قاضي ته اِختِيَار شته چي و يوه ته د مکان زِيَاتَ حِصّه وركړي او دهغه په بَدلَه کي وهغه دُويَم ته زِيَات دِرهَم يا زِيَات دِينَار وركړي (٣) په حديث کي و دي ته اِشَارَه شوي ده. سَمِعتُ النّعمَانَ بنِ بَشِيرٍ عَنِ النّبِيِّ (ﷺ) قَالَ مَثَلُ القَائِمِ عَلْي حُدُودِ اللهِ وَالوَاقِعُ فِيهَا كَمَثَلِ قَومٍ اِستَهَمُوا عَلْي سَفِينَةٍ فَاَصَابَ بَعضُهُم اَعلاَهَا

[٢٩٥٨](٢٧) فَاِن قُسِّمَ بَينَهُم وَلاَحَدِهِم مَسِيلٌ فِي مِلكِ الآخَرِ اَو طَرِيقٌ لَم يَشتَرِط فِي القِسمَةِ فَاِن اَمكَنَ صَرفُ الطَّرِيقِ وَالمَسِيلِ عَنهُ فَلَيسَ لَهُ اَن يَستَطرِقَ وَيَسِيلَ فِي نَصِيبِ الآخَرِ وَ اِن لَم يَكُن فُسِخَتِ القِسمَةُ .

وَبَعضُهُم اَسفَلَهَا (الف) (بخاري شريف.باب هَل يقرع في القسمة والاستهام فيه ص٣٣٩ نمبر ٢٤٩٣) په دي حديث کي و ټولو ته د کَښتَئ لُوَړَه حِصّه نَه ده وركړي او نَه ټولو ته د کَښتَئ کَښتَه حِصّه.ددي څخه معلوم شو چي د مجبورئ په وجه تَبديلولائي شي .

[٢٩٥٨](٢٧) كه چيري د وَارِثَانُ ترمينځ مكان تقسيم كړئ او د دُوئي څخه د يَوَه نَالَئ دبَل په مِلكِيّت كي راشي يايي لاَرَه راشي چي په تقسيم كي شرط نَه وُ لګولئ. نو كه چيري د لاَرِي او نَالَئ ددي څخه اَوَل مُمكِن وي نو د حِصّه دَار لپاره جواز نَه لري چي دهغه بَل په حِصّه كي لاَرَه يا نَالَئ وباسِي.او كه ددي څخه ليري كول مُمكِن نَه وي نو تقسيم به ختم شي .

تشريح : د تقسيم قاعده داده چي د مكان سره د وَتلُو لاَرَه هم د نورو حِصّه دَارَانُ د لاَرِي څخه بِالكُل جَلاَ وي.دغه رنګه د مځكي د تقسيم قاعده داده چي د اُوبُو وركولو وَالَه(وِيَالَه.نَالَئ)د نورو حِصّه دَارَانُ څخه بِالكُل جلا وي.او كه چيري مجبوري وي نو دتقسيم پر وخت دي شَرط ولګوي چي ددي مكان والا به د فُلاَنِي پر لاَرَه تېريږي يا ددي مځكي والا به خپلي مځكي ته د فُلاَنِي په وَالَه(نَالَئ)كي اُوبَه تېروي.چي وروسته بيا جګړه رامينځ ته نَه شي.لېكن كه دَاوَل شرط نَه وُ لګولئ بيا هم ديوه سړي نَالَئ د بَل په حِصّه كي تېريږي يا ديوه لاَرَه د بَل په حِصّه كي تېريږي نو كه چيري دمځكي دمَالِک په حِصّه كي نَالَئ تېرېدلائي شوه او اِمكَان يي دَرلُودَئ نو د

حاشيه:(الف) حضور وفرمايل څوک چي د الله پر حُدُودُ قائم وي او څوک چي د الله په حُدُودُ كي وَاقِع وي دَاوَل دئ لكه يَو قوم چي په كِښتَئ كي قُرعَه واچوي نوبعضُ ته لُوَړَه حِصّه او بَعضُ ته كښته حِصّه ملاؤ شوه .

[٢٩٥٩](٢٨) وَ اِذَا كَانَ سُفلٌ لاَعُلوَ لَهُ اَو عُلوٌ لاَسُفلَ لَهُ اَو سُفلٌ لَهُ عُلوٌ قُوِّمَ كُلّ وَاحِدٍ عَلْي حِدَتِهِ وَقُسِّمَ بِالقِيمَةِ وَلاَيُعتَبَرُ بِغَيرِ ذَالِکَ .

بَل په حِصّه کي دې نَه تېروي بلکه په خپله حِصّه کي دي نَالَئ جوړه کړي او خپلي اُوبَه دي پکښي تېروي.دغه رنګه په خپله حِصّه کي دي لاَرَه رَاوَبَاسِي او پر هغه لاَرَه دي خِي رَاخِي چي وروسته بيا د جګړې نَوبَت رَانَه شي. لېکن که چيري په خپله مځکه کي نَالَئ نَه شوه جوړ ولائي يايي په خپله حِصّه کي لاَرَه نَه شوه اِيستَلاَئي نو دا تقسيم به ختم شي. قَاسِم دي دُوبَارَه بيا دَادَوَل تقسيم وکړي چي په خپله مځکه کي نَالَئ او لاَرَه جوړشي .

وجه : (۱) چي بغيره شرط او رَضَامَندَئ د يوه حِصّه په بَل کي وُلاَړ شي دا ښَه خبره نَه ده.د جګړې سبب ګرزي (۲) د لاَضَرَرَ وَلاَ ضَرَارَ حديث څخه خلاف دئ.ځکه چي د دغه دَوَل تقسيم څخه همېشه دُويَم فريق ته نُقصَان رسيږي (۳) په آيت کي و دَادَوَل تقسيم ته مَذمُوم فيصله ويل شوې ده.آيت دادئ. وَجَعَلُوا لِلّهِ مِمّا ذَرَأَ مِنَ الحَرثِ وَالاَنعَامِ نَصِيبًا فَقَالُوا هٰذَا لِلّهِ بِزَعمِهِم وَهٰذَا لِشُرَكَائِنَا فَمَا كَانَ لِشُرَكَائِهِم فَلاَيَصِلُ اِلَي اللهِ وَمَا كَانَ لِلّهِ فَهُوَ يَصِلُ اِلَي شُرَكَائِهِم سَاءَ مَا يَحكُمُونَ (الف) (آيت۱۳۶ سورة الانعام ۶) په دې آيت کي کافرانُ د الله تعالٰي حِصّه و بُتَانُ ته ورکوله نو الله تعالٰي وفرمايل دا څومره بَدَه فيصله ده.دلته هم ديَوَه سړي په حِصّه کي د بَل سړي لاَرَه جوړه کړه نو دا هم ښَه فيصله نَه ده لِهٰذَا تقسيم به ختم شي.دُوبَارَه دي دَا دَوَل تقسيم وکړي چي د يوه لاَرَه يا ديوه د اُوبُو نَالَئ دهغه بَل په مځکه کي نَه وي .

لغت : مَسِيلٌ:دسَيلٌ څخه مُشتَق دئ.د اُوبُو نَالَئ..ددغه څخه يَسِيلُ.دأُوبُوبَيَدَل .

[۲۹۵۹](۲۸) او که مکان کښته وي چي بَالاَخَانَه نه لري.او بَالاَخَانَه وي کښته مکان نَه لري.او کښته مکان وي چي بَالاَخَانَه هم لري نو دهر يوه دي جَلاَجَلاَ قيمت ولګوي او دقيمت په ذريعه دې تقسيم کړي.او ددې څخه علاوه اِعتِبَار نَه لري .

حاشيه:(الف) کُوم کَښت اوحيوانان چي الله تعالٰي ورکړي وُ دهغه څخه حِصّه کوي په خپل کُمَان سره وايي چي دا د الله لپاره ده او دا زُمُوږ د شريکانُ لپاره ده.نوکُومَه حِصّه چي د دُوئي دشريکانُ لپاره ده هغه الله تعالٰي ته نَه رسيږي او کُومَه حِصّه چي د الله تعالٰي لپاره ده هغه د دُوئي شريکانُ ته رسيږي.دا دِهر بَدَه فيصله ده .

تشريح : د بَالاَخَاني قيمت د کښته مکان څخه کَم وي.ځکه چي په کښته مکان کي د آسانُ او غُوَاوُ شُيُول جوړېدلائي شي.دُکَان جوړېدلائي شي.د زِيني بغيره کمرې ته تَلاَئي شي.او که چيري دِيوَال وَنَړيږي نو بيا هم مځکه پاتيږي.او په بَالاَخَانَه کي شُيُول نَه شي جوړېدلائي.دُکَان جوړول هم مُشکِل دئ.د زِيني بغيره کمرې ته نَه شي تلائي.او که چيري دِيوَال وَنَړيږي نو د بَالاَخَاني مځکه هم لاَس ته نَه رسيږي. نوځکه دبَالاَخَاني قيمت کَم دئ او دکښته مکان قيمت زِيَات دئ.نو دحِصّه دَارَانُ د رضامندئ بغيره يَوَه ته بَالاَخَانَه ورکول او هغه بَل ته غَټ وُړد او پر مځکه ښَه مکان ورکول صحيح نَه دئ.بلکه دهر يوه دي جلا جلا قيمت ولګوي او دهغه سره دې تَوَافُق وکړي .

وجه : پر داسي وخت د قيمت لګولو دليل دا حديث دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَنِ النّبِيِّ (ﷺ) قَالَ مَن اَعتَقَ شَقِيصًا مِن مَملُوكِهِ فَعَلَيهِ خَلاَصُهُ فِي مَالِهِ فَاِن لَم يَكُن لَهُ مَالٌ قُوِّمَ المَملُوكُ قِيمَةَ عَدلٍ ثُمّ اِستَسعٰي غَيرَ مَشقُوقٍ عَلَيهِ (الف) (بخاري شريف.باب تقويم الاشياء بين

الشركاء بقيمة عَدلٍ ص٣٣٩نمبر٢٤٩٢) ددې حديث څخه معلوم شوچې دقيمت په ذريعه هم فيصله کېدلائي شي .
فائده : د امام ابوحنيفه() دا رَأيَه هم ده چې د بالاخانې قيمت بَايَد دکښته مکان په نِيمَئ وي.نو که چيري و يوه ته کښته لَس ګزه مکان ورکړئ وي او هغه بَل ته صِرف بالاخانه ورکوي نو بَايَد شَل ګزه ورکړي بيابه د دواړو حِصّې سره برابري وي .
اصول : دئ بَاطِنِي بنَه صِفَات هم مُعتَبَر ګڼي .
امام ابويوسف() فرمايي چې دواړه مکانونه دي نوځکه دا يَو جِنس دي.لِهْذَا بالاخانه او کښته مکان به سره برابر وي.نو که چيري کښته مکان و يوه حِصّه دَار ته لَس ګزه ورکړئ وي نوچې هغه بَل يعني د بالاخانې والا ته هم لَس ګزه مکان ورکړي

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل که يوچا د غُلَام څَه حِصّه آزاد کړه نو دهغه په مَال کي ده ته خَلاَسُون ورکول دئ. که چيري دده سره مَال نَه وي نو دغُلَام به د اِنصَاف قيمت لګول کيږي.بيا به هغه سِعَايَت کوي اداء کوي به چې پر ده مُشَقّت نَه وي .

[٢٩٦٠](٢٩) وَ اِذَا اِختَلَفَ المُتَقَاسِمُونَ فَشَهِدَ القَاسِمَانِ قُبِلَت شَهَادَتُهُمَا .

بيابه دواړه سره برابر ګڼل کيږي .
وجه : دواړه د وُسعَتُلُو په لحاظ سره برابر دي.نوځکه دګز په اِعتِبَار سره برابرول کِفَايَت کوي .
اصول : مخته تېرشوي دي چې حضرت امام ابويوسف() صِرف ظاهري برابري ګافِي ګڼي. (کَمَا قَالَ فِي الهِدَايَةِ کِتَابُ القِسمَةِ ص٤١٨)
لغت : سُفلٌ : کښته مکان. عُلُوٌ : د دُويَم چَت مکان.بالاخانه .
[٢٩٦٠](٢٩) که تقسيم کونکو اِختِلاَف سره وکړئ تقسيم ورکونکو خلګو ګواهي ورکړه نو د دواړو ګواهي به قبليږي .
تشريح : کُومُو خلګو چې تقسيم سره کړئ وُ هغو په خپل مينځ اِختِلاَف سره وکړئ چې مور پر خپلو حِصّو باندي قبضه نَه ده کړې.او تقسيم ورکونکو دُوُ قَاسِمَانُ ګواهي ورکړه چې دې خلګو پر خپلو خپلو حِصّو باندي قبضه کړې ده.نو چې تقسيم يې ورکړئ دئ دهغوئي ګواهي به قبليږي .
وجه : دلته دُوې نُکتي دي نو ځکه دواړو ته تَوَجّه ورکول ضرروي ده.يَوَه نُکتَه داده چې تقسيم ورکونکي چې ګواهي ورکړه په خُفيَه او کِنَايِي اَندَاز سره خپل مطلب هم پُورَه کول غُوَارِي هغه دا چې د تقسيم کار مُور کړئ دئ نو ځکه اُجرَت هم بَايَد مور ته ملاؤ شي.او مور د تعريف او سَتَايَنِي حقداره يُو.نو په دې وجه دغه خلګ دخپل ځان لپاره ګواهي ورکوي.او دخپل ځان لپاره ګواهي مَقبُولَ نَه ده نو ځکه دقَاسِم ګواهي بَايَد مقبول نَه شي.او دُويَمَه نُکتَه داده چې دغه قَاسِمَان د تقسيم کونکو په خِلاَف ګواهي ورکوي چې دې خلګو واقعي پر خپلو خپلو حِصّو قبضه کړې ده نو په

دې اِعتِبَار دغه د نورو په خِلاَف ګواهي شوه.نو بَايَد د دُوئي ګواهي قبول شي.ځکه چې دخپل ځان لپاره ګواهي نَه ده ورکړې.اودغه نُکتَه راجِح

[۲۹۶۱](۳۰) وَ اِن اِدّعْي اَحَدُهُم الغَلَطَ وَ زَعَمَ اَنّهُ مِمّا اَصَابَهُ شَئٌ فِي يَدِ صَاحِبِهِ وَ قَد اَشهَدَ عَلْي نَفسِهِ بِالإِستِيفَاءِ لَم يُصَدّق عَلْي ذَالِکَ اِلاّ بِبَيّنَةٍ .

ده نود دُوئي ګواهي به قبلېږي.ځکه چې دګواهئ اَصل مَقصَددغه دئ.

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چې اَصل مَقصَد د بَل چَا په خِلاَف ګواهي ورکول وي لېکن هغه ګواهي ضِمنًا د خپل ځان لپاره شي نو دا کُوم حرَج نَه لري. ګواهي به قبلېږي .

[۲۹۶۱](۳۰) دحِصّه دَارَانُ څخه يَوَه دغلطئ دَعوَه وکړه او ووايي چې زُومَا څَه حِصّه دهغه بَل په قبضه کي ده او پر خپل ځان يې د وُصُولَوُلُو ګواهي ورکړه نو دده تَصدِيق به نَه کيږي مګر په بَيّنَه سره .

تشريح : يَو حِصّه دَار دعوه کوي چې قَاسِم صحيح تقسيم نَه دئ کړئ او زُومَا څَه حِصّه د فُلاَنِي حِصّه دَار قبضې ته تَلَلې ده.او ددې سره سره دا هم وَايِي چې خپله حِصّه مِي وصول کړې ده.نو دلته دده په خبرو کي تَضَاد دئ نو که چيږي د تقسيم کولو پر خَامِي او غلطي باندي ګواهي پېش کړه نو بيابه دده خبره مَنَل کيږي .

وجه : چې دئ دا وايي چې مَا خپله حِصّه وصول کړې ده نو ددې مطلب دادئ چې دتقسيم پر وخت ده دقَاسِم تقسيم صحيح ګاڼي چې قَاسِم صحيح او دُرُست تقسيم کړئ دئ په دغه وجه خو ده د خپلي حِصّې د وصولو پر وخت کُوم اِعتِرَاض وَنَه کړئ او دتقسيم صحيح والئ يې تَسلِيم کړئ.اُوس وروسته بيا وايي چې تقسيم صحيح نَه دئ شوئ او زُومَا حِصّه د بَل چا لاَس ته تَلَلې ده نو دده په خَبُرُو کي تَضَاد دئ نو ځکه دا چې تقسيم صحيح نَه دئ پر دې خبره به دُوَه ګواهان پېشوي بيابه دده خبره مَنَل کيږي او تقسيم به ختميږي دُوبَارَه به بيا تقسيم کوي. البته! که دخپلي حِصّې د وصولو څخه مخکي دا وَينَا کړې وائ چې دغه تقسيم صحيح نَه دئ شوئ نوبغير

[۲۹۶۲](۳۱) وَ اِن قَالَ اِستَوفَيتُ حَقّي ثُمّ قَالَ اَخَذتُ بَعضَهُ فَالقَولُ قَولُ خَصمِهِ مَعَ يَمِينِهِ .

د بَيّنې به هم دده خبره مَنَل کېدلائي .

اصول : چې د مُدّعِي په خبره کي تَضَاد وي نو بغيره بَيّنَة به دده خبره نَه مَنَل کيږي .

لغت : اِستِيفَاءٌ : د وَفْي څخه مُشتَق دئ. وصولول .

[۲۹۶۲](۳۱) او که ووایي چي مَا خپل حَق اخستئ دئ.بیا ووایي چي مَا دهغه څَه حِصّه اخستي ده نو د مَدّمُقَابِل خبره مُعتَبَرَه ده دده د قَسَم سره .
وجه : (۱) دَلتَه هم د مُدّعِي په قَول کي تَضَاد دئ.اَوّل وایي چي مَا خپل حَق وصول کړئ دئ نو ددې مطلب خو دا وُ چي پُورَه حَق مِي وصول کړئ دئ.او دا چي د پُورَه حق د وصولولو اِقرَار وکړي بیا وروسته ووایي چي بَعض حَق مِي اَخَستَئ دئ نو دا تَضَاد دئ نو بَایَد د بَعض حَق پر وصولولو باندي بَیّنَه قائم کړي.او دده سره صِرف د بَعض حَق پر وصولولو بَیّنَه نشته نوځکه د مُدّعْي عَلَیهِ خبره به د قَسَم سره مَنَل کیږي
(۲) حدیث مخته تېرشوئ دئ چي که دمُدّعِي سره بَیّنَه نَه وي نو دمُدّعْي عَلَیهِ خبره به د قَسَم سره مَنَل کیږي.کَتَبَ اِبنُ عَبّاسٍ اِلَیّ اَنّ النّبِیّ (ﷺ) قَضْي بِالیَمِینِ عَلْي المُدّعْي عَلَیهِ (الف) (بخاري شریف.باب الیمین علْي المدّعْي علیه في الاموال والحدودص۳۶۶نمبر۲۶۶۸) ددې حدیث څخه معلوم شوچي که دمُدّعِي سره ګواه نَه وي نو پر مُدّعْي عَلَیهِ باندي قَسَم دئ .
لغت : فَالقَولُ قَولُ خَصمِهِ مَعَ یَمِینِهِ : مطلب دادئ چي د مُدّعِي سره ګواه نَه وي نو بیابه دمُدّعْي عَلَیهِ خبره سره دقَسَم منل کیږي .

حاشیه : (الف) حضرت ابن عبّاس مَاتَه دا خبره ولیکل چي حضور (ﷺ) پر مُدّعْي عَلَیهِ باندي دقَسَم په ذریعه فیصله وکړه .

[۲۹۶۳](۳۲) وَ اِن قَالَ اَصَابَنِي اِلْي مَوضِعٍ کَذَا فَلَم یُسَلِّمهُ اِلَیّ وَلَم یَشهَد عَلْي نَفسِهِ بِالاِستِیفَاءِ وَکَذّبَهُ شَرِیکُهُ تَحَالَفَا وَفُسِخَتِ القِسمَةُ .

[۲۹۶۳](۳۲) او که وویل چي فُلاَنِي ځائ ته مَالره بَایَد رَارَسَوَلِي وائ او ده په هغه ځائ کي مَاتَه نَه دي سُپُرد کړي او پر خپل ځان یې د وصولولو ګواهي نَه ده ورکړې.او دده شریک دُرُوغجَن کړئ نو دواړه به قَسَم اَخلِي او تقسیم به ختمیږي .
تشریح : د شریکانُ څخه یَو سړئ وایي چي زُومَا سره وَعدَه کړې وه چي دغه زُومَا حِصّه فُلاَنِي ځائ ته زَه دَرَرَسَوَم لېکن هغه ځائ ته نَه وَرَسَوَلَه.او دایې هم وویل چي مَا خپل حَق تر اُوس محال پوري نَه دئ وصول کړئ او پر هغه یې دخپل حَق د وصولولو ګواهي نَه ده ورکړې.او دده شریک دده تَکذِیب کوي او وایي چي فُلاَنِي ځائ ته مِي دده حَق وَروَرَسَاوئ. یا دَاوَل ووایي چي فُلاَنِي ځائ ته د رَسَوُلُو وَعدَه نَه وه شوې.او د دواړو سره بَیّنَه نَه وي نو دواړه دي قَسَم واخلي بیادي تقسیم ختم کړي او دُوبَارَه دي تقسیم وکړي .
وجه : چي مُدّعِي دخپلي حِصّې د وصولولو اِقرَار نَه دئ کړئ نو د شروع څخه تقسیم نَه دئ تَسلِیم کړئ نوځکه دمُدّعِي په خبره کي تَضَاد نشته لِهْذَا تقسیم به خَتمَوِي او

دُوبَارَه به تقسيم کيږي. پاته شوه فُلاَنِي ځائ ته د حِصّې د رَسَوُلُو خبره نو په دي کي دواړه مُدّعِي او دواړه مُدّعْي عَلَيهِ دي.او د يوه سره هم بَيِّنَه نشته نوځکه دواړه دي قَسَمُونَه واخلي او تقسيم دي ختم کړي .
اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي دمُدّعِي په خبره کي تَضَاد نَه وي او په هيڅ دَوَل حرکت سره تقسيم نَه وي قبول کړئ نو بيا تقسيم ختم کېدلائي شي .
لغت : اَصَابَ اِلْي مَوضِعٍ : مَاتَه دې فُلاَنِي ځائ ته رَاوَرَسَوِي.يا پر فُلاَنِي ځائ دي ملاؤ شي .

[۲۹۶۴](۳۳) وَاِن اُستُحِقّ بَعضَ نَصِيبِ اَحَدِهِمَا بِعَينِهِ لَم تُفسَخِ القِسمَةُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي وَرَجَعَ بِحِصّةِ ذَالِکَ مِن نَصِيبِ شَرِيکِهِ وَ قَالَ اَ بُويُوسُفَ تُفسَخُ القِسمَةُ .

[۲۹۶۴](۳۳) او که د دواړو څخه د يوه په خَاص حِصّه کي مُستَحِق رامينځ ته شي نو تقسيم نَه ختميږي د امام ابوحنيفه په نېز او دهغه حِصّې رُجُوع به کوي دخپل شريک دحِصّې څخه.او امام ابويوسف وفرمايل تقسيم به ختم شي .
تشريح : مثلاً دغه شِي د زَر رُوپَيَه مَالِيّت دَرلُودَئ چي زَيد او خَالِد پکښي حِصّه دَارَان وُ.دواړو د پنځو پنځو سوو مَالِيّت تقسيم کړئ او وصول يې کړئ.وروسته د زَيد د حِصّې په يَوَه مخصوص شِي کي د دُوُ سوو مَالِيّت حق د عَمر دا ثَابِت شو او عَمر د دُوُ سو مَالِيّت شَئ واخستئ.نو د امام ابوحنيفه() په نېز چي په دغه مخصوص ځائ کي د يَوچَا حِصّه ثابِته شي په دې سره تقسيم نَه ختميږي او دُوبَارَه بيا دتقسيم کولو ضرورت نَه پيښيږي.البته زَيد دا حَق لري چي د دُوُ سوو څخه سَل دده دا وُلاَړِ او سَل دخپل شريک يعني خَالِد دحِصّې څخه وُلاَړِ نو ځکه د سَل مَالِيّت دي د خَالِد څخه وصول کړي .
وجه : په مخصوص شِي کي د يَوچَا حِصّه ثابِت شوه نو دمخصوص شِي قيمت دي ولګوي دخپل شريک څخه دې وصول کړي. دتقسيم دختم کولوضروت نشته.
فائده : د امام ابويوسف() په نېز به تقسيم ختم شي دُوبَارَه دي تقسيم وکړي .
وجه : زَيد دتقسيم پر وخت دا خِيَال کړئ وُ چي دغه پُورَه حِصّه زُومَا ده.اُوس چي عُمَر خَه مخصوص حِصّه واخستله نو هغه حِصّه خو کِشنَئ شوه دهغه په وجه کېدلائي شي چي د زَيد نُقصَان وي.او دخَالِد څخه چي کومه حِصّه ملاؤيږي هغه خو د بَل ځائ څخه ملاؤيږي چي دا اِمکَان لري چي دده دي په هغه کي نُقصَان وي نوځکه د عَدَمِ رَضَامَندَئ په وجه به تقسيم ختم شي .

﴿... کِتَابُ الإِکرَاهِ ...﴾

[۲۹۶۵](۱) اَلاِکرَاهُ یَثبُتُ حُکمُهُ اِذَا حَصَلَ مِمّن یَقدِرُ عَلْي اِیقَاعِ مَا تُوعَدُ بِهِ سُلطَانًا کَان اَو لِصًّا .

﴿... کِتَابُ الاِکرَاهِ ...﴾

ضروري پام لرنه : چې پر یَوچَا زُور او زَبَردَستِي وکړي او کار ځیني واخلي دې ته اِکرَاه وایي.د اِکرَاه ثبوت په دې آیت کي دئ. مَن کَفَرَ بِاللهِ مِن بَعدِ اِیمَانِهِ اِلاّ مَن اُکرِهَ وَقَلبُهُ مُطمَئِنّ بِالاِیمَانِ (الف) (آیت۱۰۶سورة النحل ۱۶) په بَل آیت کي دئ. لاَتُکرِهُوا فَتَیَاتِکُم عَلْي البِغَاءِ اِن اَرَدنَ تَحَصّنًا لِّتَبتَغُوا عَرَضَ الحَیْوةِ الدّنیَا وَمَن یُکرِههُنّ فَاِنّ اللهَ مِن بَعدِ اِکرَاهِهِنّ غَفُورٌ رَحِیمٌ (ب) (آیت۳۳ سورة النّور۲۴) په دواړو آیتو کي د اِکرَاه ذِکر راغلئ دئ .

[۲۹۶۵](۱) د اِکرَاه حُکم ثابتیږي چې حَاصِلَ شوې وي د دَاوَل سړي څخه چې د دَمګَئ پر واقِع کولو قُدرَت لري.که بَاچَا وي که غَل وي .

تشریح : که یَوکِشنَئ بَچَئ د قَتلَوُلُو دَمګَئ ورکړي نو په دې سره اِکرَاه نَه ثابتیږي بلکه چې دَاوَل اِنسَان دَمګَئ ورکړي چې دهغه پروَاقِع کولوباندي قُدرَت هم لري. لکه بَاچَا چې دَمګَئ ورکړي چې قَتل کوم دي یا غَل دَمګَئ ورکړي چې وخپله مَینَه ته طلاق ورکه. که نې لاَس دي پرېکوم نو په دې سره اِکرَاه ثابتیږي .

وجه : (۱) په لُوَړ آیت کي دئ چې آقَا خپله مینځه پر زِنَاء کولو باندي مجبوره کړي نوداِکرَاه ده.لاَتُکرِهُوا فَتَیَاتِکُم عَلْي البِغَاءِ اِن اَرَدنَ تَحَصّنًا (ج) (آیت۳۳ سورة النّور۳۴) په اَثَرکي دئ (۲) قَالَ عُمَرُ لَیسَ الرّجُلُ بِاَمِینٍ عَلْي نَفسِهِ اِذَا جُوّعَت اَو اُوثِقَت اَو ضُرِبَت (د) په بَل روَایَت کي دئ. عَن شُرَیحٍ قَالَ اَلحَبسُ کَرهٌ وَ الضّربُ کَرهٌ وَ القَیدُ کَرهٌ وَ الوَعِیدُ کَرهٌ

حاشیه : (الف) کُوم چاچي د اِیمَان وروسته د الله سره کُفر وکړئ. مګر دا چې مجبوره کړې وي او دده زَړَه په اِیمَان سره مُطمَئِن وي (ب) خپلي مینځي پر زِنَاء کولو مَه مجبوره کوئ که چیري دُوئي ځانونه پاک سَاتِي چي تاسو ځان ته د دُنیَا د ژُوَند سَامَان پَیدَا کئ.او څوک چي مینځي مجبوره کوي نو الله د دُوئي د مجبورئ په وجه معافونکئ دئ (ج) خپلي مینځي پر زِنَاء کولو مَه مجبوره کوئ که چیري دُوئي ځانونه پاک سَاتِي (د) حضرت عمر وفرمایل اِنسَان پر خپل ځان باندي په اَمَن نَه دئ که دئ وَرَئ وَسَاتَل شي یا وَتَرَل شي یا وَوَهَل شي.

[۲۹۶۶](۲) وَ اِذَا اُکرِهَ الرّجُلُ عَلْي بَیعِ مَالِهِ اَو عَلْي شِرَاءِ سِلعَةٍ اَو عَلْي اَن یُقِرّ لِرَجُلٍ بِاَلفِ دِرهَمٍ اَو یُوَاجِرَ دَارَهُ وَ اُکرِهَ عَلْي ذَالِکَ بِالقَتلِ اَو بِالضّربِ الشّدِیدِ اَو بِالحَبسِ فَبَاعَ اَو اِشتَرْي فَهُوَ بِالخِیَارِ اِن شَاءَ اَمضْي البَیعَ وَ اِن شَاءَ فَسَخَهُ وَ رَجَعَ بِالمَبِیعِ .

(الف) (سنن للبیهقي.باب مایکون اکراهًا ج۷ص۵۸۸نمبر۱۵۱۰۸/۱۵۱۰۷) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي قَیدکول.قَتلَوَل.حَبس کول او دَمګَئ ورکول ټوله د اِکرَاه صورتونه دي.یایې وَتَرِي.یایې وَرَئ وَسَاتِي.یایې وَوَهِي دا هَم د اِکرَاه صورتونه دي .

فائده : د امام ابوحنیفه() دا رَأیَه هم ده چې اِکرَاه صِرف د بَاچَا(بَادشَاه)لخوا کېدلائي شي.ځکه چې هغه ته قُوّتِ مَانِعَه حاصِل دئ.البتّه بعض حضرات فرمایي چې د ده په وخت

کي په غَلُو کي دُومرَه جُرأت نَه وُ ځکه ده دا فرمايلي دي. وروسته د حالاتُ په وجه په دُوئي کي دا جُرأت پيدا شو نوکه چيري غَل طَاقتوَر وي نو هغه هم اِکرَاه کولائي شي. دده دليل دا اَثَر دئ. عَنِ الشّعَبِيّ فِي الرّجُلِ يُکرَهُ عَلْي اَمرٍ مِّن اَمرِ العِتَاقِ اَوِ الطّلاَقِ قَالَ: اِذَا اَکرَهَهُ السّلطَانُ جَازَ. وَ اِذَا اَکرَهَتهُ اللّصُوصُ لَم يَجزِ (ب) (مصنّف عبدالرّزاق.باب طلاق الاکراه ج۴ص۴۱۰نمبر۱۱۴۲۲) ددي اَثَرځخه معلوم شوچي صِرف د بَاچَا لخوا اِکرَاه کېدلائي شي .

لغت : تُوعَدُ : د وَعدٌ ځخه مُشتَق دئ. دَمګئ ورکړي. لِصّ : غَل .

[۲۹۶۶](۲) که سړئ دخپل مَال پرخرڅولومجبوره کئ يايي دسَامَان پررَانِيوُلُو يادِيَوچَا لپاره دلَس زَرَه دِرهَم پراِقرَارکولوياخپل مکان په اُجرَت ورکولو يايي دئ پر دغه مجبوره کړئ د قَتل په دَمګئ ورکولو سره يايې د زِيَات وَهَلُو دَمګئ ورکړه يايې د سَخت وَهَلُو يايې د قَيد کولو.ده خرڅ کړئ يايي رَانِيوَئ نوده ته اِختِيَارشته که خُوَښَه شي بَيعَ دي برقراره وساتي او که خُوَښَه شي فَسخ دې کړي او مَبِيع دي بېرته ځيني وَاخلِي .

حاشيه : (الف) حضرت شريح وفرمايل چِې کول هم مجبوره کول دئ او وَهَل هم مجبوره کول دئ او زَولَني اَچَوَل هم مجبوره کول دئ او دَمګئ ورکول هم مجبوره کول دئ (ب) حضرت شعبي فرمايي چي يوڅوک پر آزَادَوُلُو يا طلاق ورکولو مجبور کړل شي.فرمايي چې که بَاچَا دئ مجبوره کړئ نو جائز دئ او که غَل دئ مجبوره کړئ نو جواز نَه لري.يعني دا په مجبوري کي نَه شمېرل کيږي .

تشريح : يَو سړئ يي مجبوره کړئ چي دئ دي خپل مَال خرڅ کړي.يا دي يَو سَامَان رَانِيسِي.يا د يوچا لپاره د زَر دِرهَم اقرار وکړي.يا خپل مکان پر اُجرَت ورکړي.او مجبوره هم دَادَوَل کړئ چي د قَتل دمګئ يې ورکړه يايې د سَخت وَهَلُو دَمګئ ورکړه يايې د قَيد کولو دَمګئ ورکړه.هغه ددې مجبورِيَانُ په وجه سَامَان خرڅ کړئ يايې رَانِيوَئ نو دغه رَانِيوَل پُوخ يعني مضبوط رَانِيوَل نَه دي.بلکه ده ته اِختِيَار دئ که خُوَښَه شي بَيعَ او شِرَاء او اُجرَت دي پر خپل ځائ بَرقَرَارَ پاته کړي يا که خُوَښَه شي ختم دې کړي او مَبِيع دي بېرته ځيني واخلي او د اُجرَت شَئ دي بېرته ځيني واخلي .

وجه : ددې مسائلو قاعده داده چي کُوم هغه عَقد چي د ژَبِي ځخه وَوزِي فَوراً جاري کيږي که په خوشحالي سره د ژَبِي ځخه رَاوَبَاسِي او که په مَذَاق کي د ژَبِي ځخه رَاوَبَاسِي يا د بَل چَا د مجبوره کولو په وجه ووايي.دَادَوَل عُقُود که په مجبوره کولو سره وکړي نو هم وَاقِع کيږي او دُوبَارَه يې بيا ختم کولائي هم نَه شي.لکه نِکاح.طلاق.رَجعَت.آزادول.دغه ټوله کارونه که د بَل چا د مجبورئ په وجه وکړل نو هم وَاقِع کيږي.مثلاً د يَوچَا د مجبوره کولو په وجه طَلاَق ورکړئ نو طلاق به وَاقِع شي.يايې د يَوچَا دمجبوره کولو په وجه نِکَاح وکړه نو نِکَاح به مُنعَقَد شي. يايې دبَل چا د مجبوره کولو په وجه رَجعَت وکړئ نو رَجعَت به صحيح شي. ځکه چي دا که مَذَاقًا ووايي نو هم رَجعَت ثابتيږي.طلاق وَاقِع کيږي.او نِکَاح مُنعَقَد کيږي او آزادي هم وَاقِع کيږي .

وجه : مخته په کتاب الطلاق(ثميري ج ۲ ص ۱۶۶ مسئله نمبر[۱۹۱۹](۳۵) ... ابوالحسين قطب ...) کي دلائل تېرشوي دي .

او دَاډَوَل عَقد چي د ژَبِي څخه وَوزِي فَوراً نَه واقع کيږي بلکه که په رَضَامَنديِ سره عَقد وکړي بيا مُنعَقَدکيږي او که وروسته بيا فَسخ کړي نو فسخ کېدلائي هم شي. دَغَه ډَوَل عَقد که مجبوراً او د اِکرَاه د لاَرِي په وکړئ نو عَقد خو صحيح کيږي لېکن و عَقد کونکي ته اِختِيَار حاصِل دئ که خُوښَه شي عَقد دي بَرقَرَار وساتي او که خُوښَه شي عَقد دي ختم کړي. د مَتن څلور سره عَقدُونَه دغه ډَوَل دي.مثلاً مجبوره کړئ او بَيعَ په وکړه نو بَائِع ته اِختِيَار شته که خُوښَه شي بيعَ دي برقرار وساتي او که خُوښَه شي بَيعَ دي ختم کړي مَبِيع دي وَاپَس کړي.مجبوره کړئ سَامَان يې په رَانِيوَئ نو مُشتَرِي ته اِختِيَار شته که خُوښَه شي بيعَ دي برقرار وساتي او که خُوښَه شي بَيع دي فَسخ کړي او خپل ثَمَن دي وَاپَس واخلي.مجبوره کړئ اِقرَار يې په وکړئ نو ده ته اِختِيَار شته که خُوښَه شي پر خپل اِقرَار دي برقرار پاته شي او که خُوښَه شي اِنکَار دي وکړي.مجبوره کړئ مکان يې په اُجرَت ورکړئ نو ده ته اِختِيَار شته که خُوښَه شي پر دغه اُجرَت دې برقرار وساتي او که خُوښَه شي نو اُجرَت دي ختم کړي.ځکه چي دغه عَقد د رضامندئ بغيره نَه دي شوي (۲) په آيت کي ددې ثبوت شته يَا اَيّهَا الّذِينَ آمَنُوا لاَتَأكُلُوا اَموَالَكُم بَينَكُم بِالبَاطِلِ اِلاّ اَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُم (الف) (آيت۲۹ سورة النساء ۴) په دې آيت کي دئ چي تِجَارَت په رضامندئ سره وي نو وَاقِع کيږي او که رضامندي نَه وي نو هغه مَال د بَاطِل په درجه کي دئ دهغه خُوَرَل حرام دئ.او چي په زُور او زَبَردَستِي سره بَيع او شِرَاء وکړي نو دا خو رضامندي نَه شوه نوځکه عَقد خو به صحيح شي لېکن ددې عَقد بَرقَرَارَ سَاتَل ضرروي نَه دئ .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي کُوم عَقد چي په رَضَامَنديِ سره کيږي که چيري هغه په زُور او زَبَردَستِي سره وکړي نو عَقدخو صحيح کيږي لېکن لاَزِم به نَه وي.عَقد خو به په دې وجه صحيح شي چي عَاقِل بَالِغ اِيجَاب او قبول کړئ دئ .

په دَاډَوَل مواقع کي لَږ ډېره دَمکَئ اِکرَاه نَه ګڼل کيږي.البته! که پر نَه کولو باندي دقَتل دَمکَئ وي.د ډېر زيات وَهلُو دَمکَئ وي يا تر ډېره وخته د قَيد دَمکَئ وي نو دا به اِکرَاه ګڼل کيږي .

وجه : ددې لپاره اَثَر مخته تېر شوئ دئ. عَن شُرَيحٍ قَالَ اَلحَبسُ كَرهٌ وَالضّربُ كَرهٌ

حاشيه : (الف) ائ مؤمنانو! تاسو خپل مالونه په خپل مينځ کي په بَاطِل طريقه سره مَه خورئ.البته! مګر دا چي ستاسو په رضامندي سره وي دخپل مينځ تِجَارَت وي .

[۲۹۶۷](۳) فَاِن كَانَ قَبَضَ الثّمَنَ طَوعًا فَقَد اَجَازَ البَيعَ وَاِن كَانَ قَبَضَهُ مُكرَهًا فَلَيسَ بِاِجَازَةٍ وَعَلَيهِ رَدّهُ اِن كَانَ قَائِمً فِي يَدِهِ .

وَالقَيدُ كَرهٌ وَالوَعِيدُ كَرهٌ (الف) (سنن للبيهقي.باب مايكون اكراهًا ج۷ص۵۸۸نمبر۱۵۱۰۸/۱۵۱۰۷/ مصنّف عبدالرّزاق.باب طلاق المكره ج۶ص۴۱۱نمبر۱۱۴۲۴/۱۱۴۲۳)

لغت : سَلعَةٌ : سامان. اَلحَبسُ : قَيد. يُوَاجِرُ : په اُجرَت ورکول .

[۲۹۶۷](۳) که بَائِع پر ثَمَن باندي په رضامندي قبضه وکړه نو ګواکه بيعَ يې جائز کړه.او که په زَبَردَستِي قبضه پر وکړه نو دا اِجَازَت نَه دئ.او پر ده دغه وَاپَس کول لازم دئ که چيري دده سره موجود وُ .
تشريح : بائع د مجبورئ په وجه بَيعَ وکړه.اُوس دثَمَن دقبض وخت راغلئ نو ګورو به چي په خوشحالي او رضامندي سره پر ثِ◌َمَن قبضه کوي که د مجبورئ په درجه کي که دمجبورئ په وجه قبضه وکړه نو بيا خو به بَيعَ ختم شي.ځکه چي بَيعَ يې هم د اِکرَاه د لاَرِي کړې ده او پر ثَمَن يې هم د اِکرَاه د لاَرِي قبضه کړې ده.په داسي صورت کي که ثَمَن دده سره موجود وُ نو هغه دي وَاپَس ورکړي. او که په خپله رضامندي سره پر ثَمَن قبضه کړې وه نو دا به اِجَازَت ګڼل کيږي او د بَيعِ پر وخت که څَه هم مجبوري وه لېکن اُوس اِجَازَت ملاؤشو نو اُوس به بَيعَ صِحّت پيدا کړي. ځکه چي رضامندي راغله .
اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي که وروسته رَضَامَنِدِي راشي نو هغه هم کِفَايَت کوي .
لغت : طَوعًا : په خوشحالي او رَضَامَنِدِي سره .

حاشيه : (الف) حضرت شريح وفرمايل چې کول هم مجبوره کول دئ اَو وَهَل هم مجبوره کول دئ او زَولَنې اَجَوَل هم مجبوره کول دئ او دَمکَئ ورکول هم مجبوره کول دئ .

[۲۹۶۸](۴) وَ اِن هَلَکَ المَبِيعُ فِي يَدِ المُشتَرِي وَ هُوَ غَيرُ مُکرَهٍ ضَمِنَ قِيمَتَهُ وَ لِلمُکرَهِ اَن يُضَمِّنَ المُکرِهَ اِن شَاءَ .

[۲۹۶۸](۴) که مبيع د مُشتَرِي په لاَس کي هَلاَک شي او دئ مجبوره کړل شوئ نَه وُ نو دهغه دقيمت به ضَامِن شي.او چي مجبوره شوئ دئ هغه ته حَق شته چي هغه ضَامِن وګرزوي هغه چي مجبوره کړې دئ که خُوښَه شي .
تشريح : بَائِع يَوچَا مجبوره کړئ بيع يې په وکړه.البته مُشتَرِي يې نَه وُ مجبوره کړئ بلکه مُشتَرِي په خپله رضامندي سره رَانِيوَلئ وُ.مُشتَرِي ته په کار دئ چي بَيع ختم کړي او مَبِيع و بائع ته وَاپَس کړي.لېکن ده تر اُوس لاَ دغه دِوَل نَه وُ کړي چي مَبِيع دمُشتَرِي په لاَس کي هَلاَک شوه.اُوس بائع ته دُوَه اختيارات شته.يا دي مُشتَرِي د مَبِيع دقيمت ضَامِن کړي ځکه چي اَصل خو دده د لاَس هَلاَکَت راغلئ دئ. او دا اِختِيَار هم لري چي کُوم چا چي مجبوره کړئ دئ هغه دي ضَامِن کړي. ځکه چي دده د مجبوره کولو په وجه مَبِيع دمُشتَرِي لاَس ته وُلاَړَه.نوځکه دئ هم ضَامِن ګرزولائي شي .
وجه : دا چي ضائع کونکئ به ضَامِن وي دهغه دليل دا آيت دئ. وَمَن قَتَلَ مُؤمِنًا خَطَأً فَتَحرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ اِلَي اَهلِهِ (الف) (آيت۹۲ سورة النّساء ۴) په دې آيت کي

چي کُوم چا قتل کړئ دئ پر هغه دِيَت لازم شوئ دئ ددې څخه معلوم شوچي ضَائِع کونکئ به ضَامِن وي .
څوک چي دضائع کولوسبب جوړشي پرهغه هم ضَمَان راتلائي شي دليل يې دادئ. عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ(ﷺ)قَالَ مَن اَعتَقَ شَرَکًا لَهُ فِي عَبدِفَکَانَ لَهُ مَالٌ يَبلُغُ ثَمَنَ العَبدِ قُوِّمَ العَبدُ عَلَيهِ قِيمَةُ عَدلٍ فَأُعطِيَ شُرَکَا نُهُ حِصَصُهُم وَعُتِقَ عَلَيهِ العَبدُ (ب)

حاشيه : (الف) چاچي په غلطي سره مؤمن قتل کړئ نو دهغه په بَدلَه کي مؤمن غُلاَم آزادوَل دئ او دِيَت دهغه و وَارِثَانُ ته اداء کول دئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل چې څوک مُشتَرَک غلام آزادکړي او دده سره دُومرَه مال وي چې دغُلاَم قيمت ته رسيږي نو پر ده به د غُلاَم عَادِلاَنَه قيمت لګول کيږي.او دده وشريکان ته به د دُوئي حِصّې ورکول کيږي.او پر آزادونکي به پُورَه غُلاَم آزاد شي .

[۲۹۶۹](۵) وَمَن اُکرِهَ عَلٰي اَن يَأ کُلَ المَيتَةَ اَو يَشرِبَ الخَمرَ فَأُکرِهَ عَلٰي ذَالِکَ بِحَبسٍ اَو بِضَربٍ اَو قَيدٍ لَم يَحِلّ لَهُ اِلاّ اَن يُکرَهَ بِمَا يَخَافُ مِنهُ عَلٰي نَفسِهِ اَو عَلٰي عُضوٍ مِّن اَعضَائِهِ فَاِذَا خَافَ ذَالِکَ وَسِعَهُ اَن يُقَدِّمَ عَلٰي مَا اُکرِهَ عَلَيهِ وَلاَيَسَعُهُ اَن يَصبِرَعَلٰي مَاتُوُعِّدَ بِهِ.

(بخاري شريف.باب اذا اعتق عبداً بين اثنين او امة بين الشرکاء ص۳۴۲نمبر۲۵۲۲) په دې حديث کي د شريک د آزادولو څخه دبَل نُقصَان شوئ دئ نو حضور (ﷺ) دَادِوَل وفرمايل چې دهغه بَل شريک دحِصّې قيمت دي دغه څوک اداء کړي چې غُلاَم يې آزاد کړئ دئ او دا حِصّه به هم دده لخوا آزاد شي.ددې څخه معلوم شوچي د کُوم چا په سبب نُقصَان شوئ وي پر هغه باندي ضَمَان لازم کيږلائي شي.دلته د مجبوره کونکي لسبب او دهغه په وجه ضائع شوئ دئ نو چې مجبوره کړې دئ بائع ددغه څخه هم ضَمَان اخستلائي شي .
[۲۹۶۹](۵) که پر دې خبره مجبوره کړئ چې مُردَار شوئ دي وَخُورِي يا دي شَرَاب وچيښي.او پر دغه يې مجبوره کړئ وي په حَبس کولو.يا قَتل کولو.يا قَيدکولو سره نو دده لپاره حلال نَه دي مګر چې په دَادِوَل دَمګئ يې مجبوره کړي چې د نَفس خَوف وي يا پر اَندَام ببره وي.که ددې ببره وي نو دده لپاره جواز شته چې پر هغه شِي اِقدَام وکړي کُوم چې دئ يې پر مجبوره کړئ دئ.او دده لپاره ګنجائش نشته چې پر دَمګئ صَبر وکړي .
تشريح : د حرام شِيَانُ پر خوړلو باندې مجبوره کړئ.مثلاً دا چې د مُردَار شوي پر خوړولو يا د شَرَاب پر چيښلو باندې مجبوره کړئ نو که چيري د قَيد کولو يا د لَرِ دِبر وَهَلُو دَمګئ يې ورکړه نو ددې څخه د دغه شِيَانُو د خوړلو ګنجائش نَه پيدا کيږي.البته! که دقَتل دَمګئ ورکړه يايې د عُضو(اَندَام)د پرېکېدو دَمګئ ورکړه او دا غَالِب ګمان وي چې دغه دَوَل کوي نو بيا دده لپاره ګنجائش شته چې مُردَار وخوري

[۲۹۷۰](۶) فَاِن صَبَرَ حَتّٰي اَوقَعُوا بِهِ وَ لَم يَأ كُل فَهُوَ آثِمٌ .

يا شراب وچيبني.اُوس دده لپاره ځان(نَفس)وركول يا عُضو پرېكول جواز نَه لري .
وجه : (۱) ددې شِيَانُ حُرمَت ډېر سَخت دئ نوځكه كه چيري سَختَه دَمگئ وي بيا حلاليږي كه نَه نو نَه حلاليږي.په آيت كي و دې ته اِشَارَه شوې ده. اِنّمَا حَرّمَ عَلَيكُمُ المَيتَةَ وَالدّمَ وَلَحمَ الخِنزِيرِ وَمَا أُهِلّ بِهِ لِغَيرِ الله فَمَنِ اِضطُرّ غَيرَ بَاغٍ وَلاَعَادٍ فَلاَ اِثمَ عَلَيهِ اِنّ اللهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ (الف) (آيت۱۷۳ سورة البقرة۲) په دې آيت كي دئ چي تر ضرورت دي زِيَاتَه نَه خوري.او د مجبورئ تفسير دادئ چي د خُوَرلُو بَل هيڅ شَئ نَه وي او د لُوَړي څخه د مَرگ خطره پيدا شوې وي نو بيا د خُوَرلُو گنجائش شته (۲) په بَل آيت كي ددې وَضَاحَت شوئ دئ. حُرّمَت عَلَيكُمُ المَيتَةُ وَالدّمُ وَلَحمُ الخِنزِيرِ ... فَمَنِ اِضطُرّ فِي مَخمَصَةٍ غَيرَ مُتَجَانِفٍ لِاثمٍ فَاِنّ اللهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ (ب) (آيت۳ سورة المائدة ۵) په دې آيت كي دئ چي په مَخمَصَه كي وي يعني نَس او غبټه يې دُومرَه خالي وي چي د مَرگ خطره يې وي نو بيا جائز دئ.په دَاوَل حال كي هم اِحتِيَاط ضروري دئ چي د ضرورت څخه زِيَاتَ دي نَه خوري چي و گُنَاه ته مَائِل نَه شي.نوځكه كه د نَفس دختم كېدو يا د اَندَام دپرېكېدو خطره وي نو بيا د خُوَرلُو جواز شته .
لغت : يَقدِمُ : اِقدَام دي وكړي.هغه كار دي وكړي. تُوعِّدُ : د وَعدٌ څخه مُشتَق دئ. دَمگئ وركړي .
[۲۹۷۰](۶) كه چيري صَبر وكړي تر دې چي دده سره هغه كار وكړي بيايې هم وَنَه خوري نو دئ گناه گار دئ .
تشريح : د قتل كولو يا د عُضو د پرېكېدو دَمگئ يې وركړه بيا هم ده نَه مُردَار وخوړئ او نَه يې شَرَاب وچيښل.نتيجةً مجبوره كونكي قَتل كړئ يايې عُضو ورپرېكړه نو دغه نَه

حاشيه : (الف) پر تاسو حرام كړل شوي دي مُردَار او وينَه او دخِنزير غُوښَه او پر كُوم چي دغَيرُالله نوم اخستل شوئ وي.نوځوک چي مجبوره كړل شو. لَذّت پَلټُونكئ نَه وي او نَه تر حَد زِيَات خوړونكئ وي نو پر هغه هيڅ گناه نشته.الله تعالٰي معافونكئ دئ (ب) پر تاسو حرام كړل شوي دي مُردَار او وينَه او دخِنزِير غُوښَه ... نو چي په مَخمَصَه كي مجبوره شي وگناه ته مَيلاَن كونكئ نَه وي نو الله تعالٰي معافونكئ دئ .

[۲۹۷۱](۷) وَ اِذَا اُكرِهَ عَلَي الكُفرِ بِاللهِ تَعَالٰي اَو بِسَبّ النّبِيّ عَلَيهِ السّلاَمُ بِقَيدٍ اَو حَبسٍ اَو ضَربٍ لَم يَكُن ذَالِكَ اِكرَاهًا حَتّٰي يُكرَهَ بِاَمرٍ يَخَافُ مِنهُ عَلٰي نَفسِهِ اَو عَلٰي عُضوٍ مِّن اَعضَائِهِ فَاِذَا خَافَ عَلٰي ذَالِكَ وَسِعَهُ اَن يُظهِرَ مَا اَمَرُوهُ بِهِ وَيُوَرّي .

خوړونكئ اِنسَان گناهگار دئ .
وجه : په تېرشوي آيت كي وُ فلاَ اِثمَ عَلَيهِ چي په دَاوَل صورت كي كه مُردَار شوئ وخوري يا شَرَاب وچيښي نو گناهگار نَه دئ گواكه دغه شَئ دده لپاره حلال شو. اُوس كه حلال شَئ وَنَه خوري او ځان وركړي يعني مَړ شي يا عُضو پرېكړي نو دا دده لپاره بنَه

کار نَه دئ.بغیره کومي وجه او ضرورت نَفس قتلولو او یا اَندَام پرېکولو څخه اِنسَان ګناهګار دئ.نوځکه دَلتَه د صَبر کولو ګنجائش نشته دغه شَئ خوړل ضرروي دئ. د ګناه لازمېدلو دلیل دا آیت دئ وَاَنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللهِ وَلاَتُلقُوا بِاَيدِيكُم اِلَي التَّهلُكَةِ (الف) (آیت ۱۹۵سورة البقرة۲) په دې آیت کي دئ چي په قَصداً خپل ځان په هَلاَکَت کي مَه غُوَرزَوَئ.ددې څخه معلوم شوچي حَلاَل شَئ نَه خوړل خپل نَفس یا یَو اَندَام ختم کول د ګناه کار دئ.او د قَتل د دَمګئ په وجه دغه حرام شِيَان دده لپاره حلال شوي وُ .

لغت : اَوقَعُوا : د وَقَعَ څخه مُشتَق دئ.په هغه کې وَاقِع کېږئ.هغه کار یې وکړئ کُوم چي دَمګئ یې ورکوله. آثِمٌ : ګناه ګار .

[۲۹۷۱](۷) که مجبوره کېږئ د الله سره پر کُفر کولو یا وحضور (ﷺ) ته پر بښکنزا کولو باندي په قَید یا حَبس یا په وَهَلُو سره نو دا اِکرَاه نَه ده.تر هغو چي په دَاِدَوَل دَمګئ سره مجبوره کېږي چي پر خپل نَفس ببره وي یا پر یَو اَندَام باندي.که چیري دغه ببره وي نو دده لپاره ګنجائش شته چي هغه خبره بښکاره کړي کُوم چي ده ته حُکم ورکړئ دئ او تَورِیَه دي وکړي .

حاشیه : (الف) د الله په لاَرَه کي مَصرَف کوئ او په خپل لاَس ځانونه په هَلاَکت کي مَه اَچَوئ .

تشریح : ددې مسئلي مطالبه د تیري شوي مسئلي څخه زیاته مُهِمّ ده.په تېره مسئله کي دحرام شِي د خوړلو مطالبه وه.په دې مسئله کي خو د اِیمَان څخه د بَرَأت مطالبه ده.دغه مجبوره کونکئ دالله تعالْي سره دکُفرکولو یا حضور (ﷺ) ته بَدّه رَدّه وَینَا کولو مطالبه کوي.نوځکه په وَهَلُو یا قَید کولو سره اِکرَاه نَه شمېرل کیږي.بلکه که دقَتل دَمګئ وي یا دعُضوِ د پرېکېدو دَمګئ وي نو بیا اِکرَاه ده.او په دَاِدَوَل صورت کي ده ته ګُنجَائِش شته چي د کُفر لفظ په زَبَه سره وَوَایِي لېکن زَړَه به د اِیمَان څخه ډَک وي.که چیري په زَړَه سره کُفر وکړئ یایې حضور (ﷺ) ته بَدَه رَدّه وَینَا وکړه نو اِیمَان یې ختم شو .

وجه : (۱) په آیت کي ددې ثبوت شته. مَن كَفَرَ بِاللهِ مِن بَعدِ اِيمَانِهِ اِلاّ مَن اُكرِهَ وَقَلبُهُ مُطمَئِنّ بِالاِيمَانِ وَلٰكِن مَن شَرَحَ بِالكُفرِ صَدراً فَعَلَيهِم غَضَبٌ مِّنَ اللهِ وَلَهُم عَذَابٌ عَظِيمٌ (الف) (آیت۱۰۶سورة النحل ۱۶) په دې آیت کي دئ چي څوک یې مجبوره کړئ او او هغه د کُفر لَفظ ووایي په دې شرط چي زړه یې په اِیمَان سره مُطمَئِن وي نو په دې کي کُوم حرج نشته.البته که په زړه سره د کُفر یقین وکړئ نو هغه بیا کَافِر دئ او دهغه لپاره عَذَابِ عَظِیم دئ (۲) په حدیث کي دئ چي حضرت عَمّار بن یَاسِر کافرانُ تینګ کړئ او کُفر یې په وکړئ او نَعُوذُبِاللهِ وحضور (ﷺ) ته بَدّه رَدّه وَینَا په وکړه.لېکن دده زړه د اِیمَان څخه ډَک وُ نو حضور (ﷺ) وفرمایل په دي کي هیڅ حَرَج نشته.دُوبَارَه که چیري بیا دغه دَوَل موقع راغله بیا هم دَغَه دَوَل وکه.حدیث دادئ. عَن اَبِي عُبَيدَةَ بنِ مُحَمّدِ بنِ عَمّارِ بنِ يَاسِرٍ عَن اَبِيهِ قَالَ اَخَذَ المُشرِكُونَ عَمّارَ بنِ يَاسِرٍ فَلَم يُترَكُوهُ حَتّي سَبّ النّبِيّ (ﷺ) وَذَكَرَ آلِهَتَهُم بِخَيرٍ ثُمّ تَرَكُوهُ فَلَمّا اَتَي رَسُولَ اللهِ

(ﷺ) قَالَ مَا وَرَائَکَ؟ قَالَ شَرّ يَارَسُولَ اللهِ مَا تُرِکتُ حَتّي نِلتُ مِنکَ وَذَکَرتُ آلِهَتَهُم بِخَيرٍ قَالَ:کَيفَ تَجِدُقَلبَکَ؟قَالَ مُطمَئِنّ بِالإِيمَانِ

حاشيه : (الف) کُوم چاچي د اِيمَان وروسته د الله سره کُفر وکړئ. مګر دا چي مجبوره کړي وي او دده زَړَه په اِيمَان سره مُطمَئِن وي نو هيڅ حرج نَه لري.لېکن د کُوم چاچي د کُفر لپاره شَرحِ صَدر شوئ وي پر هغه د الله غَضَب دئ او د هغوئي لپاره غَټ عَذَاب دئ .

[۲۹۷۲](۸) فَإِذَا ظَهَرَ ذَالِکَ وَ قَلبُهُ مُطمَئِنّ بِالإِيمَانِ فَلاَ اِثمَ عَلَيهِ وَ اِن صَبَرَ حَتّي قُتِلَ وَ لَم يُظهِرِ الکُفرَ کَانَ مَاجُوراً .

قَالَ عَادُوا فَعُد (الف) (مستدرک للحاکم.تفسيرسورة النحل ۱۶ ج۲ ص۳۹۸نمبر۳۳۶۲) ددې حديث څخه معلوم شوچي که ډېر زيات مجبوره کړي. زړه يې د اِيمَان څخه ډَک وي نو د تَورِيَه په توګه د کُفر لفظ ويلائي شي يا و حضور (ﷺ) ته بَدّه رَدّه وَينَا کولائي شي .
لغت : سَبّ : بنکَنزَا.چَپ رَد ويل. وَسِعَهُ : هغه ته ګنجائش شته.دهغه لپاره جواز شته. يُوَرّي : د تَورِيَه څخه مُشتَق دئ.دَاډَوَل جُمله ويل چي مُخَاطَب دخپل مطلب معنْي ځيني واخلي حالانکه قَائِل دهغه څخه بَل مطلب اخستئ وي .
[۲۹۷۲](۸) که چيري بنکاره کړي او دده زړه په اِيمَان سره مُطمَئِن وي نو پر ده هيڅ ډَوَل ګناه نشته.او که ده صَبر وکړئ تر دې چي قَتل يې کړئ او کُفر يې نَه کړئ بنکاره نو ده ته به اَجر ملاؤشي .
تشريح : چي په زړه کې اِيمَان وي او صِرف دبيري څخه کُفر ووايي نو ګناه نَه لري .
وجه : مخته آيت او حديث دواړه تېرشوي دي چي په زړه کې اِيمَان وي هغه ته حضور(ﷺ) وفرمايل که چيري دُوبَارَه دغه ډَوَل موقَع راشي نو دُوبَارَه دغه ډول وکه يعني کُفر ووايَه.او په آيت کي وُ. اِلاّ مَن اُکرِهَ وَقَلبُهُ مُطمَئِنّ بِالإِيمَانِ ددې څخه معلوميږي چي ګناه به نَه وي .
او که د کُفر لفظ وَنَه وايئ او قتل شو نو ثواب به ورته ملاؤشي ګناه نشته .

حاشيه : (الف) عَمّار بن ياسِر فرمايي چي دئ مُشرِکَانُ تِينګ کړئ اوحضور ته د بَدّرَ ډَ وَينَا کولو بغيره پرې نَه ښوئ.او د دُوئي و مَعبُودَانُ ته ښَه وَينَا وکړه بيايي دئ پرېښوئ.چي کوم وخت دئ حضور ته راغلئ نو پُوښتَنَه ځيني وکړه چي شَا ته څَه قِصّه وه؟ وويل يارسول الله! شَرّ وُ. تر هغه وخته نَه پرېښوم تر څو چي تاته مِي بَدّ رَدّه وَينَا نَه وکړه او د دُوئي ومعبودان ته مِي ښَه وَنَه ويل.حضور پُوښتَنَه ځيني وکړه هغه وخت ستاد زړه څَه کَيفِيّت وُ؟وويل چي په اِيمَان سره مُطمَئِن وُ.حضور وفرمايل که چيري بيا دغه ډَوَل موقع راغله دَغَه ډَوَل وکه .

[۲۹۷۳](۹) وَ اِن اُکرِهَ عَلْي اِتلاَفِ مَالِ مُسلِمٍ بِاَمرٍ يَخَافُ مِنهُ عَلْي نَفسِهِ اَو عَلْي عُضوٍ مِن اَعضَائِهِ وَسِعَهُ اَن يَفعَلَ ذَالِکَ وَلِصَاحِبِ المَالِ اَن يُضَمّنَ المُکرِهَ .

وجه : (١) ددې دَمګۍ بَاوُجُود کُفر حلال شوئ نَه دئ ځکه خو وفرمايل چې د تَورِيَه ځخه دي کار واخلي.چې حلال شوئ نَه دئ په دغه وجه که قتل کړئ نو ثواب به ورته ملاؤشي (٢) په حديث کې ددې ثبوت شته.عَن خَبّابِ بِنِ الاَرَتَ قَالَ شَکَونَا اِلَي رَسُولِ اللهِ (ﷺ) وَهُوَ مُتَوَسِّدٌ بُردَةٌ لَهُ فِي ظِلِّ الکَعبَةِ فَقُلنَا اَلاَ تَستَنصِرلَنَا؟ اَلاَ تَدعُو لَنَا؟ فَقَالَ قَد کَانَ مِن قَبلِکُم يُوخَذُ الرّجُلُ فَيُحفَرُ لَهُ فِي الاَرضِ فَيُجعَلُ فِيهَا فَيُجَاءُ بِالمِنشَارِ فَيُوضَعُ عَلَي رَأسِهِ فَيُجعَلُ نِصفَينِ وَيُمشِطُ بِامشَاطِ الحَدِيدِ مِن دُونِ لَحمِهِ وَعَظمِهِ فَمَا يَصُدّهُ ذَالِکَ عَن دِينِهِ (الف) (بخاري شريف.باب من اختار الضرب والقتل والهوان علي الکُفر ص١٠٢٦نمبر٦٩٤٣) په دې حديث کې دئ چې پر سَر يې آرَه وروچلوله خو بيايي هم اِيمَان نَه پرېښوئ. او حضور (ﷺ) دهغه تعريف کړئ دئ.ددې ځخه معلوم شوچې کُفر ونَه وايي او ځان قُربَان کړي نو ثواب به ورته ملاؤ شي .

[٢٩٧٣](٩) که دمسلمان د مَال پر ضائع کولو مجبوره کړئ په دَاوَل دَمګۍ سره چې دهغه ځخه د ځان يا د يَو اَندَام ببره وي.دهغه لپاره ګنجائش شته چې دغه وکړي.او د مَال د مَالِک لپاره ګنجائش شته چې د مجبوره کونکي ځخه تَاوَان واخلي .

حاشيه : (الف) خبّاب بن اَرَت فرمايي چې حضور د کعبې په سَايَه کي د پَټُو ځخه تَکيَه جوړ کړي وه چې مَا د حالاتُ شکايت وکړئ.مَا وويل آيا تَه زمونږ لپاره مرسته نَه غُوَاړي؟ آيا تَه زمونږ لپاره دُعَاء نَه کوي؟ نو وفرمايل ستاسو ځخه مخکي به خلګ نِيوَل کېدل.دهغه لپاره مځکه کِندَل کېده او په هغه کي به اَچَوَل کېدئ. بيا به آرَه راوړل کېده او دده پر سَر به اِيښُوَل کېده او دُوي ټکړي به کاوئ.او د وَسپِينې په رُمُونځ به دده غُوَښې او هَډُوکِي ځيرل کېدل خو بيايي هم دئ د دِين ځخه نَه شو منع کولائي .

[٢٩٧٤](١٠) وَ اِن اُکرِهَ بِقَتلٍ عَلَي قَتلِ غَيرِهِ لَم يَسَعَهُ اَن يَقدِمَ عَلَيهِ وَيَصبِرُ حَتّي يُقتَلَ فَاِن قَتَلَهُ کَانَ آثِمًا .

تشريح : دا اِکرَاه د تېرو مسئلو ځخه آسان ده.په دې کي يَوچَا دمسلمان د مَال پر ضائع کولو مجبوره کړئ او مجبوره هم دَاوَل کړئ چې د قَتل يا د اَندَام د پرېکېدو دَمګۍ يې ورکړه.په دَاوَل صورت کي ده ته ګنجائش شته چې دهغه مَال ضائع کړي او خپل نَفس يعني ځان محفوظ وساتي.بيا دمَال و مَالِک ته دُوَه اختيارات شته يا دي د ضائع کونکي ځخه ضَمَان واخلي يا چې کُوم چا مجبوره کړئ دئ دهغه ځخه ضَمَان واخلي .

وجه : (١) د مال د ضائع کولو اِجَازَت خو به په دې وجه ورته ملاؤشي چې د مجبورئ پر وخت د بَل چَا مَال خوړل حلال ګرزي.دغه دَوَل د حرام شيانُ خوړل هم حلال شي.نوځکه د بَل چا مَال ضائع کول به هم حلال شي (٢) په آيت کي دئ. اِنّمَا حَرّمَ عَلَيکُمُ المَيتَةَ وَالدّمَ وَلَحمَ الخِنزِيرِ وَمَا اُهِلّ بِهِ لِغَيرِ اللهِ فَمَنِ اِضطُرّ غَيرَ بَاغٍ وَلاَعَادٍ فَلاَ اِثمَ عَلَيهِ اِنّ اللهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ (الف) (آيت١٧٣ سورة البقرة٢) په دې آيت کي دئ

چي اِنسَان مجبوره شي نو حرام شَئ هم حلال ګرزي او دهغه په استعمالولو کي هيڅ ګناه نشته.قياس پر دغه دبَل چا مَال ضائع کول به هم حلال شي .
او د ضائع کونکي څخه ضَمَان اخستلائي شي او دمجبوره کونکي څخه هم ضَمَان اخستلائي شي ددې دليل مخته تېرشوئ دئ .
[۲۹۷۴](۱۰) که د قَتل په دَمګئ سره د بَل چا پر قَتل کولو مجبوره کړئ نو دده لپاره جواز نشته چي ددې اِقدَام وکړي.او صبر دي وکړي تر دې چي قَتل شي.که چيري هغه قتل کړئ نو ګناهګار دئ .

حاشيه : (الف) پر تاسو حرام کړل شوي دي مُردَار او وِينَه او دخِنزِير غُوښَه او پر کُوم چي دغَيرُالله نوم اخستل شوئ وي.نوڅوک چي مجبوره کړل شو. لَذَّت پَلټُونکئ نَه وي او نَه تر حَد زِيَات خوړونکئ وي نو پر هغه هيڅ ګناه نشته.الله تعالٰي معافونکئ دئ .

[۲۹۷۵](۱۱) وَ القِصَاصُ عَلْي الّذِي اَکرَهَهُ اِن کَانَ القَتلُ عَمَداً .

تشريح : يَوَه ظَالِم يوچا ته دقَتل دَمګئ ورکړه چي که د فُلاَنَئ قَتل نَه کړئ نو زَه تَا قَتل کوم. ددې قَتل د دَمګئ بَاوُجُود دده لپاره جواز نشته چي فُلاَنَئ قتل کړي بلکه صَبر دي وکړي او په خپله دي قتل شي.که چيري دغه مجبوره هغه فُلاَنَئ قتل کړئ نو ګناهګار به شي .
وجه : (۱) د بَل چا قتل په هيڅ حال کي جواز نَه لري.دلته خپل ځان بَچَاؤوَل او بَل څوک قتل کول به څَه رنګه جواز پيدا کړي؟ د دواړو نَفسُونَه په مُحتَرَم وَالِي کي سره برابر دي.نوځکه خپل ځان سَاتَل او بَل څوک قتل کول جواز نَه لري (۲) په آيت کي دئ. وَمَن يَقتُل مُؤمِنًا مُتَعَمِّداً فَجَزَاءُهُ جَهَنّمُ خَالِداً فِيهَا وَغَضِبَ اللهُ عَلَيهِ وَلَعَنَهُ وَ اَعَدّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا (الف) (آيت۹۳ سورة النساء ۴) په دې آيت کې د مؤمِن پر قتل کولو باندي څلور سَزَاګَانِ اَورَوَلِي دي.نوځکه د بَل چا قتل کول جواز نَه لري. دئ دي صَبر وکړي او په خپله دي قتل شي .
لغت : آثِمٌ : ګناهګار .
[۲۹۷۵](۱۱) او قِصاص به پر هغه وي چي مجبوره کړي دئ که قَتلِ عَمَد وُ .
تشريح : دغه قَاتِل او هغه مجبوره کونکئ دواړه ګناهګار دي.البته که مجبوره سړي په قَصداً قتل کړئ وُ نو قصاص به د مجبوره سړي څخه نَه اخستل کيږي بلکه کُوم چاچي مجبوره کړئ دئ يعني مُکرِه دهغه څخه به قِصَاص اخستل کيږي .
وجه : (۱) دې سړي خو په حقيقت کي قَتل نَه کاوئ د بَل چا د مجبوره کولو په وجه قتل وکړئ. نوځکه دغه قتل هم دهغه قتل په شَان شو کُوم چي په تېز آلَه سره قتل شوئ وي.او دا قاعده ده چي کُوم څوک آلَه استعمال کړي قِصَاص هم پر هغه لازميږي. غه رنګه دلته به هم پر مجبوره کونکي يعني مُکرِه باندي قصاص لازم

حاشيه : (الف) څوک چې په قَصداً مؤمن قتل کړي نو دهغه بَدلَه جَهَنّم دئ هغه به په دي کي همېشه وَسِيږي. پر هغه د الله غَضَب دئ او دالله لَعنَت دئ او دهغه لپاره غَټ عذاب تَيّار کړئ دئ .

[۲۹۷۶](۱۲) وَ اِن اُكرِهَ عَلٰي طَلاَقِ اِمرَأتِهِ اَو عِتقِ عَبدِهِ فَفَعَلَ وَقَعَ مَا اُكرِهَ عَلَيهِ .

شي (۲) په اَثَرکي دئ. قَالَ سَمِعتُ اَبَاهُرَيرَةَ يَقُولُ يُقتَلُ الحُرّ الآمِرُ وَلاَيُقتَلُ العَبدُ اَرَأيتَ لَو اَنّ رَجُلاً اَرسَلَ بِهَدِيّةٍ مَعَ عَبدِهِ اِلٰي رَجُلٍ مَن اَهدَاهَا؟ (الف) (مصنّف عبدالرّزاق.باب الّذي يأمرعبده فيقتل رجلا ج۹ص۴۲۶نمبر۱۷۸۸۸) په دې اَثَرکي دئ چې که آقَا وخپل غُلاَم ته دقتل حُکم وکړي نو په قِصَاص کي آقَا قتل کيږي.او دلته خو مجبوره کونکي پُوره او مُکَمّل مجبوره کړئ دئ.نو ځکه په درجه اَولٰي دغه مجبوره کونکئ قتل کيږي .

فائده : امامِ زفَر فرمايي چې په خپله قَاتِل به قتل کيږي .

وجه : (۱) ځکه چې اَصل خو دئ قاتِل دئ (۲) په اَثَرکي دئ. عَن عَطَاءَ فِي رَجُلٍ اَمَرَ رَجُلاً حُرّاً فَقَتَلَ رَجُلاً قَالَ يُقتَلُ القَاتِلُ وَلَيسَ عَلَي الآمِرِ شَئٌ (ب) (مصنّف عبدالرّزاق.باب الّذي يأمرعبده فيقتل رجلاً ج۹ص۴۲۵نمبر۱۷۸۸۲) په دې اَثَرکي دئ چې په خپله قَاتِل به قتل کيږي .

فائده : امامِ شافعي() فرمايي چې مجبوره کونکئ او کُوم چې مجبوره کړئ دئ دواړه به قتل کيږي .

وجه : (۱) د ده دليل مخته تېرشوي دواړه قِسم آثَار دي (۲) دئ فرمايي چې قَاتِل خو به په دې وجه قتل کيږي چې هغه قَتل کړئ دئ.او مجبوره کونکئ به په دې وجه قتل کيږي چې هغه د قَتل سَبَب ګرزېدلئ دئ .

[۲۹۷۶](۱۲) که دخپلي مَيني پر طلاق باندي مجبوره کړئ يايې د خپل غُلاَم پر آزادولواوهغه دَوَل يې وکړل نوپرکُومَه خبره چې مجبوره کړئ دئ هغه به وَاقِع شي.

حاشيه : (الف) حضرت ابوهريره به فرمايل چې که حُکم ورکونکئ آزاد وي نو هغه به قتل کيږي او که غُلاَم وُ نو نَه به قتل کيږي.که يَوڅوک د غُلاَم په لاَس چاته هَديَه وَاستَوِي نو د چا هَديَه شمېرل کيږي؟يعني د اَستَوُنکي (ب) حضرت عطاء وفرمايل يَو چا د آزاد سړي د قتل حُکم ورکړئ.هغه قَتل کړئ.وفرمايل قَاتِل به قتل کيږي او چې حُکم يې ورکړئ دئ پر هغه هيڅ شَئ نشته .

تشريح : خپله مَينَه ته پر طلاق ورکولو مجبوره کړئ چې دهغه په وجه مېړه طلاق ورکړئ نو طلاق به وَاقِع شي.دغه رنګه دغُلاَم پر آزادولو مجبوره کړئ او مَالِک خپل غُلاَم آزاد کړئ نو غُلاَم به آزاد شي اُوس نَه شي وَاپَس کېدلائي .

وجه : (۱) مخکي اُصُول تېرشوئ دئ چې طلاق.نِکاح.رَجعَت او آزادي د ژبې څخه د وَتَلُو سره سَم دَستِي واقع کيږي که په مَذَاق کي ووايي او که په حقيقت سره. نوځکه د مجبوره کولو په وجه چې څه رنګه د طلاق لفظ يا د آزادئ لفظ په ژَبَه سره اداء کړي په هغه وخت طلاق واقِع کيږي او آزادي هم واقِع کيږي (۲) حديث مخته تېرشوئ دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺثَلاثٌ جِدّهُنّ جِدٌ وَهَزلُهُنّ جِدّ اَلنِّكَاحُ وَالطّلاَقُ وَالرّجعَةُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في الطلاق علٰي الهَزلِ ص۳۰۶نمبر۲۱۹۴/ ترمذي

شريف.باب ماجاء في الجِدّ وَالهَزلِ ص۲۲۵نمبر۱۱۸۴) ددې حديث څخه معلوم شوچې په مَذَاق او ګَپَه کې طلاق ورکړي هغه هم واقِع کيږي.اودلته خودځان د بَچَاؤوپدلو لپاره طلاق ورکوي نوځکه دا هم واقِع کيږي (۳) په اَثَر کې راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ هُوَ(يَعنِي طَلَاقُ المُکرَهِ)جَائِزٌ اِنّمَا هُوَ شَئٌ اِفتَدْي بِهِ نَفسَهُ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۴۸ من كان يرْي طلاق المكره جائزا ج۴ص۸۵نمبر۱۸۰۳۵/ مصنف عبدالرزاق.باب طلاق المكره ج۶ص۴۱۰نمبر۱۱۴۱۹/ ۱۱۴۲۰) ددې اَثَرڅخه معلوم شو چې په مجبوري کې ورکړئ طلاق واقِع کيږي (۴) ده د خپل ځان يعني نَفس او طلاق څخه يَو مُختَارَ کړئ نو ګواکه په خپل اختِيَار سره طلاق ورکړئ دئ نو ځکه وَاقِع کيږي .

فائده : د امامِ شافعي ؒ په نېز په مجبورئ کې ورکړئ طلاق نَه واقِع کيږي .

وجه : (۱) په حديث کې دئ. سَمِعتُ عَائِشَةَ تَقُولُ: سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ يَقُولُ: لاَطَلاَقَ وَلاَعِتَاقَ فِي اِغلاَقٍ (ج) (ابوداؤدشريف.باب في الطلاق علْي غلط ص۳۰۵نمبر۲۱۹۳/

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل دري شيان حقيقت يې هم حقيت دئ او دهغه مَذَاق هم حقيقت دئ. نکاح.طلاق او رَجعَت (ب) دحضرت ابراهيم قول دئ. وفرمايل چې زَبَردَستِي پرشوي وي دهغه طلاق واقع دئ. ګواکه ده د خپل ځان په بَدلَه کې فِديَه ورکړه (ج) حضور(ﷺ) فرمايي چې په زُور او زَبَردَستِي طلاق او آزادي نَه واقِع کيږي .

[۲۹۷۷](۱۳) وَ يَرجِعُ عَلْي الّذِي اَکرَهَهُ بِقِيمَةِ العَبدِ وَ يَرجِعُ بِنِصفِ مَهرِ المَرأةِ اِن کَانَ قَبلَ الدّخُولِ .

ابن ماجه شريف.باب طلاق المكره والنّاسِي ص۲۹۳نمبر۲۰۴۶) په بَل رِوَايَت کې دئ. عَن اَبِي ذَرّ الغِفَارِيّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِنّ اللهَ تَجَاوَزَ لِي عَن اُمّتِي اَلخَطَاءُ وَالنِّسيَانُ وَمَا اِستَکرَهُوا عَلَيهِ (الف) (ابن ماجه شريف.باب طلاق المكره والنّاسِي ص۲۹۳نمبر۲۰۴۳/ بخاري شريف.باب الطلاق في الاغلاق والكره ص۷۹۳نمبر۵۲۶۹) ددې حديث او دبخاري د اَثَر څخه معلوم شوچې مجبوره کړې وي دهغه طلاق او آزادي نَه واقِع کيږي .

[۲۹۷۷](۱۳) او کُوم چاچې مجبوره کړئ دئ دهغه څخه به دغُلاَم قيمت اَخلِي او د بِي بِي نِيمَئ مَهر که د دُخُول څخه مخکي وُ .

وجه : (۱) مجبورَ سړي غُلاَم نَه آزادا وئ چاچې مجبوره کړئ دئ دهغه په وجه آزاد کړئ دئ نو ګواکه هغه دغه نُقصَان ورکړئ لِهْذَا چې د غُلاَم څومره قيمت وي هغه به ددغه مجبوره کونکي سړي څخه وُصُولوي.دغه رنګه د وَطِي څخه مخکې طلاق په وَاقِع کړئ چې دهغه په وجه و مېړه ته هيڅ شَئ ملاؤ نَه شو او نِيمَئ مَهر بِي دځان څخه ورکړئ نوځکه دغه نُقصَان به هم د مجبوره کونکي سړي څخه اَخلِي. ځکه چې دهغه د مجبوره کولو په وجه دغه نُقصَان شوئ دئ (۲) مخته اَثَر تېرشوئ دئ. قَالَ سَمِعتُ اَبَاهُرَيرَةَ يَقُولُ يُقتَلُ الحُرّ الآمِرُ وَلاَيُقتَلُ العَبدُ اَرَأيتَ لَو اَنّ رَجُلاً اَرسَلَ بِهَدِيّةٍ مَعَ عَبدِهِ اِلْي رَجُلِ مَن اَهدَاهَا؟ (ب) (مصنّف عبدالرّزاق.باب الّذي يأمرعبده فيقتل رجلا

ج۹ص۴۲۶نمبر۱۷۸۸۸) په دې اَثَرکې غُلاَم نَه دئ قتل کړئ بلکه چې ددې قَتل حُکم يې ورکړئ دئ هغه يې قَتل کړئ دئ ځکه چې هغه اَصل دئ.نو دغه دَوَل

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل الله تعالٰي زُومَا د اُمّت څخه خَطَاء او نِسيَان معاف کړي دي او چې زَبَردَستِي ورسره وکړي هغه يې هم معاف کړئ دئ (ب) حضرت ابوهريره به فرمايل چې که حُکم ورکونکئ آزاد وي نو هغه به قتل کيږي او که غُلاَم وُ نو نَه به قتل کيږي.که يَوڅوک د غُلاَم په لاَس چاته هَديَه وَاستَوي نو د چا هَديَه شمېرل کيږي؟يعني د اَستَوُنکي .

[۲۹۷۸](۱۴) وَ اِن اُکرِهَ عَلٰي الزِّنَا وَجَبَ عَلَيهِ الحَدّ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي اِلاّ اَن يُکرِهَهُ السّلطَانُ وَقَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰي لاَيَلزِمُهُ الحَدّ .

دلته به هم دمجبوره کونکي څخه مَهر او د غُلاَم قيمت اَخَستَل کيږي ځکه چې په اَصل کي نُقصَان رسونکئ هغه دي (۳) او چې يَو شريک غُلاَم آزاد کړي نو هغه بَل شريک ته حَق شته چې د آزادونکي شريک څخه نُقصَان وصول کړي ځکه چې هغه د نُقصَان سبب ګرزېدلئ دئ.تفصيل يې په دې حديث کي دئ. عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ مَن اَعتَقَ شَرَکًا لَهُ فِي عَبدٍ فَکَانَ لَهُ مَالٌ يَبلُغُ ثَمَنَ العَبدِ قُوّمَ العَبدُ عَلَيهِ قِيمَةُ عَدلٍ فَأُعطِيَ شُرَکَا نُهُ حِصَصُهُم وَعُتِقَ عَلَيهِ العَبدُ (الف) (بخاري شريف.باب اذا اعتق عبداً بين اثنين او امة بين الشرکاء ص۳۴۲نمبر۲۵۲۲/مسلم شريف.باب من اعتق شرکاء له في عبدٍ ص۴۹۱نمبر۱۵۰۱) په دې حديث کي کُوم چاچي آزاد کړئ دئ هغه نُقصَان کړئ دئ نوځکه تَاوَان يې هم هغه اداء کړئ دئ .

[۲۹۷۸](۱۴) که پر زِنَاء کولو مجبوره کړئ نو پر ده حَد وَاجِب دئ د امام ابوحنيفه په نېز مګر دا چې بَاچَايې مجبوره کړي.او صاحبين (رح) فرمايي چې پر ده حَد نَه واجبيږي .

تشريح : د بنځي سره په زُور او زَبَردَستِي زِنَاء وکړه نو پر هغه حَد نشته.ځکه چې دهغې سره زَبَردَستِي کېدلائي شي.لېکن نَر يې مجبوره کړئ دهغه په وجه نَر زِنَاء وکړه نو د آلَه اِنتِشَارخوپه خپله د زِنَاء کونکي دا شوئ دئ لِهٰذَاپرده حَد وَاجِب دئ .

فائده : صاحبين (رح) فرمايي چې حَد نَه لازميږي .

وجه : (۱) ځکه چې حَدخودشُبهَاتُ په وجه ساقطيږي.اودلته شُبهَه شته چې ده خو

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل چې څوک مُشتَرَک غلام آزادکړي او دده سره دُومرَه مال وي چې دغُلاَم قيمت ته رسيږي نو پر ده به د غُلاَم عَادِلانَه قيمت لګول کيږي.او دده وشريکان ته به د دُوئي حِصّي ورکول کيږي.او پر آزادونکي به پُورَه غُلاَم آزاد شي.

[۲۹۷۹](۱۵) وَ اِذَا اُکرِهَ عَلٰي الرِّدّةِ لَم تَبِن اِمرَاَ تُهُ مِنهُ .

په خپله زِنَاءنَه ده کړي لِهٰذَا حَد نَه واجبيږي (۲) په آيت کي دئ. وَلاَتُکرِهُوا فَتَيَاتِکُم عَلَي البِغَاءِ اِن اَرَدنَ تَحَصّنًا لِّتَبتَغُوا عَرَضَ الحَيٰوةِ الدّنيَا وَمَن يُکرِههُنّ فَاِنّ اللهَ مِن بَعدِ

اِكرَاهِهِنّ غَفُورٌ رَحِيمٌ (الف) (آيت۳۳ سورة النّور۲۴) په دې آيت کي دئ چې په مجبوري کې زِنَاء کړې وي نو الله تعالٰي به معاف کړي.او چې حَد حقوق الله دئ نو هغه به هم معاف شي (۳) په حديث کي دئ. اَنّ صَفِيّةَ بِنتِ اَبِي عُبَيدٍ اَخبَرَتهُ اَنّ عَبداً مِن رَقِيقِ الاَمَارَةِ وَقَعَ عَلٰي وَلِيدَةٍ مِنَ الخُمسِ فَاستَكرَهَهَا حَتّٰي اِقتَضَهَا فَجَلَدَهُ عُمَرُ الحَدّ وَنَفَاهُ وَلَم يُجلِدِالوَلِيدَةَ مِن اَجلِ اَنّهُ اِستَكرَهَا (ب) (بخاري شريف.باب اذا استكرهت المرأة علٰي الزّنَافلاحدعليها ص۱۰۲۷نمبر۶۹۴۹) ددې حديث څخه معلوم شوچي بَل څوک يې مجبوره کړي پر هغه حَد نشته .

[۲۹۷۹](۱۵) که پر مُرتَد وَالِي مجبوره کړئ نو دده مَينَه نَه بَائِنَه کيږي .

وجه : (۱) مخته آيت تېرشوئ دئ دهغه څخه معلوم شوچي د زړه په کُومِي او اِخلاَص سره د کُفر اِعتِقَاد نَه وي کړئ.دمجبورئ په وجه صِرف په ژَبَه سره د کُفر کلمه وويل نو هغه د سَرَه مُرتَد شوئ نَه دئ. دهغه مَينَه دهغه څخه نِ ه جلا کيږي او نَه نِکَاح ختميږي.آيت دادئ. مَن كَفَرَ بِاللهِ مِن بَعدِ اِيمَانِهِ اِلاّ مَن اُكرِهَ وَقَلبُهُ مُطمَئِنّ بِالاِيمَانِ (ج) (آيت۱۰۶سورة النحل ۱۶) ددې آيت څخه معلوم شوچي زړه يې د اِيمَان څخه ډَک وي هغه نَه گَافِر کيږي نوځکه نِکَاح يې هم نَه ختميږي (۲) د حضرت عمّار بن

حاشيه : (الف) خپلې مينځې پر زِناء کولو مَه مجبوره کوئ که چيري دُوئي خُانونه پاک سَاتِي چې تاسو خُان ته د دُنيَا د ژُوَند سَامَان پَيدَا کئ.او څوک چې مينځې مجبوره کوي نو الله د دُوئي د مجبورئ په وجه معافونکئ دئ(ب) د اَمَارَت يوه غُلاَم دخُمس ديوي مينځې سره زِنَاء وکړه او دايې مجبوره کړه څوچې ضرورت يې پوره کئ نو حضرت عمر هغه ته حَد ولګاوئ او بَندِي يې کړئ او مينځه په کورو نَه وَرَهَلَه څکه چې هغه يې مجبوره کړې وه (ج) کُوم چاچې د اِيمَان وروسته د الله سره کُفر وکړئ. مګر دا چې مجبوره کړې وي او دده زَړَه په اِيمَان سره مُطمَئِن وي .

يَاسِر والا حديث چې مخته تېرشو په هغه کي هم حضور (ﷺ) وفرمايل چې که دُويَم وار بيا دغه دَوَل ضرورت پيښ شو نو بيا دغه دَوَل وکه.ددې څخه معلوم شو چې نِکاح نَه ختميږي (مُستَدرَک حاکم.تفسيرسورة النّحل ۱۶ ج۲ص۳۸۹نمبر۳۳۶۲)

لغت : تَبِنَ : د بَانَ څخه مُشتَق دئ جَلاَ کيدل.نِکَاح ختم کيدل .

●

● ●

اَبُوالحُسَين عبدالمتين قُطب
عفي عنه وعن والديه
﴿... كِتَابُ السِّيَرِ ...﴾

﴿... كِتَابُ السِّيَرِ ...﴾

ضروري پام لرنه : سِيَرٌ د سِيرَةٌ جمع ده.ددې معنْي ده عَادَت.اَخلاَق.لېکن اُوس محال د سِيرٌ لفظ پر دې خبره ويل کيږي چې جهاد کوم وخت واجِب دئ؟د کُوم چاسره وَاجِب دئ؟ او په جِهَاد کي به دکَافِرَانُ سره څه دَوَل معامله او چَلَن کيږي دې ته سِيَر وايي. د جهاد دُوَه قِسمُونَه دي.جهاد اِقدَامِي او جهاد دِفَاعِي.که کافِر پر مسلمان باندي حَملَه وکړي نو دهغوئي سره جهاد ته وَتَلُو ته دِفَاعِي جِهَاد وايي.دا پر نَر.بنځه او غُلاَم ټولو باندي فَرضِ عَين ګرزي.ځکه چې خپل ځان.مَال.عِزّت خوندي کول ضروري دئ.او په عَام حالاتُ کي چې کافِر پر مسلمان باندي حَملَه نَه وي کړې نو هغه وخت جِهَاد فَرضِ کِفَايَه دئ.چې څه ګَسَان جهاد کوي نو د دا پاته نورو خلګو څخه فَرض ساقطيږي.د جهاد د ثبوت لپاره ګَن شمېر آيتونه دي.د دِفَاعِي جهاد د ثبوت لپاره دا آيت دئ (١) اِنفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالاً وَجَاهِدُوا بِاَموَالِكُم وَ اَنفُسِكُم فِي سَبِيلِ اللهِ ذَالِكُم خَيرٌ لَكُم اِن كُنتُم تَعلَمُونَ (الف) (آيت٤١ سورة التوبه ٩) په بَل آيت کي دئ (٢) يَا اَيّهَا النّبِيّ حَرّضِ المُؤمِنِينَ عَلْي القِتَالِ الخ (آيت٦٥ سورة الانفال ٨) په يوه بَل آيت کي دئ (٣) يَا اَيّهَا الّذِينَ آمَنُوا مَالَكُم اِذَا قِيلَ لَكُم اِنفِرُوا فِي سَبِيلِ اللهِ اِثّاقَلتُم اِلْي الاَرضِ اَرَضِيتُم بِالحَيْوةِ الدّنيَا مِنَ الآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الحَيْوةِ الدّنيَا فِي الآخِرَةِ اِلاّ قَلِيلٌ اِلاّ تَنفِرُوا يُعَذِّبكُم عَذَابًا اَلِيمًا وَيَستَبدِل قَومًا غَيرَكُم (ب) (آيت ٣٨/ ٣٩ سورة التّوبة ٩) ددې آيتو څخه معلوم شوچي جهاد فرض دئ (۴) په

حاشيه : (الف) وَوزَئ په دَرَانَه او سُپَک حالت کي.او د الله په لاَرَه کي په خپل نَفس او مَال سره جهاد وکئ دغه ستاسو لپاره ښَه دئ که تاسو پُوه شئ (ب) ائ مؤمنانو په تاسو څَه شوي دي؟ چې کله تاسو ته وويل شي چې د الله په لاَرَه کي وَوزَئ نو تاسو د مخکي خوا ته دَرَانَه شئ.آيا تاسو د آخرت په بَدلَه کي د دُنيَا د ژُوَند څخه راضي شوي ياست؟ نو د دُنيَا د ژُوَند سامان خو د آخرت په مقابله کي لَږ دئ.که تاسو جهاد ته وَنَه وَتَلاَست نو تاسو ته به دَردنَاک عذاب درکړي او ستاسو په بَدلَه کي به بَل قَوم رَاوَلِي .

[۲۹۸۰](۱) اَلجِهَادُ فَرضٌ عَلَي الكِفَايَةِ اِذَا قَامَ بِهِ فَرِيقٌ مِّنَ النّاسِ سَقَطَ عَنِ البَاقِينَ وَ اِن لَم يَقُم بِهِ اَحَدٌ اَثِمَ جَمِيعُ النّاسِ بِتَركِهِ .

حديث کي دئ. عَن اَنَسِ بنِ مَالِکٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) ... وَالجِهَادُ مَاضٍ مُنذُ بَعَثَنِيَ اللهُ اِلَي اَن يُقَاتِلَ آخِرُ اُمّتِي الدّجّالَ لاَيُبطِلُهُ جَورُ جَائِرٍ وَلاَعَدلُ عَادِلٍ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في الغزو مع ائمّة الجور ص۳۵۰نمبر۲۵۳۲) ددې حديث څخه معلوم شوچي جهاد به تر قِيَامَت پوري جَارِي وي .

[۲۹۸۰](۱) جهاد فرض کِفَايَه دئ که دخلکو څخه يَوجماعت قائم کړي نو د نُورُو څخه به ساقِط شي.او که چيري هيڅ يَو هم قائم نَه کړي نو دهغه د پرېښولو په وجه تولـه خلک ګناهګار دي .

وجه : (۱) په آيت کي دئ چې پر يوه جماعت جهاد فرض دئ. آيت دادئ. وَمَا کَانَ المُؤمِنُونَ لِيَنفِرُوا کَافّةً فَلَو لاَ نَفَرَ مِّن کُلِّ فِرقَةٍ مِّنهُم طَائِفَةٌ لِّيَتَفَقّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُوا قَومَهُم اِذَا رَجَعُوا اِلَيهِم لَعَلّهُم يَحذَرُونَ (ب) (آيت۱۲۲ سورة التوبة ۹) ددې آيت څخه معلوم شوچي يَو جماعت دي د جهاد لپاره د کَافِر مخته وَوزي ددې څخه معلوميږي چې اِقدَامِي جِهَاد پر تولو فرضِ عَين نَه دئ (۲) په حديث کي دئ چې يَوجماعت به تر قيامت پوري جهاد کوي. سُمِعَ جَابِرُ بنِ عَبدِاللهِ يَقُولُ سَمِعتُ النّبِيّ (ﷺ) يَقُولُ لاَتَزَالُ طَائِفَةٌ مِّن اُمّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَي الحَقّ ظَاهِرِينَ اِلَي يَومِ القِيَامَةِ (ج) (مسلم شريف.باب نزول عيسْي بن مريم حاکما بشريعة نبيّنا الخ ص۸۷نمبر۱۵۶/ ابوداؤدشريف.باب في دَوَامِ الجهادص۳۴۳نمبر۲۴۸۴) په دې حديث کي دئ چې يَو جماعت

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل ... چې کُوم وخت يې زَه مبعوث کړئ يَم دهغه وخته څخه جِهَاد جَارِي دئ.تر هغه وخته چې زُومَا د اُمّت آخري سړئ د دَجّال سره جنګيږي.دا د يَوَه ظالِم دظُلم څخه يا د يَو عَادِل د عَدل څخه نَه بَاطِلِيږي (ب) د مؤمِنانو لپاره ښَه نَه دئ چې تولـه وَوزِي.دَاوَل وَلِي نَه کيږي چې د هر جَمَاعَت څخه يَوَه طائِفَه د تَفَقّه حاصلولو لپاره وَوزِي او خپل قَوم وَپِيرَوِي چې کُوم وخت وَاپَس راشي. شَايَد دُوئي وَپِيريږي (ج) حضور (ﷺ) وفرمايل همېشه به يَوجماعت دحَق لپاره جنګيږي او تر قيامته پُورِي به غَالِب وي .

[۲۹۸۱](۲) وَ قِتَالُ الكُفّارِ وَاجِبٌ وَ اِن لَم يَبدَؤنَا .

به تر قيامت پوري جهاد جاري سَاتِي.ددې يَوَه جماعت څخه اِشَارَةً دا معلوميږي چې پر نورو خلکو جِهَاد نشته.دده څخه فرضِ کِفَايَه ثابت شو (۳) په بَل حديث کي دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لاَهِجرَةَ بَعدَ الفَتحِ وَلٰكِن جِهَادٌ وَنِيّةٌ وَ اِذَا

اِستَنفَرتُم فَانفِرُوا (الف) (بخاري شريف.باب فضل الجهاد والسّيرالخ ص۳۹۰نمبر۲۷۸۳/ مسلم شريف.باب المبايعة بعدفتح مكّة علٰي الاسلام والجهادوالخيرالخ ص۱۳۰نمبر۱۸۶۴) په دې حديث کي دئ چي اَمِير مي رَاوَغُوَارِي نو جِهَاد ته وُلاړ شَئ.ددې څخه اِشَارَةً معلوميږي چي کُوم څوک يې نَه وي طَلَب کړئ پر هغه جِهَاد فرض نَه دئ.ددې څخه هم معلوميږي چي په عامُ حالاتُ کي جهاد فرض کِفَايَه دئ (۴) چي ټول خلګ دجِهَاد لپاره وَوزِي نو د کُور کارونه به څوک کوي؟ او د کَلِي خلګ به څوک پُوه کوي؟ په دې وجه هم بَايَد جهاد فرض کِفَايَه وي .

[۲۹۸۱](۲) د کَافِرَانُ سره قِتَال وَاجِب دئ که څَه هم هغوئي اِبتِدَاء نَه وي کړې .

تشريح : که کَافِرَانُ جنګ نَه وي شروع کړئ بيا هم د دُوئي سره قِتَال وَاجِب دئ .

وجه : (۱) په آيت کي دئ. فَاِن تَوَلّوا فَخُذُوهُم وَ اقتُلُوهُم حَيثُ وَجَدتُمُوهُم وَلاَتَتّخِذُوا مِنهُم وَلِيًّا وَلاَنَصِيراً (ب) (آيت۸۹ سورة النِّسَاء ۴) په دې آيت کي دئ چي که کَافِرَان شَاوَګَرزَوِي او تېښتَه اختيار کړي بيا هم دُوئي ټينګ کړئ او قَتل يې کړئ. او دا خو بنکاره خبره ده چي دُوئي شَاوَګَرزَوِي او وَتَښتِيږي نو په دغه وخت کي خو دُوئي قِتَال نَه کوي. لېکن دهغه بَاوُجُود د دُوئي د ټينګولو او قَتل کولو حُکم شوئ دئ ددې څخه معلوم شوچي که دُوئي قِتَال نَه کوي بيا هم د دُوئي سره جِهَاد وَاجِب دئ (۲) په بَل آيت کي دئ. وَقَاتِلُوا المُشرِكِينَ كَافّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُم كَافّةً وَ اعلَمُوا اَنّ

حاشيه : (الف) حضور وفرمايل د فَتح مَکّي وروسته د مَکّي څخه هِجرَت نشته لېکن جهاد فرض دئ.او دهغه نِيّت کول هم ضروري دئ.او که د جِهَاد لپاره رَاوَبَلَل شئ نو جهاد ته وُلاړ شَئ (ب) او که وَتَښتِي نو هغه ټينګ کړئ او چي په کُوم ځائ کي وموندئ هغه قَتل کړئ.او د دُوئي څخه هيڅ يَو دُوست او مرستِيَال مَه جوړوئ .

[۲۹۸۲](۳) وَ لاَ يَجِبُ الجِهَادُ عَلٰي صَبِيٍّ وَ لاَ عَبدٍ وَ لاَ اِمرَأةٍ وَ لاَ اَعمٰي وَ لاَ مُقعَدٍ وَ لاَ اَقطَعَ .

اللهَ مَعَ المُتّقِينَ (الف) (آيت۳۶ سورة التوبة ۹) په دې آيت کي دئ چي لکه څَه رنګه چي کُفّارُ ستاسو سره قِتَال کاوئ تاسو هم د ټولو کُفّارُ سره قِتَال وکئ.او کَافِرَان اُوس محال موجود دي نو قِتَال به هم کيږي که څَه هم دُوئي قِتَال نَه کوي (۳) په حديث کي دئ چي د مدينې يَهُودِيَانُ سَازِش وکړئ لېکن قِتَال يې لا هغه وخت نَه وُ شروع کړئ بيا هم حضور (ﷺ) د دُوئي خوا ته وُلاړَئ او د مدينې منوّرې څخه د وَتَلُو اِشَارَه وکړه.دحديث ټکړه داده. عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّهُ قَالَ بَينَا نَحنُ فِي المَسجِدِ اِذ خَرَجَ اِلَينَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) فَقَالَ اِنطَلِقُوا اِلٰي يَهُودَ فَخَرَجنَا مَعَهُ حَتّٰي جِئنَاهُم فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) فَنَادَاهُم فَقَالَ يَامَعشَرَ يَهُودَ اَسلِمُوا تَسلِمُوا ... وَ اِنّي اُرِيدُ اَن اُجلِيَكُم مِن هٰذِهِ الاَرضِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب كيف كان اِخرَاجُ اليهود مِنَ المدينة؟ ج۲ ص ۶۶نمبر۳۰۰۳) په دې حديث کي دئ چي حضور (ﷺ) و يهوديانُ ته د مدينې څخه د وَتَلُو حُکم ورکړئ.حالانکه هغوئي تر هغه وخته پُورې قِتَال نَه وُ شروع کړئ.ددې څخه معلوم شوچي د قِتَال د شروع کولو بغيره هم جِهَاد کېدلائي شي .

لغت : يَبدَأ : د بَدءٌ څخه مُشتَق دئ شروع کول .
[۲۹۸۲](۳) جهاد واجِب نَه دئ پر کِشنِي او نَه پر غُلاَم او نَه پر ږاندَه او نَه پر شَل او نَه پر ڪُوډ .
وجه : (۱) دغه خلڪ خو دجهاد قَابِل هم نَه دي (۲) دکِشنِي بَچِي په اړه خو په څو ڪَرَتّه حديث تېرشوئ دئ. عَن عَلِيٍّ عَنِ النّبِيِّﷺقَالَ رُفِعَ القَلَمُ عَن ثَلاَثَةٍ عَنِ النّائِمِ

حاشيه : (الف) دمُشرِڪانُ سره پُورَه جنڪ وکئ لکه څَه رنڱه چي دُوئي ستاسو سره جنڪ کوي.او يقين وکئ چي الله د مُتّقِينُ سره مَل دئ (ب) حضرت ابوهريرة فرمايي چي مُوږ په مسجد کي وُ چي حضور ﷺ مُوږ ته تشريف ږاوړَئ او وفرمايل چي يَهُودُ ته دَرخَئ.موږ دده سره وَوَتَلُو تر دې چي يهود ته ورغلو.نوحضور وُلاړ شو او آواز يي وڪړئ.وفرمايل ائ ديهود قومَ! اِسلاَم رَاوړَئ مَحفُوظ به شَئ ... زَه غُوَارَه چي تاسو ددې خيبَر دمخکي څخه جَلاَوَطَن ڪړم .
حَتّٰي يَستَيقِظَ وَعَنِ الصّبِيِّ حَتّٰي يَحتَلِمَ وَعَنِ المَجنُونِ حَتّٰي يَعقِلَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في المجنون يسرق اويصيب حدًا ص۲۵۶نمبر۴۴۰۳) چي د کِشنِي بَچَانُو څخه قَلَم پُورتَه شوئ دئ او پرهغوئي هيڅ ډَوَل عِبَادَت واجِب نَه دئ نو جهَاد هم وَاجِب نَه دئ (۳) په حديث کي دئ چي عبدالله بن عمر وغُوَښتَل چي جهاد ته وُلاړ شِي خو هغه ته اِجازَت ملاؤ نَه شو.حديث دادئ. عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) عُرِضَهُ يَوَ اُحَدَ وَهُوَ اِبنُ اَربَعَ عَشَرَةَ سَنَةٍ فَلَم يُجزِهِ وَعُرِضَهُ يَومَ الخَندَقِ وَهُوَ اِبنُ خَمسَ عَشَرَةَ سَنَةٍ فَاَجَازَهُ (ب) (بخاري شريف.باب غزوة الخندق وهي الاحزاب ص۵۸۸ نمبر ۴۰۹۷/ابوداؤدشريف.باب الغلام يصيب الحدّص۲۵۷نمبر۴۴۰۶) په دې حديث کي د پنځلس کالُ څخه مخکي بَچَئ جِهَاد ته د وَتَلُوڅخه منع ڪړئ ددې څخه معلوم شو چي پر هغه جهاد وَاجِب نَه وُ .
پر غُلاَم جهاد وَاجِب نَه دئ .
وجه : (۱) هغه خو د آقَا دحُکم تَابِع دئ.دهغه د اِجَازَت بغيره دجُمعي لمونځ ته هم نَه شي تلائي نو جهاد ته به څَه رنڱه ځي؟ (۲) په حديث کي دئ. عَنِ الحَارِثِ بِنِ عَبدِاللهِ بِنِ اَبِي رَبِيعَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) كَانَ فِي بَعضِ مَغَازِيهِ فَمَرّ بِأُنَاسٍ مِن مُزَينَةَ فَاتّبَعَهُ عَبدٌ لِامرَأةٍ مِّنهُم فَلَمّا كَانَ فِي بَعضِ الطّرِيقِ سَلّمَ عَلَيهِ فَقَالَ فُلاَنٌ؟ قَالَ نَعَم قَالَ مَاشَأنُکَ؟ قَالَ أُجَاهِدُ مَعَکَ. قَالَ اَذِنتَ لَکَ سَيّدَتُکَ؟ قَالَ لاَ. قَالَ اِرجِع اِلَيهَا فَاَخبِرهَا فَاِنّ مِثلَکَ مِثلُ عَبدٍ لاَيُصَلّي اِن مُتّ قَبلَ اَن تَرجِعَ اِلَيهَا الخ (ج)

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل د درو کسانوڅخه قلم پورته سوئ دئ دېيدَه څخه ترهغوچي رَاوښ سي.اودکِشنِي څخه ترهغوچي بَالِغ سي.او دلبونِي څخه ترهغوچي سمجداره سي (ب) دجنڱِ اُحَد پر وخت يې حضرت ابن عمر دحضور (ﷺ) په مخکي پېش کړئ هغه وخت د څُوَرلَس کالُ وُ.نو هغه ته اِجَازَت ملاؤ نَه شو.او دغَزوَه خَندَق پر خت يې پېش کړئ هغه وخت د پِنځلَس کالُ وُ نو هغه ته اِجَازَت ملاؤ شو (ج) حضور (ﷺ) په يَوَه غَزوَه کي وُ چي د مُزَينَه پر څَه کسانُ رَاتِير شو نو ديوي بنځي غُلاَم په حضور (ﷺ) پسي رَارَوَان شو. په لاَرَه هغه سَلاَم وکړئ.حضور (ﷺ) پُوښتَنَه ځيني وکړه چي فُلاَنَئ يې؟ وويل هو! پُوښتَنَه ځيني وکړه ستا څَه حال دئ؟ وويل چي سَتَا سره جِهَاد کول غُوَارَم.حضور (ﷺ) پُوښتَنَه ځيني وکړه چي سَتَا سَيّدِي تاته اِجَازَت درکړئ دئ؟غُلاَم وويل چي نَه! حضور (ﷺ) وفرمايل وَاپَس شَه.او ګوره چي ستا ډَوَل غُلاَم خپلي سَيّدِي ته د وَاپَس تللو څخه مخکي مَړ شي نو دهغه د جنازي لمونځ نشته .

(مُستدرک للحاکم.کتاب الجهاد ج۲ص۱۲۹نمبر۲۵۵۳/سنن للبیهقي.باب لایجب علیه الجهاد ج۹ص۳۹نمبر۱۷۸۱۲) ددې حدیث څخه معلوم شوچې پر غُلاَم جهاد فرض نَه دئ. البته د آقَا په اِجَازَت سره تلائي شي (۳) په یوه حدیث کي دئ چې د آقَا د اِجَازَت بغیره د هِجرَت وَینَا هم نَه کوله نو دجِهَاد لپاره به څه رنګه ورته وایي؟ عَن جَابِرٍ قَالَ جَاءَ عَبدٌ فَبَایَعَ النّبِيّ (ﷺ) عَلٰي الهِجرَةِ وَلاَیُشعِرُ النّبِيُ اَنّهُ عَبدٌ فَجَاءَ سَیّدُهُ یُرِیدُهُ فَقَالَ النّبِيّ (ﷺ) بِعنِیهِ فَاشتَرَاهُ بِعَبدَینِ اَسوَدَینِ ثُمّ لَم یُبَایِع اَحَداً حَتّٰي یَسئَلَهُ اَعَبدٌ هُوَ؟ (الف) (نسائي شریف.باب بیعة الممالیک ص۵۸۴نمبر۴۱۸۹/ابن ماجه شریف.باب البیعة ص۴۱۵نمبر۲۸۶۹) چې پر هِجرَت باندې بَیعَت نَه اخستئ نو پر جِهَاد به څَه رنګه بَیعَت ځینې اَخلِي؟ نوځکه په عَامُ حالاتُ کي جهاد فرض نَه دئ.البته! که نَفِیرِعَام شي نو بیا پر غُلاَم هم دِفَاعِي جِهَاد فرض دئ .

پر بنځه جِهَاد نَه دئ فرض .

وجه : دلیل یې دا حدیث دئ. عَن عَائِشَةَ اُمّ المُؤمِنِینَ قَالَت اِستَأذَنتُ النّبِيّ (ﷺ) فِي الجِهَادِ فَقَالَ جِهَادُکُنّ اَلحَجّ (ب) (بخاري شریف.باب جهادالنّساء ص ... نمبر۲۸۷۵) ددې حدیث څخه معلوم شوچې پر بنځو جهاد فرض نَه دئ بلکه دبنځو جهاد حَج کول دئ.البته که په جِهَاد کي ګډون وَغُوَارِي نو ګډون کولائي شي.حدیث دادئ. عَنِ الرّبِیعِ بِنتِ مُعَوّذٍ قَالَت کُنّا مَعَ النّبِيّ (ﷺ) نَسقِي وَنُدَاوِي الجَرحٰي وَنَرِدُ القَتلٰي (ج) (بخاري شریف.باب مداواة النّسَاء الجرحٰي في الغزوة ص۴۰۳نمبر۲۸۸۲) په دې حدیث کي دئ چې بنځو په جِهَاد کي ګډون کاوئ او مریضانُ ته اُوبَه ورکولې. زَخمِیَانُ ته دَوَاء ورکوله.او مَقتُولِینُ ته به رَاتلې خِدمَت به کاوئ.بنځي نَن ورځ هم

حاشیه : (الف) یَوغُلاَم حضور (ﷺ) ته راغلئ او پر هِجرَت کولو یې بَیعَت ورسره وکړئ.او حضور (ﷺ) ته معلوم نَه وُ چې دئ غُلاَم دئ. بیا دهغه مَالِک دهغه د ږیُولُو لپاره راغلئ حضور (ﷺ) وفرمایل دا خَرځ که.نو حضور (ﷺ) د دُوُ په رنګ ثُور غُلاَمَانُ په بَدلَه کي هغه رَانِیوَئ.بیا ددې معلومولو بغیره چې دا غُلاَم دئ دهغه سره حضور بَیعَت وَنَه کړئ (ب) حضرت عائشې دحضور (ﷺ) څخه دجِهَاد اِجَازَت طلب کړئ نو حضور وفرمایل ستاسو جِهَاد حَج دئ (ج) ربیع بنت مُعوّذ فرمایي چې مورِ بنځي دحضور سره په جِهَاد کي موجودِ و. مورِ به اُوبَه ورکولې.د زخمیانُ کَتَنَه مُو کوله او مَقتُولِین (شهیدان) مو د خپل ځایَه څخه نَقل کوله ؟

دغه دَوَل کولائي شي .

پر رَاندَه اوګُوَدِ جهاد نَه دئ فرض .

وجه : (۱) دلیل یې دا آیت دئ. لَیسَ عَلَي الضّعَفَاءِ وَلاَ عَلَي المَرضٰي وَلاَ عَلَي الّذِینَ لاَیَجِدُونَ مَایُنفِقُونَ حَرَجٌ اِذَا نَصَحُوا لِلّهِ وَ رَسُولِهِ مَا عَلَي المُحسِنِینَ مِن سَبِیلٍ (الف) (آیت ۹۱ سورم التوبة ۹) په دې آیت کي دئ چې پر کمزوري سړي.پر ناجوړه سړي او هغه چې دخرچ لپاره مَال نَه لري پر هغه جهاد نشته.ددې څخه ثَابِت شو چې پر دغه مَذکُورَه خلکو جهاد نشته.په آیت کي دئ (۲) لَیسَ عَلَي الاَعمٰي حَرَجٌ وَلاَ عَلَي الاَعرَجِ حَرَجٌ وَلاَ عَلَي المَرِیضِ حَرَجٌ (ب) (آیت ۱۷سورة الفتح ۴۸) په بَل آیت کي دئ (۳) لاَیَستَوِي القَاعِدُونَ مِنَ المُؤمِنِینَ غَیرُ اُولِي الضّرَرِ وَالمُجَاهِدُونَ فِي سَبِیلِ اللهِ (ج) (آیت۹۵سورة النّسَاء ۴) په دې آیت کي د غَیرُ اُولِي الضّرَرِ څخه معلوم شوچې څوک

ضَرَر لري او ګُوډ وي پر هغه جِهَاد نَه دئ فرض (۴) په حديث کي دئ فَأَتْي عَمرُو بِنِ الجَمُوحُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ (ﷺ) اِنّ بَنِي هٰؤلاَءِ يَمنَعُونَ اَن اَخرُجَ مَعَکَ وَاللهِ اِنّي لاَرجُوا اَن اُستُشهِدَ فَأطَأ بِعَرجَتِي هٰذِهِ فِي الجَنّةِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَمّا اَنتَ فَقَد وَضَعَ اللهُ عَنکَ الجِهَادَ (د) (سنن للبيهقي.باب من اعتذر بالضّعف والمرض والزّمَانَةِ والعذر في ترک الجهاد ج۹ص۴۲نمبر ۱۷۸۲۱) په دې حديث کي دئ چي پر مَعذُور جهاد نشته .

لغت : مُقعَدُ : د عَقدٌ څخه مُشتَق دئ.چي په ناستي نَاست وي.يعني شَل. اَقطَعُ : د قَطعٌ څخه مُشتَق دئ چي لاَس يې پرې شوئ وي .

(ابوداؤدشريف.باب في النهي عن النّهبِ ج۲ص۱۳نمبر۲۷۰۴) ددې حديث څخه معلو شوچې د ضروت څخه زيات دي نَه اَخلِي او نَه دې ذَخِيرَه کوي. او خرڅول يې ممنوع دئ دهغه دليل دا حديث دئ. عَن اَبِي سَعِيدِالخُدرِيِّ قَالَ نَهٰي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) عَن شِرَاءِ المَغَانِمِ حَتّٰي تُقَسّمَ (الف) (ترمذي شريف.باب في کراهية بيع المغانم حتّي تقسّم ص ۲۸۵ نمبر ۱۵۶۳) په دې حديث کي دئ چې مَالِ غَنِيمَت د تقسيم څخه مخکې دخپل ځان لپاره خرڅول جواز نَه لري .
دتقسيم څخه مخکې دخپل ځان لپاره مَال جمع کول په مَالِ غَنِيمَت کي خِيَانَت دئ.او د غَنِيمَت په مَال کي چې څوک خِيَانَت کوي دهغه لپاره دا وَعِيد دئ.عَن عُمَرَ بِنِ الخَطّابِ عَنِ النّبِيِّ (ﷺ) قَالَ: اِذَا وَجَدتّم الرّجُلَ قَد غَلّ فَاَحرِقُوا مَتَاعَهُ وَ اِضرِبُوهُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في عقوبة الغال ج۲ص۱۵نمبر۲۷۱۳) په دې حديث کي دئ چې په مَالِ غَنِيمَت کي د خِيَانَت کونکي سَامَان وَروَسوَخَئ او دئ وَوَهَئ.او دخپل ځان لپاره مَال جمع کول خِيَانَت دئ نو ځکه دا جواز نَه لري .
لغت : لاَيَتَمَوّلُونَهُ : د تَمَوّل څخه مُشتَق دئ.دخپل ځان لپاره مَال جمع کول .
[۳۰۰۱](۲۲) دکُفّارُ څخه چې څوک اِسلاَم قبول کړي هغه به د اِسلاَم په وجه محفوظ کړي خپل ځان او خپل کِشنِي اَولاَدُونَه او هغه مَال کُوم چې دده په قَبضَه کي وي يا دمُسلمان يا ذِمّي په لاَس کي اَمَانَت وي .

تشريح : كافِر چي غُلاَم نَه وي جوړ شوئ دهغه څخه مخكي مخكي مسلمان شي نو دئ په خپله هم آزاد شمارل كيږي او دده كِشنِي اَولاَدُونَه به هم آزاد ګڼل كيږي او د قَتل څخه به محفوظ شي.او چي كُوم دده مَال دئ هغه غَنِيمَت نَه دئ بلكه مَالِک

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) د غنيمت مَال د تقسيم څخه مخكي دخرڅولو څخه منع وكړه (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل كه تَه څوک وموندي چي دغَنِيمَت په مَال كي خِيَانَت كړئ دئ نو دده سَامَان وَسوَخَه او دئ وَوَهَه .

[۳۰۰۲](۲۳) فَإِن ظَهَرنَا عَلَي الدّارِ فَعِقَارُهُ فَيءٌ وَزَوجَتُهُ فَيءٌ وَحَملُهَا فَيءٌ وَ اَولاَدُهُ الكِبَارُ فَيءٌ .

ته به وركول كيږي.هغه مَال كه دده په قبضه كي وي كه د بَل مسلمان سره اَمَانَت پُرُوت وي.يا ديَو ذِمّي سره اَمَانَت پُرُوت وي.البته كُوم مَال چي دحَربِي په قبضه كي وي هغه غَنِيمَت شمارل كيږي .

وجه : (۱) په حديث كي ددې ثبوت شته. حَدّثَنِي عُثمَانُ بِنِ اَبِي حَازِمٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ صَخرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) غَزَا ثَقِيفًا ... يَاصَخرُ! اِنّ القَومَ اِذَا اَسلَمُوا اَحرَزُوا دِمَائَهُم وَ اَموَالَهُم فَادفَع اِلَي المُغِيرَةِ عَمّتَهُ فَدَفَعَهَا اِلَيهِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في اقطاع الارضين ج۲ص۷۸نمبر۳۰۶۷ كتاب الخراج) (۲) په بَل حديث كي دئ. اَنّ اَبَاهُرَيرَةَ ... وَقَد قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اُمِرتُ اَن اُقَاتِلَ النّاسَ حَتّي يَقُولُوا لاَ اِلَهَ اِلاّ اللهُ فَمَن قَالَهَا فَقَد عَصِمَ مِنّي مَا لُهُ وَنَفسُهُ اِلاّ بِحَقّهِ وَحِسَابُهُ عَلَي اللهِ (ب) (بخاري شريف.باب وجوب الزكوٰة ص۱۸۷نمبر۱۳۹۹/مسلم شريف.باب الامربقتال النّاس حتّي يقولوا لا اله الاّ الله محمّدرسول الله الخ ص۶۷نمبر۲۰/ابوداؤدشريف.باب علي مايقاتل المشركين ص۳۶۱نمبر۲۶۴۰) په دې حديثو كي دئ چي كه اِسلاَم قبول كړي نو نَفس او مَال به محفوظ شي.كِشنِي اَولاَدُونَه د مُور او پُلاَر تَابِع وي او د مُور يا پُلاَر چي كُوم وي هغه حُكم د كِشنِي اَولاَدُو هم وي.نوحُكه كِشنِي اَولاَدُونَه به هم آزاد شي او دقتل څخه به محفوظ شي .

لغت : اَحرَزَ : محفوظ به كړي.د حِرزٌ څخه مُشتَق دئ. وَدِيعَةٌ : د اَمَانَت شَئ .

[۳۰۰۲](۲۳) كه چيري موږ د ده پر كُور غَالِب شو نو د ده مځكه به فَئ وي او د ده بِي بِي به فَئ وي.دهغې حَمل او دهغه لُوئ اَولاَدُونَه به فَئ وي .

حاشيه : (الف) حضور د ثقِيف قبيلي سره غَزوَه وكړه ... حضور وفرمايل ائ صَخر! چي قوم اِسلاَم قبول كړي نوخپله وِينَه او خپل مَال محفوظ كړي.نوحُكه دده تُرُورِي(عَمّه) وَاپَس وركه.نو دهغه عَمّه يې وهغه ته وَاپَس وركړه (ب) حضور وفرمايل مَاتَه حُكم شوئ دئ چي دخلكو سره د لاَ اِلَهَ اِلاّ اللهُ تر وَيلُو پوري جنګ وكړم.بيا چي كوم وخت دُوئي يې ووايي نو د دُوئي نَفس او مَال زُومَا څخه محفوظ شو.مګر چي يَو حَق وي نو.او دهغه حِسَاب پر الله تعالٰي دئ .

تشريح : چي حَربِي مسلمان شي نو دده جَان(نَفس).دده مَنقُولَه جائداد او كِشنِي اَولاَدُونَه به محفوظ شي.لېكن دده هغه مځكه چي په دارالحرب كي ده هغه به محفوظ نَه وي بلكه كه چيري پر دَارالحرب باندي دمسلمانان قبضه راغله نوهغه مځكه به

مَالِ غَنِيمَت شمارل كيږي.دده پِي پِي كه تر اُوس محال پُورِي حَربِيّه وه نو هغه به هم مَالِ غَنِيمَت شمار وي.دده د پِي پِي په نَس كي چي كُوم حَمل دئ هغه به هم د مُور به تَبع كي مَالِ غَنِيمَت شمار وي.او دده بَالِغ اَولاَدُونَه به هم مَالِ غَنِيمَت شمار وي دغه خلګ محفوظ نَه دي .

وجه : دغه خلګ او دغه شِيَان ددې مسلمان شوي تَابِع نَه دي نوځكه دده دمسلمان كېدو په وجه دغه شِيَان محفوظ نَه دي.مثلاً مځكه غَيرِمَنقُولَه شَئ ده كه څَه هم ددې مسلمان شوي مِلكِيّت ده لېكن په دَارُالحَرب كي ده نوځكه دهغه ځائ دحَاكِم په حكومت كي ده.او هغه مځكه هم د دارالحرب مځكه شمارل كيږي نوځكه هغه به مَالِ غَنِيمَت وي .

فائده : د امام محمّد (؛) او امام شافعي (؛) رأيَه داده چي مځكه هم ددغه مسلمان شوي اِنسَان مِلكِيّت ده او دغَنِيمَت په مَال كي شمار نَه ده .

وجه : (١) په تېرشوي حديث كي دئ چي د اِسلاَم قبلولو په وجه دده نَفس او مَال محفوظ ګرزي.او مځكه هم دده مَال ده نوځكه هغه به هم محفوظ شي (٢) دحضرت صَخر دحديث په آخِر كي وُ چي دحضرت مغيره قوم اِيمَان رَاوړَئ نو د اُوبُو څَاه يي دُوئي ته ببرته وَاپَس وركړئ.او څَاه خو دمځكي حِصّه ده ددې څخه معلوم شوچي د اِيمَان قبلولو په وجه به مځكه هم محفوظ شي.د وُبرد حديث يوه تكړه داده. حَدّثَنِي عُثمَانُ بِنِ اَبِي حَازِمٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ صَخرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) غَزَا ثَقِيفًا ... يَاصَخرُ! اِنّ القَومَ اِذَا اَسلَمُوا اَحرَزُوا دِمَائَهُم وَ اَموَالَهُم فَادفَع اِلَي القَومِ مَاءهُم.قَالَ نَعَم يَا نَبِيّ اللهِ! فَرَأيتُ وَجهَ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) يَتَغَيّرُ عِندَ ذَالِكَ

حُمرَةً حَيَآ ءً مِّن اَخذِهِ الجَارِيَةَ وَ اَخذِهِ المَاءَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في اقطاع الارضين ج٢ص٧٨نمبر٣٠٦٧ كتاب الخراج) په دې حديث كي د اُوبُو څَاه ببرته وَاپَس كړئ دئ ددې څخه معلوم شوچي د اِيمَان رَاوړَلُو په وجه د دارالحرب مځكه هم محفوظ ګرزي (٣) په حديث كي دئ. عَن سُلَيمَانَ بِنِ بُرِيدَةَ عَن اَبِيهِ عَنِ النّبِيّ (ﷺ) اَنّهُ كَانَ يَقُولُ فِي اَهلِ الذِّمّةِ لَهُم مَا اَسلَمُوا عَلَيهِ مِن اَموَالِهِم وَعَبِيدِهِم وَدِيَارِهِم وَاَرضِهِم وَمَاشِيَتِهِم. لَيسَ عَلَيهِم فِيهِ اِلاّ الصّدَقَةُ (ب) (سنن للبيهقي.باب من اسلم علٰي شئٍ فهوله ج ٩ ص١٩١نمبر١٨٢٦١) په دې حديث كي دئ چي و ذِمّي ته به مځكه هم ملاؤيږي قياس پر دغه و حَربِي ته به هم مځكه ملاؤيږي كه چيري هغه اِسلاَم قبول كړي .

پِي پِي به په دې وجه په مَالِ غَنِيمَت كي شمار وي چي (١) هغه د مَذهَب په معامله كي دمېړه تَابِع نَه ده.هغه خو عَاقِلَه بَالِغَه ده نوځكه كه چيري هغه هم اِيمَان رَاوړِي نو محفوظ به شي.او كه اِيمَان قبول نَه كړي نو كافِرَه به وي او چي دَست ګيره(وَنِيوَل)شي په مَالِ غَنِيمَت كي به راشي مينځه به شي (٢) چي مسلمان سړئ د يهودِيّه يا نَصرَنِيّه بنځي سره وَادَه وكړي نو دمېړه د مسلمانَئ لكبله دا مَينَه مُسلِمَه نَه

ګڼل کيږي دغه رنګه چې مېړه اِسلاَم قبول کړي نو مَينَه مُسلِمَه نَه ګڼل کيږي.نوځکه چې پر هغه غَلَبَه حاصِله کړي هغه به غَنِيمَت شمارل کيږي (۳) بلکه چې مېړه اِسلاَم قبول کړي ددې نکاح ختميږي .

دحَربِيّه ښځي حَمَل به هم فَيء وي يعني وروسته چې ګُوم بَچَئ پيدا کيږي هغه به دمَال په شان په غَنِيمَت کي شمار وي .

وجه : (۱) حَمَل دمُور جُزء دئ نوځکه په مَالِ غَنِيمَت کي شمار دئ نو دهغې حَمل

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) د ثقِيف قبيلي سره غَزوَه وکړه ... حضور (ﷺ) وفرمايل ائ صَخر! چې قوم اِسلاَم قبول کړي نوخپله وِينَه او خپل مَال محفوظ کړي.نوځکه د قوم چِينَه دُوئي ته وَاپَس ورکه.وويل هو! ائ دخدائ پيغمبره! مَا دحضور (ﷺ) مَخ مُبَارَک وليدئ چې دحَيَاء په وجه بَدلُون خُوَارَئ او پر مينځه او چِينَه باندي دقبضې ځخه حضور (ﷺ) شَرمِندَګِي محسوسوي (ب) حضور (ﷺ) د اَهلِ ذِمّه په اړه وفرمايل پر کومو مَالُو چې اِسلاَم قبول کړئ هغه ټوله به دهغه وي.د دُوئي مَالُونَه.غُلاَمَان.کُورُونَه.مځکه او حيوانان پر دُوئي دصدقې ځخه علاوه بَل شَئ نَه لازميږي .

[۳۰۰۳](۲۴) وَلاَ يَنبَغِي اَن يُبَاعَ السّلاَحُ مِن اَهلِ الحَربِ وَلاَ يُجَهّزُ اِلَيهِم .

وجه : (۱) حَمَل دمُور جُزء دئ نوځکه په مَالِ غَنِيمَت کي شمار دئ نو دهغې حَمل به هم مَالِ غَنِيمَت وي (۲) په اَثَر کي دئ. قَالَ سُفيَانُ وَنَحنُ لاَنَأخُذُ بِذَالِکَ. نَقُولُ اِذَا اِستَثنَي مَا فِي بَطنِهَا عَتَقَت کُلّهَا اِنّمَا وَلَدُهَا کَعُضوٍمِّنهَا (الف) (مصنّف عبدالرّزاق.باب الرّجل يعتق امته ويستثني مافي بطنهاوالرّجل يشتري ابنه ج۹ص۱۷۲نمبر۱۶۸۰۰) په دې اَثَرکي دئ چې بَچَئ د مُور د عُضوِ او اَندَام په شان دئ نوځکه که مُور حَربِيّه وه نو حَمل به هم حَربِي شمار وي .

بَالِغ اَولاَدُونَه د مُور او پُلاَر تَابِع نَه ګڼل کيږي هغه خو په خپله عَاقِل بَالِغ دي که هغه حَربِي وي نو حَربِي شمارل کيږي او د پُلاَر په اِسلاَم قبولو سره دُوئي مُسلمانان نَه شمارل کيږي .

لغت: فَيئٌ: مَالِ غَنِيمَت.ظَهَرنَا عَلْي الدّارِ:چې دارالحرب قبضه شي. عِقَارٌ: مځکه .

[۳۰۰۳](۲۴) مُنَاسِب نَه دئ چې پر اَهلِ حَرب اَسلَحَه خرڅه کړي اونَه دي هغوئي ته دغه مَال اَستَوِي .

تشريح : چې جنګ روان وي په داسي حال کي پر اَهلِ حَرب اسلحه خرڅول مُنَاسِب نَه دئ.دغه رنګه هلته اسلحه اَستَوَل هم مُنَاسِب کار نَه دئ .

وجه : (۱) په دغه اسلحه به دمسلمانانُ سره جنګ کوي او مسلمانانُ ته به نُقصَان رسوي.نوځکه خپلو خلګو ته نُقصَان رسول مُنَاسِب نَه دئ.دغه رنګه پر دُوئي باندي اَسلَحَه خرڅول هم مُنَاسِب نَه ده (۲) په حديث کي دئ. عَن عِمرَانَ بِنِ حُصَينٍ قَالَ نَهْي رَسُولُ اللهِ عَن بَيعِ السّلاَحِ فِي الفِتنَةِ (ب) (سنن للبيهقي.باب كراهية بيع العصير مِمّن يعصر

حاشيه : (الف) حضرت سفيان فرمايي مورِ دغه نَه اَخلُو.مورِ وايو چي په نَس کي کُوم حَمَل دئ چي هغه مُستَثْني کړي بيا هم پُورَه مينځه آزادېږي حُکه چي ددې بَچِئ ددې دعُضوِ په شان دئ (ب) حضور دجنګ پر وخت پر دُښمن باندي د اسلحي دخرڅولو څخه منع وکړه .

[۳۰۰۴](۲۵) وَلاَيُفَادُونَ بِالأُسَارْي عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رحِمَهُ اللهُ وَقَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي يُفَادْي بِهِم اُسَارْي المُسلِمِينَ .

الخَمرَ والسّيفِ مِمّن يعصي اللهَ عَزّوَجَلّ به ج۵ص۵۳۵نمبر۱۰۷۸۱) په مُرسَل حديث کي دئ چي د فِتنې پر وخت د اَسلحي دخرڅولو څخه منع کړې ده. او تر حَربِي به بَل څوک فِتنَه ګَر وي؟ نو حُکه پر دُوئي باندي اسلحه خرڅول او د دُوئي ملکو ته اَسلَحَه اَستَوَل جواز نَه لري (۳) په دې اَثَر کي دئ. عَنِ الحَسَنِ قَالَ لاَيُبعَثُ اِلْي اَهلِ الحَربِ شَئٌ مِّنَ السّلاَحِ وَالكَرَاعِ وَلاَ مَايُستَعَانُ عَلْي السّلاَحِ وَالكَرَاعِ (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۳۱ مايكره ان يحمل الْي العدو فيتقوي به ج ۶ ص۵۱۲نمبر۳۳۳۶۱) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي وحَربِيَانُ ته اَسلَحَه نَه ده ورکول په کار .

بعض حضرات فرمايي چي وحربيان ته د اسلحه څخه علاوه نور شيان خرڅول هم جواز نَه لري .

وجه : (۱) د دُوئي اِستِدلاَل دحضرت ثمامه بن اثال دهغه قول څخه دئ چي د وُرِد حديث يوه ټکړه ده. سُمِعَ اَبَاهُرَيرَةَ قَالَ ... وَلاَ وَاللهِ لاَيَأتِيكُم مِّنَ اليَمَامَةِ حَبّةُ حِنطَةٍ حَتّْي يَأذَنَ فِيهَا النّبِيّ (ﷺ) (الف) (بخاري شريف.باب وَفدبني حنيفة وحديث ثمامة بن اثال ص۶۲۷نمبر۴۳۷۲) په دې اَثَرکي دئ چي دحضور (ﷺ) د اِجَازَت بغيره به واَهلِ مَکّه ته د غَنَمُو يوه دَانَه هم نَه ورکول کيږي.ددې څخه معلوم شوچي د اَسلَحې بغيره نور سَامَان به هم و اَهلِ حَرب ته نَه ورکوي (۲) مخته د ابن ابي شيبة اَثَر نمبر۳۳۳۶۱ هم د دُوئي مُستَدَل دئ.په هغه کي دئ وَلاَ مَايُستَعَانُ عَلْي السّلاَحِ وَالكَرَاعِ يعني اَسلَحَه اوهغه شِيَان چي په جنګ کي په کاريږي هغه هم مَه ورکوئ .

لغت : يُجَهّزُ : د جَهِيزٌ څخه مُشتَق دئ.شَئ اَستَوَل. اَلسّلاَحُ : اَسلَحَه .

[۳۰۰۴](۲۵) او نَه دي دقَيدِيَانُ په بَدلَه کي فِديَه ورکوي د امام ابوحنيفه په نږ.او صاحبين فرمايي چي دمسلمان قَيدِيَانُ په بَدلَه کي دې خُوشِي کړي .

حاشيه : (الف) حضرت ثمامة وفرمايل قَسَم په خداۍ دمَکّه څخه به دغَنَمُو يَوَه دَانَه هم نَه راځي ترڅوچي حضور (ﷺ) اِجَازَت نَه وي ورکړئ .

تشريح : دمسلمانُ قَيدِيَان د کُفّارُ په لاَس کي دي او دکُفّارُ قَيدِيَان دمسلمانانُ په لاَس کي دي. نو چي دمسلمانانُ قيدي دي ځيني واخلي دکُفّارُ قَيدِي دي يَلَه کړي.د امام ابوحنيفه په نږ دَادَوَل نَه شي کولائي.صاحبين فرمايي چي د وخت امام که چيري دَادَوَل وغواړي نو کولائي شي .

وجه : (۱) امامِ اعظم() فرمايي چي کُفّار قتل کړي نو بيا د دُنيَا څخه فِتنَه ختم کيږي.لِهٰذَا دمسلمانانُ تر بَچَاؤبدو کُفّار قتلول زِيَات اَفضَل کار دئ (۲) په آيت کي ددې ثبوت شته. مَاکَانَ لِنَبِيٍّ اَن يَکُونَ لَهُ اَسرْي حَتّْي يُثخِنَ فِي الاَرضِ تُرِيدُونَ عَرَضَ

الدّنيَا وَاللهُ يُرِيدُ الآخِرَةَ وَاللهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (الف) (آيت۶۷ سورة الانفال ۸) په دې آيت کې دئ چې دنبي کريم (ﷺ) سره قَيدِيَان وي او دئ هغه په وَهَلُو وَهَلُو سره ختم نَه کړي.نو دَادَوَل په کار نَه دئ بلکه بَايَد دئ هغه وَوَهِي وَوَهِي او ختم يې کړي.او دمسلمان قَيدِي په بدله کې کَافِر قيدي ورکول دَادَوَل دئ لکه هغه چې زُوَندئ وَسَاتِي.نوځکه هغه بَايَدورنه کړي (۳) په بَل آيت کې دئ. وَاقتُلُوهُم حَيثُ ثَقِفتُمُوهُم (ب) (آيت ۱۹۱ سورة البقرة ۲) او په آيت کې دئ. فَإِن تَوَلّوا فَخُذُوهُم وَاقتُلُوهُم حَيثُ وَجَتّمُوهُم وَلاَتَتخِذُوا مِنهُم وَلِيًّا وَلاَنِصِيراً (ج) (آيت۸۹ سورة النساء ۴) په دې دواړو آيتو کې دئ چې کُفّار په کُوم ځائ کې وموندئ هلته قتل کړئ.نو ځکه قَيدِي قتلول زِيَات بِهتَر دئ ..... چې دمسلمان قَيدِيَانُ په بدله کې نَه شي خُوشِي کولائي نو دفِديَه او مَال په بَدلَه کې به خَه رنګه خوشي کوي؟

فائده : صاحبين او امام شافعي فرمايي چې دقَيدِيَانُ په بدله کې خُوشِي کولائي شي .

وجه : (۱) د دُوئي په نيز مسلمان بَچَاؤول د کُفر تر ختمولو زيات مُهِم کار دئ چې

حاشيه : (الف) يوه نبي ته دا جواز نشته چې دده سره قَيدِيَان وي تر څو چې دهغه وِينَه يې نَه وي تُوئي کړي.تاسو د دُنيَا سامان غُوَارِئ او الله آخرت غُوَارِي.الله د غَالِب حکمَت والا دئ (ب) چې کُوم ځائ کې وموندئ کُفّار قتل کړئ (ج) که چيري کُفّار وَتَبنِيِري نو دُوئي تِينګ کړئ او چيري چې وموندئ قتل يې کړئ او دُوئي دُوستَان او مرستيالان مَه جوړوئ .

[۳۰۰۵](۲۶) وَلاَيَجُوزُ المَنّ عَلَيهِم .

په مسلمانانُ کې بَددِلِي او بَدګُمَانِي پيدا نَه شي.نوځکه دمسلمانُ قيديانُ په بدله کې کُفّار قَيدِيَان خوشي کولائي شي (۲) په آيت کې ددې ثبوت شته. فَإِذَا لَقِيتُمُ الّذِينَ کَفَرُوا فَضَربَ الرّقَابِ حَتّي إِذَا اَثخَنتُمُوهُم فَشُدّوا الوَثَاقَ فَإِمّا مَنّا بَعدُ وَ اِمّا فِدَاءً حَتّي تَضَعَ الحَربُ اَوزَارَهَا (الف) (آيت ۴سورة محمّد ۴۷) په دې آيت کې دئ چې دقَيدکولو وروسته يا اِحسَان کولائي شئ يايې په فِديَه کې يَلَه کولائي شئ (۳) په حديث کې دئ چې حضور (ﷺ) د دُو مسلمان قَيدِيَانُ په بَدلَه کې يَومُشرِک قَيدِي خوشي کړئ دئ.حديث دا دئ. عَن عِمرَانَ بِنِ حُصَينٍ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) فَدْي رَجُلَينِ مِنَ المُسلِمِينِ بِرَجُلٍ مِّنَ المُشرِکِينَ (ب) (ترمذي شريف.باب ماجاء في قتل الاسارْي والفداء ص۲۸۵نمبر۱۵۶۸) (۴) په مُسلِم شريف کې دَادَوَل الفاظ دي. حَدّثَنِي اِيَاسُ بِنِ سَلَمَةَ حَدّثَنِي اَبِي قَالَ غَزَونَا فَزَارَةَ وَعَلَينَا اَبُوبَکرٍ ... فَبَعَثَ بِهَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِلْي اَهلِ مَکّةَ فَفَدْي بِهَا نَاسًا مِنَ المُسلِمِينَ کَانُوا اُسِرُوا بِمَکّةَ (ج) (مسلم شريف.باب التنفيل وفداء المسلمين بالاسارْي ص۸۹نمبر۱۷۵۵) ددې دواړو حديثو څخه معلوم شوچي دقَيدِي په بَدلَه کې قَيدِي خُوشِي کولائي شي .

لغت : يُفَادْي : فِديَه ورکول. ديوه شِي په بدله کې خوشي کول. اُسَارْي : د اَسِيرٌ جمع ده.قَيدِي .

[۳۰۰۵](۲۶) پر کُفّارُ اِحسَان کول جواز نَه لري .

تشريح : بغيره څه اخستلو دكُفّارُ قَيدِي خوشي كول جواز نَه لري .

حاشيه : (الف) چي دكَافِرَانُ سره مقابلي ته راشئ نو غَازِي(سَرُونَه)دومره وَوَهَئ چي وِينَه يي ثُوئي كړئ او تِينګ يي وَتَړَئ.بيا يا اِحسَان وكئ يا فِديَه واخلئ يَلَه يي كړئ تر دي چي جنګ ختم شي (ب) حضور (ﷺ) د دُو مسلمانانُ په بَدلَه كي يَو مُشرِک په فِديَه كي وركړئ (ج) حضرت سلمه فرمايي چي موږ د فَزَارَه قبيلي سره جنګ وكئ او حضرت ابوبكر پر موږ اَمِير وُ ... حضور (ﷺ) مَكّه ته وَاستَاوَئ او دهغه مسلمانانُ په بَدلَه كي فِديَه وركړه كُوم چي په مَكّه كي قَيد شوي وُ .

وجه : د تېر شوو دواړو حديثو څخه معلوم شو چي دمسلمان قَيدِي په بَدلَه كي كافِر قَيدِي يَلَه كول مُنَاسِب نَه دئ نوچي هيڅ شئ يې نَه وي حُيني اخستئ كافِر قَيدِي خوشي كول به څه رنګه جواز پيدا كړي؟ .

فائده : امامِ شافعي(رح) فرمايي كه چيري مَصلَحَت وي نو بغيره فِديَه هم كَافِر قَيدِي خوشي كولائي شي .

وجه : (١) دده دليل تېرشوئ آيت فَاِمّا مَنّاً بَعدُ وَ اِمّا فِدَاءً (آيت٤ سورة محمّد٤٧) دئ (٢) په حديث كي دئ چي حضور (ﷺ) دفِديي بغيره هم څه كُفّار يَلَه كړي دي.حديث دادئ. عَن اَنَسٍ اَنّ ثَمَانِينَ رَجُلاً مِن اَهلِ مَكّةَ هَبَطُوا عَلَي النّبِيّ (ﷺ) وَ اَصحَابِهِ مِن جِبَالِ التّنعِيمِ عِندَ صَلاَةِ الفَجرِ لِيَقتُلُوهُم فَاَخَذَهُم رَسُولُ اللهِ سَلَمًا فَاَعتَقَهُم رَسُولُ اللهِ (ﷺ) فَاَنزَلَ اللهُ عَزّوَجَلّ وَهُوَ الّذِي كَفّ اَيدِيَهُم عَنكُم وَ اَيدِيَكُم عَنهُم بِبَطنِ مَكّةَ الخ (الف) (آيت٢٤سورة الفتح٤٨) او په بَل رِوَايَت كي راغلي دي. عَن مُحَمّدِ بِنِ جُبَيرِ بِنِ مُطعِمٍ عَن اَبِيهِ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ لِأُسَارْي بَدرٍ لَو كَانَ مُطعِمُ بِنِ عَدِيٍّ حَيًّا ثُمّ كَلّمَنِي فِي هٰؤلآءِ لأُطلَقتُهُم لَهُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في المَنّ علْي الاسيربغيرفِدَاءٍ ج٢ص١٠نمبر٢٦٨٩/٢٦٨٨/بخاري شريف.باب ما مَنّ النّبِيّ (ﷺ) علْي الأسارْي من غيران يخمّس ص٤٤٣نمبر٣١٣٩) ددې حديث څخه معلوم شوچي كه امام بِهتَر وګڼي نو دكُفّارُ قَيدِي بغيره دفِديي اخستلو هم يَلَه كولائي شي .

حاشيه : (الف) د اَهلِ مَكّه څخه اَتيَا (٨٠) كَسَان د سَهَار د لمانځه پر وخت د جَبَلِ تَنعِيم څخه پر حضور او دده پر اَصحَابَانُ راشوه شول چي دُوئي شهيدان كړي.نو رسول الله (ﷺ) دُوئي تِينګ كړل او دُوئي يې آزاد كړل نو الله تعالٰي دا آيت نَازِل كړئ.هغه د الله ذَات دئ چي ستاسو څخه د دُوئي لاَسُونَه وَنِيوَل او ستاسو لاَسُونَه يي د دُوئي څخه وَنِيوَل په وَادِي مَكّه كي (ب) حضور (ﷺ) د بَدر و قَيدِيَانُ ته وفرمايل كه مُطعِم بن عَدِي ژوندئ واى او ددې خلګو په اړه يې خبره كړې واى نو مَا به دده په وجه دغه خلګ خُوشِي(يَلَه)كړي واى .

[۳۰۰۶](۲۷) وَ اِذَا فَتَحَ الاِمَامُ بَلدَةً عَنوَةً فَهُوَ بِالخِيَارِ اِن شَاءَ قَسّمَهَا بَينَ الغَانِمِينَ وَ اِن شَاءَ اَقَرّ اَهلَهَا عَلَيهَا وَ وَضَعَ عَلَيهِمُ الجِزيَةَ وَ عَلٰي اَرَاضيهِم الخِرَاجَ .

[۳۰۰۶](۲۷) که امام يَوښَار په طاقت سره فتح کړي نو ده ته اِختِيَار دئ که خُوښَه شي د غَازِيَانُ تر مينځ دې تقسيم کړي او که خُوښَه شي هغه وُسِيدُونکِي دي پر هغه بَرقَرَارَ وساتي او پر دُوئي دي جِزيَه مقرّر کړي او پر مځکه دې خِرَاج مقرّر کړي .
تشريح : که يَوښَار امام په طَاقَت سره فتح کړي نو امام ته دهغه مځکي په اړه دُوَه اختيارات حاصِل دي.يَو خو دا چې هغه د مُجَاهِدِينُ ترمينځ دې تقسيم کړي.او دُويَم صورت دادئ چې دهغه ځائ بَاشِندَگَان(يعني وُسيدُونکِي)پر هغه مځکه برقرار وساتي او د ذِمّي وَالِي په وجه دي پر هغه بَاشِندَگَانُ جِزيَه مقرّر کړي او پر مځکه دې خِرَاج مُقَرّر کړي .
وجه : (۱) په آيت کي و دې ته اِشَارَه شوې ده چې امام ته ددې اِختِيَار شته. مَآ اَفَآ ءَ اللهُ عَلٰي رَسُولِهِ مِن اَهلِ القُرْي فَلِلّهِ وَلِلرّسُولِ وَلِذِي القُربٰي وَاليَتٰمٰي وَالمَسَاكِينِ وَاِبنِ السّبِيلِ كَي لاَيَكُونَ دُولَةً بَينَ الاَغنِيَاءِ مِنكُم وَمَآ آتَاكُمُ الرّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُم عَنهُ فَانتَهُوا (الف) (آيت ۷ سورة الحشر ۵۹) په دې آيت کي دئ چې کُوم مَالِ غَنِيمَت راشي هغه د الله او د الله د رسول دئ.نو ځکه دهغه پر ځائ چې کُوم اَمِير وي وهغه ته د تقسيم کولو او نَه کولو اختيار دئ (۲) په حديث کي دئ چې دخَيبَرمځکه په طاقت سره فتح کړه او هغه يې په شُپُږدېرش (۳۶) حِصّو کي تقسيم

حاشيه : (الف) د کَلِي وَالُو کُومَه مځکه چې الله تعالٰي دغَنِيمَت په توګه وخپل رسول ته ورکړه هغه د الله لپاره.د رسول لپاره.د رِشتَه دَارَانُ لپاره.د يَتِيمُانُ لپاره.د مِسکِينَانُ لپاره او دمُسَافِرُ لپاره ده.چې ستاسو د مَالدَارَانُو ترمينځ مُخَاصَمَت رانه شي.نوځکه چې رسول کُوم شَئ درکړي هغه واخلئ او چې دکُوم شِي څخه مو منع کړي دهغه څخه منع شَئ .
کړه او بيايې دهغه ځائ يَهُودِيَان د کار کولو لپاره مقرّر کړل.او مَکّه مُکرّمَه يې هم په طاقت سره فتح کړه لېکن دمَکّي مځکه د مجاهدين تر مينځ نَه کړه تقسيم بلکه دهغه ځائ خلګ يې پرهغه برقرار وساتل.وروسته هغو خلګو اِيمَان راوړئ.دخَيبَر مځکه په طاقت سره فتح کړه دليل يې دا حديث دئ. عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) قَاتَلَ اَهلَ خَيبَرَ فَغَلَبَ عَلٰي الاَرضِ وَالنّخلِ وَ اَلجَاهُم اِلٰي قَصرِهِم (الف) او دغه مځکه د مجاهدين ترمينځ تقسيم کړه دهغه دليل دا حديث دئ. عَن سَهلِ بنِ اَبِي حَثمَةَ قَالَ قَسّمَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) خَيبَرَ نِصفَينِ. نِصفًا لِنَوَائِبِهِ وَحَاجَتِهِ وَنِصفًا بَينَ المُسلِمِينَ قَسّمَهَا بَينَهُم عَلٰي ثَمَانِيَةَ عَشَرَ سَهمًا (ب). دا چې يَهُودُ ته هغه مځکه دکار کولو لپاره ورکړه دليل يې دا حديث دئ. عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَ قَالَ لَمّا اُفتُتِحَت خَيبَرُ سَأ لَت يَهُودُ رَسُولَ اللهِ

(ﷺ) اَنّ يُقِرّهُم عَلْي اَن يَعمَلُواعَلْي النِّصفِ مِمّا خَرَجَ مِنهَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) أُقِرّكُم فِيهَا عَلْي ذَالِکَ مَا شِئنَا (ج) (ابوداؤدشريف.باب ماجاءفي حكم ارض خيبرج۲ص۶۸نمبر۳۰۰۶/ ۳۰۰۸/ ۳۰۱۰/بخاري شريف.باب معاملة النبيّ (ﷺ) اهل خيبر ص۶۰۹ نمبر۴۲۴۸. باب غزوة خيبر ص۶۰۳ نمبر۴۱۹۷ كتاب المغازي) ددي حديثو څخه دري سره خبري ثابت شوي .

هغه خلګ دي برقرار وساتي او خِرَاج دي پر کښيږدي دليل يې دا اَثَردئ. (۱) اَنّ عُمَرَ بِنِ الخَطّابِ بَعثَ عُثمَانَ بِنِ حَنِيفٍ فَمَسَحَ السّوَادَ فَوَضَعَ عَلْي کُلّ جَرِيبٍ عَامِرٍ اَو غَامِرٍ حَيثُ يَنَا لُهُ المَاءُ قَفِيزاً وَدِرهَمًا (د) (سنن للبيهقي.باب قَدرِالخِرَاجِ الّذِي وضع علْي السواد ج۹ص۲۳۰نمبر۱۸۳۸۳) حضرت عمر سَوَاد يعني دعِرَاق مځکه فَتح کړه او

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) د اَهلِ خَيبَرسره جنګ وکئ او پر مځکه او بَاغ يې قبضه وکړه او دُوئي يې د دُوئي په قِلعُو کي شَرَلُو ته مجبوره کړل (ب) حضور (ﷺ) خَيبَر په دُو حِصّو کي تقسيم کړئ.نِيمَئ يې دمُصَيبَتُو او ضرورتو لپاره او نِيمَئ يې د مسلمانانُ تر مينځ پر اَتَلس(۱۸)حِصّو تقسيم کړئ (ج) عبدالله بن عمر فرمايي چې کُوم وخت خَيبَرفتح شو نو يَهُودِيَانُ وحضور (ﷺ) ته وويل چې دُوئي دي پر هغه ځائ برقرار وساتل شي په دې شرط چې دُوئي به پر نِيمَئ مَضَارَبَت کار کوي.حضور (ﷺ) وفرمايل تر کُوم وخته پُوري چې زَه يې وَغُوارِم پر خَيبَر مي بَحَال سَاتَم (د) حضرت عمر عُثمان بن حنيف وَاستَاوَئ.هغه د عِرَاق مځکه نَاپ کړه. آبادَ او غَيرآبَاد کُوم چې اُوبَه ورسيږي پر يَوَه جَرِيب يي يَو قَفِيز يا يَو دِرهَم مُقَرّر کړئ .

[۳۰۰۷](۲۸) وَهُوَ فِي الأُسَارْي بِالخِيَارِ اِن شَاءَ قَتَلَهُم وَ اِن شَاءَ اِستَرَقّهُم وَ اِن شَاءَ تَرَکَهُم اَحرَارًا ذِمّةً لِلمُسلِمِينَ .

دهغه ځائ خَلګ يې ذِمّيَان وګرزول او پر هغوئي يې خِرَاج يعني ټيکس ولګاوئ.ددې څخه معلوم شوچي دهغه ځائ بَاشِندَګَان يعني وُسېدُونکي پر هغه ځائ برقرار وساتي او ټيکس پر لازم کولائي شي (۲) عَن عُثمَانَ بِنَ اَبِي سُلَيمَانَ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) بَعَثَ خَالِدَبِنِ وَلِيدٍ اِلْي اَکِيد رُدُومَةٍ فَاَخَذُوهُ فَاَتَوا بِهِ فَحَقَنَ لَهُ دَمُهُ وَصَالَحَهُ عَلْي الجِزيَةِ (الف) (سنن للبيهقي.باب من قال توخذمنهم الجزية عَرَ بًا كان او عَجَمًا ج۹ص۳۱۴نمبر۱۸۶۴۱) ددې څخه هم معلوم شوچي جِزيَه اخستلائي شي .

مَکّه مُکَرّمَه په طاقت سره فتح شوې ده دهغه دليل دا حديث دئ. (۱) اَنّ اِبنَ عَبّاسٍ اَخبَرَهُ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) غَزَا غَزوَةَ الفَتحِ فِي رَمَضَانَ (ب) (بخاري شريف.باب غزوة الفتح في رمضان ص۶۱۲نمبر۴۲۷۵/مسلم شريف.باب فتح مكّة ج۲ص۱۰۲نمبر۱۷۸۰) ددې حديث څخه معلوم شوچي مَکّه مُکَرّمَه د بَازُو په زور او طاقت سره فتح شوې ده.ددې بَاوُجُود يې دمَکّي مُکَرّمې مځکه دهغه مجاهدينُ ترمينځ نَه ده تقسيم کړې(۲) دغه رنګه دعراق مځکه حضرت عمر دمجاهدين ترمينځ نَه ده تقسيم کړې ددې څخه معلوم شوچي اِمَام ته دواړه اِختِيَارَات حاصِل دي .

لغت : عَنوَةً : په زُور او زَبَردَستِي سره. غَانِمِينَ : د غَانِمٌ جمع ده.مَالِ غَنِيمَت حاصِلونکي مجاهدين .

[۳۰۰۷](۲۸) او امام ته دقَيدِيَانُ په اړه اِختِيَار دئ.که خُوښَه شي قتل دې کړي که خُوښَه شي غُلاَمَان دې وګرزوي.او که خُوښَه شي د مسلمانان لپاره دې ذِمّي وګرزوي آزاد دې پريږدي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) خَالِدبن وليد ,, اِكِيدَرڈومَة ,, ته واستاوئ.هغو دئ ټينګ کړئ رَايَوَستئ نو دده وِينَه يې مَعَاف کړه او پر جزيَه باندې صُلح وکړه (ب) حضور (ﷺ) د فَتحِ مَکّه غزوة په رُوژَه کي وکړه .

تشريح : کُوم قَيدِيَان چي دجنګ په مَيدَان کي نِيوَل شوي دي دهغوئي په اړه اِمَام ته دري اِختِيَارَات حاصِل دي.چي په کُوم يوه کي ګټه او مَصلَحَت وي ددې دُرُو څخه په هسي يَوَه سره معامله وکي (۱) که دِبر شَرپَسَند وي نو هغه دي قَتل کړي چي دده د شَرَارَت څخه ځان وَسَاتِي (۲) که مُنَاسِب وګڼي نو قَيدِيَان دي غُلاَمَان کړي (۳) او که مُنَاسِب وګڼي نو آزاد دې پريږدي.لېکن دُوئي دي دمسلمانانُ لپاره ذِمّي وګرزوي چي جِزيَه او ټېکس ورکوي .

وجه : (۱) په حديث کي د دُرُو سره ثبوت شته.دا چي قَيدِيَان قتل کړي دليل يې دا حديث دئ.عَن اَبِي سَعِيدِالخُدرِيّ قَالَ لَمّا نَزَلَتَ بَنُوقُرَيظَةَ عَلْي حُكمَ سَعدٍ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) ... قَالَ اِنّي اَحكُمُ اَن تَقتُلَ المُقَاتَلَةَ وَ اَن تَسبِيَ الذّرّيّةَ قَالَ لَقَد حَكّمتَ فِيهِم بِحُكمِ المَلَكِ (الف) (بخاري شريف.باب اذا نزل العدوّ علْي حُكمِ رَجُلٍ ص۴۲۷ نمبر۳۰۴۳/مسلم شريف.باب جوازقتال من نقص العهدوجواز انزال اهل الحِصن علْي حُكم حاكم عَدلٍ اهل للحكم.نمبر۱۷۶۹) (۲) په بَل حديث کي دئ. عَن اَنَسِ بنِ مَالِکٍ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) دَخَلَ عَامَ الفَتحِ وَعَلْي رَأسِهِ المِغفَرُ فَلَمّا نَزَعَهُ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ اِنّ اِبنَ خَطَلَ مُتَعَلّقٌ بِاَستَارِ الكَعبَةِ فَقَالَ اُقتُلُوهُ (ب) (بخاري شريف.باب قتل الاسيروقتل الصبي ص۴۲۷ نمبر۳۰۴۴/ مسلم شريف.باب جواز دخول مکّة بغيراحرام ص۴۳۹نمبر۱۳۵۷) ددې حديث څخه معلوم شوچي مُنَاسِب يې وګڼي نو قَيدِي قتل کولائي شي .

او که چيري مُنَاسِب وګڼي نو ژُوَندَئ دې وساتي او قَيدِي دې کړي.ددې دليل دتېر شوي حديث بنوقريظه دا جُملَه ده وَاَن تَسبِي الذّرّيّة (بخاري شريف.نمبر۳۰۴۳/مسلم شريف. نمبر ۱۷۶۹) ددې حديث څخه معلوم شوچي قَيدِي هم غُلاَم يا مينځه ګرزولائي شي .

دا چي اِحسَانًا يې پريږدي او ذِمّي يې وګرزوي دليل يې (۱) د يوه وُرد حديث ټکړه

حاشيه : (الف) بنوقريظه دحضرت سعد پر حُكم رَاشَوَه شو نو حضور وَاستَاوَئ ... حضرت سعد وفرمايل زَه فيصله کوم چي د دُوئي جَنګِيَالاَن دي قتل شي او د دُوئي اَولاَدُونَه دي قَيدِيَان شي.حضور (ﷺ) وفرمايل د فرشتو فيصله دي کړي ده (ب) حضور (ﷺ) دفَتحِ مَکّه په کال دَاخِل شو په داسي حَالَت کي چي دده پر سَر د جنګ خُوَلَئ وه.چي کُوم وخت يې دجنګ خُوَلَئ ليري کړه نو يَو سړئ راغلئ او وويل چي اِبن خَطَل دکعبې په پُوښ(غِلاَف)پُوري مُبنَتَئ دئ.حضور (ﷺ) وفرمايل دئ قتل کړئ .

[۳۰۰۸](۲۹) وَلاَيَجُوزُ اَن يَرُدّهُم اِلْي دَارِالحَربِ .

ده. سُمِعَ اَبَاهُرَيرَةَ يَقُولُ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) خَيلاً قِبَلَ نَجدٍ فَجَاءَت بِرَجُلٍ مِن حَنِيفَةَ يُقَالُ لَهُ ثُمَامَةَ بِنِ اَثَالٍ ... فَقَالَ مَا ذَا عِندَکَ يَاثُمَامَةَ فَقَالَ عِندِي مَاقُلتُ لَکَ اِن تَنعِمَ تَنعِمَ

عَلْي شَاكِرٍ وَاِن تَقتُلَ تَقتُلَ ذَا دَمٍ وَاِن كُنتَ تُرَيدُ المَالَ فَسَل تُعطَ مِنهُ مَاشِئتَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَطلِقُوا ثُمَامَةَ (الف) (مسلم شريف.باب رَبط الأسِيروحبسه وجواز المَنّ عَلَيهِ ج٢ص٩٣نمبر١٧٦٤) په دې حديث کې حضرت ثمامة چې قَيدِي وُ هغه يې يَلَه کړئ.قتل کړئ نَه دئ. په بَل حديث کي دئ (٢) حَدّثَنِي عَطِيّةُ القُرَظِيّ قَالَ كُنتُ مِن سَبيِ بَنِي قُرَيظَةَ فَكَانُوا يَنظُرُونَ فَمَن اَنبَتَ الثّغرَ قُتِلَ وَمَن لَم يَنبُتَ لَم يُقتَل فَكُنتُ فِيمَن لَم يُنبَت (ب) (ابوداؤدشريف.باب الغلام يصيب الحَدّ ص٢٥٧نمبر٤٤٠٤، كتاب الحدود) ددې حديث څخه معلوم شوچي د اِحسَان په توګه يَلَه کولائي هم شي (٣) مخته آيت تېرشوئ دئ فَاِمّا مَنّا بَعدُ وَ اِمّا فِدَاءً حَتّي تَضَعَ الحَربُ اَوزَارَهَا (آيت ٤سورة محمّد ٤٧) ددې آيت څخه هم معلوم شوچي اِحسَاناً يې خوشي کولائي(يَلَه کولائي)شي .

[٣٠٠٨](٢٩) البته دا جواز نَه لري چې دُوئي دَارُالحَرب ته پريږدي .

تشريح : د مسلمان قيديان په بَدلَه کي نَه بلکه هسي دُوئي پريږدي چې دَارالحَرب ته وُلاړ شي دا جواز نَه لري .

وجه : (١) بياخوبه حَربِيَان مضبوط شي اودُوبَارَه به بياجنګ کوي.نوځکه قَيدِيَان

حاشيه : (الف) حضور نَجد ته څَه کسان شِهسَوَارَان(پر آسانُ) وَاستَوَل نو دُوئي دبنوحنيفه يَوسړئ قيدي رَاوَستَئ چې ثَمَامَه بن آثَال نومېدئ ... حضور (ﷺ) پُوښتَنَه وکړه ثمامه ستا سره څِش دئ؟ يعني تَه څَه غُوَاړې؟ وويل زُومَا سره چې کُومَه خبره وه هغه مِي وکړه که اِحسَان وکړې نو شُکر گزار به يَم.او که قتل وکړې نو د قَتل مُستَحِق به قتل کړې.او کَال غواړي نو وَغُوَاړَه مَال به درکړم.حضور (ﷺ) وفرمايل ثُمَامَه يَلَه کړئ (ب) عطيّه قُرَظِي فرمايي چې زَه د بنوقريظه په قيديان کي وَم نو دُوئي به اَندَازَه لګول چې د کُوم يَوَه کَښتَه بېښتَان شَنَه شوي دي يعني بَالِغ شوئ دئ هغه يې قَتل کاوئ.او دکُوم چا چې بېښتَان نَه وُ شَنَه شوي هغه يې نَه قتل کاوئ.او زَه دهغوئي څخه وَم کُوم چې بېښتَان يې نَه وُ شَنَه شوي .

[٣٠٠٩](٣٠) وَ اِذَا اَرَادَ الاِمَامُ اَلعَودَ اِلْي دَارِالاِسلاَمِ وَمَعَهُ مَوَاشٍ فَلَم يَقدِر عَلْي نَقلِهَا اِلْي دَارِالاِسلاَمِ ذَبَحَهَا وَحَرّقَهَا وَلاَيَعقِرُهَا وَلاَيَترُكُهَا .

و دارالحرب ته پرېښول جواز نَه لري (٢) آيت تېرشوئ دئ.چې قَيدِيَان مړه کئ نو د دُوئي دُوبَارَه بيا دارالحرب ته اَستَوَل به څَه رنګه جواز پيدا کړي؟ مَاكَانَ لِنَبِيٍّ اَن يَكُونَ لَهُ اَسرْي حَتّي يُثخِنَ فِي الاَرضِ تُرِيدُونَ عَرَضَ الدّنيَا وَاللهُ يُرِيدُ الآخِرَةَ (الف) (آيت٦٧ سورة الانفال ٨) په دې آيت کي دئ چې قَيدِيَان قتل کړئ نوځکه بېرته دارالحرب ته د دُوئي اَستَوَل جواز نَه لري (٣) په بَل آيت کي دئ. فَاِذَا اِنسَلَخَ الاَشهُرُ الحُرُمُ فَاقتُلُوا المُشرِكِينَ حَيثُ وَجَدتُمُوهُم وَخُذُوهُم وَاحصُرُوهُم وَاَقعُدُوا لَهُم كُلّ مَرصَدٍ(ب) (آيت٥ سورة التوبة٩) په دې آيت کي هم دئ چې قَيدِيَان قتل کړئ نوځکه بېرته وَاپَس استول بنَه کار نَه دئ.بلکه ددې آيت په وجه فَاِمّا مَنّا بَعدُ وَ اِمّا فِدَاءً آيت منسوخ شوئ دئ لکه څَه رنګه چې حضرت ابن عبّاس فرمايلي دي .

[۳۰۰۹](۳۰) که اِمَام دارالاسلام ته وَایَس راتلل وَغُوَارِي او دده سره ژُوَندَئ وي او قُدرَت نَه لري چي هغه دَارالإسلاَم ته نَقل کړي نوهغه دي حَلاَل کړي او هغه دي وَسوَخِي نَه دې پَلِې پرېکوي او نَه دې هسي پرېږدي .

تشريح : امام او مجاهدين د دارالحرب څخه بېرته دارالاسلام ته روان وي او د دُوئي سره د دارالحرب څه ژُوَندَئ(يعني.پُسُونَه.غُوَايَه.وُښَان.خَرَه.آسان)وي هغه دارالاسلام ته نَه شي بِېوَلاَئِي نوهغه دي دحَربِيَانُ د فائدې لپاره نَه پرېږدي بلکه هغه دي ذَبح کړي او غُوَښَه دې وَسوَخِي چي حَربِيَان دهغه څخه فائده وَانَه خلي .

حاشيه : (الف) يوه نبي ته دا جواز نشته چي دده سره قَيدِيَان وي تر څو چي دهغه وِينَه يې نَه وي تُوئي کړي.تاسو د دُنيَا سامان غُوَارَئ او الله آخرت غُوَارِي (ب) چي د حُرمَت مياشتي ختم شي نومُشرِکَان قتل کړئ.دُوئي تِينګ کړئ دُوئي قَيدِيَان کړئ او د دُوئي لپاره په هره مُورچَه کي کښېنَئ .

وجه : (۱) کُفّارُ ته دي دفائدې اخستلو موقع نَه ورکوي ددې دليل دا آيت دئ. مَا قَطَعتُم مِن لِّينَةٍ اَو تَرَكتُمُوهَا قَائِمَةً عَلْي اُصُولِهَا فَبِاِذنِ اللهِ وَلِيُخزِيَ الفَاسِقِينَ (الف) (آيت۵ سورة الحشر۵۹) په دې آيت کي دئ چي دکُفّارُ درختي پرېږدئ يايي کاټ کړئ دا به د الله په حُکم سري وي او اَصل مقصد دادئ چي کافِران ته شَرمِندَګِي وي (۲) په حديث کي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ حَرّقَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) نَخلَ بَنِي النّضِيرِ وَقَطَعَ وَهِيَ البُوَيرَةَ (ب) (بخاري شريف.باب حديث بني النضير ومخرج رسول الله (ﷺ) اليهم في دية الرّجُلَينِ ص۵۷۴نمبر۴۰۳۱/مسلم شريف.باب جوازقطع اشجار الكفّار وتحريقها ج۲ ص۸۵ نمبر۱۷۴۶) په دې حديث کي دئ چي دکُفّارُ د مجبوره کولو لپاره د بنونضير درختي وَسوَخلې او هغه يې وِيرَانِ کړي.دغه رنګه بَايَد د دُوئي مَالُونَه(حيوانان) دَادَوَل کړي چي دُوئي اِستِفَاده ځيني وَنَه کړي .

لېکن حيوانان ژُوَندِي سَوَځل جواز نَه لري نوځکه ذَبح دي کړي غُوَښِي دې وَسوَخِي يادې په خَاوُرُو کي پَټِي کړي چي دُوئي اِستِفَادَه ځيني وَنَه کړي (۱) په حديث کي دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ لاَتَتّخِذُوا شَيئًا فِيهِ الرّوحُ غَرَضًا (ج) (مسلم شريف.باب النهي عن صبرالبهائم ج۲ص۱۵۳نمبر۱۹۵۷) په دې حديث کي دئ چي حيوان په لَبر لَبر(وَارِ وَارِ) نَه دئ قتلول په کار.ددې څخه معلوم شوچي ژُوَندَئ سُوَځل يي هم جواز نَه لري او نَه دَا چي لاَسُونَه او پُښې يې ورپرېکړي.ځکه چي په دَادَوَل کولو سره وحيوان ته تکليف رسيږي.البته ذَبح کول يې جائز دئ او دهغه وروسته چي دحيوان غُوَښِي وَسوَخِي نو حيوان ته کُوم تکليف نَه رسيږي (۲) په اَثَرکي دئ چي دحيوان لاَسُونَه پُښې پرېکړي نَه دې پرېږدي دا مُثلَه ده او مُثلَه جواز نَه لري.اَثَر دادئ. اَنّ اَبَابَکرٍ لَمّا بَعَثَ الجُنُودَ نَحوَ الشّامِ يَزِيدَ بِنِ اَبِي سُفيَانَ ...

حاشيه : (الف) چي كُومي نَودې درختي تاسو كَاتَوَئ يا هغه پر خپلو تَنُو باندي پرپرديئ نو دا دالله په حُكم سره كوئ.چي فَاسِقَان دَليل شي (ب) حضور (ﷺ) د بنو نضير بَاغُونَه وَسوَخَل او پري يې كړل چي نُوم يې بُوَيرَه وُ (ج) حضور (ﷺ) وفرمايل په كُوم حيوان كي چي رُوح وي هغه د سُپَر په توګه مَه كړئ .

[٣٠١٠](٣١) وَلاَيُقَسِّمُ غَنِيمَةً فِي دَارِالحَربِ حَتّٰي يُخرِجَهَا اِلٰي دَارِالاِسلاَمِ .

وَلاَتُغرِقَنّ نَخلاً وَلاَتُحرِقَنّهَا وَلاَتُعَقِّرُوا بَهِيمَةً وَلاَشَجَرَةً تُثمِرُ (الف) (سنن للبيهقي.باب من اختارالكفّ عن القطع والتحريق الخ ج٩ص١٤٦نمبر١٨١٢٥) په بَل رِوَايَت كي دئ. اَنّ اَبَابَكرٍ بَعَثَ يَزِيدَ بنِ اَبِي سُفيَانَ اِلٰي الشّامِ فَمَشْي مَعَهُ فَذَكَرَ الحَدِيثَ اِلٰي اَن قَالَ وَلاَتَذبَحُوا بَعِيراً وَلاَبَقَراً اِلاّ لِمَا أُكِلَ (ب) (سنن للبيهقي.باب تحريم قتل ماله روح الآبان يذبح فيوكل ج٩ص١٤٧نمبر١٨١٣٢) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي ذَبح دې كړي بيادې وَسوَخِي بغير د ذَبح كولو دې نَه سُوَخِي.ځكه چي فرمايلې دي چي لاَس پُښې پرېكول او بيا هسي پرېښول بنَه كار نَه دئ .

فائده : امامِ شافعي (؟) فرمايي چي نَه دې ذَبح كوي بلكه بغيره ذَبح كولو دې پرپرِدي .

وجه : مخته اَثَر تېرشو چي لاَتَذبَحُوا بَعِيراً وَلاَبَقَراً اِلاّ لِمَا أُكِلَ (سنن للبيهقي.نمبر١٨١٣٢) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي صِرف د خُوَرلُو لپاره دې ذَبح كړي هسي دې نَه ذَبح كوي.ددې څخه معلوم شوچي د دارالحرب حيوانان دي نَه ذَبح كوي هسي دې پرپرِدي .

لغت : يَعقِرُ : دعُقرٌ څخه مُشتَق دئ.پُلې وَرپرېكول.يعني پُښې يې په تُرَه وَهَل او پرېكول. مَوَاشٍ : حيوانان. د مَاشِيَةٌ جمع ده .

[٣٠١٠](٣١) په دارالحرب كي دي غَنِيمَت نَه تقسيموي ترهغوچي دَارُالاِسلاَم ته رَاوَبَاسِي .

حاشيه : (الف) حضرت ابوبكر چي د شَام پر لُورِي يزيدبن ابوسفيان ته لښكر واستاوئ ... نصيحت يي ورته وكړئ چي بَاغُونَه مَه ډُوبَوَه.هغه مَه سُوَخَه.د حيوانانُ پُښې مَه پرېكوه او نَه مېوه دَارَه درخته كاټوه (ب) حضرت ابوبكر يزيدبن ابوسفيان شَام ته وَاستَاوَئ نو دده سره تر څَه ځايَه پُورِي روان شو.دحديث دذِكر كولو په پر وخت يي دا هم وفرمايل وُښ او غُوَا مَه ذَبح كوئ مگر د خُوَرلُو لپاره .

تشريح : مَالِ غَنِيمَت دي د دارالحرب څخه دَارُالاِسلاَم ته رَاوړِي بيادې تقسيم كړي دهغه څخه مخكي دې نَه تقسيموي .

وجه : (١) مَالِ غَنِيمَت چي تر څو په دارالحرب كي موجود وي نو دا خطره شته چي كُفّار دي ډُوبَارَه بيا حمله وكړي او دغه مَال دي وَاپَس واخلي.چي خطره موجود ده نو ځكه مَال په مُكَمّلَه توګه د مسلمانان نَه دئ شوئ.نو دا دي اُوس دمجاهدين تر مينځ نَه تقسيموي.ډُويَم حِكمَت دادئ چي دتقسيم وروسته به مجاهد دهغه مَالِک شي نوځكه دهغه مَال په حِفَاظَت كي به دئ بُخت وي.او كه اَچَانَک جنګ شروع شو نو دئ په مُكَمّلَه تَيّاري سره گډون نَه شي كولائي.ځكه چي دده زړه خو به دمَال په حِفَاظَت او سَاتَنَه كي مَشغُول وي.او كه چيري مَال يَوځائ مَجمُوعَه پُرُوت وي نو يَوجماعت به دهغه

سَاتَنَه کوي او نور مجاهدين به په جنګ کي بُخت وي.نو ځکه په دارالحرب کي دي مَالِ غَنِيمَت نَه تقسيموي.البته! که چيري فتح کړي د دارالاسلام په درجه کې رَاوَلِي او دُوبَارَه دګُفّارُ دحملې اُمَيد نَه وي نو اُوس خو د دارالاسلام په درجه کي شو نوځکه اُوس يې هلته هم تقسيمولائي شي (۲) په حديث کي و دې ته اِشَارَه شوې ده. اَنّ اَنَسًا اَخبَرَهُ قَالَ اِعتَمَرَ النّبِيّ (ﷺ) مِنَ الجِعِرّانَةِ حَيثُ قَسّمَ غَنَائِمَ حُنَينٍ (الف) (بخاري شريف.باب من قسّم الغنيمة في غزوه وسفره ص۴۳۱نمبر۳۰۶۶) په دې حديث کي دئ چي دجنګ حُنَين غنيمت يې په جِعِرّانَه کي تقسيم کړئ اوجِعِرّانَه مَکّه مُکَرّمَه ته نژدې ده.اومَکّه مُکَرّمَه هغه وخت دارالاسلام ګرزېدلې وه ددې څخه معلوم شوچي مَالِ غَنِيمَت دي په دارالاسلام کي تقسيم کړي (۳) په خَيبَرکي چې کُوم مَال تقسيم کړئ هغه ځکه چي دفتح کېدو وروسته خَيبَر د دارالاسلام په درجه کي ګرزېدلئ وُ.او دُوبَارَه د يَهُودُ لخوا دحملې خطره نَه وه.عبارت په دَاډَوَل دئ. عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) قَاتَلَ اَهلَ خَيبَرَ فَغَلَبَ عَلَي الاَرضِ وَالنّخلِ وَاَلجَأهُم اِلَي قَصرِهِم (ب) (ابوداؤدشريف.باب ماجاء في حُكم ارض خيبر ج۲ص۶۸نمبر۳۰۰۶) ددې حديث څخه معلوم شو

حاشيه : (الف) حضور دجِعِرّانَه څخه عُمرَه وکړه چيري چې دحُنَين غَنِيمَت تقسيم کړئ وُ (ب) حضور د اَهلِ خيبَر سره جنګ وکئ.نو پر مخکه او بَاغُو يې قبضه وکړه او دُوئي يې په قِلعُو کي ناسته ته مجبوره کړل .

[۳۰۱۱](۳۲) وَالرِّدءُ وَالمُقَاتِلُ فِي العَسكَرِ سَوَاءٌ .

چي يهوديان يې دُومرَه مجبوره کړل چي دُوئي په خپل مَحَل کي بَند وُسېدَلُو ته مجبوره شول.ددې څخه معلوم شوچي هغه دارالاسلام ته نژدې شوئ وُ.نوځکه هلته د غنيمت په تقسيمولو کي کُوم حرج نشته .

فائده : د امامِ محمّد (ؒ) رأيَه داده چي په دارالحرب کي تقسيم خو جائز دئ لېکن ددغه مَذکُورَه وُجُوهَات لکبله بنَه کار نَه دئ .

وجه : ځکه چي په حديث کي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ يَهُودَ النّضِيرَ وَقُرَيظَةَ حَارَبُوا رَسُولَ اللهِ (ﷺ) ... فَقُتِلَ رِجَا لُهُم وَ قُسِّمَ نِسَا نُهُم وَ اَموَا لُهُم وَ اَولاَدُهُم بَينَ المُسلِمِينَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في خبرالنّضِير ص۶۷نمبر۳۰۰۵) په دې حديث کي دئ چي د دُوئي مَالُونَه.اَولاَدُونَه او بنځې د مجاهدين ترمينځ تقسيم کړې. ددې څخه معلوم شوچي تقسيمولائي شي. دغه د امامِ شافعي (ؒ) رَأيَه ده .

[۳۰۱۱](۳۲) مرستيالان او قِتَال کونکي په لښکر کي سره برابر دي .

تشريح : دمجاهدينُ څَه کَسَان باقاعده قِتَال کوي اوځَه کسان د دُوئي مَرَستَه کوي نو د مَالِ غَنِيمَت په حِصّه کي دواړه سره برابر دي.کَمَئ او زِيَاتُوب به نَه وي .

وجه : (۱) داسي وي چي په لښکر کي دبعضُ خلګو کار جنګ کول وی او دبعضُ خلګو کار دهغو مرسته کول وي.نوځکه دواړه به برابر حقداره ګڼل کيږي (۲) په اَثَرکي خو تر دې حَد پُوري راغلي دي چي دجنګ دختم کېدو وروسته او د مَالِ

غَنِيمَت دتقسيم څخه مخكي څوک په لښکر کي شَامِل شي او ګډون وکړي نو هغه ته به هم په مَالِ غَنِيمَت کي برابره حِصّه ملاؤيږي. سَمِعتُ طَارِقَ بنِ شِهَابٍ يَقُولُ: اِنّ اَهلَ البَصرَةِ غَزَوا اَهلَ نِهَاوَندَ فَاَمَدّوهُم بِاَهلِ الكُوفَةِ وَعَلَيهِم عَمّارُ بنِ يَاسِرٍ فَقَدِمُوا بَعدَ مَا ظَهَرُوا عَلَي العَدُوِّ فَطَلَبَ اَهلُ الكُوفَةِ الغَنِيمَةَ وَ اَرَادَ اَهلُ البَصرَةِ اَن

حاشيه : (الف) دقبيله نَضِير او قُرَيظَه سره حضور (ﷺ) جنګ وکړئ ... نو د دُوئي نَرَان يې قتل کړل او د دُوئي بنځي.مَالُونَه.او اَولادُونَه يې د مسلمانانُ ترمينځ تقسيم کړل .

لاَيُقَسِّمُوالاَهلِ الكُوفَةِ مِنَ الغَنِيمَةِ.فَقَالَ رَجُلٌ مِن بَنِي تَمِيمٍ لِعَمّارَبنِ يَاسِرٍاَيّهَا الاَجذَعُ تُرِيدُ اَن تُشَارِكَنَا فِي غَنَائِمِنَا قَالَ وَكَانَت اُذُنُ عَمّارَ جُذِعَت مَعَ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) فَكَتَبُوا اِلَي عُمَرَ بنِ الخَطّابِ فَكَتَبَ اِلَيهِم اَنّ الغَنِيمَةَ لِمَن شَهِدَ الوَقعَةَ (الف) (سنن للبيهقي.باب الغنيمة لِمَن شهدالوقعة ج٩ص٨٦نمبر١٧٩٥٣) په دې اَثَرهغه خګو ته هم مَالِ غَنِيمَت ملاؤشوئ دئ کُوم چې وروسته شريک شوي دي نو کُوم خلګ چې دمخکي څخه شريک وي البته په خِدمَت کي بُخت وي نو هغوئي ته به هم برابره حِصّه ملاؤيږي (٣) چې دغَزوَه حُنَين واقعه ته نَظَر وکړې نو هلته حضرت عَبّاس د حضور (ﷺ) د سُوَارلَئ مُهَار(ګيزَه.رَسّئ) نيولي ده او نور اَصحَابَان قِتَال کوي خو بياهم وحضرت عَبّاس ته د نورو سره برابره حِصّه ملاؤشوې ده.د مُکَمّل حديث ټکړه داده. قَالَ عَبّاسٌ شَهِدتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) يَومَ حُنَينٍ ... قَالَ عَبّاسٌ وَاَنَا آخِذٌ بِلَجَامِ بَغلَةِ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) اَكُفّهَا اِرَادَةَ اَن لاَتَسرِعَ. او په بَل رِوَايَت کي راغلي دي. حَدّثَنِي اِيَاسُ بنِ سَلَمَةَ هُوَ اِبنُ الاَكوَعِ قَالَ غَزَونَا مَعَ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) حُنَينًا ... وَقَسّمَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) غَنَائِمَهُم بَينَ المُسلِمِينَ (ب) (مسلم شريف .باب غزوة حنين ص٩٩نمبر١٧٧٧/١٧٧٥) نوځکه ټولو ته به برابره حِصّه ملاؤيږي (۴) په ابوداؤدشريف کي د سُپين ږيري او ځوان.د مُقَاتِل او رِدء واقعه بيان شوې ده او ټولو ته برابره حِصّه ورکول شوې ده.عِبَارَت يې دادئ. قَالَ: قَسّمَهَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) بِالسّوَادِ (ابوداؤدشريف.باب في النّفل ج٢ص١٩نمبر٢٧٣٩)

لغت : اِلرِّدءُ : مَرَستِيَال. مَدَدګَار .

حاشيه : (الف) اَهلِ بَصرَه د اَهلِ نِهَاوَند سره جنګ وکړئ نو دُوئي ته د اَهلِ کُوفَه په ذريعه مرسته ملاؤ شوه.د اَهلِ بَصره اَمِير حضرت عَمّاربن يَاسِر وُ.اَهلِ کُوفَه پر دُښمَن د غَالِب کېدو وروسته شريک شول.نو اَهلِ کُوفَه دغَنِيمَت مطالبه وکړه او اَهلِ بَصرَه وَغُوښتَل چې و اَهلِ کُوفَه ته غنيمت تقسيم نَه شي.نو د بنوتميم يَوَه سړي وحضرت عَمّار بن يَاسِر ته وويل ائ غُوَږ پرېښوی! په کُومَه وجه تَه زموږ په غنيمت کي دُوئي شريکان کوې؟ او دحضرت عَمّار غُوَږ دحضور (ﷺ) سره ګاټ شوئ وُ نو حضرت عَمّار وحضرت عمر ته خَط وليکئ.حضرت عمر جواب ورکړئ چې مَالِ غَنِيمَت به هغه ټولو ته ملاؤيږي کُوم چې په جنګ کي شريک شوي دي (ب) حضرت عبّاس فرمايي چې زَه په جَنګِ حُنَين کي دحضور (ﷺ) سره شريک شُوَم ... حضرت عبّاس فرمايي چې مَا دحضور (ﷺ) د کَچَرِي مَهَار نيولئ وُ.هغه مُو منع کوله چې کَچَرَه په تېزي سره مخته وُلاړ نَه شي. په بَل روايت کي راغلي دي چې حضور (ﷺ) دهغه غَنِيمَت پر مسلمانان تقسيم کړئ .

[٣٠١٢](٣٣) وَ اِذَا لَحِقَهُم المَدَدُ فِي دَارِالحَربِ قَبلَ اَن يُخرِجُوا الغَنِيمَةَ اِلَي دَارِالاِسلاَمِ شَارَكُوهُم فِيهَا .

[٣٠١٢](٣٣) كه دُوئي لره دارالحرب ته مَرَستَه راغله چي غَنِيمَت يې دارالاسلام ته لا نَه وُ راوړئ نو هغه به په دغه کي شريکان وي .
تشريح : يَولښکرمخکي په دارالحرب کي په جنګ کي بُخت وُ.د جنګ دختم کېدو وروسته لېکن د مَالِ غَنِيمَت د تقسيم څخه مخکي چي دارالاسلام ته هغه مَال نَه دئ مُنتَقِل کړئ په دغه دَورَان کي دمجاهدين يَوبَل جماعت د دُوئي د مَرَستِي لپاره د دُوئي سره ګډ شو نو دې جماعت ته به هم په غنيمت کي بربره حِصّه ملاؤيږي .
وجه : مخته د حضرت عمر فيصله تېرشوې ده چي و اَهلِ کُوفَه ته د اَهلِ بَصرَه په مَالِ غَنِيمَت کې حِصّه ورکړې وه.اَثَرنمبر(سنن للبيهقي.نمبر١٧٩٥٣) تېرشوئ دئ.يَوبَل اَثَردئ. اَنّ اَبَابَکرِالصِّدّيقَ بَعَثَ عِکرَمَةَ بنِ اَبِي جَهلٍ فِي خَمسِ مِائَةٍ مِّنَ المُسلِمِينَ مَدَداً لِزِيَادِبنِ وَلِيدَ وَلِلمُهَاجِرِ بنِ اَبِي اُمَيّةَ فَوَافَقَهُم الجُندَ قَد اِفتَتَحُوا النّجِيرَ بِاليَمَنِ فَاَشرَکَهُم زِيَادُ بنِ وَلِيدٍ وَهُوَ مِمّن شَهِدَ بَدراً فِي الغَنِيمَةِ (الف) (سنن للبيهقي.باب الغنيمة لِمَن شهدالوقعة ج٨ص٨٦نمبر١٧٩٥٢) په دې اَثَرکي هم دئ چي د جنګ دختم کېدو وروسته مَرَستَه راغله هغو ته هم په مَالِ غَنِيمَت کي حِصّه ورکړه.
پام لرنه : مخته تېرشوي دي چي د دارالحرب څخه نَه وي وَتَلِي د امام ابوحنيفه په نېز مَالِ غَنِيمَت تقسيمول ښَه نَه دئ نوځکه دمصنّف په عِبَارَت کي دادئ چي مَالِ غَنِيمَت يې دارالاسلام ته نَه وي رَاوړَئ دلَښکَر د مرستي لپاره يَوجماعت راشِي نو هغه ته به هم په مَالِ غَنِيمَت کي حِصّه ملاؤيږي.که نَه اَصل قاعده خو دغه ده چي مَالِ غَنِيمَت نَه وي تقسيم شوئ بَل جماعت دمرستي لپاره راشي نو هغه ته به حِصّه ملاؤيږي .

حاشيه : (الف) حضرت ابوبکر دېنځه سو مجاهدينو سره حضرت عکرمة د زِيَاد بن وَلِيد او دمُهَاجِربن اُمَيّة د مرستي لپاره وَاستَاوَئ.دا لښکر هغه وخت سره يَوځائ شو چي په يَمَن کي نَجِير فتح کړئ وُ نو زِيَاد بن وَلِيد دُوئي په غَنِيمَت کي شريک کړل.حضرت زياد په جنګِ بَدر کي شريک شوئ وُ .

[٣٠١٣](٣٤) وَلاَحَقّ لاَهلِ سُوقِ العَسکَرِ فِي الغَنِيمَةِ اِلاّ اَن يُقَاتِلُوا .

فائده : امام شافعي ؒ فرمايي چي دجنګ دختم کېدو وروسته ملاؤ شي نو هغه ته حِصّه نَه ملاؤيږي .
وجه : دده دليل دا اَثَر دئ. کَتَبَ عُمَرُ اِلَي سَعدٍ يَومَ القَادِسِيّةِ اَنّي قَد بَعَثتُ اِلَيکَ اَهلَ الحِجَازِ وَ اَهلَ الشّامِ فَمَن اَدرَکَ مِنهُم القِتَالَ قَبلَ اَن يَتفَقُوا فَاَسهِم لَهُم (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٠٩ في القوم يجيئون بعدالوقعة هل لهم شئ ج٦ص٤٩٧نمبر٣٣٢١١) په دې اَثَرکي دجنګ دختم کېدو څخه مخکي شِرکَت کونکو ته په مَالِ غَنِيمَت کي حِصّه ورکړې ده .
[٣٠١٣](٣٤) دلښکر د بَازَار خلګ په مَالِ غَنِيمَت کي حَق نَه لري مګر هغه وخت کي دُوئي هم قِتَال وکړئ .
تشريح : په لښکر کي شَامِل دي لېکن مَقصَد يې قِتَال نَه دئ خپل دُکَان لګول او تِجَارَت کول يې مقصددئ نو دُوئي ته په مَالِ غَنِيمَت کي حِصّه نَه رسيږي .

وجه : (۱) په اَثَرکي دئ چي کُوم خلګ په جنګ کي شريک شي هغوئي ته به حِصّه ملاؤيږي او دغه خلګ خو دنِيّت په لحاظ په جنګ کي شريک نَه دي.دا خو دخپل تجارت لپاره راغلي دي.نوځکه دُوئي ته به په مَالِ غَنِيمَت کی څَه رنګه حِصّه ملاؤيږي؟ (۲) په اَثَرکي دئ. کَتَبَ عُمَرُ بِنِ الخَطّابِ اَنّ الغَنِيمَةَ لِمَن شَهِدَ الوَقعَةَ (ب) (سنن للبيهقي.باب الغنيمة لِمَن شهدالوقعة ج۹ص۸۶نمبر۱۷۹۵۴) په دې اَثَرکي دئ چي غَنِيمَت دهغه چا لپاره دئ کُوم چي په جنګ کي شريک شوئ وي يا په جنګ کي دشِرکَت په نِيّت شَامِل شوئ وي .او دا خلګ خو په جنګ کي دشِرکَت په نِيّت نَه دي

حاشيه : (الف) حضرت عمر دقَادِسِيّه په ورځ و حضرت سعد ته خَط وليکئ چي زَه اَهلِ حجاز او اَهلِ شَام در اَستَوَم.د دُوئي څخه چي هر يوه دقِتَال څخه مخکي جنګ وموندئ(شِرکَت يي وکړئ) هغه ته حِصّه ورکه (ب) حضرت عمر خَط وليکئ چي غَنِيمَت به هغه چا ته ملاؤيږي چي په جنګ کي شريک شوئ وي .

[۳۰۱۴](۳۵) وَاِذَا اٰمَنَ رَجُلٌ حُرّ اَو اِمرَأةٌ حُرّةٌ کَافِراً اَو جَمَاعَةً اَو اَهلَ حِصنٍ اَو مَدِينَةٍ صَحّ اَمَانُهُم وَلَم يُجزِ لاَحَدٍ مِّنَ المُسلِمِينَ قَتلُهُم اِلاّ اَن يَکُونَ فِي ذَالِکَ مَفسَدَةٌ فَيُنبَذُ اِلَيهِم الاِمَامُ .

شَامِل شوي نوځکه دُوئي ته به په مَالِ غَنِيمَت کي حِصّه نَه ملاؤيږي (۳) د مُسلِم بِنِ سَلَمَة بِنِ اَکوَع وُږد حديث دئ چي دئ اَجِيريعني مَزدُور وُ.نوده ته حِصّه نَه ورکړه لِيکن چي د اَهلِ مَکّه سره قِتَال وشو نوحضور(ﷺ) د آس و سُوَارَه ته حِصّه ورکړه.ددې څخه معلوم شوچي دَادِوَل خلګ که په قِتَال کي بَرخَه واخلي نو حِصّه به ورته ملاؤيږي که نَه نو بيا نَه ملاؤيږي.حَدّثَنِي اِيَاسُ بِنِ سَلَمَةَ حَدّثَنِي اَبِي ... قَالَ کُنتُ تَبِيعًا لِطَلحَةَ بِنِ عُبَيدِاللهِ. اَسقِي فَرَسَهُ وَاَحُسّهُ وَاَخدِمُهُ وَ آکُلُ مِن طَعَامِهِ...ددې وُږد حديث په په آخِرکي دئ...ثُمّ اَعطَانِي رَسُولُ اللهِ(ﷺ)سَهمَينِ سَهمُ الفَارَسِ وَسَهمُ الرّاجِلِ (الف) (مسلم شريف.باب غزوة ذي قرد وغيرهاص۱۱۳نمبر۱۸۰۷/ مصنّف ابن ابي شيبة ۱۰۷ من قال للعبيد والاجير سهم ج۶ص۴۹۶نمبر۳۳۲۰۴)

فائده : د امامِ شافعي(رح) رأيه داده چي په يَوَه اَندَازَه کي دا خلګ هم په جنګ کي شريک شوي دي نو د تبرشوي اَثَر په وجه دې خلګو ته هم بَايَد حِصّه ملاؤ شي .

لغت : اَهلُ السّوقِ : د بَازَار خلګ.دُوګاندَارَان .

﴿...د اَمَان ورکولو احکام... ﴾

[۳۰۱۴](۳۵)که آزاد نَر يا آزادَ ښځه و کافِر ته يا يَوجَمَاعَت ته يا د قِلعَي وخلګو ته يا دښَار وخلګو ته اَمَن ورکړي نو د دُوئي اَمَان ورکول صحيح دئ.او دهيڅ يوه مسلمان لپاره جواز نشته چي هغه قَتل کړي مګر دا که په هغه کي يَوَه خَرَابِي وي.نو اِمَام دي دغه اَمَن ورکول ختم کړي .

حاشيه : (الف) حضرت سلمة فرمايي چي زَه دحضرت طلحه خَادِم وَم.دده و آس ته مِي اُوبَه وركولي.هغه مِي شَارِئ او دهغه خِدمَت مِي كاوئ او د ده سره مِي ډُودَئ خورله ... مَاتَه حضور (ﷺ) دُوې بَرخِي راكړې.يَوَه د آس بَرخَه يَوَه د سړي بَرخَه .

تشريح : و يَوَه كافِر يا د كَافِرَانُ و يوه جماعت ته يا دقِلعَي وخلكو ته يا د بنَار وخلكو ته آزاد نَر يا آزادَښځه اَمَن وركړي نو دا به د ټولو مسلمانانو لخوا اَمَن ګنِل كيږي.اُوس دهيڅ يَوَه مسلمان لپاره دا جواز نشته چي دئ قتل كړي.البته! كه چيري و دغه كافِر يا جماعت وغيره ته په اَمَن وركولو كي كُوم نُقصَان.خَرَابِي يا مَفسَدَه وي نو اِمَام دي بَاقَاعِدَه ددغه اَمَن دختم كولو اِعلاَن وكي.بيا چي د دُوئي سره هره معامله كوي .

وجه : (١) اَمَان وركول يَو قِسم عَهد كول دئ چي تاسو نَه قتلو.اُوس ددې څخه خِلاَف كول د قُرآن په رُونَا كي مَذمُوم دئ نو حُكه دا كار دي نَه كوي.آيت دادئ. اَلّذِينَ عَاهَدتّ مِنهُم ثُمّ يَنقُضُونَ عَهدَهُم فِي كُلّ مَرّةٍ وَهُم لاَيَتّقُونَ (الف) (آيت٥٦ سورة الانفال٨) په دې آيت كې عَهد مَاتَوَل دكُفّارُ علامت او نَخښَه بنولي ده نوحُكه عَهد مَاتَوَل بنَه كار نَه ئ (٢) په حديث كي دئ. قَالَ خَطَبنَا عَلِيٌّ فَقَالَ مَاعِندَنَا كِتَابٌ نَقرَؤهُ اِلاّ كِتَابُ اللهِ وَمَا فِي هٰذِهِ الصّحِيفَةِ ... وَذِمّةُ المُسلِمِينَ وَاحِدَةٌ فَمَن اَخفَرَ مُسلِمًا فَعَلَيهِ مِثلُ ذَالِكَ (ب) (بخاري شريف.باب ذمّة المسلمين وجوارهم واحدة يسعْي بهااَدنَاهُم ص٤٥٠نمبر٣١٧٢/ مسلم شريف.باب فضل المدينة و دعاء النبيّ (ﷺ) فيها بالبركة الخ ص٤٤٠نمبر١٣٧٠ كتاب الحج) ددې حديث څخه معلوم شوچي يَو مسلمان ذِمّه دَارِي واخلي نو د ټولو مسلمانانُ ذِمّه دَارِي جوړيږي.نوحُكه هيڅ يَوڅوک بايد دغه عَهد مَات نَه كړي. او چي بنځه اَمَان وركړي په هغه لَړ كي دا حديث دئ. اَنّهُ سُمِعَ اُمّ هَانِيٍّ اِبنَةَ اَبِي طَالِبٍ تَقُولُ ... فَقُلتُ يَا رَسُولَ اللهِ! زَعَمَ اِبنُ اُمّي عَلِيٌّ اَنّهُ قَاتَلَ رَجُلاً قَد اَجَرتُهُ فُلاَنُ بنِ هُبَيرَةَ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) قَد اَجَرنَا مَن اَجَرتِ يَا اُمّ هَانِيٍّ. قَالَت اُمّ هَانِيٍّ ذَالِكَ ضُحْي (ج)

حاشيه : (الف) هغه خلكو څخه كُوم چي تَا عَهد كړئ دئ بيا هر وار خپل عَهد مَاتَوي او بيا تقوْي هم نَه اِختِيَاروي(ب) حضرت علي مورِ ته خُطبَه ولوستَل او وفرمايل زُومَا سره د كِتَابُ الله څخه علاوه بَل يَو كِتَاب نشته كُوم چي مورِ يي وَايُو او كُوم چي په دې صحيفه كي دئ ... او دمسلمانانُ ذِمّه يَوَه ده ... څوک چي دمسلمانان ذِمّه مَاتَوي نو پر هغه باندي دهغه برابر يعني ګُنَاه ده (ج) اُمّ هَانِي فرمايي چي مَا وويل يَارَسُولَ الله! زُومَا مُورَنَئ وُرُور عَلِي دَاډَوَل سړئ وَژنِي چي مَا وهغه ته پَنَاه وركړي ده.هغه فُلاَن به هُبَيرَه دئ. حضور وفرمايل اُمّ هَانِي چي كُوم چاته پَنَاه وركړي ده هغه ته مَا هم پَنَاه وركړي ده.اُمّ هَانِي فرمايي چي دايي د ځَابنت پر وخت وفرمايل .

[٣٠١٥](٣٦) وَلاَيَجُوزُ اَمَانُ ذِمّيٍّ وَلاَ اَسِيرٍ وَلاَ تَاجِرٍيَدخُلُ عَلَيهِم

(بخاري شريف.باب اَمَانِ النِّسَاء وجوارهُن ص٤٤٩نمبر٣١٧١/ابوداؤدشريف.باب في اَمَانِ المَرأةِ ج٢ص٢٤نمبر٢٧٦٣) په دې حديث كي دئ چي حضرت اُمّ هَانِي اَمَن وركړئ نو هغه دحضور (ﷺ) لَخُوَا څخه هم اَمَن مُعتَبَر شو.ددې څخه معلوم شوچي كه بنځه اَمَن وركړي هغه به د ټولُو لخوا اَمَن ګنِل كيږي .

كه چيري اَمَن برقرار ساتلوكي كُوم نُقصَان وي نو اِمَام ته په كاردئ چي اِعلاَن وكي او اَمَن ختم كړي چي دُوئي په غَفلَت كي پاته نَه شي او مُورِ دعَهد مَاتَوُنكي نَه شو .

وجه : په آيت کي ددې ثبوت شته. وَاِمّا تَخَافَنّ مِن قَومٍ خِيَانَةً فَانبِذ اِلَيهِم عَلٰي سَوَاءٍ اِنّ اللهَ لاَيُحِبّ الخَائِنِينَ (الف) (آيت۵۸ سورة الانفال ۸) په دې آيت کي دئ چې که د يَوم قوم څخه دخِيَانَت خطره وي نو عَلٰي الإعلاَن اَمَان ختم کئ. دُوئي ته دهغه اِطّلاَع ورکړئ .
لغت : اَمّنَ : د بَابِ تَفعِيل څخه دئ.د اْمَنٌ څخه مُشتَق دئ اَمَن دي ورکړي. اَهلُ حِصنٍ : د قِلعَې خلک. يُنبَذُ اِلَيهِم : د نَبَذَ څخه مُشتَق دئ تَسَوَل.دلته مُرَاد عَهد مَاتَوَل دئ .
[۳۰۱۵](۳۶) د ذِمّي اَمَان ورکول جواز نَه لري او نَه د قَيدِي او نَه د دَادَوَل تَاجِر چي د دُوئي خُوَاتَه تَک رَاتَک کوي .
تشريح : چي زمونږ په دارالاسلام کي يَوکافِر ذِمّي وَسِيرِي چي دئ و حَربِي ته اَمَان ورکړي نو دده دغه اَمَان ورکول جواز نَه لري.چي زمونږ يَو قَيدِي د دُوئي سره بَندِي وي هغه و يَوَه حَربِي ته اَمَان ورکړي نو دهغه اَمَان ورکول هم کُوم اِعتِبَار نَه لري. يا مسلمان د تِجَارَت لپاره دارالحرب ته وُلاړ شي نو هغه تَاجِر د دُوئي څخه مُتَأثِّر شي حَربِي ته اَمَان ورکړي دغه اَمَان هم اِعتِبَار نَه لري .

حاشيه : (الف) که د يَو قوم څخه دخِيَانَت خَوف وي نو مخامخ صُلح ورسره ختم کئ ځکه چي الله تعالٰي خِيَانَت کونکي نَه خُوښَه وي .
وجه : (۱) ذِمّي خو مسلمان هم نَه دئ.او په حديث کي دئ چي مسلمان و حَربِي ته اَمَان ورکړي نو ټولو ته دهغه لحاظ سَاتَل په کار دئ.نوځکه د ذِمّي د اَمَان ورکولو هيڅ اِعتِبَار نشته (۲) په حديث کي ددې وَضَاحَت شوئ دئ. خَطَبنَا عَلِيٌّ بِنِ اَبِي طَالِبٍ قَالَ ... وَ ذِمّةُ المُسلِمِينَ وَاحِدَةٌ يَسعٰي بِهَا اَدنَاهُم. او مخته رِوَايَت کي دئ. فَمَن اَخفَرَ مُسلِمًا فَعَلَيهِ لَعنَةُ اللهِ وَالمَلاَئِكَةِ وَالنّاسِ اَجمَعِينَ. لاَيُقبَلُ مِنهُ يَومُ القِيَامَةِ صَرفٌ وَلاَ عَدلٌ (الف) (مسلم شريف.باب فضل المدينة ودعاء النبيّ (ﷺ) فيها بالبركة ص۴۴۰نمبر ۱۳۷۰/بخاري شريف.باب ذمّة المسلمين وجوارهم واحدة يسعٰي بها ادناهم ص۴۵۰ نمبر۳۱۷۲) په دې حديث د ذِمّةُ المُسلِمِين لفظ راغلئ دئ. ددې څخه معلوم شوچي دمسلمان اَمَان ورکول قَابِلِ اِعتِبَار دئ د ذِمّي د قَابِلِ اِعتِبَار نَه دئ (۳) ذِمّي خو به هسي هم د حَربِي رِعَايَت کوي که چيري دغه دَوَل د اَمَان خيال وسَاتَل شي نو بيا خو د حَربِيَانُ سره جنګ هم نَه شي کېدلائي.نو په دې وجه هم د ذِمّي اَمَان مُعتَبَر نَه دئ .
د قَيدِي اَمَان په دې وجه اِعتِبَار نَه لري چي هغه د دُوئي په لاَس کي مجبوره دئ. بله خبره دا چي هَر حَربِي ته اَمَان ورکړي نو جنګ به څَه رنګه کوُ؟ لِهٰذَا دقَيدِي اَمَان ورکول اِعتِبَار نَه لري.دغه رنګه زمونږ تُجّار چي دارالحرب ته ځِي هغه د دُوئي څخه مُتَأثِّر شي يا د سَامَان د اَخستلُو د بيري څخه اَمَان ورکوي د زړه په آزادي او د زړه په خوشحالي سره اَمَان نَه ورکوي.نوځکه د دُوئي اَمَان هم اِعتِبَار نَه لري .
لغت : اَسِيرٌ : قَيدِي. بَندِي .

حاشيه : (الف) حضرت علي وفرمايل ... د ټولو مسلمانانُ ذِمّه يَوَه ده. اَدنْي سړئ به هم د هغه د پُورَه کولو کوشش کوي. په بَل روايت کي دئ. چي هر مسلمان عَهد مَات کړي نو پر هغه د الله.د فرشتو او د ټولو خلکو لَعنَت دئ.الله به د قيامت په ورځ نَه بَدلَه ځيني قبوله کړي او نَه عَدل(يعني نَه فرض قبليږي او نَه نَفل.مترجم.)

[۳۰۱۶](۳۷) وَلاَيَجُوزُ اَمَانُ العَبدِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي اِلاّ اَن يَأذَنَ لَهُ مَولاَهُ فِي القِتَالِ وَقَالَ اَ بُويُوسُفَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي يَصِحّ اَمَا نُهُ .

[۳۰۱۶](۳۷) د امام ابوحنيفه په نېز دغُلاَم اَمَان ورکول جواز نَه لري مګر چي دده آقَا د قِتَال کولو اِجَازَت ورکړي.او صاحبين فرمايي دده اَمَان ورکول صحيح دئ .

تشريح : آقَا که وغُلاَم ته د جنګ اِجَازَت ورکړئ وي بيا هغه غُلاَم ويَوَه حربِي ته اَمَان ورکړي نو دهغه لِحَاظ به سَاتَل کيږي. او که د جنګ اِجَازَت نَه وي ورکړئ نو بيا چي غُلاَم اَمَان ورکړي هغه کُوم اِعتِبَار نَه لري .

وجه : (۱) چي غُلاَم جنګ نَه شي کولائي نو اَمَان هم نَه شي ورکولائي.ځکه چي اَمَان ورکول د جنګ د عَوَارِضُ څخه دئ.غُلاَم چي دجنګ مجاز نَه دئ نو بَايَد د اَمَان ورکولو مَجَاز هم نَه شِي (۲) په مصنّف عبدالرّزاق کي يوه وُرِدَه واقِعَه راغلي ده په هغه کي دئ چي په جنګ کي شريک غُلاَم اَمَان ورکړئ نو حضرت عمر وليکل چي دده اَمَان ورکول جائز دئ. عَن فُضَيلِ الرّقَاشِيّ قَالَ ... فَقَالَ اَمَنتُمُونَا وَاَخرَجُوا اِلَينَا اَلسّهمَ. فِيهِ كِتَابُ اَمَانِهِم فَقُلنَا هْذَا عَبدٌ وَالعَبدُ لاَيَقدِرُ عَلْي شَئ قَالُوا لاَنَدرِي عَبدُكُم مِن حُرّكُم. وَقَد خَرَجُوا بِاَمَانٍ قُلنَا فَارجِعُوا بِاَمَانٍ قَالُوا لاَنَرجِعُ اِلَيهِ اَبَداً فَكَتَبنَا اِلْي عُمَرَ بَعضَ قِصّتِهِم فَكَتَبَ عُمَرُ اَنّ العَبدَ المُسلِمَ مِنَ المُسلِمِينَ اَمَا نُهُ اَمَا نُهُم (الف) (مصنّف عبدالرّزاق.باب الجوار وجوارالعبد والمرأة ج۵ص۲۲۳نمبر۹۴۳۶/سنن للبيهقي.باب امان العبدج۹ص۱۶۰نمبر۱۸۱۷۰) په دې اَتَرکي دئ

حاشيه : (الف) هغه کُفّارُ وويل تاسو موږ ته اَمَن راکړئ دئ.هغو زموږ مخته غَشَئ رَاوَکښَئ په هغه کي د اَمَان خَط وُ.موږ وويل هغه خو غُلاَم وُ او غُلاَم دهيڅ شِي قُدرَت نَه لري.کُفّارُ وويل موږ ستاسو غُلاَم او آزاد نَه پېژنو.هغوئي د اَمَان خَط بشکاره کړئ موږ وويل حُئ په اَمَن سره.هغوئي وويل موږ هيڅ کله وَاپَس نَه خُو.موږ وحضرت عمر ته بعض خَبَري وليکلي نو حضرت عمر جواب وليکئ چي غُلاَم هم مسلمان دئ او دده اَمَان هم اَمَان دئ .

[۳۰۱۷](۳۸) وَ اِذَا غَلَبَ التّركُ عَلْي الرّومِ فَسَبّوهُم وَ اَخَذُوا اَموَالَهُم مَلَكُوهَا .

چي اَلعَبدُ لاَيَقدِرُ عَلٰي شَيءٍ ددې مطلب دادئ چي صحابه ته معلوم وُ چي غُلاَم اَمَان نَه شي ورکولائي.او بله خبره دا چي دغه غُلام خو په جنګ کي شريک وُ نوځکه دده اَمَان يې مُعتَبَر وګانئ.لِهٰذَا که په جنګ کي شريک وُ نو دهغه غُلاَم اَمَان مُعتَبَر دئ که په جنګ کي شريک نَه وُ نوبيا دده اَمَان مُعتَبَرنَه دئ .

فائده : صاحبين فرمايي که په جنګ کي شريک وي که نَه.دغُلاَم اَمَان مُعتَبَر دئ .

وجه : (١) هغه خو هم مسلمان دئ او دمسلمان اَمَان مُعتَبَردئ.حديث تېرشوئ دئ. وَ ذِمّةُ المُسلِمِينَ وَاحِدَةٌ يَسعٰي بِهَا اَدنَاهُم (مسلم شريف.باب فضل المدينة ودعاء النبيّ (ﷺ) فيها بالبركة ص۴۴۰نمبر۱۳۷۰) (٢) په حديث کي ددې صراحت شوئ دئ. عَن عَلِيّ بنِ اَبِي طَالِبٍ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لَيسَ العَبدُ مِنَ الغَنِيمَةِ شَئٌ اِلاّ خَرثِئُ المَتَاعِ وَ اَمَانُهُ جَائِزٌ اِذَا هُوَ اَعطٰي القَومَ الأَمَانَ (الف) (سنن للبيهقي.باب امان العبد ج٩ص١۶٠نمبر ١٨١٧٢/مصنّف ابن ابي شيبة ١٣۴ في امان المرأة والمملوک ج۶ص۵١۴نمبر٣٣٣٨٣) په دې حديث کي صَرَاحَت شوئ دئ چي غُلاَم که په جنګ کي شريک نَه وي هم دده اَمَان مُعتَبَر دئ.نوځکه د غُلاَم اَمَان مُعتَبَر دئ (٣) مخته دحضرت عمر په اَثَر کي هم راغلي وُ چي دغُلاَم اَمَان ورکول مُعتَبَر دئ .

[٣٠١٧](٣٨) که دتُرک خلګ د رُوم پر خلګو غَالِب شي او هغه قَيدِيَان کړي او د دُوئي مَالُونَه واخلي نو هغه به ددې مَالِګَان شي .

تشريح : د تُرک او اَهلِ رُوم څخه مراد کافِران دي.يعني د يوه ګافِر مُلک خلګ د بَل ګافِر مُلک پر خلګو غَالِب شي او دهغه خلګ قَيدِيَان کړي او دهغوئي پر مَالُو قبضه وکړي نو هغه به ددې مَالِګَان شي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل غُلاَم ته په غنيمت کي هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي مګر يَلَه شوئ سَامَان او دده اَمَان ورکول جائز دئ چي کله دئ و قوم ته اَمَان ورکړي .

[٣٠١٨](٣٩) وَ اِن غَلَبنَا عَلَي التّرکِ حَلّ لَنَا مَا نَجِدُهُ مِن ذَالِکَ .

وجه : (١) چي دمسلمان پر مَال ګافِران قبضه وکړي هغه يې مَالِګَان ګرزي نو چي کله دګافِر پر مُلک قبضه وکړي نو وَلِي به مَالِګَان نَه ګرزي؟ (٢) د مِلکِيّت وجه غَلَبَه حاصِلول ده او په خپل مِلک کي رَاوَستَول دئ او دغه مُتَحَقّق شو نوځکه مَالِګَان ګرزي .

لغت : سَبَوا : دسَبيٌ څخه مُشتَق دئ قَيدکول. تُرک: يَومُلک دئ چي مخکي کافِر مُلک وُ. رُوم : د تُرک سره نژدې يَومُلک دئ چي اُوس محال هم کافِرمُلک دئ .

[٣٠١٨](٣٩) او چي موږ پر تُرک باندي غَالِب شو نو زموږ لپاره حلال دي هغه څَه چي موږ يې د دُوئي وموندو .

تشريح : موږ حمله وکړه پر تُرک باندي غَالِب شو نو کُوم مال چي تُرکَانُ د اَهلِ رُوم څخه اَخَستَئ وُ هغه ټولَ مالونه د مسلمانان لاَس ته راغلو نو موږ به دهغه مَالِګَان

شو.او دتُرکَان خپل مالونه کُوم چي زمورِ لاَس ته راغلو د هغه به هم مورِ مَالِکَان شو .

وجه : (۱) په جِهَاد کي دغَلَبې وروسته دغه ټوله مَالِ غَنِيمَت دئ او مَالِ غَنِيمَت دمسلمانان مِلکِيّت وي.نوځکه په جِهَاد کي که دتُرکَان خپل مالونه وي يايي د رُومِيَانُ پر مالو قبضه کړې وي هغه مالونه زمورِ لاَس ته راشي يعني دحَربِي خپل مَال وي يا دبَل حَربِي قبضه شُدَه مَال وي پر دواړو دمسلمانان مِلکِيّت ثابتيږي (۲) په آيت کي ددې ثبوت شته. مَآ اَفَآ ءَ اللهُ عَلٰي رَسُولِهِ مِن اَهلِ القُرْي فَلِلّهِ وَلِلرّسُولِ وَلِذِي القُربٰي وَاليَتٰمٰي وَالمَسَاکِينِ وَابنِ السّبِيلِ کَي لاَيَکُونَ دُولَةً بَينَ الاَغنِيَاءِ مِنکُم (الف) (آيت ۷ سورة الحشر ۵۹) په دې آيت کي دئ چي الله تعالٰي چي کُوم فَئ

حاشيه : (الف) د کَلِي وَالُو کُوم مَالُونَه چي الله تعالٰي دغَنِيمَت په توګه وخپل رسول ته ورکړه هغه د الله لپاره.د رسول لپاره.د رِشتَه دَارَانُ لپاره.د يَتِيمَانُ لپاره.د مِسکِينَانُ لپاره او دمُسَافِرُ لپاره دي.چي ستاسو د مَالدَارَانُو ترمينځ مُخَاصَمَت رانه شي .

[۳۰۱۹](۴۰) وَ اِذَا غَلَبُوا عَلٰي اَموَالِنَا وَ اَحرَزُوهَا بِدَارِهِم مَلَکُوهَا .

يعني مَالِ غَنِيمَت درکړئ دئ هغه ستاسو مِلکِيّت دئ (۳) په بَل آيت کي دئ. فَکُلُوا مِمّا غَنِمتُم حَلاَلاً طَيّبًا وَاتّقُوا اللهَ اِنّ اللهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ (الف) (آيت ۶۹سورة الانفال ۸) په دې آيت کي دئ چي کُوم مَالِ غَنِيمَت تاسو ته ملاؤ شي هغه خُورَئ هغه ستاسو لپاره حلال دئ.ددې څخه معلوم شوچي دحَربِي پر مَال قبضه وکړي نو مسلمان دهغه مَالِک ګرزي (۴) حضور (ﷺ) دخَيبَر مځکه دمجاهدينُ ترمينځ تقسيم کړه (ابوداؤدشريف.باب ماجاء في حُکم ارض خيبر ج۲ص۶۸نمبر۳۰۱۰)

[۳۰۱۹](۴۰) او که دُوئي زمورِ پر مَال غَالِب شي او دارالحرب ته وُلاَړ شِي او هغه دارالحرب ته يُوسِي نو دُوئي به دهغه مَالِکَان شي .

وجه : (۱) مخته تېرشو چي غَلَبَه وکړي خپل مُلک ته يُوسِي مَالِکَان ګرزي نوځکه حَربِي به مَالِک شي (۲) په آيت کي و دې ته اِشَارَه شوې ده.لِلفُقَرَاءِ المُهَاجِرِينَ اَلّذِينَ اُخرِجُوا مِن دِيَارِهِم وَ اَموَالِهِم يَبتَغُونَ فَضلاً مّنَ اللهِ وَرِضوَانًا (ب) (آيت ۸ سورة الحشر۵۹) په دې آيت کې د مَکّي مُکَرّمې و مُهاجِرينُ ته فُقَرَاء ويلي دي. حالانکه د دُوئي سره مَالُونَه موجود وُ بيا هم دُوئي ته فُقَرَاء ويل پر دې خبره دَلاَلَت کوي چي د دُوئي پر مَالُونُو دکُفّارُ قبضه راغلې ده او هغه يې مَالِکَان شوي دي. ځکه خو يې ومُهَاجِرينُ ته فُقَرَاء وويل (۳) په حديث کي ددې ثبوت شته. عَن اُسَامَةَ بنِ زَيدٍ اَنّهُ قَالَ يَارَسُولَ اللهِ! اَينَ تَنزِلُ فِي دَارِکَ بِمَکّةَ؟ فَقَالَ وَهَل تَرَکَ عَقِيلٌ مِن رِبَاعٍ وَ دُورٍ (ج) (بخاري شريف.باب توريث دُوَرِ مَکّة وبيعها وشرائهاالخ ص۲۱۶نمبر ۱۵۸۸،کتاب الحج/مسلم شريف.باب نزول الحاج بمکّة وتوريث دُوَرِهَا ص۴۳۶نمبر۱۳۵۱) په دې حديث کي حضور (ﷺ) د سَوَال په توګه پُوښتَنَه وکړه آيا عَقِيل يَوکُور يا دمځکي يَوَه ټکړه زمورِ لپاره پرېښې ده چي زَه هلته قِيَام وکړم؟ددې

حاشيه : (الف) چې مَالِ غَنِيمَت راشي هغه خُورَئ حلال طَيّب دئ او د الله څخه تَقوْي اِختِيَار کړئ الله معاف کونکئ دئ (ب) د فُقَرآء مُهَاجِرينُ لپاره دئ چې دخپلو کُورُو او مَالُو څخه رَااِيستَل شوي دي د الله د فَضل او رَضَامَندِي طلب کوي (ج) حضرت اُسَامَه بن زَيد پُوښتَنَه وکړه يَارَسُولَ الله! تَه د مَکّي په کُورُو کي په کُوم ځائ کي قِيَام کوئ؟ جواب يې ورکړئ آيا عَقِيل يوه مځکه يا کُور زُومَا لپاره پرېښَئ دئ ؟ .

[۳۰۲۰](۴۱) فَاِن ظَهَرَ عَلَيهَا المُسلِمُونَ فَوَجَدُوهَا قَبلَ القِسمَةِ فَهِيَ لَهُم بِغَيرِ شَيءٍ وَ اِن وَجَدُوهَا بَعدَ القِسمَةِ اَخَذُوهَا بِالقِيمَةِ اِن اَحَبّوا .

څخه معلوم شوچي دحضور (ﷺ) پر مځکه او مَکّان باندي دحضرت عقيل چي په دغه وخت کي کَافِر وُ دقبضې وروسته هغه مَالِک ګرزېدلئ وُ. ددې څخه معلوم شو چي کُفّار زمونږ پر مَالُو قبضه وکړي هغه يې مَالِکّان ګرزي .

فائده : امامِ شافعي (ؒ) فرمايي چي کُفّار زمونږ د مَالُو مَالِکّان نَه ګرزي .

وجه : دئ فرمايي چي دحضرت عمر غُلاَم د دُښمَنَانُ و خوا ته وَتَښتېدَئ او دُوئي پر هغه قبضه هم وکړه بيامسلمانانُ پر دُوئي غَلَبَه پيدا کړه نو حضور (ﷺ) هغه غُلاَم وحضرت ابن عمر ته بېرته وَاپَس کړئ.او هغه يې د مسلمانانُ ترمينځ نَه کړئ تقسيم.ددې څخه معلوم شوچي د دارالحرب په زَمَانَه کي هم غُلاَم دحضرت ابن عمر په مِلکِيّت کي پاته وُ.حَربِي دهغه مَالِک نَه دئ جوړشوئ. اَنّ غُلاَمًا لِابنِ عُمَرَ آبَقَ اِلَي العَدُوّ فَظَهَرَ عَلَيهِ المُسلِمُونَ فَرَدّهُ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِلَي اِبنِ عُمَرَ وَلَم يُقَسِّم (الف) (ابوداؤدشريف.باب في المال يصيبه العدوّ من المسلمين ثُمّ يدركه صاحبه في الغنيمة ج۲ص۱۸نمبر ۲۶۹۸/ بخاري شريف.باب اذا غنم المشركون مال المسلم ثُمّ وجده المسلم ص۴۳۱نمبر ۳۰۶۸) په دې حديث کي غُلاَم وحضرت ابن عمر ته بېرته وَاپَس ورکړئ دئ ددې څخه معلوم شوچي حَربِي نَه دئ دهغه مَالِک شوئ .

لغت : اَحرَزَ : جمع کول.د يَوَه مِلک څخه بَل مِلک ته مَال وُړَل .

[۳۰۲۰](۴۱) که پر هغه باندي مسلمان غَالِب شي او هغه دتقسيم څخه مخکي ومونډي نوهغه به بغيره عِوَض دده وي.او که هغه دتقسيم وروسته ومونډئ نو که خُوښَه شي دغه دي په قيمت سره وَاخلِي .

حاشيه : (الف) دحضرت ابن عمر يَوغُلاَم د دُښمَن خُوَا ته وَتَښتېدَئ.بيا مسلمانان پر هغه قَابِض شول نو حضور (ﷺ) و اِبن عمر ته وَاپَس ورکړئ او تقسيم يې نَه کړئ .

تشريح : حَربِيَانُ زمونږ پر مَالُو قبضه کړې وه اُوس مسلمانانُ دُوبَارَه پر دُوئي حَملَه وکړه بېرته ځيني واخستل نو که چيري دتقسيم څخه مخکي مَالِک هغه خپل مَالُونَه ومونډل نو مَالِک به هغه اَخلِي او دهغه په بَدلَه کي به هيڅ شئ نَه ورکوي.او که چيري تقسيم شوئ وُ بيا هغه مَالُونَه مَالِک ومونډل نو مَالِک به قيمت ورکوي او هغه خپل شَئ به لاَس ته کوي.او که په قيمت نَه اَخلِي نو دپرېښولو ختيار هم لري .

وجه : (۱) دتقسيم څخه مخکي خو دغَنِيمَت مَال دئ دهيڅ يَوَه مُجَاهِد مِلکِيّت نَه دئ ګرزېدلئ نوځکه بغيره قيمت دهغه په اخستلو کي کُوم حرج نشته (۲) اَوّل دغه شَئ دده مِلکِيّت وُ نو ځکه ده ته به ورکول کيږي (۳) په تېرشوي حديث کي ددې ثبوت وُ.

اَنّ غُلاَمًا لِإبنِ عُمَرَ آبَقَ اِلَي العَدُوِّ فَظَهَرَ عَلَيهِ المُسلِمُونَ فَرَدّهُ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِلَي اِبنِ عُمَرَ وَلَم يُقَسِّم (الف) (ابوداؤدشريف.باب في المال يصيبه العدوّ من المسلمين ثُمّ يدركه صاحبه في الغنيمة ج٢ص١٨نمبر ٢٦٩٨/ بخاري شريف.باب اذا غنم المشركون مال المسلم ثُمّ وجده المسلم ص٤٣١نمبر ٣٠٦٨)
په دې حديث کي دتقسيم څخه مخکي هغه غُلاَم (مَال)خپل مَالِک وموندئ نو هغه يې خپل مَالِک ته وَاپَس کړئ .
او که چيري تقسيم شوئ وي نو قيمت دي ورکړي د مَالِک څخه دې واخلي .
وجه : ددې دليل دا حديث دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ عَنِ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ فِيمَا اَحرَزَ العَدُوّ فَاستَنقَذَهُ المُسلِمُونَ مِنهُم اَو اَخَذَهُ صَاحِبُهُ قَبلَ اَن يُقسّمَ فَهُوَ اَحَقّ. فَاِن وَجَدَهُ وَقَد قُسِّمَ. فَاِن شَاءَ اَخَذَهُ بِالثّمَنِ (ب) (دارقطني.كتاب السير.ج٤ص٦٤نمبر٤١٥٥) ددې حديث څخه معلوم شوچي که تقسيم شوئ وي نو په قيمت دې ځيني واخلي .

حاشيه : (الف) دحضرت ابن عمر يَوغُلام د دُښمَن خُوَا ته وَتښتېدَئ.بيا مسلمانان پر هغه قابض شول نو حضور (ﷺ) هغه و اِبن عمر ته وَاپَس ورکړئ او تقسيم يې نَه کړئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل کافِردُښمَن چې هر څَه زمونږ څخه واخلي بيايي مسلمان دهغوئي څخه ببرته واخلي يايي د شِي مَالِک د تقسيم څخه مخکي په خپله هغه شَئ واخلي نو هغه يې زِيَات حقداره دئ.او که تقسيم څخه وروسته وموندي نو که خُوښَه شي په قيمت دې ځيني واخلي .

[٣٠٢١](٤٢) وَ اِن دَخَلَ دَارَ الحَربِ تَاجِرٌ فَاشتَرْي ذَالِکَ فَاَخرَجَهُ اِلْي دَارِ الاِسلاَمِ فَمَالِکُهُ الاَوّلُ بِالخِيَارِ اِن شَاءَ اَخَذَهُ بِالثّمَنِ الّذِي اِشتَرَاهُ بِهِ التّاجِرُ وَ اِن شَاءَ تَرَکَهُ [٣٠٢٢](٤٣) وَلاَيَملِکُ عَلَينَا اَهلُ الحَربِ بِالغَلَبَةِ مُدَبّرِينَا وَ اُمّهَاتِ اَولاَدِنَا وَ مُکَاتَبِينَا وَ اَحرَارَنَا وَنَملِکُ عَلَيهِم جَمِيعَ ذَالِکَ .

[٣٠٢١](٤٢) که زمونږ تَاجِر دارالحرب ته داخل شو او هغه يې رَانِيوَئ دارالاسلام ته رَاوړَئ نو دهغه ومخکني مَالِک ته اختيار دئ که خُوښَه شي په هغونه قيمت دې واخلي څومره چي تَاجِر رَانِيوَلَئ دئ او که خُوښَه شي پرېږدِي اِږدِي .
تشريح : د مسلمان مال يَوَه حَربِي وَړَئ وُ.زمونږ مسلمان تَاجِر هغه ځيني رَانِيوَئ او دارالاسلام ته رَاوړَئ نو که دمَالِک خُوښَه شي په هغه قيمت دې ځيني رَانِيسي په کُوم قيمت چي مسلمان تَاجِر رَانِيوَلَئ دئ او که قيمت نَه ورکوي بيادې پرېږدي .
وجه : (١) تَاجِرخوقيمت ورکړئ دئ که چيري دده څخه مُفت واخلي نو دا دتَاجِر نُقصَان دئ چي دلاَضرَرَ وَلاَ ضرَارَحديث څخه خِلاَف دئ.البته که دومره قيمت ورکړي څومره چي ده ورکړئ دئ نو بيا خو دده هم نُقصَان نشته او دمَالِک هم فائده ده.نوځکه قيمت دي ورکړي مَال دي ځيني واخلي که نَه نو پرېږدِي اِږدِي (٢) په تبرشوي حديث کي وُ فَاِن شَاءَ اَخَذَهُ بِالثّمَنِ (دارقطني.كتاب السير.ج٤ص٦٤نمبر٤١٥٥) په دې حديث کي د بِالثّمَنِ لفظ څخه اشاره شوې ده

چې څومره قيمت يې ورکړئ دئ هغونه قيمت دي اداء کړي.ځکه چې ثَمَن وهغه اَوّل اداء کړي قيمت ته ويل کيږي. ددې څخه اِشَارَةً دا معلوميږي چې څومره قيمت يې اَوّل ورکړئ وي هغونه قيمت دي ورکړي هغه شَئ دي بېرته ځيني واخلي .

[۳۰۲۲](۴۳) اَهل حَرب پر مورِ د غَلَبَه کولو په وجه زمورِ د مُدَبّرغُلاَم او اُمِّ وَلَد او زمورِدمکاتَب اوزمورِ د آزادُ مَالِکان نَه ګرزي.اومورِدډُوئي ددې تولومَالِکان ګرزو.

تشريح : که چيري حَربِيَانُ غَلَبَه وکړه زمورِ مُدَبّر غُلاَم.اُمِّ وَلَد.زمورِ مُکَاتَب غلام

[۳۰۲۳](۴۴) وَاِذَا اَبَقَ عَبدٌ لِمُسلِمٍ فَدَخَلَ اِلَيهِم فَاَخَذُوهُ لَم يَملِكُوهُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي **وَقَالاَ** رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰي **مَلَكُوهُ .**

او زمورِ پر آزادُ خلګو يې قبضه وکړه نو ډُوئي ددې خلګو مَالِکان نَه ګرزي.هسي خو به مجبوره کړي وي لېکن چې هر وخت مورِ ته وَاپَس راغلو نو بېرته به ډُوئي آزاد ګڼل کيږي دهيڅ يَوچَا مِلکِيّت به نَه وي.که ډېر خَه وي هم نو بَس دا به وي چې ډُوئي به د هغه اَوّل او مخکني مَالِک مُدَبّر.اُمِّ وَلَد او مُکَاتَب شمارل کيږي .

وجه : (۱) آزاد مسلمان دهيڅ يَوچَا په مِلکِيّت کي نَه وي نوځکه چې هرڅوک پر دې قبضه وکړي هم هغه يې مَالِک نَه ګرزي.دغه رنګه په کومو غُلاَمَانُ کي چې د آزادئ شَائِبَه پيدا شي لکه مُدَبّر.اُمِّ وَلَد دغه دواړه خو د آقا د مرګه وروسته آزاديږي.مُکَاتَب د مَالِ کِتَابَت د اداء کولو وروسته آزاديږي.نوځکه په دې غُلاَمَانُ کي هم د آزادئ شَائِبَه راغلې ده.لِهٰذَا که پر ډُوئي باندي حَربِيَانُ قبضه وکړه نو حَربِيَان يې مَالِکَان نَه ګرزي.چې په زُور او زَبَردَستِي يې غُلاَمَان وساتي داخو بېله خبره ده (۲) په اَثَرکي دئ. قُلتُ لِعَطَاءَ نِسَاءٌ حَرَائِرُ اَصَابَهُنّ العَدُوّ فَابتَاعَهُنّ رَجُلٌ أيُصِيبُهُنّ؟ قَالَ: لاَ! وَلاَيَستَرِقهُنّ وَلٰكِن يُعطِيَهُنّ اَنفُسَهُنّ بِالّذِي اَخَذَهُنّ بِهِ وَلاَيَرُدّ عَلَيهِنّ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۵۷ الحرائر يُسبين ثُمّ يشترين ص۵۲۸نمبر۳۳۵۰۶) په دې اَثَرکي دئ چې حَربِي آزادښځه قَيدِي کړي نو نَه دهغې سره وَطِي کولائي شي او نَه يې مينځه ګرزولائي شي.او دغه حال دهغه غُلاَمَانُ دئ کُوم چې د آزادئ شَائِبَه پکښې راغلې وي .

[۳۰۲۳](۴۴) که دمسلمان غُلاَم وَتَښتِي او دارالحرب ته داخِل شي او هغه يې ټينګ کړي نو د امام ابوحنيفه په نېز ډُوئي ددې مَالِکَان نَه ګرزي.او صاحبين فرمايي چې ډُوئي يې مَالِکَان ګرزي .

حاشيه : (الف) مَا دحضرت عطاء څخه پُوښتَنَه وکړه چې آزادِ ښځي کافِرانُ ټينګ کړي او هغه بَل چا رَانِيوَلي نو آيا د ډُوئي سره جِمَاع کولائي شي؟ وفرمايل نَه! او هغه مينځه نَه شي جوړولائي.لېکن ددې ښځو ډُومرَه قيمت دي اداء کړي په څومره چې مُشتَرِي رَانِيوَلي دي.دا قيمت پر ښځو نَه لازميږي.ځکه چې د آزادښځو په وجه هغه د ډُوئي قيمت نَه دئ .

وجه : (۱) امام ابوحنيفه(ؒ) فرمايي چې غُلاَم د دارالاسلام څخه وَوزِي نو اُوس دئ په خپله دخپل ځان مَالِک شو.اُوس دئ د آزاد اِنسَان په شَان دئ.او حَربِي د آزاد مَالِک نَه ګرزي نو دغه رنګه دغُلاَم مَالِک هم نَه ګرزي (۲) په اَثَر کي و دې ته اِشَارَه

شوي ده. كُتِبَ اِلْي عُمَرَ بِنِ الخَطّابِ فِي عَبدٍ اَسِرَهُ المُشرِكُونَ ثُمّ ظَهَرَ عَلَيهِ المُسلِمُونَ بَعدَ ذَالِکَ قَالَ صَاحِبُهُ اَحَقّ بِهِ مَالَم يُقَسّمُ فَاِذَا قُسِّمَ مَضْي (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٣٠ في العبديأسره المسلمون ثُمّ ظهرعليه العدُوّ ج٦ص٥١٠نمبر٣٣٣٤٠) په دې اَثَرکي دئ چي دتقسيم څخه مخکي دې و مالِک ته ورکړي ددې څخه معلوم شوچي حَربِي دهغه مَالِک نَه دئ ګرزېدلئ .

فائده : صاحبين (ؒ) فرمايي چي حَربِي دغُلاَم مَالِک ګرزي .

وجه : (١) هغه خو دمَال په درجه کي دئ او پر مَال چي دحَربِي قبضه راشي نو حَربِي يې مَالِک کرزي دغه رنګه دمسلمان پر غُلاَم چې قبضه راشي نو دهغه مَالِک هم ګرزي (٢) په تبرشوي اَثَرکي وُ چي پر غُلاَم دمسلمانانُ دُوبَارَه قبضه راغله او هغه تقسيم شوئ هم وُ نو دکُوم چا په حِصّه کي چي تللئ دئ هغه مُجَاهِد يې مَالِک ګرزي.ددې څخه معلوم شوچي حَربِي يې مَالِک شوئ وُ په دغه وجه خو دحَربِي پر مَال دقبضې وروسته مسلمان دهغه مَالِک ګرزېدلئ دئ (٣) په اَثَر کي دئ. عَن قَتَادَةَ قَالَ عَلِيٌّ هُوَ لِلمُسلِمِينَ عَامّةٌ لاَنّهُ كَانَ لَهُم مَالاً (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٣٠ في العبديأسره المسلمون ثُم ظهرعليه العدوّ ج٦ص٥١٠نمبر٣٣٣٤٢) په دې اَثَرکي دئ چي دغه غُلاَم دحَربِي مَال ګرزېدلئ دئ نوځکه چي پر ده دمسلمانانُ قبضه راغله نو ټوله به دمسلمانانُ لپاره مَالِ غَنيمَت وي .

لغت : اَبَقَ : وَتَښتېدَئ .

حاشيه : (الف) حضرت عمر ته وليکل چي غُلاَم مشرکان قيد کړي بيا مسلمانان پر هغه قَابِض شي؟ وفرمايل تر څوچي نَه وي تقسيم شوئ مَالِک دهغه حَقدَارَه دئ.چي تقسيم وشو نو چي څَه کېدل هغه وشو (ب) حضرت علي وفرمايل دکُفّارُ مَال دعام مسلمانانُ لپاره دئ ځکه چي هغه دکُفّارُ مَال دئ .

[٣٠٢٤](٤٥) وَ اِن نَدّ اِلَيهِم بَعِيرٌ فَاَخَذُوهُ مَلَكُوهُ [٣٠٢٥](٤٦) وَاِذَا لَم يَكُن لِلاِمَامِ حَمُولَةٌ يَحمِلُ عَلَيهَا الغَنَائِمَ قَسّمَهَا بَينَ الغَانِمِينَ قِسمَةَ اِيدَاعٍ لِيَحمِلُوهَا اِلْي دَارِ الاِسلاَمِ ثُمّ يَرجِعُهَا مِنهُم فَيُقَسّمَهَا .

[٣٠٢٤](٤٥) كه وُښ وَتُرِيرِي د دُوئي خُوَا ته وُلاَړ شِي او دُوئي يې ټينګ کړي نو دُوئي به مَالِکَان شي .

تشريح : جنګ شروع وُ په دغه حال کي وُښ وَتُرېدَئ او د دُوئي خُوَا ته وُلاَړَئ نو دُوئي به مَالِکان شي .

وجه : (١) دا خو اِنسَان نَه دئ مَال دئ.او مخته تبرشوي دي چي د مسلمان پر مَال دحَربِي قبضه راشي نو هغه يې مَالِک ګرزي (٢) دحضرت علي اَثَرهم تبرشوئ دئ. قَالَ عَلِيٌّ هُوَ لِلمُسلِمِينَ عَامّةٌ لاَنّهُ كَانَ لَهُم مَالاً (مصنّف ابن ابي شيبة ١٣٠ ج٦ص٥١٠نمبر٣٣٣٤٢) نور دلائل يې په مسئله نمبر ٤١ کي تبرشوي دي .

لغت : نِدّ : د وُښ تُرِبدَل.سَرِخُوَد مَنډَه کول .
[۳۰۲۵](۴۶) که د امام سره دُومرَه حیوانان نَه وي چې پر هغوئي مَالِ غَنِیمَت رَاوړِي نو هغه دي دمجاهدینُ ترمینځ نقسیم کړي د اَمَانَت تقسیم چې هغه دارالاسلام ته رَاوړِي.بیادې د دُوئي څخه بېرته واخلي او تقسیم دې کړي .
تشریح : د امام سره دُومرَه حیوانان(بُودَګان)نَه وي چې پر هغوئي ټوله غَنِیمَت رَابَار کړي او دارالاسلام ته رَاوړِي.په داسي صورت کي دي مَالِ غَنِیمَت لَږ لَږ د اَمَانَت په توګه مجاهدینُ ته ورکړي چې دُوئي یې پر خپل خپل حیوان رَابَار کړي دارالاسلام ته رَاوړِي.چې دارالاسلام ته راوړي نو امام دي ټوله مال جمع کړي او هر مجاهد ته دي دهغه دخپلي حِصّې په اَندَازَه تقسیم کړي او مَالِک دې وګرزوي .
وجه : (۱) د امام ابوحنیفه (ر) په نېز به غَنِیمَت په دارالاسلام کي تقسیموي.او چې

[۳۰۲۶](۴۷) وَلاَیَجُوزُ بَیعُ الغَنَائِمِ قَبلَ القِسمَةِ فِي دَارِالحَربِ .

دغه مَالِ غَنِیمَت دارالاسلام ته پر رَاوَرَسَوِي دومره بُودَګان نَه وي نو بَس دغه صورت کېدلائي شي چې مجاهدینُ ته ووایي چې تاسو یې په لَږ لَږ دځانو سره یُوسَئ (۲) په حدیث کي دئ چې حضور (ﷺ) دحُنَین غَنِیمَت په جِعِرّانَه کي تقسیم کړئ نو تر جِعِرّانَه پوري خو به مجاهدینُ مَالِ غَنِیمَت رَارَسَوَلَئ وي.ددې څخه معلوم شوچې د رَاوړَلُو لپاره دي مجاهدین ته مَالِ غَنِیمَت ورکړي.حدیث دادئ. اَنّ اَنَسًا اَخبَرَهُ قَالَ اِعتَمَرَ النّبِيّ (ﷺ) مِنَ الجِعِرّانَةِ حَیثُ قَسّمَ غَنَائِمَ حُنَینٍ (الف) (بخاري شریف.باب من قسم الغنیمة في غزوه وسفره ص۴۳۱نمبر۳۰۶۶) په دې حدیث کي دئ چې دجنګِ حُنَین غنیمت یې په جِعِرّانَه کي تقسیم کړئ .
لغت : حَمُولَةٌ : د حَملٌ څخه مُشتَق دئ.سُوَارلَئ. اِیدَاعٌ : د وَدِیعَةٌ څخه مُشتَق دئ د اَمَانَت په توګه .
[۳۰۲۶](۴۷) په دارالحرب کي دتقسیم څخه مخکي غَنِیمَت خرڅول جوازنَه لري.
تشریح : په دارالحرب کي مَالِ غَنِیمَت جمع شو او تر اُوسَ پورې لا تقسیم کړئ نَه وي ددې څخه مخکي د عَامِي سړي لپاره جواز نشته چې مَالِ غَنِیمَت خرڅ کړي. البته د استعمال شَئ د ضرورت په اَندَازَه استعمالولائي شي .
وجه : (۱) دتقسیم څخه مخکي مُجَاهِد ددې شِي مَالِک شوئ نَه دئ نوځکه دده لپاره ددې شِي خرڅول جواز نَه لري که ضرورت پېښ شي نو اِمَام یې خرڅولائي شي (۲) په حدیث کي دئ. عَن اَبِي سَعِیدِالخُدرِيّ قَالَ نَهَي رَسُولُ اللهِ عَن شِرَاءِ المَغَانِمِ حَتّٰي تُقَسّمَ (ب) (ترمذي شریف.باب کراهیة بیع المغانم حتّٰي تقسّم ص۲۸۵نمبر ۱۵۶۳/ابوداؤدشریف.باب في وطي السبایا ص۳۰۰نمبر۲۱۵۸،کتاب النکاح/سنن للبیهقي.باب بیع السبي وغیره في دارالحرب ج۹ص۲۱۱نمبر۱۸۳۰۳) ددې حدیث څخه معلوم شوچې دتقسیم

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) د جِعِرّانَه څخه عُمرَه وکړه چيري چې دحُنَين غَنِيمَت تقسيم کړئ وُ (ب) دتقسيم څخه مخکې حضور (ﷺ) د مَالِ غَنِيمَت د رَانِيوُلُو څخه منع وکړه .

[۳۰۲۷](۴۸) وَمَن مَاتَ مِنَ الغَانِمِينَ فِي دَارِ الحَربِ فَلاَحَقّ لَهُ فِي القِسمَةِ [۳۰۲۸](۴۹) وَمَن مَاتَ مِنَ الغَانِمِينَ بَعدَ اِخرَاجِهَا اِلَي دَارِ الاِسلاَمِ فَنَصِيبُهُ لِوَرَثَتِهِ .

څخه مخکې مَالِ غَنِيمَت خرڅول د مُجَاهِد لپاره جواز نَه لري .

[۳۰۲۷](۴۸) دمجاهدينُ څخه چې څوک په دارالحرب کې مَړ شي نو په تقسيم کې دهغه هيڅ حَق نشته .

تشريح : که دجنګ پر مَحَال څوک شهيد شي نو بِالإتّفَاق هغه په غَنِيمَت کې حِصّه نَه لري.او که د جنګ دختم کېدو وروسته لېکن دغَنِيمَت د دارالاسلام ته د رَاوړَلُو څخه مخکې څوک وَفَات شي نو د امام ابوحنيفه په نېز وهغه ته هم په مَالِ غَنِيمَت کې حِصّه نَه ملاؤيږي .

وجه : د امام ابوحنيفه(ؒ) مَسلَک دادئ چې دارالاسلام ته د اِحرَاز وروسته مُجَاهِد د غَنِيمَت مالک ګرزي.څوک چې ددې مخکې وَفَات شي هغه په غَنِيمَت کې حِصّه نه لري.لکه څَه رنګه د جَنګ په دَورَان کې څوک شهيد شي هغه ته حِصّه نَه ملاؤيږي .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفَرّع ده چې د غَنِيمَت مَال په دارالاسلام کې جمع شي نو بيا دمُجَاهِد حَق ثابتيږي .

فائده : امامِ شافعي(ؒ) فرمايي دجنګ دختم کېدو وروسته چې ګُوم مجاهِدين شهيدان شوي وي هغوئي ته به هم په غَنِيمَت کې حِصّه ملاؤيږي که څَه هم هغه په دارالحرب کې وي.او دارالاسلام ته د رَاوړَلُو څخه مخکې وي .

وجه : دده قاعده داده چې دجنګ دِاختِتَام وروسته مُجَاهِدِين دمَالِ غَنِيمَت مالکان ګرزي.دده په نېز دجنګ د ختم کېدو وروسته سَم دَستِي اِحرَاز ثابتيږي .

[۳۰۲۸](۴۹) چې دارالاسلام ته د مَال رَاوړَلُو وروسته ګُوم مُجَاهِد وَفَات شي نو دده حِصّه به دده د وَارِثَانُ وي .

[۳۰۲۹](۵۰) وَلاَبَأسَ بِاَن يُنَفِّلَ الاِمَامُ فِي حَالِ القِتَالِ وَيُحَرِّضَ عَلَي القِتَالِ فَيَقُولَ مَن قَتَلَ قَتِيلاً فَلَهُ سَلَبُهُ .

تشريح : په دارالاسلام کې مَالِ غَنِيمَت جمع کړئ بيا وروسته يَومُجَاهِدوَفَات شونو هغه ته به په غَنِيمَت کې حِصّه ملاؤيږي.او دغه حِصّه به دده و وَارِثَانُ ته ورکوي .

وجه : دارالاسلام ته د رَاوړَلُو وروسته اِحرَاز راغلئ يعني مَالِ غَنِيمَت محفوظ شو او دمجاهدينُ په دې کې حَق ثابت شو.نوځکه ددې وروسته چې څوک وَفَات شي هغه

ددې مَالِ غَنِيمَت حِصّه دَارَه ګرزېدلَئ دئ.او چې دئ وَفَات شوئ دئ نوځکه دده حِصّه به دده و وَارِثَانُ ته ورکول کيږي .
لغت : نَصِيبٌ : حِصّه. بَرخَه .
[۳۰۲۹](۵۰) او هيڅ حَرَج نشته چې اِمَام د جنګ پر مَحَال د اِنعَام وَعدَه وکړي او اِنعَام ورکړي پر قِتَال باندې وَپَارَوِي.اووايِي چې څوک هر يَو قَتل کړي دهغه سَازُ وسَامَان دهغه دئ .
تشريح : دا چې په مَالِ غَنِيمَت کي دخپلي حِصّې څخه علاوه نُور زيات اِنعَام ورکړي پر قِتَال يې رَاوَپَارَوِي دا جائز دئ.او دا هم ووايي چې څوک هر يَو قتل کړي دهغه مَقتُول سَاز وسَامَان دهغه مُجَاهِد دئ .
وجه : (۱) په آيت کي ددې تَرغِيب موجود دئ. يَا اَيّهَا النّبِيّ حَرّضِ المُؤمِنِينَ عَلْي القِتَالِ (الف) (آيت ۶۵ سورة الانفال ۸) په دې آيت کي دئ چې ای نَبِي مؤمنان پر قِتَال وَپَارَوَه (۲) په حديث کي دئ چې دجنګِ بَدَر پرموقع حضور (ﷺ) په دغه وَينَا سره خلګ رَاپَارَوَلِي وُ چې څوک هريو قتل کړي دهغه سَامَان دهغه دئ.حديث دادئ. عَن اَبِي قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مَن قَتَلَ قَتِيلاً لَهُ عَلَيهِ بَيّنَةٌ فَلَهُ سَلَبُهُ (ب)
(ترمذي شريف.باب ماجاء فيمن قتل قتيلا فله سلبه ص۲۵۸نمبر۱۵۶۲/ابوداؤدشريف.باب في النّفل ج۲

حاشيه : (الف) ای نَبِي مؤمنانو ته د قِتَال تَرغِيب ورکړه (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل چاچې کَافِر قتل کړئ او پر هغه باندې ګواه موجود وي نو دهغه سَامَان د قتل کونکي (مُجَاهِد) دئ .

[۳۰۳۰](۵۱) اَو يَقُولَ لِسَرِيّةٍ قَد جَعَلتُ لَكُمُ الرّبعَ بَعدَ الخُمُسِ .

ص۱۹نمبر۲۷۳۸/مُسلِم شريف.باب استحقاق القاتل سلب القتيل ج۲ص۸۶نمبر۱۷۵۱/بخاري شريف.باب من لم يخمّس الاسلاب ص۴۴۴نمبر۳۱۴۲،کتاب فرض الخمس) ددې حديث څخه معلوم شوچې د مَزِيد اِنعَام وعده کول جائز ده .
لغت : حَرّضَ : پر قِتَال رَاپَارَوَل.تشويق کول. نَفلٌ : زِيَات اِنعَام. سَلَبٌ : چَل کړئ مَال.د سَلَبَ څخه مُشتَق دئ چَل کول.سَلب کول .
[۳۰۳۰](۵۱) يا و لَښکَر ته ووايي چې مَا ستاسو لپاره څلورمه مَعلُومَ کړه د خُمُس اِيستَلُو وروسته .
تشريح : په غَټ لَښکِر کي چې کِشنَئ لَښکَر وي هغه ته په عَرَبِي ژبه کي سَرِيّةٌ وايي هغه يوځائ ته د جنګ لپاره رَوَانَ وي دهغه د هِمّت او مُرَال لُوَرُولُو لپاره اِمَام دَادِوَل ووايي چې تاسو هر څومره غَنِيمَت راوړئ د خُمُس اِيستُلُو وروسته چې څَه پاته شي په هغه کي څلورمه حِصّه تاسو ته په اِنعَام کي درکوم.دهغه وروسته نُور بيا د مَالِ غَنِيمَت په توګه د لَښکَر ترمينځ تقسيموو.مثلاً په غنيمت کې شَل وُښَان رَاوړَل ددې څخه پنځمه حِصّه(۵ ٪ ۱) خُمُس وَيستَل شو چې څلور وُښَان به وي. دا پاته نور شُپَارِس وُښَانُ څخه به څلورمه يعني څلور وُښَان په اِنعَام کي ورکوي او پاته دُوُلَس(۱۲) وُښَان به دټولو مجاهدين ترمينځ دغَنِيمَت په توګه تقسيم کيږي .

وجه : په حديث کي ددې ثبوت شته.عَن حَبِيبِ بنِ سَلَمَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) كَانَ يَنفُلُ الرّبعَ بَعدَ الخُمُسِ وَالثّلُثُ بَعدَ الخُمُسِ اِذَا قَفَلَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب فيمن قال الخمس قبل النّفل ص۲۱نمبر۲۷۴۹/ترمذي شريف.باب في النّفل ص۲۸۴نمبر۱۵۶۱) ددې حديث څخه معلوم شوچې د مُوقِع او مَحَل په لِحَاظ اِمَام د اِنعَام اِعلاَن کولائي شي .

لغت : اَلسّرِيّةُ : کِشنَئ لَښکَر.ټُکړَئ.دَستَه .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) د خُمُس اِيستَلُو وروسته څلورمه نَفل ورکوله او چې د وَاپَس راتلو موقع به وه نو دخُمُس بعد به دريمه حِصّه نَفل ورکوله .

[۳۰۳۱](۵۲) وَلاَ يُنَفّلُ بَعدَ اِحرَازِ الغَنِيمَةِ اِلاّ مِنَ الخُمُسِ .

[۳۰۳۱](۵۲) او اِنعَام دي نَه ورکوي دغَنِيمَت دجمع کولو وروسته مګر د خُمُس څخه .

تشريح : جنګ ختم شو.خلګو مَالِ غَنِيمَت هم جمع کړئ.اُوس ددې څخه وهيڅ چا ته اِنعَام ورکول جواز نَه لري. او که چيري خامخا ورکوي نو د ټولې مَالِ غَنِيمَت څخه چې پنځمه حِصّه خُمَس اِيستَلَئ دئ دهغه څخه دي اِنعَام ورکړي .

وجه : (۱) چې مَالِ غَنِيمَت جمع شو نو د ټولو مجاهدينُ حَق ورسره لاَحِق شو.اُوس ددې څخه يَوَه ته اِنعَام ورکول صحيح نَه دئ.لېکن که بيا هم چيري ورکوي نو چې کُوم خُمس يې اِيستَلَئ دئ دهغه څخه دي اِنعَام ورکړي.البته! که دجنګ په حالت کي ديَوچا لپاره د اِنعَام وعده کړې وه نو هغه به د پُورَه مَالِ غَنِيمَت څخه ورکوي (۲) په دې حديث کي ودې ته اِشَارَه شوې ده. سَمِعتُ عَمرَو بنِ عَبَسَةَ قَالَ صَلّي بِنَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِلْي بَعِيرٍ مِنَ المَغنَمِ فَلَمّا سَلّمَ اَخَذَ وَبرَةً مِن جَنبِ البَعِيرِ ثُمّ قَالَ وَلاَيَحِلّ لِي مِن غَنَائِمِكُم مِثلَ هٰذَا اِلاّ الخُمُسَ وَالخُمُسُ مَردُودٌ فِيكُم (الف) (ابوداؤدشريف.باب الامام يستأثربشئ من الفَئ لنفسه ج۲ص۲۳نمبر۲۷۵۵) په دې حديث کي حضور (ﷺ) فرمايي چې دخُمُس څخه علاوه په مَالِ غَنِيمَت کي زَه دهيڅ شِي مَالِک نَه يَم.نوچې په مَالِ غَنِيمَت کي دمجاهِد حَق ثابت شو نو بيا بَل چاته د اِنعَام په توګه څَه رنګه ورکوي؟ (۳) په اَثَرکي دئ چې حضرت عبيدالله بن ابي بکرة وَغُوَښتَل چې دمَالِ غَنِيمَت څخه وحضرت انس ته اِنعَام ورکړي نو هغه اِنکَار وکړئ او وفرمايل که رَاکوې نو خُمُس چې دي اِيستَلَئ دئ دهغه څخه رَاکَه. اَثَر دادئ. اَنّ اَنَسَ بنِ مَالِکٍ کَانَ مَعَ عُبَيدِاللهِ بنِ اَبِي بَکرَةَ فِي غَزَاةٍ غَزَاهَا فَاَصَا بُوا سَبيًا

حاشيه : (الف) عمروبن عبسه فرمايي چې موږ ته د مَالِ غَنِيمَت د وُښَانُ پر لُوړي حضور (ﷺ) لمونځ راکړئ. چې سَلاَم يې په وَګَرزَاوَئ نود وُښ د اَرَخ څخه ببِښتَان وَنِيوَل بيايي وفرمايل ستاسو دغَنِيمَت څخه زُومَا لپاره دُومرَه شَئ هم حلال نَه دئ مَاسِوَائ دخُمس څخه.او خُمُس هم پر تاسو ببرته وَاپَس کيږي .

[٣٠٣٢](٥٣) وَ اِذَا لَم يُجعَلِ السّلَبُ لِلقَاتِلِ فَهُوَ مِن جُملَةِ الغَنِيمَةِ وَالقَاتِلُ وَغَيرُهُ فِيهِ سَوَاءٌ .

فَاَرَادَ عُبَيدُاللهِ اَن يُعطِيَ اَنَسًا مِنَ السّبيِ قَبلَ اَن يُقسّمَ فَقَالَ اَنَسٌ لاَ وَلٰكِن اَقسِم ثُمّ اَعطِنِي مِنَ الخُمُسِ قَالَ فَقَالَ عُبَيدُاللهِ لاَ اِلاّ مِن جَمِيعِ الغَنَائِمِ فَاَبَي اَنَسُ اَن يَقبَلَ مِنهُ وَاَبَي عُبَيدُاللهِ اَن يُعطِيَهُ مِنَ الخُمُسِ شَيئًا (الف) (طحاوي شريف.باب النفل بعدالفراغ من قتال العدوّ واحرازالغنيمة ج٢ص١٣٣/مصنّف عبدالرّزاق.لانفل الأمن الخمس ولانفل من الذهب والفضّة ج٥ص١٩٢نمبر٩٣٤٤) په دې اَثَرکي دئ چې دخُمُس څخه دي اِنعَام ورکړي .

لغت : اِحرَازٌ : مَال جمع کول .

[٣٠٣٢](٥٣) که سَامَان دقَاتِل لپاره مُختَص نَه کړئ نو هغه به په غَنِيمت کي وي او په هغه کي به قَاتِل او غَيرِقَاتِل برابر وي .

تشريح : که اِمَام د زيات اِنعَام اِعلاَن وکئ نو بيا خو به دمَقتُول سَازوسَامَان دقَاتِل لپاره وي.او که دا اِعلاَن وَنَه کړئ نو دمَقتُول سَازوسَامَان به قَاتِل ته نَه ملاؤيږي. هغه به په مَالِ غَنِيمَت کي شَامِلَوِي. او په دغه سَامَان کي دقَاتِل او غَيرِقَاتِل حِصّه برابره ده .

وجه : (١) دجنګِ حُنَين د واقعې څخه داسي معلوميږي چې بَاقَاعِدَه امام د اِنعَام اِعلاَن وکي او قَاتِل پر دغه قَتل کولو باندي ګواه پيش کړي نو بيابه ده ته دمَقتُول سَلَب او سَازوسَامَان په اِنعَام کي ملاؤيږي که نَه نو نَه.دحديث ټکړه داده.عَن اَبِي قَتَادَةَ قَالَ خَرَجنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) عَامَ حُنَينٍ ... وَجَلَسَ النّبِيّ (ﷺ) فَقَالَ مَن قَتَلَ قَتِيلاً لَهُ عَلَيهِ بَيّنَةٌ فَلَهُ سَلَبُهُ فَقُمتُ فَقُلتُ مَن يُشهِدُ لِي؟ ثُمّ جَلَستُ ثُمّ

حاشيه : (الف) حضرت انس بن مالک دحضرت عبيدالله بن بکرة سره په يَوَه غَزوَه کي شريک وُ.هغوئي قَيدِيَان وموندل.حضرت عبيدالله وَغُوَښتَل چې حضرت انس ته دتقسيم څخه مخکي څَه قِيدِيَان ورکړي حضرت انس وفرمايل نَه! لېکن تقسيم يي که بيايي د پِنځَمِي حِصّي(خُمُس)څخه راکه.حضرت عبيدالله وويل نَه! لېکن دټوله مَال څخه. حضرت انس ددې دقبلولو څخه اِنکَار وکئ.او حضرت عبيدالله نَه غُوَښتَل چې دخُمُس څخه څَه ورکړي .

[٣٠٣٣](٥٤) وَ السّلَبُ مَا عَلَي المَقتُولِ مِن ثِيَابِهِ وَ سَلاَحِهِ وَ مَرکَبِهِ .

قَالَ مَن قَتَلَ قَتِيلاً لَهُ عَلَيهِ بَيّنَةٌ فَلَهُ سَلَبُهُ فَقُمتُ فَقُلتُ مَن يُشهِدُ لِي؟ (الف) (بخاري شريف.باب من لم يخمس الاسلاب ص٤٤٤نمبر٣١٤٢/مسلم شريف.باب استحقاق القاتل سلب القتيل ص٨٦نمبر١٧٥١) ددې حديث د اَندَاز څخه معلوم شوچې اِمَام د اِنعَام اِعلاَن وکړي نو بيابه دمَقتُول سازوسامان وقاتل ته ملاؤيږي (٢) ځکه چې حضرت ابوبکر د اِنعَام ورکولو څخه اِنکَار وکړئ. فَقَالَ اَبُوبَکرُ لاَ هَا اللهُ اِذًا لاَيَعمَدُ اِلٰي اَسَدٍ مِن اُسُدِاللهِ يُقَاتِلُ عَنِ اللهِ وَ رَسُولِهِ يُعطِيکَ سَلَبُهُ (ب) (بخاري شريف.نمبر٣١٤٢/مسلم شريف.نمبر١٧٥١) په دې اَثَرکي دئ چې حضرت ابوبکر په عَام حالاتُ کي د اِنعَام ورکولو څخه اِنکَار وکئ.ددې څخه

معلوم شوچي كه اِمَام د اِنعَام وَعدَه وكړي نو بيابه سَلَب وركول كيږي كه نَه نو نَه وركول كيږي .
[۳۰۳۳](۵۴) پر مقتول چي كُومَه كپړه وي.اَسلَحَه وي او سُوَارلَئ وي هغه سَلَب دئ .
تشريح : په سَلَب كي كُوم كُوم سَامَان داخِل دئ نو فرمايي چي پر مَقتُول چي كُومَه كپړه ده يا پر مَقتُول كُومَه اَسلَحَه وي او مَقتُول چي پر كُومَه سُوَارلَئ سُپُور وي هغه ټوله په سَلَب كي داخِل دي. چي اِمَام مَن قَتَلَ قَتِيلاً فَلَهُ سَلَبُهُ ووايي دهغه په وَينَا سره دغه ټوله شِيَان په سَلَب كي دَاخِل دي.او پر اِمَام لاَزِم دئ چي دغه ټوله وركړي.

حاشيه : (الف) موږ د حضور (ﷺ) سره دحُنَين په جنګ كي ووتلو ... حضور (ﷺ) كښېنَستَئ او وفرمايل چاچي كَافِر قتل كړئ او پر هغه باندي ګواه موجود وي نو دهغه سَامَان د قتل كونكي (مُجَاهِد) دئ. نو زَه وَلاَړ شُوَم او وَمِي ويل زُومَا ګواهي څوك وركوي؟ زَه بيا كښېنَستَم.بيا حضور (ﷺ) وفرمايل څوك چي كَافِر قتل كړئ او پر هغه باندي ګواه موجود وي نو دهغه سَامَان د قتل كونكي (مُجَاهِد) دئ.زَه وَلاَړ شُوَم او وَمِي ويل چي زُومَا ګواهي څوك وركوي؟ (ب) حضرت ابوبكر وفرمايل دَادَوَل په كار نَه دئ چي د الله زُمَرَئ د الله لپاره قِتَال وكړي بيا ده ته دمَقتُول سَامَان وركړل شي .

اَسلَحَه په سَلَب كي شَامِلَه ده

وجه : دهغه دليل دا حديث دئ. عَن عَبدِاللهِ بِنِ مَسعُودٍ قَالَ نَفَلَنِي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) يَومَ بَدرٍ سَيفَ اَبِي جَهلٍ كَانَ قَتَلتُهُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب من اجاز علْي جريح مُثخِنٍ ينفل من سلبه ج۲ص۱۷نمبر۲۷۲۲) په دې حديث كي دئ چي د ابوجهل ټُرَه يې د نَفل په توګه وركړه ددې څخه معلوم شوچي اَسلَحَه په سَلَب كي داخِله ده.

سُوَارلَئ په سَلَب كي داخله ده.دليل يې دادئ. عَن عَبدِاللهِ قَالَ بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) فِي سَرِيّةٍ فَبَلَغَت سَهمَا نُنَا اِثنَئ عَشَرَ بَعِيراً وَنَفَلَنَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) بَعِيراً بَعِيراً (ب) (ابوداؤدشريف.باب في النّفل للسريّة تخرج من العسكرج۲ص۲۰نمبر۲۷۴۵) په دې حديث كي وُښ په نَفَل كي وركړئ دئ ددې څخه معلوم شو چي سُوَارلَئ په سَلَب كي داخِل ده.

كپړې.مَهَار.د آس زِين او دغه رنګه شِيَان ټوله په سَلَب كي داخِل دي دليل دا حديث دئ. اَنّ مُدَدْي رَافَقَهُم فِي غَزوَةِ مُوتَةَ وَ اَنّ رُومِيّاً كَانَ يَشُدّ عَلْي المُسلِمِينَ وَيَغرِي بِهِم فَتَلَطّفَ لَهُ ذَالِكَ المُدَدْي فَقَعَدَ لَهُ تَحتَ صَخرَةٍ فَلَمّا مَرّ بِهِ عَرقَبَ فَرَسَهُ وَخَرّ الرّومِيُ فَعَلاَهُ بِالسّيفِ فَقَتَلَهُ فَاَقبَلَ بِفَرَسِهِ وَسَيفِهِ وَسَرجِهِ وَلَجَامِهِ وَمِنطَقَتِهِ وَسِلاَحِهِ كُلّ ذَالِكَ مُذَهّبٌ بِالذّهَبِ وَالجَوهَرِ اِلْي خَالِدَ بنِ الوَلِيدِ فَاَخَذِ مِنهُ خَالِدُ طَائِفَةً وَنَفّلَ بَقِيّتَهُ. فَقُلتُ يَاخَالِدُ مَاهْذَا؟ اَمّا تَعلَمُ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) نَفّلَ القَاتِلَ سَلَبَ كُلّهُ قَالَ بَلْي وَلْكِنّي اِستَكثَرتُهُ (ج) (طحاوي شريف.باب الرّجل يقتل قتيلا في دارالحرب هل يكون له سلبه اَم لا؟ ج۲ص۱۲۷)

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن مسعود فرمايي چي حضور (ﷺ) مَاتَه دجنګ بَدر په وُرَځ د ابوجهل ټُرَه په نفل كي راكړه ځكه چي مَا دئ قتل كړئ وُ (ب) حضرت عبدالله فرمايي چي حضور (ﷺ) موږ يَوي سِريّة ته وَاستَوُلُو نو زمونږ په حِصّو كي دُوُلَس دُولَس وُښَان راغلواو حضور (ﷺ) يَو يَو وُښ نَفل راكړئ (ج) مُدَدْي په غَزوَه مُوتَه كي د دُوئي سره يَوځاى شو او رُومِيَانُ پر مسلمانانُ حمله كوله.او دُوئي يې تِت پَرَک كوله نو مُدَدْي د دُوئي سره

حِيلَه(چَل)وکړئ دده لپاره تر يوې ګاړي (غَټي دِبَرِي)لاندي کښېنَسـتَئ.چې هلته تېرېدئ نو دده د آس پُښَه يې ور پرېکړه.نو رُومِي پر سَر باندي يَلَه شونو د تُرِي سره پر ده باندي لُوِر کښېنَسـتَئ او دده سَر يې پرېکړئ.دهغه آس.تُرَه.زِين.مَهَار.ګيزَه او اَسلَحَه ټوله يې حضرت خالد ته رَاوړَل.په ټولو کي د سُرُو زَرُو او جَوَاهِرُ نَقش و نِګار شوئ وُ نو حضرت خالد د هغه څخه واخستل او نُور يې نَفَل ورکړل.مَا پُوښتَنَه ځيني وکړه ائ خالِد! دا څِش دئ؟ آيا تاته معلوم نَه دئ چې حضور (ﷺ) وقَاتِل ته ټوله سَامَان ورکړئ؟ خالد وفرمايل بَلِي! لېکن دا دِېر زِيَات وُ نوځکه څَه مِي ځيني واخستل ؟

[۳۰۳۴](۵۵) وَ اِذَا خَرَجَ المُسلِمُونَ مِن دَارِ الحَربِ لَم يَجُز اَن يَعلِفُوا مِنَ الغَنِيمَةِ وَلاَيَأ كُلُوا مِنهَا شَيئًا وَمَن فَضُلَ مَعَهُ عَلَفٌ اَو طَعَامٌ رَدّهُ اِلْي الغَنِيمَةِ .

ددې حديث څخه معلوم شوچي آس.زِين.مَهَار.ګيزَه او اَسلَحَه ټوله په سَلَب کي داخِل دي.البته نَقدِي.سَرَه زَر.سُپِين زَر چې دمَقتُول سره وي هغه په سَلَب کی داخِل نَه دي .
وجه : ددې دليل دحضرت عمر د اَثَر دا ټکړه ده.فَکَتَبَ اِلَيّ عُمَرُ اَن دَعِ النّاسَ يَأکُلُونَ وَيَعلِفُونَ فَمَن بَاعَ شَيئًا بِذَهَبٍ اَو فِضّةٍ فَقَد وَجَبَ فِيهِ خُمُسُ اللهِ وَسِهَامُ المُسلِمِينَ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۲۷ في الطعام والعلف يؤخذمنه الشئ في ارض العَدُوّ ج۶ص۵۰۸نمبر۳۳۳۱۹) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي په سُرُو او سُپِينُ کي د ټولو مجاهدينُ حَق شته .
[۳۰۳۴](۵۵) چې مسلمانان د دارالحرب څخه رَاوَوزِي نو جواز نَه لري چې د غَنِيمَت پُرُوِر په حيوانانُ وَخُورِي او نَه دې دهغه څخه په خپله خُورِي .او چې کُوم پُرُوِر يا خُوَارَاګئ شَئ پاته شي هغه دي ببرته ومَالِ غَنِيمَت ته وَاپَس کړي .
تشريح : ترڅو چې په دارالحرب کي وُ نو دغَنِيمَت خُوَرَاکِي شِيَان يې استعمالولائي شول.لېکن چې د دارالحرب څخه رَاوَوَاتَئ نو بيا ددې څخه هيڅ شَئ نَه شي استعمالولائي.اُوس چې کُوم بَاقِي پاته شوي دي هغه دي هم ببرته په مَالِ غَنِيمَت ګډ کړي او د امام دتقسيم وروسته دې دخپلي حِصّې څخه وخپلو حيوانانُ ته چَارَه (وَابنَه.پُرُوِر.وغيره) ورکړي او په خپله دې هم وَخُورِي .
وجه : (۱) د دارالحرب څخه د رَاوَتَلُووروسته دغه مَال ټوله دمُجَاهِدِينُ مِلکِيّت شو

حاشيه : (الف) حضرت عمر مَاتَ وليکل چې خلګ پرېږ ده چې خُوَرَاک کوي او په مَالِ غَنِيمَت کي چَارَه په وَخُوَرَوِي.البته! که د سُرُو زَرُو يا سُپِينُ زَرُو په بَدلَه کي څَه شَئ خرڅ کړي نوپه هغه کي خُمُس واجِب دئ او دمسلمانانُ حِصّه ده .

[۳۰۳۵](۵۶) وَ يُقَسِّمُ الاِمَامُ الغَنِيمَةَ فَيُخرِجُ خُمُسَهَا وَ يُقَسِّمُ الاَربَعَةَ الاَخمَاسَ بَينَ الغَانِمِينَ .

نو په مجاهدين کي دې تقسيم کړي بيادي خپله حِصّه استعمال کړي (۲) د دارالحرب څخه د رَاوَتَلُو وروسته مَالِ غَنِيمَت دمجاهدين ترمينځ تقسيمول ضروري دئ که چيري دهر مجاهد سره د خُوَرَاک شِيَان پاته وي نو بيا خو مُکَمّل تقسيم نَه شي کېدلائي.نوځکه دغه شِيَان په غَنِيمَت کي شَامِلَوَل ضروري دي (۳) په حديث کي دئ.

فَقَالَ مَعَاذُ غَزَونَا مَعَ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) خَيبَرَ فَاَصَبنَا فِيهَا غَنَمًا فَقَسّمَ فِينَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) طَائِفَةً وَجَعَلَ بَقِيّتَهَا فِي المَغنَمِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في بيع الطعام اذا فضل عن النّاس في ارض العدُوّ ص١٣نمبر٢٧٠٧) ددې حديث څخه معلوم شوچې دضرورت په اَندازَه دې استعمال کړي او پاته دي بېرته په مَالِ غَنِيمَت کي جمع کړي (۴) په اَثَرکي دئ. اَنّ عَبدَاللهِ بِنِ عَبّاسٍ لَم يَرَ بَأسًا اَن يَأكُلَ الرّجُلُ طَعَامًا فِي اَرض الشّركِ حَتّي يَدخُلَ اَهلَهُ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٢٩ من قال يأكلون من الطعام ولايحملون ومن رَخّص فيه ج۶ص۵٠٩نمبر٣٣٣٣٧) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې تر اَهلَ يعني تر دارالاسلام پُورې خُوَرلاَئي شي دهغه وروسته دي پاته مَال جمع کړي .

لغت : عَلَفَ : وابنَه.چَارَه.پُرُورِ.شُپِيشتِي.چُوګر وغيره .

[٣٠٣۵](۵۶) امام دي مَالِ غَنِيمَت تقسيم کړي.دهغه څخه دي يَوَه حِصّه وَبَاسِي او پاته څلور حِصّې دي دمجاهدينُ ترمينځ تقسيم کړي .

تشريح : په مَالِ غَنِيمَت کي چې هرشَئ راسي دهغه څخه دي پنځمه حِصّه خُمُس

حاشيه : (الف) حضرت معاذ فرمايي چې مورِ د حضور (ﷺ) سره دخَيبَر غَزوَه وکړه. مورِ په هغه کي غَنِيمَت تر لاَسَ کړئ نوحضور (ﷺ) يوه ټکړه زمورِ ترمينځ تقسيم کړه او پاته دغَنِيمَت حِصّه کړه (ب) حضرت عبدالله بن عبّاس په دې خبره کي کُوم حرج نَه ليدئ چې سړئ د کُور تر رَارَسېدُو پُورې په دارالحرب کي دغَنِيمت څخه خوراک وکړي .

وَبَاسِي چې د حضور (ﷺ) په زَمَانَه کي پر پنځه طَبَقَاتُ تقسيم کېدله. (١) حضور (ﷺ) (٢) دحضور (ﷺ) رِشتَه دَارَان (٣) يَتِيمَان (۴) مِسكِينَان (۵) او د مُسَافِرُ ترمينځ. او پاته څلور حِصّې به دمجاهدين ترمينځ تقسيم کېدلې.مثلاً په مَالِ غَنِيمَت کي پنځويشت (٢۵) دِرهَم راغلو نو يَوَه پنځمه حِصّه يې پنځه دِرهَم دي. ددې پنځو دِرهَمُ څخه يَو دِرهَم دحضور (ﷺ) دئ.يَو دِرهَم دحضور (ﷺ) د رِشتَه دَارَانُ لپاره دئ.يَو دِرهَم ديتيمانُ لپاره دئ.يَو دِرهَم دمسكِينَانُ لپاره دئ او يَو دِرهَم به دمُسَافِرُ لپاره وي. پاته څلور حِصّې يعني شَل دِرهَم به دټولو مجاهدين ترمينځ تقسيميږي .

وجه : (١) په دې آيت کي ددې ثبوت شته. وَاِعلَمُوا اَنّمَا غَنِمتُم مِن شَئٍ فَاَنّ لِلّهِ خُمُسَهُ وَلِلرّسُولِ وَلِذِي القُربٰي وَاليَتٰمٰي وَالمَسَاكِينِ وَابنِ السّبِيلِ اِن كُنتُم آمَنتم بِاللهِ (الف) (آيت۴١ سورة الانفال ٨) په دې آيت کي دپنځمِي حِصّې پر پنځو طَبَقَاتُ دتقسيم کولو ذِکر راغلئ دئ (٢) په اَثَرکي دئ. عَن اَبِي العَالِيَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) يُؤتٰي بِالغَنِيمَةِ فَيُقَسّمَهَا عَلٰي خَمسَةٍ فَيَكُونُ اَربَعَةٌ لِمَن شَهِدَهَا وَيَأخُذُ الخُمُسَ فَيَضرِبُ بِيَدِهِ فِيهِ فَمَا اَخَذَ مِن شَئٍ جَعَلَهُ لِلكَعبَةِ وَهُوَ سَهمُ اللهِ الّذِي سُمّيَ ثُمّ يُقَسّمُ مَا بَقِيَ عَلٰي خَمسَةٍ فَيَكُونُ سَهمٌ لِرَسُولِ اللهِ. وَسَهمٌ لِذَوِي القُربٰي.وَسَهمٌ لِلْيَتَامٰي.وَسَهمٌ لِلمَسَاكِينِ.وَسَهمٌ لِابنِ السّبِيلِ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٢۴ في الغنيمة كيف يقسّم.ج۶ص۵٠۴نمبر٣٣٢٨٧/مصنّف عبدالرّزاق.باب الغنيمة والفئ مختلفان ج۵ص٣١٠نمبر٩٧١۵) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې څلور حِصّې دمجاهدين

حاشيه : (الف) يقين وکئ چي تاسو کُوم غَنِيمَت تر لاَسَ کړئ دئ دهغه پنځمَه حِصّه د الله.د رسول.د رسول درِشتَه دَارَانُ.يَتِيمَانُ.مِسکِينَانُ او مُسَافِرُ لپاره ده که چيري تاسو پر الله اِيمَان لرئ (ب) حضور (ﷺ) ته به غَنِيمَت رَاوړَل کېدئ نو هغه به پر پنځه حِصّو تقسيم کاوئ.څلور حِصّي به دهغو(مجاهدين)لپاره وي کُوم چي په جنګ کي به شريک وُ او پر پنځمه حِصّه به لاَس وَوَاهَئ او دهغه څخه به څَه دکعبي لپاره اَخَستَئ چي دا د الله حِصّه ده کُوم چي په آيت کي تَذکِرَه راغلي ده بيابه دا پاته پر پنځو حِصّو تقسيم کاوئ نو يَوَه حِصّه د حضور (ﷺ) لپاره.دُويَمَه حِصّه د حضور (ﷺ) د رِشتَه دَارَانُ لپاره او دريمه حِصّه د يتيمانُ لپاره او څلورمه حِصّه دمِسکِينَانُ لپاره او پِنځمَه حِصّه دمُسَافِرُ لپاره .

[٣٠٣٦](٥٧) لِلفَارَسِ سَهمَانِ وَلِلرّاجِلِ سَهمٌ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي وَقَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰي لِلفَارِسِ ثَلٰثَةُ اَسهُمٍ .

لپاره دي او په پنځمه حِصّه يعني خُمُس کي پنځه طَبَقَاتِ مُشتَرَکِ دي .
[٣٠٣٦](٥٧) د آس والا لپاره دُوې حِصّې او د پِيَادَه لپاره يَوَه حِصّه د امام ابوحنيفه په نېز.او صاحبين فرمايي چي د آس والا لپاره به درې حِصّې وي .
تشريح : په مَالِ غَنِيمَت کي د پنځمِي حِصّي يعني خُمُس اِيستَلُو وروسته چي کُوم مَال دمجاهدين ترمينځ تقسيميږي هغه به په دَاوَل وي.چي څوک پر آس سُپور وي هغه ته به دُوې حِصّې ملاوَيږي يَوَه حِصّه د آس او يَوَه حِصّه ددغه شِهسَوَار.او کُوم څوک چي پِيَادَه جِهَاد کوي هغه ته به صِرف يَوَه حِصّه ملاوَيږي.دا د امام ابوحنيفه(ﷺ) رأيَه ده .
وجه : په حديث کي ددې ثبوت شته.حضور (ﷺ) خَيبَر په شُپُوردېرش (٣٦) حِصّو کي تقسيم کړئ ددې څخه نِيمَئ دمسلمانان د اُمور لپاره او نِيمَئ يعني اَتَلَس سوه (١٨٠٠) حِصّې يې دمجاهدينُ لپاره وګرزولې.او مجاهدين پنځلس سوه(١٥٠٠) کسان وُ.په دي کي درې سوه(٣٠٠)شِهسَوَارَان وُ يعني پر آسانُ سُپَارَه وُ نو ګواکه دُوئي دِبَل شول شُپَږ سوه (٦٠٠) شول.نو دُوُلَس سوه(١٢٠٠) پِيَادَه او دغه شُپَږ سوه(٦٠٠) دا مجوعه اَتَلَس سوه(١٨٠٠) شول.دا چي و شِهسَوَار ته دُوې حِصّي ورکړې دليل يې دا حديث دئ. قَالَ فُسِّمَت خَيبَرُ عَلٰي اَهلِ الحُدَيبِيّةِ فَقَسّمَهَا رَسُولُ اللهِ(ﷺ) عَلٰي ثَمَانِيَةَ عَشَرَ سَهمًا وَکَانَ الجَيشُ اَلفًا وَخَمسَ مِائَةَ فِيهِم ثَلاَثُ مِائَةٍ فَارَسٌ.فَاَعطٰي الفَارَسَ سَهمَينِ وَاَعطٰي الرّاجِلَ سَهمًا (الف) (ابوداؤدشريف.باب ماجاء في حکم ارض خيبرص٦٨نمبر٣٠١٥/دارقطني.کتاب السّير ج٤ص٦١نمبر٤١٣٨) د دې حديث

حاشيه : (الف) دخَيبَرمځکه حضور (ﷺ) پر اَهلِ حُدَيبِيّة باندي پر اَتَلَس(١٨) حِصّو تقسيم کړه او د لښکر تَعدَاد يَو زَر پِنځَه سوه (١٥٠٠) وُ.په هغه کي درې سوه پر آسانُ سُپَارَه ول.نو د آس والا ته دُوې حِصّې ورکړې او پِيَادَه ته يَوَه حِصّه ورکړه .

[٣٠٣٧](٥٨) وَلاَيُسهَمُ اِلاّ لِفَرَسٍ وَاحِدٍ .

څخه معلوم شوچي و شِهسَوَار ته به صِرف دُوې حِصّې ملاوَيږي او پِيَادَه مجاهد ته به يَوَه حِصّه ملاوَيږي .

فائده : صاحبين (رح) فرمايي چي پر آس سُپُور وي هغه ته به دري حِصّې ملاؤيږي .
په حديث کي ددې ثبوت شته. عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) اَسهَمَ لِرَجُلٍ وَلِفَرَسِهِ ثَلاَثَةُ اَسهُمٍ سَهمًا لَهُ وَسَهمَينِ لِفَرَسِهِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في سهمان الخيل ص۱۹نمبر۲۷۳۳/ترمذي شريف.باب في سهم الخيل ص۲۸۳نمبر۱۵۵۴/دارقطني.كتاب السّير ج ۴ص۵۸نمبر۴۱۲۲) ددې حديث څخه معلوم شوچي د آس دُوې حِصّې او د شِهسَوَار يَوَه حِصّه مجموعه دري حِصّي شوي.لِهٰذَا شِهسَوَار ته به دري حِصّې ملاؤيږي .
لغت : فَارِسٌ:دفَرَسٌ څخه مُشتَق دئ.هغه څوک چي پر آس سُپُور وي.سَهمٌ: حِصّه .
[۳۰۳۷](۵۸) حِصّه به نَه ورکول کيږي مګر د يَوَه آس .
تشريح : يو سړئ دُوَه يا دري آسان جهاد ته بُوزي نو بيا هم ده ته به صرف د يوه آس حِصّه ملاؤيږي د دا نورو آسانُ حِصّې به نَه ورته ملاؤيږي .
وجه : (۱) يَو سړئ په يَوَه وخت کي صِرف پر يَوَه آس سُپُور جهاد کولائي شي.نو ځکه ديَوَه آس حِصّه به ورته ملاؤيږي (۲) که د ډيرو آسانُ حِصّې ورکول شي نو د نورو مجاهدينُ حَق به ضائع شي نو ځکه ديَوَه آس حِصّه به ورته ملاؤيږي (۳) حضرت زبير په جنګِ خَيبَر کي د دُوُ آسانُ سره ګډون کړئ وُ خو دهغه بَاوُجُود ده ته صرف ديَوَه آس حِصّه ملاؤشوه. عَن عَبدِاللهِ بنِ الزبَيرِ عَن جَدّهِ اَنّهُ يَقُولُ ضَرَبَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) عَامَ خَيبَرَ لِلزّبَيرِ بنِ العَوَامِ بِاَربَعَةِ اَسهُمٍ. سَهمًا لَهُ وَسَهمًا لِذِي القُربٰي لِصَفِيّةِ بِنتِ عَبدِالمُطّلِبِ وَسَهمَينِ لِفَرَسِهِ (ب) (دارقطني.كتاب السّيَر ج۴ص۶۲

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) و پِيَادَه ته يَوَه حِصّه ورکړه او د آس و سُوَار ته دري حِصّې ورکړي.يوه حِصّه د سړي او دُوې حِصّي د آس (ب) عبدالله بن زبير فرمايي چي حضور (ﷺ) دخَيبَر په وُرَځ وحضرت زبير ته څلور حِصّې ورکړي.يَوَه حِصّه دده لپاره.يوه حصّه دحضور د قَرَابَت د صَفِيّة لپاره او دُوې حِصّې دده د آس لپاره .

[۳۰۳۸](۵۹) وَالبَرَاذِينُ وَالعِتَاقُ سَوَاءٌ .

نمبر۴۱۴۳) په دي کي وګورئ د يَوَه آس حِصّه ورته ملاؤشوې ده .
فائده : امام ابويوسف فرمايي که چيري د ډيرو آسانُ سره ګډون کړئ وُ نو د دُوُ آسانُ حِصّې به ملاؤيږي .
وجه : دده دليل دا مُرسَل حديث دئ. اَنّهُ سَمِعَ مَكحُولاً يَرفَعُهُ اِلَي النّبِيّ (ﷺ) يَقُولُ لاَسهَمَ مِنَ الخَيلِ اِلاّ لِفَرَسَينِ وِ اِن كَانَ مَعَهُ اَلفُ فَرَسٍ. اِذَا دَخَلَ بِهَا اَرضَ العَدُوّ (الف) (مصنّف عبدالرّزاق.باب السهام للخيل ج۵ص۱۸۴نمبر۹۳۱۶/مصنّف ابن ابي شيبة ۱۰۵ في الرّجُلِ يشهدبالفراس لِكَم يقسم منها؟ ج۶ص۴۹۵نمبر۳۳۱۹۱) ددې حديث څخه معلوم شوچي د ډيرو او زِيَاتُ آسانُ سره شِرکَت او ګډون کړئ وي نو هم صِرف د دُوُ آسانُ حِصّې به ورته ملاؤيږي .
لغت : رَاجِلٌ : پِيَادَه ټَک کونکئ.د رِجلٌ څخه مُشتَق دئ .
[۳۰۳۸](۵۹) دېسي او عَرَبِي آسان سره برابر دي .

تشريح : دَاوَل آسَان چي په جنګ کي ګَارَوَل کيږي لېکن په قَد لَږ کِشنِي وي هغه ته بَرَاذِين يعني دېسي آسَان وايي.اوچي په درخته غټ وُږدَه آسان وي هغه ته عِتَاق يعني عَرَبِي آسَان ويل کيږي.دواړه آسَان دي او دواړه په جنګ کي اِستِعمَاليږي نوځکه د دواړو حِصّي سره برابري دي.د يوه حِصّه به تر هغه بَل ګَمَه نَه وي .
وجه : په اَثَرکي دئ. عَنِ الحَسَنِ قَالَ اَلبَرذُونَ بِمَنزِلَةِ الفَرَسِ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٠٣ في البراذين مالها وكيف يقسم لها؟ ج٦ص٤٩٤نمبر٣٣١٧٦/مصنّف عبدالرّزاق.باب السهام للخيل ج٥ص١٨٥نمبر٩٣١٨) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي دِېسِي آس او عَرَبِي آس په حِصّه کي سره برابر دي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) فرمايي چي د دُوُ آسَانُ حِصّي به ورته ملاؤيږي که څه هم دئ د زَر(١٠٠٠) آسَانُ سره د دُښمَن مخکي ته دَاخِل شي (ب) حضرت حسن وفرمايل کِشنَئ آس هم د غټ آس په درجه کي دئ .

[٣٠٣٩](٦٠) وَلاَيُسهَمُ لِرَاحِلَةٍ وَلاَبَغلٍ [٣٠٤٠](٦١) وَمَن دَخَلَ دَارَالحَربِ فَارِسًا فَنَفَقَ فَرَسُهُ اِستَحَقّ سَهمَ فَارِسٍ وَمَن دَخَلَ رَاجِلاً فَاشتَرْي فَرَسًا اِستَحَقّ سَهمَ رَاجِلٍ .

[٣٠٣٩](٦٠) د بَار وُړُونکي او د ګَچَر لپاره حِصّه نشته .
تشريح : وُښ يا بَل کُوم شَئ چي بَار او پېټَئ پر وُړِي وهغه ته دخِدمَت په بَدلَه کي څه ورکولائي شي لېکن د آس په شان بَاقَاعِدَه په غَنِيمَت کي حِصّه نَه لري .
وجه : (١) په آيت کي حُکم شوئ دئ چي د دُښمَنَانُ لپاره آسَان وَرُوزَئ او وَيَالَئ.په تېرو وختو کې صِرف په آسَانُ جنګ کاوئ نو ځکه صِرف د آسَانُ لپاره حِصّه کښېښوه د نوروحيوانانُ لپاره په غَنِيمَت کي حِصّه نَه کښېښُوَه.په دې آيت کي ددې تَرغِيب بيان شوئ دئ. وَاَعِدّوا لَهُم مَا اِستَطَعتُم مِّن قُوّةٍ وَمِن رِبَاطِ الخَيلِ تُرهِبُونَ بِهِ عَدُوّ اللهِ وَعَدُوّكُم (الف) (آيت٦٠ سورة الانفال ٨) په دې آيت کي تَرغيب بيان کړئ دي چي د آسَانُ په رُوزَنَه او يَالَنَه سره خپل دُښمَنَان وببروئ نوځکه په غنيمت کي د دُوئي حِصّه شته (٢) په اَثَرکي دئ. عَن مَكحُولٍ قَالَ كَانُوا لاَيَسهَمُونَ لِبَغلٍ وَلاَلِبَزدُونٍ وَلاَلِحِمَارٍ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٠٤ في البغل اى شئ هُو؟ ج٦ص٤٩٥ نمبر٣٣١٨٩) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي د خَچَر.خَرَه او هغه آس کُوم چي د جِهَاد قَابِل نَه وي دهغه لپاره په غنيمت کي حِصّه نشته .
لغت: رَاحِلَةٌ: بَار وُړُونکَئ وُښ.درَحلٌ څخه مُشتَق دئ چي کَجَاوَه پراِږدِي. بَغلٌ: کَچَر .
[٣٠٤٠](٦١) چي دارالحرب ته د آس سره دَاخِل شي بيا دهغه آس مَړ شي نو هغه به د آس دحِصّي حَقدَارَه وي.او چي پِيَادَه داخِل شي بيا آس رَانِيسي نو هغه د پِيَادَه دحِصّي حَقدَارَه دئ .

حاشيه : (الف) چي څومره مُمكِن وي د آس تَرَلُو قوّت هغه تَيّار وَساتَئ.په دې سره د الله دُښمَن او ستاسو دُښمَن وَبېرَوَئ (ب) حضرت مكحول د ګَچَر لپاره.د تَتُو (ډنګر خَر يا ډنګر آس.پَښتُو كي ,,يَابُو,, هم ورته وايي) لپاره او د خَرَه لپاره په غَنِيمَت كي حِصّه نَه وركوله .

[٣٠٤١](٦٢) وَلاَيُسهَمُ لِمَملُوكٍ وَلاَ اِمرَأةٍ وَلاَ ذِمّيٍّ وَلاَ صَبِيٍّ وَلاَ لٰكِن يُرضَخُ لَهُم عَلٰي حَسبِ مَا يَرٰي الاِمَامُ .

تشريح : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي دارالحرب ته د داخلېدو پر مَحَال پر آس سُپُور وُ نو د آس يعني دُوې يا درې حِصّې به ورته ملاؤيږي.اوكه د داخلېدو پر وخت پِيَادَه وُ بيايي آس رَانِيوَئ نو د پِيَادَه حِصّه به ورته ملاؤيږي .

وجه : (١) اَمِير د داخلېدو پر وخت تَحقِيق كوي او رَجِستَر ليكي چي دا فُلاَنَئ څَه دَوَل داخليږي.د آس سره يا پِيَادَه.نوځكه د داخلېدو د وخت اِعتِبَار دئ (٢) په اَثَركي ددې ثبوت شته. عَن سُلَيمَانَ بنِ مُوسٰي فِي الاِمَامِ اِذَا اَدرَبَ قَالَ يُكتَبُ الفَارِسُ فَارِسًا وَالرّاجِلُ رَاجِلاً لَهُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٥٥ الفارس مثْي يكتب فارسًا؟ ج٦ص٥٢٧نمبر٣٣٥٠٢) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي دارالحرب ته داخليږي هغه وخت مُعتَبَر دئ .

لغت : نَفَقَ : هَلاَک شو.مَصرَف شو .

[٣٠٤١](٦٢) نَه دي حِصّه مُقَرّر كوي دغُلاَم لپاره او نَه دښځي لپاره او نَه د ذِمّي لپاره او نَه ده كِشنِي بَچِي لپاره.لېكن اِمَام دي دُوئي ته څَه وركړي چي څَه مُنَاسِب وګڼي .

تشريح : په مَالِ غَنِيمَت كي چي څَه رنګه د مَردِمُجَاهِد باقاعده حِصّه وي دغه رنګه به دغُلام.ښځي.ذِمّي او كِشنِي بَچِي حِصّه نَه وي.البته دخِدمَت په اَندَازَه چي اِمَام څومره مناسب وګڼي هغونه دي وركړي .

وجه : (١) په حديث كي دئ. كَتَبَ نَجدَةُ بنِ عَامِرِ الحَرُورِيّ اِلٰي اِبنِ عَبّاسٍ يَسأ لُهُ عَنِ العَبدِ وَالمَرأةِ يَحضُرَانِ المَغنَمَ هَل يُقَسّمُ لَهُمَا؟ .... اِنّکَ كَتَبتَ تَسأ لُنِي عَنِ المَرأةِ وَالعَبدِ يَحضُرَانِ المَغنَمَ هَل يُقَسّمُ لَهُمَا شَئٌ؟ وَاِنّهُ لَيسَ لَهُمَا شَئٌ اِلاّ اَن

حاشيه : (الف) چي اِمَام تر سَرحَد وَاوړي نو فَارس به فَارس ليكي او پِيَادَه به پِيَادَه ليكي .

يُحذِيَا (الف) (مسلم شريف.باب النساء الغازيات يرضح لهُنّ ولايسهم الخ ص١١٦نمبر١٨١٢/ ٤٦٨٦/ ابوداؤدشريف.باب في المرأة والعبديحذيان من الغنيمة ج٢ص١٨نمبر٢٧٢٨/ ٢٧٣٠/ترمذي شريف.باب هَل يُسهَم للعَبدص٢٨٣نمبر١٥٥٧) ددې حديث څخه معلوم شوچي وښځه او غُلاَم ته بَاقَاعِدَه حِصّه نَه ملاؤيږي.البته د امام د رَأيِي مُوَافِق دخِدمَت په توګه به څَه وركول كيږي (٢) دا خلګ خو دجِهَاد قَابِل هم نَه دي نوپه دې وجه هم باقاعده به د دُوئي حِصّه نَه وي .

د ذِمّي لپاره هم باقاعده او مُستَقِلّه حِصّه نشته دهغه دليل دا حديث دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّهُ قَالَ اِستَعَانَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) بِيَهُودَ بَنِي قَينُقَاعٍ فَرَضَخَ لَهُم وَلَم يُسهِمَ لَهُم (ب) (سنن

للبيهقي.باب الرّضخ لِمَن يستعان به من اَهلِ الذِّمّةِ علْي قِتَالِ المشركين ج٩ص٩٢ نمبر١٧٩٧٠/ترمذي شريف.باب ماجاء في اَهلِ الذِّمّةِ يغزون مع المسلمين هَل يسهم لَهُم؟ص٢٨٤ نمبر١٥٥٨) ددې حديث څخه معلوم شوچي كه ذِمّي مرستَه وكړي نو هغه ته به هم بَاقَاعِدَه حِصّه نَه وركول كيږي .

كِشنَئ بَچَئ په مُكَمّلَه توګه جِهَادنَه شي كولائي نوځكه بَچِي ته به هم باقاعده حِصّه نَه وركول كيږي.په اَثَركي دئ. فَسَئَلُوا اَبَا بَصرَةَ الغِفَارِيّ وَعَقَبَةَ بِن عَامِرَ الجُهَنِيّ صَاحِبَي رَسُولِ اللهِ (ﷺ) فَقَالاَ أُنظُرُوا فَإِن كَانَت اَنبَتَ الشّعرَ فَاَقسِمُوا لَهُ قَالَ فَنَنظُرُ اِلْي بَعضِ القَومِ فَإِذَا اَنَا قَد اَنبَتَ فَقُسِّمَ لِي (ج) (اَلمُدَوّنَةَ ج١ص٣٩٣/اعلاءالسنن نمبر٣٩٤١) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي بَچِي ته به بَاقَاعِدَه حِصّه نَه ملاؤيږي .

لغت : يُرضَخُ : لَږ څه وركول .

حاشيه : (الف) دعبدالله بن عبّاس څخه پُوښتَنَه وكړه چي غُلَام او ښځه غَنِيمَت ته حاضِر شي نو آيا د دُوئي لپاره به تقسيم كيږي ... هغو وفرمايل تاسو د غُلَام اوښځي په اړه پُوښتَنَه كوئ چي دُوئي په جنګ كي حَاضِر شي نودهغوئي لپاره به حِصّه وي كه نَه؟ د دُوئي دواړو لپاره هيڅ نشته.البته! لَږ څه وركړئ (ب) حضور (ﷺ) د بنوقينُقَاع د يَهُودُ څخه مرسته واخسته او هغوئي ته څه وركړل لپكن بَاضَابِطَه يي نَه دي وركړي (ج) خلګو د ابوبصره او حضرت عقبه څخه چي د رسول الله (ﷺ) اَصحَابَان دي پُوښتَنَه وكړه.نو وفرمايل ګوره كه مُجَاهِد بَالِغ شوئ وي نو هغه ته په غنيمت كي حِصّه وركئ.فرمايي چي بعض يي وكتل حُسنِ اِتِّفَاق وُ چي زَه بَالِغ وَم. مَاتَه هم حِصّه راكړه .

[٣٠٤٢](٦٣) وَ اَمّا الخُمُسُ فَيُقسَمُ عَلْي ثَلْثَةِ اَسهُمٍ سَهمٌ لِلْيَتَامْي وَسَهمٌ لِلْمَسَاكِينِ وَسَهمٌ لاَبنَاءِ السّبِيلِ .

﴿...د خُمُس د تقسيم اَحكَام ... ﴾

[٣٠٤٢](٦٣) بهرحال خُمُس به تقسيميږي پر دُرُو حِصّو.يَوَه حِصّه ديتيمان لپاره. يوه حِصّه دمسكينانو لپاره او يوه حِصّه دمُسَافِرُو لپاره .

تشريح : دحضور (ﷺ) په زمانه كې هم خُمُس پر پِنځَه حِصّو تقسيم كاوئ.لپكن د حضور (ﷺ) د تشريف وُړلو وروسته او دحضور (ﷺ) د رِشتَه دَارَنُ د ختم كيدو وروسته اُوس به پر دُرُو حِصّو تقسيميږي.يَو يَتِيم.بَل مِسكِين بَل مُسَافِر.پاته شو دحضور (ﷺ) او دهغه د رِشتَه دَارَانُ حِصّې اُوس مَحَال ساقط شوي دي .

وجه : (١) په اَثَر كي ددې وَضَاحَت شوئ دئ. قَالَ سَألتُ الحَسَنَ بِن مُحَمّدٍ بِن عَلِيّ اِبنِ الحَنَفِيّةَ عَن قَولِ اللهِ تَعَالْي وَاِعلَمُوا اَنّمَا غَنِمتُم مّن شَئٍ فَاَنّ لِلّهِ خُمُسَهُ وَلِلرّسُولِ وَلِذِي القُربْي وَاليَتْمي وَالمَسَاكِينَ وَاِبنَ السّبِيلِ (آيت٤١ سورة الانفال ٨) فَقَالَ هْذَا مِفتَاحُ كَلاَمٍ لِلّهِ تَعَالْي مَافِي الدّنيَا وَالآخِرَةِ. قَالَ اِختَلَفَ النّاسُ فِي هْذَينِ السّهمَينِ بَعدَ وَفَاةِ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) فَقَالَ قَائِلُونَ سَهمُ القُربْي لِقَرَابَةِ النّبِيّ (ﷺ) وَقَالَ قَائِلُونَ لِقَرَابَةِ الخَلِيفَةِ وَقَالَ قَائِلُونَ سَهمُ النّبِيّ (ﷺ) لِلخَلِيفَةِ مِن بَعدِهِ. فَاجتَمَعَ رَأ يُهُم عَلْي اَن يَجعَلُوا هْذَينِ السّهمَينِ فِي الخَيلِ وَالعِدّةِ فِي سَبِيلِ اللهِ فَكَانَا عَلْي ذَالِكَ فِي خِلاَفَةِ اَبِي بَكرٍ وَعُمَرَ (الف) (مستدرک للحاكم.كتاب قسم الفئ. ج ٢

حاشيه : (الف) مَا دحضرت حسن بن محمّد څخه د آيت وَاِعلَمُوا اَنّمَا غَنِمتُم الخ په اړه پُوښتنَه وکړه نو وفرمايل فَاَنّ لِلّهِ يعني د الله پاک حِصّه د اِفتِتَاح کَلاَم لپاره ده.او دحضور (ﷺ) د وَفَات وروسته په دُوُ حِصّو کي اِختِلاَف پيدا شو.څَه کسانُ وويل دا حِصّه دحضور (ﷺ) د قَرَابَت په وجه وه.او څَه کسانُ وويل چي دا دخليفه د قَرَابَت په وجه ده.او څَه کسانُ وويل چي دحضور (ﷺ) حِصّه دده وروسته دخليفه لپاره ده.بيا پر دې خبره اِتِّفَاق پيدا شو چي دغه دواړِي حِصّي د آسانُ په تَيّار کولو او د الله په لاَرَه کي د تَيّارِي کولو لپاره دي.دغه معامله دحضرت ابوبکر او حضرت عمر په زَمَانَه خِلاَفَت کي هم وه .

[۳۰۴۳](۶۴) وَيَدخُلُ فُقَرَاءُ ذَوِي القُربٰي فِيهِم وَ يُقَدّمُونَ وَلاَ يُدفَعُ اِلَي اَغنِيَائِهِم شَئٌ .

ص۱۴۰نمبر۲۵۸۵/مصنّف عبدالرّزاق.باب ذِکرِالخُمس وسهم ذي القربٰي ج۵ص۲۳۸نمبر۹۴۸۲) د دې اَثَرڅخه معلوم شوچي دحضور (ﷺ) او دده د رِشتَه دَارَانُ حِصّه ساقط شوې ده.نوځکه اُوس به مَالِ غَنِيمَت صِرف پر دُرُو حِصّوتقسيميږي يَتِيم.مِسکين او مُسَافِر.او دحضور (ﷺ) حِصّه به په اُمُورِ مُسلِمِين کي مَصرَف کيږي (۲) ديوه حديث څخه ددې تائيد بنکاره کيږي. عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ لاَيَقتَسِمُ وَرَثَتِي دِينَاراً مَاتَرَکتُ بَعدَ نَفَقَةِ نِسَائِي وَمُؤنَةِ عَامِلِي فَهُوَ صَدَقَةٌ (الف) (بخاري شريف.باب نفقة نساء النّبيّ (ﷺ) بعدوفاته ص..... نمبر۳۰۹۶) په دې حديث کي دئ چي زُومَا دې بِي بِي گَانُ او د کار کونکو دخَرچې وروسته چي هرڅَه پاته شي هغه ټوله صَدَقَه ده.لِهٰذَا چي د حضور (ﷺ) رِشتَه َارَان نَه شو پاته نو بيابه هغه دحضور (ﷺ) حِصّه په اُمُورِمُسلِمِين کي مَصرَف کيږي .

[۳۰۴۳](۶۴) او فَقِير رِشتَه دَارَان به په هغوئي کي دَاخِل وي او هغه به تر نورو مخکي وي.او د دُوئي ومَالدَارَانُ ته به هيڅ شَئ نَه ورکول کيږي .

تشريح : دحضور (ﷺ) رِشتَه دَارَان اُوس مَحَال ساقِط شوي دي نوځکه دُوئي ته به په مَالَ غَنِيمَت کي جَلا او مُستَقِلّه حِصّه نَه ورکول کيږي.البته که چيري دُوئي يَتِيم.مِسکين يا مُسَافِر وي نو دُوئي به په دغه دُرُو طَبَقَاتُ کي دَاخِلَوِي بلکه دُوئي ته به تر نُور مخکي ورکوي ځکه چي دُوئي دحضور (ﷺ) رِشتَه دَارَان دي. و دُوئي ته د ورکولو وروسته به و نورو يَتِيمَانُ او مسافِر ته ورکوي .

وجه : دا چي دُوئي زِيَات حقداره دي دهغه دليل دا اَثَر دئ.سَمِعتُ عَلِيًّا يَقُولُ وَلاَنّي رَسُولُ اللهِ خَمّسَ الخُمُسَ فَوَضَعتُهُ مَوَاضِعَهُ حَيَاةَ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) وَحَيَاةَ

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل زُومَا په وِرَاثَت کي به دِينَار نَه شي تقسيم.زُومَا د بِي بِي گَانُ او گُورَنِيَانُ دخرچې وروسته هغه صَدَقَه دئ .

[۳۰۴۴](۶۵) وَاَمّا مَا ذُکِرَ اللهُ تَعَالٰي فِي الخُمُسِ فَاِنّمَا هُوَ لِاِفتِتَاحِ الکَلاَمِ تبُرّکًا بِاِسمِهِ .

اَبِي بَكرٍ وَحَيَاةَ عُمَرَ فَأُتِيَ بِمَالٍ فَدَعَانِي فَقَالَ خُذهُ فَقُلتُ لاَ اُرِيدُهُ فَقَالَ خُذهُ فَاَنتُم اَحَقّ بِهِ قُلتُ قَد اِستَغنَينَا عَنهُ فَجَعَلَهُ فِي بَيتِ المَالِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب بيان مواضع قِسمِ الخُمُسِ اسهم ذي القربٰي ج۲ص۶۰نمبر۲۹۸۳) په دې اَثَرکي د خُذهُ اَنتُم اَحَقّ بِهِ څخه معلوم شوچي دحضور (ﷺ) رِشتَه دَارَان زِيَات حقداره دي.البته چي دحضور (ﷺ) د رِشتَه دَارَانُ حَق ساقِط شو نو حُکه د دُوئي و مَالدَارَانُ ته به نَه ملاؤيږي .

فائده : د امامِ شافعي() په نبز دحضور (ﷺ) و رِشتَه دَارَانُ ته به اُوس محال هم په مَالِ غَنِيمَت کي حِصّه ملاؤيږي .

وجه : حُکه چي په آيت کي ددې تَذکِرَه موجود ده .

[۳۰۴۴](۶۵) دخُمُس په اړه چي کُوم د الله ذِکر دئ هغه دده په نُوم سره د گلاَم د بَرَکَت لپاره دئ .

تشريح : خُمُس به پر پنځو حِصّو تقسيم کاوئ. حالانکه په قُرآن کي وَاِعلَمُوا اَنّمَا غَنِمتُم مِن شَئٍ فَاَنّ لِلّهِ وَلِلرّسُولِ الخ دئ.په دې آيت کي دئ چي په خُمُس کي د الله تَعَالٰي حِصّه هم شته نو ددې په اړه وفرمايل چي دا ټوله دُنيَا د الله تعالٰي لپاره ده لِهٰذَا د الله تعالٰي مخصوص حِصّه نشته.د الله تعالٰي نُوم صِرف د بَرَکَت لپاره دئ .

وجه : مخته اَثَرتېرشوئ دئ. سَاَلتُ الحَسَنَ بنِ مُحَمّدٍ عَن قَولِ اللهِ تَعَالٰي وَاِعلَمُوا اَنّمَا غَنِمتُم مِّن شَئٍ فَاَنّ لِلّهِ خُمُسَهُ وَلِلرّسُولِ وَلِذِي القُربٰي وَاليَتٰمٰي وَالمَسَاكِينَ وَاِبنَ السّبِيلِ (آيت۴۱ سورة الانفال ۸) فَقَالَ هٰذَا مِفتَاحُ کَلاَمٍ لِلّهِ مَافِي الدّنيَا وَالآخِرَةِ

حاشيه : (الف) حضرت علي فرمايي چي حضور (ﷺ) د خُمُس خُمُس مَاتَه راکړئ نو دحضور (ﷺ) په زمانه کي مَا دهغه پر ځائ مَصرَف کړئ او د ابوبکر او عمر په ژُوَند کي.چي کُوم وخت مَال راغلئ نو زَه يې رَاوَبَلَلَم او وويل چي دا وَاخلَه.مَا ورته وويل مَاتَه په کار نَه دئ. وويل وَاخلَه! نَه زِيَات حقداره ى. مَا ورته وويل الله ددې څخه پِي نِيَازَ کړئ يَم. نو هغه يي په بَيتُ المَال کي کښېښوئ .

[۳۰۴۵](۶۶) وَسَهمُ النّبِيِّ عَلَيهِ السّلاَمُ سَقَطَ بِمَوتِهِ کَمَا سَقَطَ الصّفِيّ .

(الف) (مستدرک للحاکم.کتاب قسم الفئ.ج۲ص۱۴۰نمبر۲۵۸۵/مصنّف عبدالرّزاق.باب ذِکرِالخُمس وسهم ذي القربٰي ج۵ص۲۳۸نمبر۹۴۸۲) په دې اَثَر کي دئ چي د الله تعالٰي تَذکِرَه صِرف د بَرَکَت لپاره ده .

[۳۰۴۵](۶۶) دحضور حِصّه ساقط شوه دحضور د پَردَه کولو په وجه لکه صَفِي چي سَاقِط شوئ دئ .

تشريح : مخته تېرشوي دي چي دحضور (ﷺ) دانتِقَال وروسته دحضور (ﷺ) حِصّه ساقط شوه.حضور (ﷺ) ته دا حَق حاصِل وُ چي کُوم مَالِ غَنِيمَت جمع شي په هغه کي چي کُوم شَئ دحضور خُوَښ شي هغه ځان ته ځيني واخلي.لېکن دحضور د اِنتِقَال وروسته دخليفه لپاره دا حَق سَاقِط شو.اُوس محال وخليفه يا اَمِيرُالمؤمنين ته دا حَق نشته چي دمَالِ غَنِيمَت څخه چي خَه يې خُوَښ هغه ځيني واخلي.بلکه عَامُ مُجَاهِدِينُ ته

چي کُوم حِصّه رسيږي هغه حِصّه به و اَمِيرُالمُؤمِنِين ته هم ملاؤيږي که چيرې ده په قِتَال کي ګډون کړئ وي .
وجه : د صَفِي دليل دا حديث دئ. عَنِ عَامِرِالشّعَبِيّ قَالَ كَانَ لِلنّبِيّ (ﷺ) سَهمٌ يُدعْي الصّفِيّ اِن شَاءَ عَبداً وَ اِن شَاءَ اَمَةً وَ اِن شَاءَ فَرَسًا يَختَارُهُ قَبلَ الخُمُسِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب ماجاء في سهم الصفيّ ص۶۴نمبر۲۹۹۱/بخاري شريف.باب غزوة خيبرص۶۰۳نمبر۴۲۱۱) ددې حديث څخه دُوې خبرې معلوم شوې.يَوَه خو دا چي حضور (ﷺ) ته دصَفِي حَق حاصِل وُ. او د ,,كَانَ لِلنّبِيّ,, څخه معلوم شوچي ددغه اِنتِخَاب حَق د نَبُوّت په

حاشيه : (الف) مَا دحضرت حسن بن محمّد څخه د آيت وَاِعلَمُوا اَنّمَا غَنِمتُم الخ په اړه پُوښتَنَه وکړه نو وفرمايل فَاَنّ لِلّهِ يعني د الله پاک حِصّه د اِفتِتَاح کَلاَم لپاره ده.د الله لپاره خو ټوله دُنيَا او آخرت دي (ب) حضرت عامِر فرمايي چي دحضور (ﷺ) کُومَه حِصّه وه هغه ته صَفِي ويل کېدل.که هغه غُلاَم خُوښ کړي که مينځه خُوښَه کړي که آس خُوښ کړي.چي دخُمُس اِيستلُو مخکې به خُوښَاوَئ .

[۳۰۴۶](۶۷) وَسَهمُ ذَوِي القُربْي كَانُوا يَستَحِقّونَهُ فِي زَمَنِ النّبِيّ عَلَيهِ السّلاَمُ بِالنّصرَةِ وَبَعدَهُ بِالفَقرِ .

وجه حاصِل وُ نو چي اُوس مَحَال نَبُوّت پاته نَه شو نو دغه حَق دخليفه څخه هم سَاقِط دئ.او پر دغه نَبُوّت باندي قياس دخُمُس حَق هم دخليفه څخه ساقِط دئ.ځکه چي په آيت کي د ,,لِلرّسُولِ,, لفظ راغلئ دئ.چي وروسته رسول پاته نَه شو نو دهغه حِصّه به هم ساقِط شي .
[۳۰۴۶](۶۷) د رِشتَه دَارَانُ حِصّه دحضور په زمانه کي دُوئي حَقدَارَه وُ د مرستي کولو په وجه او دحضور وروسته د فَقر په وجه حَقدَارَ دي .
تشريح : دحضور (ﷺ) په زمانه کي دخُمُس څخه يوه حِصّه دحضور و رِشتَه دَارَانُ ته په دې وجه ملاؤېدلَه چي دُوئي هر وخت دحضور (ﷺ) مرسته کوله.لېکن دحضور د وَفَات وروسته هغه دمَرَستِي سلسله مُنقَطِع شوه نو ځکه د رِشتَه دَارَانُ حِصّه هم مُنقَطِع شوه.اُوس به د رِشتَه دَارَئ او قَرَابَت په وجه نَه ورته ملاؤيږي.البته که په دُوئي کي څوک يَتِيم يا مسکين يا مُسَافِر وي نو ديتيم وَالِي يا مُسَافِر والِي يا مِسکِين وَالِي په وجه به خَه ورکول کيږي.البته دُوئي ته به تر ټولو مخکي ورکول کيږي ځکه چي دُوئي دحضور (ﷺ) رِشتَه دَارَان دي.او اُوس محال خو هغه هم نشته .
وجه : (۱) د تَعَاوُن او مرستي دليل دا حديث دئ. اَخبَرَنِي جُبَيرُبنِ مُطعِمٍ قَالَ لَمّا كَانَ يَومُ خَيبَرَ وَضَعَ رَسُولُ اللهِ سَهمَ ذِي القُربْي فِي بَنِي هَاشَمَ وَبَنِي المُطّلِبَ وَتَرَكَ بَنِي نَوفَلَ وَبَنِي عَبدِشَمسٍ.فَانطَلَقتُ اَنَا وَعُثمَانُ بِنُ عَفّانَ حَتّي اَتَينَا النّبِيّ (ﷺ) فَقُلنَا يَا رَسُولَ اللهِ! هٰؤلاَءِ بَنُو هَاشَمَ لاَنُنكِرُ فَضلَهُم لِلمَوَاضِعِ الّذِي وَضَعَكَ اللهُ بِهِ مِنهُم.فَمَا بَالُ اِخوَانِنَا بَنِي المُطّلِبِ اَعطَيتَهُم وَتَرَكتَنَا وَقَرَابَتُنَا وَاحِدَةٌ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَنَا وَبَنُو المُطّلِبَ لاَنَفتَرِقُ فِي جَاهِلِيّةٍ وَ لاَ اِسلاَمٍ وَاِنّمَا نَحنُ وَهُم شَئٌ وَاحِدٌ وَشَبّکَ بَينَ

[۳۰۴۷](۶۸) وَ اِذَا دَخَلَ الوَاحِدُ وَالاِثنَانِ اِلٰي دَارِالحَربِ مُغِيرِينَ بِغَيرِ اِذنِ الاِمَامِ فَاَخَذُوا شَيئًا لَم يُخَمّسُ .

اَصَابِعَهُ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في مواضع قسم الخمس وسهم ذي القربٰي ج۲ص۶۰نمبر۲۹۸۰) په دې حديث کي حضور (ﷺ) اِشَارَه کړې ده چي بنوعبدالمطلب په زمانه جاهِلِيّت او زمانه اِسلاَم دواړو کي زُومَا مرسته کړې ده چي دهغه په وجه د دُوئي لپاره په خُمُس کي يَوَه حِصّه شته.او دحضور د وَفَات وروسته دهغه مرستي ضرورت پاته نَه شونوحُکه د دُوئي حِصّه به ساقِط شي (۲) مخته د مُستَدرَک لِلحَاکِم اَثَر هم تبرشوئ دئ په هغه کي وُ چي اُوس محال دحضور (ﷺ) د رِشتَه دَارَنُ دحِصّي پر سَاقِطبِدو باندي دصحابَه اِتِّفَاق هم شوئ دئ. عِبَارَت دا وُ. فَاجتَمَعَ رَأ يُهُم عَلٰي اَن يَجعَلُوا هٰذَينِ السّهمَينِ فِي الخَيلِ وَالعُدّةِ فِي سَبِيلِ اللهِ فَکَانَا عَلٰي ذَالِکَ فِي خِلاَفَةِ اَبِي بَکرٍ وَعُمَرَ (مستدرک للحاکم.کتاب قسم الفئ. ج ۲ ص۱۴۰نمبر۲۵۸۵/مصنّف عبدالرّزاق.باب ذِکرِالخُمس وسهم ذي القربٰي ج۵ص۲۳۸نمبر۹۴۸۲)

[۳۰۴۷](۶۸) که يَو يا دُوَه کسان د ډاګه اَچَوُلُول په حالت کي دارالحرب ته داخِل شي د امام د اِجَازَت بغيره او دُوئي خَه واخلي نو خُمُس به نَه ځيني اَخستَل کيږي .

تشريح : چي د امام د اِجَازَت بغيره يَو يا دُوَه کسان د غَلاَ په صورت کي دارالحرب ته داخل شي او دحَربِيَانُ خَه مَال لُوټ کړي رَايوړي نو امام به په دي کي خُمُس نَه اَخلِي .

وجه : (۱) دا خو دغَنِيمَت مَال نَه دئ بلکه دَادَوَل کول دغَلاَمَال ګڼل کيږي.اودغَلاَ

حاشيه : (الف) جُبَيربن مُطعِم فرمايي چي کُوم وخت د جنګِ خَيبَر وُرَځ شوه نوحضور (ﷺ) د رِشتَه دَارَانُ حِصّه و بَنِي هَاشَم او بَنِي مُطّلِب ته ورکړه.او بني نَوفَل او بني عبدشمس يې پرېښول نو زَه او حضرت عُثمَان حضور(ﷺ) ته راغلو او عَرض مِي وکړه يارسول الله! د بنو هَاشَم دفضيلت اِنکَار نَه کوُ.ځکه چي تَه په دُوئي کي پيدا شوئ يې.لېکن زمور وُرُونُو بنو مطّلب ته ورکړل او مور يې پرېښولو حالانکه زمور او د دُوئي رِشتَه دَاري ديوي درجي ده.نوحضور (ﷺ) وفرمايل چي مور او بنومُطّلِب په زمانَه جَاهِلِيّت او اِسلاَم کي نَه يُو سره جلاشوي.مور اوهغه يَو شِيَان يُو اوحضور (ﷺ) د دواړو لاَسُو گُوَتِي يَو په بَل کي وَاچَولِي تَشبِيک يې وکړئ.

[۳۰۴۸](۶۹) وَ اِن دَخَلَ جَمَاعَةٌ لَهُم مَنعَةٌ فَاَخَذُوا شَيئًا خُمّسَ وَاِن لَم يَأذَنَ لَهُمُ الاِمَامُ .

په مَال کي خُمُس نشته.ځکه چي غَلاَ په هر صورت کي مَبغُوض شئ دئ که خَه هم دحِربِيَانُ غَلاَ وي (۲) په حديث کي دې ته اِشَارَه شوي ده. عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اِنّ الغَادِرَ يُنصَبُ لِوَاءٌ يَومَ القِيَامَةِ فَيُقَالُ هٰذِهِ غَدرَةُ فُلاَنِ بنِ فُلاَنٍ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في الوفاء بالعهدص۲۳نمبر۲۷۵۶/بخاري شريف.باب اِثم الغادرللبر والفاجر ص۴۵۲نمبر۳۱۸۶) ددې حديث څخه معلوم شو چي عَهد پُورَه کول په کار دئ.او يَوَه يا

دُوُ کسانُ ګواکه غَلاَ وکړه عَهد یې مَات کړئ نوځکه په هغه کي به خُمُس نَه اَخَستَل کیږي .
لغت : مُغِیرِینَ : د اَغَارَ څخه مُشتق دئ په شُپَه کي چَاپَه وَهَل.ډَاګه اَچَوَول .
[۳۰۴۸](۶۹) او که دقُوّت وَالا جَمَاعَت داخِل شواو هغوئي یَو شَئ واخستئ نو خُمُس به ځیني اَخَستَل کیږي که څَه هم اِمَام دُوئي ته اِجَازَت نَه وي ورکړئ .
تشریح : د قُوّت والا جماعت څخه دمُجَاهِدِینُ دَستَه او لَښکَر مُرَاد دئ هسي ډَاګه اَچَوُنکي خلګ مُرَاد نَه دي.نو که چیري د مجاهدینُ دَستَه د اِمَام دِاجَازَت بغیره دَارالحرب ته وُلاَړَه شي او جِهَاد وکړي مَالِ غَنِیمَت راوړي په هغه کي خُمُس شته .
وجه : (۱) دا ډَاګه اَچَوَل نَه ده بلکه جِهَاد دئ.صِرف دُومرَه خبره ده چي د امام د اِجَازَت بغیره دئ.ځکه چي دې دَستې دهغو خلګو څخه مَالِ غَنِیمَت تر لاَس کړئ دئ کُوم چي حَربِیَان دي او جنګ ورسره جاري دئ (۲) که څَه هم د اِمَام لخوا ظاهري اجازت نشته لېکن په اَندَرُون او بَاطِن کي اِجَازَت شته ځکه چي په دَاډَوَل حالاتُ کي اِمَام غُوَارِي چي حَربِیَان شِکَست وَخُورِي او ځانِي و مَالِي نُقصَان یې

حاشیه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمایل چي دُوګه ورکوي دهغه لپاره به دقیامت په وُرَځ جَنذَئ (ببرَغ) نَصَب کیږي او ویل کیږي به چي ده وفُلاَنِي ته دُوګه ورکړي ده .

وشي.او دې دَستې دغه ګار کړئ دئ لِهٰذَا اِشَارَةً اِجَازَت موجود دئ نوځکه ددې څخه به خُمُس اخستل کیږي (۳) دحضرت سلمة بن اَکوَع وُرِد حدیث موجود دئ په هغه کې دحضور (ﷺ) د اِجَازَت بغیره د اَهلِ مَکّه سره جنګ(جهاد)کړئ دئ.او دحضور (ﷺ) وُښَان یې هم رَاخَلاَس(یَلَه)کړل.او د اَهلِ مَکّه سَامَانُونَه یې هم په مَالِ غَنِیمَت کي رَاوړَل.بیاحضور (ﷺ) و ده ته د آس او پِیَادَه دواړوحِصّې ورکړې. ددې څخه معلوم شوچي یَو جَمَاعَت د اِمَام په اِشَارَه سره ځان پُوه کړي او وُلاَړ شي مَالِ غَنِیمَت رَاوړِي نو په هغه کي به خُمُس اخستل کیږي.ځکه چي هغه دغَنِیمَت مَال دئ د غَلاَ مَال نَه دئ.دحدیث ټکړه داده. حَدّثَنِي اِیَاسُ بِنِ سَلَمَةَ عَن اَبِیهِ قَالَ اَغَارَ عَبدُالرّحمٰنُ اِبنِ عُیَینَةَ عَلٰي اِبِلِ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) ... فَاِذَا نَبِيّ اللهُ فِي خَمسِ مِائَةٍ فَاَعطَانِي سَهمُ الفَارِسِ وَالرّاجِلِ (الف) (ابوداؤدشریف.باب السریة تردعلٰي اهل العسکر ص۲۲نمبر۲۷۵۲/مسلم شریف.باب غزوة ذي قرد وغیرهاج۲ص۱۱۳نمبر۱۸۰۷) په دې حدیث کې دحضور (ﷺ) د اِجَازَت بغیره د مُوقِع او مَحَل جهاد کړئ دئ.دهغه څخه به حضور (ﷺ) خُمُس هم اَخَستَئ وي.او صحابي ته د پِیَادَه او آس حِصّه هم ورکړه.په اَثَرکي ددې ثبوت هم شته.عَنِ الحَسَنِ قَالَ اِذَا رَحَلُوا بِاِذنِ الإِمَامِ اَخَذَ الخُمُسَ وَکَانَ لَهُم مَابَقِيَ وَ اِذَا رَحَلُوا بِغَیرِ اِذنِ الإِمَامِ فَهُوَ اُسوَةُ الجَیشِ (ب) (مصنّف ابن ابي شیبة ۱۱۲ في السّرّیّة تخرج بغیراذن الامام فتغنم ج۶ص۴۹۹نمبر۳۳۲۳۱) په دې اَثَرکي دئ چي د جَیش سره به برابر وي یعني خُمُس به اخستل کیږي .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چې د اِمَام په مَنشَأ او اِشَارَه ځان پُوه کړي کار وکړي نو بیابه خُمُس ځینې اخستل کیږي او هغه کار به جائز وي .
وجه : په دې حدیث کې ثبوت شته. عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَد

حاشیه : (الف) د اِیَاس بن سلمة پُلاَر فرمایي چې عبدالرّحمٰن بن عُیَینَة دحضور (ﷺ) پر وُښَانُ چَاپَه وَوَهَل ... دحضور (ﷺ) مخته پنځه سوه وُښَان و ُ نو مَاتَه د شِهسَوَار او پِیَادَه حِصّه راکړه (ب) حضرت حسن وفرمایل که د اِمَام په اِجَازَت سره کُوچ وکړي نو خُمُس به اخستل کیږي او پَاتَه به د لَښکَر وي.او که د اِمَام د اِجَازَت بغیره کُوچ وکړي نو چې ټوله لَښکَر ته ملاؤیږي هغونه به ددې څخه دُوئي ته هم ملاؤیږي .

[۳۰۴۹](۷۰) وَ اِذَا دَخَلَ المُسلِمُ دَارَالحَربِ تَاجِراً فَلاَ یَحِلّ لَهُ اَن یَتَعَرّضَ لِشَیئٍ مِّن اَموَالِهِم وَلاَ مِن دِمَائِهِم فَاِن غَدَرَ بِهِم فَاَخَذَ شَیئًا مَلَکَهُ مِلکًا مَحظُوراً وَ یُؤمَرُ اَن یَتَصَدّقَ بِهِ .

کَانَ یَنفُلُ بَعضَ مَن یَبعَثُ مِنَ السّرَایَا لاَنفُسِهِم خَاصّةَ النّفلِ سِوْي قِسمَ عَامّةِ الجَیشِ وَالخُمُسُ وَاجِبٌ فِي ذَالِکَ کُلِّهِ (الف) (ابوداؤدشریف.باب في النّفل للسریّة یخرج من العسکرج۲ص۲۰نمبر۲۷۴۶) په دې حدیث کي دئ چې د ټولي سِریَة په غنیمت کي خُمُس واجِبیدئ .
لغت : مَنعَةٌ : د مَنَعَ څخه مُشتَق دئ د منع کولو طاقت .
[۳۰۴۹](۷۰) که مسلمان دارالحرب ته دتِجَارَت لپاره دَاخِل شي نو دده لپاره حلال نَه دئ چې د دُوئي په مَال او نَفس کار ولري.که چیري د دُوئي سره غَدّارِي وکړه او څَه یې ځیني واخستل نو دهغه مَالِک به وګرزي په مَمنُوع طریقه سره او ده ته به حُکم ورکول کیږي چې دغه صَدَقَه کړي .
تشریح : دارالحرب ته د تِجَارَت لپاره وُلاړئ نو ګواکه اَمَن یې وخستئ او وُلاړَئ چې دعَهدخِلاَف وَرزِي به نَه کوم.نوځکه ده ته په کار دئ چې غَدَر او دُوکَه وَنَه کړي او نَه دي دحَربِیَانُ ونَفس او مَال ته زِیَان رسوي.او که چیري غَدَر وکړئ او د دُوئي مَال یې رَاپُورتَه کئ دارالاسلام ته راوړئ نو دئ یې مَالِک ګرزي.لېکن د غَدر په ذریعه یې مَالِک شوئ دئ نوځکه دا مِلکِ مَحذُور دئ او ده ته به حُکم کیږي چې دغه مَال صدقه کړي .
وجه : د غَدر نَه کولو دلیل دا حدیث دئ. عَن سُلَیمَانَ بِنِ بُرِیدَةَ عَن اَبِیهِ قَالَ کَانَ رَسُولُ اللهِ اِذَا اَمّرَ اَمِیراً عَلٰي جَیشٍ ... قَاتِلُوا مَن کَفَرَ بِاللهِ اَغزُوا فَلاَ تَغلُوا وَلاَتَغدِرُوا

حاشیه : (الف) څوک چې په خصوصي توګه اَستَاوَئ نو د عَام لَښکَر څخه علاوه یې هغه ته نَفَل ورکاوئ خو بیا هم په دې ټولو کي خُمُس واجبیدئ .

وَلاَتَمَثِّلُوا وَلاَتَقتُلُوا وَلِيداً (الف) (مسلم شريف.باب تاميرالامام الامراء علٰي البعوث ووصيّته اِيّاهُم بآداب الغزو وغيرها ج۲ص۸۲نمبر۱۷۳۱/ابوداؤدشريف.باب في دعاء المشركين ص۳۶۱نمبر۲۶۱۳) ددې حديث څخه معلوم شوچي په دارالحرب کي هم دُوکه او غَدر نَه دئ کول په کار .

دا چي د حَربِيَانُ مَال په غَدر او دُوکه واخلي نو مِلکِ مَحذُور يې ثابتيږي دهغه دليل دا حديث دئ.عَنِ المِسوَرِ بِنِ مَخرَمَةَ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ زَمَنَ الحُدَيبِيّةِ فِي بِضعِ عَشَرَةَ مَائَةٍ مِّن اَصحَابِهِ ... وَكَانَ المُغِيرَةُ صَحِبَ قَومًا فِي الجَاهِلِيّةِ فَقَتَلَهُم وَاَخَذَ اَموَالَهُم ثُمّ جَاءَ فَاَسلَمَ فَقَالَ النّبِيّ اَمّا الإسلاَمُ فَقَدقَبِلنَا وَ اَمّا الامَالُ فَاِنّهُ مَالُ غَدرٍ لاَحَاجَةَ لَنَا فِيهِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في صُلح العدوّ ج۲ص۲۴نمبر۲۷۶۵/بخاري شريف.باب الشروط في الجهاد والمصالحة مع اهل الحرب وكتابة الشروط ص۳۷۷نمبر۲۷۳۱) په دې حديث کي دئ چي حضرت مغيره بن شعبة خپل ملګري چي کافِران وُ په دُوکه کي قتل کړل او د دُوئي مَالُونَه يې دځان سره رَاوړَل حضور (ﷺ) ته راغلئ حضور (ﷺ) ورته وفرمايل اِسلاَم خو قبول دئ.لېکن مَال د دُوکي مَال دئ نوځکه مَاتَه ددې ضرورت نشته.او حضور (ﷺ) دهغه څخه دخُمُس اخستلو څخه هم اِنکَار وکړئ.ددې څخه معلوم شوچي دغه مِلکِيّت محظور(ممنوع)دئ. بيا حضور (ﷺ) حُکم وکړئ چي دغه مَال د مَالِک و وَارِثَانُ ته ېبرته وَاپَس ورکړئ.ددې څخه معلوم شوچي مسلمان يې مَالِک شوئ دئ (۲) مخته تېرشوي دي چي مسلمان د حَربِيَانُ دمَال مَالِک شي نو هغه مِلکِيّت يې صحيح دئ ځکه چي هغه دمَالِ غَنِيمَت په درجه کي دئ.لکه څَه رنګه چي حَربِي د مسلمان د مَال مَالِک شي هغه مِلکِيّت

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) چي به پر لَښکر باندي اميِر جوړاوئ ... نو فرمايل به چي کُوم چا د الله سره کُفر کړئ دهغه سره جنګ کوئ. لېکن خِيَانَت مَه کوئ.دُوکَه مَه کوئ.مُثلَه مَه کوئ او کِشنِي بَچَان مَه قتلوئ (ب) حضور (ﷺ) د صُلحِ حُدَيبِيّه په کال تر لَس سَوَه زياتُ اَصحَابَانُ سره وَوَاتَئ ... حضرت مغيره د جاهِلِيّت په زمانه کي د څَه کسانُ سره يوځاى وُسېدَلَئ وُ او هغه يې قتل کړي وُ مَال يې ځينې اخستئ وُ.بيا مسلمان شوئ وُ نو حضور (ﷺ) وفرمايل بَهَرحَال ستا اِسلاَم خوقبلوم.پاتَه شو مَال د دُوکي مَال دئ.زَه ددې ضرورت نَه لرم .

[۳۰۵۰](۷۱) وَ اِذَا دَخَلَ الحَربِيّ اِلَينَا مُستَامِنًا لَم يُمكِن لَهُ اَن يُقِيمَ فِي دَارِنَا سَنَةً وَيَقُولُ لَهُ الإِمَامُ اِن اَقَمتَ تَمَامَ السّنَةِ وَضَعتُ عَلَيكَ الجِزيَةَ فَاِن اَقَامَ سَنَةً اُخِذَت مِنهُ الجِزيَةُ وَصَارَ ذِمّيّاً وَلَم يُترَكُ اَن يَرجِعَ اِلٰي دَارِالحَربِ .

صحيح کيږي (۳) چي دارالحرب ته مَال دځان سره يُوسِي ېبرته وَاپَس کول هم ډېر مُشکِل کار دئ په دي کي دځان(نَفس)خطره هم ده نو په دې وجه به هم مسلمان مَالِک ګرزول کيږي.لېکن مِلک يې صحيح نَه دئ نوځکه ددې مَال دصَدَقَه کولو حُکم به ورکول کيږي .

لغت : تَعَرّضَ : د عَرضٌ څخه مُشتَق دئ.لاَس وَهَنَه کول.کار په لَرَل. غَدرٌ : دُوکَه ورکول. مَحظُورٌ : خبیث.مَمنُوع .
[۳۰۵۰](۷۱) که حَربِي زمونږ مُلک ته په اَمَن راشي نو اِمکَان نَه لري چي دئ زمونږ په مُلک کي يَوکَال قِيَام وکړي.او اِمَام به ده ته وايي چي که تَا پُورَه کَال قِيَام وکړئ نو پر تَا باندي جِزيَه مُقَرّر کوم.که چيري تر کَالَ پوري قيام وکړئ نو دده څخه به جِزيَه اخستل کيږي او دئ به هم ذِمّي وي.او اُوس به دارالحرب ته د تَلُلُو اِجَازَت نَه ورکول کيږي .
تشريح : حَربِي ته چي تر دِيره وخته په دارالاسلام کي دقِيَام اِجَازَت ورکړي نو اِمکَان شته چي هغه دي جَاسُوسِي وکړي او دارالاسلام ته نُقصَان ورسي. لېکن که د تَګ رَاتَګ لاَرَه بالکُل بَند کړي نو تِجَارَت هم بَندبدلائي شي نوځکه چي اَمَان طلب کړي رَاتَلاَئي شي.لېکن پُورَه کَال قِيَام نَه شي کولائي د کَال څخه مخکي دي دارالحرب ته وُلاَړ شي.او که پُورَه کال قِيَام وکړئ نو اُوس به دئ ذِمّي جوړوي او پر ده به جِزيَه مُقَرّر کوي.او بېرته به دارالحرب ته د تُلُلُو اِجَازَت نَه ورکوي .
وجه : (۱) حَربِي خو د قَلب يعني زَړَه په اِعتِبَار سره نَجَس دئ.په دارالاسلام کي دده وُسِيدَل بنَه نَه .په دې آيت کي ددې ثبوت شته.يَا اَيّهَا الّذِينَ آمَنُوا اِنّمَا المُشرِکُونَ نَجَسٌ فَلاَيَقرَبُوا المَسجِدَ الحَرَامَ بَعدَ عَامِهِم هٰذَا (الف) (آيت۲۸ سورة التّوبة ۹) په دې آيت کي دئ چي مُشرِک نَاپَاک دئ مَسجِدِحَرَام ته نژدې مَه پرېږدئ.ددې څخه معلوم شوچي دارالاسلام ته نژدې هم بَايَد پرې نَه اِږدِي (۲) په بَل حديث کي دئ چي مُشرِکَان دجزيره عَرَب څخه وَبَاسَئ. سُمِعَ اِبنُ عَبّاسٍ يَقُولُ يَومُ الخَمِيسِ وَمَا يَومُ الخَمِيسِ ... فَاَمَرَهُم بِثَلاَثٍ قَالَ اَخرِجُوا المُشرِکِينَ مِن جَزِيرَةِ العَرَبِ (ب) (بخاري شريف.باب اخراج اليهودي من جزيرة العرب ص۴۴۹نمبر۳۱۶۸/مسلم شريف.باب اخراج اليهود والنّصارٰي من جزيرة العرب ج۲ص۹۴نمبر۱۷۶۷) ددې حديث څخه هم معلوم شوچي مُشرِکَان بايد په دارالاسلام کي وَنَه وسيږي (۳) په اَثَرکي دئ. اَنّ عُمَرَبنِ الخَطّابِ ضَرَبَ لِلِيَهُودِ وَالنّصَارٰي وَالمَجُوسَ بِالمَدِينَةِ اِقَامَةَ ثَلاَثَةَ اَيّامٍ يَتَسَوّقُونَ بِهَا وَيَقضُونَ حَوَائِجَهُم وَلاَيُقِيمُ اَحَدٌ مّنهُم فَوقَ ثَلاَثَ لَيَالٍ (ج) (سنن للبيهقي.باب الذمّي يمرّ بالحجاز مَارّ اِلاّ ان يقيم ببلدمنها اكثرمن ثلاث ليالٍ ج۹ص۳۵۳نمبر۱۸۷۶۲) په دې اَثَرکي دئ چي نصارٰي او مجوس دي تر درو وُرَخُو زيات قِيَام نَه کوي (۴) دا چي کَال قِيَام وکي نو ذِمّي به ګرزوي دهغه دليل دا اَثَر دئ.عَن زِيَادِبنِ جَدِيرٍ قَالَ کَتَبتُ اِلَي عُمَرَ فِي اُنَاسٍ مِن اَهلِ العَرَبِ يَدخُلُونَ اَرضَنَا اَرضَ الاِسلاَمِ فَيُقِيمُونَ قَالَ فَکَتَبَ اِلَيّ عُمَرُ اِن اَقَامُوا سِتّةَ اَشهُرٍ فَخُذ مِنهُمُ العُشرَ وَاِن اَقَامُوا سَنَةً فَخُذ مِنهُم نِصفَ العُشرِ (د)

حاشيه : (الف) اى مؤمنانو! مُشرِکَان نَاپَاک دي ددې کَالَ وروسته دي دُوئي مسجِدحرَام ته نژدې نَه راځي (ب) حضور (ﷺ) و اَصحَابَانُ ته د دُرُو خبروحُکم ورکړئ.دهغه څخه يَوَه دا چي مُشرِکَان د جزيرَه عَرَب څخه وَبَاسَئ (ج) حضرت عمر ديهود.نصارٰي اومجوس لپاره په مدينه کي دري وُرَځِي قِيَام مُتَعَيّن کړئ چي دُوئي خريد و

فروخت وکړي.او خپل ضرورت پُورَه کړي.او د دُوئي څخه به يَو هم تر دري وُرَځِي زيات قِيَام نَه کوي (د) زيادبن جدير وايي چي مَا وحضرت عمر ته خَط وليکئ چي داَهلِ حَرب څَه کَسَان دارالاسلام ته رَاځِي او قِيَام کوي.وفرمايل چي حضرت عمر مورِ ته جواب راکئ چي که دُوئي شُپَږ مياشتي قيام وکړي نو د دُوئي څخه لَسَمَه حِصّه واخلئ.او که يَو کَال قِيَام وکړي نو د دُوئي څخه شِلَمَه حِصّه واخلئ(کُوم چي د ذِمّي څخه اخستل کيږي)

[۳۰۵۱](۷۲) وَ اِن عَادَ اِلْي دَارِالحَربِ وَتَرَکَ وَدِيعَةً عِندَ مُسلِمٍ اَو ذِمّيٍّ اَو دَينًا فِي ذِمّتِهِم فَقَد صَارَ دَمُهُ مُبَاحًا بِالعَودِ .

(سنن للبيهقي.باب مايؤخذمن الذّمّي اذا اِتّجَرَ في غيربلده والحربي اذادخل بِلأَدَالإسلاَمِ بِاَمَانٍ ج ۹ ص۳۵۴نمبر۱۸۷۷۱) په دي اَثَرکي دئ چي که حَربِي پُورَه کال قِيَام وکړي نو پر ده باندي نِصفِ عُشريعني شَلَمَه حِصّه لازم کړئ.او شِلَمَه حِصّه خو د ذِمّي څخه اَخَستَل کيږي.او لَسَمَه حِصّه دحَربِي څخه اَخَستَل کيږي.نوځکه چي پُورَه کال قِيَام وکړي شِلَمَه حِصّه او چي شُپَږ مياشتي قِيَام وکړي لَسَمَه حِصّه اَخَستُلو مطلب دادئ چي تر شُپَږ مياشتي پُورِي حَربِي وي او چي تر کَالَه پُورِي قِيَام وکړي نو ذِمّي ګرزي.او څوک چي ذِمّي شي هغه به همېشه په دارالاسلام کي وَسِيږي.دارالحرب ته د تُلُو اِجَازَت نَه وي .

پام لرنه : څوک چي ذِمّي وي دهغه پر سَر جِزيَه لازميږي چي په هر کال کي يَو دِينَار دئ.او دده دتِجَارَت په مَال کي به شِلَمَه حِصّه خِرَاج لازم وي.او دمسلمانانُ دتِجَارَت په مَال کي څلوېښتمه حِصّه زکُوة لازميږي .

پر ذِمّي دجِزيَه لازمېدو دليل دا حديث دئ. عَن مَعَاذٍ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) لَمّا وَجّهَ اِلْي اليَمَنِ اَمَرَهُ اَن يَأخُذَ مِن کُلِّ حَالِمٍ يَعنِي مُحتَلِمٍ دِينَاراً اَو عُد لَهُ مِنَ المَعَافِرِي ثِيَابٌ تَکُونُ بِاليَمَنِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في اخذالجزية ص۷۴نمبر۳۰۳۸/بخاري شريف.باب الجزية والموادعة مع اهل الذّمة والحرب ص۴۴۶نمبر۳۱۵۷) ددې حديث څخه معلوم شوچي پر ذِمّي به جِزيَه لازموي .

[۳۰۵۱](۷۲) که دارالحرب ته وُلاړئ او دمسلمان يا ذِمّي سره اَمَانَت پرېښوئ يايې دهغو پر ذِمّه قَرض پرېښوئ نو د ببرته تُلُو په وجه دده وِينَه مُبَاح شوه .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) چي کُوم وخت حضرت معاذ يَمَن ته وَاستَاوَئ نو ده ته حُکم ورکړئ چي د هر بَالِغ ذِمّي څخه يَو دِينَار يا دهغه برابر مَعَافِرِي کپړه واخله چي په يَمَن کي پيدا کيږي .

تشريح : کُوم حَربِي چي دارالاسلام ته راغلئ ذِمّي شو دهغه لپاره دا شرط دئ چي دئ به بيا دارالحرب ته نَه سُتُون کيږي.لېکن ببرته دارالحرب ته وُلاړئ نو دشرط دمَاتَوُلُو په وجه دئ ذِمّي نَه شوپاته بلکه حَربِي شو او دده وِينَه مُبَاح شوه .

وجه : (۱) ذِمّي ته که چيري په دارالحرب کي د کُور جوړولو اِجَازَت ورکړل شي نو دئ به جَاسُوسِي کوي او زمور پر خلاَف به د نورو مرسته کوي نوځکه يا دي ذِمّي جوړ شي همېشه دي په دارالاسلام کي وَسِيږي يادي په دارالحرب کي وَسِيږي او حَربِي دي شي.که چيري دئ حَربِي شو نو پر ده به دحَربِي حُکم جاري کيږي او

هغه دا چي دده قتل به حلال شي يعني مُبَاحُ الدّم به شي (۲) چي د شرط خلاف وَرزِي وکړي مُبَاح الدّم ګرزي دهغه دليل دا حديث دئ. عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) قَاتَلَ اَهلَ خَيبَرَ فَغَلَبَ عَلْي الاَرضِ وَالنّخلِ وَاَلجَأهُم اِلْي قَصرِهِم فَصَالَحُوهُ عَلْي اَنّ لِرَسُولِ اللهِ (ﷺ) اَلصّفرَاءُ وَالبَيضَاءُ وَالحَلَقَةُ وَلَهُم مَاحَمِلَت رِكَابُهُم عَلْي اَن لاَيَكتُمُوا وَلاَيَغِيبُوا شَيئًا فَاِن فَعَلُوا فَلاَذِمّةَ لَهُم وَلاَعَهدٌ فَغِيبُوا مِسكًا لِحَيّي بِنِ اَخطَبَ ... فَوَجَدُوا المِسکَ فَقُتِلَ اِبنُ اَبِي الحَقِيقَ وَسُبّيَ نِسَائهُم وَذَرَارِيّهُم (الف) (ابوداؤدشريف.باب ماجاء في حُكم ارض خيبر ج۲ص۶۸نمبر۳۰۰۶) په دې حديث کې دحَي بن اَخطب مَشک (ګُودِئ.يا مَنګئ) پَټ کړئ اودعَهد خلاف وَرزِي يې وکړه نو ابن ابي الحقيق يې قتل کړئ.دغه رنګه که چيري دلته ذِمّي دعَهد خلاف وَرزِي وکړه نو دئ به هم حَربِي شي او دده وِينَه به مُبَاح شي (۳) په اَثَرکي دئ. سُئِلَ عَن عَطَاءٍ عَنِ الرّجُلِ مِن اَهلِ الذِّمّةِ يُوخَذُ فِي اَهلِ الشّرکِ وَقَد اِشتَرَطَ عَلَيهِم اَن لاَيَأتِيهِم فَيَقُولُ لَم اَرِد عَونَهُم فَكَرِهَ قَتلَهُ اِلاّ بِبَيّنَةٍ فَقَالَ لَهُ بَعضُ اَهلِ العِلمِ اِذَا نَقَضَ

حاشيه : (الف) حضور د اَهلِ خيبَر سره جنګ وکئ.نو پر مخکه او بَاغُو يې قبضه وکړه او دُوئي يې په قِلعُو کې ناسته ته مجبوره کړل .هغوئي دحضور (ﷺ) سره پر سَرَه زَر.سُپِين زَر او پر حَلقَه صُلح وکړه.او ديهوديَانُ لپاره به هغه خَه وي کُوم چي د دُوئي سَوَارلَئ وُرَلاَئي شي خو په دې شرط چي دُوئي به هيڅ شَئ نَه پَټَوِي او نَه به يَوشَئ غَائِبَوِي.او که دُوئي پَټ کړئ يايي غَائِب(وُرَک)کړئ نو نَه به ځوک ذِمّه دَارَه پاتيږي او نَه به عَهد پاتيږي.خو بيا هم د حَي بن اخطب مَشک يې وُرَک کړئ ... چي کُوم وخت مَشک پيدا شو نوابن ابي الحقيق يې قتل کړئ او دده يې بِي گَانِ او اَولاَدُونَه يې قَيدِيَان کړل .

[۳۰۵۲](۷۳) وَمَا فِي دَارِالإِسلاَمِ مِن مَالِهِ عَلْي خَطَرٍ فَاِن اُسِرَ اَو ظُهِرَ عَلْي الدّارِ فَقُتِلَ سَقَطَت دُيُونُهُ وَصَارَتِ الوَدِيعَةُ فَيئًا .

شَيئًا وَاحِداً مِمّا عَلَيهِ فَقَد نَقَضَ الصّلحُ (الف) (مصنّف عبدالرّزاق.باب المشرک يأتي المسلم بغيرعهد ج۵ص۲۹۳نمبر۹۶۵۴) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي ذِمّي حَربِيَانُ ته وُلاَړ شي نو عَهد يې مَات دئ نوځکه اُوس حَربِي وګرزېدئ او دده وِينَه د حِربِيَانُ په شان مُبَاح ګرزېدلې ده .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي ځوک دارالحرب ته وَتَښتِيږي هغه حَربِي شو. دده وِينَه او دده مَال مُبَاح کرزي .

لغت : وَدِيعَةٌ : اَمَانت .

[۳۰۵۲](۷۳) او په دارالاسلام کي چي دده کُوم مَال دئ هغه په خطره کي شو.که چيري قَيدِي شو يا پر دارالحرب باندي غَلَبَه راغله او قتل کړل شو نو دده قرض به ساقِط شي او اَمَانَت به غنيمت شي .

تشريح : دا سړئ حَربِي شو او دجنګ لپاره هم راغلئ دئ او قَيدِي شو يا قتل شو نو دهر چا سره چي دده کُوم قرض وُ هغه به دهغه شي او کُوم مَال چي د يَوچَا سره

اَمَانَت وُ هغه به غَنِيمَت شي.او کُوم مَال چي د دارالاسلام د وَارِثَانُ سره موجود وُ هغه به په خپل مينځ کي تقسيم کړي .
وجه : (۱) د قرض مَال به په دې وجه دهغه قرض والا سره پاته شي چي پر مُبَاح مَال د کُوم چا قبضه راشي دهغه مِلکِيّت گرزي.دلته دقرض والا دمخکي څخه قبضه موجود ده نوځکه د قرض والا سره به پاته شي.دهغه څخه به ببرته نَه اَخَستَل کيږي

حاشيه : (الف) دحضرت عطاء څخه پُوښتَنَه وشوه يَو ذِمّي دمُشرِکَانُ په مينځ کي ومونډل شي حالانکه پر ده يې شرط لګولئ وُ چي دُوئي ته به نَه جِي.او ذِمّي وايي چي زَه د دُوئي دمرستي لپاره نَه يَم راغلئ.نو بغيره ګواهئ حضرت عطاء دده قتل مکروه وګانئ.بعضُ اَهلِ عِلم و ده ته وويل چي دشرائط څخه هسي يَوشرط مَات کړئ نو صُلح مَاتَه شوه .

چي په مَالِ غَنِيمَت کي تقسيم کړي (۲) په حديث کي دئ. عَن اَبِيهَا اَسمَرُبنِ مُضرسٍ قَالَ اَتَيتُ النّبِيّ فَبَايَعتُهُ فَقَالَ مَن سَبَقَ اِلَي مَالَم يَسبِقهُ اِلَيهِ مُسلِمٌ فَهُوَ لَهُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في اقطاع الارضين ص۷۸نمبر۳۰۷۱) په دې حديث کي دئ چي دکُوم چا مخکي قبضه راشي هغه مَال دهغه دئ .
او د اَمَانَت مَال دهيڅ چا په قبضه کي نَه دئ هغه خو په حقيقت کي دحَربِي دئ نوځکه هغه به په غَنِيمَت کي راشي دمجاهدين ترمينځ به تقسيم شي .
وجه : مخته د ابن ابي الحقيق په حديث کي تېرشو چي دئ يې دعَهد دمَاتَوُلُو په وجه قتل کړئ او دده اَولاَد او بِي بِي يې قَيدِيَان کړل. عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) قَاتَلَ اَهلَ خَيبَرَ فَغَلَبَ عَلَي الاَرضِ وَالنّخلِ ... فَوَجَدُوا المِسکَ فَقُتِلَ اِبنُ اَبِي الحَقِيقَ وَسُبّيَ نِسَائهُم وَذَرَارِيّهُم (ب) (ابوداؤدشريف.باب ماجاء في حُکم ارض خيبر ج ۲ ص۶۸ نمبر۳۰۰۶) په دې حديث کي دئ چي څوک عَهد مَاتَوِي دهغه مَال به غَنِيمَت وي.ځکه چي ديهوديانُ سره دا شرط وُ چي دُوئي به هيڅ شَئ نَه پَټَوِي.او ابن ابي الحقيق د حَي بن اَخطب مَشک (ګُودَئ.يا مَنګَئ) پَټ کړئ اودعَهد خلاف وَرزِي يې وکړه نوځکه هغه يې قتل کړئ .
او که چيري دغه ذِمّي کُوم چي اُوس حَربِي شوئ دئ په خپله مَړ شونو دده دقَرض مَال او د اَمَانَت مَال ټوله به دده د وَارِثَانُ وي .
وجه : ځکه چي دئ خو دجنګ لپاره مَيدَان ته نَه دئ راغلئ يا دده پر مِلکِيّت باندي غَلَبَه نَه ده راغلې نو دده مَال غَنِيمَت نَه دئ ګرزېدلئ بلکه دده مِلکِيّت پر خپل ځائ پاته دئ.نوځکه دده د مرګه وروسته به دده د وَارِثَانُ ترمينځ تقسيميږي .
لغت : اُسِرُوا : قَيد کړل شو.د اَسِيرٌ څخه مُشتَق دئ. فَيئًا : مَالِ غَنِيمَت .

حاشيه : (الف) اسمربن مضرس فرمايي چي زَه حضور (ﷺ) ته راغلم او دده سره مِي بَيعَت وکړئ نو وفرمايل چي کُوم ځائ ته مسلمان نَه وي رسېدلئ هلته څوک ورسيږي نو هغه شَئ دهغه دئ (ب) حضور (ﷺ) د اَهلِ خيبَر سره جنګ وکئ.نو پر مځکه او بَاغُو يې قبضه وکړه ... چي کُوم وخت مَشک پيدا شو نوابن ابي الحقيق يې قتل کړئ او دده بِي بِي ګانِ او اَولاَدُونَه يې قَيدِيَان کړل .

[٣٠٥٣](٧٤) وَمَا اَوجَفَ عَلَيهِ المُسلِمُونَ مِن اَموَالِ اَهلِ الحَربِ بِغَيرِ قِتَالٍ يُصرَفُ فِي مَصَالِحِ المُسلِمِينَ كَمَا يُصرَفُ الخِرَاجُ .

[٣٠٥٣](٧٤) مسلمانان چي دحَربِيَانُ كُوم مَالُونَه بغيره جنګ واخلي هغه به د مسلمانانُ په مَصلَحَت كي مَصرَف كيږي .لكه د خِرَاج مَال چي مَصرَف كيږي .
تشريح : كه دحَربِيَانُ څخه په قِتَال مَال واخستئ نو دا دغَنِيمَت مال دئ.ددې څخه به پنځمه حِصّه خُمُس اِيستَل كيږي دا به پرمسكينانُ.يتيمانُ اومسافرو مَصرَف كيږي. پاته څلور حِصّې به پر مجاهدين تقسيميږي.ددې دليل مخته تېرشوئ دئ .
او چي دقِتَال او جنګ بغيره صِرف په رُعب سره هغه خلګ تِتِ شي او تَابِع شي بيا صُلح وشي نو دې مَال ته فَئ ويل كيږي.ددې څخه به پنځمه حِصّه خُمُس اِيستَل كيږي پاته څلور حِصّې به دمجاهدين ترمينځ نَه تقسيميږي.بلكه ټوله مَال به په بَيتُ المَال كي جمع كيږي او دمسلمانانُ د مَصلَحَت لپاره به مَصرَف كيږي.لكه څَه رنګه چي دخِرَاج مال دمسلمانانُ په مَصلَحَت كي مَصرَف كيږي .
وجه : د مَالِ غَنِيمَت او مَالِ فَئ فرق په دې اَتَركي ذِكر شوئ دئ. عَنِ الثّورِيّ قَالَ اَلفَئُ وَالغَنِيمَةُ مُختَلِفَانِ. اَمّا الغَنِيمَةُ فَمَا اَخَذَ المُسلِمُونَ فَصَارَ فِي اَيدِيهِم مِّنَ الكُفّارِ وَالخُمسُ فِي ذَالِكَ اِلَي الاَمِيرِ. يَضَعُهُ حَيثُ مَا اَمَرَ اللهُ. وَالاَربَعَةُ الاَخمَاسُ البَاقِيَةُ لِلّذِينَ غَنِمُوا الغَنِيمَةَ. وَالفَئُ مَاوَقَعَ مِن صُلحٍ بَينَ الاِمَامِ وَالكُفّارِ فِي اَعنَاقِهِم وَاَرضِهِم وَزَرعِهِم وَفِيمَا صُولِحُوا عَلَيهِ مِمّا لَم يَأخُذهُ المُسلِمُونَ عَنوَةً. وَلَم يَحوزُوهُ وَلَم يُقَهّرُوهُ عَلَيهِ حَتّي وَقَعَ فِيهِ بَينَهُم صُلحٌ. قَالَ فَذَالِكَ الصّلحُ اِلَي الاِمَامِ يَضَعُهُ حَيثُ اَمَرَ اللهُ (الف)

حاشيه : (الف) حضرت ثوري وفرمايل فَئ او غَنِيمَت جلا جلا مَال دئ.غَنِيمَت هغه ته وايي كُوم چې مسلمانان دكُفّارُ څخه قبضه كړي.ددې خُمُس و اَمِير ته وركول كيږي.الله چي دهغه څَه رنګه حُكم كړئ دئ هلته دې مَصرَف كړي.او پاته څلور خُمُس دهغوخلګولپاره دي چاچي غَنِيمَت حاصِل كړئ دئ.او فَئ دادئ چي د امام اوكُفّارُترمينځ دصُلح په وجه دكُفّارُ پر ذَات.د دُوئي پر مخكه او د دُوئي پر كَبِنت لازم وي.پر هر مَال چي صُلح شوي وي كُوم چي مسلمانانُ د خپل طاقَت په زُور نَه وي اَخَستي او نَه پرهغه قبضه كړي وي.تر دې چي د دُوئي ترمينځ صُلح شوې وي.دغه دصُلحِ مَال د اِمَام ذِمّه دَارِي ده چي الله څَه رنګه حُكم كړئ دئ هلته مَصرَف كړي .
(مصنّف عبدالرّزاق.باب الغنيمة والفئ مختلفان ج٥ص٣١٠ نمبر ٩٧١٥) په دې اَتَركي مَالِ غَنِيمَت او مَالِ فَئ جلا جلا بيان كړئ دئ او دايې بنولي دي چي دصُلحِ و مَال ته مَالِ فَئ ويل كيږي .
مَالِ فَئ دي په اُمُورمُسلِمِين كي مَصرَف كړي
وجه : (١) دهغه دليل دا آيت دئ. مَآ اَفَآءَ اللهُ عَلٰي رَسُولِهِ مِن اَهلِ القُرٰي فَلِلّهِ وَلِلرّسُولِ وَلِذِي القُربٰي وَاليَتٰمٰي وَالمَسَاكِينِ وَابنِ السّبِيلِ كَي لاَيَكُونَ دُولَةً بَينَ الاَغنِيَاءِ مِنكُم (الف) (آيت ٧ سورة الحشر ٥٩) په دې آيت كي دئ چي كُوم فَئ الله تعالٰي تاسو ته دركړئ دئ هغه د رِشتَه دَارَانُ.يَتِيمَانُ.مسكينانُ او مسافرو لپاره دئ.ددې څخه معلوم شوچي په دي كي خُمُس هم نشته.اودمجاهدينُ ترمينځ به هم نَه تقسيميږي.بلكه د اُمّت په مَصلَحَت كي به مَصرَف كيږي (٢) په حديث كي ددې تاكيد راغلئ دئ. عَن اَبِي

هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اَيّمَا قَريَةٍ اِفتَتَحَهَا اللهُ وَرَسُولُهُ فَهِيَ لِلّهِ وَلِرَسُولِهِ. وَ اَيّمَا قَريَةٍ اِفتَتَحَهَا المُسلِمُونَ عَنوَةً فَخُمُسُهَا لِلّهِ وَلِرَسُولِهِ وَبَقِيّتُهَا لِمَن قَاتَلَ عَلَيهَا (ب) (سنن للبيهقي.باب من رأي قسمة الاراضي المغنومة ومن لم يرها ج۹ص۲۳۴نمبر۱۸۳۹۳) په دې حديث کي دئ چي کُوم ځائ چي مجاهدين فَتح کړي په هغه کي دمُجَاهِدِينُ څلور حِصّي دي.او کُوم ځائ چي مُجَاهِدِينُ نَه دئ فتح کړئ بلکه دمسلمانانُ د رُعب په وجه دُښمَنَانُ صُلح وکړه نو هغه ټوله مَالُونَه به دنَوَائِبُ المُسلِمِين(حوائج المسلمين)لپاره وي او ددُوئي په مَصلَحَتُوکي به مَصرَف کيږي (۳) په حديث کي دئ.عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ صَالَحَ رَسُولُ اللهِ(ﷺ) اَهلَ نَجرَانَ عَلَي اَلفَيِ حُلّةٍ النّصفُ فِي صَفَرَ وَ النّصفُ فِي رَجَبَ يُوَدّونَهَا اِلَي المُسلِمِينَ (ج)

حاشيه : (الف) د کَلِي وَالُو کُومَه مځکه چي الله تعالٰي د فَئ په توګه وخپل رسول ته ورکړه هغه د الله لپاره.د رسول لپاره.د رِشتَه دَارَانُ لپاره.د يَتِيمَانُ لپاره.د مِسکِينَانُ لپاره او دمُسَافِرُ لپاره ده.چي ستاسو د مَالدَارَانُو ترمينځ مُخَاصَمَت را نه شي (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل کُوم کَلَئ چي الله رَسُول فتح کړئ نو هغه د الله او رسول لپاره ده.او کُوم کَلَئ چي مسلمانانُ په زُورَه فتح کړئ نو دهغه خُمُس د الله او د رسول لپاره دئ او پاته دهغه چا لپاره دئ چي پر دې باندي قِتَال کړئ وي (ج) حضور (ﷺ) د اَهلِ نَجرَان سره پر دُوَه زَرَه حُلّة باندي صُلح وکړه نِيمَئ به د صَفَر په مياشته کي او نِيمَئ به د رَجَب په مياشته کي مسلمانانُ ته اداء کوي .

[۳۰۵۴](۷۵) وَ اَرضُ العَرَبِ کُلّهَا اَرضُ عُشرٍ .

(ابوداؤدشريف.باب في اخذالجزية ج۲ص۷۴نمبر۳۰۴۱) په دې حديث کي دئ چي د اَهلِ نَجرَان سره چي کُومَه صُلح شوې وه په هغه مَال کي خُمُس نَه اَخَستَل کيدئ.او نَه د مجاهدينُ ترمينځ تقسيم کيدئ.بلکه ټوله مَال د مسلمانانُ په مَصرَف کي استعمالِيدئ .

لغت : اَوجَفَ : آس ځغَلَوَل.ځغلَوَل.دلته مراد دئ مَنذِه کول او مَال جمع کول .

﴿...دعُشرِي او خِرَاجِي مځکو اَحکَام... ﴾

[۳۰۵۴](۷۵) د عَرَبُ مځکي ټولي عُشرِي مځکي دي .

تشريح : په عَرَبُ کي بَل دِين پرېښُوَل جواز نَه لري.او خِرَاج خو هغه وخت وي چي هلته کافِرَان وسيږي او عَرَب پر کُفر باندي پرېښول جائز نَه دئ.نوځکه په دُوئي کي خِرَاج لګول هم جواز نَه لري.نو لدې وجه هغه ټولي مځکي عُشرِي مځکي دي .

وجه : (۱) په حديث کي دئ چي دجَزِيرَه عَرَب څخه ټوله مُشرِکِين وَبَاسَئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّهُ قَالَ يَومُ الخَمِيسِ وَمَا يَومُ الخَمِيسِ ... اُخرُجُوا المُشرِکِينَ مِن جَزِيرَةِ العَرَبِ (الف) (بخاري شريف.باب هل يستشفع الٰي اهل الذّمّة ومعاملتهم ص۴۲۹نمبر۳۹۵۳/مسلم شريف.باب ترک الوصيّة لِمَن ليس له شَئٌ يوصي فيه ص۴۲نمبر۱۶۳۷) په دې حديث کي دئ چي مُشرِکَان د عَرَب سرزمين څخه وَبَاسَئ نوځکه هغه مځکي عُشرِي مځکي دي (۲) په حديث کي دئ سُمِعَ عُمَرُ بِنِ عَبدِالعَزِيزِ يَقُولُ بَلَغَنِي اَنّهُ کَانَ آخِرُ مَاتَکَلّمَ بِهِ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَن قَالَ قَاتَلَ اللهُ اليَهُودَ و النّصَارٰي اِتّخَذُوا قُبُورَ اَنبِيَائِهِم مَسَاجِدَ. لَاَيَبقِيَنّ دِينَانِ بِاَرضِ العَرَبِ

(ب) (سنن للبيهقي.باب لايسكن ارض الحجاز مشرک ج ۹ ص۳۵۰ نمبر۱۸۷۵۰) ددې مُرسَل حديث څخه هم معلوميږي چې دعَرَبُ مځکه عُشرِي

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل مُشرِکِين د جزيره عرب څخه وَبَاسَئ (ب) دحضور (ﷺ) آخرِي کَلاَم دا وُ.الله دي يهود او نصارْي تَبَاه کړي دُوئي د اَنبِيَاءُ قبرونه سجده گاه و گرزول. دعربُ په مځکه کي دُوَه دِين نَه شي پاته کېدلائي .

[۳۰۵۵](۷۶) وَهِيَ مَا بَينَ العُذَيبِ اِلْي اَقصْي حَجَرٍ بِاليَمَنِ بِمَهَرةٍ اِلْي حَدِّ مَشَارِقِ الشّامِ .

مځکه ده.يعني په دي کي به خِرَاج نَه اَخَستَل کيږي بلکه دهغه په پَيدَاوَار کي به لَسَمَه حِصّه(عُشر)اخستل کيږي .

پام لرنه : نَن وُرَځ خو ټوله مځکه اَمرِيکِي مځکه گرزېدلې ده چې څَه رنگه زړه غُوَارِي هغه دَوَل کوي .

[۳۰۵۵](۷۶) او هغه د مقامِ عُذَيب څخه ديَمَن تر اَقصْي حَجَر پوري ده.او دمَهرَه څخه د مَشَارِقِ شَام تر حَد پُوري دئ .

تشريح : جزيره عرب د کُوم ځائ څخه تر کُوم ځائ پُورِي ده تفصيل يې دادئ. فرمايي چې دمَقَامِ عُذَيب څخه ونيسې بيا په يَمَن کي مَقَامِ حِجر دئ تر هغه ځائ پُورِي دئ.دغه د پُسُور مقدار دئ.او په وُرِدوَل کي د مَهرَه څخه د شَام تر حُدُودُ پوري دئ.

وجه : په اَثَرکي ددې تَصرِيح په دَادَوَل شوې ده. قَالَ سَعِيدُ بِنِ عَبدِالعَزِيزِ جَزِيرَةُ العَرَبِ مَا بَينَ الوَادِي اِلْي اَقصْي اليَمَنِ اِلْي تَخُومِ العِرَاقِ اِلْي البَحرِ (الف) په بَل روايت کي دئ. وَقَالَ الأَصمَعِيّ جَزِيرَةُ العَرَبِ مَن اَقصْي عَدَنِ اَبيَنَ اِلْي رِيفِ العِرَاقِ فِي الطّولِ وَ اَمّا العَرضُ فَمِن جَدّةٍ وَ مَا وَالاَهَا مِن سَاحِلِ البَحرِ اِلْي اَطرَافِ الشّامِ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاءفي تفسيرارض الحجازوجزيرة العرب ج۹ص۳۵۱نمبر۱۸۷۵۶/۱۸۷۵۵) ددې دواړو رِوَايَاتُ حاصِل تقريبًا يَو دئ چې دعَرَبُ حدود په وُرِدوَل کي د شَام څخه تر يَمَن پُوري او دبَحرَين څخه تر جَدّة پُوري دي. په دغه حُدُودُ کي و کافِرانُ ته مُستَقِل رِهَايَش او اَستُوگَنَه ورکول جواز نَه لري.او په دغه حُدُودُ کي ذِمّي ته

حاشيه : (الف) سعيدبن عبدالعزيز وفرمايل جزيره عرب د وَادِي يَمَن تر اَخِير پوري ده او دتَخُومُ العِرَاق څخه تر سَمَندَر پوري ده (ب) حضرت اصمعي وفرمايل جزيره عرب د عَدَن د اَخِير څخه تر رِيفُ العِرَاق پوري په وُرِدوَل کي.بهرحال په پُسُور کي جَدّه او دهغه شَاوُخوَا د سَمَندَر د سَاحِل څخه د شَام تر اَطرَاف پوري .

[۳۰۵۶](۷۷) وَالسّوَادُ کُلّهَا اَرضُ خِرَاجٍ وَهِيَ مَابَينَ العُذَيبِ اِلْي عَقبَةِ حُلُوَانَ وَمِنَ الثّعلَبَةِ وَيُقَالُ وَمِنَ العَلثِ اِلْي عَبّادَانَ [۳۰۵۷](۷۸) وَ اَرضُ السّوَادِ مَملُوكَةٌ لاَهلِهَا يَجُوزُ بَيعُهُم لَهَا وَتَصَرّفُهُم فِيهَا .

اَستُوگَنَه ورکول هم جواز نَه لري او دا مځکه عُشرِي مځکه ده .

لغت : عُذَيبٌ : دا عِرَاق ته نژدې دئ او دعِرَاق حُجّاج دهغه ځائ سره تېرېږدل .
[۳۰۵۶](۷۷) او د سَوَادِ عِرَاق ټوله مځکه خِرَاجِي ده چې دمقام عُذَيب څخه تر مقام عَقبَه حُلَوَان پوري او د ثَعلَبَه بعض خلګ وايي دمقام عَلَث څخه تر عَبَادَان پُورِي دئ .
تشريح : په هغه وخت کي دعِرَاق پر مځکه ډېر زيات ګَبنتونه کېدل نوځکه هغه ته سَوَاد يعني ټُورَه مځکه ويلې.دعِرَاق حُدُود دعُذَيب څخه تر عَقبَه حُلَوَان پُوري او دعَلَث څخه تر عَبَادَان پُوري وُ. پر دغه دمسلمانانُ قبضه وه او دغه يې خِرَاجِي مځکه شمارله .
لغت : سَوَادٌ : ټُور.دلته تَک شَنَه مځکه (يعني ډېره آباد مځکه) مراد ده .
[۳۰۵۷](۷۸) دعراق مځکه دهغه ځائ د وُسپدُونکو مِلکِيّت ده.دهغوئي لپاره ددې خرڅول او په هغه کي تَصَرّف کول جائز دئ .
تشريح : دعِرَاق دمځکي په اړه مُختَلِف روايتونه راغلي دي.د بعضُ څخه داسي معلوميږي چې هغه مځکه دمجاهدينُ ترمينځ تقسيم کړې ده.او دبعضُ څخه داسي معلوميږي چې نَه ده تقسيم کړې.او کُومَه حِصّي چې تقسيم کړې وه هغه يې هم بېرته ځيني وَاخِستَه او دمسلمانانُ د فائدې لپاره کښېښوه.او پر ټوله مځکه يې خِرَاج مُقَرّر کړئ.او دا قاعده ده چې څوک د مځکي مَالِک وي او دهغه خِرَاج اداء کوي نو هغه مځکه هم خرڅولائي شي او هم تَصَرّف پکښي کولائي شي .
وجه : (۱) ددې دليل دا اَثَر دئ. عَن اِبنِ سِيرِينَ قَالَ اَلسّوَادُ مِنهُ صُلحٌ وَمِنهُ عَنوَةٌ.فَمَا كَانَ مِنهُ عَنوَةٌ فَهُوَ لِلمُسلِمِينَ وَمَاكَانَ مِنهُ صُلحٌ فَلَهُم اَموَالُهُم (الف) (سنن للبيهقي.باب السواد.ج۹ص۲۲۵نمبر۱۸۳۵۸) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي دعِرَاق بعض حِصّه په غَلَبَه او زُوره سره فتح شوې ده او بعض حِصّه يې په صُلح سره فتح شوې ده.کُوم چي په غَلَبَه سره فتح شوه هغه يې دمسلمانانُ ترمينځ تقسيم کړه.او کُوم چي په صُلح سره فتح شوه هغه دمَالِک مَال پاته شوه.او چي د مَالِک مَال ده نو مَالِک خو هغه خرڅولائي هم شي (۲) عَن عُمَرَ اَنّهُ اَرَادَ اَن يُقَسّمَ اَهلَ السّوَادِ بَينَ المُسلِمِينَ وَاَمَرَ بِهِم اَن يَحصُوا فَوَجَدُوا الرّجُلَ المُسلِمَ يُصِيبُهُ ثَلاَثَةٌ مِّنَ الفَلاَحِينَ يَعنِي العَلُوجَ فَشَاوَرَ اَصحَابُ النّبِيّ (ﷺ) فِي ذَالِکَ فَقَالَ عَلِيّ دَعهُم يَكُونُونَ مَادّةٌ لِلمُسلِمِينَ فَبَعَثَ عُثمَانَ بِنِ حَنِيفٍ فَوَضَعَ عَلَيهِم ثَمَانِيَةَ وَ اَربَعِينَ. وَ اَربَعَةَ وَعِشرِينَ. وَ اِثنَي عَشَرَ (ب) (سنن للبيهقي.باب السواد.ج۹ص۲۲۶نمبر۱۸۳۷۰) ددې اَثَر څخه معلوم شوچي دحضرت علي په مَشوَرَه سره دعِرَاق مځکه نَه ده تقسيم کړې.نوځکه دهغه ځائ خلګ دهغې مځکي مَالِکَان پاته شول .
دعِرَاق او دبعضو ځايو خلګ وروسته مسلمانان شول نوځکه دهغوئي څخه اُوس محال خِرَاج ساقِط دئ .

وجه : په اَثَرکي دئ. قَالَ کَتَبَ عُمَرُ بِنِ عَبدِالعَزِيزِ اِلٰي عَبدِالحَمِيدِ بِنِ عَبدِالرّحمٰنَ فَذَکَرَهُ فَقَالَ فِيهِ وَلاَخِرَاجَ عَلٰي مَن اَسلَمَ مِن اَهلِ الاَرضِ (ج) (سنن

حاشيه : (الف) حضرت ابن سيرين وفرمايل دعِرَاق ځَه حِصّه په صُلح سره فتح شوې ده او ځَه حِصّه يې په زُور سره فتح شوې ده.نوګُومَه چې په زُورَه سره فتح شوې ده هغه دمسلمانانُ غَنِيمَت ده او کُوم چې په صُلح سره شوې ده هغه دصُلح کونکي خپل مَال دئ (ب) حضرت عمر وغُوَښتَل چې عِرَاق دمسلمانانُ ترمينځ تقسيم کړي نوخلګو ته حُکم وکړئ چې دغه حِسَاب کئ(يعني په نَاپ يې کئ).نو چې ګوري ديوه مسلمان نَر په حِصّه کي دري کښتګر يعني کَافِر راتلَل.نو د نَبِي اَصحَابَانُ مَشوَرَه وکړه حضرت علي وفرمايل دُوئي پرېږده. دمسلمانانُ مَادّه به ثابت شي.بيايي عُثمَان بن حنِيف وَاستَاوَئ نو د دُوئي څخه پر بعضُ اَتَه څلوېښت (۴۸) او بَعضُ څليرويشت (۲۴) او بَعضُ دُولَس (۱۲) دِرهَم مُقَرّر کړل (ج) حضرت عمر بن عبدالعزيز و عبدالحميد ته وليکل او تَذکِرَه وکړه. په هغه کي وويل چې څوک مسلمان شي پر هغه خِرَاج نشته .

[۳۰۵۸](۷۹) وَکُلّ اَرضٍ اَسلَمَ اَهلُهَا عَلَيهَا اَو فُتِحَت عَنوَةً وَقُسِّمَت بَينَ الغَانِمِينَ فَهِيَ اَرضُ عُشرٍ .

للبيهقي.باب من اسلم اهل الصّلح سقط الخراج عن ارضه ج۹ص۲۳۸نمبر۱۸۴۰۹) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي دګُومُو خلګو سره صُلح شوې ده که هغه ټوله مُلک مسلمانان شي نو دهغوئي څخه خِرَاج ساقطيږي.او مځکه به عُشرِي مځکه شي.نوځکه دعِرَاق او شَاوُخُوَا مځکه اُوس محال عُشرِي مځکه ده .

پام لرنه : اُوس خو دعِرَاق مځکه هم اَمرِيکي مځکه ګرزېدلې ده ځکه چې پر هغه باندي د امريکه قبضه راغلې ده .

[۳۰۵۸](۷۹) دګُومِي مځکي وُسېدُونکي چې اِسلاَم قبول کړي يا د بَازُو په زوره سره فتح شوې وي او دمجاهدينُ ترمينځ تقسيم شوې وي هغه عُشرِي مځکه ده .

تشريح : چې د يَومُلک بَاشِندَګَان د خِرَاج تر مُقَرّر کولو مخکي اِسلاَم قبول کړي نو پرهغه مځکه به عُشر لازمو.يايي هغه مُلک په طاقت او زُور سره فتح کړئ وي او هغه مځکه د مجاهدين ترمينځ تقسيم کړې وي نو په دې صورت کي به هم پر هغه مځکه عُشر لازميږي .

وجه : (۱) که مسلمان خِرَاجِي مځکه رَانِيسِي نو بيا خو به پر هغه خِرَاج لازم وي. لېکن اِبتِدَاءً دمسلمان پر مځکه خِرَاج مُقَرّر کول صحيح نَه دئ.ځکه چې دا د ذِلّت شَئ دئ. عَن نَافِعٍ اَنّ عَبدَاللهِ بِنِ عُمَرَ کَانَ اِذَا سُئِلَ عَنِ الرّجُلِ مِن اَهلِ الإسلاَمِ يَأخُذُ الاَرضَ مِن اَهلِ الذِّمّةِ بِمَا عَلَيهَا مِنَ الخِرَاجِ يَقُولُ لاَيَحِلّ لِمُسلِمٍ اَو لاَيَنبَغِي لِمُسلِمٍ اَن يَکتُبَ عَلٰي نَفسِهِ اَلذّلّ وَالصّغَارَ (الف) (سنن للبيهقي.باب الرض اذا كانت صُلحًا رقابها لأهلِهَا وعليها خراج يؤدّونه فاخذهامنهم مسلم بكراء ج۹ص۲۳۶نمبر۱۸۳۹۷) په دې اَثَرکي

حاشيه : (الف) د حضرت عبدالله بن عمر څخه پُوښتَنَه وشوه چې مُسلمَان د ذِمّي مځکه د خِرَاج سره رَانِيسِي نو دا ځَه دَوَل ده؟ وفرمايل چې دمسلمان لپاره حلال نَه دئ يا مُنَاسِب نَه دئ چې پر خپل ذَات باندي ذِلّت يا کِشنَئ والَئ مُسَلّط کړي .

[٣٠٥٩](٨٠) وَكُلّ اَرضٍ فُتِحَت عَنوَةً فَاُقِرّ اَهلُهَا عَلَيهَا فَهِيَ اَرضُ خِرَاجٍ .

دئ چي خِرَاجِي مځکه رَانِيوَل د ذِلّت کار دئ.نوځکه پر مسلمانانُ باندي اِبتِدَاءً خِرَاج لازمول صحيح نَه دئ (٢) په حديث کي دئ. عَنِ العَلاَءَ بنِ الحَضرَمِيّ قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِلَي البَحرَينِ اَو اِلَي هِجرَ فَكُنتُ آتِي الحَائِطَ يَكُونُ بَينَ الإِخوَةِ يُسلِمُ اَحَدُهُم فَآخُذُ مِنَ المُسلِمِ اَلعُشرَ وَمِنَ المُشرِكِ اَلخِرَاجَ (الف) (ابن ماجه شريف.باب العشر والخراج ص٢٦٢نمبر١٨٣١) په دي حديث کي دئ چي دمسلمان څخه عُشر او د مُشرِک څخه به خِرَاج اخستل کيږي. لِهٰذَا کُومَه مځکه چي دمجاهدينُ ترمينځ تقسيم شوه پر هغه مځکه عُشر لازم دئ .

چي څوک مسلمان شي دهغه څخه خِرَاج ساقطيږي دليل يې دا آثَردئ. کَتَبَ عُمَرُ بنِ عَبدِالعَزِيزِ اِلَي عَبدِالحَمِيد بنِ عَبدِالرّحمٰنَ فَذَکَرَهُ فَقَالَ فِيهِ وَلاَخِرَاجَ عَلَي مَن اَسلَمَ مِن اَهلِ الاَرضِ (ب) (سنن للبيهقي.باب من اسلم اهل الصّلح سقط الخراج عن ارضه ج ٩ ص٢٣٨نمبر١٨٤٠٩) ددې آثَرڅخه معلوم شوچي د يَومُلک باشندګان مسلمانان شي نو پر هغوئي خِرَاج نَه لازميږي .

[٣٠٥٩](٨٠) کُومَه مځکه چي دطاقَت په زور فَتح کړې وي او دهغې بَاشِندَګَان يې پر هغه ځائ پرېښِي وي نو هغه خِرَاجِي مځکه ده .

تشريح : يَوَه مځکه په طاقت سره فتح کړه يايې په رُعب سره فتح کړه لېکن هغه مځکه دمجاهدين ترمينځ نَه ده تقسيم کړې بلکه پر هغه باندې دکُفّارُ قبضه بَرقَرَارَ وساتل نو پر هغه مځکه خِرَاج لازم دئ .

حاشيه : (الف) حضرت علاء فرمايي چي حضور بَحرَين يا هِجر ته وَاستَوَلَم. زَه دَادَوَل بَاغ ته خَم چي د دُوُ وُرُونُو مُشتَرَک وي.دهغوئي څخه يَو مسلمان شو نو دمسلمان څخه مِي لَسَمَه حِصّه اخستله عُشر مِي ځيني اخستئ او دمُشرِک څخه مِي خِرَاج اخستئ (ب) حضرت عمر بن عبدالعزيز و عبدالحميد ته وليکل او تَذکِرَه وکړه. په هغه کي وويل چي دمځکي والا څخه څوک مسلمان شي پر هغه خِرَاج نشته .

[٣٠٦٠](٨١) وَمَن اَحيَا اَرضًا مَوَاتًا فَهِيَ عِندَ اَبِي يُوسُفَ مُعتَبَرَةٌ بِحِيّزِهَا فَاِن كَانَت مِن حَيّزِ اَرضِ الخِرَاجِ فَهِيَ خِرَاجِيّةٌ وَ اِن كَانَت مِن حِيّزِ اَرضِ العُشرِ فَهِيَ عُشرِيّةٌ وَالبَصرَةُ عِندَهُ عُشرِيّةٌ بِاِجمَاعِ الصّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنهُم .

وجه : (١) عُشر يَو دَوَل عِبَادَت دئ او کُفّار د عِبَادَت اَهل نَه دي نوځکه پر دُوئي به خِرَاج لازم وي (٢) مخته د ابن ماجه شريف حديث تيرشو عَنِ العَلاَءَ بنِ الحَضرَمِيّ ... فَآخُذُ مِنَ المُسلِمِ اَلعُشرَ وَمِنَ المُشرِكِ اَلخِرَاجَ (الف) (ابن ماجه شريف.باب العشر والخراج ص٢٦٢نمبر١٨٣١) ددې حديث څخه معلوم شوچي دمُشرِک په مځکه کي خِرَاج لازم دئ

(۳) دعِرَاق خلګ اَکثر مُشرِکَان وُ او دُوئي يې د دُوئي پر مځکو بَحَالَ پاته کړو نو د دُوئي پر مځکو حضرت عمر خِرَاج مُقَرّر کړئ.(سنن للبيهقي.باب قدرالخراج الّذي وضع علٰي السواد ج۹ص۲۳۰نمبر۱۸۳۸۲)

[۳۰۶۰](۸۱) چاچي شړه مځکه آباد کړه نو د امام ابويوسف په نېز وهغه ته وَرځېرمه مځکي په لحاظ دهغې اِعتِبَار دئ.که وَرځېرمَه مځکه خِرَاجِي وه نو دا به هم خِرَاجِي وي او که وَرځِېرمَه مځکه عُشرِي وه نو دا به هم عُشرِي وي.او بَصرَه دده په نېز عُشرِي ده د اِجمَاعِ صَحَابَه په وجه .

تشريح : يَوچَا غَيرِآبادَ مځکه آبادَ کړه نو دا به عُشرِي ګرزوي که به خِرَاجِي ګرزوي؟ په دې لړ کي د امام ابويوسف() رأيَه داده چې په کُومُو اُوبُو سره اُوبِيرِي دا اِعتِبَار نَه لري بلکه ودغه مځکه ته نژدې او څېرمه څَنګه مځکه ده دهغې اِعتِبَار دئ.که و شَړَه مځکه ته نژدې خِرَاجِي مځکه وه نو دا به هم خِرَاجِي وي.او که دا د عُشرِي مځکو په مينځ کي وي نو دا به هم عُشرِي ګڼل کيږي .

وجه : دغه مځکه دمخکي څخه کُوم رِيکارډ(تاريخ او پَس مَنظَر)نَه لري نوځکه

حاشيه : (الف) علاء بن حضرمي فرمايي ... دمسلمان څخه مي عُشراخستئ او دمُشرِک څخه مي خِرَاج اخستئ .

هغه مُلک څَه رنګه دئ يا دغه عِلاقَه څَه رنګه ده دهغې اِعتِبَار دئ.که نژدې مځکه دمجاهدين مِلکِيّت وي يا دمسلمانانُ مِلکِيّت وي نو ددې مطلب دادئ چې دغه شَړَه مځکه هم دمجاهدينُ مِلکِيّت وه نوځکه پر دې به هم عُشر لازم شي.او که چيري هغه مُلک دکُفّارُ مِلکِيّت پاته شوئ وُ چې دهغه په وجه پر هغه باندي خِرَاج لازم شوئ وُ نو بيا دغه شړه مځکه هم هسي په يوه درجه کي دکُفّارُ مِلکِيّت ده نو پر دغه مځکه بايد خِرَاج لازم شي .

اصول : د شړي مځکي د اَصلِيّت اندازه ددې څخه بَايَد معلوم شي چې ددې پر څنګ مځکه د چا مِلکِيّت ده .

بصره دده په نېز عُشرِي مځکه ده.ددې اِشَارَه ددې اَثَرځخه بنکاره کيږي. عَن مُحَمّدٍ بِنِ عُبَيدِاللهِ الثّقَفِيّ. قَالَ خَرَجَ رَجُلٌ مِن اَهلِ البَصرَةِ مِن ثَقِيفٍ يُقَالُ لَهُ نَافِعٌ اَبُوعُبَيدِاللهِ. وَكَانَ اَوّلُ مَن اِفتَلْي الفَلاَ. فَقَالَ لِعُمَرَبنِ الخَطّابِ اِن قَبِلنَا اَرضًا بِالبَصرَةِ لَيسَت مِن اَرضِ الخِرَاجِ وَلاَتَضُرّ بِاَحَدٍ مِنَ المُسلِمِينَ. فَاِن رَأيتَ اَن تَقطَعَنِيهَا اَتّخِذُ فِيهَا قَضبًا لِخَيلِي فَافعَل. قَالَ فَكَتَبَ عُمَرُ اِلٰي اَبِي مُوسٰي الاَشعَرِيّ ... فَاِن لَم تَكُن اَرضُ جِزيَةٍ وَلاَ اَرضًا يَجرِي اِلَيهَا مَاءُ جِزيَةٍ فَاَعطِهَا اِيّاهُ (الف) (رواه عبيدفي الاموال.ص۲۷۷/اعلاء السنن.باب من احياارضناموانًا بماء الخراج فخراجية و الاّ فعشرية ج۱۲ ص۴۲۵نمبر۴۰۹۱) په ددې اَثَر کي دئ چې د جِزيَه مځکه نَه وي ددې څخه معلوم شوچې بَصرَه خِرَاجِي مځکه نَه وه.او دا هم ځيني معلوم شوچې شړه مځکه په خِرَاجِي اُوبُو سره اُوبَه شي نو هغه مځکه هم خِرَاجِي مځکه ګرزي.ددې څخه په راروان مسئله کي د امام محمّد() د رأيَه تصويب بنکاره کيږي چې په کُومو اُوبُو

حاشيه : (الف) محمّدبن عبيدالله فرمايي چي دبصره يَو سړئ دثقيف څخه رَاوَوَاتَئ چي نَافِع ابوعبيدالله نومېدئ.دا اَوّلَنَئ اِنسَان دئ چي په خَنګل کي مَيدَان جوړ کئ.نو عمر بن خَطّاب ته وفرمايل زُومَا څخه مخکي په بَصرَه کي خِرَاجِي مځکه نشته او مسلمانانُ ته نُقصَان رسوي.که چيري مَا ته دمځکي يَوَه ټکړه راکړي چي په هغه کي د آس د خَغلُوُلُو ځائ جوړ کړم. نوحضرت عمر و ابوموسْي اشعري ته وليکل ... که دجزيَه مځکه نَه وي اونَه دَاوَل مځکه وي چي په هغه کي د جِزيَه اُوبَه رَوَانِ وي نو هغه ورته ورکړه .

[۳۰۶۱](۸۲) وَقَالَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي اِن اَحيَاهَا بِبِئرٍ حَفَرَهَا اَو بِعَينٍ اِستَخرَجَهَا اَو بِمَاءِ دَجلَةٍ اَو فُرَاتٍ اَوِ الاَنهَارِالعِظَامِ اَلَّتِي لاَيَملِكُهَا اَحَدٌ فَهِيَ عُشرِيّةٌ وَ اِن اَحيَاهَا بِمَاءِ الاَنهَارِ اَلّتِي اِحتَفَرَهَا الاَعَاجِمُ مِثلَ نِهرِالمَلِکِ وَ نِهرِ يَزدَجَرَ فَهِيَ خِرَاجِيّةٌ .

سره مځکه اُوبَه شي مځکه به هغه شمېرل کيږي .

لغت : حِيَزٌ : شاوخوا. اړچاپېره.وَرځېرمَه .

[۳۰۶۱](۸۲) امامِ محمّدوفرمايل که څَاه وَکِندَئ مځکه آباد کړه يايي چِينَه وَيَستَل مځکه آباد کړه يايي د دَجلَه يا فُرَات يا دهغه غَټُو کَارېزو په اُوبُو سره کُوم چي مَالِک نَه لري نو هغه عُشرِي مځکه ده.او که دهغه کارېزو په اُوبُو سره آباد کړه کُوم چي اَهلِ عَجَمُ کِندَلِي دي لکه نَهرِمَلَک او نَهر يَزدَجَر نو هغه خِرَاجِي ده .

تشريح : د امامِ محمّد () قاعده داده چي څَه دَوَل اُوبَه استعمالوي دهغه په لحاظ به شړه مځکه عُشرِي يا خِرَاجِي وي.که چيري په خِرَاجِي اُوبُو سره شړه مځکه آباد کړه نو هغه مځکه به خِرَاجِي وي که څَه هم دعُشرِي مځکو په مينځ کي وَاقِع وي.او که په عُشرِي اُوبَه سره آباد کړي وه نو هغه به عُشرِي وي. مخته بيا تفصيل دئ چي عُشرِي اُوبَه کُومِي دي؟ او خِرَاجِي اُوبَه کومي دي؟

يوچا په خپله څَاه وَکِندَئ يايي د اُوبُو چِينَه وَکِندَلَه نو ددې دواړو اُوبَه عُشرِي دي. په دې اُوبُو سره که شړه مځکه آباد کړه نو دا مځکه به عُشرِي مځکه وي.يايي په نِهرِدَجلَه.نِهرِفُرَات يا هغه نِهرونه کُوم چي مَالِک نَه لري دهغه اُوبَه هم عُشرِي اُوبَه دي لِهْذَا په دغه اُوبُو چي شړه مځکه آباد کړي هغه مځکه به عُشرِي مځکه وي .

او هغه نِهر کُوم چي عَجَمِيَانُ کِندَلَئ (جوړ کړئ) دئ لکه د نِهرِمَلِک او نِهرِ يَزدَجَر اُوبَه خِرَاجِي اُوبَه دي.په دغه اُوبُوکه شړه مځکه آباد کړه هغه به خِرَاجِي مځکه وي .

وجه : مخته دحضرت عمر اَثَر تېرشوئ دئ. فَاِن لَم تَکُن اَرضُ جِزيَةٍ وَلاَ اَرضًا يَجرِي

[۳۰۶۲](۸۳) وَالخِرَاجُ الّذِي وَضَعَهُ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنهُ عَلٰي اَهلِ السّوَادِ مِن کُلّ جَرِيبٍ يَبلُغُهُ المَاءُ وَيُصلِحُ لِلزّرعِ قَفِيزٌ هَاشَمِيٌ وَهُوَالصّاعُ وَدِرهَمٌ وَمِن جَرِيبِ الرّطبَةِ خَمسَةُ دَرَاهِمَ وَمِن جَرِيبِ الکَرمِ المُتّصِلِ وَالنّخلِ المُتّصِلِ عَشرَةُ دَرَاهِمَ .

اِلَيهَا مَاءُ جِزيَةٍ فَاَعطِهَا اِيّاهُ (الف) (رواه عبيدفي الاموال.ص۲۷۷/اعلاء السنن. نمبر۴۰۹۱) په ددې اَثَر کي دئ چي د بَصرَې دغه مځکه که د جِزيَه يعني خِرَاجِي اُوبُو نَه اُوبدَلَه نو دا و نَافِع ابوعبيدالله ته ورکړه.ددې څخه اِشَارَه ملاؤيږي چي د اُوبُو په اِعتِبَار سره مځکه خِرَاجِي ګرزي.قُرب و جَوَار کُوم اِعتِبَار نَه لري .

لغت : اِحتَفَرَ : د حَفرٌ څخه مُشتَق دئ کِندَل.څَاه جوړول .

[۳۰۶۲](۸۳) حضرت عمر چي پر اَهلِ عِرَاق کُوم خِرَاج مُقَرّر کړئ وُ هغه په يَوَه جَرِيب چي اُوبَه ورسيږي او دکَښت قَابِل وي يَو هاشمي قَفِيز يعني يَوَه صَاع او يَو دِرهَم او د سَبزِيَاتُ په يَوَه جَرِيب کي پنځه دِرهَم او اَنګُور او خُورمَا چي ګڼي(مُتّصِل)وي لَس دِرهَم دي .

تشريح : حضرت عمر د صحابه په مشوره سره پر اَهلِ عِرَاق چي کُوم خِرَاج مُقَرّر کړئ وُ دهغه تفصيل دادئ چي دکَښت هغه مځکه کُوم چي اُوبَه وَرتَلاَئي شي او د زَرَاعَت(کَښت)قَابِل وي په يوه جَرِيب مځکه کي يَوَه صَاع غَنَم او يَو دِرهَم يعني۳.۰۶۱ ګرام سُپين زَر يا دهغه قيمت لازميږي.او د تَرکَارِيَانُ(سَبزِيَاتُ)په مځکه کي پنځه دِرهَم يعني ۳۰۵. ۱۵ ګرام سُپين زَر يا دهغه قيمت.او انګور يا خُورمَا چي ګڼي وي دهغه په يوه جَرِيب مځکه کي لَس دِرهَم يعني ۶۱ . ۳۰ ګرام سُپين زَر يا دهغه قيمت خِرَاج به لازم شي .

وجه : اَنّ عُمَرَ بِنِ الخَطّابِ بَعثَ عُثمَانَ بِنِ حَنِيفٍ عَلْي السّوَادِ فَوَضَعَ عَلْي كُلِّ

حاشيه : (الف) که دجِزيَه مځکه نَه وي اونَه په هغه کي د جِزيَه اُوبَه رَوَان وي نو هغه ورته ورکړه .

جَرِيبٍ عَامِرٍ اَو غَامِرٍ حَيثُ يَنَا لُهُ المَاءُ قَفِيزاً وَدِرهَمًا وَقَفِيزاً يَعنِي اَلحِنطَةَ وَالشّعَيرَ وَعَلْي جَرِيبِ الكَرمِ عَشرَةٌ وَعَلْي جَرِيبِ الرّطَابِ خَمسَةٌ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۲۷ ماقالوا في الخمس والخراج كيف يوضع ج۶ص۴۳۹نمبر۳۲۷۰۶/سنن للبيهقي.باب قَدرالخِرَاجِ الّذِي وضع علْي السواد ج۹ص۲۳۰نمبر۱۸۳۸۳) ددې اَثَر څخه معلوم شوچي په عام کَښت کي يَوَه صَاع او يَو دِرهَم.د تَرکَارِي په کَښت کي پنځه دِرهَم او د اَنګُورو او خُورمَاؤ په بَاغُو کي لَس دِرهَم خراج لازم دئ.ګواکه د عام کَښت په يوه جريب کي يَوَه صَاع غَلّه او يَو دِرهَم يعني۳.۰۶۱ ګرام سُپين زَر يا دهغه قيمت لازميږي.او دتَرکَارِي په کَښت کي پنځه دِرهَم يعني ۳۰۵. ۱۵ ګرام سُپين زَر يا دهغه قيمت.او د اَنګُورُو او خُورمَاؤ په بَاغَاتُ کی لَس دِرهَم يعني۶۱ .۳۰ ګرام سُپين زَر يا دهغه قيمت خِرَاج به لازم شي .

پام لرنه : د سُپين زَرُو حساب په خپلو خپلو سِکّو سره وکړئ .

پام لرنه : د مصنّف ابن ابي شيبة د بَل اَثَر څخه معلوميږي چي دپنځه دِرهَم سره سره پنځه صَاع غَلّه او د لَس دِرهَم سره سره لَس صَاع غَلّه هم په خِرَاج کي لازم دي.
(مصنّف ابن ابي شيبة ۲۷ ماقالوا في الخمس والخراج كيف يوضع ج۶ص۴۳۸نمبر۳۲۷۰۲)

لغت : اَلرّطبَةُ : نُود.نُند. دلته تَرکارِي يعني سَبزِيَات مراد دي. اَلکَرمُ : اَنګُور. اَلمُتّصِلُ : مُبنَتَئ يعني ګَنِ بَاغ. قَفِيزٌ هَاشَمِيٌ : دا يَوه صَاع وي .

﴿... دجَرِيب او د يَو اِيکړ تحقيق ... ﴾

جَرِيب په وُرِدوَل او پُسَارَه کي څومره وي؟ په دې اَړه په رَدّالمُحتَار عَلْي الدِّرّالمُختَار کي ليکلي دي چي د کِسرْي په لاَس(هَتَه) شُپِيتَه (۶۰) هَتِي وُرِدَه او شُپِيتَه (۶۰) هَتِي پُسَرَوَره مځکه وي نو دا ته يَو جَرِيب مځکه وايي.او شُپِيتَه هَتِي په شُپِيتَه هَتِي کي ضَرب کړِې نو مجموعه يې (۳۶۰۰) مُرَبّع هَتِي يَو جَرِيب وي.عبارت دادئ کَمَا

حاشيه : (الف) حضرت عمر حضرت عثمان بن حنيف عِرَاق ته وَاستَاوئ. پر هر آباد او غَيرآباد چې اُوبَه ورسيږي پر يَوَه جَرِيب باندې يَو دِرهَم او يَو قَفِيز مُقَرّر کړئ يعني دغَنمُو او وُربُشُو پر پَيدَاوَار باندي.او دَانګُورُو پر يوه جريب مځکه لَس دِرهَم او دسَبزِي پر يوه جَرِيب مځکه پنځه دِرهَم مُقَرّر کړل .

وَضَع عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنهُ عَلْي السّوَادِ لِكُلِّ جَرِيبٍ هُوَ سِتّونَ ذِرَاعًا فِي سِتِّينَ بِذِرَاعِ كِسرْي (سَبعَ قَبضَاتٍ) (ردالمحتار مطلب في خراج المقاسمة كتاب الجهادج۶ص۲۹۲)

يوه قَبضَه ۳ اِينچ وي نو ځکه ۷ قبضي ۲۱ اِينچ شوي.يعني ددې يَوَه هَتَه ۷۵ . ۱ پاؤګَم دُوَه فُټ شو.او شُپِيتَه هَتِي ۱۰۵ فُټ شو. ګواکه ۱۰۵ فُټَ وُرِد او ۱۰۵ پُسُور مجموعه ۱۱۰۲۵ مربّع فُټَ يَو جَرِيب شو.او يَو ګَز درې فُټَ وي نو دا چي په ګَز سره نَاپ کړِې نو ۳۵ ګزه وُرِده او ۳۵ ګزَه پُسَرَوَرَه مجموعه ۱۲۲۵مربّع ګزه يَوجَرِيب شو .

﴿... دميټرپه حساب سره دجَرِيب تحقيق ... ﴾

يَوَه اِينچ ۵۴ .۲ سينټي ميټر ده نو ۱۲ اِينچ ۳۴ . ۵۳ سينټي ميټر شو. ګواکه د کِسرْي يَوَه هَتَه ۳۴ . ۵۳ سينټي ميټر شو. اُوس دا په شُپِيتَه هَتِي کي ضَرب که نو۰۰۴. ۳۲ ميټر وُرِدوَل شو.او دغونه ۰۰۴. ۳۲ پُسُور هم شو.نو ۰۰۴. ۳۲ په ۰۰۴. ۳۲ کي ضرب کړِې مجموعه يې ۲۵. ۱۰۲۴ مربّع ميټر يوجريب شو .

﴿... د اِيکړ او جريب ترمينځ فرق ... ﴾

نَن وُرَځ په ټوله دُنيَا کي د اِيکړ حساب چليږي.مځکه په دغه اِيکړ نَاپيږي نوځکه د اِيکړ او جَرِيب تر مينځ مُوَازَنَه کول ضروري ده.چي دا معلوم شي چي په اِيکړ کي څومره خِرَاج لازميږي .

۶۱۴. ۶۳ ميټر وُرِد او ۶۱۴. ۶۳ ميټر پُسُور مجموعه۸۵۶ . ۴۰۴۶ مربّع ميټر يَو اِيکړ دئ .

دغه رنګه ۵۷.۶۹ ګز وُرِد او ۵۷.۶۹ ګز پُسُور مجموعه ۴۸۴۰ مربّع ګز يَواِيکړ دئ .

جَرِيب تر اِيکړ کِشنئ دئ نو يَوجَرِيب ۲۵. ۱۰۲۴ مربّع ميټر په يو اِيکړ۸۵۶. ۴۰۴۶ مربّع ميټر کي تقسيم کړه نو ايکړ به تر جريب ۹۵۱. ۳ ګُنَا غَټ شي.نو

ځکه په يَوَه اِپکړ مځکه کي چي عَام کَښت وي نو ۹۵۱. ۳ صَاع غَلّه او ۹۵۱. ۳ دِرهَم خِرَاج
لازميږي.چي وَزَن به ۰۹۴. ۱۲ ګرام سُپين زَر يا دهغه قيمت وي .

﴿...د عام سړي هَتَه... ﴾

د عام سړي لاَس يعني هَتَه شُپږ قبضې وي.او يوه قبضه درې اينچ وي نوځکه يوه هَتَه ۱۸ اينچ يعني۵۰ .۱ يعني يَونِيم فُټ شوه .
يوه اِينچ خو۵۴. ۲ سينټي ميټرده نويَوَه هَتَه د ۱۸ اينچ ۷۲. ۴۵ سينټي ميټر شوه .
پام لرنه : مُکَمّل تفصيل يې په دې نقشو کي وګورئ .

﴿...دجريب او اپکړ حساب ته يوه کتنه... ﴾

کُوم شَئ	څومره دئ
يوه اينچ	۵۴. ۲ سينټي ميټر وي
يَوميټر	۳۷. ۳۹ اينچ وي
يوه عام هَتَه	۱۸ اينچ وي
يَوَه عام هَتَه	۵۰. ۱ يَونِيم فُټ وي
يَوفُټ	۱۲ اينچ وي
يَوګز	۳۶ اينچ وي
يَوَه قَبضَه	۳ اينچ وي
يوه قبضه	۶۲ .۷ سينټي ميټر وي
يَوَه عام هَتَه	۷۲. ۴۵ سينټي ميټر وي

﴿...دکِسرْي هَتَه... ﴾

کوم شَئ	څومره وي
دکِسرْي هَتَه	۷ قبضې ده
دکِسرْي هَتَه	۲۱ اينچ وي
دکِسرْي هَتَه	۷۵ . ۷ يعني پاؤګم دُوَه فُټ وي
دکِسرْي هَتَه	۳۴ . ۵۳ سينټي ميټر وي
يَوميټر	۱۰۰ سينټي ميټر وي

﴿...دکسريْ جريب څومره وي... ﴾

جريب مُربّع	وُړدوَل فُټ يا ګز	ضرب	پُسُور	برابر
يَوجريب ۳۶۰۰	۶۰ هَتِي مُربّع کسري هَتِي	×	۶۰ هَتِي	=
يَوجريب ۱۱۰۲۵	۱۰۵ هَتِي مربّع فُټ	×	۱۰۵ هَتِي	=
يَوجريب ۱۲۲۵	۳۵ ګزه مربّع ګز	×	۳۵ ګزه	=
يَوجريب ۰۰۴ . ۳۲ ميټر		× ۰۰۴ . ۳۲ ميټر	= ۲۵. ۱۰۲۴ مربّع ميټر	

﴿...اېکړ څومره وي... ﴾

اېکړ مربّع	وُړدوَل فُټ يا ګز	ضرب	پُسُور	برابر
يَو اېکړ ۴۸۴۰	۵۷ . ۶۹ ګز مربّع ګز	×	۵۷ . ۶۹	=
يَو اېکړ ۴۰۴۶	۶۱۴ . ۶۳ ميټر مربّع ميټر	× ۶۱۴ . ۶۳ ميټر	= ۸۵۶ .	
يَودسمَل ۴۰	۳۶۱۴ . ۶ ميټر مربّع ميټر	× ۳۶۱۴ . ۶ ميټر	= ۴۶۸۵ .	

پام لرنه: سَل دسمَل يَو اېکړ دئ .

﴿ ...دجَهارکهنډ سېکر... ﴾

زُومَا په صوبه جهارکهنډ کي د وُسپِينِي په يو وُړد زَنجِير باندي مځکي نَاپَوِي چي وهغه ته سېکر وايي.او بعض خلګ جَرِيب هم ورته وايي. په انګرېزي ژبه کي هغه ته {chain} وايي .

يو اېکړ لَس سېکر وُړد او يو سېکر پُسُور لري.او دسېکر وُړدوَل ۱۱۶۸ . ۲۰ ميټر وي.دغه رنګه ۱۱۶۸ . ۲۰ پُسُور او ۱۶۸ . ۲۰۱ وُړد ته ضرب ورکړي نو مجموعه يې۸۵۶ . ۴۰۴۶ مربّع ميټر دئ چي د يَوَه اېکړ رَقبَه ده.او د ګز په اِعتِبَار

سره يَو سېګر ۲۲ ګَزَ وُږد وي.دې ته چې په لَس سېګر يعني ۲۲۰ ګَز کې ضرب ورکړې نو ۴۸۴۰ ګَزَ به جوړ شي چې ديوه اېکړ رَقبَه ده .

﴿ ...دسېګرحِسَاب... ﴾

سېګر مربّع	وُږدوَل فُټ يا ګَز		ضرب		پُسُور	برابر
يَوسېګر	۱۱۶۸ . ۲۰ ميټر			-	-	-
يَوسېګر	۲۲ ګَزَ				-	-
يَوسېګر مربّع ميټرپو اېکړ	۱۱۶۸ . ۲۰ ميټر		×	- ۱۶۸ . ۲۰۱ ميټر	=	۸۵ . ۴۰۴۶
يوسېګر ۴۸۴۰	۲۲ ګَزَ مربّع ګز يو ايکړ		×	۲۲۰ ګَز		=

پام لرنه : د طالبانُ د معلومات لپاره مَا هرځائ فَارمُولې او حِسَابُونَه په تفصيل سره ذکر کړئ دئ.په کَلکُيُولېټر سره حِسَاب ورته وکئ .

... ثميرالدّين غفرله ...

?

[۳۰۶۳](۸۴) وَمَا سِوْي ذَالِکَ مِنَ الاَصنَافِ يُوضَعُ عَلَيهَا بِحَسبِ الطّاقَةِ فَاِن لَم تُطِق مَا وُضِعَ عَلَيهَا نَقَصَهَا الإِمَامُ .

[۳۰۶۳](۸۴) ددې څخه علاوه په نورو مځکو کې دطاقت مطابق ايښول کيږي او چې کُوم څَه يې پر اِيښي دي که چيري دهغه طاقت نَه دَرلُودَئ نو اِمَام دې دهغه څخه کَم کړي .

تشريح : هغه مُتَعَيّن کرده کُوم چې مخته ذِکر شو دمځکې د عام پَيدَاوَار په حِسَاب سره دئ.لِهْذَا که چيري پَيدَاوَار دهغه څخه کَم وي نو کَم خِرَاج هم مُتَعَيّن کولائي شي.او چې کُوم څَه يې مُتَعَيّن کړئ دئ که عَوَام او رَعِيّت ددې طاقت نَه لري نو اِمَام يې دهغه څخه کَمَوَلائي هم شي .

وجه : (۱) د خِرَاج د مُتَعَيّن کولو وروسته حضرت عمر د حضرت حذيفه بن اليمان او عُثمَان بن حنيف څخه پُوښتَنَه وکړه چې دغه خِرَاج خو به ډېر زِيَات نَه وي؟ ددې په جواب کې حضرت عثمان بن حنيف وفرمايل که ددې څخه زِيَات مُقَرّر کړې نو هم کومه پَروَاه نَه لري.د وُړد حديث ټکړه داده. رَأيتُ عُمَرَبنِ الخَطّابِ قَبلَ اَن يُصَابَ بِأيّامِ المَدِينَةِ وَوَقَفَ عَلْي حُذَيفَةَ بِنِ اليَمَانِ وَعُثمَانَ بِنِ حَنِيفٍ قَالَ کَيفَ فَعَلتُمَا حَمَلنَاهَا اَمراً هِيَ لَهُ مُطِيقَةٌ مَا فِيهَا کَبِيرٌ فَضلٍ قَالَ اُنظُرَا اَن تَکُونَا حَمَلتُمَا الاَرضَ مَالاَ تُطِيقُ قَالَ قَالاَ لاَ (الف) (بخاري شريف.باب قصّة البيعة والاتّفاق علْي عثمان بن عفّان ص۵۲۳نمبر ۳۷۰۰/مصنّف ابن ابي شيبة ۲۷ ماقالوا في الخمس والخراج کيف يوضع.ج۶ص۴۳۹نمبر ۳۲۷۰۸) په دې اَثَر کې دئ که چيري زِيَات شوئ وُ نو ګورئ يې.ددې مطلب داشو

حاشيه : (الف) په مدينَه کې دحضرت عمر د زَخمِي کېدو څخه څُور وُرَخِي مخکې مَا وليدئ چې دئ وحضرت حذيفه بن يمان او عُثمان بن حنيف ته مخامخ وُلاړ وُ وويل تاسو دواړو څَه دَوَل وکړل؟ آيا تاسو ته خَطره شته چې پر مځکه مِي دومره خِرَاج اِيښَئ دئ چې دهغه طاقَت نَه لري؟ دواړو جواب ورکړئ چې دُومرَه دي لازم کړئ دئ چې دهغه طاقت لري. څَه ډېر زيات فرق نَه لري.وفرمايل ګورئ که مِي پر مځکه دطاقت څخه زيات خِرَاج لازم کړئ وي! دواړو وفرمايل نَه.زيات دي نَه دئ مُقَرّر کړئ .

[۳۰۶۴](۸۵) وَاِن غَلَبَ عَلْي اَرضِ الخِرَاجِ المَاءُ اَو اِنقَطَعَ عَنهَا اَو اِصطَلَمَ الزّرعُ آ فَةٌ فَلاَ خِرَاجَ عَلَيهِم .

چې ددې مِقدَار څخه کَمَوَلاَئي هم شي. او دمځکې د پَيدَاوَار په اَندَازَه به خِرَاج لازمَوي.د مصنّف ابن ابي شيبة په اَثَر کې دحضرت حذيفه دا جُملَه هم شته. لَو شِئتُ لاَضعَفتُ اَرضِي. ددې څخه معلوم شوچې که خُوښَه شي نو ددې څخه زِيَات خِرَاج هم مُقَرّرکولائي شي.لېکن حضرت عمر ددې څخه زيات مُقَرّر نَه کړئ.ددې څخه دا هم معلوم شوچې که د طاقَت څخه زيات شي نو کَمَوَلاَئي هم شي (۲) په بَل اَثَر کې دئ. فَوَضَعَ عُثمَانُ عَلْي الجَرِيبِ مِنَ الکَرمِ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ وَعَلْي جَرِيبِ النّخلِ ثَمَانِيَةَ دَرَاهِمَ وَعَلْي جَرِيبِ القَصبِ سِتّةَ دَرَاهِمَ يَعنِي الرّطبَةَ وَعَلْي جَرِيبِ البُرّ اَربَعَةَ دَرَاهِمَ وَعَلْي جَرِيبِ الشّعِيرِ دِرهَمَينِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۲۷ ماقالوا في الخمس والخراج کيف يوضع، ج۶ ص۴۳۹نمبر۳۲۷۰۴/سنن للبيهقي.باب قدرالخراج الّذي وضع علْي السّواد ج۹ص۲۳۰نمبر ۱۸۳۸۲) په دې اَثَر کې دبِلاَبِلُو(مُختَلِفُ)پَيدَاوَارُ بِلاَ بِل (مُختَلِف) خِرَاج ذِکر شوئ دئ ددې څخه معلوم شوچې خِرَاج زِيَات او کَم مُقرّر کېدلائي شي .

[۳۰۶۴](۸۵) که پر خِرَاجِي مځکه اُوبَه غَالِب شوې يا دهغې څخه اُوبَه مُنقَطَع شوې يا آفَت کَښت بَربَاد کړئ نو پر دې باندې خِرَاج نشته .

تشريح : مخته قاعده تېرشوې ده چې خِرَاج به د پَيدَاوَار په اَندَازَه وي.قياس پر دغه که چيري د يَو مصيبت په وجه کَښت نَه وشو نو خِرَاج به سَاقِط شي.مثلاً سِبلاَب

کَښت بَربَاد کړئ.یا بَارَان نَه وشو یا بَل آفَت راغلئ چې کَښت یې بَربَاد کړئ نو پر اَهلِ خِرَاج باندې خِرَاج نَه لازمیږي .
وجه : (۱) چې کَښت نَه دئ شوئ نو خِرَاج به د کُومَه ځائ څخه ورکوي؟ (۲) په

حاشیه : (الف) حضرت عثمان بن حنیف د انګورو پر یَوَه جَرِیب مځکه لَس دِرهَم مقرّر کړل او د خُورمَا پر یَوَه جَرِیب مځکه اَتَه دِرهَم او د سَبزِیَاتُ پر یَوَه جَرِیب مځکه شُپَږ دِرهَم او د غَنَمُو پر یَوَه جَرِیب مځکه څلور دِرهَم او د وُربُشُو پر یَوَه جَرِیب مځکه دُوَه دِرهَم مقرّر کړل .

[۳۰۶۵](۸۶) وَ اِن عَطَّلَهَا صَاحِبُهَا فَعَلَیهِ الخِرَاجُ [۳۰۶۶](۸۷) وَ مَن اَسلَمَ مِن اَهلِ الخِرَاجِ یُؤخَذُ مِنهُ الخِرَاجُ عَلٰي حَالِهِ .

تېرشوي اَثَرکي وُچي خِرَاج به دطَاقَت په اَندَازَه وي او دَلتَه خو د آفَت په وجه طاقَت ختم شوئ دئ نوځکه خِرَاج به سَاقِط شي (۳) د تېرشوي اَثَر څخه علاوه دا اَثَر هم دئ. قَالَ الحَسَنُ وَ اَمّا اَرَاضِیهِم فَعَلَیهَا الخِرَاجُ الّذِي وَضَعَهُ عُمَرُ بنِ الخَطّابِ فَاِن اِحتَمَلُوا اَکثَرَ مِن ذَالِکَ فَلاَیُزَادُ عَلَیهِم وَاِن عَجَزُوا عَن ذَالِکَ خُفِّفَ عَنهُم وَلاَیُکَلَّفُونَ فَوقَ طَاقَتِهِم کَمَا قَالَ عُمَرُ (الف) (رواه یحیٰ بن آدم في الخراج ص۳۳نمبر۲۸، اعلاءالسنن ج۱۲ ص۴۳۷نمبر۴۱۰۰) په دې اَثَرکي دئ که چیري خِرَاج ورکونکئ عَاجِز شي نو دهغه څخه دي خِرَاج کَم کړي.او دلته خو کَښت دسَرَه څخه شوئ نَه دئ نو ځکه دده څخه به خِرَاج معاف شي .
لغت: اِصطَلَمَ: دصَلَمٌ څخه مُشتَق دئ دېبخ شَئ کښل.کَښت بَربَادکېدل. اَلزّرعُ : کَښت .
[۳۰۶۵](۸۶) او که دمځکي مَالِک هسي بېکاره پرېښوه نو پر ده خِرَاج شته .
تشریح : دکَښت کولو ټولي آسانتیَاوِي موجود وې لېکن دمځکي مَالِک د سُستَئ په وجه کَښت وَنَه کړئ نو پر ده خِرَاج لازم دئ .
وجه : (۱) په دې سره به دده سُستِي ختم شي (۲) غلطي خو په خپله دمځکي دمَالِک ده نوځکه خِرَاج نَه ساقطیږي .
اصول : چې دمځکي دمَالِک غلطي وي نو خِرَاج نَه ساقطیږي .
لغت : عَطَّلَ : بېکاره پرېښول .
[۳۰۶۶](۸۷) که خِرَاج ورکونکئ مسلمان شي نو دده څخه به په هغه ډَول خِرَاج اخستل کیږي .

حاشیه : (الف) حضرت حسن وفرمایل بهرحال دخلګو پر مځکه حضرت عمر خِرَاج مُقَرّر کړئ.که چیري ددې څخه زِیَات خراج بَرداشتَوَلاَئي شي نو نَه دې زیاتوي.او که ددې طاقت نَه لري نو کَم دې کړي.او دطاقت څخه زیات دې نَه مُکَلّف کوي لکه څه رنګه چې حضرت عمر وفرمایل .

[۳۰۶۷](۸۸) وَ یَجُوزُ اَن یَشتَرِيَ المُسلِمُ مِنَ الذِّمّيِّ اَرضَ الخِرَاجِ وَ یُؤخَذُ مِنهُ الخِرَجُ .

وجه : (۱) اِبتِدَاءً پر مسلمان باندي خِرَاج لازمول بنَه كار نَه دئ.لېكن كه چيري دمخكي څخه خِرَاج لازم وُ او مسلمان دهغې مخكي مَالِک شو نو خِرَاج به هغه رنګه لازم پاته وي (۲) په اَثَرکي دئ. عَن عُمَرَ وَعَلِيّ قَالاَ اِذَا اَسلَمَ وَلَهُ اَرضٌ وَضَعنَا عَنهُ الجِزيَة وَاَخَذنَا خِرَاجَهَا (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۶۵ ماقالوا في الرّجل من اَهلِ الذِّمّة يسلم من قال يرفع عنه الجزية ج۶ص۴۶۷نمبر۳۲۹۳۲) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي مسلمان شي نو جِزيَه خو به ځيني سَاقِط شي لېكن خِرَاج نَه ساقطيږي (۳) ځكه چي جِزيَه د كافِر پر سَر لازميږي چي د ذِلّت شَئ دئ.او خِرَاج دده پر مخكه لازميږي چي په هغونه اَندَازَه د ذِلّت شَئ نَه دئ .

[۳۰۶۷](۸۸) جائز دئ چي مسلمان د ذِمّي څخه خِرَاجِي مخكه رَانِيسِي او دده څخه خِرَاج وَاخَستَل شي .

وجه : عَن اِبنِ اَبِي لَيلْي قَالَ اِشتَرْي الحَسَنُ بنِ عَلِيّ مِلحَةً او مِلحًا وَاِشتَرْي الحُسَينُ بنِ عَلِيّ بُرَيدَينِ مِن اَرضِ الخِرَاجِ وَقَالَ قَد رَدّ اِلَيهِم عُمَرُ اَرضَهُم وَصَالَحَهُم عَلْي الخِرَاجِ (ب) (سنن للبيهقي.باب من رَخّصَ في شراء ارض الخراج ج۹ص۲۳۷ نمبر۱۸۴۰۵) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي اَصحَابَانُ خِرَاجِي مخكه رَانِيوَلَه نو حضرت عمر پر هغه مخكه خِرَاج لازم كړئ.ددې څخه معلوم شوچي اِبتِدَاءً پر مسلمان باندي خِرَاج مُقَرّر كول صحيح نَه دئ.لېكن كه خِرَاجِي مخكه رَانِيسِي نو دهغې په وَسَاطَت سره پر مسلمان باندي خِرَاج لازميږي .

حاشيه : (الف) حضرت عمر او حضرت علي وفرمايل كه ذِمّي اسلام قبول كړي او دده سره مخكه وي نو دده څخه به جِزيَه ختميږي او دده څخه به خِرَاج اخستل كيږي (ب) ابن ابي ليلْي وفرمايل حسن بن علي د مَالكي كَان رانيوئ.او حضرت حسين دخِرَاجِي مخكي دُوَه بُرِيد رانيول او وفرمايل چي وخلكو ته حضرت عمر د هغو مخكه وَاپَس كړه او پر هغه خِرَاج يې صُلح وكړه كُوم چي پر ذِمّيّانُ لازم وُ .

[۳۰۶۸](۸۹) وَلاَ عُشرَ فِي الخَارِجِ مِن اَرضِ الخِرَاجِ [۳۰۶۹](۹۰) وَالجِزيَةُ عَلْي ضَربَينِ جِزيَةٌ تُوضَعُ بِالتّرَاضِي وَالصّلحِ فَتُقَدّرُ بِحَسبِ مَايَقَعُ عَلَيهِ الاِتّفَاقُ .

فائده : حضرت عمر نَه خُوښَوَل چي مسلمان خِرَاجِي مخكه رَانِيسِي. عَن نَافِعٍ اَنّ عَبدَاللهِ بنِ عُمَرَ كَانَ اِذَا سُئِلَ عَنِ الرّجُلِ مِن اَهلِ الإسلاَمِ يَأخُذُ الاَرضَ مِن اَهلِ الذِّمّةِ بِمَا عَلَيهَا مِنَ الخِرَاجِ يَقُولُ لاَ يَحِلّ لِمُسلِمٍ اَو لاَيَنبَغِي لِمُسلِمٍ اَن يَكتُبَ عَلْي نَفسِهِ اَلذّلّ وَالصّغَارَ (الف) (سنن للبيهقي.باب الارض اذا كانت صلحًا رقابها لاهلها وعليها خراج يؤدّونها فاخذهامنهم مسلم بكراء ج۹ص۲۳۶نمبر۱۸۳۹۷) په دې اَثَرکي دئ چي خِرَاجِي مخكه رَانِيوَل د ذِلّت كار دئ .

[۳۰۶۸](۸۹) د خِرَاجِي مخكي په پَدَاوَار كي عُشر نشته .

وجه : (۱) په خِرَاجِي مځکه کي چي خِرَاج هم لازم وي او عُشر هم لازم وي نو دا به دَبَل رَقَم شي چي جواز نَه لري (۲) دا چي خِرَاج ساقِط کړي عُشر نَه شي لازمولائي لکه مخکي چي تېرشوي دي.نوځکه پر دغه مځکه به بَس خِرَاج لازم وي (۳) په اَثَرکي دئ. عَنِ الشّعَبِيِّ قَالَ لاَيَجتَمِعُ خِرَاجٌ وَ عُشرٌ فِي اَرضٍ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة باب ۱۱۱ من قال لايجتمع خراج وعشر علٰي اَرضٍ ج۲ص۴۱۹نمبر۱۰۶۰۸) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي په خِرَاجِي مځکه کي عُشر نشته .

﴿...د جَزيَه اَحکَام... ﴾

[۳۰۶۹](۹۰) د جِزيَه دُوَه قِسمونَه دي.يوه هغه جِزيَه چي په رَضَامَنديِ او صُلح سره مُقَرّر کړي.نومُقَرّر کيږي به هغه چي اِتّفَاق پر راشي .

حاشيه : (الف) د حضرت عبدالله عمر څخه پُوښتَنَه وشوه چي مُسلمَان د ذِمّي مځکه د خِرَاج سره رَانِيسِي نو دا څَه دَوَل ده؟ وفرمايل چي دمسلمان لپاره حلال نَه دئ يا مُنَاسِب نَه دئ چي پر خپل ذَات باندي ذِلّت يا کِشنَئ والَئ مُسَلّط کړي (ب) حضرت شعبي وفرمايل په يوه مځکه کي خِرَاج او عُشر نَه شي لازمېدلائي .

[۳۰۷۰](۹۱) وَجِزيَةٌ يَبتَدِئُ الاِمَامُ وَضعَهَا اِذَا غَلَبَ الاِمَامُ عَلٰي الکُفّارِ وَ اَقَرّهُم عَلٰي اَملاَکِهِم فَيَضَعُ عَلٰي الغَنِيِّ اَلظّاهِرُ الغِنَاءِ فِي کُلِّ سَنَةٍ ثَمَانِيَةً وَ اَربَعِينَ دِرهَمًا يُأخَذُ مِنهُ فِي کُلِّ شَهرٍ اَربَعَةَ دَرَاهِمَ وَعَلٰي المُتَوَسِّطِ الحَالِ اَربَعَةً وَعِشرِينَ دِرهَمًا فِي کُلِّ شَهرٍ دِرهَمَينِ وَ عَلٰي الفَقِيرِ المُعتَمِلِ اِثنَي عَشَرَةَ دِرهَمًا فِي کُلِّ شَهرٍ دِرهَمًا .

تشريح : د اَمِيرُالمؤمِنِين او ذِمّي ترمينځ چي د جِزيَه پر کُوم مِقدَار صُلح وشي په هغونه اَندَازَه جِزيَه جائز ده .

وجه : د قبيله نَجرَان سره حضور (ﷺ) پر دُوَه زَرَه حُلّه جِزيَه باندي صُلح کړې وه. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ صَالَحَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَهلَ نَجرَانَ عَلٰي اَلفَئ حُلّةٍ اَلنِّصفُ فِي صَفَرَ وَالنِّصفُ فِي رَجَبَ يُؤدّونَهَا اِلٰي المُسلِمِينَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في اخذالجزية ص ۷۴ نمبر۳۰۴۱) په دې حديث کي دئ چي حضور د اهلِ نَجرَان سره پر دُوَه زَرَه حُلّة باندي صُلح کړې وه.او دغه جِزيَه مُقَرّر پاته شوه .

[۳۰۷۰](۹۱) او هغه جِزيَه چي اِمَام يې اِبتِدَاءً مُقَرّر کړي چي کُوم وخت دئ پر کُفّارُ غَالِب شي او مَالِکَان د دُوئي پر مِلکِيّتُو باندي بَرقَرَارَ وساتي نو پر بنکاره مَالدَار دي هر کَال اَتَه څلوېښت دِرهَم مُقَرّر کړي.او ددې څخه دي هره مياشته څلور دِرهَم واخلي.او د دَرمِيَانَه درجي پر سړي دي څلېرويشت دِرهَم.په هره مياشته کي دُوَه دِرهَم.او چي مَزدُورِي کوي پر هغه فَقِير دي دُولَس دِرهَم.په هره مياشته کي يَو دِرهَم .

تشريح : كه د كُفّارُ سره دجِزيَه په اړه خبره نَه وي پَائِنَل شوې او پر كُفّارُ دغَلَبې وروسته اِمَام دخپل جانِب څخه جِزيَه مُقَرّر كړي نو دهغه مِقدَار بايد دا وي.چي

حاشيه : (الف) حضرت ابن عَبّاس فرمايي حضور (ﷺ) د اَهلِ نَجرَان سره پر دُوَه زَرَه حُلّة باندي صُلح وكړه نِيمَئ به د صَفَر په مياشته كي او نِيمَئ به د رَجَب په مياشته كي مسلمانانُ ته اداء كوي .

كُوم بنَه مَالدَارَ سړئ دئ پر هغه دي د كَالَ اَتَه څلوېښت(۴۸)دِرهَم او هره مياشته دي څلور دِرهَم وُصُول كړي.او چي دَرمِيَان سَرمَايَه لري پر هغه سړي د كَال څلېرويشت دِرهَم هره مياشته دي دُوَه دِرهَم وصول كړي.او چي مَزدُورِي كوي پر هغه فَقِير دي دُوُلَس دِرهَم.په مياشته كي دي يَو دِرهَم وصول كړي .

وجه : (۱) دا چي جِزيَه دي مُقَرّر كړي دهغه دليل دا آيت دئ. قَاتِلُوا الّذِينَ لاَ يُؤمِنُونَ بِاللهِ وَلاَ بِاليَومِ الآخِرِ وَلاَيُحَرّمُونَ مَا حَرّمَ اللهُ وَرَسُولُهُ وَلاَيَدِينُونَ دِينَ الحَقّ مِنَ الّذِينَ أُوتُوا الكِتَابَ حَتّي يُعطُوا الجِزيَةَ عَن يَدٍ وَهُم صَاغِرُونَ (الف) (آيت۲۹ سورة التوبة ۹) ددې آيت څخه معلوم شوچي پر كُفّارُ به جِزيَه مُقَرّر كيږي (۲) او دمِقدَار په اړه دا اَثَر دئ. قَالَ وَضَعَ عُمَرُ بنِ الخَطّابِ فِي الجِزيَةِ عَلْي رُؤُسِ الرّجَالِ عَلْي الغَنِيّ ثَمَانِيَةَ وَاَربَعِينَ دِرهَمًا وَعَلْي الوَسَطِ اَربَعَةً وَعِشرِينَ وَعَلْي الفَقِيرِ اِثنَي عَشَرَ دِرهَمًا (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۷ ماقالوا في وضع الجزية والقتال عليها ج۶ص۴۳۲ نمبر۳۲۶۳۳/ سنن للبيهقي.باب الزيادة علْي الدّينَار بالصّلح ج۹ص۳۲۹نمبر۱۸۶۸۵) ددې اَثَرڅخه دمِقدَار تفصيل معلوم شو (۳) په دي كي دمَالدَار او فَقِير دواړو رِعَايَت دئ چي پر مَالدَار باندي زِيَات او پر فَقِير باندي كَم مُقَرّر شوئ دئ .

فائده : امامِ شافعي(رح) فرمايي كه مَالدَار وي كه غَرِيب وي پر تولوبه په كَال كي يَو دِينَار جِزيَه مُقَرّر كيږي .

وجه : په حديث كي دئ. عَن مُعَاذٍ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) لَمّا وَجّهَ اِلْي اليَمَنِ اَمَرَهُ اَن يَأخُذَ مِن كُلّ حَالِمٍ يَعنِي مُحتَلِمٍ دِينَاراً اَو عُد لَهُ مِنَ المَعَافِرِي ثِيَابٌ تَكُونُ بِاليَمَنِ (ج) (ابوداؤدشريف.باب في اخذالجزية ص۷۴نمبر۳۰۳۸) ددې حديث څخه معلوم شو چي پر هَر

حاشيه : (الف) څوک چي پر الله او آخرت اِيمَان نَه لري او چي خَه الله او دهغه رَسُول حرام كړي وي هغه حرام نَه ګڼي.او د اَهلِ كِتَاب څخه چي د حَق دِين اِتّبَاع نَه كوي دهغوئي سره تر هغه وخته پُوري جنګ كوئ تر دې چي په خپل لاَس ذليل شِي جِزيَه وركول شروع كړي (ب) حضرت عمر د مَالدَارَ نَرَانُ پر ذَات باندي اَتَه څلوېښت دِرهَم جِزيَه مقرّر كړه او پر دَرمِيَانَه سړي څلېرويشت او پر فَقِير باندي دُوُلَس دِرهَم (ج) حضور (ﷺ) چي كُوم وخت حضرت معاذ يَمَن ته وَاستَاوَئ نو ده ته حُكم وركړئ چي د هر بَالِغ ذِمّي څخه يَو دِينَار يا دهغه برابر مَعَافِرِي كپړه واخله چي په يَمَن كي پيدا كيږي .

[۳۰۷۱](۹۲) وَتُوضَعُ الجِزيَةُ عَلْي اَهلِ الكِتَابِ وَالمَجُوسِ وَعَبَدَةِ الاَوثَانِ مِنَ العَجَمِ .

نَر به سَالاَنَه يَو دِينَار لازم وي كه مَالدَارَ وي كه غَرِيب وي .

لغت : اَلمُعتَمِلُ : د عَمَلٌ څخه مُشتَق دئ كاركونكئ .

[۳۰۷۱](۹۲) جِزيَه به مقرّركيږي پراَهلِ كِتَاب اومجوسيانُ او دعَجَمُ پر بُت پرَستَانُ

تشريح : يهود.نصارْي.مجوسي كه په عَرَبُ کي وسيږي کله په عَجَمُ کي وسيږي. که چيرې دُوئي ذِمّيَان ګرزي او په دارالاسلام کي وسيږي نو پر دُوئي به جِزيَه مقرّر کيږي.دغه رنګه که دعَجَمُ بُت پَرَستَان ذِمّه قبلوي نو د دُوئي پر سَرُو به جِزيَه مقرّر کيږي.البته دعَرَبُ پر بُت پَرَستَانُ به جِزيَه نَه اِيښُوَل کيږي دُوئي به يا اِسلاَم قبلوي يا به د قَتل لپاره ځانونه تَيّارَوِي.دا چي ذِمّيَان شي او هلته د عَرَبُ پر مخکه پاته شي دا نَه شي کېدلائي .

وجه : (١) د اَهلِ کِتَاب د جِزيَه لپاره دا آيت دئ. قَاتِلُوا الّذِينَ لاَ يُؤمِنُونَ بِاللهِ وَلاَ بِاليَومِ الآخِرِ وَلاَيُحَرّمُونَ مَا حَرّمَ اللهُ وَرَسُولُهُ وَلاَيَدِينُونَ دِينَ الحَقّ مِنَ الّذِينَ أُوتُوا الكِتَابَ حَتّي يُعطُوا الجِزيَةَ عَن يَدٍ وَهُم صَاغِرُونَ (الف) (آيت٢٩ سورة التوبة ٩) په دې آيت کي دئ چي د يهود او نصارْي سره تر هغه وخته پُورې قِتَال کوئ تر څو چي جِزيَه يې درکړي نَه وي.او دا دعرب او غَيرِعَرَب د قيد څخه عام دئ نوځکه د عَرَبُ پر اَهلِ کِتَاب باندي هم جِزيَه مقرّر کولائي شي .

د مجوسي څخه د جِزيَه اخستلو لپاره دليل دا حديث دئ (٢) سَمِعتُ عُمَرَ قَالَ ... فَاَتَانَا کِتَابُ عُمَرَبنِ الخَطّابِ قَبلَ مَوتِهِ بِسَنَةٍ فَرّقُوا بَينَ کُلّ ذِي مَحرَمٍ مِنَ المَجُوسِ وَلَم يَکُن عُمَرُ اَخَذَ الجِزيَةَ مِنَ المَجُوسِ حَتّي شَهِدَ عَبدُالرّحمْنُ بِنَ عَوفٍ اَنّ رَسُولَ اللهِ

حاشيه : (الف) څوک چې پر الله او آخرت اِيمَان نَه لري او چې څَه الله او دهغه رَسُول حرام کړي وي هغه حرام نَه ګڼي.او د اَهلِ کِتَاب څخه چې د حَق دِين اِتّبَاع نَه کوي دهغوئي سره تر هغه وخته پُورې جنګ کوئ تر دې چې په خپل لاَس ذليل شِي جِزيَه ورکول شروع کړي .

[٣٠٧٢](٩٣) وَ لاَ تُوضَعُ عَلْي عَبَدَةِ الاَوثَانِ مِنَ العَرَبِ وَ لاَ عَلْي المُرتَدّينَ .

(ﷺ) اَخَذَهَا مِن مَجُوسِ هِجرٍ (الف) (بخاري شريف.باب الجزية والموادعة مع اهل الذّمّة ص٤٤٦نمبر٣١٥٦/ ٣١٥٧) ددې حديث څخه معلوم شوچي د هِجر د مَجُوسِيَانُ څخه حضور (ﷺ) جِزيَه اخستي ده. ددې څخه دا هم ښکاره شو چې د عَرَبُ دمَجُوس څخه جِزيَه اخستلائي شي (٣)عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ صَالَحَ رَسُولُ اللهِ(ﷺ) اَهلَ نَجرَانَ عَلْي اَلفَيِ حُلّةٍ النّصفُ فِي صَفَرَ وَالنّصفُ فِي رَجَبَ يُوَدّونَهَا اِلْي المُسلِمِينَ(ب) (ابوداؤدشريف. باب في اخذالجزية ج٢ص٧٤نمبر٣٠٤١) اَهلِ نَجرَان د عَرَبُ عِيسَائِيَان وُ د دُوئي څخه جِزيَه واخستله ددې څخه معلوم شوچي د عَرَبُ د اَهلِ کِتَاب څخه جِزيَه اخستلائي شي .

د عَجَم د مُشرِکَانُ څخه جِزيَه اخستل کېدلائي شي دليل يې د يَوَه وُرد حديث دا ذکره ده. قَالَ بَعَثَ عُمَرُ النّاسَ فِي اَفنَاءِ الاَمصَارِ يُقَاتِلُونَ المُشرِکِينَ ... فَاَمَرَنَا نَبِيّنَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَن نُقَاتِلَکُم حَتّي تَعبُدُوا اللهَ وَحدَهُ اَوتُؤدّوا الجِزيَةَ (ج) (بخاري شريف.باب الجزية والموادعة مع اهل الذّمّة والحرب ص٤٤٦نمبر٣١٥٩) ددې حديث څخه معلوم شوچي د عَجَمُ د مُشرِکَانُ څخه جِزيَه اخستلائي شي. ځکه چي د اَفنَاءُ الاَمصَار څخه معلوم شوچي د عَجَمُ د بُت پَرَستَانُ سره دجِهَاد لپاره تَلِي وُ .

لغت : عَبَدُالاَوثَان : د وَثَنٌ جمع ده.د بُت بَندګان.يعني بُت پَرَستَان. اَلمَجُوسُ : هغه قوم چي د وُور عِبَادَت کوي .
[۳۰۷۲](۹۳) او جِزيَه به نَه مُقَرّر کيږي دعَرَبُ پر بُت پرستان او نَه پر مُرتَد باندي .

حاشيه : (الف) مورِ ته دحضرت عمر خَط دده دمرګ څخه يَوګال مخکي راغلئ چي دمجوس د ذِي رَحِمِ مَحرَم وَادَه د بَل ذِي رَحِمِ مَحرَم سره شوئ وي نو هغه ځله جَلاً کئ.او حضرت عمر دمجوس څخه تر هغه وخته جِزيَه نَه واخسته تر څو چي حضرت عبدالرّحمٰن بن عَوف ګواهي ور نَه کړه چي حضور (ﷺ) د هِجر دمجوس څخه جِزيَه وصول کړې وه (ب) حضور (ﷺ) د اَهلِ نَجرَان سره پر دُوَه زَرَه حُلّه باندي صُلح وکړه نِيمَئ به د صَفَرِ په مياشته کي او نِيمَئ به د رَجَب په مياشته کي مسلمانانُ ته اداء کوي (ج) حضرت عمر څه خلګ د ښَار و اَطرَافُ ته دجنګ لپاره رَوَانَه کړل ... مورِ ته حضور (ﷺ) حکم وکړئ چي ترهغه وخته پوري جنګ کوئ چي صِرف د يَوَه الله عِبَادَت شروع کړي يا جِزيَه اداء کړي .

وجه : (۱) د آيت څخه دا اِشَارَةً معلوميږي چي د عَرَبُ مُشرِکَان دي يا اِسلاَم قبول کړي يا دي د قتل لپاره تَيّار شي.دا چي ذِمّي پاته شي او جِزيَه ورکوي د دُوئي څخه دا قَابِلِ قَبُول نَه دئ.نوځکه د دُوئي څخه به جِزيَه نَه اخستل کيږي. په آيت کي دئ. فَاِذَا اِنسَلَخَ الاَشهُرُ الحُرُمُ فَاقتُلُوا المُشرِکِينَ حَيثُ وَجَدتُمُوهُم وَخُذُوهُم وَاحصُرُوهُم وَاَقعُدُوا لَهُم کُلّ مَرصَدٍ فَاِن تَابُوا وَاَقَامُوا الصّلوةَ وَ آ تُوا الزّکوةَ فَخَلّوا سَبِيلَهُم (الف) (آيت۵ سورة التوبة۹) په دې آيت کي دئ چي تر هغه وخته د دُوئي سره قِتَال وکړئ تر څو چي دُوئي لمونځ نَه وي قائم کړئ يعني اِسلاَم يې نَه وي قبول کړئ او دا آيت د عَرَب مُشرِکَان په اړه نازل شوئ دئ.نوځکه مُشرِکِين عَرَب چي جِزيَه اداء کړي او پر عَرَب سَرزَمِين ووسيږي ددې جواز نشته (۲) په بَل آيت کي هم ددې تائيد راغلئ دئ. وَقَاتِلُوهُم حَتّٰي لاَتَکُونَ فِتنَةٌ وَيَکُونَ الدِّينُ کُلّهُ لِلّهِ (ب) (آيت ۳۹سورة الانفال۸) په دې آيت کي د کُفّارعَرَبُ په اړه اِشَارَه شوې ده چي د دُوئي سره دُومرَه قِتَال وکئ چي تولَه دِين د الله لپاره خَالِص پاته شي.نو په دې وجه به هم د دُوئي څخه جِزيَه نَه اخستل کيږي (۳) په حديث کي دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّهُ عَلَيهِ السّلاَمُ قَالَ لاَيُقبَلُ مِن مُشرِکِي العَرَبِ اِلاّ الاِسلاَمُ اَو السّيفُ (ج) (فتح القدير ج ۵ ص۲۹۳/ اعلاءالسنن.نمبر۴۱۷۳) ددې حديث څخه معلوم شوچي د عَرَب مُشرِکَانُ څخه به قَتل يا اِسلاَم ددې دُوَاړُو څخه به يَو وي لِهٰذَا جِزيَه به نَه ځيني اخستل کيږي .
فائده : امامِ شافعي (ؒ) فرمايي چي داَهلِ عَرَب دمُشرِکَانُ څخه هم جِزيَه اخستلائي شي.
وجه : دئ فرمايي چي د عَرَبُ د اَهلِ کِتَاب څخه جِزيَه اخستل کېدلائي شي نو قياس پر دغه د اَهلِ عَرَبُ دمُشرِکَانُ څخه هم جِزيَه اخستل کېدلائي شي .

حاشيه : (الف) چي د حُرمَت مياشتي ختم شي نومُشرِکَان چي هر ځائ وموندئ قتل يي کړئ.دُوئي تِينګ کړئ دُوئي قَيدِيَان کړئ او د دُوئي لپاره په هره مُورچَه کي کښېنَئ که چيري توبَه وکاږي او لمونځ قائم کړي او زکوٰة ورکول شروع کړي نو د دُوئي لاَرَه يَلَه کړئ (ب) او د دُوئي سره قِتَال وکئ تر هغه وخته چي فِتنَه پاته نَه شي او

دِين تولـه د الله لپاره خَالِص شي (ج) حضور (ﷺ) وفرمايل دعَرَبُ د مُشرِكَانُ څخه به صِرف اِسلاَم قبلِيري يا دي د تُري لپاره تَيّار شي .

[۳۰۷۳](۹۴) وَلاَ جِزيَةَ عَلْي اِمرَأةٍ وَلاَصَبِيٍّ وَلاَ زَمنٍ وَلاَ اَعمْي وَلاَ عَلْي فَقِيرٍغَيرِ مُعتَمِلٍ وَلاَ عَلْي الرّهبَانِ الّذِينَ لاَيُخَالِطُونَ النّاسَ .

پر مُرتَد باندي په دې وجه جِزيَه نشته چې که چيري مُرتَد نَر وي نو يا خو دي دُوبَارَه اِسلاَم قبول کړي يا د دُرُو ورځو د مُهلَت وروسته به دئ قتل کيږي.او دجِزيَه مطلب دادئ چې دکُفر په حالت کي دي جِزيَه ورکوي او ژُوَندَئ دي پاته شي او ده ته خو د ژُوَندِي پاته کېدو حَق نشته نوځکه دده څخه به جِزيَه هم نَه اخستل کيږي.که د عَرَبُ مُرتَد وي که د عَجَمُ مُرتَد وي .

وجه : (۱) د اِسلاَم دښائستَه نِظَام د لېدلو وروسته مُرتَد کېدل تر کُفر هم ډېر اَغلَظ دئ نوځکه دئ خو به په طريقَه اَولْي سره قتل کوي يا دي اِسلاَم قبول کړي (۲) دقتلولو دليل دا حديث دئ. عَن عِكرَمَةَ قَالَ اُتِيَ عَلِيّ بِزَنَادِقَةٍ فَاَحرَقَهُم فَبَلَغَ ذَالِكَ اِبنَ عَبّاسٍ فَقَالَ لَو كُنتُ اَنَا لَم اُحرِقهُم لِنَهيِ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) لاَ تُعَذِّبُوا بِعَذَابِ اللهِ. وَلَقَتَلتُهُم لِقَولِ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) مَن بَدّلَ دِينَهُ فَاقتُلُوهُ (الف) (بخاري شريف.باب حكم المرتدوالمرتدة واستتابتهم ص۱۰۲۲نمبر۶۹۲۲) ددې حديث څخه معلوم شوچې دُوئي به د دُرُو ورځو وروسته قتل کيږي.که مُرتَدَه ښځه وي نو تر هغه وخته پوري به قيد کوي تر څو چې توبه وکاږي.او د کُفر پر حالت به برقرار نَه پرېږدي.نوځکه دده څخه به هم جِزيَه نَه اخستل کيږي.په بخاري شريف کي مخته بَل حديث دئ. ثُمّ اِتّبَعَهُ مَعَاذَبنِ جَبَلٍ ... قَالَ لاَ اَجلِسُ حَتّي يُقتَلَ قَضَاءُ اللهِ وَرَسُولُهُ ثَلاَثَ مَرّاتٍ (بخاري شريف.نمبر۶۹۲۳) چې د مُرتَد تر قَتلَوُلُو پوري زَه نَه کښېنَم .

[۳۰۷۳](۹۴) او جِزيَه نشته پر ښځه او نَه پر کِشنِي او نَه پر شَل او نَه پر ړانده او نَه پر دَاډَوَل فَقِير چې کَار نَه کوي او نَه پر دَاډَوَل رَاهِب چې دخلکو سره نَه ملاؤيږي .

حاشيه : (الف) حضرت عَلِي ته څُه زَنديقَان را حاضر کړونو هغه يې وَسوَخَل.دا خبرعبدالله بن عَبّاس ته ورسېدئ نووفرمايل که زَه واى مَا نَه سُوَخَل.ځکه چې حضور (ﷺ) منع کړې ده چې د الله په عَذَاب سره عَذَاب مَه ورکوئ.او مَا به دُوئي قَتل کړي واى.ځکه چې حضوروفرمايل څوک چې دِين بَدَل کړي هغه قَتل کړئ .

تشريح : پر دې خلکو جِزيَه نشته .

وجه : (۱) دغه خلک غَرِيبَان دي او د کار کولو قَابِل نَه دي.نوځکه پر دغه خلکو به جِزيَه نَه مقرّريږي (۲) په حديث کي دئ. عَن مَعَاذٍ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) لَمّا وَجّهَ اِلْي اليَمَنِ اَمَرَهُ اَن يَأخُذَ مِن كُلّ حَالِمٍ يَعنِي مُحتَلِمٍ دِينَاراً (الف) (ابوداؤدشريف.باب في اخذالجزية ص۷۴نمبر۳۰۳۸) په دې حديث کي د مُحتَلِمًا د قَيد څخه معلوم شوچې څوک بَالِغ نَه وي يعني کِشنَئ بَچَئ وي پر هغه جِزيَه نشته .

او پر ښځه جِزيَه نشته دهغه دليل دا اَثَر دئ. اَنّ عُمَرَ بنِ الخَطّابِ كَتَبَ اِلْي عُمّالِهِ اَن لاَيَضرِبُوا الجِزيَةَ عَلْي النّسَاءِ وَالصّبيَانِ وَلاَ يَضرِبُوهَا اِلاّ عَلْي مَن جَرَت عَلَيهِ المَوَاسِي

(ب) (سنن للبيهقي.باب الزيادة علٰي الدّيٰنارباالصّلح ج۹ص۳۲۹نمبر۱۸۶۸۳/مصنّف ابن ابي شيبة ۱۷ ماقالوا في وضع الجزية والقتال عليهاج۶ص۴۳۱نمبر۳۲۶۲۶) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې پر ښځو او کِشنِي بَچَانُ باندي جِزيَه نشته .

پر سُپين ږيري جِزيَه نشته دليل يې دا اَثَر دئ. قَالَ اَبصَرَ عُمَرُ شَيخًا كَبِيراً مِن اَهلِ الذِّمّةِ يَسأَلُ فَقَالَ لَهُ مَالَکَ؟ قَالَ لَيسَ لِي مَالٌ وَ اَنّ الجِزيَةَ تُؤخَذُ مِنّي فَقَالَ لَهُ عُمَرُ مَا اَنصَفنَاکَ اَکَلنَا شَبِيبَتَکَ ثُمّ نَأخُذُ مِنکَ الجِزيَةَ ثُمّ کَتَبَ اِلٰي عُمّالِهِ اَن لاَيَأخُذَ الجِزيَةَ مِن شَيخٍ کَبِيرٍ (ج) (رواه زنجويّة في الاموال/اعلاء السنن.باب لاجزية علٰي صَبِيٍّ ولا امرأةٍ الخ ج۱۲ ص۵۰۹نمبر۴۱۷۵) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې د ډېر سُپين ږيري څخه به جِزيَه نَه اخستل کيږي.شَل او ږُوند به هم پر دغه قياس کيږي.ځکه چې دغه دواړه هم دګَټِي وَټِي نَه دي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) چې کُوم وخت حضرت معاذ يَمَن ته وَاستَاوَئ نو ده ته حُکم ورکړئ چې د هر بَالِغ ذِمّي څخه يَو دِينَار جِزيَه واخله (ب) حضرت عمر خپلو عُمّالُ ته خَط وليکئ چې پر ښځو او بَچَانُ باندي جِزيَه مَه مُقَرّر کوئ.او صِرف پر هغو جِزيَه مقرّر کړئ چې کَبنَتَه پِښتَان يې رَاشَنَه شوي وي (ج) حضرت عمر يَو ډېر سُپين ږيرئ ذِمّي وليدئ چې سُوَال (فَقر) يې کاوئ.نودهغه څخه پُوښتَنَه وکړه څَه قِصّه ده؟ وويل چې زُومَا سره مَال نشته او زُومَا څخه جِزيَه اخستل کيږي.نو حضرت عمر ده ته وويل.مُوږ ستا سره اِنصَاف نَه دئ کړئ. موږ ستا خُواني وخوړله بيا هم ستا څخه جِزيَه واخلو. بيايې خپلو عُمّالُ ته خَط وليکئ چې د ډېرسُپين ږيري څخه جِزيَه مَه اخلئ .

[۳۰۷۴](۹۵) وَمَن اَسلَمَ وَعَلَيهِ جِزيَةٌ سَقَطَت عَنهُ .

کُوم رَاهِب چې دخلکو سره اِختِلاَط نَه کوي هغه هم ګټه وټه نَه کوي لِهٰذَادهغه څخه به هم جِزيَه نَه اخستل کيږي (۲) په اَثَرکي ددې ثبوت شته. عَن خَالِدَبنِ وَلِيدٍاَنّهُ صَالَحَ اَهلَ الحَيرَةِ عَلٰي تِسعِينَ وَمِائَةِ اَلفِ دِرهَمٍ تُقبَلُ کُلّ سَنَةٍ جَزَاءٌ عَن اَيدِيهِم فِي الدّنيَا رُهبَانُهُم وَقِسّيسُهُم اِلاّ مَن کَانَ غَيرَ ذِي يَدٍ حَبِيسًا عَنِ الدّنيَا تَارِکًا لَهَا وَسَائِحًا تَارِکًا لِلدّنيَا (الف) (مختصر رواه الطبري في تاريخه ج۴ص۱۴/اعلاء السنن.باب لاتوضع الدنياعلٰي الرّهبان لايخالطون النّاس ج۱۲ص۵۱۳نمبر۴۱۷۹) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې کُوم رَاهِب د خلکو سره اِختِلاَط نَه کوي پر هغه جِزيَه نشته .

لغت : زَمّن : شَل. اَلرّهبَانُ : د رَاهِبٌ جمع ده. يُخَالِطُونَ : د خَلطٌ څخه مُشتَق دئ ملاؤټدل.يَوبَل ته تَلَل راتلل .

[۳۰۷۴](۹۵) چې دَاډَوَل انسان اِسلاَم قبول کړي چې پر هغه جِزيَه وي نو هغه به سَاقِط شي .

تشريح : مخکي ذِمّي وُ دهغه په وجه دده پر سَر جِزيَه لازم وه اُوس چې مسلمان شو نو دده څخه به جِزيَه سَاقِط شي.البته که چيري دده پر مځکه خِرَاج لازم وُ نو هغه به برقرار پاته وي .

وجه : (١) دا د کُفر په وجه دده د ذِلّت شَئ دئ چې اِسلاَم يې قبول کړئ نو د ذِلّت اَهل نَه شو پاته نوځکه سَاقِط به شي (٢) په حديث کي ددې ثبوت شته. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لَيسَ عَلْي مُسلِمٍ جِزيَةٌ سُئِلَ سُفيَانُ عَن تَفسِيرِ هٰذَا فَقَالَ اِذَا اَسلَمَ فَلاَ جِزيَةَ عَلَيهِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في الذِّمّي الّذِي يسلم في بعض

حاشيه : (الف) حضرت خالد بن وليد د حَيرَه دخلګو سره پر يَولَک نِيوِي زَرَه (١٩٠٠٠٠) دِرهَم صُلح وکړه.قبليږي به په هر مَال کي په دُنيَا کي د ژوندي پاته کېدو په وجه که خُه هم د دُوئي رَاهِب وي که قِسّيس وي.البته د چاچي لاَس خَالِي وي(مَال نَه لري)دُنيا يي پرېښي وي.همېشه په سَفَرکي وي او دُنيَا يي يَلّه کړې وي دهغه څخه به جِزيَه نَه اخستل کيږي (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل پر مسلمان جِزيَه نشته.د حضرت سُفيان څخه ددې د تفسير په اړه پُوښتنَه وشوه نو وفرمايل که ذِمّي مسلمان شي نو پر ده جِزيَه نشته .

[٣٠٧٥](٩٦) وَ اِن اِجتَمَعَ عَلَيهِ الحَولاَنِ تَدَاخَلَتِ الجِزيَتَانِ .

السّنَةِ هَل عليه جزية؟ ص٧٧نمبر٣٠٥٣/ترمذي شريف.باب ماجاء ليس علٰي المسلمين جزية ص١٣٨ نمبر٦٣٣.كتاب الزكوٰة) ددې حديث څخه معلوم شوچې ذِمّي مسلمان شي نو دده څخه به جِزيَه ساقط شي .

[٣٠٧٥](٩٦) که پر ده د دُوُ کالُ جِزيَه وَاوړي نو په دي کي به تَدَاخُل راشي .

تشريح : که تر دُوَه کال پوري جِزيَه وَرنَه کړه نو اُوس به د يوه کال جِزيَه ساقط شي.او صِرف د يَوَه کال جِزيَه به لازم شي .

وجه : (١) په اَثَر کي دئ. عَن طَاؤسٍ اَنّهُ قَالَ اِذَا تَدَارَکَتِ الصّدَقَاتُ فَلاَتُؤخَذُ الأُولٰي کَالجِزيَةِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٣٢٠ من قال لاتوخذالصدقة في السّنة اِلاّ مرّةً واحدة ج٢ص٤٣١نمبر١٠٧٣٢) (٢) په يوه بَل اَثَر کي دئ. عَنِ الزّهرِيّ قَالَ لَم يَبلُغنَا مِن اَحَدٍ مِّن وُلاَةِ هٰذِهِ الأُمّةِ اَلّذِينَ کَانُوا بِالمَدِينَةِ اَبُوبکرٍ وَعُمَرَ وَعُثمَانَ اَنّهُم کَانُوا لاَيَثنُونَ العُشُورَ لٰکِن يُبعَثُونَ عَلَيهَا کُلّ عَامٍ فِي الخَصَبِ وَالجَدبِ لاَنّ اَخذُهَا سُنّةٌ مِن رَسُولِ اللهِ (ﷺ) (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة.من قال لاتوخذالصّدقة في السّنَةِ اِلاّ مَرّةً واحدةً ج٢ص٤٣١نمبر١٠٧٣٢) ددې اَثَرڅخه هم معلوم شوچي په يَوَه کال کې دُوَه وار عُشر نَه اخستئ.او که د دُوُ کالُ جِزيَه په يوه کَال ځيني واخلي نو دُوَه وار جِزيَه اخستل شو.نوځکه يَوَه جِزيَه به ساقِط شي او يوه جِزيَه به لازم شي (٣) په دي کي د ذِمّي لپاره آسَانتِيَا شته چي په اِسلاَم کي دِير زِيَات اَهمِيّت لري .

فائده : امام شافعي (رح) او امام ابويوسف (رح) فرمايي چي د دُوُ کالُ جِزيَه جمع شوې ده نوځکه د دُوُ کالُ د به ځيني اَخلِي.که نَه نو دا به د حکومت نُقصَان وي او ذِمّي به د جِزيَه دسَاقِطَوُلُولپاره خامخا تال متول کوي .

حاشيه : (الف) حضرت طاؤس وفرمايل د څو کَالُ صَدَقَات جمع شي نو د اَوّلُ کَلُو صَدَقَه به نَه اَخَستَل کيږي د جِزيَه په شَان (ب) حضرت زهري وفرمايل مَاتَه ددې اُمّت دهسي يَوَه وَالِي مثلاً حضرت ابوبکر.عمر او عُثمَان چي په مدينَه طَيّبَه کي وُ دا خبره نَه ده رسېدلې چي په يوه کال کي دې دُوَه وار عُشر اخستئ وي.لېکن دُوئي هر کَال په بَشکَلِي او قَحط سَالِي کې اَستَوَئ ځکه چي دا د رسول الله (ﷺ) سُنّت دئ .

[٣٠٧٦](٩٧) وَلاَيَجُوزُ اِحدَاثُ بِيعَةٍ وَلاَ کَنِيسَةٍ فِي دَارِ الإِسلاَمِ .

[۳۰۷۶](۹۷) په دارالاسلام کي د يهودي او نَصرَانِي نَوي عِبَادَت خَانَه جوړول جواز نَه لري .
تشريح : په دارالاسلام کي دي ويهودي او نصراني ته د نوي عِبَادَت خَانې جوړولو موقع نَه ورکوي .
وجه : (۱) په دې سره به د دُوئي عِزّت زيات شي او د اِسلاَم څخه علاوه د بَل دِين اِشَاعَت به راشي.نو ځکه د دُوئي د نَوِي عبادت خانې جوړولو اِجَازَت نشته.په حديث کي دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لاَتُصلِحُ قِبلَتَانِ فِي اَرضٍ وَاحِدَةٍ وَلَيسَ عَلَي المُسلِمِينَ جِزيَةٌ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء ليس علي المسلمين جزية ص۱۳۸نمبر۶۳۳.کتاب الزکوٰة) ددې حديث څخه معلوم شوچي و ذِمّيَانُ ته به په ډېره زياته اَندَازَه دخپل دِين د اِشَاعَت کولو اِجَازَت نَه وي.او نَوې کَنِيسَه يا بِيعَه جوړول د دِين اِشَاعَت دئ نوځکه ددې اِجَازَت نَه شي ورکېدلائي (۲) په اَثَرکي دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ کُلّ مِصرٍ مَصرّرَهُ المُسلِمُونَ لاَيُبنْي فِيهِ بِيعَةٌ وَلاَ کَنِيسَةٌ سوَلاَ يُضرَبُ فِيهِ بِنَاقُوسٍ وَلاَ يُبَاعُ فِيهِ لَحمُ خِنزِيرٍ (ب) (سنن للبيهقي.باب يشترط عليهم ان لايحدثوا في اَمصَارالمسلمين کنيسة ولامجمعًا لصلواتهم ولا صوتُ ناقوسٍ ولا حمل خنزير ولا اِدخَالُ خنزير ج۹ ص۳۳۹نمبر۱۸۷۱۴/مصنّف ابن ابي شيبة ۷۰ ماقالوا في هَدمِ البِيَعِ والکَنَائِسِ وبيوت النّار ج۶ص۴۷۱نمبر۳۲۹۷۲) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي کُوم بنَار چي مسلمانانُ جوړ کړئ دئ په هغه کي دي د ذِمّيَانُ نوې عِبَادَت خَانَه جوړولو ته نَه پرېږدي .
لغت : بِيعَةٌ : د يهودي عِبَادَت خَانَه. کَنَائِسٌ : د کَنِيسَةٌ جمع ده د نَصرَانِي عِبَادَت خَانَه .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل په يوه مُلک کي دوې قِبلې نَه شي کېدلائي يعني اِسلاَم او عِيسَائِيّت نَه شي وسېدلائي.او پر مسلمان جِزيَه نشته (ب) حضرت ابن عبّاس وفرمايل هر هغه بنَار کُوم چي مسلمانان جوړ کړئ وي په هغه کي ګِرجَا او کَنِيسَه نَه شي جوړېدلائي.او نَه په هغه کي نَاقُوس وَهَلاَئي شي.او نَه په هغه کي د خِنزير غُوښَه خرڅېدلائي شي .

[۳۰۷۷](۹۸) وَ اِذَا اِنهَدَمَت البِيَعُ وَ الکَنَائِسُ القَدِيمَةُ اَعَادُوهَا [۳۰۷۸](۹۹) وَ يُؤخَذُ اَهلُ الذِّمّةِ بِالتّمَيُّزِ عَنِ المُسلِمِينِ فِي زِيِّهِم وَ مَرَاکِبِهِم وَ سُرُوجِهِم وَ قَلاَنِسِهِم وَلاَ يَرکَبُونَ الخَيلَ وَلاَ يَحمِلُونَ السّلاَحَ .

[۳۰۷۷](۹۸) که بِيَا وَنَړيږي او زړې ونړيږي نو دوباره يې جوړولائي شي .
تشريح : د يهودي يا نَصرَاني قَدِيم عِبَادَت خَانَه وَنَړيږي نو هغه دوباره بيا جوړولائي شي .
وجه : (۱) کُوم چي د مخکي څخه جوړي شوي دي دهغو د حِفَاظَت ذِمّه دَارِي پر مسلمانانُ ده.نوځکه هغه دوباره بيا جوړولائي شي (۲) په حديث کي دئ چي د اَهلِ

نَجرَان سره دا خبره طَئ شوې وه چې کِرجَا به نَه نَرَوِي.دهغې رَاهِبَان به نَه بَاسِي.او د دُوئي په دِين کي به فِتنې نَه پيدا کوي.د حديث تُکړه داده. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ صَالَحَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَهلَ نَجرَانَ عَلْي اَلفَئ حُلّةٍ ... عَلْي اَن لاَتُهدَمُ لَهُم بِيعَةٌ وَلاَ يُخرَجُ لَهُم قِسّ وَلاَيُفتَنُوا عَن دِينِهِم مَالَم يُحدِثُوا حَدَثًا اَو يَأكُلُوا الرِّبَا (الف) (ابوداؤدشريف.باب في اخذالجزية ص ۷۴ نمبر۳۰۴۱/سنن للبيهقي.باب لاتهدم لهم كنيسة ولابيعة ج۹ص۳۳۹نمبر۱۸۷۱۵) ددې حديث څخه معلوم شوچې زړې(قَدِيم)عبادت خانې مَرَمّت کولائي شي .

[۳۰۷۸](۹۹) د ذِمّيَانُ څخه به وَعدَه اخستل کيږي چې دُوئي به دمسلمانان څخه مُمتَاز وي په جَامَه کي په سُوَارلَيُو کي په زِينُونُ کي او په خُوَلَيُوکي.او دُوئي به پر آسانُ نَه سُپريږي او نَه به اَسلَحَه دځان سره اَخلِي .

حاشيه : (الف) حضرت ابن عَبّاس فرمايي حضور (ﷺ) د اَهلِ نَجرَان سره پر دُوَه زَرَه حُلّة باندي صُلح وکړه ... په دې شرط چې د دُوئي کِرجَا به نَه نَرَوِي او نَه به د دُوئي قِسّيس اِيستَل کيږي.او د دُوئي د دِين په اړه دي دُوئي په فِتنَه کي نَه مُبتَلاء کوي ترڅو چې نوې خبره يې نَه وي پيدا کړې يا سُود خُوړَل شروع نَه کړي .

تشريح : ذِمّيَان به په دارالاسلام کي وَسِيږي لېکن دُوئي به په هر لحاظ د مسلمانانُ څخه مُتَمَيّز وسيږي داسې نَه چې بَل مسلمان دُوئي ته سَلاَم وکي د دُوئي لپاره دي دُعَاء نَه کوي.او په يَوَه اَندَازَه کي دي په ذِلّت سره وسيږي چې دُوئي ته اِحسَاس پيدا شي او زَر اِسلاَم قبول کړي .

وجه : (۱) په حديث کي و دې ته اِشَارَه شوې ده. عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ لاَتَبدُوا اليَهُودَ وَلاَالنّصَارْي بِالسّلاَمِ وَ اِذَا لَقِيتُم اَحَدُهُم فِي طَرِيقٍ فَاضطَرّوهُ اِلْي اَضيَقِهِ (الف) (مسلم شريف.باب النهي عن اِبتِدَاء اهل الكتاب بالسلام وكيف يردّعليهم ص۲۱۳نمبر۲۱۶۷/ابوداؤدشريف.باب في السلام علْي اهل الذمّة ص۳۶۰نمبر۵۲۰۵) ددې حديث څخه معلوم شوچې و ذِمّي ته دي اِبتِدَاءً سلام نَه کوي.او ده ته دي وايي چې د لاَرِي په مينځ کي تَګ مَه کوه پر يَوَه کِنَارَه تَګ کوه چې عِزَت او شَان وشَوکَت يې بنکاره نَه شي (کَم شي) (۲) په اَثَرکي دئ چې پر ذِمّيَانُ دي مُهر ولګوي چې د ليري څخه معلوم شي چې هغه ذِمّي دئ.اَثَر دادئ. کَتَبَ عُمَرُ اِلْي اُمَرَاءِ الاَجنَادِ اَن اِختَمّوا رِقَابَ اَهلِ الجِزيَةِ فِي اَعنَاقِهِم (ب) (سنن للبيهقي.باب يشترط عليهم ان يفرّقوا بين هيئتهم وهيئة المسلمين ج۹ص۳۴۰نمبر۱۸۷۱۸) (۳) حضرت عمر د اَهلِ شَام سره صُلح وکړه په هغه کې دا شرط ولګاوئ چې په لِبَاس.تُوپَئ(خُولَئ).عَمَامَه او چَوَتُو کي به مُمتَازوي.د خبروپه اَندَازکي دي هم مُتَمَيّزوي.د اَثَرتِکړه داده. عَن عَبدِالرّحمْنَ بِنِ غَنَمٍ قَالَ کَتَبتُ لِعُمَرَ بِنِ الخَطّابِ حِينَ صَالَحَ اَهلَ الشّامِ بِسمِ اللهِ الرّحمْنِ الرّحِيمِ ... وَ اَن نُوَقّرَ المُسلِمِينَ وَ اَن نَقُومُ لَهُم مِن مَجَالِسِنَا اِن اَرَادُوا جُلُوسًا وَلاَ نَتَشَبّهُ بِهِم فِي شَيئٍ مِن لِبَاسِهِم مِن قَلَنسُوَةٍ وَلاَ عَمَامَةٍ ولاَ نَعلَينِ وَلاَ فَرقُ شَعرٍ وَلاَ نَتَكَلّمُ بِكَلاَمِهِم وَلاَ نَتَكَنّي بِكُنَاهُم وَلاَ نَرکَبُ السّرُوجَ وَلاَ نَتَقَلّدُ السّيُوفَ وَلاَ

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل يهود او نصارْي ته اِبتِدَاءً سلام مَه كوئ. كه چيري د دُوئي څخه څوک تاسو ته په لاَرَه کي ملاؤ شي نو هغه پر تنګه لاَرَه تُلُو ته مجبوره کئ (ب) حضرت عمر د لَښکَرَانُ و اَمِيرَانُ ته وليکل چي د اَهلِ جِزيَه پر غَارُو مُهر ولګوئ .

[۳۰۷۹](۱۰۰) وَمَن اِمتَنَعَ مِن اَدَاءِ الجِزيَةِ اَو قَتَلَ مُسلِمًا اَوسَبّ النّبِيّ عَلَيهِ السّلاَمُ اَو زَنْي بِمُسلِمَةٍ لَم يَنقُض عَهدُهُ .

نَتّخِذُ شَيئًا مِنَ السّلاَحِ وَلاَ نَحمِلُهُ مَعَنَا وَلاَ نَنقُشُ خَوَاتِيمَنَا بِالعَرَبِيّةِ (الف) (سنن للبيهقي.باب الامام يكتب كتاب الصّلح علَي الجزية ج۹ ص۳۳۹نمبر۱۸۷۱۷) ددې دواړو اَثَرُو څخه معلوم شوچي ذِمّي به په هر لحاظ د مسلمانانُ څخه مُتَمَيّز وسيري.او اسلحه دي په دې وجه نَه اخلي چي دُوبَارَه بِيَا د جنګ صَلاَحِيّت پيدا نَه کړي.او دمسلمانانُ لپاره مُشکلات پيدا نَه کړي .

پام لرنه : اَفسُوس پر عَرَبِي نَړئ باندي اَمريکايانُ دَادَوَل قبضه کړې ده چي دغه ټولي مسئلي خُوب و خِيَال بنکاره کيږي .

لغت : زِيّهِم: هيئَت.لباس. مَرَاكِبُ: جمع دمَركَبٌ درَكبٌ څخه مُشتَق دئ معنْي سُوَارلَئ سُرُوجٌ : د سَرجٌ څخه مُشتَق دئ زِين. قَلاَنِسُ : د قَلَنسُوَةٌ جمع ده خُوَلَئ.ټُوپَئ .

[۳۰۷۹](۱۰۰) څوک چي جِزيَه اداء کول بَند کړي يا مسلمان قتل کړي يا حضور (ﷺ) ته بنکنزا وکړي يا دمسلمانِ بنځي سره زِنَاء وکړي نو دهغه عَهد نَه مَاتِيږي .

تشريح : يَو ذِمّي د جِزيَه اِقرَار کوي مګر اداء کوي يې نَه. نو صرف په دغه سره دئ د ذِمّي وَالِي څخه نَه وَزِي.او د مسلمانانُ سره چې د جِزيَه عَهد کړئ وُ او ذِمّي ټُوب يې قبول کړئ وُ هغه عَهد او پَيمَان يې نَه ماتيږي بلکه اُوس هم دئ پر ذِمّي وَالِي بَاقِي پاته دئ.دغه رنګه که يَومسلمان قتل کړي يا حضور (ﷺ) ته بنکنزا وکړي

حاشيه : (الف) حضرت عبدالرّحمٰن بن غنم فرمايي چي د اَهلِ شَام سره صُلح کِډلَه نو مَا دحضرت عمر لپاره دا خَط وليکئ بسم الرّحمٰن الرّحيم ... دا چي د مسلمانان عِزّت به کوي.که مسلمان کښېنَستَئ نو دهغه لپاره به وَلاَرِيږي.په لِبَاس(جَامَه)کي به د مسلمانانُ سره مُشَابَهَت نَه کوي.نَه په خُوَلَئ کي.نَه په عَمَامَه کي.نَه په چَوَتُو کي.نَه به د سَر په مَابَين کي د ببښتَانُو سېنځه ږيلَوي.نَه به د دُوئي په ژَبَه خبري کوي نَه به دمسلمانانُ کُنيّت پر خُان اِردِي.نَه پر زِين سُپَرِيږي.او نَه به د تُرِي قَلاَدَه په غَارَه کوي او نَه به هيڅ دَوَل اَسلَحَه جوړوي او نَه به هغه دخُان سره اَخلي او نَه به په عَرَبِي ژَبَه خپلي کُنمَئ(اَنکُشتَرَئ.يعني مُهر)جوړوي .

(چَپ و رَپ وګاييږي) يا دمسلمَانِ بنځي سره زِنَاء وکړي نو په دې سره د ذِمّي وَالِي عَهد نَه ختميږي.البته ددې جَرَائِمُ د سَزَاء مُستَحِق ګرزي.مثلاً جِزيَه نَه وركوي نو جِزيَه به خُيني اخستل کيږي.د مسلمان دقَتل په بَدلَه کي به دئ قتل کيږي.يا چي حضور (ﷺ) ته بَدَه وَينَا وکړي نو دئ په خپله مَبَاحُ الدّم ګرزي.او چي د مُسلِمَه بنځي سره زِنَاء وکړي نو د حَدِّ زِنَاء مُستَحِق ګرزي .

وجه : (۱) جنګ ته د تَيّارېدُو په وجه عَهد مَاتِيرِي.يايې يَو شرط لګولئ وُ او ده دهغه خِلاَف وکړل نو عَهد به مَات شي که نَه نو هسي نَه ماتيرِي (۲) په حديث کي دئ چې اَهلِ قُرَيظَه جنګ ته تَيّار شول نو هغه وخت د دُوئي عَهد مات شو او حضور (ﷺ) د دُوئي سره جنګ وکړئ دُوئي يې قتل کړل.او د دُوئي بنځي يې مِينځي وګرزولي.حديث دادئ. عَن اِبنِ عُمَرَ حَارَبَت بَنُو قُرَيظَةَ وَالنّضِيرَ فَاَجلَي بَنِي النّضِيرَ وَ اَقَرّ بَنُو قُرَيظَةَ وَمَنّ عَلَيهِم حَتّي حَارَبَت قُرَيظَةُ فَقُتِلَ رِجَالُهُم وَقُسِّمَ نِسَا نُهُم وَ اَولاَدُهُم وَ اَموَالُهُم بَينَ المُسلِمِينَ (الف) (بخاري شريف.باب حديث بني النضير و مخرج رسول الله (ﷺ) اليهم في دية الرّجلين و ما ارادوا من الغدر برسول الله (ﷺ) ص ۵۷۴ نمبر۴۰۲۸/ مسلم شريف.باب اجلاء اليهود من الحجازص۹۴نمبر۱۷۶۶) په دې حديث کي دئ چې بنوقريظه مُحَارَبَت وکړئ په دغه وجه د دُوئي عَهد مَات شو.او په تېره شوې مسئله کې مُحَارَبَت نَه دئ کړئ نوځکه دهغوئي عَهد نَه دئ مَات شوئ .

البته چې حضور (ﷺ) ته اِعلاَنِيّه(په بنکاره)بنکنزا کوي هغه به قتل کيږي دليل يې دا حديث دئ. عَن عَلِيٍّ اَنّ يَهُودِيّةً كَانَت تَشتِمُ النّبِيّ (ﷺ) وَتَقَعُ فِيهِ فَخَنَقَهَارَجُلٌ حَتّي مَاتَت فَاَبطَلَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) دَمَهَا (ب) (ابوداؤدشريف.باب الحكم

حاشيه : (الف) بنوقريظه او بنو نضير جنګ وکړئ نو بنونضير يې جَلاوَطَن کړل او بنو قريظه يې هلته برقراره وساتل او پر هغوئي يې اِحسَان وکئ تر دې چې بنوقريظه هم جنګ وکئ نو د دُوئي نَرَان يې قتل کړل او د دُوئي بنځي او اَولاَدُونَه او مَالُونَه يې د مسلمانانُ ترمينځ تقسيم کړل (ب) حضرت علي فرمايي وويل چې يَوې يهودِيّې بنځي و حضور (ﷺ) ته بنکنزا کولې او په حضور (ﷺ) کي به عَيبُونَه بيانول. يوه سړي ددې غَارَه خَپَه کړل قتل يې کړه نوحضور (ﷺ) دهغې وينَه باطِل کړه يعني دقَاتِل څخه قِصَاص نَه واخستئ .

[۳۰۸۰](۱۰۱) وَلاَيَنقُضُ العَهدُ اِلاّ بِاَن يُلحِقَ بِدَارِ الحَربِ اَو يَغلِبُوا عَلْي مَوضِعٍ فَيُحَارِبُونَا .

فيمن سبّ النّبِيّ (ﷺ) ص۲۵۱نمبر۴۳۶۲) ددې حديث څخه معلوم شوچې څوک حضور (ﷺ) ته بنکنزا وکړي هغه مَبَاحُ الدّم ګرزي .

لغت : سَبّ : بنکنزا کول .

[۳۰۸۰](۱۰۱) او عَهد نَه ماتيرِي مګر هغه وخت چې دارالحرب ته وُلاړ شي يا پر يَوځائ غَلَبَه پيدا کړي زمورِ سره جنګ وکړي .

تشريح : ذِمّي وَتَبَنتِي دارالحرب ته وُلاړ شي نو د ذِمّيَت عَهد به مَات شي.يا په دارالاسلام کي پر يَوَه عِلاَقَه باندي غَلَبَه حاصله کړي او زمورِ سره دجنګ تَيّاري وکړي نو ذِمّيَت ختميرِي او عَهد به مَات شي .

وجه : مخته د بنوقريظه حديث تېرشوئ دئ چې هغه دجنګ لپاره تَيّار شو نو عَهد يې هم مَات شو.بيا حضور (ﷺ) پر دُوئي حَملَه وکړه او د دُوئي بنځي يې مينځي وګرزولې او د دُوئي مَالُونَه يې تقسيم کړل. عَن اِبنِ عُمَرَ ... حَتّي حَارَبَت قُرَيظَةُ فَقُتِلَ

رِجَالُهُم وَقُسِّمَ نِسَا نُهُم وَ اَولاَدُهُم وَ اَموَالُهُم بَينَ المُسلِمِينَ (الف) (بخاري شريف. نمبر۴۰۲۸/مسلم شريف.نمبر۱۷۶۶) ددې حديث څخه معلوم شوچې د مُحَارَبَت څخه عَهد مَاتِيږي .
چې دارالحرب ته وُلاړشي عَهد يې ماتيږي. سُئِلَ عَن عَطَاءَ عَنِ الرّجُلِ مِن اَهلِ الذِّمّةِ يُؤخَذُ فِي اَهلِ الشّركِ وَقَد اُشتُرِطَ عَلَيهِم اَن لاَ يَأتِيهِم فَيَقُولُ لَم اُرِد عَونَهُم فَكَرِهَ قَتلَهُ اِلاّ بِبَيّنَةٍ فَقَالَ لَهُ بَعضُ اَهلِ العِلمِ اِذَا نَقَضَ شَيئًا وَاحِداً مِمّا عَلَيهِ فَقَد نَقَضَ الصّلحُ (ب)

حاشيه : (الف) تر دې چې بنوقريظه هم جنګ وکئ نو د دُوئي نَرَان يې قتل کړل او د دُوئي ښځي او اَولاَدُونَه او مَالُونَه يې د مسلمانانُ ترمينځ تقسيم کړل (ب) دحضرت عطاء څخه پوښتنه وشوه د اَهلِ ذِمّه يَوسړئ د مُشرِكِينُ په مينځ کي وَنِيوَل شو حالانکه پر ده شرط لګېدلئ وُ چې دئ به مُشرِكِينُ ته نَه رَاجِي.نو اُوس دئ وايي چې د دُوئي د مرستي په اِرَادَه نَه وَم راغلئ نو حضرت عطاء د ګواهئ بغيره دهغه ذِمّي قتل نَاخُوښَه کړئ. بعضو اَهلِ عِلم وويل که يو شَرط مَات کړئ نو هم صُلح ختميږي .

[۳۰۸۱](۱۰۲) وَاِذَا اِرتَدّ المُسلِمُ عَنِ الاِسلاَمِ عُرِضَ عَلَيهِ الاِسلاَمُ فَاِن كَانَت لَهُ شُبهَةٌ كُشِفَت لَهُ [۳۰۸۲](۱۰۳) وَ يُحبَسُ ثَلاَثَةَ اَيّامٍ فَاِن اَسلَمَ وَ اِلاّ قُتِلَ .

(مصنّف عبدالرّزاق.باب المشرک يأتي المسلم بغيرعهدٍ ج۵ ص۲۹۳نمبر۹۶۵۴) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې ذِمّي د حَربِيَانُ مينځ ته وُلاړ شي نو عَهد يې ختميږي.ځکه چې دئ اُوس حَربِي شو او دده وِينَه د حَربِيَانُ په شان مَبَاح وګرزېدله .
لغت : يَلحِقُ : لاَحِق شي.وُلاړ شي .

﴿...دمُرتَد بيان... ﴾

[۳۰۸۱](۱۰۲) چې مسلمان د اِسلاَم څخه مُرتَد شي نو ده ته به اِسلاَم وُړَاندِي کيږي.که چيري ده ته کُوم شَک وي هغه به ليري کيږي .
وجه : په اَثَرکي دئ. عَن عَلِيٍّ اَنّهُ اُتِيَ بِمُستَورِدِ العَجَلِيِّ وَقَد اِرتَدّ فَعَرَضَ عَلَيهِ الاِسلاَمَ فَاَبَي قَالَ فَقَتَلَهُ وَجَعَلَ مِيرَاثَهُ بَينَ وَرَثَتِهِ المُسلِمِينَ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۳۲ ماقالوا في المرتد ماجاء في ميراثه ج۶ص۴۴۵نمبر۳۲۷۵۴/سنن للبيهقي.باب من قال في المرتديستتاب مكانه فان تاب واِلاّقُتِلَ ج۸ص۳۵۸نمبر۱۶۸۸۵) په دې اَثَرکي دئ چې حضرت علي مُرتَد ته اِسلاَم وُړَاندِي کړئ او دهغه شُبهَه يې ليري کړه .
[۳۰۸۲](۱۰۳) دې وُرَخِي به قيد کوي.که اِسلاَم قبول کړئ خو بنَه خبره ده که نَه نو قتل کوي به .
وجه : (۱) دې وُرَخِي به په دې وجه قيد کوي چې په دومره وُرَخُو کي دئ پُوه کړي او په خپله مُرتَد ته هم د سُوچ او فِکر موقع ملاؤ شي.د امام ابوحنيفه(ر) په نېز دې وُرَخِي مُهلَت وركول مُستَحَب دئ ضروري نَه دئ (۲) په اَثَر کي دئ. عَن عَلِيٍّ

حاشيه : (الف) حضرت علي ته مُستَورد عَجَلِي حاضر کړئ.دئ مُرتَد شوئ وُ نو پر ده يې اِسلاَم وُړاندِي کړئ هغه اِنکار وکړئ.فرمايي چې هغه يې قتل کړئ او دده وِرَاثَت يې د مسلمانانُ وَارِثَانُ ترمينځ تقسيم کړئ .

يُستَتَابُ المُرتَدّ ثَلاَ ثًا (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ٣٠ ماقالوا في المرتد کَم يستتاب ج٦ ص٤٤٤ نمبر٣٢٧٤٧/سنن للبيهقي.باب من قال يحبس ثلاثة اَيّامٍ ج٨ص٣٥٩نمبر١٦٨٨٧) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي مُرتَد ته دي تر دُرُو وُرَخُو پوري مُهلَت ورکړي .

فائده : امام شافعي (ؒ) فرمايي چې درې وُرَخِي مُهلَت ورکول ضروري دئ .

وجه : حضرت عمر تر دُرُو ورځو پوري نَه قتلولو باندي سختي کړې ده. لَمّا قَدِمَ عَلْي عُمَرَ فَتحَ تَستَرَ.وَ تَستَر مِن اَرضِ البَصرَةِ.سَأ لَهُم هَل مِن مَغرِبَةٍ؟ قَا لُوا رَجُلٌ مِنَ المُسلِمِينَ لَحِقَ بِالمُشرِكِينَ فَاَخَذنَاهُ. قَالَ مَاصَنَعتُم بِهِ؟ قَالُوا قَتَلنَاهُ. قَالَ: قَالَ اَفَلاَ اَدخَلتُمُوهُ بَيتًا وَ اَغلَقتُم عَلَيهِ بَابًا وَ اَطعَمتُمُوهُ كُلّ يَومٍ رَغِيفًا ثُمّ اِستَبتُمُوهُ ثَلاَثًا. فَاِن تَابَ وَ اِلاّ قَتَلتُمُوهُ ثُمّ قَالَ اَللّٰهُمّ لَم اُشهِد وَلَم آمُرُ وَلَم اَرضَ اِذَا بَلَغَنِي (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ٣٠ ماقالوا في المرتدکَم يستتاب ج٦ص٤٤٤نمبر٣٢٧٤٤/سنن للبيهقي.باب من قال يحبس ثلاثة اَيّامٍ ج٨ص٣٥٩نمبر١٦٨٨٧) په دې اَثَر کې تر دُرُوُ وُرَخُو مخکې پر قتل باندي حضرت عمر وفرمايل چې! ائ الله نَه زه دې ته حاضِر شوئ يَم او نَه مَا ددې حُکم ورکړئ دئ.او نَه زَه په دې سره راضي يَم. معلوم شو چې درې وُرَخِي مهلت ورکول ضروري دئ .

مُرتَد دې درې وُرَخِي وروسته قتل کړي په دې آيت کې دې ته اِشَارَه شوې ده. (١) وَمَن يَرتَدِد مِنكُم عَن دِينِهِ فَيَمُت وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولْئِکَ حَبِطَت اَعمَا لُهُم فِي الدّنيَا وَالآخِرَةِ وَ اُولْئِکَ اَصحَابُ النّارِ هُم فِيهَا خَالِدُونَ (ج) (آيت ٢١٧ سورة البقرة ٢) په دې

حاشيه : (الف) حضرت علي فرمايي چې مُرتَد ته به درې واره د تُوبَه کولو وَينَا کيږي (ب) چې کُوم وخت حضرت عمر ته د تَستَر د فَتح خبر راغلئ.تَستَر د بصره دمخکې حِصّه ده.ددې خلګو څخه پُوښتَنَه وکړه آيا د مَغرِب په اړه کُوم خبر شته؟ خلګو وويل دمسلمانانُ يو سړئ مُرتَد شو دمُشرِکِينُ سره يَوځائ شو نو مور هغه تِينګ کړئ.پُوښتَنَه وکړه دهغه سره مِي څَه وکړه؟ خلګو وويل مور هغه قتل کړئ.حضرت عمر وفرمايل داسي مِي وَلِي نَه وکړل چې هغه مو کُور ته دَاخِل کړئ وائ.بيا مودَروَازَه بَند کړي وائ او ده ته مِي هره وُرَخ ډُوډَئ ورکولائي بيا مُو تر درو ورځو پوري ده ته د تُوبې تَلقِين کړئ وائ.که چيري توبه کړي وائ خو بِنَه خبره وه که نَه نو بيا به مُو قتل کړئ وائ.بيايې وفرمايل ائ الله! نَه زَه هلته حاضِر وَم.نَه زَه په رَاضِي يَم چې کُوم وخت مَا ته دا خَبَر ورسېدئ (ج) ستاسو څخه چې څوک دخپل دِين څخه مُرتَد شي او پرکُفر مَړ شي نو په دُنيا او آخرت کې دده اَعمَال ضائع شول هغه د اُور(وُور)خَاوندَان دي همېشه به په هغه کې وسيږي .

[٣٠٨٣](١٠٤) فَاِن قَتَلَهُ قَاتِلٌ قَبلَ عَرضِ الاِسلاَمِ عَلَيهِ كُرِهَ لَهُ ذَالِکَ وَلاَ شَيئَ عَلْي القَاتِلِ .

آيت کې دئ چې څوک مُرتَد شي دهغه ټوله اَعمَال ضائع شو او هغه د کَافِر په درجه کې شو.او مخته تېرشوي دي چې حَربِي مَبَاحُ الدّم وي او مُرتَد تر حَربِي هم زِيَات سَخت دئ نوځکه دا به هم مَبَاحُ الدّم وي (٢) په حديث کې دئ. قَالَ اُتِيَ عَلِيّ بِزَنَادِقَةٍ فَاَحرَقَهُم ... لِقَولِ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) مَن بَدّلَ دِينَهُ فَاقتُلُوهُ (الف) په بَل حديث کې دئ چې

حضرت معاذ وفرمايل كه چيري مُرتَد فَوراً قتل كوئ خو زَه كښېنَم كه نَه نو بيا نَه كښېنَم. دحديث تِكړه داده. عَن اَبِي مُوسْي قَالَ ... ثُمّ اِتّبَعَهُ مَعَاذُ بِنِ جَبَلٍ فَلَمّا قَدِمَ عَلَيهِ اَلقْي لَهُ وِسَادَةً قَالَ اَنزِل فَاِذَا رَجُلٌ عِندَهُ مَوثُوقٌ. قَالَ مَاهٰذَا؟ قَالَ كَانَ يَهُودِيّا فَاَسلَمَ ثُمّ تَهَوّدَ. قَالَ اِجلِس! قَالَ لاَ اَجلِسُ حَتّٰي يُقتَلَ.قَضَاءُ اللهِ وَرَسُولِهِ ثَلاَثَ مَرّاتٍ فَاَمَرَ بِهِ فَقُتِلَ (ب) (بخاري شريف.باب حكم المرتدوالمرتدة واستتابتهم ص١٠٢٢نمبر٦٩٢٢/٦٩٢٣) ددې حديث څخه معلوم شوچي مُرتَد به قتل كيږي .

[٣٠٨٣](١٠٤) كه چيري دئ بَل چا قتل كړئ پر ده د اِسلاَم د وړاندي كولو څخه مخكي نودا مكروه دئ لېكن پر قَاتِل هيڅ ضَمَان نشته .

تشريح : پر مُرتَد بايد دړې ورځي اِسلاَم وړاندِي شي.چي اِنكار وكړي بيابه قتل كوي.لېكن كه چيري د اِسلاَم د وړاندي كولو څخه مخكي يوچا مُرتَدقتل كړئ نو دَاوَل كول مكروه دئ.لېكن دقَاتِل څخه به قِصَاص نَه اخستل كيږي او نَه پر ده دِيّت لازميږي .

حاشيه : (الف) حضرت علي ته څَه زنديقَان رَاوَستَل نو حضرت علي هغه وَسوَځل ... حضور (ﷺ) وفرمايل څوک چې دِينِ اِسلاَم بدل كړئ هغه قتل كړئ (ب) حضرت معاذ بن جبل حضرت ابوموسْي اشعري ته راغلئ نو دده لپاره بَالَبِش(تَكيَه)كښېښوئ او وفرمايل تشريف كښېږدئ.هلته يَوسړئ تَرَلَئ وُ.پُوښتَنَه وكړه چې دا څوک دئ؟ وويل چې يهودي وُ بيايي اِسلاَم قبول كړئ بېرته يهودي شو.وفرمايل تشريف كښېږده.وويل ترڅو چې دئ دي نَه وي قتل كړئ تر هغه وخته نَه كښېنَم. دا د الله او دهغه د رَسُول (ﷺ) فيصله ده.دړې واره يې وفرمايل.بيايي حُكم وكړئ يهودي يې قتل كړئ .

[٣٠٨٤](١٠٥) وَ اَمّا المَرأ ةُ اِذَا اِرتَدّت فَلاَ تُقتَلُ وَلٰكِن تُحبَسُ حَتّٰي تُسلِمَ .

وجه : (١) مُرتَد ته اِسلاَم وړاندي كول مُستَحَب كار دئ او قَاتِل د اِستِحبَاب څخه خِلاَف كار وكړئ نوځكه دقَاتِل څخه به قِصَاص نَه اخستل كيږي.ځكه چې مُرتَد خو هسي هم مَبَاحُ الدّم ګرزېدلئ دئ (٢) په مسئله نمبر ١٠٣ كي دحضرت عمر اَثَر تېرشوئ دئ په هغه كي قَاتِل د اَمِيرُالمُؤمِنين دحُكم بغيره د اِسلاَم د وړاندي كولو څخه مخكي قتل كړئ. حضرت عمر دقَاتِل څخه قِصَاص نَه دئ اخستئ او نَه يې دِيَت ځيني اخستئ دئ. صِرف اَللّٰهُمّ لَم أشهِد وَلَم آمُر يې ووايى او د اَفسُوس اِظهَار يې وكړئ.ددې څخه معلوم شوچي دقَاتِل څخه به قِصَاص نَه اخستل كيږي (٣) د حضرت معاذ په حديث كي هم پر مُرتَد د اِسلاَم د وړاندي كولو تَذكِرَه نشته.بلكه فَوراً دقتل كولومطالبه ده.ددې څخه معلوم شوچي دارِتِدَاد وروسته دئ مَبَاحُ الدّم ګرزېدلئ دئ (بخاري شريف.نمبر٦٩٢٣)

[٣٠٨٤](١٠٥) كه چيري بنځه مُرتَدّه شي نو نَه به قتل كيږي لېكن د اِسلاَم تر قبلولو پوري به قَيد كيږي .

وجه : په اَثَرکي ددې ثبوت شته. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ لاَتُقتَلُ النِّسَاءُ اِذَا اِرتَدَدنَ عَنِ الإِسلاَمِ وَلٰكِن يُحبَسنَ وَيُدعِينَ اِلَي الإِسلاَمِ وَيُجبَرنَ عَلَيهِنّ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۳۳ ماقالوا في المرتدة عن الاسلام ج۶ص۴۴۶نمبر۳۲۷۶۳/سنن للبيهقي.باب قتل من ارتدعن الاسلام اذا ثبت عليه رَجُلاً كان اَو اِمرَأةً ج۸ ص۳۵۳نمبر۱۶۸۶۹) ددې اَثَرځخه معلوم شوچې مُرتَدّه ښځه به نَه قتل کيږي.بلکه تر هغه وخته به قَيدکيږي تر څو چې د اِرتِدَاد څخه توبه وکاږي .

حاشيه : (الف) حضرت ابن عبّاس فرمايي که چيرې ښځې د اِسلاَم څخه مُرتَدِ شي نو نَه به قتل کيږي.لېکن قَيد کيږي به.او اِسلاَم ته به رَابَلَل کيږي او دُوئي به د اِسلاَم پر قبلولو مجبوره کيږي .

[۳۰۸۵](۱۰۶) وَ يَزُولُ مِلكِ المُرتَدِّ عَن اَموَالِهِ بِرِدّتِهِ زَوَالاً مُرَاعيً فَاِن اَسلَمَ عَادَت اِملاَكُهُ اِلَي حَالِهَا .

[۳۰۸۵](۱۰۶) د مُرتَد مِلکِيّت به دده د مَال څخه په محفوظ زَوَال سره زَائِل شي د اِرتِدَاد په وجه.که چيرې اِسلاَم قبول کړئ نوخپل حالت به وَاپَس شي .

تشريح : د مُرتَد وَالِي په وجه به دده مِلکِيّت ختم شي.لېکن په دَا دَوَل اندازه به زَائِل شي که چيرې دُوبَارَه ببرته اِسلاَم قبول کړئ نو مِلکِيّت به بَاقِي پاته شي.او که چيرې مَړ شو نو دده د مسلمان وَارِثَانُ تر مينځ به تقسيم شي .

وجه : (۱) په حديث کي دئ چې يوه سړي د مَېړي سره نِکَاح وکړه مُرتَد شو نو دهغه د قتلولو او دهغه د مَال د اَخَستلُو حُکم يې وکړئ.حديث دادئ. عَن يَزِيدَبنِ البَرَاءَ عَن اَبِيهِ قَالَ لَقِيَنِي عَمّي وَقَد اِعتَقَدَ رَأ يَةً فَقُلتُ اَينَ تُرِيدُ؟ قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِلَي رَجُلٍ نَكَحَ اِمرَأ ةَ اَبِيهِ اَن اَضرِبَ عُنُقَهُ وَ آخُذَ مَالَهُ (الف) (سنن للبيهقي.باب مال المرتد اذا مَاتَ اَو قُتِلَ عَلَي الرِّدّةِ ج۸ص۳۶۱نمبر۱۶۸۹۳/ابن ماجه شريف.باب مَن تزوّج اِمرأة اَبِيهِ مِن بَعدِهِ ص۳۷۵نمبر۲۶۰۸) ددې حديث څخه معلوم شوچې مُرتَد به قتل کيږي او مَال به ځيني اَخَستَل کيږي (۲) په اَثَر کي دئ. عَن عَلِيٍّ اَنّهُ اُتِيَ بِمُستَورِدِ العَجَلِيّ وَقَد اِرتَدّ فَعَرَضَ عَلَيهِ الإِسلاَمَ فَاَبَي قَالَ فَقَتَلَهُ وَجَعَلَ مِيرَاثَهُ بَينَ وَرَثَتِهِ المُسلِمِينَ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۳۲ ماقالوا في المرتدماجاءفي ميراثه ج۶ص۴۴۵نمبر۳۲۷۵۴) په دې اَثَرکي دئ چې کُوم وخت مُرتَد شي په هغه وخت دده مِلکِيّت زائليږي. البته د اِسلاَم تر وُرَاندِي کولو او د اِسلاَم تر قبلولو پوري به اِنتِظَار کيږي.که چيرې اِسلاَم قبول نَه کړي نو په مُکَمّلَه توګه به مِلکِيّت زَائِل شي.او کُوم مَال چې د اِسلاَم په

حاشيه : (الف) زُومَا اَګا ماته ملاؤ شوده يوه جَنذِي يي تړلي وه.مَا پُوښتَنه ځيني وکړه چيرې ځي؟ وويل حضور (ﷺ) زَه اَستَوَلَئ يَم.يَوَه سړي دخپلي نَاخَ ـَکه مُور(مَيرې)سره وَادَه کړئ دئ چې زَه دهغه سَر قَلَم کړم او دهغه مَال ځيني واخلم (ب) حضرت علي ته مُستَورِد عَجَلِي حاضر کړئ.دئ مُرتَد شوئ وُ نو پر ده يې اِسلاَم وُرَاندِي کړئ هغه اِنکار وکړئ.فرمايي چې هغه يې قتل کړئ او دده وِرَاثَت يې د مسلمانانُ وَارِثَانُ ترمينځ تقسيم کړئ .

[۳۰۸۶](۱۰۷) وَ اِن مَاتَ اَو قُتِلَ عَلَي رِدّتِهِ اِنتَقَلَ مَا اِكتَسَبَهُ فِي حَالِ الإِسلاَمِ اِلَي وَرَثَتِهِ المُسلِمِينَ وَكَانَ مَا اِكتَسَبَهُ فِي حَالِ رِدّتِهِ فَيئًا .

زَمَانَه کي ګټلئ وُ هغه به د مسلمان وَارِثَانُ ترمينځ تقسيميږي او د کُفر په زَمَانَه کي ګټلئ مَال به غَنِيمَت شي.او که چيري ښځه اِسلاَم قبول کړئ نو دده مَال به ښځه ده ته وَاپَس ورکوي .

که مُرتَد دوباره اِسلاَم قبول کړي نو دده مَال به ښځه ده ته ورکوي .

وجه : بنوقريظه قِتَال وکړئ حضور (ﷺ) دُوئي ټوله قتل کړل.لېکن کُوم خلګ چي دحضور (ﷺ) سره يَوځائ شوي وُ هغو دوباره اِيمَان رَاوړَئ. حضور هغه نَه کړل قتل.او نَه د دُوئي مَال په غَنِيمَت کي تقسيم کړئ.د حديث ټکړه داده. عَن اِبنِ عُمَرَ ... حَتّٰي حَارَبَت قُرَيظَةُ فَقُتِلَ رِجَالُهُم وَقُسِّمَ نِسَا نُهُم وَ اَولاَدُهُم وَ اَموَالُهُم بَينَ المُسلِمِينَ اِلاّ بَعضُهُم لَحِقُوا بِالنَّبِيِّ فَآمَنَهُم وَ اَسلَمُوا (الف) (بخاري شريف.باب حديث بني النضير ص ۵۷۴ نمبر۴۰۲۸) په دې حديث کي دئ چي کُوم يهوديان مسلمانان شول دهغوئي مَالُونَه يې نَه دي تقسيم کړي بلکه ښځه وَاپَس ورکړل. دغه رنګه چي مُرتَد مسلمان شي نو دهغه مَال به هم نَه تقسيميږي بلکه وَاپَس به ورکوي .

لغت : مُرَاعَي : د رِعَايَت څخه مُشتَق دئ رِعَايَت به کيږي يعني معامله به مَوقُوف پاتيږي .

[۳۰۸۶](۱۰۷) که هغه مَړ شو يا دمُرتَد وَالِي په حالت کي قتل شو نو د اِسلاَم په حالت کې چي کُوم مَال ګټلئ دئ هغه به دده د مسلمان وَارِثَانُ ترمينځ تقسيميږي. او کُوم مَال چې د مُرتَد وَالِي په حالت کي ګټلئ دئ هغه به غَنِيمَت شي .

حاشيه : (الف) د حضرت ابن عمر څخه روايت ... تر دي چي بنوقريظه هم جنګ وکئ نو د دُوئي نَرَان يې قتل کړل او د دُوئي ښځي او اَولاَدُونَه او مَالُونَه يې د مسلمانانُ ترمينځ تقسيم کړل.البته د دُوئي څخه بعض خلګ حضور (ﷺ) ته راغلل نو حضور (ﷺ) دُوئي ته اَمَن ورکړئ او دُوئي مسلمانان شول .

تشريح : د مُرتَدوَالِي په حالت کي مَړ شو يا د مُرتَدوَالِي په حالت کي قتل شو نو د اِسلاَم په حالت کي چې کُوم مَال ګټلئ دئ هغه به دده د مسلمان وَارِثَانُ ترمينځ تقسيم کيږي.اوکُوم مَال چې د اِرتِدَاد په حالت کي ګټلئ دئ هغه به غَنِيمَت وي.

وجه : (۱) د اِسلاَم په حالت کي ګټه به دمسلمان وَارِثَانُ ترمينځ تقسميږي دهغه دليل دغه تېرشوئ اَثَر دئ. عَن عَلِيٍّ ... قَالَ فَقَتَلَهُ وَجَعَلَ مِيرَاثَهُ بَينَ وَرَثَتِهِ المُسلِمِينَ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة.نمبر۳۲۷۵۴) په دې اَثَرکي دئ چي دمُرتَد ګټه او مَال به د مسلمان وَارِثَانُ ترمينځ تقسيميږي (۲) مُرتَدوَالَئ ګواکه مَړ کېدل دئ.او دمرګه بَعد دهغه مَال د وَارِثَانُ ترمينځ تقسيميږي.نوځکه دده مَال به هم د وَارِثَانُ ترمينځ تقسيميږي .

د اِرتِدَاد د زماني ګټلئ مَال به غَنِيمَت وي .

وجه : (۱) د مُرتَدوَالِي وروسته دئ حَربِي شو او د حَربِي ګټلئ مَال چي دمسلمان لاَس ته راشي هغه غَنِيمَت وي نوځکه د اِرتِدَاد د زماني مَال به غَنِيمَت وي (۲) په مسئله نمبر ۱۰۷ کي حديث تېرشوئ دئ چي د نَاځَګه مُور(مَيرې)سره نکاح کړې وه مُرتَد شوئ وُ نو هغه يې قتل کړئ او مَال يې ځيني واخستئ. دحديث ټکړه داده. بَعَثَنِي

رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِلْي رَجُلٍ نَكَحَ اِمرَأةَ اَبِيهِ اَن اَضرِبَ عُنُقَهُ وَ آخُذَ مَالَهُ (ب) (سنن للبيهقي.نمبر١٦٨٩٣) په دي کي دا وُ چي دده مَال به ځيني اخلي او غَنِيمَت به ګرزوي .

حاشيه : (الف) حضرت علي مُرتَد قتل کړئ او دده وِرَاثَت يي د مسلمان وَارِثَانُ ترمينځ تقسيم کړئ (ب) حضور (ﷺ) زَه وَاستَوَلَم چي يوه سړي د نَاځَکَه مُور(مَيرې)سره نکاح کړې ده نو زَه دهغه سَر غُوَخ کړم (قتل کړم) او دهغه مَال وَاخلَم .

[٣٠٨٧](١٠٨) فَاِن لَحِقَ بِدَارِ الحَربِ مُرتَدّاً وَحَكَمَ الحَاكِمُ بِلِحَاقِهِ عَتَقَ مُدَبّرُوهُ وَ اُمّهَاتُ اَولاَدِهِ وَحَلّتِ الدّيُونُ اَلّتِي عَلَيهِ وَ اِنتَقَلَ مَا اِكتَسَبَهُ فِي حَالِ الاِسلاَمِ اِلْي وَرَثَتِهِ مِنَ المُسلِمِينَ .

[٣٠٨٧](١٠٨) که چيرې مُرتَد شو دارالحرب ته وَتَښتېدَئ او حَاكِم دده د اِلحَاق حُكم ولګاوئ نو دده مُدَبّر او اُمِّ وَلَد به آزاد شي.او چي کُوم قرض پر ده لازم دئ هغه به فَوراً اداء کوي.او چي خَه يې د اِسلاَم په حالت کي ګټلي دي هغه به دده و مسلمان وَارِثَانُ ته مُنتَقِل شي .

تشريح : دغه مسئلې پر دې اُصُول مُتَفَرّع دي چي مُرتَد دارالحرب ته وتښتي او حاكِم حُكم صَادِر کړئ چي دئ اُوس په دارالحرب پُوري مَربُوط شوئ دئ نو دئ به د مَړي په درجه کي شمار سي.او دده په ټولو مَعَامَلاَتُ کي به د مُړو اَحكَام نَافِذ شي. مثلاً د آقَا د مرګه وروسته مُدَبّر غُلاَم او اُمِّ وَلَدَه مينځه آزادېږي نو دلته به هم دغه دواړه آزاد شي. چي کُوم قَرض يې په يومخصوص او مُتَعَيّن تاريخ اداء کاوئ دهغه اداء کول به هم لازم شي ځکه چي د سړي د مرګه وروسته دده په مَال کي سَم دَستِي دده قرض اداء کول ضروري ګرزي.او د اِسلاَم په حالت کي چې کُوم مَال ګټلئ وُ هغه به د مسلمان وَارِثَانُ ترمينځ تقسيم شي ځکه چي مُرتَد ګواکه مَړ شو .

وجه : اَثَردئ. عَن عَامِرٍ وَالحَكَمِ قَالاَ فِي الرّجُلِ المُسلِمِ يَرتَدّ عَنِ الإِسلاَمِ وَيُلحِقُ بَاَرضِ العَدُوِّ فَلتَعتَدّ اِمرَأتُهُ ثَلاَثَةَ قُرُوءٍ اِن كَانَت تَحِيضُ. وَاِن كَانَت لاَتَحِيضُ فَثَلاَثَةُ اَشهُرٍ. وَاِن كَانَت حَامِلاً اَن تَضَعَ حَملَهَا وَيُقَسّمُ مِيرَاثُهُ بَينَ اِمرَأتِهِ وَوَرَثَتِهِ مِنَ المُسلِمِينَ ثُمّ تَزَوّجَ اِن شَاءَت وَاِن هُوَ رَجَعَ فَتَابَ مِن قَبلِ اَن تَنقَضِيَ عِدّتُهَا ثَبَتَا عَلْي نِكَاحِهِمَا (الف)

حاشيه : (الف)عامر اوحكيم وفرمايل چي مسلمان مُرتَد شي او دارالحرب ته وتښتي نومَينَه دي دري حَيضَ عِدّت تېر کړي که چيرې حَائِضَه وي.او که حائضه نَه وي نو دري مياشتي او که حَامِلَه وي نو وَضعِ حَمَل.او دده ميراث به د ده دمَيني او مسلمان وَارِثَانُ ترمينځ تقسيميږي.بيا که خُوښَه شي نو مَينَه دې وَادَه وکړي.او که مېړه د دارالحرب څخه ببرته راشي او دعِدّت د تېرېدو څخه مخکي توبه وکړي نو دواړه به پر نکاح باقي پاته وي .

[٣٠٨٨](١٠٩) وَتَقضِي الدّيُونَ الّتِي لَزِمَتهُ فِي حَالِ الإِسلاَمِ مِمّا اِكتَسَبَهُ فِي حَالِ الإِسلاَمِ وَمَا لَزِمَهُ مِنَ الدّيُونِ فِي حَالِ رِدّتِهِ يُقضْي مِمّا فِي حَالِ رِدّتِهِ .

(مصنّف ابن ابي شيبة ٣١ ماقالوا في المرتد اذا لحق بارض العدو وله امرأة ماحالهما؟ ج٦ص٤٤٥ نمبر٣٢٧٥٢) په دې اَثَرکي دئ چي که دارالحرب ته وُلاَرِ شي نو دده بنځه(مَينَه)به بَائِنَه شي او دده مَال به د وَارِثَانُ ترمينځ تقسيم شي .
اصول : چي مُرتَد شي دارالحرب ته مُلحِق شي نو هغه د مُردَه په درجه کي دئ .
لغت : لَحِقَ : مِلاَوَيدل.يَوځاى کيدل.گډيدل. حَلّت : د حُلُول څخه مُشتَق دئ فَوراً يې وخت راتلل.او وخت يې فَوراً پُورَه کيدل .
[٣٠٨٨](١٠٩) هغه قَرض چي د اِسلاَم په حالت کي لازم شوئ دئ دهغه مَال څخه دې اداء کړي چي د اِسلاَم په حالت کې ګټلئ دئ.او هغه قرض چي د مُرتَدوَالِي په حالت کي لازم شوئ دئ دهغه مَال څخه دې اداء کړي چي د اِرتِدَاد په حالت کې ګټلئ دئ .
تشريح : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي مُرتَد شوګواکه په هغه ګړي کي مَړ شو.البته د دُوبَارَه اِسلاَم قبلولو په اُمِيد به دده معامله مَوقُوف پاتيږي.چي کَلَه دئ دُوبَارَه مسلمان نَه شو نو د اِرتِدَاد د وخت څخه به مُردَه(مَړَئ)ګڼل کيږي. نوځکه د مرګ څخه مخکي يعني د اِسلاَم په حالت کي چې کُوم قرض اخستئ دئ هغه به دهغه مَال څخه اداء کيږي کُوم چي د اِسلاَم په حالت کي ګټلئ دئ.او د مرګ بَعد يعني د اِرتِدَاد بَعد چې کُوم قرض اخستئ دئ هغه به دهغه مَال څخه اداء کيږي کُوم چې د اِرتِدَاد بَعد ګټلئ دئ .
وجه : چي څه وخت مُرتَد شوپه هغه وخت دمَړي په درجه کي شو.صِرف د اِنتظَار او اُمِيد لپاره يې معامله مَوقُوف پاته کړه.دليل يې ددې حديث اِشَارَه ده. عَن عِكرَمَةَ

[٣٠٨٩](١١٠) وَ مَا بَاعَهُ اَو اِشتَرَاهُ اَو تَصَرّفَ فِيهِ مِن اَموَالِهِ فِي حَالِ رِدّتِهِ مَوقُوفٌ فَاِن اَسلَمَ صَحّت عُقُودُهُ وَاِن مَاتَ اَو قُتِلَ اَو لَحِقَ بِدَارِالحَربِ بَطَلَت .

قَالَ ... لِقَولِ رَسُولِ اللهِ مَن بَدّلَ دِينَهُ فَاقتُلُوهُ (الف) او په بَل رِوَايَت کي دئ. قَالَ (مَعَاذٌ) لاَ اَجلِسُ حَتّي يُقتَلَ قَضَاءُ اللهِ وَرَسُولُهُ ثَلاَثَ مَرّاتٍ فَاَمَرَ بِهِ فَقُتِلَ (ب) (بخاري شريف.باب حكم المرتدوالمرتدة واستتابهم ص١٠٢٢ نمبر٦٩٢٢/٦٩٢٣) په دې حديث کي دئ چي څوک مُرتَد شي فَوراً يې قتل کړئ.ددې څخه معلوم شوچي د اِرتِدَاد سره سَم دَستِي دئ د مَړي په

درجه کي وګرزېدئ.نوځکه د اِسلاَم قرض به د حَالِتِ اِسلاَم دګټي څخه او د اِرتِدَاد دحالت قرض به د اِرتِدَاد د زَماني دګټي څخه اداء کيږي .

[۳۰۸۹](۱۱۰) د اِرتِدَاد په حالت کي چي څه خرڅ کړي يايې رَانِيسِي يا په خپل کي تَصَرّف وکړي نو دا به ټوله مَوقُوف وي.که چيري اِسلاَم قبول کړئ نو دده معاملات به صحيح شي.او که دئ مَړ شو يا قتل کړل شو يا دارالحرب ته وَتَښتېدَئ نو اُوس به بَاطِل شي .

تشريح : د اِرتِدَاد په حالت کې شَئ خرڅ کړئ يايې رَانِيوَئ يايې په خپل مَال کي تَصَرّف وکړئ نو دا به ټوله موقوف پاته وي.که چيري اِسلاَم قبول کړئ نو دغه عَقُود به ټوله صِحّت پيدا کړي.او که د اِرتِدَاد په حالت کي مَړ شو يا قتل کړل شو يا دارالحرب ته وَتَښتېدَئ نو دغه ټوله عُقُود به بَاطِل شي .

وجه : (۱) مخته تېر شوي دي چي د مُرتَد مِلکِيّت او دده معامله تر اِسلاَم قبلولو

حاشيه : (الف) ځکه چي حضور (ﷺ) وفرمايل څوک چي دِين بَدَل کړي هغه قَتل کړئ (ب) حضرت معاذ وفرمايل ترڅو چي دئ دي نَه وي قتل کړئ تر هغه وخته نَه کښېنَم. دا د الله او دهغه د رَسُول (ﷺ) فيصله ده.دري واره يي وفرمايل.بيايي حُکم وکړئ يهودي يي قتل کړئ .

[۳۰۹۰](۱۱۱) وَ اِن عَادَ المُرتَدّ بَعدَ الحُکمِ بِلِحَاقِهِ اِلْي دَارِ الاِسلاَمِ مُسلِمًا فَمَا وَجَدَهُ فِي يَدِ وَرَثَتِهِ مِن مَالِهِ بِعَينِهِ اَخَذَهُ .

پُورِي مَوقُوف پاته کيږي.که چيري اِسلاَم قبول کړي نو مِلکِيّت او معاملات به بَحَال شي.او که اِسلاَم قبول نَه کړئ او مَړ شو نو د اِرتِدَاد د وُرَځِي څخه به مَړ شمارل کيږي.چي په نتيجه کي به د اِرتِدَاد څخه وروسته معاملاتِ ټولي بَاطِلِ شي.ځکه چي د مَړُو(مُردَه گَانُ)معاملات څه اِعتِبَار لري؟ (۲) په اَثَرکي و دي ته اِشَارَه شوي ده. عَن عَامِرٍ وَالحَکَمِ قَالاَ فِي الرّجُلِ المُسلِمِ يَرتَدّ عَنِ الإسلاَمِ وَيُلحِقُ بَاَرضِ العَدُوّ فَلتَعتَدّ اِمرَأ تُهُ ثَلاَثَةَ قُرُوءٍ اِن گَانَت تَحِيضُ. وَاِن گَانَت لاَتَحِيضُ فَثَلاَثَةُ اَشهُرٍ. وَاِن گَانَت حَامِلاً اَن تَضَعَ حَملَهَا وَيُقَسّمُ مِيرَاثُهُ بَينَ اِمرَأتِهِ وَوَرَثَتِهِ مِنَ المُسلِمِينَ ثُمّ تَزَوّجَ اِن شَاءَت وَاِن هُوَ رَجَعَ فَتَابَ مِن قَبلِ اَن تَنقَضِيَ عِدّتُهَا ثَبَتَا عَلْي نِگَاحِهِمَا (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۳۱ ماقالوا في المرتد اذا لحق بارض العدو وله امرأة ماحالهما؟ ج۶ص۴۴۵نمبر۳۲۷۵۲) د دې اَثَر په اَخِيرکي دئ چي که مُرتَد دخپلې مَيني دعِدّت د تېرېدو څخه مخکي توبه وکړي او اِسلاَم قبول کړي نو د دواړو نِگَاح به بَاقِي پاته شي.ددې څخه معلوم شو چي د عِدّت تر ختم کېدو پُورِي به د نِگَاح معامله موقوف پاته وي. او قِيَاس پر دغه نُورِي معاملاتِ به هم موقوف پاته وي.او لکه څه رنګه چي د عِدّت تر ختم کېدو وروسته اِسلاَم قبول کړي نو نکاح يي ختميږي دغه رنګه که د اِرتِدَاد په حالت کي مَړ شي يا قتل کړل شي يا دارالحرب ته وَتَښتِيږي نو دهغه عَقد به بَاطِل شي .

[٣٠٩٠](١١١) كه مُرتَد د اِلحَاق د حُكم وروسته دارالاسلام ته وَاپَس راشي نو چې د وَارِثَانُ په لاَس كي كُوم مَال بِعَينِهِ وموندي هغه دي واخلي .

حاشيه : (الف)عامر اوحكيم وفرمايل چې مسلمان مُرتَد شي او دارالحرب ته وتښتي نومَينه دې دري حَيضَ عِدّت تېر كړي كه چيري حَائِضَه وي.او كه حائضه نَه وي نو دري مياشتي او كه حَامِلَه وي نو وَضعِ حَمل.او دده ميراث به د ده دمَيني او مسلمان وَارِثَانُ ترمينځ تقسيميږي.بيا كه خُوښَه شي نو مَينَه دې وَادَه وكړي.او كه مېړه د دارالحرب څخه ببرته راشي او دعِدّت د تېرېدو څخه مخكي توبه وكړي نو دواړه به پر نكاح باقي پاته وي .

[٣٠٩١](١١٢) وَالمُرتَدّةُ اِذَا تَصَرّفَت فِي مَالِهَا فِي حَالِ رِدّتِهَا جَازَ تَصَرّفُهَا [٣٠٩٢](١١٣) وَ نَصَارْي بَنِي تَغلَبَ يُؤخَذُ مِن اَموَالِهِم ضِعفُ مَايُؤخَذُ مِنَ المُسلِمِينَ مِنَ الزكوٰةِ وَ يُؤخَذُ مِن نِسَائِهِم وَلاَيُؤخَذُ مِن صِبيَانِهِم .

تشريح : مُرتَد وتښتېدئ دارالحرب ته وُلاړئ.دهغه وروسته حاكم دده د تَښتېدلو فيصله وكړه.بيا هغه مسلمان شو ببرته وَاپَس دارالاسلام ته راغلئ نو دده كُوم مَال چې د وَارِثَانُ په لاَس كي بِعَينِه موجود دئ هغه دي وَاپَس ځيني واخلي.او كُوم چې مَصرَف كړئ دئ هغه ببرته نَه شي ځيني اَخستَلاَئي .

وجه : چې كُوم وخت د دارالحرب سره دده د اِلحَاق فيصله وشوه.دهغه وخته څخه دئ ګواكه مُردَه شمار دئ.نوځكه وَارِثَانُ چې كُوم مَال تقسيم كړئ دئ هغه يې مَالِكَان ګرزېدلي دي.او دهغوئي تَصَرّف كول صحيح دئ.لِهْذَا چې څه مَال دُوئي مَصرَف كړئ دئ دهغه ضَمان نَه لازميږي .

او كُوم مَال چې د وَارِثَانُ په لاَس كي بِعَينِه موجود دئ نو دې نَوِي مُسَلمَان شوي ته ددې زِيَات ضرورت شته.او په حقيقت كي هم دده ګټلئ مَال دئ نو ځكه دغه موجود مَال به ببرته وركوي .

[٣٠٩١](١١٢) مُرتَدّه چې دخپل اِرتِدَاد په زمانه كي تَصَرّف وكړي تَصَرّف يې جائز دئ .

وجه : چې مُرتَدّه بنځه نَه قتل كيږي بلكه تر توبه كولوپوري به په قَيد كي سَاتَل كيږي نو بنكاره خبره ده چې د خرڅولو او رَانِيوُلُو اِجَازَت به هم وي كه نَه نو ژُوَند به څَه رنګه تېروي؟ نوځكه دې ته به په خپل مَال كي دتَصَرّف كولو اِجَازَت وي .

[٣٠٩٢](١١٣) د بني تَغلَب د نصارْي څخه به د دُوئي په مَال كي دَبَل اخستل كيږي لكه څونه چې دمسلمانانُ څخه زكوٰة اخستل كيږي. د دُوئي دښځو څخه به اخستل كيږي او د دُوئي دكِشنِي بَچَانُ څخه به نَه اخستل كيږي .

تشريح : دمسلمانانُ څخه په څلوېښت دِرهَم كي يَو دِرهَم يعني په سَل كي دُوَه نِيم دِرهَم نو د بنوتَغلَب څخه به دهغه دَبَل يعني په شَل دِرهَم كي يَودِرهَم يعني په سَل كي پنځه

دِرهَم اخستل کیږي.د دُوئي دښځو په مَالُو کي به اَخستَل کیږي لېکن د دُوئي د کِشنِي بَچَانُ د مَالُو څخه به نَه اَخستَل کیږي .
وجه : اَثَر دئ. عَن عُمَرَ بنِ الخَطّابِ اَنّهُ صَالَحَ نَصَارْي بَنِي تَغلَبَ عَلْي اَن تُضعِفَ عَلَيهِمُ الزّكوْةُ مَرّتَينِ وَ عَلْي اَن لاَ يُنصِرُوا صَغِيراً وَ عَلْي اَن لاَ يُكرِهُوا عَلْي دِينِ غَيرِهِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٠٥ في نصارْي بني تغلب مايؤخذمنهم. ج٢ص٤١٧نمبر١٠٥٨١) په دې اَثَر کي دئ چې حضرت عمر د دُوئي سره پر دِبَل زکوْة صُلح وکړه او زکوْة په څلوېښت دِرهَم کي يَودِرهَم دئ نوځکه ددې دِبَل به په شَل دِرهَم کي يَو دِرهَم لازم شي.او زکوْة پر نَر او ښځه دواړو لازم دئ.نوځکه دا خِرَاج به هم پر نَر او ښځه دواړو لازم وي.او زکوْة پر کِشنِي بَچَانُ لازم نَه دئ لِهْذَا دغه خِرَاج هم پر کِشنِي بَچَانُ نَه لازميږي .
فائده : امامِ شافعي (ؒ) فرمايي چې بَنِي تَغلَب ذِمّيَان دي او پر ذِمّي خراج لازميږي که خَه هم زکوْة اِيښوَل شوئ وي.او جِزيَه پر ښځو او کِشنِيَانُ باندي نشته لِهْذَا دغه هم پر ښځو او کِشنِي بَچَانُ نَه لازميږي .
لغت : بَنِي تَغلَب : د يَو قَوم نُوم دئ حضرت عمر د دُوئي سره پر دِبَل زکوْة صُلح کړې وه.اُوس محال دغه قوم وُجُود نَه لري .

حاشيه : (الف) حضرت عمر د بنوتغلب د عِيسَائِيَانُ سره پر دې خبره صُلح کړې وه چې پر دُوئي به د زکوْة دِبَل (دُوچَندَ) لازم وي او په دې شرط سره چې کِشنَئ بَچَئ به عِيسَائِي نَه جوړوي او په دې شرط سره چې پر بَل دِين به نَه مجبوره کوي .

[٣٠٩٣](١١٤) وَمَا جَبَاهُ الاِمَامُ مِنَ الخِرَاجِ وَمِن اَموَالِ بَنِي تَغلَبَ وَمَا اَهدَاهُ اَهلُ الحَربِ اِلْي الاِمَامِ وَالجِزيَةُ تُصرَفُ فِي مَصَالِحِ المُسلِمِينَ فَتُسَدّ مِنهَا الثّغُورُ وَتُبنْي القَنَاطِرُ وَالجُسُورُ وَيُعطْي مِنهُ قُضَاةُ المُسلِمِينَ وَعُمّا لُهُم وَعُلَمَاؤُهُم مَايَكفِيهِم وَيُدفَعُ مِنهُ اَرزَاقُ المُقَاتَلَةِ وَ ذَرَارِيهِم .

[٣٠٩٣](١١٤) امام چې کُوم خِرَاج جمع کړي او د بنوتَغلَب دمَال څخه او کُوم چې اَهلِ حرب و امام ته هَديَه ورکړي او جِزيَه ورکړي هغه به دمسلمانانُ په مَصلَحَت کي مَصرَف کوي.په دغه سره به سَرحَدُونَه بندوي.پُلاَن به په جوړيږي.او ددغه څخه به دمسلمانانُ و قَاضِيَانُ ته.د دُوئي و عَامِلاَنُ ته او د دُوئي و عُلَمَاءُ ته ورکول کيږي چې څومره د دُوئي کِفَايَت په کيږي.او د دغه څخه به و غَازِيَانُ او د دُوئي و اَولاَدُو ته رُوزِينَه ورکول کيږي .

تشريح : د خِرَاج مَال.د بنوتَغلَب مَال.د حَربِيَانُ هَديَه.او جِزيَه او دغه رنګه مَالُونه د عُشر په شان د عِبَادَت مَال نَه دئ نوځکه دغه مَالُونَه دي د مسلمانانُ د فائدې لپاره مَصرَف کړي.مثلاً کافرانُ ته نژدې چې کُوم سَرحَدُونَه دي هغه دي په دغه مَال سره بَند او محفوظ کړي.پُلاَن دي په جوړ کړي.و مُسلِم قاضيان ته دي دُومرَه مَال او وَظِيفَه ورکړي چې د دُوئي او د دُوئي د اَولاَدُو لپاره کِفَايَت وکړي.دغه رنګه کُوم خلګ چې دمسلمانانُ د ګټې لپاره کارونه کوي يا هغه عُلماء چې د دِين د تبليغ کار کوي يا هغه مجاهدين چې په جهاد کي مَصرُوف وي دهغوئي لپاره او دهغوئي د اَولاَد لپاره چې ځومره رُوزِي او مَال ضرورت وي هغونه دي ورکړي .

وجه : (۱) ځکه چې دغه خلګ د مسلمانانُ د فائدې او ګټې لپاره کارونه کوي.او دغه مَذکُورَه ټوله مالونه د خلګو د فائدې لپاره مَصرَف کيږي.و دې ټولو کارو ته نَوَائِبُ المُسلِمِين وايي (۲) په حديث کي ددې ثبوت شته. عَن بَشِيرِ بنِ يَسَارٍ مَولٰي

[۳۰۹۴](۱۱۵) وَ اِذَا تَغَلَّبَ قَومٌ مِنَ المُسلِمِينَ عَلٰي بَلَدٍ وَخَرَجُوا مِن طَاعَةِ الاِمَامِ دَعَاهُم اِلٰي العَودِ اِلٰي الجَمَاعَةِ وَكَشَفَ عَن شُبهَتِهِم وَلاَ يَبدَأهُم بِالقِتَالِ حَتّٰي يَبدَؤُهُ .

الأنصَارِ ... وَعَزَلَ النِّصفَ البَاقِي لِمَن نَزَلَ بِهِ مِنَ الوُفُودِ وَالأُمُورِ وَنَوَائِبِ النّاسِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب ماجاء في حُكم اَرض خَيبَرَ ص۶۸نمبر۳۰۱۲) ددې حديث څخه معلوم شوچې مَالِ غَنِيمَت هم د نَوَائِبُ المُسلِمِين لپاره اِيښُودَل کېدلائي شي.نو قياس پر دغه د خِرَاج او دغه رنګه نور مَالُونَه هم د اُمُورِمُسلِمِين لپاره مَصرَف کېدلائي شي .

لغت : جَبَاهُ : وُصُول يې کړئ.جمع کړئ. تُسَدّ : د سَدّ څخه مُشتَق دئ بَندَوَل. اَلثّغُورُ : د ثِغرٌ جمع ده.سَرحَد. اَلقَنَاطِرُ : د قَنطَرَةٌ جمع ده.پُل. جَسرٌ : پُل. مُقَاتَلَةٌ : د قِتَالٌ څخه مُشتَق دئ جِهَاد کونکي.يعني مجاهدين. ذَرَارِيّ : د ذُرِّيَةٌ څخه مُشتَق دئ اَولاَد .

﴿...د بَاغِيَانُ اَحكَام... ﴾

[۳۰۹۴](۱۱۵) چې دمسلمانانُ يو قوم پر يَو بنَار غَلَبَه ومونډي او د اِمَام د اِطَاَت څخه وَوزِي نو دُوئي ته دي و جَمَاعَت ته د ښېرته رَاتلُو دَعوَت ورکړي.او د دُوئي شُبهَه دي رَفع کړي او تر څو چې دُوئي قِتَال شروع نَه کړي مونږ به د دُوئي سره قِتَال نَه کوو .

تشريح : چې د مسلمانانُ يَو جماعت د اِمَام څخه خِلاَف شي او دده د اِطَاعَت څخه وَوزِي او پر يَوبنَار باندي قَبضَه وکړي نو دُوئي ته دي دَعوَت ورکړي چې ښېرته په جَمَاعَت کي شَامِل شي.که چيري په جَمَاعَت کي د شَامِلېدُو يَوه شُبهَه وي نو هغه

حاشيه : (الف) د غنيمت هغه پاته نِيمَئ يې جَلاً کښېښوئ چې وُفُود (د بَارَنِي مېلمنو)لپاره او د معاملاتُ لپاره او دخلګو په مصائب کي د مرستي لپاره .

دي ليري کړي.او دُوئي خو مسلمانان دي نو تر څو چي دُوئي جنګ نَه وي شروع کړئ مونږ به د دغه جَمَاعَت سره جنګ نَه کوو .
وجه : (۱) په دې آيت کي و دې ته اِشَارَه شوې ده. وَ اِن طَائِفَتَانِ مِنَ المُؤمِنِينَ اِقتَتَلُوا فَاَصلِحُوا بَينَهُمَا فَاِن بَغَت اِحدَاهُمَا عَلَي الأُخرٰي فَقَاتِلُوا اَلَّتِي تَبغِي حَتّٰي تَفِيئَ اِلٰي اَمرِ اللهِ فَاِن فَاءَت فَاَصلِحُوا بَينَهُمَا بِالعَدلِ وَ اَقسِطُوا اِنَّ اللهَ يُحِبّ المُقسِطِينَ (الف) (آيت۹ سورة الحجرات ۴۹) په دې آيت کي دئ چي يَو بَاغَي جماعت قِتَال شروع کړي نو تاسو تر هغه وخته پوري قِتَال وکړئ تر څو چي دُوئي جَمَاعَت تسليم کړئ نَه وي.چي کُوم وخت دُوئي جماعت تسليم کړئ نو تاسو قَتل بَند کړئ او د اِصلاَح کارونه وکئ او اِنصَاف وکئ.ددې څخه معلوم شوچي که دُوئي قِتَال وکړي نو مونږ به هم قِتَال کوو.او که دُوئي تسليم شي نو مونږ به هم قِتَال بَندَ وُ (۲) په حديث کي دئ. سَمِعتُ عَرفَجَةَ قَالَ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) يَقُولُ اِنّهُ سَتَكُونُ هَنَاتٌ وَهَنَاتٌ فَمَن اَرَادَ اَن يُفَرّقَ اَمرَ هٰذِهِ الأُمّةِ وَهِيَ جَمِيعٌ فَاضرِبُوهُ بِالسّيفِ كَائِنًا مَن كَانَ (ب) (مسلم شريف.باب حكم من فرّق امر المسلمين وهومجتمع ص۱۲۸نمبر۱۸۵۲) ددې حديث څخه معلوم شوچي که يَو جماعت د مسلمانانُ د اِنتِشَار کولو کوشش وکي نو دهغه سره به قِتَال کيږي .
ددغه جماعت د شُبهې د ليري کولو کوشش به کيږي .
وجه : دحضرت علي څخه د حَرُورِيّه جماعت بَاغِي شو نو حضرت عبدالله بن عبّاس وُلاَړئ چي دُوئي پُوه کړي او د دُوئي شُبهَاتِ ليري.د دُوئي دري شُبهَاتِ وې چي دهغه يې تَسَلّي بَخش جوابونه ورکړل. د وُرد حديث ټکړه داده. حَدّثَنَا عَبدُاللهِ بِنِ

حاشيه : (الف) که د مؤمنانُ دوې دِلِي جنګ سره وکړي نو د دواړو تر مينځ اِصلاَح وکړئ.که چيري يوې دِلِي پر هغه بَلَه دِلَه زياتوب وکړئ نو د زيادت کونکي دِلِي سره تر هغه وخته وجنګيږئ تر څو چي دُوئي د الله د حُکم تَابِع شوي نَه وي.که چيري تَابِع شي نود دواړو تر مينځ په اِنصَاف سره اِصلاَح وکئ او اِنصَاف وکئ.الله تعالٰي اِنصَاف کونکي خُوښَه وي (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل چي حالات به خطرناک وي نو څوک چي اُمّت ځله جَلاَ کوي حالانکه اُمّت سره يَو ځائ وي نو هغه په ټُرَه سره وَوَهَئ.که هر څوک وي .

[۳۰۹۵](۱۱۶) فَاِن بَدَؤا قَاتَلَهُم حَتّٰي يُفَرّقَ جَمعُهُم وَ اِن كَانَت لَهُم فِئَةٌ اَجهَزَ عَلٰي جَرِيحِهِم وَ اُتبِعَ مُوَلّيهِم وَ اِن لَم يَكُن لَهُم فِئَةٌ لَم يُجهِز عَلٰي جَرِيحِهِم وَ لَم يُتبَع مُوَلّيهِم .

عَبّاسٍ قَالَ لَمّا خَرَجَتِ الحَرُورِيّةُ اِجتَمَعُوا فِي دَارٍ وَهُم سِتّةُ آلاَفٍ اَتَيتُ عَلِيًّا فَقُلتُ يَا اَمِيرَ المُؤمِنِينَ اَبرِد بِالظّهرِ لَعَلّي آتِي هٰؤلاَءِ القَومَ فَاُكَلّمَهُم ... قَالَ عَبدُاللهِ بِنِ عَبّاسٍ فَرَجَعَ مِنَ القَومِ اَلفَانِ وَقُتِلَ سَائِرُهُم عَلٰي ضَلاَلَةٍ (الف) (مستدرک للحاکم.کتاب قتال اهل البغي وهو آخر الجهاد.ج۲ص۱۶۴نمبر۲۶۵۶) په دې حديث کي دئ چي بَاغِي جماعت ته شُبهَه پيدا شي نو هغه دي پُوه کړي .

مورِ به په دې وجه اَوّل قِتَال نَه شروع کوو چې هغه هم مسلمانان دي.البته که چيري دُوئي ټينګه تَيّاري کړي وه او د دُوئي سره دجنګ بغيره بَلَه لاَرَه نَه وه نو په داسي صورت کي د اَوّل څخه هم د دُوئي خَاتِمَه کول جائز ده .

[۳۰۹۵](۱۱۶) که چيري دُوئي اِبتِدَاء وکړي نو د دُوئي سره دي قِتَال وکړي.ترهغه وخته چې د دُوئي ډَلَه ختم شي.او که چيري د دُوئي جَمَاعَت هم وي نو د دُوئي زَخمِيَان دي ګرفتار کړي.او چې وَتِيښتېدَل دهغو تَعَاقُب دي وکړي.او که جَمَاعَت نَه وي نو زَخمِيَان دې نَه ګرفتاروي او چې تِيښتِي دهغوتَعَاقُب دي نَه کوي .

تشريح : چې باغي جماعت زمورِ سره جنګ شروع کړي نو اُوس به د دُوئي سره قِتَال کيږي او دُومرَه قِتَال به کيږي چې د دُوئي جَمعِيّت مَات شي.که چيري بنَه سَم مُنَظّم جماعت وُ نو د دُوئي زَخمِيَان دي قَيد کړي او چې کُوم وَتَښتېدَل په هغو پسي دي وُلاړ شي چې دغه بَاغِي ډَلَه خپل حَوَاس د لاَس ورکړي او دُوبَارَه د بياجمع

حاشيه : (الف) عبدالله بن عبّاس فرمايي چې کُوم وخت دحروريّه خلګوخُرُوج وکړئ نو دُوئي په يوه کُور کي جمع شول.په هغه وخت دُوئي شُپَږ زَرَه نُفُوس وُ.زَه حضرت علي ته راغلم او ومِي ويل ائ اميرالمؤمنين! د مَاښِښين لمونځ په يَخني کي اداء که.زَه خَم ددې خلګو سره خبره کَوَم ... حضرت عبدالله بن عبّاس فرمايي چې د قوم څخه دُوُ زره کسانُ رُجُوع وکړه او هغه پاته پر کُمرَاهَئ باندي قتل کړل شول .

کېدو کوشش وَنَه کړي.او کُوم بَاغِيَان چې بنَه سَم مُنَظّم جماعت نَه لري دهغو زَخمِيَان دي نَه ټينګوي او چې تيښتي دهغو تَعَاقُب دي هم نَه کوي.ځکه چې دُوئي خو جماعت نَه لري هسي هم مُنتَشِر دي .

وجه : چې دُوئي جنګ شروع کړي بيابه مورِ قِتَال کوو دهغه دليل دا اَثَر دئ. خَاصَمَ عُمَرُ بِنِ عَبدِالعَزِيزِ الخَوَارِجَ فَرَجَعَ مَن رَجَعَ مِنهُم وَ اَبَت طَائِفَةٌ مِنهُم اَن يَرجِعُوا فَاَرسَلَ عُمَرُ رَجُلاً عَلٰي خَيلٍ وَ اَمَرَهُ اَن يُنزِلَ حَيثُ يُرحِلُونَ وَلاَيُحَرّكُهُم وَلاَيُهَيّجُهُم. فَاِن قَتَلُوا وَ اَفسَدُوا فِي الاَرضِ فَاَسلِطَ عَلَيهِم وَقَاتِلهُم وَ اِن هُم لَم يَقتُلُوا وَ لَم يُفسِدُوا فِي الاَرضِ فَدَعهُم يَسِيرُونَ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۳ ماذكر في الخوارج،ج۷ص۵۵۶نمبر۳۷۸۹۵) په دې اَثَرکي دئ چې که دُوئي قِتَال وکړي او په مځکه کي فَسَاد خُور کړي نو بيابه د دُوئي سره قِتَال کيږي.او که دُوئي جنګ نه کوي نو دُوئي پريږدئ چې په مځکه کي ګرزي.ددې څخه معلوم شوچې قِتَال شروع کړي بيابه د دُوئي سره قِتَال کيږي که نَه نو قِتَال به نَه کيږي .

چې د بَاغِيَانُ خپل مُنَظّم جماعت نَه وي نو د دُوئي زَخمِيَان دي نَه قيد کوي او چې تيښتي دهغو تَعَاقُب دي هم نَه کوي.دليل يې دا حديث دئ. عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لِعَبدِاللهِ بنِ مَسعُودٍ يَا اِبنَ مَسعُودٍ! اَتَدرِي مَاحُكمُ اللهِ فِيمَن بَغٰي مِن هٰذِهِ الأُمّةِ؟ قَالَ اِبنُ مَسعُودٍ اَللهُ وَرَسُولُهُ اَعلَمُ. قَالَ فَاِنّ حُكمُ اللهِ فِيهِم اَن لاَيُتّبَعَ مُدَبّرُهُم وَلاَ يُقتَلُ اَسِيرُهُم وَلاَ يُذَفّفُ عَلٰي جَرِيحِهِم (ب) (مستدرک للحاکم.

حاشيه : (الف) حضرت عمر بن عبدالعزيز د خوراج سره جګړه وکړه.دهغو څخه څه خلګ وَاپَس راغلو او يوه جماعت د وَاپَس راتلو څخه اِنګار وکړئ.نوحضرت عمر يَو سړئ پر آس واستاوئ او هغه ته حُکم وکړئ چې په کُوم ځائ کي دُوئي وسيږي هلته قيام وکه.او دُوئي مَه رَاپَارَوَه.که چيري دُوئي قِتَال وکړئ او په مځکه کي فَسَاد خُور کړئ نو پر دُوئي مُسَلَّط شئ او د دُوئي سره قِتَال وکئ.او که دُوئي نَه قِتَال وکړئ او نَه يې په مځکه کي فَسَاد خُور کړئ نو دُوئي پرېږدئ. ګرزيدي (ب) حضور (ﷺ) د عبدالله بن مسعود څخه پُوښتَنَه وکړه! ائ ابن مسعود! څوک چې په دې اُمّت کي بَغَاوَت وکړي تاته معلومَ ده دهغه څه سَزَاء ده؟ حضرت ابن مسعود وفرمايل الله او دهغه رسول ښَه خبر دي.وفرمايل د الله حُکم دادئ چې د تَښتېدُونکو خلګو تَعَاقُب وَنَه شي.او دهغو قَيدِيَان قتل نَه شي.دهغو زَخمِيَان قتل نَه شي .

[۳۰۹۶](۱۱۷) وَلاَ تُسَبَّي لَهُم ذُرِّيَّةٌ وَلاَ يُقسّمُ لَهُم مَالٌ .

کتاب قتال اهل البغي،ج۲ص۱۶۸نمبر۲۶۶۲/سنن للبيهقي.باب اهل البغي اذا فاروا لم يتّبع مدبّرهم ولم يقتل اسيرهم الخ ج۸ص۳۱۴نمبر۱۶۷۴۷) په دې حديث کي دئ چې کُوم بَاغِيَان وَتَښتيږي دهغو تَعَاقُب مَه کوئ او مَه دهغو قَيدِيَان قتل کوئ.او مَه دهغو زَخمِيَان قتل کوئ.ځکه چې هغه خو هم مسلمانان دي.او که چيري دغه بَاغِيَان خپله شَاتَه مُنَظّم جماعت لري نو بيا دي د دُوئي قَيدِيَان ګرفتار کړي.او کُوم چې وَتَښتېدَل دهغو تَعَاقُب دي په دې وجه وکړي چې دغه خلګ به دخپل جماعت سره يَوځائ شي نور زِيَات شَر به خُور کړي.او که چيري ددې تَوَقّع نَه وي نو بيادي نَه قَيدِي ګرفتاروي او نَه دي تَښتېدَلِي خلګ ټينګوي .

لغت : فِئَةٌ : جماعت. اَجهَزَ : قتل دې کړي. جَرِيحٌ : د اِسمِ مَفعُول په معنْي دئ زخمي. مُوَلّي : د وَلّي څخه مُشتَق دئ.چې وَتَښتِيږي. شَا وګرزوي .

[۳۰۹۶](۱۱۷) نَه دي د دُوئي اَولاَد قَيد کوي او نَه دي د دُوئي مَال تقسيموي .

تشريح : دمسلمان بَاغِيَانُ اَولاَدُونَه دي نَه قَيدکوي چې مينځي او غُلاَمَان ځيني جوړکړي او نَه دي د دُوئي مَالُونَه غَنِيمَت ګرزوي چې تقسيم يې کړي .

وجه : (۱) دغه خلګ مسلمانان دي نوځکه د دُوئي اَولاَدُونَه مينځي يا غُلاَمَان نَه شي ګزېدلائي او نَه د دُوئي مَال تقسيم کېدلائي شي (۲) په اَثَر کي ددې ثبوت شته. اَمَرَ عَلِيٌّ مُنَادِيَهُ فَنَادْي يَومَ البَصرَةِ لاَ يُتّبَعُ مُدَبّرٌ وَلاَ يُذَفّ عَلْي جَرِيحٍ وَلاَيُقتَلُ اَسِيرٌ وَمَن اَغلَقَ بَابَهُ فَهُوَ آمِنٌ وَمَن اَلقْي سَلاَحَهُ فَهُوَ آمِنٌ وَ لَم يَأخُذ مِن مَتَاعِهِ شَيئًا (الف) په بَل روايت کي دئ. سَئَِلَ عَلِيّاً عَن سَبيِ الذّرّيةِ فَقَالَ لَيسَ عَلَيهِم سَبيٌ اِنّمَا قَاتَلَنَا مَن قَاتَلَنَا (ب)

حاشيه : (الف) حضرت علي مُنَادِي ته حُکم وکړئ چې دبَصرَه د جنګ په وُرَځ دا اِعلاَن وکړي. څوک چې تِيښتِي دهغه تَعَاقُب مَه کوئ.زَخمِيَان مَه قتلوئ.قَيدِيَان مَه قتلوئ.او چاچې دَروَازَه بند کړه هغه په اَمَن دئ.او چاچې خپله اَسلَحَه تَسَه کړه هغه په اَمَن دئ.او دهغه د سَامَان څخه هيڅ شَئ مَه اَخلَئ (ب) دحضرت علي څخه د بَاغِيَانُ د بَچَانُ د قَيدکولو په اړه پُوښتَنَه وکړه. وفرمايل پر دُوئي قَيد نشته.چاچې زمونږ سره جنګ وکړئ مونږ دهغه سره جنګ وکړئ .

[۳۰۹۷](۱۱۸) وَ لاَ بَأسَ بِاَن يُقَاتِلُوا بِسَلاَحِهِم اِن اِحتَاجَ المُسلِمُونَ اِلَيهِ .

(سنن للبيهقي.باب اهل البغي اذا افادوا لم يتبع مدبّرهم ولم يقتل اسيرهم الخ ج۸ ص۳۱۴نمبر۱۶۷۴۷/ ۱۶۷۴۹)
ددې دواړو اَثَرُو څخه معلوم شوچې د دُوئي اَولاَدُونَه مينځي او مَرَيَان نَه شي جوړېدلائي.او نَه د دُوئي مَال تقسيم کېدلائي شي .
لغت : تَسبِي : د سَبيٌ څخه مُشتَق دئ قَيدِي ګرزول. ذُرِّيّةٌ : اَولاَد .
[۳۰۹۷](۱۱۸) او هيڅ حرج نشته چې د دُوئي په اَسلَحَه جنګ وکړي که چيرې مسلمانانُ ته ددې ضرورت وي .
تشريح : که مسلمانانُ ته ضرورت پېښ شي چې د بَاغِيَانُ په اَسلَحَه جنګ وکړي نو مسلمانان په دغه اَسلَحَه جنګ کولائي شي .
وجه : (۱) د جنګ په مَيدَان کي کله نا کله ددې شِي ضرورت پېښيږي نوځکه ددې ګُنجَائِش شته (۲) په اَثَرکي ددې ثبوت شته. کَانَ عَلِيٌّ اِذَا اُتِيَ بِاَسِيرٍ يَوَ صِفِّينَ اَخَذَ دَابّتَهُ وَ سَلاَحَهُ وَ اَخَذَ عَلَيهِ اَن يَعُودَ وَ خَلّْي سَبِيلَهُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۲ باب ما ذكر في صِفّين ج۷ص۵۴۸نمبر۳۷۸۴۸) په دې اَثَرکي دئ چې د قَيدِيَانُ اَسلَحَه او سُوارلَئ يې ځينې اخستلې.ددې څخه معلوم شوچې د بَاغِيَانُ څخه اَسلَحَه اخستل جائز ده چې دُوئي دُوبَارَه بيا جنګ وَنَه کړي.او چې اَسلَحَه اخستل جائز ده نو دهغه اسلحې اِستِعمَال هم جائز دئ .
فائده : امامِ شافعي (ؒ) فرمايي چې دمسلمان شئ د هغه د اِجَازت بغيره اِستِعمَالوَل جواز نَه لري. دُوئي که څَه هم بَاغِيَان دي لېکن د دُوئي اَسلَحَه استعمالول جواز نَه لري .
لغت : سَلاَحٌ : اَسلَحَه .

حاشيه : (الف) حضرت علي ته به د صِفّين په جنګ کي قَيدِيَان رَاحَاضِرَوَل دهغه سُوَارلَئ او اَسلَحَه به اخستله. او دهغه څخه به عَهد اخستئ چې دُوبَارَه به جنګ نَه کوي بيا به پرېښوَل (ځکه چې هغه قَيدِيَان مسلمانان وُ)

[۳۰۹۸](۱۱۹) وَ يُحبَسُ الاِمَامُ اَموَالَهُم وَ لاَ يَرُدّهَا عَلَيهِم وَ لاَ يُقَسِّمَهَا حَتّْي يَتُوبُوا فَيَرُدّهَا عَلَيهِم .

[۳۰۹۸](۱۱۹) او اِمَام دي د دُوئي مَالُونَه قبضه کړي او بېرته دې وَاپَس نَه ورکوي اونَه دې تقسيم کوي ترهغه وخته چې توبه وکاړي بيادي هغه دُوئي ته وَاپَس کړي.
تشريح : دغه ټولي مسئلې پر دې اُصُول متفرّع دي چې دُوئي خو مسلمانان دي نوځکه مَال خو يې غَنِيمَت نَه شي کېدلائي.لېکن دَادَوَل صورت به ضررو اِختِيَار کيږي چې دُوئي دُوبَارَه بيا د جنګ قَابِل پاته نَه شي.نو ځکه اِمَام دي د دُوئي مالونه قبضه کړي او تر څو چې توبه يې نَه وي کړې تر هغه وخته دې نَه ورکوي. البته چې توبه وکړي نو اِمَام دي د دُوئي مالونه بېرته ورکړي .
وجه : مخته اَثَر تېرشوئ دئ چې حضرت علي د قَيدِيَانُ څخه دا وَعدَه اخستله چې دُوبَارَه به بيا جنګ نَه کوي.چې وَعدَه به وکړه بيابه يَلَه کاوئ. کَانَ عَلِيٌّ اِذَا اُتِيَ بِاَسِيرٍ يَوَ صِفّينَ اَخَذَ دَابّتَهُ وَسَلاَحَهُ وَاَخَذَ عَلَيهِ اَن يَعُودَ وَخَلّْي سَبِيلَهُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۲

باب ماذكر في صِفّين ج٧ص٥٤٨نمبر٣٧٨٤٨) په دې اَثَرکي دئ وَاَخَذَ عَلَيهِ اَن يَعُودَ وَخَلّٰي سَبِيلَهُ يعني د جنګ څخه دي ببرته وَاپَس وُلاړ شي نو هغه به پرېښوَئ ... او د توبه کولو وروسته به مَال وَاپَس ورکاوئ دهغه دليل دا اَثَر دئ. لَمّا جِيئَ عَلِيٌّ بِمَا فِي عَسكَرِ اَهلِ النّهرِوَانَ قَالَ مَن عَرَفَ شَيئًا فَلْيَأخُذهُ. قَالَ فَأُخِذَت اِلاّ قِدرٌ ثُمّ رَاَيتُهَا بَعدُ قَد اُخِذَت (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ٣ ما ذكر في الخوارج، ج٧ص٥٦٣نمبر٣٧٩٣٠) په دې اَثَر کي دئ چې حضرت علي د نَهرَوَان مَال وَاپَس ورکړئ او دَادَوَل يې وفرمايل ,,څوک چې خپل مَال وَپېژَنِي هغه دي واخلي,, ددې څخه معلوم

حاشيه : (الف) حضرت علي ته به د صِفّين په جنګ کي قَيدِيَان رَاحَاضِرَوَل دهغه سُوَارلَئ او اَسلَحَه به اخستله. او دهغه څخه به عَهد اخستئ چې دُوبَارَه به جنګ نَه کوي بيا به پرېښوَل (ځکه چې هغه قَيدِيَان مسلمانان وُ) (ب) چې کله حضرت علي ته د نَهرَوَان لښکر رَاوَستَل شو وفرمايل به څوک چې خپل شَئ پېژَنِي هغه دي واخلي.رَاوِي وايي خلګوتوله مالونه واخستل مګر يَو دېګچي پاته شو.بيا مَا وليدئ چې هغه هم يَوچا وَرَئ وُ .

[٣٠٩٩](١٢٠) وَمَا جَبَاهُ عَلْي اَهلِ البَغيِ مِنَ البِلاَدِ اَلّتِي غَلَبُوا عَلَيهَا مِنَ الخِرَاجِ وَالعُشرِ لَم يَأخُذهُ الاِمَامُ ثَانِيًا فَاِن كَانُوا صَرّفُوهُ فِي حَقّهِ اَجزَأ مَن اُخِذَ مِنهُ .

شوچي د توبه کولو وروسته به دبَاغِيَانُ مَال ببرته وَاپَس ورکوي .

[٣٠٩٩](١٢٠) د خِرَاج او عُشر څخه هرڅَه چې بَاغِيَانُ وصول کړي دي دهغه بنَارُو څخه ګُوم چې دُوئي پر غَالِب شوي دي نو اِمَام دې د دُوئي څخه دُوبَارَه نَه اَخلِي.که چيري هغه پر صحيح ځايُو مَصرَف کړئ وُ نو د هغوئي لخوا څخه به کِفَايَت وکړي د چا څخه چې اَخَستَل شوئ دئ .

تشريح : بَاغِيَان چې پر کومو بنَارُو غَالِب شوي وُ دهغه ځائ د خلګو څخه خِرَاج يا عُشر يا زکوٰة وصول کړئ وُ نو د مَالِکَانُ لجانِب څخه اداء شو.چې اِمَام دُوبَاره پر دغه بنارو باندي قَابِض شي نو ددغه خلګو څخه به دُوبَارَه عُشر.خِرَاج يا زکوٰ ة نَه اخستل کيږي.اُوس بَاغِيَانُ پر صحيح مَصرَف باندي خرچ کړئ دئ نو د مَالِکَانُ لخوا څخه په مُکَمّلَه توګه اداء شو.مَالِکَانُ ته دُوبَارَه د اداء کولو ضرورت نشته .

وجه : (١) په حديث کي دئ. که حَبَشِي غُلاَم پر تاسو اَمِير شي نو هم دهغه اِطَاعَت کول په کار دئ.لِهٰذَا که چيري بَاغِي حَاکِم جوړ شي دهغه اِطَاعَت هم ضرروي دئ. او د اِطَاعَت يوه حِصّه دا هم ده چې ده ته زکوٰة.صَدَقَات.عُشر او خِرَاج ورکړي او هغه اداء هم شي. حديث دادئ. عَن اَبِي ذَرٍّ قَالَ اِنّ خَلِيلِي اَوصَانِي اَن اَسمَعَ وَ اُطِيعَ وَ اِن كَانَ عَبداً مَجدَعُ الاَطرَافِ (الف) (مسلم شريف.باب وجوب طاعة الأمراء في غَيرِمعصِيةٍ وتحريمهافي المعصية ص١٢٤نمبر١٨٣٧/سنن للبيهقي.باب اهل البغي اذا غلبوا علٰي بَلَدٍ واخذوا صدقات اَهلِهَا واقاموا عليهم الحدود ولم تعد عليهم ج٨ص٣٢٠نمبر١٦٧٦٨) په دې حديث کي دئ چې د هَر اَمِير اِطَاعَت کوئ.ددې څخه معلوم شوچي د عُشر او زکوٰ ة ادائيګي يې

حاشيه : (الف) حضرت ابوذر وفرمايل چي زُومَا خليل مَاتَه وَصِيّت كړئ دئ چي زَه وَاوړَم او اِطَاعَت وكړم چي خَه هم اَطرَاف كَاتِ شوئ مَرَيَئ اَمِير شوئ وي .

[٣١٠٠](١٢١) وَ اِن لَم يَكُونُوا صَرَفُوهُ فِي حَقِّهِ فَعَلْي اَهلِهِ فِيمَا بَينَهُ وَبَينَ اللهِ تَعَالْي اَن يُعِيدُوا ذَالِکَ .

صحيح ده (٢) په اَثَر كي دئ. سَألتُ سَعِيداً وَ اِبنَ عُمَرَ وَ اَبَاهُرَيرَةَ وَ اَبَاسَعِيدٍ فَقُلتُ اِنّ لِي مَالاً وَ اَنَا اُرِيدُ اَن اَعطِي زَكوْ تَهُ وَلاَ اَجِدُ لَهَا مَوضِعًا وَهْؤلآءِ يَصنَعُونَ فِيهَا مَا تَرَونَ. فَقَالَ كُلّهُم اَمَرُونِي اَن اَدفَعَهَا اِلَيهِم (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ٤٨ من قال تدفع الزكوْة الْي السّلطان.ج٢ص٣٨٤نمبر١٠١٨٩) په دې اَثَركي دئ چي اُمَرَاء كه هر خَه كوي خو زمور زكوْ ة اداء كيږي.خُكه چي هغه اَمِيرَان جوړ شوي دي (٣) يَو بَل اَثَر دئ. سَألتُ اِبنَ عُمَرَ فَقَالَ اِدفَعهَا اِلَيهِم وَ اِن اَكَلُوا بِهَا لَحُومُ الكِلاَبِ فَلَمّا عَادُوا اِلَيهِ قَالَ اِدفَعهَا اِلَيهِم وَ اِن اَكَلُوا بِهَا البُسَارُ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ٤٨ من قال تدفع الزكوْ ة الْي السّلطان ج٢ص٣٨٤نمبر١٠١٩٢) ددې اَثَر څخه معلوم شوچي اَمِير كه هَر رنګه وي خو زكوْ ة.عُشر به و ده ته وركول كيږي.بيا كه چيري هغه په صحيح مَصرَف كي اِستِعمَال كړئ مثلاً زكوْ ة.عُشر يې و فُقَرَاء او مسكينانُ ته وركړئ نو د مَالِک لخوا څخه به زكوْ ة اداء شي .

لغت : جَبَاهُ : وصول يې كړئ.جمع كړئ .

[٣١٠٠](١٢١) او كه دهغه پر خپله موقع مَصرَف نَه كړئ نو دِيَانَةً پر مَالِک دادئ چي دُوبَارَه يې اداء كړي .

تشريح : بَاغِيَانُ زكوْ ة وصول كړئ او هغه يې پر غُرَبَاءُ او مَسَاكِينُ مَصرَف نَه كړئ بيا هم زكوْ ة اداء شو.لېكن ضروري دئ چي غُرَبَاء او مساكين د زكوْ ة مَالِكَان جوړ

حاشيه : (الف) رَاوِي وايي چي مَا دحضرت سعيد.ابن عمر.ابوهريرة او ابوسعيدخدري څخه پُوښتَنَه وكړه.مَا وويل چي زُومَا سره مَال موجود دئ زَه غُوَارِم چي دهغه زكوْ ة اداء كړم چي دهغه لپاره هيڅ څوک نَه ملاوَيږي.او دغه اَمِيرَن چي كُوم حَرَكَتُونَه كوي نو ستاسو خَه رَأيَه ده؟ ټولو مَاتَه حكم وكړئ چي و دغه اَمِيرَانُ ته زكوْ ة حَوَالَه كړم (ب) مَا د ابن عمر څخه د زكوْ ة په اړه پُوښتَنَه وكړه نو وفرمايل دې اَمِيرَانُ ته وركه كه خَه هم په دې سره د سُبِي غُوَښِي وَخُورِي.بيايې دُوبَارَه پُوښتَنَه وكړه نو وفرمايل دې اَمِيرَنُ ته وركه خَه هم نِيم پُختَه خُورمَا وَخُورِي.زكوْ ة به اداء شي .

كړي او ده مَالِكَان نَه دي جوړ كړي نو څكه دِيَانَةً په كار دئ چي زكوْ ة دُوبَارَه اداء كړي.او په خپله بَايَد فُقَراء او مساكين د زكوْ ة مَالِكَان وګرزوي .

وجه : په آيت كي دئ. اِنّمَا الصّدَقَاتُ لِلفُقَرَاءِ وَالمَسَاكِينِ وَالعَامِلِينَ عَلَيهَا (الف) (آيت ٦٠ سورة التوبة ١٩) په دې آيت كي د لِلفُقَرَاء ,,لاَم,, د تَمليک لپاره دئ.نوځكه بَايَد فُقَرَاء مَالِكَان وګرزوي.او ده مَالِكَان نَه دي ګرزولي لِهْذَا دُوبَارَه دې اداء كړي. لېكن دا **فِيمَا بَينَهُ وَبَينَ اللهِ** دئ.د قضاء په توګه دا وَاجِب نَه دئ.خُكه چي د قَضَاء په توګه خو زكوْ ة اداء شوئ دئ .

پام لرنه : د خِرَاج او عُشر دُوبَارَه ورکولو ضرورت نشته ځکه چې د هغه لپاره فُقَرَاء مَالِکَان ګرزول ضروري نَه دئ.چې پُل يا دغه رنګه بَل د عام خلګو د فائدې په کار کې اِستِعمال شي هغه هم کِفَايَت کوي.او ظَالِم بَاچَا(بَادشَاه)هم دغه کارونه کوي نو ځکه خِرَاج او عُشر به اداء شي .

ک

حاشيه : (الف) زکوٰ ة د فُقَرَاء.مَسَاکِينُ او چې پر هغه کار کونکي دي دهغو لپاره دئ .

﴿... کِتَابُ الحَظَرِ وَالإِبَاحَةِ ...﴾

[۳۱۰۱](۱) لاَيَحِلّ لِلرِّجَالِ لُبسُ الحَرِيرِ وَيَحِلّ لِلنِّسَاءِ .

﴿... کِتَابُ الحَظَرِ وَالإِبَاحَةِ ...﴾

ضروري پام لرنه : د حَظَر معنْي ده مَنعَ کول او د اِبَاحَة معنْي مُبَاح ګرزول.په دې کتاب کې به دا بيان وي چې کُوم کارونه مَمنُوع دي؟ او کُوم کارونه مَبَاح دي؟

[۳۱۰۱](۱) د نَر لپاره رِيشَم اَغُوستَل حرام دي او دښځې لپاره حلال دي .

وجه : په حديث کې دئ. عَن حُذَيفَةَ قَالَ نَهَانَا النّبِيّ (ﷺ) اَن نَشرِبَ فِي آنِيَةِ الذّهَبِ وَالفِضّةِ وَ اَن نَأکُل فِيهَا وَعَن لُبسِ الحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ وَ اَن نَجلِسَ عَلَيهِ (الف) (بخاري شريف.باب افتراش الحرير ص۸۶۸نمبر۵۸۳۷/مُسلم شريف.باب تحريم استعمال اناء الذهب والفضّة علْي الرّجَالِ والنِّسَاء وخاتم الذهب والحريرعلْي الرّجَالِ و اَبَاحَتُهُ لِلنِّسَاءِ ج۲ص۱۸۸نمبر۲۰۶۷/ ۲۴۰۰/ابوداؤدشريف.باب ماجاء في لُبس الحريرج۲ص۲۰۴نمبر۴۰۴۳) ددې حديث څخه معلوم شوچې د نَرَانُ لپاره رِيشَمِي کپړه اَغُوستَل حرام ده .

د ښځو لپاره ریښَم حلال دئ دهغه دلیل دا حدیث دئ (۱) عَن عَلِيّ بِنِ اَبِي طَالِبٍ قَالَ كَسَانِي النّبِيّ (ﷺ) حُلّةً سَيرَاءَ فَخَرَجتُ فِيهَا فَرَأيتُ الغَضَبَ فِي وَجهِهِ فَشَقَقتُهَا بَينَ نِسَائِي(ب)(بخاري شريف.باب الحريرللنّساءص۸۶۸نمبر۵۸۴۰/مسلم شريف.باب تحريم لبس الحريروغيرذالک لِلرّجَالِ ج ۲ ص۱۸۸نمبر۲۰۶۸) ددې حديث څخه معلوم شو چې دښځو لپاره ریښم حلال دئ (۲) په ابوداؤدشریف کې دئ. اَنّهُ سُمِعَ عَلِيّ بِنِ اَبِي طَالِبٍ يَقُولُ اِنّ نَبِيّ اللهِ اَخَذَ حَرِيراً فَجَعَلَهُ فِي يَمِينِهِ وَ اَخَذَ ذَهَبًا فَجَعَلَهُ فِي شِمَالِهِ ثُمّ قَالَ اِنّ هٰذَينِ حَرَامٌ عَلٰي ذُكُورِ اُمّتِي (ج)

حاشيه : (الف) حضرت حذيفه فرمايي چې حضور (ﷺ) زَه منع کړم چې زَه د سُړو او سُپِينُ زَړو په لُوښي کې اُوبَه وَچِيبَم او په هغه کې خُوَرَاک وکړم.او د ریښَم او بَارِيک ریښَم د اَغُوَستَلُو څخه او پر هغه د کښېنَستَلُو څخه منع کړم (ب) حضرت علي فرمايي چې حضور (ﷺ) مَاتَه د ریښَم خُلّه راکړه. مَا هغه وَاغُوَستَلَه رَاوَوتَم نو دحضور (ﷺ) پر چهرَه مُبَارَکَ د خَبنَم آثَار ښکاره شول نو مَا هغه خِيرِي کړه د ښځو تر مینځ مِي تقسيم کړه (ج) حضرت علي فرمايي چې حضور (ﷺ) په خپل ښِي لاَس کي ریښم او په کِنِ لاَس کي سَرَه زَر واخستل بيايي وفرمايل دغه دواړه زُومَا د اُمّت پر نَرَانُ حرام دي .

[۳۱۰۲](۲) وَ لاَ بَأسَ بِتَوَسّدِهِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي وَقَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰي يُكرَهُ تَوَسّدُهُ .

(ابوداؤدشريف.باب في الحرير للنّساء ص۲۰۶نمبر۴۰۵۷) ددې حديث څخه هم معلوم شوچې د نَرَانُ لپاره حَرَام دئ لېکن دښځو لپاره جائز دئ .

[۳۱۰۲](۲) او د امام ابوحنيفه په نېز هيڅ مضائقَه نشته چې پر هغه څنګ ولګوي او د صاحبينُ په نېز څنګ لګول مکروه دئ .

تشريح : د رِيښَم پربَالَښت څنګ لګولوکي د امام ابوحنيفه(رح)په نېزکُوم حَرَج نشته.

وجه : په نَصبُ الرّاية کې اَثَر نقل کړئ دئ. حَدّثَنَا عَمرُو بِنِ اَبِي المِقدَامِ عَن مُؤذّنِ بَنِي دَوَاعَةَ قَالَ دَخَلتُ عَلٰي اِبنِ عَبّاسٍ وَهُوَ مُتّكِئ عَلٰي مِرفَقَةِ حَرِيرٍ وَسَعِيدُبنِ جُبَيرٍ عِندَ رِجلَيهِ (الف) (نصب الرّاية ج۲ص۲۸۳/اعلاء السنن.باب الاتّكاء علٰي مرفقة الحرير لِلرّجَالِ ج ۱۷ ص۳۸۰نمبر۵۶۶۴) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې د رِيښَم پر بَالَښت څنګ لګول کُوم حرج نَه لري .

فائده : صاحبين(رح) فرمايي د رِيښَم پر بَالَښت څنګ لګول مکروه دئ .

وجه : مخته د بخاري شريف حديث تېرشوئ دئ په هغه کي دا وُ چې حضور (ﷺ) پر رِيښَم باندي د کښېنَستَلُو څخه هم منع وکړه.نوځکه دهغه پر بَالَښت څنګ لګول هم مکروه دئ.حديث دادئ. عَن حُذَيفَةَ قَالَ نَهَانَا النّبِيّ (ﷺ) اَن نَشرِبَ فِي آنِيَةِ الذّهَبِ وَالفِضّةِ وَ اَن نَأكُلَ فِيهَا وَعَن لُبسِ الحَرِيرِ وَالدّيبَاجِ وَ اَن نَجلِسَ عَلَيهِ (ب) (بخاري شريف.باب افتراش الحريرص۸۶۸نمبر۵۸۳۷) په دې حديث کي دئ چې حضور(ﷺ) پر رِيښَم د کښېنَستَلُو څخه هم منع وکړه.لِهٰذَا د رِيښَم پر بَالَښت باندي څنګ لګول هم مکروه دئ .

لغت : تَوَسّدَ : د وِسَادَةٌ څخه مُشتَق دئ څنګ لګول.تَکيَه جوړول .

حاشيه : (الف) مؤذّن بن دواعه وايي چې زَه حضرت ابن عبّاس ته راغلم ده د رِيښَم پر بَالَښت څنګ لګولئ وُ او سعيدبن جبير دده د پُښُو سره موجود وُ (ب) حضرت حذيفه فرمايي چې حضور (ﷺ) زَه منع کړم چې زَه د سُړو

او سُپِينُ زَرُو په لُوښي کي اُوبَه وَڅِيښَم او په هغه کي خُوَرَاک وکړم.او د رِيشَم او بَارِيک رِيشَم د اَغُوَستَلُو څخه او پر هغه د کښيَنَستَلُو څخه منع کړم .

[۳۱۰۳](۳) وَلاَ بَأسَ بِلُبسِ الحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ فِي الحَربِ عِندَهُمَا وَيُكرَهُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي .

[۳۱۰۳](۳) هيڅ حرج نشته په جنګ کي د رِيشَم او دِيبَاج په اَغُوستَلُو کي د صاحبينُ په نيز.او د امام ابوحنيفه په نيز مکروه دي .

تشريح : دجنګ په مَيدَان کي رِيشمِي او دِيبَاج يعني نَرَئ رِيشَم وي نو دهغه کپړې که وَاغُوندِي صاحبين فرمايي په دي کي کُوم حرج نشته .

وجه : (۱) عَن عَطَاءَ قَالَ لاَ بَأسَ بِلُبسِ الحَرِيرِ فِي الحَربِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۳ من رَخّص في لبس الحرير في الرحرب اذا كان له عُذرٌ ج۵ص۱۵۳نمبر۲۴۶۶۳/مصنّف عبدالرّزاق.باب الحرير والدِّيبَاج وآنية الذّهب والفضّة ج۱۱ ص۷۱نمبر۱۹۹۴۳) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي په جنګ کي رِيشمِي کپړه اَغُوَستَل جائز ده (۲) رِيشمِي کپړه چي درې واره غَبَرګَه کړې بيا پر هغه ټُرَه بنکيرِي نو ددې په اَغُوَستَلُو کي د ځان حِفَاظَت دئ.بَلَه خبره دا چي دغه ځلبدَلي او بنائِستَه کپړه چي وَاغُوندي دُښمَن زِيَات مَرعُوب کيږي نو په دې وجه هم د رِيشمِي کپړې د اَغُوَستَلُو ګنجائش شته (۳) په حديث کي دئ چي د خَارِش په وجه د رِيشمي کپړې اِجَازَت ورکړئ دئ.او په جنګ کي خو تر دې هم زيات ضرورت وي نو ځکه د رِيشمي کپړې د اَغُوَستَلُو اِجَازَت بايد وي.حديث دادئ. عَن اَنَسٍ اَنّ عَبدَالرّحمٰنَ بِنِ عَوفٍ وَالزّبَيرَ شَكَوا اِلَي النّبِيّ (ﷺ) يَعنِي اَلقُمّلَ فَاَرَخّصَ لَهُمَا فِي الحَرِيرِ فَرَأيتُهُ عَلَيهِمَا فِي غَزَاةٍ (ب) (بخاري شريف.باب الحرير في الحرب ص۴۰۹نمبر۲۹۲۰/ابوداؤدشريف.باب في لبس الحريرلعُذرٍص۲۰۶نمبر۴۹۵۶/ترمذي شريف.باب ماجاء في الرّخصة في لبس الحرير في الحرب ص۳۰۲نمبر۱۷۲۲) ددې حديث څخه معلوم شوچي د خَارِش د عُذر په وجه رِيشمِي کپړه اَغُوَستَلاَئِي شي.او د ترمذي او بخاري په حديث کي خو صَرَاحَت شوئ دئ چي صَحَابِي به په جنګ رِيشمي کپړه اَغُوَستَله .

حاشيه : (الف) حضرت عطاء وفرمايل په جنګ کي رِيشَم اَغُوَستَل هيڅ حرج نَه لري (ب) حضرت عبدالرّحمٰن او حضرت زبير دسُپُورُو شکايت وکئ نو دواړو ته د رِيشَم اِجَازَت ورکړئ.په غَزوَه کي مِي پر دواړو رِيشَم وليدئ .

[۳۱۰۴](۴) وَلاَ بَأسَ بِلُبسِ المُلحَمِ اِذَا كَانَ سُدَاهُ اِبرِيسَمًا وَلُحمَتُهُ قُطنًا اَو خَزّاً .

فائده : امام ابوحنيفه (ر) يې په دې وجه مکروه ګڼي چي په حديت کې حُرمَت راغلئ دئ .

وجه : يَو اَثَر دا هم دئ. عَن عِكرَمَةَ اَنّهُ كَرِهَهُ فِي الحَربِ وَقَالَ اَرجُي مَايَكُونُ لِلشّهَادَةِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۳ من رَخّصَ في لبس الحريرفي الحرب اذا كان له عُذرٌج۵ ص۱۵۴نمبر۲۴۶۶۶) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي په جنګ کي رِيشمِي کپړه اَغُوَستَل مکروه ده .

[۳۱۰۴](۴) او د مَلحَم په اَغُوَستَلُو کي کُوم حرج نشته چي تَانَا يې ريښَم او بَانَا يې سُوت يا اُون وي .
تشريح : کيږه د تَاني(تَانِستَه) څخه نَه جوړيږي بلکه د بَاني څخه جوړيږي نو ځکه اَصل بَانَا مُعتَبَرَ ده. که چيري بَانَا د سُوت يا د اُون څخه وي نو هغه به سُوت يا اُون شمېرل کيږي ريښَمِي نَه شمېرل کيږي.لِهْذَا که څه هم تَانَا(تَانِستَه)د ريښم څخه وي لېکن بَانَا يې دسُوت يا اُون څخه وي نو دهغه په اَغُوَستَلُو کي هيڅ حرج نشته .
وجه : (۱) په حديث کي دئ. اَخبَرَنِي عَبدُاللهِ بنِ سَعِيدٍ عَن اَبِيهِ سَعدٌ قَالَ رَأيتُ رَجُلاً بِبُخَارْي عَلْي بَغلَةٍ بَيضَاءَ عَلَيهِ عَمَامَةُ خَزٍّ سَودَاءَ فَقَالَ كَسَانِيهَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) (ب) د بَل روايت په اَخِيرکي دئ. قَالَ اَبُودَاوُدُ وَعِشرُونَ نَفسًا مِن اَصحَابِ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) اَو اَكثَرَ لَبِسُوا الخَزّ مِنهُم اَنَسٌ.وَالبَرَاءُ بنِ عَازِبٍ (ج) (ابوداؤدشريف.باب ماجاء في الخَزّ ج۲ ص۲۰۴ نمبر۴۰۳۸)
(۲) په اَثَر کي دئ. كَانَ لاَبِي بَكرَةَ مَطرَفُ خَزٍّ سُدَاهُ حَرِيرٌ وَكَانَ يَلبَسُهُ (د)

حاشيه : (الف) حضرت عکرمة په جنګ کي ريښَم نَاخُوَښَه کړئ او وفرمايل اُمِيد کوه چي شَهَادَت وي (ب) حضرت سعد فرمايي چي مَا په بُخَارْي کي ولِيدئ چي يَو سړئ پر سُپِين خَرَه سُپُور وُ پر هغه د سُوت او ريښَم گډه وُډه(مِکس)عَمَامَه وه.وفرمايل چي مَاتَه حضور (ﷺ) را اَغُوَستي ده (ج) ابوداؤد فرمايي چي تر شَل زِيَات د حضور (ﷺ) اَصحَابَان مِي ليدلي دي هغوئي به خَز يعني سُوت او ريښَم ميکس کيږه اَغُوَستَلَه.په هغوئي کي حضرت اَنَس او بَرَاء بِنِ عَازِب هم دي (د) د ابوبکره سره پَتُو وُ چي تَانَا(تَانِستَه)يې د ريښَم وَه او ده هغه اَغُوَستَئ .

[۳۱۰۵](۵) وَلاَيَجُوزُ لِلرِّجَالِ اَلتّحَلّي بِالذّهَبِ وَالفِضّةِ .

(مصنّف ابن ابي شيبة ۱ من رَخّصَ في لبس الحرير ج ۵ ص۱۴۹نمبر۲۴۶۱۶) ددې حديث او اَثَرڅخه معلوم شوچي خَزّ يعني دَادَوَل کيږه چي ريښَم او اُون دواړه يکښي وي يا ريښَم او سُوت دواړه يکښي وي دهغه کيږي اَغُوَستَل جائز دئ.چي د اُون او ريښَم دواړو څخه جوړ شوي وي دهغه و مجموعه کيږي ته خَزّ وايي .
لغت : سُدَا : تَانَا.په پَښتُو کي تَانِستَه هم ورته وايي.دکيږي هغه سُپَنِسِي کُوم چي په وُرِدوَل جار شوي وي. لُحمَةٌ : بَانَا.د کيږي هغه سُپَنِسِي کُوم چي په پُسَارَه يکښي جار شوي وي. اِبرِيسَمٌ : رِيښَم. قُطنٌ : پَمبَه .
[۳۱۰۵](۵) او د نَرَانُ لپاره دسُرُو زَرُو او سُپِينُ زَرُو زِبوَر استعمالول جواز نَه لري .
تشريح : دښځو لپاره لکه څَه رنګه چي ريښَم استعمالول جائزدي دغه رنګه دښځو لپاره سَرَه زَر او سُپِين زَر استعمالول هم جائز دي.د نَر لپاره لکه څَه رنګه چي ريښَم استعمالول حرام دي دغه رنګه د دُوئي لپاره سَرَه زَر او سُپِين زَر استعمالول هم حرام دي. البته د سُپِينُ زَرُو گُتمَئ يوه تُولَه استعمالول جائز دئ .
وجه : (۱) په حديث کي دئ. عَن اَبِي مُوسْي الاَشعَرِيّ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ حُرِّمَ لِبَاسُ الحَرِيرِ وَالذّهَبِ عَلْي ذُكُورِ اُمّتِي وَ اُحِلّ لاُنَاثِهِم(الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في

الحرير والذّهب للرّجَالِ ص٣٠٢نمبر١٧٢٠) (٢) په بَل حديث کي دئ. سَمِعتُ البَرَاءَ بِنِ عَازِبٍ يَقُولُ نَهَا نَا النّبِيّ (ﷺ) عَن سَبعٍ.نَهْي عَن خَاتَمِ الذّهَبِ اَو قَالَ حَلقَةُ الذّهَبِ وَ عَنِ الحَرِيرِ وَ الإِستَبرَقِ وَ الدّيبَاجِ وَ المِيثَرَةِ الحَمرَاءِ وَالقَسِيّ وَ آنِيَةِ الفِضّةِ (ب) (بخاري شريف.باب خواتم الذهب ص٨٧١نمبر٥٨٦٣/مُسلِم شريف.باب تحريم استعمال اِنَاء الذّهَبِ والفِضّةِ عَلَي الرّجَالِ والنّسَاءِ الخ ج٢ص١٨٨نمبر٢٠٦٦) ددې دواړو حديثو څخه معلوم

حاشيه:(الف) الله تعالٰي درښځې کيږي اوسره زَر زُومَا دأمّت پر نَرَانُ حرام کړي دي اودښځولپاره حلال کړي دي (ب) حضور (ﷺ) مور د اُوَه (٧) شِيَانُ څخه منع کړو د سُرُو زَرُو د گُتمَئ څخه يايې وفرمايل چې د سُرُو زَرُو د حَلقي څخه.درښځې څخه.دإستَبرَق څخه.دديبَاج څخه.دسَرَه مَيثَرَه څخه.دقِسِي څخه.د سُپينُ زَرُ د لُوښي څخه .

[٣١٠٦](٦) وَلاَبَأسَ بِالخَاتَمِ وَالمَنطَقَةِ وَ حِلَيَةُ السّيفِ مِنَ الفِضّةِ

شوچي د نَر لپاره د سُرُو زَرُو او سُپينُ زَرُو زِيوَر استعمالول جواز نَه لري .
لغت : تَحَلّي : د حُلّيٌ څخه مُشتَق دئ معنْي زيوَر استعمالول. اَلذّهَبُ : سَرَه زَر. اَلفِضّةُ : سُپين زَر .
[٣١٠٦](٦) هيڅ حرج نشته گُتمَئ.پَتِکَه.او تُرِي زيوَر چي سُپين زَر پکښي وي.
تشريح : گُتمَئ د سُپينُ زَرُ وي يا پَتِکَا(گُوم چي مَلاَ په تَرِي.يعني کَمرَبَند يا مَلاَ بَند) د سُپينُ زَرُ وي يا په تُرَه کي د سُپينُ زَرُ نَقش او زيور شوئ وي دهغه په استعمالولو کي هيڅ حرج نشته .
وجه : (١) په حديث کي دئ چي حضور (ﷺ) د سُرُو زَرُ گُتمَئ جوړ کړه بيايي هغه تَسَ کړه او د سُپينُ زَرُ گُتمَئ يې جوړ کړه. عَن عَبدِاللهِ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) اِتّخَذَ خَاتَمًا مِن ذَهَبٍ وَجَعَلَ فَصّهُ مِمّا يَلِي كَفّهُ فَاتّخَذَهُ النّاسُ فَرَمْي بِهِ وَ اِتّخَذَ خَاتَمًا مِن وَرَقٍ اَو فِضّةٍ (الف) (بخارى شريف.باب خواتيم الذهب ص٨٧١نمبر٥٨٦٥/مُسلم شريف.باب خاتم الوررق فصّه حبشي ص١٩٦نمبر٢٠٩٤/ابوداؤدشريف.باب ماجاء في اتّخاذ الخاتم ص٢٢٧نمبر٤٢١٤) ددې حديث څخه معلوم شوچي نَر د سُپينُ زَرُ گُتمَئ جوړولائي شي .
په تُرَه کي دسُپينُ زَرُ د استعمال په اړه دا حديث دئ (٢) عَن اَنَسٍ قَالَ كَانَت قَبِيعَةُ سَيفِ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) مِن فِضّةٍ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في السّيف يحلّي ص٣٥٥نمبر ٢٥٨٣/نسائي شريف.باب حلية السّيف ص٧٢٨نمبر٥٣٧٥) ددې حديث څخه معلوم شوچي په تُرَه کي سُپين زَر وي د تُرِي په دَستَه يعني مُتِي کي سُپين زَر وي دا جائز دئ.او پَتِکَه يعني مَلاَبَند يا گَمَربَند هم پر دغه قياس کيدلائي شي. عَن عَاصِمِ الاَحوَلِ قَالَ رَأيتُ قَدحَ النّبِيّ (ﷺ) عِندَ اَنَسِ بنِ مَالِكٍ وَكَانَ قَد اِنصَدَعَ فَسَلسَلَهُ بِفِضّةٍ

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) د سُرُو زَرُو گُتمَئ جوړ کړه او نَکِيئَه(غَمَئ)يې د وَرغَوِي و خُوَا ته وگرزوله نو خلگو هم گُتمَئ جوړي کړي.بيا حضور (ﷺ) هغه تَسَ کړه او دسُپينُ زَرُو گُتمَئ يې جوړ کړه (ب) حضرت انس فرمايي چي دحضور (ﷺ) د تُرِي دَستَه(مُتَئ)د سُپينُ زَرُ وُ .

[٣١٠٧](٧) وَيَجُوزُ لِلنّسَاءِ اَلتّحَلّي بِالذّهَبِ وَالفِضّةِ .

قَالَ هُوَ قَدحٌ جِيدٌ عَرِيضٌ مِن نُضَارٍ قَالَ قَالَ اَنَسُ لَقَد سَقَيتُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) فِي هٰذَا القَدحِ اَكثَرَ مِن كَذَا وَكَذَا (الف) (بخاري شريف.باب الشرب من قدح النّبِيّ (ﷺ) وآنيته ص۸۴۲نمبر۵۶۳۸) په دې حديث کې پر مَاتَ شوې پِيَالَه باندې سُپِين زَر چَرَاؤ کړي وُ.ددې څخه معلوم شوچي پر پَتِکه(مَلاَبَند)باندې سُپِين زَر لګول جائز دي (۳) اَصل دادئ چي د نَمُونَه په توګه د سُپِينُ زَرُ استعمال جائز دئ.او د نَمُونَه په توګه بَس په دغونه اَندَازَه سُپِين زَر استعماليږي نوځکه دغونه سُپِين زَر استعمالول جائز دي .

لغت : مَنطَقَةٌ : پَتِکا.کَمَربَند.مَلاَبَند. حِلِيَةُ السّيفِ : د تُرې زېور .

[۳۱۰۷](۷) د بنځو لپاره د سُرُو او سُپِينُ زَرُ زېور استعمالول جائز دئ .

وجه : (۱) حديث مخته تېرشوئ دئ چي دبنځو لپاره د سَرُه زَرُ او سُپِين زَرُ زېورات جائز دي. عَن اَبِي مُوسٰي الاَشعَرِيّ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ حُرِّمَ لِبَاسُ الحَرِيرِ وَالذّهَبِ عَلٰي ذُكُورِ اُمّتِي وَ اُحِلّ لاُنَاثِهِم(ب) (ترمذي شريف.باب ماجاء في الحرير والذّهب للرّجَالِ ص۳۰۲نمبر۱۷۲۰) ددې حديث څخه معلوم شوچي دبنځو لپاره سَرَه زَر استعمالول جائز دي.چي د نَر لپاره په لَږ مِقدَار سُپِين زَر استعمالول جائز دي نو د بنځو لپاره به په طريقه اَولْي جائز وي (۲) په يوه بَل حديث کي دئ. عَن عَائِشَةَ قَالَت قَدِمَت عَلٰي النّبِيّ (ﷺ) حِلِيَةٌ مِن عِندِ النّجَاشِيّ اَهدَاهَا لَهُ فِيهَا خَاتَمٌ مِن ذَهَبٍ فِيهِ فَصّ حَبَشِيّ قَالَت فَاَخَذَهُ رَسُولُ اللهِ(ﷺ) بِعَودٍ مُعرِضًا عَنهُ اَو بِبَعضِ اَصَابِعِهِ . ثُمّ دَعَا اُمَامَةَ بِنتِ اَبِي العَاصِ بِنتِ اِبنَتَهُ زَينَبَ. فَقَالَ تَحَلّي بِهٰذَا يَا بُنَيّةَ

حاشيه : (الف) حضرت عَاصِم فرمايي چي مَا دحضرت اَنَس سره دحضور (ﷺ) پِيَالَه ولېدله دهغې کِنَارَه (سائيډ) مَات شوئ وُ چي په سُپِينُ زَرُ يي تَرَلي وه.دئ فرمايي چي هغه يَوَه کِشنَئ پِيَالَه وه. پُسَرَوَرَه پِيَالَه وه.د نُضَار د لَرکي چي يوه مخصوص لرکي دئ دهغه څخه جوړ شوي پِيَالَه وه.حضرت انس فرمايي حضور (ﷺ) ته مِي په دغه پِيَالَه کي په خُو خُو کَرَتّه اُوبَه ورکړي دي (ب) الله تعالٰي درښَمُ کېږي اوسره زَر زُومَا دامّت پر نَرَانُ حرام کړي دي اودبنځولپاره حلال کړي دي.

[۳۱۰۸](۸) وَ يُكرَهُ اَن يُلبَسَ الصّبِيّ الذّهَبَ وَالحَرِيرَ .

(الف) (ابوداؤدشريف.باب ماجاء في الذّهبِ لِلنِّسَاءِ ص۲۳۰نمبر۴۲۳۵) په دې حديث کې د سُرُو زَرُ کُتمَئ و حضرت اُمَامة ته ورکړې ده چي خپلَه لُمَسَي يي وه.ددې څخه معلوم شوچي د بنځو لپاره سَرَه زَر استعمالول جائز دي.او چي سَرَه زَر جائز دي نو سُپِين زَر خو به په طريقَه اَولْي سره جائز وي .

لغت : تَحَلّي : زِېوَر استعمالول .

[۳۱۰۸](۸) مکروه دئ چي کِشنِي ته سَرَه زَر يا رېښَم وَروَاغُوندِي .

تشريح : بَچَئ که خَه هم مُکَلّف نَه دئ مګر بيا هم نَر دئ نوځکه ده ته سَرَه زَر يا رېښَم وَراَغُوَستَل مکروه دي .

وجه : (۱) په اَثَر کي راغلي دي. عَن جَابِرٍ قَالَ كُنّا نَنزِعُهُ (يعني اَلحَرِيرَ) عَنِ الغِلمَانِ وَنَترُكُهُ عَلَي الجَوَارِي (ب) (ابوداؤدشريف.باب في الحرير للنّساء ج۲ص۲۰۶ نمبر ۴۰۵۹) (۲) په

بَل اَتَرکي دئ. سَألَ بُجَيرُ سَعِيدَبنِ جُبَيرٍ وَ اَنَا جَالِسٌ عِندَهُ عَن لُبسِ الحَرِيرِ فَقَالَ سَعِيدُ غَابَ حُذَيفَةُ بِنِ اليَمَانِ غِيبَةً فَكَسْي بَنِيهِ وَبَنَاتِهِ قُمصَ الحَرِيرِ فَلَمّا قَدِمَ اَمَرَ بِهِ فَنَزَعَ عَنِ الذّكُورِ وَ تَرَکَ عَلْي الأُنَاثِ قَالَ مُحَمّدٌ وَبِهِ نَأخُذُ (ج) (كتاب الآثار لامام محمّدص۱۸۷نمبر۸۴۸) ددې دواړو اَثَرُ څخه معلوم شوچي كِشنِي بَچِي ته هم بَايَد سَرَه زَر او ريښَم نَه ورواغوستل شي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) ته د حضرت نَجّاشِي لخوا څخه زېور راغلئ.هغو حضور (ﷺ) ته هَديَه وركړې وه.په هغه كي د سُرُ زَرُ گُتمَئ وه چي نَكِينَه (غَمَئ) يې حَبَشِي وُ.حضرت عائشه فرمايي چي حضور (ﷺ) د يَوَه لَرگِي په ذريعه د اِعرَاض په شَكل هغه وَاخَستَئ.يايي په يَوَه گُوَتَه هغه گُتمَئ واخسته بيايي اُمَامَة بنت ابي العاص رَاوَبَلَلَه او وفرمايل لُورِي دا په گُوَتَه كه (ب) حضرت جابر فرمائي چي موږ د ريښم كپړه د هَلكَانُ څخه گَبنَلَه او پر اِنجُونُو مِي پرېښولَه (ج) بُجَير دحضرت سعيدبن جُبَيرڅخه د رِيشَم د اَغُوَستلُو په اړه پُوښتَنَه وكړه. زَه هم هَلَتَه موجود وَم. حضرت سعيد وفرمايل چي حُذَيفَه بن يَمَان يَوځائ ته تَلَلَئ وُ نو دهغه و زَامَنُو او لُونُو ته د رِيشَم قَمِيص وروا غُوَستَئ.بيا چي كله دئ وَاپَس راغلئ نو حُكم يې وكړئ چي د هَلكَانُ څخه وَكَاړَئ او پر اِنجُونُو يې پرېږ دئ.حضرت امام محمّد فرمايي چي موږ پر دغه باندي عَمَل كوو .

[۳۱۰۹](۹) وَ لاَ يَجُوزُ الاَكلُ وَ الشّربُ وَ الاِدّهَانُ وَ التّطَيّبُ فِي آنِيَةِ الذّهَبِ وَ الفِضّةِ لِلرّجَالِ وَ النّسَاءِ .

[۳۱۰۹](۹) جواز نَه لري خُوَرَل.چِيبَل.تيل لگول او خُوشبُو لگول د سُرُو زَرُ او سُپِينُ زَرُو په لُوښِي كي د نَرَان او بنځو لپاره .

تشريح : د بنځو لپاره د سُرُو زَرُو او سُپِينُ زَرُ زېور استعمالول خو جائز دئ لېكن د سُرُو زَرُ او سُپِينُ زَرُ په لُوښُو كي خُوَرَل.چِيبَل.تيل لگول او خُوشبُو لگول نَه د نَر لپاره جائز دئ او نَه د بنځي لپاره جائز دئ .

وجه : (۱) كه چيرې ددې اِجَازَت وركول شي نو د غَرِيبَانُ څخه د مَال د وصولولو لپاره به هر رنگه ظُلم شروع كړي او د غَرِيبَانُ زُوَند به ډېر تنگ كړي.نوځكه د سُرُو زَرُ او سُپِينُ زَرُو د لُوښُو استعمال يې حرام كړئ (۲) په حديث كي ددې مَمَانَعَت راغلئ دئ.عَن اِبنِ اَبِي لَيلْي قَالَ خَرَجنَا مَعَ حُذَيفَةَ وَ ذَكَرَ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ لاَتَشرِبُوا فِي آنِيَةِ الذّهَبِ وَالفِضّةِ وَلاَ تَلبِسُوا الحَرِيرَ وَالدّيبَاجَ فَاِنّهَا لَهُم فِي الدّنيَا وَلَكُم فِي الآخِرَةِ (الف) په بَل روايت كي دئ. عَن اُمّ سَلَمَةَ زَوجِ النّبِيّ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اَلّذِي يَشرِبُ فِي اِنَاءِ الفِضّةِ اِنّمَا يُجَرجِرُ فِي بَطنِهِ نَارَ جَهَنّمَ (ب) (بخاري شريف.باب آنية الفضّة ص۸۴۱نمبر۵۶۳۳/ ۵۶۳۴/مُسلم شريف.باب تحريم استعمال إنَاء الذهب والفضّةِ الخ ص۱۸۸نمبر۲۰۶۷) په دې حديث كي نَر او بنځه دواړه منع كړي دي چي د سُرُ زَرُو او سُپِينُ زَرُ په لُوښُو كي خُوَرَاک يا چِيبَاک وكړي .

لغت : اَلاِدّهَانُ : د دُهنٌ څخه مُشتَق دئ.تيل لگول. اَلتّطَيّبُ : د طِيبٌ څخه مُشتَق دئ خُوشبُو لگول. آنِيَةٌ : لُوښِي .

حاشيه : (الف) مورِ دحضرت حذيفه سره رَاوَرَتلُو.هغو د حضور (ﷺ) تَذكِرَه وكړه. وفرمايل د سُرُو زَرُ او سُپِينُ زَرُ په لُوښُو كي مَه چيبنَئ او مَه رِيشَم او دِيبَاج (نَرم ريشَم) اَغُوَندَئ.كُكه چي دا په دُنيَا كي د كافِران لپاره دي او په آخرَت كي ستاسو لپاره دي (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل څوک چي د سُپِينُ زَرُ په لُوښِي كي چيبنَل كوي هغه په خپل نَس كي د دُوزَخ اُور اَچَوي .

[٣١١٠](١٠) وَ لاَ بَأسَ بِاِستِعمَالِ آنِيَةِ الزّجَاجِ وَ الرّصَاصِ وَ البِلّورِ وَالعَقِيقِ .

[٣١١٠](١٠) هيڅ حرج نشته د چيبنې د سِيكې د مَلغَلَرِي د كُنجَتِي د لُوښُو په اِستِعمَالولو كي .

وجه : (١) په حديث كي دئ چي حضور (ﷺ) د پيتَل په لُوښِي اَودَس او غُسل وكړئ.او چيبنَه.سِيكَه.مَلغَلَرَه او كُنجَتَه(سِيپِي) هم د پيتَلُو په شان دي.نوځكه دغه لُوښِي استعمالول هم جائز دي (٢) حديث دادئ. اَنّ عَائِشَةَ قَالَت كُنتُ اَغتَسِلُ اَنَا وَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) فِي تَورٍ مِن شِبهٍ (الف) په بَل روايت كي دئ. عَن عَبدِاللهِ بِنِ زَيدٍ قَالَ جَاءَنَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) فَاَخرَجنَا لَهُ مَاءً فِي تَورٍ مِن صُفرٍ فَتَوَضّأ (ب) (ابوداؤدشريف.باب الوضوء في آنية الصّفر ص١٥نمبر٩٨/ ١٠٠/بخاري شريف.باب الغسل والوضوء في المخضب والقدح والخشب والحجارة ص٣٢نمبر١٩٧) ددې حديث څخه معلوم شوچي د پيتَلُ لُوښِي اِستِعمَالَول جائز دي ... او د دَبَرِي لُوښِي استعمالولائي شي دهغه دليل دا حديث دئ. عَن اَنَسٍ قَالَ حَضَرَتِ الصّلَوَاتُ ... فَأُتِيَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) بِمِخضَبٍ مِن حِجَارَةٍ فِيهِ مَاءٌ فَصَغُرَ المِخضَبُ اَن يَبسُطَ فِيهِ كَفّهُ (ج) (بخاري شريف.باب الغُسل والوضوء في المخضب والقدح والخشب والحجارة ص٣٢نمبر١٩٥) په دې حديث كي دئ چي د دَبَرِي لَكَن يې د اَودَس لپاره اِستِعمَال كړئ او مَلغَلَرِي او كُنجَتِي چي سِيپِي هم ورته ويل كيږي د دَبَرِي د جنس څخه دي نوځكه ددې څخه جوړ شوي لُوښِي استعمالول به هم جائز وي .

لغت : زُجَاجٌ : چيبنَه. رَصَاصٌ : سِيكَه.نَرم اُوسپِينَه(وَسپِينَه). بِلُورٌ :يَو قِسم چيبنَه

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمايي چي مَا او حضور (ﷺ) د پيتَلُ په لُوښِي كي غُسل كاوئ (ب) حضرت عبدالله بن زيد فرمايي چي حضور (ﷺ) مورِ ته تشريف رَاوړَئ نو مورِ دده لپاره د پيتَل په لُوښِي كي اُوبَه رَاوړِي په هغه سره حضور (ﷺ) اَودَس وكړئ (ج) حضرت انس فرمايي چي د لمانځه وخت شو ... دحضور (ﷺ) مخته د دبري لَكَن رَاوړَئ چي اُبَه پكښي وي.لَكَن د وَرغَوُ د خُوَرِبدُو قَابِل نَه وُ. لَږ كِشنَئ وُ.

[٣١١١](١١) وَ يَجُوزُ الشّربُ فِي الإِنَاءِ المُفَضّضِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي وَالرّكُوبُ عَلْي السّرُجِ المُفَضّضِ وَالجُلُوسُ عَلْي السّرِيرِ المُفَضّضِ .

ده.سُفِين او صَفَا جَوهَر. عَقِيقٌ : كُنجَتِي.سَرَې مَلغَلَرِي .

[۳۱۱۱](۱۱) د امام ابوحنيفه په نبز چي سُپين زَر پر چَرَاؤ شوي وي په هغه لُوښي کي چيښَل جائز دئ.او چي سُپين زَر پر چَرَاؤ شوي وي پر هغه زِين سُپَرښدَل جائز دئ.او چي سُپين زَر پر چَرَاؤ شوي وي پر هغه تَخت کښښَستل .

تشريح : چي شَئ د سُپينُ زَرُ نَه وي لٰيکن ځائ پر ځائ سُپين زَر پر لګښدلي وي نو دهغه استعمال جائز دئ.مثلاً په لُوښي کي ځائ پر ځائ سُپين زَر لګښدلي وي يا پر تَخت ځائ پر ځائ سُپين زَر لګښدلي وي يا د آس پر زِين سُپين زَر لګښدلي وي نو ددې اِستِعمَالُوَل جائز دئ.او په دغونه اَندَازَه سُپين زَر صحيح دي .

وجه : په حديث کي دئ چي دحضور (ﷺ) مَاتَ شوې پِيَالَه يې په سُپينُ زَرُ تَرَلي وه.د حضور (ﷺ) د تُرِي پر دَستَه يعني مُتِي باندي سُپين زَر لګښدلي وُ.حديث دادئ. عَن عَاصِمِ الاَحوَلِ قَالَ رَأيتُ قَدحَ النّبِيّ (ﷺ) عِندَ اَنَسِ بنِ مَالِکٍ وَکَانَ قَد اِنصَدَعَ فَسَلسَلَهُ بِفِضّةٍ قَالَ هُوَ قَدحٌ جِيدٌ عَرِيضٌ مِن نُضَارٍ قَالَ قَالَ اَنَسُ لَقَد سَقَيتُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) فِي هٰذَا القَدحِ اَکثَرَ مِن کَذَا وَکَذَا (الف) (بخاري شريف.باب الشرب من قدح النّبِيّ (ﷺ) وآنيته ص۸۴۲نمبر۵۶۳۸) ددې حديث څخه معلوم شوچي لُوښَئ يې په سُپينُ زَرُ تَرَلَئ وي دهغه استعمال جائز دئ. په ابوداؤدشريف کي دئ. عَن اَنَسٍ قَالَ کَانَت قَبِيعَةُ سَيفِ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) فِضّةٌ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في السّيف يحلّي.

حاشيه : (الف) حضرت عَاصِم فرمايي چي مَا دحضرت اَنَس سره دحضور (ﷺ) پِيَالَه ولِيدله دهغې کِنَارَه (سائيډ) مَات شوئ وُ چي په سُپينُ زَرُ يې تَرَلي وه.دئ فرمايي چي هغه يَوَه کِشنَئ پِيَالَه وه. پُسَرَوَرَه پِيَالَه وه.د نُضَار د لَرګي چي يوه مخصوص لرګي دئ دهغه څخه جوړ شوې پِيَالَه وه.حضرت انس فرمايي حضور (ﷺ) ته مِي په دغه پِيَالَه کي په خُو خُو کَرَتّه اُوبَه ورکړي دي. (ب) دحضور (ﷺ) د تُرِي مُتَئ د سُپينُ زَرُ وُ.

[۳۱۱۲](۱۲) وَ يُکرَهُ التّعشِيرُ فِي المُصحَفِ وَ النّقطِ .

ص۷۲۸نمبر۲۵۸۳) ددې حديث څخه معلوم شوچي دحضور (ﷺ) د تُرِي په مُتَې کي سُپين زَر استعمال شوي وُ.ددې څخه دا هم معلوم شوچي پر زِين يا دغه رنګه بَل شِي باندي لَږ څَه سُپين زَر لګښدلي وي هغه جائز دي .

فائده : د امام ابويوسف په نبز د سُپينُ زَرُ د حديث د عمومي مُمَانَعَت په وجه دهغه استعمال مکروه دئ .

لغت : اَلمِفضَضُ : د فِضّةٌ څخه مُشتَق دئ چي سُپين زَر پر لګښدلي وي. سَرجٌ : زِين. سَرِيرٌ : تَخت .

[۳۱۱۲](۱۲) مکروه دئ د قُرآن پر هر لَس آيتو نِشَان لګول او نُقطې لګول .

تشريح : په اِبتِدَاء کي خلګ په عَرَبِي پُوهيدَل.د عربي په طَرز او اداء پُوهيدَل.نو ځکه په قُرآنِ مجيدکي رُکُوع او دغه شِيَان نَه ليکل کيدل.او نَه يې زَبَر زِير (زُوَر.زِير) ليکل کيدل او نَه حُرُوفُ ته نُقطې(ټکي)ورکښدلي.نو لدې وجه دَادَوَل شَئ مکروه ګڼل کيدئ.ځکه چي بنَه خبره داده چي قُرآن مجيد لکه څَه رنګه چي مخکي وُ

هغه رنګه پَاتَه شي.لېکن وروسته د اَهلِ عَجَم د آسانتِيَا لپاره دغه ټوله کارونه وکړل شو اُوس نَن مَحَال دغه کارونه يَو مُستَحسَن او بنَه کارنَامَه ده .
وجه : د مکروه والي وجه دا اَثَر دئ. عَن عَبدِاللهِ(اِبنَ مَسعُودٍ) اَنّهُ کَرِهَ التّعشِيرَ فِي المُصحَفِ (الف) په بَل روايت کي دئ. عَن مُحَمّدٍ اَنّهُ کَرِهَ الفَوَاتِحَ وَالعَوَاشِرَ اَلّتِي فِيهَا قَافٌ وَ کَافٌ (ب) په بل روايت کي دئ. عَن عَطَاء اَنّهُ کَانَ يُکرِهُ التّعشِيرَ فِي المُصحَفِ وَ اَن يَکتُبَ فِيهِ شَئٌ مِن غَيرِهِ (ج) (مصنّف ابن ابي شيبة ۵۶ التعشير في المصحف ج۶ص۱۴۹نمبر۳۰۲۳۲/ ۳۰۲۳۳/ ۳۰۲۳۸) ددې دُرُو سره اَثَرُ څخه معلوم شوچي پر لَس

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن مسعود مکروه ګانئ چي د قُرآنِ مجيد پر هر لَس آياتَ نِشَان ولګيري (ب) امامِ محمّد به مکروه ګانئ چي په شروع او هر لَس آيَاتَ نشان ولګيري چي ,,قَ,, او ,,کَ,, پکښي وي (ج) حضرت عطاء پر هر لَس آيَاتَ نشان لګول مکروه ګانئ.او دقُرآن څخه علاوه څَه شَئ ليکل به مکروه ګانئ .

[۳۱۱۳](۱۳) وَ لاَ بَأسَ بِتَحلِيَةِ المُصحَفِ وَنَقشِ المَسجِدِ وَ زُخرُفَتِهِ بِمَاءِ الذّهَبِ .

آيتو نِشَان لګول يا پر حروفُ نُقطي لګول مکروه دي .
لغت : اَلتّعشِيرُ : د عَشَرٌ څخه مُشتَق دئ. پر لَس آيتو د رُکُوع نِشَان لګول. اَلمُصحَفُ : قُرآنِ کريم .
[۳۱۱۳](۱۳) هيڅ دحرج خَبَرَه نه ده چي د سُرُ زَرُ په اُوبُو سره قُرآن ښائستَه کړي.او دمَسجِد په مُنَقّش کولو او په آبِ زَر سره په ښائستَه کولو کي .
تشريح : دا چي قُرآن د سُرُ زَرُ په اُوبُو سره وليکي.ښائستَه يې کړي په دي کي کُوم حرج نشته.دغه رنګه چي مسجد د سُرُ زَرُ په اُوبُو سره ښائستَه کړي هيڅ حرج نَه لري .
وجه : (۱) د نَقش و نِګار په لَړ کي خو د حضرت عُثمَان عَمَل دئ. د وُرد حديث تِکرِه داده. حَدّثَنَا نَافِعُ اَنّ عَبدَاللهِ اَخبَرَهُ اَنّ المَسجِدَ کَانَ عَلْي عَهدِ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) مُبنِيناً بِاللّبِنِ وَسَقفُهُ اَلجَرِيدُ وَعُمُدُهُ خَشَبُ النّخلِ ... ثُمّ غَيّرَهُ عُثمَانُ فَزَادَ فِيهِ زِيَادَةً کَثِيرَةً وَبَنْي جِدَارَهُ بِالحِجَارَةِ المَنقُوشَةِ وَ القُصّةِ وَجَعَلَ عُمُدَهُ مِن حِجَارَةٍ مَنقُوشَةٍ وَسَقفُهُ بِالسّاجِ (الف) (بخاري شريف.باب بُنيَانِ المسجد ص ۶۴ نمبر ۴۴۶/ ابوداؤدشريف.باب في بناء المساجدص۷۱نمبر۴۵۱) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي قُرآنِ کريم او مساجد ښائسته کول او نَقش و نګار پکښي کول جائز دئ (۲) عَن مُحَمّدٍ (ابن سيرين) قَالَ لاَبَأسَ اَن يُحَلّي المُصحَفَ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۵۵ من رخّص في حلية

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله خَبَر ورکړئ دئ چي دحضور (ﷺ) په زَمَانَه کي مَسجِد د کَچَه خَښتُو څخه جوړ شوئ وُ.او چَت يي د خُورمَا د پَانُو څخه جوړ شوئ وُ.او تَمبَه يي د خُورمَا د درختي څخه وه ... بيا حضرت عثمان هغه بَدَل کړئ او په هغه کي بنَه دپره زِيَاتُوب وکړئ.دِپوَال يي په نَقشُ و نِګار په دِبَرُو او چُونَه سره جوړ

کړئ.او د هغه تَمبَه يې په نَقشُ و نِګار او ډَبَرُو سره جوړ کړه.او چَت يې د سَاج په لَرګيُو سره جوړ کړئ (ب) حضرت محمّدبن سيرين وفرمايل د قُرآن کريم په مُزَيّن کولو کې کُوم حرج نشته .

[۳۱۱۴](۱۴) وَ يُکرَهُ اِستِخدَامُ الخُصيَانِ .

المصحف ج۶ ص۱۴۹نمبر۳۰۲۳۱) ددې اَثَرخخه معلوم شوچې که وَغُوَارِي چې قُرآنِ کريم د سُرُ زَرُ په اُوبُو سره مُزَيّن کړي نو کولائي شي. ځکه چې په دغه ډول کولو کې دقُرآن تَعظِيم دئ.او مسجد د سُرُ زَرُ په اُوبُو سره مُزَيّن کول هم پر دغه قُرآن کريم قياس کېدلائي شي .

فائده : البتّه ډېر زيات بنَائِستَه کول مکروه دئ .

وجه : (۱) په حديث کې دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مَا اُمِرتُ بِتَشيِيدِ المَسَاجِدِ. قَالَ اِبنُ عَبّاسٍ لَتُزَخرَفُنّهَا کَمَا زَخرَفَتِ اليَهُودُ وَ النّصَارٰي (الف) (ابوداؤدشريف.باب في بناء المساجد ص۷۱نمبر۴۴۸) (۲) په اَثَرکې دئ. قَالَ اَبُوذَرٍّ زُوقتُم مَسَاجِدَکُم وَحُلّيتُم مَصَاحِفَکُم فَالدِّمَارُ عَلَيکُم (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۵۴ في المصحف يحلّي.ج۶ ص۱۴۸نمبر۳۰۲۲۸) ددې حديث او اَثَرخخه معلوم شوچې ډېر زيات زِينَت مکروه دئ.په يَو مناسب اَندَاز کې زِينَت ورکولو کې کُوم حرج نشته .

لغت : زُخرُفَةٍ : بنائِستَه کول.مُزَيّن کول .

[۳۱۱۴](۱۴) دخَصِي ځخه خِدمَت اخستل مکروه دئ .

تشريح : د خَصِي نَر ځخه خِدمَت اخستل مکروه دئ .

وجه : (۱) که چيري د دُوئي ځخه خِدمَت اخستل شروع شي نو د خِصّي کېدو هِمّت اَفزائي او ستاينَه به راشي.نوځکه چې خَصِي شوئ وي دهغه نَر ځخه خِدمَت اخستل مکروه دئ (۲) په حديث کې د ځان دخَصِي کولومنع راغلې ده. عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ نَهٰي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) عَن اِخصَاءِ الخَيلِ وَالبَهَائِمِ وَقَالَ اِبنُ عُمَرَ فِيهَا نَمَاءُ الخَلقِ (ج)

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل مَاتَه د مساجد د ډېر زِيَات مضبوط کولو حُکم نَه دئ شوئ.حضرت ابن عبّاس فرمايي چې تاسو به د يهود او نصارٰي په شان مَسجِدُونَه مُزَيّن کوئ (ب) حضرت ابوذر وفرمايل چې کُوم وخت تاسو مسجدونه مُزَيّن کول شروع کړئ او قُرآن کريم برابرول شروع کړئ نو پر تاسو دي هَلاَکَت وي (ج) حضور (ﷺ) د آس او حيوانانُ د خَصِي کولو ځخه منع وکړه.ابن عمر فرمايي د دَاوَل نَه کولو ځخه د مخلوق زِيَادَت رَاځِي .

[۳۱۱۵](۱۵) وَ لاَ بَأسَ بِخِصَاءِ البَهَائِمِ وَ اِنزَاءِ الحَمِيرِ عَلْي الخَيلِ.

(مُسنَدِاحمد.سندعبدالله بن عمر.ج۲ص۱۰۱نمبر۴۷۵۵/مصنّف ابن ابي شيبة ۷ ماقالوا في خصاء الخيل والدّوَابِ من کرهه ج۶ ص۴۲۶نمبر۳۲۵۶۷) په دې حديث کې د خَصِي کولو ځخه منع کړې ده نو په دغه وجه د خَصِيَانُ ځخه خِدمَت اخستل مکروه دئ .

[۳۱۱۵](۱۵) د حيوانانُ په خصِي کولو کې کُوم حرج نشته او دا چې خَر پر آس وخېژوِي .

تشريح : مخته تېر شو چې که حيوان خَصِي کړي نو په دي کي دحيوانانُ نَسل کُشِي راځي په دغه وجه مَمنُوع دئ.لېکن که بُوزَئ نَسل خَصِي نَه شي نو هغه بيا نَه تَيّارِيږي او غُوَښِي يې ښې نَه رَاځِي.ددې څخه علاوه بُوزَئ نَسل شَرَارَت هم ډېر کوي نوځکه ددې په خَصِي کولو کي کُوم حرج نشته.دغه رنګه غُوَيَئ که خَصِي نَه کړي نوپه هغه کي طاقَت نَه راځي اود هَل چَلَوُلُوقابِل نَه پاتيږي(شارح عَلاّم وايي.زَه په خپله زميندارہ يَم مَاتَه ددې شِي تجربه سته) لِهْذَاددې په خَصِي کولوکي هم کُوم حرج نشته.البته بعض حيوانان دي د مِيندُوئِي لپاره پرېږدي چې نَسل ختم نَه شي .

وجه : (١) حضور (ﷺ) د خَصِي حيوان قُربَانِي کړي ده ددې څخه معلوميږي چې خَصِي کول جائز دئ که نَه نونبي عَلَيهِ السّلاَمُ به دخَصِي قُربَانِي نَه وائ کړي.حديث دادئ. عَن جَابِرَ بنِ عَبدِاللهِ قَالَ ذَبَحَ النّبِيّ (ﷺ) يَومَ الذّبحِ كَبشَينِ اَقرَنَينِ اَملَحَينِ مُوجِئَينِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب مايستحبّ من الضحايا ج٢ ص٢٠ نمبر٢٧٩٥/ابن ماجه شريف.باب اضاحي رسول الله (ﷺ) ص٤٥٥ نمبر٣١٢٢) په دې حديث کي دئ چې حضور (ﷺ) دُوَه خَصِي شوي پُسُونَه ذَبح کړل.ددې څخه معلوم شوچې د بَعضُ حيوانانُ خَصِي کول جائز دئ.د مُوجِئَينِ معنْي خَصِي (٢) په اَثَر کي دئ. عَنِ الحَسَنِ قَالَ لاَبَأسَ بِخِصَاء الدّوَابِّ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ٨ من رَخّصَ في خصاء الدّوابّ ج٦ص٤٢٦نمبر٣٢٥٧٩) دا

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) د غَټ اَختَر په وُرَځ دُوَه مُږَه ذَبح کړل چې ښَکَرَوَر او گَمَرَيَان او خَصِيَان وُ (ب) حضرت حسن وفرمايل د حيوان په خَصِي کولو کي کُوم حرج نشته .

[٣١١٦](١٦) وَ يَجُوزُ اَن يُقبَلَ فِي الهَدِيّةِ وَ الاِذنِ قَولُ العَبدِ وَ الصّبِيِّ .

چې په خپله خَر پر آسپَه خِبژَوَل چې خَچَر پيدا کړي دا د شريف سړي کار نَه دئ. البته که چيري خَر او آسپَه دَادَوَل وکړي او خَچَر پيدا شي نو جائز دئ .

وجه : په خپله خَر پر آسپَه خِبژَوَل بنَه کار نَه دئ دليل يې دا حديث دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) عَبداً مَأمُوراً مَا اِختَصنَا دُونَ النّاسِ بِشَئٍ اِلاّ بِثَلاَثٍ اُمِرنَا اَن نَسبِغَ الوُضُوءَ. وَ اَن لاَ نَأكُلَ الصّدَقَةَ. وَ اَن لاَنَنزِي حِمَاراً عَلْي فَرَسٍ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في كراهية ان ينزي الحُمُرَ عَلْي الخَيلِ ص٢٩٨نمبر١٧٠١) په دې حديث کي دئ چې خَر پر آسپَه وخبژوي ددې څخه حضور (ﷺ) مَنعَ کړې ده.ددې څخه معلوم شوچې د شَرِيف سړي لپاره دغه کار کول بنَه نَه دئ .

لېکن که چيري دَادَوَل وشو نو هيڅ حرج نشته .

وجه : ځکه چې حضور (ﷺ) پر خَچَر باندي سُپَرېدئ.ددې څخه معلوم شوچې که خَچَر پيدا شي نو کُوم حرج نَه لري.حديث دادئ. سُمِعَ البَرَاءُ وَسَأَ لَهُ رَجُلٌ مِن قَيسٍ اَفَرَرتُم عَن رَسُولِ اللهِ (ﷺ) يَومَ حُنَينٍ ... وَلَقَد رَأيتُ النّبِيّ (ﷺ) عَلْي بَغلَتِهِ البَيضَآ ءَ وَ اَنّ اَبَاسُفيَانَ بنِ الحَارِثَ آخِذٌ بِزِمَامِهَا (ب) (بخاري شريف.باب قول الله تعالْي وَيَوم حُنَينٍ اِذ اَعجَبَتكُم كَثرَتُكُم.

ص۶۱۷نمبر۴۳۱۷) په دې حديث کي دئ چي حضور (ﷺ) په جنګ حُنَين کي پر سُپين رنګ خَچَرباندي سُپُور وُ.ددې څخه معلوم شو چي که خَچَر پيدا شي نو کُوم حرج نشته .
لغت : اِنزَاءُ : نَر پر مَادَه خپڑَول .
[۳۱۱۶](۱۶) په هَديَه او اِجَازَت کي د غُلاَم او کِشنِي خبره قبلول جائز ده .

حاشيه : (الف) عبدالله بن عبّاس فرمايي چي حضور عَبدِمَأمُور وُ.د خَلکو څخه عَلاوَه مُورِ په يَو شي سره نَه يو مخصوص شوي مَاسِوائ د دُرُو شِيَانُ.مورِ ته د مُکَمّل اَودَس حُکم کړئ دئ.او دا چي مُورِ به صَدَقَه نَه خُورُو اونَه به خَر پر آسپَه خپڑو (ب) د قبيله قَيس يو سړي د حضرت براء څخه پُوښتَنَه وکړه آيا تاسو دحُنَين په جنګ کي تَبَستبدَلِي واست؟ ... مَا حضور وَلِيدَئ چي پر سُپِينَ خَچَرَ سُپُور وُ او حضرت ابوسُفيَان دهغې مَهَار نيولئ وُ .
تشريح : دَاوَل شَهَادَت چي په هغه سره د چا حَق ثابتيږي کُوم چي په معاملاتُ کي شَهَادَت ورته ويل کيږي په هغه کي خو د کِشنِي بَچِي او غُلاَم شَهَادَت قَابِلِ قَبُول نَه دئ.لېکن هَديَه او دغه دَوَل بَل کِشنَئ شَئ.چي په هغه کي د بَل چا حَق نَه ثابتيږي بلکه صِرف د هغه خَبَر ورکول وي چي مثلاً زُومَا آقَا ستا لپاره دغه شَئ هَديَه رَااَستوَلَئ دئ.يا مثلاً زُومَا پُلاَر ستا لپاره دغه شَئ هَديَه رَا اَستوَلَئ دئ. نو په دغه دَوَل خَبَر کي به ددې دواړو(غُلاَم.کِشنَئ بَچِي)خبره قابل قبول وي.او چاته چي خَبَر ورکړئ دئ دهغه لپاره جواز شته چي د دُوئي پر خَبَر يقين وکړي او هَديَه ځيني قبول کړي .
وجه : (۱) په اَثَر کي دئ. سَألتُ اَنَسًاعَن شَهَادَةِ العَبدِ فَقَالَ جَائِزٌ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۳۴ من كان يجيز شهادة العبدج۴ ص۲۹۸نمبر۲۰۲۷۵) په دې اَثَرکي دئ چي د غُلاَم گواهي جائز ده.چي په معاملاتُ کي جائز ده نو په هَديَه وغيره کي به په طريقه اَولْي سره جائز وي (۲) وَقَالَ اَنَسٌ شَهَادَةُ العَبدِ جَائِزَةٌ اِذَا کَانَ عَدلاً وَ اَجَازَهُ شُرَيحٌ وَ زَرَارَةَ اِبنَ اَوفْي (ب) ددې څخه مخته حديث کي دئ. فَجَاءَت اَمَةٌ سَودَاءُ. فَقَالَت قَد اَرضَعتُکُمَا فَذَکَرتُ ذَالِکَ لِلنّبِيِّ (ﷺ) فَاَعرَضَ عَنِّي قَالَ فَتَنَحّيتُ فَذَکَرتُ ذَالِکَ لَهُ قَالَ وَکَيفَ وَقَد زَعَمَت اَنّهَا قَد اَرضَعتُکُمَا؟ فَنَهَاهُ عَنهَا (ج) (بخاري شريف.باب شهادة الاماء والعبيد ص۳۶۳نمبر۲۶۵۹) ددې حديث او اَثَرڅخه معلوم شوچي د مينځي او غُلاَم گواهي قَابِلِ قَبُولَ ده .
د کِشنِي بَچِي لپاره خو هم دغه حديث او اَثَر دئ چي د هغه گواهي مقبول نَه ده لېکن په کِشنِي او مَعمُولِي شِيَانُ کي د بَچِي خبر مقبول دئ .
وجه : په اَثَرکي دئ.عَن شُرَيحٍ اَنّهُ کَانَ يُجِيزُشَهَادَةَ الصِّبيَانِ عَلْي السِّنّ وَالمُوضِحَةِ

حاشيه : (الف) مَا د غُلاَم د گواهئ په اړه دحضرت انس څخه پُوښتَنَه وکړه نو وفرمايل چي جائز ده (ب) حضرت انس وفرمايل د غُلاَم گواهي جائز ده چي هغه عَادِل وي.او حضرت شريح او زراره بن اَوفْي هم دې ته جواز ورکړئ دئ (ج) په رنګ ټُورَه مينځي راغله او وويل چي مَا تاسو دواړو ته شِيدي درکړي دي.دحضور په مخکي ددې تَذکِرَه وکړه نو حضور اِعرَاض وکړئ.رَاوِي وايي چي زَه لَږ ليرې شوم او ددې تَذکِرَه مِي وکړه.حضور وفرمايل څَه رنګه به وي چي دا وايي تاسو دواړو ته مِي شيدي درکړي دي؟ نو حضور هغه هَلَک مَنع کړئ .

[٣١١٧](١٧) وَ يُقبَلُ فِي المُعَامَلاَتِ قَولُ الفَاسِقِ وَ لاَ يُقبَلُ فِي اَخبَارِ الدِّيَانَاتِ اِلاّ قَولُ العَدلِ .

وَيَتَأ بّاهُم فِيمَا سِوْي ذَالِکَ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٢٤ في شهادة الصبيان ج٤ص٣٦٤ نمبر٢١٠٢٩) ددې اَثَر څخه معلوم شو چې په کِشنِي مِشنِي شِي کي د بَچِي خبر قابل قبول دئ .

لغت : وَالإذنِ : ددې صورت دادئ چې بَچِئ و غُلاَم ته خَبَر ورکړي چې زُومَا پُلاَر تاته د تِجَارَت کولو اِجَازَت درکړئ دئ.يا غُلاَم و کِشني ته خبر ورکړي چې زُومَا آقا تاته د تِجَارَت کولو اِجَازَت درکړئ دئ.نو دده خَبَر په دې اړه مَقبُول دئ.او پر دغه باندي به عَمَل کيږي او غُلاَم ته به د تِجَارَت کولو اِجَازَت ملاؤيږي .

[٣١١٧](١٧) په معاملاتُ کي به دفَاسِق خَبَرَه قبليږي او د دِيَانَاتُ په خبرو کي به نَه قبليږي مګر د عَادِل خبره .

تشريح : چې د دُرُوغجَنِي وَينَا په وجه فَاسِق ګرزېدلئ وي نو بيا خو به دده ګواهي نَه قبليږي.ځکه چې په آيت کې مُمَانَعَت راغلئ دئ. فَاجتَنِبُوا الرِّجسَ مِنَ الاَوثَانِ وَ اِجتَنِبُوا قَولَ الزّورِ (ب) (آيت ٣٠ سورة الحج ٢٢) په دې آيت کې د دُرُوَاغُ ويلو څخه منع کړې ده.لېکن که چيري د يوې بَلِي ګُنَاه په وجه فِسق کړئ وي مثلاً د يَو چا مَال يې خُوَرَلَئ وي دهغه په وجه فَاسِق ګرزېدلئ وي نو په معاملاتُ کي به دده ګواهي قَابِلِ قَبُول وي.په حدود او قصاص کي خو بياهم دفَاسِق ګواهي نَه قبليږي .

وجه : (١) معاملات خو په ډېر ګټرَت سره کيږي.او هر وخت دِيَانَت دَارَ او عَادِل سړئ نَه ملاؤيږي نوځکه په مَعَامَلاَتُ کي د فَاسِق ګواهي قبلېدلائي شي.لکه په بَيعَ او شِرَاء کي به د فَاسِق ګواهي قبليږي.البته د عَادِل ګواهي زِيَاتَ بِهتَرَه ده (٢)

حاشيه : (الف) حضرت شريح به دبَچِي ګواهي جائز ګڼل د عُمُر(سِن و سَال)او د زَخم په اړه او ددې څخه په علاوه کي جائز نَه ګڼل (ب) د بُت پَرَستَئ د نَاپَاکَئ څخه ځان سَاتَئ او د دُروغجَنِي ګواهئ څخه ځان سَاتَئ .

[٣١١٨](١٨) وَ لاَ يَجُوزُ اَن يَنظُرَ الرّجُلُ مِنَ الاَجنَبِيّةِ اِلاّ اِلْي وَجهِهَا وَكَفّيهَا فَاِن كَانَ لاَيَأمَنُ مِن الشّهوَةِ لَم يَنظُر اِلْي وَجهِهَا اِلاّ لِحَاجَةٍ .

په اَثَر کي دئ. وَجَلَدَ عُمَرُ اَبَابَكرَةَ وَشِبلَ بنِ مَعبَدَ وَنَافِعًا بِقَذفِ المُغِيرَةِ ثُمّ اِستَتَابَهُم وَقَالَ مَن تَابَ قُبِلَت شَهَادَتُهُ. وَاَجَازَ عَبدُاللهِ بنِ عُتبَةَ وَعُمَرُبنِ عَبدِالعَزِيزِ وَسَعِيدُبنِ جُبَيرٍ وَطَاؤسُ وَمُجَاهِدُ وَالشّعَبِيّ (الف) (بخاري شريف.باب شهادة القاذف والسّارق والزّانِي ص٣٦١نمبر٢٦٤٨) په دې اَثَر کي دئ چې د حَدّقَذَف والا ثُوبَه وکړي نو دهغه ګواهي به قبليږي.په آيت کي دئ چې د حَدّقَذَف والا فَاسِق ګرزي. وَلاَتَقبَلُوا لَهُم شَهَادً اَبَداً وَ اُولْئِکَ هُمُ الفَاسِقُونَ ﴿ اِلاّ الّذِينَ تَابُوا مِن بَعدِ ذَالِکَ وَ اَصلَحُوا (ب) (آيت٤/ ٥ سورة النّور

۲۴) په دې آیت کي دئ چې د حَدِّقَذَف والا فَاسِق دئ.خو دهغه بَاوُجُود د تېرشوي اَثَر په وجه دهغه ګواهي مَقبُول ده.نو د نُورو فَاسِقَانُ ګواهي به هم مَقبُولَ وي .
البته په دِيَانَاتُ کي مثلاً د مِيَاشتِي ګواهي کله نَا کله پېښيږي.نو ځکه د تېر آیت أُولٰئِکَ هُمُ الفَاسِقُونَ ● په وجه په دي کي به د عَادِل ګواهي مَقبُول وي د فَاسِق ګواهي نَه قبلیږي .
[۳۱۱۸](۱۸) او جواز نَه لري چې نَر وَوِينِي د اَجنَبِي ښځي مَاسِوَائ د مَخ او وَرغَوِي.که چیري د شَهوَت څخه په اَمَن نَه وي نو دهغې مَخ دي هم نَه وِينِي مګر د ضرورت په وجه .

حاشیه : (الف) حضرت عمر و ابوبکره.شِبل بن معبد.او نافِع ته پر مغیره باندي د تُهمَت لګولوپه وجه حَد ولګاوئ بیایې و دُوئي ته وویل تُوبَه وَکارِئ. او وفرمایل څوک چې توبَه وکړي دهغه ګواهي به قبوله شي.او عبدالله بن عُتبَه او عمربن عبدالعزیزاو سعیدبن جُبَیر او طاؤس او مجاهد او شعبي د مَحدُود فِي القَذَف د ګواهئ اِجَازَت ورکړئ (ب) دحَدِّقَذَف والا ګواهي هیڅ وخت مَه قبلوئ.هغه فَاسِقَان دي.مګر هغه چې تُوبَه وکړي او اِصلاَح وکړي نو دهغه ګواهي قبلوئ .
تشریح : لاَسُونَه او مَخ خو د کَتَلُو ضرورت دئ.ځکه چې ښځه ګَار کوي نو دهغه په وجه ددې دُوَارُو اَندَامُو د خَلاَسَوُلُو ضرورت شته نو ددې د ښکاره کولو اِجَازَت شته.البته که چیري د مَخ د لِیدَلُو په وجه د شَهوَت د پَیدَاکېدو خطره وي نو مَخ دي هم پَټ وَسَاتِي.ځکه چې مَخ خو مَجمَعِ مَحَاسِن (د ښَائِست مرکز)دئ.او د شَهوَت د خطرې بَاوُجُود که چیري د مَخ د ښکاره کولو ضرورت پېښ شي مثلاً د ګواهئ لپاره رَاجِي یا چې نِکَاح ورسره کوي وهغه مېړه ته مَخ وَرښکَارَه کول وي نو د دَاوَل ضروت په وخت کي د شَهوَت د خطرې بَاوُجُود و اَجنَبِي نَر ته مَخ ښکاره کولائي شي .
وجه : (۱) د سَتر د پټولو وجه دا آیت دئ. قُل لِلمُؤمِنِينَ يَغُضّوا مِن اَبصَارِهِم وَيَحفَظُوا فُرُوجَهُم ذَالِکَ اَزکٰي لَهُم اِنّ اللهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصنَعُونَ (الف) (آیت۳۰ سورة النّور۲۴) په دې آیت کې و نَرَانُ ته تاکید کړئ دئ چې خپل نَظَرُونَه کښته وَسَاتِي (۲) په بَل آیت کې بیا وښځو ته د نَظَر د کَښَتَه سَاتُلو تَاکِیدکړئ دئ.او دا حُکم یې هم ورکړئ دئ چې خپل زِینَت او ښَائست دي نَه ښکاره کوي.البته کُوم چې د مجبورئ په وجه ښکاره شي یعني لاَسُونَه او مَخ دهغه ګُنجَائِش شته.آیت دادئ. وَقُل لِلمُؤمِنَاتِ يَغضُضنَ مِن اَبصَارِهِنّ وَيَحفَظنَ فُرُوجَهُنّ وَلاَيُبدِينَ زِينَتَهُنّ اِلاّ مَا ظَهَرَ مِنهَا وَاليَضرِبنَ بِخُمُرِهِنّ عَلٰي جُيُوبِهِنّ وَلاَ يُبدِينَ زِينَتَهُنّ اِلاّ لِبُعُولَتِهِنّ (ب) (آیت ۳۱ سورة النّور ۲۴) په دې آیت کي دئ چې ښځي دي خپل نَظَرُونَه کښته وَسَاتِي.دایې هم فرمایلي دي چې پر سِینُو دي کېږي وَاچَوِي .
لاَسُونَه او مَخ ددې څخه مُستَثنْي دي دلیل یې (۱) د وَلاَيُبدِينَ زِينَتَهُنّ اِلاّ مَاظَهَرَمِنهَا تفسیر دحضرت عبدالله بن عبّاس څخه نقل شوئ دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ فِي قَولِهِ تَعَالٰي

حاشيه : (الف) مُؤمن نَرَانُ ته ووايه چي خپل نَظرُونَه کښته وساتي او دخپلو شَرَمگاهُونُو حِفَاظَت وکړي.دا د دُوئي لپاره ډېر ښَه دئ.دُوئي چي هر څَه کوي الله تعالٰي په هغه خَبَر دئ (ب) مُؤمِنَاتُ ښځو ته ووايه چي خپل نَظَرُونَه کښته وَسَاتِي او دخپلو شَرَمگاهُونُو حِفَاظَت وکړي.او خپل زِينَت ښکاره نَه کړي مگر هغه چي په خپله ښکاره شي.او پر خپلو سِينُو باندي پُړُونَان وَاچَوي.اوخپل زِينَت ښکاره نَه کړي مگر د خپلو مِيړَه گَانُ لپاره .

وَلاَيُبدِينَ زِينَتَهُنّ اِلاّ مَاظَهَرَمِنهَا قَالَ مَا فِي الكَفّ وَالوَجهِ (الف) (سنن للبيهقي.باب عورة المرأة الحرّة ج٢ص٣١٨نمبر٣٢١٤) ددې تفسير څخه معلوم شوچي مَخ او لاَسُونَه پَتَوَل ضرروي نَه دي (٢) په حديث کي هم ددې وَضَاحَت شوئ دئ. عَن عَائِشَةَ اَنّ اَسمَاءَ بِنتِ اَبِي بَكرٍ دَخَلَت عَلَي رَسُولِ اللهِ (ﷺ) وَعَلَيهَا ثِيَابٌ رِقَاقٌ فَاَعرَضَ عَنهَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) وَقَالَ يَا اَسمَاءُ! اِنّ المَرأ ةَ اِذَا بَلَغَتِ المَحِيضَ لَم يُصلِح لَهَا اَن يُرْي مِنهَا اِلاّ هٰذَا وَ هٰذَا وَ اَشَارَ اِلٰي وَجهِهِ وَ كَفّيهِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب فيماتُبدي المرأة من زينتهاج٢ص٢١٣نمبر٤١٠٤/سنن للبيهقي.باب عورة المرأة الحرّة ج٢ص٣١٩نمبر٣٢١٨) په دې حديث کي دئ چي بَالِغَه ښځه بَايَد د لاَسُو او مَخ څخه عَلاَوَه بَل ځائ ښکاره نَه کړي.البته د تَګ لپاره د پُښُو د ښکاره کولو ضرورت شته نوځکه پُښي هم ښکاره کولائي شي .

او که چيري د شَهوَت خَطرَه وه نو مَخ دي هم پَټ کړي دهغه دليل (١) يو خو تېرشوئ آيت دئ. وَقُل لِلمُؤمِنَاتِ يَغضُضنَ مِن اَبصَارِهِنّ (٢) او په حديث کي و دې ته اِشَارَه شوې ده.قَالَ اَبُوهُرَيرَةُ عَنِ النّبِيّ (ﷺ) اِنّ اللهَ كَتَبَ عَلٰي اِبنِ آدَمَ حَظّهُ مِنَ الزّنَا اَدرَكَ ذَالِكَ لاَمَحَالَةَ فَزِنَا العَينِ اَلنّظرُ وَ زِنَا اللّسَانِ اَلمَنطِقُ وَالنّفسُ تَتَمَنّي وَتَشتَهِي وَالفَرجُ يُصَدّقُ ذَالِكَ كُلّهُ وَ يُكَذّ بَهُ (ج) (بخاري شريف.باب زنا الجوارح دون الفرج ص٩٢٢نمبر٦٣٤٣/مُسلم شريف.باب قُدّرَ عَلٰي بني آدم حظه من الزناوغيره ص٣٣٦نمبر٢٦٥٧،كتاب القدر) ددې حديث څخه معلوم شوچي مَخ ته په شَهوَت سره کتل دستُرګُو زناء ده.لِهٰذَا که چيري د شَهوَت خطره وي نو بَايَد مَخ پَټ کړي.لېکن که چيري د ښکاره کولو ډېره زياتَ مجبوري وي نو بيا مَخ ښکاره کولائي شي.په بَل حديث کې د بَار

حاشيه : (الف) حضرت ابن عبّاس دوَلاَيُبدِينَ زِينَتَهُنّ اِلاّمَاظَهَرَمِنهَاپه تفسيرکي فرمايلي دي چي وَرغَوِي(لاَسُونَه) او مَخ.يعني دغه دواړه ښکاره کولائي شي (ب) حضرت اسماء دحضور (ﷺ) مخته راغله او دې نَرمَه کېړه اَغُوَستي وه نو حضور (ﷺ) اِعرَاض وکړئ او وويل ائ اسماء! ښځه چي بَالِغَه شي نو دهغې لپاره جواز نشته چي ددغه او هغه څخه علاوه بَل شَئ پې ښکاره شي. مَخ او وَرغَوُ ته اِشَارَه وکړه (ج) حضور (ﷺ) وفرمايل الله تعالٰي پر اِبن آدَم باندي د زنَاء يوه حِصّه ليکلي ده او دا به خَامَخَا کيږي.نو کَتّل د سترګو زنَاء ده.خَبَري کول د ژَبې زنَاء ده.او تَمَنّي او خُوَاهِش کول د زَړَه زِنَاء ده.او شرمګاه ددې ټولو تَصدِيق کوي يا تَکذِيب کوي .

[٣١١٩](١٩) وَ يَجُوزُ لِلقَاضِي اِذَا اَرَادَ اَن يَحكُمَ عَلَيهَا وَ لِلشّاهِدِ اِذَا اَرَادَ الشّهَادَةَ عَلَيهَا اَلنّظَرُ اِلٰي وَجهِهَا وَ اِن خَافَ اَن يَشتَهِيَ .

بَار کتلو څخه منع کړې ده. عَن اَبِي بُرِيدَةَ عَن اَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لِعَلِيّ يَا عَلِيّ! لاَ تَتّبِعِ النّظرَةَ النّظرَةَ فَاِنّ لَکَ الأُولٰي وَلَيسَ لَکَ الآخِرَةَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب مايؤمربه من غَضّ البَصَرِ ص٢٩٩نمبر٢١٤٩)

لغت : کَفّ : وَرغَوَئ.يعني لاَسُونَه .

[۳۱۱۹](۱۹) د قاضي لپاره جواز شته چي کُوم وخت پر ښځه حُکم لګوي.او د ګواهانُ لپاره جواز شته چي کُوم وخت پر ښځه ګواهي ورکوي دا چي ددې و مَخ ته وګوري.که خَّه هم د شَهوَت د پيدا کېدو خطره وي .
تشريح : قاضي پر ښځه هسي يوه فيصله کوي په داسي وخت کي قاضي دښځي و مَخ ته کتلائي شي که خَّه هم د شَهوَت خطره وي.دغه ګواه د ښځي په حَق کي يا دښځي په خِلاَف کي ګواهي ورکوي.او دګواهئ په وخت کي دا ثابتول غُوَارِي چي دغه ښځه ده.او ددغه مَقصَد لپاره دښځي مَخ وَوِينِي نو که خَّه هم د شَهوَت خطره وي خو بيا هم کَتَل جائز دي.البته د کَتَلُو پر وخت دي د قَضَاء نِيّت وکړي او ګواهان دي د ګواهئ د اداء کولو نِيّت وکړي.د شَهوَت لپاره د مَخ د کَتَلُو نِيّت دي نَه کوي .
وجه : (۱) په عام حالاتُ کي د مَخ ښکاره کول جائز وُ.البته چي شَهوَت وي په هغه وخت کي د مَخ ښکاره کول د مجبورئ په درجه کي وُ او دلته د فيصله کولو او دګواهئ ورکولو مجبوري شته.نوځکه دښکاره کولو اِجَازَت شته (۲) په حديث کي ددې ثبوت شته چي کُومَه ښځه ته د نِکاح پيغَام ورکړئ دهغې مَخ ته کَتَل جائز دئ که خَّه هم دغه ښځه تر اُوس مَحَال پُورِي اَجنَبِيّه ده.حديث دادئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ کُنتُ عِندَ النّبِيّ (ﷺ) فَاَتَاهُ رَجُلٌ فَاَخبَرَهُ اَنّهُ تَزَوّجَ اِمرَأ ةً مِنَ الاَنصَارِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وحضرت علي ته وفرمايل بَار بَار مَه ګوره.ستا لپاره اَوّل وار کَتَل حلال دئ او دُوَم وار حلال نَه دئ .

[۳۱۲۰](۲۰) وَيَجُوزُ لِلطّبِيبِ اَن يَنظُرَ اِلْي مَوضِعِ المَرَضِ مِنهَا .

اللهِ (ﷺ) أ نَظَرتَ اِلَيهَا؟ قَالَ لاَ! قَالَ فَاذهَب فَانظُر اِلَيهَا فَاِنّ فِي اَعيُنِ الاَنصَارِ شَيئًا (الف) (مُسلِم شريف.باب ندب من ارادنكاح امرأة اَن ينظر الْي وجهها وكفّيهاقبل خِطبَتِهَا.ص۴۵۶نمبر۱۴۲۴/ ابوداؤدشريف.باب في الرّجُلِ ينظرالْي المرأة وهويريدتزويجها.ص۲۹۱ نمبر۲۰۸۲/ترمذي شريف.باب ماجاء في النظرالْي المخطوبة ص۲۰۷نمبر۱۰۸۷) په دې حديث کي دئ چي مَخطُوبَة ښځه ته کتلائي شي ځکه چي په هغه کي ضرروت شته.قياس پر دغه قاضي او ګواه هم ښځه لپدلائي شي.ځکه چي دُوئي دُوَه هم ضرورت لري که خَّه هم د شَهوَت خَطرَه وي .
[۳۱۲۰](۲۰) د طبيب لپاره جواز شته چي ددې د مَرض ځائ وَوِينِي .
تشريح : مثلاً په کُوَنَاتِي کې زَخم وي اُوس د ډاکټر لپاره دهغه آپريشِن کول ضرروي وي نو ډاکټر ته جواز شته چي دغه ځائ وَوِينِي .
وجه : د مجبورئ په وجه د سَتَر ليدل جائز ګرزي.د مجبورئ په وجه د جواز دليل دا آيت دئ. قُل لاَ اَجِدُ فِي مَا اُوحِيَ اِلَيّ مُحَرّمًا عَلْي طَاعِمٍ يَطعَمُهُ اِلاّ اَن يَكُونَ مَيتَةً اَو دَمًا مَسفُوحًا اَو لَحمَ خِنزِيرٍ فَاِنّهُ رِجسٌ اَو فِسقًا اُهِلّ لِغَيرِ اللهِ بِهِ فَمَنِ اِضطُرّ غَيرَبَاغٍ وَلاَ عَادٍ فَاِنّ رَبّکَ غَفُورٌ رَحِيمٌ (ب) (آيت۱۴۵ سورة الانعام ۶) په دې آيت کي د مُردَار شوي حيوان د خُوَرلُو اِجَازَت ورکړئ دئ.ددې سره سره يې دا هم بيان کړئ دئ چي په خُومرَه اندازه يې

ضرروت وي هغونه حَلاَل دئ دهغه څخه زِيَات استعمالول حرام دئ.دلته هم دځومرَه اندازه مَخ لېدلو ضرورت وي هغونه اَندَازَه مَخ يا مَستُوربَدَن ليدل جائز دئ. پاته شو نور د سَترځايونه لِيدَل په هرحال حرام دي .

حاشيه : (الف) حضرت ابوهريره فرمايي چي زَه د حضور (ﷺ) سره موجود وَم چي حضور (ﷺ) ته يَو سړئ راغلئ او وويل چي دئ د اَنصَارُ د يوې ښځي سره وَادَه کول غُوَارِي.نو حضور (ﷺ) پُوښتَنَه وکړه آيا تَا هغه ښځه ليدلي ده؟ ووى نَه. حضور (ﷺ) وفرمايل وَلاَړ شَه هغه وَوِينَه ځکه چي د اَنصَارُ په سُتُرګُو کي خَه نَه خَه وي(يعني اَنصَار عمومًا د سترګو نَارُوغِي لري) (ب) تَه ورته وفرمايل مَاتَه چي کُومِي وَخِي شوي دي په هغه کي زَه نَه مُونږَم چي حرام دي مګر دا چي مُردَار شوئ وي يا بَيَدُونکي وِينَه وي يا دخِنزِير غوښه وي.ځکه چي دا نَاپَاک دي يا فِسق دئ.د الله تعالٰي څخه علاوه د بَل پر نُوم يې ذَبح کړئ وي.بيا چي کُوم څوک مجبوره شي لَذّت طَلَب کونکئ نَه وي او تر حَد زِيَات تېرېدونکئ وي نو الله تعالٰي معاف کونکئ او رَحم کونکئ دئ .

[٣١٢١](٢١) وَ يَنظُرُ الرّجُلُ مِنَ الرّجُلِ اِلْي جَمِيعِ بَدَنِهِ اِلاّ مَا بَينَ سُرّتِهِ اِلْي رُكبَتِهِ [٣١٢٢](٢٢) وَيَجُوزُ لِلمَرأةِ ان تَنظُرَ مِنَ الرّجُلِ اِلْي مَا يَنظُرُ اِلَيهِ الرّجُلُ مِنهُ .

[٣١٢١](٢١) نَر د نَر تولَه بَدَن ليدلائي شي مَاسوائ د نُه څخه کښته ترځنګنوپُوري
تشريح : د نَر ستر د نُه څخه تر ځنګنو پُورِي دئ نو د يَوَه نَر د بَل نَر دغه حِصّه لِيدَل حرام ده.دا نُور پاته بَدَن لېدلائي شي ځکه چي هغه سَتَر نَه دئ .
وجه : (١) په حديث کي دئ. عَن عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) ... وَاِذَا زَوّجَ اَحَدُكُم خَادِمَهُ عَبدَهُ اَو اَجِيرَهُ فَلاَ يَنظُرَ اِلْي مَادُونَ السّرّةِ وَ فَوقَ الرّكبَةِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب متي يؤمرالغلام بالصّلوة ص٧٧نمبر٤٩٦/سنن للبهقي.باب عورة الرّجُلِ ج٢ص٣٢٤نمبر٣٢٣٥) (٢) په بَل حديث کي دئ. سَمِعتُ عَلِيًّا يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَلرّكبَةُ مِنَ العَورَةِ (ب) (دارقطني.باب الامر بتعليم الصلوة والضّربُ عليها وحدّ العورة الّتي يجب سترهاج١ص٢٣٧نمبر٨٧٨) ددې حديث څخه معلوم شوچي تر ځنګُن پُورِي سَتَر دئ يعني ځنګُن هم په سَتَر کي شَامِل دئ نوځکه ځنګُن ته کَتَل هم ناجائز دئ .
لغت : سُرّةٌ : نُه. رُكبَةٌ : ځنګُن .
[٣١٢٢](٢٢) او ښځي ته جواز شته چي دنَر دُومرَه حِصّه وَوِينِي څومرَه چي نَر د نَر دا لِيدَلائي شي .
تشريح : نَر د نَر بَدَن د نُه څخه تر ځنګنُو پُورِي نَه شي لېدلائي دا نُور پاته بَدَن لېدلائي شي.دغه رنګه ښځه هم د نَر د نُه څخه تر ځنګنُو پُوري بَدَن نَه شي لېدلائي دا نُور پاته بَدَن لېدلائي شي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل ... د تاسو څخه يَو خپل خَادِم يعني غُلاَم يا اَجِير ته وَادَه وروکړي نو د نُه څخه کښتَه تر بَالاَ ځنګُن پُورِي دي نَه وِينِي (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل ځنګُن په سَتر کي دَاخِل دئ .

[٣١٢٣](٢٣) وَتَنظُرُ المَرأ ةُ مِنَ المَرأ ةِ اِلْي مَا يَجُوزُ لِلرّجُلِ اَن يَنظُرَ اِلَيهِ مِنَ الرّجُلِ [٣١٢٤](٢٤) وَ يَنظُرُ الرّجُلُ مِن اَمَتِهِ الّتِي تَحِلّ لَهُ و زَوجَتِهِ اِلْي فَرجِهَا .

وجه : ځکه چې د نَر او ښځي دواړو لپاره د نَر سَتَر د نُه ځخه تر ځنګنُو پوري دئ دا نُور پاته بَدَن سَتَر نَه دئ.دليل يې تېرشوئ حديث دئ. اَلرّكبَةُ مِنَ العَورَةِ (دارقطني.نمبر٨٧٨)
[٣١٢٣](٢٣) ښځه د ښځي دُومرَه بَدَن لپدلائي شي ځومره چې يَو نَر د بَل نَر بدن لپدلائي شي .
تشريح : يَو نَر د بَل نَر د نُه ځخه تر ځنګنُو پوري بَدَن نَه شي لپدلائي پاته بَدن لپدلائي شي.دغه رنګه يوه ښځه د بَلِي ښځي د نُه ځخه تر ځنګنُو پوري بَدَن نَه شي لپدلائي ځکه چې دا سَتَرِ غَلِيظَه دئ دا نُور پاته بَدَن لپدلائي شي .
وجه : چې يَوَه ښځه د بَلِي ښځي تَئ وَوِينِي نوشَهوَت يې نَه پُورتَه کيږي ځکه چې دغه شَئ ددې سره هم شته.لِهْذَا ددې اَندَامُو په لپدلو کي کُوم حرج نشته.البته د نُه ځخه ترځنګنُوپوري سَترِ غَلِيظَه دئ نوځکه د ښځي لپاره هم ددې کَتَل جوازنَه لري .
[٣١٢٤](٢٤) هغه مينځه چې دده لپاره حلال ده دهغې او دخپلي مَينې شرمګاه نَر لپدلائي شي .
تشريح : که مَالِک دخپلي مينځي وَادَه د بَل چا سره کړئ وي نو دهغې مينځي سره خو مَالِک صُحبَت نَه شي کولائي.دغه رنګه مينځه د مَالِک خپله رضاعي خُور وي نو دهغې سره هم صُحبَت نَه شي کولائي نو ځکه وفرمايل چې دَاوَل مينځه چې صُحبَت ورسره حلال وي که دهغې و شرمګاه ته کَتَل وَغُوَارِي نو کتلائي شي په هغه کي گُنَاه نشته.دغه رنګه که وَغُوَارِي چې دمَينې شرمګاه وَوِينِي نو کتلائي شي گُنَاه نَه لري.البته د تقوْي تَقَاضَا داده چې خامخا او هَسِي دې نَه وِينِي.ځکه چې هغه د شَرَم ځائ دئ .
وجه : (١) په حديث کي د دواړو خبرو ثبوت شته. اَخبَرَنَا بَهزُ بِنِ حَكِيمٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِهِ قَالَ قُلتُ يَا نَبِيّ اللهِ! عَورَاتُنَا مَا نَأتِي مِنهَا وَ مَا نَذَرُ؟ قَالَ اِحفَظ عَورَتَکَ اِلاّ مِن زَوجَتِکَ اَو مَا مَلَکَت يَمِينُکَ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في حِفظِ العَورَةِ ص١٠٣نمبر٢٧٩٤/ابن ماجه شريف.باب التستّرعندالجماع ص٢٧٥نمبر١٩٢٠) په دې حديث کي دئ چې خپل سَتَر پَټ وَسَاتَئ مګر دخپلي مَينې او مينځي ځخه.ددې مطلب دادئ چې دخپلي مَينې او خپلي مينځي په مخکي کي که چيري سَتَر ښکاره شي نو کُوم حرج نَه لري (٢) په يوه حديث کي ددې وَضَاحَت راغلئ دئ. اَنّ سَعدَبنِ مَسعُودِ الكِندِيّ قَالَ اَتَي عُثمَانُ بِنُ مَظعُونٍ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ! اِنّي لاَستَحي اَن تَرَي اَهلِي عَورَتِي قَالَ وَقَد جَعَلَکَ اللهُ لَهُم لِبَاسًا وَجَعَلَهُم لَکَ لِبَاسًا قَالَ اُكرِهُ ذَالِکَ قَالَ فَاِنّهُم يَرَونَهُ مِنّي وَ اَرَاهُ مِنهُم قَالَ اَنتَ يَا رَسُولَ اللهِ! قَالَ اَنَا قَالَ اَنتَ! فَمَن بَعدَکَ اِذاً؟ قَالَ فَلَمّا اَدبَرَ

عُثمَانُ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِنّ اِبنَ مَظعُونٍ لَحَيِيٌ سَتِيرٌ (ب) (مصنّف عبدالرّزاق.القول عندالجماع ويف يصنع وفضل الجماع ج۶ ص۱۹۵ نمبر۱۰۴۷۱) په دې حديث کي حضور فرمايلي دي چي بِي بِي گَانِ زُومَا دا وِينِي او زَه بِي بِي گَانُ دا وِينَم.ددې څخه معلوم شوچي د بِي بِي شرمگاه لېدل جائز ده .

البته چي نَه وَوِينِي نو بنَه کار دئ.

وجه : (۱) په حديث کي دئ.عَن عُتبَةَ اِبنَ عَبدَالسّلَمِيّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِذَا اَتَي اَحَدُكُم اَهلَهُ فَليَستَتِر وَلاَ يَتَجَرّدُ تَجَرّدَ العِيرَينِ (ج) (۲) په بَل رِوَايَت کي

حاشيه : (الف) مَا وويل يَا نَبِي الله! مورِ د سَتَر په اړه څه وکړو او څه پرېږدو؟ حضور (ﷺ) وفرمايل د مَينې او مينځي څخه علاوه خپله شرمگاه محفوظ وَسَاتَه (ب) حضرت عثمان بن مظعون حضور (ﷺ) ته راغلئ وفرمايل يارسول الله! زَه شرمېژم چي زُومَا بِي بِي زُومَا شرمگاه وَوِينِي.وفرمايل الله تَه ددې لپاره لِبَاس جوړ کړئ يې او دا يې ستا لپاره لِبَاس جوړ کړي ده.حضرت عثمان وفرمايل زَه ددې څخه هم کَرَاهِيّت محسوسوم. حضور (ﷺ) وفرمايل زُومَا بِي بِي زُومَا شرمگاه وِينِي او زَه دهغې دا وِينَم.په تَعَجّب سره پُوښتنَه وکړه ستا دا يارسول الله! وفرمايل زُومَا دا نو بَل دچا دا؟ حضرت عثمان رَوَان شو نو حضور (ﷺ) وفرمايل ابن مظعون دِې زيات شَرَمسَار دئ دِې زيات پَردَه دَار دئ (ج) حضور (ﷺ) وفرمايل چي ستاسو څخه څوک خپلي بِي بِي ته راشي نو سَتَر دي پَټ کړي او د دُوُ خَرُو په شان دي ځانونه نَه بِې پَردَه کوي .

[۳۱۲۵](۲۵) وَ يَنظُرُ الرّجُلُ مِن ذَوَاتِ مَحَارِمِهِ اِلْي الوَجهِ وَ الرّأسِ وَ الصّدرِ وَ السّاقَينِ وَ العَضُدَينِ وَ لاَ يَنظُرُ اِلْي ظَهرِهَا وَ بَطنِهَا وَ فَخذِهَا .

دئ. عَن عَائِشَةَ قَالَت مَا نَظَرتُ اَو مَا رَأيتُ فَرجَ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) قَطّ (الف) (ابن ماجه شريف.باب التستّرعندالجماع ص۲۷۵نمبر۱۹۲۱/ ۱۹۲۲/ ترمذی شريف.باب ماجاء في الاستتار عند الجماع ص۱۰۳نمبر۲۸۰۰) ددې حديث څخه معلوم شوچي د جِمَاع پر وخت دي بِالكُلّيّه ځان نَه لَخَوِي او مُكَمّل دي نَه بَربَنډ کيږي. ددې څخه معلوم شوچي بنَه خبره داده چي يَو د بَل شرمگاه نَه وَوِينِي .

[۳۱۲۵](۲۵) اِنسَان کتلائي شي دخپل ذِي رَحِمِ مَحرَم بنځو مَخ.سَر.سِينَه.پُنډَئ او بَازُوگَان.او نَه دي وِينِي دهغې شَا.نَس او وُرُن .

تشريح : ذِي رَحِمِ مَحرَم بنځي مثلاً مُور.خُور.تُرُورِي.اَنَا.خَالَه اودغه رنگه نُوري د دُوئي مَخ.سَر.ځيگر يعني د گَرنَکِ څَه حِصّه.پُنډَئ او بَازُوگَان لېدلائي شي.لېکن د دُوئي شَا(مَلاَ).نَس.وُرُن.ځنگُون نَه شي لېدلائي .

وجه : (۱) د نَر لپاره د ذِي رَحِمِ مَحرَمِ بنځي د غَارِي څخه وَنيسي تر ځنگنو پُوري سَتَر دئ او دغه د شَهوَت ځايونه هم دي نوځکه دغه ځايونه نَه شي لېدلائي.پاته شو سَر.مَخ.پُنډَئ.د سِينې څخه لُوَر چي کُوم دغَارِي هَډُوکِي دي يعني گَرنَگه هغه لېدلائي شي (۲) په آيت کي و دې ته اِشَارَه شوې ده. وَلاَ يُبدِينَ زِينَتَهُنّ اِلاّ لِبُعُولَتِهِنّ اَو آ بَائِهِنّ اَو آ بَاءِ بُعُولَتِهِنّ اَو اَبنَائِهِنّ اَو اَبنَآءِ بُعُولَتِهِنّ اَو اِخوَانِهِنّ اَو بَنِي اِخوَانِهِنّ اَو بَنِي

اَخَوَاتِهِنّ اَو نِسَائِهِنّ اَو مَا مَلَكَت اَيمَانُهُنّ (آيت ٣١ سورة النّور ٢٤) په دې آيت کي دئ چي ښځي خپل زِينَت يعني د زِينَت ځايونه ددغه مَذکُورَه ذِي رَحمِ مَحرَم خلکو په مخکي کي ښکاره کولائي شي.د زېوَر اَغُوَستَلُو او د ښائِست کولو

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمايي چي مَا د حضور (ﷺ) شرمګاه هيڅ کله نَه ده ليدلي .

[٣١٢٦](٢٦) وَ لاَ بَأسَ بِاَن يَمُسّ مَا جَازَ لَهُ اَن يَنظُرَ اِلَيهِ مِنهَا .

اَندَامُونَه دا دي.پَزَه(پُزَه).غُوَږ چي سَر او مَخ هم پکښي دي.په غَارَه غَارَګئ خَرَوِي په هغه کي د سِينې لُوَږ هَډُوکِي يعني کَرنَکَه هم راغله.په پُنډَئ کي پَازِيبُونَه او په بَازُوګَانُ کي بَازُوبَند(يعني ګډئ) او په مَروَندُو باندي بَنګړِي يا کړِې استعمالوي.نوځکه دغه اَندَامُونَه د زِينَت ځايونه دي.ددې آيت په رُونَا کي د ذِي رَحمِ مَحرَم په مخکي دغه اَندَامُونَه خَلاَسَوَلاَئي شي.او هغه ته ښکاره کولائي شي ... شَا(مَلاَ).نَس.وُرُن د سِينې هغه حِصّه کُوم چي د تِي(غُوَلاَنخِي) ځايونه دي يا دهغه شَاوخُوَا حِصّه پر دغه باندي زِېوَر نَه استعمالِيږي نو ځکه د آيت په رُونَا کي دغه اَندَامُونَه خَلاَسَوَل يا ښکاره کول حرام دي (٢) د دغه اَندَامُو په لېدلو سره شَهوَت پُورتَه کيږي نوپه دې وجه ددې لِيدَل جواز نَه لري (٣) ذِي رَحمِ مَحرَم ښځي د نَرَانُ سره هر وخت کارونه کوي نو که چيري هر وخت پر سَر.بَازُوګَانُ.پُنډَئِو باندي د کېږِې اَچَوُلُو تَاکِيد وشي نو په دي کي دِېر زيات حَرَج دئ.شَرِيعَتِ مُطَهّرَه ددې اَندَامُو د پَټَوُلُو تَاکِيدِي حُکم نَه دئ کړِئ (٤) په اَثَر کي دئ. اَنّ الحَسَنَ وَالحُسَينِ کَانَا يَدخُلاَنِ عَلَي اُختِهِمَا اَمّ کُلثُومٍ وَهِيَ تَمشِطُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة.ج٤ص١٢نمبر١٧٢٧٤) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي د ذِي رَحمِ مَحرَم سَر او قياس پر هغه ددې پُنډَئ او بَازُوګَان لېدل جائز دي .

لغت : سَاقٌ : پُنډَئ. عَضُدَينِ : د عَضُدٌ تَثنِيَه ده.بَازُو. فَخِذٌ : وُرُن .

[٣١٢٦](٢٦) هيڅ حرج نشته چي لاَس وَروُرِي هغه اَندَام ته چي کَتَل يې جائز وي .

تشريح : د ذِي رَحمِ مَحرَه ښځو کُوم اَندَامُونَه چي لېدل جائز دي د ضرورت په وجه هغه اَندَامُونَه مَس کولائي هم شي په دې شَرط چي د شَهوَت خَطرَه نَه وي .

وجه : (١) په سَفَر يا بَل دغه رنګه ځايو کي د بَس يا رِېل ګاډئ څخه د شَوَه کولو پر وخت د ښځي لاَس يا د پُښې د نِيوُلُو ضرورت پېښيږي او دهغه په مَس کولو کي د

حاشيه : (الف) حضرت حسن او حضرت حسين به خپلي خُور کُلثُوم ته راتلل او هغې به بېښتان رُمُونځ کوله .

شَهوَت خطره ډېره کَمَه وي ځکه چي پر دغه وخت اِحتِرَام مَانِع وي.لِهْذَاکُوم اَندَامُونَه چي لېدل يې جائز دئ دهغه مَس کول هم جائز دئ (٢) په حديث کي و دې ته اِشَارَه شوې ده. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لاَ بَأسَ اَن يُقَلِّبَ الرّجُلُ الجَارِيَةَ اِذَا اَرَادَ اَن يَشتَرِيهَا وَ يَنظُرَ اِلَيهَا مَا خَلاَ عَورَتَهَا (الف) (سنن للبيهقي.باب عَورَةِ الاَمَةِ ج٢ص٣٢١نمبر٣٢٢٤) په دې حديث کي دئ چي مينځي رَانِيسي نو هغه دي يَوَه خُوَا بَلَه

خُوَا ته وَګرزوي ددې څخه اِشَارَةً دا معلومیږي چې مَسَ کولائي یې هم شي (۳) په اَثَر کي راغلي دي. حَدّثَنَا مُعتَمِرُ عَن اَبِيهِ اَنّ طَلَقًا کَانَ يُذُوبُ اُمّهُ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۷۵ ماقالوا في الرّجُلِ ينظرُ الٰي شَعرِ اُمّهِ ويفليهاج۴ ص۱۲ نمبر۱۷۲۷۸) ددې اَثَر څخه معلوم شوچې د خپلې مُور بِيښتَان چُوتِل کولائي شي.ددې څخه معلوم شوچې دغه اَندَامُونَه مَسَ کولائي هم شي .

البته که چيري د شَهوَت خطره وي نو ذِي رَحمِ مَحرَم بنځي دي هم نَه مَسَ کوي .

وجه : په حديث کي دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَنِ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ کُتِبَ عَلٰي بَنِي آدَمَ نَصِيبَهُ مِنَ الزّنٰي مُدرِکٌ ذَالِکَ لاَ مَحَالَةَ فَالعَينَانِ زِنَاهُمَا اَلنّظَرُ وَ الأُذُنَانِ زِنَاهُمَا اِلإستِمَاعُ وَاللّسَانُ زِنَاهُ اَلکَلاَمُ وَ اليَدُ زِنَاهَا اَلبَطشُ وَ الرّجلُ زِنَاهَا اَلخُطَأ وَالقَلبُ يَهوِي وَ يَتَمَنّٰي وَ يُصَدّقُ ذَالِکَ الفَرجُ وَ يُکَذّبَهُ (ج) (مُسلم شريف.باب قُدّرَ علٰي ابن آدم حظه من الزّناوغيره ص۳۳۶نمبر۲۶۵۷/ ۶۷۵۴/بخاري شريف.باب زناالجوارح دُونَ الفرج ص۹۲۲نمبر۶۲۴۳) په دې حديث کي دئ چې په شَهوَت سره نِيوَل هم د زِنَاء په درجه کي دئ لِهٰذَا که چيري شَهوَت وي نو د ذِي رَحمِ مَحرَم دغه اَندَامُونَه دي هم نَه مَسَ کوي .

لغت : مَسّ : مَسَ کول.لاَس وَروُرَل .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل چې سړئ مينځي پر لَوَارَوي رَاوَارُوي وګوري په دي کي حرج نشته.که چيري ددې د رَانِيوُلُو اراده لري.او د سَتَر څخه علاوه ددې نور بَدَن لېدلائي شي (ب) حضرت طلق به دخپلې مُور د سَر چُوتِل جوړاوئ (ج) حضور (ﷺ) وفرمايل الله پر بَنِي آدَم باندې د زِنَاء حِصّه ليکلې ده چې هغه به حَتمًا کيږي. نو ليدل د دوارو سُتُرګو زِنَاء ده.او اَورېدَل د دوارو غُوږُو زِنَاء ده.او خَبَرِي کول د ژَبې زِنَاء ده.او مَس کول د لاَس زِنَاء ده.او تَګ کول د پُښُو زِنَاء ده.او زړه خُوَاهِش کوي او تَمَنّاء کوي او فَرج(شرمګاه)دهغه تَصدِيق کوي يايې تَکذِيب کوي .

[۳۱۲۷](۲۷) وَ يَنظُرُ الرّجُلُ مِن مَملُوکَةِ غَيرِهِ اِلٰي مَا يَجُوزُ لَهُ اَن يَنظُرَ اِلَيهِ مِن ذَوَاتِ مَحَارِمِهِ [۳۱۲۸](۲۸) وَ لاَ بَأسَ بِاَن يَمُسّ ذَالِکَ اِذَا اَرَادَ الشّرَاءَ وَ اِن خَافَ اَن يَشتَهِيَ .

[۳۱۲۷](۲۷) سړئ د بَل چَا د مينځي دُومرَه بَدَن لېدلائي شي څومره چې د خپلو ذِي رَحمِ مَحرَم بنځو دا ليدلائي شي .

تشريح : د ذِي رَحمِ مَحرَم بنځو د غَارِي يعني د سِينې د لُوَړ هَډُوکي څخه تر ځنګُنو پُورِي بَدَن نَه شي ليدلائي پاته سَر.بَازُوګَان او پُنډَئ ليدلائي شي دغه رنګه د بَل د مينځي د سِينې دهَډُوکِي څخه لُوَړ يعني ګَرنَکِي څخه ونيسې بيا تر ځنګنو پُورِي بَدَن نَه شي ليدلائي.پاته سَر.بَازُوګَان او پُنډَئ يې ليدلائي شي .

وجه : (۱) مَملُوکَه مينځه د کُور څخه دبَاندِي د کار لپاره وُزِي نو هر وخت پَيرُونَئ پر سَر کول مُشکِل کار دئ.نوځکه دمينځي لپاره دا ګُنجائِش شته چې سَر.بَازُوګَان او پُنډَئ بنکاره کړي (۲) دغه مينځه د ذِي رَحمِ مَحرَم بنځي په شان شوې ده.البته کُوم اَندَامُونَه چې ليدل يې جائز دي دهغه مَس کول جواز نَه لري.ځکه چې هلته کَامِل

شَهوَت موجود دئ (۳) په حديث کي ددې ثبوت شته. عَن عَطَاءَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِنّ الاَمَةَ قَد اَلقَت فَروَةَ رَأسِهَا (الف) په بَل اَثَر کي دئ. عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ تُصَلِّي اُمّ الوَلَدِ بِغَيرِ خِمَارٍ وَ اِن كَانَت قَد بَلَغَت سِتّينَ سَنَةً (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۴۹۶ في الاَمَةِ تُصَلِّي بغيرخمارٍ ج۲ ص۴۱نمبر۶۲۲۶/ ۶۲۳۴) ددې حديث او اَثَر څخه معلوم شوچې د مينځې سَر او قياس پر هغه بَازُوګَان او پُنډَئ هم سَتَر نَه دي .

[۳۱۲۸](۲۸) ددې اَندَامُو په مَسَ کولو کي کُوم حرج نشته که چيري د رَانِيوُلُو اراده وي که څَه هم د شَهوَت خطره موجود وي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل مينځې د سَر څخه پُروئ تَسَوَلائي شي (ب) حضرت ابراهيم وفرمايل اُمِّ وَلَد د پَرُونِي بغيره لمونځ اداء کولائي شي که څَه هم شُپِيتُو (۶۰) کَالُ ته رسېدلې وي .

[۳۱۲۹](۲۹) وَ الخَصِيّ فِي النّظَرِ اِلْي الاَجنَبِيّةِ كَالفَحلِ .

تشريح : د مينځې د رَانِيوُلو اراده يې ده نو که څَه هم د شَهوَت د پُورتَه کېدو خطره وي خو بيا هم دمينځې هغه اَندَامُونَه مَسَ کولائي شي کُوم چې د ليدلو اِجَازَت يې شته.مثلاً سَر.بَازُوګَان او پُنډَئ ليدلائي شي او که د رانيولو اراده وي نو دغه اَندَامُونَه مَسَ کولائي هم شي.چې دا معلوم شي چې مينځه څومره نَرمَ او نَازکَه ده .

وجه : (۱) مينځه د مَال په درجه کي ده.نو د ضرورت په وجه مينځه د کَتَلُو لپاره مَسَ کولائي شي (۲) په يوه حديث کي و دي ته اِشَارَه شوې ده.عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لاَ بَأسَ اَن يُقَلِّبَ الرّجُلُ الجَارِيَةَ اِذَا اَرَادَ اَن يَشتَرِيهَا وَ يَنظُرَ اِلَيهَا مَا خَلاَ عَورَتَهَا (الف) (سنن للبيهقي.باب عورة الاَمَةِ ج۲ ص۳۲۱نمبر۳۲۲۴) په دې حديث کي دئ چې دمينځې د رَانِيوُلُو اراده يې وي نو که چيري هغه مينځه پر يَوَه خُوَا بَلَه خُوَا وَاړَوِي و ګوري په دي کي کُوم حرج نشته.او چې پر يَوَه خُوَا بَلَه خُوَا يې اړه وي نو په دي کي مَسَ کېدل هم راځي. معلوم شو چې مَسَ کولائي يې هم شي .

پام لرنه : په بَل روايت کي دئ که چيري د شَهوَت خطره وي نو دمينځې مَسَ کول جواز نَه لري .

وجه : مخته تېرشوي دي چې په شَهوَت سره مَسَ کول د لاَسُو زِنَاء ده وَاليَدُ زِنَا هَا اَلبَطشُ (مُسلِم شريف.نمبر۲۶۵۷) لِهْذَا د بَل د مَال څخه د زِنَاء په اَندَاز کي اِستِفَادَه کول جواز نَه لري .

[۳۱۲۹](۲۹) خَصِي سړئ و اَجنَبِيّه ته په کَتَلُو کي د نَر په شان دئ .

تشريح : چې مُکَمّل نَر وي خَصِي شوئ نَه وي لکه څَه رنګه چې و اَجنَبِيّه ښځه ته دده کَتَل حرام دئ دغه رنګه کُوم نَر چې خَصِي شوئ وي دهغه لپاره هم د اَجنَبِيّه ښځي سَتَر ليدل حرام دئ .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل چې مينځه پر له وَاړَوِي رَاوَاړَوِي په دي کُوم حرج نشته که چيري ددې د رَانِيوُلُو اِرَادَه وي.او د سَتَر څخه علاوه نور ځايونه ليدلائي شي .

[٣١٣٠](٣٠) وَ لاَ يَحُوزُ لِلمَملُوكِ اَن يَنظُرَ مِن سَيِّدَتِهِ اِلاّ اِلَي مَا يَجُوزُ لِلاَجنَبِيِّ النّظَرُ اِلَيهِ مِنهَا .

وجه : (١) په وِرَاثَت.لمونځ او نورو اَحكَامُ كي خَصِي سړئ هم د مُكَمّل نَر په شان دئ نو حُكه دئ به هم و اَجنَبِيّه ښځي ته په كَتَلُو كي د نَر په شان وي (٢) په خِلقَت او پَيدَائِش كي دئ مُكَمّل نَر پيداشوئ دئ.وروسته دده مُثلَه شوې ده نوحُكه اُوس مَحَال به هم دئ د نَر په حُكم كي وي.په اَثَر كي راغلي دي. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ خَصَاءُ البَهَائِمِ مُثلَةٌ ثُمّ تَلاَ وَلاٰمُرَنّهُم فَلَيُغَيّرُنّ خَلقَ اللهِ (الف) (آيت١١٩ سورة النساء ۴، مصنّف ابن ابي شيبة ٨ ماقالوا في خصاء الخيل والدّوابّ ج ۶ ص۴٢۶نمبر٣٢٥٧۶) په دې اَثَركي دئ چې خَصِي كېدل هم د مُثلې يَو قِسم دئ.او چې نَر مُثلَه وي دهغه حُكم د اَصل نَر حُكم دئ .

لغت : اَلفَحلُ : مُكَمّل نَر .

[٣١٣٠](٣٠) غُلاَم دخپلي سَيّدې دُومرَه بدن ليدل جائز دئ څومره چې اَجنَبِي نَر ددې بَدَن ليدلائي شي .

تشريح : اَجنَبِي نَر د اَجنَبِي ښځي صرف مَخ او لاَسُونَه ليدلائي شي.دغه رنګه غُلاَم هم د خپلي سَيّدې صرف مَخ او لاَسُونَه ليدلائي شي.نُور بَدَن دده لپاره سَتر دئ .

وجه : (١) غُلاَم خو په هر حال كي يو اَجنَبِي نَر دئ.چې خَرڅ يې كړي مُكَمّل به اَجنَبِي شي.نوحُكه د غُلاَمِيّت په زمانه كي به هم دده حَالَت د اَجنَبِي حَالَت وي (٢) په اَثَر كي ددې ثبوت شته. عَنِ الضّحّاكِ اَنّهُ كَرِهَ اَن يَنظُرَ المَملُوكُ اِلَي شَعرِ مَولاتِهِ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٧٣ ماقالوا في الرّجُلِ المَملُوكِ له ان يرْي شعرمولاته ج۴ ص١١ نمبر١٧٢٧٠) په بَل روايت كي دئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ تَستُرُ اِمرَأ ةٌ عَن غُلاَمِهَا (ج) (مصنّف ابن ابي شيبة. ماقالوا في الرّجُلِ المملوك له ان يرْي شعرمولاته ج۴ ص١١نمبر١٧٢۶٧) ددې

حاشيه : (الف) حضرت ابن عبّاس وفرمايل حيوانان خَصِي كول مُثلَه ده.بيايې دا آيت وَلُوستَئ.شيطان به دُوئي ته ضرور حُكم كوي چې د الله تَخلِيق بَدَل كړي (ب) حضرت ضَحّاک فرمايي چې غُلاَم دخپلي سَيّدې ښښتَان وَوِينِي دا مكروه دئ (ج) حضرت ابراهيم وفرمايل ښځه دي د خپل غُلاَم څخه پَردَه وكړي .

[٣١٣١](٣١) وَ يَعزِلُ عَن اَمَتِهِ بِغَيرِ اِذنِهَا .

دواړو اَثَرُو څخه معلوم شوچي غُلاَم دخپلي سَيّدې په حَق كي د اَجنَبِي په شان دئ .

فائده : امامِ شافعي(ﷺ) فرمايي چې غُلاَم دخپلي سَيّدې لپاره د ذِي رَحمِ مَحرَم په شان دئ.يعني د گرنَكِ د هَدُوكِي څخه ونيسي بيا تر ځنګنو پُورِي سَتَر دئ.پاته سَر.بَازُوګَان او پُندَئ دده لپاره سَتَر نَه دي دغه دې ځايونه ليدلائي شي .

وجه : (١) په حديث كي دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) اَتَي فَاطِمَةَ بِعَبدٍ قَد وَهَبَهُ لَهَا قَالَ وَعَلَي فَاطِمَةَ ثُوبٌ اِذَا قَنَعَت بِهِ رَأسَهَا لَم يَبلُغ رِجلَيهَا وَ اِذَا قَنَعَت بِهِ رِجلَيهَا لَم يَبلُغ رَأسَهَا فَلَمّا رَاَي النّبِيّ (ﷺ) مَا تَلقَي قَالَ اِنّهُ لَيسَ عَلَيكِ بَأسٌ اِنّمَا هُوَ اَبُوكِ وَ غُلاَمُكِ

(الف) (ابوداؤدشريف.باب في العبدينظرالٰي شعرمولاته ص۲۱۳نمبر۴۱۰۶) په دې حديث کي دئ چې پُلاَر يا خپل غُلاَم بَازُو.پُنډَئ ووينې هيڅ حرج نَه لري. ددې څخه معلوم شوچې هغه غُلاَم هم د ذِي رَحمٍ مَحرَم په شان ګرزېدلئ دئ (۲) په اَثَر کي راغلي دي. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ لاَ بَأسَ اَن يَنظُرَ المَملُوکُ اِلٰي شَعرِ مَولاَتِهِ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۷۳ماقالوافي الرّجُلِ المملوک له اَن يرٰي شعرمولاته ج۴ص۱۱نمبر۱۷۲۶۴) ددې اَثَر څخه معلوم شوچې دسَيّدې ببښتان وَوِينِي کُوم حرج نَه لري. معلوم شوچې دغه اَندَام دده لپاره سَتَر نَه دئ .

[۳۱۳۱](۳۱) د مينځي سره دي دهغې د اِجَازَت بغيره عَزَل وکړي .

تشريح : چې د جِمَاع پر وخت مَنِي دَبَانِدِي تُوئي کړي دې ته عَزَل وائي.دمينځي سره دهغې د اِجَازَت بغيره عَزَل کولائي شي .

وجه : عَزَل کولائي شي دليل يې دا حديث دئ. سُمِعَ جَابِرُ يَقُولُ کُنّا نَعزِلُ وَالقُرآنُ

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) حضرت فاطمه ته دهغه غُلاَم سره تشريف راوړئ کُوم چې دې ته هِبَه کړئ وُ. فرمايي چې دفاطمه سره دُومرَه کِشنَې کړه وه چې سَر به پَتَاوَئ نو پُښُو ته نَه رسېدئ او چې پُښې به پَتَوَلې نو سَر ته نَه رسېدئ.حضور (ﷺ) چې کُوم وخت دغه پرېښَانِي ولېدله نو وفرمايل پر تَا هيڅ حرج نشته صِرف پُلاَر او سَتَا غُلاَم موجود دئ (ب) حضرت ابن عبّاس فرمايي چې غُلاَم دخپلي سَيّدې ببښتان وَوِينِي کُوم حرج نشته .

[۳۱۳۲](۳۲) وَ لاَ يَعزِلُ عَن زَوجَتِهِ اِلاّ بِاِذنِهَا .

يَنزِلُ (الف) (بخاري شريف.باب العزل ص۷۸۴نمبر۵۲۰۸/مُسلم شريف.باب حکم العزل ص۴۶۴ نمبر۱۴۴۰) ددې حديث څخه معلوم شوچې عَزَل کول جائز دئ. اودمينځي څخه د اِجَازَت اخستلو بغيره د عَزَل کولو دليل دا اَثَر دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ تُستَأمَرُ الحُرّةُ فِي العَزلِ وَ لاَ تُستَأمَرُ الاَمَةُ (ب) (مصنّف عبدالرّزاق.باب تُستَأمَرُ الحُرّةُ فِي العَزلِ وَ لاَ تُستَأمَرُ الاَمَةُ ج۷ ص ۱۴۳ نمبر۱۲۵۶۲/مصنّف ابن ابي شيبة ۹۸ من قال يعزل عن الامة ويستأمرالحرّة ج۳ص۵۰۴نمبر۱۶۶۰۴) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې دمينځي سره دهغې د اِجَازَت بغيره عَزَل کولائي شي .

[۳۱۳۲](۳۲) او د مَينې سره دي عَزَل نَه کوي مګر دهغې په اِجَازَت سره .

وجه : په حديث کي دئ چې دمَينې سره دي دهغې د اِجَازَت بغيره عَزَل نَه کوي ځکه چې په عَزَل کولو کي وهغې ته لَذّت او خُوَند نَه محسوسيږي.او لَذّت حاصلول ددې ذَاتِي حَق دئ.په حديث کي دئ. عَن عُمَرَ بِنِ الخَطّابِ قَالَ نَهٰي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَن يَعزِلَ عَنِ الحُرّةِ اِلاّ بِاِذنِهَا (ج) (ابن ماجه شريف.باب العزل ص۲۷۶ نمبر۱۹۲۸/مُسنداحمد،مُسندعمربن الخطاب ج۱ ص۵۳نمبر۲۱۲) ددې حديث څخه معلوم شوچې دمَينې څخه دي دهغې د اِجَازَت بغيره عَزَل نَه کوي ..... او مَينَه د وَطِي حَق لري دهغه دليل د يوه وُرد حديث ټکړه ده. حَدّثَنِي عَمرُو بِنِ العَاصِ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) يَا عَبدَاللهِ! اَلَم اُخبرُ اَنّکَ تَصُومُ النّهَارَ ... وَ اِنّ لِزَوجِکَ عَلَيکَ حَقّاً (د) (بخاري شريف.باب حَقّ الجِسمِ في الصّومِ

ص۲۶۵نمبر۱۹۷۵) ددې حديث څخه معلوم شوچې مَينَه ته د وَطِي حَق حاصل دئ.نوځکه ددې د اِجَازَت بغيره دي عَزَل نَه کوي بلکه که

حاشيه : (الف) حضرت جابر فرمايي چې مورِ عَزَل کاوئ او قُرآنِ کريم به نَازِلېدَئ بيايي هم مَنعَ نَه کړو (ب) حضرت ابن عبّاس وفرمايل په عَزَل کولو کي به د آزادِښځي سره مَشوَرَه کيږي او دمينځي سره به مشوره نَه کيږي (ج) حضور (ﷺ) د مَينې سره دهغې د اِجَازَت بغيره د عَزَل کولو څخه منع کړې ده (د) عبدالله بن عمروبن العاص فرمايي چې مَاتَه حضور (ﷺ) وفرمايل ائ عبدالله! زَه خبر شوئ يَم چې تَه د وُرَځِي رُوزَه نيسي ... ستا د مَينې پر تَا باندي حَق شته .

[۳۱۳۳](۳۳) وَ يُكرَهُ الإِحتِكَارُ فِي اَقوَاتِ الآدَمِيّينَ وَالبَهَائِمِ اِذَا كَانَ ذَالِكَ فِي بَلَدٍ يَضُرّ الإِحتِكَارُ بِاَهلِهِ .

تشريح : د يوه سړي لپاره د ټوله مَال وَصِيّت وکړئ مثلاً دده سره سَل دِرهَم وُ ټوله د زَيد لپاره وَصِيّت وکړئ.بيايې د بَل سړي لپاره ددغه مَال دريمه يعني ۳۳ . ۳۳ دُرُدېرش دِرهَم او دُرُدېرش پَيسې وَصِيّت وکړئ نو ټوله مجموعه ۱۰۰ + ۳۳ . ۳۳ برابر ۳۳ . ۱۳۳ يَوسَل دُرُدېرش دِرهَم او دُرُدېرش پَيسو وَصِيّت کړئ دئ.حالانکه قاعده مخته ټبر شوې ده چې که وَارِثَان اجازت ورنه کړي نو د ټوله مَال د دَرَيَمِي حِصّې وَصِيّت کولائي شي.يعني ټوله مَال سَل دِرهَم دئ نو ددې څخه ۳۳ . ۳۳ دُرُدېرش دِرهَم او دُرُدېرش پَيسو وَصِيّت کولائي شي.اُوس به دې ته کتل کيږي چې ۳۳ . ۳۳ دُرُدېرش دِرهَم او دُرُدېرش پَيسو څخه دهغه سړي څومره حِصّي جوړيږي چې دهغه لپاره د ټوله مَال وَصِيّت شوئ دئ؟ او دهغه لپاره به څومره حِصّي وي دچا لپاره چې د دَرَيَمِي حِصّي وَصِيّت شوئ دئ؟ په دغه حِسَاب سره به تقسيم کيږي .
د حِصّو حِسَاب : د کُوم چا لپاره چې دټوله مَال يعني د سَل دِرهَم وَصِيّت کړئ وُ هغه د دَرَيَمِي د دريمي حِصّي ۳۳ . ۳۳ دري چَنَدَ دئ.نو دغه دري چَنَدَ او د وَصِيّت والا يَوَه دَرَيَمَه حِصّه ټوله مجموعه څَلُورچَنَدَ شو.نو ځکه حِسَاب به د رُبعِ يعني څَلُورَمِي څخه کيږي.د کُوم چا لپاره چې دري چَنَدَ وَصِيّت شوئ وُ هغه ته به دري رُبعِ او د

کُوم چا لپاره چې د يوې دَرَيَمې يعني يَوچَندَ وَصِيّت شوئ وُ هغه ته به يوه رُبعَ ملاؤيږي.او د پُورَه ۱۰۰ دِرهَم دَرَيَمَه حِصّه ۳۳ . ۳۳ دُرُدبرش دِرهَم او دُرُدبرش پَيسې به پر څلور حِصّې تقسيميږي.نو هر حِصّه به ۳۳ . ۸ اَتَه دِرهَم او دُرُدبرش پَيسې وي.اُوس چې د کُوم چا لپاره درې چَندَ وَصِيّت شوئ وُ يعني د ټوله مَال وَصِيّت وُ هغه ته به درې رُبعِ ملاؤشي.چې ۹۹۹ . ۲۴ يعني څليرويشت دِرهَم او نَه سوه نَه نِيوي پَيسې جوړيږي.او د کُوم چا لپاره چې د ټوله مَال څخه د دَرَيَمې حِصّې وَصِيّت شوئ وُيعني يَوَه رُبعَ وَصِيّت وُ هغه ته به ۳۳ . ۸ اَتَه دِرهَم او دُرُدبرش پَيسې ملاؤيږي.حاصِل دادئ چې درې رُبعِ به د ټوله مَال والا ته او يَوَه رُبعَ به د دَرَيَمې حِصّې والا ته ملاؤيږي. او مجموعه به ۳۳ . ۳۳ دُرُدبرش دِرهَم او دُرُدبرش پَيسې وي چې د سَل دِرهَم دَرَيَمَه حِصّه ده .

[۳۱۵۷](۲۰) وَ لاَ يَضرِبُ اَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي لِلمُوصْي لَهُ بِمَا زَادَ عَلْي الثُّلُثِ اِلاّ فِي المَحَابّاةِ وَالسِّعَايَةِ وَالدّرَاهِمِ المُرسَلَةِ .

فائده : امام ابوحنيفه() فرمايي چې د کُوم چا لپاره چې د مَال د دَرَيَمې حِصّې څخه زيات وَصِيّت کړئ دئ هغه بېکارَ دئ.دشريعت په رُونَا(رَنَا)کي دُومرَه وَصِيّت نَه دئ په کار.نو حُکه هغه وَصِيّت به هم يَوَه دَرَيَمَه پاته شي.ګواکه د ټوله مَال والا لپاره دريمه وَصِيّت او دهغه بَل لپاره هم يوه دَرَيَمَه وَصِيّت شوئ دئ.او دُوئي دواړه سره برابر دي نوځکه د ټوله مَال دَرَيَمَه حِصّه به دواړه برابر برابر يعني نِيمَئ نِيمَئ تقسيموي.او هر يوه ته به د ۳۳ . ۳۳ نِيمَئ ۶۶ . ۱۶ يعني شُپَارَس دِرهَم او شُپُږشُپېتَه پَيسې ملاؤيږي .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چې تر دَرَيَمَه زيات وَصِيّت کول بېکاره او ضائِع ګرزي.او دهغه لپاره دَرَيَمَه وَصِيّت پاته کيږي .

وجه : حديث تېرشوئ دئ. اَلثُّلُثُ وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ (ابوداؤدشريف.نمبر۲۱۱۶)

[۳۱۵۷](۲۰) او امام ابوحنيفه و مُوصْي لَهُ د مَحَابَات او سِعَايَت او دَرَاهِمِ مُرسَلَه څخه علاوه په بَل ځائ کې تر دَرَيَمَه زيات نَه ورکوي .

تشريح : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چې مَيّت تر دَرَيَمَه زيات د نِيمَئ يا د ټوله مَال وَصِيّت وکي نو دا بَاطِل دئ هغه وَصِيّت به بېرته د مَال و دَرَيَمَه ته مُرَاجَعَت وکړي.لېکن که نِيمَئ يا پُوره مَال يَاد نَه کړئ او دهسې خَه مِقدَار وَصِيّت يې وکړئ. بيا د مَال د حِسَاب کولو وروسته معلوم شوچې د څومره مِقدَار وَصِيّت ده کړئ دئ دده ټوله مَال دغونه دئ يا ددې نِيمَئ دئ نو دغه وَصِيّت نَه بَاطِلِيږي او د مَال دَرَيَمې حِصّې ته مَرَاجَعَت نَه کوي.بلکه د صاحبين() په شان پر حِصّو به تقسيم شي.ددې يَو صورت مَحَابَات.دُويَم صورت سِعَايَه.دَرَيَم صورت دَرَاهِمِ مُرسَلَه دئ .

وجه : ځکه چې ده په خپله ژَبَه نِيمَئ يا پُورَه نَه دي ويلي چې تر دَرَيَمَه حِصّه زيات وُ
لِهْذَا وَصِيّت نَه باطليږي.که څَه هم د حِسَاب کولو وروسته هغه د وَصِيّت مَال د مَيّت پُوره مَال يا نِيمَئ مَال وي .
اَلمَحَابَاتُ : د مَحَبّةٌ څخه مُشتَق دئ.په مُحَبّت کې د زِيَات قيمت شَئ په لَږ قيمت خرڅول. ددې صورت دادئ. مثلاً ديوه سړي يَو غُلاَم دئ چې قيمت يې (۳۰) دِرهَم دئ.ده وَصِيّت وکړئ چې دا غُلاَم پر زَيد باندې په لَس دِرهَم خرڅ کئ.اُوس چې په لَس دِرهَم يې خرڅ کړئ نو ګواکه شَل دِرهَم يې په مُحَبّت کې دده لپاره وَصِيّت وکړئ.دا دغُلاَم تر قيمت تر نِيمَئ زيات دئ.که چيرې د مَيّت مَال صِرف دغه غُلاَم وي او تر نِيمَئ زيات وَصِيّت وکړي نو د امام ابوحنيفه(ؒ) په نږ وَصِيّت بَاطِل ګرزي.لېکن په صَفَا اَلفَاظُو سره تر دَرَيَمَه زيات وَصِيّت نَه دئ کړئ بلکه دحِسَاب او تحقيق وروسته معلوم شوچې تر دَرَيَمَه زيات وَصِيّت کړئ دئ.نو ځکه دا وَصِيّت نَه باطليږي بلکه پر حِصّو به تقسيم شي يعني د دېرش(۳۰)څخه به يوه دَرَيَمَه يعني لَس دِرهَم به وَصِيّت شي او پاته شَل دِرهَم قيمت به مُشتَرِي اداء کوي .
ددغه سړي سره بَل غُلاَم موجود وُ چې قيمت يې شُپېتَه(۶۰)دِرهَم وُ.ده وَصِيّت وکړئ چې پر عُمَر باندې صِرف په شَل دِرهَم خرڅ کئ.ددې مطلب داشو چې په مُحبّت کې څلوېښت دِرهَم وَصِيّت وکړئ چې دهغه غُلاَم د قيمت څخه تر نِيمَئ هم زيات دي.نوکه چيرې صِرف دغه مَال وائ او په ژَبَه داويلي وائ چې تر نِيمَئ زيات وَصِيّت کوم نو وَصِيّت به بَاطِل شوئ وائ.لېکن مَحَابَات يې وکړئ نو وَصِيّت نَه باطليږي.البته دده لپاره به په دَرَيَمَه کې وَصِيّت وي.نو ځکه دغه غُلاَم به په څلوېښت دِرهَم اَخلِي.او شَل دِرهَم به په وَصِيّت کې شمار شي او کَم به شي چې د شُپېتُو(۶۰)دِرهَمُ دَرَيَمَه حِصّه ده.په دې صورت کې د دواړولپاره وَصِيّت صحيح شو او دواړو ته دهغه دَرَيَمَه ورسېده.يعني د دِېرش والا ته يَوَه دَرَيَمَه لَس کَم شول او دشُپېتُو والا ته دُوې دَرَيَمِي يعني شَل کَم شول نو ګواکه د دُوئي پر حِصّو تقسيم شول .
اَلسِّعَايَةُ : دا دسَعيٌ څخه مُشتَق دئ.غُلاَم خپل قيمت وَګَټِي آقَا ته ورکړي.ددې صورت دادئ چې مَيّت د دُوُ غلامانُ د آزادولو وَصِيّت وکړئ.د يوه قيمت دېرش دِرهَم او دبَل قيمت شُپېتَه دِرهَم وُ.او د آقَا سره ټوله مَال بَس دغه دُوَه غُلاَمان وُ.نو که چيرې آقَا دَاوَل ويلي وائ چې د ټوله مَال د آزادولو وَصِيّت کوم نووَصِيّت به باطل شوئ وائ او دَرَيَمِي ته به راغلئ وائ او وَصِيّت به دواړو غُلاَنُ ته برابر رسېدلئ وائ.لېکن مخکې آزاد کړئ بيايې وروسته دحِسَاب څخه معلوم شوچې د آقَا ټوله مَال په وَصِيّت کې مَصرَف کيږي نوځکه دواړه وَصِيّتُونَه به پر خپل خپل ځائ برقرار پاته وي. د کُوم چا لپاره چې زيات وَصِيّت کړئ دئ هغه ته به زيات ملاؤ شي او دکُوم چا لپاره چې کَم وَصِيّت کړئ دئ هغه ته به کَم ملاؤ شي.مثلاً هغه غُلاَم چې قيمت يې دېرش

دِرهَم وُ دهغه غُلاَم يَوَه دَرَيَمَه يعني لَس دِرهَم آزادیږي او پاته دُوې دَرَيَمِي يعني شَل دِرهَم به غُلاَم ګټي سَعيِ به کوي د آقَا و وَارِثَانُ ته به اداء کوي.او هغه غُلاَم چې قيمت يې شُپېتَه دِرهَم وُ دهغه يَوَه دَرَيَمَه يعني شَل دِرهَم به آزاد شي او پاته دُوې دَرَيَمِي يعني څلوېښت دِرهَم به غُلاَم په خپله سَعيِ کوي د آقَا و وَارِثَانُ ته به اداء کوي. او د دواړو غُلاَمَانُ مجموعي قيمت د نِيوِي(٩٠)دِرهَم دَرَيَمَه حِصّه يعني دېرش دِرهَم آزاد شول .

اَلدّرَاهِمُ المُرسَلَةُ : د غَيرِمُتَعَيّن دِرهَم وَصِيّت. په دي کي مَيّت نَه دا وايي چې د ټوله مَال وَصِيّت کوم نَه دا وايي چې د نِيمَئ مَال وَصِيّت کوم.بلکه داسي ووايي چې زَه د زَيد لپاره دېرش دِرهَم وَصِيّت کوم او دعُمَر لپار دشُپېتُو دِرهَم وَصِيّت کوم.وروسته د حِسَاب څخه معلوم شوچې دده په وِرَاثَت کي صِرف نِيوِي(٩٠) دِرهَم وُ.نوځکه ددې مَال يَوَه دَرَيَمَه وَصِيّت به صحيح شي او دا نور پاته به د وَارِثَانُ تر مينځ تقسيم شي.د زَيد لپاره د دېرش دِرهَم وَصِيّت کړئ وُ نو ځکه دهغه دَرَيَمَه يعني لَس دِرهَم به په وَصِيّت کي ملاؤيږي.او پاته شَل دِرهَم به د وارثان تر مينځ تقسيميږي.او د عُمَر لپاره دشُپېتُو دِرهَم وَصِيّت کړئ وُ نو ځکه دهغه دَرَيَمَه يعني

[٣١٥٨](٢١) وَ مَن اَوصْي وَ عَلَيهِ دَينٌ يُحِيطُ بِمَالِهِ لَم تُجزِ الوَصِيّةُ اِلاّ اَن يَبرَأ الغُرَمَاءُ مِنَ الدّينِ .

شَل دِرهَم به په وَصِيّت کي ملاؤيږي.او پاته څلوېښت دِرهَم به د وَارِثَانُ تر مينځ تقسيميږي .

اصول : چې په صَفَا او وَاضِح لفظو کي تر دَرَيَمِي زيات وَصِيّت وکړي هغه بَاطِل ګرزي دَرَيَمِي ته مَرَاجِعَت کوي او دهغه بَل سره به برابر شي.لېکن د مَحَابَات يا سِعَايَة يا دَرَاهِمِ مُرسَلَه د لاَرِي وَصِيّت وکړي او دحِسَاب څخه وروسته معلوم شي د ټوله مَال وَصِيّت يې کړئ دئ نو دواړو موصْي لَهُ ته به د خپلي خپلي حِصّي مطابق رسيږي او د مَال دَرَيَمَه به پر حِصّو تقسيميږي .

[٣١٥٨](٢١) يو چا وَصِيّت وکړئ حَال دادئ چې پر ده دَين شته چې دده د مَال اِحَاطَه يې کړي ده نو وَصِيّت جواز نَه لري مګر هغه وخت چې قَرض خُوَاه يې د قَرض څخه بَرِي کړي .

تشريح : د يَوچَا سره ټُوټَل زَر دِرهَم دي لېکن زَر دِرهَم قرض پر ده بَاندِي دئ او قرض دده ټوله مَال ګير کړئ دئ.نو دده وَصِيّت کول صحيح دئ.البته! په خپله قَرض ورکونکي مَقرُوض د قرض څخه بَرِي کړي نو اُوس وَصِيّت کولائي شي .

وجه : (١) په حديث کي دئ چې د مَيّت دمَال څخه به اَوّل قرض اداء کيږي.که دقرض څخه څَه مَال پاته شي نو دهغه د دَرَيَمِي حِصّي څخه به وَصِيّت نَافِذِيږي.او دهغه وروسته چې څَه پاته شي هغه به دده د وَارِثَانُ تر مينځ تقسيميږي (٢) په حديث کي

دئ.عَن عَلِيٍّ اَنّهُ قَالَ اِنّكُم تَقرَؤُنَ هٰذِهِ الآيَةَ مِن بَعدِ وَصِيّةٍ تُوصُونَ بِهَا اَو دَينٍ (آيت ۱۲ سورة النساء ۴) وَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَضٰي بِالدّينِ قَبلَ الوَصِيّةِ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في ميراث الاخوة من الأبِ وَالأمِّ ج۲ص۲۹نمبر۲۰۹۴/ابن ماجه شريف.باب الدّين قبل الوصيّة ص۳۹۱

حاشيه : (الف) حضرت علي وفرمايل تاسو دا آيت لُوَلَئ مِن بَعدِ وَصِيّةٍ تُوصُونَ بِهَا اَو دَينٍ حالانكه حضور (ﷺ) د قرض د اداء كولو فيصله د وَصِيّت څخه مخكي وكړه .

[۳۱۵۹](۲۲) وَ مَن اَوصٰي بِنَصِيبِ اِبنِهِ فَالوَصِيّةُ بَاطِلَةٌ فَاِن اَوصٰي بِمِثلِ نَصِيبِ اِبنِهِ جَازَت .

نمبر۲۷۱۵) ددې حديث څخه معلوم شوچي په آيت کي که څه هم د وَصِيّت تَذكِرَه اَوّل شوې ده او د قرض د اداء کولو تَذكِرَه وروسته ده لېکن حضور (ﷺ) فيصله کړې ده چي قرض به اَوّل اداء کيږي دهغه وروسته که څه پاته شي نو وَصِيّت به نَافِذِيږي .
لغت : مُحِيطٌ : د اِحَاطَةٌ څخه مُشتَق دئ.ګير شوئ. يَبرَأ : بَرِي يې کړي. غُرَمَاءُ : د غَرِيمٌ جمع ده قرض ورکونکي .
[۳۱۵۹](۲۲) که يَوچَا دخپل زُوئ د حِصّې وَصِيّت وکړئ نو وَصِيّت بَاطِل دئ او که د زُوئ د حِصّې د مِثل وَصِيّت وکړئ نو جائز دئ .
تشريح : دَاوَل وَصِيّت يې وکړئ چي زُومَا د وِرَاثَت څخه چي څومره حِصّه زُومَا و زُوئ ته ملاؤيږي هغه حِصّه د فُلاَنِي لپاره وَصِيّت کوم نو دا وَصِيّت باطل دئ .
وجه : ځکه چي وِرَاثَت ملاؤ شو نو هغه مَال د زُوئ مِلکِيّت وګرزېدئ نو د بَل د مَال وَصِيّت څه رنګه کوي؟ لِهٰذَا دا وَصِيّت باطل دئ.او که دَاوَل وصِيّت وکړي چي څومره و زُوئ ته ملاؤيږي دهغه د مِثل وَصِيّت کوم.مثلاً که و زُوئ ته زُومَا د وِرَاثَت څخه يَوَه دَرَيَمَه ملاؤيږي نو د يوې دَرَيَمِي وَصِيّت کوم.او که د يوې دَرَيَمِي څخه زيات ملاؤيږي مثلاً نِيمَئ مَال ملاؤيږي نو د نِيمَئ وَصِيّت کوم نو دَاوَل وَصِيّت جائز دئ.البته! و مُوصِي لَهُ ته به په هر حال کي تر دَرَيَمَه زيات نَه ملاؤيږي .
وجه : (۱) د مِثل مطلب دا نَه دئ چي د زُوئ د مَال وَصِيّت کوم.بلکه دهغه د مِثل چي څومره مِقدَار وي دهغه وَصِيّت کوم نوځکه دا وَصِيّت جائز دئ (۲) په دې اَثَر کي ددې ثبوت شته. سُئِلَ عَامِرٌ عَن رَجُلٍ مَاتَ وَتَرَکَ ثَلاَثَةَ بَنِينَ وَ اَوصٰي بِمِثلِ نَصِيبِ اَحَدِهِم قَالَ هُوَ رَابِعٌ لَهُ الرّبعُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۸ رجل مات وترک ثلاثة

حاشيه : (الف) حضرت عامر وفرمايل يو سړئ وَفات شو او درې بَچَان يې پرېښول او ديوه بَچي د مِثل وَصِيّت يې وکړئ نو وفرمايل ګواکه هغه څلورم سړئ شو او دهغه لپاره به څلورمه حِصّه وي .

[۳۱۶۰](۲۳) فَاِن كَانَ لَهُ اِبنَانِ فَلِلمُوصٰي لَهُ اَلثُّلُثُ [۳۱۶۱](۲۴) وَ مَن اَعتَقَ عَبدًا فِي مَرَضِهِ اَو بَاعَ وَحَابٰي اَو وَهَبَ فَذَالِکَ كُلّهُ جَائِزٌ وَ هُوَ مُعتَبَرٌ مِنَ الثّلُثِ وَ يُضرَبُ بِهِ مَعَ اَصحَابِ الوَصَايَا .

بنين و اوصْي بمثل نصيب احدهم ج۶ ص۲۱۶نمبر۳۰۷۸۰) په دې اَثَر کي دئ چي د زُوئ د مِثل وَصِيّت وکړي نو جائز دئ. او دايې هم وَښُوَل چي درې زَامُن وي نو مُوصْي لَهُ به څلورم زُوئ شمارل کيږي.او څلور سره زَامَنُ ته يوه يوه څلورمه حِصّه ملاؤ شي .
لغت : نَصِيبٌ : حِصّه .
[۳۱۶۰](۲۳) که چيري دده دُوَه زَامَن وي نو د مُوصْي لَهُ لپاره به دَرَيَمَه حِصّه وي .
تشريح : وَصِيّت کونکي دا وَصِيّت وکئ چي زُومَا و زُوئ ته چي څومره وِرَاثَت ملاؤيږي دهغه د مِثل وَصِيّت کوم.او د وَصِيّت کونکي دُوَه زَامَن وُ نو مُوصْي لَهُ به دريم زُوئ شمارل کيږي او دُرُو سره وُ ته به يوه يوه دَرَيَمَه ملاؤيږي .
وجه : مخته اَثَر تېرشوئ دئ.دُوَيَم اَثَر دادئ. عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِذَا تَرَکَ الرّجُلُ ثَلاَثَةَ بَنِينَ وَ اَوصْي بِمِثلِ نَصِيبِ اَحَدِهِم قَالَ وَاحِدًا اِجعَلْهُمَا مِن اَربَعَةٍ (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۸ رَجُلٌ مَات وترک ثلاثة بنين و اوصْي بمثل نصيب احدهم ج۶ص۲۱۶نمبر۳۰۷۸۱) ددې اَثَرڅخه هم معلوم شوچي مُوصْي لَهُ ته به د يوه زُوئ حِصّه ملاؤيږي.هسې خو و دو لُونُو ته نِيمَئ نِيمَئ يعني په سَل کي پِنځُوس ملاؤيږي.او دَادَوَل يې وويل چي زُومَا د زُوئ د مِثل وَصِيّت کوم نو مُوصْي لَهُ ته هم بايد په سَل کي پِنځُوس ملاؤشوي وائ.لېکن تردَرَيَمَه زيات وَصِيّت بَاطِل دئ نوځکه مُوصْي لَهُ ته ۳۳ . ۳۳ ملاؤ شو او ۶۶ . ۶۶ پاته شونو دواړو زَامَنَانُ ته به دهغه نِيمَئ نِيمَئ ۳۳ . ۳۳ ملاؤ شي چي د مُوصْي لِهُ سره برابر ده.نو ګواکه درو سره وُ ته يوه يوه دَرَيَمَه ملاؤ شوه .
[۳۱۶۱](۲۴) يوچا په خپل مَرَضُ المَوت کي غُلاَم آزاد کړئ اومَحَابَات وکئ يايې هِبَه وکړه نو دا ټوله جائز دي او هغه مُعتَبَر دي د دَرَيَمِي څخه.او دُوئي به د اَصحَابِ وَصَايَا سره شريک شي .
تشريح : په خپل مَرَضُ المَوت کې غُلاَم آزاد کړئ نو غُلاَم خو به آزاد شي.لېکن په مَرَضُ المَوت کې آزاد کړئ دئ نو ځکه د مَال د دَرَيَمِي حِصّې څخه به آزاد شي.د دَرَيَمِي څخه د زِيَاتِ حِصّې څخه نَه آزاديږي.مثلاً دده سره ټوله مَال شُپږ زَرَه دئ.او دغُلاَم قيمت دُوَه زره دئ نو پُورَه غُلاَم به آزاد شي.لېکن که د غُلاَم قيمت څلور زره وي نو نِيمَئ غُلاَم به آزاد شي چي د مَيّت د مَال دَرَيَمَه حِصّه ده يعني د دُوُ زر مطابق او پاته نِيمَئ به سَعِي کوي او وَارِثَانُ ته به ورکوي.حاصل دا شو چي په مَرَضُ المَوت کي د آزادولو لکبله دده سره د وَارِثَانُ حَق تَعَلّق پيدا کړئ نو ځکه د مَال د دَرَيَمِي حِصّې څخه به آزاديږي.تر دَرَيَمِي زِيَاتِ حِصّې څخه نَه آزاديږي .
وجه : په حديث کي دئ. عَن عِمرَانَ بنِ حُصَينٍ اَنّ رَجُلاً اَعتَقَ سِتّةَ اَعبُدٍ عِندَ مَوتِهِ وَلَم يَکُن لَهُ مَالٌ غَيرُهُم فَبَلَغَ ذَالِکَ النّبِيّ (ﷺ) فَقَالَ لَهُ قَولاً شَدِيدًا ثُمّ دَعَاهُم فَجَزّاهُم ثَلاَثَ اَجزَاءٍ فَاَقرَعَ بَينَهُم فَاَعتَقَ اِثنَينِ وَ اَرَقّ اَربَعَةً (الف) (ابوداؤدشريف.باب فيمن اعتق عبيدًا له لم يبلغهم الثّلُثُ ص۱۹۵نمبر۳۹۵۸/مُسلِم شريف.باب من اعتق شرکا له في عبد ص نمبر۱۶۶۸) په دې حديث کې په مَرَضُ المَوت کي شُپږ غُلاَمَان آزاد کړي دي او دې څخه علاوه نور مَال

نَه وُ نو قُرعَه اَندَازِي يې وکړه ددې څخه دُوَه غُلاَمَان آزاد کړل چې د پُورَه مَال دَرَيَمَه حِصّه ول.او پاته څلور يې پر هغه غُلاَمِيّت برقرار وسَاتَل او د وَارِثَانُ تر مينځ تقسيم کړل.دغه آزادي که څه هم د مَيّت په ژُوَند کي وشوه لېکن د آزادېدو په اِعتِبَار سره د وَصِيّت په شان شوه .

ددې آزادولو څخه علاوه که مَيّت چيري نُور وَصِيّتُونَه کړي وي او دواړه د مَال د دَرَيَمِي څخه زيات وي نو د مَال په دَرَيَمَه حِصّه کي دَنَنَه دَنَنَه به دواړه پر حِصّو تقسيميږي.مثلاً د يوه غُلاَم قيمت دُوَه زره دئ کُوم چې په مَرَضُ المَوت کي آزاد کړئ

حاشيه : (الف) حضرت عمران بن حصين وفرمايل چې يوه سړي دخپل مَرَضُ المَوت پر وخت شُپږ غُلاَمَان آزاد کړل.او دده سره ددې څخه علاوه نور مَال نَه وُ نو حضور (ﷺ) په دې باندي خَبَر شو.حضور (ﷺ) سَختِ جُملي وفرمايلي.بيايې دغه غُلاَمَان رَاوَبَلَل او دري حِصّې يې کړل او د ډوئي تر مينځ يې قرعَه وکړه.نو دُوَه يې آزاد کړل او څلور يې غُلاَمَان وَسَاتَل .

دئ او يوه بَل سړي ته د دُوُ زر د ورکولو وَصِيَت هم کړئ دئ.اُوس دغُلاَم قيمت دُوَه زره او هغه بَل سړي ته د دُوُ زرو ورکولو وَصِيّت ټُوټَل څلور زره شول.او دمَيّت ټوله سَرمَايَه شُپږ زره ده.نو آزادول او وَصِيّت تر يوه دَرَيَمَه زيات شول.لِهْذَا اُوس به په دُوُ زرو کي حِصّي جوړوي.او د غُلاَم يَو زَرَئ يعني نِيمَئ به آزاد شي او د نِيمَئ قيمت به سَعي کوي.او وَصِيّت کونکي ته به زَر ورکوي يعني د وَصِيّت نِيمَئ به ورکوي.په عِبَارَت کي د ,,وَيُضرَبُ بِهِ مَعَ اَصحَابِ الوَصَايَا,, دغه مطلب دئ .

بَاعَ وَ حَابْي : صورت دادئ چې مثلاً د غُلاَم قيمت دُوَه زره وُ هغه يې د مُحَبّت په وجه پر مُحَبّت والا سړي باندي په سَل روپئ خرڅ کړئ دا خرڅول جائز خو دئ لېکن د مَرَضُ المَوت په وجه ددې حَيثِيّت د وَصِيّت په شان شو.يعني دغه دُوَه زره که د ټوله مِلکِيّت دريمه حِصّه وي خو ټيک دئ.او که تر دَرَيَمَه حِصّه زيات وي نو بيا به وَصِيّت تر دَرَيَمِي حِصّي پُورِي راوستل کيږي.که چيري دهغه نورو وَصِيّتو سره په گډه تر دريمه حِصّه زيات شي نو بيابه پر حِصّو تقسيميږي.مثلاً د مَيّت ملکيّت شُپږ زره وُ او مَحَابَات يې دُوَه زره کړئ دئ چې د شُپږُ زرو دَرَيَمَه حِصّه ده.لِهْذَا دا صحيح دئ.او که چيري بَل وَصِيّت هم د دُوُ زرو کړئ وي نو دا به ټوټل څلور زره شي.او مِلکِيّت يې ټوټل د شُپږ زرو دئ.نو په محابّات او وَصِيّت کي به نِيمَئ نيمَئ گم شي. زَر به د وَصِيّت والا ته ملاؤ شي او زَر به د محابّات والا دا معاف شي.په پاته زَر به مُشتَرِي دغه رَانِيسي .

اَو وَهَبَ : په مَرَضُ المَوت کې غُلاَم هِبَه کړئ نو دا جائز دئ.لېکن ددې حَيثِيّت به هم د وَصِيّت په شان وي.يعني که تر دَرَيَمَه حِصّه گم وي خو صحيح دئ او که تر دَرَيَمَه حِصّه زِيَاتَه هِبَه وکړه نو تر دَرَيَمِي حِصّي پُورِي به هِبَه صحيح شي او هغه زياته حِصّه او دغه رنگه نور وَصِيّتُونَه که وُ هغه به ټوله پر حِصّو تقسيميږي .

لغت : حَابْي : د مَحَبّةٌ څخه مُشتَق دئ.د زيات قيمت شَئ د مُحَبّت په وجه په کَم قيمت خرڅول. يُضرَبُ بِهِ مَعَ اَصحَابِ الوَصَايَا : د وَصِيّت دخلګو سره به په ګډه او يَو ځائ تقسيميږي .

[٣١٦٢](٢٥) فَاِن حَابْي ثُمّ اَعتَقَ فَالمَحَابَاةُ اَولْي عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي [٣١٦٣](٢٦) فَاِن اَعتَقَ ثُمّ حَابْي فَهُمَا سَوَاءٌ .

[٣١٦٢](٢٥) که محابّات وکړئ او بيايي آزاد کړئ نو محابّات به اَولْي وي د امام ابوحنيفه په نږ .

تشريح : د محابّات مطلب مخته تږشوئ دئ چي د زيات قيمت شَئ د محبّت په وجه په کَم قيمت خرڅول.که مَيّت په مَرَضُ المَوت کي اَوّل محابّات وکړئ مثلاً د دُوُ زرو غُلاَم يي په سَل رُوپَئ خرڅ کړئ او بَل غُلاَم يي آزاد کړئ هغه هم په دُوَه زَرَه وُ او تولَه مَالِيّت شُږ زره وُ.اُوس دواړه مجموعه څلور زره شو نو تر دَرَيَمَه حِصّه زيات شو نو ځکه مَحَابَات ته به ترجيح ورکول کيږي او د غُلاَم بيع به په سَل رُوپَئ نافِذ کيږي.او کُوم غُلاَم چې آزاد کړئ دئ هغه خو آزاد شوئ دئ اُوس بږته نَه شي غُلاَم کېدلائي نو ځکه هغه به دخپل تولَه قيمت يعني دُوَه زره سَعي کوي .

وجه : مَحَابّات مخکي شوئ دئ او آزادي وروسته راغلې ده.بلَه خبره دا چې مَحَابَات خو د خَه نَه خَه پَيسُو په بَدلَه کي بَيعَ شوې ده او آزدِي خو مُفت شوې ده نوځکه مَحابّات به اَفضَل وي او هغه ته به ترجيح حاصِل وي .

[٣١٦٣](٢٦) که چيري آزاد کئ بيايي مَحَابَات وکړل نو دواړه سره برابر دي .

تشريح : که اَوّل آزاد کئ بيايي مَحَابّات وکړل نو دواړه په درجه کي سره برابر دي. په تږشوي مِثَال کي د مَيّت مِلکِيّت شُږ زره دئ. آزاد کړئ غُلاَم په دُوَه زره او مَحَابّات کړې غُلاَم په دُوَه زره دئ.د دواړو مجموعه څلور زره شوه چې د يوې دَرَيَمِي حِصّې څخه زياته ده.نوځکه د دواړو غُلاَمَانُ نِيمَئ نِيمَئ به وي.يعني د آزاد کړي غُلاَم نِيمَئ به آزاد شي او پاته نِيمَئ يعني زَر رُوپَئ به سَعي کوي د مَيّت و وَارِثَانُ ته به ورکوي.او د مَحَابّات کړي غُلاَم قيمت زَر رُوپَئ به مُشتَرِي اداء کوي .

وجه : دا چې مَحَابّات وروسته دئ په دې وجه دواړه په درجه کي سره برابر دي .

[٣١٦٤](٢٧) وَقَالاَ اَلعِتقُ اَولْي فِي المَسئَلَتَينِ [٣١٦٥](٢٨) وَ مَن اَوصْي بِسَهمٍ مِن مَالِهِ فَلَهُ اَخَسّ سِهَامِ الوَرَثَةِ اِلاّ اَن يَنقُصَ عَنِ السّدُسِ فَيُتِمّ لَهُ السّدُسُ .

[٣١٦٤](٢٧) او صاحبين فرمايي چي آزادګي اَولْي ده په دواړو مسئلو کي .

تشريح : که مَحَابّات مخکي کړئ وي که آزادي مخکي کړې وي په هر حال کي به آزادي ته ترجيح حاصِل وي.نو ځکه په دَرَيَمَه حِصّه کي به اَوّل وار غُلاَم آزاديږي

که ددي څخه څه پاته شي نو د مَحَابّات والا ته به ملاؤيږي.په تبرشوي مِثَال کي آزاد کړئ غُلاَم په دُوَه زره وُ اومَحَابّات کړئ غُلاَم هم په دُوَه زره وُ.د دواړو مجموعه څلور زره وه چي تر دَرَيَمَه زياته ده.ځکه چي پُورَه مِلکِيّت صِرف شُپږ زره دئ.لِهٰذَا صِرف غُلاَم به آزاديږي او د محابّات والا ته به د غُلاَم پُورَه قيمت ورکوي رَانِيسِي به .

وجه : (١) دُوئي فرمايي چي د محابات بَيعَ د مُشتَرِي لخوا فَسخ کېدلائي شي او آزادي نَه شي فَسخ کېدلائي.نوځکه آزادګي په هر حال کي تر مَحَابّات اَفضَل ده (٢) په اَثَر کي دئ. عَن عَطَاءَ قَالَ يُغَيِّرُ الرَّجُلُ مِن وَصِيَّتِهِ مَا شَاءَ اِلاَّ العِتَاقَ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ٢٥ الرَّجُلُ يوصي بالوصِيَّةِ ثُم يريد اَن يغَيِّرهَا ج٦ص٢١٨نمبر٣٠٧٩٧) په دې اَثَر کي دئ چي غُلاَم يا مينځه آزاد کړې وي هغه نَه شي بَدلَوَلاَئي.نو ځکه هغه په هر حال کي تر مَحَابّاتُ اَفضَل ده .

[٣١٦٥](٢٨) يو چا د بَل چا لپاره دخپل مَال د يوې حِصّې وَصِيّت وکړئ نو ده ته به د وَارِثَانُ کِشنې حِصّې ملاؤيږي مګر که چيري تر شُپږمَه ګم سو نو ده ته به شُپږمَه پُورَه ورکول کيږي .

تشريح : يو چا د بَل لپاره د خپل مَال د يوې حِصّې (بَرخِي) وَصِيّت وکړئ او دا يې

حاشيه : (الف) حضرت عطاء وفرمايل په وَصِيّت کي چي خُوښَه شي تَبديلي دي وکړي مګر په آزادولو کي (په هغه کي بَدلُون نَه شي رَاوَستَلاَئي) .

[٣١٦٦](٢٩) وَ اِن اَوصْي بِجُزءٍ مِّن مَالِهِ قِيلَ لِلوَرَثَةِ اَعطُوهُ مَا شِئتُم .

مُعلوم نَه کړئ چي هغه حِصّه به شُپږمَه وي که به دَرَيَمَه وي؟ نو دده د وَارِثَانُ څخه ګُوم يوه ته چي تر ټولو ګمه حِصّه ملاؤيږي مُوصْي لَهُ ته به هغونه ملاؤيږي.البته! دوه رِعَايَتُونَه ضروري دي.يو خو دا چي دغه حِصّه به تر شُپږمَه ګمَه نَه وي.که چيري تر شُپږمَه حِصّه ګمَه وه نو پُورَه کوي به او شُپږمَه حِصّه به ورکول کيږي.ځکه چي اَهلِ عَرَب چي مُطلَق د سَهمٌ لفظ ووايي نو دهغه څخه شُپږمَه حِصّه مراد وي.دُويَم رِعَايَت دادئ چي تر دَرَيَمَه حِصّه زيات نَه وي ځکه چي د وَارِثَانُ د اجازت بغيره تر دَرَيَمَه زيات وَصِيّت کول جواز نَه لري .

وجه : د مُطلَق سِهَامٌ څخه شُپږمَه حِصّه مراد ده دليل يې دا اَثَر دئ. اَنّ عَدِيّاً سَأ لَ اِيَاسًا فَقَالَ اَلسّهمُ فِي کَلاَمِ العَرَبِ اَلسّدُسُ. او په بَل روايت کي دئ. عَن شُرَيحٍ اَنّهُ قَضْي فِي رَجُلٍ اَوصْي لِرَجُلٍ بِسَهمٍ مِّن مَالِهَ وَ لَم يُسَمّ قَالَ تُرفَعُ السِّهَامُ فَيَکُونُ لِلمُوصْي لَهُ سَهمٌ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ٢٣ في الرّجل يوصي للرّجل بسهم ماله ج٦ ص٢١٧ نمبر٣٠٧٩٣/٣٠٧٨٨) د اَوّل روايت څخه معلوم شوچي د سَهمٌ لفظ په کَلاَمِ عَرَب کي و شُپږمَه حِصّه ته ويل کيږي.او د دُويَم روايت

څخه معلوم شوچي که د سَهمٌ مِقدَار معلوم نَه کړئ نو بيا په وَارِثِينُ کي د کُوم يوه چي تر ټولو لَږ او کَمَه حِصّه وي هغه حِصّه به و دغه مُوصْي لَهُ ته ورکول کيږي .
لغت : اَخَسّ : کَمتَرَه. لَږ .
[۳۱۶۶](۲۹) که دخپل مَال د څَه حِصّې وَصِيّت وکئ نو وَارِثَانُ ته به ويل کيږي چي ستاسو څومره خُوښَه شي هغونه ده ته ورکړئ .
تشريح : په دې مسئله کي وَصِيّت کونکي هيڅ يو مِقدَار معلوم کړئ نَه دئ او نَه

حاشيه : (الف) يوه سړي دبَل سړي لپاره د يوې حِصّې وَصِيّت وکړئ اووَضَاحَت يې وَنَه کړئ نو حضرت شريح فيصله وکړه چي سِهَام دي پورته کړي او د مُوصْي لَهُ لپاره به يوه حِصّه وي .

[۳۱۶۷](۳۰) وَ مَن اَوصْي بِوَصَايَا مِن حُقُوقِ اللهِ تَعَالْي قُدِّمَتِ الفَرَائِضُ مِنهَا عَلْي غَيرِهَا قَدّمَهَا المُوصِي اَو اَخّرَهَا مِثلَ الحَجِّ وَ الزّكوْ ةِ وَ الكَفّارَاتِ .

يوه حِصّه معلومه کړې ده بلکه دخپل مَال په اړه يې د جُزءٌ لفظ ذِکر کړئ دئ.او جُزءٌ لَږ څه مَال ته هم ويل کيږي.نو ځکه چي وَارِثَان هر څومره ورکړي هغه به جُزءٌ شي.اُوس وَارِثَان د مَيّت قائم مقام دي نو ځکه وَارِثَانُ ته به ويل کيږي چي تاسو هر څومره ورکړئ هغه د وَصِيّت د پُورَه کولو لپاره کِفَايَت کوي .
لغت : جُزءٌ : څَه حِصّه. يَو جُزء .
[۳۱۶۷](۳۰) يوچا دحقوق الله څو وَصِيّتُونَه وکړل نو ددې څخه به فَرِائِض پر نورو مخکي کيږي.وَصِيّت کونکي اَوّل دهغه وَصِيّت کړئ وي يا وروسته کړئ وي.لکه حج.زکوْ ة.کَفّارَات .
تشريح : د الله دحقوق لپاره څو وَصِيّتُونَه وکړل.دهغوئي څخه بعض پر مَيّت فرض وُ بعض مُستَحَب وُ نو قاعده داده چي اَوّل به فَرَائِض پُوره کيږي بيابه مُستَحَبّات پُوره کيږي.که څَه هم په وَصِيّت کولو کې اَوّل مُستَحَب بيان کړي وي او د فَرَائِضُ وَصِيّت يې وروسته کړئ وي .
وجه : (۱) فَرَائِض پر ذِمّه لازم شوئ دي او دهغه اداء کول ضرروي دي.سُنّت او مُستَحَبّات پر ذِمّه لازم نَه دي نو ځکه فَرَائِض به اَوّل اداء کوي. سُنّت او مُستَحَبّات به وروسته اداء کيږي (۲) فَرَائِض دومره زيات اَهمِيّت لري چي بعض حضرات فرمايي چي فَرَائِض به د ټوله مَال څخه اداء کيږي.اَثَر دادئ. عَنِ الزّهرِيّ قَالَ اِذَا كَانَ عَلْي الرّجُلِ شَئُ وَاجِبٌ فَهُوَ مِن جَمِيعِ المَالِ (الف) په بل روايت کي دئ. عَنِ الحَسَنِ وَطَاؤسَ فِي الرّجُلِ عَلَيهِ حَجّةُ الإسلاَمِ وَتَكُونُ عَلَيهِ الزّكوْ ةُ فِي مَالِهِ؟ قَالاَ

حاشيه : (الف) حضرت زهري وفرمايل که پر سړي يَو شَئ وَاجِب وي نو هغه به دټوله مَال څخه اداء کيږي .

[٣١٦٨](٣١) وَ مَا لَيسَ بِوَاجِبٍ قُدِّمَ مِنهُ مَا قَدّمَهُ المُوصِي
[٣١٦٩](٣٢) وَ مَن اَوصْي بِحَجّةِ الإِسلاَمِ اَحَجّوا عَنهُ رَجُلاً مِن بَلَدِهِ يُحَجّ عَنهُ رَاكِبًا فَاِن لَم تَبلُغُ الوَصِيّةُ اَلنّفَقَةَ اَحَجّوا عَنهُ مِن حَيثُ تَبلُغُ .

يَكُونَانِ هٰذِهِ بِمَنزِلَةِ الدّينِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ٢٩ الرّجل يوصي بالحج والزكوٰة تكون قد وجبت عليه قبل موته تكون من الثّلث او من جميع المَالِ ج٦ص٢٢٠نمبر٣٠٨١٩/٣٠٨١٧) د دُويَم اَثَر څخه معلوم شوچي د فَرَائِضُ اداء کول د دَين په شان دئ.او دَين د وَصِيّت څخه مخکي اداء کيږي نو ځکه ددې حَق به د مُستَحَبّاتُ څخه مخکي اداء کيږي.البته! که چيري فَرَائِض کَې شمېر(ډير)وي نو بيا وَصِي ته اِختِيَار شته چي خُوښَه شي هغه دي اَوّل اداء کړي او چي خُوښَه شي هغه دي وروسته اداء کړي.ځکه چي ټوله وَاجِب دي نو د ټولو درجه سره برابره ده .

[٣١٦٨](٣١) او چي کُوم واجب نَه دي نو هغه دي اَوّل اداء کړي کُوم چي مُوصْي لَهُ مخته کړئ دئ .

تشريح : کَې شمېر وَصِيّتُونَه کړي دي لېکن ټوله وَصِيّتُونَه د مُستَحَبّاتُ څخه دي نو وَصِيّت کونکي چي کُوم مخکي بيان کړئ دئ هغه دي اَوّل اداء کړي او کُوم چې وروسته بيان کړئ دئ هغه دي وروسته اداء کړي .

وجه : ټوله مُستَحَب دی نو وَصِيّت کونکي چي کُوم يَو زيات مُنَاسِب وګڼئ هغه يې اَوّل بيان کړئ او کُوم يو چې زيات مُهِم نَه وګڼئ هغه يې وروسته بيان کړئ.نو ځکه دده د مَرضَئ رِعَايَت به کيږي .

[٣١٦٩](٣٢) يوچا دحَج کولو وَصِيّت وکړئ نو دهغه د بنَار څخه دي په يوه سړي حَج وکړي چي دهغه لخوا څخه به کوي د سُوَارلَئ په حالت کي.که چيري نَفَقَه و وَصِيّت ته نَه ورسيږي نو د هغه لخوا دي حَج وکړي د کُوم ځايَه څخه چي ورسيږي .

حاشيه : (الف) حضرت حسن او طاؤس وفرمايل پر يَوسړي حَج فرض شوئ وي او دهغه په مَال کي زکوٰة وي نو څَه به کيږي؟ دواړو وفرمايل دغه دواړه د قَرض په درجه کي دي .

تشريح : يوچا وَصِيّت وکړئ چي په مَا يَسِي حَج وکئ نو قاعده داده چي مُوصِي په کُوم بنَار کي وسيږي دهغه بنَار څخه دي څوک دحَجّ بَدَل لپاره واستوي چي دده لپاره پر سُوَارلَئ سُپُور وَلاَړ شي حَج وکړي.که چيري د مَال دريمه حِصّه دومره نَه وي چي دهغه د بنَار څخه په ده پسي څوک وَلاَړ شي حَج وکړي نو بيا چي د کُوم ځايَه څخه دده مَال د نَفَقَې لپاره کِفَايَت کوي دهغه ځايَه څخه دي څوک دحَج لپاره واستوي او دهغه ځايَه څخه دي د مُوصِي لپاره حَج وکړي .

وجه : حج خو خلګ د کُور څخه کوي نو د مُوصِي هم دغه مُرَاد دئ چي د کُور څخه دي حَج وکړي.لِهٰذَا که په نَفَقَه کي ګنجائش وي نو د کُور څخه دي حَج په وکړي. بله خبره دا هم چي پر پُښُو وَلاَړ شي ژَر حج نَه شي کولائي په خاص توګه چي دده دبنَار

څخه مَکّه مُکَرّمَه لیري وي.نو ځکه ضرورت ددي شته چي دغه سړئ پر سُوَارلَئ سُپُور کړي حَج په وکړي.لېکن که چیري دَرَیَمَه مَال دومره نَه وي چي دهغه د کُور څخه پر سُوَارلَئ سُپُور حَج په وکړي نو بیا لَږ تر لَږ دومره دي وکړي چي د کُوم ځایَه څخه چي په نَفَقَه کي ګنجائش وي دهغه ځایَه څخه دي حَج په وکړي.چي ګم اَز ګم د مُوصِي وَصِیّت خو پُورَه شي.په دې حدیث کي ددغه حَج اَهمِیّت بیان شوئ دئ.

عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ اِمرَأ ةً مِن جُهَینَةَ جَاءَ ت اِلَي النّبِيّ (ﷺ) فَقَالَت اِنّ اُمّي نَذَرَت اَن تَحُجّ فَلَم تَحُجّ حَتّي مَاتَت اَفَاَحُجّ عَنهَا؟ قَالَ نَعَم حُجّي عَنهَا اَرَأیتِ لَو کَانَ عَلَي اُمّکِ دَینٌ اَکُنتِ قَاصِیَتِهِ؟ اَقضُوا اللهَ فَاللهُ اَحَقّ بِالوَفَاءِ (الف) (بخاري شریف.باب الحج والنّذر عن المیّت والرّجل یحج عن المرأة ص۲۴۹نمبر۱۸۵۲/مُسلِم شریف.باب الحج عن العاجز لزمانةٍ و هرمٍ ونحوهما او للموت ص۴۳۱نمبر۱۳۳۴) په دې حدیث کي دئ چي حَج د قرض(دَین)په شان دئ.لکه څَه رنګه چي حَتّي الإمکَان قَرض اداء کوي دغه رنګه که فَرض حَج

حاشیه : (الف) حضرت ابن عبّاس فرمایي چي دجُهَینَه یوه ښځه حضور (ﷺ) ته راغله او وویل چي زُومَا مُور د حَج نَذَر کړئ دئ.لېکن حج یې وَنَه کړئ او وَفَات شوه نو آیا زَه ددي لجانِب حج اداء کړم؟ حضور وفرمایل ددي لجانِبه حج اداء که.ستا څَه خِیَال دئ چي ستا پر مُور باندي پُور(قرض)باندي وي نو آیا هغه به اداء کوې؟ د الله قرض اداء کړه.الله زیات حَقدَارَه دئ چي دهغه حَق اداء شي .

[۳۱۷۰](۳۳) وَ مَن خَرَجَ مِن بَلَدِهِ حَاجّاً فَمَاتَ فِي الطّرِیقِ وَ اَوصٰي اَن یَحُجّ عَنهُ حُجّ عَنهُ مِن بَلَدِهِ عِندَ اَبِي حَنِیفَةَ (ؒ) وَ قَالَ اَبُویُوسُفَ وَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰي یُحَجّ عَنهُ مِن حَیثُ مَاتَ .

وي که د حَج نَذَر منلئ وي نو هغه دي هم حَتّي الإمکان اداء کړي.نو ځکه دکُوم ښَار څخه چي نَفَقَه پُوره کیږي دهغه ښَار څخه دي حَج په وکړي .

[۳۱۷۰](۳۳) یوځوک دخپل ښَار څخه دحَج لپاره وَوَاتَئ.بیا په لاَرَه کي مَړ شو او وَصِیّت یې وکړئ چي په ده پَسِي دي حَج وکړي نو د امام ابوحنیفه په نېز دي دده د ښَار څخه په ده پَسِي حَج وکړي.او صاحبین فرمایي چي چیري مَړ دئ دهغه ځایَه څخه دي حَج پَسِي وکړي .

تشریح : یوسړئ د حَج په اراده د کُور څخه رَاوَوَاتَئ او په لاَرَه کي وَفَات شو او وَصِیّت یې وکړئ چي په مَاپَسِي حَج وکړئ.نو امام ابوحنیفه فرمایي چي دُوبَارَه دي بیا د کُور څخه حَج پَسِي وکړي.او صاحبین فرمایي چي پر کُوم ځائ وَفَات شوئ دئ دهغه ځایَه څخه دي حَج پَسِي وکړي .

وجه : (۱) امام صاحب (ؒ) فرمایي چي څومره لاَرَه سَفَر ده کړئ وُ د اِنتِقَال په وجه هغه لاَرَه او سَفَر ساقِط شو او د وَصِیّت کونکي مُرَاد دادئ چي د کُور څخه دي حَج وکړي نو ځکه د کُور څخه دي حَج په وکړي.لېکن که چیري نَفَقَه او مَال لَږ وي نو بیا دي دهغه ځایَه څخه حَج په وکړي چیري چي وَفَات شوئ دئ (۲) د وَفَات او

مرګه څخه د اِنسَان اَعمَال مُنقَطِع کیږي دلیل یې دا حدیث دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اِذَا مَاتَ الإنسَانُ اِنقَطَعَ عَنهُ عَمَلُهُ اِلاّ مِن ثَلاَثَةِ اَشيَاءٍ. مِن صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ اَوعِلمٍ يُنتَفَعُ بِهِ اَو وَلَدٍ صَالِحٍ يَدعُو لَهُ (الف) (ابوداؤدشریف.باب ماجاء في الصّدقة عن

حاشیه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمایل چې اِنسَان مړ شي نو دهغه عَمَل مُنقَطِع کیږي مَاسِوَا د دُرُو شیانُ څخه. صَدَقَه جَارِیَه.او دګوم عِلم څخه چې فائده حاصِل کړي ده او نِیک اَولاَد چې دده لپاره دُعَاء وکړي .

[۳۱۷۱](۳۴) وَ لاَ تَصِحّ وَصِيّةُ الصّبِيِّ .

المَیّتِ ص۴۲نمبر۲۸۸۰) ددې حدیث څخه معلوم شوچې د مَرګ څخه د اِنسَان اَعمَال مُنقَطَع کیږي.لِهْذَا چې حَج یې نَه وکړئ نو حَج یې هم مُنقَطَع شو.او دهغه لپاره چې کُوم سَفَرکړئ وُ هغه سَفَر هم مُنقَطَع شو نو ځکه دُوبَارَه دي بیا د کُور څخه حَج پسي اداء کړي .

فائده : صاحبین فرمایي چیري چې وَفَات شوئ دئ دهغه ځایَه څخه دي حجَ په وکړي .

وجه : (۱) تر هغه ځایَه خو ده سَفَر کړئ دئ اودهغه اَجر هم ورته ملاؤشوئ دئ نو ځکه مخته پاته سَفَر دي په وکړي حَج دي په اداء کړي (۲) په آیت کې دئ. وَمَن يَخرُج مِن بَيتِهِ مُهَاجِراً اِلَي اللهِ وَ رَسُولِهِ ثُمّ يُدرِكهُ المَوتُ فَقَد وَقَعَ اَجرُهُ عَلَي اللهِ وَكَانَ اللهُ غَفُوراً رَحِيمًا (الف) (آیت ۱۰۰ سورة النساء ۴) په دې آیت کي دئ چې څوک د هِجرَت لپاره د کُور څخه رَاوَوَاتَئ او په لاَرَه کي وَفَات شو نو هغه ته اَجر ملاؤ شو. لِهْذَا چیري چې وَفَات شوئ دئ دهغه ځایَه څخه دي حَج په وکړي .

[۳۱۷۱](۳۴) د کِشنِي بَچِي وَصِيّت نشته .

وجه : (۱) په حدیث کي دئ چې د کِشنِي بَچَانُ څخه قَلَم پُورتَه شوئ دئ نو ځکه د دُوئي وَصِيّت هیڅ اِعتِبَار نَه لري.حدیث دادئ. عَن عَلِيٍّ عَنِ النّبِيِّﷺقَالَ رُفِعَ القَلَمُ عَن ثَلاَثَةٍ عَنِ النّائِمِ حَتّي يَستَيقِظَ وَعَنِ الصّبِيِّ حَتّي يَحتَلِمَ وَعَنِ المَجنُونِ حَتّي يَعقِلَ (ب) (ابوداؤدشریف.باب في المجنون یسرق اویصیب حدًا ص۲۵۶نمبر۴۴۰۳) ددې حدیث څخه معلوم شو چې کِشنَئ بَچِي اِعتِبَار نَه لري (۲) په اَثَر کي دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ لاَ يَجُوزُ عِتقُ الصّبِيِّ وَ لاَ وَصِيّتُهُ وَ لاَ بَيعُهُ وَ لاَ شِرَاءُهُ وَ لاَ طَلاَقُهُ (ج)

حاشیه : (الف) څوک چې د الله او د الله د رسول لپاره دخپل کُور څخه وَزي بیا هغه وَفَات شي نو دهغه اَجر پر الله شو او الله معافونکئ او رَحم کونکئ دئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمایل د درو کسانوڅخه قلم پورته سوئ دئ دیِیدَه څخه ترهغوچې رَاوِښ شي.اودکِشنِي څخه ترهغوچې بَالِغ شي.او دلهُونِي څخه ترهغوچې سمجداره شي (ج) حضرت ابن عبّاس فرمایي د بَچِي آزادول جواز نَه لري.او نَه دهغه وَصِيّت کول او نَه دهغه خرڅول او نَه دهغه رَانِیوَل او نَه دهغه طلاق ورکول .

[۳۱۷۲](۳۵) وَ لاَ تَصِحّ المُكَاتَبُ وَ اِن تَرَكَ وَفَاءً .

(مصنّف ابن ابي شيبة ۳۶ من قال لاتجوز وصيّة الصبيّ حتّي يحتلم ج۶ص۲۲۳نمبر۳۰۸۵۱/مصنّف عبدالرّزاق.وصِيّة الغلام ج۹ ص۸۰ نمبر۱۶۴۲۱) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي د کِشنِي بَچِي وَصيّت جواز نَه لري .

فائده : امامِ شافعي (ؒ) فرمايي که چيري وَصِيّت په خَير کي وُ نو بيا جائز دئ .

وجه : په اَثر کي دئ. اَنّ عُثمَانَ اَجَازَ وَصِيّةَ اِبنَ اِحدْي عَشَرَةَ سَنَةً (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۳۵ من قال تجوز وصيّة الصبيّ ج۶ ص۲۲۲نمبر۳۰۸۴۰/مصنّف عبدالرّزاق.باب وصيّة الغلام ج۹ ص۷۷نمبر۱۶۴۰۹/سنن للبيهقي.باب ماجاء في وصيّة الصغيرج۶ص۴۶۱نمبر۱۲۶۵۷) ددې اَثَرځخه معلوم شوچي که دخَير کار وي نو کِشنَئ بَچَئ وَصِيّت کولائي شي .

[۳۱۷۲](۳۵) د مکاتب وَصِيّت نَه صحيح کيږي که خَه هم ده دُومرَه مال پرېښئ وي چي کِفَايَت کوي .

تشريح : مکاتب مَړ شو او دومره مَال يې پرېښوئ چي کِتَابَت په اداء کېدلائي شي لېکن ده مَالِ کِتَابَت لا تر اُوس محال پُورِي نَه وُ اداء کړئ او آزاد شوئ لا نَه وُ چي وَفَات شو نو دده وَصِيّت کول نَه صحيح کيږي .

وجه : (۱) دئ لا تر اُوس محال پُورِي غُلَام دئ او د غُلَام وَصِيّت نَه صحيح کيږي. ځکه چي دده مَال په حقيقت کي د آقَا مَال دئ (۲) په اَثَر کي دئ. سَألَ طَهمَانُ اِبنَ عَبّاسٍ اَيُوصِي العَبدُ؟ قَالَ لاَ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۴۰ في العبديوصي اتجوز وصيّتُه؟ ج۶ص۲۲۴نمبر۳۰۸۶۳/سنن للبيهقي.باب وصِيّة العبدج۶ص۴۶۲نمبر۱۲۶۵۸/مصنّف عبدالرّزاق. الرّجُلُ يوصي لأمِّهِ وهي أمّ ولد لابيه والّذي يوصي لعبده ج۹ص۹۰نمبر۱۶۴۶۵) ددې اَثَر ځخه معلوم شوچي غُلَام وَصِيّت نَه شي کولائي (۳) په خپله مکاتب هم وَصِيّت نَه شي کولائي دليل يې دا اَثَر دئ. عَنِ الحَسَنِ قَالَ اَلمُکَاتَبُ لاَيَعتِقُ وَ لاَ يَهِبُ اِلاّ بِاِذنِ

حاشيه : (الف) حضرت عثمان د يَوُلَس کالو د هَلَک وَصِيّت جائز وګانئ (ب) حضرت طهمان دحضرت ابن عبّاس ځخه پُوښتَنَه وکړه آيا غُلَام وَصِيّت کولائي شي؟ وفرمايل نَه .

[۳۱۷۳](۳۶) وَ يَجُوزُ لِلمُوصِي اَلرّجُوعُ عَنِ الوَصِيّةِ .

مَولاَهُ (الف) (سنن للبيهقي.باب لاتجوز هبة المکاتب حتّي يبتدأهاباذن السّيّدِ ج۱۰ ص۵۶۳نمبر۲۱۷۱۸) ددې اَثَر ځخه معلوم شوچي مُکَاتَب د آقا د اجازت بغيره وَصِيّت نَه شي کولائي (۳) مکاتب د آخري دِرهَم تر اداء کولو پُورِي غُلَام دئ دليل يې دا حديث دئ. عَن عُمَرَ بنِ زُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَيّمَا عَبدٍ کُوتِبَ عَلْي مِائَةِ اَوقِيَةٍ فَاَدّاهَا اِلاّ عَشرًا اَوقِيَاتٍ فَهُوَ رَقِيقٌ (ب) (ابن ماجه شريف. باب المکاتب ص۳۶۱نمبر۲۵۱۹/بخاري شريف.باب المکاتب اذا رضي ص۳۴۸نمبر۲۵۶۴) ددې حديث ځخه معلوم شوچي د مکاتب پر ذِمّه يَو دِرهَم پاته وي تر هغه وخته دئ غُلَام دئ.او مخته تېرشو چي د غُلَام وَصِيّت جواز نَه لري که خَه هم دُومرَه مَال پرېښئ وي چي بَدَلِ کِتَابَت په اداء کيږي .

[۳۱۷۳](۳۶) جائز ده د وَصِيّت کونکئ د وَصِيّت ځخه رُجُوع کول .

تشريح : د وَصِيّت وروسته وَصِيّت کونکئ يعني مُوصِي وغُوَارِي چي د مرګه څخه مخکي په خپل وَصِيّت کي بَدلُون راولي يا وَغُوَارِي چي وَصِيّت ختم کړي نو دئ حَق لري .

وجه : (١) وَصِيّت د مُوصْي لَهُ د قبلولو وروسته مُکَمّل کيږي مُوصْي لَهُ به د مُوصِي د مرګه وروسته قبلوي.نو لکه څه رنګه چي بَيعَ د مُشتَرِي د قبلولو وروسته مُکَمّله کيږي نولکه څه رنګه چي بَائِع د مُشتَرِي د قبلولو څخه مخکي رُجُوع کولائي شي يا په بَيعَ کي بَدلُون راوستلائي شي دغه رنګه د وَصِيّت د قبلولو څخه مخکي مُوصِي د وَصِيّت څخه رُجُوع کولائي شي يا په کي وَصِيّت کي بَدلُون رَاوَستَلاَئِي شي.مثلاً د دَرَيَمِي وَصِيّت يې کړئ وي هغه بَدَل کړي دشُپَيرَمِي وَصِيّت وکړي (٢) په اَثَر کي ددې

حاشيه : (الف) حضرت حسن وفرمايل مکاتب د آقا د اِجَازَت بغيره نَه آزادولائي شي او نَه هِبَه کولائي شي (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل چي هسي يو غُلاَم پر سَل اَوقِيَه باندي مکاتب ګرزېدلئ وي بيا ده هغه ټوله اداء کړي وي مګر لَس اَوقِيَه نو هغه اُوس محال هم غُلاَم دئ .

[٣١٧٤](٣٧) وَ اِذَا صَرّحَ بِالرّجُوعِ اَو فَعَلَ مَا يَدُلّ عَلْي الرّجُوعِ کَانَ رُجُوعًا .

ثبوت شته. عَن عَائِشَةَ قَالَت لِيَکتُبَ الرّجُلُ فِي وَصِيّتِهِ اِن حَدَثَ بِي حَدَثٌ قَبلَ مَوتِي اَن اُغَيّرَ وَصِيّتِي هٰذِهِ (الف) (سنن للبيهقي.باب الرجوع في الوصيّةِ وتغييرهاج٦ص٤٦٠نمبر١٢٦٥٤/مصنّف ابن ابي شيبة ٢٦ من کان يستحب ان يکتب في وصِيّتِهِ ان يحدث بي قبل ان اغيروصيّتِي ج٦ ص٢١٨ نمبر٣٠٨٠٦) ددې اَثَر څخه معلوم شوچي د مرګه څخه مخکي په وَصِيّت کي بَدلُون رَاوَستَلاَئي شي (٣) قَالَ عُمَرُ مَا اَعتَقَ الرّجُلُ فِي مَرَضِهِ مِن رَقِيقِهِ فَهِيَ وَصِيّةٌ اِن شَاءَ رَجَعَ فِيهَا (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ٢٥ الرّجُلُ يوصي بالوصيّةِ ثُم يريد اَن يُغَيّرَهَا ج٦ ص٢١٧ نمبر٣٠٧٩٦) ددې اَثَر څخه معلوم شوچي وَصِيّت مَنسُوخ کولائي شي .

[٣١٧٤](٣٧) که صَرَاحَةً رُجُوع وکړي يا دَاوَل کار وکړي چي پر رُجُوع دَلاَلَت کوي نو رُجُوع به ثابت شي .

تشريح : د صَرَاحَةً رجوع کولو صورت دادئ چي په صَفَا لفظو کي ووايي چي زَه دغه وَصِيّت ببرته وَاپَس اَخلَم.او دَلاَلَةً د رُجُوع صورت دادئ چي زَه د فُلاَنِي لپاره ددغه غُلاَم وَصِيّت کوم او بيا هغه غُلاَم خرڅ کړي يايي آزاد کړي نو دَلاَلَةً معلوم شوچي دئ دهغه وَصِيّت څخه رُجُوع کوي که نَه نو غُلاَم يې وَلِي خرڅاوئ يايې آزاداوئ؟ نوځکه خرڅول يا آزادول پر دې خبره دلالت کوي چي دئ هغه وَصِيّت ختم کوي .

وجه : په حديث کي دئ چي په اِشَارَه سره ووايي نو داسي دئ لکه صَرَاحَةً چي ووايي. سَمِعتُ مِن سَهلِ بنِ سَعدِالسّاعِدِيّ صَاحِبِ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) يَقُولُ قَالَ

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمايي سړئ بَايَد په خپل وَصِيّت کي دا وليکي.که زُومَا دمرګه څخه مخکي يَوَه واقِعه راغله ددې خبري څخه چې خپل وَصِيّت بَدَل کړم (ب) حضرت عمر وفرمايل يو چا په خپل مَرَضُ المَوت کي غُلاَم آزاد کړئ نو هغه هم وَصِيّت دئ که خُوښَه شي په هغه کي دي رُجُوع وکړي .

[٣١٧٥](٣٨) وَ مَن جَحَدَ الوَصِيّةَ لَم يَكُن رُجُوعًا [٣١٧٦](٣٩) وَ مَن اَوصْي لِجِيرَانَهِ فَهُمُ المُلاَصِقُونَ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي

رَسُولُ اللهِ (ﷺ) بُعِثتُ اَنَا وَالسّاعَةُ كَهْذِهِ مِن هْذِهِ اَو كَهَاتَينِ وَقَرَنَ بَينَ السّبَابَةِ وَالوُسطْي (الف) (بخاري شريف.باب اللّعان ص٧٩٨نمبر٥٣٠١) په دې حديث کي د شَهَادَت گُوَتَه او د مَابَين گُوَتَه سره وَنِيوَلي او اِشَارَه يې وکړه چې قيامت دَادَوَل قريب دئ.نو په اِشَارَه سره هم کله نا کله د خبري وَضَاحَت کيږي.قياس پر دغه په دَلاَلَت سره هم بَعض شيان معلومېدلائي شي .

[٣١٧٥](٣٨) يو چا د وَصِيّت څخه اِنکار وکړئ نو دا رُجُوع نَه ده .

تشريح : داسي نَه وايي چې مَا وَصِيّت کړئ دئ لېکن اُوس هغه ختم کوم بلکه داسي وايي چې مَا هيڅ کله وَصِيّت نَه دئ کړئ.نو په دې سره رُجُوع نَه کيږي .

وجه : د رُجُوع مطلب دادئ چې مخکي مِي وَصِيّت کړئ دئ اُوس هغه ختم کوم.اوپه اِنکار کي دادئ چې مَا گر سره وَصِيّت کړئ نَه دئ نو په اِنکار کي د رُجُوع مَعنْي نشته نو حُکه په دې سره رجوع نَه ثابتيږي .

فائده : امام ابويوسف (ؒ) فرمايي چې په اِنکار کي هم د رُجُوع معنْي موجود ده. حُکه چې د رُجُوع معنْي داده چې مخکي مِي وَصِيّت کړئ وُ اُوس هغه بېرته وَاپَس اَخلَم.او په اِنکار کي دئ چې هيڅ کله وَصِيّت نَه دئ شوئ.په اِنکار کي د رُجُوع د خبري شِدّت دئ نو د رُجُوع معنْي موجود شوه.لِهْذَا رجوع به ثابته شي .

[٣١٧٦](٣٩) کُوم چا چې دخپلو هَمسَايَه گانو لپاره وَصِيّت وکړئ نو هغه به مُتّصِل هَمسَايَه گان وي د امام ابوحنيفه (ؒ) په نېز .

تشريح : دامام ابوحنيفه (ؒ) په نېزچې د هَمسَايَه لپاره وَصِيّت وکړي هغه هَمسَايَه گان

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل زَه او قيامت دواړه دغه رنګه نَژدې وخت کي سره رَا اَستَوَل شوي يُو لکه څَه رنګه چې دغه ددې سره يَوځَايَه ده.يا دغه دواړې دي او سَبّابَه او وُسطْي گُوَتِي يې سره مِلاَؤ کړې .

حَقدَارَه دي چې د مُوصِي د کُور سره مُتّصِل او تَچ وي .

وجه : (١) په حديث کي دئ. عَن عَائِشَةَ قُلتُ يَا رَسُولَ اللهِ اِنّ لِي جَارَينِ فَاِلْي اَيّهِمَا اَهدِي؟ قَالَ اِلْي اَقرَبِكُمَا مِنکِ بَاباً (الف) (بخاري شريف.باب اَيّ الجَوَارِ اَقربُ ص٣٠٠ نمبر٢٢٥٩) په دې حديث کي دئ چې زُومَا دُوَه هَمسَايَه گان دي.ددې څخه معلوميږي چې تولَه مَحَلّه ته هَمسَايَه گان نَه ويل کيږي بلکه د کُور و دواړو اَطرَافُ ته چې د کُوم چا کورونه تَچ وي بَس هغه هَمسَايَه گان دي و هغوئي ته به د وَصِيّت شَئ ملاؤيږي (٢) په مُحَاوَرَه کي هم و دغه خلګو ته هَمسَايَه گان ويل کيږي .

فائده : صاحبين ؒ فرمايي چي ددغه كَلِي(مَحَلِّي)د مسجد سره چي څومره خلک مُتَعَلّق دي هغه ټوله هَمسَايَه ګان دي او د وَصِيّت شَئ به د ټولو سره ګډ وي .
وجه : دُوئي فرمايي چي تر کُوم ځايَه پُورِي چي د مسجد د اَذَان آواز رسيږي تر هغه ځايَه خلک په هَمسَايَه ګانُ کي دَاخِل دي.په حديث کي ددې ثبوت شته. عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لاَ صَلوٰ ةَ لِجَارِ المَسجِدِ اِلاّ فِي المَسجِدِ (ب) او ددې په تفسير کي دا قول دئ. عَن عَلِيٍّ قَالَ مَن كَانَ جَارُ المَسجِدِ فَسَمِعَ المُنَادِيَ يُنَادِي فَلَم يُجِبهُ مِن غَيرِ عُذرٍ فَلاَ صَلوٰ ةَ لَهُ (ج) (دارقطني.باب الحثّ لجار المسجدعلٰي الصّلوٰ ةِ فيه الاّ من عُذرٍ ج١ ص٣٩٩نمبر١٥٣٨/١٥٣٩/سنن للبيهقي.باب ماجاء من التشديد في ترک الجماعة من غيرعُذرٍ ج٣ ص٨١نمبر٤٩٤٥) ددې حديث څخه معلوم شوچي د يوه مَسجِد خلک ټوله سره هَمسَايَه ګان دي.نو ځکه و ټولو ته به په وَصِيّت کي حِصّه ملاؤيږي .
فائده : امامِ شافعي ؒ فرمايي چي تر څلوېښتُ کُورُو پوري به هَمسَايَه ګان شمېرل کيږي.لَس کُورُونَه ښِي طرف ته.لَس کُورُونَه کِنِ طرف ته.لَس کُورُونَه مخامخ.لَس کُورُونَه د شَا وخوا ته خلک هَمسَايَه ګان دي .

حاشيه : (الف) حضرت عائشې وفرمايل چي زُومَا دُوَه هَمسَايَه ګان دي کُوم يوه ته هَديَه وركړم؟ حضور (ﷺ) وفرمايل د کُوم يَوَه دَروَازَه چي تاته نِژدې وي (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل د مَسجِد دهَمسَايَه لمونځ نَه صحيح کيږي مګر په مَسجِد کي (ج) حضرت علي وفرمايل څوک چي مَسجِد ته نژدې وي او د مُؤذِّن اَذَان اَوري او بېله عُذر مسجد ته حاضِر نَه شي نو دهغه لمونځ نَه کيږي .

[٣١٧٧](٤٠) وَ مَن اَوصٰي لاَصهَارِهِ فَالوَصِيّةُ لِكُلِّ ذِي رَحِمٍ مَحرَمٍ مِن اِمرَأتِهِ .

وجه : حديث دادئ. عَن عَائِشَةَ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ اَوصَانِي جِبرِيلُ عَلَيهِ السّلاَمُ بِالجَارِ اِلٰي اَربَعِينَ دَارًا عَشَرَةٌ مِن هٰهُنَا وَ عَشَرَةٌ مِن هٰهُنَا عَشَرَةٌ مِن هٰهُنَا وَ عَشَرَةٌ مِن هٰهُنَا. قَالَ اِسمٰعِيلُ عَن يَمِينِهِ وَ عَن يَسَارِهِ وَ قِبَالِهِ وَ خَلفِهِ (الف) (سنن للبيهقي.باب الرّجُلُ يقول ثُلُثُ مَالِي الٰي فلانٍ الخ ج٦ ص٤٥١نمبر١٢٦١٢) ددې حديث څخه معلوم شوچي تر څلوېښتُ کُورُو پُورِي هَمسَايَه ګان دي و ټولو ته به په وَصِيّت کي حِصّه ملاؤيږي .
لغت : جِيرَانٌ : د جَارٌ جمع ده هَمسَايَه.پُرُوسِي. اَلمُلاَصِقُ : مُښتَئ.مُتّصِل.تَچ .
[٣١٧٧](٤٠) کُوم چاچي د خپلي خُسَرګَنَئ لپاره وَصِيّت وکړئ نو د مَينې د هر ذِي رَحِمِ مَحرَم لپاره به وَصيّت وي .
تشريح : وَصِيّت کونکي وَصِيّت وکئ چي زُومَا د خُسرګَنَئ لپاره وَصِيّت کوم نو دده د مَينې ټوله ذِي رَحِمِ مَحرَم اِنسَانَان مثلاً مُور.پُلاَر.وُرُور.خُور.وُرَارَه.وُربرَه.او غه رنګه نور به ټوله په دغه وَصِيّت کي شَامِل وي .
وجه : دحضرت جُوَيرِيّه په حديث کي و دې ټولو ته اَصهَارٌ ويل شوي دي.او تقريبًا سَل کسان ددې په اَصهَار کي شَامِل وُ او ټوله آزاد شول.د حديث ټکړه داده. عَن عَائِشَةَ

قَالَت وَقَعَت جُوَيرِيّةُ بِنتِ الحَارِثِ بنِ المُصطَلَقِ فِي سَهمِ ثَابِتِ بنِ قَيسِ بنِ شَمّاسٍ ... اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَد تَزَوّجَ جُوَيرِيّةَ فَاَرسَلُوا مَا فِي اَيدِيهِم مِنَ السّبِيّ فَاَعتَقُوهُم وَقَالُوا اَصهَارُرَسُولِ اللهِ(ﷺ)فَمَا رَأينَا اِمرَأةٌ كَانَت اَعظَمُ بَرَكَةً عَلٰي قَومِهَا مِنهَا

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل حضرت جبرئيل (ؑ) ماته تر څلويښتُ کُورُو پوري د هَمسَايَه ګانو نصيحت وکئ لَس ددي خوا څخه.او لَس ددي خوا څخه.لَس ددي خوا څخه اولَس ددي خوا څخه.اسمٰعيل فرمايي لَس د بنِي طرف.لَس د کِنِ طرف.لَس د مخامخ طرف او لَس د شَا لخوا څخه دي .

[۳۱۷۸](۴۱) وَ مَن اَوصٰي لاَختَانِهِ فَالخَتَنُ زُوجُ کُلِّ ذَاتِ رَحِمِ مَحرَمٍ مِنهُ .

اَعتَقَ فِي سَبَبِهَا مِائَةُ اَهلِ بَيتٍ مِن بَنِي المُصطَلَقِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في بيع المكاتب اذا فسخت المكاتبة ص۱۹۲نمبر۳۹۳۱) په دې حديث کې دحضرت جُوَيرِيّه ټوله ذِي رَحِمِ مَحرَم اَصهَار يعني د خُسَرګَنَئ رِشتَه دَارَان وګرزول چي سل نَفَرَه وُ. نو ځکه ذِي رَحِمِ مَحرَم به دَاخِل وي .

لغت : اَصهَارٌ : د صَهرٌ جمع ده ددې معنْي ده زُوم يا اَخبنَئ.لٰيکن مخته خَتَنٌ راروان دئ نو دهغه د مقابلې په وجه دلته ددې څخه د مَيني خَاندان مُرَاد دئ .

[۳۱۷۸](۴۱) چاچي د زُومَانُ لپاره وَصِيّت وکړئ نونو د هر ذِي رَحِمِ مَحرَم ښځي مېړه په خَتَن کي شَامِل دئ .

تشريح : د خَتَنٌ معنْي ده زُوم نوځکه د ټولو ذِي رَحِمِ مَحرَم ښځو مثلاً لُور مېړه.د خُور مېړه.د تُرُورِي(عَمّه)مېړه او دخَالَه مېړه دغه ټوله په خَتَنٌ کي شَامِل دي.او هر يوه ته به په وَصِيّت کي حِصّه ملاؤيږي .

وجه : (۱)د کُوفَه په مُحَاوَرَه کي دغه ټولو ته خَتَن يعني زُوم ويل کيږي (۲) دحضرت جويريّه په تېرشوي حديث کي ددې ټوله ذِي رَحِمِ مَحرَم اِنسَانَان شَامِل شول.نو قياس پر دغه د خَتَنٌ په لفظ کي دخپلو ذِي رَحِمِ مَحرَم ښځو ټوله مېړه ګان د زُوم په لفظ کي شَامِل دي .

فائده : لٰيکن د صَاحِبِ هِدَايَه په بنَار فَرغَانَه کي خَتَنٌ صِرف د لُور و مېړه ته ويل کيږي لِهٰذَا صِرف د لُونو و مېړه ګانُ ته به په وَصِيّت کي حِصّه ملاؤيږي.

لغت : اَختَانٌ : د خَتَنٌ جمع ده دښځي لخوا چي کُومِي رِشتي دي لکه خُسُر.او اَخبنَي.دلته د لُور مېړه ځيني مُرَاد دئ .

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمايي چي جُوَيريّه بنت الحارث د ثابت بن قيس په حِصّه کي وُلاَړَه ... حضور د جُوَيريّه سره وَادَه وکئ نو خلګو خپل قَيدِيَان خُوشِي کړل او هغه يي آزاد کړل.اَصحَابَانُ وفرمايل دا خو د حضور (ﷺ) د خُسَرګَنَئ خلګ دي.مَا يَوَه ښځه دخپل قَوم په حَق کي دُومرَه د بَرَکَت نَه ده ليدلي.ددي په بَرَکَت د بَنِي مُصطَلَق سَل کُورنِيَان آزاد شول .

[۳۱۷۹](۴۲) وَ مَن اَوصٰي لاَقَارِبِهِ فَالوَصِيّةُ للاَقرَبِ فَالاَقرَبِ مِن کُلِّ ذِي رَحِمٍ مَحرَمٍ مِنهُ وَ لاَ يَدخُلُ فِيهِم الوَالِدَانُ وَ الوَلَدُ وَ تَکُونُ لِلاِثنَينِ فَصَاعِداً .

[۳۱۷۹](۴۲) چاچي د قَرِيبَانُ لپاره وَصِيّت وکړئ نو وَصِيّت به د اَقرَب فَالاَقرب لپاره وي د ذِي رَحمِ مَحرَم څخه.او په دي کي وَالِدَين او اَولاَد نَه داخليږي.او د دُوُ يا ددې څخه د زياتُ لپاره به وي .

تشريح : په دې مسئله کي د اَقَارِبُ مفهوم معلوم کړئ دئ.او دې خبري بيان شوي دي.اَوّلَه خبره داده چي د اَقَارِبُ لپاره وَصِيّت وکړي نو ذِي رَحمِ مَحرَم رِشتَه دَارَانُ لپاره وَصِيّت دئ.د زُوم وَالِي رِشتې په دي کي نَه داخليږي.او په دي کي هم چي کُوم نژدې رِشتَه دَارَان دي هغو ته به ملاؤيږي.که هغه نَه وي نو بيا چي کُوم وروسته رِشتَه دَارَان دي هغو ته به وَصِيّت ملاؤيږي.دُويَمَه خبره دا شوې ده چي په اَقَارِبُ کي وَالِدَين او اَولاَد نَه داخليږي .

وجه : (۱) په مُحَاوَرَه کي اَقَارِب هغه رِشتَه دَارَانُ ته ويل کيږي چي بِالوَاسطَه رِشتَه دَارَان وي.وَالِدَين او بَچَان بِالوَاسطَه رِشتَه دَارَان نَه دي بلکه بَرَاهِ رَاست يعني بِلاَوَاسطَه رشته داران دي.نوځکه د اَقَارِبُ په وَصِيّت کي دُوئي نَه داخليږي (۲) په آيت کې هم وَالِدَين مُستَقِل بيان کړي دي او اَقرَبَاء يې پر هغه باندي عَطف کړي دي مُستَقِل يې بيان کړي دي ددې څخه معلوميږي چي وَالِدَين په اَقرَبَاء کي داخِل نَه دي.دهغوئي اَهمِيّت تر دې هم زيات دئ.اَولاَد به پر دغه قياس وي. آيت دادئ.کُتِبَ عَلَيكُم اِذَا حَضَرَ اَحَدُكُمُ المَوتُ اِن تَرَكَ خَيراً نِ اَلوَصِيّةُ لِلوَالِدَينِ وَالاَقرَبِينَ بِالمَعرُوفِ حَقًّا عَلْي المُتّقِينَ (الف) (آيت۱۸۰ سورة البقرة۲) په بَل آيت کي دئ يَسئلُونَکَ

حاشيه : (الف) پر تاسو فرض کړل شوي دي چي کُوم وخت د تاسو څخه يوه ته مَرگ راشي که مَال پرېږدئ وي نو وَصِيّت کول دئ د وَالِدَينُ لپاره او رِشتَه دَارَانُ لپاره د دَستُور مطابِق. دا پر مُتّقِينُ باندي حَق دئ .
مَا ذَا يُنفِقُونَ قُل مَا اَنفَقتُم مِّن خَيرٍ فَلِلوَالِدَينِ وَ الاَقرَبِينَ وَ اليَتٰمٰي (الف) (آيت۱۱۵ سورة البقرة ۲) په دې دواړو آيتو کي وَالِدَين دخرچ کولو لپاره جَلاَ ذِکر کړي دي او اَقرَبَاء يې جلا ذِکر کړي دي ددې څخه معلوم شوچي وَالدَين په اَقرَبَاء کي داخل نَه دي .

او دريمه خبره دا شوې ده چي اَقَارِب د اَقرَبٌ جمع ده.نو ځکه د مِيرَاث د قاعدې مطابق به لَږ تر لَږ د دُوُ نَفَرُ لپاره وَصِيّت وي.د يوه لپاره به نَه وي .

وجه : قاعده خو دغه ده چي د جَمعِ صيغه د دُرُو لپاره ده.لېکن په ميراث کي دجمع صيغه د دُوُ لپاره استعماليږي.وَصِيّت د ميراث ځُور ده(مِثل دئ).نوځکه هغه به هم لَږ تر لَږ و دُوُ ته شَامِل وي.او لکه څَه رنګه چي په ميراث کي و اَقرَب ته ملاؤيږي چي هغه نَه وي نو بيا هغو ته ملاؤيږي کُوم چي د دُوئي څخه وروسته وي.دغه رنګه په وَصِيّت کي به اَقرَب ته ورکول کيږي.که هغه نَه وي نوبيا به و نورو ته ملاؤيږي. عَن اِبنِ طَاؤسٍ عَن اَبِيهِ قَالَ کَانَ لاَ يَرْي الوَصِيّةُ اِلاّ لِذَوِي الاَرحَامِ اَهلِ الفَقرِ. فَاِن اَوصْي بِهَا لِغَيرِهِم نُزِعَت مِنهُم فَرُدّت اِلَيهِم (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۶ من قال يُرَدّ علْي ذي القرابة ج۶ص۲۱۵نمبر۳۰۷۷۴) په دې اَثَرکي دئ که چيري د ليري خلګو لپاره وَصِيّت کړئ وي هم

هغه به سَاقِطِيږي او نِژدې خلګو ته به ورکول کيږي.دغه رنګه چې نِژدې خلګ موجود وي نو ليږي خلګو ته نَه ملاؤيږي. په دې آيت کې هم دې ته اِشَارَه شوې ده. يَسئَلُونَکَ مَا ذَا يُنفِقُونَ قُل مَا اَنفَقتُم مِن خَيرٍ فَلِلوَالِدَينِ وَ الاَقرَبِينَ وَ اليَتٰمٰي (آيت ٢١٥ سورة البقرة ٢) په دې آيت کې وَ الاَقرَبِينَ د اِسمِ تفضيل صيغه استعمال کړې ده.ددې څخه اِشَارَةً معلوميږي چې د وَصِيّت مَال دي اَوّل ډېر نژدې رِشتَه دَارَانُ ته ورکړي .
لغت : صَاعِدٌ : ددې لفظي معنٰي ده په خَتَلُو سره.دلته مُرَاد دئ. ددې څخه زِيَات. يعني دُوَه يا ددې څخه زِيَات درې.څلور .

حاشيه : (الف) ستاڅخه خلګ پُوښتَنه کوي چې ګوم شَئ مَصرَف کړي؟ تَه ورته وفرمايَه چې ګوم مَال مَصرَف کوئ هغه دي د وَالِدَين.رشتَه دَارَانُ او يَتِيمَانُ لپاره وي (ب) حضرت طاؤس وَصِيّت مُنَاسِب نَه ګانَئ مګر د فَقِير ذِي رَحِمِ مَحرَم لپاره.که چيري دهغه څخه عَلاوَه دبَل چا لپاره وَصِيّت وکړئ نو دهغه څخه به رَابَاسِي ببرته به و ذِي رَحِمِ مَحرَم ته ورکوي .

[٣١٨٠](٤٣) وَ اِذَا اَوصٰي بِذَالِکَ وَ لَهُ عَمّانِ وَ خَالاَنِ فَالوَصِيّةُ لِعَمّيهِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي .

[٣١٨٠](٤٣) او که دغه وَصِيّت وکئ او دده دُوَه اَکَاګَان او دُوَه مَامَا ګان وُ نو وَصِيّت به د دُوُ اَکَاګَانُ لپاره وي د امام ابوحنيفه په نيز .
تشريح : مخته قاعده تېره شوې ده چې وَصِيّت به اَوّل و اَقرَب يعني نِژدې اِنسَانَانُ ته ملاؤيږي که هغه نَه وي نو بيابه و وروسته اِنسَانَانُ ته ملاؤيږي.اُوس که يوچا د اَقَارِب لپاره وَصِيّت وکړئ او دده يعني د مُوصِي دُوَه اَکاګَان وُ او دُوَه مَامَاګَان وُ.نو وَصِيّت به د اَکَاګَانُ لپاره وي .
وجه : (١) د اَقرَب د قاعدې په رُونَا(رَنَا)کي اَکَا اَقرَب دئ او عَصَبَه هم دئ.او د مَامَا درجه وروسته ده.نو ځکه و اَکَاګَانُ ته به وَصِيّت ملاؤيږي (٢) په حديث کې و دې ته اِشَارَه شوې ده. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَلحِقُوا الفَرَائِضَ بِاَهلِهَا فَمَا بَقِيَ فَلاَ وِلْي رَجُلٌ ذَکَرٌ (الف) (بخاري شريف.باب ميراث ابن الابن اذا لم يکن ابن ص٩٩٧نمبر ٦٧٣٥) په دې حديث کې دئ چې مِيرَاث و خپلو حِصّه دَارَانُ ته تقسيم شي دهغه وروسته و نَر(مُذَکّر)عَصَبَه ته ورکړئ.او د مَامَا تر مينځ وَاسطَه مُور ده. ځکه چې هغه خو د مُور وُرُور دئ نودلته خو د مُؤنّث وَاسطَه مينځ ته راغله.نوځکه ددې درجه د اَکَا څخه وروسته شوه.لِهٰذَا اَکَا ته به اَوّل ملاؤيږي (٣) په دې حديث کې صَرَاحَت شوئ دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اَلخَالُ وَارِثٌ مَن لاَ وَارِثَ لَهُ (ب) (دارقطني کتاب الفرائض والسِّيَر ج٤ ص٤٩ نمبر٤٠٧٦/مصنّف ابن ابي شيبة ٢٠ رَجُلٌ مَاتَ ولم يترک اِلاّ خَالاً ج٦ ص٢٥١ نمبر٣١١١٨) په دې حديث کې دئ چې بَل وَارِث نَه وي نو مَامَا به وَارِث جوړيږي.او اَکَا د عَصَبَه په لحاظ وَارِث دئ نو ځکه مَامَا ته به وَصِيّت نَه ملاؤيږي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل فرائض دهغه و اَهل ته وركړئ.چي کُوم پاته شي هغه د نَر لپاره دي (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل مَامَا دهغه چَا وارث دئ ځوک چي وَارِث نَه لري .

[۳۱۸۱](۴۴) وَ اِن کَانَ لَهُ عَمّ وَ خَالاَنِ فَلِلعَمّ اَلنِّصفُ وَ لِلخَالَينِ اَلثّلُثُ [۳۱۸۲](۴۵) وَ قَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰي اَلوَصِيّةُ لِكُلّ مَن يُنسَبُ اِلٰي اَقصٰي اَبٍ لَهُ فِي الاِسلاَمِ .

[۳۱۸۱](۴۴) او که دده يَو اَکَا وي او دُوَه مَامَاکَان وي نو د اَکَا لپاره نِيمَئ او د دواړو مَامَاکَانُ لپاره به نِيمَئ وي .
تشريح : په وَصِيّت کي اَقَارِبُ د جَمعِ صيغه استعمال کړه چي دهغه اِطلاَق په ميراث او وَصِيّت کي لَږ تر لَږ پر دُوُ نَفَرُو کيږي.او دلته صِرف يَو اَکَا موجود دئ نوځکه يَوَه اَکَا ته به د وَصِيّت نِيمَئ ملاؤيږي پاته نِيمَئ به د هغه وروسته اِنسَانَانُ ته ملاؤيږي.او په وروسته خلګو کي دُوَه مَامَاکَان دي نو دواړومَامَاکَانُ ته به نِيمَئ ملاؤيږي .
اصول : دا مسئله پر دي اُصُول مُتَفرّع ده چي اَوّل به نِژدې او دهغه وروسته به چي کُوم نژدي دي هغو ته به ملاؤيږي .
[۳۱۸۲](۴۵) صاحبين فرمايي چي وَصِيّت و هر هغه سړي ته ملاؤيږي چي په اِسلاَم کي وخپل آخري پُلاَر ته مَنسُوب وي .
تشريح : دصاحبينُ رَأيَه داده چي د وَصِيّت کونکي پُلاَر.نِيګه.وَرنِيګه دکُوم وخت څخه چي مسلمانان شوي دي دهغه وخت څخه چي هر څومره نِژدې قريبان دي که ذِي رَحِمِ مَحرَم وي که غَيرذِي رَحِمِ مَحرَم وي هغه ټوله په اَقَارِبُ کي شَامِل دي.او په وَصِيّت کي به ټولو ته لَږ لَږ حِصّه ملاؤيږي .
وجه : دُوئي د اَقَارِبُ د صيغي لفظي معني اَخلِي.دُوئي فرمايي چي اَقَارِبُ دجمع صيغه ده. دقريب او بَعِيد د معنْي څخه خَالِي ده.نوځکه چي مسلمانان دي هغه ټوله رِشتَه دَارَان پکښي شَامِل دي.دُوئي د اَقَارِبُ عام مَفهُوم مُعتَبَر ګڼي.ځکه چي مُوصِي د نژدې يا لير ي قَيد نَه دئ لګولئ .

[۳۱۸۳](۴۶) وَ مَن اَوصٰي لِرَجُلٍ بِثُلُثِ دَرَاهِمِهِ اَو بِثُلُثِ غَنَمِهِ فَهَلَکَ ثُلُثَا ذَالِکَ وَ بَقِيَ ثُلُثَهُ وَ هُوَ يُخرَجُ مِن ثُلُثِ مَا بَقِيَ مِن مَالِهِ فَلَهُ جَمِيعُ مَا بَقِيَ .

اصول : دا مسئله پر دي اُصُول متفرّع ده چي لفظ عام وي نو بايد مَفهُوم هم عام وي.دهغه په اِطلاَق کي بايد هيڅ ډَوَل قَيد نَه وي .
لغت : يُنسَبُ اِلٰي اَقصٰي اَبٍ لَهُ فِي الاِسلاَمِ : د پُلاَر.نِيګه څخه چي کُوم اَوّل مسلمان شوئ وي هغه تر هغه ځايَه پُورِي رِشتَه دَارِي معتبره ده .

[۳۱۸۳](۴۶) چاچي دبَل لپاره دخپلو دِرهَمُ د دَرَيَمِي وَصِيّت وکړئ يا دخپلو بُوزُو د دَرَيَمِي بيا دهغه دُوې حِصّې هَلاَکِ شوې او يَوَه دَرَيَمَه پاته شوه چي دده د پاته مَال د دَرَيَمِي څخه وَتَلاَئِي شي نو ټوله مَابَقِيَ به د مُوصْي لَهُ وي .

تشريح : مثلاً د يو چا سره نَه زَرَه (۹۰۰۰) دِرهَم موجود وُ يا نِيوِي بُوزې وې.ده ديوچا لپاره دهغه د دَرَيَمِي وَصِيّت وکړئ.د وَصِيّت وروسته دهغه دُوې حِصّې هلاک شوې او يوه حِصّه يې پاته شوه.مثلاً شُپَږ زره (۶۰۰۰) دِرهَم يا شُپِيتَه (۶۰) بُوزې هلاک شوې.او درې زره (۳۰۰۰) دِرهَم يا دېرش (۳۰) بُوزې پاته شوې.دغه مَال دټوله مَال دَرَيَمَه حِصّه ده نو فرمايي چي دغه پاته مَال چي د ټوله مَال دريمه حِصّه ده دا به د مُوصْي لَهُ لپاره وي.او وَارِثَانُ ته به هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي .

وجه : دا مسئله پر درې اُصُول مُتَفَرّع ده.اَوّل اصول دادئ چي د وَصِيّت د نِفَاذ درجه د وَارِثَانُ دحَق څخه مخکي ده.دليل يې دا آيت دئ. فَاِن کَانُوا اَکثَرَ مِن ذَالِکَ فَهُم شُرَکَاءُ فِي الثُّلُثِ مِن بَعدِ وَصِيّةٍ يُوصْي بِهَا اَو دَينٍ (الف) (آيت ۱۲ سورة النساء ۴) په دې آيت کي دئ چي د دَين او وَصِيّت وروسته د وَارِثَانُ حق دئ. دُويَم اُصوُل دادئ. چي وَصِيّت يې وکړئ نو د مُوصْي لَهُ حَق ثابت شو.دهغه وروسته دُوَه ثُلُث مَال هلاک

حاشيه : (الف) که چيري وَارِثَان تر دُوُ زِيَات وُ. نو په دَرَيَمَه کي به شريکان وِي د وَصِيّت يا د دَين وروسته .

[۳۱۸۴](۴۷) وَ مَن اَوصْي بِثُلُثِ ثِيَابِهِ فَهَلَکَ ثُلُثَاهَا وَبَقِيَ ثُلُثُهَا وَ هُوَ يُخرَجُ مِن ثُلُثِ مَا بَقِيَ مِن مَالِهِ لَم يَستَحِقّ اِلاّ ثُلُثُ مَا بَقِيَ مِنَ الثِّيَابِ .

شوئ دئ.اودريم اُصُول دادئ چي ټوله دِرهَم يا ټولي بُوزې يَو جِنس دي.دُوَه جِنس نَه دي.چي جِنس يَو دئ نو دتقسيم څخه مخکي هم دا ويل کېدلائي شي چي ذِهنًا د مُوصْي لَهُ يوه دَرَيَمَه حِصّه وه.او هغه مخکي اداء شوې ده نو ځکه په دي کي هغه نَه ده هَلاَک شوې.ځکه چي هغه خو به په هر حال کي اداء کيږي.لِهْذَا دهغه وروسته چي کُوم د وَارِثَانُ حَق دئ دهغه څخه دُوې حِصّې هَلاَک شوې.او جِنس يَو دئ نو دا ويل کېدلائي شي چي دتقسيم څخه مخکي هم ذِهنًا د مُوصْي لَهُ حِصّه ببله شوې وه.لِهْذَا هغه دده حِصّه نَه ده هَلاَک شوې.نو ځکه مُوصْي لَهُ ته به پاته يَوَه دَرَيَمَه حِصّه ورکول کيږي .

فائده : امامِ زفر (ؒ) فرمايي چي تر اُوسَ تقسيم نَه وُ شوئ چي هَلاَک شو نو دوَارِثَانُ او مُوصْي لَهُ دواړو حِصّه هلاک شوه.او چي څَه پاته مَال دئ په هغه کي دخپلي خپلي حِصّې په اَندَازَه د دواړو مَال پاته دئ.اُوس په مَذکُورَه مثال کي درې زره دِرهَم يا دېرش بُوزې پاته دي.او د وارثان حَق دُوچَند دئ يعني دُوې دَرَيَمِي حِصّې دئ او د مُوصْي لَهُ حَق يَو چَنديعني يوه دَرَيَمَه حِصّه دئ نو په دې حِسَاب سره به موصْي لَهُ ته زَر دِرهَم يا لَس بُوزې ملاؤيږي.او وَارِثَانُ ته به دُوَه زره دِرهَم او شَل بُوزې ملاؤيږي .

اصول : دده اُصُول دادئ چي په شِرکَت کي هَلاَک شي نو د ټولو حِصّې به هَلاَک شي.لکه څَه رنګه چي د شِرکَت په مَال کي د ټولو حِصّې هَلاَکيږي .
[۳۱۸۴](۴۷) يوچا دخپلو کيږو د دَرَيَمِي حِصّې وَصِيّت وکړئ.بيا دهغه دُوې حِصّې هَلاَک شوې او يوه دَرَيَمَه حِصّه يې پاته شوه.او هغه دده د مَابَقِيَ مَال څخه وَتَلاَئي شي بيا هم مُوصْي لَهُ مُستَحِق نَه دئ مګر د مَابَقِيَ کيږو د دَرَيَمِي حِصّې .
تشريح : مثلاً مُختَلِفُ النّوع نَه غُوټِي کيږې وې.دهغه څخه يوه دريمه وَصِيّت وکئ.وروسته دُوې حِصّې يعني شُپَږ غُوټِي کيږې هَلاَک شوې او درې غُوټِي پاته شوې.په دې صورت کي مُوصْي لَهُ د پاته درو غُوټُو څخه يوه دريمه يعني يوې غُوټِي مُستَحِق دئ.او دُوې غُوټِي به د وَارِثَانُ تر مينځ تقسيميږي .
وجه : (۱) په دې صورت کي کيږې مُختَلِفُ النّوع دي.نو حُکه ذِهنًا هم نَه شي تقسيم کېدلائي بلکه په هر اِعتِبَار سره به مُشتَرَک پاته وي. چي کيږې مُشتَرَکِ پاته شوې نو د دواړو دحِصّې څخه به هَلاَک شوي وي د وَارِثَانُ دحِصّې څخه هم او د مُوصْي لَهُ د حِصّې څخه هم هلاک شوي دي.لِهْذَا اُوس به مُوصْي لَهُ ته د پاته کيږو دريمه يعني يوه غُوټَه ملاؤيږي (۲) په دې اَثَر کي و دې ته اِشَارَه شوې ده. عَن عَطَاءَ فِي رَجُلٍ اَوصْي بِثُلُثِ مَالِهِ وَ اَشيَاءٌ سِوْي ذَالِکَ وَ تَرَکَ دَارًا يَکُونُ ثُلُثُهَا اَيُعطْي هَا المُوصْي لَهُ بِالثُّلُثِ؟قَالَ لا! وَ لٰکِن يُعطْي بِالحِصّةِ مِنَ المَالِ وَ الدّارِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۹ في رَجُلٍ له دُوَرٌ فاوصْي بثلثها ايجمع له في موضع اَم لا؟ ج۶ ص۲۱۳ نمبر۳۰۷۴۷) په دې اَثَرکي مَترُوکَه شئ مَال هم دئ او مکان هم دئ.لېکن مُوصْي لَهُ ته په دريمه حِصّه کي صِرف مکان نَه دئ ورکړئ بلکه د مَال څخه هم دَرَيَمَه حِصّه ورکړې ده او د مکان څخه هم دريمه حِصّه ورکړې ده.ددې څخه معلوم شو چي مُختَلِفُ النّوع شِيَان وي نو په هر يوه کي به دريمه دريمه حِصّه ملاؤيږي.او د هر يوه څخه به دُوې حِصّې د وَارِثَانُ وي. معلوم شوچي باقاعده تقسيم نَه وي شوئ. شَئ هَلاَک شي په هغه کي د وَارِثَانُ حِصّه هم شته او د مُوصْي لَهُ حِصّه هم شته.نو په دې لحاظ چي هر څَه پاته شي په هغه کي به مُوصْي لَهُ ته دريمه حِصّه ملاؤيږي.او پاته دُوې حِصّې به وَارِثَانُ ته ملاؤيږي .
اصول : چي مُختَلِفُ النّوع شِيَان وي نو د بَاقَاعِده تقسيم څخه مخکي هغه ټوله مُشتَرَک پاته وي.که هَلاَک شو نو د ټولو دا به هَلاَکيږي .

حاشيه : (الف) حضرت عطاء وفرمايل يوه سړي د مَال د دريمي وَصِيّت وکړئ او څَه مَال دهغه څخه علاوه وي او مکان يې پرېښئ وي چي دريمه کېدلائي شي.آيا موصْي له ته د مکان دريمه ورکړي؟ نو عطاء وفرمايل نَه. بلکه د مَال او مکان هر يوه څخه دې دريمه دريمه ورکړي .

[۳۱۸۵](۴۸) وَ مَن اَوصْي لِرَجُلٍ بِاَلفِ دِرهَمٍ وَ لَهُ مَالٌ عَينٌ وَ دَينٌ فَاِن خَرَجَ الاَلفُ مِن ثُلُثِ العَينِ دُفِعَت اِلَي المُوصْي لَهُ وَ اِن لَم يَخرُج

دُفِعَ اِلَيهِ ثُلُثُ العَينِ وَ كُلّ مَا خَرَجَ شَئٌ مِنَ الدّينِ اُخِذَ ثُلُثَهُ حَتْي يَستَوفِيَ الاَلفَ .

[۳۱۸۵](۴۸) چا چي د يوه سړي لپاره د زَر دِرهَم وَصِيّت وکړئ او دده څَه مَال نَقد وي او څَه قرض وي.که چيري د زَر نَقدُ دريمه حِصّه ووزي نو مُوصْي لَهُ ته به ورکول کيږي.او که نَه ووزي نو دنَقدُ دريمه به ورکول کيږي.او دقرض څخه چي هر څَه وصولِيږي دهغه دريمه به اَخلي تر هغه وخته چي زَر پوره کړي .
تشريح : يوه سړي ديوه دُوست لپاره د زَر دِرهَم وَصِيّت وکړئ او دهغه سړي په مَال کي څَه نَقد مَال وي او څَه دِرهَم وي.او دِرهَم پر خلګو قرض وي.که چيري نَقد مَال مثلاً دري زَرَه موجود وي نو ددي دريمه يعني زَر به د وَصِيّت والا ته ورکول کيږي. او که دري زَرَه نَقد نَه وي بلکه دُوَه زره نَقد دي او زَر قرض دي نو د دُوُ زَرُو دريمه حِصّه يعني ۶۶. ۶۶۶ شُيَر سوه شُيُرشُپيتَه دِرهَم او شُيُرشُپيتَه پيسي به اُوس وصولوي او دا نُور به قرض وصولِيږي نو په هغه کي به دريمه دريمه اَخلِي ترهغه وخته چي پُوره زَر يې مُکَمّل شي .
وجه : (۱) په مَال کي څَه قرض دئ او څَه نَقد دئ.نو ګواکه مُختَلِفُ الجِنس مال دئ.نو ذِهنًا د مُوصْي لَهُ حِصّه نَه شي جلا کيدلائي.بلکه دواړه مَالونه به د وَارِثَانُ او مُوصْي لَهُ تر مينځ مُشتَرَک پاته وي.نوځکه چي څومره نَقد دئ دهغه څخه به دريمه مُوصْي لَهُ ته ورکوي.او چي څومره قرض دئ هغه دي وصولوي او په هغه کي دي دريمه اَخلِي خپل زَر دي په پُوره کوي (۲) نَقد خورا ډېر اَهمِيّت لري.که چيري نَقد صرف و موصْي لَهُ ته ورکول شي نو د وَارِثَانُ نُقصَان دئ.لِهْذَا ددې څخه به صِرف دريمه و موصْي لَهُ ته ورکوي .

[۳۱۸۶](۴۹) وَ تَجُوزُ الوَصِيّةُ لِلحَملِ وَ بِالحَملِ اِذَا وُضِعَ لاَقَلّ مِن سِتّةِ اَشهُرٍ مِن يَومِ الوَصِيّةِ .

اصول : دا مسئله هم پر تېر شوي اُصُول متفرّع ده چي که مَال دُوَه جِنس وي نو مُوصْي لَهُ او وَارِثَان به په نَقد او قرض دواړو کي سره شريکان وي .
لغت : عَينٌ : نَقد. دَينٌ : قرض. يَستَوفِي : د وَفْي څخه مُشتَق دئ وصولول .
[۳۱۸۶](۴۹) او جائز دئ دحَمل لپاره وَصِيّت او د حَمَل وَصِيّت چي وَضعِ حَمَل شوئ وي د وَصِيّت د وُرَخِي څخه تر شُيَر مياشتي په کَم وخت کي .
تشريح : د حَمَل لپاره د وَصِيّت کولو صورت دادئ چي زَيد د عُمَر دهغه زُوئي لپاره مثلاً وَصِيّت کوي چي تر اُوس محال پوري د مُور په نَس کي دئ نو دا وَصِيّت جائز دئ.لېکن په دي کي شرط دادئ چي د وَصِيّت د وُرَخِي څخه ونيسي بيا په شُيَرمياشتي کي دَنَنَه بَچَئ پيدا شوئ وي.چي دا يقين شي چي د وَصِيّت کولو پر مَحَال بَچَئ د

مُور په نَس کي موجود وُ.او د کُوم چا لپاره چې وَصِيّت کړئ دئ هغه د مُور په نَس کي مُوجود وُ .
وجه : (۱) که د وَصِيّت د وخت څخه شُپَږ مياشتي وروسته بَچَئ پيدا شو نو دا يقين نَه شي کېدلائي چي د وَصِيّت پر وخت دا بَچَئ د مُور په نَس کي موجود وُ.ځکه چي دحَمَل لږ تر لږ وخت شُپَږمياشتي دئ.د وَصِيّت د جواز وجه داده چي شريعت غُوَارِي چي کُوم وخت بَچَئ پيدا شي نو دده په مِلکِيّت کي مَال وي چي د ژُوَند په تېرولو کي آساني وي.ددغه نَظَر په رُونَا کې دا حُکم کړئ دئ چي بَچَئ به په نَس کي موجود شوئ وي.او که يو بَل رِشتَه دَار وَفَات شي نو دهغه په ميراث کي به دده حِصّه هم وي او که څوک وَصِيّت وکړي نو هغه وَصِيّت به هم ده ته ملاؤيږي (۲) په آيت کي و دې ته اِشَارَه شوې ده. يُوصِيكُمُ اللهُ فِي اَولاَدِكُم لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ (الف)

حاشيه : (الف) الله تاسو ته د اَولاد په اړه وَصِيّت کوي چي د مُذَکّر لپاره د مُؤنّث دُوچَندَ حِصّه ده .

[۳۱۸۷](۵۰) وَ اِذَا اَوصْي لِرَجُلٍ بِجَارِيَةٍ اِلاّ حَملَهَا صَحّتِ الوَصِيّةُ وَ الاِستِثنَاءُ .

(آيت ۱۱ سورة النساء ۴) په دې آيت کي دئ چي د اَولاَد په اړه الله تاسو ته وَصِيّت کوي. او چي په نَس کي حَمَل قرار ونيوئ نو د اَولاَد وجود شروع شو هغه ته به هم ميراث ملاؤيږي او که وَصِيّت وکړي نو وَصِيّت به هم ورته ملاؤيږي (۳) په حديث کي دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَنِ النّبِيِّ (ﷺ) قَالَ اِذَا اِستَهَلّ المَولُودُ وَرِثَ (الف) (ابوداؤدشريف. باب في المولود يستهلّ ثمّ يموت ص۴۹نمبر۲۹۲۰/ابن ماجه شريف.باب ماجاء في الصّلاَةِ علَي الطِّفلِ ص۲۱۵نمبر۱۵۰۸) په دې حديث کي دئ چي بَچَئ ژُوَندَئ پيدا شي د هغه يو علامت دادئ چي ژَړَا وکړي نو هغه ته به ميراث ملاؤيږي.قياس پر دغه چي بَچَئ د مُور په نَس کي وُجُود پيدا کړي نو هغه ته به هم ميراث ملاؤيږي.او د وَصِيّت مَال به هم ورته ملاؤيږي .
دا چي د بَل لپاره د حَمَل وَصِيّت وکړي دهغه صورت دادئ چي آقَا ووايي چي زَه مثلاً د فُلاَنِي سړي لپاره دخپلې مينځي د حَمَل وَصِيّت کوم.نوچي کُوم وخت دغه حَمَل پيدا شي هغه وخت به و موصْي لَهُ ته بَچَئ ملاؤ شي او دده وَصِيّت صحيح دئ .
وجه : په ميراث او وَصِيّت کي حَمَل د مُور څخه جَلاَ(بېل شَئ)ګڼل کيږي.چي هغه د مُور څخه جَلاَ شو نو دهغه لپاره وَصِيّت کول جائز دئ.او چي دبَل چا لپاره دده وَصِيّت وکړي نو هغه هم جائز دئ .
لغت : اَلوَصِيّةُ لِلحَملِ : دحَمَل لپاره د يو شِي وَصِيّت وکړي. اَلوَصِيّةُ بِالحَملِ : دبل چا لپاره ددغه حَمَل وَصِيّت وکړي .
[۳۱۸۷](۵۰) که د يوه سړي لپاره د يوې مينځي وَصِيّت وکړئ مګر دهغې دحَمَل نو وَصِيّت صحيح دئ او اِستِثنَاء صحيح ده .

تشريح : دَاوَل يې وويل چې د زَيد لپاره ددې مينځي وَصِيّت کوم مګر ددې د حَمَل وَصِيّت د زَيد لپاره نَه کوم بلکه هغه زُومَا دئ.نو دغه وَصِيّت صحيح دئ مينځه به

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل چې بَچِئ و ژَارِي نو وَارِث ګرزي .

[٣١٨٨](٥١) وَ مَن اَوصٰي لِرَجُلٍ بِجَارِيَةٍ فَوَلَدَت بَعدَ مَوتِ المُوصِي قَبلَ اَن يَقبِلَ المُوصٰي لَهُ وَلَدًا ثُمّ قَبِلَ المُوصٰي لَهُ وَهُمَا يُخرَجَانِ مِنَ الثّلُثِ فَهُمَا لِلمُوصٰي لَهُ وَ اِن لَم يُخرَجَا مِنَ الثّلُثِ ضُرِبَ بِالثّلُثِ .

و زَيد ته ملاؤ شي او حَمَل چې کُوم وخت پيدا شي هغه به د آقَا بَچِئ وي .
وجه : دا مسئله پر مخته تېرشوي اُصُول متفرّع ده يعني په ميراث او وَصِيّت کي حَمَل د مينځي څخه جَلا شَئ ګڼل کيږي.نوځکه مينځه به د بَل چا وي او دحَمَل اِستِثنَاء يې وکړه هغه به د آقَا وي .
پام لرنه : په بَيعَ او هِبَه کې حَمَل د مينځي جُزء شمېرلئ دئ لِهٰذَا که مينځه خرڅ کړي يايې هِبَه کړي او حَمَل خرڅ نَه کړي يايې هِبَه نَه کړي نو دا نَه صحيح کيږي. بلکه دمينځي سره به دحَمَل بيع هم راشي يا دمينځي سره به دحَمَل هِبَه هم راشي .
[٣١٨٨](٥١) چاچې دبَل لپاره دمينځي وَصِيّت وکړئ.بياهغې د مُوصِي د مرګ وروسته د مُوصٰي لَهُ د قبلولو څخه مخکي بَچِئ وَزِيږَاوَئ.بيايې مُوصٰي لَهُ قبول کړي. اودُوئي دواړه د دَرَيَمِي څخه وَتَلاَئِي شي نو دواړه به د مُوصٰي لَهُ وي.او که د دَرَيَمِي څخه نَه شي وَتَلاَئِي نو په ثُلُث کي به شَامِليږي .
تشريح : مثلاً زَيد د عُمَر لپاره د مينځي وَصِيّت وکړئ.دهغه بَعد زَيد وَفَات شو. دده د وَفَات وروسته مينځي بَچِئ وَزِيږَاوَئ.د بَچِي د زيږولو وروسته عُمَر وَصِيّت قبول کړئ.او د دواړو قيمت د زَيد د ټوله مِلکِيّت دَرَيَمَه حِصّه وُ.مثلاً د زَيد ټوله مِلکِيّت نَه زَرَه(٩٠٠٠)دِرهَم وُ او دمينځي او دبَچِي قيمت دري زَرَه(٣٠٠٠)دِرهَم وُ.نو عُمَر چې مُوصٰي لَهُ دئ هغه ته به مينځه او بَچِئ دواړه ملاؤ شي .
وجه : مُوصِي زَيد دمينځي وَصِيّت وکړئ او بَچِئ د مينځي جُزء دئ او دهغه اِستِثنَاء يې وَنَه کړه ګواکه دبَچِي سره يې دمينځي وَصِيّت وکړئ.نوځکه د مُوصٰي لَهُ دقبلولو

[٣١٨٩](٥٢) وَ اَخَذَ بِا الحِصّةِ مِنهُمَا جَمِيعًا فِي قَولِ اَبِي يُوسُفَ وَ مُحَمّدٌ وَ قَالَ اَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي يَأخُذُ ذَالِکَ مِنَ الاُمِّ فَاِن فَضُلَ شَئٌ اَخَذَهُ مِنَ الوَلَدِ .

وروسته به مينځه او دهغې بَچِئ دمُوصٰي لَهُ شي.ځکه چې د دواړو مجموعي قيمت د مُوصِي د ټوله مِلکِيّت دَرَيَمَه حِصّه ده .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چې دمينځې سره دهغې جُزء او زياتوب به هم په وَصِيّت کې شمارل کيږي .
که چيرې د دواړو قيمت تر دريمه حِصّه زيات شي مثلاً د زَيد ټوله مِلکِيّت نَه زره(۹۰۰۰) وُ. او د مينځې قيمت دُوَه زره او دبَچِي قيمت دُوَه زره مجموعه څلور زره شوه. چې تر دَرَيَمَه حِصّه زَر(۱۰۰۰) زياته شوه نو بيابه مُوصْي لَهُ ته پُوره مينځه يا پُورَه بَچَئ نه ملاؤيږي بلکه ددې څخه به د زَر مطابق و وَارِثَانُ ته ورکوي.او پاته د دُرُو زرو مطابق به و مُوصْي لَهُ ته ورکول کيږي.په مَتن کې د ,,وَ اِن لَم يُخرَجَا مِنَ الثُّلُثِ ضُرِبَ بِالثُّلُثِ ,, دغه مطلب دئ چې د مُور او بَچِي قيمت د دَرَيَمِي حِصّې څخه نَه وُزي بلکه د دُوئي دواړو مجموعي قيمت د کُل مَالِيّت د دَرَيَمِي حِصّې څخه زياتيږي نو په ثُلُث کې به حِصّې جوړيږي.دهغه څخه چې څومره حِصّه د وَارِثَانُ دا وي هغه به وَارِثَانُ ته ورکول کيږي.او څومره حِصّه چې د مُوصْي لَهُ دا جوړيږي هغه به و مُوصْي لَهُ ته ورکول کيږي .
پام لرنه : مُوصِي وصيّت کړئ دئ نو ځکه مُوصْي لَهُ ته دقبلولو حَق شته.او دقبلولو پر وخت مينځه او دهغې نُمَاء يعني بَچَئ دواړه موجود دي نو ځکه د دواړو دقبلولو حَق لري .
[۳۱۸۹](۵۲) او مُوصْي لَهُ به د دواړو څخه حِصّه اَخلِي د امام ابويوسف او امام محمّد پر قول.او امام ابوحنيفه فرمايي چې د مُور څخه به اَخلِي.که چيرې نور پاته شي نو د بَچِي څخه به اَخلِي .
تشريح : صاحبين فرمايي چې د مُور او بَچَي دواړو مجموعي قيمت تر دَرَيَمَه حِصّه زيات شي نو د دواړو څخه به دَرَيَمَه اِيستَل کيږي او مُوصْي لَهُ ته به ورکول کيږي.او د وَارِثَانُ چې کُومَه حِصّه جوړيږي هغه به هم د مُور او بَچِي دواړو څخه اَخَستَل کيږي.صِرف د يوه څخه به نَه اَخَستَل کيږي.مثلاً په تېرشوي مَذکُور مِثَال کې دمُوصِي پوره مِلکِيّت نَه زره(۹۰۰۰) دِرهَم وُ.دهغه څخه دُوَه زره د مُور قيمت او دُوَه زره د بَچِي قيمت دئ.مجموعه يې څلور زره شوه اونَه زره(۹۰۰۰) دَرَيَمَه حِصّه دري زره(۳۰۰۰) ده.نو ځکه ددې څخه به زَر د وَارِثَانُ وي.اُوس د صاحبينُ دقاعدې مطابق به پِنځَه سوه د مُور دقيمت څخه او پِنځَه سوه به د بَچِي د قيمت څخه و وَارِثَانُ ته ورکول کيږي.او پاته پنځَلَس سوه به د مُور دقيمت څخه او پِنځَلَس سوه به د بَچِي دقيمت څخه و مُوصْي لَهُ ته ورکول کيږي.چې د د واړو د قيمت څخه څَه نَه څَه و وَارِثَانُ ته او څَه نَه څَه و مُوصْي لَهُ ته ملاؤ شي.دَادَوَل به نَه وي چې صِرف د بَچِي د قيمت څخه و وَارِثَانُ ته څَه ملاؤ شي .
وجه : دُوئي فرمايي چې په وَصِيّت کې مُور او بَچَئ دواړه دَاخِل دي نو ځکه د دواړو دقيمت څخه به و وَارِثَانُ او مُوصْي لَهُ ته ملاؤيږي .
فائده : امام ابوحنيفه() فرمايي چې د دَرَيَمِي څخه به اَوّل وار و مُوصْي لَهُ ته مينځه ورکول کيږي.که چيرې دهغه څخه پُورَه شو خو بنَه خبره ده.او که چيرې دهغه څخه

دَرَيَمَه حِصّه پُورَه نَه شوه نو د بَچِي د قيمت څخه به پُورَه کيږي.او د بَچِي د قيمت څخه چي هر څَونَه پاته شي هغه به و وَارِثَانُ ته ورکول کيږي.په مَذکُورَه مثال کي به د دُوُ زرو مينځه و مُوصْي لَهُ ته ورکول کيږي او دبَچِي دقيمت څخه به هم و مُوصْي لَهُ ته زَر ورکول کيږي چي دَرَيَمَه حِصّه پوره شي.او پاته زَر به و وَارِثَانُ ته ورکول کيږي.دَاوَل به نَه کيږي چي د مُور او بَچِي دواړو دقيمت څخه لَږ وَارِثَانُ ته او لَږ و مُوصْي لَهُ ته ورکړي .

وجه : امام صاحب (ؒ) فرمايي چي اَصل وَصِيّت خو دمينځي دئ بَچَئ خو دهغې تَابِع

[٣١٩٠](٥٣) وَ تَجُوزُ الوَصِيّةُ بِخِدمَةِ عَبدِهِ وَ سُكنْي دَارِهِ سِنِينَ مَعلُومةً وَ تَجُوزُ بِذَالِکَ اَبَدًا .

دئ اووروسته پَيدا شوئ دئ.نو ځکه اَوّل به د مُور څخه وَصِيّت پوره کيږي. وروسته به بَچَئ پر حِصّو تقسيميږي .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي کُوم شَئ يې په وَصِيّت کي ورکړئ دئ هغه اَصل دئ.اَوّل به پر هغه وَصِيّت نَافِذِيږي وروسته به پر فَرع نَافِذِيږي .

لغت : يَأخُذُ ذَالِکَ مِنَ الأُمِّ : مُوصْي لَهُ به اَوّل د مُور څخه خپله دَرَيَمَه حِصّه اَخلِي.که خَه نورَ هم پاته شوه نو هغه به د بَچِي دقيمت څخه وصولوي .

[٣١٩٠](٥٣) د خپل غُلاَم د خِدمَت او دمکان د اَستُوګَنِي وَصِيّت جائز دئ تر مُتَعَيّن کَلُو پوري او دا دهميشه لپاره هم جائز دئ .

تشريح : په تېرشوو مسئلو کي دا وُ چي عَينِي شَئ هِبَه کړي دلته دا مسئله ده چي دعَينِي شِي وَصِيّت وَنَه کړي بلکه دهغه شِي د نَفعِ وَصِيّت وکړي.مثلاً دَاوَل ووايي چي تر دُرُو کَالُ پوري زُومَا د غُلاَم دخِدمَت وَصِيّت کوم يا دهميشه لپاره ددې خِدمَت وَصِيّت کوم.يا د فُلاَنِي لپاره تر دُرُو کالُ پوري زُومَا د کُور د اَستُوګَنِي وَصِيّت کوم يا د هميشه لپاره ددې اَستُوګنِي وَصِيّت کوم نو دا جائز دئ .

وجه : (١) لکه خَه رنګه چي د عَينِي شِي قيمت وي دغه رنګه د نَفعِ هم قيمت وي.نوځکه دنَفعِ وَصِيّت هم کولائي شي (٢) د وَقف په مسئله کي و دې ته اِشَارَه شوې ده. عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ اَصَابَ عُمَرُ بِخَيبَرَ اَرضًا فَاَتَي النّبِيّ (ﷺ) فَقَالَ اَصَبتُ اَرضًا لَم اُصِب مَالاً قَطّ اَنفَسَ مِنهُ فَکَيفَ تَأمُرُنِي بِهِ؟ قَالَ اِن شِئتَ حَبَستَ اَصلَهَا وَتَصَدّقتَ بِهَا. فَتَصَدّقَ عُمَرُ اَنّهُ لاَ يُبَاعُ اَصلُهَا وَ لاَ يُوهَبُ وَ لاَ يُورَثُ فِي الفُقَرَاءِ وَ القُربْي وَ الرّقَابِ وَ فِي سَبِيلِ اللهِ (الف) (بخاري شريف.باب الوقف کيف يکتب؟ ص٣٨٨ نمبر ٢٧٧٢) په

حاشيه : (الف) حضرت عمر ته په خَيبَر کي مځکه ملاؤ شوه نو حضور(ﷺ)ته راغلئ او وويل(راروان صفحه)

[٣١٩١](٥٤)فَاِن خَرَجَت رَقَبَةُالعَبدِمِنَ الثّلُثِ سُلِّمَ اِلَيهِ لِلخِدمَةِ وَ اِن کَانَ لاَ مَالَ لَهُ غَيرُهُ خَدَمَ الوَرَثَةَ يَومَينِ وَ المُوصْي لَهُ يَومًا .

دې حديث کې اَصل مځکه نَه ده وَقف کړې بلکه دهغې نَفعَ يې وَقف کړې ده ددې څخه معلوم شو چې د نَفعِ وَصِيّت هم کېدلائي شي (۲) په اَثَر کي راغلي دي. وَ قَالَ الزّهرِيّ فِيمَن جَعَلَ اَلفَ دِينَارٍ فِي سَبِيلِ اللهِ وَ دَفَعَهَا اِلَي غُلاَمٍ لَهُ تَاجِرٌ يَتّجِرُ بِهَا وَ جَعَلَ رِبحَهُ صَدَقَةً لِلمَسَا كِينِ وَالاَقرَبِينَ. هَل لِلرّجُلِ اَن يَأ كُلَ مِن رِبحِ تِلکَ الاَلفِ شَيئًا؟ وَ اِن لَم يَأ كُل جَعَلَ رِبحَهَا صَدَقَةً فِي المَسَا كِينِ. قَالَ لَيسَ لَهُ اَن يَأ كُلَ مِنهَا (الف) (بخاري شريف.باب وقف الدّوابّ والكراع والعروض والصّامِتِ ص۳۸۹نمبر۲۷۷۵) په دې اَثَر کې هم اَصل دِينَار نَه دي وَقف کړي بلکه دهغه نَفعَ يې وقف کړې ده.قياس پر دغه د نَفعِ يعني د غُلاَم د خِدمَت يا دمکان د اَستُوګَنِي وَصِيّت د څو کالُ لپاره کولائي شي او دهمېشه لپاره هم کولائي شي .

اصول : په وَصِيّت کي د يَوشِي نَفعَ د اَصل په شان ده .

لغت : سُکنْي : اَستُوګَنه. سِنِينَ : د سَنَةٌ جمع ده ګال .

[۳۱۹۱](۵۴) که چيري غُلاَم د مَال د دَرَيَمِي څخه وَتَلاَئي شو نو دخِدمَت لپاره به و مُوصْي لَهُ ته حَوَالَه کوي.او که چيري ددې څخه علاوه بَل مَال نَه وي نو د وَارِثَانُ خدمت به کوي دُوې ورځي او د مُوصْي لَهُ دا يَوَه ورځ .

(تېره شوې صفحه) مَاتَه دَادَوَل ښَه مځکه ملاؤ شوې ده چې ددې څخه مخکي هيڅ کله نَه ده ملاؤ شوې.تَه وفرمايه په دې څَه وکړم؟ حضور (ﷺ) وفرمايل که دي خُوښَه شي ددې اَصل د ځان سره وساته او ددې نَفعَ صَدَقَه کړه.نو حضرت عمر هغه صَدَقَه کړل په دَادَوَل چې ددې اَصل دي نَه خرڅيږي نَه دي هِبَه کيږي نَه دي څوک ددې وَارِث وي.فُقَرَاء.رِشتَه دَار.غُلاَم او دالله په لاَرَه کي (الف) حضرت زُهرِي وفرمايل چې څوک سَل دِينَارَ د الله په لاَرَه کي صَدَقَه کړي او تَاجِر غُلاَم ته ورکړي چې هغه په دې سره تِجَارَت وکړي او دهغه نَفعَ دمسکِينَانُ او رِشتَه دَارَانُ لپاره صَدَقَه کړي.آيا ددغه سړي لپاره جواز شته چې ددې زَر د نَفعِ څخه خُوَرَاک وکړي؟ او که نَه وخوري نو دهغه نَفعَ دي پر مسکِينانُ باندي صَدَقَه کړي؟ وفرمايل دده لپاره جواز نشته چې ددې څخه خُوَرَاک وکړي .

[۳۱۹۲](۵۵) فَاِن مَاتَ المُوصْي لَهُ عَادَ اِلَي الوَرَثَةِ [۳۱۹۳](۵۶) وَ اِن مَاتَ المُوصْي لَهُ فِي حَيْوةِ المُوصِي بَطَلَتِ الوَصِيّةُ .

تشريح : مثلاً دغُلاَم قيمت دړې زره(۳۰۰۰)دئ او شُپَږ زره مَالِيّت دئ.ټوټل نَه زره (۹۰۰۰)دئ.په دې صورت کي غُلاَم دټوله مَالَ دريمه حِصّه دئ نوځکه د غُلاَم پُورَه خدمت به دمُوصْي لَهُ لپاره وي.او د وَصِيّت تر مُدې(وخته)پوري به پُورَه غُلاَم وموصْي لَهُ ته حَوَالَه کوي.چې دده خِدمَت وکړي .

وجه : غُلاَم د ټوله مَال دريمه حِصّه دئ نوځکه د غُلاَم ټوله خِدمَت به د مُوصْي لَهُ لپاره وي .

او که چيري دمُوصِي مِلکِيّت صرف دغه غُلاَم وي نو بيابه د غُلاَم دُوې حِصّې خِدمَت د وَارِثَانُ لپاره وي او يوه حِصّه خِدمَت به د مُوصْي لَهُ لپاره وي.لِهْذَا دُوې ورځي به د وَارِثَان خِدمَت کوي او يوه ورځ به د مُوصْي لَهُ خدمت کوي .

[۳۱۹۲](۵۵) كه مُوصْي لَهُ مَړ شو نو غُلاَم به ببرته وَارِثَانُ ته راشي .
تشريح : مثلاً دري كَالَ د خدمت كولو وَصِيّت يې كړئ وُ او مُوصْي لَهُ په دُوَه كَال كي وَفَات شو نو غُلاَم به د وَصِيّت كونكي سړي وَارِثَانُ ته ببرته راشي .
وجه : (۱) د مُوصْي لَهُ دخدمت كولو لپاره وَصِيّت كړئ وُ او هغه په دُنيَا كي نَه شو پاته نو دچا خدمت به كوي؟ نوځكه غُلاَم به دمُوصِي وَارِثَانُ ته ببرته راشي (۲) د عَين غُلاَم وَصِيّت نَه دئ شوئ بلكه دهغه د خِدمَت وصيّت يې كړئ دئ.او كه چيري د مُوصْي لَهُ وَارِثَان خدمت ځيني واخلي نو ددې مطلب دا شو چې د غُلاَم دخِدمَت وِرَاثَت راغلئ. چې دغُلاَم وِرَاثَت نَه شي راتلائي نو دخِدمَت وِرَاثَت به څه رنګه راځي؟ نوځكه غُلاَم به د وَصِيّت كونكي يعني مُوصِي و وَارِثَانُ ته ببرته ملاؤ شي .
اصول:دامسئله پردې أُصُول متفرّع ده چې دعَين وِرَاثَت نَه وي دنَفعِ وِرَاثَت به هم نَه وي
[۳۱۹۳](۵۶) كه مُوصْي لَهُ د مُوصِي په ژُوَندكي وَفَات شونو وَصِيّت به بَاطِل شي .
[۳۱۹۴](۵۷) وَ اِذَا اَوصْي لِوَلَدِ فُلاَنٍ فَالوَصِيّةُ بَينَهُم لِلذّكَرِ وَ الأُنثْي سَوَاءٌ .

وجه : (۱) مخته قاعده تېره شوې ده.چې دمُوصِي د مَرګه وروسته چې مُوصْي لَهُ وَصِيّت قبول كړي بيا وَصِيّت صحيح كيږي.دلته دمُوصِي څخه مخكي مُوصْي لَهُ وَفَات شو نو وَصِيّت به څوك قبلوي؟ نوځكه وَصِيّت به بَاطِل شي (۲) د كُوم چا لپاره چې وَصِيّت كړئ وُ هغه نَه شو پاته نو وَصِيّت به دچا لپاره وي؟ (۳) حديث تېرشوئ دئ. عَبدِاللهِ بِنِ اَبِي قَتَادَةَ عَن اَبِيهِ اَنّ النّبِيّ حِينَ قَدِمَ المَدِينَةَ سَألَ عَنِ البَرَاءِ بِنِ مَعرُورٍ فَقَالُوا تُوُفِّيَ وَ اَوصْي بِثُلُثِهِ لَكَ قَالَ قَد رَدَدّتُ ثُلُثَهُ عَلْي وَلَدِهِ (الف) (سنن للبيهقي.باب الوصيّة للرّجُلِ وقبوله و ردّه ج۶ص۴۵۲نمبر۱۲۶۱۳) ددې حديث څخه معلوم شوچې د مرګه وروسته د وَصِيّت دقبلولو يا رَدّولو حق وي.او دلته خو قبلونكئ په خپله اَوّل مړ شونو څوك به قبلوي؟ لِهْذَا دا وَصِيّت به باطل شي .
[۳۱۹۴](۵۷) كه دفُلاَنِي د اَولاَد لپاره وَصِيّت وكړئ نو وَصِيّت به د دُوئي د مُذَكّر او مؤنّث تر مينځ برابر وي .
تشريح : د فُلاَنِي د اَولاَد لپاره وَصِيّت وكړئ نو په اَولاَد كي مُذَكّر هم وي او مُؤنّث هم وي.نو ځكه دواړو ته به د وَصِيّت مَال برابر برابر ملاؤيږي .
وجه : (۱) مُذَكّر او مؤنّث دواړه اَولاَد دي په دي كي د دواړو درجه سره برابره ده (۲) په اَثَر كي دئ. عَنِ الحَسَنِ فِي الرّجُلِ يَقُولُ لِبَنِي فُلاَنٍ كَذَا وَ كَذَا قَالَ هُوَ لِغَنِيّهِم وَ فَقِيرِهِم وَ ذَكَرِهِم وَ اُنثَاهُم (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۸ في رجلٍ قال لبني فلانٍ يعطي الاغنياء ج۶ ص۲۱۲ نمبر۳۰۷۴۵) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي و مُذَكّر او مُؤنّث دواړو ته به برابر برابر ملاؤيږي .

حاشيه : (الف) چې حضور (ﷺ) مدينه طيّبَه ته تشريف راوړئ نو د براء بن معرور په اړه پُوښتَنَه وكړه. خلكو وويل هغه وَفَات شو او ستا لپاره دَرَيَمَه وَصِيّت كړئ دئ.حضور (ﷺ) وفرمايل دغه دريمه حِصّه دده بَچَانُ ته

بېرته وَاپَس وركوم (ب) حضرت حسن فرمايي يو چا وويل د فُلاَنِي د اَولاَد لپاره دُومره وَصِيّت كوم نو دهغه د مَالدَار لپاره دهغه د فَقِير لپاره دهغه دمُذَكّر لپاره دهغه د مُؤنّث لپاره به وي .

[٣١٩٥](٥٨) وَ مَن اَوصْي لِوَرَثَةِ فُلاَنٍ فَالوَصِيّةُ بَينَهُم لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ [٣١٩٦](٥٩) وَ مَن اَوصْي لِزَيدٍ وَ عمرٍو بِثُلُثِ مَالِهِ فَإِذَا عَمرٌو مَيّتٌ فَالثّلُثُ كُلّهُ لِزَيدٍ .

[٣١٩٥](٥٨) كه دفُلاَنِي د وَارِثَانُ لپاره وَصِيّت وكړئ نو وَصِيّت به د دُوئي تر مينځ د نَر لپاره د دُوُ ښځو برابر حِصّه وي .

تشريح : په دي کې د اَولاَد لفظ نَه دئ استعمال کړئ بلکه د وَارِث لفظ يې استعمال کړئ دئ.او وِرَاثَت لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ دئ.يعني ښځه ته به يَو چَند او نَر ته به دُوَه چَند ملاؤيږي.نو ځکه نر ته به د وَصِيّت مَال دُوَه چَند ملاؤيږي.او ښځه ته به دهغه يَو چَند يعني نِيمَئ ملاؤيږي .

وجه : په اَثَر کي و دې ته اِشَارَه شوې ده. عَنِ الحَسَنِ فِي رَجُلٍ اَوصْي لِبَنِي عَمّهِ رِجَالٌ وَ نِسَاءٌ قَالُوا لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثْي اِلاّ اَن يَكُونَ قَالَ لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ(الف) (آيت ١١ سورة النّساء ۴، مصنّف ابن ابي شيبة ٧ في رَجُلٍ اوصْي لبني عَمّهِ وهم رِجَالٌ وَنِسَاءٌ ج۶ص۲۱۲نمبر۳۰۷۴۳) په دې اَثَرکي لِلذّكَرِمِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ ويلي دي.نو نَر ته به د ښځي دَبَل ملاؤيږي.او دلته خو د وَرَثَةٌ لفظ ويلئ دئ نو ځکه د مِيرَاث قاعده به جاري کيږي.او په ميراث کي و نَر ته دښځي دَبَل ملاؤيږي.نو دلته به هم نَر ته دښځي دَبَل ورکول کيږي .

[٣١٩٦](٥٩) يو چَا د زَيد او عُمَر لپاره د مَال د دَرَيَمِي وَصِيّت وکړئ.او عُمَر دغه وخت وَفَات شوئ وُ نو ټوله دَرَيَمَه به د زَيد لپاره وي .

تشريح : مثلاً خَالِد د زَيد او عُمَر دواړو لپاره وَصِيّت وکړئ.چي کُوم وخت يې وَصِيّت وکړئ هغه وخت خَالِد ته معلوم نَه وُ چي عُمَر وَفَات کړئ دئ.لېکن حقيقت

حاشيه : (الف)حضرت حسن وفرمايل چي څوک دخپل اَکَا د اَولاَد مُذَكّر او مُؤنّث لپاره وَصِيّت وکړي نو د مُذَكّر لپاره به دمُؤنّث برابر وي مګر لکه څه رنګه چي په آيت کي دئ يعني دمُذَكّر لپاره د مُؤنّث دِبَلَه حِصّه .

[٣١٩٧](٦٠) وَ اِن قَالَ ثُلُثُ مَالِي بَينَ زَيدٍ وَ عَمرٍو وَ زَيدٌ مَيّتٌ كَانَ لِعَمرٍو نِصفُ الثّلُثِ .

کي عُمَر وَفَات شوئ وُ نو دغه ټوله دَرَيَمَه به د زَيد شي .

وجه : (١) د مُوصِي تَمَنّا داده چي دغه مَال دواړو ته يا د دواړو څخه ديوه لاَس ته وَرشي نوځکه زَيد ته به ټوله ملاؤ شي (٢) د وَصِيّت وروسته خو عُمَر نَه شي قبلولائي ځکه چي هغه خو مَړ دئ نو دهغه په بَدلَه کي زَيد قبول کړئ لِهْذَا دئ به د پُورَه دَرَيَمِي مَالِک شي .

فائده : امام ابويوسف ؒ فرمايي چي وَصِيّت کونکي ته معلوم وُ چي عُمَر وفات شوئ دئ بيايي هم د زَيد او عُمَر لپاره وَصِيّت وکړئ نو بياخو به پوره دريمه زَيد ته ملاؤيږي .

وجه : ځکه چي په مرګ يې خبر وي بيا هم د زَيد او عُمَر لپاره وَصِيّت کول ددې خبري دليل دئ چي په حقيقت کي صِرف د زَيد لپاره وَصِيّت کوي.لېکن که زَيد د عُمَر په مرګ نَه وُ خبر او د زَيد او عُمَر دواړو لپاره وَصِيّت وکړئ نو مُوصِي غُوَاړي چي دواړو ته ورکړي لِهٰذَا زَيد ته به د دَرَيَمِي نِيمَئ نِيمَئ ملاؤيږي او پاته نِيمَئ به د مُوصِي و وَارِثَانُ ته بېرته وَاپَس کيږي .

[٣١٩٧](٦٠) که وويل چي زُومَا دريمه مَال د زَيد او عُمَر تر مينځ دئ او زَيد مړ شوئ دئ نو د عُمَر لپاره به د دَرَيَمِي نِيمَئ وي .

وجه : د ,,بَينٌ,, لفظ دلالت کوي چي د دواړو تر مينځ نِيمَئ نِيمَئ وي. چي مَړ شو نو دده حِصّه به دمُوصِي و وَارِثَانُ ته وَاپَس شي.او پاته يعني د دَرَيَمِي حِصّې نِيمَئ به و عُمَر ته ملاؤ شي .

[٣١٩٨](٦١) وَ مَن اَوصْي بِثُلُثِ مَالِهِ وَ لاَ مَالَ لَهُ ثُمّ اِكتَسَبَ مَالاً اِستَحَقّ المُوصْي لَهُ ثُلُثَ مَا يَملِكُهُ عِندَ المَوتِ .

[٣١٩٨](٦١) يو چا دخپل مَال د دَرَيَمِي وَصِيّت وکړئ او دده سره مَال نشته.بيايې خَه مَال وَګَاتِئ نو مُوصْي لَهُ به دهغه مَال د دَرَيَمِي حقدَارَه وي کُوم چې د مرګ پر وخت مُوصِي مَالِک وي .

تشريح : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي د وَصِيّت پر وخت مَال وي يا نَه وي. دمرګ پر وخت چي څومره مَال وي په هغه کي وَصِيّت جاري کيږي.اُوس په دې مَذکُورَه مسئله کي د وَصِيّت پر وخت مَال نشته لېکن وروسته مثلاً دري زره دِرهَم وَګَټَل نو ددې دَرَيَمَه يعني زَر به و مُوصْي لَهُ ته ملاؤيږي .

وجه : (١) د مُوصِي د مرګ وروسته وَصِيّت نَافِذِيږي.نوځکه د مرګ پر وخت چي څومره مَال موجود وي دهغه مَال په دريمه کي به وَصِيّت نافذشي (٢) په دې آيت کي و دې ته اِشَارَه شوې ده. فَلَهُنّ الثُّمُنُ مِمّا تَرَكتُم مِن بَعدِ وَصِيّةٍ تُوصُونَ بِهَا اَو دَينٍ (الف) (آيت١٢ سورة النساء ٤) په دې آيت کي د تَرَكتُم څخه اِشَارَه شوې ده چي د مرګ پر وخت چي کُوم مَال پرېږدي په هغه کي ميراث او وَصِيّت جاري کيږي.د مرګ څخه مخکي څومره مَال موجود دئ هغه اِعتِبَار نَه لري .



حاشيه : (الف) د بِي بِي ګانُ لپاره اَتَمَه حِصّه ده چي خَه يې پرېښي دي په هغه کي د وَصِيّت او قرض د اداء کولو وروسته .

﴿... کِتَابُ الفَرَائِضِ ...﴾

[۳۱۹۹](۱) اَلمُجمَعُ عَلْي تَورِيثِهِم مِنَ الذّکُورِ عَشرَةٌ (۱) اَلاِبنُ وَ

﴿... کِتَابُ الفَرَائِضِ ...﴾

ضروري پام لرنه : فَرَائِضٌ د فَرِيضَةٌ جمع ده.دهغه معنْي ده مُتَعَيّن کول.په دي کي الله تعالْي د وَارِثَانُ حِصّي متعيّن کړي دي نو حُکه دې ته فَرَائِض ويل کيږي. ثبوت يې په دې آيت کې دئ.(۱) يُوصِيکُمُ اللهُ فِي اَولَادِکُم لِلذّکَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ فَاِن کُنّ نِسَاءً فَوقَ اِثنَتَينِ فَلَهُنّ ثُلُثَا مَا تَرَکَ وَ اِن کَانَت وَاحِدَةً فَلَهَا اَلنِّصفُ الخ (الف) (آيت ۱۱ سورة النساء ۴) په دې آيت او ددې څخه وروسته آيت کي د ډېرو وَارِثَانُ حِصّي بيان شوي دي.د حِصّود تفصيل لپاره دسورة النّساء۴ آيت نمبر ۱۲،۱۱ او ۱۷۶ ضرور يَو وار وَلوَلَئ (۲) په حديث کي دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) تَعَلّمُوا الفَرَائِضَ وَ القُرآنَ وَ عَلّمُوا النّاسَ فَاِنّي مَقبُوضٌ (ب) (ترمذي شريف .باب ماجاءفي تعليم الفرائض ص۲۹نمبر۲۰۹۱/ابن ماجه شريف.باب الحَثّ علْي تعليم الفرائض ص۳۹۱ نمبر۲۷۱۹) ددې حديث څخه معلوم شوچي فرائض دي په خپله اِزدَه کړي او خلګو ته دې وَروَښَايي چي وِرَاثَت په صحيح توګه تقسيم شي .

پام لرنه : په فرائضُ کي بعض پر بعضُ مُقَدّم دي دليل يې دا آيت دئ. وَ اُولُوا اَلاَرحَامِ بَعضُهُم اَولْي بِبَعضٍ فِي کِتَابِ اللهِ (ج) (آيت ۷۵ سورة الانفال ۸) په دې آيت کې د اَلاَقرَبُ فَالاَقرَبُ اُصُول بيان کړئ دئ .

[۳۱۹۹](۱) د نَرَانُ څخه دګوم چا پر وَارِث جوړېدو چي اِجمَاع شوې ه هغه لَس دي.(۱) زُوئ (۲) لُمَسَئ که خَه هم کښتئ وي (۳) پُلاَر (۴) نِيګه يعني د پُلاَر پُلاَر که خَه هم تر لُوَړه پوري وي (۵) وُرُور (۶) وُرَارَه (۷) اَکَا (۸) د اَکَا زُوئ (۹) مېړه (۱۰) چي آزاد کړې وي هغه آقَا .

حاشيه : (الف) الله تاسو ته د اَولاد په اړه وَصِيّت کوي چي دمُذَکّرلپاره د مُؤنّث دُوچَندَ حِصّه ده.(راوان صفحه)

(٢) اِبنُ الاِبنِ وَ اِن سَفَلَ وَ (٣) الاَبُ وَ (۴) اَلجَدّ اَ بُوالاَبِ وَ اِن عَلاَ وَ (۵) الاَخُ وَ (۶) اِبنُ الاَخِ وَ (٧) العَمّ وَ (٨) اِبنُ العَمِّ وَ (٩) الزّوجُ وَ (١٠) مَولاةُ النّعمَةِ .

تشريح : د نَرَانُ څخه دغه لَس نَوعِ انسانان دي چي دمَيّت وَارِثَان ګرزي.تفصيل يې مخته رَارَوَان دئ .
لغت : اِبنُ الاِبنِ : د زُوئ زُوئ.په پَښتُو کي لُمَسَئ ورته وايي. وَان سَفَلَ : ددې معنْي داده چي لُمَسَئ نَه وي نو ګروَسِي ته ميراث ملاؤيږي. اَلجَدّ : په عربي کي جَدّ د پُلاَر و پُلاَر ته هم ويل کيږي او د مُور و پُلاَر ته هم ويل کيږي(په پښتوکي دواړو ته نِيکَه وايي).مصنّف اَبُ الاَبِ وويل خبره صَفَا کړه چي دلته د پُلاَر پُلاَر مراد دئ د مُور پُلاَر مراد نَه دئ.ځکه چي هغه خو د ذَوِي الأرحَام څخه دئ.هغه ته ميراث نَه ملاؤيږي.چي بَل وَارِث نَه وي نو په اَخِير کي د مُور پُلاَر يا مَامَا ته د ميراث مَال ورکول کيږي. مَولْي النِّعمَةِ : د مَولْي دُوَه قسمونه دي.يَو مُولْي مُوَالاَت.چي څوک د چا پر لاَس اِسلاَم قبول کړي يا ديو چا سره قَسَم وکړي او ټوله عُمَر دهغه سره د يَوځائ وسېدلو وَعدَه وکړي نو دې ته مَولْي مُوَالاَت ويل کيږي دُوئي ته مِيرَاث نَه ملاؤيږي.البته! که هيڅ دَوَل وَارِث نَه وي نو په اَخِير کي ده ته مَال ورکول کيږي. او دُويَم هغه آقَا چي غُلاَم يې آزاد کړئ وي هغه ته مَولْي عِتَاقَه يا مَولْي النِّعمَة ويل کيږي.هغه د غُلاَم وَارِث جوړيږي.دلته دمصّنف په عبارت کي د مَولْي النِّعمَة څخه آزادونکئ آقَا مُرَاد دئ .

حاشيه : (...) (تېره شوې صفحه)که چيري تر دُوُ زياتِ ښځي وي نو دهغوئي لپاره دُوې دَرَيَمِي حِصّي دي دهغه چي څه يې پرېښِنِي دي.او که يَوَه وي نو دهغې لپاره نِيمَئ حِصّه ده (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل فَرَائِض او قُرآن اِزدَه کړئ او خلکو ته وَرو اِزدَه کړئ. ځکه چي زَه وَفَات کېدونکئ يَم (ج) د اَرحَام اِنسَانَان بعض د بَعضُ څخه اَولْي دي په کِتَابُ اللهِ کي .

[٣٢٠٠](٢) وَ مِنَ الأُنَاثِ سَبعٌ (١) اَلبِنتُ وَ (٢) بِنتُ الاِبنِ وَ (٣) الأُمّ وَ (۴) الجَدّةُ وَ (۵) الأُختُ وَ (۶) الزّوجَةُ وَ (٧) مَولاَةُ النِّعمَةِ [٣٢٠١](٣) وَ لاَ يَرِثُ اَربَعَةٌ اَلمَملُوکُ وَ القَاتِلُ مِنَ المَقتُولِ وَ المُرتَدّ وَ اَهلُ المِلّتَينِ .

[٣٢٠٠](٢) او دښځو څخه وَارِثَان اُوَه دي (١) لُور (٢) لُمَسَئ (٣) مُور (۴) اَنَا (۵) خُور (۶) مَينَه (٧) آزادونکې سَيّدَه .

تشريح : دغه اُوَه قِسم ښځي وَارِثَانِ ګرزي چې اِجمَاع پر شوې ده.تفصيل يې مخته راروان دئ .
لغت : بِنتُ الإبنِ : د زُوئ لُور.په پَښتُو کې لُمَسې ورته وايي. مَولاَةُ النِّعمَةِ : هغه ښځه چې خپل غُلاَم يې آزاد کړئ وي نو ددغه آزاد کړي غُلاَم ميراث به و آقَا يعني سَيِّدَه ته ملاؤيږي.و دې ته مَولاَةُ النِّعمَةِ يا مَولاَةُ العَتَاقَةِ ويل کيږي. دليل مخته راروان دئ .
[۳۲۰۱](۳) او څلور اِنسَانَان وَارِثَان نَه جوړيږي (۱) غُلاَم (۲) قَاتِل د مقتول (۳) مُرتَد (۴) چې دِين يې سره مُختَلِف وي .
تشريح : دغه څلور قِسم اِنسَانَان وارثان نَه جوړيږي.يو خو غُلاَم د چا وَارِث نَه جوړيږي.او چې دئ مَړشي دده ټوله مَال د آقَا دئ بَل چا ته هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي .
وجه : (۱) غُلاَم چې دبَل چا وَارِث جوړ شي نو چې کُوم وخت دده لاَس ته مَال راشي هغه به په هغه وخت د آقَا مِلکِيّت وګرزي.نو دئ په خپله وَارِث نَه دئ شوئ بلکه دده آقَا وَارِث شو چې د مَيّت هيڅ نَه دئ (۲) په حديث کې دئ چې دغُلاَم مَال به يا د بَائِع وي يا به دمُشتَرِي وي. عَن سَالِمِ بنِ عَبدِاللهِ عَن اَبِيهِ قَالَ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) يَقُولُ ... وَ مَن اِبتَاعَ عَبدًا وَ لَهُ مَالٌ فَمَا لُهُ لِلَّذِي بَاعَهُ اِلاّ اَن يَشتَرِطَ المُبتَاعُ (الف)

حاشيه : (الف) د حضور (ﷺ) څخه دا اَورېدَل شوي دي ... يوچا غُلاَم خرڅ کړئ او دهغه سره مَال وي نو دهغه مَال د خرڅونکي دي . البته! که مُشتَرِي شرط لګولئ وي نو هغه ته به ملاؤيږي .
(بخاري شريف.باب الرّجُلُ يكون له مَمَرّ اَو شُربٌ فِي حَائِطٍ اَو فِي نَخلٍ ص۳۲۰نمبر۲۳۷۹/مُسلِم شريف. باب من باع نخلاً عليهاتمر ج۲ ص۱۰ نمبر۱۵۴۳/۳۹۰۵) ددې حديث څخه معلوم شوچې دغُلاَم مَال يا به د بَائِع وي يا به دمُشتَرِي وي.نوځکه غُلاَم وَارِث نَه جوړيږي (۳) په اَثَر کې دئ. اَنّ عَلِيّاً كَانَ يَقُولُ فِي المَملُوكَينِ وَ اَهلِ الكِتَابِ لاَ يَحجِبُونَ وَ لاَ يُورِثُونَ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۲۳ في المملوک واهل الكتاب من قال لايحجبون ولا يورثون ج۶ص۲۵۳نمبر۳۱۱۳۷) ددې اَثَر څخه معلوم شوچې غُلاَم دهيڅ چا وَارِث نَه جوړيږي. او کُوم مال چې دده سره دئ هغه ټوله د آقَا دئ.نو ځکه دهغه هم بَل څوک وَارِث نَه جوړيږي.البته که هغه آزاد شي بيا وَفَات شي نودهغه وَارِث جوړېدلائي شي .
قَاتِل دمقتول وَارِث نَه شي جوړېدلائي .
وجه : (۱) ده قتل وکړئ.غُوَارِي چې ژَر دمقتول مَال لاَس ته کړي نو شريعت دئ د وِرَاثَت څخه محروم کړئ.چې څوک د وِرَاثَت لپاره بَل څوک ژَر قتل نَه کړي او جُرم زيات نَه شي (۲) په حديث کې دئ چې قَاتِل وَارِث نَه شي جوړېدلائي.دحديث ټکړه داده. عَن عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) ... وَقَالَ لَيسَ لِلقَاتِلِ شَيئٌ وَ اِن لَم يَكُن لَهُ وَارِثٌ فَوَارِثُهُ اَقرَبُ النّاسِ اِلَيهِ وَ لاَ يَرِثُ القَاتِلُ شَيئًا (ب) (ابوداؤدشريف.باب ديات الاعضاء ص۲۷۸نمبر۴۵۶۴،كتاب الديات/ترمذي شريف.باب ماجاء في ابطال ميراث القاتل ص۳۱نمبر۲۱۰۹) ددې حديث څخه معلوم شوچې قَاتِل وَارِث نَه شي جوړېدلائي .
مُرتَد وَارِث نَه شي جوړېدلائي .

وجه : (۱) هغه خو به قتل کيږي هغه به وَارِث څَه رنګه جوړيږي (۲) د وَارِث نَه جوړېدلو اِشَاَه په دې آيت کې ده. وَ مَن يَرتَدّ مِنكُم عَن دِينِهِ فَيَمُت وَ هُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ حَبِطَت اَعمَالُكُم فِي الدّنيَا وَ الآخِرَةِ (ج) (آيت ۲۱۷ سورة البقرة ۲) په دې آيت

حاشيه : (الف) حضرت علي د مَملُوک او اَهلِ کِتَاب په اړه فرمايل چې هغه نَه څوک مَحجُوب کولائي شي اونَه وَارِث جوړېدلائي شي (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل دقَاتِل لپاره هيڅ شَئ نشته.که د هغه وَارِث نَه وي نو دخلګو څخه چې کُوم قَرِيب وي هغه به دده وَارِث وي.او قَاتِل د هيڅ شِي وَارِث نَه شي جوړېدلائي (ج) څوک چې دخپل دِين څخه مُرتَد شي او د کُفر په حالت کې مَړ شي نو په دُنيَا او آخرَت کې به دده اَعمَال بَاطِل (ضائِع) شي.

[۳۲۰۲](۴) وَ الفُرُوضُ المَحدُودَةُ فِي كِتَابِ اللهِ تَعَالَٰي سِتّةٌ اَلنِّصفُ وَ الرّبعُ وَ الثّمُنُ وَ الثّلُثَانِ وَ الثّلُثُ وَ السّدُسُ .

کي دئ چې د مُرتَد اَعمَال په دُنيَا او آخرت دواړو کې بَربَاد شول.لِهْذَا د دُنيَا بَربَادِي دا هم ده چې د وِرَاثَت څخه به محروم شي (۳) بيا دا چې هغه خو کَافِر شو او کَافِر د مسلمان وَارِث څه رنګه جوړيږي؟ (۴) په اَثَر کې دئ. عَن عَلِيٍّ اَنّهُ اُتِيَ بِمُستَورِدِ العَجَلِيِّ وَقَد اِرتَدّ فَعَرَضَ عَلَيهِ الإسلاَمَ فَاَبَي قَالَ فَقَتَلَهُ وَجَعَلَ مِيرَاثَهُ بَينَ وَرَثَتِهِ المُسلِمِينَ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۸۰ في المرتد عن الاسلام ج۶ ص۲۸۱نمبر ۳۱۳۷۵) داَثَرڅخه معلوم شوچې نَر مُرتَد شي هغه به قتل کيږي.لِهْذَا هغه د چَا وَارِث نَه شي جوړېدلائي.او که بنځه مُرتَدّه شي هغه به ترهغه وخته قَيد کوي تر څو چې تُوبَه وکړي لِهْذَا هغه هم وَارِث نَه شي جوړېدلائي .

او د جَلاَ جَلاَ دِين والا يو دبَل وَارِث نَه شي جوړېدلائي .

وجه : (۱) په حديث کي دئ چې کافِر دمسلمان وَارِث نَه شي جوړېدلائي او مسلمان د کافِر وَارِث نَه شي جوړېدلائي. عَن اُسَامَةَ بِنِ زَيدٍ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ لاَ يَرِثُ المُسلِمُ الكَافِرَ وَ لاَ الكَافِرُ المُسلِمَ (ب) (بخاري شريف.باب لايرث المسلم الكافر ولا الكافر المسلم ص۱۰۰ نمبر۶۷۶۴/مُسلم شريف.باب لايرث المسلم الكافر ولايرث الكافر المسلم ج۲ ص۳۳ نمبر۱۶۱۴) ددې حديث څخه معلوم شوچې مسلمان د کافِر او کافِر دمسلمان وَارِث نَه شي جوړېدلائي (۲) په بَل حديث کي دئ. عَن جَابِرَ عَنِ النّبِيِّ (ﷺ) قَالَ لاَ يَتَوَارَثُ اَهلُ مِلّتَينِ (ج) (ترمذي شريف.باب لايتوارث اهل ملّتين ج۲ ص۲۴ نمبر۲۱۰۸) په دې حديث کي دئ چې د مُختَلِف او بېلا بيلو دِينُ والا يَو د بَل وَارِث نَه شي جوړېدلائي .

[۳۲۰۲](۴) هغه حِصّې چې په کتاب الله کي مُقَرّري دي هغه شُپږ دي (۱) نِيمَئ (۲) څلورمه (۳) اَتَمّه (۴) دُوې دَرَيَمِي (۵) يَوَه دَرَيَمَه (۶) شُپَږَمَه .

حاشيه : (الف) حضرت علي ته مُستَورِد عَجَلِي حاضر کړئ.دئ مُرتَد شوئ وُ نو پر ده يې اِسلاَم وُړَاندِي کړئ هغه اِنکار وکړئ.فرمايي چې هغه يې قتل کړئ او دده وِرَاثَت يې د مسلمانانُ وَارِثَانُ ترمينځ تقسيم کړئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل مسلمان د کَافِر او کَافِر دمسلمان وَارِث نَه شي جوړېدلائي (ج) حضور (ﷺ) وفرمايل د دُوُ مَذهَبُ والا يو د بَل وَارِثَان نَه شي جوړېدلائي .

تشريح : په تېره زمانه کي کَلکُيُولِيټَر نَه وُ نو ځکه خلګو په کَسَر سره حِسَاب نَه کاوئ بلکه په اَصل مسئله کي به ضَرَب وركاوئ او صحيح عَدَد به رَايَستَئ.لېکن په

نَن زَمَان کي د ګلګُيُولِيټَر آسانتيا موجود ده نو ځکه په هغه سره به حِسَاب ليکل کيږي. ګلګُيُولِيټَر خو همېشه د سَل د عَدَد څخه حِسَاب جوړوي نو ځکه همېشه به اَصل مسئله د سَل د عَدَد څخه وي.نَه به زيات وي نَه به ګم وي.دغه رنګه په حِسَاب کي به عَشَارِيَه هم استعماليږي چي په انګريزي ژَبَه پُوَائنټ ورته ويل کيږي.مثلا دُوَه نِيم ليکل وي نو ۵ . ۲ دُوَه پُوَائِنټ پنځه به ليکل کيږي.چي په اُردُو ژبه کي دُوَه عَشَارِيَه پِنځَه ورته ويل کيږي .

پام لرنه : د پُوَائِنټ وروسته چي کُوم عدد راځي هغه د يوه عَدَ لَسَمَه حِصّه وي.اُوس به دحِصّو حِسَاب په دې دَوَل وي .

د سَل نِيمَئ به پِنځوس وي.د سَل څلورمه به پنځويشت وي.د سَل اَتَمّه به ۵ . ۱۲ وي.د سَل دُوې دَرَيَمِي به شُپُږشُپِيتَه پُوَائِنټ شُپُږ شُپِيتَه ۶۶ . ۶۶ وي.د سَل يوه دَرَيَمَه به ۳۳ . ۳۳ وي.او د سل شُپَږمَه حِصّه به ۶۶ . ۱۶ وي.ددې و تفصيل ته په يوه نَظَر کَتَنَه وکئ .

عربي حِصّي دبټې حِسَاب	اردوحِصّي	سَل	تقسيم	برابر	في صَد
نِصف ۵۰	۱/۲	نِيمَئ	۱۰۰	÷ ۲	=
رُبع ۲۵	۱/ ۴	څلورمه	۱۰۰	÷ ۴	=
ثُمُن ۱۲ . ۵	1/8	اَتَمّه	۱۰۰	÷ 8	=
ثلثان ۶۶ .۶۶	۳/۲	دُوې دَرَيَمِي	۱۰۰	÷ ۲×۳	=
ثُلُثٌ ۳۳ .۳۳	۳/۱	يوه دريمه	۱۰۰	÷ ۳	=
سُدُس ۱۶ . ۶۶	۶/۱	شُپَږمَه حصّه	۱۰۰	÷ ۶	=

[۳۲۰۳](۵) وَ النِّصفُ فَرضُ خَمسَةٍ (۱) اَلبِنتُ وَ (۲) بِنتُ الاِبنِ اِذَا لَم تَکُن بِنتُ الصّلبِ وَ (۳) الأُختُ لاَبٍ وَ اُمٍّ وَ (۴) الأُختُ لاَبٍ اِذَا لَم

تَكُن اُختٌ لاَبِنٍ وَ اُمٍّ وَ (۵) اَلزّوجُ اِذَا لَم يَكُن لِلمَيّتِ وَلَدٌ وَ وَلَدُ اِبنٍ وَاِن سَفَلَ .

[۳۲۰۳](۵) نِيمَئ د پنځو اِنسَانَانُ حِصّه ده (۱) لُور (۲) لُمَسَئ چي صُلبِي لُور موجود نَه وي (۳) حقيقي خُور (۴) په پُلاَر شريک خُور چي حقيقي خُور نَه وي (۵) مېړه چي مَيّت اَولاَد نَه وي او نَه د اَولاَد اَولاَد وي که څَه هم نُور کښتَه وي .
تشريح : و دې پنځو اِنسَانَانُ ته نِيمَئ ملاؤيږي.په کُوم حالت کي نِيمَئ ورته ملاؤيږي تفصيل يې دادئ.
(۱) که صِرف يوه لُور وي او زُوئي نَه وي نو لُور ته نِيمَئ ملاؤيږي .
وجه : (۱) په آيت کي دئ. يُوصِيكُمُ اللهُ فِي اَولاَدِكُم لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ فَاِن كُنّ نِسَاءً فَوقَ اِثنَتَينِ فَلَهُنّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ وَ اِن كَانَت وَاحِدَةً فَلَهَا اَلنِّصفُ (الف) (آيت ۱۱ سورة النساء ۴) په دې آيت کي دئ چي که زُوئي نَه وي او يَوَه لُور يې وي نو هغې ته به نِيمَئ ملاؤيږي (۲) په حديث کي دئ. قَالَ اَتَانَا مَعَاذُ بنِ جَبَلٍ بِاليَمَنِ مُعَلِّمًا وَ اَمِيرًا فَسَاَلنَاهُ عَن رَجُلٍ تُوُفِّيَ وَ تَرَكَ اِبنَتَهُ وَ اُختَهُ فَاَعطَي الاِبنَةَ اَلنِّصفَ وَ الأُختَ اَلنِّصفَ (ب) (بخاري شريف.باب ميراث البنات ص۹۹۷نمبر۶۷۳۴/ابوداؤدشريف.باب ماجاء في ميراث الصّلب ص۴۴نمبر ۲۸۹۳) ددې حديث څخه معلوم شوچي يَوَه لُور يې وي نو هغې ته به نِيمَئ ملاؤيږي .
(۲) که صُلبِي لُور موجود نَه وي او يوه لُمَسَي موجود وي نو دصُلبِي لُور په شان يوه لُمَسي ته به هم نِيمَئ ملاؤيږي .

حاشيه : (الف) الله تاسو ته د اَولاد په اړه وَصِيّت کوي چي دمُذَكّرلپاره د مُؤنّث دُوچَندَ حِصّه ده.که چيرې ښځي تر دُوُ زياتِ وي نو دهغوئي لپاره دُوې دَرَيَمِي حِصّي دي دهغه چي څَه يي پرېښَنِي دي.او که يَوَه وي نو دهغې لپاره نِيمَئ حِصّه ده (ب) حضرت معاذ بن جبل مورِ ته د مُعَلِّم او اَمِيرپه حَيث راغلئ.مورِ دده څخه پُوښتَنَه وکړه چي څوک وَفَات شي او خپله لُور او خُور پرېږدي؟ نو لُور ته نِيمَئ او خُور ته نِيمَئ ورکړئ .
وجه : (۱) چي صُلبِي لُور نَه وي نو لُمَسي هم د لُور په درجه کي شمېرل کيږي.او لکه څَه رنګه چي يَوَه لُور ته نِيمَئ ملاؤيږي دغه رنګه و لُمَسي ته به هم نِيمَئ ملاؤيږي (۲) په اَثَر کي دئ چي صُلبِي زُوئي نَه وي نو لُمَسَئ دهغه پر ځايَه دهغونه حِصّي حَقدَارَه دئ دغه رنګه چي صُلبِي لُور نَه وي نو لُمَسي دهغې پر ځايَه هغونه حِصّه دَارَه ده. نو ځکه چي يوه لُمَسي وي هغه ته به هم د يوې لُور په شان نِيمَئ ملاؤيږي . اَثَر دادئ. قَالَ اِبنُ ثَابِتٍ وَلَدُ الأبنَاءِ بِمَنزَلَةِ الوَلَدِ اِذَا لَم يَكُن دُونَهُم وَلَدٌ ذَكَرٌ. ذَكَرُهُم كَذَكَرِهِم. وَ اُنَاثُهُم كَاُنَاثِهِم. يَرِثُونَ كَمَا يَرِثُونَ وَيَحجِبُونَ كَمَا يَحجِبُونَ. وَ لاَيَرِثُ وَلَدُ الاِبنِ مَعَ الاِبنِ (الف) (بخاري شريف.باب ميراث ابن الابن اذا لم يكن اِبنٌ ص۹۹۷ نمبر۶۷۳۵) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي صُلبِي اَولاَد نَه وي نو يوه لُمَسي د يوې لُور پر ځايَه ده نِيمَئ حِصّه به ورته ملاؤيږي (۳) لُمَسي دُومرَه زيات اَهمِيّت لري چي يوه لُور او يَوَه لُمَسي وي نو د دُوې دَرَيَمِي د مُكَمّل کولو لپاره به و لُور ته نِيمَئ او لُمَسي ته به شُپَږمَه حِصّه ملاؤيږي چي د دُوُ لُونُو په شان دُوې دَرَيَمِي حِصّي مكمّل شي.حديث

دادئ. سُئِلَ اَ بُومُوسْي عَن اِبنَةٍ وَ اِبنَةِ اِبنٍ وَ اُختٍ ... اَقضِي فِيهَا بِمَا قَضْي النّبِيّ (ﷺ) لِلاِبنَةِ اَلنِّصفُ وَ لِابنَةِ الاِبنِ اَلسّدُسُ تَكمِلَةَ الثّلُثَينِ وَ مَا بَقِيَ فَلِلاُختِ (ب) (بخاري شريف.باب ميراث ابنة ابن مع ابنة ص٩٩٧نمبر٦٧٣٦/ترمذي شريف. باب ماجاء في ميراث بنت الابن مع بنت الصّلب ج٢ ص٢٩ نمبر٢٠٩٣) په دې حديث کي د لُمَسې دُومرَه اَهمِيّت بيان شوئ دئ چې دُويَمَه لُور نَه وي نو د دُوُ ثُلُث د پوره کولو لپاره و لُمَسې ته شُپَږَمَه حِصّه ورکړې ده.نو ځکه چې لُور نَه وي نو لُمَسې ته به ملاؤيږي .

حاشيه : (الف) حضرت ابن ثابت وفرمايل لُمَسَئ د زُوئي په درجه کي دئ که دده څخه مخکي نَارِينَه اَولاَد نَه وي.نَر لُمَسَئ د نَر زُوئي په شان دئ او لُمَسَي د لُور په شان ده.لکه هغه چې وَارث جوړيږي دا به هم وَارث جوړيږي.او لکه څه رنګه چې هغه مَحجُوب ګرزي دا هم مَحجُوب ګرزي.او لُمَسئ.لُمَسي د زُوئي په موجودګي کي وَارث نَه ګرزي (ب) دحضرت ابوموسْي څخه پُوښتَنَه وکړه چې لُور وي او لُمَسي وي او خُور وي نو څومره به ملاؤيږي؟ وفرمايل زَه په دي کي هغه فيصله کَوَم کُومَه فيصله چې حضور (ﷺ) کړې ده.د لُور ته نِيمَئ.لُمَسي ته شُپَږَمَه ورکه د ثُلُث د پُورَه کولو لپاره.پاته يوه دَرَيَمَه د خُور ده .

(٣) د مُور او پُلاَر شريک خُور يعني لُور يې هم نَه وي او زُوئي يې هم نَه وي او لُمَسې يې هم نَه وي او صِرف يوه حقيقي خُور يې وي نو هغې ته به نِيمَئ ملاؤيږي .

وجه : (١) حديث مخته تېر شوئ دئ. قَالَ اَتَانَا مَعَاذُ بنِ جَبَلٍ بِاليَمَنِ مُعَلِّمًا وَ اَمِيرًا فَسَأَلنَاهُ عَن رَجُلٍ تُوُفِّيَ وَ تَرَکَ اِبنَتَهُ وَ اُختَهُ فَاَعطْي الاِبنَةَ اَلنِّصفَ وَ الاُختَ اَلنِّصفَ (الف) (بخاري شريف.باب ميراث البنات ص٩٩٧نمبر٦٧٣٤) ددې حديث څخه معلوم شوچې د يوې حقيقي خُور لپاره نِيمَئ حِصّه ده (٢) په آيت کې هم ددې ثبوت شته. يَستَفتُونَکَ قُلِ اللهُ يُفتِيکُم فِي الکَلاَلَةِ اِن اِمرُؤٌ هَلَکَ لَيسَ لَهُ وَلَدٌ وَلَهُ اُختٌ فَلَهَا نِصفُ مَا تَرَکَ وَ هُوَ يَرِثُهَا اِن لَم يَکُن لَها وَلَدٌ. فَاِن کَانَتَا اِثنَتَينِ فَلَهُمَا الثّلُثَانِ مِمّا تَرَکَ وَاِن کَانُوا اِخوَةً رِجَالاً وَ نِسَاءً فَلِذّکَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ (ب) (آيت ١٧٦ سورة النّساء ٤) په دې آيت کي دئ چې هيڅ څوک نَه وي صِرف يوه خُور وي نو هغې ته به نِيمَئ ملاؤيږي. چې دُوې خُوَندِ وي نو دُوې دَرَيَمِي.او چې وُرُور او خُور دواړه وي نو وُرُور ته به دُوَه چَند(دُوې حِصّي)خُور ته به يَوچَندَ(يوه حِصّه)ملاؤيږي (٣) دا چې حقيقي خُور مُقَدّم ده دليل يې دا حديث دئ. عَن عَلِيٍّ ... اَلرّجُلُ يَرِثُ اَخَاهُ لاَبِيهِ وَ اُمِّهِ دُونَ اَخِيهِ لاَبِيهِ (ترمذي شريف.باب ماجاء في ميراث الاخوة من الاب والامّ ص٢٩نمبر٢٠٩٤) په دې حديث کي حقيقي خُور مُقَدّم ده تر هغه خُور چې صِرف په پُلاَر شريک وي .

[٣٢٠٢](۴) پُلاَر شريک خُور. که چيري حقيقي خُور نَه وي او صِرف يوه پُلاَر شريک خُور وي نو هغې ته به دحقيقي خُور په شان نِيمَئ حِصّه ملاؤيږي .

وجه : (١) چې حقيقي خُور نَه وي نو پُلاَر شريک خُور د حقيقي خُور په شان ده ځکه چې په آيت کي د ,,اُختٌ,, لفظ و حقيقي خُور او پُلاَر شريک خُور دواړو ته شَامِل دئ.البته! حقيقي خُور اَصل ده لِهٰذَا هغه مُقَدّم (يعني حقداره) ده.که چيري

حاشيه : (الف) حضرت معاذ بن جبل مور ته د مُعَلِّم او اَمِيرپه حَيث راغلئ.مور ددې څخه پُوښتَنَه وکړه چې څوک وَفَات شي او خپله لُور او خُور پرېږدي؟ نو لُور ته نِيمَئ او خُور ته نِيمَئ ورکړئ (ب) ستاڅخه خلک پُوښتَنَه

كوي الله تعالٰي فَتوْي وركوي د كَلاَلَه په اړه.كه څوک هَلاَک شي او دده هيڅ اَولاَد نَه وي او دده خُور وي نو دهغي لپاره د تَرَکَه نِيمَئ ده.هغه به وَارِث وي که ددي اَولاَد نَه وي.او که دُوَه وي نو د دُوئي لپاره به د تَرَکَه دُوَه نِيمَئ وي.او که وُرُونو او خُوَندِي وي نو د نَر لپاره به دښځي دُوَه چَندَ وي .

حقيقي خُور نَه وي نو بيا صِرف پُلاَر شريک خُور حَقدَارَه ده (۲) په اَثَر کي ددي ثبوت شته. کَانَ عَبدُاللهِ يَقُولُ فِي اِبنَةٍ، وَاِبنَةِ اِبنٍ وَ بَنِي اِبنٍ، وَبَنِي أُختٍ لاَبٍ وَ اُمٍّ، وَ أُختٍ وَ اِخوَةٍ لاَبٍ، اِبنُ مَسعُودٍ کَانَ يُعطِي هٰذِهِ النِّصفَ ثُمّ يَنظُرُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۹ في ابنة وابنة ابن،وبني ابنٍ،وبني أختٍ لابٍ واُمٍّ،واُختٍ وَ اَخَوَةٍ لابٍ ج۶ ص۳۱۰۷۶) په دي اَثَر کي حضرت عبدالله بن مسعود و ,,اُختٍ وَ اَخَوَةٍ لابٍ,, ته نِيمَئ حِصّه ورکړي ده. قَالَ زَيدُ بنِ ثَابِتٍ وَ مِيرَاثُ الإِخوَةِ مِنَ الاَبِ اِذَا لَم يَکُن مَعَهُم اَحَدٌ مِن بَنِي الأُمِّ وَ الاَبِ کَمِيرَاثِ الإِخوَةِ لِلاَبِ وَ الأُمِّ سَوَاءٌ ذَکَرُهُم کَذَکَرِهِم وَ اُنثَاهُم کَاُنثَاهُم (ب) (سنن للبيهقي.باب ميراث الاخوة والاخوات لاَبٍ وَاُمٍّ او لاَبٍ ج۶ ص۳۸۱ نمبر۱۲۳۲۶)

[۳۲۰۳](۵) چي د مَيّت اَولاَد نَه وي نو مېړه ته نِيمَئ ملاؤيږي .

وجه : (۱) په آيت کي ددي ثبوت شته. وَلَکُم نِصفُ مَاتَرَکَ اَزوَاجُکُم اِن لَم يَکُن لَهُنّ وَلَدٌ فَاِن کَانَ لَهُنّ وَلَدٌ فَلَکُمُ الرّ بُعُ مِمّا تَرَکنَ مِن بَعدِ وَصِيّةٍ يُوصِينَ بِهَا اَو دَينٍ (ج) (آيت۱۲ سورة النساء ۴) په دي آيت کي دئ چي اَولاَد نَه وي نو مېړه ته نِيمَئ ملاؤيږي.او که اَولاَد وي نو څلورمه حِصّه ملاؤيږي (۲) په حديث کي دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ ... وَ جَعَلَ لِلمَرأَةِ اَلثّمُنُ وَ الرّبعُ وَ لِلزّوجِ اَلشّطرُ وَ الرّبعُ (د) (بخاري شريف.باب ميراث الزّوج مع الولد وغيره ص۹۹۸نمبر۶۷۳۹) په دي حديث کي دئ چي مېړه ته به نِيمَئ ملاؤيږي يعني چي اَولاد يې نَه وي هغه وخت نيمئ ملاؤيږي.او که اَولاَد وي نو څلورمه به ورته ملاؤيږي .

لغت : بِنتُ الإِبنِ : د زُوئي لُور يعني لُمسې. بِنتُ الصّلبِ : صُلبِي لُور. خپله لُور.

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله فرمايي لُور وي او لُمَسې وي او لُمَسَئ وي او دحقيقي خُور اَولاَد وي او پُلاَر شريکَ خُور او وُرُور وي نو اِبن مسعود فرمايي چي و وُرُور.خُور ته اَوّل ورکه بيا وګوره چي کُوم خلګ اَخَستُونکي دي ؟ (ب) حضرت زيد بن ثابت وفرمايل که حقيقي وُرُور نَه وي نو پُلاَر شريک وُرُور دهغه په شان دئ.ددي مُذَکّر دهغه د مُذَکّر په شان او ددي مُؤنّث د هغه دمُؤنّث په شان دئ (ج) چي خَه بِي بِي ګانُ پرېښي وي دهغه نِيمَئ ستاسو لپاره دئ که د بِي بِي اَولاَد نَه وُ.او که اَولاَد وي نو ستاسو لپاره څلورمه حِصّه ده د وَصِيّت او قرض د اداء کولو وروسته (د) حضرت ابن عبّاس وفرمايل ... دښځي لپاره اَتَمّه او څلورمه مُقَرّره کړه او دمېړه لپاره نِيمَئ او څلورمه مُقَرّره کړه .

[۳۲۰۴](۶) وَ الرّبعُ لِلزّوجِ مَعَ الوَلَدِ وَ وَلَدِ الإِبنِ وَ اِن سَفَلَ وَ لِلزّوجَاتِ اِذَا لَم يَکُن لِلمَيّتِ وَلَدٌ وَ لاَ وَلَدُ اِبنٍ .

اَلاُختُ مِنَ الاَبِ وَ الأُمِّ : چي پُلاَر يې هم يَو وي او مُور يې هم يوه وي چي حقيقي خُور ورته ويل کيږي. وَلَدُ اِبنٍ : د زُوئ اَولاَدَه.ددي څخه مراد لُمَسَئ. لُمَسې ده. او د وَاِن سَفَلَ څخه مراد کَړوَسَئ.کَړوَسې.کُوسَئ.کُوسې ده .

[۳۲۰۴](۶) مېړه ته څلورمه ملاؤيږي د اَولاَد سره يا د زُوئ د اَولاَد سره که څه هم کَښتَه وي.او د بِي بِي لپاره چي د مَيّت اَولاَد نَه وي او نَه د زُوئي اَولاَد وي .
تشريح : څلورمه حِصّه و دُوُ اِنسَانَانُ ته ملاؤيږي.يَو مېړه که چيري دبِي بِي صُلبِي اَولاَد وي يا د زُوئ اَولاَد وي مثلاً لُمَسَئ يا لُمَسي.کَړوَسَئ يا کَړوَسي.کُوسَئ يا کُوسي وي نو مېړه ته به د بِي بِي په ميراث کي څلورمه حِصّه ملاؤيږي که ددغه مېړه څخه اَولاَد وي که د بَل مېړه څخه وي .
وجه : (۱) آيت مخته تېرشوئ دئ. فَاِن کَانَ لَهُنّ وَلَدٌ فَلَکُمُ الرّ بُعُ مِمّا تَرَکنَ ... اِن لَم يَکُن لَکُم وَلَدٌ فَاِن کَانَ لَکُم وَلَدٌ فَلَهُنّ الثّمُنُ مِمّا تَرَکتُم (الف) (آيت ۱۲ سورة النساء ۴) په دې آيت کي دواړِ خبري ذِکر شوي دي چي.که د بِي بِي اَولاَد وي نو مېړه ته څلورمه ملاؤيږي.او که دمېړه اَولاَد وي نو بِي بِي ته به هم څلورمه ملاؤيږي.او که دمېړه اَولاَد وي نو بِي بِي ته به اَتَمّه ملاؤيږي (۲) په حديث کي تېرشوي دي. وَ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ ... وَ جَعَلَ لِلمَرأةِ اَلثّمُنُ وَ الرّ بُعُ وَ لِلزّوجِ اَلشّطرُ وَ الرّ بُعُ (ب) (بخاري شريف.باب ميراث الزوج مع الولدوغيره ص۹۹۸نمبر۶۷۳۹) په دې حديث کې فرمايلي دي چي بښځه ته به اَتَمّه ملاؤيږي يعني چي د مېړه اَولاَد موجود وي. او که د مېړه

حاشيه : (الف) که دبِي بِي اَولاَد وي نو ستاسو لپاره د تَرَکي څلورمه حِصّه ده د وَصِيّت او قرض د اداء کولو وروسته.او دبِي بِي گَانُ لپاره د تَرَکي څلورمه حِصّه ده که چيري ستاسو اَولاَد نَه وي.او که چيري ستاسو اَولاَد وي نو د دُوئي لپاره د تَرَکَه اَتَمّه حِصّه ده (ب) حضرت ابن عبّاس دښځي لپاره اَتَمّه او څلورمه مُقَرّره کړه او دمېړه لپاره نِيمَئ او څلورمه مُقَرّره کړه .

[۳۲۰۵](۷) وَ الثّمُنُ لِلزّوجَاتِ مَعَ الوَلَدِ اَو وَلَدُ الاِبنِ [۳۲۰۶] (۸) وَ الثّلُثَانِ لِکُلّ اِثنَينِ فَصَاعِدًا مِمّن فَرضُهُ اَلنّصفُ اِلاّ الزّوجُ .

اَولاَد نَه وي نوښځه ته به څلورمه ملاؤيږي.او مېړه ته به نِيمَئ ملاؤيږي که دښځي اَولاَد نَه وي او مېړه ته به څلورمه ملاؤيږي که دښځي اَولاَد وي يايې د اَولاَد اَولاَدَه وي .
[۳۲۰۵](۷) او د بِي بِي گَانُ لپاره اَتَمّه ده د اَولاَد سره يا د زُوئي د اَولاَد سره .
تشريح : که د مېړه اَولاَد يعني زُوئي يا لُور وي که ددغه بِي بِي څخه وي که دبَلي بِي بِي څخه وي يا د زُوئي اَولاَد يعني لُمَسَئ يا لُمَسي وي نو بِي بِي ته به د مېړه دمِيرَاث څخه اَتَمّه حِصّه ملاؤيږي .
وجه : مخته آيت تېرشوئ دئ. فَاِن کَانَ لَکُم وَلَدٌ فَلَهُنّ الثّمُنُ مِمّا تَرَکتُم (الف) (آيت ۱۲ سورة النساء ۴) او د بخاري شريفِ حديث (نمبر۶۷۳۹) هم تېرشوئ دئ .
[۳۲۰۶](۸) دُوَه ثُلُث د هرو دُوُ لپاره يا ددې څخه زياتُ لپاره دي دگُوم چاچي نِيمَئ حِصّه ده مَاسِوَايَه د مېړه څخه .

تشريح : څلور قِسم ښځي دي چې هغوئي ته نِيمَئ حِصّه ملاؤيږي.دغه ښځي که دُوې يا تر دُوې زياتِ وي نو د دُوئي حِصّه دُوې دَرَيَمِي يعني ثُلُث ګرزي.يوه لُور ده.دُويَمَه لُمَسي چې کله لُور نَه وي.دَرَيَمَه حقيقي خُور.څلورمه په پُلاَر شريکَ خُور .

(١) لُور چې يَوَه وي نو هغې ته نِيمَئ ملاؤيږي.او که تر دُوې زياتِ وي نو دُوې دَرَيَمِي ملاؤيږي.تر دې زيات نَه ملاؤيږي.په دغه کي به ټولي لُونِي سره شريکانِ وي.پاتې يوه دَرَيَمَه به پر عَصَبَه تقسيميږي .

وجه : (١) په دې آيت کي ددې ثبوت شته يُوصِيكُمُ اللهُ فِي اَولاَدِكُم لِلذّكَرِ مِثلُ

حاشيه : (الف) که ستاسو اَولاَد وي نو د بِي بِي گَانُ لپاره د تَرَکَه اَتَمّه حِصّه ده .

حَظِّ الأُنثَيَينِ فَإِن كُنّ نِسَاءً فَوقَ اِثنَتَينِ فَلَهُنّ ثُلُثَا مَا تَرَکَ وَ اِن كَانَت وَاحِدَةً فَلَهَا اَلنِّصفُ الخ (الف) (آيت ١١ سورة النساء ٤) په دې آيت کي دئ چې لُونِي تر دُوُ زياتِ وي نو دُوې دَرَيَمِي يعني ثُلُثَان به ورکول کيږي (٢) په حديث کي دئ. سُئِلَ اَ بُومُوسْي عَن اِبنَةٍ وَ اِبنَةِ اِبنٍ وَ اُختٍ ... اَقضِي فِيهَا بِمَا قَضْي النّبِيّ (ﷺ) لِلاِبنَةِ اَلنِّصفُ وَ لِابنَةِ الاِبنِ اَلسّدُسُ تَكمِلَةَ الثُّلُثَينِ (ب) (بخاري شريف.باب ميراث ابنة ابن مع ابنة ص٩٩٧ نمبر٦٧٣٦) په دې حديث کي دئ چې لُمَسي ته به شُپَږَمَه حِصّه ورکول کيږي.ددې لپاره چې د لُور دُوې دَرَيَمِي په پُورَه کړي.ددې څخه هم معلوم شوچې دُوې لُونِي وي نو هغوئي ته به دُوې دَرَيَمِي ورکول کيږي (٣) په اَثَر کي دئ. وَ قَالَ زَيدُ بنِ ثَابِتٍ اِذَا تَرَکَ رَجُلٌ اَو اِمرَأ ةٌ بِنتًا فَلَهَا اَلنِّصفُ وَ اِن كَانَتَا اِثنَتَينِ اَو اَكثَرَ فَلَهُنّ ثُلُثَانِ (ج) (بخاري شريف.باب ميراث الولدمن ابيه و امّه ص٩٩٧نمبر٦٧٣٢) په دې اَثَر کي دئ چې دُوې اِنجُونِي وي نو دهغوئي لپاره دُوې دَرَيَمِي حِصّه ده .

(٢) که لُور نَه وي نو بيا لُمَسي دهغې په درجه کي ده لِهْذَا که دُوې يا تر دُوې زياتِ لُمَسِيَانِ وي نو هغوئي ته به دُوې دَرَيَمِي حِصّه يعني ثُلُثَان ورکول کيږي .

وجه : ددې دليل تپرشوئ آيت دئ. فَإِن كُنّ نِسَاءً فَوقَ اِثنَتَينِ فَلَهُنّ ثُلُثَا مَا تَرَکَ وَ اِن كَانَت وَاحِدَةً فَلَهَا اَلنِّصفُ (الف) (آيت ١١ سورة النساء ٤) په دې آيت کي دئ چې دُوې يا تر دُوې زياتِ وي نو دهغوئي لپاره دُوَه ثُلُث دي .

(٣) حقيقي خُوَندِ دُوې يا تر دُوې زياتِ وي نو دهغوئي لپاره دُوَه ثُلُث دي.په دې شرط چې لُور.زُوئي.لُمَسي.لُمَسَئ موجود نَه وي .

حاشيه : (الف) الله تاسو ته د اَولاد په اړه وَصِيّت کوي چې دمُذَکّرلپاره د مُؤنّث دُوچَندَ حِصّه ده.که چيري ښځي تر دُوُ زياتِ وي نو دهغوئي لپاره دُوې دَرَيَمِي حِصّي دي دهغه چې خُه يې پرېښَيي دي.او که يَوَه وي نو دهغې لپاره نِيمَئ حِصّه ده (ب) دحضرت ابوموسْي څخه پُوښتَنَه وکړه چې لُور وي او لُمَسي وي او خُور وي نو څومره به ملاؤيږي؟ وفرمايل زَه په دي کي هغه فيصله کَوَم کُومَه فيصله چې حضور (ﷺ) کړې ده.د لُور ته نِيمَئ.لُمَسي ته شُپَږَمَه ورکه د ثُلُث د پُورَه کولو لپاره (ج) حضرت زيد وفرمايل که سړئ يا ښځه خپله يَوَه لُور پرېږدي نو دهغې لپاره نِيمَئ دئ.او که دُوې يا زياتِ پرېږدي نو دهغوئي لپاره دُوې دَرَيَمِي حِصّي دي (د) که اِنجُونِي تر دُوُ زياتِ وي نو دهغوئي لپاره دُوې دَرَيَمِي دي.او که يوه وي نو دهغې لپاره نِيمَئ ده .

[۳۲۰۷](۹) وَ الثُّلُثُ لِلاُمِّ اِذَا لَم يَكُن لِلمَيِّتِ وَلَدٌ وَ لاَ وَلَدُ اِبنٍ وَ لاَ اِثنَانِ مِنَ الاِخوَةِ وَ الاَخَوَاتِ فَصَاعِدًا .

وجه : په آيت کي دئ يَستَفتُونَکَ قُلِ اللهُ يُفتِيکُم فِي الکَلاَلَةِ اِن اِمرُؤٌ هَلَکَ لَيسَ لَهُ وَلَدٌ وَلَهُ اُختٌ فَلَهَا نِصفُ مَا تَرَکَ وَ هُوَ يَرِثُهَا اِن لَم يَکُن لَها وَلَدٌ. فَاِن کَانَتَا اِثنَتَينِ فَلَهُمَا الثُّلُثَانِ مِمّا تَرَکَ (الف) (آيت ۱۷۶ سورة النّساء ۴) په دې آيت کي دئ چې خُوَندِي دُوې وي يا تر دُوې زياتِ وي نو دهغوئي لپاره دُوې دَرَيَمِي حِصّه ده .

(۴) که حقيقي خُوَندِ نَه وي نو صِرف د پُلاَر شريک خُوَندُ(خُوِيندُ)هغه درجه ده کُومه درجه چې د حقيقي خُوَندُ ده.لِهْذَا پُلاَر شريک خُوَندِ که دُوې وي نو هغوئي ته به دُوې دَرَيَمِي ملاؤيږي .

وجه : دليل يې مخته تېرشوئ آيت دئ .

پام لرنه : مېړه ته هم نِيمَئ ملاؤيږي لېکن په يوه وخت کي دُوَه مېړه ګان(زَوجَين) نَه شي موجودېدلائي نو ځکه هغوئي ته د دُوُ دَرَيَمِي حِصّو (يعني دثُلُثَين)ورکولو سوال نَه شي پيدا کېدلائي .

[۳۲۰۷](۹) د مُور لپاره دَرَيَمَه حِصّه ده که دمَيِّت نَه زُوئي وي اونَه لُمَسئ وي او نَه دُوَه وُرُنَه او نَه دُوې خُوَندِ يا ددې څخه زياتِ وي .

تشريح : و څلور قِسم اِنسَانَانُ ته دَرَيَمَه ملاؤيږي (۱) دمَيِّت مُور وي او زُوئي يا لُمَسَئ يا دُوَه وُرُنَه يا دُوې خُوَندِ نَه وي نو مُور ته يوه دَرَيَمَه ملاؤيږي.او که دمَيِّت مُور وي او زُوئي وي يا لُمَسَئ وي يا دُوَه وُرُونَه وي يايې دُوې خُوَندِ وي نو مُور ته شُپَږَمَه حِصّه ملاؤيږي .

وجه : (۱) د دواړو خبرو ثبوت په دې آيت کي دئ . وَ لاَ بَوَيهِ لِکُلِّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا

حاشيه : (الف) ستاڅخه خلک پُوښتَنَه کوي ورته وفرمايه چې الله تعالٰي فَتوْي ورکوي د کَلاَلَه په اړه.که څوک هَلاَک شي او دده هيڅ اَولاَد نَه وي او دده خُور وي نو دهغې لپاره د تَرَکَه نِيمَئ ده.او وُرُور به دخُور وَارِث وي که د خُور اَولاَد نَه وي.او که خُوَندِ تر دُوُ زياتِ وي نو د دُوئي لپاره به د تَرَکَه دُوَه نِيمَئ وي .

السّدُسُ مِمّا تَرَکَ اِن کَانَ لَهُ وَلَدٌ فَاِن لَم يَکُن لَهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ اَبَوَاهُ فَلاُمِّهِ الثُّلُثُ فَاِن کَانَ لَهُ اِخوَةٌ فَلاُمِّهِ السّدُسُ مِن بَعدِ وَصِيّةٍ يُوصِي بِهَا اَو دَينٍ (الف) (آيت ۱۱ سورة النساء ۴) په دې آيت کي دئ چې زُوئي يا لُمَسَئ يا دُوَه وُرُونَه يا دُوې خُوَندِ نَه وي نو ددې يعني مُور لپاره دَيَمَه حِصّه ده.او که چيري دغه اِنسَانَان وي نو بيا دمُور لپاره شُپَږَمَه حِصّه ده.په دې آيت کي د وَلَدٌ څخه مُرَاد زُوئي دئ که زُوئي نَه وي نو بيا لُمَسَئ دئ.غه رنګه اِخوَةٌ د جمع صيغه ده معنْي يې ده دُوَه وُرُونَه او دُوې خُوَندِ هم په دي کي شَامِلِ دي (۲) په اَثَر کي ددې ثبوت شته. اَنّ مَعَانِيَ هٰذِهِ الفَرَائِضَ وَ اُصُولِهَا عَن زَيدِبنِ ثَابِتٍ وَ اَمّا التّفسِيرُ فَتَفسِيرُ اَبِي الزّنَادِ عَلْي مَعَانِي زَيدٍ قَالَ وَمِيرَاثُ الاُمِّ مِن وَلَدِهَا اِذَا تُوُفِّيَ اِبنَهَا وَ اِبنَتَهَا فَتَرَکَ وَلَدًا اَو وَلَدَ اِبنٍ ذَکَرًا اَو اُنثْي اَو تَرَکَ الاِثنَينِ مِنَ الاِخوَةِ فَصَاعِدًا

ذُكُورًا اَو اُنَاثًا مِن اَبٍ وَ اُمٍّ اَو مِن اَبٍ اَو مِن اُمٍّ اَلسّدُسُ. فَاِن لَم يَترُكِ المُتَوَفّي وَلَدًا وَ لاَ وَلَدَ اِبنٍ وَ لاَ اِثنَينِ مِنَ الاِخوَةِ فَصَاعِدًا فَاِنّ لِلاُمّ اَلثّلُثُ كَامِلاً اِلاّ فِي فَرِيضَتَينِ فَقَط وَهُمَا اَن يَتَوَفّي رَجُلٌ وَيَترُكَ اِمرَأَ تَهُ وَ اَبَوَيهِ فَيَكُونُ لِامرَأتِهِ اَلرّ بُعُ وَلاُمّهِ اَلثّلُثُ مِمّا بَقِيَ وَهُوَ الرّ بُعُ مِن رَأسِ المَالِ. وَاِن تَتَوَفّي اِمرَأ ةٌ وَتَترُكُ زَوجَهَا وَ اَبَوَيهَا فَيَكُونُ لِزَوجِهَا اَلنّصفُ وَ لاُمّهَا اَلثّلُثُ مِمّا بَقِيَ وَهُوَ السّدُسُ مِن رَأسِ المَالِ (ب) (سنن للبيهقي.باب فرض الأمّ ج۶ ص۳۷۲ نمبر۱۲۲۹۴) په

حاشيه : (الف) د مُور او پُلار څخه د هر يوه لپاره د تَرَکَه شُپږَمَه حِصّه ده که د مَيّت اَولاَد موجود وي.او که اَولاَد نَه وي نو وَالِدَين به وَارِثَان وي نو د مُور لپاره به دَرَيَمَه وي.او که دمَيّت وُرُونَه وي نو د مُور لپاره شُپږَمَه حِصّه ده د وَصِيّت او قرض د اداء کولو وروسته (ب) ددي فَرَائِضُ معنْي او اُصُول د زَيد بن ثابت څخه نَقل شوي دي.او تفسير يي د ابوالزّنَاد دئ.حضرت زيد وفرمايل.د مُور ميراث د اَولاَد څخه چي کله ددي زُوئي يا لُور وفات شي او اَولاَد يي پرېږَنئ وي يايي د زُوئي اَولاَد پرېږنئ وي که نَارِينَه اولاد وي که زَنَانَه اولاد وي يايي دُوَه وُرُونَه پرېږَنِي وي يايي حقيقي خُور پرېږَنِي وي يايي پُلاَر شريکَ خُور يايي مُور شريکَ خُور پرېږَنِي وي نو مُور ته به شُپږَمَه ملاؤيږي.او که چيري مُتَوَفّي نَه خپل اَولاَد پرېږَنئ وي نَه يي د زُوئي اَولاَد پرېږَنئ وي نَه دُوَه وُرُونَه خُوَندِ پرېږَنِي وي نو مُور ته به د تولَه مَال دريمه حِصه ملاؤيږي مګر صِرف پر دُوُ موقَع باندي.يَوَه موقع دا چي سږئ وَفَات شي او مَينَه اووَالِدَين پريږدي نو مَينَه ته به څلورمه او مُور ته به د مَابَقِيَ دريمه ملاؤيږي او هغه د تولَه مَال څلورمه حِصّه ده.او دُويَم صورت دادئ چي بنځه وَفَات شي او مږه اووَالِدَين پريږدي نو مږه ته به نِيمَئ او مُور ته به د مَابَقِيَ دريمه ملاؤيږي او دا د تولَه مَال شُپږَمَه حِصّه ده .

[۳۲۰۸](۱۰) وَ يُفرَضُ لَهَا فِي مَسئَلَتَينِ ثُلُثُ مَابَقِيَ وَ هُمَا زَوجٌ وَ اَبَوَانِ اَو اِمرَأةٌ وَ اَبَوَانِ فَلَهَا ثُلُثُ مَابَقِيَ بَعدِ فَرضِ الزّوجِ اَوِ الزّوجَةِ .

دې اَثَر کي دئ چي د مَيّت زُوئي يا لُمَسَئ يا دُوَه وُرُونَه يا دُوې خُوَندِ وي نو د مَيّت و مُور ته به شُپږَمَه حِصّه ملاؤيږي.او که ددې مَذکُورَه څخه يَو هم نَه وي نو بيا دَرَيَمَه حِصّه ورته ملاؤيږي.که چيري د مَيّت مَينَه يا مږه نَه وي نو د تولَه مَال دَرَيَمَه به ورته ملاؤيږي.او که د مُور سره سره د مَيّت مَينَه هم پاته وي يا مَيّت بنځه وي او ددې مږه پاته وي نو په اَوّل صورت کي مَينَه په دُويَم صورت کي مږه دي خپله حِصّه واخلي دهغه وروسته چي څه پاته شي په هغه کي به و مُور ته دَرَيَمَه حِصّه ملاؤيږي چي ثُلُثُ مَابَقِيَ ورته ويل کيږي .

مَيّت ۱۰۰

مُور	اَ کَا(تَرَه)
۳۳ . ۳۳	۶۶ . ۶۶

په دې مسئله کي اَصل مسئله د سَل څخه جوړشوې ده چي مُور ته د تولَه مَال دريمه حِصّه ورکړې ده او پاته دُوې دَرَيَمِي حِصّې يې د عَصَبَه په توګه و اَکَا ته ورکړي دي.

[۳۲۰۸](۱۰) او د مُور لپاره مُقَرّر کیږي په دُوُ مسئلو کي د مَابَقِيَ دریمه حِصّه هغه دُوې مسئلې دادي (۱) مېړه وي او مُور و پُلاَر وي (۲) مَینَه وي او مُور و پُلاَر وي نو مُور ته به د مېړه یا دمَینَې دحِصّې وروسته د مَابَقِيَ دریمه حِصّه ملاؤیږي .
تشریح : په دُوُ صورتو کي د مُور لپاره د ټولې مَال دریمه نشته بلکه چي مېړه یا مَینَه خپله حِصّه واخلي دهغه وروسته چي خَّه پاته شي دهغه دَرَیَمَه به ورته ملاؤیږي (۱) یَوصورت خودادئ چي دمَیّت مېړه وي نودمېړه د اَخَستلُووروسته به مُور ته دَرَیَمَه حِصّه ملاؤیږي.مسئله به دادول وي .

مَیّت ۱۰۰

مُور	پُلاَر
مېړه	
۶۶ . ۱۶	۳۳ . ۳۳
۵۰	

په دې مسئله کي د سَل څخه نِیمَئ یعني پنځوس یې ومېړه ته ورکړل.د پاته پِنځُوسُ دریمه حِصّه ۶۶ . ۱۶ یعني د ټولې مَال شُپَږَمَه و مُور ته ملاؤ شوه او ددې دُوَه چَندَ یعني د ټولې مَال دریمه حِصّه پُلاَر ته ملاؤ شوه.تاته په یَاد دئ چي اَولاَد نَه وي نو مېړه ته نِیمَئ ملاؤیږي .
(۲) دُویَم صورت دادئ چي دمَیّت مَینَه وي او مُور وپُلاَر یې وي د مَینې د اَخَستلُو وروسته چي خَّه پاته شي و مُور ته دهغه دریمه حِصّه ملاؤیږي.او پُلاَر ته دهغه دُوَه چَندَ ملاؤیږي.مسئله به دَادَوَل وي .

مَیّت ۱۰۰

مُور	پُلاَر
مَینَه	
۲۵	۵۰
۲۵	

چي دمَیّت اَولاَد نَه وي نو مَینَه ته څلورمه ملاؤیږي نوځکه مَینَه ته د سَل څخه څلورمه ۲۵ ورکړل.پاته شو ۷۵ دهغه څخه دریمه حِصّه یعني ۲۵ د ټولې مَال څلورمه حِصّه هغه یې و مُور ته ورکړه.او ددې دَبَلَه یعني پنځوس(۵۰)یې پُلاَر ته ورکړل چي د ټولې مَال نِیمَئ حِصّه ده .
وجه : (۱) د مَینې یا دمېړه د اَخَستلُو وروسته د مَابَقِيَ دریمه مُور ته ملاؤیږي دلیل یې تېرشوئ اَثَر دئ (۲) یَو اَثَر دا هم دئ. عَن عَبدِاللهِ قَالَ اَتَي عُمَرَ فِي اِمرَأةٍ وَ

[۳۲۰۹](۱۱) وَ هُوَ لِكُلِّ اِثنَينِ فَصَاعِدًا مِن وَلَدِ الأُمِّ ذُكُورُهُم وَ اُنَاثُهُم فِيهِ سَوَاءٌ .

اَبَوَينِ فَجَعَلَ لِلمَرأةِ اَلرّ بُعُ وَ لِلأُمِّ ثُلُثُ مَابَقِيَ وَ لِلاَبِ مَابَقِيَ (الف) (مستدرک للحاکم،کتاب الفرائض،ج۴ص۳۷۳،نمبر۷۹۶۳) ددې اَثَر څخه معلوم شوچي مَينَه موجود وي دهغې د اَخستَلُو وروسته چي خَه پاته شي مُور ته به دهغه دريمه ملاؤيږي .

[۳۲۰۹](۱۱) او دَرَيَمَه د هر دُوُ يا ددې څخه زِيَاتُ لپاره ده د اَخيَافِي خُوَندُ او وُرُونُو څخه د دُوئي نَارِينَه او زَنَانَه په دي کي سره برابر دي .

تشريح : يَو مُورَنَئ وُرور وي يا يوه مُورَني خُور وي نو دهغه لپاره شُپَږَمَه حِصّه ده. لېکن که دُوَه يا تر دُوُ زيات اَخيَافِي(مُورَنِي)وُرُونَه وي يا دُوې يا تر دُوُ زياتِ اَخيَافِي(مُورَنَئ)خُوَندِ وي نوهغوئي ته به دمَيّت دمَال څخه دريمه حِصّه ملاؤيږي. او وُرُونُو او خُوَندُ تولو ته به برابر برابر ملاؤيږي.دا به نَه وي چي نَر ته دُوَه ثُلُث او بنځي ته يَو ثُلُث ملاؤ شي بلکه دواړو ته به برابر برابر حِصّه ملاؤيږي.مسئله به په دَاډَوَل وي .

مَيّت ۱۰۰

مُورَنَئ وُرُور	مُورنَي خُور	اَکَا
۶۶ . ۶۶	۳۳ .	۳۳
۱۶ . ۱۶	۱۶ . ۱۶	

پام لرنه : و ګوره په دې مسئله کي و خُور ته هم د وُرُور سره برابره ۱۶. ۱۶ حِصّه ملاؤ شوې ده او د دريمي څخه علاوه چي خَه مَال پاته شو هغه يې و اَکَا ته ۶۶ . ۶۶ د عَصَبَه په توګه ورکړه .

حاشيه : (الف) دحضرت عمر څخه د مَيني او وَالِدَينُ په اړه پُوښتَنَه وشوه.نو حضرت عمر د مَيني لپاره څلورمه. د مُور لپاره د مَابَقِيَ دَرَيَمَه او د پُلاَر لپاره مَابَقِيَ مقرّر کړه .

[۳۲۱۰](۱۲) وَ السّدُسُ فَرضُ سَبعَةٍ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنَ الاَبَوَينِ مَعَ الوَلَدِ اَو وَلَدِ الاِبنِ وَ هُوَ لِلأُمِّ مَعَ الاِخوَةِ وَ هُوَ لِلجَدّاتِ وَ الجَدِّ مَعَ الوَلَدِ اَو وَلَدِ الاِبنِ وَ لِبَنَاتِ الاِبنِ مَعَ البِنتِ وَ لِلاَخَوَاتِ لِلاَبِ مَعَ الأُختِ لِلاَبِ وَ الأُمِّ وَ لِلوَاحِدِ مِن وَلَدِ الأُمِّ .

وجه : (۱) په دې آيت کي ثبوت شته. وَ اِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلاَلَةً اَو اِمرَأ ةٌ وَلَهُ اَخٌ اَو اُختٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا اَلسّدُسُ فَاِن كَانُوا اَكثَرَ مِن ذَالِكَ فَهُم شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ مِن بَعدِ وَصِيّةٍ يُوصٰي بِهَا اَو دَينٍ (الف) (آيت ۱۲ سورة النساء ۴) په دې آيت کي دئ چي

اَخيَافِي وُرُونَه او خُوَندِ تر يوه زِيَات وي نو د ټولو لپاره يوه دَرَيَمَه حِصّه ده (۲) په اَثَر کي دئ. فَتَفسِيرُ اَبِي الزّنَادِ عَلْي مَعَانِي زَيدِبن ثَابِتٍ قَالَ وَمِيرَاثُ الإخوَةِ لِلأُمِّ اِنّهُم لاَيَرِثُونَ مَعَ الوَلَدِ وَلاَ مَعَ وَلَدِ الإبنِ ذَكَرًا كَانَ اَو اُنثْي شَيئًا وَ لاَ مَعَ الاَبِ وَ لاَ مَعَ الجَدِّ اَبِي الاَبِ شَيئًا. وَهُم فِي كُلِّ مَا سِوْي ذَالِكَ يُفرَضُ لِلوَاحِدِ مِنهُم اَلسّدُسُ ذَكَرًا كَانَ اَو اُنثْي. فَاِن كَانُوا اِثنَينِ فَصَاعِدًا ذُكُورًا اَو اُنَاثًا فُرِضَ لَهُم الثُّلُثُ يَقتَسِمُونَهُ بِالسّوَاءِ (ب) (سنن للبيهقي.باب فرض الاخوة والاخوات للأمّ ج۶ ص۳۷۹ نمبر۱۲۳۲۴) ددې اَثَر څخه معلوم شوچې اَخيَافِي خُوَندِي او وُرُونَه تر يوه زياتِ وي نو هغوئي ته دَرَيَمَه ملاؤيږي.او خُوَندُ او وُرُونُو ته به برابر برابر ملاؤيږي .

لغت : وَلَدُ الأُمِّ : مُورَنِي وُرُونَه.خُوَندِ .

[۳۲۱۰](۱۲) شُيَرَمَه حِصّه د اُوُ کسانُ حِصّه ده (۱) دمُور او پُلاَر څخه د هر يوه لپاره د زُوئي يا د لُمَسِي سره (۲) او د مُور لپاره د وُرُونُو سره (۳) د اَنَا لپاره (۴) د نِيکَه لپاره د اَولاَد سره يا د لُمَسِي سره (۵) او د لُمَسَيُو لپاره د لُور سره (۶) او د عَلاّتِي خُوَندُ لپاره د يوې حقيقي خُور سره (۷) او د يوې اَخيَافِي خُور لپاره .

حاشيه : (الف) که يَو سړئ کَلاَلَه وي يا ښځه کَلاَلَه وي او دهغه وُرُور وي يا خُور وي نو هر يوه ته به شُيَرَمَه حِصّه ملاؤيږي.او که وُرُونَه خُوَندِ تر دې زيات وي نو په دَرَيَمَه کي به ټوله شريکان وي د (رَارَوَانَ صفحه)

تشريح : و دغه اُوَه(۷) قِسمَ اِنسَانَانُ ته شُيَرَمَه حِصّه ملاؤيږي.د هر يوه تفصيل په دَاډَوَل دئ .

-(۱)- د مُور سره د مَيّت زُوئي وي يا لُمَسَئ وي.دغه رنګه دپُلاَر سره د مَيّت زُوئي وي نو مُور.پُلاَر ته شُيَرَمَه حِصّه ملاؤيږي.او که زُوئي يا لُمَسَئ نَه وي نو مخته تېرشوي دي چې مُور ته دَرَيَمَه حِصّه ملاؤيږي .

وجه : (۱) په آيت کي ددې ثبوت شته. وَ لاَبَوَيهِ لِكُلِ وَاحِدٍ مِنهُمَا اَلسّدُسُ مِمّا تَرَکَ اِن کَانَ لَهُ وَلَدٌ. فَاِن کَانَ لَهُ اِخوَةٌ فَلاُمّهِ السّدُسُ مِن بَعدِ وَصِيّةٍ (الف) (آيت ۱۱ سورة النساء ۴) په دې آيت کي دئ چې زُوئي وي(که چيري زُوئي نَه وي لُمَسَئ هم د زُوئي په درجه کي دئ)نو مُور.پُلاَر ته به شُيَرَمَه حِصّه ملاؤيږي (۲) اَثَر تېرشوئ دئ. عَن زَيدِبنِ ثَابِتٍ وَ اَمّا التّفسِيرُ فَتَفسِيرُ اَبِي الزّنَادِ عَلْي مَعَانِي زَيدٍ قَالَ وَمِيرَاثُ الأُمِّ مِن وَلَدِهَا اِذَا تُوُفّيَ اِبنَهَا وَ اِبنَتَهَا فَتَرَکَ وَلَدًا اَو وَلَدَ اِبنٍ ذَكَرًا اَو اُنثْي اَو تَرَکَ الإثنَينِ مِنَ الإخوَةِ فَصَاعِدًا ذُكُورًا اَو اُنَاثًا مِن اَبٍ وَ اُمٍّ اَو مِن اَبٍ اَو مِن اُمٍّ اَلسّدُسُ (ب) (سنن للبيهقي.باب فرض الأمّ ج۶ ص۳۷۲ نمبر۱۲۲۹۴) په دې اَثَر کي دئ چې زُوئي يا لُمَسَئ يا دُوَه وُرُونَه.خُوَندِ وي نو مُور ته او وَالِدَينُ ته شُيَرَمَه حِصّه ملاؤيږي .

-(۲)- دُويَمَه ښځه داده چې کَنِ شمېر وُرُونَه وي نو مُور ته شُيَرِ حِصّه ملاؤيږي .

وجه:(۱)مخته آيت تېرشوئ دئ.فَاِن کَانَ لَهُ اِخوَةٌ فَلاُمّهِ السّدُسُ(ج)(آيت ۱۱سورة النساء۴)

(تېره شوي صفحه) وَصِيّت او قرض وروسته (ب) زيد بن ثابت وفرمايل د مُورَنِي وُرُو ميراث دادئ چې هغه د اَولاَد او د زُوئي د اَولاَد سره وَارِث نَه جوړيږي.اَولاَد که مُذَکّر وي که مُؤنّث وي نَه د پُلاَر سره او نَه د نِيکَه

سره.ددې څخه علاوه په بَل صورت کي د يوه لپاره شُپَږمَه حِصّه ده که مُذَکّر وي که مُؤنّث وي.او که تر دُو زيات وي مُذَکّر وي که مُؤنّث وي نو دهغه لپاره به دَرَيَمَه حِصّه مُتَعَيّن کيږي هغه به د دُوئي تر مينځ برابر برابر تقسيميږي (الف) د مُور.پُلاَر هر يوه لپاره شُپَږمَه حِصّه دهکه دده اَولاَد وي.او که اَولاَد نَه وي او مُور.پُلاَر وَارِثَان وي نو دده د مُور لپاره دَرَيَمَه حِصّه ده.او که وُرُور وي نو دهغه لپاره شُپَږمَه ده د وَصِيّت وروسته . (ب) حضرت زيد وفرمايل.د مُور ميراث د اَولاَد څخه چي کله ددې زُوئي يا لُور وفات شي او اَولاَد يې پرېږَښئ وي يايې د زُوئي اَولاَد پرېږښئ وي که نَارِينَه اولاد وي که زَنَانَه اولاد وي يايې دُوَه وُرُونَه پرېږَنِي وي يايې حقيقي خُور پرېږَنِي وي يايې پُلاَر شريکَ خُور يايې مُور شريکَ خُور پرېږَنِي وي نو مُور ته به شُپَږمَه ملاؤيږي (ج) که وُرُونَه وي نو د مُور شُپَږمَه حِصّه ده .

(۲) او اَثَر هم تبرشوئ دئ. اَو تَرَکَ الإثنَينِ مِنَ الإخوَةِ فَصَاعِدًا ذُکُورًا اَو اُنَاثًا مِن اَبٍ وَ اُمٍّ اَو مِن اَبٍ اَو مِن اُمٍّ اَلسّدُسُ (الف) (سنن للبيهقي.باب فرض الأمّ ج۶ ص۳۷۲ نمبر۱۲۲۹۴) په دې اَثَر کي هم دئ چي کَنِ شمېر وُرُونَه يا خُوَندِ وي نو مُور ته شُپَږمَه حِصّه ملاؤيږي .

-(۳)- که مُور نَه وي نو اَنَا ته شُپَږمَه حِصّه ملاؤيږي .

وجه : په حديث کي دئ.عَن اَبِي بُرِيدَةَ عَن اَبِيهِ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) جَعَلَ لِلجَدّةِ اَلسّدُسُ اِذَا لَم تَکُن دُونَهَا اُمّ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في الجَدّةِ ص۴۵نمبر۲۸۹۵/ترمذي شريف.باب ماجاء في ميراث الجدّة ص۳۰ نمبر۲۱۰۰) ددې حديث څخه معلوم شوچي مُور نَه وي نو اَنَا ته به شُپَږمَه حِصّه ملاؤيږي .

چي اَنَاګَانِ ډيري(کَن شمېر)وي نو ټولي به په شُپَږمَه کي شريکانِ وي .

وجه : ثُمّ جَاءَتِ الجَدّةُ الأُخرْي اِلْي عُمَرَ بنِ الخَطّابِ تَسأ لُهُ مِيرَاثَها فَقَالَ مَالَکِ فِي کِتَابِ اللهِ شَيئٌ وَ مَا کَانَ القَضَاءُ اَلّذِي قُضِيَ بِهِ اِلاّ لِغَيرُکِ وَ مَا اَنَا بِزَائِدٍ فِي الفَرَائِضِ وَ لٰکِن هُوَ ذَالِکَ السّدُسُ فَاِن اِجتَمَعتُمَا فِيهِ فَهُوَ بَينَکُمَا وَ اَيّتُکُمَا مَا خَلَتِ بِهِ فَهُوَ لَهَا (ج) (ابوداؤدشريف.باب في الجَدّةِ ص۴۵ نمبر۲۸۹۴/ترمذي شريف.باب ماجاء في ميراث الجدّة ص ۳۰ نمبر۲۱۰۱) ددې اَثَر څخه معلوم شوچي کَنِ شمېر اَنَاګَانِ وي نوټولو ته به شُپَږمَه حِصّه ملاؤيږي.په دغه کي دې تقسيم کړي.مسئله به په دَاډَوَل وي .

مَيّت ۱۰۰

اَنَا	زُوئي
۱۶ . ۶۶	۸۳ . ۳۴

حاشيه : (الف) که تر دُو زيات وُرُونَه.خُوَندِ پرېږَنِي وي حقيقي وي يا عَلاّتِي وي يا اَخيَافِي وي نو د مُور لپاره شُپَږمَه حِصّه ده (ب) حضور (ﷺ) د اَنَا لپاره شُپَږمَه حِصّه مُتَعَيّن کړه چي کُوم وخت تردې کَښتَه مُور موجودنَه وي (ج) بيادُويَمَه اَنَاحضرت عمر ته راغله اودخپل ميراث طَلَب يې وکړئ.وفرمايل په کِتَابُ الله کي ستا لپاره هيڅ شَئ نشته.کُومَه فيصله چي ستاڅخه د عَلاَوَه لپاره شوې ده ترهغه يې نَه زِياتَوَم. او هغه شُپَږمَه حِصّه ده . که تاسو دواړه په دي کي شريکان شئ نو ستاسو دواړو تر مينځ به وي.اوچي څَه يې وُړي دي هغه يې وُړي دي .

په دې کي و اَنَا ته شُپَږمَه حِصّه ورکړي ده او پاته يې و زُوئي ته ورکړي ده.او که زُوئي او لُمَسَئ نَه وي بيا هم شُپَږمَه ورته ملاؤيږي.دا چي دا بنځه ده نو دبنځي وَالِي لکبله دعَصَبَه په ټوګه نور څَه نَه ورته ملاؤيږي.ځکه چي اَنَا عَصَبَه نَه ده .

-(۴)- كه پُلاَر نَه وي نو نِيګه ته به د زُوئي يا د لُمَسِي سره شُپَږَمَه حِصّه ملاؤيږي.او كه بَل هيڅ څوک نَه وي نو دشُپَږَمِي حِصّي د ملاؤښدو بغيره به دعَصَبَه په توګه نوره شُپَږَمَه حِصّه هم ملاؤ شي .

وجه : په حديث كي دئ. عَن عِمرَانَ بِنِ حُصَينٍ اَنّ رَجُلاً اَتَي النّبِيّ (ﷺ) فَقَالَ اِنّ اِبنَ اِبنِي مَاتَ فَمَالِي مِن مِيرَاثِهِ؟ قَالَ لَکَ السّدُسُ. فَلَمّا اَدبَرَ دَعَاهُ فَقَالَ لَکَ سُدُسٌ آخَرَ فَلَمّا اَدبَرَ دَعَاهُ فَقَالَ اِنّ السّدُسَ الآخِرَ طُعمَةٌ (الف) (ابوداؤدشريف.باب ماجاء في ميراث الجَدّ ص۴۵ نمبر۲۸۹۵/ترمذي شريف.باب ماجاء ميراث الجَدّ ص۳۰ نمبر۲۰۹۹) په حديث كي دئ چي د نِيګه سره زُوئي يا لُمَسَئ وي نو شُپَږَمَه حِصّه ورته ملاؤيږي.او كه بَل څوک نَه وي نو دعَصَبَه په حَيث نورَ زِيَاتَه حِصّه هم ورته ملاؤشي .

-(۵)- و لُمَسَيُو ته د يوې لُور سره يعني يَوَه لُور وي او زُوئي نَه وي نو د دُوَه ثُلُث د پُورَه كولو لپاره به و لُمَسَيُو ته شُپَږَمَه حِصّه ملاؤيږي.ځكه چي يوه لُور ته به نِيمَئ ملاؤيږي.او د لُمَسَيَانُ شُپَږَمَه چي هم ورته ملاؤ شي نو دُوې دَرَيَمِي(يعني دُوَه ثُلُث)به شي .

وجه : په حديث كي دئ. سُئلَ اَ بُومُوسْي عَن اِبنَةٍ وَ اِبنَةِ اِبنٍ وَ اُختٍ ... اَقضِي فِيهَا بِمَا قَضْي النّبِيّ (ﷺ) لِلاِبنَةِ اَلنّصفُ وَ لِابنَةِ الاِبنِ اَلسّدُسُ تَكمِلَةَ الثّلُثَينِ وَ مَا بَقِيَ فَلِلأُختِ (ب) (بخاري شريف.باب ميراث ابنة ابن مع ابنة ص۹۹۷نمبر۶۷۳۶/ابوداؤد شريف.

حاشيه : (الف) يو سړئ حضور (ﷺ) ته راغلئ او وويل چي زُومَا لُمَسئ وَفَات شوئ دئ مَاتَه به دده د تَرَكَه څخه خَه ملاؤيږي؟وفرمايل تَاتَه به شُپَږَمَه حِصّه ملاؤيږي.بيا چي وَاپَس راغلئ نو حضور وفرمايل ستا لپاره دُوَيَمَه شُپَږَمَه حِصّه هم ده.بيا چي وَاپَس راغلئ نو دئ يي رَاوَبَالَئ او وفرمايل دغه دُوَيَمَه شُپَږَمَه حِصّه د عَصَبَه په توګه د خُوَرَاک لپاره ده (ب) د حضرت ابوموسْي څخه پُوښتَنَه وكړه چي لُور.لُمَسي او خُور وي نو څومره به ملاؤيږي؟ ... وفرمايل په دې كي زَه هغه فيصله كَوَم كُوم چي حضور (ﷺ) كړې ده.د لُور لپاره نِيمَئ او دلُمَسي لپاره شُپَږَمَه حِصّه ده د دُوَه ثُلُث د پُورَه كولو لپاره.او يوه دريمه د خُور لپاره .

باب ماجاء في ميراث الصّلبِ ص۴۴نمبر۲۸۹۰/ترمذي شريف. باب ماجاء في ميراث بنت الابن مع بنت الصّلب ج۲ ص۲۹ نمبر۲۰۹۳) په دې حديث كي دئ چي يوه لُور وي نو هغې ته به نِيمَئ ملاؤيږي. د دُوَه ثُلُث د پوره كولو لپاره به لُمَسي ته شُپَږَمَه حِصّه وركړه.ځكه چي دُوُ لُونُو ته ثُلُث ملاؤيږي.مسئله به په دَادَوَل وي .

مَيّت ۱۰۰

يوه لُور	يوه لُمَسي	خُور
۵۰	۳۳ . ۳۳	۱۶ .۶۶

په دي كي و لُور ته نِيمَئ يعني د سَل څخه پِنځوس وركړي دي.و لُمَسي ته شُپَږَمَه يعني ۱۶ .۶۶ وركړي دي او پاته يوه دريمه ۳۳ . ۳۳ يې و خُور ته وركړې ده .

-(۶)- پُلاَرشريکَ يعني عَلاّتِي خُور ته د حقيقي خُور سره شُپَږَمَه حِصّه ملاؤيږي. تفصيل يې دادئ چي حقيقي خُور موجود وي نو دعَلاّتِي خُور درجه وروسته كيږي. لِهْذَا يوه حقيقي

خُور ده هغې ته به نِيمَئ ملاؤ شي او د دُوَه ثُلُث د پُوره کولو لپاره به و عَلاّتِي خُور ته شُپَږمَه حِصّه ملاؤ شي .
وجه : په اَثَر کي دئ. وَ فِي قَولِ عَبدِاللهِ بنِ زَيدٍ لِلأُختِ مِنَ الاَبِ وَ الأُمِّ اَلنِّصفُ وَ لِلاَخَوَاتِ مِنَ الاَبِ اَلسّدُسُ تَكمِلَةَ الثّلُثَينِ وَ مَابَقِيَ لِلاَخِ مِن الاَبِ (الف) (سنن للبيهقي.باب ميراث الاخوة والاخوات لاَبٍ و اُمٍّ اَو لاَبٍ ج۶ ص۳۸۱ نمبر۱۲۳۲۷) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي عَلاّتِي خُور ته د يوې حقيقي خُور سره شُپَږمَه حِصّه ملاؤيږي.مسئله به په دَاډَوَل وي .

مَيّت ۱۰۰

يوه حقيقي خُور	يوه عَلاّتِي خُور	يوعَلاّتِي وُرُور
۵۰		۱۶ .۶۶
		۳۳ . ۳۳

حاشيه : (الف) عبدالله بن زيد وفرمايل د يوې حقيقي خُور لپاره نِيمَئ او د پُلاَر شريکِ خُور لپاره شُپَږمَه حِصّه ده د دُوَه ثُلُث د پوره کولو لپاره.او پاته د عَلاّتِي وُرُور لپاره ده .

و يوې حقيقي خُور ته د سَل نيمئ يعني پنځوس ورکړل.و عَلاّتِي خُور ته شُپَږمَه حِصّه ۶۶. ۱۶ ورکړه او پاته د سَل څخه يوه دريمه ۳۳ . ۳۳ و عَلاّتِي وُرُور ته ملاؤ شوه .

-(۷)- د يوې اَخيَافِي خُور شُپَږمَه حِصّه ده.يعني که زُوئي.لُور او لُمَسَئ نَه وي او مُورَنَې خُور وي چي اَخيَافِي خُور ورته ويل کيږي يا اَخيَافِي وُرُور وي نو دې ته شُپَږمَه حِصّه ملاؤيږي.او که وُرُور وي نو هغه ته هم شُپَږمَه حِصّه ملاؤيږي .
وجه : (۱) په آيت کي ددې ثبوت شته وَ اِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلاَلَةً اَو اِمرَأَ ةٌ وَلَهُ اَخٌ اَو اُختٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا اَلسّدُسُ (الف) (آيت ۱۲ سورة النساء ۴) په دې آيت کي دئ چي د اَخيَافِي وُرُور لپاره او د اَخيَافِي خُور لپاره شُپَږمَه حِصّه ده (۲) اَثَر تېرشوئ دئ فَتَفسِيرُ اَبِي الزّنَادِ عَلْي مَعَانِي زَيدِبن ثَابِتٍ قَالَ وَمِيرَاثُ الإِخوَةِ لِلأُمِّ اِنّهُم لاَيَرِثُونَ مَعَ الوَلَدِ وَلاَ مَعَ وَلَدِ الإِبنِ ذَكَرًا كَانَ اَو اُنثْي شَيئًا وَ لاَ مَعَ الاَبِ وَ لاَ مَعَ الجَدِّ اَبِي الاَبِ شَيئًا. وَهُم فِي كُلِّ مَا سِوْي ذَالِكَ يُفرَضُ لِلوَاحِدِ مِنهُم اَلسّدُسُ ذَكَرًا كَانَ اَو اُنثْي. فَاِن كَانُوا اِثنَينِ فَصَاعِدًا ذُكُورًا اَو اُنَاثًا فُرِضَ لَهُم الثّلُثُ يَقتَسِمُونَهُ بِالسّوَاءِ (ب) (سنن للبيهقي.باب فرض الاخوة والاخوات للأُمِّ ج۶ ص۳۷۹ نمبر۱۲۳۲۴) په دې اَثَر کي دئ چي و اَخيَافِي وُرُور.خُور ته شُپَږمَه حِصّه ملاؤيږي .مسئله به په دَاډَوَل وي .

مَيّت ۱۰۰

مَينَه	مُورَنَئ وُرُور	مُورَنې خُور
۲۵		۱۶ .۶۶
		۱۶ .۶۶

په دې مسئله کي و مَينَه ته څلورمه يعني د سَل څخه ۲۵ ورکړي دي.او مُورَنِي وُرُو

حاشيه : (الف) كه يَو سړئ كَلاَلَه وي يا ښځه كَلاَلَه وي او دهغه وُرُور وي يا خُور وي نو هر يوه ته به شُپَږَمَه حِصّه ملاؤيږي (ب) زيد بن ثابت وفرمايل د مُورَنِي وُرُو ميراث دادئ چې هغه د اَولاَد او د زُوئي د اَولاَد سره وَارِث نَه جوړيږي.اَولاَد كه مُذَكّر وي كه مُؤنّث وي نَه د پُلاَر سره او نَه د نِيګه سره.ددې څخه علاوه په بَل صورت كي د يوه لپاره شُپَږَمَه حِصّه ده كه مُذَكّر وي كه مُؤنّث وي.او كه تر دُوُ زيات وي مُذَكّر وي كه مُؤنّث وي نو دهغه لپاره به دَرَيَمه حِصّه مُتَعَيّن كيږي هغه به د دُوئي تر مينځ برابر برابر تقسيميږي .

[٣٢١١](١٣) وَ تَسقُطُ الجَدّاتُ بِالأُمِّ [٣٢١٢](١٤) وَ الجَدّ وَ الإِخوَةُ وَ الاَخَوَاتُ بِالاَبِ .

ته شُپَږَمَه حِصّه ۶۶. ۱۶ او مُورني خُور ته شُپَږَمَه حِصّه يعني د سَل څخه ۶۶. ۱۶ او پاته ۶۸ . ۴۱ به وَعَصَبَه ته وركول كيږي .

[٣٢١١](١٣) اَنَا د مُور په وجه ساقطيږي .

تشريح : چې مُور موجود وي نو اَنَا ته حِصّه نَه ملاؤيږي.كه مُور نَه وي نو بيا اَنَا ته حِصّه ملاؤيږي .

وجه : (١) په حِصّو كي مُقَدّم او مُؤخّر مُعتَبَر دئ چې كُوم مخكي وي هغه ته به حِصّه ملاؤيږي.كه هغه نَه وي نو وُرُستَنِي ته ملاؤيږي.دَلتَه مُور موجود ده نو حُكه اَنَا ته نَه ملاؤيږي (٢) په حديث كي ددې ثبوت شته. عَن اَبِي بُرِيدَةَ عَن اَبِيهِ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) جَعَلَ لِلجَدّةِ اَلسّدُسُ اِذَا لَم تَكُن دُونَهَا اُمّ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في الجَدّةِ ص۴۵نمبر۲۸۹۵/ترمذي شريف.باب ماجاء في ميراث الجدّة ص۳۰ نمبر۲۱۰۰) په دې حديث كي دئ چې اَنَا ته شُپَږَمَه حِصّه ملاؤيږي په دې شرط چې مُور موجود نَه وي.نوځكه د مُور په وجه اَنَا مَحجُوب ګرزي .

[٣٢١٢](١٤) نِيګه او وُرُور او خُوَندِ د پُلاَر په وجه ساقطيږي .

تشريح : چې پُلاَر موجود وي نو نِيګه ته هم حِصّه نَه ملاؤيږي.او نَه وُرُونُو ته ملاؤيږي او نَه خُوَندُ ته ملاؤيږي .دغه ټوله به د پُلاَر په وجه سَاقِط شي .

وجه : په آيت كي دئ چې كَلاَلَه وي نو وُرُونُو او خُوَندُ ته حِصّه ملاؤيږي.او د كَلاَلَه مطلب دادئ.چې اولاَد هم نَه وي او پُلاَر هم نَه وي.ددې څخه معلوم شوچې پُلاَر وي نود وُرُور او دخُورحِصّه ساقطيږي.په اَثَركي د كَلاَلَة تفسيرپه دَاوَل شوئ دئ. اَنّهُ سُمِعَ اِبنُ عَبّاسٍ يَقُولُ اَلكَلاَلَةُ اَلّذِي لاَ يَدَعُ وَلَدًا وَ لاَ وَالِدًا (الف) (سنن للبيهقي.

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) د اَنَا لپاره شُپَږَمَه حِصّه مُتَعَيّن كړه چې كُوم وخت تردې مخته مُور موجودنَه وي (ب) حضرت ابن عبّاس وفرمايل كَلاَلَه دې ته وايي چې اَولاَد يې هم نَه وي او وَالِد يې هم نَه وي .

[٣٢١٣](١٥) وَ يَسقُطُ وَلَدُ الأُمِّ بِاَحَدِ اَربَعَةٍ بِالوَلَدِ وَ وَلَدِالِابنِ وَ الاَبِ وَ الجَدِّ .

باب حجب الاخوة والاخوات من كانوا بالاب والابن وابن الابن ج۶ ص۳۶۹ نمبر۱۲۲۷۵) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې پُلاَر وي نو وُرُونو او خُوَندُ ته حِصّه نَه ملاؤيږي .

د پُلاَر په وجه نِيګه ساقطيږي دليل يې دا اَثَر دئ. عَن اَبِي بَكرٍ قَالَ اَلجَدّ بِمَنزَلَةِ الاَبِ مَالَم يَكُن اَبٌ دُونَهُ وَ اِبنُ الاَبِ بِمَنزَلَةِ الإبنِ مَا لَم يَكُن اِبنٌ دُونَهُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۴۲في الجدّ من جعله اَباً ج۶ص۲۶۱نمبر۳۱۲۰۲) په دې اَثَرکي دئ چې حضرت ابوبکر نِيګه ته د پُلاَر درجه ورکړه.چې کُوم وخت پُلاَر نَه وي.نو ځکه نِيګه د پُلاَر په وجه ساقطيږي .

[۳۲۱۳](۱۵) اَخيَافِي وُرُونَه خُوَندِ د ځلورو په وجه ساقطيږي.د اَولاَد په وجه. دلُمَسِي په وجه.د پُلاَر په وجه او د نِيګه په وجه .

تشريح : د مُور اَولاَدَه يعني مُورَني اَولاَدَه چې اَخيَافِي وُرُونَه او اَخيَافِي خُوَندِ ورته ويل کيږي هغه د ځلور قِسم اِنسَانَانُ په وجه ساقطيږي (۱) د زَامَنَانُ په وجه (۲) د لُمَسِيَانُ په وجه (۳) د پُلاَر په وجه (۴) او د نِيګه په وجه.يعني که ددې ځلورو څخه هسي يَو موجود وي نو مُورَنِي وُرُور او خُور ته حِصّه نَه ملاؤيږي .

وجه : (۱) د زُوئي او لُمَسِي په وجه ساقطيږي دهغه دليل په خپله په آيت کي ذِکر شوئ دئ. وَ اِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلاَلَةً اَو اِمرَأَ ةٌ وَلَهُ اَخٌ اَو اُختٌ فَلِكُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا اَلسّدُسُ (ب) (آيت ۱۲ سورة النساء ۴) په دې آيت کي دئ چې کَلاَلَه وي نو اَخيَافِي وُرُور او خُور ته به شُپَږَمَه حِصّه ورکول کيږي. اوکَلاَله هغه ته ويل کيږي چې نَه اَولاَد لري اونَه لُمَسَئ لري او نَه پُلاَر لري.ددې مطلب دا شو چې اَولاَد موجود وي

حاشيه : (الف) حضرت ابوبکر فرمايي په وِرَاثَت کي نِيګه د پُلاَر په درجه کي دئ که چيري پُلاَر موجود نَه وي. او لُمَسَئ د زُوئي په درجه کي دئ که چيري زُوئي نَه وي (ب) که يَو سړئ کَلاَلَه وي يا ښځه کَلاَلَه وي او دهغه وُرُور وي يا خُور وي نو هر يوه ته به شُپَږَمَه حِصّه ملاؤيږي .

[۳۲۱۴](۱۶) وَ اِذَا اِستَكمَلَتِ البَنَاتُ الثّلُثَينِ سَقَطَت بَنَاتُ الإبنِ اِلاّ اَن يَكُونَ بِاِزَائِهِنّ اَو اَسفَلَ مِنهُنّ اِبنُ اِبنٍ فَيُعَصِّبَهُنّ .

يا لُمَسَئ موجود وي يا پُلاَر موجود وي نو اَخيَافِي وُرُونَه او خُوَندِ ساقطيږي (۲) او چې پُلاَر نَه موجود نَه وي نو نِيګه هم د پُلاَر په درجه کي دئ.لِهٰذَا چې نِيګه موجود وي نو هم اَخيَافِي وُرُونَه او خُوَندِ ساقطيږي.د کَلاَلَه تفسير مخته تېر شو. اَنّهُ سُمِعَ اِبنُ عَبّاسٍ يَقُولُ اَلكَلاَلَةُ اَلّذِي لاَ يَدَعُ وَلَدًا وَ لاَ وَالِدًا (الف) (سنن للبيهقي.باب حجب الاخوة والاخوات من كانوا بالاب والابن وابن الابن ج۶ ص۳۶۹ نمبر۱۲۲۷۵) (۳) بلکه د اَولاَد په وجه حقيقي وُرُونَه او خُوَندِ هم ساقطيږي.نو اَخيَافِي وُرُونَه او خُوَندِ به په طريقَه اَولي سره ساقِط وي. آيت دادئ. يَستَفتُونَكَ قُلِ اللهُ يُفتِيكُم فِي الكَلاَلَةِ اِن اِمرُؤٌ هَلَكَ لَيسَ لَهُ وَلَدٌ وَلَهُ اُختٌ فَلَهَا نِصفُ مَا تَرَكَ وَ هُوَ يَرِثُهَا اِن لَم يَكُن لَها وَلَدٌ (ب) (آيت ۱۷۶ سورة النّساء ۴) په دې آيت کي دئ چې اَولاَد نَه وي(په دي کي لُمَسَئ هم شَامِل دئ)نو وُرُونَه او خُوَندِ به وَارِثَان وي.او که چيري دُوئي وي نو بيا هغه ساقِطيږي .

لغت : وَلَدُ الأُمّ : د مُور اَولاَدَه.ددې څخه مُورَنِي وُرُونَه او مُورَنِيخُوَندِ مُرَاد دي چې اَخيَافِي وُرُونَه او اَخيَافِي خُوَندِ ورته ويل کيږي .

[۳۲۱۴](۱۶) كه لُونِي دُوې دَرَيَمِي حِصّې واخلي نو لُمَسِيَانِ ساقطيږي مګر دا چې د دُوئي په مُقَابِل کي يا تر دُوئي کښته لُمَسَئ وي نو دُوئي به عَصَبَه وګرزوي .
تشريح : په مسئله کي تېرشوي دي چې دُوې لُونِي وي يا تر دُوې زِيَاتِ وي نو ټولو ته دُوې دَرَيَمِي(دُوَه ثُلُث)ملاؤيږي تر دې زِيَات نَه ملاؤيږي.ټولي لُونِي به په دغه کي سره شريکانِ وي.اُوس که لُمَسِيَانِ موجود وي نو هغوئي ته هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي.ځکه چې دُوې دَرَيَمِي(دُوَه ثُلُث)لُونُووصول کړي دي.اوس هيڅ شَئ پاته

حاشيه : (الف) حضرت ابن عبّاس وفرمايل کَلاَلَه دى ته وايي چې اَولاَد يې هم نَه وي او وَالِد يې هم نَه وي (ب) ستاځخه خلک پُوښتَنَه کوي الله تعالٰي فَتوٰي وركوي د کَلاَلَه په اړه.که څوک هَلاَک شي او دده هيڅ اَولاَد نَه وي او دده خُور وي نو دهغې لپاره د تَرَکَه نِيمَئ ده.او وُرُور به هم د خُور وَارِث وي که ددې اَولاَد نَه وي .
نَه شو.لِهٰذَا و لُمَسِيَانُ ته هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي .
وجه : په آيت کي دئ چې لُونِي دُوې يا تر دُوُ زيات وي نو هغوئي ته بيا هم دُوې دريمِي (دُوَه ثُلُث)ملاؤيږي. يُوصِيكُمُ اللهُ فِي اَولاَدِكُم لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ فَاِن كُنّ نِسَاءً فَوقَ اِثنَتَينِ فَلَهُنّ ثُلُثَا مَا تَرَکَ وَ اِن كَانَت وَاحِدَةً فَلَهَا اَلنِّصفُ الخ (الف) (آيت ۱۱ سورة النساء ۴)
البته که د لُمَسِيَانُ سره نَارِينَه لُمَسَئ هم موجود وي يا تر دې کښته کَړوَسَئ وي. چې لُونِي دُوَه ثُلُث واخلي بيا چې کُوم يَو ثُلُث پاته شي هغه و لُمَسِيَانُ ته د عَصَبَه په توګه ملاؤ شئ نو لُمَسِيَانُ ته به هم دهغه څخه ملاؤ شي.په دې صورت کي به و نَارِينَه لُمَسِيَانُ ته دُوَه چَندَ او زنانه لُمَسى ته يَوچَندَ ملاؤيږي.او زنانه لُمَسِيَانِ به د نَارِينَه لُمَسَيُو سره عَصَبَه وګرزي .
وجه : په اَثَر کي دئ. عَن خَارِجَةَ بنِ زَيدٍ عَن اَبِيهِ زَيدِبنِ ثَابِتٍ ... وَ اِن لَم يَكُنِ الوَلَدُ ذَكَرًا اَو كَانَتَا اِثنَتَينِ فَاَكثَرَ مِنَ البَنَاتِ فَاِنّهُ لاَ مِيرَاثَ لِبَنَاتِ الاِبنِ مَعَهُنّ اِلاّ اَن يَكُونَ مَعَ بَنَاتِ الاِبنِ ذَكَرٌ هُوَ مِنَ المُتَوَفّي بِمَنزِلَتِهِنّ اَو هُوَ اَطرَافٌ مِّنهُنّ فَيُرَدّ عَلٰي مَن بِمَنزِلَتِهِ وَ مَن فَوقَهُ مِن بَنَاتِ الاَبنَاءِ فَضلاً اِن فَضُلَ فَيُقَسّمُونَهُ لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ فَاِن لَم يُفضَل شَيئٌ فَلاَ شَيئَ لَهُنّ (ب) (سنن للبيهقي.باب ميراث اولاد الابن ج۶ ص۳۷۷ نمبر۱۲۳۱۳) په دې اَثَر کي دئ چې لُونِي دُوې دريمي واخلي نو لُمَسَيُو ته هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي.البته که د دُوئي سره يا تر دُوئي کښته لُمَسَئ موجود وُ هغه به د عَصَبَه په حَيث واخلي.او زَنَانَه لُمَسَيُو ته به هم لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ وركوي.

حاشيه : (الف) الله تاسو ته د اَولاد په اړه وَصِيّت کوي چې دمُذَكّرلپاره د مُؤنّث دُوچَندَ حِصّه ده.که چيري تر دُوُ زيات بنځي وي نو دهغوئي لپاره دُوې دَرَيَمِي حِصّې دي دهغه چې څه يې پرېيَنِي دي.او که يَوَه وي نو دهغې لپاره نِيمَئ حِصّه ده (ب) زيد بن ثابت وفرمايل که نَارِينَه اَولاَد نَه وي او دُوې يا تر دې زِيَاتِ لُونِي وي نو د دُوئي په موجودګئ کي زَنَانَه لُمَسِيَانُ ته ميراث نَه ملاؤيږي.مګر دا چې د زَنَانَه لُمَسِيَانُ سره دهغوئي د درجې برابر نَارِينَه لُمَسَئ موجود وي يا تر دې کښته لُمَسِيَان وجود ولري نو بيا به وَاپَس کيږي.کُوم چې ددغه درجې وي يا تر دې لُوړي زنانه لُمَسِيَانِ وي او مَال زيات شوئ وي بيابه هغه نَرَانُ ته د بنځو د دُوَه چَندَ(لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ) په حَيث تقسيميږي.او که هيڅ شَئ پاته نَه شي نو د دغه زنانه لُمَسَيُو لپاره هيڅ شَئ نشته .

[۳۲۱۵](۱۷) وَ اِذَا اِستَکمَلَ الاَخَوَاتُ لاَبٍ وَ اُمٍّ اَلثُّلُثَینِ سَقَطَطِ الاَخَوَاتُ لاَبٍ اِلاّ اَن یَکُونَ مَعَهُنّ اَخٌ لَهُنّ فَیُعَصِّبَهُنّ .

مسئله به په دَادَوَل وي .

مَیّت ۱۰۰

دُوې لُونِي	لُمَسې	لُمَسَئ
۶۶ . ۶۶	۱۱ . ۱۱	۲۲
		۲۲ .

دلته د سَل څخه دُوې دَرَیَمِي یعني ۶۶ . ۶۶ یې و دُوُ لُونُو ته ورکړي دي.او یوه دریمه یعني ۳۳ . ۳۳ چې پاته شو هغه د لُمَسِي او لُمسي تر مینځ د عَصَبَه په حَیث تقسیم کړل.په دغه وجه په دي کي و نَر لُمَسِي ته دُوَه چَندَ یعني ۲۲ . ۲۲ ورکړل او زَنَانَه لُمَسې ته یَوچَندَ یعني ۱۱ . ۱۱ ورکړل.که چیري نَارِینَه لُمَسَئ موجود نَه وائ نو په دې صورت کي به و زَنَانَه لُمَسې ته هیڅ شَئ نَه وائ ملاؤ شوئ .

[۳۲۱۵](۱۷) که حقیقي خُوَندِ دُوې دَرَیَمِي وصول کړي نو عَلاّتِي خُوَندِ به ساقِط شي مګر دا چې د دُوئي سره د دُوئي وُرُور وي چې دُوئي عَصَبَه وګرزوي .

تشریح : مخته مسئله تېرشوه چې دُوې حقیقي خُوَندِ وي نو هغوئي ته به دُوې دَرَیَمِي حِصّې ملاؤیږي. تر دې زِیَاتَه حِصّه نَه ملاؤیږي اُوس چې دُوې یا تر دې زِیَاتِ خُوَندِ وي هغوئي ته دُوې دَرَیَمِي حِصّي ورکړل شوې.لِهٰذَا پُلاَرشریکِ خُوَندِ چې عَلاّتِي خُوَندِ ورته ویل کیږي هغوئي ته هیڅ شَئ نَه ملاؤیږي.ځکه چې هیڅ شَئ پاته شوې نَه دئ .

وجه : په آیت کي دئ. فَاِن کَانَتَا اِثنَتَینِ فَلَهُمَا اَلثُّلُثَانِ مِمّا تَرَکَ وَ اِن کَا نُوا اِخوَةً رِّجَالاً وَنِسَاءً فَلِلذّکَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَیَینِ (الف) (آیت ۱۷۶ سورة النساء ۴) په دې آیت کي

حاشیه : (الف) که اِنځُونِي دُوې وي نو دهغوئي لپاره دُوې دَرَیَمِي دي.او که وُرُونَه خُوَندِ مُذَکّر او مُؤنّث وي نو د نَر لپاره به دښځي دُوَه چَندَ حِصّه وي .

دئ چې دُوې یا تر دې زِیَاتِ خُوَندِ وي نو هغوئي ته به دُوې دَرَیَمِي حِصّې ملاؤیږي.نو ځکه اُوس پُلاَر شریکِ خُوَندُ ته هیڅ شَئ نَه ملاؤیږي .

البته! که ددې خُوَندُ سره وُرُور موجود وي نو چې حقیقي خُوَندِ خپله حِصّه واخلي چې کُومَه دریمه حِصّه پاته شي هغه به و وُرُور ته د عَصَبَه په حَیث ملاؤیږي.بیا به ددې څخه و عَلاّتِي خُوَندُ ته لِلذّکَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَیَنِ ملاؤ شي.یعني وُرُور ته دُوَه چَندَ او خُور ته یَوچَندَ ملاؤیږي .

وجه : په دې اَثَر کي ددې ثبوت شته.فَاِن کَانُوا بَنُو الأُمّ وَ الاَبِ اِمرَأ تَینِ فَاَکثَرَ مِن ذَالِکَ مِنَ الأُنَاثِ فَیُفرَضُ لَهُنّ الثُّلُثَانِ وَ لاَ مِیرَاثَ مَعَهُنّ لِبَنَاتِ الاَبِ اِلاّ اَن یَکُونَ مَعَهُنّ ذَکَرٌ مِّن اَبٍ فَاِن کَانَ مَعَهُنّ ذَکَرٌ بُدِئَ بِفَرَائِضَ مَن کَانَت لَهُ فَرِیضَةٌ فَاَعطُوهَا. فَاِن فَضُلَ

بَعدَ ذَالِکَ فَضلٌ کَانَ بَینَ بَنِي الاَبِ لِلذّکَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَیَینِ فَاِن لَم یَفضُل شَئٌ فَلاَ شَئَ لَهُم (الف) (سنن للبيهقي.باب ميراث الاخوة والاخوات لأبٍ و أُمٍّ او لأبٍ،ج۶ ص۳۸۱ نمبر۱۲۳۲۶) ددې اَثَر څخه معلوم شوچي حقيقي خُوَندِ دُوې دَرَیَمِي حِصّې واخلي دهغه وروسته چي خَّه پاته شي هغه به و وُرُور ته د عَصَبَه په حَیث ملاؤ شي.ددغه څخه به په پُلاَرشریکِ خُوَندِ یعني عَلاّتِي خُوَندِ اخلي.مسئله به په دَاډَول وي .

مَیّت ۱۰۰

دُوې حقيقي خُوَندِ	عَلاّتِي خُور	عَلاّتِي وُرُور
۶۶ . ۶۶	۱۱ . ۱۱	۲۲
۲۲ .		

حاشیه : (الف) که چیرې حقیقي خُوَندِ دُوې یا زیَاتِ وي نو دهغوئي لپاره دُوې دَرَیَمِي دي.او د دُوئي په موجودګئ کې د پُلاَر شریکُ خُوَندُ لپاره میراث نشته.مګر هغه وخت چي د خُوَندُ سره پُلاَر شریک وُرُور وي.که چیرې پُلاَر شریک وُرُور وي نو تقسیم به شروع کیږي دهغه څخه د چا لپاره چي حِصّې وي.نو دُوئي ته ورکه. که چیرې د دُوئي څخه پاته شي نو د پُلاَر شریک وُرُور او خُور تر مینځ به تقسیم شي.پر دې اُصُول چي د نَر لپاره د ښځي دُوَه چَندَ حِصّه ده.که چیرې هیڅ شَئ پاته نَه شو نو د دُوئي لپاره به هیڅ شَئ نَه وي .

په دې مسئله اَصل مسئله د سَل څخه جوړشوې ده.ددې څخه دُوې دریمِي حِصّې یعني ۶۶ . ۶۶ یې وحقیقي خُوَندُ ته ورکړه.پاته یوه دریمه یعني ۳۳ . ۳۳ یې و پُلاَرشریک وُرُور او پُلاَر شریکَ خُور ته دعَصَبَه په حَیث ورکړل.دهغه څخه دُوَه چَندَ یعني ۲۲ . ۲۲ یې و وُرُور او یَو چَند یعني ۱۱ . ۱۱ یې و خُور ته ورکړل .

﴿... د وَارَثانُ حالاتُ ته یوه کَتَنَه ... ﴾

حِصّه اخستونکي دُوُلَس(۱۲) اِنسَانَان دي.ددې څخه څلور نَرَان دي او اَتَه ښځي دي .

	حِصّې اخستونکي	نَرَان	حِصّې اخستونکي ښځي
(۱)	پُلاَر		(۱) مَینَه
(۲)	نِیکَه		(۲) صُلبِي لُور
(۳)	مُورَنَئ وُرُور		(۳) لُمَسي
(۴)	مېړه		(۴) حقیقي خُور
			(۵) عَلاّتِي خُور
			(۶) اَخیَافِي خُور
			(۷) مُور

(٨) اَنَا

﴿... د نَرَانُ حِصّې ... ﴾

(١) د پُلاَر حالتونه: درې (٣) دي .

حالت	حِصّې کي کُومَه حِصّه ملاؤيږي			حِصّې	دعَصَبَه په حَيث	په کُوم
(١)	صِرف شُپَږمَه ملاؤيږي لُمَسئ وي يا ګډوَسئ وي	٦٦	١٦	×		چې زُوئي وي يا
(٢)	شُپَږمَه حِصّه او دعَصَبَه په حَيث ګډوَسې وي	٦٦	١٦	٣٣	٣٣	چې لُور يا لُمَسې يا
(٣)	صِرف دعَصَبَه په حَيث نَه لُور نَه لُمَسې وي		×		١٠٠	چې نَه زُوئي نَه لُمَسئ

---

(٢) د نِيګَه حالتونه: څلور (٤) دي .

حالت	حِصّې کي کُومَه حِصّه ملاؤيږي			حِصّې	دعَصَبَه په حَيث	په کُوم
(١)	صِرف شُپَږمَه ملاؤيږي لُمَسئ وي يا ګډوَسئ وي	٦٦	١٦	×		چې زُوئي وي يا
(٢)	شُپَږمَه حِصّه او دعَصَبَه په حَيث ګډوَسې وي	٦٦	١٦	٣٣	٣٣	چې لُور يا لُمَسې يا
(٣)	صِرف دعَصَبَه په حَيث تولَه نَه لُور نَه لُمَسې وي	×		١٠٠		چې نَه زُوئي نَه لُمَسئ
(٤)	نِيګَه ساقطيږي چې پُلاَر موجود وي		×		×	

پام لرنه : د حِصّو دغه ترتيب د سِرَاجِي څخه مَأخُوذ دئ.دحِصّو څخه سِهَام مراد دي کُوم چي په قُرآن و حديث کي وهسي يوه حِصّه دَار ته ورکړل شوي دي .

(۳) د مُورَنِي وُرُور حالتونه : درې (۳) دي .

کُومَه حِصّه ملاؤيږي	حِصّې	حِصّې دعَصَبَه په حَيث	په کُوم حالت کي
(۱) شُپَږمَه حِصّه چي يَو وُرُور وي يا يوه خُور وي		۶۶ . ۱۶	×
(۲) دَرَيَمَه حِصّه وي يادُوَه وُرُونَه يا دُوې خُوَندِ وي		۳۳ . ۳۳	× چي وُرُور خُور دواړه
(۳) ساقِط به شي لُمَسَئ يا پُلاَر يا نِيګه وي		×	× زُوئي يا

(۴) د مېړه حالتونه : دُوَه (۲) دي .

کُومَه حِصّه ملاؤيږي	حِصّې	حِصّې دعَصَبَه په حَيث	په کُوم حالت کي
(۱) نِيمَئ به ملاؤ شي زُوئي.لُور.لُمَسَئ.لُمَسي نَه وي .		۵۰	× چي
(۲) څلورمه به ملاؤيږي څخه څوک موجود وي		۲۵	× د زُوئي.لُور.لُمَسَئ.لُمَسي

﴿... د بنځو حِصّې ... ﴾

(۱) د مَيني حالتونه : دُوَه (۲) دي .

کي کُومَه حِصّه ملاؤيږي	حِصّې	حِصّې دعَصَبَه په حَيث	په کُوم حالت
(۱) څلورمه ملاؤيږي يالُمَسَئ.لُمَسي يا ګَروسَئ نَه وي		۲۵	× چي زُوئي يالُور

(٢)	اَتَمّه ملاؤيږي	٥ . ١٢	×	چې زُوئي يالُور. يالُمَسَئ يالُمَسې وي

(٢) د صُلبِي لُور حالتونه : درې (٣) دي .

کي کُومَه حِصّه ملاؤيږي		حِصّې	حِصّې دعَصَبَه په حَيث	په کُوم حالت
(١)	نِيمَئ ملاؤيږي چې صِرف يوه لُور وي		٥٠	×
(٢)	دُوَه ثُلُث ملاؤيږي دُوې زياتِ لُونِي وي	٦٦	٦٦ . ×	دُوې يا تر
(٣)	لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ	×	٣٣ . ٣٣	چې د زُوئي سره وي

پام لرنه : چې يوې مَينې ته څومره حِصّه ملاؤيږي چې څلور مَينې وي هم هغونه ملاؤيږي.او پر څلورو سره به دغه تقسيميږي .

(٣) د لُمَسې حالتونه: شُپَږ (٦) دي .

حالت	کي کُومَه حِصّه ملاؤيږي	حِصّې	حِصّې دعَصَبَه په حَيث	په کُوم
(١)	نِيمَئ ملاؤيږي چې يوه لُمسې وي او لُور نَه وي		٥٠	×
(٢)	دُوې دريمې ملاؤيږي لُمَسِې وي او لُور نَه وي	٦٦ . ٦٦	×	چې دُوې يا زِيَاتِ
(٣)	شُپَږمَه حِصّه ملاؤيږي وي لُمَسې نَه وي	٦٦. ١٦	×	صرف يوه لُور
(٤)	هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي چې دُوې يا زِيَاتِ لُونِي وي	×	×	
(٥)	مَابَقِيَ دعَصَبَه په حَيث د لُمَسې سره لُمَسَئ وي	×	٣٣ . ٣٣	دُوې لُونِي وي
(٦)	هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي چې زُوئي موجود وي	×		×

(۴) د حقيقي خُوَندُ حالتونه: اُوَه (۷) دي .

حالت	کي کُومَه حِصّه ملاؤيږي	حِصّې		حِصّې دعَصَبَه په حَيث	په کُوم
(۱)	نِيمَئ ملاؤيږي چې يوه خُور موجود وي		۵۰		×
(۲)	دُوې دريمي ملاؤيږي زِيَاتِ خُوَندِ موجود وي	۶۶ . ۶۶		×	چې دُوې يا
(۳)	لِلذّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ وُرُور موجود وي	×		۳۳ . ۳۳	چې د خُور سره
(۴)	مَابَقِيَ دريمه دعَصَبَه په حَيث دُوې لُونِې موجود وي	×		۳۳ . ۳۳	چې
(۵)	مَابَقِيَ دريمه دعَصَبَه په حَيث لُمَسي موجود وي	×		۳۳ . ۳۳	چې دُوې يا زِيَاتِ
(۶)	هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي چې زُوئي يا لُمَسَئ موجود وي		×		×
(۷)	هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي چې پُلاَر يا نِيګه موجود وي		×		×

(۵) د مَيرَپِڅُو خُوَندُ حالتونه: درې (۳) دي .

کي کُومَه حِصّه ملاؤيږي	حِصّې		حِصّې دعَصَبَه په حَيث	په کُوم حالت
(۱) شُپږَمَه حِصّه ملاؤيږي يَوَه خُور موجود وه	۶۶ . ۱۶		×	که صِرف
(۲) هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي عَلاّتِي خُور موجود وي		×	×	که حقيقي يا

(۳) په دريمه کي به شِرکَت و تر يَوَه خُور زيات وي	۳۳ . ۳۳	×	که تر يوه وُرُور يا

(۶) د عَلاَتِي خُوَندُ حالتونه: يوولس (۱۱) دي .

حالت	حِصّې کي کُومَه حِصّه ملاؤيږي		حِصّې دعَصَبَه په حَيث	په کُوم
(۱) چي يوه خُور موجود وي	نِيمَئ ملاؤيږي		۵۰	×
(۲) خُوَندِوي او حقيقي خُوَندِ نَه وي	دُوې دريمي ملاؤيږي	۶۶ . ۶۶	×	چي دُوې يا زِيَاتِ
(۳) خُور موجود وي	شُپَږَمَه حِصّه ملاؤيږي	۶۶ . ۱۶	×	چي يَوَه حقيقي
(۴) چي دُوې حقيقي خُوَندِ وي	هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي	×	×	
(۵) علاوه عَلاّتِي وُرُور وي	مَابَقِيَ لِلذّكَرِمِثلُ حَظِّ الأنثَيَين	×		د دُو حقيقي خُوَندُ څخه ۳۳ . ۳۳
(۶) دې زِيَات لُونِي وي	مَابَقِيَ د عَصَبَه په حيث	×		چي دُوې يا تر ۳۳ . ۳۳
(۷) تر دې زِيَاتِ لُمَسِي وي	مَابَقِيَ د عَصَبَه په حيث		×	چي دُوې يا ۳۳ . ۳۳
(۸) چي زُوئي يا لُمَسَئ موجود وي	هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي		×	×
(۹) چي پُلاَر يا نِيکَه موجود وي	هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي		×	×
(۱۰) چي حقيقي وُرُور موجود وي	هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي		×	×
(۱۱) لُور يا لُمَسِي په وجه عَصَبَه وګرزي	هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي	×	×	که حقيقي خُور.د

(۷) د مُور حالتونه اَتَه (۸) دي .

حالت	کي کُومَه حِصّه ملاؤيږي	حِصّي		حِصّي دعَصَبَه په حَيث په کُوم
(۱) چې زُوئي يا لُور وي	شُپږَمَه حِصّه ملاؤيږي	۶۶	۶۶ . ۱۶	×
(۲) کَږوَسَئ يا کَږوَسَې	شُپږَمَه حِصّه ملاؤيږي	۶۶	۱۶ .	× لُمَسَئ يا لُمَسي.
(۳) وُږُونَه يا خُوَندِ وي	شُپږَمَه حِصّه ملاؤيږي	۶۶	۱۶ .	× دُوَه حقيقي
(۴) وُږُونَه يا دُوې خُوَندِوي	شُپږَمَه حِصّه ملاؤيږي	۶۶	۱۶ .	× عَلاَتِي يا اَخيَافِي دُوَه
(۵) دُوَه وُږُونَه يا دُوې خُوَندِ وي	د ټوله مَال دريمه حِصّه	۳۳	۳۳ .	× که زُوئي يا لُمَسَئ يا
(۶) اَخَستَلو وروسته او پُلاَر وي	د ټوله مَال دريمه حِصّه	۳۳	۳۳ .	× که مَينَه وي دهغي د
(۷) اَخَستَلو وروسته او پُلاَر وي	د ټوله مَال دريمه حِصّه	۳۳	۳۳ .	× که مېږه وي دهغه د
(۸) يا مَينَه وي او نِيګه وي	د ټوله مَال دريمه حِصّه	۳۳	۳۳ .	× که مېږه

(۸) د اَنَا (د پُلاَر مُور)حالتونه : دري(۳)دي .

	کي کُومَه حِصّه ملاؤيږي	حِصّي		حِصّي دعَصَبَه په حَيث په کُوم حالت

(١) شُپَږَمَه حِصّه ملاؤيږي ۶۶. ۱۶ دِيري او مُور نَه وي	×		يَوَه د پُلاَر مُور وي يا
(٢) هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي چي مُور وي	×		×
(٣) شُپَږَمَه حِصّه ملاؤيږي ۶۶. ۱۶ نِيكَه(دپُلاَر پُلاَر) وي	×		چي

(٩) د اَنَا(د مُور د مُور) حالتونه : دُوَه(٢)دي .

	كي كُومَه حِصّه ملاؤيږي	حِصّي		حِصّي دعَصَبَه په حَيث په كُوم حالت
(١)	شُپَږَمَه حِصّه ملاؤيږي ۶۶. ۱۶ دِيري او مُور نَه وي		×	يَوَه اَنَا(دمُور مُور) وي يا
(٢)	هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي چي مُور وي		×	×

پام لرنه : قاعده : چي كُوم وخت وُرُور او خُور دواړه حِصّه دَارَه وي نو لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ كَرزي.يعني وُرُور ته دُوَه چَندَ او خُور ته يَوچَندَ ملاؤيږي.هغه كه دمَيّت زُوئي او لُور وي يا لُمَسَئ او لُمَسي وي يا وُرُور او خُور وي.البته دُوئي به په خپل مينځ كي وُرُور او خُور وي .

﴿... بَابُ العَصَبَاتِ ...﴾

﴿... بَابُ العَصَبَاتِ ...﴾

ضروري پام لرنه : عَصَبَاتٌ د عَصَبَةٌ جمع ده.ددې معنْي ده د پُلاَر رِشتَه دَارَان. دغه حِصّه اَخَستُونکي ټوله د پُلاَر رِشتَه دَارَان دي نو حُکه دُوئي ته عَصَبَاتٌ وايي. ثبوت يې په دې حديث کي دئ. (۱) عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ اَلحِقُوا الفَرَائِضَ بِاَهلِهَا. فَمَا تُرِکَتِ الفَرَائِضُ فَلاَولٰي رَجُلٌ ذَکَرٌ (الف) (بخاري شريف.باب ابني عَمّ احدهماخ للاٰمّ والآخر زوج ص۶۷۴۶/ابوداؤدشريف.باب في ميراث العصبة ص۴۵ نمبر۲۸۹۸) په دې حديث کي دئ چې و حِصّه دَارَانُ ته خپلي حِصّې ورکئ بيا چې خَّه پاته شي هغه و نَر عَصَبَه ته ورکئ (۲) په آيت کي هم و دې ته اِشَارَه شوې ده. يُوصِيکُمُ اللهُ فِي اَولاَدِکُم لِلذّکَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ (ب) (آيت ۱۱ سورة النساء ۴) په دې آيت کي د زُوئي لپاره دُوَه چَندَ او د لُور لپاره يَوچَندَ د عَصَبَه په حَيث ده.نوځکه په دې آيت کي و عَصَبَه ته د ورکولو اِشَارَه موجود ده .

﴿... د عَصَبَاتُ اَقسَام ...﴾

عَصَبَات پر څلور قِسم دي (۱) عَصَبَه بِنَفسِهِ (۲) عَصَبَه بِغَيرِهِ (۳) عَصَبَه مَعَ غَيرِهِ (۴) عَصَبَه بِالسّبَب .

(۱) عَصَبَه بِنَفسِهِ : کُوم اِنسَانَان چې په خپله عَصَبَه وي.د بَل چا د جوړولو په وجه عَصَبَه نَه وي ګرزېدلي هغه ته ,,عَصَبَه بِنَفسِهِ,, وايي.په دي کي زُوئي.لُمَسئ. پُلاَر.نِيکَه.وُرُور.وُرَارَه.اَکَا.د اَکَا زُوئي عَصَبَه دئ .

(۲) عَصَبَه بِغَيرِهِ : په خپله خو عَصَبَه نَه وُ لېکن وُرُونُو دئ عَصَبَه وګرزاوئ نوځکه د غَير په وجه عَصَبَه جوړ شو.نوځکه دُوئي ته ,,عَصَبَه بِغَيرِهِ,, وايي.په دي کي لُور

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل حِصّې دهغه و اَخَستُونکُو ته ورکئ او چې حِصّه دَارَان يې پرېږدي نو د نَر عَصَبَاتُ لپاره دئ (ب) الله تاسو ته د اَولاد په اړه وَصِيّت کوي چې د مُذَکّر لپاره د مُؤنّث دُوَه چَندَ حِصّه ده .

[۳۲۱۶](۱) وَ اَقرَبُ العَصَبَاتِ اَلبَنُونَ ثُمّ بَنُوهُم ثُمّ الاَبُ ثُمّ الجَدّ ثُمّ بَنُو الاَبِ وَهُمُ الاِخوَةُ ثُمّ بَنُو الجَدِّ وَ هُمُ الاَعمَامُ ثُمّ بَنُو اَبِ الجَدِّ

د زُوئي سره.لُمَسي د لُمَسِي سره.حقيقي خُور د حقيقي وُرُور سره.عَلاّتِي خُور د عَلاّتِي وُرُور سره عَصَبَه دي.و دې اِنسَانَانُ ته لِلذّکَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ ملاوُيږي. يعني نَر ته دُوَه چَندَ او ښځه ته يَو چَندَ .

(۳) عَصَبَه مَعَ غَيرِهِ دغه ښځي په خپله خو عَصَبَه نَه وې او نَه بَل چا عَصَبَه ګرزولي دي.البته لُور يا لُمَسي خپله حِصّه واخستله او عَصَبَه نَر موجود نَه وُ نو

حقيقي خُور يا عَلاّتِي خُور پاته نِيمَئ مَال يا يوه دَرَيَمَه مَال واخستئ نو دا خو د لُور يا لُمَسي سره عَصَبَه ګرزېدلي ده نو ځکه دې ته ,,عَصَبَه مَعَ غَيرِهِ,, وايي.مثلاً يوه لُور وه او يوه لُمَسې وه.لُور نِيمَئ واخستئ او د دُوَه ثُلُث د پوره کولو لپاره لُمَسې ته شُپَږَمَه ورکړه.پاته يوه دريمه شوه هغه يې و خُور ته دعَصَبَه په حَيث ورکړه.نو ځکه خُور عَصَبَه مَعَ غَيرِهِ شوه .

(۴) عَصَبَه بِالسّبَب : د آزادولو په وجه اَقَا يا سَيّدَه د غُلاَم د مَال وَارِث شول د عَصَبَه په حَيث.دې ته عَصَبَه بِالسّبَب وايي.دُوئي خو دنَسَب په وجه عَصَبَه نَه دي ګرزېدلي بلکه د آزادولوپه وجه عَصَبَه ګرزېدلي دي.دغه دُوَه قِسم اِنسَانَان دي (۱) آزادونکئ آقَا (۲) آزادونکې سَيّدَه. ددې تفصيل وروسته د مَتن ترجمه او شرح ته نَظَر وکئ .

[۳۲۱۶](۱) د عَصَبَاتُ څخه نژدې (۱) زَامَن دي (۲) بيا لُمَسِيَان دي (۳) بيا پُلاَر دئ (۴) بيا نِيګه دئ (۵) بيا دپُلاَر زَامَن هغه وُرُونَه دي (۶) بيا د نِيګه زَامَن هغه اَکَاګَان دي (۷) بيا د نِيګه د پُلاَر زَامَن چې د نِيګه وُرُونَه ورته ويل کيږي .

تشريح : په دې عبارت کې اُوَه قِسم عَصَبَات ذکر کړي دي.ددې مطلب دادئ.چې نِژدې والا عَصَبَه موجود وي نو دهغه څخه وُرُستَنِي عَصَبَه ته هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي.مثلاً زُوئي موجود وي نو لُمَسِي ته نَه ملاؤيږي.او چې لُمَسَئ موجود وي پُلاَر ته نَه ملاؤيږي.او چې پُلاَر موجود وي نِيګه ته نَه ملاؤيږي.او چې نِيګه موجود وي وُرُور ته نَه ملاؤيږي.او چې وُرُور موجود وي اَکَا ته نَه ملاؤيږي.او چې اَکَا موجود وي د نِيګه و وُرُور ته نَه ملاؤيږي .

وجه : (۱) په آيت کي و دې ته اِشَارَه شوې ده. يَستَفتُونَکَ قُلِ اللهُ يُفتِيکُم فِي الکَلاَلَةِ اِن اِمرُؤٌ هَلَکَ لَيسَ لَهُ وَلَدٌ وَلَهُ اُختٌ فَلَهَا نِصفُ مَا تَرَکَ وَ هُوَ يَرِثُهَا اِن لَم يَکُن لَها وَلَدٌ (الف) (آيت ۱۷۶ سورة النّساء ۴) په دې آيت کي دئ چې اَولاَد نَه وي نو بيا خُور ته ملاؤيږي.ددې څخه معلوم شوچې اَولاَد چې نِژدې عَصَبَه دئ موجود وي نو لِيږي عَصَبَه ته نَه ملاؤيږي (۲) دا چې نَر عَصَبَه ته به ورکوي دليل يې دا حديث دئ.عَن اِبنِ عَبّاسٍ عَنِ النّبِيِّ (ﷺ) قَالَ اَلحِقُوا الفَرَائِضَ بِاَهلِهَا. فَمَا تُرِکَتِ الفَرَائِضُ فَلاَولٰي رَجُلٌ ذَکَرٌ (ب) (بخاري شريف.باب ابني عمّ احدهما اخ لِلأُمِّ والآخر زوج ص نمبر۶۷۴۵/ابوداؤدشريف.باب في ميراث العصبة ص۴۵ نمبر۲۸۹۸) ددې حديث څخه معلوم شوچې و اَصحَابِ فَرَائِض ته خپلي خپلي حِصّي ورکړي چې خَه پاته شي هغه به و نَر عَصَبَاتُ ته ملاؤيږي .

په دې عَصَبَاتُ کي (۱) زُوئي د مَيّت جُزء دئ او فَرع ده (۲) لُمَسَئ د جُزء جُزء دئ (۳) پُلاَر د مَيّت اَصل دئ (۴) نِيګه د اَصل اَصل دئ (۵) وُرُور د اَصل يعني دپُلاَر جُزء دئ (۶) اَکَا د اَصل د اَصل جُزء دئ يعني د پُلاَر د پُلاَر زُوئي دئ (۷) او د نِيګه وُرُور د اَصل د اَصل د اَصل جُزء دئ .

وجه : فَتَفسِيرُ اَبِي الزّنَادِ عَلٰي مَعَانِي زَيدِبنِ ثَابِتٍ قَالَ اَلاَخُ لِلاُمِّ وَالاَبِ اَولٰي بِالمِيرَاثِ مِنَ الاَخِ لِلاَبِ.وَالاَخُ لِلاَبِ اَولٰي بِالمِيرَاثِ مِن اِبنِ الاَخِ لِلاَبِ وَالاُمِّ.وَاِبنُ الاَخِ لِلاُمِّ وَالاَبِ اَولٰي مِن اِبنِ الاَخِ لِلاَبِ.وَاِبنُ الاَخِ لِلاَبِ اَولٰي مِن اِبنِ اِبنِ الاَخِ

حاشيه : (الف) ستاځخه خلک پُوښتَنَه کوي الله تعالٰي تاسو ته د ګلاَلَه په اړه فَتوٰي درکوي که څوک هَلاَک شي. او دده هيڅ اَولاَد نَه وي او دده خُور وي نو دهغي لپاره د تَرَګه نِيمَئ ده.وُرُور به هم د خُور وَارِث وي که ددي اَولاَد نَه وي (ب) حضور(ﷺ)وفرمايل وحِصّه دَارَانُ ته حِصّي ورکئ او چي څه پرپرِ دي نو د نَر لپاره دي .

[٣٢١٧](٢) وَ اِذَا اِستَوْي بَنُو اَبٍ فِي دَرَجَةٍ فَاَولٰهُم مَن كَانَ مِن اَبٍ وَ اُمٍّ .

لِلاَبِ وَالاُمِّ الخ (سنن للبيهقي.باب ترتيب العصبات.ج٦ ص٣٩١ نمبر١٢٣٧٣) په دي اَثَر کي د عَصَبَه ترتيب بيان کړئ دئ .

[٣٢١٧](٢) چي د پُلاَر زَامَن په درجه کي سره برابر وي نو زِيَات حَقدَارَه هغه دئ چي د مُور او پُلاَر دواړو لخوا څخه وي .

تشريح : د وُرُونُو او خُوَندُ درِي قِسمُونَه دي (١) وُرُونَه او خُوَندِ په مُور او پُلاَر دواړو سره شريکان وي. ودي ته اَعيَانُ بَنِي الاُمِّ ويل کيږي.په پَښتُو ژَبَه کښي حقيقي وُرُونَه.حقيقي خُوَندِ ورته ويل کيږي.دُوئي تر نورو وُرُونُو او خُوَندُ زيات حَقدَارَه دي (٢) صِرف پُلاَر د دواړو دا يَو وي.او مُور يې جَلاَ جَلاَ وي چي عَلاّتِي وُرُونَه او عَلاّتِي خُوَندِ ورته ويل کيږي.په پَښتو مَيرَيِځ وُرُور او مَيرَيِځه خُور ورته وايي (٣) صِرف مُور ددواړو دا يَوَه وي چي اَخيَافِي وُرُور او اَخيَافِي خُور ورته وايي په پښتو مُورَنَئ وُرُور يا مُورَنِي خُور ورته وايي .

حقيقي وُرُونَه.يا حقيقي خُوَندِ د مَيرَيِځ وُرُونُو او مَيرَيَځوخُوَندُ او مُورَنِي وُرُونُو او مُورَني خُوَندُ څخه زيات حَقدَارَه دي.يعني که حقيقي وُرُور يا حقيقي خُور موجود وي نو عَلاّتِي او اَخيَافِي وُرُونُو او خُوَندُ ته هيڅ نَه ملاؤيږي.دليل يې دا حديث دئ. عَن عَلِيٍّ اَنّهُ قَالَ ... وَ اَنّ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) قَضٰي بِالدّينِ قَبلَ الوَصِيّةِ وَ اَنّ اَعيَانَ بَنِي الاُمِّ يَرِثُونَ دُونَ بَنِي العَلاّتِ. اَلرّجُلُ يَرِثُ اَخَاهُ لاَبِيهِ وَ اُمِّهِ دُونَ اَخِيهِ لاَبِيهِ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في ميراث الاخوة من الاب والامّ ص٢٩نمبر٢٠٩٤) په دي حديث کي دئ چي حقيقي وُرُور او حقيقي خُور تر ميريځ او مُورني وُرُور او خُور

حاشيه : (الف) حضرت علي وفرمايل ... حضور (ﷺ) د قرض فيصله د وَصِيّت څخه مخکي وکړه.او دا چي حقيقي وُرُور او خُور به تر مَيرَيِځ (او مورنِي) وُرُور او خُور مخکي وَارِثَان وي.اِنسَان به د حقيقي وُرُور وَارِث وي تر مَيرَيِځ (او مُورَنِي) وُرُور څخه مخکي .

[٣٢١٨](٣) وَ الاِبنُ وَ اِبنُ الاِبنِ وَ الاِخوَةُ يُقَاسِمُونَ اَخَوَاتَهُم لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الاُنثَيَينِ .


مُقَدّم دي.دغه قاعده په وُرَارَه.اَګا او د اَګا په زُوئي کي هم چليږي.يعني حقيقي وُرَارَه به تر مَيرَيځ او مُورَنِي وُرَارَه ډېرحَقدَارَه وي.دغه رنګه حقيقي اَګا به تر مَيرَيځ او مُورَنِي اَګا حقدٍاره وي.او د حقيقي اَګا زَامَن به د مَيرَيځ او مُورَنِي اَګا تر زَامَنُ زيات حَقدَارَه وي.دغه رنګه حقيقي وُرُونَه.خُوَندِ به تر مَيرَيځ او مُورَنِي وُرُونُو.خُوَندُ زيات حَقدَارَه وي.او مُورَنَئ اَګا تر مَيرَيځ اَګا مُقَدّم او حقداره دئ .

لغت : اِستَوْي : چي په درجه کي سره برابر وي. اَولُي : مُقَدّم به وي.حَقدَارَه به وي .

[۳۲۱۸](۳) زُوئي او لُمَسَئ او وُرُور به خپلي خُوَندِ تقسيم کړي د نَر لپاره دښځي د دُوُ حِصّو برابر .

تشريح : دغه څلور قِسمَ اِنسَانَان دَادَوَل دي چي ښځه د نَر سره د عَصَبَه په حَيث وَارِثَه شي نو نَر ته دُوَه چَندَ او ښځي ته يَو چَندَ ملاؤيږي (۱) چي د مَيّت زُوئي او لُور د مَيّت وَارِثَان شي نو چي نور اَصحَابِ فَرَائِض خپلي خپلي حِصّې واخلي دهغه وروسته به زُوئي ته دُوَه چَندَ او لُور ته يَوچَندَ ملاؤيږي.اودغه دواړه زُوئي اولُور په خپل مينځ کي وُرُور او خُور دي (۲) چي د مَيّت لُمَسَئ او لُمَسې د مَيّت وَارِثَان شي نو چي کله نُور اَصحَابِ فَرَائِض خپلي خپلي حِصّې واخلي چي څه پاته شي په هغه کي به ولُمَسِي ته دُوَه چَندَ او لُمَسې ته يَوچَندَ ملاؤيږي.او دُوئي دواړه په خپل مينځ کي وُرُور اوخُور دي .

وجه : په دې آيت کي ددې ثبوت شته.يُوصِيكُمُ اللهُ فِي اَولاَدِكُم لِلذّكَرِ مِثلُ حِظِّ الأُنثَيَينِ (آيت ۱۱ سورة النساء ۴) په دې آيت کي د اَولاَد څخه مُرَاد زُوَئي لُور.لُمَسَئ لُمَسې. ګروَسَئ ګروَسي ده.نوځکه دغه اِنسَانَان چي هر وخت نَر او ښځه دواړه وَارِثَان شي نو نَر ته به دهغه څخه دُوَه چَندَ او ښځه ته به يَوچَندَ ملاؤيږي.مسئله به په دَادَوَل وي .



په دغه مَذکُوره مسئله کي د سَل څخه اَتَمّه حِصّه و مَينَه ته ورکړه چي ۵ . ۱۲ جوړيږي.او ۵ . ۸۷ پاته شو دهغه څخه يوه دريمه ولُور ته ۱۶ . ۲۹ نَه ويشت او شُپَاړَس پَيسي يي ورکړي.اوددې دُوې دَرَيَمي يعني ۳۳ . ۵۸ اَتَه پنځوس دُرُدبرش پَيسې يي و زُوئي ته ورکړي. او د لُمَسِي او لُمَسې حِسَاب هم دغه رنګه جوړيږي .

(۳) چې د مَيّت حقيقي وُرُور او خُور وَارِثَان شي نو چې حِصّه دَارَان خپلي خپلي حِصّې واخلي چې خَه پاته شي دهغه څخه به وُرُور ته دُوَه چَندَ او خُور ته يَوچَندَ ملاؤيږي دُوئي دواړه په خپل مينځ کي وُرُور او خُور شول .
(۴) چې د مَيّت مَيرَيځ وُرُور او مَيرَيځه خُور وَارِثَان شي نو وُرُور ته به دُوَه چَندَ او خُور ته به يَوچَندَ ملاؤ شي.او دُوئي دواړه په خپل مينځ کي وُرُور او خُور دي .
وجه : ددې دواړومسئلو دليل په دې آيت کي موجود دئ. وَ اِن كَانُوا اِخوَةً رِّجَالاً وَ نِسَاءً فَلِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ (الف) (آيت ۱۷۶ سورة النساء ۴) په دې آيت کي دئ چې وُرُور او خُور دواړه موجود وي نووُرُور ته دُوَه چَندَ او خُور ته يَوچَندَ ملاؤيږي.
مسئله به په دَادِوَل وي .

مَيّت ۱۰۰

مَينَه	حقيقي وُرُور	حقيقي خُور
۲۵	مُورنَئ وُرُور	مُورنې خُور
	۵۰	۷۵

۲۵

حاشيه : (الف) که وُرُونَه او خُوَندِ مُذَكّر او مُؤنّث وي نو مُذَكّر ته به د مُؤنّث دُوَه چَندَ ملاؤيږي .

[۳۲۱۹](۴) وَ مَن عَدَاهُم مِنَ العَصَبَاتِ يَنفَرِدُ بِالمِيرَاثِ ذُكُورُهُم دُونَ أُنَاثِهُم .

په دې مسئله کي اَولاَد نشته نو ځکه مَينَه ته دسَل څخه څلورمه يعني ۲۵ ورکړل پاته ۷۵ شو. دهغه څخه وُرُور ته دُوَه چَندَ يعني ۵۰ او خُور ته يَوچَندَ يعني ۲۵ ورکړل .
اصول : (۱) چې حِصّه اخستونکي په خپل مينځ کي وُرُور او خُور وي نو لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَين ګرزي.يعني وُرُور ته دُوَه چَندَ او خُور ته يَوچَندَ ملاؤيږي (۲) دغه ښځي عَصَبَه بِغَيرِه شوې .
[۳۲۱۹](۴) ددې څخه علاوه عَصَبَات به په ميراث اَخَستلُو کي نَر يَوَاځِي وي ښځي به نَه وي .
تشريح : د زُوئي.لُمَسَئ.حقيقي وُرُور اومَيرَيځ وُرُور څخه علاوه چې څومره عَصَبَات دي دهغوئي و نَر ته د عَصَبَه په حَيث ملاؤيږي (۱) دهغوئي سره چې کُومِي ښځي دي هغوئي ته هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي.مثلاً پُلاَر ته د زُوئي د مَال څخه د عَصَبَه په حَيث ملاؤيږي لېکن مُورته دعَصَبَه په حَيث نَه ملاؤيږي.او نَه دپُلاَر و خُور (تُرُوري) ته د عَصَبَه په حَيث ملاؤيږي (۲) نِيګه ته د لُمَسِي د مَال څخه دعَصَبَه په حَيث ملاؤيږي لېکن اَنَا ته يا د اَنَا و خُور ته دعَصَبَه په حَيث نَه ملاؤيږي (۳) وُرَارَه ته د اَکَا د مَال

څخه د عَصَبَه په حَيث ملاؤيږي لېکن دده و خُور يعني وُرِېرَه ته د اَګا د مَال څخه د عَصَبَه په حَيث نَه ملاؤيږي (۴) اَګا ته د وُرَارَه دمَال څخه د عَصَبَه په حَيث ملاؤيږي.لېکن دده و مَينَه يا دده و خُور ته چي دمَيّت تُرِېرِي ده هغې ته دعَصَبَه په حَيث نَه ملاؤيږي (۵) د نِيګه و وُرُور ته د عَصَبَه په حَيث ملاؤيږي لېکن دده و خُور ته ګواکه اَنَا ته د عَصَبَه په حَيث نَه ملاؤيږي.خُلاَصَه دا شوه چي پُلاَر.نِيګه.وُرَارَه. اَګا او د نِيګه وُرُور چي دعَصَبَه په حَيث څَه وَاخلِي نو د دُوئي و ښځو ته يعني د هر يَوَه و خُوَندُ(خُوِيندُ) ته دعَصَبَه په حَيث نَه ملاؤيږي .

[۳۲۲۰](۵) وَ اِذَا لَم يَكُن عَصَبَةٌ مِّنَ النّسَبِ فَالعَصَبَةُ هُوَ المَولْي المُعتِقُ [۳۲۲۱](۶) ثُمّ الاَقرَبُ فَالاَقرَبُ مِن عَصَبَةِ المَولْي .

لغت : عَدَاهُم : د دُوئي څخه عَلاَوَه .

[۳۲۲۰](۵) که د مَيّت نَسَبِي عَصَبَه نَه وي نو آزادونکئ آقَا عَصَبَه ګرزي .

تشريح : په دې عِبَارَت کي د عَصَبَه بِالسّبَب تذکره شوې ده.يعني که نَسَبِي عَصَبَه موجود نَه وي او مَيّت آزادشوې غُلاَم وُ نو دده آقَا کُوم چي دئ يي آزاد کړئ دئ هغه به د آزادولو په وجه عَصَبَه شي.او ټول مَال به دئ د پُلاَر په حَيث واخلي. آزادونکئ که نَر آقَا وي که ښځه سَيّدَه وي .

وجه : په حديث کي دئ. عَن عَائِشَةَ قَالَت اِشتَرَيتُ بَرِيرَةَ فَقَالَ النّبِيّ (ﷺ) اِشتَرِيهَا فَاِنّ الوَلاَءَ لِمَن اَعتَقَ (الف) (بخاري شريف.باب الولاء لمن اعتق وميراث اللّقيط، ص۹۹۹،نمبر۶۷۵۱) په دې حديث کي دئ چي کُوم چا آزاد کړئ دئ هغه ته به د غُلاَم مَال د عَصَبَه په حَيث ملاؤ شي .

[۳۲۲۱](۶) بيا د آقَا د عَصَبَاتُ څخه چي تر ټول زِيَات نِژدې وي .

تشريح : د آزاد کړي غُلاَم په عَصَبَاتُ کي وښځه ته حِصّه نَه ملاؤيږي.البته! که ښځي آزاد کړئ نو هغه وَلاَء به وښځه ته ملاؤ شي.لېکن مثلاً پُلاَر غُلاَم آزاد کړئ نو د غُلاَم وَلاَء به د آقَا و زُوئي ته ملاؤيږي وښځه ته نَه ملاؤيږي.او دا هم چي کُوم نَر د مَيّت په نِژدې عَصَبَاتُ کي دئ هغوئي ته به تر ټولو مخکي ملاؤيږي.که هغه نَه وي نو دهغه څخه وُرُستَنِي ته به ملاؤيږي.البته! که وَلاَء په وِرَاثَت کي راغله نو د وِرَاثَت په اِعتِبَار سره ښځه ته ملاؤبدلائي شي .

وجه : (۱) په اَثَر ي راغلي دي. عَن عَلِيّ وَعَبدِاللهِ وَ زَيدِ بنِ ثَابِتٍ اَنّهُم كَانُوا يَجعَلُونَ الوَلاَءَ لِلكِبرِ مِنَ العَصَبَةِ وَ لاَيَرِثُونَ النِّسَاءَ اِلاّ مَا اَعتَقنَ اَو اَعتَقَ مَن اَعتَقنَ

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل مينځه رَانِيسَه وَلاَء د آزادونکي لپاره ده .

(الف) په بَل روايت کي راغلي دي. كَانَ عُمَرُ وَعَلِيّ وَ زَيدُبنِ ثَابِتٍ لاَيُورِثُونَ النِّسَاءَ مِنَ الوَلاَءِ اِلاّ مَا اَعتَقنَ (ب) (سنن للبيهقي.باب لاترث النساء الولاء اِلاّ من اعتقن اواعتق من اعتقن،ج۱۰،ص۵۱۵،نمبر۲۱۵۱۲/۲۱۵۱۱/ مصنّف ابن ابي شيبة ۹۷ فيمن ترث النساء من الولاء وماهو؟

ج۶،ص۲۹۲،نمبر۳۱۴۹۵) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې ښځه د عَصَبَه په حَيث د بَل چا د آزاد کړي غُلاَم وَارِثَه نَه شي جوړېدلائي. او د تېرشوي اَثَر څخه دا هم معلوم شو چې عَصَبَه به هم په ترتيب سره وي.ځکه چې په اَثَر کې د ,,يَجعَلُونَ الوَلاَءَ لِلكِبرِ مِنَ العَصَبَةِ,, لفظونه راغلي دي.ددې مطلب دا شو چې کُوم مُقَدّم وي هغه ته به اَوّل ملاؤيږي.که هغه نَه وي نو وُرُستَنِي ته به ملاؤيږي (۲) په خپله آقا د فَرض په حَيثِيّت وَارِث نَه دئ جوړ شوئ بلکه د سَبَب په حَيث عَصَبَه ګرزېدلئ دئ او وَارِث جوړ شوئ دئ نو ځکه وُرُستَنِي نَرَان به هم د عَصَبَه په حَيثِيّت وَارِثَان وي .

حاشيه : (الف) حضرت علي حضرت عبدالله او زَيد بن ثابت د عَصَبَه څخه د لُوئي(مَشَر)لپاره وَلاَء ګرزوله.او ښځې د وَلاَء وَارِثَانِ نَه شي کېدلائي مګر هغه غُلاَم چې په خپله آزاد کړئ وي يا د دُوئي آزاد کړي غُلاَم آزاد کړئ وي ددغه وَلاَء به ښځې وَارِثَان وي (ب) حضرت عمر حضرت علي او زيد بن ثابت ښځې د وَلاَء وَارِثَانِ نَه ګرزولې مګر چې په خپله يې آزاد کړئ وي نو دهغه د وَلاَء به وَارِثَانِ وي .

﴿... د عَصَبَاتُ تعداد ته يوه ګټَنَه ... ﴾

عَصَبَه بِنَفسِهِ	عَصَبَه بِنَفسِهِ حِصّي			حِصّي
(۱) بيا حقيقي اَکَا	زُوئي ×		×	(۱۰)
(۲) بيا عَلاّتِي اَکَا	بيا اُمَسَئ ×		×	(۱۱)
(۳) بيا د حقيقي اَکَا زُوئي	بيا ګرَوَسَئ ×		×	(۱۲)
(۴) بيا دعَلاّتِي اَکَا زُوئي	بيا پُلاَر ×		×	(۱۳)


(۵) بیا د پُلاَر حقیقي اَکَا	بیا نِیګه ×	×	(۱۴)
(۶) بیا د پُلاَر عَلاّتِي اَکَا	بیاحقیقي وُرُور ×	×	(۱۵)
(۷) بیا دپُلاَر دحقیقي اَکَا زُوئي	بیا عَلاّتِي وُرُور ×	×	(۱۶)
(۸) بیا دپُلاَر د عَلاّتِي اَکَا زُوئي	بیا حقیقي وُرَارَه ×	×	(۱۷)
(۹) بیا د نِیګه اَکَا	بیا عَلاّتِي وُرَارَه ×	×	(۱۸)

پام لرنه : په دې نَقشَه کې د عَصبَاتُ ترتیب بیان کړئ دئ .

عَصبَه بِغَیرِهِ	عَصبَه بِغَیرِهِ حِصّي				حِصّي
(۱) مَیرَیځه وُرېرَه	لُور ×	چې زُوئي ورسره وي	۳۳ . ۳۳		(۶)
(۲) عَمّه(تُربِري)	لُمَسي ×	چې لُمَسئ ورسره وي	۳۳ . ۳۳		(۷)
(۳) مَیرَیځه عَمّه	خُور ×	چې وُرُور ورسره وي	۳۳ . ۳۳		(۸)
(۴) د اَکَا لُور	مَیرَیځه خُور ×	چې وُرُور ورسره وي	۳۳ . ۳۳		(۹)
(۵) د مَیرَیځ اَکَا لُور	وُرېرَه ×		×		(۱۰)

عَصبَه مَعَ غَیرِهِ (دا خُوَیندِ دي)	عَصبَه مَعَ غَیرِهِ		(دا خُوَیندِ دي)
(۱) دلُورد اخستلو وروسته،حقیقي خور ته ملاوَیږي		(۳)	دلُمَسي داخستلو وروسته،اَخیَافِي خُور ته ملاوَیږي
(۲) دلُورد اخستلو وروسته،عَلاّتِي خُور ته ملاوَیږي		(۴)	دلُمَسي داخستلو وروسته،عَلاّتِي خُور ته ملاوَیږي
د آزادولو په وجه عَصبَه	د آزادولو		په وجه عَصبَه

(١) آزادونکئ آقَا (٢)
آزادونکي سَيّدَه



﴿... بَابُ الحُجبِ ...﴾

[٣٢٢٢](١) وَتَحجُبُ الأُمّ مِنَ الثّلُثِ اِلْي السّدُسِ بِالوَلَدِ اَو وَلَدِ الاِبنِ اَو اَخَوَينِ .

﴿... بَابُ الحُجبِ ...﴾

ضروري پام لرنه : د حُجبٌ معنْي ده مَنعَ کول.په دې باب کي به دا بيان کيږي چي مثلاً اولاد موجود نَه وي نو مُور ته دَرَيَمَه ملاؤبدل.لېکن اَولاَد مُور د دريمِي څخه منع کړه او شُپَږَمَه يي ورته ورکړه.نو ګواکه د اَولاَد په وجه مُور مَحجُوب شوه.دا حُجبِ نُقصَان شو.ځکه چي د اَولاَد په وجه د دَرَيَمِي څخه شُپَږَمَه ملاؤ شوه.او که چيري يَوَه لُور موجود واىَ نو لُمَسي ته شُپَږَمَه ملاؤبدَلَه.لېکن دُوې لُونِي وي نو لُمَسي ته هيڅ شَىَ نَه ملاؤيږي نو د دُوُ لُونُو په وجه لُمَسي مَحرُوم او مَحجُوب شوه نو دا حُجبِ حِرمَان دىَ .

وجه : (١) د حُجبِ نُقصَان دليل دا آيت دىَ.وَ لَكُم نِصفُ مَا تَرَکَ اَزوَاجُكُم اِن لَم يَكُن لَهُنّ وَلَدٌ فَاِن كَانَ لَهُنّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرّ بُعُ مِمّا تَرَكنَ (الف) (آيت ١٢ سورة النّساء ٤) په دې آيت کي چي اَولاَد نَه وي نو مېړه ته نِيمَىَ ورکړې ده.او چي اَولاَد وي نو هغه مېړه ته نُقصَان ورساوىَ د نِيمَىَ څخه څلورمي حِصّې ته رَاوَستَىَ.نو دا حُجبِ نُقصَان شو (٢)

او د حُجبِ حِرمَان دليل دا حديث دئ. عَن اِبنِ بُرِيدَةَ عَن اَبِيهِ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) جَعَلَ لِلجَدّةِ اَلسّدُسُ اِذَا لَم يَكُن دُونَهَا اُمّ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في الجدّة ص۴۵ نمبر۲۸۹۵) په دې حديث کې دئ چې مُور نَه وي نو اَنَا ته شُپَږَمَه حِصّه ملاؤيږي.مطلب دا شو چې مُور موجود وي نو اَنَا مَحرُوم او مَحجُوب ګرزي.نو دا کې حُجبِ حِرمَان شو .

[۳۲۲۲](۱) مُور محجوب ګرزي د دَرَيَمِي څخه شُپَږَمِي ته د زُوئي يا لُمَسِي يا د دُوُ وُرُونُو د موجودګئ په وجه .

حاشيه : (الف) چې څَه ستاسو پې پې ګانُ پرېښِي وي دهغه نِيمَئ به وي که د دُوئي اَولاَد نه وي.او که د دُوئي اَولاَد وي نو ستاسو لپاره د تَرَکَي څلورمه ده (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل د اَنَا لپاره شُپَږَمَه ده که مُور نَه وه .

[۳۲۲۳](۲) وَالفَاضِلُ عَن فَرضِ البَنَاتِ لِبَنِي الاِبنِ وَ اَخَوَاتِهِم لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الاُنثَيَينِ .

تشريح : که زُوئي.لُمَسَئ او دُوَه وُرُونَه موجودنَه وي نو مُور ته دَرَيَمَه ملاؤيږي.او که ددې څخه هسي يَو موجود وي نو د دَرَيَمِي څخه به کَمَه شي شُپَږَمَه حِصّه به ملاؤ شي.دا حُجبِ نُقصَان شو .

وجه : په دې آيت کې ددې ثبوت شته. وَ لاَبَوَيهِ لِكُلّ وَاحِدٍ مّنهُمَا اَلسّدُسُ مِمّا تَرَکَ اِن كَانَ لَهُ وَلَدٌ فَاِن لَم يَكُن لَهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ اَبَوَاهُ فَلاُمّهِ الثّلُثُ فَاِن كَانَ لَهُ اِخوَةٌ فَلاُمّهِ السّدُسُ (الف) (آيت ۱۱ سورة النّساء ۴) په دې آيت کې دئ چې اَولاَد نَه وي په دي کې لُمَسَئ هم شَامِل دئ نو دَرَيَمَه حِصّه ملاؤيږي. او که اَولاَد وي نو د دَرَيَمِي څخه به کَمّه شي شُپَږَمَه حِصّه به ملاؤ شي.دغه رنګه که دُوَه وُرُونَه نه وي نو دَرَيَمَه ملاؤيږي.او که دُوَه وُرُونَه وي نو د دَرَيَمِي څخه به کَمّه شي شُپَږَمَه به ملاؤ شي. اِخوَةٌ د اَخٌ جمع ده دُوَه وُرُونَه. مسئله به په دَادَوَل وي .

مَيّت ۱۰۰

مُور	دُوَه وُرُونَه
۶۶ . ۱۶	۳۳ . ۸۳

په دې مسئله کې مُور ته شُپَږَمَه حِصّه يعني د سَل څخه به ۶۶ . ۱۶ ملاؤ شي او پاته ۳۳ . ۸۳ به دُوُ وُرُونُو ته ملاؤ شي .

[۳۲۲۳](۲) او د لُونُو د اَخَستَلُو څخه چې څَه پاته شي هغه د لُمَسِي او دهغه د خُوَندُ لپاره دي نَر ته به تر بښه دُوَه چَند ملاؤيږي .

حاشيه : (الف) د مُور او پُلاَر څخه د هر يوه لپاره شُپَږَمَه حِصّه ده په تَرَکَه کې که چيري دده اَولاَد وي.که چيري دده اَولاَد نَه وي او دده مُور او پُلاَر وَارثَان وي.نو دده د مُور لپاره دريمه ده.او که چيري دده ګَن شمېر وُرُونَه وي نو دده د مُور لپاره شُپَږَمَه حِصّه ده .

تشريح : چي دُوې يا تر دې زِيَاتِ لُونِي وي نو هغوئي ته دُوې دَرَيَمِي ملاؤيږي. پاته يوه دريمه و لُمَسِيَانُ او لُمَسيُو ته د عَصَبَه په حَيث ملاؤيږي.په دغه يوه دَرَيَمَه کي به و نَر ته تر ښځه دُوَه چَندَ ملاؤيږي.که چيري لُونِي نَه وائي نو ټوله مَال به لُمَسِيَانُ او لُمَسيُو ته ملاؤ شوئ وائي.لېکن د لُونُو په وجه و لُمَسِيَانُ او لُمَسيُو ته حُجبِ نُقصَان وشو.چي اُوس د دُوئي ټولو تر مينځ صِرف يوه دَرَيَمَه تقسيم شوه .

وجه : په اَثَر کي تېرشوي دي. عَن خَارِجَةَ بِنِ زَيدٍ عَن اَبِيهِ زَيدِبِنِ ثَابِتٍ ... وَ اِن لَم يَكُنِ الوَلَدُ ذَكَرًا اَو كَانَتَا اِثنَتَينِ فَاَكثَرَ مِنَ البَنَاتِ فَاِنّهُ لاَ مِيرَاثَ لِبَنَاتِ الاِبنِ مَعَهُنّ اِلاّ اَن يَكُونَ مَعَ بَنَاتِ الاِبنِ ذَكَرٌ هُوَ مِنَ المُتَوَفّي بِمَنزِلَتِهِنّ اَو هُوَ اَطرَافٌ مِّنهُنّ فَيُرَدّ عَلَي مَن بِمَنزِلَتِهِ وَ مَن فَوقَهُ مِن بَنَاتِ الاَبنَاءِ فَضلاً اِن فَضُلَ فَيُقَسّمُونَهُ لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ فَاِن لَم يُفضَل شَيئٌ فَلاَ شَيئَ لَهُنّ (الف) (سنن للبيهقي.باب ميراث اولاد الابن ج۶ ص۳۷۷ نمبر۱۲۳۱۳) په دې اَثَر کي دئ چي د لُونُو څخه څَه پاته شي هغه به و لُمَسِي او لُمَسي ته و نَر ته د ښځي دُوَه چَندَ ملاؤيږي.مسئله به په دَاوَل وي .

مَيّت

دُوې لُونِي	لُمَسَئ	لُمسي
۶۶ . ۶۶		۳۳ .۳۳
	۲۲	۲۲ .
		۱۱ . ۱۱

په دې مسئله کي لُونُوته دُوَه ثُلُث يعني د سَل څخه ۶۶ . ۶۶ ورکړل.او يَوثُلُث ۳۳.۳۳ د لُمَسِي اولُمَسي ترمينځ تقسيم شولُمَسِي ته دُوَه چَندَ ۲۲ . ۲۲ لُمَسي ته يَوچَندَ ۱۱ . ۱۱ ملاؤ شو .

حاشيه : (الف) زيد بن ثابت وفرمايل كه نَارِينَه اَولاَد نَه وي او دُوې يا تر دې زِيَاتِ لُونِي وي نو د دُوئي په موجودګئ کي زَنَانَه لُمَسِيَانُ ته ميراث نَه ملاؤيږي.مګر دا چي د زَنَانَه لُمَسيُو سره دهغوئي د درجي برابر د مَيّت نَارِينَه لُمَسَئ موجود وي يا تر دې کښته لُمَسِيَان وجود ولري نو بيا به وَاپَس کيږي.کُوم چي ددغه درجي وي يا تر دې لُوَړي زنانه لُمَسِيَانِ وي او مَال زيات شوئ وي بيابه هغه نَرَانُ ته د ښځو د دُوَه چَندَ(لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ) په حَيث تقسيميږي.او که هيڅ شَئ پاته نَه شي نو د دغه زنانه لُمَسيُو لپاره هيڅ شَئ نشته .

[۳۲۲۴](۳) وَالفَاضِلُ عَن فَرضِ الأُختَينِ مِنَ الاَبِ وَ الأُمّ لِلاِخوَةِ وَ الاَخَوَاتِ مِنَ الاَبِ لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ .

[۳۲۲۴](۳) او دحقيقي خُوَندُ دحِصّې څخه چي څَه پاته شي هغه د مَيرَيخُو وُرُونُو او خُوَندُ دي.د نَر لپاره دښځي دُوَه چَندَ .

تشريح : چي دُوې حقيقي خُوَندِ وي نو هغوئي ته دُوې دَرَيَمِي ملاؤيږي.او يوه دَرَيَمَه به پاته شي هغه به د عَلاّتِي وُرُور او خُور لپاره وي.په دي کي به د وُرُور لپاره دُوَه چَندَ او د خُور لپاره يَو چَندَ حِصّه وي .

وجه : (۱) په اَثَر کي راغلي دي. فَتَفسِيرُ اَبِي الزّنَادِ عَلْي مَعَانِي زَيدِبنِ ثَابِتٍ ... فَاِن كَانَ بَنُو الأُمّ وَ الاَبِ اِمرَأ تَينِ فَاَكثَرَ مِن ذَالِكَ مِنَ الأُنَاثِ فَيُفرَضُ لَهُنّ الثّلُثَانِ وَ لاَ مِيرَاثَ مَعَهُنّ لِبَنَاتِ الاَبِ اِلاّ اَن يَكُونَ مَعَهُنّ ذَكَرٌ مّن اَبٍ. فَاِن كَانَ مَعَهُنّ ذَكَرٌ بُدِئَ بِفَرَائِضَ مَن كَانَت لَهُ فَرِيضَةٌ فَاَعطُوهَا فَاِن فَضُلَ بَعدَ ذَالِكَ فَضلٌ كَانَ بَينَ بَنِي الاَبِ لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ فَاِن لَم يَفضُلَ شَئٌ فَلاَ شَئَ لَهُم (الف) (سنن للبيهقي.باب ميراث الاخوة والاخوات لابٍ واُمٍّ اَو لاَبٍ،ج۶،ص۳۸۱،نمبر۱۲۳۲۶) ددې اَثَرخخه معلوم شوچي دُوې حقيقي خُوَندِ خپله حِصّه واخلي دهغه بَعد چي خَه پاته شي هغه به د مَيرَېځ وُرُونُو او خُوَندُ تر مينځ تقسيميږي.په دا دَوَل چي نَر ته به د بنځي دُوَه چَندَ ملاؤيږي (۲) په آيت کي و دي ته اِشَارَه شوې ده. فَاِن كَانَتَا اِثنَتَينِ فَلَهُمَا الثّلُثَانِ مِمّا تَرَكَ وَ اِن كَا نُوا اِخوَةً رِجَالاً وَ نِسَاءً فَلِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ (آيت ۱۷۶ سورة النساء ۴) په دې آيت کي دئ چي وُرُور او خُور دواړه وي نو نَر ته به د بنځي دُوَه

حاشيه : (الف) حضرت زيدبن ثابت وفرمايل که حقيقي خُوَندِ دُوې وي يا تر دې زِيَاتِ وي نو د دُوئي لپاره به دُوې دَرَيَمِي حِصّي مُتَعَيّنِ وي.او د دُوئي په موجودګئ کي ومَيرَېځه خُور ته مِيرَاث نَه ملاؤيږي مګر هغه وخت چي ددې سره مَيرَېځ وُرُور موجود شي نو و حِصّه دَارَانُ ته به اَوّل حِصّي ورکول کيږي.که چيري دُوئي خْخه خَه پاته شي نو دغه پاته به و مَيرَېځ وُرُونُو او خُوَندُ ته ملاؤيږي.پر هغه اُصُول چي نَر ته به دبنځي دُوَه چَندَ ملاؤيږي.او که نَه شو پاته نو د دُوئي لپاره هيڅ نشته .

[۳۲۲۵](۴) وَ اِذَا تَرَكَ بِنتًا وَ بَنَاتَ اِبنٍ وَ بَنِي اِبنٍ فَلِلبِنتِ اَلنّصفُ وَالبَاقِي لِبَنِي الاِبنِ وَ اَخَوَاتِهِم لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ .

چَندَ ملاؤيږي. مسئله به په دَادَوَل وي .

مَيّت ۱۰۰

دُوې حقيقي خُوَندِ	يَو مَيرَېځ وُرُور	يَوَه مَيرَېځه خُور
۶۶ . ۶۶		۳۳ . ۳۳
	۲۲	۲۲ .
		۱۱ . ۱۱

په دې مسئله کي دُوُ حقيقي خُوَندُ ته د سَل خْخه دُوې دَرَيَمِي ۶۶ . ۶۶ ملاؤ شوې. پاته يوه دريمه ۳۳ . ۳۳ د مَيرَېځ وُرُور او خُور تر مينځ تقسيم شوه.په هغه کي و وُرُور ته دُوَه چَندَ يعني ۲۲ . ۲۲ ملاؤ شو او خُور ته يَوچَندَ يعني ۱۱ . ۱۱ ملاؤ شو .

[۳۲۲۵](۴) که یوه لُور او څو لُمَسِي او څو لُمَسِيَان پرېښول نو لُور ته به نِيمَي ملاؤيږي.او پاته به و لُمَسِيَانُ او د دُوئي و خُوَندُ ته ملاؤيږي.نَر ته به دښځي دُوَه چَندَ ملاؤيږي .

تشريح : مخته تېرشوي دي چي يَوَه لُور وي نو هغې ته به نِيمَئ ملاؤيږي.او دا نور پاته نِيمَئ به لُمَسِي او لُمَسي ته د عَصَبَه په حَيث ملاؤيږي.په دي کي به لُمَسِي ته د لُمَسي دُوَه چَندَ ملاؤيږي او لُمَسي ته به يَوچَندَ ملاؤيږي .

که چيرې لُور نَه وائ نو ټوله مَال به لُمَسِي او لُمَسي ته ملاؤېدلائي لېکن د لُور په وجه دُوئي ته نِيمَئ ملاؤشو چي حُجبِ نُقصَان دئ .

وجه : په آيت کي دئ چي يَوې لُور ته نِيمَئ ملاؤيږي.لِهْذَا چي کُوم نِيمَئ پاته شو هغه به لُمَسِي او لُمَسي ته د عَصَبَه په حَيث ملاؤشي.آيت دادئ. فَإِن كُنّ نِسَاءً فَوقَ

[۳۲۲۶](۵) وَ كَذَالِكَ الفَاضِلُ عَن فَرضِ الأُختِ لِلاَبِ وَ الأُمِّ لِبَنِي الاَبِ وَ بَنَاتِ الاَبِ لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ .

اِثنَتَينِ فَلَهُنّ ثُلُثَا مَاتَرَكَ وَ اِن كَانَت وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصفُ (الف) (آيت ۱۱ سورة النساء ۴) په دې آيت کي دئ چي يَوَه لُور وي نو هغې ته به نِيمَئ ملاؤيږي.او د لُمَسي سره خو لُمَسَئ هم موجود دئ نو ځکه پَاتَه نِيمَئ به دواړو ته دعَصَبَه په حَيث ملاؤ شي .

وجه : په اَثَر کي دئ. فَإِن كَانَ مَعَ بَنَاتِ الإبنِ ذَكَرٌ هُوَ بُمَنزِلَتِهِنّ فَلاَ سُدُسَ لَهُنّ وَ لاَفَرِيضَةَ وَلْكِن اِن فَضُلَ فَضُلَ بَعدَ فَرِيضَةِ اَهلِ الفَرَائِضِ كَانَ ذَالِكَ الفَضلُ لِذَالِكَ الذّكَرِ وَلِمَن بِمَنزِلَتِهِ مِنَ الأُنَاثِ لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ (ب) (سنن للبيهقي.باب ميراث اولاد الإبنِ ج۶ ص۳۷۷ نمبر۳۱۰۷۵) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي لُور نِيمَئ واخلي پاته نِيمَئ به د لُمَسِي او لُمَسي تر مينځ تقسيميږي. مسئله به په دَادَوَل وي .

مَيّت ۱۰۰

يَوَه لُورِ — لُمَسَئ

لُمَسي

۵۰ — ۵۰

۳۳ — ۳۳

۶۶ . ۱۶

په دې مسئله کي لُور ته نِيمَئ يعني د سَل څخه ۵۰ ورکړل.او پاته نِيمَئ يعني د۵۰ څخه يوه دَرَيَمَه يعني۶۶ . ۱۶يې و لُمَسي ته ورکړل.او ددې دِبَل۳۳ . ۳۳يې و لُمَسِي ته ورکړل .

[۳۲۲۶](۵) دغه چي د يوې حقيقي خُور دحِصّې څخه پاته شي هغه د مَيرَيِځِي خُور لپاره دئ. نَر ته به د ښځي دُوَه چَندَ ملاؤيږي .

حاشيه : (الف) كه بنځي تر دُوي زِيَاتِ وي نو د دُوئي لپاره د تَرَکي دُوي دَرَيَمِي دي او که يَوَه وي نو هغې ته به نِيمَئ ملاؤشي (ب) که چيري د لُمَسي سره لُمَسَئ وي دهغه درجې برابر نو لُمَسي ته به شُيَرَمَه نَه ملاؤيري او نَه به د دُوئي بَاضَابِطَه حِصّه وي.لېکن که دحِصّه دَارَانُ د اَخَستُلُو وروسته څَه پاته شو نو دغه پاته به د لُمَسِي وي.او دهغه د دَرَجې چې کُومَه لُمَسي ده هغې ته به هم ملاؤشي.نَر ته به د بنځي دُوَه چَندَ ملاؤ شي .

تشريح : چې يَوَه حقيقي خُور وي نو هغې ته نِيمَئ ملاؤيري او پاته نِيمَئ به مَيرَيِځ يعني عَلاّتِي وُرُور او خُور ته ملاؤيري.نَر ته به دُوَه چَندَ او بنځه ته به يَوچَندَ ملاؤيري .

وجه : چې يَوَه حقيقي خُور وي نو دهغې لپاره نِيمَئ دئ ددې د دليل لپاره آيت تېرشوئ د. يَستَفتُونَکَ قُلِ اللهُ يُفتِيکُم فِي الکَلاَلَةِ اِن اِمرُءٌ هَلَکَ لَيسَ لَهُ وَلَدٌ وَلَهُ اُختٌ فَلَهَا نَصفُ مَا تَرَکَ (الف) (آيت ۱۷۶ سورة النساء ۴) په دې آيت کي دئ چې يَوَه حقيقي خُور وي نو هغې ته به نِيمَئ ملاؤيري.او پاته نِيمَئ به و مَيرَيِځ وُرُور او خُور ته ملاؤيري دهغه دليل دا اَثَر دئ. فَاِن کَانَ مَعَ بَنَاتِ الاَبِ اَخٌ ذَکَرٌ فَلاَفَرِيضَةَ لَهُم وَيُبدَأ بِاَهلِ الفَرَائِضِ فَيُعطُونَ فَرَائِضَهُم فَاِن فَضُلَ بَعدَ ذَالِکَ فَضلٌ کَانَ بَينَ بَنِي الاَبِ لِلذّکَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ (ب) (سنن للبيهقي.باب ميراث الاخوة والاخوات لاَبٍ و اُمٍّ اَو لاَبٍ ج۶،ص۳۸۱،نمبر۱۲۳۲۶) په دې اَثَرکي دئ چې پاته به وعَلاّتِي وُرُونُو او خُوَندُ ته ملاؤيري.په دَاډَوَل چې نَر ته به د بنځي دُوَه چَندَ ملاؤيري. مسئله به دَاډَوَل وي .

مَيّت ۱۰۰

حقيقي خُور	عَلاّتِي وُرُور	عَلاّتِي خُور
۵۰		۵۰
۳۳	۳۳	.

۱۶ . ۶۶

په دې مسئله کې وحقيقي خُور ته د سَل نِيمَي يعني ۵۰ ورکړل.د پاته نِيمَئ څخه

حاشيه : (الف) ستاځخه خلک پُوښتَنَه کوي الله تعالٰي فَتوْي ورکوي د کَلاَله په اړه.که څوک هَلاَک شي او دده هيڅ اَولاَد نَه وي او دده خُور وي نو دهغې لپاره د تَرَکَه نِيمَئ ده (ب) که چيري د مَيرَيِځُو خُوَندُ سره وُرُور هم وي نو دهغوئي لپاره بَاضَابِطَه حِصّه نشته.البته اَوّل دي و حِصّه دَارَانُ ته حِصّي ورکړي.که دهغه څخه څَه پاته شي نو د وُرُور او خُور لپاره به وي.نَر ته به د بنځي دُوَه چَندَ ملاؤيري .

[۳۲۲۷](۶) وَ مَن تَرَکَ اِبنَي عَمٍّ اَحَدُهُمَا اَخٌ لاُمٍّ فَلِلاَخِ اَلسّدُسُ وَالبَاقِي بَينَهُمَا نِصفَانِ .

يَوَه دَرَيَمَه يعني ۶۶ . ۱۶ يې و پُلاَرشريکَ خُور يعني عَلاّتِي خُور ته ورکړل.او ددې دُوَه چَندَ يعني ۳۳ . ۳۳ يې و پُلاَر شريک وُرُور يعني عَلاّتِي وُرُور ته ورکړل .

[۳۲۲۷](۶) يَوچَا دُوَه د اَکَا زَامَن پرېښول.ددې څخه يَو عَلاّتِي وُرُور دئ نو دهغه لپاره شُپَږَمَه حِصّه ده.او پاته د دواړو تر مينځ نِيمَئ نِيمَئ دئ .

تشريح : دا مسئله پر دې اُصُول متفَرّع ده چې يَو سړئ دُوَه قَرَابَتُونَه لري نو د دواړو قَرَابَتُو به جَلاَ جَلاَ حِصّې ملاؤيږي .

يوه سړي دُوَه د اَکَا زَامَن پرېښول.دغه يَو د اَکَا زُوئي دده اَخيَافِي وُرُور هم کېدئ.ځکه چې دده مُور د اَکَا سره وَادَه کړئ وُ نو و اَخيَافِي وُرُور ته به شُپَږَمَه حِصّه ۶۶ . ۱۶ اَوّل ملاؤيږي.بيا چې کُوم ۳۳ . ۸۳ پاته شو هغه به دواړه وُرُونَه دعَصَبَه په حَيث نِيمَئ نِيمَئ تقسيموي .

وجه : (۱) و عَلاّتِي وُرُور ته شُپَږَمَه حِصّه ملاؤيږي.دليل يې دا آيت دي. وَ اِن کَانَ رَجُلٌ يُورَثُ کَلاَلَةً اَو اِمرَأ ةٌ وَلَهُ اَخٌ اَو اُختٌ فَلِکُلِّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا اَلسّدُسُ (الف) (آيت ۱۲ سورة النساء ۴) په دې آيت کي دئ چې اَخيَافِي وُرُو ته شُپَږَمَه حِصّه ورکړې ده (۲) او پاته مَال به د اَکَا د زَامَنُ تر مينځ د عَصَبَه په حَيث نِيمَئ نِيمَئ تقسيم شي ددې دليل دا اَثَر دئ. کَانَ عَلِيّ وَ زَيدٌ يَقُولاَنِ فِي بَنِي عَمٍّ اَحَدُهُم اَخٌ لاُمٍّ يُعطِيَانِهِ اَلسّدُسُ وَمَابَقِيَ بَينَهُ وَ بَينَ بَنِي عَمِّهِ وَ کَانَ عَبدُاللهِ يُعطِيهِ المَالَ کُلّهُ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۰ في بني عَمٍّ اَحَدِهِم اَخُ الأُمِّ،ج۶،ص۲۴۶،نمبر۳۱۰۷۷) په دې اَثَرکي دئ چې اَوّل

حاشيه : (الف) که يَو نَر يا ښځه کَلاَلَه وي او دهغه وُرُور وي يا خُور وي نو هر يوه ته به شُپَږَمَه حِصّه ملاؤيږي (ب) حضرت علي او زيد فرمايي چې د اَکَا زُوئي اَخيَافِي وُرُور هم دئ نو ده ته به شُپَږَمَه حِصّه ورکول کيږي.او چې خَه پاته شو هغه به دده او د اَکَا د زَامَنُ تر مينځ وي.او حضرت عبدالله خو و دغه اَخيَافِي وُرُور ته پُورَه مَال ورکاوئ .

[۳۲۲۸](۷) وَ المُشتَرَکَةُ اَن تَترُکَ المَرأ ةُ زَوجًا وَ اُمًّا اَو جَدّةً وَ اِخوَةً مِن اُمٍّ وَ اِخوَةً مِن اَبٍ وَ اُمٍّ فَلِلزّوجِ اَلنّصفُ وَ لِلاُمِّ اَلسّدُسُ وَ لاَولاَدِ الاُمِّ اَلثُّلُثُ وَ لاَ شَئَ لِلاِخوَةِ لِلاَبِ وَ الاُمِّ .

به و اَخيَافِي وُرُور ته شُپَږَمَه حِصّه ورکول کيږي.دهغه وروسته به د دواړو تر مينځ نِيمَئ نِيمَئ تقسيميږي.ځکه چې دواړه عَصَبَه دي او په دَرَجَه کي هم سره برابر دي.مسئله به په دَاوَل وي .

مَيّت ۱۰۰

مُورنَئ وُرُور، د اَکَا زُوئي د اَکَا زُوئي

۸۳ . ۳۳ ۱۶ . ۶۶

+

۴۱ ۶۶

۶۶ . ۴۱

۵۸ . ۳۲

په دې مسئله کې په سَلُ کې اَوّل و اَخيَافِي وُرُور ته شُپَږمَه حِصّه يعني ۶۶ . ۱۶ ورکړه.او پاته ۳۳ . ۸۳ يې د دواړو وُرُونُو تر مينځ نِيمَئ نِيمَئ تقسيم کړه نو دواړو ته ۶۶ . ۴۱ ملاؤ شو.و اَخيَافِي وُرُور ته د دواړو مَجمُوعَه ۳۳ . ۵۸ ملاؤ شوه .

[۳۲۲۸](۷) مُشتَرَکه مسئله داده چې ښځه.مړه.مُور يا اَنَا او څو اَخيَافِي وُرُونَه او حقيقي وُرُونَه پرېږدي نو مړه ته به نِيمَئ ملاؤيږي او مُور ته به شُپَږمَه او اَخيَافِي اَولاَدُ ته به دَرَيَمَه او دحقيقي وُرُونُو لپاره هيڅ شَئ نشته .

تشريح : دا مُشتَرَکه مسئله ده.ځکه چې په دي کې ګڼ شمېر وُرُونَه دي.د مُور او اَنَا مسئله هم پکښې ده.نوځکه دې مسئلې ته مُشتَرَکه مسئله وايي.دمسئلې تشريح په دَاوَل ده. ښځي مړه شوه او تر شَا يې (۱) مړه (۲) مُور (۳) ګڼ شمېر اَخيَافِي وُرُورنَه (۴) او حقيقي وُرُونَه پرېښُوَل.په دَاوَل صورت کي د قُرآن مطابِق به مړه ته نِيمَئ ملاؤيږي.ځکه چې د مَيّت اَولاَد نشته.وَ لَكُم نِصفُ مَا تَرَکَ اَزوَاجُكُم اِن لَم يَكُن لَهُنّ وَلَدٌ (الف) (آيت ۱۲،سورة النساء۴) او مُور ته به شُپَږمَه ملاؤيږي. فَاِن لَم يَكُن لَهُ وَلَدٌ وَ وَرِثَهُ اَبَوَاهُ فَلاُمِّهِ اَلثُّلُثُ فَاِن كَانَ لَهُ اِخوَةٌ فَلاُمِّهِ اَلسّدُسُ (ب) (آيت ۱۱،سورة النساء۴) دَلتَه ګڼ شمېر وُرُونَه دي نو ځکه مُور ته به شُبَږمَه حِصّه ملاؤيږي. او ګڼ شمېر اَخيَافِي وُرُونُو ته يوه دَرَيَمَه ملاؤيږي.ځکه چې په آيت کي دئ. وَ اِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلاَلَةً اَو اِمرَاَ ةٌ وَلَهُ اَخٌ اَو اُختٌ فَلِكُلّ وَاحِدٍ مّنهُمَا اَلسّدُسُ فَاِن كَانُوا اَكثَرَ مِن ذَالِکَ فَهُم شُرَكَاءُ فِي اَلثّلُثِ (ج) (آيت ۱۲ سورة النساء ۴) ددې آيت څخه معلوم شو که اَخيَافِي وُرُونَه او خُوَندِ تر يوه زِيَات وي نو دُوئي ته به د ټول مَال يَوَه دَرَيَمَه حِصّه ملاؤيږي.په دې اِعتِبَار سره ټولي حِصّي پوره شوې او حقيقي وُرُونُو ته دعَصَبَه په حَيث د څَه ورکولو لپاره هيڅ شَئ پاته نَه شو لِهْذَا هغه به محروم شي.ځکه چې مړه ته نِيمَئ يعني ۵۰ ملاؤشول.مُور ته شُپَږمَه يعني ۶۶ . ۱۶ ملاؤ شوه.او اَخيَافِي وُرُونُو ته دَرَيَمَه يعني ۳۳ . ۳۳ ملاؤ شوه. ټوله مجموعه يې ۱۰۰ شوه .

وجه : (۱) دلته حقيقي وُرُونَه که څَه هم مِيّت ته دِير نِژدې دي.لېکن هغه عَصَبَه دي نو ځکه دحِصّه دَارَانُ د حِصّې اَخستَلُو وروسته چې څَه پاته شي بيابه هغه اَخلِي.او دَلتَه خو هيڅ شَئ نَه دئ پاته شوئ لِهْذَا دُوئي ته هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي (۲) په اَثَر کي ددې ثبوت شته. عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ كَانَ عَبدُ اللهِ وَ عُمَرُ يُشرِكَانِ قَالَ وَ كَانَ عَلِيٌ لاَ

حاشيه : (الف) ستاسو لپاره نِيمَئ دئ دهغه څخه کُوم چي ستاسو بِي بِي ګَانُ پربِيَنَئ دئ.که چيري د دُوئي اَولاَد نَه وي (ب) که د هَلَک اَولاَد نَه وي او مُور و پُلاَر يې وَارِثَان شو نو د ده د مُور لپاره دَرَيَمَه ده.او که دمَيّت وُرُور وي نو د مُور لپاره شُپَږَمَه ده (ج) که يَو سړئ کَلاَلَه وي يا ښځه کَلاَلَه وي او دهغه وُرُور وي يا خُور وي نو هر يوه ته به شُپَږَمَه حِصّه ملاؤيږي.اوکه وُرُونَه خُوَندِ تردي زيات وي نوپه دَرَيَمَه کي به ټوله سره شريکان وي.

يُشرِكُ قَالَ اَبُوبَكرُ وَهٰذِهِ مِن سِتّةِ اَسهُمٍ لِلزّوجِ اَلنِّصفُ ثَلاَثَةُ اَسهُمٍ وَ لِلأُمِّ اَلسّدُسُ وَ لِلاِخوَةِ مِنَ الأُمِّ اَلثُّلُثُ وَ هُوَ سَهمَانِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة،١٧، في زوجٍ و اُمٍّ و اِخوةٍ و اَخَوَاتٍ لاَبٍ وابنٍ واخوةٍ لأُمٍّ من شرک بينهم،ج٦،ص٢٤٩،نمبر٣١٠٩٦) په دې اَتَرکي دئ چي مسئله د شُپَږ څخه جوړه کئ.په دي کي نِيمَئ دري حِصّې و مېړه ته ورکئ.او شُپَږَمَه حِصّه يعني د شُپَږُ څخه يوه حِصّه و مُور ته ورکئ.او يوه دَرَيَمَه يعني د شُپَږُ څخه دُوې حِصّې و اَخيَافِي وُرُونُو ته ورکئ.ددې څخه شُپَږ حِصّې پُورَه شوې.نو ځکه حقيقي وُرُونُو ته هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي.مسئله به په دَاډَوَل وي .

مَيّت ١٠٠

مېړه		مُور	ګَنِ شمېر اَخيَافِي وُرُونَه	ګَنِ شمېرحقيقي وُرُونَه
٥٠		١٦ . ٦٦		٣٣ . ٣٣

×

فائده : امامِ شافعي (ر) فرمايي چي حقيقي وُرُور تر اَخيَافِي وُرُور زيات قَرِيب دئ چي اَخيَافِي وُرُور ته حِصّه ملاؤ شوه نو حقيقي وُرُور هم بايد په دې دَرَيَمَه کي شريک کړي .

وجه : په اَتَرکي ددې ثبوت شته. عَن شُرَيحٍ وَ مَسرُوقٍ اَنّهمَا شَرَکَا الإِخوَةَ مِنَ الاَبِ وَ الأُمِّ مَعَ الإِخوَةِ مِنَ الأُمِّ. او په بَل رِوَايَت کي راغلي دي. اَنّ عُثمَانَ شَرَکَ بَينَهُم (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة، ١٧ في زوجٍ واُمٍّ وَ اِخوَةٍ و اَخَوَاتٍ لاَبٍ و اِبنٍ و اِخوَةٍ لأُمٍّ من شرک بينهم،ج٦، ص٢٤٩،نمبر٣١٠٩٢/٣١٠٩١/سنن دارمي،باب في مشترکة،ج٢،ص٤٤٦،نمبر٢٨٨٢) ددې اَتَر

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم فرمايي چي حضرت عبدالله او حضرت عمر به حقيقي وُرُور د اَخيَافِي وُرُور په حِصّه کي شريک کاوئ.او حضرت علي نَه شريک کاوئ.حضرت ابوبکر وفرمايل دا مسئله به د شُپَږ حِصّو څخه جوړيږي.دمېړه لپاره نِيمَئ چي کُومِي دري حِصّي شوي دي.او مُور ته به شُپَږَمَه حِصّه او اَخيَافِي وُرُونُو ته به دَرَيَمَه حِصّه ملاؤيږي چي د شُپَږ څخه به دُوې حِصّې وي (او حقيقي وُرُونُو ته هيڅ شَئ نَه پاتيږي) (ب) حضرت شريح او حضرت مسروق به حقيقي وُرُونَه د اَخيَافِي وُرُونُو سره شريک کول او حضرت عثمان حقيقي وُرُور د اَخيَافِي وُرُور سره شريک کړئ .

څخه معلوم شوچي حقيقي وُرُونَه به د اَخيَافِي وُرُونُو په حِصّه کي شريکان وي.

مسئله به په دَاډَوَل وي .

مَيّت ١٠٠

مېړه	اَنَا	ګَنِ شمېر اَخيَافِي وُرُونَه	ګَنِ شمېرحقيقي وُرُونَه

۵۰ ۶۶ . ۱۶

۳۳ . ۳۳



۱۶ . ۶۶

۶۶ . ۱۶

په دې مسئله کي و اَخيَافِي وُرُونُو ته چي کُومَه دَرَيَمَه ۳۳ . ۳۳ حِصّه ملاؤشوې وه دهغه څخه نِيمَئ وحقيقي وُرُونُو ته ورکړه.چي په نتيجه کې و دواړو ته ۶۶ . ۱۶ او اَخيَافِي وُرُونُو ته ۶۶ . ۱۶ ملاؤ شوه .

لغت : اَلمُشتَرَکَةُ : و دې مسئله ته مُشتَرَکه مسئله ويل کيږي.ځکه چي حقيقي وُرُونُو کله ګاټ شي او کله شريک کړل شي.په بَعضُ عِبَارَاتُ کي د اَلمُشرَکَة لفظ راغلئ دئ.ددې مطلب داشو چي بعض حضراتُ حقيقي وُرُور د اَخيَافِي وُرُور په حِصّه کي شريک کړئ دئ او بَعضُ حضراتُ نَه دئ شريک کړئ .

﴿...حُجبِ نُقصَان ته يوه کتنه او حُجبِ حِرمَان ته يوه کتنه په رارون مخ کي وګورئ... ﴾

﴿...حُجبِ نُقصَان ته يوه کتنه... ﴾

شمېره حالات	حِصّه اخستونکي	په کُوم حالت کي څومره	حِصّه
		ــ مېړه ــ	
۵۰ (۱)	مېړه ته چي		اَولاَد نَه واي نو ... نِيمَئ ملاؤيږي
۵۰ (۲)	مېړه ته چي		اَولاَد وي نو ... څلورمه ملاؤيږي
		ــ مَينَه ــ	
۲۵ (۳)	مَينَه ته چي		اَولاَد نَه وي...څلورمه ملاؤيږي
۵ . ۱۲ (۴)	مَينَه ته چي		اَولاد وي ... اَثَمّه ملاؤيږي

		ــ مُور ــ	
(۵)	مُور ته چې	اَولاَد،لُمَسئ او دُوَه وُرُونِه نَه وي ... دريمه	۳۳ . ۳۳
(۶)	مُور ته چې	اَولاَد وي نو ... شُپَږمه ملاؤيږي	۶۶. ۱۶
(۷)	مُورته چې	لُمَسئ،لُمَسي وي نو ... شُپَږمَه ملاؤيږي	۶۶. ۱۶
(۸)	مُورته چې	وُرُو،خُور وي نو ... شُپَږمَه ملاؤيږي	۶۶. ۱۶
		ــ لُمَسي ــ	
(۹)	لُمسي ته چې	صُلبِي لُور نَه وي نو ... نِيمَئ ملاؤيږي	۵۰
(۱۰)	لُمسي ته چې	يَوه صُلبِي لُور وي نو... شُپَږمه ملاؤيږي	۶۶. ۱۶
	چې دُوه ثُلُث پوره شي		
(۱۱)	لُمسي ته چې	دُوې لُونِي وي نو ... هيڅ نَه ملاؤيږي	×××
(۱۲)	لُمسي ته چې	لُمَسئ ورسره وي نو.....عَصَبَه ګرزي	۳۳ . ۳۳
	دمَابَقِيَ دريمه		
		ــ عَلاّتِي خُور ــ	
(۱۳)	يَوه عَلاّتِي خُور ته چې	حقيقي خُور نَه وي نو ... نِيمَئ ملاؤيږي	۵۰
(۱۴)	عَلاّتِي خُور ته چې	يَوه حقيقي خُور وي نو... شُپَږمَه ملاؤيږي	۶۶. ۱۶ چې
	دُوه ثُلُث پوره شي		
(۱۵)	عَلاّتِي خُور ته چې	دُوې حقيقي خُوَندِ وي ... هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي	×××
(۱۶)	عَلاّتِي خُور ته چې	دحقيقي خُور سره وُرُور وي...عَصَبَه ګرزي	۳۳ . ۳۳ د
	مَابَقِيَ دريمه		

﴿...حُجبِ حِرمَان ته يوه کنته... ﴾

د حُجبِ حِرمَان دُوَه قِسمُونَه دي .

(۱) يو خو دا چې نُور مَحرُوم کړي لېکن په خپله د وِرَاثَت څخه نَه محروميږي.بلکه د حِصې په حَيث يا دعَصَبَه په حَيث ده ته وِرَاثَت ملاؤيږي.دغه شُپَږ قِسمَ اِنسَانَان دي (۱) زُوئي (۲) پُلاَر (۳) مېړه (۴) لُور (۵) مُور (۶) مَينَه.دُوئي نُور اِنسَانَان محروم ګرزوي لېکن په خپله د عَصَبَه په حَيث يا دحِصّې په حَيث مِيرَاث اَخلِي .

(۲) دُويَم قِسم هغه اِنسَانَان دي چې د همېش لپاره د وِرَاثَت څخه محروم ګرزي. هغه پِنځَه قِسم اِنسَانَان دي. (۱) ګَافِر (۲) قَاتِل (۳) غُلاَم (۴) مُرتَد (۵) اِختِلاَفِ دَارَينِ.دُوئي د مَيّت(مَړِي) د مَال وَارِثَان نَه ګرزي .

﴿... په يوه حالت کي نَه محروم کيږي ... ﴾

شمېره	حِصّه داران	په کُوم حَيثِيّت ملاؤيږي
(۱)	زُوئي	همېشه د عَصَبَه په حَيث اَخلِي
(۲)	پُلاَر	دحِصّې په حَيث،او کله د عَصَبَه په حَيث

(۳)	مېړه	همېشه دحِصّي په حَيث.دعَصَبَه په حَيث نَه
(۴)	لُور	دحِصّي په حَيث،او چې ددې سره رُوني وي نو دعَصَبَه په حَيث
(۵)	مُور	همېشه دحِصّې په حَيث
(۶)	مَينَه	همېشه دحِصّي په حَيث

﴿... همېشه محروم ګرځي ... ﴾

شمېره	حِصّه داران	په ګُوم حَيثِيّت ملاؤيږي
(۱)	ګَافِر	دمسلمان وَارِث نَه شی جوړېدلائي
(۲)	قَاتِل	دمَقتُول وَارِث نَه شي جوړېدلائي
(۳)	غُلاَم يا مينځه	دهيڅ چا وَارِث نَه شي جوړېدلائي
(۴)	مُرتَد	دهيڅ چا وَارِث نَه شي جوړېدلائي
(۵)	اِختِلاَفِ دَارَين	د دارالاسلام والا د دارالحرب والا وَارِث نَه شي جوړېدلائي

﴿... بَابُ الرّدِّ ...﴾

[۳۲۲۹](۱) وَ الفَاضِلُ عَن فَرضِ ذَوِي السِّهَامِ اِذَا لَم تَكُن عَصَبَةٌ مَردُودٌ عَلَيهِم بِقَدرِ سِهَامِهِم اِلاّ عَلْي الزّوجَينِ .

﴿... بَابُ الرّدِّ ...﴾

ضروري پام لرنه : په دې باب کي د رَدّ څخه علاوه هم ډېري مسائلِ بيان شوي دي.نو ځکه بَابُ الرّد د يوه جُزء نُوم دئ .

د رَدّ معنْي ده وَاپَس وركول.چې حِصّه دَارَان خپلي حِصّې واخلي بيا هم څَه حِصّې پاته شي نَه عَصَبَه موجود وي او نَه ذَوِي الاَرحَام موجود وي چې حِصّې واخلي نو دغه پاته حِصّې دي پر نَسَبِي او خَانداَنِي رِشتَه دَارَانُ باندي دخپلي حِصّې مطابق دُوبَارَه تقسيم کړي و دې ته رَدّ وَل وايي.مېړه او مَينَه نَسَبِي رِشتَه دَارَان او حِصّه دَارَان نَه دي لِهْذَا دُوئي چې خپلي حِصّې واخلي نو دُوبَارَه بيا دُوئي ته هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي.د دُوئي چې ګُوم سِهَام دي پر هغه به کِفَايَت کوي .

وجه : په اَثَر کي ددې ثبوت شته. عَن اِبرَهِيمَ اَنّ عَلِيًّا كَانَ يُرَدّ عَلْي كُلّ ذِي سَهمٍ اِلاّ الزّوجُ وَ المَرأ ةُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۲۶ في الرّدّ و اختلافهم فيه،ج۶،ص۲۵۵، نمبر۳۱۱۵۹)

ددې اَثَرڅخه معلوم شوچي د مَينې او مېړه څخه علاوه چې ګُوم نَسَبِي حِصّه دَارَان دي پر هغوئي به د هغوئي دحِصّې مطابق مَال تقسيميږي .

[۳۲۲۹](۱) چې دحِصّه دَارَانُ دحِصّې څخه ګُوم پاته شي چې عَصَبَه نَه وي نو هغه به وَاپَس کيږي پر حِصّه دَارَانُ باندي د دُوئي دحِصّې په اَندَازَه مَاسِوايَه د مَينې او مېړه څخه .

تشريح : چې عَصَبَه نَه وي نُور چې څومره حِصّه دَارَان دي پر هغوئي به پاته مَال د دُوئي دحِصّو په اَندَازَه وَاپَس تقسيميږي.د مېړه اومَينې څخه علاوَه.مسئله به په

حاشيه : (الف) حضرت علي و هر حِصّه دَار ته دُوبَارَه پاته شوئ مَال وركاوئ مَاسِوَايَه د مېړه او مَيني څخه .

دَادِوَل وي .

مَيّت ۱۰۰

مېړه	دُوې لُونِي	پاته
شوئ		
۲۵		۶۶ . ۶۶
		۸ . ۳۴

پاته شوئ د رَدّ په حَيث ⟵ ۸ . ۳۴ + ۷۵

مجموعه ⟵

په دې مسئله کي ښځي مېړه او دُوې لُونِي پرېښولي.مېړه ته د اَولاَد د موجودګئ په وجه څلورمه يعني د سَل څخه ۲۵ ملاؤشو.او لُونُو ته دُوَه ثُلُث يعني ۶۶ . ۶۶ ملاؤشو.او ۳۴ . ۸ حِصّې پاته شوې هغې يې و دُوُ لُونُو ته ورکړې.او مېړه ته وَر نَه کړې.ځکه چي په اَثَر کي و مېړه ته د څَه ورکولو څخه مَنعَ راغلي ده .

فائده : امامِ شافعي (ؒ) فرمايي چي څَه پاته شي هغه دي و بَيتُ المَال ته ورکړي. وَاپَس دې و حِصّه دَارَانُ ته دُوبَارَه نَه ورکوي .

وجه : دده دليل دا اَثَر دئ. قَالَ اِبرَاهِيمُ لَم يَكُن اَحَدٌ مِّن اَصحَابِ النّبِيِّ (ﷺ) يُرَدّ عَلٰي المَرأةِ وَالزّوجِ شَيئًا قَالَ وَ كَانَ زَيدٌ يُعطِي كُلّ ذِي فَرضٍ فَرِيضَتَهُ وَ مَابَقِيَ جَعَلَهُ فِي بَيتِ المَالِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة،۲۶ في الرّدِّ و اختلافهم فيه،ج۶،ص۲۵۶، نمبر۳۱۱۶۷) په دې اَثَرکي دئ چي حضرت زيدبن ثابت پاته مَال په بَيتُ المَال کي داخلوئ.وحِصّه دَارَانُ ته دُوبَارَه بېرته نَه وَاپَس کاوئ .

لغت : سِهَامٌ : د سَهمٌ جمع ده. حِصّې .



حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم نخعي فرمايي چي دحضور(ﷺ)اَصحَابَانُ و مَينَه اومېړه ته دُوبَارَه هيڅ شَئ نَه وركاوئ.او حضرت زيد و هر حِصّه دَار ته حِصّه وركوله او چي څَه پاته شو هغه به په بَيتُ المَال کي جمع کول .

﴿...د رَدّ نوې طريقه... ﴾

په کَلکُيُولېټر سره د رَدّ طريقه داده چي حِصّه دَارَانُ څومره حِصّه واخستله د ټولو حِصّو مَجمُوعَه په نَظَر کي وساتئ او دهغه مجموعه په ذريعه په دغه حِصّو کي تقسيم ورکئ کُوم چي پاته شوي دي.د تقسيم وروسته چي کُوم دتقسيم حَاصِل وي هغه

به د ټولو حِصّه دَارَانُ یوه حِصّه وي.وروسته ددغه په ذریعه په هر حِصّه کي ضرب ورکړه نو ټولو حِصّه دَارَانُ ته به پوره پوره حِصّه ملاؤ شي .
پام لرنه : دا بَایَد په یَاد وَلَرَئ چي کَلکُیُولیټر همېشه د یَو پِینس(یعني اَشَارِیې) حساب پرېږدي نو یَو پِینس باید وروسته ور زیات کړئ چي حِسَاب برابر شي .

﴿...مثالونه... ﴾

کُومِي حِصّي چي پاته شي هغه به دُوبَارَه و حِصّه دَارَانُ ته خَه ډَوَل ورکول کیږي.د مِثَال د لاَرِي په دي ځانونه پوه کړئ .
[اَوّل مثال] مثلاً مَیّت دُوَه اَخیَافِي وُرُونَه او مُور پرېښول نو و دواړو اَخیَافِي وُرُونُو ته یوه دریمه یعني د سَل څخه به ۳۳ . ۳۳ ملاؤ شي.او مُور ته به شُپَږمَه حِصّه یعني ۶۶ . ۱۶ ملاؤشي.او ۵۰ به بَاقِي پاته شي .
وُرُونُو ۳۳ . ۳۳ واخستل او مُور ۶۶ . ۱۶ واخستل چي مَجمُوعَه یې ۵۰ شوه.اُوس دغه ۵۰ په پاته ۵۰ کي تقسیم که نو دتقسیم حاصِل به یَو,, ۱ ,,وي .
بیا دغه یَو,, ۱ ,, ته په ۶۶ . ۱۶ کي ضرب که نو مُور ته به د رَدّ په حَیث ۶۶ . ۱۶ ملاؤشي او مجموعه به ۳۳ . ۳۳ شي .
او په یَوَه ,, ۱ ,, کي د وُرُونُو و حِصّو ۳۳ . ۳۳ ته ضرب ورکه نو هغوئي ته به هم دُوبَارَه د رَدّ په حَیث ۳۳ . ۳۳ ملاؤشي.او دُوئي ته به د ۱۰۰ څخه مجموعه ۶۶ . ۶۶ ملاؤ شي. مسئله به په دَاډَوَل وي .

مَیّت ۱۰۰ (یوه حِصّه) ۱ = ۵۰ ÷ ۵۰

دحِصّومجموعه شوئ مَال	دُوَه اَخیَافِي وُرُونَه	مُور	پاته
۵۰	۳۳ . ۳۳	۱۶ . ۶۶	۶۶
۵۰			
پاته شوئ د رَدّ په حَیث ←	۳۳	۳۳+	۱۶ . ۶۶ +
مجموعه حِصّه ←	۶۶ . ۶۶		۳۳ . ۳۳

مُور ته د رَدّ ملاؤ شوه د رَدّ طریقه ۱۶ . ۶۶ / ۱۶ . ۶۶ = ۱ × ۱۶ . ۶۶

و اَخیَافِي وُرُنو ته د رَدّ ملاؤ شوه ۳۳ . ۳۳ / ۳۳ . ۳۳ = ۱ × ۳۳ . ۳۳

[دُويَم مثال] مثلاً مَيّت يوه لُور او يَوَه لُمَسي پرېښوله نو لُور ته به په ۱۰۰ کي نِيمَئ يعني ۵۰ ملاؤيږي.او لُمَسي ته به شُپَږمَه ملاؤيږي چې دُوَه ثُلُث پوره شي يعني په ۱۰۰ کي به ۶۶ . ۱۶ ملاؤ شي.او د ټولو حِصّو مجموعه به ۶۶ . ۶۶ شي .
اُوس ۶۶ . ۶۶ پر ۳۳ . ۳۳ باندي تقسيم که نو يوه حِصّه به ۵ . ۰ (يعني صِفر اشاريه پنځه)رَاوَوزِي.بيا ۵ . ۰ (يعني صِفر اشاريه پنځه) ته د لُمَسي په حِصّه کي ضرب ورکه نو لُمَسي ته به د رَدّ څخه ۳۳ . ۸ ملاؤ شي.او مجموعه به ۲۵ شي .
دغه رنګه ۵ . ۰ (يعني صِفر اشاريه پنځه) ته د لُور په حِصّه ۵۰ کي ضَرب ورکه نو ۲۵ به شي.او دا به و لُور ته د رَدّ په حَيث ملاؤ شي.حِصّه او رَدّ دواړه مجموعه ۷۵ به ورته ملاؤ شي . مسئله به په دَادَوَل وي .

مَيّت ۱۰۰ (يوه حِصّه) ۵ . ۰ = ۶۶ .
۶۶ ÷۳۳ . ۳۳

	دحِصّومجموعه	يَوَه لُور	لُمَسي
پاته شوئ مَال			
	۶۶ . ۶۶		۵۰
	۱۶ . ۶۶	۳۳ . ۳۳	
پاته شوئ د رَدّ په حَيث		+ ۲۵	+ ۸ .۳۳
مجموعه حِصّه		۷۵	۲۵

لُمَسي ته د رَدّ ملاؤ شوه ۸ .۳۳ = ۵ . ۰ × ۶۶ . ۱۶
د رَدّ طريقه

يَوَه لُورته د رَدّ ملاؤ شوه ۲۵ = ۵ . ۰ × ۰۰ . ۵۰

[دريم مثال] مثلاً مَيّت دُوې لُونِي پرېښولې او مُور يې پرېښوله.نو و لُونُو ته د ۱۰۰ څخه ۶۶ . ۶۶ دُوَه ثُلُث ورکړل.او مُور ته شُپَږمَه حِصّه ۶۶ . ۱۶ ورکړه.د دواړو حِصّو مجموعه ۳۲ . ۸۳ حِصّې شوې.او ۶۸ . ۱۶ حِصّې پاته شوې .
اُوس ۳۲ . ۸۳ ته د مُور په حِصّه ۶۶ . ۱۶ سره تقسيم ورکه نو د تقسيم حاصِل به ۲۰۰ . ۰ (صِفر اَشَارِيَه دُوَه سوه) شي .
بيا ۲۰۰ . ۰ (صِفر اَشَارِيَه دُوَه سوه) ته د مُور په حِصّه ۶۶ . ۱۶ کي ضرب ورکه نو ۳۳ . ۳ به شي چې و مُور ته به د رَدّ په حَيث ملاؤ شي.او مجموعه به ۹۹ . ۱۹ يعني ۲۰ شي . او ۲۰۰ . ۰ (صِفر اَشَارِيَه دُوَه سوه) ته د لُونُو په حِصّه ۶۶ . ۶۶ کي ضَرب ورکه نو ۳۳ . ۱۳ به شي چې و دواړو لُونُو ته به د رَدّ په حَيث ملاؤ شي.او مجموعه حِصّې به ۹۹ . ۷۷ يعني ۸۰ شي. مسئله به په دَادَوَل وي .

مَيّت ۱۰۰ (يوه حِصّه) ۲۰۰. ۰ = ۳۲.۸۳
۱۶ . ۶۸ ÷

دحِصّومجموعه	دُوې لُونِي	مُور
پاته شوئ مَال		
۸۳ . ۳۲	۶۶ . ۶۶	۱۶ . ۶۶
		۱۶ . ۶۸
پاته شوئ د رَدّ په حَيث ⇐	۳۳ ⇐ ۱۳ +	۳ . ۳۳ +
مجموعه حِصّه ⇐	۷۹ . ۹۹ ⇐	۱۹ . ۹۹
مُور ته د رَدّ ملاؤ شوه د رَدّ طريقه	۳۳ . ۳ =	۱۶ . ۶۶ × ۰ .۲۰۰
دُوُ لُونُو ته د رَدّ ملاؤ شوه	۳۳ . ۱۳ =	۶۶ . ۶۶ × ۰ .۲۰۰

پام لرنه : حساب په کَلکُيُولِيټر سره برابر کئ .

[۳۲۳۰](۲) وَ لاَ يَرِثُ القَاتِلُ مِنَ المَقتُولِ [۳۲۳۱](۳) وَ الكُفرُ مِلّةٌ وَاحِدَةٌ يَتَوَارَثُ بِهِ اَهلُهُ .

﴿...د محروم بيان...﴾

[۳۲۳۰](۲) قَاتِل د مَقتُول وَارِث نَه جوړيږي .

وجه : په حديث کي دئ. عَن عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) ... وَقَالَ لَيسَ لِلقَاتِلِ شَيئٌ وَ اِن لَم يَكُن لَهُ وَارِثٌ فَوَارِثُهُ اَقرَبُ النّاسِ اِلَيهِ وَ لاَ يَرِثُ القَاتِلُ شَيئًا (الف) (ابوداؤدشريف.باب ديات الاعضاء ص۲۷۸نمبر۴۵۶۴،كتاب الديات/ ترمذي شريف.باب ماجاء في ابطال ميراث القاتل ص۳۱نمبر۲۱۰۹) ددې حديث څخه معلوم شو چې قَاتِل وَارِث نَه شي جوړېدلائي .

[۳۲۳۱](۳) هرقِسم کُفر يَو مِلّت دئ نوځکه يَو کافِر د بَل کافِر وَارِث دئ .

تشريح : چې د يهودي رِشتَه دَار يهودي وي خو وَارِث ګرزي.لېکن چې د يهودي رِشتَه دَار نَصرَانِي يا مَجُوسِي وي نو وَارِث ګرزي که نَه؟ په دې اَړَه اِختِلاَف دئ.د مصنّف رأيَه داده چې نَصرَانِي يا مَجُوسِي د يهُودِي وَارِث جوړيږي .

وجه : (۱) کَافِر که يهودي وي که نَصرَانِي وي يَو مَذهَب دئ يعني کافِر دئ.نو ځکه دُوئي به يَو د بَل وَارِثَان وي (۲) په اَثَر کي ددې ثبوت شته. حَدّثَنَا سُفيَانُ اَلاِسلاَمُ مِلّةٌ وَ الشّرکُ مِلّةٌ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة،۸۸ في النصرانيّ يرث اليهوديّ واليهوديّ يرث النّصرَانِيّ،ج۶،ص۲۸۸،نمبر۳۱۴۴۴) په دې اَثَر کي دئ چې ټوله کُفر(عَالَمِ کُفر) ګواکه يَو مَذهَب دئ.لِهٰذَا دُوئي به يَو د بَل وَارِثَان وي .

فائده : د بعضُ اِمَامَانُ رأيه داده چې يهودي د نَصرَانِي او نَصرَانِي د يهودي وَارِث نه شي کېدلائي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل دقَاتِل لپاره هيڅ شَئ نشته.كه د هغه وَارِث نَه وي نو دخلګو څخه چي ګُوم قَرِيب وي هغه به دده وَارِث وي.او قَاتِل د هيڅ شِي وَارِث نَه شي جوړېدلائي (ب) حضرت سفيان وفرمايل اِسلاَم جَلاَ دِين دئ او شِرک (كُفر) جَلاَ دِين دئ .

[٣٢٣٢](۴) وَ لاَ يَرِثُ المُسلِمُ الكَافِرَ وَ لاَ الكَافِرُ المُسلِمَ [٣٢٣٣] (۵) وَ مَالُ المُرتَدِّ لِوَرَثَتِهِ المُسلِمِينَ وَ مَا اِكتَسَبَهُ فِي حَالِ رِدّتِهِ فَيءٌ .

وجه : (١) د دُوئي دليل دا اَثَر دئ. عَنِ الحَسَنِ قَالَ لاَيَرِثُ اليَهُودِيّ النّصرَانِيّ وَ لاَ النّصرَانِيّ اليَهُودِيّ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة،٨٨ في النصرانيّ يرث اليهوديّ واليهوديّ يرث النّصرَانِيّ،ج۶،ص٢٨٧،نمبر٣١۴۴٣) په دې اَثَر کي دئ چي دُوئي يَو د بَل وَارِثَان نَه جوړيږي (٢) په حديث کي دئ. عَن جَابِرَ عَنِ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ لاَ يَتَوَارَثُ اَهلُ مِلّتَينِ (ب) (ترمذي شريف.باب لايتوارث اهل ملّتين،ص٣١،نمبر٢١٠٨) ددې حديث څخه معلوم شوچي د دُوُ مَذهَبُ خلګ يو د بَل وَارِثَان نَه شي جوړېدلائي .

[٣٢٣٢](۴) مسلمان د كافِر او كافِر دمسلمان وَارِث نَه شي جوړېدلائي .

وجه : (١) مخته اَثَرتېرشوچي د دُوُ مَذهَبُ خلګ يودبَل وَارِثَان نَه شي جوړېدلائي .دلته خو كُفر او اِسلاَم بالكُل جَلاَ جَلاَ مَذهَبُونَه دي نو ځكه په هيڅ حال كي وَارِث نَه شي جوړېدلائي (٢) په حديث كي دئ. عَن أُسَامَةَ بِنِ زَيدٍ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ لاَ يَرِثُ المُسلِمُ الكَافِرَ وَ لاَ الكَافِرُ اَلمُسلِمَ (ج) (بخاري شريف.باب لايرث المسلم الكافر ولا الكافر المسلم،١٠٠١،نمبر۶٧۶۴/ابوداؤدشريف،باب هل يرث المسلم الكافِرَ،ج٢،ص۴٧،نمبر٢٩٠٩) ددې حديث څخه معلوم شوچي مسلمان د كافِر او كافِر دمسلمان وَارِث نَه شي جوړېدلائي .

[٣٢٣٣](۵) د مُرتَد مَال به دده د مسلمان وَارِثَانُ وي.او چي څَه يې د اِرتِدَاد په حالت كي ګټلي دي هغه غَنِيمَت دي .

تشريح : مُرتَد خو كافِر شوئ دئ نو ځكه د اِرتِدَاد په حالت كې چي څَه ګټلي دي مسلمان دهغه وَارِث نَه شي جوړېدلائي.ځكه چي مخته تېرشو چي مسلمان د كافِر

حاشيه : (الف) حضرت حسن وفرمايل يهودي د نَصرَانِي وارث نَه شي كېدلائي.اونَصرَانِي د يهودي وَارِث نَه شي كېدلائي (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل د دُوُ دِين والا خلګ يَو د بَل وَارِثَان نَه شي كېدلائي (ج) حضور (ﷺ) وفرمايل مسلمان د كافِر او كافِر د مسلمان وَارِث نَه شي كېدلائي .

[٣٢٣۴](۶) وَ اِذَا غَرَقَ جَمَاعَةٌ اَو سُقِطَت عَلَيهِم حَائِطٌ فَلَم يُعلَم مَن مَاتَ مِنهُم اَوّلاً فَمَالُ كُلّ وَاحِدٍ مّنهُم لِلاَحيَاءِ مِن وَرَثَتِهِ .

وَارِث نَه شي جوړېدلائي.البته! د اِسلاَم په حالت كې چي څَه ګټلي دي دهغه وَارِث به مسلمان وي.ځكه چي د دوارو مَذهَب يَو دئ .

وجه : په اَثَر كي دئ. عَن عَلِيّ اَنّهُ اُتِيَ بِمُستَورِدِ العَجَلِيّ وَقَد اِرتَدّ فَعَرَضَ عَلَيهِ الإسلاَمَ فَاَبَي قَالَ فَقَتَلَهُ وَجَعَلَ مِيرَاثَهُ بَينَ وَرَثَتِهِ المُسلِمِينَ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة،٨٠ في المرتد عن الاسلام،ج،۴،ص٢٨١،نمبر٣١٣٧۵/مصنّف عبدالرّزاق.باب ميراث المرتد، ج١٠،ص٣٣٩،نمبر١٩٢٩۶/سنن

للبيهقي.باب من قال في المرتديستتاب مكانه فان تاب وإلاّقُتِلَ ج٨ ص٣٥٨،نمبر١٦٨٨٥) ددې اَثَرڅخه معلوم شو چې دمُرتَد هغه مَال چې د اِسلاَم په زَمَانَه کې ګټلئ وي هغه به د مسلمان وَارِثَانُ تر مينځ تقسيميږي.او دکُفر د زَمَانې ګټلئ مَال ګواکه د حَربِي مَال دئ نو ځکه هغه به مَالِ فَئ وي .

[٣٢٣٤](٦) که يَوجماعت ډُوب شو يا دِبوَال پر رَايلَه شو او معلوم نَه دئ چې د دُوئي څخه کُوم يَو مخکي مَړ دئ نو د دُوئي څخه د هَر يوه مَال د دُوئي د ژُوَندِي وَارِثَانُ دئ .

تشريح : ديَوَه جَمَاعَت خلګ په خپل مينځ کي سره رِشتَه دَارَانُ وُ او يَو د بَل وَارِثَان وُ.ټوله په ګَښتَئ کي ډُوب شول او مَړَه شول.دا معلوم نَه شو چې څوک مخکي مَړ دئ او څوک وروسته مَړ دئ.نو په دَاډَوَل صورت کي دغه خلګ په خپل مينځ کي يَو دبَل وَارِثَان نَه شي کېدلائي.بلکه چې کُوم خلګ ژُوَندِي دي هغه به وَارِثَان وي .

وجه : (١) په اَثَرکي راغلي دي. عَن عُمَرَ بنِ عَبدَالعَزِيزِ اَنّهُ کَانَ يُورِثُ الاَحيَاءَ مِنَ الاَموَاتِ وَ لاَ يُورِثُ الغَرقْي بَعضُهُم مِّن بَعدٍ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة،٤٧ من قال يرث كلّ

حاشيه : (الف) حضرت علي ته مُستَورِد عَجَلِي حاضر کړئ.دئ مُرتَدشوئ وُ نوپر ده يې اِسلاَم وُړَاندِي کړئ هغه اِنکار وکړئ.فرمايي چې هغه يې قتل کړئ او دده وِرَاثَت يې د مسلمانانُ وَارِثَانُ ترمينځ تقسيم کړئ (ب) عمربن عبدالعزيز فرمايي ژُوَندَئ سړئ به د مُردَګَانُ وارث وي. لېکن ډُوب شوي خلګ بعض د بعضُ وَارِثَان نَه دي .

[٣٢٣٥](٧) وَ اِذَا اِجتَمَعَ فِي المَجُوسِيِّ قَرَابَتَانِ لَو تَفَرّقَت فِي شَخصَينِ وُرِّثَ اَحَدُهُمَا مَعَ الآخَرِ وُرِّثَ بِهِمَا .

واحِدٍمِّنهُم وارثه من النّاس و لا يورث بعضهم من بعضٍ،ج٦،ص٢٧٨،نمبر٣١٣٤٠/سنن دارمي،باب ميراث الغرقْي،ج٢،ص٤٧٣،نمبر٣٠٤٤) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې غَرق شوي خلګ يَو دبَل وَارِثَان نَه شي کېدلائي بلکه د دُوئي وروسته چې کُوم خلګ ژُوَندِي پاته شوي دي هغه به وَارِثَان وي (٢) دا معلوم هم نَه دئ چې کُوم يَو مخکي مَړ دئ نو کُوم يَو به د کُوم يَوَه وَارِث جوړوي؟

لغت : حَائِطٌ : دبوَال .

[٣٢٣٥](٧) که په مجوسِي کي دَاډَوَل دُوَه قَرَابَتُونَه جمع وي که چيري هغه په دُو نَفَرُ کي جمع شي نو يَو د بَل وَارِث وي.نو مجوسِي به ددې څخه د يَوَه په ذريعه سره وَارِث شي .

تشريح : ددې مسئلې د پُوهَنِي څخه مخکي په دې ځانونه پُوه کړئ چې مَجُوسِي دخپلي مُور او لُور سره هم نکاح جائز ګڼي او نکاح ورسره کوي.اُوس مثلاً د مُور سره نکاح وکړه نو دا مُور هم شوه او مَينَه هم شوه.اُوس دا مَجُوسِي مَړ شو نو دې بنځي ته د مُور ميراث ورکړو يا د مَيني ميراث ورکړو يا د دواړو ميراث ورکړو؟ نو مصنّف() فرمايي چې کُومَه حلال او جائز رِشتَه دَارِي ده دهغه وِرَاثَت به ورته

ملاؤيږي.لِهْذَا دې ښځه ته به د مُور وَلَئ وِرَاثَت ملاؤيږي.د مَينې وَالِي وِرَاثَت به نَه ورته ملاؤيږي.په يوه بَل دُويَم مثال هم ځانونه پُوه کړئ. ددغه ښځي څخه مثلاً د مَجُوسِي لور پيدا شوه نو دا لُور هم ده او اَخيَافِي خُور هم ده.ځکه چې د مَجُوسَي د مُور لُور ده.نو و لُور ته به کُوم وِرَاثَت ورکول کيږي؟ د لُوروَلَئ يا د اَخيَافِي خُوروَلَئ؟ يا د دواړو؟ نو مصنّف (؟) فرمايي چې دلته دواړه قَرَابَتُونَه يعني لُوروَالَئ هم د نِکَاحِ فَاسِد په نتيجه کې راغلئ دئ او اَخيَافِي خُوروَالَئ هم د نکاحِ

[٣٢٣٦](٨) وَ لاَ يَرِثُ المَجُوسِيّ بِالاَنكِحَةِ الفَاسِدَةِ اَلّتِي يَستَحِلّونَهَا فِي دِينِهِم .

فَاسِد په نتيجه کې راغلئ دئ نو ځکه و دې اِنجِلَئ ته د هسې يَوَه قَرَابَت وِرَاثَت ورکه.د دواړو قَرَابَتُونُو وَرِاثَت مَه ورکوه .

وجه : (١) ځکه چې د اِسلاَمِي شريعت په رُونَا(رَنَا)کې دغه دَوَل دُوَه قِسم قَرَابَتُونَه اِمکان نَه لري.يَو قَرَابَت کېدلائي شي.نوځکه د يَوَه قَرَابَت وِرَاثَت ورکه (٢) په اَثَر کې راغلي دي. عَنِ الزّهرِيّ قَالَ يَرِثُ بِاَدنَي النّسَبَينِ (الف) په بَل رِوَايَت کې دئ. سَألتُ حَمّادًا عَن مِيرَاثِ المَجُوسِيّ قَالَ يَرِثُونَ مِنَ الوَجهِ الّذِي يَحِلّ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة، ٨٣ في المجوس كيف يرثون مجوسِيًّا مَاتَ وترک ابنته،ج٦، ص٢٨٤،نمبر٣١٤١٢/٣١٤١٦) په دې اَثَر کې دئ چې په دُوُ قرابتو کې چې کُوم قَرِيب تَرين(دپرنژدې)وي وِرَاثَت به دهغه قَرَابَت جوړيږي.په بَل روايت کې دئ چې کُوم قَرَابَت په حلالَ طريقه سره وي دهغه قَرَابَت په وجه وِرَاثَت جوړيږي .

[٣٢٣٦](٨) مجوسي د نکاَحِ فَاسِد په وجه وَارِث نَه جوړيږي کُوم چې دُوئي په خپله دِين کې حلالَ ګڼله .

تشريح : مجوسِي دخپلي مُور .د لُور.د خُور سره نکاح حلالَ ګڼي.لېکن په شريعت کې د مُور.لُور.خُور او دغه رنګه نورو ذِي رَحِمِ مَحرَم سره نکاح حرام ده.نو ځکه د دَاِيَوَل خلګو سره د نکاح کولو په وجه وَارِث نَه ګرزي.بلکه چې د حلالُ ښځو سره نکاح وکړي نو وَارِث ګرزي .

وجه : اُوس اَثَر تېرشو. سَألتُ حَمّادًا عَن مِيرَاثِ المَجُوسِيّ قَالَ يَرِثُونَ مِنَ الوَجهِ الّذِي يَحِلّ (مصنّف ابن ابي شيبة، ٨٣ في المجوس كيف يرثون مجوسِيًّا مَاتَ وترک ابنته،ج٦، ص٢٨٤،

حاشيه : (الف) حضرت زهري وفرمايل چې مجوسي د دُوُ نَسَبُ څخه چې کُوم نِژدې وي دهغه څخه وَارِث جوړيږي (ب) مَا دحضرت حمّاد څخه د مجوسِي د ميراث په اړه پُوښتنَه وکړه.وفرمايل په کُومَه طريقه چې حلالَ وي دهغه نَسَب څخه به وَارث وي (د حرام څخه وَارث نَه جوړيږي) .

[٣٢٣٧](٩) وَ عَصَبَةُ وَلَدِ الزّنَا وَ وَلَدِ المُلاَعَنَةِ مَولْي اُمّهِمَا .

نمبر٣١٤١٢/٣١٤١٦) په دې اَثَر کې دئ چې په حلالَ طريقه سره نکاح کړې وي نو په هغه سره وَارِث جوړيږي که نَه نو وَارِث نَه جوړيږي .

[۳۲۳۷](۹) د وَلَدُ الزِّنَا او وَلَدِ مُلاَعِنَه عَصَبَه د دُوئي دواړو د مُور رِشتَه دَارَان دي .
تشريح : د زِنَا څخه چي کُوم بَچِئ پيدا شوئ دئ د شَرعِ په رُونَا کي دهغه پُلاَر نشته.يا د کُومِي ښځي سره چي پُلاَر لِعَان وکړئ نو دهغه بَچِي سره د پُلاَر رِشتَه دَارِي ختم شوه.اُوس هغه پُلاَر پاته نَه شو.نو ځکه نَه به پُلاَر وَارِث وي او نَه به د پُلاَر رِشتَه دَارَان وَارِثَان وي.بلکه ددغه بَچِي تعلّق اُوس د مُور سره شو.نو ځکه مُور به وَارِثَه وي او د مُور رِشتَه دَارَان به وَارِثَان وي.او دغه هَلَک به د مُور وَارِث وي او د مُور لخوا چي کُوم رِشتَه دَارَان دي دهغو وَارِث به وي .
وجه : (۱)په حديث کي ددې ثبوت شته.حَدّثَنَا مَکحُولُ قَالَ جَعَلَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مِيرَاثَ اِبنَ المُلاَعَنَةِ لأُمّهِ وَلِوَرَثَتِهَا مِن بَعدِهَا (الف) (ابوداؤدشريف.باب ميراث ابن الملاعنة،ص۴۷،نمبر۲۹۰۷) (۲) په بخاري شريف کي دا حديث دئ. عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ رَجُلاً لاَعَنَ اِمرَأ تَهُ فِي زَمَنِ النّبِيّ (ﷺ) وَ اِنتَفْي مِن وَلَدِهَا فَفَرّقَ النّبِيّ (ﷺ) بَينَهُمَا وَ اَلحَقَ الوَلَدَ بِالمَرأةِ (ب) (بخاري شريف،باب ميراث الملاعنة،ص۹۹۹،نمبر۶۷۴۸) ددې حديث څخه معلوم شوچي د کُومِي ښځي سره چې لِعَان کړئ دئ ددغه ښځي دغه بَچِئ ددې پُلاَر وَارِث نَه شي کېدلائي.او نَه پُلاَر دده وَارِث کېدلائي شي.بلکه ښځه به د بَچِي وَارِثَه وي او بَچِئ به د مُور وَارِث وي .
د زِنَا څخه پَيدا شوي بَچِي په اړه دا حديث دئ.عَن عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن

حاشيه : (الف) چي لِعَان ورسره شوئ وي دهغې ښځي د زُوئي ميراث حضور (ﷺ) دده د مُور لپاره کړئ او چي کُوم ددې وروسته وَارِثَان دي دهغوئي لپاره کړئ (ب) حضرت ابن عمر فرمايي چي د حضور (ﷺ) په زَمَانَه کي يَوَه سړي د يوې ښځي سره لِعَان وکړئ او د ځَان څخه ددې د بَچِي نَفي وکړې نو حضور (ﷺ) د دواړو تر مينځ تفريق(جُدَايي)وکړئ او بَچِئ يې د ښځي سره مُلحَق(مَنسُوب)کړئ .

[۳۲۳۸](۱۰) وَ مَن مَاتَ وَ تَرَکَ حَملاً وُقِّفَ مَا لُهُ حَتّي تَضَعَ اِمرَأتُهُ حَملَهَا فِي قَولِ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي .

جَدِّهِ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اَيّمَا رَجُلٍ عَاهَرَ بِحُرّةٍ اَو اَمَةٍ فَالوَلَدُ وَلَدُ زِنَا لاَ يَرِثُ وَ لاَ يُورَثُ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في ابطال ميراث ولدالزّنَا،ص۳۱،نمبر۲۱۱۳) په دې حديث کي دئ چي نَه پُلاَر ته د هَلَک ميراث ملاؤيږي اونَه به هَلَک د پُلاَر وَارِث وي .
لغت : مُلاَعَنَةٌ : هغه ښځه چي د زِنَا د تُهمَت په وجه د مېړه سره لِعَان کړئ وي.
مَولٰي : آقَا،دلته د مُور رِشتَه دَارَان ځيني مُرَاد دي .
[۳۲۳۸](۱۰) يو څوک وَفَات شو او حَمَل يې پرېښوئ نو دده مَال به مَوقُوف پاته وي.تر هغه وخته چي دده مَينَه حَمَل وَزِيږَوِي د امام ابوحنيفه د قول مطابق .
تشريح : يَوسړئ وَفَات شو اوهغه وخت دده مَينَه حَمَلدَارَه وه.نو دغه حَمَل ته به هم دپُلاَروِرَاثَت ملاؤيږي.بيا که چيري دغه يَو بَچِئ وُ نو اُوس به وِرَاثَت نَه تقسيموي. بلکه د وَضعِ حَمَل وروسته دي وِرَاثَت تقسيم کړي.او که نُور اَولاَدُونَه هم موجود وي نو دغه حَمَلَ به هَلَک فرض کوي اودده حِصّه به جَلاَ اِږدِي.ځکه چي د هَلَک حِصّه

زياته وي او د اِنجِلَئ حِصّه گَمَه وي.كه چيري دغه حَمَل اِنجِلَئ فرض كړي او وِرَاثَت تقسيم كړي بيا وروسته هَلَک پيدا شي نو دُوبَارَه د وَارِثِينُ څخه مَال اَخَستَل دِپر مُشكِل كار دئ.نوځكه د اَوّل څخه به اِحتِيَاط كوي او دهَلَک حِصّه به اِردِي.چي بيا وروسته د وَارِثِينُ څخه د مَال اَخَستَلُو ضرورت پيښ نَه شي.او كه اِنجِلَئ پيدا شوه نو دې ته د حِصّه وركولو وروسته چي خَّه پاته شو هغه به و نورو وَارِثَانُ ته دخپلي حِصّې په اَندَازَه تقسيم كړي.دا چي حَمَل به وَارِث وي ددې دليل

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل يَو نَر د آزادِ ښځي يا مينځي سره زِنَا وكړه نو بَچَئ به د زِنَا وي.نَه پُلاَر دده وَارث دئ او نَه دئ د پُلاَر وَارث دئ .

[٣٢٣٩](١١) وَ الجَدّ اَولْي بِالمِيرَاثِ مِنَ الاِخوَةِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي وَ قَالَ اَبُويُوسُفَ وَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي يُقَاسِمُهُم اِلاّ اَن تَنقُصَهُ المُقَاسَمَةُ مِنَ الثّلُثِ .

مخته تېرشوئ دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَنِ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ اِذَا اِستَهَلّ المَولُودُ وَرِثَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في المولوديستهلّ ثُم يموت،ص٤٩،نمبر٢٩٢٠/ابن ماجه شريف.باب ماجاء في الصّلاَةِ علْي الطِّفلِ،ص٢١٥،نمبر١٥٠٨) ددې حديث څخه معلوم شوچي بَچَئ زُوَندَئ پيدا شي نو هغه به وَارِث وي.ددې څخه دا هم ثابت شوچي حَمَل قَرَار ونيسي دهغه وروسته څوک مَړ شي نو دهغه مِيرَاث به حَمَل ته ملاؤيږي.اوددە لپاره به مَال جَلاَ كوي محفوظ به اِردِي .

[٣٢٣٩](١١) نِيگَه تر وُرُونُو زيات حَقدَارَه دئ د ميراث د امام ابوحنيفه په نېز.او صاحبين فرمايي چي هغه ته به د وُرُونُو برابر ملاؤيږي.مگر دا چي ده ته په تقسيم كولو كي تر دَرَيَمَه گَم ورسيږي .

تشريح : د امام ابوحنيفه(ؒ) په نېز نِيگَه تر وُرُونُو مُقَدّم دئ نوځكه اَوّل به نِيگَه ته وركوي.چي دده څخه پاته شي بيا به و وُرُونُو ته وركول كيږي.او صاحبين فرمايي چي د اَصحَابِ سِهَام څخه وروسته چي كُوم مَال پاته شي هغه به و دواړو ته نِيمَئ نِيمَئ وركول كيږي.البته! كه چيري په نِيمَئ نِيمَئ وركولو كي و نِيگَه ته تر دَرَيَمَه گَم ملاؤيږي نو بيا به اَوّل وار و نِيگَه ته دَرَيَمَه وركول كيږي بيا چي خَّه پاته شي هغه به و وُرُونُو ته وركول كيږي .

وجه : (١) د امام صاحب دليل دا اَثَر دئ. وَ قَالَ اَبُوبَكرُ وَ اِبنُ عَبّاسٍ وَ اِبنُ الزُبَيرِ اَلجَدّ اَبٌ وَقَرَأ اِبنُ عَبّاسٍ يَابَنِي آدَمَ [آيت ٢٦،سورة الأعراف ٧] وَ اِتّبَعتُ مِلّةَ آ بَاءِي اِبرَاهِيمَ وَاِسحَاقَ وَ يَعقُوبَ (ب)

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل كه بَچَئ وَژَارِي نو وَارِث گرزي (ب) حضرت ابوبكر او ابن عبّاس او ابن زبير وفرمايل چي نِيگَه د پُلاَر په درجه كي دئ.بيايي د دليل لپاره حضرت ابن عبّاس دا آيت يَابَنِي آدَمَ او آيت وَاتّبَعتُ مِلّةَ آبَائِي اِبرَاهِيمَ وَ اِسحَاقَ وَ يَعقُوبَ تِلاَوَت كړئ .

([آيت ۳۸،سورة يوسف ۱۲]بخاري شريف،باب ميراث الجدّمع الأبِ والاخوة،ص۹۹۷،نمبر۶۷۳۷) په دې اَثَرکي دئ چي نِيګه ته د پُلاَر درجه ورکړه ځکه چي په آيت کې هم وحضرت يعقوب ته پُلاَر ويلي دي حالانکه هغه نِيګه دئ.ددې څخه معلوم شوچي نِيګه د پُلاَر په درجه کي دئ.او د پُلاَر په وجه وُرُور ساقطيږي.لِهٰذَا د نِيګه په وجه به هم سَاقِط شي (۲) په حديث کي د نِيګه اَهمِيّت بيان شوئ دئ. عَن عِمرَانَ بِنِ حُصَينٍ اَنّ رَجُلاً اَتَي النّبِيّ (ﷺ) فَقَالَ اِنّ اِبنَ اِبنِي مَاتَ فَمَالِي مِن مِيرَاثِهِ؟ قَالَ لَکَ السّدُسُ. فَلَمّا اَدبَرَ دَعَاهُ فَقَالَ لَکَ سُدُسٌ آخَرَ فَلَمّا اَدبَرَ دَعَاهُ فَقَالَ اِنّ السّدُسَ الآخِرَ طُعمَةٌ (الف) (ابوداؤدشريف.باب ماجاء في ميراث الجَدِّ ص۴۵ نمبر۲۸۹۵/ترمذي شريف.باب ماجاء ميراث الجَدِّ ص۳۰ نمبر۲۰۹۹) په دې حديث کې ونِيګه ته حِصّه هم ورکړې ده او د عَصَبَه په حَيث يې هم شُيَرَمَه حِصّه ورکړې ده نو ځکه د وُرُور په مقابله کي نِيګه زِيَات اَهمِيّت لري .

د صاحبينُ دليل دا اَثَر دئ. عَنِ الزّهرِيّ قَالَ کَانَ عُمَرُ بِنِ الخَطّابِ يُشرِکُ بَينَ الجَدِّ وَ الاَخِ اِذَا لَم يَکُن غَيرُهُمَا وَ يُجعَلُ لَهُ الثّلُثُ مَعَ الاَخَوَينِ وَ مَا کَانَتِ المُقَاسَمَةُ خَيرٌ لَهُ قَاسَمَهُ وَ لاَ يُنقَصُ مِنَ السّدُسِ فِي جَمِيعِ المَالِ (ب) په بَل رِوَايَت کي دئ. وَحَضَرتُ الخَلِيفَتَينِ قَبلَکَ،يُرِيدُ عُمَرَ وَ عُثمَانَ يُقضِيَانِ لِلجَدِّ مَعَ الاَخِ الوَاحِدِ اَلنِّصفَ وَ مَعَ الاِثنَينِ اَلثّلُثَ فَاِذَا کَانُوا اَکثَرَ مِن ذَالِکَ لَم يُنقَصُ مِنَ الثّلُثِ شَيئًا (ج) (مصنّف عبدالرّزاق،باب فرض الجَدِّ،ج۱۰،ص۲۶۶،نمبر۱۹۰۶۱/۱۹۰۶۲/مصنّف ابن ابي شيبة،۴۴ اذا

حاشيه : (الف) يو سړئ حضور (ﷺ) ته راغلئ او وويل چي زُومَا لُمَسئ وَفَات شوئ دئ مَاتَه به دده د تَرَکَه څخه خَه ملاؤيږي؟وفرمايل تَاتَه به شُيَرَمَه حِصّه ملاؤيږي.بيا چي وَاپَس راغلئ نو حضور (ﷺ) وفرمايل ستا لپاره دُوَيَمَه شُيَرَمَه حِصّه هم ده.بيا چي وَاپَس راغلئ نو دئ يې رَاوَبَالَئ او وفرمايل دغه دُوَيَمَه شُيَرَمَه حِصّه د عَصَبَه په توګه د خُوَرَاک لپاره ده (ب) حضرت عمر نِيګه او وُرُور شريکان کول چي د دواړو څخه عَلاوَه بَل څوک به نَه وُ.او د نِيګه لپاره د دُوُ وُرُونُو په موجودګئ کي دَرَيَمَه حِصّه وه.او چي تقسيم بَه بِهتَر وُ نو تقسيم به کاوئ بيا هم په ټوله مَال کي به تر شُيَرَمَه حِصّه نَه ګَمَاوَئ (ج) ستاڅخه مخکي دُوَه خليفه ګان تېرشوي دي يعني حضرت عمر او عُثمَان.دواړو د نِيګه لپاره د يَوَه وُرُور په موجودګئ کي د نِيمَئ مَال فيصله کوله.او د دُوُ وُرُونُو په موجودګئ کي د يوې دَرَيَمِي فيصله کوله.او که وُرُونَه تر دې زيات وُ بيايي هم تر دَرَيَمَه نَه کَمَوَلَه .

[۳۲۴۰](۱۲) وَ اِذَا اِجتَمَعَ الجَدّاتُ فَالسّدُسُ لاَقرَبِهِنّ .

ترک اخوة و جدّا واختلافهم فيه،ج۶،ص۳۶۲،نمبر۳۱۲۱۵) ددې اَثَر څخه معلوم شوچي نِيګه ته به د وُرُور نِيمَئ تقسيم کوي بيابه ورکوي.البته په تقسيم کولو کي که چيري د نِيګه حِصّه تر دَرَيَمَه کَمّه وه نو نِيګه ته به دَرَيَمَه پُورَه ورکوي.ځکه چي په بَل اَثَر کي راغلي دي. لَم يُنقَصُ مِنَ الثّلُثِ شَيئًا چي تر دَرَيَمَه به نَه کموي .

لغت : يُقَاسَمُ : د بَابِ مُفَاعَلَة څخه دئ په خپل مينځ کي تقسيم کول .

[۳۲۴۰](۱۲) که ډيري اَنَاګَانِ جمع شي نو شُيَرَمَه حِصّه به په دُوئي کي هغې ته ملاؤيږی چي ډېره نِژدې وي .

تشريح : مَثَلاً اَنَا هم موجود ده او وَرَه اَنَا(د پُلاَر مُور)هم موجود ده.د مُور مُور هم موجود ده او د مُور د مُور مُور هم موجود ده(وهغه ته هم اَنَا او وَرَه اَنَا ويل کيږي)نو په

دَاډَوَل صورت کي به هغه اَنَا ته ملاؤيږي چي نِژدې ده هغې ته به شُپَږَمَه حِصّه ملاؤ شي او چي کومه ليري اَنَا ده هغې ته نَه ملاؤيږي.مثلاً يوه د پُلاَر مُور ده او بله د مُور د مُور مُور ده(يعني د مُور لخوا وَرَه اَنَا).نو د پُلاَر و مُور ته به شُپَږَمَه ملاؤ شي او د مُور لخوا چي کُومَه وَرَه اَنَا ده هغې ته نَه ملاؤيږي.ځکه چي هغه ليري اَنَا ده .

وجه : په اَثَر کي راغلي دي. عَنِ الحَسَنِ اَنَّهُ کَانَ يُورِثُ ثَلاَثُ جَدّاتٍ وَ يَقُولُ اَيَّتُهُنّ کَانَت اَقرَبُ فَهُوَ لَهَا دُونَ الأُخرْي فَاِذَا اِستَوَتَا فَهُوَ بَينَهُمَا (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة. ۶۲ في الجدّات لم ترث معهنّ.ج۶،ص۲۷۲،نمبر۳۱۲۷۵/مصنّف عبدالرّزاق،باب فرض الجدّات،ج۱۰، ص۲۷۶،نمبر۱۹۰۸۹) ددې اَثَر څخه معلوم شوچي د پُلاَر او د مُور لخوا کُومَه اَنَا نِژدې وي هغې ته به ملاؤيږي.او که دواړې په درجه کي سره برابري وي نو شُپَږَمَه حِصّه به د دواړو تر مينځ تقسيميږي .

حاشيه : (الف) حضرت حسن فرمايي چي دري اَنَاګانِ وَارِثَان کېدلائي شي.او چي کومه يوه مِيّت ته نِژدې وي وِرَاثَت به دهغې لپاره وي دبَلِي لپاره به نَه وي.او چي دواړې اَنَاګانِ په درجه کي سره برابري وي نو د دواړو تر مينځ به وي .

[۳۲۴۱](۱۳) وَ يَحجُبُ الجَدّ اُمّهُ [۳۲۴۲](۱۴) وَ لاَ تَرِثُ اُمّ اَبِ الأُمِّ بِسَهمٍ [۳۲۴۳](۱۵) وَ کُلّ جَدّةٍ تَحجُبُ اُمّهَا .

وجه : په اَثَر کي دئ. ثُمّ جَاءَتِ الجَدّةُ الأُخرْي اِلْي عُمَرَ بنِ الخَطّابِ تَسأ لُهُ مِيرَاثَهَا ... وَ مَا اَنَا بِزَائِدٍ فِي الفَرَائِضِ وَ لْكِن هُوَ ذَالِکَ السّدُسُ فَاِن اِجتَمَعتُمَا فِيهِ فَهُوَ بَينَکُمَا وَ اَيّتُکُمَا مَا خَلَتِ بِهِ فَهُوَ لَهَا (الف) (ابوداؤدشريف.باب في الجَدّةِ ص۴۵ نمبر۲۸۹۴/ترمذي شريف.باب ماجاء في ميراث الجدّة ص ۳۰ نمبر۲۱۰۰) په دې اَثَر کي دئ چي د مُور او پُلاَر لخوا ګڼ شمېر اَنَاګانِ جمع شي نو شُپَږَمَه حِصّه به د ټولو تر مينځ تقسيميږي .

اصول : د پُلاَرګڼئ او مُورَنَئ ټولو اَنَاګانُ لپاره صِرف شُپَږَمَه حِصّه ده .

[۳۲۴۱](۱۳) نِيګه خپله مُور مَحجُوب کوي .

تشريح : چي نِيګه موجود وي نو دده و مُور ته هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي .

وجه : نِيګه په خپله عَصَبَه دئ دهغه په وجه دئ توله مَال جمع کوي.نو ځکه دهغه څخه و وُرُوستَنِي ته به څَه ملاؤيږي ؟ .

[۳۲۴۲](۱۴) د مُور د پُلاَر مُور دهيڅ شِي وَارِثَه نَه ګرزي .

تشريح : د مُور د پُلاَر مُور.د مُور اَنَا شوه او د مَيّ ِّت وَرَه اَنَا شوه.په دي کي نِيګه يعني د مُور پُلاَر ذَوِي الاَرحَام دئ او دا د نِيګه مُور ده.چي ذَوِي الاَرحَام عَصَبَه نَه ګرزي نو دهغوئي مُور به څَه رنګه عَصَبَه وي؟ او نَه به دُوئي ته څَه ملاؤيږي .

[۳۲۴۳](۱۵) هره اَنَا (د پُلاَر مُور) خپله مُور محجوب کوي .

وجه : د پُلاَر مُور د مُور په درجه کي ده.او چي مُور موجود وي نو د پُلاَر مُور يا د مُور مُور ته هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي هغه يې مَحجُوب کوي.دغه رنګه اَنَا(د پُلاَر مُور)

حاشيه : (الف) بيادُويَمَه اَنَاحضرت عمر ته راغله اودخپل ميراث طَلَب يي وکړئ ... وفرمايل په فَرَائِضُ کي زياتوب نَه شَم کولائي لپکن دغه شُپَږَمَه حِصّه ده که تاسو دواړه سره شريکان کيږئ اوچي خُّه يي وُړِي دي هغه دهغي دي .

خپله مُور محجوب کوي .

وجه : په حديث کي دئ.عَن اِبنِ بُرِيدَةَ عَن اَبِيهِ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) جَعَلَ لِلجَدّةِ اَلسّدُسُ اِذَا لَم تَکُن دُونَهَا اُمّ (الف) (ابوداؤدشريف،باب في الجدة،ص۴۵،نمبر۲۸۹۵) په دې حديث کي دئ چي مُور وي نو اَنَا(د پُلاَر مُور)ته هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي.ځکه چي مُور اَنَا محجوب کوي.دغه رنګه چي اَنَا وي هغه بيا خپله مُور محجوب کوي .

υο

μ.

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) اَنَا (د پُلاَر مُور) ته شُپَږَمَه حِصّه مُقَرّره کړه که چيرې مُور موجود نَه وه .

﴿... بَابُ ذَوِي الاَرحَامِ ...﴾

﴿... بَابُ ذَوِي الاَرحَامِ ...﴾

ضروري پام لرنه : هغه نِژدې رِشتَه دَارَان چې نَه حِصّه دَارَه وي او نَه عَصَبَه وي چې د حِصّې اَخستَلُو وروسته دغه ټول مَال جمع کړي و دُوئي ته ذَوِي الأرحَام ويل کيږي.که اَصحَابِ سِهَام هم وي او عَصَبَه هم نَه وي نو مَال به ذَوِي الأرحَام ته ورکول کيږي.ددې ثبوت په دې آيت کي دئ. (۱) وَ أُولُوا اَلأَرحَامِ بَعضُهُم اَولٰي بِبَعضٍ فِي كِتَابِ اللهِ اِنّ اللهَ بِكُلِّ شَيءٍ عَلِيمٌ (الف) (آيت ۷۵،سورة الانفال ۸) په دې آيت کي دئ چې ذَوِي الأرحَام د وِرَاثَت لپاره زيات ېهتَر دي.نو ځکه چې عَصَبَه نَه وي د بَيتُ المَال تر داخلولو ېهتَر دادئ چې ذَوِي الأرحَام ته ورکړي (۲) په حديث کي دئ. عَنِ المِقدَامِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) ... وَالخَالُ وَارِثُ مَن لاَ وَارِثَ لَهُ يَعقِلُ عَنهُ وَيَرِثُهُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب ماجاء في ميراث ذوي الارحام،ص۳۰،نمبر۲۸۹۹/ترمذي شريف،باب ماجاء في ميراث الخال، ص۳۰،نمبر۲۱۰۳) په دې حديث کي دئ چې هيڅ ډَوَل وارث نَه وي نو مَامَا وَارث دئ. او مَامَا د ذَوِي الأرحَام څخه دئ.ددې څخه معلوم شوچې ذَوِي الأرحَام به وَارِثَان وي .

فائده : د عبدالله بن مسعود رَأيَه داده چې عَصَبَه نَه وي نو ذَوِي الأرحَام ته به نَه ورکوي بلکه په بَيتُ المَال کي به داخلوي.دليل دا اَثَر دئ. عَن مَسرُوقٍ قَالَ اَتَيتُ عَبدَاللهِ يَعنِي اِبنَ مَسعُودٍ فَقُلتُ اِنّ رَجُلاً كَانَ فِينَا نَازِلاً فَخَرَجَ اِلٰي الجَبَلِ فَمَاتَ وَتَرَكَ ثَلٰثَ مِاَئَةَ دِرهَمٍ فَقَالَ عَبدُاللهِ هَل تَرَكَ وَارِثًا اَو لاَحَدٍمِّنكُم عَلَيهِ عَقدُ وَلاَءٍ؟ قُلتُ لاَ قَالَ لَهُ هٰهُنَا وَرَثَةٌ كَثِيرٌ فَجَعَلَ مَالَهُ فِي بَيتِ المَالِ (ج) (سنن للبيهقي،باب من

حاشيه : (الف) ذِي رَحم بعض تر بعضُ ېهتَر دي د الله په كِتَاب کي يقِينًا الله ته هر شَئ معلوم دئ (ب) حضور وفرمايل څوک چې وَارِث نَه لري مَامَادهغه وَارِث دئ.مَامَابه دخُورَېي دِيَت هم ورکوي او وَارِث به هم وي (ج) حضرت مسروق فرمايي زَه عبدالله بن مسعود ته راغلم او وَمِي ويل چې يَوسرِئ مُوږ ته مِيلمَه راغلئ او غَرَه ته وُلاړَئ او مَرشو اودري سوه دِرهَم يي پرېښُوَل.حضرت عبدالله پوښتَنَه وکړه چې وَارِث يي پرېښَئ دئ؟ يا پر هغه باندي ستا يو عَقدِوَلاء شته؟مَا وويل نَه.وفرمايل دلته دده دِيروَارثَان دي.دهغه مَال يي په بَيتُ المَال کي کښېښُوَئ .

[۳۲۴۴](۱) وَ اِذَا لَم يَكُن لِلمَيِّتِ عَصَبَةٌ وَ لاَ ذُوسَهمٍ وَرِثَهُ ذُوُو الاَرحَامِ وَهُم عَشَرَةٌ وَلَدُ البِنتِ وَ وَلَدُ الأُختِ وَ بِنتُ الاَخِ وَ بِنتُ العَمِّ وَ الخَالُ وَ الخَالَةُ وَ اَبُو الأُمِّ وَ العَمّ لأُمٍّ وَ العَمّةُ وَ وَلَدُ الاَخِ مِنَ الأُمِّ .

جعل ميراث من لم يدع وارثًا ولا مولًي في بيت المال،ج۶،ص۳۹۹،نمبر۱۲۴۰۴/مصنّف ابن ابي شيبة،۶۸ من قال للملاعنة الثّلث ومابقي في بيت المال،ج۶،ص۲۷۶،نمبر۳۱۳۱۴) ددې اَثَرڅخه معلوم شوچې عَصَبَه نَه وي نو مَال دي په بَيتُ المَال کي دَاخِل کړي چې و عَامُ مسلمانانُ ته ملاؤ شي .

[۳۲۴۴](۱) که د مَيّت نَه عَصَبَه وي او نَه ذَوِي الفُرُوض وي نو ذَوِي الاَرحَام به دده وَارِثَان وي او هغه لَس دي (۱) د لُور اَولاَدَه (۲) د خُور اَولاَدَه (۳) وُربرَه (۴) د اَکَا لُور (۵) مَامَا (۶) خَالَه (۷) د مُور پُلاَر (۸) اَخيَافِي اَکَا (۹) تُربِرِي (۱۰) د اَخيَافِي وُرُور اَولاَدَه .

تشريح : دغه لَس قِسم اِنسَانَان ذَوِي الاَرحَام دي و دُوئي ته بِالتّرتِيب د مِيّت مَال ملاؤيږي کله چې حِصّه دَارَان او عَصَبَه موجود نَه وي.په دي کي (۱) اَوّل د لُور اَولاَدَه ده چې لُمَسې يا لُمَسَئ ورته وايي.دغه د مَيّت اَولاَدَه ده دُوئي ته به اَوّل ورکول کيږي.که دُوئي نَه وي نو بيابه وروسته اِنسَانَانُ ته ملاؤيږي (۲) ددې وروسته د خُور اَولاَدَه ده چې خُوَرَيَئ يا خُورخَه ورته وايي.دا د مَيّت د پُلاَر او مُور اَولاَدَه شوه (۳) په دريمه درجه کي د وُرُور لُور ده چې وُرېرَه ورته وايي.دا هم د مَيّت د مُور او پُلاَر اَولاَدَه شوه (۴) په څلورمه درجه کي د اَکَا لُور ده.هغې ته هم خُور ويل کيږي.دا د مَيّت د نِيکَه اَولاَدَه شوه (۵) په پِنځمَه درجه کي مَامَا دئ.دا د مُور لخوا دئ چې د نِيکَه اَولاَد دئ (۶) په شُپَږمَه درجه کي خَالَه ده.دا هم د مُور لخوا ده چې د نِيکَه اَولاَدَه ده (۷) په اُوَمَه درجه کي نِيکَه(يعني دمُور پُلاَر)دئ چې د مُور پُلاَر

[۳۲۴۵](۲) وَ مَن اَدلْي بِهِم فَاَولْهُم مَن کَانَ مِن وَلَدِ المَيّتِ ثُمّ وَلَدُ الاَبَوَينِ اَو اَحَدِهِمَا وَ هُم بَنَاتُ الإِخوَةِ وَ اَولاَدُ الاَخَوَاتِ ثُمّ وَلَدُ اَبَوَيّ اَبَوَيهِ اَو اَحَدِهِمَا وَهُم الاَخوَالُ وَ الخَالاَتُ وَ العَمّاتُ .

دئ (۸) په اَتَمّه درجه کي اَخيَافِي اَکَا دئ چې د پُلاَر مُورَنَئ وُرُور دئ (۹) په نَمّه درجه کي تُرُورِي ده چې د پُلاَر خُور ده (۱۰) په لَسَمَه درجه کي د اَخيَافِي وُرُور اَولاَدَه ده.چې د مُورَنِي وُرُور اَولاَدَه يعني وُرَارَه او وُرېرَه ورته وايي .

وجه : (۱) دغه درجې يې په دې وجه مُتَعَيّنِ کړي دي چې نِژدې رِشتَه دَار ته اَوّل ملاؤ شي او ليري رِشتَه دَار ته وروسته ملاؤ شي (۲) په اَثَر کي و دې ته اِشَارَه شوې ده. عَن عَلِيّ وَ زَيدٍ قَالاَ فِي الجَدّاتِ اَلسّهمُ لِذِوِي القُربْي مِنهُنّ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة،۶۳ من کان يقول اذا اجتمع الجدّاتُ فهو للقربْي مِنهُنّ،ج۶،ص۲۷۳،نمبر۳۱۲۸۷) په دې اَثَر کي دئ چې کُوم يَو زِيَات نِژدې وي هغه ته اَوّل ورکئ .

[۳۲۴۵](۲) او چې د دُوئي سره تَعَلّق لري په هغوئي کي ډېر بِهتَر هغه دئ چې د مَيّت اَولاَد وي.بيا هغه چې د مُور او پُلاَر يا ديوه اَولاَد وي.او هغه وُرېرېګَانِ او د خُوَندُ اَولاَدَه ده.بيا د وَالِدَينُ د وَالِدَينُ اَولاَد يا د دُوئي څخه د يوه اَولاَدَه او هغه مَامَاګَان او خَالاَګَانِ او تُرُورِيګَانِ دي .

تشريح : په دې مسئله کي د ذَوِي الاَرحَام ترتيب بيانوي.چې په ذَوِي الاَرحَامُ کي تر ټولو مُقَدّم هغه دي چې د مَيّت اَولاَدَه وي لکه لُمَسَئ او لُمَسي.بيا د مُور او پُلاَر اَولاَدَه لکه خُورَيَئ.خُورخَه.يا وُرېرَه.بيا د مُور او پُلاَر د پُلاَر اَولاَد لکه د اَکَا لُور.مَامَا.خَالَه.تُرُورِي.و دې خلګو ته به په دغه ترتيب سره حِصّي ملاؤيږي .

اصول : (۱) د مَيّت د اَولاَد اَولاَدَه (۲) بيا د پُلاَر د اَولاَد اَولاَدَه (۳) بيا د جَدِّصحيح جَدِّ فَاسِد،جَدّة صحيحه جَدّة فَاسِدَه اَولاَدَه (۴) يا د دُوئي د اَولاَدُو اَولاَدَه د ذِي

حاشيه:(الف) حضرت عَلي اوزَيد دآنَاګَانُ په اړه وفرمايل دډُوئي حِصّه به دډُوئي ونِژدې رِشتَه دَارَانُ ته ملاؤشي

[۳۲۴۶](۳) وَ اِذَا اِستَوْي وَلَدُ اَبٍ فِي دَرَجَةٍ فَاَولٰهُم مَن اَدلٰي بِوَارِثٍ وَ اَقرَبُهُم اَولٰي مِن اَبعَدِهِم .

رَحِمِ مَحرَم په اعتبار سره حَقدَارَه دي.ددي اُصُول دليل دا آيت دئ. وَ اُولُوا الاَرحَامِ بَعضُهُم اَولٰي بِبَعضٍ فِي كِتَابِ اللهِ (الف) (آيت ۷۵،سورة الانفال ۸) په دې آيت کې بعض ذَوِي الأرحَام تر بعضُ اَولٰي بنُوَلِي دي .

[۳۲۴۶](۳) که د پُلاَر اَولاَد په درجه کي سره برابر وُ نو په دُوئي کي اَولٰي هغه دئ چي مَيّت ته دِپر نِژدې وي د هسي يَوَه وَارِث په ذريعه.او نِژدې رِشتَه دَار به تر ليري رِشتَه دَار مُقَدّم وي .

تشريح :د پُلاَر په رِشتَه دَارَانُ کي دُوَه ذَوِي الاَرحَام په درجه کي سره برابر وُ.لېکن يَو ذِي رَحِمِ محرَم د يوه وَارِث اَولاَد دئ او هغه بَل ذِي رَحِمِ مَحرَم د وَارِث اَولاَد نَه دئ بلکه دهغه وَالِدَين هم صِرف ذِي رَحِمِ مَحرَم دي نو چي کُوم د وَارِث اَولاَد دئ هغه ذِي رَحِمِ مَحرَم به مُقَدّم وي.مثلاً يوه د اَکَا لُور ده او بَل د تُرورِي زُوئي دئ نو د مَيّت لپاره دواړه په درجه او رِشتَه دَاري کي سره برابر دي.لېکن اَکَا وَارِث دئ نو ځکه دده و لُور يعني د اَکَا و لُور ته به ورکول کيږي او تُرورِي وَارِثَه نَه ده نو ځکه دهغې و زُوئي ته نَه ملاؤيږي.مسئله به په دَاډَوَل وي .

مَيّت ۱۰۰

د اَکَا لُور	د تُرُورِي زُوئي
۱۰۰	×

دُويَم مِثَال دادئ : چي يوه د لُور لُمَسي ده او بله د زُوئي لُمَسي ده.د مَيّت لپاره دواړې په رِشتَه دَارِي کي سره برابر دي.لېکن د زُوئي لُور وَارِثَه ده نو ځکه دهغه و لُور ته يعني د زُوئي و لُمَسي ته به ورکول کيږي.او د لُور لُور وَارِثَه نَه ده نو ځکه

حاشيه : (الف) ذِي رَحِم بعض تر بعضُ بهتَر دي د الله په کِتَاب کي يقيناً الله ته هر شَئ معلوم دئ .

[۳۲۴۷](۴) وَ اَبُوا الأُمِّ اَولٰي مِن وَلَدِ الاَخِ وَ الأُختِ .

دهغې و لُمَسي ته به نَه ورکول کيږي.مسئله به په دَاډَوَل وي .

مَيّت ۱۰۰

د لُور لُمَسي	د زُوئي لُمَسي
×	۱۰۰

په دې مسئله کي د لُور و لُمَسي ته هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي.البته د زُوئي و لُمَسِي ته مَابَقِيَ مَال د ذَوِي الاَرحَام په حَيث ورکړئ دئ.ځکه چي هغه دوِرَاثَت په وجه مُقَدّم دئ.

اصول : د وِرَاثَت والا اَولاَد به مُقَدّم وي .
وجه : په دې اَثَر کي ودې ته اِشَارَه شوې ده. عَن زِيَادٍ قَالَ اِنِّي لاَعلَمُ بِمَا صَنَعَ عُمَرُ جَعَلَ العَمّةَ بِمَنزِلَةِ الاَبِ وَالخَالَةَ بِمَنزِلَةِ الأُمِّ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة،١٩ في الخالة والعمّة من كان يورثها،ج٦ص٢٥٠،نمبر٣١١٠٥) په دې اَثَر کي تُرُورِي د پُلاَر په درجه کي او خَالَه د مُور په درجه کي کړې ده.ددې څخه معلوم شوچي څوک وَارِث وي هغه به مُقَدّم وي.ځکه چي تُرُورِي د پُلاَر رِشتَه دَارَه(يعني خُور)ده.او خَالَه د مُور رِشتَه دَارَه(يعني خُور)ده .
[٣٢٤٧](۴) د مُور پُلاَر د وُرُور تر اَولاَدَه او د خُور تر اَولاَدَه مُقَدّم دئ .
تشريح : د مَيّت وُرېرَه وي يا خُورَيَئ وي او خُورخَه وي او نِيګه يعني د مُور پُلاَر وي نو د امام ابوحنيفه په نېز نِيګه مُقَدّم دئ تر وُرِېرَه او خُورَيِي.او خُورخَي .
وجه : دئ فرمايي چي هغه د مُور پُلاَر دئ چي نِژدې دئ.او وُرېرَه يا خُورَيَئ او خُورخَه د وُرُور او خُور اَولاَدَه ده نو دُوئي لَږ لِيري دي.نو ځکه د نِيګه(يعني د مُور د پُلاَر)په مقابِل کي دُوئي وَارِث نَه شي جوړېدلائي .

حاشيه : (الف) حضرت زياد وفرمايل زَه خَبَر يَم چي حضرت عمر څه کړي دي؟ ده تُرُورِي د پُلاَر په درجه کي او خَالَه يي د مُور په درجه کي کړې ده .

[٣٢٤٨](۵) وَ المُعتِقُ اَحَقّ بِالفَاضِلِ عَن سَهمِ ذَوِي السِّهَامِ اِذَا لَم تَكُن عَصَبَةٌ سِوَاهُ .

فائده : صاحبين فرمايي چي وُرېرَه او خُورَيَئ او خُورخَه تر نِيګه (يعني د مُور تر پُلاَر) مُقَدّم دي .
وجه : دغه اِنسَانَان صُلبِي اَولاَدَه ده.او نِيګه(يعني د مُور پُلاَر)صُلبِي نَه دئ بلکه د مُور پُلاَر دئ نو ځکه صُلبِي اَولاَد به تر نِيګه(يعني د مُور تر پُلاَر)بِهتَر يعني حَقدَارَه وي .
اصول : صُلبِي اَولاَد تر ذَوِي الاَرحَام بِهتَر(يعني حَقدَارَه)دئ .
[٣٢٤٨](۵) آزادونکئ زيات حقداره دئ دهغه مَال کُوم چي د ذَوِي الفُرُض څخه پاته شوئ دئ چي دده څخه علاوه بَل عَصَبَه نَه وي .
تشريح : آزاد کړئ غُلاَم مَړ شو.تر شَايِ حِصّه دَارَان يعني ذَوِي الفُرُض پرېښول او چي دئ يي آزاد کړئ دئ هغه آقَا يي پرېښوئ.د آقَا څخه علاوه بَل نژدې عَصَبَه نَه وُ.په دَاوَل صورت کي چي ذَوِي الفُرُوض خپلي خپلي حِصّي واخلي چي کُوم مَال پاته شي هغه به دده و آقَا ته ملاؤيږي کُوم چي دئ يي آزاد کړئ دئ.دغه مَال به دُوبَارَه پر ذَوِي الفُرُوض باندي نَه تقسيميږي .
وجه : په حديث کي دئ چي وَلاَء يعني د آزاد شُدَه غُلاَم وِرَاثَت به و آقَا ته ملاؤيږي. عَن عَائِشَةَ قَالَت اِشتَرَيتُ بَرِيرَةَ فَقَالَ النّبِيّ (ﷺ) اِشتَرِيهَا فَاِنّ الوَلاَءَ لِمَن اَعتَقَ (الف) (بخاري شريف،باب الولاء لمن اعتق وميراث اللّقيط،ص٩٩٩،نمبر ۶۷۵۱) په دې حديث کي دئ چي وَلاَءبه

وآزادونکي آقَا ته ملاؤيږي.لِهْذَا داَصحَابِ سِهَام څخه وروسته چي هيڅ ډَوَل عَصَبَه موجود نَه وي نو آزادونکي آقَا ته به بَقِيّه مَال د عَصَبَه په حَيث ملاؤيږي .
لغت : سَهمُ ذَوِي السِّهَامِ : د حِصّه دَارَانُ حِصّه .

حاشيه : (الف) حضرت عائشې وفرمايل مَا بريره رَانِيوَلَه نوحضور (ﷺ) وفرمايل دا رَانِيسَه وَلاَء هغه ته ملاؤيږي چاچي آزاد کړئ وي .

[٣٢٤٩](۶) وَ مَولْي المُوَالاَتِ يَرِثُ .

[٣٢٤٩](۶) مَولْي مُوَالاَت وَارِث وي .
تشريح : يَو څوک د بَل چا پر لاَس اِسلاَم قبول کړي او دَادِډَوَل ووايي چي د نَن وُرَځِي څخه تَه زُومَا وَارِث يي.که زَه مَړ شوم نو تَه به زُومَا وِرَاثَت اَخلې.او که چيري مَا يَوجِنَايَت وکړئ يا مَا قَتل وکړئ نو تَه به زُومَا دِيَت اداء کوې.دې ته مَولْي مُوَالاَت وايي.د امام ابوحنيفه(ر) په نېز که چيري بَل هيڅ وَارِث نَه وي نو مَولْي مُوَالاَت ته ميراث ملاؤيږي.مَال به بَيتُ المَال ته نَه داخلوي .
وجه : (١) که اَصحَابِ فُرُوض موجود وي يا عَصَبَه موجود وي يا مَولْي عَتَقَه موجودوي نومَولْي مُوَالاَت ته نَه ملاؤيږي.او که چيري دغه اِنسَانَان موجود نَه وي نو بيابه و مَولْي مُوَالاَت ته ملاؤيږي. په آيت کي دئ.وَ أُولُوا الاَرحَامِ بَعضُهُم اَولْي بِبَعضٍ فِي كِتَابِ اللهِ (آيت ٧٥،سورة الانفال ٨) په دې آيت کي حُکم دئ چي ذَوِي الاَرحَام بعض تر بعضُ بهتَر دي.لِهْذَا چي ذَوِي الاَرحَام هم موجود وي نو و مَولْي مُوَالاَت ته نَه ملاؤيږي.ځکه چي دغه خلګ د نَسَب په لحاظ وَارِثَان دي.او مَولْي مُوَالاَت د عَقد په وجه وَارِثَان ګرزېدلي دي (٢) چي ذَوِي الاَرحَام موجود نَه وي نو مَولْي مُوَالاَت ته وِرَاثَت ملاؤيږي دليل يې دا آيت دئ. وَ لِكُلٍّ جَعَلنَا مَوَالِيَ مِمّا تَرَكَ الوَالِدَانِ وَ الاَقرَبُونَ وَ الّذِينَ عَقَدَت اَيمَانُكُم فَأ تُوهُم نَصِيبَهُم (الف) (آيت٣٣،سورة النساء٤) ددې آيت څخه معلوم شوچي د کُوم چا سره چي تاسو عَهد او پَيمَان کړئ وي دهغه حِصّه ورکړئ يعني چي وَارِث نَه وي نو دئ به وَارِث وي (٣) په حديث کي هم ددې ثبوت شته. عَن تَمِيمِ الدّارِيّ اَنّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ! مَا السّنّةُ فِي الرّجُلِ يُسلِمُ عَلْي يَدِي الرّجُلِ مِنَ المُسلِمِينَ؟ قَالَ هُوَ اَولْي النّاسِ بِمَحيَاهُ وَ مَمَاتِهِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب الرّجل يسلم علْي يدي الرّجُل،ص٤٨،نمبر٢٩١٨/

حاشيه : (الف) د هر يوه لپاره مُورِ مَولْي جوړ کړئ دئ.چي څَه يي پربېَنِي وي وَالِدَينُ او رشتَه دَارَانُ او د کُومُو خلګو سره چي د قَسَم عَقد تَړَلَئ دئ وهغوئي ته د دُئي حِصّه ورکئ (ب) حضرت تميم دَارِي وويل چي يَوسړئ د يوه مُسلمَان سړي پر لاَس اِسلاَم قبول کړي په دي کي سُنّت څِش دئ؟ نو وفرمايل په زُوَند او په مرګ کي دئ تر (نورو) خلګو اَفضَل دئ (يعني دده دميراث حَقدَارَه دئ.که نور وَارِثَان نَه وُ) .

[٣٢٥٠](٧) وَ اِذَا تَرَكَ المُعتَقُ اَبَ مَولاَهُ وَ اِبنَ مَولاَهُ فَمَا لُهُ لِلاِبنِ عِندَهُمَا وَ قَالَ اَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي لِلاَبِ اَلسّدُسُ وَ البَاقِي لِلاِبنِ.

ترمذي شريف،باب ماجاء في ميراث الرّجُل الّذِي يسلم علٰي يدي الرّجُلِ ص٣١،نمبر٢١١٢) ددي حديث څخه معلوم شو چي مَولْي مُوَالاَت په ژُوَند او مَرګ زيات بهتَر دئ.يعني په آخِر کي به ده ته مِيرَاث ملاؤيږي (۴) په اَثَر کي ددي ثبوت شته. اَنّ عُمَرَ بِنِ الخَطّابِ قَالَ اِذَا وَالْي رَجُلٌ رَجُلاً فَلَهُ مِيرَاثُهُ وَ عَلَيهِ عُقْلُهُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة،١٠٩ في الرّجُلِ يسلم علٰي يدي رَجُلٍ ثمّ يموت من قال يرثه،ج۶،ص نمبر٢٩٩،نمبر٣١٥٦٩) په دي اَثَرکي دئ چي د چا سره چې مُوَالاَت کړي وي نو هغه به دده وَارِث وي او دِيَت به هم اداء کوي .

فائده : امامِ شافعي (ر) و مَولْي مُوَالاَت ته وِرَاثَت نَه ورکوي .

وجه : (١) دئ فرمايي چي دتبرشوئ آيت وَ اُولُوا الاَرحَامِ بَعضُهُم اَولْي بِبَعضٍ (ب) (آيت ٧٥،سورة الانفال٨) په وجه دغه آيت وَالّذِينَ عَقَدَت اَيمَانُكُم فَأ تُوهُم نَصِيبَهُم (ج) (آيت ٣٣،سورة النساء۴) منسوخ شوئ دئ.لِهٰذَا چي حِصّه دَار ذَوِي الاَرحَام اومَولْي عَتَاقَه موجود نَه وي بيا هم و مَولْي مُوَالاَت ته نَه ملاؤيږي.بلکه په بَيتُ المَال کي به داخلوي (٢) په اَثَرکي ددي ثبوت شته. عَنِ الحَسَنِ قَالَ مِيرَاثُهُ لِلمُسلِمِينَ وَعُقُلُهُ عَلَيهِم (د) (مصنّف ابن ابي شيبة، ١١٠ من قال اذا اسلم علٰي يديه فليس له من ميراثه شَئٌ،ج۶،ص٣٠٠،نمبر٣١٥٧۶) په دي اَثَر کي دئ چي دده وِرَاثَت به و عَامُ مسلمانانُ ته ملاؤيږي يعني په بَيتُ المَال کي به داخليږي .

[٣٢٥٠](٧) که آزاد شوي غُلاَم د خپل آقَا پُلاَر او دهغه زُوئي پرېښوئ نو دده مَال د زُوئي دئ د امام ابوحنيفه او امامِ محمّد په نېز.او امام ابويوسف وفرمايل شُپَږمَه حِصّه د پُلاَر او پاته د زُوئي دئ .

حاشيه : (الف) حضرت عمر وفرمايل چي يَوسږئ د بَل سړي سره مُوَالاَت وکي نو دده لپاره دهغه ميراث هم دئ او پر ده دِيَت هم لازم دئ (ب) ذِي رَحِمٍ مَحرَم بعض تر بعضُ زيات بهتَر دي (ج) کوموخلګو چي د قَسَم عَقد تَرَلَئ دئ هغو ته د دُوئي حِصّه ورکئ (د) حضرت حسن فرمايي دهغه ميراث د مسلمانانُ لپاره دئ او پر دغه مسلمانانُ دده دِيَت لازم دئ .

تشريح : آزاد شوئ غُلاَم مَړ شو.دهغه هيڅ يَونَسَبِي وَارِث موجود نَه وُ.آقَا هم ژُوَندَئ نَه وُ بلکه د آقَا پُلاَر او زُوئي موجود وُ نو امام ابوحنيفه او امام محمّد فرمايي چي پُلاَر ته نَه ملاؤيږي.تولَه مَال به و زُوئي ته ملاؤ شي .

وجه : (١) د آزاد شوي غُلاَم مَال د عَصَبَه په حَيث ملاؤيږي او د وَرَثَاءُ تر مينځ هم د عَصَبَه په حَيث تقسيميږي.او زُوئي اَوّل عَصَبَه دئ دهغه وروسته د پُلاَر نَمبَر دئ. نو ځکه د زُوئي په موجودګئ کي پُلاَر ته نَه ملاؤيږي (٢) په اَثَر کي ددي ثبوت شته. وَقَالَ زَيدُ بِنِ ثَابِتٍ اَلمَالُ لِلاِبنِ وَ لَيسَ لِلاَبِ شَئٌ (الف) په بَل روايت کي دئ. عَنِ الحَسَنِ قَالَ هُوَ لِلاِبنِ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة،١١٠ رَجُلٌ مات وترک ابنه و اباه ومولاه،ثمّ مات المولْي وترک مالاً،ج۶،ص٢٩۴،نمبر٣١٥١٣/٣١٥١١) په دي اَثَر کي دئ چي وِرَاثَت به زُوئي ته ملاؤيږي .

فائده : امام ابويوسف (ر) فرمايي چي شُپَږمَه حِصّه به پُلاَر ته ورکول کيږي او پاته ٣٣ . ٨٣ به و زُوئي ته ملاؤيږي .

وجه : (۱) دئ فرمايي چي عَصَبَه خو زُوئي هم دئ او پُلاَر هم دئ.البته پُلاَر د زُوئي څخه وروسته عَصَبَه دئ.لِهٰذَا چي دواړه جمع شي نو د عَام وِرَاثَت په شان د زُوئي په موجودګئ کي پُلاَر ته شُپَږَمَه حِصّه ورکول کيږي او پاته نُور به وزُوئي ته ملاؤيږي (۲) په اَثَر کي ددې ثبوت شته. عَن قَتَادَةَ عَن شُرَيحٍ وَ زَيدِبنِ ثَابِتٍ فِي رَجُلٍ مَاتَ وَ تَرَکَ اِبنَهُ وَ اَبَاهُ وَ مَولاَهُ ثُمّ مَاتَ المَولْي وَ تَرَکَ مَالاً فَقَالَ شُرَيحٌ لاَبِيهِ اَلسّدُسُ وَ مَابَقِيَ فَلِلاِبنِ (ج) (مصنّف ابن ابي شيبة،۱۱۰ رَجُلٌ مَاتَ وترک ابنه واباه ومولاه ثمّ مات المولْي وترک مالاً،ج۶،ص۲۹۴،نمبر۳۱۵۱۱) په دې اَثَر کي دئ چي پُلاَر ته شُپَږَمَه حِصّه ملاؤيږي نور پاته مَال به د زُوئي وي. مسئله به په دَادَوَل وي .

حاشيه : (الف) زيد بن ثابت وفرمايل مَال به د زُوئي لپاره وي.د پُلاَر لپاره هيڅ شئ نشته (ب) حضرت حسن وفرمايل مَال به د زُوئي وي (ج) حضرت شريح وفرمايل يوسړئ مَړ شي او زُوئي او پُلاَر او آزاد کړئ غُلاَم پرېږ دي بيا دغه آزاد کړئ غُلاَم مَړ شي او مَال پرېږ دي؟ نو حضرت شريح وفرمايل د پُلاَر لپاره شُپَږَمَه حِصّه ده او پاته پِنځه حِصّې د زُوئي دي .

[۳۲۵۱](۸) فَاِن تَرَکَ جَدّمَولاَهُ وَ اَخَا مَولاَهُ فَالمَالُ لِلجَدِّ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ **وَ قَالَ اَبُويُوسُفَ وَ مُحَمّدٌ** رَحِمَهُمَااللهُ تَعَالْي **هُوَ بَينَهُمَا .**

مَيّت ۱۰۰

پُلاَر		زُوئي
۶۶ . ۱۶		۳۳ . ۸۳

په دې مسئله کې شُپَږَمَه حِصّه يعني ۶۶ . ۱۶ يې و پُلاَر ته ورکړه.پاته پِنځَه سُدُس يعني ۳۳ . ۸۳ يې و زُوئي ته ورکړل .

[۳۲۵۱](۸) که آزاد شوي غُلاَم دخپل آقَا نِيګه او وُرُور پرېښوئ نو ټوله مَال به د نِيګه وي د امام ابوحنيفه په نېز.او امام ابويوسف او امام محمّد وفرمايل هغه به د دواړو تر مينځ مُشتَرَک وي .

تشريح : آزاد شوي غُلاَم د خپل آقَا نِيګه او دهغه وُرُور پرېښوئ نو امام ابوحنيفه فرمايي چي ټوله مَال به د آقَا د نِيګه وي او د آقَا وُرُور به محروم وي .

وجه : (۱) د امام ابوحنيفه (رح) دليل دا اَثَر دئ. عَنِ الزّهرِيّ فِي رَجُلٍ تَرَکَ جَدّهُ وَ اَخَاهُ قَالَ اَلوَلاَءُ لِلجَدِّ لاَنّهُ يُنسَبُ اِلْي الجَدِّ وَ لاَ يُنسَبُ اِلْي الاَخِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة،۱۰۱ في رَجُلٍ مات وترک مولْي له وجدّه واَخَاهُ لِمَنِ الوَلاَءُ؟،ج۶،ص۲۹۵،نمبر۳۱۵۲۵) په دې اَثَرکي دئ چي مَال به و نِيګه ته ملاؤيږي.ځکه چي د آقَا نِسبَت خو و نِيګه ته کيږي و وُرُور ته نِسبَت نَه کيږي (۲) هسي خو هم د امام ابوحنيفه (رح) په نېز د نِيګه په موجودګئ کي و وُرُور ته وِرَاثَت نَه ملاؤيږي .

فائده : د امامِ صاحبين (رح) په نېز به د دواړو تر مينځ نِيمَئ نِيمَئ وي .

وجه : (۱) په اَثَر کي دئ. عَن عَطَاءَ فِي رَجُلٍ مَاتَ وَتَرَکَ مَولًي لَهُ وَ جَدّهُ وَ اَخَا هُ

حاشيه : (الف) حضرت زُهري وفرمايل چي يوڅوک نِيګه او وُرُور پرېږدي؟ وفرمايل چي وَلاَء د نِيګه ده.ځکه چي دسړي نِسبَت و نِيګه ته کيږي و وُرُور ته نِسبَت نَه کيږي .

[٣٢٥٢](٩) وَ لاَ يُبَاعُ الوَلاَءُ وَ لاَ يُوهَبُ .

لِمَن وَلاَءُ مَولاَهُ؟ قَالَ عَطَاءُ اَلوَلاَءُ بَينَهُمَا نِصفَينِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة،١٠١ في رجل مات وترک مَولًي لَهُ وجدّه واخاه لِمَنِ الوَلاَءُ؟،ج٦،ص٢٩٥،نمبر٣١٥٢٣) په دې اَثَر کي دئ چي وَلاَء به د نِيګه او وُرُور دواړو ترمينځ نِيمَئ نِيمَئ وي (٢) د صاحبينُ قاعده دا وه چي نِيګه او وُرُور دواړه به شريګان دي لِهٰذَا دلته به هم دواړه سره شريکان وي .

[٣٢٥٢](٩) وَلاَء به نَه خرڅيږي او نَه به هِبَه کيږي .

وجه : په حديث کي دئ. عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ نَهٰي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) عَن بَيعِ الوَلاَءِ وَ عَن هِبَتِهِ (ب) (ابوداؤدشريف،باب في بيع الولاء،ص٤٨،نمبر٢٩١٩) په دې حديث کي دئ چي حضور (ﷺ) د وَلاَء د خرڅولو او هِبَه کولو څخه منع کړې ده .

•
• •

حاشيه : (الف) حضرت عطاء وفرمايل يَو سړئ وَفَات شو او خپل آزادکړئ غُلاَم او نِيګه او وُرُور يې تر شَا پرېښُوَل نو د مَولْي وَلاَء به د کُوم يَوَه وي؟ وفرمايل وَلاَء به د نِيګه او وُرُور تر مِينځ نِيمَئ نِيمَئ وي (ب) حضور (ﷺ) د وَلاَء د خرڅولو او هِبَه کولو څخه منع وکړه .

﴿...ذَوِي الاَرحَام ته يوه کَتَنَه... ﴾

(و دې اِنسَانَانُ ته به ددغه نَمبَر په ترتيب سره وِرَاثَت ملاؤيږي)

د	پَښتُو	عربي ترجمه	شمېره مَيّت نِسبَت
د مَيّت اَولاَد	لُمَسئ،لُمَسې	د لُور اَولاَده	(١)

(۲)	د خُور اَولاَد	خُورَيئ،خُورخَه	د پُلاَر د اَولاَد اَولاَد
(۳)	د وُرُور لُور	وُرېرَه	د پُلاَر د اَولاَد اَولاَد
(۴)	د اَکَا لُور	د اَکَا لُور	د پُلاَر د پُلاَر اَولاَد
(۵)	مَامَا	مَامَا	د مُور د پُلاَر اَولاَد
(۶)	خَالَه		خَالَه
(۷)	نِيگَه		نِيگَه
(۸)	اَخيَافِي اَکَا	مُورَنَئ اَکَا	د پُلاَر د مُور اَولاَد
(۹)	تُرُورِي		تُرُورِي
(۱۰)	د اَخيَافِي وُرُور اَولاَدَه	مُورَنَئ وُرَارَه،وُرېرَه	د مُور اَولاَدَه

« اَبُوالحُسَين قُطب عفي اللهُ عنه وعن والديه »

﴿... بَابُ حِسَابِ الفَرَائِضِ ...﴾

[۳۲۵۳](۱) اِذَا کَانَ فِي المَسئَلَةِ نِصفٌ وَ نِصفٌ اَو نِصفٌ وَ نِصفٌ وَ مَابَقِيَ فَاَصلُهَا مِن اِثنَينِ .

﴿... بَابُ حِسَابِ الفَرَائِضِ ...﴾

ضروري پام لرنه : مخته مَا عرض کړئ دئ چي په تېرو حِسَابُونُو کي پُوَائِنت (يعني عَشَارِيَه) په حِسَاب کي نَه شوه رَاتَلاَئي.اِمکَان يي نَه دَرلُودَئ نو حُکه دُوئي به په اَصل مسئله کي ضَرب ورکاوئ او صحيح عَدَد به رَايَستَئ.بيا به پر وَارِثَانُ تقسيم کاوئ. لېکن په نَن زَمَان کي کَلکُيُولېټر همېشه د کَسر يعني عَشَارِيَه حِسَاب کوي چي په اَنګرېزي ژَبَه کي

پُوَائِنټ ورته وايي او په اُردُو ژَبَه کي عَشَارِيَه ورته وايي په پَښتُو ژبه کي هم عَشَارِيَه يا اَشَارِيَه ورته وايي.نو ځکه په حِسَابُ الفَرَائِض کي به د کَلکُيُولېټر حساب ورکول کيږي.او زُورِ حِسَاب هم ذِکر کوو چې په آساني سره په دواړو حِسَابُو ځان پُوه کړئ.نَوَئ حِسَاب همېشه د سَل (۱۰۰) څخه کيږي .

﴿...دحِصّو و تَعدَاد ته يَوه کَتَنَه... ﴾

شمېره دبتې حِسَاب	عربي حِصّې	اردو حِصّې	سَل	تقسيم	برابر		في صَد
(۱) ۵۰	نِصف	۱/۲	نِيمَئ		۱۰۰ ÷ ۲	=	
(۲) ۲۵	رُبع	۱/ ۴	څلورمه		۱۰۰ ÷ ۴	=	
(۳) ۱۲ . ۵	ثُمُن	1/۸	اَتَمّه		۱۰۰ ÷ 8	=	
(۴) ۶۶	ثلثان	۲/۲	دُوې دَرَيَمِي	۱۰۰	۳×۲ ÷	=	.۶۶
(۵) ۳۳ .۳۳	ثُلُثُ	۳/۱	يوه دريمه	۱۰۰	۳ ÷	=	
(۶) ۱۶ . ۶۶	سُدُس	۶/۱	شُپَږَمَه حصّه	۱۰۰	۶ ÷	=	

[۳۲۵۳](۱) چې په مسئله کي دُوَه نِصف وي يا يَو نِصف وي او مَابَقِيَ وي نو اَصل مسئله به د دُوُ څخه وي .

تشريح : و دُوُ کسانُ ته همېشه نِيمَئ نِيمَئ ملاؤيږي نو ځکه اَصل مسئله به د دُوُ څخه وي.مثلاً ښځه مَړه شوه تر شَايې مِيړَه او خپله خُور پرېښول نو مېړه ته به نِيمَئ ملاؤيږي او خُور ته به هم نِيمَئ ملاؤيږي.او مسئله به د دُوُ څخه چليږي.او دواړو ته به نِيمَئ نيمَئ يعني يَو يَو ملاؤيږي . مسئله به په دَاډَوَل وي .

مَيِّت ۲

مېړه	خُور
۱	۱

د کَلکِيُولېټر حساب به په دَاډَوَل وي .

مَيِّت ۱۰۰

مېړه	خُور
۵۰	۵۰

په دې مسئله کې و مېړه ته د سَلُ نِيمَئ يعني ۵۰ او خُور ته هم د حِصّې په اِعتِبَار سره د ۱۰۰ نِيمَي يعني ۵۰ ملاؤ شو .
د نِصف او مَابَقِيَ صورت دادئ.مثلاً ښځه مړه شوه مېړه يې پرېښوئ نو د حِصّې په حيث به ده ته نِيمَئ ورکول کيږي او چې کُوم پاته شو هغه به دعَصَبَه په حَيث و اَکَا ته ورکول کيږي . مسئله به په دَادَوَل وي .

مَيِّت ۲

مېړه	اَکَا
۱	۱

د کَلکُيُولېټر حِسَاب به په دَادَوَل وي .

مَيِّت ۱۰۰

مېړه	اَکَا
۵۰	۵۰

[۳۲۵۴](۲) وَ اِن کَانَ فِيهَا ثُلُثٌ وَ مَابَقِيَ اَو ثُلُثَانِ وَ مَابَقِيَ فَاَصلُهَا مِن ثَلاَثَةٍ .

[۳۲۵۴](۲) او که په مسئله کې دَرَيَمَه او مَابَقِيَ وي يا دُوې دَرَيَمِي او مَابَقِيَ وي نو اَصل مسئله به د دُرُو څخه وي .
تشريح : مثلاً ښځه مَړَه شوه تر شَا يې مُور او اَکَا پرېښول نو مُور ته به يوه دَرَيَمَه د عَصَبَه په حَيث ملاؤيږي او پاته دُوې دَرَيَمِي به و اَکَا ته د عَصَبَه په حَيث ملاؤيږي. په دې صورت کې به مسئله د دُرُو څخه چليږي.مسئله به په دَادَوَل وي .

مَيِّت ۳

مُور	اَکَا
۱	۲

د کَلکُيُولېټر حِسَاب به په دَادَوَل وي .

مَيِّت ۱۰۰

مُور	اَکَا
۳۳ . ۳۳	۶۶ . ۶۶

په دې مسئله کې و مُور ته يَوَه دَرَيَمَه دحِصّې په حَيث ملاؤشوې ده چې د سَلُ څخه ۳۳ . ۳۳ ده. او پاته دُوَه ثُلُث يعني ۶۶ . ۶۶ دعَصَبَه په حَيث و اَکَا ته ملاؤشوي دي .

د دُوَه ثُلُث او مَابَقِيَ صورت دادئ. مثلاً مَيّت دُوې لُونِي تر شَا پرېښولې نو هغوئي ته به دُوَه ثُلُث ملاؤيږي.او يَو ثُلُث چي کُوم پاته شو هغه به و اَکَا ته د عَصَبَه په حَيث ملاؤ شي. مسئله به په دَاډَوَل وي .

مَيّت ۳

دُوې لُونِي	اَکَا
۲	۱

[۳۲۵۵](۳) وَ اِن کَانَ فِيهَا رُبعٌ وَ مَابَقِيَ اَو رُبعٌ وَ نِصفٌ فَاَصلُهَا مِن اَربَعَةَ .

~~د کَلکُيُولېټر حِسَاب به په دَاډَوَل وي .~~

مَيّت ۱۰۰

دُوې لُونِي	اَکَا
۶۶ . ۶۶	۳۳ . ۳۳

په دې مسئله کي و دُوُ لُونُو ته دُوې دَرَيَمِي يعني په سَلُ کي ۶۶ . ۶۶ د سِهَام په حَيث ملاؤ شوې.او پاته يوه دَرَيَمَه يعني په سَلُ کي ۳۳ . ۳۳ د عَصَبَه په حَيث و اَکَا ملاؤ شوه .

[۳۲۵۵](۳) او که په دي کي څلورمه او مَابَقِيَ وي يا څلورمه او نِصف وي نو په دې صورت کي به مسئله د څلور څخه وي .

تشريح : مثلاً مَيّت وَفَات شو تر شَا يې مَينَه او نِيګه پرېښول نو مَينَه ته به څلورمه ملاؤيږي او نِيګه(د پُلاَر پُلاَر)ته به مَابَقِيَ دري ثُلُث د عَصَبَه په حَيث ملاؤيږي.نو ځکه مسئله به د څلورو څخه وي .

مَيّت ۴

مَينَه	نِيګه
۱	۳

د کَلکُيُولېټر حِسَاب به په دَاډَوَل وي .

مَيّت ۱۰۰

مَينَه	نِيګه
۲۵	۷۵

[۳۲۵۶](۴) وَ اِن کَانَ فِيهَا ثُمُنٌ وَ مَابَقِيَ اَو ثُمُنٌ وَ نِصفٌ فَاَصلُهَا مِن ثَمَانِيَةَ .

په دې مسئله کي و مَينَه ته څلورمه يعني د سَلُ څخه ۲۵ ورکړل. او پاته دري ثُلُث يعني د سَلُ څخه ۷۵ و نِيګه ته د عَصَبَه په حَيث ورکړل .
د څلورمي او نِصف صورت دادئ. نښه مړه شوه تر شَا يې مړه او يَوَه لُور او اَکَا پرېښول.لُور يوه ده نو ځکه دې ته به نِيمَئ ملاؤيږي.او دا چې اَولاَد موجود دئ نو مړه ته به يَوَه څلورمه ملاؤيږي.او پاته يَوَه څلورمه به د عَصَبَه په حَيث و اَکَا ته ملاؤيږي.او مسئله به د څلور څخه چليږي.
او مسئله به په دَادِوَل وي .

مَيّت ۴

مړه	يَوَه لُور	اَکَا
۱	۲	۱

د کَلکُيُولېټر حِسَاب به په دَادِوَل وي .

مَيّت ۱۰۰

مړه	يَوَه لُور	اَکَا
۲۵	۵۰	۲۵

په دې مسئله کي د سَلُ څخه څلورمه يعني ۲۵ يې و مړه ته ورکړل.او نِيمَئ يعني ۵۰ يې و لُور ته ورکړل.او پاته يَوَه څلورمه يعني ۲۵ يې و اَکَا ته ورکړل .
[۳۲۵۶](۴) که په مسئله کي اَتَمّه او مَابَقِيَ وي يا اَتَمّه او نِيمَئ وي نو اَصل مسئله به د اَته څخه وي .
تشريح : مثلاً سړئ وَفَات شو تر شَا يې مَينَه او زُوئي پرېښوَل.نو مَينَه ته به اَتَمّه ملاؤيږي.او پاته اُوَه حِصّې به و زُوئي ته د عَصَبَه په حَيث ملاؤيږي.او اَصل مسئله به د اَتَه څخه چليږي ... مسئله به په دَادِوَل وي .

مَيّت ۸

مَينَه	زُوئي
۱	۷

د کَلکُيُولېټر حِسَاب به په دَادِوَل وي .

مَيّت ۱۰۰

مَينَه	زُوئي
۱۲ . ۵	۸۷ . ۵

په دې مسئله کي مَينَه ته اَتَمّه حِصّه يعني د سَلُ څخه ۵ . ۱۲ يعني دُوُلَس نِيم ورکړل.او پاته اُوَه حِصّې يعني د سَلُ څخه ۵ . ۸۷ يې و زُوئي ته د عَصَبَه په حَيث ورکړې .

د اَتَمّه او د نِصف صورت به داوي.چي مَينَه او يَوَه لُور او اَكَا يې پرېښول نو لُور موجود ده لِهْذَا مَينَه ته به اَتَمّه ملاؤيږي.او يَوَه لُور ده لِهْذَا هغې ته به نِيمَئ ملاؤيږي او پاته درې سِهَام به و اَكَا ته د عَصَبَه په حَيث ملاؤيږي .

مسئله به په دَاډَوَل وي .

مَيّت ٨

مَينَه	يَوَه لُور	اَكَا
١	٤	٣

د كَلكُيُولېټر حِسَاب به په دَاډَوَل وي .

مَيّت ١٠٠

مَينَه	يَوَه لُور	اَكَا
١٢ . ٥	٥٠	٣٧ . ٥

[٣٢٥٧](٥) وَ اِن كَانَ فِيهَا سُدُسٌ وَ مَابَقِيَ اَو نِصفٌ وَ ثُلُثٌ اَو نِصفٌ وَ سُدُسٌ فَاَصلُهَا مِن سِتّةٍ وَ تَعُولُ اِلْي سَبعَةٍ وَ ثَمَانِيَةٍ وَ تِسعَةٍ وَ عَشَرَةٍ .

په دې مسئله كې اَتَمّه حِصّه يعني يعني د سَلُ څخه ٥ . ١٢ يې و مَينَه ته وركړل.او نِيمَئ يعني د سَلُ څخه ٥٠ يې و لُور ته وركړل. او پاته ٥ . ٣٧ يې و اَكَا ته د عَصَبَه په حَيث وركړل .

[٣٢٥٧](٥) (١) او كه په دي كي شُپَږمَه او مَابَقِيَ وي (٢) يا نِيمَئ او دَرَيَمَه وي (٣) يا نِيمَئ او شُپَږمَه وي نو اَصل مسئله به د شُپَږُ څخه وي.چي عَول به كوي د اُوَه څخه اود اَتَه څخه او د نَه څخه او د لَس څخه .

تشريح : كه اَخَستُونكي شُپَږمَه حِصّه وي او مَابَقِيَ وي نو مسئله به د شُپَږُ څخه وي.بعض اَوقَات اخستونكي په شُپَږُو حِصّو كي دَنَنَه وي.لېكن بَعض اَوقَات اَخَستُونكي دُومرَه وي چي كه د دُوئي حِصّې سره يَوځايَه كړل شي نو تر شُپَږُو زياتيږي.اُوس مسئله د شُپَږُو څخه جوړه شوې ده او حِصّې اُوَه شوې نو چي تر اَصل مسئله حِصّې زياتِ شي دې ته عَول وايي.د عَول لُغَوِي معنْي ده مَائِل كېدل اوظُلم كول.په دي كي و نُوروحِصّه دَارَانُ ته نُقصَان دئ نو حُكه د دَاډَوَل مسئلې نُوم عَول دئ.مصنّف په دې عِبَارَت كي د شُپَږُو څخه مسئله جوړوي.او په يَوَه صورت كي تر اُوَه پوري عَول وي.په بَل صورت كي تر اَتَه پُورِي او په بَل صورت كي تر نَه پوري او په بَل صورت كي تر لَس پوري عَول وي.د ټولو تفصيل مخته رَارَوَان دئ .

په دُرُو صورتو کي مسئله د شُپَږُو څخه چلیږي : (۱) اخستونکي شُپَږَمَه او مَابَقِيَ وي (۲) اخستونکي نِیمَئ او دَرَیَمَه وي (۳) اخستونکي نِیمَئ او شُپَږَمَه وي نومسئله د شُپَږُو څخه چلیږي .

﴿... د عَول صورتونه ... ﴾

چي اصل مسئله د شُپَږُو څخه وچلیږي او حِصّې اُوَه شي دهغه صورت دادئ.مَیّت میړه او دُوې حقیقي خُوَندِي پرېښولې.په دې کي به و میړه ته نِیمَئ ملاؤیږي ځکه چي اَولاَد نشته.او دُوُ حقیقي خُوَندُ ته به دُوَه ثُلُث ملاؤیږي لِهْذَا مسئله به د شُپَږُو څخه چلیږي. مسئله به په دَاډَوَل وي .

مَیّت ۶ عول ۷

میړه ۳ ـــــــ دُوې عَلاَتِي خُوَندِ ۴

په دي کي و میړه ته نِیمَئ دري ورکړل او دُوُ خُوَندُ ته دُوَه ثُلُث یعني د شُپَږُ څخه څلور ورکړل.د دواړو مجموعه اُوَه(۷)شول.نو ګواکه عَوَل د اُوَه څخه شو .

د کَلکُیُولیټر حساب به په دَاډَوَل وي .

مَیّت ۱۰۰ عَول ۶۶ . ۱۱۶ د عَول وروسته یَوَه حِصّه ۸۵۷۱ . ۰ = ۶۶ . ۱۱۶ ÷ ۱۰۰

میړه ۵۰ ـــــــ دُوې عَلاّتِي خُوَندِ ۶۶ . ۶۶ ـــــــ ۴۲ . ۸۵ ۵۷ . ۱۳

دُوُ عَلاّتِي خُوَندُ ته د عَول وروسته ملاؤشو د عَول طریقه ۶۶ . ۶۶ × ۰ . ۸۵۷۱ = ۵۷ . ۱۳

میړه ته د عَول وروسته ملاؤ شو ۵۰ × ۰ . ۸۵۷۱ = ۴۲ . ۸۵

مجموعه ..... ۹۹ . ۹۸

په دې مسئله کي میړه ته د سَلُ نِیمَئ ۵۰ ورکړل.او دُوُ حقیقي خُوَندُ ته د سَلُ دُوَه ثُلُث ۶۶ . ۶۶ ورکړل.چي دواړه سره یَوځاې کړي نو ۶۶ . ۱۱۶ یَوسَل شُپَاړَس عَشَارِیَه شُپُږشُپیتَه شوه چي د سَلُ څخه زِیَات شوه.دې ته عَول وایي .

البته! مورِ به په سَلُ کي دَنَنَه حِصّه ساتو نو ځکه ۶۶ . ۱۱۶ ته په ۱۰۰ کي تقسیم ورکړئ نو ۸۵۷۱ . ۰ شو.یعني و یَوَه حِصّه دَار ته به دُومرَه ملاؤیږي.و دغه ته په ۵۰ کي ضَرب ورکئ نو مجموعه ۵۰ × ۸۵۷۱ . ۰ = ۸۵ . ۴۲ شوه دغه اُوس د میړه حِصّه شوه.او ۶۶ . ۶۶ ته په ۸۵۷۱ . ۰ کي ضَرب ورکړئ ۶۶ . ۶۶ × ۸۵۷۱ . ۰ = ۱۳ . ۵۷ شوه دغه یې و دُوُ خُوَندُ ته ورکړه.او د دواړو مجموعه ۹۸ . ۹۹ شوه.چي سَلُ ته قَرِیب شوه.دا په اَصل کي سَل دي.لېکن دکَلکُیُولیټرپه حِسَاب کي دیَوې پَیسې ګَمِي پاتیږي .

پام لرنه : اُوس مېړه ته د سَلُ څخه ۸۵ . ۴۲ دِرهَم ملاؤ شول.او خُور ته د سَلُ دِرهَمُ څخه ۱۳ . ۵۷ دِرهَم ملاؤ شول .

وجه : د عَول کولو دليل دااَثَردئ.عَن اِبرَاهِيمَ عَن عَلِيٍّ وَ عَبدِاللهِ وَ زَيدٍ اَنّهُم اَعَالُوا الفَرِيضَةَ(الف)(مصنّف ابن ابي شيبة،۳۲ في الفرائض من قال لاتعول ومن اعالَهَا،ج۶، ص۲۵۸،نمبر۳۱۱۸۱/سنن للبيهقي،باب العول في الفرائض،ج۶،ص۴۱۴،نمبر۱۲۴۵۴) په دې اَثَرکي دئ چې دغه حضراتُ عَول کاوئ .

تر اُوَه پورې د عَول دُويَم مثال : مَيّت مېړَه.يَوَه حقيقي خُور او يَوَه عَلاّتِي خُور پرېښول.اَولاَد يې تر شَا نَه دئ پاته شوئ نو ځکه مېړه ته به نِيمَئ ملاؤيږي.يوه حقيقي خُور ته به نِيمَئ ملاؤيږي.او يَوَه عَلاّتِي خُور ته به د دُوَه ثُلُث د پوره کولو لپاره شُپَږمَه حِصّه ورکول کيږي.نو ځکه مسئله به د شُپَږ څخه چليږي او مجموعه به اُوَه شي.و دغه ته عَول وايي.مسئله به په دَاوَل وي .

مَيّت ۶ عول ۷

مېړه	يوه حقيقي خُور	يَوَه عَلاّتِي خُور
۳	۳	۱

د کَلکُيُولېټر حساب به په دَاوَل وي .

مَيّت ۱۰۰ عَول ۶۶ . ۱۱۶ د عَول وروسته يَوَه حِصّه ۸۵۷۱ . ۰ = ۶۶ . ۱۱۶ ÷ ۱۰۰

مېړه	يوه حقيقي خُور	يَوَه عَلاّتِي خُور
۵۰		۵۰
۱۶ . ۶۶		
۴۲ . ۸۵	۴۲ . ۸۵	۲۷
		۱۴ .

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم فرمايي چې حضرت علي،حضرت عبدالله او حضرت زيد به فَرِيضَه عَول کوله .

عَلاّتِي خُور ته د عَول وروسته ملاؤشو ۱۶ . ۶۶ × ۰ . ۸۵۷۱ = ۱۴ . ۲۷

د عَول طريقه

حقيقي خُور ته د عَول وروسته ملاؤشو ۵۰ × ۰ . ۸۵۷۱ = ۴۲ . ۸۵

مېړه ته د عَول وروسته ملاؤشو ۵۰ × ۰ . ۸۵۷۱ = ۴۲ . ۸۵

مجموعه ..... ۹۹ . ۹۸

په دې مسئله کي ومېړه ته د سَلُ څخه نِيمَئ يعني ۵۰ ورکړل.و خُور ته د سَلُ څخه نِيمَئ يعني ۵۰ ورکړل.او عَلاّتِي خُور ته شُپَږمَه حِصّه ۶۶ . ۱۶ ورکه. ددې ټولو مجموعه ۶۶ . ۱۱۶ شوه. و دې ته عَول وايي.حِسَاب خو به د سَلُ څخه سَاتَل کيږي.نوځکه ۶۶ . ۱۱۶ چې په ۱۰۰ تقسيم کړې نو ۸۵۷۱ . ۰ جوړيږي.چې د يوه حِصّه دَارَ حِصّه ده.و دې ته چې په ۵۰ کي ضَرب ورکړې نو ۵۰ × ۸۵۷۱ . ۰ = ۸۵ . ۴۲ جوړيږي چې د مېړه حِصّه هم ده او دحقيقي خُور حِصّه هم ده.دغه به و

دواړو ته ملاؤ شي. او چې ۶۶ . ۱۶ ته په ۸۵۷۱ . ۰ کې ضَرب ورکړې نوبه ۲۷ . ۱۴ جوړ شي. دغه و عَلاَتِي خُور ته ورکه چې شُيَرَمَه حِصّه يې وه.او د ټولو مجموعه به ۹۷ . ۹۹ شي چې سَلُ ته قَرِيب ده .

پام لرنه : اُوس به مېړه ته د سَلُ څخه ۸۵ . ۴۲ دِرهَم،حقيقي خُور ته د سَلُ دِرهَمُ څخه ۸۵ . ۴۲ دِرهَم ملاؤ شي.او عَلاّتِي خُور ته به د سَلُ دِرهَمُ څخه ۲۷ . ۱۴ دِرهَم ملاؤ شي .

تر اَتَه (۸) پور د عَول مثال : مَيّت مېړه،دُوې عَلاّتِي خُوَندِ او مُور پرېښول.اَولاَد نَشته نوځکه مېړه ته به نِيمَئ ملاؤيږي.او دُوې عَلاّتِي خُوَندِ دي نو ځکه هغوئي ته به دُوَه ثُلُث ملاؤيږي.او مُور ته به شُيَرَمَه حِصّه ملاؤيږي.نو مسئله به د شُيَر څخه چليږي.د ټولو حِصّو مجموعه به اَتَه وي.مسئله به په دَاوَل وي .

مَيّت ۶ عول ۸

مېړه	دُوې عَلاّتِي خُوَندِ	مُور
۳	۴	۱

د کَلکُيُولېټر حساب به په دَاوَل وي .

مَيّت ۱۰۰ عَول ۳۲ . ۱۳۳ د عَول وروسته يَوَه حِصّه ۷۵۰۰ . ۰ = ۳۳ . ۱۳۳ ÷ ۱۰۰

مېړه	دُوې عَلاّتِي خُوَندِ	مُور
۵۰		۶۶ . ۶۶
۱۶ . ۶۶		
۳۷ . ۵۰	۴۹ . ۹۹	۴۹ .
		۱۲

مُور ته د عَول وروسته ملاؤشو ۱۶ . د عَول طريقه = ۷۵۰۰ . ۰ × ۶۶ ۱۲ . ۴۹

دُو خُوَندُ ته د عَول وروسته ملاؤشو ۶۶ . = ۷۵۰۰ . ۰ × ۶۶ ۴۹ . ۹۹

مېړه ته د عَول وروسته ملاؤشو = ۷۵۰۰ . ۰ × ۵۰ ۳۷ . ۵۰

مجموعه ..... ۹۹ . ۹۸

په دې مسئله کې مېړه ته د سَلُ نِيمَئ يعني ۵۰ ورکړل.و عَلاّتِي خُور ته د سَلُ څخه دُوَه ثُلُث يعني ۶۶ . ۶۶ ورکړل.او مُور ته شُيَرَمَه حِصّه يعني ۶۶ . ۱۶ ورکړه.د ټولو مجموعه ۳۲ . ۱۳۳ شوه.چې د سَلُ څخه زيات ده.او دغه عَول دئ.حِسَاب خو د سَلُ څخه کيږي نو ځکه ۳۲ . ۱۳۳ سره ۱۰۰ تقسيم کړل نو ۷۵۰۰ . ۰ شول.چې و يوه حِصّه دَار ته به ملاؤيږي.اُوس دې ته په ۵۰ کې ضَرب ورکه نو ۵۰ × ۷۵۰۰ . ۰ = ۵۰ . ۳۷ به شي چې د مېړه حِصّه ده.او ۶۶ . ۶۶ ته په ۷۵۰۰ . 0 کې ضَرب

ورکړئ نو ۹۹ . ۴۹ شول چي و خُور ته ورکړل. او ۴۹ . ۱۶ ته په ۷۵۰۰ . ۰ کي ضَرب ورکړئ نو ۴۹ . ۱۲ شول چي و مُور ته ورکړل.او د ټولومجموعه ۹۸ . ۹۹ شوه چي سَلُ ته قَرِيب ده .

تر نَه (۹) پور ي د عَول مثال : مَيِّت مېړه.دُوې عَلاّتِي خُوَندِ او دُوې اَخيَافِي خُوَندِ پرېښولې.اَولاَد نشته نو ځکه مېړه ته نِيمَئ ملاؤشي.عَلاّتِي خُوَندِ دُوې دي نوځکه هغوئي ته به دُوَه ثُلُث ملاؤ شي.او دُوې اَخيَافِي خُوَندِ دي نو هغوئي ته به يَوَه دَرَيَمَه(يعني ثُلُث)ملاؤشي.مسئله به د شُپَږُ څخه چليږي.او مجموعه يې نَه شوه .

مسئله به په دَاوَل وي .

مَيِّت ۶ عول ۹

مېړه	دُوې عَلاّتِي خُوَندِ	دُوې اَخيَافِي خُوَندِ
۳		۴
		۲

د کَلکُيُولېټر حساب به په دَاوَل وي .

مَيِّت ۱۰۰ عَول ۹۹ . ۱۴۹ د عَول وروسته يَوَه حِصّه ۶۶۶۷ . ۰ = ۹۹ . ۱۴۹ × ۱۰۰

مېړه	دُوې عَلاّتِي خُوَندِ	دُوې اَخيَافِي خُوَندِ
۵۰		۶۶ . ۶۶
۳۳ . ۳۳		
۳۳ . ۳۳	۴۴ . ۴۴	۲۲
		۲۲ .

اَخيَافِي خُوَندُ ته د عَول وروسته ملاؤشو د عَول طريقه ۲۲ . ۲۲ = ۶۶۶۷ . ۰ × ۳۳ . ۳۳

عَلاّتِي خُوَندُ ته د عَول وروسته ملاؤشو ۴۴ . ۴۴ = ۶۶۶۷ . ۰ × ۶۶ . ۶۶

مېړه ته د عَول وروسته ملاؤشو ۳۳ . ۳۳ = ۶۶۶۷ . ۰ ۵۰

مجموعه ..... ۹۹ . ۹۹

په دې مسئله کې مېړه ته د سَلُ نِيمَئ يعني ۵۰ ورکړل.و عَلاّتِي خُوَندُ ته د سَلُ څخه دُوَه ثُلُث يعني ۶۶ . ۶۶ ورکړل.او اَخيَافِي خُوَندُ ته يوه دَرَيَمَه يعني ۳۳ . ۳۳ ورکړل چي مجموعه يې ۹۹ . ۱۴۹ شوه.حِسَاب پرسَلُ باندي سَاتَل کيږي نوځکه ۹۹ . ۱۴۹ يې پر سَلُ (۱۰۰) باندي تقسيم کړل نو ۶۶۶۷ . ۰ شول چي و يَوَه حِصّه دَارته به ملاؤيږي. اُوس و ۵۰ ته په ۶۶۶۷ . ۰ کي ضَرب ورکړې نو ۳۳ . ۳۳ جوړيږي چي عَول شوه او د مېړه حِصّه شوه. او ۶۶ . ۶۶ ته په ۶۶۶۷ . ۰ کي ضَرب ورکړې نو ۴۴ . ۴۴ به شي چي د دُو عَلاّتِي خُوَندُ حِصّه ده.او ۳۳ . ۳۳ ته په

۶۶۶۷ . ۰ ضَرَب ورکه نو ۲۲ . ۲۲ به شي چي و دُوُ اَخيَافِي خُوَندُ ته به په حِصّه کي ملاؤ شي.او د ټولو حِصّو مجموعه به ۹۹ . ۹۹ شي .
تر لَس (۱۰) پوري د عَول مثال : مَيّت وَفَات شو تر شَايي مبړه.دُوې عَلاّتِي خُوَندِ. دُوې اَخيَافِي خُوَندِ.او مُور پرېښوه.اَولاَد نشته نو حُکه مبړه ته به نِيمَئ ملاؤ شي.
و دُوُ عَلاّتِي خُوَندُ ته به دُوَه ثُلُث ملاؤشي.او دُوُ اَخيَافِي خُوَندُ ته به يَو ثُلُث ملاؤ شي.او مُور ته به شُپَږَمَه حِصّه ملاؤ شي.مسئله به د شُپَږُو څخه چلېږي او مجموعه به لَس شي. مسئله به په دَاډَوَل وي .

مَيّت ۶ عول ۱۰

مبړه	دُوې عَلاّتِي خُوَندِ	دُوې اَخيَافِي خُوَندِ	مُور
۳	۴		۲
			۱

د کَلکُيُولېټر حساب به په دَاډَوَل وي .

مَيّت ۱۰۰ عَول ۶۵ . ۱۶۶ د عَول وروسته يَوَه حِصّه ۶۰۰۰۶ . ۰ = ۶۵ . ۱۶۶ ÷ ۱۰۰

مبړه	دُوې عَلاّتِي خُوَندِ	دُوې اَخيَافِي خُوَندِ	مُور
۵۰	۶۶ . ۶۶		۳۳ . ۳۳
۱۶ . ۶۶			
۳۰ . ۰۰	۳۹ . ۹۹		۱۹ . ۹۹
			۹ . ۹۹

مُور ته د عَول وروسته ملاؤشو ۹ . ۹۹ = × ۰ . ۶۰۰۰۶
۱۶ . ۶۶ د عَول طريقه

عَلاّتِي خُوَندُ ته د عَول وروسته ملاؤشو ۳۹ . ۹۹ = ۰ . ۶۰۰۰۶ × ۶۶ . ۶۶
اَخيَافِي خُوَندُ ته د عَول وروسته ملاؤشو ۱۹ . ۹۹ = ۰ . ۶۰۰۰۶ × ۳۳ . ۳۳
مبړه ته د عَول وروسته ملاؤشو ۳۰ . ۰۰ = ۰ . ۶۰۰۰۶ × ۵۰
مجموعه ..... ۹۹ . ۹۷

په دې مسئله کې مبړه ته د سَلُ نِيمَئ يعني ۵۰ ورکړل.دُوُ عَلاّتِي خُوَندُ ته د سَلُ څخه دُوَه ثُلُث يعني ۶۶ . ۶۶ ورکړل.او دُوُ اَخيَافِي خُوَندُ ته يوه دَرَيَمَه يعني ۳۳ . ۳۳ ورکړل او مُور ته شُپَږَمَه حِصّه ۶۶ . ۱۶ ورکړل.او د ټولو مجموعه ۶۵ . ۱۶۶ شوه. حِسَاب پرسَلُ باندي سَاتَل کيږي نوځکه ۶۵ . ۱۶۶ يې پر ۱۰۰ تقسيم کړل.چي ۶۰۰۰۶ . ۰ شول.و دې ته د مبړه په حِصّه يعني ۵۰ کې ضَرب ورکړئ ۰۰ . ۳۰ شول چي مبړه ته به ورکول کيږي.او د دُوُ عَلاّتِي خُوَندُ حِصّه ۶۶ . ۶۶ ته په ۰ . ۶۰۰۰۶

[٣٢٥٨](۶) وَ اِن كَانَ مَعَ الرّبعِ ثُلُثٌ اَو سُدُسٌ فَاَصلُهَا مِن اِثنَي عَشَرَ وَ تَعُولُ اِلْي ثَلاَثَةَ عَشَرَ وَ خَمسَةَ عَشَرَ وَ سَبعَةَ عَشَرَ .

كي ضَرب وركړئ نو ۹۹ . ۳۹ شول دغه د خُور حِصّه شوه.او د اَخيَافِي خُور حِصّه ۳۳ . ۳۳ ته په ۶۰۰۰۶ . ۰ كي ضَرَب وركړئ نو ۹۹ . ۱۹ شوه.دغه د اَخيَافِي خُور حِصّه شوه.او د مُور حِصّه ۶۶ . ۱۶ ته په ۶۰۰۰۶ . ۰ كي ضَرب وركړئ نو ۹۹ . ۹ شول دغه به مُور ته وركول كيږي.ددې ټولو مجموعه ۹۷ . ۹۹ شوه چي سَلُ ته قَرِيب ده .

ددې حِسَاب مطلب دادئ چي تَرَكَه سَل دِرهَم وي نوددې څخه مړه ته ۰۰ . ۳۰ وركه. و عَلاّتِي خُوَندُ ته ۹۹ . ۳۹ وركه.و اَخيَافِي خُوَندُ ته ۹۹ . ۱۹ وركه.او مُور ته به ۹۹ . ۹ ملاؤشي .

[٣٢٥٨](۶) كه د څلورمي حِصّې سره دَرَيَمَه حِصّه وه يا شُپَږَمَه حِصّه وه نو اَصل مسئله به د ډُوُلَس(۱۲)څخه وي او عَول به كوي د دِيَارلَس(۱۳)څخه.دپنځلس(۱۵) څخه.او د اُوَلّس(۱۷)څخه .

تشريح : كه چيري د څلورمي حِصّې سره د ثُلُث حِصّه دَارَه هم وي.يا دَاډَوَل څوک وي چي شُپَږَمَه حِصّه اخلي نو مسئله به د ډُوُلَس(۱۲)څخه چليږي.لېكن كله نا كله به دَاډَوَل حِصّه اخستونكي هم وي چي دهغوئي حِصّه به تر ډُوُلَس(۱۲)زياته شي دِيَارلَس(۱۳)به شي.كله به زياته شي پِنځلَس(۱۵)به شي.او كله به اُوَلّس(۱۷)شي.د ډُرُو سره صورتو تفصيل ته نَظَر وكړئ .

چي دِيَارلَس (۱۳) ته عَول وكړي دهغه صورت دادئ : مَيّت مَينَه اودُوې حقيقي خُوَندِ او مُور پرېښوله نو مَينَه ته به څلورمه.دُوُ حقيقي خُوَندُ ته دُوَه ثُلُث او مُور ته شُپَږَمَه حِصّه ملاؤيږي.مسئله به د ډُوُلَس(۱۲)څخه چليږي.لېكن د ټولو حِصّو مجموعه به دِيَارلَس(۱۳)شي چي عَول ورته وايي .

مسئله به په دَاډَوَل وي .

مَيّت ۱۲ عول ۱۳

مَينَه	دُوې حقيقي خُوَندِ	مُور
۳		۸
		۲

دكَلكُيُولېټر حساب به په دَاډَوَل وي .

مَيّت ۱۰۰ عَول ۳۲ . ۱۰۸ د عَول وروسته يَوَه حِصّه ۹۲۳۱ . ۰ = ۳۲ . ۱۰۸ ÷ ۱۰۰

مَينَه	دُوې حقيقي خُوَندِ	مُور

۲۵	۶۶ . ۶۶	۱۶ . ۶۶
۲۳ . ۰۷	۶۱ . ۵۳	۱۵ . ۳۷

مُور ته د عَول وروسته ملاؤشو ۱۵ . ۳۷ = ۰ . ۹۲۳۱ ×
۱۶ . ۶۶ د عَول طريقه

حقيقي خُوَندُ ته د عَول وروسته ملاؤشو ۶۱ . ۵۳ = ۰ . ۹۲۳۱ × ۶۶ . ۶۶

مَينَه ته د عَول وروسته ملاؤشو ۲۳ . ۰۷ = ۰ . ۹۲۳۱ ×
۲۵

مجموعه ..... ۹۹ . ۹۷

په دې مسئله کې مِينَه ته د سَلُ څخه څلورمه يعني ۲۵ ورکړل.او دُوُ حقيقي خُوَندُ ته دُوَه ثُلُث يعني د سَلُ څخه ۶۶ . ۶۶ ورکړل.او مُور ته شُپږَمَه حِصّه يعني ۶۶ . ۱۶ ورکړل.د ټولو مجموعه ۳۲ . ۱۰۸ شوه چې د سَلُ څخه زيات دئ او دغه عَول دئ. حِسَاب خوبه دسَلُ څخه کيږي نو ۳۲ . ۱۰۸ يې پر۱۰۰تقسيم کړل نو ۹۲۳۱ . ۰ شول. چې يوه حِصّه ده ودغه ته د مَينې په حِصّه يعني ۲۵ کې ضَرب ورکړئ نو ۰۷ . ۲۳ شول چې د عَول وروسته د مَينې حِصّه شوه.او ۶۶ . ۶۶ ته په ۹۲۳۱ . ۰ کې ضَرب ورکړئ نو ۵۳ . ۶۱ شو چې د دواړو خُوَندُ حِصّه شو.او د مُور حِصّه ۶۶ . ۱۶ ته په ۹۲۳۱ . ۰ کې ضَرب ورکړئ نو ۳۷ . ۱۵ شول.او د ټولو مجموعه ۹۷ . ۹۹ شوه.چې سَلُ ته قريب ده.د دُوُ پَيسُو حِسَاب کَلکُيُولېټَر وَرنَه کړئ .

چې پنځلس(۱۵)ته عَول وکړي دهغه مثال دادئ. مَيّت مَينَه.دُوې حقيقي خُوَندِ او دُوې اَخيَافِي خُوَندِ پرېښولې.نو مَينَه ته به څلورمه حِصّه.دُوُ حقيقي خُوَندُ ته به دُوَه ثُلُث او دُوُ اَخيَافِي خُوَندُ ته به يَو ثُلُث ورکول کيږي .نو مسئله به د دُوُلَس(۱۲) څخه چليږي.او حِصّې به پنځلس(۱۵)شي.

مسئله به په دَاډَوَل وي .

مَيّت ۱۲ عول ۱۵

مَينَه	دُوې حقيقي خُوَندِ	دُوې اَخيَافِي خُوَندِ
۳		۸
۴		

دکَلکُيُولېټَر حساب به په دَاډَوَل وي .

